سره دحوالو او تخريجه

مُکمّله او مُدلّله

فتاویٰ یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغې حل

شپږ.م جلد

تالیف

حضرت مولانا محمّد یوسُف لدهیانوي رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقريظونه

شيخ الحديث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شيخ الحديث دار العلوم حقانيه اکوړه خټک

شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ادريس صاحب مدظله

شيخ الحديث دار العلوم نعمانيه اتمانزئی

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسبن گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغی حل

مکمل او مدلل

٦

سره د حوالو او تخریجه

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریضونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

د شپږم جلد اجمالي فهرست

د کوژدن مسائل، د نکاح طریقه، شرعي مهر، د طلاق مسائل، د واده نه مخکې طلاق، د طلاق اقسام، خلعه کول، د حاملې طلاق، د ظهار مسائل، د نکاح د تنسیخ مسائل، طلاق نه انکار کول، د عدت مسائل، د اولاد تربیتي حق، غیرمسلمو سره کاروبار کول، معاملاتو کښې دهوکه کول، ذخیره کول، بیانه ور کول، د حصو کاروبار کول، د مضاربت مسائل، کور، زمکه او دکان په کرایه ور کول

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم : ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

ترجمه کونکي : دار الترجمه عبدالغني مارکیټ پشاور

جلد : شپږم

صفحات : ۵۷۶

تاریخ : ۲۰۱۷ء

د چاپ زیار : مولانا سید محمد پرواني

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل
0782690850 | 0775681606

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

- پشاور
- اکوړه خټک
- کوئټه
- پروان
- کندوز
- غزني
- جلال آباد
- قندهار
- بغلان
- لوګر
- خوست

فهرست

مضمون	صفحه

❖ کوزده (کوژدن) ❖

❖ [د نکاح طريقه] ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون

صفحه	مضمون
۱۰۸	د چا په ښځه نکاح تړل نکاح نه ده زنا ده
۱۰۹	نکاح باندې نکاح جائز ګڼونکی کافر دی
۱۱۰	نکاح باندې نکاح کوونکی زناکار دی
۱۱۱	د کومې منکوحې سره نکاح ناجائز ده؟
۱۱۱	د نجلۍ په بې خبرۍ کې د نکاح حکم
۱۱۲	په دروغه د طلاق فتوی اخیستونکي ښځه
۱۱۲	دویم ځای کې واده نه شي کولی
۱۱۳	نکاح د پاسه نکاح کول
۱۱۶	په جبر او زور سره نکاح
۱۱۶	نکاح کې دي په هلک او نجلۍ زور نه کیږي
۱۱۷	د ماشوموالي د کوزدې په وجه په زوره نکاح ناجائز ده
۱۱۷	ایا مور - پلار د بالغې لور نکاح په زوره کولی شي؟
۱۱۸	د قوم د رواج لاندې د زور نکاح
۱۱۸	بې زړه یوازې په خوله اقرار کول
۱۱۸	د بې هوشۍ پرمهال د مجلۍ ګوته لګول
۱۱۹	که بالغه نجلۍ نکاح قبوله نه کړي، نکاح یې نه ده شوې
۱۱۹	د وهلو له وجې په بې هوشۍ کې د ګوتې لګول
۱۱۹	د بالغ اولاد نکاح د هغوی د خوښې سره سم کول پکار دي
۱۲۰	په چل نکاح نه ده صحیح
۱۲۰	د کونډې نکاح د هغې په خوښه کول پکار ده
۱۲۱	د نابالغې نکاح د بلوغ وروسته بیا کول
۱۲۱	بچو ته شیدې ورکول
۱۲۱	د رضاعت ثبوت
۱۲۲	د ښځې د شیدو د حرمت حکم تر کومه دی؟
۱۲۳	د رضاعت په اړه د ښځې قول ته اعتبار نشته
۱۲۴	ماشوم ته تر څو کالو پورې شیدې ورکول شي؟
۱۲۴	د ماشوم په غوږ کې شیدې اچولو سره رضاعت نه ثابتیږي
۱۲۴	که رضاعت شکي وي، نو احتیاط غوره دی
۱۲۵	د رضاعت د مودې وروسته حرمت نه ثابتیږي

مضمون	صفحه
د ماشوموالي وروسته شيدې څښل ناجائز دي	۱۲۵
په اووه کلنۍ کې شيدې څښلو سره رضاعت نه ثابتيږي	۱۲۶
د ماشوم د کلارولو لپاره د بوډۍ ښځې تيان په خوله کې رول	۱۲۶
د لسو کالو وروسته د رضاعت ثابتولو مطلب	۱۲۷
شيدې په دوايي کې اچولو حکم	۱۲۸
د شيدې ورکونکې ښځې ټول اولاد په شيدې څښونکې ماشوم حراميږي	۱۲۸
د واده نه پس د خوانبې د شيدو څښلو دعوه	۱۲۹
کوم هلک چې د خاله شيدې څښلې :نودده لپاره د خاله اولاد حرام دی د نورو لپاره نه	۱۲۹
د رضاعي ورور سکه خور او د رضاعي خورځې سره نکاح کول	۱۲۹
د ورور د رضاعي خور سره نکاح جائز ده	۱۳
د رضاعي پلار د لور سره نکاح ناجائز ده	۱۳۱
د رضاعي خور سره واده	۱۳۱
د رضاعي لور سره نکاح نه کيږي	۱۳۱
د رضاعي خور د حقيقي خور سره نکاح جائز ده	۱۳۲
د حقيقي ورور د رضاعي خورځې سره نکاح جائز ده	۱۳۲
د رضاعي وريرې سره نکاح ناجائز ده	۱۳۲
په شيدو کې د شريکې خور د لور سره نکاح	۱۳۳
د رضاعي مور د خور سره نکاح ناجائز ده	۱۳۳
د رضاعي ماما د خورځې سره نکاح ناجائز ده	۱۳۳
په شيدو کې د شريکې خور د لور سره	۱۳۳
په شيدو کې شريک ورور سره نکاح جائز ده	۱۳۳
د شيدو څښونکې نجلۍ نکاح د شيدو څښونکې لېوراو ورور سره ناجائز ده	۱۳۴
په شيدو کې د شريکې خور شيدو کې شريکې خور سره نکاح جائز ده	۱۳۴
د نيا شيدې څښونکې نکاح د تره د لورسره ناجائز ده	۱۳۴
د نيا شيدې څښلو سره د تره او ترور د اولاد سره نکاح نه کيږي	۱۳۴
ايا د نيا شيدې څښونکې نجلۍ نکاح د ترونو او ترورګانو د اولاد سره جائز ده؟	۱۳۵
لمسي ته د شيدې ورکونکې ښځې ورېرې نکاح ددې لمسي سره ناجائز ده	۱۳۶
ورې خور ته يې که شيدې ورکړه: نود دوی د اولاد نکاح په خپل منځ کې نه کيږي	۱۳۶
د نيا شيدې څښلو والا هلک نکاح د ماما د لور سره نه کيږي	۱۳۶

صفحه	مضمون

مضمون	صفحه

❖ شرعي مهر ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه
د ښځې په شيدو نکاح نه ماتيږي؛ خو څښل يې حرام دي	۱۹۵
په پس خوردې خوړلو سره نکاح نه ماتيږي	۱۹۶
د ښځې او خاوند درې څلور مياشتې لرې والي له وجې نکاح نه فاسديږي	۱۹۶
د ښځې خاوند په جدا اوسيدو سره نکاح نه ماتيږي	۱۹۷
ترڅو پورې چې خاوند طلاق نه وي ورکړی	۱۹۷
څلور کاله د خاوند ليرې اوسېدو له وجې نکاح نه ده ماته شوې	۱۹۷
خاوند ته ورور ويلو سره نکاح نه ماتيږي	۱۹۸
د بل ښځه يې خپله ښکاره کړه نو په نکاح يې څه اثر نه پرېوځي	۱۹۸
د شلو کالو راهيسې د ښځې حقوق نه ادا	۱۹۹
کولو سره نکاح باندې څه اثر نه کيږي	۱۹۹
خاوند ته د ښځې دا وينا: ته مې له سپي زيات بد راځې	۱۹۹
په شلو ماشومانو پيدا کېدو سره نکاح نه ماتيږي	۱۹۹
ورې لور ته لاس لګولو سره حرمت نه ثابتيږي	۱۹۹
د حرمت مصاهرت لپاره د خوند (شهوت) اندازه	۲۰۰
د واده مسئلې	۲۰۲
د کورنه د لرې اوسېدلو موده	۲۰۲
د نجلۍ د نکاح لپاره د پيسو غوښتونکو مورپلار شرعي حکم	۲۰۲
د نجلۍ والونه د زلمي د جامو په نوم پيسې اخيستل	۲۰۳
يو ناوړه رواج	۲۰۳
واده کې د هندوانو رواجونه لمانځل ناجائز دي	۲۰۴
په واده کې ښځې ته پګړۍ (سهرا) تړل	۲۰۵
په کوم واده کې چې ډول غږيږي په هغې کې شريکېدل	۲۰۶
د ښځې د رخصتولو پرمهال د قرآن سيورۍ کول	۲۰۶
د حاملې ښځې سره کوروالۍ کول	۲۰۷
د دوه اخترونو ترمنځ واده کول	۲۰۷
ايا د اړتيا پرمهال د حمل لرې کول جائز دي؟	۲۰۷
د واده په ذريعه د مسلمانو ځوانانو د مرتد کولو چل	۲۰۸
د دوه هلکانو يا دوه جينکو يوځای واده نه کول	۲۱۰
په غلطۍ سره د ښځو بدلېدو شرعي حکم	۲۱۰

مضمون	صفحه

❖د واده نه مخکې طلاق❖

❖رجعي طلاق❖

مضمون	صفحه

❖ بائن طلاق ❖

❖ طلاق مغلظه ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ الاشفاق علی أحکام الطلاق ❖

❖ معلق طلاق ❖

مضمون	صفحه

❖ د حاملې طلاق ❖

❖ خلع ❖

مضمون	صفحه

❖ ظهار ❖

❖ د نکاح تنسیخ ❖

مضمون	صفحه

❖ د طلاق نه انکار کولو حکم ❖

❖ د نامرد سړي د ښځې حکم ❖

❖ عدت ❖

مضمون	صفحه

❖ د طلاق بېلابېلې مسئلې ❖

❖ د بچود تربیې حق ❖

❖ د کورنیو شخړو قوانین ❖

❖ د اخیستلو، خرڅولو او مزدورۍ اُصول ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه
هغه لاکينونه (زنځيرونه) چې (الله) پرې ليکل شوي وي. خرڅول او د استعمالول	۴۶۷
د محنت اجرت اخيستل جائز دي	۴۶۸
له ميوې نيولو مخکې باغ خرڅول جائز نه دي. بلکې ځمکه په کرايه ورکړئ	۴۶۸
دګني ولاړ فصل په دې شرط اخيستل چې مالک به يې حفاظت کوي	۴۶۹
له بر نيولو مخکې د امونو باغ خرڅول	۴۶۹
د جمعې د لمانځه په وخت کاروبار کول او کارخانه چلول	۴۷۰
د لمونځونو په وختونو کې دکان خلاص پريښودل	۴۷۰
د جمعې له اذان نه وروسته اخيستل او خرڅول	۴۷۱
د کرنسي (پيسو) د اخيستلو او خرڅولو طريقه	۴۷۱
د سرو زرو او سپينو زرو اخيستل او خرڅول د دواړو طرفونه نغد پکار دي	۴۷۲
د زرګري او د سرو زرو دګينې د اخيستلو او خرڅولو شرعي حيثيت	۴۷۲
چينج (ماتې روپۍ) خرڅولو باندې ډير قيمت اخيستل جائز نه دي	۴۷۳
سبزي باندې او به اچولو سره خرڅول	۴۷۳
د حلال او حرام ګډ مال نه حاصله شوې ګټه حلاله ده که حرامه؟	۴۷۳
د ټي وي او وي سي ار (TV- VCR) خرڅول	۴۷۴
د نويو نوټونو کاروبار کول	۴۷۴
د غير شرعي کتابونو کاروبار کول څنګه دی؟	۴۷۵
د سندرو (ګانو) کيسټې خرڅول شرعا څنګه دي؟	۴۷۵
د خرڅولو په وخت کې قيمت نه ښودل غلط دي	۴۷۶
د حرام کار اجرت حرام دی	۴۷۶
قيمت زيات ويل او بيا کم قيمت اخيستل	۴۷۶
د شي وزن کولو وخت کې د اخيستونکي موجوديت ضروري دی	۴۷۷
د ټرانسپورټ د موټرو په اخيستلو او خرڅولو کې بدعنواني	۴۷۸
مزدوري د حلالې ګټې نه اخلي	۴۸۰
ايا د بلډنګ وغيره ټيکه اخيستل جائز دي؟	۴۸۰
د ټيکداري کميشن اخيستل او ورکول	۴۸۱
په اسلام کې د شفعه د حق شرطونه	۴۸۳
ايا حکومت د شيانو قيمت ټاکلی شي؟	۴۸۴
د مالکانو له ويل شوي قيمت نه په زيات قيمت خرڅول او نيمې پيسې له ځان سره کيښودل	۴۸۵

مضمون	صفحه

❖ غيرمسلمو سره کاروبار ❖

❖ تجارت اود پيسوپه معاملاتوکې دوکې ❖

مضمون	صفحه

❖ د غصب شوي شي معامله ❖

❖ د نغدو او قرض فرق ❖

صفحه	مضمون

❖ مال له قبضې نه مخکې خرڅول ❖

❖ ذخیره کول ❖

❖ بیعانه ❖

❖ د حصو(ونډو) کاروبار ❖

مضمون	صفحه

❖ د مضاربت یعنې شراکت مسئلې ❖

❖ کور، ځمکه، دوکان او نور شیان په کرایه ورکول ❖

......

❖ کوزده (کوژدن) ❖

....

د شرعي عذر نه پرته د کوزدې ماتول

سوال: د کوم شرعي عذر نه پرته د کوزدې ماتول جائز دي او که نه؟

جواب: کوزده د نکاح د وعدې نوم دی[۱]، او د عذر نه پرته وعده ماتول ګناه ده، رسول الله ﷺ وعده ماتوونکي ته د منافق لقب ورکړی دی، [۲]هو: که چېرته په دې وعده پوره کولو کې د کوم معقول ضرر د راتلو وېره وي؛ نو کېدای شي چې الله تعالی یې بیا پرې ونیسي. [۳]

کوزده ماتول وعده خلافي ده

سوال: یو سړي خپلوانو ته وویل چې زه غواړم د خپل زوی رشته ستا د لور وکړم. دې سره هغه بل سړی راضي شو او د جمعې ورځ یې د کوزدې لپاره وټاکل. د نجلۍ پلار د هلک پلار خان ته مخاطب کړ او وې ویل چې ما خپله فلانکۍ لور ستا زوی ته درکړه، هغه وویل چې ما دا نجلۍ دخپل فلانکي زوی لپاره قبوله کړه. تقریباً یوه میاشت لس ورځې وروسته د نجلۍ مور د هلک کور ته لاړه او هغوی ته یې عذر پیل کړ چې زما خپلوان خفه کیږي؛ نو اوس مونږ دا رشته ماتول غواړو: خو هلک والا کورنۍ دا منسوخ کول نه غواړي، آیا دا رشته د هلک د خوښې پرته ماتېدلای شي او که نه؟

جواب: کوزده د رشتې اخیستلو د وعدې نوم دی[۴]،خپله په کوزدې سره نکاح نه کیږي، خکه کوزده ماتول وعده خلافي ده او بغیر د یو معقول او صحیح عذرنه وعده خلافي کول

---

[۱] قال فی شرح الطحاوي: لو قال أهل أعطيتنيها ان كان المجلس للوعد فوعد وان كان للعقد فنكاح .....الخ. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۱۱، طبع ایچ ایم سعید کراچی)۔

[۲] عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: آية المنافق ثلاث: اذا حدّث كذب، واذا وعد أخلف، واذا اؤتمن خان. (بخاری ج: ۱ ص: ۱۰ کتاب الایمان، طبع نور محمد کراچی)۔

[۳] قال العلامة العيني: (اذا وعد أخلف) نبه على فساد النية لأن خلف الوعد لا يقدح الا اذا عزم عليه مقارنًا بوعده اما اذا كان عازمًا ثم عرض له مانع أو بداله رأى فهٰذا لم توجد فيه صفة النفاق ويشهد لذٰلك ما رواه الطبراني باسناد لا بأس به في حديث طويل من حديث سلمان رضى الله عنه. (عمدة القاری ج: ۱ ص: ۲۲۱، طبع بیروت)

[۴] وفی الدرالمختار(ج: ۳ ص: ۱۲، طبع ایچ ایم سعید کراچی) کتاب النكاح: وان للوعد فوعدٌ. و فی الشامية (ص: ۱۱) لو قال: هل أعطيتنيها، فقال: أعطيت، ان كان المجلس للوعد فوعدٌ، وان كان للعقد فنكاح. أيضًا: کفایت المفتی ج:۵ ۴۸: تا۵۱،طبع دارالاشاعت کراچي، أيضا: البحر الرائق ج: ۳ ص: ۱۴۷ طبع رشیدیه

ګناه ده[۱]. دا چې سم عقد نکاح نه دی شوی؛ نو ځکه د هلک نه د طلاق اخیستلو هیڅ ضرورت نشته.

د نکاح نه وړاندې د زلمي سره یو ځای ګرځېدل ناروا دي

سوال: یو کس ووېل چې د زلمي سره سترې مشي، ده سره په ټیلفون باندې خبرې کول او د ده سره ګرځېدل صحیح نه دي. ما ده ته ووېل چې دا خو زمونږ په معاشره کې عام دی. د بنه خو ثوک هم بد نه وايي. زما د ځواب په مقابل کې راته هغه هیڅ کوم واضح ځواب رانه کړ. د هغې ورځې نه زه شکي یم چې آیا دا په حقیقت کې صحیح نه دی؟

جواب: د نکاح نه وړاندې زلمی پردی وي. حکم به یې هغه وي کوم چې د پردي سړي وي. ښځې ته د ده سره یوځای ګرځېدل ناروا دي[۲]. او ستا دا وینا چې دا خو زمونږ په معاشره کې عام دی. ثوک یې هم بد نه ګڼي اول خو دا خبره هیڅ اعتبار نه لري ځکه چې د ښو خلکو په کورونو کې دا ډېر بد رواج ګڼل کیږي. پرته له دې چې په معاشره کې د کوم شي رواج کېدل د روا کېدو هیڅ دلیل نه جوړیږي او بیا داسې غلط رواج چې د شریعت سره پوره ټکر لري. باید اصلاح یې وشي[۳] زمونږ په کالجونو او پوهنتونونو کې جینکۍ د پردي هلکانو سره په ښکاره ګرځي آیا بیا د بنه هم جائز ووېل شي؟

د نکاح په اراده ښځې ته یو ځل کتل روا دي

سوال: د واده نه مخکې د هلک او ښځې یو بل خوښول څنګه دي (یعنې د یو بل سره سترې مشي یا خبرې کولای شي؟) سره له دې چې کومه بې اخلاقي رامنځ ته نه شي. په دې صورت کې د دوی دا دوستي آیا کوم شرعي حیثیت لري او کنه؟

---

[۱] "وَ اَوْفُوْا بِالْعَهْدِ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُوْلاً" (بنی اسرئیل: ۳٤). عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: آية المنافق ثلاث: اذا حدث كذب. واذا وعد أخلف. واذا اؤتمن خان. (صحيح بخارى ج: ۱ ص: ۱۰. كتاب الايمان. باب علامة المنافق. طبع قديمى كتب خانه. مشكوٰة ج: ۱ ص: ۱۷ باب الكبائر و علامات النفاق. طبع قديمى كراچى). الخلف في الوعد حرام........اذا وعد الرجل أخاه ومن نيته أن يفي لم يف، فلا اثم عليه، وقيل: عليه فيه بحث فان أمر "أوفوا بالعقود" مطلق فيحمل عدم الاثم في الحديث على ما اذا منع مانع من الوفاء. (شرح الأشباه والنظائر ج: ۳ ص: ۲۳٦. كتاب الحظر والاباحة. طبع ادارة القرآن

[۲] وعن عقبة بن عامر قال: قال رسول الله عليه وسلم: (اياكم والدخول على النساء) أى غير المحرمات على طريق التخلية أو على وجه التكشف........الخ. (مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج: ۳ ص: ٤۰۹، كتاب النكاح. باب النظر. طبع بمبئى).

[۳] عن أبي سعيد الخدرى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من راىٰ منكم منكرًا فليغيره بيده، فان لم يستطع فبلسانه، فان لم يستطع فبقلبه، وذٰلك أضعف الايمان (مشكوة ص: ٤۳٦، باب الأمر بالمعروف، الفصل الأول)

جواب: د کومې ښځې سره چې د نکاح کولو اراده وي هغې ته يو نظر کتل روا دي[1]. برابره ده که خپله ګوري او که د کومې ښځې په ذريعه خپل اطمينان ترلاسه کوي. ددې نه د زياتو اړيکو ساتل تر نکاح وړاندې اجازه نه لري. نه د يو ځای کېدو اجازه شته او نه هم د خبرو کولو. د نکاح نه وړاندې يو ځای ګرځېدل خپله يوه بې اخلاقي ده او غلط حرکت دی[2].

په کوژده کې ايجاب او قبول سره نکاح تړل کيږي

سوال: زمونږ داسې رواج دی چې د کوژدې په شپه پروګرام وشي او ملا صاحب د هلک کورنۍ راوغواړي او په مجلس کې ايجاب قبول وکړي او څه موده وروسته د واده په وخت بيا ايجاب قبول کوي او واده کيږي، آيا لومړي ايجاب قبول سره نکاح کيږي او که نه؟ که چېرته د واده او کوژدې تر منځ شخړه وشي نو بغير د طلاق نه جدا والی راتلای شي او که نه؟ که چېرته کوژدې والا د ايجاب او قبول نه پس په دواړو کې يو مړ شي؛ نو آيا د يو بل نه خپل حق د وارثت اخيستلای شي او که نه؟ زمونږ هم دا رواج دی چې کوژدې والا د ايجاب او قبول نه وروسته د نجلۍ مور او پلار بيا په بل ځای کې کوژده نشي کولی: خو دا خبره ده چې که هلک د کوژدې نه پس خپلې ناوې ته راغلو نو خلک ډېر لعنت پرې وايي،

جواب: که چېرې د کوژدې د پروګرام پرمهال د نکاح ايجاب او قبول وشي او په هغې باندې شاهدان تېر شي: نو دا کوژده په حقيقت کې نکاح ده، ددې وجې به هلک او نجلۍ د کوژدې وروسته دواړه د يو بل شرعي ښځه او خاوند وي او په دوی باندې به د ښځې او خاوند ټول احکام پلی کيږي[3]. مثلا که په دواړو کې يو مړ شي: نو د يو بل وارث به وي او د خاوند د مرګ په صورت کې به ښځه د وفات عدت تېروي[4] او که د کوژدې په وخت د نکاح ايجاب او قبول ونه شي. بلکې د مور او پلار د خولې وعده واخلي: نو دا نکاح نه ده په دې باندې به د

---

[1] الواكتفى بالنظر اليها بمرة حرم الزائدلأنه ابيح للضرورة فيتقيدبها.(ردالمحتارج:٦ ص: ٣٧٠طبع سعيد كراچی)

[2] الخلوة بالأجنبية مكروهة وان كانت معها اخريٰ كراهة تحريم اهـ. (شامی ج: ٦ ص: ٣٦٨). أيضًا: عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ألَا لَا يبيتن رجل عند امرأة ثيب الا أن يكون ناكحها أو ذا محرم. (مشكوٰة ص: ٢٦٨). وعن عقبة بن عامر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اياكم والدخول على النساء (أی غير المحرمات على طريق التخلية أو على وجه التكشف.... الخ. (مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج: ٣ ص: ٤٠٩، كتاب النكاح، باب النظر، طبع بمبئی)۔

[3] اوينعقد بالايجاب والقبول حتّٰى يتم حقيقة فى الوجود (الى قوله) يسمى باعتباره عقدًا شرعًا ويستعقب الأحكام. (البحر الرائق ج: ٣ ص: ٨١، طبع بيروت)۔

[4] او أما أحكامه (النكاح) فحل استمتاع كل منهما بالآخر على الوجه الماذون فيه شرعًا كذا فى فتح القدير وملک الحبس وهو صيرورتها ممنوعة عن الخروج والبروز و وجوب المهر والنفقة والكسوة عليه وحرمة المصاهرة والارث من الجانبين. (عالمگيری ج: ١ ص: ٢٧٠، كتاب النكاح، الباب الأوّل، طبع بلوچستان)۔

نکاح احکام نه جاري کیږي.[۱]

په کوزده کې د مور او پلار په ایجاب او قبول سره نکاح کیږي

سوال: د واده نه مخکې کوزده کیږي، په کوزده کې د هلک او نجلۍ په غیر موجودګۍ کې نکاح تړل کیږي، د رواج سره سم د هلک او نجلۍ مور او پلار د ملا صاحب او شاهدانو په وړاندې کیني او د نجلۍ پلار خپله لور د هلک پلار ته د هغه د زوی لپاره په نکاح باندې ورکوي او دا الفاظ درې ځلې ویل کیږي او د هلک پلار نجلۍ د خپل زوی لپاره درې ځلې قبوله کړي. آیا نکاح وشوه؟ اوس د واده په وخت کې هغه نکاح لازمه ده او که نه؟

جواب: د کوزدې په وخت چې د ایجاب او قبول کوم الفاظ په سوال کې لیکل شوي دي، په هغې سره نکاح کیږي[۲]. دوباره د نکاح ایجاب او قبول ته ضرورت نشته.

قرآن په غېږ کې ایښودلو سره د رشتې په وعدې اخیستلو سره نکاح نه کیږي

سوال: زمونږ په کلي کې د یو واده شوي سړي لپاره د هغه کورنۍ د بلې کورنۍ نه رشته غوښتلې وه او هغه انکار وکړ بیا هغوی وویل که تاسو رشته راکوئ نو لومړئ ښځې ته به طلاق ورکړو. ځکه چې پرته له دې بله چارد نه کیږي، هغوی ونه منل. د هلک کورنۍ قرآن مجید راوړو او د هغوی په غېږ کې یې کېښودلو او وې ویل چې تاسو رشته راکړئ: نو مونږ دې نجلۍ ته طلاق ورکوو. هغه سړي د قرآن مجید له وجې رشته ورکړه چې اوسمهال سخت پرې پښېمانه دی. پوښتنه دا ده آیا په دې سړي د رشتې ورکول ضروري دي اوددې نجلۍ طلاق وشو او که نه؟ آیا د قرآن مجید استعمال په داسې طریقه د شریعت له مخې جواز لري او که نه؟ آیا هغوی د رشتې نه انکار کولای شي؟ ځکه چې هغوی د قرآن له ویرې خبره منلې وه.

---

[۱] لو قال: هل أعطیتنیها؟ ان کان المجلس للوعد فوعد وان کان للعقدفالنکاح.......الخ. (درمختار مع ردالمحتار ج: ۳ ص: ۱۲، طبع ایم ایچ سعید کراچی).

[۲] اوینعقد بالایجاب والقبول حتّٰی یتم حقیقة فی الوجود. (البحر الرائق ج: ۳ ص: ۸۱، طبع بیروت). أیضًا: فان استأذنها هو أی الولی........أو وکیله أو رسوله أو زوّجها ولیها وأخبرها رسوله أو فضولی عدل فسکتت ... .فهو اذن.....الخ. (الدر المختار مع الرد ج: ۳ ص: ۵۹). أیضًا: یصح التوکیل بالنکاح. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۲۹۴). أیضًا: رجل بعث أقوامًا لخطبة امرأة الٰی والدها فقال الأب: زوجت وقیل عن الزوج واحد من القوم لا یصح النکاح وقیل یصح النکاح وهو الصحیح وعلیه الفتویٰ. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۲۶۸، طبع بلوچستان)

جواب: صرف د چا په غبږ کې قرآن ایښودو سره قسم نه کیږي[۱]. بهر حال که چیرې تاسو د رشتې ورکولو هو کړې وي: نو دا نکاح نه ده بلکې د نکاح وعده ده[۲] او که تاسو رشته کول نه غواړئ: نو په دې کې یوازې وعده خلافي راځي او که تاسو هو د قسم سره کړې وي: نو اوس د رشتې نه ورکولو په صورت کې به د قسم کفاره هم ورکوئ[۳]، قرآن کریم د داسې خبرو لپاره استعمالول بده خبره ده، دا سړی د رشتې ورکولو پابند نه دی او ددې نجلۍ نکاح نه ده شوې.[۴]

د کوزدې ماتول

سوال: زما لور ده الحمدلله زموږ کورنۍ په دینداری کې شهرت لري، مسئله دا ده چې ما د خپلې لور کوزده د یو دیندار په ځای دنیادار سره کړې ده، زه پوهېږم که چیرته د یو دیندار هلک سره د هغې رشته شوې وای: نو د هغوی اولاد به انشاء الله حافظان او باعمله عالمان وو. خو اوس د هغوی په کور کې تلویزون. وي سي آر او هر ډول بې هوده شیان هلته شتون لري چې د هغې په وجه به زموږ د لور اعمال هم خراب شي. زما سره دا وېره ده چې ددې رشتې ذمه وار زه یم: نو آیا په آخرت کې به د لور د ګناهونو ذمه واري په ما وي؟ ځکه چې دیو باشرع رشتې په موجودګۍ کې د دویم ځای انتخابول آیا ددې په باره کې قرآني آیتونه یا حدیثونه شته؟ که چیرته وي نو مهرباني وکړئ او موږ پرې خبر کړئ،
(۲) په شریعت کې د رشتې په غوښتلو کې کومو شیانو ته کتل پکار دي چې د هغې خیال وساتل شي. (۳) آیا کوزده وعده وي اوکه نکاح؟ که نکاح وي: نو آیا دا ختمولی شي او که چیرته زه یې ختم کړم نو ګناهګارېږم خو به نه ؟

جواب: دا خو ښکاره ده چې کله تاسو د خپلې لور رشته د یو داسې هلک سره کوی چې د دین نه بې خبره دی: نو د ګناهونو وبال به په تاسو وي او د قیامت په ورځ به ددې ګناهونو نقصان هم تاسو ته رسیږي. قرآن کریم او احادیثو کې دا مضمون ډېر زیات راغلی دی، څوک چې د یوې نیکۍ ذریعه جوړه شي: نو ده ته به په دې نیکۍ کې پوره برخه رسیږي او د نیکۍ کوونکي له اجر څخه به هم کمۍ نه کیږي او کوم سړی چې د ګناه یا بدو ذریعه جوړه شي؛ نو ده

---

[۱] لأن الیمین عبارة عن تحقیق ما قصده من البر فی المستقبل نفیا أو اثباتًا. (البحرالرائق ج: ٤ ص: ۲۷۷)۔
[۲] وینعقد أیضًا(الی قوله) هل أعطیتنیها ان المجلس للنکاح وان للوعد فوعد(درمختارمع ردالمحتار ج:۳ ص:۲۷۷)
[۳] قال تعالی: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ فَكَفَّارَتُه، اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ، فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ، ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ، وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ"........الآیة (المائدة: ۸۹)۔
[۴] اذا اضافه (الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط. (عالمگیری ج: ۱ ص: ٤٦٨، طبع بلوچستان)۔

ته به په دې ګناه کې هم برابره برخه رسيږي او د ګناه کوونکي د ګناه په بوج کې به څه کمې نه راځي.[1]

(۲) د رشتې د غوره کولو پرمهال به مور او پلار په خپله د دې دوو شيانو لحاظ ساتي. د رتبې، نسب، د مال او د ژوند تېرولو د چارو نه پرته اخلاقو ته هم کنل پکار دي. شريعت په دې خبره باندې زور ورکوي چې د هلک او نجلۍ د ديندارئ خاص خيال وساتل شي. د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمايلي چې د ښځې سره د هغې د نسب. د هغې ښايست، مالدارئ او ددين په خاطرنکاح کول پکار دي، تاسو ديندارئ ته زياته توجه وکړئ.[2]

(۳) کوزده د وعدې نوم دی[3]، که هلک ديندار نه وي: نو ددې رشتې ختمول جائز بلکې ضروري دي.

❖ [د نکاح طريقه] ❖

په نکاح کې د کلمې ويلو څه مطلب دی؟

سوال: څه موده وړاندې د يو ملګري په واده کې شريک شوم، د نکاح په وخت نکاح ويونکي (مولوي صاحب) د هلک د قبول نه وروسته لومړئ درې ځله کلمه وويل، بيا يې دعا وکړه څه ورځې مخکې بيا د يو بل ملګري په واده کې شريک شوم هلته مولوي صاحب د هلک نه درې ځله د قبول نه پس دعا وکړه او کلمې يې ونه ويل. تاسو ووايئ چې د کلمې ويونکي نکاح صحيح وه او که بغير د کلمو والا؟ همدا رنګه د ايجاب او قبول معنی هم وليکئ.

جواب: د نکاح لپاره ايجاب او قبول شرط دی يعنې له يو طرفه به وويل شي چې ما نکاح کړې او دويم طرف والا به ووايي چې ما قبوله کړه[4]. ايجاب او قبول يو ځل پوره دی، درې ځله

---

[1] عن بلال بن الحارث المزنی قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من احيی سنة من سنتی قد اميتت بعدی فان له من الأجر مثل اجور من عمل بها من غير أن ينقص من اجور هم شيئًا، ومن ابتدع بدعه ضلالة لا يرضاها الله ورسوله كان عليه من الاثم مثل آثام من عمل بها، لا ينقص ذٰلک من أوزارهم. (راواه الترمذی. (مشکوٰة ج: ۱ ص: ۳۰، باب الاعتصام بالکتاب والسُّنَّة)۔

[2] عن أبي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: تنكح المرأة لأربع: لما لها، ولحسبها، ولجمالها، ولدينها، فاظفر بذات الدين تربت يداک. (مشکوة ص: ۲۶۷، کتاب النکاح، الفصل الأول)۔

[3] قال فی شرح الطحاوی: لو قال: هل اعطيتنيها؟ ان كان المجلس للوعد فوعد وان كان للعقد فنكاح. (درمختار مع ردالمحتار ج: ۳ ص: ۱۲). فالمراد بالوعد فی الحديث الوعد بالخير وأما الشر فيستحب اخلافه و قد يجب مالم يترتب على ترک انفاذه مفسدة. (فتح الباری ج: ۱ ص: ۹۰، طبع لاهور)۔

[4] وينعقد بالايجاب والقبول. (البحرالرائق ج: ۳ ص: ۸۷). وأما رُكنه... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

ويل ضروري نه دي او کلمې ويل هم څه شرط نه دي: مګر نن سبا خلک د کم علمۍ لامله د کفر خبرې وايي، ددې وجې ځينې موليان صاحبان کلمې وايي چې که هلک د کله د کم عقلۍ لامله د کفر کلمه ويلې وي نو د نکاح پرمهال خو به مسلمان شي،

د نکاح په وخت کلمه او درود اورول

سوال: دلته زمونږ په ودونو کې ځينې وختونو کې قاضي کلمې او درود اوروي او ځينې قاضيان زر نکاح کوي، تاسو ووايئ چې د مسلمان نکاح په کومو کلماتو سره کيږي او د کومو نه بغير نه کيږي؟

جواب: نکاح په ايجاب او قبول سره کيږي[1]، خطبه د هغې لپاره سنت ده[2].دوه شاهدان پکښې شرط دي[3]. قاضيان چې کومې کلمې وايي هغه څه ضروري نه دي، غالبا ددې کلماتو رواج ددې لپاره شوی چې خلک د جهالت له وجې ځينې وختونو کې د کفر کلمات وايي او دوی ته دا هم معلومه نه ده چې د کفر په کلمه انسان د اسلام نه خارجيږي، د نکاح نه مخکې کلمات د همدې لپاره ويل کيږي چې خدا نخواسته داسې صورت راغلی وي چې کلمه ووايي او مسلمان شي؛ نو نکاح به يې سمه شي، بهر حال د نکاح نه مخکې کلمې ويل څه ضروري نه دي او څه بده خبره هم نه ده،

ايجاب او قبول يو ځل پوره دی

سوال: زمونږ د لوی جومات قاضي چې کله نکاح کوي يوازې يو ځل پوښتنه کوي او وايي چې قبوله ده؟

حال دا چې په نورو جوماتونو کې دربانديې درې ځله قبول وايي، د ډېرو مسلمانانو دا خيال دی چې يو ځل ويلو سره نکاح نه کيږي بلکې درې ځله قبول ويل پکار دی،

جواب: يو ځل ايجاب او قبول سره هم نکاح کيږي[4] درې ځله تکرارول د پښتو لو په خيال وايي،

...بقيه د تيرمخ] فالْايجاب والقبول كذا فى الكافى. والْايجاب ما يتلفظ به أوّلاً من أى جانب كان والقبول جوابه هٰكذا فى العناية. (عالمگيرى ج: ١ ص: ٢٦٧، طبع بلوچستان)۔

[1] (وينعقد) متلبسًا (بايجاب) من أحدهم (وقبول) من الآخر. (درمختار مع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٩، كتاب النكاح)

[2] وينعقد أى النكاح أى يثبت ويحصل انعقاده بالْايجاب والقبول. (ردالمحتار ج: ٣ ص: ٩)۔

[3] و يندب اعلانه وتقديم خطبة. (در مختار مع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٩، كتاب النكاح)۔

[4] ويحصل انعقاده بالْايجاب والقبول. (ردالمحتار ج: ٣ ص: ٩، كتاب النكاح، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)۔

لري سیمو کې په مختلفو شاهدانو ایجاب او قبول نه کیږي

سوال: زما واده داسې وشو چې زه په خپل کلي کې وم او هغه هلک (چې اوس زما خاوند دی) په کراچۍ کې اوسیږي، مونږ په خپلو کې نه شو ملاوېدای: نو ماته خپل خاوند وویل چې زه ستا سره د شلو زرو روپو مهر په بدل کې واده کول غواړم که قبول وي: نو په فارم باندې امضاء (دستخط) وکړه. په دې فارم باندې زما د خاوند امضاء او د دوو شاهدانو امضاء وو. دلته ما هم په دې فارم باندې امضاء وکړه او زما دوه ملګري او یو سړي (چې زما د ملګري ورور ؤ) شاهدان کړه. د هغوی نه هم امضاء واخیستل شو. وروسته زما خاوند راغلو او مونږ پټ کراچۍ ته راغلو. اوس چې زمونږ اولاد هم شوی زما مور پلار وايي: ستا نکاح غلطه شوې وه، دا وایه چې په کومو حالاتو کې مونږ وو او په دوه ځایونو کې اوسېدو او نکاح مو وکړه: نو آیا دا نکاح صحیح نه وه؟ وروسته مو د قاعدې مطابق ټول کارونه په حکومتي عدالت کې ترسره کړل: خو تاسو دا وواییئ چې ایا دد‌ېنه وړاندې مونږ په حرامو کې اخته وو؟

جواب: مخکې ستاسو نکاح درست نه وه، ځکه چې په یو مجلس کې ایجاب او قبول ویل شرط دي[1]، د نکاح شاهدان په یو ځای کې کېدل پکار دي[2]، دلته نه ایجاب او قبول په ژبه شوی او نه هم په یو مجلس کې شوي دي او شاهدان هم شریکي نه وو، بلکې د خاوند شاهدان په کراچۍ کې وو او ستاسو شاهد په کلي کې وو، که تاسو دویم ځلي په حکومتي عدالت کې د شریعت مطابق نکاح تړلې وي بیا نو تاسو ښځه او خاوند یئ او تر دې وړاندې تاسو دواړه په حرامو کې اخته وئ، توبه وباسئ او د الله تعالی نه د مغفرت غوښتنه وکړئ!

دلته دا ویل اړین بولم چې ستاسو د سوال نه ځرګندیږي ستاسو مورپلار په دې نکاح کې درسره شریک نه وو. کننه نو لومړئ به پته او وروسته به تاسو حکومتي عدالت ته نه مجبوره کېدئ؟ داسې نکاح چې د مورپلار د اجازت نه بغیر وشي؛ نو د هغې حکم دا دی که هلک په هر اعتبار د نجلۍ برابر وي؛ نو نکاح یې صحیح ده، ورنه صحیح نه ده. اګر که په عدالت کې وشي. اوس که ستا خاوند ستا سره برابر وي؛ نو ستاسو نکاح صحیح ده او که ستا خاوند د کمې مرتبې والا وي: نو د عدالت نکاح هم نه ده شوې، د مور پلار په اجازه دوباره نکاح وکړئ![3]

---

[1] اشرائط الأيجاب والقبول فمنها اتحاد المجلس اذا كانا الشخصان حاضرين فلو اختلف المجلس لم ينعقد. (البحرالرئق ج: ۳ ص: ۸۳، كتاب النكاح، طبع بيروت)۔

[2] اوشرط حضور شاهدين أى يشهدان على العقد.(شامي ج: ۳ ص: ۲۱، كتاب النكاح، طبع سعيد كراچى)

[3] ان المرأة اذا زوجت نفسها من كفؤلزم على الأولياء وان زوجت من غير كفؤ لا يلزم. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۸٤)

په تیلفون نکاح نه کیږي

سوال: په تیلفون باندې نکاح کیږي او که نه؟ زما ورور په امریکا کې دی. د هغه د واده خبره چې چېرته روانه وه، د نجلۍ کورنۍ غوښتل چې واده زر وکړي او هلته هلک دومره زر نه شو راتلی؛ نو ځکه په تیلفون باندې سمدلاسه نکاح کول وشوه، تر اوسه دواړه یو ځای شوي نه دي. اوس موږ ته ډېر خلک وايي چې د دوی نکاح نه ده شوې؟

جواب: د نکاح لپاره ضروري ده چې ایجاب او قبول د عقد په مجلس کې د شاهدانو مخامخ وي[۱] او په تیلفون باندې دا خبره ممکن نه ده؛ نو ځکه په تیلفون باندې نکاح هم نه کیږي. که چېرته خامخا اړتیا وي؛ نو په تیلفون یا د خط په ذریعه دې هلک خپل ځانته څوک وکیل جوړ کړي او هغه وکیل دې د هلک له طرفه ایجاب او قبول وکړي[۲]،

ستاسو د لیکنې سره سم زړه نکاح نه ده شوې، اوس د دواړو د یو ځای کېدو نه وړاندې د شاهدانو په موجودګۍ کې دوباره ایجاب او قبول وکړئ،

د نجلۍ په امضاء د هلک یو ځل قبول ویل هم پوره دي

سوال: یوه ورځ زما د خور او په دویمه ورځ زما د تره د لور نکاح وشوه چې په هغې کې د جومات امام صاحب نکاح وتړله مګر د هلک نه یې دوه ځله پوښتنه وکړه تاته قبوله ده او د نجلۍ نه یې یوازې یوه امضاء واخیسته، ماترې پوښتنه وکړه په څواب کې یې راته کړه چې په شریعت کې یو ځل پوښتنه کول وي، دویم ځل د شاهدانو د تسلۍ لپاره وي، تاسو زمونږ د ذهن شک لرې کړئ چې آیا دا نکاح صحیح شوې ده او که نه؟

جواب: صرف یو ځل په قبول سره هم نکاح کیږي او نجلۍ چې کله امضاء وکړي ګویا دې په خپله خوښه امام صاحب خپل وکیل جوړ کړ؛ نو ځکه نکاح یې صحیح شوه،[۳]

د نجلۍ امضاء اجازه ده

سوال: پنځلس ورځې کیږي چې زما واده شوی دی، د نکاح پرمهال وکیل زما نه په نکاح خط باندې یوازې امضاء اخیستې وه. دا پوښتنه یې نه وه کړې چې تا ته فلانکی هلک قبول دی او که نه؟ اوس زه ډېره خپه یم چې آیا صرف په امضاء کولو سره نکاح کیږي؟ یا د وکیل له طرفه ټوله جمله ادا کول ضروري دي او یا د نجلۍ نه هم درې ځله په خوله قبول ویل پکار دي،

---

[۱] اشرائط الایجاب والقبول، فمنها اتحاد المجلس اذا کانا الشخصان حاضرین فلو اختلف المجلس لم ینعقد. (البحرالرئق ج: ۳ ص: ۸۹). وشرط (حضور) شاهدین. (درمختار مع ردالمحتار ج: ۳ ص: ۸)۔

[۲] ایصح التوکیل بالنکاح وان لم یحضره الشهود. (عالمګیری ج: ۱ ص: ۲۹٤، کتاب النکاح، طبع رشیدیه)۔

[۳] والعلم للوکیل بالتوکیل (الی قوله)ویثبت العلم اما بالمشافهة اوتلکتاب الیه(البحرالرائق ج: ۷ ص: ۱٤۰)

ډېرو خلکو وویل چې په امضاء کولو سره هم په دې شرط نکاح کیږي چې نجلۍ سره زور ونه کړي او هغه په خپله خوښه امضاء وکړي دا خبره زه واضحه کول غواړم چې په نکاح خط مې پرته د چا له زور زیاتي امضاء کړې ده.

جواب: د نجلۍ له طرفه د نکاح اجازه ورکول کیږي او بغیر د جبر او زور نه امضاء کولو سره هم د نکاح اجازه کیږي[۱]؛ نو ځکه نکاح صحیح شوه. د امضاء وروسته د نجلۍ درې ځله په خوله قبول ویل ضروري نه دي.

د نجلۍ د قبول نه بغیر نکاح نه کیږي

سوال: یو هلک او یو نجلۍ په خپل منځ کې ډېره مینه کوله او د دواړو د واده اراده هم وه چې کله دا ټول هر څه د نجلۍ مور اوپلار ته معلوم شو؛ نو د نجلۍ مور او پلار د نجلۍ واده د بل هلک سره وکړ. کله چې د نجلۍ نکاح وشوه؛ نو نجلۍ د وکیلانو او شاهدانو د قبول نه انکار وکړ. دې سره د نجلۍ پلار د دروغو وکیلان او شاهدان جوړ کړه. دغه راز امام صاحب هم د دروغو په شاهدانو نکاح وتړله. اوس تاسو ووایئ چې دا نکاح جائز ده که ناجائز؟ او ددې دواړو ښځې خاوند اولاد به حلالي وي که حرامي؟

جواب: د هوښیاري بالغې نکاح کې قبول ویل ضروري دي، بغیر له دې نکاح نه کیږي[۲]. ستا د لیکلو سره سم نجلۍ د نکاح اجازه هم نه ده ورکړې او د نکاح کولو نه وروسته یې رد کړې هم ده: نو دا نکاح نه ده شوې؛ خو دا چې د نکاح نه وروسته که چېرته نجلۍ په خولې دا نکاح نه وي رد کړې او خاموشه وه او بیا چې نجلۍ کله واده کېدله؛ نو هغه چوپه خوله رخصت شوه او د کوم هلک سره چې یې نکاح کړې وه؛ نو هغه ته یې د ښځې خاوند د تعلق اجازه ورکړه؛ نو ددې مطلب به دا وي چې دې د مور پلار نکاح عملاً قبوله کړه لهذا نکاح صحیح شوه او اولاد هم حلالي دی.[۳]

بې شاهدانو یوازې په امضاء نکاح نه کیږي

سوال: دا چې زمونږ څوک خپلوان نه وو مونږ اړ شو او په عدالت کې مو د واده فیصله وکړه، د عدالت بهر چې کوم لیکوالان ناست وي؛ نو د هغوی نه مې د قسم پاڼې په کاغذ نکاح خط

---

[۱] والعلم للوکیل بالتوکیل...... ویثبت العلم امّا بالمشافهة أو الکتاب الیه. (البحر الرائق ج: ۷ ص: ۱۴۰)

[۲] اولا یجوز للولی اجبار البکر البالغة علی النکاح. (فتح القدیر ج: ۳ ص: ۱۶۱، طبع دار صادر، بیروت). وینعقد بایجاب من أحدهما وقبول من الآخر. (درمختار ج: ۳ ص: ۹، کتاب النکاح، طبع ایچ ایم سعید کراچی).

[۳] لو استأذنها فی معین فردت ثم زوجها منه فسکتت جاز علی الأصح بخلاف مالو بلغها فردّت ثم قالت: رضیت حیث لا یجوز لأن العقد باطل بالردّ. (فتح القدیر ج: ۳ ص: ۱۶۷، طبع بیروت).

ولیکلو او ما امضاء کړ خاوند مي نه ده امضاء کړې، هغه ووېل چې زه به د قاضي د امضاء وروسته امضاء کوم او تاته به قاضي قسم درکوي، زه چوپه شوم، دویمه ورځ یې ووېل چې تاته اړتیا نشته چې عدالت ته لاړه شې، ما د یو وکیل سره خبره کړې ده هغه ته مي پیسې منلي دي او د قاضي امضاء به راته وکړي، هغه لاړو او د مجسټریټ امضاء یې راوړو او وې ویل چې اوس نه زما ښځه شوې، د ښځې حقوق ادا کړه ما ووېل چې دا خو څه نکاح نه ده، هغه ووېل چې تا د دوه شاهدانو مخامخ امضاء نه ده کړې یعنې د دوه شاهدانو مخامخ دې اقرار ونه کړو نو ددې وجې نه نکاح شوې ده، هغه دوه شاهدان ټائپسټ وو حال دا چې دهغه دواړو امضاء نه ده شوې، هغه وخت نه زما د خاوند امضاء وشو، په مونږ دواړو کې بحث روان دی زه وایم چې نکاح نه ده شوې او هغه وایي چې نکاح شوې ده؟

جواب: کوم صورت چې تا لیکلې ده په دې سره نکاح ونه شوه، نکاح کې د فریقینو د طرفنه د دوه شاهدانو مخامخ ایجاب اوقبول کیږي چې نه دی شوې[1]، تراوس وخته پورې چې تاسو څه کړې دي ناجائز کړې دي آئنده د حرامو نه بچ کېدلو لپاره باقاعده نکاح وکړئ.

بې شاهدانو نکاح نه کیږي

سوال: زما یوې ملګرې په خپلې مرضۍ سره د یو هلک سره واده کول غوښتل هغه هلک هم دې لره په خلوص زړه سره غوختنه، دواړه بالغ وو لیکن ددې کار لپاره حالات ساز ګار نه وو نو دواړو د روژې په اوویشتمه په قرآنِ کریم باندې لاس ایښودلو سره دیوبل بدن د خپل ځان لپاره حلال کړو، د دغه ورځې نه روستو دخلکو نه پټ هغوی باقاعده د ښځې خاوند ژوند تېروي، زه تاسو نه دا معلومول غواړم چې په کتاب او سنت کې دغه قسمه نکاح جائز ده یا هغوی د زنا کارۍ په ارتکاب کې روان دي؟

جواب: نکاح لپاره د دوه شاهدانو مخامخ ایجاب اوقبول شرط دی[2]، کوم صورت چې تا لیکلې دی په دې سره نکاح نه کیږي بلکې هغوی د فعل حرام مرتکب دي[3]، دوی ته پکار دي چې ددې فعل حرام نه توبه وباسي او د مور پلار په اجازت سره دوباره نکاح وکړي،

---

[1] وینعقد بالایجاب والقبول (الی قوله)عندحُرَّین أو حُرَ وحُرَّتین. (البحر الرائق ج: ۳ ص: ۸۷، طبع بیروت. ولا ینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین عاقلین بالغین مسلمین. (هدایة ج: ۲ ص: ۳۰۶، کتاب النکاح، طبع شرکت علمیه). وفی الهندیة (ج: ۱ ص: ۲۶۸) کتاب النکاح: ومنها سماع الشاهدین کلامهمامعًا، هکذا فی فتح القدیر۔

[2] قال أبو جعفر: ولا نکاح الا بشهود أحرار، مسلمین، بالغین شاهدین أو أکثر أو رجل وامراتین، قال احمد: لا نکاح الابشهود، روی عن عمر رضی الله عنه وعبدالله بن عباس رضی الله عنهما من غیر مخالف لهما من الصحابة. (شرح مختصر الطحاوی ج: ٤ ص: ۲٤۳، کتاب النکاح، طبع دارالسراج، بیروت)۔

[3] عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: البغایا... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه

که بالغه نجلۍ انکار وکړي نکاح یې نه کیږي

سوال: زما د یوې ملګرې مور پلار له وړوکواله نه د خپل تره زوی سره د خپلې لور خبره کړې وه. نکاح نه وه شوې او تر اوسه نجلۍ هم خبره نه وه. اوس هغه بالغه شوې او خپل د تره زوی نه خوښوي او د نجلۍ مور او پلار هم دد ښه خبر دي چې د لور مو خوښه نه ده: خو مور او پلار د خپل غیرت او ژبې په ځای کولو لپاره په هغې باندې زور کوي او هغه راضي کوي او هغه ورسره په هیڅ قیمت نه خوشحاله کیږي. اوس مور پلار وایي چې هر څنګه وي مونږ به ددې واده کوو: نو آیا داسې نکاح کیږي چې نجلۍ هلک نه خوښوي او د چا له ویرې په ژبه هو وکړي. آیا نجلۍ په اسلام کې دا حق نه لري چې خپله رایه وکاروي؟ که چېرته دا نکاح نه وي شوې او د واده وروسته دا د خپل خاوند سره یو ځای کیږي: نو ددې ګناه به په چا وي؟

جواب: که نجلۍ په ژبه هو وکړي: نو نکاح یې کیږي او که په پوښتنې سره چوپه پاتې شي: نو بیا هم کیږي[١]. او که ښځې انکار وکړ بیا یې نکاح نه کیږي[٢]. په اسلام کې د نجلۍ رایه د قدر وړ ده او د هغې د خوښې پرته له سره نکاح نه کیږي[٣]، او په مور پلار یې اړینه ده ده چې هغوی د نجلۍ د رایې لحاظ وساتي، خپله خوښه د هغې د خوښې تابع وګرځوي: خو که نجلۍ د خپلې خوښې خلاف د مور او پلار د عزت په خاطر د مورپلار په خوښه هو کړی وي: نو بیا یې نکاح کیږي.[۴]

...بقيه د تيرمخ] اللاّ تى ينكحن أنفسهن بغير بينة .... و أيضًا: نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن نكاح السر واذ الم يحضرهما غيرهما، فهو نكاح السر فلا يجوز. (شرح مختصر الطحاوى ج: ٤ ص: ٢٤٥، كتاب النكاح. طبع دار السراج، بيروت)۔

[١] ان الولى لو استأذنها فى رجل معين فقالت يصلح أو سكتت ثم لما خرج قالت: لَا أرضى ولم يعلم الولى بعدم رضاها فزوجها فهو صحيحٌ. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١١٩، باب الأولياء) . عن أبي هريرة أن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لَا تنكح الثيب حتّى تستأمرْ، و لَا البكر الاّ باذنها، قالوا: يارسول الله! ما اذنها؟ قال: ان سكتت. ويدل عليه حديث ابن عباس رضى الله عنهما قال: قالَ رسول الله صلى الله عليه وسَلم: الأيم أحَق بنفسها من وليها، والبكر تُستأمر فى نفسها، واذنها صُماتها .... فهٰذا الأخبار كلها تدل على أن تزويج البكر لا يجوز بغير اذنها. (شرح مختصر الطحاوى ج: ٤ ص: ٢٨٠)۔

[٢] او قيد بالسكوت لأنها لو ردته ارتدّ. (البحر ج: ٣ ص: ١١٢).عن أبي موسى الأشعرى عن النبى صلى الله عليه وسلم تستأمراليتيمة فى نفسها فان سكتتْ فقد أذنتْ وان أنكرت لم تزوج.(شرح مختصرالطحاوى ج: ٤ ص: ٢٨٠)

[٣] او لَا تجبر بكر بالغة على النكاح أى لَا ينفذ عقد الولى عليها بغير رضاها. (البحر ج: ٣ ص: ١١٨)۔

[۴] وينعقد بالْايجاب والقبول. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ٨٧، طبع بيروت)۔

د ګونګې خوښه معلومول

سوال: یو نجلۍ پیدایښي ګونګۍ او ړنده ده، اوسمهال هغه د خوانۍ درشل ته رسېدلې ده او د واده مسئله یې مخې ته راغلې ده، ددې د خوښې درک څنګه معلوم کړو؟

جواب: ګونګې د اشارو په ذریعه د خپلې خوښې او ناخوښې اظهار کولی شي[١] او په اشارو سره هغه په خبره باندې پوهېږي.

د نکاح پرمهال د پلار نوم غلط اخیستل

سوال: یو سړي د یو هلک تربیه وکړه، کله چې هلک د واده شو؛ نو دغه سړي چې کوم د هلک تربیه کړې وه، په نکاح خط یې د هلک د اصلي پلار د نوم پر ځای یې خپل نوم ولیکلو، حال دا چې د هلک خپل پلار هم د نکاح په وخت موجود و، سوال دا دی چې آیا د هلک نکاح وشوه او که نه؟

جواب: د پلار نوم غلط لیکل نه و پکار، سره ددېنه که د نکاح مجلس حاضرینو ته معلومه وه چې د فلانکي هلک نکاح کیږي؛ نو نکاح یې وشوه. [٢]

د ښځې په قرآن لاس ایښودلو سره نکاح نه کیږي

سوال: زه د یو نجلۍ سره مینه لرم، دومره چې هغه مې په قران باندې لاس ایښودو سره خپله ښځه ګڼلې ده. اوس تاسو ووایئ چې آیا دغه نجلۍ په داسې طریقې زما ښځه کیږي او که نه؟ که نه وي؛ نو اوس زه څه وکړم ایا د واده کولو پرمهال دې ته طلاق ورکول پکار دي بیا د هغې عدت تېرول دي او که څنګه؟

جواب: په قرآن مجید باندې لاس ایښودلو سره ښځه د چا ښځه کیږي نه[٣]، یوازې په قرآن مجید باندې لاس ایښودلو سره د دواړو نکاح نه ده شوې؛ نو د همدې وجې ددې نجلۍ نکاح په بل ځای کې جائز ده او ته هم د مور پلار د خوښې سره سم واده کولی شې؛ خو قرآن مجید باندې لاس ایښودلو سره که تا سوګند کړی وي هغه مات شو، [٤] ددې وجې دواړه د نکاح نه

---

[١] وكما ينعقد بالعبارة ينعقد بالإشارة من الأخرس ان كانت اشارته معلومة، كذا فى البدائع. (عالمگيری ج: ١ ص: ٢٧٠، طبع بلوچستان، أيضًا: بدائع الصنائع ج:٢ ص: ٢٣١، فصل أما ركن النكاح، طبع ايچ ايم سعيد كراچی)۔

[٢] ولم يذكروا اسم أبيه ان كان الزوج حاضرًا و أشاروا اليه جاز. (خانية على هامش الهندية ج: ١ ص: ٣٢٤، طبع بلوچستان، أيضًا: امداد الأحكام ج: ٢ ص: ٢٢٦، كتاب النكاح، طبع دارالعلوم كراچی)۔

[٣] بل يحصل انعقاده بالإيجاب والقبول. (ردالمحتار ص: ٣ ص: ٩)۔

[٤] ولا يخفى ان الحلف بالقرآن الآن متعارف فيكون يمينًا وقال ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

وروسته د قسم کفاره ادا کړئ.[1]

د الله کتاب او د الله کور ویلو سره نکاح نه کیږي

سوال: زه په بنګله دېش کې اوسېدم. زما وړوکی کور وو. هغوی ټول په جنګ کې مړه شوي. زه د یو ډېرې ښې کورنۍ سره اړیکه لرونکي موټړوان او تعلیم یافته سره په کور کې مزدور وم. د هغه لور او ما دواړو دا پرېکړه وکړه چې مونږ واده کوو. په داسې حال کې چې د الله کور او د هغه کتاب مو د شاهدانو په ډول خپل مخ ته کړل چې د وعدې خلاف کار به نه کوو او له ځانه سره مو وویل چې اې الله! زمونږ د دواړو نکاح قبوله کړې. بیا مونږ دواړو د ښځې او خاوند په څېر ژوند پیل کړ. زمونږ دا نکاح جائز ده او که نه؟ که نه وي شوې: نو هغه طریقه راته وښیه چې زمونږ نکاح پرې سمه شي.

جواب: تا چې څنګه نکاح کړې ده دغسې نکاح نه کیږي، د دوه مسلمانانو عاقلانو. بالغانو شاهدانو مخامخ ایجاب او قبول ضروري دی، موجوده حالاتو کې تاسو دواړه په غلط عمل کې اخته یئ. که ته یو عالم ته د ورتلو نه شرمیږې: نو کم از کم دومره خو وکړه چې دوه مسلمانان. عاقلان، بالغان شاهدان کښېنوه او د هغوی په وړاندې د نکاح ایجاب او قبول وکړئ[2] او مهر هم وټاکئ[3]

د نکاح او واده ترمنځ څومره وخت ټاکل پکار دي؟

سوال: د نکاح او واده ترمنځ زیات نه زیات څومره وخت رخصتي جائز ده؟ په دې شرط چې کوم معقول. شرعي عذر موجود نه وي، یوازې د کور شیان تیارول وي.

جواب: شریعت کم وخت نه دی ټاکلی. البته دا ده چې څومره زر واده وشي؛ نو په دې اړه ترغیب شته:[4] نو ځکه د کورني شیانو په تیارولو کې د واده ځنډول غلط رواج دی.

...بقیه د تیرمخ] ابن عابدین رحمه الله: اما فی زماننا فیمین وبه نأخذ ونأمر ونعتقد. (درمختار مع ردالمحتار ج: ۳ ص: ۷۱۲، طبع ایچ ایم سعید کراچی)۔

[1] که جینئ هم قسم خوړلې وی نو...(په هغې هم کفاره شته)، ګنی صرف هلك دې كفاره ادا كړي۔

[2] وینعقد بالایجاب والقبول (الٰی قوله) عند حرّ و حرّتین عاقلین بالغین مسلمین. (البحرالرائق ج: ۳ ص: ۹۴)

[3] ثم المهر واجب شرعًا ابانة لشرف المحل فلا یحتاج الٰی ذکره لصحة النکاح. (البحر الرائق ج: ۳ ص: ۱۵۲، کتاب النکاح، باب المهر، طبع دارالمعرفة، بیروت)۔

[4] عن علی بن ابی طالب ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال له: یا علي! ثلاث لَا تؤخرها: الصلٰوة اذا أتت، والجنازة اذا حضرت، والأیم اذا وجدت لها کفوا. (ترمذي، باب تعجیل الجنازة ج: ۱ ص: ۲۰۶). وقد صرحوا عنه بان الزوجة اذا کانت صغیرة لَا تطیق الوطيء لَا تسلم الٰی الزوج حتّٰی تطیقه، والصحیح أنه غیر مقدور بالسن بل یفوض الٰی القاضی بالنظر الیها من سمن أو هزال...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

واده په کوم وخت کې کول پکار دي؟

سوال: نجلۍ واده کیږي په داسې حال کې چې عمر یې څوارلس یا پنځلس کاله دی او د هلک عمر شپاړس کاله دی. په دې عمر کې ډیرې خرابې نتیجې مخې ته راغلي چې د هغې تفصیل دلته ممکن نه دی. تاسو مهرباني وکړئ آیا په دې کم عمر کې واده کول جائز دي؟

جواب: د شریعت له مخې پوره جواز لري[1]، که چېرته کوم خاص مانع نه وي: نو د هلک او نجلۍ تر ځوانېدو پورې دې ورته انتظار وکړي. کنه په مرداره معاشره کې د غلطو کارونو نتیجې نورې هم خرابیږي، د حلالو لپاره خطرناکو نتیجو باندې نظر کول او د حرامو په خطرناکو نتیجو باندې نظر نه کول د نظر او فکر غلطي ده،

د ولي بې اجازې نکاح کول

....

د ولي خوښه د لومړۍ نکاح لپاره ضروري ده

سوال: یو نجلۍ ته د هغې خاوند طلاق ورکړ، هغې د عدت نه پس د مشر تره د زوی سره نکاح وکړه هغه هم طلاق ورکړ او عدت تېرېدلو نه وروسته یې د لومړي خاوند سره نکاح وکړه، دوباره نکاح کې د نجلۍ خپلوان خبر نه شول ځکه چې یوازې مور یې راضي وه، که ورونه خبر نه وي او شاهدان پردي خلک وي؛ نو نکاح کیږي او کنه؟

جواب: کوم صورت چې تا لیکلی دی ددې مطابق د لومړي خاوند سره یې نکاح صحیح ده، اګر که ورور یا خپلوان یې په نکاح کې شامل نه وي بیا هم دا نکاح صحیح ده، د اولیاؤ رضامندي په اولنۍ نکاح کې ضروري ده. هم دغه خاوند سره په دوباره نکاح کې ضروري نه ده. ځکه چې یو ځل هغوی د دغه خاوند سره په نکاح باندې د رضامندئ اظهار کړی دی بلکې که چېرته نجلۍ د لومړني خاوند سره دوباره نکاح کول غواړي؛ نو ولي لره ددې په منع کولو کې قرآن کریم کې منع راغلې ده[2]؛ نو ځکه که ورور راضي نه وي هغه ګنهګار دی د نجلۍ نکاح د لومړي خاوند سره صحیح ده،

...بقیه د تیرمخ] (ردالمحتار ج:۲ ص:٥٤٩، باب القسم، أیضًا: عالمگیری ج:۱ ص: ۲۸۷، طبع بلوچستان)

[1] عن أبي سعيد وابن عباس رضی الله عنهما قالا: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من ولد له ولد فيحسن اسمه وادبه فاذا بلغ فليزوّجه، فان بلغ ولم يزوّجه فاصاب اثمًا فانما اثمه، على أبيه. (مشکوٰة ص: ۲۷۱). ایضًا تیره شوی حاشیه (عن علی بن ابی طالب ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال له: يا على...الخ) اوګورئ!)

[2] قال الله تعالى: واذا طلقتم النساء فبلغن أجلهنّ فلا تعضلوهنّ أن ينكحن أزواجهنّ اذا تراضوا بينهم بالمعروف. قال في المظهرى: المخاطب به الأولياء (الى قوله) وفي لفظ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

که پلار نه وي ورور د نجلۍ ولي دی

سوال: کله چې د مسلمان په کور کې نجلۍ خوانه شي او د هغې لپاره مناسبه رشته راشي؛ خو د نجلۍ مور او پلار په دې ضد وي چې مونږ د نجلۍ واده نه کوو او د دوی په خلاف مشر ورور یې وایې چې د خور واده کول پکار دي او مور یې بالکل نه مني چې زه لور واده کولو ته نه پریږدم بلکې پر کور به ناسته وي، په دې وخت کې د نجلۍ په مور او پلار څه ذمه واري پکار ده او د نجلۍ ورور ډېر اصرار کوي چې د نجلۍ واده به ضرور کیږي لیکن مور او پلار یې بالکل نه مني. نو اوس د نجلۍ ورور لره څوپه خوله پاتې کېدل غوره دي او که کلکه دده فرضو پوره کولو ته ملا وتړي؟

جواب: د نجلۍ د ورور رایه سمه ده، مور- پلار که څېرته بې وجې ځنډ کوي: نو هغوی ګنهګار دي[١]، که پلار نه وي بلکې مور یوازې وي؛ نو د نجلۍ ولي حقیقي ورور دی هغه دنجلۍ په خوښه عقد کولی شي. مور ته د اعتراض کولو هیڅ حق نشته.[٢]

ولي خپل بالغ ورور او خور ته نکاح کولی شي

سوال: د اولاد ولي پلار دی، د پلار تر مړینې وروسته به مشر ورور ولي وي، زه تر ټولو کشر ورور یم، واده مې کړی دی او پنځه ځامن لرم، د پلار تر مړینې وروسته مې مشر ورور او تر ټولو مشره کونډه خور دومره زورواکان شوي چې زمونږ په ټوله ځمکه یې قبضه کړې ده، د یو کال نه زیات وخت وشو چې زما ښځې او ماشومانو باندې جوړوي او په وړه خبره ورسره جنګونه کوي، زما خسرګنۍ ته یې په ورتلو مجبور کړم، شاید چې زما د ښځې د وهلو ګناه هم په ما باندې وي. زما د مشرې خور او مشر ورور امیدونه زما د خسرګنۍ نه د هغوی د هلکانو د رشتو لپاره دي، د هغې وجې په ما او ښځه باندې مو سختي کوي، زما د مشر ورور او خور

...بقیه د تیرمخ] الأزواج تجوز علی جمیع التقادیرفانه اطلاق بناء علی ما کان أو علی ما یؤول الیه. (والتفصیل فی التفسیر المظهری ج: ١ ص: ٣١٦)۔

١ اعن علی بن أبی طالب ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال له: یا علي! ثلاث لا تؤخرها: الصلٰوة اذا أتت، والجنازة اذا حضرت، والأیم اذا وجدت لها کفوا. (ترمذي، باب ما جاء فی تعجیل الجنازة ج: ١ ص: ٢٠٦). أیضا: عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: فی التوراة مکتوب: من بلغت ابنته اثنتی عشرة سنة ولم یزوّجها فاصابت اثما فاثم ذٰلک علیه. (مشکوٰة ص: ٢٧١). أیضًا: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا خطب الیکم ممن ترضون دینه وخلقه فزوّجوه، ان لا تفعلوه تکن فتنة فی الأرض وفسادعریض. (مشکوٰة ص: ٢٦٧، کتاب النکاح، الفصل الأوّل)

٢ الولی فی النکاح العصبة بنفسه بلا توسطة أنثی علی ترتیب الٰارث. قال الشامی: یقدم الأب ثم أبوه ثم الأخ الشقیق. (درمختارمع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٧٦، باب الولي، أیضًا: هدایة ج: ٢ ص: ٣١٦، طبع شرکت علمیه ملتان)

لورګانې خوانانې دي. آیا ماته د هغوی خبره منل پکار دي؟ آیا زما ورور د لوی والي په وجه شرعي ولي دی چې د هغه هره ښه او بده خبره ومنم؟

جواب: د ولي کېدلو مطلب دا دی چې هغه د خپل نابالغ ورور او خور نکاح کولی شي. دا مطلب نه چې په ځمکه او کور یې پوره قبضه وکړي یا د خپل ورور ښځه د هغه خسرګنئ ته ولیږي[١]. ته د خپل ورور نه لیرې اوسېږه ! او خپله ښځه د خپل ځان سره وساته.

د ولي بې اجازې د نجلۍ واده کول

سوال: ډېر د قدر وړ محترم ! آیا اسلام ددې خبرې اجازه ورکوي چې پوهه بالغه نجلۍ د خپلې خوښې سره سم د کوم هلک سره واده وکړي، په داسې حال کې چې مور او پلار یې په زوره بل ځای کې ورکول غواړي؟ هغه بیا داسې ځای دی چې تجلۍ د هغه ځای تصور کول لا څه چې تر هغې مرګ ته ترجیح ورکوي.

جواب: د نجلۍ د مور پلار نه په پټه نکاح کول د شرافت او حیا خلاف کار دی، سره ددې که هغې نکاح وکړه: نو ددې دوه صورته دي:

یو صورت دا چې هلک ددې په خپلوانو کې وُ. په روزنه، اخلاقو، مال او نورو شیانو کې هم ددې برابر وي: نو بیا خو نکاح صحیح ده. مور او پلار ته پکار دي چې په دې باندې خوښ شي. ځکه چې د هغوی لپاره دا نکاح څه د ملامتئ سبب نه جوړیږي. ددې وجې نه هغوی ته په خپله هم د نجلۍ د خوښې پوره کول پکار دي.

دویم صورت دا چې: هغه هلک ددې نجلۍ سره برابر نه وي، (په دې کې هم څه تفصیل دی) یا خو به د هغې د خپلوانو نه وي، مګر عقل، مال، تعلیم، اخلاق او مذهب به یې د نجلۍ سره برابر نه وي: نو په دې صورت کې د نجلۍ په خپل سر باندې نکاح کول شرعا باطل دي، تر څو چې مور او پلار اجازه ورنه کړي[٢]، نن سبا چې کومې جینکئ د خپلې خوښې ودونه کوي، تاسو وګورئ چې هغوی ددې شرعي مسئلې رعایت ترکوم بریده کوي؟

---

[١] (الولی فی النکاح) لَا المال (العصبة بنفسه) وقال الشامي: ثم لَا یخفی ان قوله لَا المال علی معنی فقط أی المراد بالولی هنا الولی فی النکاح سواء کان له ولَایة فی المال أیضًا کالأب والجد والقاضی أو لَا کالأخ لَا الولی فی المال فقط. (درمختار مع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٧٦، باب االولي، أیضًا: هدایة ج: ٢ ص: ٣١٦، باب الأولیاء والْأکفاء، طبع شرکت علمیه ملتان)

[٢] ان المرأة اذا زوّجت نفسها من کفؤلزم علی الأولیا وان زوّجت من غیر کفؤ لَایلزم. (ردالمحتار ج: ٣ ص: ٨٤، باب الولی) قال أبو جعفر: واذا تزوجت المرأة البالغة الصحیحة العقل بغیر أمر ولیها، فالنکاح جائز وان کان کفوًا لها، لم یکن للأولیاء أن یفرقوا بینهما، وان کان غیر کفو لها، کان لولیها أن یفرقوا بینهما .... والحجة لأبی حنیفة فی جواز عقدها بغیر اذن الولي، من وجوه ثلا ثة: ... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د پلار او نیکه په شتون کې ورور ولي نه دی

سوال: ما په خپله خوښه په پردیو کې د یو هلک سره چې ښه صحت مند او دولت مند دی: خو په تعلیم کې زما نه کم دی هغه زما زر روپۍ مهر تاکلی دی. د مور او پلار نه مې په پټه نکاح وکړه. زما ورور چې بالغ دی زما له طرفه شریک شو. آیا دا نکاح باطله ده او که صحیح؟ ځکه چې هغه اوس زما سره لیدل غواړي او زه ترې انکار کوم.

جواب: که چېرته ستا پلار یا نیکه ژوندي وي او هغوی په دې باندې ستا سره خوښ نه وي: نو نکاح باطله ده[1] او که پلار نیکه موجود نه وي: نو ستا ورور ستا ولي دی او د ورور د شریکېدو له وجې نکاح صحیح ده.[2]

بې شاهدانو د ولي د اجازې پرته نکاح نه کیږي

سوال: زه پېغله، عاقله، بالغه، حنفي او سني مسلمانه نجلۍ یم، ما د یو هلک سره په پټه نکاح کړې ده. نکاح داسې وشوه چې هلک ماته درې ځله وویل: چې زه تا د پنځوسو روپو شرعي محمدي مهر په مقابل کې په خپله نکاح کې راوستل غواړم، ما درې واړه ځله دده دا خبره قبوله کړه. په دې ایجاب او قبول کې څوک وکیل او شاهد نه وو. د څه مجبورۍ له وجې مو نه غوښتل چې زمونږ له نکاح دې خلک خبر شي، آیا شرعا دا نکاح صحیح شوه او که نه؟ که نه وي شوې: نو څنګه به کیږي؟ مهرباني وکړئ د فقهې په نظر کې راته ځواب راکړئ.

جواب: دا نکاح په دوه وجو سره فاسده ده:

اوله وجه دا ده چې: د نکاح د صحیح کېدو لپاره دوه عاقلان بالغان مسلمانان شاهدان ضروري دي. د دوی نه بغیر نکاح نه کیږي، په حدیث کې دي:

البغایا اللاتی ینکحن انفسهن من غیر بینة.(البحر الرائق ٤ ص ٩٤، جلد ٣)

...بقیه د تیرمخ] الکتاب. والسُّنَّة، والنظر، فأما الکتاب فقوله: فلا تحل له من بعد حتّٰی تنکح زوجًا غیره، فان طلّقها فلا جناح علیهما أن یتراجعا، وهٰذه الآیة تدل من وجهین علی صحة ماقلنا.....الخ. (شرح مختصر الطحاوی ج: ٤ ص: ٢٥٥، ٢٥٦، کتاب النکاح، طبع بیروت)۔

[1] الولی فی النکاح العصبة بنفسه بلا توسطة انثٰی علی ترتیب الْارث. قال الشامی: یقدم الأب ثم أبوه ثم الأخ الشقیق.(درمختارمع ردالمحتار ج:٣ ص: ٧٦ باب الولي،أیضًا:هدایة ج:٢ ص ٣١٦،طبع شرکت علمیه ملتان)

[2] وان المفتی به روایةالحسن عن الْامام من عدم الْانعقاد أصلاً اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العقد. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١٣٧، طبع بیروت). واذا زوجت المرأة نفسها من غیر کفؤ فللأولیاء أن یفرقوا بینهما لأنها ألحقت العار بالأولیاء. (المبسوط للسرخسی ج: ٥ ص: ٢٥، باب الأکفاء، طبع دار المعرفة بیروت). وفی الدرالمختار (ج: ٣ ص: ٥٦، طبع ایچ ایم سعید کراچی) کتاب النکاح: ویفتٰی فی غیر الکفو بعدم جوازه أصلاً وهوالمختار للفتویٰ لفسادالزمان)۔

هغه ښځې زناکارې دي چې د شاهدانو نه بغیر نکاح کوي. (مشکوة شریف) (البحرالرائق ص ۹۴. جلد ۳)

دویمه وجه دا ده چې د مور او پلار د اجازې نه بغیر په پټه هغه وخت نکاح کیږي چې د هلک او نجلۍ تر منځ څه رابطه وي او په داسې صورت کې د مور او پلار د اجازې نه بغیر نکاح کول باطل دي په حدیث کې دي چې

"عَنْ عائشة ؓ ان رسول الله ﷺ قال: ایما امراة نکحت نفسها بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل فنکاحها باطل فنکاحها باطل"(مشکوة شریف ص۲۷۰)

کومې ښځې چې د ولي د اجازې نه بغیر نکاح وکړه؛ نو د هغې نکاح باطله ده د هغې نکاح باطله ده. **(مشکوة شریف (البحر ائق صفحه ۱۱۸ جلد ۳)**

په هر حال ستاسو نکاح نه ده شوې. تاسو دواړه جدا شئ او که تاسو دواړو د ښځې خاوند تعلق ساتلی وي؛ نو په هلک باندې ستا مهر پنځه سوه روپۍ لازم نه دي، بلکې دده په ذمه مهر مثل لازم دی[1]. مهر مثل نه مراد دا چې ددې د خاندان د جینکو چې څومره مهر وي، هغومره به ددې ښځې مهر هم وي. [2] خو اوس مهال تاسو دواړه جدا شئ او توبه وباسئ.

د هلک لپاره د مور او پلار بې اجازې نکاح

سوال: د یو هلک یوه نجلۍ خوښه ده او خپلې کورنۍ ته یې د رشتې غوښتلو لپاره ویلي، مګر کورنۍ یې یوازې ددې وجې د نجلۍ رشته نه غواړي چې د اوچت خاندان سره یې **تعلق** نشته. حال دا چې نجلۍ خپله پوره شریفه ده او پنځه وخته لمونځ هم کوي. آیا د شریعت له مخې دا نکاح جائز ده؟

جواب: که د نجلۍ مور او پلار پرې خوښ وي؛ نو نکاح یې جائز ده. د هلک د مور او پلار خوښې ته هیڅ اعتبار نشته. [3]

د تښتول شوي نجلۍ نکاح

سوال: کوم هلک یوه نجلۍ وتښتول او د دوه شاهدانو په شتون کې یې ورته مهر وټاکلو او نکاح یې وکړه. حال دا چې دا نکاح د دواړو کورنیو د مور او پلار او خپلوانو لپاره د بدنامۍ کار دی. همدا راز دواړه کفو هم نه دي. آیا دا نکاح شوې؟

---

[1] او یجب مهر المثل فی نکاح فاسد (درمختار مع ردالمحتار ج:۳ ص:۱۳۱ البحرالرائق ج:۳ ص:۱۶۹ طبع بیروت)

[2] او الحرّة مهر مثلها الشرعی مهر مثلها اللغوی أی مهر امرأة تماثلها من قوم أبیها لَا اُمّها ان لم تکن من قومه کبنت عمه. (الدرالمختار ج:۳ ص:۱۳۷، باب المهر، أیضا: هدایة ج: ۲ ص: ۳۳۳، طبع شرکت علمیه ملتان)

[3] الرجل فانه اذا تزوّج بنفسه مکافئة له أو لَا فانه صحیح لَازم. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۸۵، باب الولی).

جواب: د نورو امامانو په نزد خو د ولي د اجازت نه بغير نكاح نه كيږي او زمونږ د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد په كفو كې كيږي او په غير كفو كې دوه روايته دي. فتوى په دې باندې ده چې نه كيږي[۱]. ځكه چې تبنتول شوې نجلۍ چې په غير كفو كې د مور او پلار د خوښې نه بغير نكاح كوي. دڅلورو فقهاوو د مفتى به قول مطابق د دوى نكاح فاسده ده.[۲]

په وضعي قوانينو كې د غير كفو نكاح كولو حكم

سوال: د پاكستاني حكومت د وضعي قوانينو په نظر كې يوه بالغه نجلۍ او هلک د عمر سند او عدالتي پريكړې ترلاسه كولو وروسته د مور - پلار او خپلوانو د خوښې پرته په غير كفو سره نكاح كولى شي. دا د هغوى قانون دى، آيا داسې نكاح صحيح ده او كه نه؟

جواب: د وضعي قوانينو ځينې مادې د اسلام خلاف دي او د غير اسلامي قانون عدالتي فيصله په شريعت كې د نشت برابر ده؛ نو ځكه د داسې نكاحونو هم هغه حكم دى چې پورته پوره تفصيل ذكر شو.[۳]

غير كفو باندې ولي عصبه اعتراض كولى شي

سوال: د ۱۹۸۶ م كال د مارچ په مياشت كې (ډائجسټ) نومې مجله كې يو مضمون " واده ولې " په نوم مخې ته راغلو. د كتلو وروسته راته دا مسئله له نظره تېره شوه چې نجلۍ په خپله خوښه واده وكړي؛ نو نكاح يې كيږي او كه ددې مور يا ولي وارث او سرپرست ته په دې نكاح باندې د كفو اعتراض وي چې د خپل حيثيت سره سم واده نه دى؛ نو په اسلامي عدالت كې

---

۱ ا ان المفتى به رواية الحسن عن الامام من عدم الانعقاد أصلاً اذا كان لها ولى لم يرض به قبل العقد فلا يفيد الرضا بعده. (البحرالرائق ج: ۳ ص: ۱۳۷ فصل فى الأكفاء طبع دار المعرفة). أيضًا: نفذ نكاح حرة مكلفة بلاولي، وله الاعتراض فى غير الكفؤ، وروى الحسن عن الامام عدم جوازه، وعليه فتوى قاضى خان، و هذا أصح وأحوط، والمختار للفتوى فى زماننا. (مجمع الأنهر ج: ۱ ص: ۴۸۸، باب الأولياء والأكفاء، طبع دار الكتب العلمية)۔

۲ ا اختلف العلماء هل الولاية شرط من شروط صحة النكاح أم ليست بشرط؟ فذهب مالك الى أنه لا يكون نكاح الا بولي. وانها شرط فى الصحة. وفى رواية أشهب عنه، وبه قال الشافعي رحمه الله، وقال أبوحنيفة رحمه الله وزفر رحمه الله والشعبى رحمه الله والزهرى رحمه الله: اذا عقدت المرأة نكاحها بغير ولى وكان كفوًا جاز، وفرق داؤد بين البكر والثيب فقال: باشتراط الولى فى البكر وعدم اشتراط فى الثيب. (بداية المجتهد لا بن رُشد ج: ۲ ص: ۶، ۷ كتاب النكاح، الفصل الأول فى الأولياء، طبع المكتبة العلمية لاهور پاكستان، أيضًا: الفقه الاسلامى وأدلته، ج: ۷ ص: ۸۲، طبع بيروت).

۳ ا ان المرأة اذا زوّجت نفسهامن كفؤلزم على الأولياء، وان زوّجت من غير كفؤ لا يلزم. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۸۴)

د ده دعوه او بدل کیږي او که په حقیقت کې دا ثابته شي چې دې نجلۍ د مور او پلار د خوښې خلاف په غیرکفو کې واده کړی دی؛ نو قاضي به دا نکاح فسخ کړي. ددې په باره کې اوس سوال دا دی چې د ظاهرالروایة په دې مسئلې باندې فتوا نشته. په عالمانو کې متاخرینو احنافو ددې په خلاف فتوا ورکړې ده. اوس مفتی به قول دا دی چې بالغه نجلۍ د ولي عصبه د رضا نه بغیر په غیرکفو کې نکاح وکړي؛ نو هغه نکاح اصلا شوې نه ده. ددې تفصیلات د فقهې او فتاوو په کتابونو کې شتون لري.

په دیکښې دویمه خبره چې د تصحیح قابله ده هغه دا چې مور ته په دې صورت کې د ظاهرالروایة مطابق د اعتراض کولو حق نشته او نه ددې ناخوښئ ته کوم اعتبار شته: نو په دې مضمون کې د مور لفظ باید لرې شي. ځکه صحیح دا ده چې صرف ولي عصبه ته په غیر کفو کې په نکاح کولو باندې د ظاهرالروایة مطابق د اعتراض کولو حق حاصل دی او دا خبره مخکښې بیان شوې ده چې متاخرینو (وروستیو) احنافو په دې مسئله کې د حسن چې د امام ابو حنیفه رحمه الله نه یې روایت کړی دی مفتی به دی.

جواب: محترمه! ستا دا نیوکه (تنقید) صحیح دی چې په غیر کفو کې د ولي بې اجازې نکاح نه کیږي. لهذا دا نکاح به لغو کٔهل کیږي، ددې د فسخ کولو لپاره ولي ته د عدالت د دروازې ټکولو هیڅ اړتیا نشته. دغه مفتی به قول دی[1]، او دا هم صحیح ده چې مور ولیه نه ده. عصبات په ترتیب سره اولیاء دي. مضمون لیکونکی په خپلو لیکلو کې خطا شوی دی.

یادونه ... عصبه هغه وارثانو ته وایي چې هغوی ته په میراث کې څه برخه نه وي ټاکل شوې، بلکې د ذوی الفروض (هغو کسانو چې برخه یې معلومه وي) د هغوی نه وروسته کوم مال پاتې شي هغه دوی ته ورکول کیږي[2] او عصبات په ترتیب سره څلور دي:

(۱) د مړي فروع یعنې زوی، لمسی، او لاندې چې څومره دي.
(۲) د مړي اصول یعنې پلار یا نیکه، غور نیکه پورته چې څومره دي.
(۳) د پلار اولاد یعنې ورور، وریرونه، د وریرونو اولاد.
(۴) د نیکه اولاد تره، د تره اولاد، د تره د اولادونو اولاد.[3]

---

(۱) ان المفتى به رواية الحسن عن الامام من عدم الانعقاد أصلاً اذا كان لها ولى ولم يرض به قبل العقد فلا يفيد الرضابعده. (البحرالرائق ج: ۳ ص: ۱۳۷ فصل فى الأكفاء طبع دار المعرفة)۔

(۲) والعصبة كل من يأخذ ما أبقته أصحاب الفرائض وعندالانفراد يحرزجميع المال(سراجى ص:۳ طبع ايچ ايم سعيد)

(۳) يحرز العصبة بنفسه وهو كل ذكر (الى قوله) ما أبقت الفرائض أى جنسها، وعند الانفراد يحرز جميع المال بجهة واحدة، ثم العصبات بأنفسهم أربعة أصناف جزء الميت ثم أصله ثم أصله ثم أصله ثم جزء أبيه ثم جزء جده ويقدم الأقرب فاقرب منهم بهذا الترتيب ......الخ. (الدرالمختار مع ردالمحتار ج: ۶ ص: ۷۷۴)۔

دغه عصبات په ترتیب د نجلۍ د نکاح لپاره ولیان دي.[۱]

د حرامي هلك د نكاح لپاره د نجلۍ او د هغې د مور- پلار خوښي شرط ده

سوال: يو سړي واده کړې ښځه تښتولې وه. کله چې هغه ښځه وتښتول: نو د هغې اولاد نه وو بلکې حامله (بلاربه) وه. د دغې ښځې د تښتېدو په ورځو کې يوه نجلۍ او يو هلک پيدا شو او د هغوی د زېږدنې (پيدايش) وروسته د تښتول شوي ښځې نکاح وتړل شوه او لومړي خاوند طلاق ورکړو. تښتول شوي سړي ته يې په شرعي طريقه سزا ورکړه. اوس اصل مسئله دا ده چې کوم زوی د تښتولو په دوران کې پيدا شوی دی آيا ددې هلک نکاح يتيمې شريفې نجلۍ سره جائز ده؟ حال دا چې هغه هلک د تښتول شوي ښځې د نکاح نه وړاندې پيدا شوی دی.

جواب: نجلۍ او د نجلۍ اولياء که چېرته په دې باندې راضي وي؛ نو نکاح يې کيږي او که چېرته په هغوی کې يو هم راضي نه وو: نو نکاح يې هم صحيح نه ده.[۲]

که مور- پلار د عدالت په نکاح خوښ وي نکاح صحيح ده

سوال: هلک د نجلۍ د حيثيت برابر دی. د نجلۍ مور- پلار ددې نکاح نه خوشحاله دي؛ خو دا نکاح د عدالت په ذريعه شوې ده؛ نو آيا دا نکاح صحيح ده؟

جواب: صحيح ده. په دې شرط چې د نکاح د نورو شرطونو پوره لحاظ وساتل شي.

د مور- پلار بې خوښې نكاح نه كيږي

سوال: که نجلۍ او هلک په خپله خوښه واده کول غواړي او مور- پلار يې منع کوي. نجلۍ او هلک عدالت ته هم تلای نه شي: نو آيا په دې صورت کې کوم وکيل ته ورتلای شي چې د دوه شاهدانو په موجودګۍ کې نکاح وتړي؟

---

[۱] الولی فی النکاح.... العصبة بنفسه وهومن يتصل بالميت.....بلا واسطة أنثی.... علی ترتيب الْارث..... الخ. (الدرالمختار مع ردالمحتار ج: ۳ ص:۷٦، باب الولي، أيضًا: هداية ج:۲ ص:۳۱٦،طبع شركت علميه ملتان)

[۲] عن أبي هريرة رضی الله عنه أن النبی صلی الله عليه وسلم قال: لَا تنكح الثيب حتّٰی تستأمر، ولَا البكر الّا باذنها. قالوا: يا رسول الله! ما اذنها؟ قال: أن تسكت. يدل عليه حديث ابن عباس قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: الأيم أحق بنفسها من وليها، والبكر تستأمر فی نفسها واذنها صماتها .... فهٰذه الأخبار كلها تدل علی أن تزويج البكر لا يجوز بغير اذنها. (شرح مختصر الطحاوی ج: ٤ ص: ۲۸۰، كتاب لنكاح، طبع دار السراج ، بيروت). وفی البدائع (ج: ۲ ص: ۳۱۸، طبع ايچ ايم سعيد كراچی) كتاب النكاح: لأن فی الكفاءة حقا للأولياء لأنهم ينتفعون بذالک .... ولو كان التزوج برضاهم يلزم حتّٰی لَايكون لهم حق الْاعتراض. وأيضا فی الجوهرة النيرة ج: ۲ ص: ۷۷ طبع مكتبة حقانية۔

جواب: داسې نکاح چې په هغې کې د مور- پلار خوښه نه وي، یا د مور- پلار لپاره په هغې کې بې عزتي وي هغه نکاح له سره کیږي نه، برابره خبره ده که د وکیل په ذریعه وشي که په عدالت کې وشي، [۱]

د نکاح وکیل

که هلک نه وي بل کس د نکاح قبول ویلی شي

سوال: آیا د هلک په نه موجودګۍ کې د هغه پلار یا وکیل د هلک له طرفه نکاح قبلولی شي، حال دا چې زمونږ په ځای کې دا عام کیږي او وروسته د هلک نه قبول اخلي.

جواب: د کوم بل کس له طرفه د وکیل جوړولو په صورت کې ایجاب او قبول کول صحیح دي[۲] . که هلک د نکاح وکیل جوړ کړی وي: نو د وکیل ایجاب قبول کول به خپله ددغه هلک له طرفه ګڼل کیږي، وروسته د هلک نه د قبول اخیستلو هیڅ اړتیا نشته او که هلک وکیل نه وي ټاکلی او کوم بل کس د هغه د اجازې نه بغیر وکیل جوړ شي او هغه د هلک له طرفه ایجاب او قبول وکړي؛ نو دا به د هلک په اجازت پورې موقوف وي، که هلک یې ومني نکاح صحیح ده او که رد یې کړي؛ نو نکاح ختمه شوه، [۳]

د زلمي په شتون کې وکیل قبول کولی شي

سوال: که کوم یو هلک په خپله نکاح کې موجود وي او د نکاح په مجلس کې ناست وي؛ نو ددې هلک نکاح ورور یا بل سرپرست دده له طرفه د وکیل جوړېدلو په صورت کې سره کولای شي او که نه؟

جواب: که کوم سړی دده له طرفه وکیل جوړ شي او قبول وکړي؛ نو نکاح یې کیږي، [۴]

---

۱ عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ایما امرأة نکحت نفسها بغیر اذن ولیها فنکاحها باطل. فنکاحها باطل. فنکاحها باطل. (مشکوٰة ص: ۲۷۰، باب الولی فی النکاح واستیذان المرأة، الفصل الثانی). ان المفتٰی به روایة الحسن علی الأمام من عدم الانعقاد أصلاً اذا کان لها ولی ولم یرض به قبل العقد فلا یفید الرضا بعده. (البحرالرائق ج: ۳ ص: ۱۲۸ کتاب النکاح، باب الأولیاء، طبع بیروت). وفی الدرالمختار (ج: ۳ ص: ۵۶، طبع ایچ ایم سعید کراچی) کتاب النکاح، باب الولی: و یفتٰی فی غیر الکفو بعدم جوازه أصلاً وهو المختار للفتویٰ لفسادالزمان۔

۲ ا ویصح التوکیل بالنکاح وان لم یحضره الشهود کذا فی التتارخانیة.(عالمگیری ج: ۱ ص: ۲۹۴ کتاب النکاح)

۳ ا قال: و تزویج العبد والأمة بغیر اذن مولاهما موقوف فان أجاز المولی جاز وان ردّه، باطل و کذٰلک لو زوّج رجل امرأة بغیر رضاها أو رجلاً بغیر رضاه و هٰذا عندنا فان کل عقد صدر من الفضولی وله مجیز انعقد موقوفا علی الاجازة. (هدایة ج: ۲ ص: ۳۲۲، طبع شرکت علمیه ملتان)۔

۴ ا ویصح التوکیل بالنکاح وان لم یحضره الشهود کذا فی التتارخانیة. ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

يو كس د نجلۍ او هلك دواړو له طرفه وكيل جوړېداى شي؟

سوال: كه چېرته په كوم واده كې د نجلۍ پلار ووايي چې د نجلۍ د پلار په حيثيت سره د خپلې نجلۍ نكاح د فلانكي هلك سره كوم بيا ووايي چې د هلك د سرپرست په حيثيت سره يې قبلوم. دا ډول كلمات درې ځله ووايي؛ نو آيا دا نكاح وشوه او كه نه؟

جواب: كوم كس د هلك او نجلۍ دواړو له طرفه وكيل يا ولي شي، كه چېرته هغه دا وويل چې ما د فلانكۍ نجلۍ نكاح د فلانكي هلك سره وكړه نو نكاح يې كيږي[1]. يعنې ددې خبرې هم ضرورت نشته چې يو ځل دا ووايي چې زه د فلانكۍ نكاح دفلانكي هلك سره كوم او دويم ځل دا ووايي چې زه ددې هلك له طرفه قبول كوم او د درې ځله وينا ويلو هم ضرورت نشته، صرف يو ځل د شاهدانو په وړاندې ويل پوره دي،

د بالغ هلك او نجلۍ نكاح د دوى په اجازې اړه لري

سوال: د هلك عمر تقريبا شل يا دوه ويشت كاله دى، د نجلۍ عمر د اتلسو نه تر شلو كالو پورې دى دواړه عاقلان، بالغان او د خپل اختيار مالكان دي، د دوى نكاح داسې وشوه چې د نجلۍ او هلك د پلار نه مولانا صاحب په داسې طريقه ايجاب او قبول واخيست چې د نجلۍ پلار ته مولانا صاحب ووېل: تا خپله لور په عوض د حق مهر ددې صاحب زوى ته په نكاح وركړه؟ هغوى ځواب وركړ: چې هو ! ما وركړه، د هلك د پلار نه يې پوښتنه وكړه چې تا د خپل زوى لپاره قبوله كړه؟ هغوى ووېل: چې هو ! ما قبوله كړه، ددې وروسته د هلك او نجلۍ پلارانو خپل بچي ددې نكاح نه خبر نه كړل او هلك جدا ژوند تېروي. ددې نكاح شرعي حكم څه دى ايا نكاح يې وشوه او كه نه؟

جواب: دا نكاح خو وشوه مګر د هلك او نجلۍ دواړو په اجازت باندې موقوفه ده، د خبر وركولو نه وروسته كه چېرته دواړو قبوله كړه؛ نو نكاح وشوه او كه چېرته په دواړو كې يو هم انكار وكړ؛ نو نكاح ختمه شوه،[2]

...بقيه د تيرمخ] (عالمگيري، الباب السادس فى الوكالة، كتاب النكاح ج:١ ص: ٢٩٤). ثم النكاح كما ينعقد هٰذه الألفاظ بطريق الْاصالة، ينعقد بها بطريق النيابة بالوكالة والرسالة، لأن تصرف الوكيل كتصرف المؤكل. (بدائع الصنائع ج:٢ ص:٢٣١،فصل فى ركن النكاح)۔

[1] (ويتولى طرفى النكاح واحد) بايجاب مع القبول فى خمس صور كان كان وليا أو وكيلا من الجانبين. (درمختار مع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٩٦، كتاب النكاح، باب الولي، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)۔

[2] لا يجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل من أب أو سلطان بغير اذنها بكرًا كانت أو ثيبًا. (عالمگيرى ج: ١ ص: ٢٨٧، كتاب النكاح). وفى البحر: والسُّنَّة أن يستامر البكر وليها قبل النكاح .... وان زوجها بغير استئمار فقد أخطأالسُّنَّة، وتوقف على رضاها، انتهٰى. وهو محمل النهى... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

نکاح خط با ندې یوازې امضاء کول

سوال: وکیل او شاهدان نجلۍ ته لاړل او د موجوده قوانینو مطابق صرف د نکاح خط په کاغذ یې د نجلۍ نه امضاء واخیستل، وکیل نجلۍ ته څه خبره ونه کړه، نه یې د هلک نوم واخیست. نه یې د مهر اندازه وښوده، نه یې خپله ځان وکیل وګڼلو. نه یې د نکاح تړلو اجازت واخیست. صرف امضاء اخیستلو سره نکاح ویونکي ملا صاحب ته راغلو، دواړو شاهدانو هم صرف د امضاء په وخت کې وکتل، اوریدلي یې څه هم نه دي او په داسې حالت کې نکاح ویونکي هم بې شاهدانو د پوښتنې نه نکاح وتړله او نجلۍ هم رخصت شوه خسر کره لاړه. آیا شرعاً نکاح وشوه؟ که چېرته نه وي شوې؛ نو څه صورت به مخې ته راځي؟

جواب: د نکاح په کاغذ باندې دا ټول تفصیلات لیکل کیږي چې د هغې په ویلو سره نجلۍ د نکاح د منلو امضاء کوي: نو ځکه د نکاح په صحیح کېدلو کې څه شک نشته.[1]

نامحرم سړي به د وکیل جوړولو لپاره نجلۍ ته نه ورځي

سوال: زمونږ رواج دی چې په کوم کور کې د نجلۍ کوژده کیږي: نو لس شل سړي یا کم او زیات د هلک د کورنۍ له طرفه د نجلۍ کوروالو ته ورځي او ځان سره شیریني. د نجلۍ لپاره ځېلۍ او ګوتمۍ اخلي او نجلۍ ته یې اچوي، ددې وروسته د هلک والاد کورنۍ تګ راتګ د زوږ عادت په خلاف د هر وخت لپاره پیل شي بیا د واده نه دوه ځلور ورځې وړاندې نجلۍ ته څه زر د هلک د کور نه راشي او نجلۍ به په زیړو جامو کې کښینوي (دا د پنجاب د خلکو یو رواج دی) او د نجلۍ مور پلار د نجلۍ لپاره د کور سامان تیاروي، غرض دا چې نجلۍ د خپلې رشتې نه پوره خبره وي، هغه په دې ټوله معامله کې چوپه پاتې وي، دا ټولې خبرې نجلۍ قبولې کړي. ددې صفا دلیل دا دی چې نجلۍ په کومه خبره باندې انکار نه کوي؛ نو د نکاح په وخت کې ځینې خلک نجلۍ ته د اجازت لپاره دوه شاهدان ولیږي چې هغه غیر محرم وي او غیر محرمو ښځو ته بې ویرې ورځي او د نجلۍ نه د نکاح د اجازت او د وکیل نیولو پوښتنه کوي. زیاتره نجونې خپله څه نه وایي، د نزدې خپلوانو ښځو نه کومه ښځه ووایي چې نجلۍ فلانکی سړی وکیل ټاکلی دی، حال دا چې د نجلۍ پلار- ورور- تره او نور خلک په مجلس کې موجود وي، آیا دا ټولې کیسې جائز دي؟

...بقیه د تیرمخ] فی حدیث علم لَا تنکح الأیم حتّی تستأمر و لَا تنکح البکر حتّی تستأذن، قالوا: یارسول الله! وکیف اذنها؟ قال: أن تسکت. فهو بیان السُّنَّة للا تفاق علی أنها لو صرحت بالرضا بعد العقد نطقًا فانه یجوز. (البحرالرائق ج: ۳ ص: ۱۲۱، کتاب النکاح، باب الأولیاء والأکفاء، طبع دارالمعرفة بیروت)۔

[1] والعلم للوکیل بالتوکیل(الی قوله) ویثبت العلم امابالمشافهة أوالکتاب الیه.(البحرالرائق ج: ۷ ص: ۱٤٠)

جواب: پردي او نامحرم خلک نجلۍ ته د اجازت لپاره لېږل د غيرت خلاف دي. معلومه، نه ده چې خلکو دې بې غيرته او بې حيا رواج ته څنګه دومره ترقي ورکړه. د نجلۍ پلار ولي دی، هم دی ددې لور له طرفه د نکاح کولو وکيل هم دی او اجازه لري.[1] البته د رشتې ورکولو او مهر ټاکلو په اړه د نجلۍ نه مشوره اخيستل پکار دي او دا مشوره د نجلۍ د مور او نورو زنانه وو په ذريعه هم کېدای شي[2]، نن سبا خو د نکاح په کاغذ باندې دا هر څه شته، د نکاح په کاغذ باندې امضاء کولو سره د نجلۍ اجازه هم معلومېږي: نو څکه پردي او نامحرم خلک ناوې ته استول (او د هغوی د ناوې سره په بې پردګۍ کې پوښتنه کول) داسې رواج ختمول پکار دي. د واده د تياري سره- سره د پېغلې نجلۍ چوپ پاتې کېدل د هغې له طرفه اجازه ده.

[د نابالغه اولاد نکاح]

د نابالغه هلک او نجلۍ نکاح جائز ده

سوال: زمونږ په کورنۍ کې هلک يا نجلۍ چې د څلورو پنځو کالو شي د هغوی کوژده وشي. کله چې هغوی ځوانان شي؛ نو د هغوی واده وکړي، د هلک يا نجلۍ له طرفه ايجاب او قبول د هغوی مور- پلار کوي، حال دا چې د هلک يا نجلۍ خوښه نه وي، داسې ودونه زمونږ په اسلام کې جواز لري او که نه؟

جواب: د نابالغه هلک يا نجلۍ نکاح د هغوی د ولي په ايجاب او قبول سره صحيح ده او د بالغ کېدو نه پس د پلار او نيکه کړې نکاح د رد کولو اختيار هم نه لري.[3]

---

[1] الولى فى النكاح العصبة بنفسه بلا توسطة انثى على ترتيب الارث. قال ابن عابدين رحمه الله: يقدم الأب ثم أبوه.....الخ (ردالمحتار ج: ٣ ص: ٧٦، باب الولي، أيضًا: هداية ج: ٢ ص: ٣١٦، طبع شركت علميه ملتان)

[2] او هو السُّنَّة بأن يقول لها قبل النكاح فلان يخطبک أو يذكرک. .... واستحسن الرحمتى ما ذكره الشافعية من أن السُّنَّة فى الاستئذان أن يرسل اليها نسوة ثقات، ينظرن ما فى نفسها والأم بذلک أولى لأنها تطلع على ما لا يطلع عليه غيرها. (شامى ج: ٣ ص: ٥٨، باب الولي، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)۔

[3] وللولى انكاح الصغير والصغيرة ولو ثيبًا ولزم النكاح ولو بغبن فاحش أو بغير كفؤ ان كان الولى أباوجدًا.....الخ. (درمختار مع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٦٦، باب الولي، طبع ايچ ايم سعيد كراچى). (قوله ولهما خيار الفسخ بالبلوغ فى غير الأب والجد بشرط القضاء) أى للصغير والصغيرة اذا بلغا وقد زوجا .... بخلاف ما اذا زوجهما الأب والجد فانه لا خيار لهما بعد بلوغهما لأنهما كاملا الرأى وافر الشفقة فيلزم العقد بمباشرتهما كما اذا باشرا برضاهما بعد البلوغ. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١٢٨، كتاب النكاح، باب الأولياء والأكفاء، طبع دار المعرفة بيروت)۔

د بلوغ سره سم د نکاح د رد کولو اختیار

سوال: آیا د نابالغې نجلۍ نکاح د نابالغه هلک سره کیږي؟ په داسې حال کې چې دواړه دومره وړوکي دي چې د خپلې مور شیدې ځښبي؟ په ځینو خلکو د داسې وړو ماشومانو نکاح عموما رواج لري او د دې نکاح ټولې چارې د نجلۍ مور او د هلک پلار پوره کوي. آیا دا نکاح د شریعت له مخې جواز لري او که نه؟

جواب: د اولاد نکاح د هغوی په نابالغۍ کې نه دي کول پکار، بلکې د هغوی د بلوغ نه پس د هغوی خیال ساتل پکار دي؛ خو بیا هم ځینې وخت مور- پلار د شفقت په وجه دیکښې خیر وینې چې په نابالغۍ کې د زوی نکاح وتړي؛ نو ځکه شریعت په نابالغۍ کې هم نکاح جائزه کړې ده، بیا په دیکښې دا تفصیل شته چې که نکاح پلار یا نیکه کړې وي؛ نو اولاد ته د بالغېدو نه وروسته اختیار نشته، بلکې که هلک دا نکاح نه خوښوي؛ نو طلاق ورکولی شي او که نجلۍ یې نه خوښوي؛ نو خلع اخیستلای شي او که د پلار یا نیکه نه پرته بل چا ددې نابالغو نکاح تړلې وي؛ نو د بالغېدو نه وروسته دوی ته ددې نکاح د ساتلو یا رد کولو اختیار شته[1] مګر ددې باره دا ضروري ده چې په کوم مجلس کې هغوی بالغ شوي وي په دغه مجلس کې د بالغېدو سره سمدستي خپله کړې نکاح رد کړي او که د بلوغ نه پس سمدستي په دغه مجلس کې نکاح رد نه کړي، بلکې د مجلس تر ختمېدو پورې چوپه وي؛ نو نکاح وشوه بیا وروسته نه رد کیږي[2]

د بلوغ اختیار

سوال: زمونږ په کلي کې د نکاح داسې طریقه ده چې هلک او نجلۍ لاواړه (نابالغه) وي چې د هغوی مور- پلار ددې نابالغو نکاح په خپل منځ کې د یوې معاهدې په شکل کې تړلې وي، ستاسو نه دا سوال لرم چې آیا دا نکاح په اسلام کې جواز لري؟ زمونږ خلک ورته ایجاب او

---

[1] لو فعل الأب أو الجد عند عدم الأب لا يكون للصغير وللصغيرة حق الفسخ بعد البلوغ. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۶۸، باب الولي، طبع سعيد كراچى). وفيه أيضًا: وان فعل غيرهما فلهما أن يفسخا بعد البلوغ. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۶۸. وفى البحرالرائق (ج: ۳ ص: ۱۲۸) كتاب النكاح، باب الأولياء والأكفاء (طبع دار المعرفة، بيروت). (قوله ولهما خيار الفسخ بالبلوغ فى غير الأب والجد بشرط القضاء) أى للصغير ولصغيرة اذا بلغا وقد زوجا أن يفسخا عقدالنكاح الصادر من ولى غير أب و لا جد بشرط قضاء القاضى بالفرقة......... بخلاف ما اذا زوجهم الأب والجد فانه لا خيار لهما بعد بلوغهما لأنهما كاملا الرأى وافرا لشفقة فيلزم العقد بمباشرتهما .... الخ)۔

[2] (ولا يمتد الى آخر المجلس) ..... اذا بلغت وهى عالمة بالنكاح أو علمت به بعد بلوغها فلا بُد من الفسخ فى حال البلوغ أوالعلم فلو سكتت ولو قليلاً بطل خيارها ولوقبل تبدل المجلس(ردالمحتار ج:۳ ص:۷۳ باب الولى)

قبول وايي، ځکه چې ما په کتاب کې کتلي دي چې په نکاح کې د هلک او نجلۍ خوښه ډېره ضروري ده، کنه نو په زوره نکاح نه کېږي، که دا ايجاب او قبول جائز وي؛ نو د دې څه شرطونه دي او دا معاهده څوک کولای شي؟ همدا راز که بالغېدو سره هلک او نجلۍ سره خوښې نه وي: نو د دې څه حکم دی؟ او د دې ايجاب او قبول شرعي حکم څه دی؟

جواب: په نابالغۍ کې نکاح جائز ده[۱]، بيا که د پلار او نيکه نه پرته بل چا کړې وه: نو د بالغېدو وروسته نجلۍ ته اختيار دی چې هغه يې مني او که رد کوي يې؛[۲] خو شرط دا دی چې په کوم مجلس کې نجلۍ بالغه شوې وي په دغه مجلس کې اعلان وکړي، کنه نو نکاح به لازمه وي او وروسته د رد کولو اختيار به ورته نه وي[۳]، د پلار او نيکه په شوې نکاح کې د رد کولو اختيار نشته؛ [۴] مګر دا چې په ښکاره دليل سره ثابته شي چې دا نکاح د اولاد په شفقت باندې نه وه شوې، بلکې کوم دنيوي مطلب يې پکښې ؤ، [۵]

د پلار نيکه نه پرته د بل سړي له خوا شوې نکاح نجلۍ د بلوغ وروسته فسخه کولی شي

سوال: د زينب نکاح د زيد سره هغه وخت وشوه چې زينب وړه ماشومه وه، په داسې حال کې چې د زينب له طرفه د زينب د مورپلار په نه موجودګۍ کې د زينب ماما قبول وکړ، دوه کاله وروسته زينب بالغه شوه، زينب د بلوغ سره سمدستي دا نکاح فسخه کړه، په دې صورت کې د زينب لپاره شرعا او قانونا د دويم خاوند سره نکاح کول څه جواز لري او که نه؟ که بل خاوند کوي: نو د اول خاوند نه به عدت تېروي او که نه؟

جواب: که چېرته د نابالغې نجلۍ نکاح د دې پلار نيکه نه پرته بل چا کړې وي؛ نو دې نجلۍ ته د بالغېدو وروسته دا اختيار شته چې نکاح فسخه کوي او که په زوړ حالت يې پرېږدي

---

[۱] وللولى انكاح الصغير والصغيرة ولوثيبا. (در مختار ج: ۳ ص: ٦٦، باب الولى). قال أبو جعفر ولسائر الأولياء تزويج الصغار ويتوار ثان بذالک.....ومن جهة السنة: أن النبى صلى الله عليه وسلم تزوج عائشة رضى الله عنها وهى صغيرة زوجها اياه أبوبكر(شرح مختصرالطحاوى ج:٤ ص: ۱۹۳، كتاب النكاح، طبع دار البشائر الا سلامية)

[۲] وان فعل غيرهما فلهما أن يفسخا بعد البلوغ. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ٦٨، باب الولي، طبع ايچ ايم.سعيد كراچي. أيضا: البحر الرائق ج:۳ ص: ۱۲۸، باب الأولياء والأكفاء، طبع بيروت)۔

[۳] فلو سكتت ولو قليلاً بطل خيار ها ولو قبل تبدل المجلس. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۷۳)۔

[۴] لو فعل الأب أوالجد عند عدم الأب لا يكون للصغير وللصغيرة حق الفسخ. (ردلمحتار ج: ۳ ص: ٦٨، باب الولي، أيضًا: البحر الرائق ج: ۳ ص: ۱۲۸، طبع بيروت)۔

[۵] لوعرب من الأب سوء الاختيار لسفهه أو لطمعه لاَ يجوز عقده اجماعًا(ردالمحتار ج:۳ ص: ٦٧، باب الولى)

[1] .كه چېرته زينب د بالغېدو وروسته سمدستي د ماما كړې نكاح رد كړه: نو دا نكاح فسخه شوه، نجلۍ دويم ځاى واده كولى شي. ځكه چې د ماما شوې نكاح د واده نه وړاندې ختمه شوه او په نجلۍ باندې عدت هم نشته[2]

كه د نابالغې نجلۍ نكاح پلار وكړي؛ نو لورېږې د فسخ اختيار نه لري

سوال: د يوې نابالغې نجلۍ نكاح يې پلار كړې وه، بيا د هغې پلار مړ شو. هغه نجلۍ د خپلې مور سره اوسيږي، تر دې چې هغه اوس بالغه شوې ده. د هلك كورنۍ وايي چې د نجلۍ واده راكړئ؛ خو د نجلۍ مور او نجلۍ يې ورسره نه مني او د هلك كورنۍ يې هم نه پرېږدي. اوس په عدالت كې د هلك څخه د طلاقو اختيار واخلو كه نجلۍ په زوره ورولېږو؟

جواب: كله چې د نابالغې نكاح د هغې پلار وكړه او نكاح هم د شاهدانو په وړاندې وشوه؛ نو دا نكاح به همداسې نكاح كمل كيږي او د هلك كورنۍ په خپله غوښتنه كې رښتيني او په حقه دي، د نجلۍ او د هغې د مور انكار هيڅ اعتبار نه لري، اوس كه نجلۍ په دغه كوركې اوسېدل نه غواړي: نو د هغې د خاوند نه دې طلاق واخيستل شي او كه خاوند د مهر معاف كولو په بدل كې طلاق وركول غواړي؛ نو مهر دې ورته پرېږدي، هلك ته هم پكار دي چې كله نجلۍ دده كور آبادول نه غواړي؛ نو خامخا د هغې په واده كولو داسې نه چې گناه گار شي؛ نو ښه دا ده چې په خوشحالۍ دې طلاق وركړي او له ځانه دې لرې كړي، په هر حال تر څو پورې چې د هلك نه طلاق نه وي اخيستل شوى (خلع هم د طلاق يو صورت دى) تر هغې به دا نكاح وي. يوازې د نجلۍ يا د نجلۍ د مور په انكار كولو نكاح نه فسخه كيږي او نه هم نجلۍ په دويم ځاى كې د عقد كولو اجازه لري،[3]

---

[1] اوگوره تېره شوى حواله! لو فعل الأب أو الجد عند عدم الأب لَا يكون للصغيرة حق الفسخ بعد البلوغ...الخ)

[2] قال تعالى: "يآيها الذين أمنوا اذا نكحتم المؤمنٰت ثم طلّقتموهنّ من قبل أن تمسّو هنّ فما لكم عليهنّ من عدّة تعتدّونها"(الأحزاب). قال: ويطلق غير المد خول بها متّى شاء، لأنه ليس عليها عدة فيعتبر طلاقها للعدة. (شرح مختصر الطحاوى ج: ۵ ص: ۴۹، كتاب الطلاق، طبع بيروت)_

[3] لو فعل الأب أو الجد عند عدم الأب لا يكون للصغير والصغيرة حق الفسخ بعد البلوغ. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۶۸، باب الولي، طبع ايچ ايم سعيد كراچى). قال أبو جعفر: ومن وقع بينه وبين زوجته شقاق فله أن يطلقها على جُعْلٍ يأخذه منها بعد أن لَا يتجاوز به ما أعطاها، وان كان النشوز من قبله، لم ينبغ له أن يأخذ منها شيئا ....قال أحمد: الأصل فى ذالک قول الله تعالى: ولا يحل لكم أن تأخذوا مما أتيتمو هن شيئًا الا أن يخافا ألا يقيما حدود الله، فان خفتم ألاّ يقيما حدودالله فلا جناح عليهما فيما افتدت به.فاقتضٰى ظاهرَ الآية جواز خلعها عند الخوف أن لاّ يقيما حدود الله على الكثير والقليل..الخ.(شرح مختصرالطحاوى ج: ۴ ص: ۴۵۴، كتاب النكاح،مسألة الخلع،طبع بيروت)

د ماشومتوب نكاح فسخ كول

سوال: د يوې نجلۍ پلار د هغې په وړوكوالي كې يو سړي ته ويلي وُ چې ما خپله لور ستا زوى ته وركړه، اوس نجلۍ د بلوغ وروسته په عدالت كې بيان وركړى چې زه په خپله خوښه واده كول غواړم. په دې صورت كې د پلار له لورې لومړى نكاح وشوه او كه نه؟

جواب: دا الفاظ چې ما خپله لور ستا زوى ته وركړه كله " درشتې د وعدې " يعنې د كوژدې په توګه ويل كيږي او كله د نكاح د ايجاب او قبول لپاره، اوس پرېكړه په دې پورې تړاو لري چې دا الفاظ د نجلۍ پلار په كوم نيت ويلي دي؟ ددې داسې كيداى شي:

(الف) په كوم مجلس كې چې دا الفاظ ويل شوي دي، كه چېرته هغه مجلس د نجلۍ او هلك د نكاح لپاره جوړ شوى وي، قاضي هم راغوښتل شوى وي، شاهدان هم راغوښتل شوي وي، مهر هم ټاكل شوى وي، د هلك او نجلۍ مور - پلار د خپلو بچو له طرفه د وكيلانو په حيث ايجاب او قبول كړى وي؛ نو دا نكاح شوې ده، د بلوغ وروسته نجلۍ ددې د ماتولو اختيار نه لري[1] او په عدالت كې ددې وركړل شوى بيان بې ځايه عمل دى. اوس ددې حل دا دى چې د هلك نه به طلاق واخلي.

(ب) دويم صورت دا چې په كوم ځاى كې دا الفاظ ويل شوي وي، نه هغه د نكاح مجلس وي، نه د مهر يادونه شوې وي او نه هم شاهدان وي؛ نو دا الفاظ چې "ما خپله لور ستا زوى ته وركړه" يوازې د نكاح يا كوژدې د وعدې لپاره ويل شوي دي او د نجلۍ انكار هم صحيح دى، ځكه چې كله په دې الفاظو سره نكاح نه ده شوې؛ نو نجلۍ ته په عدالت كې د بيان وركولو اړتيا هم نشته.[2]

د پلار له طرفه د نا بالغې لور نكاح كول

سوال: زيد د خپلې لور چې لا وړه وه د بكر سره يې باقاعده د نكاح وعده وكړه؛ خو د نابالغۍ له وجې واده دولس ديارلس كاله وځنډېده؛ خو كله چې ياده نجلۍ ځوانه او هوښياره شوه؛ نو هغې د "بكر" سره نه غوښتل چې خپل ژوند ته ادامه وركړي بلكې صفا انكار يې وكړ؛ نو آيا په دې صورت كې نجلۍ دا نكاح ختمولى شي او كه نه؟ د ختمولو لپاره يوازې په ژبه انكار پوره دى او كه عدالت ته تلل اړين دي؟

---

[1] الوفعل فعل الأب أوالجد عندعدم الأب لايكون للصغيروالصغيرة حق الفسخ بعدالبلوغ.(ردالمحتار ج: ۳ ص: ۶۸)

[2] لو قال هل اعطيتنيها فقال اعطيت ان كان المجلس للوعد فوعد وإن كان للعقد فنكاح. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۱۱)

جواب: که پلار د خپل ذاتي فايدې لپاره دا نکاح نه وه کړې؛ نو نجلۍ ته د بلوغ نه پس د نکاح د فسخ کولو اختيار نشته[١] که چېرته هغه په دې کور کې اوسېدل نه غواړي؛ نو د خپل خاوند نه خلع اخيستلای شي.[٢]

[برابروالئ]

د کفو (برابرئ) تعريف څه دی؟

سوال: آيا هلک د خپلې خوښې واده کولی شي؟ تاسو په ځواب کې ليکلي ؤ چې که دواړه په هر حيثيت کې سره برابر وي؛ نو نکاح يې صحيح ده. اوس تاسو راته د هر حيثيت سره د برابرئ لنډ تعريف وکړئ! تر څو موږ ورباندې پوه شو.

جواب: هلک په هر حيثيت د نجلۍ سره برابر وي، ددې مطلب دا دی چې: په دين، ديندارى، مال، نسب، کاروبار او تعليم کې هلک د نجلۍ نه کم نه وي.[٣]

د برابرئ او نه برابرئ حکمت

سوال: دنکاح په اړه د يو دوه سوالونو په ځواب کې تاسو وويل: چې د هغې غورچاڼ (خلاصه) دا دی چې د بالغ هلک او بالغې نجلۍ نکاح د هغوی د مورپلار د خوښې خلاف د هغوی په نه موجودګئ کې صرف په هغه صورت کې جائز ده چې کله هلک او نجلۍ په خاندان، تعليم، اخلاق، مال او عقل کې سره برابر وي، تر کومه بريده چې د اخلاقو خبره ده؛ نو هغه د سوچ وړ ده، پاتې نورې خبرې زما عقل نه مني، ما تراوسه پورې هم دا ويل او اوريدلي مې هم دي چې په اسلام کې کوم عربي ته په عجمي باندې او سپين ته په تور باندې هيڅ فوقيت نه دی حاصل او د مسلمانانو د حيثيت او مرتبې پېژندنه يوازې په تقوى، ايمان، اخلاقو او نېک اعمالو سره کيږي، نسل، خاندان، ښايست او دولت پکار نه راځي، کله چې دا خبره ده؛ نو د بالغ

---

[١] ولزم النكاح ولو بغبن فاحش أو بغير كفؤ ان كان الولى أبًا وجدًا لم يعرف منهما سوء الاختيار. (درمختار مع ردالمحتار ج: ٣ ص:٦٦باب الولي،طبع ايچ ايم سعيدكراچي، أيضًا:هداية ج:٢ ص:٣١٧،طبع شركت علميه ملتان)

[٢] فان خفتم الا يقيما حدود الله فلا جناح عليهما فيما افتدت به"(البقرة: ٢٢٩). وفى شرح مختصر الطحاوى (ج: ٤ ص:٤٥٤) كتاب النكاح: فاقتضٰى ظاهر الآية جواز خلعها عند الخوف أن لا يقيما حدود الله على الكثير والقليل)

[٣] والكفالة تعتبر نسبًا فقريش أكفاء العرب أكفاء وحرية واسلامًا وأبو ان فيهما كالآباء وديانة و مالاً وحرفة لأن هٰذه الأشياء يقع بها التفاخر فيما بينهم فلا بُد من اعتبارها. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١٣٩، فصل فى الأكفاء، طبع دار المعرفة، بيروت، أيضًا: شرح مختصر الطحاوى ج: ٤ ص: ٢٥٤، كتاب النكاح، مسألة وجوه الكفاءة)_

سړي او ښځې د نکاح لپاره یاد شرطونه مثلاً عقل، مال، خاندان او نور... څه حقیقت لري؟ (برابره خبره ده چې دا نکاح د مور - پلار په خوښه وي او که بې خوښي وي) که تاسو پرې څه رڼا واچوئ؛ نو زما غوندې د کم علمه انسان شک به لرې شي.

جواب: تاسو چې د اسلامي برابرئ په اړه کوم لیکل کړي دي هغه بیخي سم او په ځای دي. اسلام چا ته په چا باندې د فخر اجازه نه ورکوي، د رنګ، نسل، عقل او خاندان یا شتمنئ لامله هیڅ څوک په بل باندې کوم فضیلت نه لري؛ خو په دې باندې هم غور وکړه چې نکاح د هغه پاکې دوستئ نوم دی چې نه یوازې ښځه او خاوند یو بل ته نژدې کوي بلکې د هغوی ټول خپلوان هم د ډېرو حقوقو پابند ګرځوي او ددې ټولو حقوقو اداکول نه صرف د ښځې او خاوند په مکمل اتفاق پورې تړلي دي بلکې د دواړو طرفونو د خپلوانو او دوستانو ترمنځ مینه او د یو بل احترام هم غواړي.

دلته خو د انساني کمزورتیا دا لړئ ده چې ډېر کم خلک دي چې د " **ان اکرمکم عندالله اتقکم**" اصول په خپلوئ کې پوره په ځان او خپلوانو پلئ کوي، دهغوی نظر نه د نجلۍ او هلک په عقل وي، نه په تعلیم او تهذیب باندې، نه رنګ اونسب باندې، نه په مرتبه او مال باندې، د نکاح دا دوستي یوازې یو نظري شی نه دی، بلکې د ژوند په امتحان کې هره ګړۍ (لمحه) پکښې د عملي تجربو نه تېرېدل دي، ددې دوستئ نه پورته (د عمل په اعتبار سره) کومه یوه رشته ده چې دومره نازکه، دومره اوږده او داسې د فراخو اړیکو ذمه واریو حامله وي؛ نو ځکه چې اسلام په صحیح معنو کې فطرتي دین دی، د انساني فطرت دغه کمزورتیاوو ته هم کتل پکار دي،

ځکه هغه د خپلو اصولو چې مساوات (برابري) دي، د هغې مطابق یې دا فتوی ورکړې ده چې د یو مسلمانې ښځې نکاح بې تمیزه د رنګ، نسل، عقل،شکل، مال او عزت د هر مسلمان لپاره جائز ده. هلته هغه د انساني فطرت لحاظ کولو سره دا پابندي هم لګولې ده چې ددې عقد نه متاثرو د کور د مهمو افرادو د خوښې پرته نابرابره نکاح ونه منل، ددې لپاره چې ددې عقد په نتیجه کې د خفګان او بې خوښئ په نتیجه کې د جنګ طوفان چېرته راپورته نه شي، په اسلام کې د کفو (برابرئ) د مسئلې دا حکمت دی،

ددې لنډ وضاحت وروسته اوس مسئله لیکم: د یو اوچتې کورنۍ سړی د خپل پرښته صورته لور نکاح د هغې په خوښه د کوم نوي مسلمان حبشي سره کوي؛ نو اسلام صرف دا نه چې دا جائز ګڼي[1] بلکې د هغې ستاینه کوي، د اسلام اصلي مساوات دا دي.

---

١ اولزم النكاح ولو بغبن فاحش أو بغير كفؤان كان الولى أبًا وجدًا لم يعرف منهما سوء الأختيار. (درمختار مع ردالمحتار ج: ٣ ص: ٦٦، باب الولى). وفى البحر (ج: ٣ ص: ١٢٨) باب الأولياء والأكفاء: بخلاف ما اذا زوجها الأب والجد، فانه لا خيار لهما بعد بلوغهما لأنهما كاملاالرأي،...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

اوس دویم صورت کله چې د یو شریفې کورنۍ نجلۍ په خپل عشق او جذبه د یو داسې هلک سره نکاح وکړي چې په حسب، نسب، شرف، دین، تقوی، علم، فضل، مال او په هر لحاظ سره ددې ښځې برابر نه وي او دا عقد د مور پلار او خپلوانو بې خوښې وي: نو ځکه خو رشته هم د یو ځای والي د ښځې خاوند د دوه ځاروو په ډول د ترلو نوم نه دی. بلکې ددې څه حقوق هم شته او اسلام دا ګوري چې په دې حالاتو کې ددې پاکې دوستۍ نازک حقوق د خپلو ټولو پراخیو سره ادا نه شي؛ نو ځکه د مور- پلار او ولیانو بې خوښې نکاح ته چې د برابرۍ خیال پکښې نه وي ساتل شوی داسې عقد ته ناروا ویل،[١] دا ددې لپاره چې د ټولو فتنو او جنګونو دروازه په ښه ډول بنده شي، که تاسو په دې خبرو پوره فکر وکړئ؛ نو زما امید دی چې د اسلام فطرتي دین کېدل به هم تاسو په ښه شان سره ومنئ!

په غیر کفوکې نکاح باطله ده

سوال: که هلک او نجلۍ یو بل خوښ کړي او د نجلۍ والاکورنۍ دا رواج وي چې هغوی د خپلو خپلوانو نه بهر نجلۍ نه ورکوي او کوم هلک چې نجلۍ خوښوي هغه په خپلوانوکې نه راځي، تعلیم، اخلاق او مالي حیثیت سره هم د نجلۍ نه کم نه دی او هغوی دواړه د خپلې کورنۍ نه په پټه واده کوي. آیا دا نکاح جائز ده او که نه؟

جواب: که هلک په هر ډول د نجلۍ د حیثیت برابر وي چې د نجلۍ وارثانو ته ددې نکاح نه کوم عیب نه وي: نو دا نکاح صحیح ده.[٢]

سوال: که د نیکه او وروڼو په غیر موجودګۍ کې نکاح باطل وي؛ نو د شریعت مطابق ددې نکاح د نه کېدلو علت څه دی؟

جواب: که په کفو کې وي؛ نو نکاح یې جائز ده[٣] او که په غیر کفو کې وي نو نکاح یې باطل ده.[٤]

...بقیه د تیرمخ] وافرالشفقة فیلزم العقد بمباشرهما. أیضًا: هدایة ج:٢ ص: ٣١٧)۔

[١] ان المفتٰی به روایة الحسن عن الامام من عدم الانعقاد أصلاً اذا کان لها ولی لم یرض به قبل العقد. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١٣٧، فصل فی الأکفاء، طبع دارالمعرفة، بیروت)۔

[٢] ان المرأة اذا زوّجت نفسها من کفؤ لزم علی الأولیاء. (ردالمحتار ج: ٣ ص: ٢٦٧، باب الولي، طبع ایچ ایم سعید کراچي، أیضًا: البحرالرائق ج: ٣ ص: ١١٧، باب الأولیاء والأولیاء والأکفاء، طبع بیروت)۔

[٣] ایضا)۔

[٤] وان زوّجت من غیر کفؤ لَا یلزم أو لَا یصح. (ردالمحتار ج: ٣ ص: ٨٥، باب الولي، طبع سعید کراچی). وفی البحر الرائق: وان المفتٰی به روایة الحسن عن الامام من عدم الانعقاد أصلاً اذا کان لها ولی ولم یرض به قبل العقد. (البحرالرئق ج: ٣ ص: ١٣٧، باب الأولیاء والأکفاء)۔

په پردي خاندان کې واده کول روا دي

سوال: د ځینو مسلمانانو خلکو کورنۍ د خپلوانو نه پرته په نورو مسلمانانو کې دوستي داسې ګڼي لکه حرامه چې وي. مهرباني وکړئ او دا راته واضحه کړئ چې د دوی دا کار د شریعت له مخې څنګه دی؟ ددې ډول نکاح نه یو کس ډېر سخت مخالف دی چې د هغه د پلار په نکاح کې د پردي خاندان دوه ښځې دي او د زوی په کور کې یې هم د پردي خاندان ښځې دي ددې سرې د مخالفت شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: د خاندان په محدوده دایره کې واده کولو باندې د ځینو کورنیو له طرفه چې کوم زور وي دا شرعا بالکل غلط او حرام کار دی[۱]. د نجلۍ او د هغې د مور - پلار په خوښه په بل اسلامي کورنۍ کې هم نکاح کولی شي او په دې کې شرعا څه د عیب خبره هم نشته. که د بل خاندان هلک نیک وي او په خپل خاندان کې داسې رشته نه وي؛ نو د پردي خاندان داسې ښې رشتې ته ترجیح ورکول غوره دي.[۲]

په غیر کفو کې د مور- پلار بې اجازې نکاح نه کیږي

سوال: آیا کومه مسلمانه بالغه نجلۍ دخپل مور- پلار د خوښې پرته په خپله خوښه واده کولی شي یا نه؟

جواب: د نجلۍ نکاح خو مور- پلار ته کول پکار دي او هغوی ته پکار ده چې د نجلۍ د خوښې لحاظ ضرور وساتي، د نجلۍ د مور- پلار نه په پټه نکاح کول د حیا خلاف کار دی او که چېرته هلک د کم حیثیت څښتن وي: نو داسې نکاح له سره نه کیږي.[۳]

په غیر کفو کې بې اجازې نکاح نه کیږي

سوال: یوه نجلۍ د مور- پلار د پرته د عدالت نه اختیار خط راواخیست او د خپل مخکني موټروان سره یې نکاح وکړه. اوس مونږ دا معلومول غواړو چې ایا دا نکاح صحیح ده یا پلار

---

[۱] اقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يدخل الجنة قاطع. (مشكوٰة ص: ٤١٩). أيضًا: عن عبدالله بن أبي أوفى قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه سلم يقول: لا تنزل الرحمة على قوم فيهم قاطع رحم. (مشكوٰة ص: ٤٢٠، باب البر والصلة)۔

[۲] كما في حديث أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: تنكح المرأة لأربع، لما لها، ولحسبها، ولجمالها، ولدينها، فاظفر بذات الدين. (مشكوٰة ص: ٢٦٧، كتاب النكاح، الفصل الأول، طبع قديمى كتب خانه كراچى)۔

[۳] ان المفتى به رواية الحسن عن الامام من عدم الانعقاد أصلاً اذا كان لها ولى لم يرض به قبل العقد. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١٣٧، باب الأولياء والأكفاء، طبع دار المعرفة. بيروت)۔

نه د فسخ کولو حق حاصل دی، په داسې حال کې چې نجلۍ د ميمن کورنۍ څخه ده، هلک پښتون دی. د عاداتو او اخلاقو په اعتبار سره په هلک او نجلۍ کې زيات توپير دی، مالي اعتبار سره هم هلک کمزوری دی، نجلۍ ته د خپل حيثيت مطابق خرچه هم نه شي ورکولی، د مور- پلار دا خيال دی چې موجوده نکاح غيرقانوني او غير شرعي ده، د نجلۍ په کورنۍ باندې د بدنامۍ تور داغ دی حال دا چې د هلک يوه ښځه له مخکښې هم موجوده ده، اوس به زمونږ لپاره د خلاصون لاره کومه يوه وي؟

جواب: که د هلک او نجلۍ په منځ کې د نسب په اعتبار سره، د مال په اعتبار سره، د دين په اعتبار سره يا د کاروبار په اعتبار سره برابروالۍ نه وي؛ نو د مور- پلار د خوښې پرته شوې نکاح شرعا صحيح نه ده او ددې دواړو تر منځ جدايي واجب ده، په ياد سوال کې د کاروبار او مال په اعتبار سره هلک او نجلۍ برابر نه دي، ځکه نکاح نه ده شوې، د دواړو په منځ کې جدا والی ضروري دی، نجلۍ او هلک که څېرته په جدا والي باندې خوښ نه وي؛ نو د نجلۍ مور- پلار کولی شي چې عدالت ته رجوع وکړي، په هر حال د نجلۍ په خوښه او د مور- پلار د خوښې خلاف په پردي خاندان کې چې کومه نکاح شوې هغه صحيح نه ده، [١]

په خوښه پټه نکاح کول غلطه ده

سوال: يو هلک نجلۍ په خوښه واده کړه، د دواړو مور- پلار بې خبره وو، لږ وخت وروسته د نجلۍ تره د پوليسو په ذريعه نجلۍ کور ته راوسته او ددې دويمه نکاح يې وکړه چې لومړنۍ نکاح يې په ماشومتوب کې شوې وه، اوس که هلک ثبوت وړاندې کړي چې کله ما نکاح کوله؛ نو نجلۍ بالغه وه، په داسې صورت کې کومه نکاح صحيح شوه؟ لومړۍ که دويمه؟

جواب: نجلۍ که څېرته د خپل اولياؤ د اجازې پرته په غير کفو کې واده کول غواړي؛ نو دا نکاح يې نه کيږي[٢]، د مور- پلار په بې خبرۍ کې چې کوم ودونه کيږي هغه عموما هم داسې وي؛ نو ځکه په ياد شوي صورت کې لومړۍ نکاح غلطه او دويمه صحيح ده،

د سيد نکاح د غير سيد سره

سوال: زمونږ په هېواد (پاکستان) کې داسې خلک شته چې سيدان دي، دوی په بله کورنۍ کې يا چې بله کورنۍ وي او غواړي په سيده کورنۍ کې واده وکړم، آيا دا جائز دي که ناجائز؟ ددې تفصيل بيان کړئ!

---

[١] ايضاً)_

[٢] ان المفتٰى به رواية الحسن عن الامام من عدم الانعقاد أصلاً اذا كان لها ولى لم يرض به قبل العقد. (البحر الرائق ج: ٣ ص: ١٣٧، باب الأولياء والأكفاء، طبع دار المعرفة. بيروت)_

جواب: د نجلۍ او د هغې د مور پلار په خوښه د هر مسلمان سره نکاح صحيح ده. برابره خبره ده که نجلۍ د شريف خاندان څخه وي او هلک د بېلګې په ډول نوی مسلمان شوی وي [١]. ليکن که مور پلار دا نکاح د نجلۍ د اجازت نه بغير کوي يا بې نجلۍ د مور پلار د اجازت نه بغير کوي نو بيا ناجائز ده. [٢]

سيد د غير سيد سره نکاح کولی شي

سوال: د سيد قوم ښځې نکاح د غير سيد سړي سره کېدای شي. مونږ يو شاه صاحب لرو هغه وايي چې حضور ﷺ په خپله سيد نه ؤ بلکې سيد حسن رضي الله عنه او حسين رضي الله عنه ته وايي. تاسو په تفصيل سره ددې مسئلې وضاحت وکړئ!

جواب: څنګه چې ددې شاه صاحب په نزد حضور ﷺ سيد نه ؤ. دغه راز حضرت علي رضي الله عنه هم سيد نه شو. د حضور ﷺ لور حضرت فاطمه رضي الله عنها سيده وه ددې سيدې نکاح حضور ﷺ د غير سيد سره وکړه، بلکې د حضور ﷺ ټولې لورګانې سيدې وې، د دوی نکاح د غير سيد سره شوي دي. بيا د حضرت علي رضي الله عنه د ټولو لورګانو نکاح ګانې د غير سيد خلکو سره شوي دي. که چېرته د شاه صاحب په نزد د نن سبا سيدان د حضرت فاطمې رضي الله عنها او د هغې د اولاد نه زيات غوره وي؛ نو زه دی مسلمان هم نه تصور کوم، ځکه چې تر ننه پورې کوم امام او فقهې دا ونه ويل چې د سيدزادې نکاح د غير سيد سړي سره نه کيږي، شاه صاحب ته کېدای شي معلومه نه وي چې زين العابدين رحمه الله د خپلې لور نکاح د خپل يو آزاد شوي مريي (غلام) سره کړې وه. [٣]

په پټه د سيدې نجلۍ نکاح د غير سيد سړي سره نه کيږي

سوال: زه او مشتاق په يو بل عاشقان يو، مشتاق زما کور ته رشته راوليږل، مګر زما کورني ورته انکار وکړ چې مونږ سيدان يو، بهر خلکو ته واده نه ورکوو، مونږ مايوسه شو او ځانته مو د پنځو کسانو په شاهدۍ کې په ټولو کاغذونو باندې نکاح خط وليکلو او ايجاب - قبول مو وکړ. شيريني مو ووېشل، مونږ له ځانه سره ويل چې عدالت ته به وروسته لاړ شو،

---

[١] اولزم النکاح ولو بغبن فاحش بنقص مهرها وزيادة مهرها أو زوجها بغير کفء أو ان کان الولی المزوج أبًا وجدًا ..... لم يعرف منه سوء الاختيار. (درمختار ج: ٣ ص: ٦٦ باب الولي، أيضًا: هداية ج: ٢ ص: ٣١٧، طبع ملتان).

[٢] لا ينفذ عقدالولی عليها بغير رضاها. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١١٠). وان المفتٰی به رواية الحسن علی الامام من عدم الانعقاد أصلاً اذا کان لها ولی لم يرض به. (البحرالرائق ج: ٣ ص: ١٣٧، طبع بيروت).

[٣] وقال سفيان بن عيينة: کان علی بن الحسين يقول .... وذکروا انه زوج امه من مولی له، وأعتق أمة فتزوجها. (البداية والنهاية ج: ٩ ص: ١٠٨، علی بن الحسين، طبع دار الفکر).

مګر اوس حال دا دی چې د یوځو وجو لامله عدالت ته نه شو تلای. ایا زمونږ مخکینۍ نکاح پوره ده که نه؟

جواب: د سوال نه معلومیږي چې نجلۍ سیده ده او د هلک تعلق د کوم غیر سیدې کورنۍ سره دی. که هلک سید نه وي؛ نو هغه د سیدې نجلۍ کفو نه دی. یعنې خانداني اعتبار سره دواړه برابر نه دي. داسې رشته د مور- پلار په اجازت کیږي؛ خو د مور او پلار بې اجازې بیا هم نه کیږي: نو نکاح صحیح نه شوه، پکار ده چې تاسو دواړه کله عدالت ته ځئ: نو د مور او پلار نه اجازت وغواړئ؛ ځکه چې ستاسو د مور او پلار بې اجازې عدالت ته تللو سره بیا هم نکاح نه کیږي.[۱]

د عقیدې په لحاظ له چا سره نکاح ناجائز ده؟

د مسلمانې ښځې نکاح د غیر مسلم سره حرامه ده

سوال: آیا یوه مسلمانه ښځه د اړتیا یا بې اسرې کېدو له امله د کوم عیسایي سړي سره واده کولی شي؟ په داسې حال کې چې مخکې یې د کوم مسلمان سړي سره واده شوی ؤ او د هغه نه یې یوه لور هم شته، اوس د عیسایي سړي نه هم دوه بچي لري، آیا مسلمانه ښځه د عیسایي سره واده کولی شي؟ آیا هغه خپل مذهب بدلولی شي یعنې د مسلمانۍ نه عیسایېه کېدای شي؟ په قرآن او حدیث کې ددې سزا څه ده؟

جواب: د یو مسلمانې ښځې نکاح د غیر مسلم سره نه کیږي[۲]، دا جائز ګڼل کفر دی[۳]، دې ښځې ته پکار دي چې ددې سړي نه سمدستي جدا شي او د خپلې ګناه نه توبه وباسي او کومو خلکو چې دې واده ته جائز ویلي وي هغوی دې هم توبه وباسي او د خپلو نکاحونو او ایمان تجدید دې وکړي او د کوم مسلمان عیسایي جوړېدلو اراده هم کفر دی[۴]، الله دې پناه راکړي.

---

[۱] وان المفتى به رواية الحسن عن الامام من عدم الانعقاد اصلاً اذا كان لها ولى لم يرض به. (البحر الرائق ج: ٣ ص: ١٣٧ فصل فى الأكفاء طبع دار المعرفة بيروت). نفذ نكاح حرة، مكلفة بلا ولي، وله الاعتراض فى غير الكفو، وروى الحسن عن الامام عدم جوازه، وعليه فتويٰ قاضى خان، وهٰذا أصح وأحوط والمختار للفتويٰ فى زماننا. (مجمع الأنهر ج: ١ ص: ٤٨٨، باب الأولياء والأكفاء، طبع دار الكتب العلمية، بيروت)۔

[۲] قال الله تعالىٰ: "ولا تنكحوا المشركين حتّٰى يومنوا" (البقرة: ٢٢١).وفى البدائع (ج: ٣ ص: ٤٦٥) كتاب النكاح (طبع دار الكتاب العلمية): ومنها اسلام الرجل اذا كانت المرأة مسلمة، فلا يجوز انكاح المؤمنة الكافر، لقوله تعالىٰ: ولا تنكحوا المشركين حتّٰى يؤمنوا، ولأن فى انكاح المؤمنة الكافر خوف وقوع مؤمنة فى الكفر...... الخ. (أيضا: فتاويٰ هندية ج: ١ ص: ٢٨٢، كتاب النكاح، طبع رشيديه)۔

[۳] والأصل ان من اعتقد الحرام حلالاً فان كان حرامًا لغيره كمال الغير لا يكفر، وان كان لعينه فان كان دليله قطعيا كفر. (ردالمحتار ج: ٤ ص: ٢٢٣، باب المرتد)۔

[۴] وفى المحيط من رضى بكفر نفسه فقد كفر أى اجماعًا. (شرح فقه أكبر ص: ٢٢١ طبع لاهور)۔

د خاوند په مرتد کېدو نکاح فسخ شوه

سوال: زما عمر ۳۰ کاله دی، زما پلار په (پي ای اې) کې موټروان ؤ چې اوسمهال تقاعد شوی دی، زما يو ورور دی چې اوس سبق وايي زما مور د زړه مريضه ده. واده مي د مور - پلار په خوښه د خپل ترور د زوی سره په انډيا (هندوستان) کې شوی ؤ. زما د خاوند نوم شيخ سعيد دی، د هغه څخه دوه زامن لرم، د مشر هلک عمر ۱۳ کاله او د کشر هلک عمر ۱۱ کاله دی. زما خاوند اوس هندو شوی دی، په انډيا کې د شوشنا په نوم د هندوانو په يو تحريک کې شموليت لري. شراب څښي. ښځې کورته راولي. قرآن شلوي او په هغې باندې شراب اړوي او په ګډاګډا کې وايي چې: وګوره! "ستا الله زماهيڅ نه شي کولی" دا وايي چې: کله زه مړ شم: نو ما په اور وسوځوه! مولانا صاحب! ده ماته څو ځله د خپلو هندوانو دوستانو سره چې کور ته يې راولي دا ويلي چې له ډوی سره ناجائزه کړنه ترسره کړه! هر کله چې زه ددې ټولو کارونو نه انکار وکړم: نو هغه مي ډېره زياته وهي او په سګريټ باندې مي سوځوي. کله چې مي مور او پلار خبر شول، : نو زه يې د ماشومانو سره د انډيا نه پاکستان ته راوستلم. زه چې پاکستان ته راغلي يم: نو زما دوه کاله اووه مياشتې شوي دي. زما د خپل خاوند سره هيڅ رابطه نشته. هغه ماته نه څه خط او نه څه خرچه راليږي، زه د کور په خوا کې يوه مغازه (کارخانه) کې کار کوم او د خپلو ماشومانو تربيه ورباندې کوم. مولاناصاحب! د قرآن او سنت په رڼا کې ووايئ چې ايا اوس هم زما د داسې سړي سره نکاح شته او که ختمه شوې ده؟ (زما خاوند په کور کې د هندوانو عبادت خونه (مندر) جوړ کړی دی او د چارشنبې په ورځ سهار ماښام په هغې کې عبادت کوي او ما ته د لمونځ او روژې هيڅ اجازه نه نه راکوي)

جواب: کومې پيښې چې په سوال کې ليکل شوي دي، په شرط ددې چې صحيح وي؛ نو د خاوند د مرتد کېدو وروسته نکاح فسخ شوه[1]، دا چې په دومره وخت کې عدت هم ختم شوی دی لهذا که ته وغواړې؛ نو په بل ځای کې واده کولی شې، د اولني خاوند سره ستا هيڅ تعلق پاتې نه شو.

د سني نجلۍ نکاح د شيعه سړي سره نه کيږي

سوال: آيا د سني نجلۍ نکاح د شيعه سړي سره کيږي؟

[1] وارتداد أحدهما (الزوجين) فسخ فلا ينقص عددًا عاجل بلا قضاء. (درمختار ج: ۳ ص: ۱۹۳). وفى الفتاوى الهندية (ج: ۱ ص: ۳۳۹) الباب العاشر فى نكاح الكفار: ارتد أحد الزوجين عن الاسلام وقعت الفرقة بغير طلاق فى الحال قبل الد خول وبعده .... الخ.)۔

جواب: کوم شیعه چې د کفر عقیده لري. مثلاً قرآن کریم کې د کمو او زیاتو قائل وي. یا په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې تهمت پورې کوي، یا حضرت علي رضی الله عنه د الوهیت په صفاتو موصوف مني، یا دا عقیده لري چې حضرت جبریل علیه السلام په غلطۍ سره په حضور ﷺ باندې وحی راوړه، یا د بل ضرورت دین منکر وي، داسې سړی بیخي مسلمان نه دی[1]. او دده سره د هیڅ یو سني ښځې نکاح صحیح نه ده، شیعه اثناعشریه د قرآن د تحریف قائل دي. د دې ځلورو افراد نه پرته پاتې ټول جماعت د صحابه رضی الله عنهم ته (نعوذبالله) کافران، منافقین او مرتد وایي، خپل ائمه د انبیاء کرامو علیهم السلام نه غوره ګڼي؛ نو ځکه دوی مسلمانان نه دي او د دوی سره د مسلمانانو نکاح ناجائز ده، د شیعه ګانو د عقیدو او نظریاتو لپاره زما کتاب "شیعه سني اختلافات او صراط مستقیم" وګورئ!

د قادیانۍ ښځې سره نکاح حرامه ده

سوال: د دین عالمان ددې مسئلې په باره کې څه فرمایي چې آیا د قادیانۍ ښځې سره نکاح جائز ده؟

جواب: قادیانیان زندیق او مرتد دي، د مرتد نکاح نه د کوم مسلمان سره کېدای شي نه د کوم کافر سره او نه هم د کوم مرتد سره، په هدایه کې دي:

"اعلم ان تصرفات المرتد على اقسام نافذ بالاتفاق كالاستيلاء والطلاق ......،وباطل بالاتفاق كالنكاح والذبيحة لانه يعتمد الملة ولا ملة له.(هداية ج ٢ ص ٥٨٣)

ترجمه، ځان پوه کړه! چې د مرتد د تصرفاتو څو قسمونه دي: یو قسم یې بالاتفاق نافذ دی، لکه استیلاد او نکاح، دویم قسم یې بالاتفاق باطل دی، لکه: ذبیحه او نکاح، ځکه چې دا موقوف دي ملت باندې او د مرتد څه ملت نشته.

په درمختار کې دي: **ولا يصلح ان ينكح مرتد او مرتدة احدا من الناس مطلقا وفى الشامية (قوله مطلقا) اى مسلما اوكافرا اومرتدا.(فتاوى شامى ص ٢٠٠ ج ٣)**

---

[1] لا شك فى تكفير من قذف السيدة عائشة رضى الله تعالى عنها أو أنكر صحبة الصديق او اعتقد الألوهية فى علي، أو ان جبريل غلط فى الوحي،(ردالمحتار ج٤، ص٢٣٧) وبهذا ان الرافضى ان كان ممن يعتقد الالوهية فى على اوان جبريل غلط فى الوحى أو كان ينكر صحبة الصديق، أو يقذف السيدة الصديقة، فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة. (درالمختار ج: ٣ ص: ٤٦، كتاب النكاح، فصل فى المحرمات). وفى البحر الرائق (ج: ٣ ص: ١٢١، طبع دار المعرفة، بيروت) كتاب السير، باب أحكام المرتدين: ويكفر من أراد بغض النبى صلى الله عليه وسلم .... بقذف عائشة رضى الله عنها من نسائه صلى الله عليه وسلم فقط، وبانكاره صحبة أبى بكر رضى الله عنه)_

ترجمه د مرتد او مرتدې نکاح د کوم انسان (مسلمان) سره مطلقا نه ده صحیح، یعنې نه د مسلمان سره او نه هم د کافر سره او نه هم د خپل مرتد سره

فتاوی عالمګیریه کې د مرتد نکاح باطله ګرځولې بیا یې لیکلي دي **فلا یجوز له ان یتزوج امراة مسلمة ولا مرتدة ولا ذمية ولا حرة ولا مملوكة.(فتاوی عالمکري ج ۳ ص ۵۸۰)**

ترجمه مرتد ته اجازه نشته چې د کومې مسلمانې ښځې سره نکاح وکړي. نه د کوم مرتد سره. نه د ذمیې ښځې سره. نه د آزادې سره او نه هم د وینزې سره

فقه شافعي کې مستند کتاب " شرح مهذب" کې دي " **لایصح نکاح المرتد والمرتدة لان القصد بالنکاح الاستمتاع ولما کان دمهما هدرا وجب قتلهما فلا یتحقق الاستمتاع ولان الرحمة تقتضی ابطال النکاح قبل الدخول فلا ینعقد النکاح معها** " (شرح مهذب ج۱۶ ص ۲۱۴)

ترجمه د مرتد او مرتدې نکاح صحیح نه ده، ځکه چې د نکاح نه مقصد د نکاح د فوایدو حاصلول دي. ځکه چې د هغوی وینه مباحه ده او د هغوی وژل واجب دي؛ نو ځکه د ښځې او خاوند د یو بل نه ګټه اخیستل نه موجودیږي، ځکه چې د رحمت تقاضا دا ده چې دا نکاح دي د دخول نه وړاندې باطله وګرځول شي، په دې بنا نکاح نه منعقد کیږي.

د فقه حنبلي مشهور کتاب " المغني مع الشرح الکبیر " کې دي:

" **والمرتدة یحرم نکاحها علی ای دین کانت لانه لم یثبت لها حکم اهل الدین الذی انتقلت الیه فی اقرارها علیه ففی حلها اولی.، (المغنی مع الشرح الکبیر ج ۷ ص ۵۰۳)**

ترجمه: ،، د مرتدې ښځې سره نکاح حرامه ده، برابره خبره ده که هغې هر ډول دین اختیار کړی وي، ځکه چې هغه کوم دین ته اوښتې د هغې لپاره د دین د خلکو حکم ثابت نه دی چې د هغې په وجه هغه په دې دین باندې برقراره وساتل شي؛ نو ددې نه د نکاح دحلالولو حکم په اعلی درجه ثابت نه شو، ددې حوالو څخه دا ثابته شوه چې د قادیاني مرتد نکاح صحیح نه ده بلکې محض باطله ده.

سوال: د اولاد شرعي حیثیت به څه وي؟

جواب: کله چې پورته دا خبره معلومه شوه چې دا نکاح صحیح نه ده؛ نو ښکاره ده چې د قادیاني او مرتدې نه پیدا شوی اولاد به هم پاک اولاد نه وي؛ خو دا چې پورته ددې سړي د مسلمان کېدو کوم صورتونه ذکر شو، که چېرته هغه صورتونه وي؛ نو دا د شبهې نکاح شوه او ددې اولاد به جائز وي او دا اولاد به د مسلمان پلار تابع وي او دوی به مسلمانان وي.

سوال: ددې سړي سره د ژوند په ضروري چارو کې اړیکې ساتل څه حکم لري؟ د عامو خلکو دا رایه ده چې دده مذهب له ده سره دی زمونږ دده د مذهب سره څه کار دی، دا زمونږ مسائل

حل كوي: نو د شريعت له مخې د دې څه حكم دى؟

جواب: دې سړي چې تر څو قاديانۍ ښځه جدا كړې نه وي تر هغه پورې له ده سره تعلقات ساتل ناجائز دي، كوم خلك چې د مذهب نه بې پروا دي او د دنيوي ګټو لپاره د ده سره اړيكې ساتي هغوى سخت ګناه ګار دي. كه هغوى ته خپل ايمان ګران وي او د قيامت په لويه ورځ د رسول الله ﷺ د شفاعت غوښتونكي وي؛ نو هغوى ته د دې نه توبه ويستل پكار ده او تر څو پورې چې دې سړي دا مرتده قاديانيه جدا كړې نه وي د هغه نه ټول معاشرتي تعلقات قطع كول پكار دي، د حق تعالىٰ شانه وينا ده:

[لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ]

(سورة: ۵۸، المجادله: ۲۲)

ترجمه كوم خلك چې په الله تعالىٰ او د قيامت په ورځې (پوره - پوره) ايمان لري تاسو به هغوى ونه ګورئ چې هغوى د داسې خلكو سره دوستي كوي چې د الله او د هغه د رسول خلاف وي، برابره خبره ده چې هغوى د دوى پلار يا زوى يا ورور يا قبيله ولې نه وي، ددغو خلكو په زړونو كې الله تعالىٰ ايمان ښه كلك كړى دى او دې (زړونو) ته يې په خپل فيض سره قوت وركړى دى (د فيض نه مراد نور دى) او دوى به په داسې باغونو كې داخل كړي چې د هغو لاندې به ولې بهيږي چې په هغې كې به دوى هيمشه اوسيږي، الله تعالىٰ به د دوى نه راضي وى او دوى به د الله تعالىٰ نه راضي وي، دا خلك د الله تعالىٰ ډله ده.

سوال: كه څېرته چا ته شك وي چې مرتد خو هغه دى چې د اسلام نه واوړي؛ نو كوم سړئ چې مخكې مسلمان ؤ بيا وروسته مرزايي شو هغه مرتد شو؛ خو كوم سړئ چې پيدايشي قادياني وي؛ نو هغه خو مرتد نه دى ځكه چې ده د اسلام په پرېښودلو سره د قاديانيت كفر نه دى اختيار كړى بلكې دى خو د اول نه كافر دى، هغه څنګه مرتد شو؟

جواب: ددې شبهې خواب دا دى چې هر قادياني زنديق دى، زنديق هغه سړئ دى چې د اسلام خلاف عقائد ولري. ددې باوجود د اسلام دعوه كوي او د باطلو تأويلاتو په ذريعه خپل عقائد عين اسلام ګڼي[۱] او د زنديق حكم بعينه د مرتد دى، البته د زنديق او مرتد ترمنځ

---

۱ إن الزّنديق يموه كفره ويروج عقيدته الفاسدة ويخرجها فى الصورة الصحيحة وهٰذا معنٰى ابطان الكفر فلا ينافى اظهاره الدعويٰ. (ردالمحتار ج: ۴ ص: ۲۴۲، باب المرتد، طبع ايچ ايم سعيد)۔

توپیر دا دی چې د مرتد توبه په اتفاق سره قبلیږي[١] او د زندیق د توبې په قبلېدو او نه قبلیدو کې اختلاف دی[٢]، ددې یو توپیر نه پرته په پاتې نورو ټولو حکمونو کې مرتد او زندیق سره برابر دي؛ نو ځکه قادیاني مرزایي برابره ده که پیدایشي مرزایي وي یا په اسلام پرېښودلو سره مرزایي شوی وي په دواړو صورتونو کې دده حکم د مرتد دی.

د مسلمانې نجلۍ نکاح د قادیاني سره نه کیږي

سوال: که مسلمانه نجلۍ د قادیاني هلک سره په مینه کې اخته شي او دواړه د واده کولو خواهش ښکاره کړي، دې صورت کې به نجلۍ په خپل مذهب باندې اوسي او هلک به خپل مذهب باندې، ایا نکاح یې صحیح ده او که نه؟ که نجلۍ واده کوي؛ نو آخرت کې به په کومو خلکو کې شمارل کیږي؟

جواب: قادیانیان مرتد دي[٣]، د دوی سره نکاح نه کیږي[٤]، نجلۍ به ټول عمر د زنا په ګناه کې اخته وي، څنګه چې د (سکهـ) په عشق کې اخته شي او د هغه سره واده وکړي.

سوال: د مسلمانې نجلۍ د واده مرستندویه چې د قادیاني سره یې کوي، په داسې حال کې چې قادیاني هلک خپله څو ځله د واده نه انکار کړی ؤ او د مینه کونکي نجلۍ ملګرې په څه طریقه خوشحاله کړي چې په هغې کې د نجلۍ د مذهب بدلولو هیڅ امکان نشته؛ نو په شریعت کې د نجلۍ لپاره کومه سزا ده؟ آیا کله چې نجلۍ د مسلمانې کورنۍ څخه وي او د غیر مسلمان هلک سره د واده کولو اراده وکړي، ددې لپاره شرعي سزا او د مرسته کوونکو خلکو سزا یې څه ده؟

---

[١] وكل مسلم ارتد فتوبته مقبولة الا جماعة من تكررت ردته. (درمختار ج: ٤ ص: ٢٣١، باب المرتد، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[٢] والثانى يفيد الزندقة، فبعد أخذه لا تقبل توبته اتفاقًا فيقتل، وقبله اختلف فى قبول توبته، فعند أبى حنيفة تقبل فلا يقتل وعند بقية الأئمة لا تقبل ويقتل حدًا. وفى الشامية: و حاصل كلامه أن الزنديق لو تاب قبل أخذه، أى قبل أن يرفع الى الحاكم، تقبل توبته عندنا وبعده لا اتفاقًا و ورد الأمر السلطانى للقضاة بأن ينظر فى حال ذالك الرجل ان ظهر حسن توبته يعمل بقول أبى حنيفة والا فبقول باقى الأئمة، وانت خبير بان هٰذا مبنى على مامشى عليه القاضى عياض من مشهور مذهب مالك وهو عدم قبول توبته و أن حكمه حكم الزنديق عندهم، وتبعه البزازى كما قدمناه عنه، وكذا تبعه فى الفتح، وقد علمت أن صريح مذهبنا خلافه كما صرح به القاضى عياض وغيره. (الدر المختار مع ردالمحتار ج: ٤ ص: ٢٣٥، باب المرتد، مطلب مهم فى حكم ساب الأنبياء، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[٣] اذا لم يعرف أن محمدًا آخر الأنبياء فليس بمسلم لأنه من الضروريات. (الأشباه والنظائر ج: ٢ ص: ٩١، كتاب السير، باب الردة، طبع ادارة القرآن). أيضًا: وان انكر بعض ما علم من الدين ضرورة كفر بها. (الدرالمختار مع الرد ج: ١ ص: ٥٦١، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[٤] فلايجوزله أن يتزوج امرأة مسلمة ولا مرتدة و لا ذمية و لا حرة ولامملوكة. (فتاویٰ عالمگیری ج: ٣ ص: ٥٨٠)

جواب: دغیرمسلم سره واده کول جائز ګڼونکی کافردی[۱] دنجلۍ امداد کونکي که د قادیاني هلک سره ددې واده جائزګڼلی وي؛ نوهغوی دي د خپل ایمان او نکاح تجدید وکړي.[۲]

سوال: د کوزدې کېدلو نه وروسته د هلک یا مسلمانې نجلۍ له طرفه یا د دواړو له طرفه په شریکه وېشل شوي متهایان او شیریني او هغوی ته مبارکباد ویل جائز دي او که نه؟ که چېرته متهایان خوړل یې روا شي او مبارکباد ورکول شي نو ددې د جواز وجه څه ده؟ حال دا چې د دوی نکاح ناجائز ده او دا په یو ناجائز کار باندې وېشل شوي دي؟

جواب: متهایان خوړل او مبارکباد ورکول هم د خوښۍ نښه ده، داسې خلکو ته هم د ایمان او نکاح تازه کول پکار دي.[۳]

سوال: د شیرینی د خوړلو په جواز باندې زما یو ملګري دلیل ورکړی چې په هندوستان کې به مسلمانانو د خپلو هندو ګاونډیانو د واده په تقریباتو کې شرکت کولو او خوراک به یې هم کولو؛ خو زما نظر بیا دا دی: چې هغه د هندوانو په خپل منځ کې واده ؤ، د یو مذهب معامله وه، لیکن دلته مسئله دا ده چې مسلمانه نجلۍ هم اوس مرتده شوه یا به شي، لهذا دا د یو مرتد یا زندیق په اضافه باندې یا د نجلۍ په مذهب بدلولو باندې، د اسلام نه د اوړېدلو په خوشحالۍ کې متهایان دي، همدا راز دا هم ووایئ چې چا متهایان خوړلي دي او په دې کار باندې هلک نجلۍ ته (د کوزدې په تړلو باندې) مبارکباد ورکړی وي، اوس هغوی څه وکړي؟ که چېرته هغوی په ناپوهۍ کې داسې کړي وي، که چېرته هغوی سره له پوهې دا ناجائز فعل کړی وي اوس به هغوی څه کوي؟

جواب: د غیر مسلمو په خپل منځ کې واده ته مبارکي ورکول دا خو یو رواج دی؛ خو که چېرته د مسلمانې نجلۍ عقد د کوم غیر مسلم سره وشي یا نعوذ بالله کومه مسلمانه نجلۍ مرتده شي او د غیر مسلم سره نکاح وکړي؛ نو په دې صورت کې هیڅ مسلمان په مبارکۍ کې نه دی لیدل شوی، بلکې د غیرتمنو مسلمانانو داسې مثالونه شته چې داسې مردار خلک یې د ځمکې او خلکو له مخه لیرې کړي دي، په هر حال کوم خلک چې په دې کې اخته دي دوی ته

---

[۱] من اعتقد الحرام حلالًا (الی قوله) فان کان دلیله قطعیاکفر. (ردالمحتار ج: ٤ ص: ۲۲۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب فی منکر الاجماع، طبع ایچ ایم سعید)۔

[۲] ما یکون کفرًا اتفاقًا یبطل العمل والنکاح .... وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة و تجدید النکاح. (درمختار ج: ٤ ص: ۲٤۷، کتاب الجهاد، باب المرتد، طبع ایچ ایم سعید)۔

[۳] اذا رأی منکرًا معلوماً من الدین بالضرورة فلم ینکره ولم یکرهه واستحسنه ورضی به کان کافرًا. (مرقاةالمفاتیح ج: ٥ ص: ۳، باب الأمر بالمعروف، طبع أصح المطابع، بمبئی). أیضًا: ما یکون کفرًا اتفاقًا یبطل العمل والنکاح. (درمختار، کتاب الجهاد، باب المرتد ج: ٤ ص: ۲٤۷، طبع ایچ ایم سعید)۔

توبه ویستل پکار ده، د خپل ایمان او نکاح تازه کول پکار دي.[۱]

د قادیاني مسلمانه ښځه درواغ وایي

سوال: زمونږ په کلي کې یوه ښځه ده چې ماشومانو ته د قرآن د ناظرې تعلیم ورکوي، همدا راز د محلې ښځې ترې د تعویذ او دیني مسئلو په اړه هم دغې زنانه ته رجوع کوي: خو اوس ښه معلومه شوه چې ددې خاوند قادیاني دی، د دغې ښځې نه پوښتنه وشوه: نو هغې وویل که زما خاوند قادیاني وي؛ نو څه چل وشو، زه خو مسلمانه یم، زما عقیده زما سره او د هغه عقیده د هغه سره ده، د هغه د عقائدو اثر په ما نه کیږي، ستاسو نه دا پوښتنه کوم چې:

۱ دکوم مسلمان سړي یا ښځې چې دقادیاني مذهب سره یې تړاو وي تعلقات ساتل څنګه دي؟

۲ د کلیوالو په شرعي معاملاتو کې دې ښځې ته رجوع کول همدا راز د معاشرتي تعلقاتو د ساتلو شرعي حکم څه دی؟

جواب: د مسلمانې ښځې نکاح د غیر مسلم سره نه کیږي[۲]، نه د قادیاني سره نه د کوم بل غیر مسلم سره او نه هم کومه مسلمانه ښځه د قادیاني په کور کې اوسېدای شي، نه د هغه سره د ښځې خاوند تعلق ساتل پکار دي، دغه ښځه چې یاد یې په سوال کې وشو، که دې ته دا مسئله معلومه نه وي؛ نو دې ته دي دا مسئله وښودل شي، د مسئلې معلومېدو نه وروسته دې ته پکار دي چې هغه قادیاني مرتد نه سمدستي جدا شي او که چېرته هغه د مسئلې معلومېدو نه وروسته هم د خپل عادت سره سم د قادیاني سره اوسیږي؛ نو پوه شئ چې هغه هم قادیانئ شوې ده، یوازې ساده مسلمانانو ته د چل وروکولو لپاره خپل ځان مسلمانه ځرګندوي، د محلې مسلمانان دې خبر کړي چې ددې سره هم تعلق پرې کړي او دې سره هغه سلوک وکړي چې د قادیاني مرتد سره یې کوي، ددې نه د بچو قرآن کریم ویل، تعویذ اخیستل، په دیني مسئلو کې دې ته رجوع کول او ددې سره معاشرتي تعلقات ساتل دا ټول حرام دي.[۳]

۱] ایضاً تیره شوې حواله۔

۲] قال الله تعالی: ''وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتّٰى يؤْمِنُوْا'' (البقرة: ۲۲۱). أیضًا: ومنها اسلام الرجل اذا کانت المرأة مسلمة فلا یجوز انکاح المؤمنة الکافر، لقوله تعالی: ولَا تنکحوا المشرکین حتّٰی یؤمنوا، ولأن فی انکاح المؤمنة الکافر خوف وقوع المؤمنة فی الکفر. (بدائع الصنائع ج: ۲ ص: ۲۷۱، کتاب النکاح، فصل فی عدم نکاح الکافر المسلمة، طبع ایچ ایم سعید)أیضًا: لَا یجوز للمرتد أن یتزوّج مرتدة و لَا مسلمة و لَا کافرة أصلیة، (عالمگیری ج: ۱ص: ۲۸۲)

۳] قال الله تعالی: فَلا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰی مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ'' (انعام: ۶۸) وقال تعالی: ''لَا تَجِدُ قَوْمًا يؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللهَ وَ رَسُوْلَه وَ لَوْ كَانُوْا اٰبَآءَ هُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيرَتَهُمْ'' (المجادلة: ۲۲)۔

د مسلمان قادياني نجلۍ سره نكاح كول

سوال: زمونږ په كلي كې د يو دهقان د لور واده د يو قادياني سره وشو؛ خو ناوې د مسلمانۍ دعوه لري. د دوی نكاح شرعا شوې ده او كه نه؟ د وليمې په دعوت كې د شريكو خلكو نكاح برقراره ده او كه نه؟

جواب: د قادياني حكم د مرتد دی[١]. د دوی په پروګرامونو كې شريكېدل او په خپلو پروګرامونو كې يې شريكول ناجائز دي[٢]، كوم خلك چې په دې معامله كې سترګې پټوي، د قيامت په ورځ به د الله تعالى په دربار كې ځواب ووايي، د حضور ﷺ د خفګان او زورنې حقدار به وي. د قاديانانو سره رشته كول ناجائز ده[٣]، كه چېرته هغه نجلۍ مسلمانه شوه؛ نو نكاح يې صحيح ده او كه مسلمانه نه شوه بلكې قاديانيه وي؛ نو نكاح يې باطله ده، لكه څرنګه چې د سكهـ او هندو سره نكاح ناجائز ده، دغه راز د قادياني سره هم ناجائز ده. په دې سړي باندې لازم دي چې قاديانيه ښځه جدا كړي. كوم خلك چې د دوی په نكاح كې شريك شوي دي هغوی ګناه ګاره دي، هغوی دې توبه وباسي، پكار ده چې آينده داسې كار بيا ونكړي.

د يو سوال ځواب

سوال: د حضرت زينب رضي الله عنها نكاح د ابوالعاص بن ابوالربيع سره شوې وه چې كافر ؤ، د حضرت ام كلثوم رضي الله عنها لومړنۍ نكاح د عتيبه سره شوې وه چې هغه هم كافر ؤ، د حضرت رقيه رضي الله عنها لومړنۍ نكاح د عتبه بن ابولهب سره شوې وه چې كافر ؤ، د حضور ﷺ د دغه دريو يادو شويو لورګانو لومړنۍ نكاح د كافرانو سره ولې شوې وې؟

جواب: تر دغه وخته پورې د كافرانو سره د نكاح منع نه وه راغلې، وروسته ترې منع راغله[۴]، عتبه د خپل پلار ابولهب په وينا حضرت رقيه رضي الله عنها ته او عتيبه حضرت ام كلثوم رضي الله عنها

---

[١] إذا لم يعرف أن محمدًا آخرالأنبياء فليس بمسلم لأنه من الضروريات. (الأشباه والنظائر ج: ٢ ص: ٩١، كتاب السير، باب الردة، طبع إدارة القرآن) أيضًا: وإن أنكربعض ما علم من الدين ضرورة كفربها. (شامى ج: ١ ص: ٥٦١)

[٢] او هذا يدل على ان علينا ترك مجالسة الملحدين وسائر الكفار عند اظهارهم الكفر والشرك وما لا يجوز على الله تعالى اذا لم يمكنا انكاره. (احكام القرآن للجصاص ج: ٣ ص: ٢، طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

[٣] افلا يتزوّج المرتد مسلمة ولا كتابية و لا مرتدة و لا يتزوّج المرتدة مسلم و لا كافر و لا مرتد. (البحرالرائق ج:٣ ص: ٢٥٩، طبع دارالمعرفة، بيروت)۔

[۴] .... وجدنا نكاح المشركات قد كان مباحًا فى أوّل الاسلام الى ان نزل تحريمهن. (احكام القرآن للجصّاص ج: ١ ص: ٣٣٥، باب نكاح المشركات، طبع سهيل اكيدمي، لاهور پاكستان)۔

نه طلاق ورکړی وو، حال دا چې وروسته د دواړو عقد د یو بل پسې د حضرت عثمان رضی الله عنه سره وشو[۱] او حضرت ابوالعاص رضی الله عنه د جنګ بدر نه وروسته مسلمان شو.[۲]

که د اولاد د کفر وېره وي؛ نو د اهل کتاب ښځې سره نکاح ناجائز ده

سوال: دلته په جرمني کې زیاتره مسلمانان هلکان د عیسویانو جینکو سره واده کوي او وايي چې مونږ په خپله خوښه کاغذي واده کړی دی، د قرآن او سنت په رڼا کې تاسو ووایئ چې د دوی دا کړنه څه حکم لري؟

جواب: که چېرته هغه نجلۍ اهل کتاب (عیسوې) وي؛ نو د هغوی سره نکاح جائز ده[۳]، په دې شرط چې دا وېره نه وي چې ددې ښځو له وجې یې اولاد کافران نه شي، که چېرته داسې وېره وي: نو هیڅکله دې داسې نکاح نه کوي، کنه نو د خپل اولاد چې د کفر په غېږ کې یې غورځوي دې سره به ګناه ګار وي.[۴]

---

[۱] و تزوج زینب أبو العاص بن الربیع .... وأما رقیة فکان قد تزوجها أوّلاً ابن عمه عتبة بن أبي لهب، کما تزوج أختها أخوه عتیبة بن أبي لهب، ثم طلقا هما قبل الدخول هما بغضة فی رسول الله علیه وسلم حین أنزل الله (تبت یدا أبي لهب الآیة) وبعد فتزوج عثمان بن عفان رضی الله عنه رقیة وها جرت معه الی أرض الحبشة........ ولما أن جائه البشیر بالنصر الی المدینة وهو زید بن حارثة وجدهم قد ساوّوا علی قبرها التراب، وکان عثمان قد أقام علیها بمرضها بأمر رسول الله صلی الله علیه وسلم وضر ب له بسهمه وأجره، ولما رجع زوّجه باختها أمّ کلثوم أیضًا، ولهذا کان یقال له ذوالنّورین، ثم ماتت عنده فی شعبان سنة تسع ..... الخ. (البدایة والنهایة ج:۳ ص: ۳۲۱، فصل فی ذکر أولادرسول الله صلی الله علیه وسلم، طبع قدیمی کتب خانه)۔

[۲] و ذکر ابن اسحاق أن أبا العاص أقام بمکة علی کفره واستمرت زینب عند أبیها بالمدینة حتّی اذا کان قبیل الفتح خرج أبوالعاص فی تجارة لقریش، فلما قفل من الشام لقیته سریة فأخذوا ما معه وأعجز هم هرباً وجاء تحت اللیل الی زوجته زینب فاستجار ها فاجارته .... قال (أی أبوالعاص) فانی أشهد أن لا اله الاّ الله، وأن محمدًا عبده ورسوله، والله ما منعنی عن الاسلام عنده ألا تخوف ان تظنوا انی انما اردت أن آکل أموالکم فلما أداها الله الیکم وفرغت منها أسلمت ثم خرج حتّی قدم علی رسول الله صلّی الله وعلیه وسلم ... عن ابن عباس رضی الله عنه قال: رد علیه رسول الله صلی الله علیه وسلم زینب علی النکاح الأول ولم یحدث شیئًا.(البدایة والنهایة ج: ۳ ص:۳۳۲، فصل فی فضل من شهد بدرًا من المسلمین، طبع دارالفکر، بیروت)

[۳] قال الله تعالی: "وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِینَ أُوْتُوا الْکِتٰبَ مِنْ قَبْلِکُمْ" (المائدة: ۵). (وصح نکاح کتابیة) وان کره تنـزیها (مؤمنة بنبی) مرسل (مقرة بکتاب) منزل، وان اعتقدوا المسیح الها. وفی الشامیة: (قوله مقرّة بکتاب) فی النهر عن الزیلعي. واعلم ان من اعتقد دینًا سماویًا وله کتاب منزل کصحف ابراهیم وشیث و زبور داؤد من أهل الکتاب، فتجوز منکاحتهم وأکل ذبائحهم. (ردالمحتار مع الدرالمختار ج: ۳ ص: ۴۵، کتاب النکاح، فصل فی المحرمات، طبع ایچ ایم سعید، أیضًا: عالمگیری ج: ۱ ص:۲۸۱، کتاب النکاح، القسم السابع، البحرالرائق ج: ۳ ص: ۱۱۰، فصل فی المحرمات)۔

[۴] والأولی أن لا یتزوج کتابیة...... وفی المحیط: یکره تزوج الکتابیة الحربیة ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

عیسوئ ښځې سره نکاح کول

سوال: نصاری د الله تعالی ددې قول مطابق **ولاتقولواثلاثة**. مشرکان دي او د مشرکو ښځو سره نکاح ناجائز ده. څنګه چې د الله تعالی ارشاد دی **ولاتنکحواالمشرکات**. کې ددې تصریح ده. بیا د نصاری ښځو سره نکاح ولې جائز ده؟ کوم وخت چې قرآن نازل شو هغه وخت هم د قرآن مطابق هغوی مشرکان وو: نو زمونږ د عالمانو دا خبره چې هغه وخت له دوی سره نکاح ناجائز وه او اوس جائز ده ماته صحیح نه ښکاري.

جواب: ډیرو عالمانو ته دا مشکل پیښ شوی او هغوی د اهل کتابو سره نکاح د عامو مشرکینو سره مشروط کړه: خو د محققینو په نزد د اهل کتابو حلت د **ولاتنکحواالمشرکات**، قاعدې نه مستثنی ده.[۱]

سوال: تاسو وفرمایل چې د اهل کتابو حلت د **ولاتنکحواالمشرکات**، د قاعدې نه مستثنی ده. په دې ځواب مې تسلي ونه شوه.

جواب: مطلب دا چې نصرانیان خو یقینا مشرکین دي، ددې سره- سره د هغوی سره نکاح کول جائز دي. ددې نه معلومیږي چې د **ولاتنکحواالمشرکات**، حکم د اهل کتابو لپاره نه بلکې د غیر اهل کتابو لپاره دی.

د عیسایي ښځې مسلماني خورسره نکاح کول

سوال: زه یوه عیسایي ښځه یم، زما خاوند زما خور وتښتول او او کاږې ته یې بوتله، هغه نجلۍ هم عیسایي ده، دواړه مسلمانان شول او نکاح یې وکړه او زما شپږ بچي دي، نه یې راته طلاق راکړی دی او نه یې راته څه ویلي دي، ستاسو نه سوال دا دی چې ستاسو په

...بقیه د تیرمخ] لأن الْانسان لَا يأمن أن يكون بينهما ولد، فينشأ على طبائع أهل الحرب، ويتخلق بأخلاقهم، فلا يستطيع المسلم قلعه عن تلك العادة. (البحرالرائق ج: ۳ ص: ۱۱۱، كتاب النكاح، فصل فى المحرمات، طبع دار المعرفة، بيروت، أيضًا: أحكام القرآن للجصاص ج: ۲ ص: ۲۳٦، باب تزوج الكتابيات، طبع سهيل اكيدمى)_

۱] واما الآية فهى فى غيرالكتابيات من المشركات لان اهل الكتاب وان كانوا مشركين على الحقيقة لكن هذا الاسم فى متعارف الناس يطلق على المشركين من غيراهل الكتاب، قال الله تعالى: ما يود الذين كفروا من اهل الكتاب ولا المشركين ....فصل بين الفريقين فى الاسم على ان الكتابيات وان دخلن تحت عموم اسم المشركات بحكم ظاهر اللفظ لكنهن خصصن عن العموم لقوله تعالى: والمحصنٰت من الذين اوتوا الكتٰب من قبلكم. (بدائع الصنائع ج۲، ص۲۷۱، كتاب النكاح)_ •

مذهب (اسلام) کې د دې اجازت شته چې یو کس دې د دوخویندو سره نکاح وکړي؟ او دواړه په نکاح کې ساتلی شي؟ تفصیلي ځواب راکړئ. زما مقدمه په عدالت کې شروع ده

جواب: په شریعت کې دوه خویندې په نکاح کې جمع کول ناجائز دي[1]. عیسایي (اهل کتاب) ښځې او خاوند کې که خاوند مسلمان شي: نو نکاح یې پاتې کیږي. پس ستاسو نکاح هم هغه شان شته[2]. ترڅو پورې چې تاسو ته طلاق نه وي درکول شوی. تر هغه پورې ستاسو نکاح باقي ده. هغه ستاسو د خور سره نکاح نه شي کولی د عدالت ذمه واري ده چې هغوی دواړه سره جدا کړي. والله اعلم!

عیسایي ښځې سره نکاح کول

سوال: یو مسلمان د خپلې مسلمانې ښځې سره- سره په بل هېواد کې یوازې د خپل تجارت لپاره د عیسایي ښځې سره واده کول غواړي، ایا شریعت ده ته د واده اجازه ورکوي او که نه؟ که اجازه وي؛ نو د لومړنۍ واده سره به څه کوي؟ هغه عیسایي ښځه به د هغه لپاره حلاله وي؟ ایا دا مسلمان سړي کې ایمان باقي پاتې کېدای شي؟ اودده ګټه په جومات لګول څه حکم لري؟

جواب: دا چې دا سړی له وړاندې مسلمانه ښځه په نکاح کې لري؛ نو د عیسایئ ښځې په نکاح کې هیڅ کوم مانع نشته؛ خو د نورو وجوهو په بنسټ داسې واده ناجائزه دی.

اولا: د اهل کتابو د کومو ښځو سره چې د نکاح اجازه ورکول شوې ده، ددې نه هغه اهل کتاب مراد دي چې د دارالاسلام اوسېدونکي وي، چا ته چې د شریعت په اصطلاح کې " ذمي " ویل کیږي، د دارالکفر اوسېدونکی نه وي، لهذا د اسلامي حکومت ذمي ښځو سره هر کله چې هغوی اهل کتاب وي نکاح ورسره جائز ده، مګر مکروه تنزیهي ده او هغه اهل کتاب چې په دارالحرب کې اوسیږي د هغوی د ښځو سره نکاح کول مکروه تحریمي ده، (مکروه تحریمي ته د حرام سره د زیات نزدې والي له امله ناجائز ویل کیږي) لهذا دا نکاح خو به منعقد ش؛ مګر د مکروه تحریمي په وجه به ناجائزه وي او کونکی به یې ګناه ګار وي.

دویم: د اهل کتابو ښځو سره د نکاح صحیح کېدو شرط دا دی چې: هغوی واقعتاً اهل کتاب وي. صرف په نوم عیسایي یا یهودي نه وي، د نن سبا ډېر یهودیان او نصرانیان صرف په نوم یهودیان او عیسایان دي، کنه نو یقیني هغوی ملحدین وي، هغوی نه کوم

---

[1] حرمت علیکم امهاتکم.........وان تجمعوا بین الأختین الا ما قد سلف. (النساء: ۲۳)۔

[2] واذا اسلم زوج الکتابیة، فهما علی نکاحهما لانه یصح النکاح ابتداءً فلا یبقی اولی. (هدایة/ ۲/ ۳۴۷/ کتاب النکاح/ باب نکاح اهل الشرک)۔

کتاب مني. نه نبي او نه هم دین او مذهب پېژني. که دغه شان عیسایي ښځه وي چې صرف قومي لحاظ سره ورته عیسایي ویل کیږي او واقعتاً ملحدین وي؛ نو د هغې سره نکاح نه کیږي. دغه راز ښځه او خاوند به په شریعت کې زنا کاران شمارل کیږي.

دریم که یو مسلمان د اهل کتاب ښځې سره واده کړی وي؛ نو د شرعي قانون له مخې به د هغه اولاد مسلمان شمارل کیږي؛ خو د غیر په هېوادونو کې چې د عیسایي ښځو سره کوم ودونه کیږي د هغې نه پیدا کېدونکي اولاد د خپلې مور مذهب غوره کوي. بلکې په ځینو وختونو کې خو داسې هم وشي چې د واده نه وړاندې دواړو دا پرېکړه کړې وي چې نیم اولاد به د خاوند وي او نیم به د مور په مذهب باندې وي، که داسې شرط ولګول شي: نو داسې واده کونکی مسلمان به د شرط لګولو سره مرتد شي، ځکه چې هغه د خپل اولاد مرتد کېدل برداشت کړل او په دې باندې راضي شو. د چا په کفر باندې راضي کېدل هم کفر دی. لهذا داسې شرط لګولو سره به دا کس د ایمان نه ووځي او مرتد به شي او دده مخکینۍ ښځه به دده له نکاح نه ووځي.

څلورم زمونږ ساده ګان ځوانان د امریکې د شهریت غږیتوب ترلاسه کولو. د رزق ګټلو لپاره ددې عیسایي ښځو په چکر کې پرېوځي؛ خو ددې هېوادونو د قانون مطابق د طلاق حق د سړو په ځای ښځو ته حاصل وي، داسې ښځې به چې د چا په جال کې داسې ساده ځوانان راغلل. دوی ته به یې د خپل قانون سره سم ښځې طلاق ورکړ، په کور او اولاد به یې ترې قبضه وکړه، دا خاوند صاحب "خسر الدنیا والاخرة" په شان په دواړه جهانونو کې برباد شو. چونکې د فقهي قاعده ده چې: "**المعروف کالمشروط**" یعنې د کوم شي چې عام رواج وي: نو هغه هم هغه شان ګڼل پکار دي، ګویا د واده په وخت کې دا شرط کېښودل شوی ؤ، لهذا ددې هېوادونو د قاعدې مطابق ګویا دا کس په دې شرط سره نکاح کوي چې ښځه کله وغواړي ده ته طلاق ورکولای شي، په ماشومانو دې قبضه وکړي.

ددې وجوهاتو په بناء نه په خارجي هېوادونو کې د مسلمانانو ځوانانو د عیسایي ښځو سره واده کول جائز دي. په دویمه وجه خو نکاح نه کیږي، دریمه خو کفر ته نږدې ده؛ نو په دې صورت کې به د هغه د اولنۍ ښځې سره نکاح فسخ شي او څلورمه وجه کې د کفر وېره ده، البته که څه کفریه شرط کېښودل شوی نه ؤ او نه هم معروف ؤ؛ نو اولنۍ ښځه به دده په نکاح کې وي مګر دی به د عیسایي ښځې سره د نکاح کولو په وجه ګناه ګار وي، هذا ما عندي والله أعلم بالصواب!

د کومو ښځو سره نکاح جائز ده؟

ایا د ښځې د ناروغۍ په خاصو ورځو کې نکاح جائز ده؟

سوال: د ډیرو خلکو نه مې اوریدلي چې د ښځو د ناروغیو په خاصو ورځو کې چې په مباشت کې یو ځل ورباندې راځي د ښځې نکاح نه کیږي او که چېرته وشي: نو وروسته به بیا نکاح کوي، اوس تاسو ووایئ چې آیا په دغو ورځو کې نکاح کېدای شي او که نه؟

جواب: نکاح یې کیږي: خو د ښځې خاوند یو ځای والی صحیح نه دی. بلکې یو ځای والی به ددې ناروغۍ د تېرېدو وروسته کوي.[۱]

ناجائز حمل داره ښځې سره نکاح کول

سوال: یو سړي د یوې ښځې سره زنا وکړه چې په هغې سره هغه ښځه حمل داره شوه، د حمل وروسته دواړو سمدستي نکاح وکړه، تاسو ووایئ چې بچی به حلالي وي او که حرامي؟ د دوی دواړو نکاح په شریعت کې قبلیږي او که نه؟

جواب: دابچې چې د نکاح نه مخکې د مور په خېټه شوی ددې نسب ثابت نه دی؛ خو نکاح یې صحیح ده، بیا چې د چا نطفه وي که نکاح د هغه سړي سره شوې وي؛ نو د دواړو یو ځای والی جائز دی او که نکاح د بل سره شوې وي؛ نو د ماشوم تر پیدا کېدو پورې به انتظار کوي.[۲]

د ناجائز حمل په صورت کې نکاح جائز ده

سوال: دیونجلۍ ناجائزه اړیکي وې، دوخت په تېرېدو سره د ښځې په خېټه ماشوم شو، اوس هغه سړی غواړي چې ددې نجلۍ سره نکاح وکړي، د حمل په صورت کې یې نکاح جائز ده؟

جواب: نکاح خو ددې سړي سره هم جائز ده او د بل سړي سره هم. مګر د چا چې نطفه وي

۱] "وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيْضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّى يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ". (البقرة: ۲۲۲) ایضاً: ویمنع الحیض قربان زوجها ما تحت ازارها كما فى البحر......یعنى ما بین سرة وركبة.....الخ. (ردالمحتار/ ۱/ ۲۹۲/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی) قال والعوارض المانعة عن الوطئ مع ثبوت النكاح الى قوله احدها الحیض النتف فى الفتاوى ص۱۸۸،طبع ایچ ایم سعید

۲]وصح نكاح حبلى من زنى لا حبلى من غیره اى الزنى لثبوت نسبه.....وان حرم وطؤها حتى تضع...... (فروع) لو نكحها الزانى حل له وطؤها اتفاقا والولد له ولزمه النفقة. (قوله: وصح نكاح حبلى من زنى) اى عندهما وقال ابو یوسف لا یصح، والفتوىٰ على قولهما......(قوله والولد له) اى ان جاء ت بعد النكاح بستة اشهر مختارات النوازل. فلو لاقل من ستة اشهر من وقت النكاح، لا یثبت النسب. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ ۳/ ص۴۸، ۴۹/ كتاب النكاح/ مطلب مهم فى وطء السرى/ طبع ایچ ایم سعید)۔

هغه د نکاح نه پس کوروالی هم کولی شي، که چېرته د بل سره نکاح وشي: نو هغه به د ماشوم تر پیدا کېدو پورې انتظار کوي.[۱]

د ښځې د حمل په صورت کې نکاح کول

سوال: ستاسو نه یوې ښځې دا پوښتنه کړې وه چې زما نکاح په داسې حال کې وشوه چې د پردې سړي د نطفې نه مې په خېټه ماشوم شوی ؤ، ددې نه اووه ۷ کاله پس واده وشو او دوه بچیان یې هم دي، د الله په خاطر مولانا صاحب! تاسو ووایئ چې زه څه کفاره ادا کړم؟ جواب کې تاسو لیکلي وو ستاسو نکاح چې د ناجائز حمل په صورت کې شوې وه نکاح صحیح وه. مولانا صاحب! سوال دا دی چې: ستاسو ځواب د کومې فقهي قاعدې لاندې دی؟ د کوم کتاب حواله راکړئ، زه به بې حده ستاسو شکر ګزار شم، ځکه چې د ځینو عالمانو وینا ده: د پردي سړي سره د حاملې ښځې نکاح نه کېږي، یوازې زنا کاره کولای شي چې ددغې زنا کارې ښځې سره واده وکړي، که چېرته د حاملې (بلاربې) ښځې سره نکاح نه کېږي؛ نو بیا د کونډې یا مطلقې ښځې نکاح د حمل په صورت کې څه حکم لري؟

جواب: ما چې کومه مسئله لیکلې وه هغه د حنفي فقه تقریبا په ټولو کتابونو کې موجوده ده. په درمختار کې دي:

وصح نکاح حبلی من زنی،...... وان حرم وطؤها حتی تضع لو نکحها الزانی حل له وطؤها اتفاقا (شامی ج۳ ص ٤۸ طبع جدید)

په فتاوی عالمګیري کې دي: **وقال ابو حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی یجوز ان یتزوج امراة حاملا من الزنا ولا یطؤها حتی تضع، وقال ابویوسف رحمه الله لایصح والفتوی علی قولهما کذا فی المحیط (فتاوی عالمگیری ص ۲۸۰ ج ۱)**

ددې عبارتونو څخه معلومه شوه چې د مفتی به قول مطابق د حاملې نکاح د زناکار او سم سړي دواړو سره کېږي، د دواړو ترمنځ یوازې توپیر په دې کې دی: چې د ماشوم پیدا کېدو نه وړاندې زاني کوروالی کولای شي او غیر زاني یې نه شي کولی، کومې ښځې چې د مسئلې پوښتنه کړې وه د هغې کیسه څو کاله وړاندې تېره شوې وه؛ نو ځکه دې ته مې صرف د نکاح د صحیح کولو مسئله وښوده، دویمه برخه ددې سره متعلق نه وه؛ نو ځکه هغه ذکر نه شوه، د کونډې یا مطلقې ښځې نکاح د حمل په وخت کې نه کېږي، ځکه چې هغه په عدت کې وي او په عدت کې نکاح ناجائز ده[۲]، په خلاف د هغه حمل چې له زنا څخه شوی وي، د هغې هیڅ

۱] ایضاً پورتنۍ حواله.

۲] قال تعالی: "وَأُوْلَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ". (الطلاق: ٤)...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

عدت نشته ځکه چې عدت د حرمت نسب لپاره مقرر شوی دی او د زنا د حمل څه حرمت نشته[۱]. تعجب دی چې عالمانو ته په دې مسئله کې ولې خندونه مخې ته راځي؟

د ناجائزه اړیکو والا ښځې او سړي ترمنځ نکاح جائز ده

سوال: د کومې ښځې سره چې د کوم سړي ناجائزه اړیکې پیدا شي؛ نو ددې نه پس ددې ښځې او سړي ترمنځ نکاح کېدای شي او که نه؟ که چېرته نکاح کېدای شي؛ نو آیا د مخکینیو اړیکو پر بنسټ به ګناه ددې په سر وي او که نه؟

جواب: نکاح یې کېدای شي[۲]، د مخکینیو ناجائزه اړیکو ساتلو وبال به په دوی باندې خامخا وي، په هغو کړو ګناهونو باندې توبه او استغفار لازم دی، د نکاح نه وروسته به د یو بل لپاره حلال شي.

د ناجائزه اړیکو وروسته د لېور او ورېندار د اولادو نو رشته

سوال: د لېور او ورېنداري ناجائزه اړیکې وي، بیا لېور د ورېندار د وړې خور سره واده وکړ، بیا هم ددې دواړو ناجائزه اړیکو دوام پیدا کړ، اوس دا حال دی چې د ورېندار زوی لوی دی او د لېور لور وړه ده او دواړه ځوانان دي؛ نو ویل کیږي چې د دواړو واده وشي، اوس مسئله دا ده چې په دې لحاظ سره دا واده کېدای شي او که نه؟ خو ما ته معلومه نه ده چې د ورېندار د لیور نه څه اولاد شته او که نه. لیکن د لیور او ورېندار د پنځلسو کالو راپه دېخوا اړیکې پرې شوي دي.

جواب: جائز ده.[۳]

...بقیه د تیرمخ] ایضاً: فصل: ومنها ان لا تکون معتدة الغیر لقوله تعالی: ولا تعزموا عقدة النکاح حتی یبلغ الکتٰب اجله، ای ما کتب علیها من التربص ولأن بعض احکام النکاح حالة العدة قائم فکان النکاح قائماً من وجه...وسواء کانت العدة عن طلاق او عن وفاة.الخ(بدائع الصنائع/ ۲/ ۲۶۸/ کتاب النکاح/ طبع ایچ ایم سعید)

۱]لا تجب العدة علی الزانیة وهٰذا قول ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی کذا فی شرح الطحاوی. (عالمگیری/ ۱/ ۵۲۶). وعلی هٰذا یخرج ما اذا تزوج امرأة حاملاً من الزنا انه یجوز فی قول ابی حنیفة ومحمد لکن لا یطؤها حتی تضع.....لهما ان المنع من نکاح الحامل حملاً ثابت النسب لحرمة ماء الوطؤ، ولا حرمة لماء الزنا بدلیل انه لا یثبت به النسب قال النبی صلی الله علیه وسلم: الولد للفراش وللعاهر الحجر، فاذا لم یکن له حرمة لا یمنع جواز النکاح الا انها لا توطا حتی تضع......الخ. (البدائع الصنائع/ ۲/ ۲۶۹/ کتاب النکاح/ طبع ایچ ایم سعید)۔

۲] ایضاً)۔

۳] قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم". (النساء: ۲۴) ایضاً: وفی الشامیة: ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها. (ردالمحتار/ فصل فی المحرمات/ ۳/ ۳۲/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی)۔

د بدکار لېور او ورېندار اولاد په خپل منځ کې نکاح

سوال: یو سړي د خپلې ورېندارې سره بدکاري وکړه، په دې باندې کوم شرعي شاهدان نه وو، یو څو کاله وروسته هغې د خپلې لور نکاح د هغه زوی سره وکړه. اوس د هغوی زامن هم پیدا شوي دي، آیا دا نکاح صحیح وه او د اولاد څه حکم دی؟ اوپه دې کې چې کوم خلک خبر وو او شریک شوي وو آیا د هغه خلکو نکاح باقي پاتې کیږي؟

جواب: د دوی دواړو د بدکارئ اثر د دوی د اولاد په خپل منځ کې د رشتې په جائز کېدلو باندې نه پرېوځي[1]. لهذا دا نکاح صحیح ده.

د بدکارې تره ښځې او بدکار لېور زوی تر منځ نکاح

سوال: د تره ښځې او لېور زوی تر منځ تقریبا دوه کاله ناجائزه اړیکه وه، په دې زمانه کې ترې کوم هلک یا نجلۍ نه ده پیدا شوې، ددې نه پس د دواړو ترمنځ اړیکه ختمه شوه، اوس د تره د ښځې او لېور زوی خپل بچي دي، آیا ددې دواړو په اولاد کې رشته جائز ده او که نه؟

جواب: هو کېدای شي[2]

د لورېې زوی سره او د مورېې د پلار سره نکاح جائز ده

سوال: زید د خپل زوی نکاح د خپلې ښېنې د لور سره وکړه، لږ وخت وروسته د زید ښځه وفات شوه، ددې نه وروسته زید د خپل زوی د خواښې سره یعنې د خپلې ښېنې سره نکاح وکړه، اوس مور او لور په یو کور کې د خواښې او انګور او ورسره د مور او لور په حیث دواړه سره ژوند تېروي آیا دا جائز دي؟

جواب: جائز دي. تا ته د نا جائز کېدو شک له کومه پیدا شو؟[3]

---

[1] "واحل لكم ما ورآء ذٰلكم". (النساء: ٢٤) . وقال عطاء: احل لكم ما وراء ذوات المحارم من اقاربكم. (احكام القرآن للجصاص/ ٢/ ١٣٩/ قبيل باب المهور/ طبع سهيل اكيدمى، ايضاً: تفسير مظهرى/ ٢/ ٦٦/ طبع كونته)۔

[2] ويحل لاصول الزانى وفروعه اصول المزنى بها وفروعها. (ردالمحتار/ ٣/ ٣٢/ فصل فى المحرمات). (وفى البحر الرائق ٣/ ١٠٨). واراد بحرمة المصاهرة الحرمات الاربع.......ويحل لاصول الزانى وفروعه اصول المزنى بها وفروعها)

[3] وقال عطاء: احل لكم ما وراء ذوات المحارم من اقاربكم......الخ. (احكام القرآن للجصاص/ ٢/ ١٣٩/ سورة النساء: ٢٤ / قبيل باب المهور/ طبع سهيل اكيدمى، لاهور). قالوا: ولابأس ان تزوج الرجل امرأة ويتزوج ابنه امها او بنتها لانه لا مانع وقد تزوج محمد بن الحنفية...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

ښځه او میره موریې په نکاح کې راوستل

سوال: د خسر ښځه چې د خپلې ښځې حقیقي مور نه وي، د خسر د مړینې وروسته د لومړنۍ منکوحې په ژوند کې ددې کونډې سره نکاح جائز ده که ناجائز؟

جواب: د داسې دوه ښځو په نکاح کې جمع کول ناجائز دي چې په دې دواړو کې یو سړی فرض کړل شي: نو د دواړو نکاح نه کیږي. مثلاً د دوه خویندو، د مور خور او خورزه، د پلار خور او وربره[۱]. دا اصول مخې ته اینبودلو سره غور وکړئ چې د یوې نجلۍ او میرنۍ مور په خپل منځ کې رشته څه ده؟ مونږ ګورو که چېرته نجلۍ سړی فرض کړل شي: نو ددې نکاح د میرنۍ مور سره نشي کیدی. لیکن که چېرته میرنۍ مور سړی فرض کړی شي (په دې حال کې چې دا هغه میرنۍ مور نه شي کیدی، نو ځکه د نجلۍ سره د هغه نکاح جائز کیږي. معلومه شوه چې نجلۍ او د هغې میرنۍ مور په یوه نکاح کې جمع کول جائز دي: نو ځکه د خسر د ښځې سره چې د ښځې میرنۍ مور ده، د ښځې په موجودګۍ کې نکاح جائز ده.[۲]

د ناسکه تره د مطلقې سره نکاح صحیح ده

سوال: زما میرني ورور خپلې ښځې ته طلاق ورکړ او زما په زوی یې تور پورې کړ چې زما زوی ددې سره واده کړی، آیا دا نکاح جائز ده؟

جواب: د میرني تره د مطلقې ښځې سره نکاح صحیح ده چې د عدت ختمېدلو وروسته یې وکړي.[۳]

...بقیه د تیرمخ] امرأة وزوج ابنه بنتها. (البحرالرائق/ ۳/ ۱۰۵، کتاب النکاح/ فصل فی المحرمات/ طبع دار المعرفة، ایضاً: فتح القدیر/ ۲/ ۳۶۴/ طبع دار صادر، بیروت)۔

۱]لا یجوز الجمع بین امراتین لو کانت احداهما ذکراً لایجوز له ان تتزوج بالاخریٰ. (خلاصة الفتاوی/ ۲/ ۷/ طبع کوئته). (قوله وبین امراتین ایة فرضت ذکراً حرم النکاح) ای حرم الجمع بین امرأتین اذا کانتا بحیث لو قدرت احدهما ذکراً حرم النکاح بینهما ایتهما کانت المقدرة ذکراً کالجمع بین المراة وعمتها، والمراة وخالتها، والجمع بین الام والبنت نسباً او رضاعاً لحدیث مسلم......الخ. (البحرالرائق/ ۳ / ۱۰۴/ فصل فی المحرمات/ طبع دار المعرفة)۔

۲] وقید بقوله "آیة فرضت" لانه لو جاز نکاح احداهما علی تقدیر مثل المرأة وبنت زوجها او امرأة ابنها فانه یجوز الجمع بینهم عند الائمة الاربعة وقد جمع عبدالله بن جعفر بین زوجه علی وبنته ولم ینکر علیه احد وبیانه انه لو فرضت بنت الزوج ذکراً بان کان ابن الزوج لم یجز له ان یتزوج بها، لانها موطؤة ابیه. ولو فرضت المرأة ذکراً لجاز له ان یتزوج ببنت الزوج لانها بنت رجل اجنبی.....الخ. (البحرالرائق/ ۳/ ۱۰۵/ کتاب النکاح، فصل فی المحرمات/ طبع دار المعرفة/ بیروت)۔

۳] قال تعالیٰ: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم". (النساء: ۲۴). ولی ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د میرنۍ مور د خاوند د لمسي سره رشته جائز ده

سوال: مونږ د خپلې خور واده د خپلې میرنۍ مور د لومړني خاوند د لمسي سره کولی شو؟ که وکتل شي نو په خپل منځ کې د دوی هیڅ رشته نشته. هسې ورته خلک ترور وایي. آیا دا نکاح جائز ده؟

جواب: هو جائز ده.[۱]

د میرنۍ مور د لور سره نکاح جائزه ده

سوال: د زید پلار دویم واده کړی، د زید دویمه مور د خپل ځان سره دویمه لور راوستې چې د هغې د لومړني خاوند شخه ده، د زید او نجلۍ تر منځ د وینې کومه رشته نشته، آیا زید ددې نجلۍ سره واده کولی شي؟

جواب: هو کولی یې شي.[۲]

د میرنۍ مور سکه خور سره نکاح جائز ده

سوال: مسئله دا ده چې زما واده د میرنۍ مور د سکه خور سره کیږي (چې په یو قسم سره زما د پلار ښینه کیږي) آیا دا واده جائز دی؟

جواب: جائزدی، په دې شرط چې د حراموالي کومه بله رشته نه وي.[۳]

د میرنۍ مور د ورور سره نکاح جائز ده

سوال: آیا نجلۍ د یو داسې کس سره شرعي نکاح کولی شي چې ددې نجلۍ د میرنۍ مور سکه ورور وي؟

جواب: د میرنۍ مور د ورور سره نکاح جائز ده. والله اعلم[۴]

...بقیه د تیرمخ] احکام القرآن للجصاص: قال عطاء: احل لکم ما وراء ذوات المحارم من اقاربکم. (احکام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹/ طبع سهیل اکیدمی)۔

۱] ایضاً.)۔

۲] قالوا: لا بأس ان یتزوج الرجل مرء ویتزوج ابنه امها او بنتها لانه لا مانع وقد تزوج محمد بن الحنفية امرأة وزوج ابنه بنتها. (البحرالرانق/ ۳، ۱۰۵، کتاب النکاح/ فصل فی المحرمات، ایضاً: فتح القدیر/ ۲/ ۳٦٤/ فصل فی المحرمات/ طبع دار صادر، بیروت)۔

۳] وقد قدمنا قریباً انه لا بأس ان یتزوج الرجل امراة، ویتزوج ابنه امها او بنتها لانه لا مانع، وقد تزوج محمد بن الحنفية امراة وزوج ابنه بنتها. (فتح القدیر/ ۲ ۳٦٤/ طبع دار صادر/ بیروت، ایضاً: البحرالرائق/ ۳/ ۱۰۵/ طبع دارالمعرفة/ بیروت)۔

٤] قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم". (النساء: ۲٤). قال عطاء: ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د ورور د میرنۍ لور سره نکاح جائز ده

سوال: د منیر نکاح د داسې کونډې ښځې سره وشوه چې د خپل زوړ (خدای ښښلي) خاوند نه یې یوه لور له ځانه سره راوستې ده، آیا د قرآن او سنتو په رڼا کې د منیر سکه وړوکي ورور سره ددې نجلۍ نکاح کیدی شي؟

جواب: هو کیدی شي[۱]

د خورد میرنۍ لور سره نکاح کول

سوال: زما د تره زوی دی، د هغه واده د نن نه اتلس کاله مخکې د یوې ښځې سره شوی، د هغوی دوه بچي دي. تقریبا اته کاله پس زما د تره د زوی ښځه وفات شوه، د هغې نه وروسته هغه زما د خور سره واده وکړ، هغه وخت د هغه لویې لور عمر یې تقریبا دیارلس کاله ؤ او وړوکي لور عمر یې د نهو کالو ؤ، اوس دا حال دی چې د مشرې لور عمر یې تقریبا نولس کاله دی او زه د هغې سره د واده ارزو لرم؛ مګر ځینې خپلوان وایي چې دا واده حرام دی. په داسې حال کې چې دواړه لورګانې د خپلې نیا سره اوسیږي او هغوی زما د خور سره زیات تعلقات هم نه دي ساتلي، زما عمر تقریبا دوه ویشت کاله دی او زما ټوله کورنۍ او زما خور او د نجلۍ پلار هم خوښ دي او نجلۍ هم.

جواب: ددې نجلۍ سره ستا نکاح جائز ده.[۲]

د میرني پلار د زوی د خوابنې سره نکاح جائز ده

سوال: څو ورځې وړاندې د پنجاب د یو کلي نه زما د ملګري یو خط راغلو چې په هغې کې هغه ویلي دي: په کلي کې یوه داسې نکاح کېدونکې ده چې د کلي زیاتره خلک یې د قبلولو نه انکار کوي، د زید پلار وفات شو؛ نو د هغه مور دویمه نکاح وکړه، په دغه وخت کې یې د مور یو ماشوم بچی هم پیدا شو، څه ورځې پس زید د کومې کونډې د لور سره واده وکړو، نزدې د زید مذکوره میرني پلار د زید د خوابنې سره نکاح کوونکی دی، تاسو دا ووایئ چې آیا دا نکاح په شریعت کې جائز ده یا ناجائز؟ ممکنه ده چې د کلي دا سړي چې د دهقانانو څخه دي، ستاسو ځواب واوري او څه ګټه ترې واخلي او که ګناه کولو ته اماده وي؛ نو د هغې

...بقیه د تیرمخ] احل لکم ماوراء ذوات المحارم من اقاربکم. (احکام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹)_

[۱] قال تعالی: حرمت علیکم امهاتکم.........واحل لکم ما وراء ذالکم. ای: ما عدا من ذکرن من المحارم، هن لکم حلال، قاله عطاء وغیره. (تفسیر ابن کثیر/ ۲/ ۲۳۰/ سورة النساء/ ۲٤، طبع مکتبه رشیدیه کوئته، ایضاً: احکام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹)_

[۲] ایضاً.)_

نه به څان وساتي.

جواب: د زيد د ميرني پلار نكاح د زيد د خوابنې سره جائز ده [۱]

د يتيم هلک سره د خپلې لور نكاح كولو نه پس د هغه د مور سره پخپله او د هغه د خور سره د خپل زوى نكاح جائز ده

سوال: يو سړي د يو يتيم هلک سره د خپلې لور نكاح وكړه بيا د هغه هلک د مور سره يې خپله نكاح وكړه او د هلک د خور سره يې د خپل بل زوى نكاح وكړه دا نكاح څنګه ده؟

جواب: صحيح ده، په دې كې تا ته ولې سوال پيدا شو؟ [۲]

د پلار او زوى د دوه سكه خويندو سره نكاح جائز ده

سوال: زيد د هندې سره واده وكړ چې د هغې نه درې بچي سليمه، نسيمه او عابد پيدا شو، وروسته هنده مړه شوه؛ نو زيد د سلمى سره دويم واده وكړ، په دې وخت كې د زيد زوى عابد هم ځوان شوى ؤ. د هغه د رشتې لپاره هغوى په لټه كې وو؛ نو د سلمى د خور سره د زيد د زوى عابد واده وشو. هم دغه راز سلمى او طاهره دوه سكه خورګانې د زيد او عابد سكه پلار او زوى په كور كې ښځې جوړې شوې، په دې صورت كې د دوى د اولاد تر منځ كومه رشته ده؟

جواب: د پلار او زوى نكاح د دوه سكه خويندو سره صحيح ده، مګر د پلار او زوى د اولاد په منځ كې رشته نه شي پاتې كېداى. [۳]

د باجه (سانډو) سره نكاح جائز ده

سوال: كه كومه ښځه د باجه (سانډو) سره واده وكړي؛ نو د شريعت له مخې دا كار څنګه

---

[۱] قال تعالى: حرمت عليكم امهاتكم.........واحل لكم ما ورآء ذالكم. اى: ما عدا من ذكرن من المحارم، هن لكم حلال، قاله عطاء وغيره. (تفسير ابن كثير/ ۲/ ۲۳۰/ سورة النساء/ ۲٤، طبع مكتبه رشيديه كوئته، ايضاً: احكام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹/ سهيل اكيدمى لاهور). وفى الفتاوى الشامية: ج:۳/ ۳۱). باب المحرمات: قال الخير الرملى: ولا تحرم بنت زوج الام........ولا ام زوجته الابن ولا بنتها، ولا زوجة الربيب ولا زوجة الراب.)_

[۲] وقد قدمنا قريباً انه لا بأس ان يتزوج الرجل امراة، ويتزوج ابنه امها او بنتها لانه لا مانع، وقد تزوج محمد بن الحنفية امراة وزوج ابنه بنتها. (فتح القدير/ ۲/ ۳٦٤/ طبع دار صادر/ بيروت، ايضاً: البحرالرائق/ ۳/ ۱۰۵/ طبع دارالمعرفة/ بيروت)_

[۳] اسباب التحريم انواع: قرابة، مصاهرة........(قوله قرابة) فتحرم بنات الاخوة والاخوات وبنات اولاد الاخوة والاخوات ان نزلن وفروع اجداده وجداته ببطن واحد فلهٰذا تحرم العمات. (ردالمحتار، فصل فى المحرمات/ ۳/ ۲۸)_

دی؟ جائز دی که د شرم باعث؟ همدا راز د داسې خلکو سره ملاوېدل جائز دي که نه؟ خبر راکړئ چې د شریعت په نظر کې دا نکاح صحیح شوې که نه؟

جواب: باجه که د ښځې نامحرم وي؛ نو د هغه سره نکاح کول جائز او صحیح دي او په دې کې څه د شرم خبره هم نشته، نه د هغه خلکو سره د دوستی پرهېښودلو څه وجه شته [۱]

د خورد خاوند د سکه وروړ د لور سره نکاح جائز ده

سوال: آیا زما د خور د خاوند د سکه وروړ د لور سره رشته جائز ده؟

جواب: جائز ده.[۲]

د مشر لېور سره نکاح جائز ده

سوال: آیا د مشر لېور سره نکاح جائز ده؟

جواب: که خپل خاوند طلاق ورکړی وي یا هغه مړ شوی وي؛ نو د عدت پوره کولو وروسته د هغه د مشر ورور سره نکاح جائز ده.[۳]

د دوه سکه وروڼو د دوه سکه خویندو د اولادونو په منځ کې رشته

سوال: زید او بکر دواړو وروڼو ته دوه سکه خورګانې واده شوي دي، د زید هلک دی او د بکر لور ده. د بکر په ذهن کې لري چې زید دده د لور رشته خپ زوی ته غواړي، د زید وینا ده چې دوه سکه وروڼو ته دوه سکه خورګانې واده شوي دي؛ نو موږ ویلي دي او د بزرګانو نه مو اوریدلي چې دوی ته د خپلو بچو ودونه په خپل منځ کې کول نه دي پکار، ځکه چې د دوی اولاد (الله دي نه کړي) بیا سم نه پیدا کیږي. زموږ مذهب په دې اړه څه دی؟

جواب: شرعي طریقې سره دا خبره بالکل غلطه ده.

د زوی نیولو شرعي حکم

سوال: د زید اولاد نشته. د محمود نه یې لور په لورتوب واخیستل. زید د محمود سره هیڅ

---

[۱] واما بنت زوجة ابیه او ابنته فحلال......وفی الشامیة: قال الخیر الرملی: ولا تحرم بنت زوج الام ولا امه، ولا ام زوجة الاب ولا بنتها. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ ۳/ ۳۱/ کتاب النکاح، باب فی المحرمات/ طبع سعید، ایضاً: فتاویٰ عالمگیری/ ۱/ ۲۷۷/ کتاب النکاح، الفصل الثالث/ طبع رشیدیه)۔

[۲] قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم". (النساء: ۲٤). وفی الجصاص: قال عطاء: احل لکم ماوراء ذوات المحارم من اقاربکم. (احکام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹/ طبع سهیل اکیدمی)۔

[۳] ایضاً پورتنی حواله، لا یجوز لرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذٰلک المعتدة سواء کانت العدة عن طلاق او وفاة. (فتاویٰ هندیة/ ۱/ ۲۸۰/ کتاب النکاح/ الباب الثالث/ القسم السادس/ طبع رشیدیه)۔

خپلوي نه لري، اوس د زید سره هغه نجلۍ ځوانه شوې ده. تاسو دا ووایئ چې هغه نجلۍ د زید لپاره محرم ده او که نامحرمه؟ هغه ددې نجلۍ سره واده کولی شي او که نه؟

جواب: شریعت کې په نوم د اولاد نیولو هیڅ حقیقت نشته. هغه نجلۍ دده لپاره نامحرمه ده او ددې سره یې نکاح هم جائز ده.[۱]

د لور د خاوند د لور سره نکاح کول

سوال: زمونږ د کارخانې یو موټروان دی چې عبدالله نومیږي، د خپلې سکه لور نکاح یې د یو سړي سره کړې وه. ددې سړي له مخکې یوه لور وه، دغه راز عبدالله ددې نجلۍ نیکه شو اوس عبدالله ددې نجلۍ یعنې د خپلې میرنۍ لمسۍ د لور سره واده کول غواړي، حال دا چې د دواړو په عمرونو کې هم پوره فرق دی، عبدالله یو روغ، صحتمند او شتمن سړی دی، هغه وایي چې دغه نجلۍ زما سکه لمسۍ نه ده؛ نو ځکه زه ددې سره واده کولی شم.

جواب: نکاح خو یې جائز ده[۲]، لیکن مناسب ده او که نه؟ دا دواړه طرف ته ډلې پیژني.

په لور توب سره د ساتل شوي نجلۍ په نکاح اخیستل

سوال: که یو سړی کومه نجلۍ راولي او تربیه یې کړي؛ نو ددې نجلۍ د نکاح په اړه ددې سړي د سکه زوی سره څه حکم وي؟ او که هغه نامحرمه وي؛ نو دده سره یې نکاح جائز کېدل پکار دي، دغه راز په یو کورکې یو ځای اوسېدل هم مناسب نه دي؟

جواب: دا نجلۍ ددې سړي د اولاد لپاره نامحرمه ده او دده د زامنو سره ددې نکاح صحیح ده[۳]، لهذا د هغوی په بې پردګۍ کې یو ځای اوسېدل هم ناجائز دي.[۴]

۱] قال الله تعالى: ''وَمَاجَعَلَ أَدْعِيَاءكُمْ أَبْنَاءكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُم بِأَفْوَاهِكُمْ''.(الاحزاب:٤) وقال تعالى: ''فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَراً زَوَّجْنَاكَهَا لِكَي لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ''، الآية. قد حوت هذه الآية احكاماً....والثانى ان البنوة من جهة التبنى لا تمنع جواز النكاح. (احكام القرآن للجصاص/ ٣/ ٣٦١/ سورة الاحزاب/ قبيل باب الطلاق/ قبل النكاح/ طبع سهيل اكيدمى)۔

۲]قال تعالى: ''واحل لكم ما ورآء ذلكم'' اى ما عدا من ذكرن من المحارم، هن حلال لكم، قاله عطاء وغيره. (تفسير ابن كثير / ٢/ ٢٣٠/ سورة النساء: ٢٤/ طبع رشيديه كوئته)۔

۳]ايضا پورتنى دوه حوالى)۔

٤] قال تعالى: ''وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ......الخ''. (النور: ٣١)۔

د ښځې د لومړي خاوند د اولاد سره د خاوند د لومړنۍ ښځې د اولاد نکاح جائز ده

سوال: د زيد مور- پلار د زيد واده د تره لور سره کول غواړي. حال دا دی چې د تره د مړينې وروسته د زيد پلار د خپلې ورېنداري سره نکاح وکړه، اوس هغه هم وفات شوې ده. د هغې يوه لور ده، د زيد پلار غواړي چې اوس هغه د خپل زوی واده ددې نجلۍ سره وکړي. مولانا صاحب! مهرباني وکړئ چې آيا دا واده کيږي يا نه؟

جواب: د تره د لور سره نکاح جائز ده[۱]، اګر که د نجلۍ مور د هلک د پلار په نکاح کې وي. د ښځې د لومړني خاوند د اولاد سره د خاوند د لومړنۍ ښځې اولاد نکاح جائز ده.

د لومړنۍ ښځې د لور نکاح د دويمې ښځې د ورور سره جائز ده

سوال: ديو سړي د لومړنۍ ښځې نه يوه لور ده او د دويمې ښځې يو ورور دی او هغوی دواړه بالغان دي آيا ددې دواړو نکاح جائز ده؟

جواب: جائز ده.[۲]

د مخکني اولاد په خپل منځ کې نکاح جائز ده

سوال: زيد چې ښځه يې مړه شوې يو اولاد (هلک يا نجلۍ) لري، هم دغه راز يوه کونډه ده او ددې هم يو اولاد (هلک يا نجلۍ) لري، دا دواړه زيد او کونډه واده کوي، اوس سوال دا دی چې آيا ددې دواړو چې کوم سابقه اولاد دي د هغوی دواړو په خپل منځ کې د بلوغ وروسته واده جائز دی يا نه؟

جواب: د سابقه اولاد په خپل منځ کې واده جائز دی.[۳]

د مور د تره لور سره واده جائز دی

سوال: آيا يو سړی د خپلې مور د تره لور سره واده کولی شي، د ځينو خلکو دا خيال دی چې نه کيږي، ځکه چې يو لحاظ سره نجلۍ د هلک ترور جوړيږي او ځيني بيا وايي چې دا واده

۱]وتحل بنات العمات والاعمام. (ردالمحتار/ كتاب النكاح/ فصل فى المحرمات/ ۳/ ۲۸/ طبع سعيد)۔

۲] قال تعالى: "واحل لكم ما ورآء ذٰلكم". (النساء: ۲۴). وفى الجصاص: قال عطاء: احل لكم ماوراء ذوات المحارم من اقاربكم.......قال ابوبكر: هو عام فيما عدا المحرمات فى الآية وفى السنة النبى صلى الله عليه وسلم. (احكام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹/ سورة النساء: ۲۴/ طبع سهيل اكيدمى)۔

۳] ايضاً.)۔

کیږي. ځکه چې نجلۍ یې ترور نه کیږي.

جواب: که چېرته کومه بله وجه نه وي: نو د مور د تره لور سره نکاح جائز ده[۱]. هغه د رشتې ترور ده حقیقي ترور نه ده

د مور د خاله (ترور) اولاد سره واده

سوال: د خپلې مور د سکه ترور د لور یا زوی سره واده جائز دی از که نه؟

جواب: د مور د ترور د لور سره یا یې د زوی سره نکاح جائز ده.[۲]

د رشتې د خورځې سره واده جائز دی

سوال: زما کورنۍ غواړي ماته واده وکړي، د کومې نجلۍ سره چې واده کوي هغه زما د تره د لور لور ده. د کومې نجلۍ چې سره زما واده کیږي هغه په رشته کې زما خورځه راځي. آیا دا واده کیدی شي؟

جواب: څنګه چې د تره د لور نکاح جائز ده، هم دغه راز د دغه نجلۍ د لور (یعنې د تره د لمسۍ) سره هم نکاح جائز ده.[۳]

د ترور د لمسو سره نکاح جائز ده

سوال: زما سکه ترور ده. د هغې سکه لمسي دي ، هغه زما خوریان شول: نو آیا د ترور او خوریي نکاح جائز ده؟

جواب: د ترور لمسي ته د رشتې خوریان ویل کیږي سکه خوریي نه وي، دده سره نکاح جائز ده[۴] یا داسې ځان پوه کړئ چې څنګه ترور د هلک سره نکاح کیدی شي[۵] هم دغه راز د ترور د لمسي سره کیدی شي.

د ترور د خورزې سره واده

سوال: زما کورنۍ چې په کوم ځای کې ماته واده کول غواړي، د هغې نجلۍ پلار زما د پلار

۱]ایضاً.)_

۲]وتحل بنات العمات والاعمام. (ردالمحتار/ کتاب النکاح/ فصل فی المحرمات/ ۳/ ۲۸/ طبع سعید)_

۳] وتحل بنات العمات والاعمام. (ردالمحتار/ ۳/ ۲۸/ فصل فی المحرمات)_

۴]قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم".......قال عطاء: احل لکم ماوراء ذوات المحارم من اقاربکم.......قال ابوبکر: هو عام فیما عدا المحرمات فی الآیة وفی السنة النبی صلی الله علیه وسلم. (احکام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹/ سورة النساء: ۲۴/ طبع سهیل اکیدمی)_

۵]وتحل بنات العمات والاعمام. (ردالمحتار/ ۳/ ۲۸)_

د تره زوی دی او د هغې مور زما سکه ترور ده آیا دا واده کیږي؟ او دا واده جائز دی یا نه؟
جواب: بې شکه جائز دی [۱]

د مور د ماما خور سره نکاح جائز ده

سوال: زما کورنۍ چې ماته په کوم ځای کې واده کول غواړي هغه نجلۍ زما د پلار د ماما خور ده؛ نو دغه راز هغه په رشته کې زما ترور شوه، آیا د داسې ترور سره نکاح کیږي؟
جواب: صرف سکه ترور سره یا رضاعي ترور سره نکاح نه کیږي، [۲] باقي په رشتو کې د داسې ترور سره نکاح صحیح ده. [۳]

د وراره او خوریي د کونډې یا مطلقې سره نکاح جائز ده

سوال: څنګه چې وراره یا خوریی د خپل تره یا ماما کونډې یا مطلقې سره نکاح کولی شي، هم دغه راز تره یا ماما هم د خپل وراره یا خوریي د کونډې یا مطلقې سره نکاح کولی شي یا نه؟
جواب: هو! کولی شي؛ خو په دې شرط چې د حراموالي کومه بله رشته نه وي. [۴]

د وراره د کونډې سره نکاح جائز ده

سوال: د زید نکاح د تره د ښځې سره خو د تره د مرګ وروسته جائز ده، آیا د زید د مړینې وروسته تره د ده د ښځې سره نکاح کولی شي یا نه؟ که چېرته داسې وي؛ نو د زید د تره نکاح د زید د ښځې سره ګویا د خپلې انګور سره نکاح کول دي.
جواب: د وراره د کونډې سره نکاح جائز ده[۵]، مګر د زوی د کونډې سره نکاح ناجائز ده[۶]،

۱] ایضاً.

۲] قال تعالى: "حرمت عليكم امهٰتكم وبناتكم واخواتكم وعمٰتكم وخٰلٰتكم". (النساء: ۲۳). وفى شرح مختصر الطحاوى/ ٤/ ۳۲۹. كتاب النكاح: والرضاع مثل النسب فى ذالک لقول النبى صلى الله عليه وسلم: يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب. تحرم العمات والخالات.......(قوله رضاع) فيحرم به ما يحرم من النسب. (ردالمحتار/ ۳/ ۲۸/ فصل فى المحرمات).

۳] قال تعالى: "واحل لكم ما ورآء ذٰلكم".......قال عطاء: احل لكم ماوراء ذوات المحارم من اقاربكم.......الخ. (احكام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹/ طبع سهيل اكيدمى).

٤] قال تعالى: "واحل لكم ما ورآء ذٰلكم" اى ما عدا من ذكرن من المحارم، هن حلال لكم، قاله عطاء وغيره. (تفسير ابن كثير ۲/ ۲۳۰/ سورة النساء: ۲٤/ طبع رشيديه كوئته، ايضاً: تفسير نسفى/ ۱/ ۳٤۸/ طبع بيروت).

٥] ايضاً.

٦] حرم تزوجه امه........وامرة ابيه وابنه وان بعدا........واما حليلة الابن...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

ځکه چې په دې صورت کې دده د ورور ښځه د زوی کونډه ده؛ نو ځکه دده ددې ورور د کونډې سره نکاح صحيح کيږي نه

د ښځې د مرګ وروسته د ښينې سره واده کول

سوال: آيا دا خبره صحيح ده چې د ښينې سره د واده کولو لپاره دا ضروري ده چې د ښځې د مړينې وروسته درې مياشتې او شل ورځې پس وکړي ورنه حرامه به وي؟

جواب: نه. په خاوند باندې داسې پابندي نشته، البته ښځې ته د طلاق ورکولو په صورت کې تر څو پورې چې د هغې عدت تېر شوی نه وي د هغې د خور سره نکاح نه کيږي.[۱] د ښځې د مړينې نه وروسته سمدستي نکاح ختميږي، ځکه خو هم د ښځې د مړينې وروسته کله چې هم سړی وغواړي د ښينې سره نکاح کولی شي، ځکه چې په ديکښې د څه مدت پابندي شرط نه ده.[۲]

د مړې شوې ښځې د ترور سره نکاح جائز ده

سوال: زما د ملګري ښځه مړه شوې ده او د هغه کورنۍ دده واده د ښځې د ترور سره کول غواړي، آيا دا جائز ده چې ترور د خواښې سره واده وکړي.

جواب: د ښځې د مړينې وروسته د ښځې د ترور سره د هغې د ترور او د هغې د خور سره نکاح کول جائز دي.[۳]

د ورور د لومړنۍ ښځې اولاد سره واده کېدی شي

سوال: زما وروردیوې کونډې ښځې سره نکاح وکړه، ددغه ښځې سره يوه لور دمخکني خاوند څخه وه، اوس زما د ورور هم ماشاءالله دوه بچې دي، ښکاره ده چې دواړه بچي خو زما سکه وريرونه دي او ددې رشتې نه وړاندې د لومړني خاوند نه چې کومه لور ده هغه هم زما وريره

...بقيه د تيرمخ] فبقوله تعالى: وحلئل ابنآئكم الذين من اصلبكم....الخ. (البحرالرائق مع الكنــز/ ۳/ ۹۹ تا ۱۰۱/ طبع دار المعرفة/ بيروت). وتحرم موطوات آباء ه واجداده (الى قوله) وموطوات ابنائه وابناء اولاده. (ردالمحتار، فصل فى المحرمات/ ۳/ ۲۸)۔

۱]ولا يجوز ان يتزوج اخت معتدته سواء كانت العدة عن طلاق رجعى او بائن او ثلاث.....الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۲۸۹/ كتاب النكاح/ مطلب وقت الدخول بالصغيرة)۔

۲] اذا ماتت امراة الرجل فتزوج باختها بعد يوم جاز. (خلاصة الفتاوى/ ۲/ ۷)۔

۳] قال تعالى: واحل لكم ما ورآء ذلكم....قال عطاء: احل لكم ماوراء ذوات المحارممن اقاربكم....قال ابوبكر: هو عام فيما عدا المحرمات فى الآية وفى السنة النبى صلى الله عليه وسلم. (احكام القرآن للجصاص/ ۲/ ۱۳۹/ سورة النساء: ۲٤/ طبع سهيل اكيدمى)۔

شوه، مسئله دا ده چې آیا زه د هغه نجلۍ سره چې د لومړني خاوند څخه ده واده کولی شم؟
جواب: ستا د ورور د ښځې د لومړني خاوند اولاد سره ستا په واده کې کوم شرعي مانع نشته.[۱]

د نیا د خورزې سره واده کول جائز دي

سوال: آیا د نیا د وړوکي خور د لور سره نکاح جائز ده؟
جواب: جائز ده.[۲]

د پلار د ترور لور سره نکاح جائز ده

سوال: زما د پلار د سکه ترور د لور سره زما نکاح جائز ده که ناجائز؟ ماته اوس سمدستي وواییٔ دا به ستاسو مهرباني وي او زما د نجلۍ سره څه رشته جوړیږي؟
جواب: د پلار د ترور لور سره نکاح جائز ده.[۳]

د رشتې والا ترور سره نکاح جائز ده

سوال: بشیر او نصیر دواړه ورونه دي، زید د بشیر دلمسي واده د نصیر د لور هندې سره کول غواړي چې په یوه رشتې سره د زید ترور جوړیږي، زمونږ د کورنۍ د ډېرو خلکو اعتراض دی چې دا واده ناجائز دی، حال دا چې د رضاعت هم څه رشته نشته.
جواب: د یو ورور د لمسي د بل ورور د لور سره نکاح کېدی شي، دا رشته شرعا صحیح ده، هیڅ بدي په دیکښې نشته[۴]، نجلۍ د هلک سکه ترور نه ده.

د ترور د مرګ وروسته د خورزې سره نکاح جائز ده

سوال: زما د خور د مرګ دوه کاله وشو هغه بې اولاده وه، آیا دا جائز دي چې زه د خپلې لور نکاح د خپل خور د خاوند سره وکړم؟
جواب: جائز دي.[۵]

۱] ایضاً.)_
۲] ایضاً.)_
۳] اذا ماتت امراة الرجل فتزوج باختها بعد یوم جاز. (خلاصة الفتاوی/ ۲/ ۷/ کتاب النکاح/ الفصل الثانی/ فیمن یکون محلاً للنکاح وفیما لا یکون، طبع رشیدیه کوئته)_
۴]قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم" ای ما عدا من ذکرن من المحارم، هن حلال لکم، قاله عطاء وغیره. (تفسیرابن کثیر۲/ ۲۳۰/ سورة النساء:۲۴/ طبع رشیدیه کوئته، ایضاً: تفسیر مدارک ۱/ ۳۴۸طبع دار ابن کثیر)
۵] ایضاً)_

د کونډې تره ښځې سره نکاح جائز ده

سوال: یو سړي کافره ښځه مسلمانه کړه بیا یې له هغې سره واده وکړ. ددې ښځې نه د هغه سړي څلور زامن پیدا شوي بیا هغه سړی وفات شو. ددغه سړي د مرګ وروسته د ماشومانو د اینډې په خاطر ددې سړي سکه وراره ددې ښځې سره واده وکړو. آیا د اسلام په نظر کې داسې واده جائز دی؟

جواب: د خاوند وراره د ښځې محرم نه دی، دده سره نکاح جائز ده[1]، په دې شرط چې څه بله رشته د حراموالي نه وي.

د مشر تره د لور د زوی سره نکاح جائز ده

سوال: د مشر تره د لور د زوی سره واده کېدی شي؟ ځکه چې هغه هلک په رشته کې د نجلۍ خوریی راځي. ددې دواړو رشته د ترور او خوریي شوه.

جواب: د مشر تره د لور د زوی سره نکاح جائز ده[2] هغه سکه خوریی نه دی.

د مشر تره د لور سره نکاح جائز ده

سوال: زما مور او پلار زما واده زما د تره د لور سره کول غواړي، زه ستاسو نه دا معلومول غواړم چې آیا په اسلام کې د مشر تره د لور سره نکاح جائز ده او که نه؟

جواب: جائز ده.[3]

د مشر تره د زوی د لور سره نکاح جائز ده

سوال: آیا د مشر تره د زوی د لور سره واده کېدی شي؟

جواب: جائز ده.[4]

د تره د لمسۍ سره نکاح جائز ده

سوال: د یو نیکه اولاد . اووه ورونو په خپل منځ کې د هلکانو او جینکو ترمنځ نکاح وکړه،

۱] ایضاً_

۲] وتحل بنات العمات والاعمام. (ردالمحتار، فصل فی المحرمات/ ۳/ ۲۸)_

۳] ایضاً پورتنی حواله)_

۴] قال تعالی: ''واحل لکم ما ورآء ذلکم'' ای ما عدا من ذکرن من المحارم، هن حلال لکم، قاله عطاء وغیره. (تفسیرابن کثیر۲/ ۲۳۰/ سورة النساء:۲٤/طبع رشیدیه کوئته، ایضاً: تفسیرمدارک ۱/ ۳٤۸/ طبع دار ابن کثیر)

د مسلم کوروالایې د تره لور ده. اوس مسلم د خپل ورور کوزده د خپل اوخي د لور سره کول غواړي، حال دا چې د تره لور د مسلم ښخه ده. د هغې ورور د مسلم اوخي شو. د هغه د لور سره د خپل ورور نکاح څنګه ده؟ حال دا چې دا فروعي رشته کې سره تره او وراره جوړيږي. ليکن دا رشته حقيقي نه ده. يوازې د پلار له طرفه رشته ده. آيا د دوی په خپل منځ کې نکاح جائز ده که نه؟

جواب: د تره د زوی د لور سره د مسلم د ورور نکاح جائز ده. (يعني د تره د لمسي سره نکاح درسته ده) د مسلم د تره د زوی لور د مسلم حقيقي وريره نه ده. بلکې د رشتې وريره ده. د حقيقي وريرې سره نکاح منع ده[1] د رشتې د وريرې سره نکاح منع نه ده.[2]

د پلار د ماما د زوی د لمسۍ سره واده کول جائز دي

سوال: د پلار د ماما د زوی د لور سره واده کول جائز دي يا نه؟ ځکه چې د رشتې په حساب سره دا زما خورځه شوه

جواب: د پلار د ماما د زوی د لمسۍ سره نکاح جائز ده.[3]

د رشتې د وراره سره واده جائز دی

سوال: زما د ترور د زوی د زوی سره نکاح جائز ده که ناجائز؟ حال دا چې ماته د هغه سره په واده کولو کې شرم راځي.

جواب: د ترور د زوی د زوی سره نکاح جائز ده.[4]

د پلار د تره د لور سره نکاح جائز ده

سوال: د پلار د تره د لور سره نکاح جائز ده که نه؟

جواب: د خپل پلار د تره د لور سره نکاح جائز ده.[5]

---

[1] قال تعالی: "حرمت عليکم امهٰتکم وبناتکم واخواتکم وعمّٰتکم وخٰلٰتکم وبنات الأخ". الآية (النساء: ۲۳). فتحرم بنات الاخوة والاخوات. (ردالمحتار، فصل فی المحرمات/ ۳/ ۲۸)۔

[2] ايضاً پورتنۍ حواله (قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم" ای ما عدا من ذکرن من المحارم...الخ)۔

[3] قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم"......قال عطاء: احل لکم ماوراء ذوات المحارم من اقاربکم. (احکام القرآن للجصاص/ ۲. ۱۳۹/ سورة النساء: ۲۴/ طبع سهيل اکيدمی، ايضاً: تفسير ابن کثير، ۲/ ۲۳۰/ سورة النساء/ طبع رشيديه کوئته، ايضا: تفسير مدارک للامام النسفی/ ۱/ ۳۴۸/ طبع دار ابن کثير، بيروت/ لبنان)۔

[4] وتحل بنات العمات والاعمام. (ردالمحتار، فصل فی المحرمات/ ۳/ ۲۸)۔

[5] ايضاً پورتنۍ حواله (قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم"......قال عطاء:...الخ)۔

د پلار د ماما د لور سره نکاح جائز ده

سوال: د پلار د ماما د لور سره واده کېدی شي؟

جواب: که چېرته بله رشته د حراموالي نه وي؛ نو جائز ده.[۱]

د ماما د لور په موجودګئ کې د ترور د لور سره نکاح

سوال: د یو سړي د ماما لور د مخکې نه دده په نکاح کې وه آیا هغه د لومړی ښځې په موجودګئ کې د مجبورئ په وجه دویم واده د خپلې ترور د لور سره کولی شي او که نه؟

جواب: د ماما د لور په موجودګئ کې د ترور د لور سره واده صحیح دی.[۲]

د زوی د ښینې سره نکاح کول

سوال: زمونږ په ښار کې یو عزتمند سړي خپل واده د خپل زوی د ښینې سره کړی دی، ددې سړي د دویم زوی په کور کې د نجلۍ ترور ده، یعنې د واده نه مخکې د خپل زوی د ښځې خسر ؤ او د چا سره چې یې واده وکړو ددې د مور خاوند ؤ، آیا دا نکاح صحیح ده یا نه؟

جواب: که هلک د لومړنۍ ښځې څخه وي؛ نو د دویمې ښځې د خور سره دده نکاح جائز ده او د نجلۍ د ترور سره د دویم زوی نکاح هم جائز ده.[۳]

د مامي د لور سره نکاح جائز ده

سوال: زما یوه کونډه مامي ده، د هغې څو لورګانې دي، ایا زما لپاره په هغو کې د هرې یوې سره واده کول جائز دي؟ که چېرته جائز وي؛ نو بیا دا ووایئ چې اوس زما مامي زما د ورور سره نکاح کړې ده؛ نو ددې په باره کې د قرآن او سنتو مطابق زما لپاره د هغې د لور سره واده کول جائز دی یا ناجائز؟ ځکه چې اوس زما مامي وایي: زه اوس ستا ورېنداره شوم؛ نو ځکه زه د خپلې لور واده تا ته نه درکوم، حال دا چې هغه نجلۍ زما ښځه ده؟

---

[۱] ایضاً پورتنۍ حواله (قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم"......قال عطاء:...الخ)۔

[۲] فلیحفظ هٰذا الاصل: وحرم الجمع (الی قوله) بین امرأتین ایتهما فرضت ذکراً لم تحل للاخریٰ. (شامی، کتاب النکاح، فصل فی المحرمات/ ۳/ ۳۸/ طبع ایچ ایم سعید، کراچی). حرم الجمع بین امرأتین اذا کانتا بحیث لو قدرت احدهما ذکراً حرم النکاح بینهما ایتها کانت المقدرة ذکراً. (البحرالرائق/۳ /۱۰۴/ کتاب النکاح/ وفصل فی المحرمات/ طبع دار المعرفة/ بیروت)۔

[۳] قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم" (سورة النساء: ۲۴). وفی تفسیر نسفی/ ۱/ ۳۴۸) تحت هٰذه الآیة: ای ما سوی المحرمات المذکورة.)۔

جواب: ستا د مامي هغه لور چې ستا د ماما اولاد دی د هغې سره ستا نکاح صحیح ده[۱]، دا مامي چې ستا د ورور په نکاح کې راغلې ستا په نکاح کې هیڅ فرق پرې نه راځي

د کونډې مامي سره نکاح جائز ده

سوال: آیا سعید د خپلې کونډې مامي سره نکاح کولی شي؟

جواب: که چېرته مامي غیر محرمه وي؛ نو نکاح کولی شي[۲]

د ماما د ښینې سره واده کول

سوال: زید غواړي چې دده واده د یوې نجلۍ سره وشي؛ خو د ټولو نه لوی مشکل دا دی چې هغه نجلۍ د زید د ماما ښینه ده. تاسو د قرآن او سنتو په رڼا کې ددې ځواب ولیکئ چې آیا ددې دواړو په خپل منځ کې واده کېدی شي یا نه؟ دا خبره په نظر کې یاد ساته چې هغه نجلۍ د زید د ماما ښینه ده او د زید د مامي سکه خور ده.

جواب: واده خو د پلار د ښینې سره هم کېدی شي، که چېرته بل مانع نه وي. د ماما د ښینې سره ولې نه کیږي او په خپله د ماما د ښځې سره کېدی شي؛ نو ددې د خور سره به ولې نه کیږي؟[۳]

په خولې لور یا خور ویلو سره نکاح نه حرامیږي

سوال: که چېرته د کوم سړي لور یا خور نه وي او هغه په خولې څوک خور یا لور جوړه کړي؛ نو آیا شریعت ددې سره د نکاح کولو اجازه ورکوي؟

جواب: په خولې سره چا ته خور یا لور ویل ددې هیڅ کوم شرعي اعتبار نشته. شرعا هغه نامحرمه ښځه وي او د دغه سړي سره یې نکاح جائز ده.[۴]

کومې نجلۍ ته خور ویلو سره نکاح نه حرامیږي

سوال: که یو بالغ هلک ووایي چې تر څو پورې زما پلار زما لپاره نوی کور جوړ نه کړي تر

---

۱ اوتحل بنات العمات والاعمام والخالات والاخوال. (ردالمحتار، فصل فی المحرمات/ ۳/ ۲۸)۔

۲] قال تعالی: "واحل لکم ما ورآء ذٰلکم"(سورة النساء: ۲۴) ای ما عدا من ذکرن من المحارم، هن حلال لکم، قاله عطاء وغیره. (تفسیر ابن کثیر / ۲/ ۲۳۰/ طبع رشیدیه کوئته)۔

۳] ایضاً پورتنئ حواله۔

٤] قال تعالی: فلما قضٰی زید منها وطراً زوجنٰکها لکیلا یکون علی المؤمنین حرج فی ازواج ادعیائهم، الآیة. قد حوت هٰذه الآیة احکاماً.....الثانی: ان البنوة من جهة التبنی لا تمنع جواز النکاح. (احکام القرآن للجصاص/ ۳/ ۳۶۱/ سورة الاحزاب/ طبع سهیل اکیدمی)۔

هغه پورې په ما باندې ښځه خور ده. اوس دې هلک واده کړی دی؛ نو دا ښځه به دده ښځه وي یا نه؟

جواب: د نکاح نه وړاندې کومې نجلۍ ته په خور ویلو سره هغه نه حرامیږي؛ نو ځکه نکاح صحیح ده او دا نجلۍ دده ښځه ده او ښځې ته خور ویلو سره هم ښځه نه حرامیږي.[۱]

ورور یا خور ویلو سره نامحرم ورور خور نه خپلیږي

سوال: زما د ماما لور چې ما خپل ورور ګڼي او زه هم هغې ته د خپلې خور نه په کمه نه ګورم. څو ورځې وړاندې زمونږ د رشتې په باره کې خبره وشوه؛ نو ځکه د قرآن مجید په رڼا سره حواله راکړه چې دا رشته زمونږ لپاره څنګه ده؟ حال دا چې مونږ دواړه تر اوسه پورې د ورور او خور په څېر د سر ځل سره ملاوېدو.

جواب: د ماما لور، ترور لور (چې د مور له طرفه وي (د ترور لور) چې د پلار له طرفه وي) د تره لور سره نکاح جائز ده[۲] او نامحرم ورور خور جوړولو سره په رښتیا ورور خور نه جوړیږي.[۳]

ترور یا خور ویلو سره نکاح نه حرامیږي

سوال: زه حیدرآباد کې اوسېږم، زمونږ په ګاونډیانو کې یو سړی دی د هغه د ښځې سره د دوستانې په وجه د هغوی کور ته تلم راتلم، د هغوی بچو به ما ته ترور ویل او ما به هغوی ته وروڼه ویل؛ مګر هغوی ما ته شاید یو یا دوه ځله خور ویلې وي یا نه. څلور کاله مخکې د هغه ښځه وفات شوه. په داسې حال کې چې زما خاوند هم لس میاشتې وړاندې وفات شو، زما بچې نشته، عدت ختمیدو سره زما همسایه ته د نکاح پیغامونه شروع شو، که چېرته زه نکاح وکړم؛ نو جائز به وي یا نه؟

جواب: د بچیانو یې تا ته ترور ویلو سره یا ستا هغوی ته وروڼو ویلو سره نکاح نه ناجائز کیږي؛ نو ځکه ته کولی شې چې د هغه سړي سره نکاح وکړې.

۱] ولو قال لها: انت امی لا یکون مظاهراً وینبغی ان یکون مکروهاً ومثله ان یقول: یا ابنتی ویا اختی ونحوه. (فتاویٰ عالمگیری، الباب التاسع فی الظهار/ ۱/ ۵۰۷/ طبع رشیدیه)۔

۲] وتحل بنات العمات والاعمام والخالات والاخوال. (ردالمحتار، فصل فی المحرمات، ۳/ ۲۸)۔

۳] قال تعالی: فلما قضیٰ زید منها وطراً زوجنٰکها لکیلا یکون علی المؤمنین حرج فی ازواج ادعیائهم، الآیة. قد حوت هٰذه الآیة احکاماً.....الثانی: ان البنوة من جهة التبنی لا تمنع جواز النکاح. (احکام القرآن للجصاص/ ۳/ ۳۶۱/ سورة الاحزاب/ طبع سهیل اکیدمی)۔

د کوروالي پرته د منکوحې د لور سره نکاح

سوال: یو سړي د یوې کونډې ښځې سره نکاح وکړه. دواړه لا یوځای شوي نه وو چې دغه کونډه ښځه وفات شوه. اوس ددې کونډې یوه خوانه لور ده آیا هغه سړی چې د کونډې سره یې نکاح شوې وه، ددې نجلۍ سره نکاح کولی شي؟

جواب: کومې ښځې سره چې صرف نکاح شوې وي او د کوروالي وخت ورته نه وي پیدا شوی، ددې د طلاق یا مرګ وروسته د هغې د لور سره نکاح صحیح ده.

لقوله تعالی: فان لم تکونوا دخلتم بهن فلا جناح علیکم ،،(النساء: ۲۳)[۱]

[د کومو ښځو سره نکاح نه کیږي]

په پلارکې شریکې د خور زوی سره نکاح ناجائز ده

سوال: زما پلار لومړۍ واده وکړو، شپږ بچي یې پیدا شو. بیا یې لومړنۍ ښځې ته طلاق ورکړو. زما پلار د خپلې سکه ترور د لور سره واده وکړو. ددې نه یې هم شپږ بچي پیدا شو. بیا یې د لومړنۍ ښځې د لور واده د دویمې ښځې د ورور سره وکړو، اوس هغه زما ماما او مامي هم جوړیږي. میرنۍ خور او د خور خاوند هم. د هغوی یو زوی دی مونږ یو بل ډېر په مینه غواړو. مونږ د یو بل د خاله (ترور) زامن یو او ترور خوریان هم یو، آیا زمونږ دواړو په خپل منځ کې واده کېدی شي؟

جواب: ستا میرنۍ خور چې په رشته کې ستا مامي هم کیږي د هغې د زوی سره ستا عقد نه کیږي. ځکه چې دا هلک ستا خوریی دی او د ترور خوریي عقد نه کیږي.[۲]

د خورزې نکاح باطله ده

سوال: زما یو خور ملګری دی، هغه د خپلې حقیقي خورزې سره واده کړی دی، دا داسې چې زما ملګری سلیم او د هغه خور شاهده د یو مور اولاد دي. د شاهدې پلار مړ شوی ؤ؛ نو د شاهدې مور نکاح وکړه، د هغې نه سلیم پیدا شو شاهدې او سلیم د یو مور شیدې څښلي

۱] وفي تفسیر المدارک تحت هٰذه الآیة: فلا حرج علیکم في ان تتزوجوا بناتهن اذا فارقتموهن، او متن. (تفسیر مدارک/ ۱/ ۳۴۷/ طبع دار ابن کثیر/ بیروت)۔

۲] قال تعالی: "حرمت علیکم امهٰتکم......وبنات الاخ وبنات الاخت" الآیة. (النساء: ۲۳) وفي الدرالمختار: اسباب التحریم انواع: قرابة، مصاهرة، رضاع.....الخ. وفي الشامیة: (قوله قرابة) کفروعه ......وفروع ابویه فتحرم بنات الاخوة والاخوات وبنات اولاد الاخوة والاخوات.....الخ.(ردالمحتارعلی الدرالمختار/فصل في المحرمات۳/ ۲۸)

دي. د يو مور نه پيدا شوي دي، په داسې حال کې چې پلاران يې جدا جدا دي. د شاهدې د واده نه پس نورا پيدا شوه او کله چې هغه خوانه شوه؛ نو سليم يې خوښ کړو. د سليم هم خوښه شوه او خپل ځان يې عاقل بالغ ښکاره کړ او واده يې وکړو. زما ملګرى راته وايي چې دا واده جائز دى، ځکه چې مونږ نکاح کړې ده. نکاح د هر چا سره جائز ده مونږ حرام نه دي کړې. حال دا چې شرعي لحاظ سره دا نکاح نه ده شوې. نورا وايي چې سليم ما ته طلاق راکړي: نو زه به جدا شم. سليم وايي چې نکاح نه ده شوې: نو طلاق څنګه دى؟ دا دي جدا شي او نکاح دي وکړي زه يې په زوره لږ وخت پاتې کوم. تاسو دا ووايئ چې آيا تر څو پورې چې هغه طلاق ونه ليکي: نو نورا واده نه شي کولى يا بغير د طلاقو نه د نورا نکاح به جائز وي. هغه جدا شي يا هغه هم دغه شان ژوند تېروي او دغه خلکو دلته خوراک څښاک، د هغوی سره ملاوېدل جائز دي يا نه؟ د اسلام له نظره څه حکم لري؟

جواب: ستا د ملګري نکاح د خپلې خورزې سره شوې چې د قرآن کريم د نص قطعي له مخې باطله ده[۱]. دې ته حلال او جائز ويونکى کافر او مرتد دى[۲]، دا نکاح نه ده شوې او نه هم د طلاقو ضرورت شته. ځکه چې د طلاقو ضرورت د نکاح نه پس وي، حال دا چې نکاح نه ده شوې: نو د طلاق ورکولو څه معنی ده؟ البته که دې دواړو د ښځې خاوند په حيث سره يو ځاى والى کړى وي: نو ستا په ملګري لازم دي چې هغه په خپله ژبه ووايي چې ما دا جدا کړه[۳]، او په دې ويلو سره به دواړه سمدستي جدا شي او د دې بدکارئ نه به توبه وباسي، دواړه دې خپل ايمان تازه کړي[۴]. تر څو پورې چې هغوی په توبې ويستلو سره جدا نه شي د دوی سره د مسلمانانو په شان تعلق ناجائز دى.[۵]

د سکې خورزې سره نکاح جائز ګڼل کفر دى

سوال: زما سکه ماما دى چې په عمر کې زما نه لس کاله مشر دى، هغه ما ته دروغ وويل: چې يو بزرګ وايي چې د ماما د سکه خورزې سره واده کېدى شي، لهذا هغه زه خطا کړم او په ما باندې يې واده وکړ، زه د دولسم زده کوونکې يم، ما ته وروسته درک وشو چې هغه دروغ

---

۱ [قال تعالى: "حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الأَخِ وَبَنَاتُ الأُخْتِ". (النساء: ۲۳)_

۲ [من اعتقد الحرام حلالاً (الى قوله) فان كان دليله قطعيا كفر. (ردالمحتار/ ٤/ ۲۲۳/ باب المرتد)_

۳ [المتاركة فى الفاسد بعد الدخول لا تكون الا بالقول كخليت سبيلك او تركتك. (ردالمحتار/ مطلب فى النكاح الفاسد/ ۳/ ۱۳۳/ البحرالرائق/ باب العدة/ ٤/ ۱٤٦)_

٤ [ما يكون كفراً اتفاقاً يبطل العمل والنكاح. (درمختار/ ٤/ ۲٤۷/ باب المرتد)_

٥ ["فلا تقعد بعد الذكرىٰ مع القوم الظلمين". (الانعام: ٦۸)_

وویل. هغه زما نه خپله نکاح خط هم لیکلی دی. اوس زه بې حده خفه یم زما په سوچ کې نه راځي چې اوس زه څه وکړم؟ زما کورنې، مور، پلار، خور، ورور، ددې خبرې نه بې خبره دي. ما ویل چې ماما دا خو ګناه ده؛ نو وې ویل چې نه هیڅ ګناه نشته. دا جائز کار دی. اوس ماته دا هم ووایئ که چېرته دا ناجائز وي؛ نو ددې ګناه کفاره به څنګه ادا کیږي؟

جواب: د ماما او خورزې نکاح د قرآن کریم په قطعي نص سره حرامه ده[۱]. کوم سړی چې ددې ته جائز وايي څنګه چې ستا بې دېنه ماما ویلي هغه کافر او مرتد دی[۲]. هغه ته پکار دي چې خپل ایمان تازه کړي او ددې کفر نه توبه وباسي[۳]. تا ته لازم دي چې ته هغه ته ووايې د کوم عالم فتوی راوړه؛ نو هله به زه ددې واده لپاره تیاره شم. بهر حال دا نکاح نه ده شوې او نه کیدی شي. ته خپل مور- پلار ددې نه خامخا خبر کړه!

د خوريي د لور سره نکاح ناجائز ده

سوال: د کریم بخش د مشرې خور یو زوی دی چې هغه په پردي خاندان کې واده کړی دی، د هغې نه دده یوه لور ریحانه پیدا شوې ده، دغه راز دا ریحانه د کریم بخش د خوريي لور او مشرې خور لمسۍ ده. مولانا صاحب آیا په خدایي شرعي قانون کې د ریحانې او کریم بخش نکاح کیدی شي یا نه؟

جواب: د خوريي د لور سره نکاح ناجائز ده. په نورو الفاظو سره څنګه چې د خور سره نکاح حرامه ده هم دغه راز د خور د اولاد او د اولاد د اولاد سره هم نکاح حرامه ده.[۴]

د میرنۍ خور د لور سره نکاح ناجائز ده

سوال: د میرني ورور واده د میرنۍ خور د لور سره کیدی شي یا نه؟ ځینې خلک وايي چې واده یې کیږي، ځینې وايي چې نه کیږي. زه په دې مسئله کې ډیر خفه یم. د الله په رضا ځواب راکړئ او زما تسلي وکړئ!

جواب: د میرنۍ خور د لور سره نکاح ناجائز ده. قرآن کریم دا په محرماتو کې شمار کړې ده.[۵]

۱]قال تعالی: "حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ". (النساء: ۲۳)۔

۲] من اعتقد الحرام حلالاً (الی قوله) فان کان دلیله قطعیا کفر. (ردالمحتار/ ۴/ ۲۲۳/ باب المرتد)۔

۳]ما یکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح وما فیه اختلاف یومر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح. (درمختار/ ۴/ ۲۴۷/ باب المرتد)۔

۴] فتحرم بنات الاخوة والاخوات وبنات اولاد الاخوة والاخوات. (ردالمحتار/ فصل فی المحرمات/ ۳/ ۲۸)۔

۵] قال تعالی: حرمت علیکم امهٰتکم وبناتکم واخواتکم، تعم ما کانت منها لاب او لام اولهما. (تفسیر مظهری/ ۲/ ۵۶)۔

د میرنی ترور سره نکاح ناجائز ده

سوال: آیا د زید واده ده د میرنی ترور سره او د زید د خور واده ده د میرني ماما سره کیدی شي؟ حال دا چې نیکونه سکه دي: خو نیاګانې میرنی دي

جواب: د میرنی ترور او د مـ ـ ـ ماما سره نکاح هم هغه راز حرامه ده څنګه چې د حقیقي ترور او حقیقي ماما سره حر ـ

د میرني پلار سره نکاح ناجائز ده

سوال: د رضیه د مور واده پنځه ویشت کاله مخکې شوی، یو کال پس یې رضیه لور پیدا شوه: خو دا چې کله د لسو کالو شوه: نو ددې د مو- رپلار ترمنځ کوم کورنی جنجال پیدا شو او دواړه د یو بل نه د طلاق په ذریعه جدا شو، رضیه یې د مهر په ځای مور ته ورکړه، څه موده تېره شوه چې د رضیه مور د خپل ځان نه د پنځلس کالو کشر هلک سره واده وکړ، رضیه هم د خپلې مور سره اوسېده، لیکن الله ته منظوره وه چې دویم واده هم کامیاب نه شو او دغه یاد هلک د رضیې مور ته طلاق ورکړ، دې وخت کې د رضیه عمر څلر ویشت کاله دی او ددې د میرني پلار عمر پنځه دېرش کاله دی، رضیه په فکر کې لري چې هغه ددې سړي سره واده وکړي، حال دا چې په لومړنی رشتې سره هغه د رضیه میرنی پلار یادیږي، خو اوسمهال کومه رشته نشته، ځکه چې هغه د رضیه مور ته طلاق ورکړی دی او نه دا سړی د دوی له کورنی څخه دی، مونږ ته د قرآن او سنتو په رڼا کې ووایه چې آیا د رضیه نکاح ددې سړي سره جائز ده او که نه؟

جواب: میرنی پلار د همېش لپاره پلار وي، برابره خبره ده که د نجلی مور مړه شوې وي یا هغې ته طلاق ورکول شوی وي، د رضیه نکاح د هغې د میرني پلار سره نه کیږي، میرنی پلار هم داسې حرام دی لکه څنګه چې سکه پلار حرام وي.[۲]

۱] قال تعالی: ''حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ (الی قوله) وَخَالَاتُكُمْ''. (النساء: ۲۳). وفی العالمگیریة: واما الخالات فخالته لاب وام وخالته لاب وخالته لام. (عالمگیری/ المحرمات بالنسب/ ۱/ ۲۷۳)۔

۲]قال تعالی: ''حرمت علیکم امهٰتکم (الی قوله) وربٰئبکم التی فی حجورکم من نسآئکم التی دخلتم بهن''.(النساء: ۲۳). ایضاً: بنات الزوجة وبنات اولادها وان سفلن بشرط الدخول بالام کذا فی الحاوی القدسی، سواء کانت لابنة فی حجره او لم تکن کذا فی شرح الجامع الصغیر لقاضی خان. (عالمگیری/ ۱/ ۲۷٤). وحرم المصاهرة بنت زوجته الموطوء ة.....الخ. قوله بنت زوجته الموطوء ة ای سواء کانت فی حجره ای کنفه ونفقته اولاً. (ردالمحتار مع الدر المختار/ ۳/ ۳۰/ فصل فی المحرمات/ طبع ایچ ایم سعید)۔

د ميرنۍ ترور سره نکاح ناجائز ده

سوال: "زيد" د لومړني واده نه د هر وخت وروسته دويم واده وکړ. مسئله دا ده چې د "زيد" د لومړنۍ ښځې د زوی د زوی واده دده د دويمې ښځې د لور سره جائز دی که نه؟ يعنې د "زيد" د لمسی واده دده د لور سره جائز ده يا نه؟ حال دا چې رشته کې نجلۍ د هلک ميرنۍ ترور کېږي او هلک ميرنی وراره راځي. اصل کې پرېشاني دا ده چې دا دواړه واده کول غواړي او زموږ د ټولو په فکر د کتاب او سنتو په رڼا کې دا عمل [illegible] دی. تاسو موږ ته ژر تر ژره د دې جواب راکړئ ددې لپاره چې دواړه پوه کړی شي

جواب: څنګه چې د سکه ترور سره نکاح ناجائز ده هم دغسې د ميرنۍ ترور سره هم ناجائز ده[1]

دوه ميرنۍ خورګانې په يوه نکاح کې جمع کول ناجائز دي

سوال: زيد د خپلې ښځې په موجودګۍ کې د خپلې ميرنۍ ښينې سره د واده کولو اراده لري. (د دواړو خويندو مور يوه ده مګر پلار يې جدا دی) آيا دوه ميرنۍ خورګانې په يوه نکاح کې اوسيدلی شي؟

جواب: دوه خورګانې په يوه نکاح کې نه جمع کيږي، برابره ده که دواړه سکه خويندې وي يا پلار شريک وي يا مور شريکه وي.[2]

تروراو خورځې سره يې په يووخت نکاح حرامه ده

سوال: زما پلار زما د مور سره د واده نه څو کاله پس زما د مور د مشرې خور د لور سره په پټه نکاح وکړه، پرته له دې چې موږ ته يې د رشتې نوعيت ښکاره کړی وای، مهرباني وکړئ چې آيا دشريعت په نظرکې د ترور او د خورځې سره په يو وخت کې داسې نکاح جائز ده؟ آيا زموږ نوې مور چې د رشتې په اعتبار سره زموږ د ترور لور ده، زموږ لپاره د مور په حکم کې ده؟

جواب: ستا د مور په موجودګۍ کې دا نکاح ناجائز ده[3]، بلکې د نص قرآني په نظر سره

---

[1] قال تعالى: "حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ (الى قوله) وَعَمَّاتُكُمْ". (النساء: ٢٣).وفى تفسير النسفى (ج:١/ ٣٤٦) حرمت عليكم امهٰتكم........وعماتكم من الاوجه الثلاثة. وفى الهندية: واما العمات فثلاث عمة لاب وام وعمه لاب وعمه لام. (عالمگيرى/ ١/ ٢٧٣/ كتاب النكاح/ الباب الثالث)۔

[2] "حرمت عليكم امهٰتكم (الى قوله) وان تجمعوا بين الاختين" سواء كانت لاب و لام او لهما من النسب.(تفسيرمظهرى ٢/ ٦٢/سورة النساء،وهٰكذا فى العالمگيرية/ ١/ ٢٧٧/كتاب النكاح/ الباب الثالث)

[3] قال تعالى: "حرمت عليكم (الى ان قال) وان تجمعوا بين الاختين" قال القاضى: والتحقت به بالسنة والاجماع حرمة الجمع بين امراة وعمتها وامراة وخالتها. (التفسير المظهرى...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

حرامه ده. ستا پلار دي نوي ناوې ته سمدستي اجازه ورکړي او له خانه دي جدا کړي. دا نکاح نه ده زنا ده. ستا د پلار په حق کې خطره د کفر ده[۱]: نو ځکه د ایمان تازه کول پکار دي. ستا د مور سره دي دوباره نکاح وکړي [۲]

د ښځې د لمسۍ سره نکاح نه کیږي

سوال: زید د خپلې ښځې سکه لمسۍ په نکاح کې راوستل غواړي. محمدي شریعت دا نکاح حلاله ګڼي یا نه؟ په داسې حال کې چې د زید ښځه او سمهال ژوندۍ ده

جواب: څنګه چې خپله لور او د لور د لور سره نکاح حرامه ده. دغسې د ښځې د لور او لمسۍ سره هم د همېش لپاره نکاح حرامه ده. لهذا د زید لپاره ناجائز دي چې هغه د خپلې ښځې سکه لمسۍ سره نکاح وکړي، نه د ښځې په ژوند کې او نه د مرګ وروسته [۳]

د پلار د منکوحې سره نکاح نه کیږي

سوال: یو سړي چې واده یې مخکې کړی ؤ. د یوې نجلۍ سره یې نکاح وکړه: خو د کوروالي نه وړاندې مړ شو. دده بچي ځوانان دي او د هغه نجلۍ سره واده کول غواړي (یعنې ددې مړ شوي سړي زوی ددې نجلۍ سره واده کول غواړي) آیا ددې نجلۍ او ددې هلک په خپل منځ کې نکاح کیږي؟ د قرآن او سنتو په رڼا کې ددې مسئلې حل ولیکئ!

جواب: د کومې ښځې سره چې پلار نکاح وکړي، اګر که کوروالی نه وي شوی، د هغې سره د اولاد نکاح ناجائز ده، ځکه چې د پلار منکوحه په قرآني نص سره حرامه ده.[۴]

...بقیه د تیرمخ] / ۲/ ۶۲/ سورة النساء). وفی شرح مختصر الطحاوی/ ٤/ ۳۳۰/ کتاب النکاح: مسالة: تحریم الجمع بین المراة وعمتها وخالتها......وذالک لما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم فی اخبار متواترة، لا تنکح المراة علی عمتها، ولا علی خالتها.......الخ. ایضاً بخاری/۲/ ۷٦٦/ کتاب النکاح، والفتاویٰ الهندیة/ ۱/ ۲۷۷/ کتاب النکاح/ الباب الثالث)_

۱]من اعتقد الحرام حلالاً (الی قوله) ان کان دلیله قطعیاً کفر. (ردالمحتار/ ٤/ ۲۲۳)_

۲] ما یکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح. (ج٤/ ۲٤۷/ باب المرتد)_

۳] قال تعالی: "حرمت علیکم امهٰتکم (الی قوله) وربٰئبکم التی فی حجورکم" ویشتمل الربائب بعموم المجاز او بخصص بنات ابناء الزوجات وبنات بناتهن وان سفلن. (تفسیر مظهری/ ۱/ ٦۰). وفی الهندیة: القسم الثانی المحرمات بالصهریة: وهی اربع فرق (الی قوله) والثانیة: بنات الزوجة وبنات اولادها وان سفلن بشرط الدخول بالام کذا فی الحاوی القدسی. (عالمگیری/ ۱/ ۲۷۳/ کتاب النکاح/ الباب الثالث)_

٤] قال تعالی: "ولا تنکحوا ما نکح اباؤکم من النساء". (النساء: ۲۲). قال القاضی: والصحیح عندی ان المراد بالنکاح فی هٰذه الآیة العقد دون الجماع. (تفسیر المظهری/ ۲/ ٥٤). اما منکوحة الاب فتحرم بالنص، وهو قوله تعالی: ولا تنکحوا مانکح ابآؤکم من النساء، والنکاح یذکر ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

زوم ته خواښې د مور حکم لري

سوال: ديو سړي ښځه مړه شوه: نو هغه کونډې خواښې سره نکاح کولی شي يا نه؟

جواب: د کومې ښځې سره چې نکاح وشي، خواه که هغه ښځې د دې سړي کور آباد کړی هم نه وي، نکاح کېدو سره سمدستي ددې مور په ده باندې حرامه شي، څنګه چې خپله مور حرامه ده. لهذا د ښځې د مور سره نکاح نه کيږي [۱]. هو خو دومره ده چې د ښځې د ميرنۍ مور سره نکاح کيږي [۲]

ترور (امه) او وريره په نکاح کې جمع کول ناجائز دي

سوال: ما د ښځې په اجازه د هغې د وريرې سره نکاح وکړه، د هغې نه دوه بچي هم پيدا شوي. دواړه ښځې يو ځای اوسيږي، په دوی کې جنګ او لانجه نشته، زما په علم کې نه وو چې د ښځې په موجودګۍ کې د هغې د وريرې سره د يو حديث په رڼا کې نکاح نه کيږي، آيا دا حديث واقعي رښتيا دی يا نه؟ تاسو ماته ووايئ چې اوس څه وکړم؟

جواب: ترور (امه) او وريره، خاله او خورزه په يوه نکاح کې جمع کول حرام دي، په دې باندې ډير حديثونه شته [۳]. د صحابه وو رضي الله عنهم، تابعينو رحمهم الله او د ائمه کرامو په دې باندې اجماع

...بقيه د تيرمخ] ويراد به العقد سواءً كان الاب دخل اولا، لان اسم النكاح يقع على العقد والوطى فتحرم بكل واحد منهما على ما نذكر......الخ. (البدائع الصنائع/ ۲/ ۲٦۰/ كتاب النكاح/ فصل واما الفرقة الرابعة/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

۱]فيحرم على الرجل ام زوجته بنص الكتاب العزيز، وهو قوله عزوجل: وامهات نسائكم، معطوفاً على قوله عزوجل: حرمت عليكم امهاتكم وبناتكم، سواء كان دخل بزوجته او كان لم يدخل بها عند عامة العلماء....... وروى عن عبدالله بن عمر رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال: اذا نكح الرجل امراة ثم طلقها قبل ان يدخل بها فله ان يتزوج ابنتها، وليس له ان يتزوج الام وهذا نص فى مسئلتين. (بدائع الصنائع/ ۲/ ۲۵۸/ كتاب النكاح، واما النوع الثانى).وتثبت حرمة المصاهرة بالنكاح الصحيح دون الفاسد كذا فى محيط السرخسى. (عالمگيرى/ ۱/ ۲۷۳)۔

۲] (قوله: وبين امراتين اية فرضت ذكراً حرم النكاح) اى حرم الجمع بين امراتين اذا كانتا بحيث لو قدرت احداهما ذكراً حرم النكاح بينهما، ايتهما كانت المقدرة ذكراً.....وقيد بقوله:"اية فرضت" لانه لوجاز نكاح احداهما على تقدير مثل المراة وبنت زوجها او امراة ابنها فانه يجوز الجمع بينهما عند الائمة الاربعة، وقد جمع عبدالله بن جعفر زوجة على وبنته، ولم ينكر عليه احد. وبيانه انه لو فرضت بنت الزوج ذكراً بان كان ابن الزوج لم يجز له ان يتزوج بها، لانها موطوءة ابيه. ولو فرضت المراة ذكراً لجاز له ان يتزوج ببنت الزوج لانها بنت رجل اجنبى. (البحرالرائق/ ۳/ ۱۰٤، ۱۰۵، كتاب النكاح، فصل فى المحرمات/ طبع دار المعرفة/ بيروت)

۳]عن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يجمع بين المراة وعمتها ولا بين المراة وخالتها. (صحيح بخارى/ ۲/ ۷٦٦/ باب لا تنكح المراة على عمتها)۔

ده[۱]. نو ځکه چې تا د خپلې ښځې د وريرې سره نکاح کړې ده هغه باطله ده[۲]. تاسو ددې کار نه توبه وباسئ او خپله دويمه ښځه سمدستي جدا کړئ.

د ښځې په موجودګئ کې د ښينې سره نکاح فاسده ده

سوال: يو سړي خپله ښينه په چل سره عدالت ته بوتله، په عدالت کې يې په يو فارم باندې امضاء وکړه. عدالت کې يې نکاح وکړه، آيا دا ممکن دي چې په يو وخت کې دوه خورګانې د يو سړي سره په نکاح کې وي، ددې شرعي حکم څه دی؟

جواب: د ښځې په موجودګئ کې د ښينې سره نکاح فاسده ده[۳]. ځکه چې دوه خورګانې يو سړي په يو وخت کې په نکاح کې نه شي ساتلی، په قرآن کريم او حديثو کې ددې څخه منع راغلې ده. د امت په اجماع سره دوه خورګانې په يوه نکاح کې راوستل حرام دي[۴]. لهذا دې سړي ته پکار دي چې ښينه دي له ځانه جدا کړي، دې سړي چې ترڅو پورې ښينه جدا کړې نه وي تر هغې پورې د ښځې سره د ښځې خاوند تعلق حرام دی.

د ښځې په موجودګئ کې د ښځې د ميرنۍ وريرې سره نکاح نه کيږي

سوال: د زيد د ښځې يو ميرنی ورور دی، (د زيد ميرنۍ اوخې دی) اوس سوال دا دی چې ددې ميرني اوخې د لور سره د زيد نکاح په شريعت کې کيږي؟ په داسې حال کې چې د زيد ښځه هم موجوده ده.

جواب: د ښځې په موجودګئ کې د هغې د وريرې سره نکاح نه کيږي، برابهر ده که د سکه ورور لور وي يا د ميرني ورور.[۵]

سوال: که چېرته د زيد ښځه وفات شي يا طلاق ورکړي؛ نو بيا د زيد د اوخې لور د زيد په نکاح کې راتلی شي يا نه؟

۱]والتحقت به بالسنة والاجماع حرمة الجمع بين امراة وعمتها وامراة وخالتها. (التفسير المظهری/ ۲/ ۶۲)_

۲]نعم فی البزازية قولين ان نكاح المحارم باطل او فاسد والظاهر ان المراد بالباطل ما وجوده كعدمه (الی قوله) وفسر القهستانی هنا الفاسد بالباطل. (ردالمحتار/ مطلب فی النكاح الفاسد/ ۳/ ۱۳۲)_

۳]قال تعالی: "حرمت عليكم (الی ان قال) وان تجمعوا بين الاختين" (النساء: ۲۳). اما فی الحديث: ان ام حبيبة قالت: قلت: يا رسول الله! انكح اختی بنت ابی سفيان......(قال عليه السلام) فلا تعرض علی بناتكن ولا اخواتكن. قال المحشی: الجمع بين الاختين فی التزويج حرام بالاجماع. (الصحيح للبخاری/ باب قوله وان تجمعوا بين الاختين....الخ/ ۱/ ۷۶۶)_

۴]ايضاً

۵] عن ابی هريرة قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: لا يجمع بين المراة وعمتها ولا بين المراة وخالتها. (صحيح بخاری/ ۲/ ۷۶۶/ باب لا تنكح المراة علی عمتها)_

جواب: که ښځه طلاقه شي او د دې عدت هم ختم شي یا ښځه وفات شي: نو د هغې د وریرې سره نکاح جائز ده.[۱]

په یو وخت د دوه خویندو سره نکاح حرامه ده

سوال: یو سړي د خپلې ښځې د خور سره نکاح وکړه: نو آیا شرعاً په یو وخت کې د دوه سکه خویندو سره نکاح جائز ده؟ آیا د دویمې خور سره د نکاح کولو نه پس د لومړنۍ خور نکاح ختمیږي که د دویمې خور؟ په داسې ناجائزه نکاح کې شرکت کولو کوونکی او په هغې کې برخه اخیستونکي حکم به څه وي؟

جواب: په یو وخت کې دوه خورګانې په نکاح کې راوستل شرعاً ناجائز او حرام دي، ځکه چې الله تعالی فرمایلي: په تاسو باندې حرام شوي دي د دوه خورګانو سره په یو ځای نکاح کول[۲]. د دویمې خور نکاح نه ده شوې؛[۳] نو ځکه د لومړنۍ خور نکاح پاتې او د دویمې نه ده شوې. کوم خلک چې له قصده په دې ناجائزه نکاح کې شریک شوی وي هغه سخت ګناه ګار دی[۴] هغوی ته پکار دي چې الله تعالی ته توبه او استغفار وکړي؛ خو کوم خلک چې په بې خبرۍ کې شریک شوي دي هغوی باندې څه ګناه نشته.[۵]

د ښځې د خور سره د نکاح جائز ګڼونکی کافر او لومړنی نکاح یې هم ختمه شوه

سوال: زمونږ یو خپلوان دی چې اوه کاله مخکې یې واده کړی دی، د کومې نجلۍ سره چې یې واده کړی دی د هغې یوه مشره خور وه، هغه هم واده شوې او د اوو بچو مور وه، څه وخت وروسته دا خبره خپره شوه چې هغه سړي مشره خور یې ترې خوښه شوې او دې ښځې د خپل لومړني خاوند نه په دې وجه لرې والی غوره کړی، اوس دواړه په آزادۍ سره یوځای اوسیږي، اوس معلومه شوه چې دواړو واده هم کړی دی، پوښتنه دا ده چې آیا د دوی دا نکاح جائز ده که ناجائز؟ ځکه چې ما د چا نه اوریدلي چې د دویمې نکاح نه پس دده لومړنۍ ښځه هم د نکاح څخه وځي، آیا په شریعت کې داسې کړنه صحیح ده؟ آیا د دوه سکه خویندو سره په یو وخت

---

[۱] ځکه چه اوس د حرمت هیڅ وجه نشته، قال تعالی: واحل لکم ما ورآء ذلکم،، (النساء: ۲۴)۔

[۲] قال تعالی: "حرمت علیکم (الی ان قال) وان تجمعوا بین الاختین" (النساء: ۲۳)۔

[۳] وان تزوجها فی عقدتین فنکاح الاخیرة فاسد. (عالمگیری/ کتاب النکاح/ المحرمات بالجمع/ ۱/ ۲۷۷)۔

[۴] "ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان واتقوالله ان الله شدید العقاب". (المائدة: ۲)۔

[۵] "لا یکلف الله نفساً الا وسعها". (البقرة: ۲۸۶)۔

کې نکاح جائز ده او که دواړه حرامیږي؟

جواب: د یوې خور په موجودګۍ کې د دویمې خور سره نکاح نه کیږي: دې سړي خو د دویمې ښځې سره نکاح کړې ده: نو دا نکاح فاسده ده[۱]، دده لومړنۍ ښځه دده په نکاح کې ده لیکن که هغه د دوه خویندو په یوه نکاح کې جمع کول حلال ګڼي: نو دا سړی د اسلام له دایرې وتلی دی[۲] او دده لومړنۍ نکاح هم ماته شوې ده [۳]

د دوه خویندو سره د واده په صورت کې د دویمې ښځې اولاد

سوال: آیا د یو مسلمان سړي لپاره په یو وخت کې د دوه سکو خویندو سره نکاح کول جائز ده؟ که چېرته کوم سړي د خپلې لومړنۍ ښځې په ژوند کې د خپلې سکه ښینې سره نکاح کړې وي: نو آیا ددې دواړو د خیټې نه پیدا شوي اولادونه به حلالي وي که حرامیان؟

جواب: په یو وخت کې دوه خورګانې په یوه نکاح کې جمع کول حرام دي[۴] که چا داسې نکاح وکړه او اولاد یې هم وشو؛ نو د دواړو خویندو د اولاد نسب به ثابت وي، د لومړنۍ خور اولاد خو په صحیح نکاح کې پیدا شوي دي؛ نو ځکه ددې اولاد نسب ثابت دی او د دویمې خور سره چې کومه نکاح شوې ده دا نکاح فاسده ده، ددې حکم دا دی چې ددې نکاح فاسدې له وجې چې کوم اولاد پیدا شوي دي د هغوی نسب هم ثابت دی[۵]. لیکن د دواړو تر منځ جدایي ضروري ده. د جداوالي نه وروسته په ښځه باندې عدت واجب دی او د سړي په ذمه پوره مهر واجب دی. [۶]

[په نکاح باندې نکاح کول]

د چا په ښځه نکاح تړل نکاح نه ده زنا ده

سوال: زما دوه بچي شوي، دولس کاله مخکې مې واده کړی دی، زما نه مخکې زما د ښځې

۱]وان تزوجها فی عقدتین فنکاح الاخیرة فاسد. (عالمگیری/ المحرمات بالجمع/ ۱/ ۲۷۷)_

۲]من اعتقد الحرام حلالاً (الی قوله) ان کان دلیله قطعیاً کفر. (ردالمحتار/ ۴/ ۲۲۳/ طبع سعید)_

۳] وارتداد احدهما فسخ عاجل بلا قضاء. (درمختار/ باب النکاح الکافر/ ۳/ ۱۹۴/ طبع سعید)_

۴]قال تعالی: ''حرمت علیکم (الی ان قال) وان تجمعوا بین الاختین'' (النساء: ۲۳)_

۵]النکاح الصحیح وما هو فی معناه من النکاح الفاسد والحکم فیه انه یثبت النسب من غیره دعوة. (عالمگیری/ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب/ ۱/ ۵۳۶)_

۶] وان تزوجهما فی عقدتین فنکاح الاخیرة فاسد ویجب علیه ان یفارقها (الی قوله) فان فارقها بعد الدخول فلها المهر ویجب الاقل من المسمی ومن مهر المثل وعلیها العدة ویثبت النسب. (عالمگیری/ المحرمات بالجمع/ ۱/ ۲۷۷)_

واده د یو داسې سړي سره شوی ؤ چې په دغه سړي باندې په یوه دوسیه (مقدمه) کې شپاړس کاله قید سزا ختلې وه. دوه کاله پس ما د هغې ښځې سره په عدالت کې نکاح وکړه. حال دا چې لومړني خاوند تر اوسه دې ښځې ته طلاق نه دی ورکړی. ددې ښځې نه زما هم څلور بچې دي. اوس هغه په عدالت کې دوسیه اچولې ده چې په ما باندې ظلم شوی دی. د الله لپاره د قرآن په رڼا کې ولیکئ چې دا زما ښځه ده که د لومړني خاوند؟ که دا زما یا د هغه ښځه وي: نو اوس زمونږ لپاره څه کول پکار دي؟

جواب: دا خو ښکاره خبره ده چې هر کله ښځه د وړاندې نه د یو سړي په نکاح کې ده. هغه طلاق نه دی ورکړی: نو دا ښځه د هغه ښځه ده او دا مسئله هر عام او خاص ته معلومه ده چې کومه ښځه د بل چا په نکاح کې وي د هغې سره د دویم سړي نکاح نه کیږي[۱]: نو ځکه دا ښځه ستا ښځه نه ده. بلکې د لومړني خاوند ښځه ده، تاسو دا جدا کړئ او هغه دې عدت تېر کړي او لومړني خاوند ته دې لاړه شي یا دې د لومړني خاوند نه طلاق واخلي او د عدت تېرولو وروسته دې دهمدې ښځې سره دوباره سمه نکاح وکړي. [۲]

نکاح باندې نکاح جائز ګڼونکی کافر دی

سوال: یوه ښځه چې خاوند یې د پنځلسو کالو راهیسې په انډیا کې اوسیږي، دې ښځې په پاکستان کې د بل سړي سره نکاح کړې ده، په داسې حال کې چې لومړني خاوند ورته طلاق نه دی ورکړی، په دې کې هم ځینې خلک شامل وو. کله چې یې دویم ځلې نکاح کوله هغه خلک خبر وو چې لومړني خاوند طلاق نه دی ورکړی، ددې په اړه مونږ دا اوریدلي چې په نکاح کې د شاملو خلکو نکاح ماته شوه. آیا دا واده صحیح دی؟ آیا د هغه خلکو نکاح فسخه شوه او که خاوند ورک شي: نو څومره وخت وروسته ښځه نکاح کولای شي؟ که خاوند طلاق نه ورکوي: نو بیا هم ښځه څومره وخت وروسته نکاح کولی شي؟

جواب: کومه ښځه چې د چا په نکاح کې وي تر څو چې هغه طلاق نه وي ورکړی او د هغې

---

[۱] اما نکاح منکوحة الغیر (الی قوله) لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلاً. (ردالمحتار/ ۳/۱۳۲)۔

[۲] دا هغه وخت چې کله دویمه نکاح کونکي ته دا نه وي معلومه چې دا ښځه منکوحه ده او که د هغې د منکوحه کېدو د خبر باوجود یې ورسره نکاح وکړه: نو اوس نکاح هم باطله ده او عدت هم واجب نه دی.قال فی البحر: لو تزوج بامرأة الغیر عالماً بذٰلک ودخل بها لا تجب العدة علیها حتی لا یحرم علی الزوج وطؤها وبه یفتٰی (الی قوله) نعم لو وطئها بشبهة وجب علیها العدة وحرم علی الزوج وطؤها. (ردالمحتار/ مطلب فیما لو زوج المولی امة/ ۳/ ۵۰). وفیه ایضاً: اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدة فالدخول فیه لا یوجب العدة ان علم انها للغیر لانه لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلاً. (ردالمحتار/ مطلب فی النکاح الفاسد/ ۳/ ۱۳۲)۔

عدت نه وي تېر شوی دويم ځای کې د هغې نکاح نه کېږي.[۱] که څوک ورته جائز وايي هغوی د اسلام نه خارج دي[۲]، دوی ته لازم دي چې توبه وباسي، خپل ايمان او نکاح تازه کړي [۳]

د کومې ښځې خاوند چې ورک شوی وي دې ته پکار دي چې عدالت ته لاړه شي . په عدالت کې دي د خپلې نکاح ثبوت او د خاوند د ورک شوي دوسيه ثبت کړي. ددې ثبوت نه وروسته دي عدالت دې ښځې ته تر څلورو کالو انتظار کولو حکم وکړي. په دې دوران کې د ورک شوي خاوند د معلومات کېدو کوشش دي کوي. که چېرته په دې موده کې د خاوند څه درک ونه شو؛ نو عدالت دي د هغه د مرګ پرېکړه وکړي. ددې پرېکړې وروسته دي ښځه د خپل خاوند د مرګ عدت (څلور مياشتې او لس ورځې) پوره کړي، عدت پوره کېدو نه پس دا ښځه دويم ځای نکاح کولی شي؛ خو تر څو پورې چې عدالت ددې د ورک شوي خاوند د مرګ پرېکړه نه وي کړې ښځه په دويم ځای کې نکاح نه شي کولی.

کوم خاوند چې نه خپله ښځه ساتلی شي او نه هغې ته طلاق ورکوي هغه ښځه دي هم عدالت ته رجوع وکړي او عدالت دي د تحقيق وروسته حکم وکړي چې يا خو دي د زوړ عادت سره سم ښځه وساته يا هغې ته طلاق ورکړه! که چېرته هغه يوه خبره هم نه منل؛ نو عدالت دي د خاوند يا د هغه د وکيل په موجودګۍ کې د فسخې نکاح پرېکړه خپله وکړي، ددې پرېکړې وروسته دي ښځه عدت تېر کړي. د عدت وروسته ښځه دويم ځای نکاح کولی شي.[۴]

نکاح باندې نکاح کوونکی زناکاردی

سوال: زمونږ په کلي کې يوه نجلۍ ده چې ددې نکاح مور- پلار يې د کوم خپلوان سره تقريبا د اتو کالو په عمر کې کړې وه، اوس ددې نجلۍ مور- پلار د خپلې لور نکاح د کوم بل خپلوان سره وکړه. د نکاح دپاسه نکاح وشوه، آيا دا نکاح صحيح ده؟ که چېرته نه وي صحيح؛ نو ايا دا زنا ده؟ که زنا وي؛ نو دېته د محمدي شريعت مطابق سزا ورکول پکار دي او که معافي ورته وکړو؟

جواب: د نجلۍ چې کومه نکاح د اتو کالو په عمر کې شوې وه هغه صحيح وه اوس که چېرته دې نجلۍ ته د لومړني خاوند نه طلاق نه وي ورکول شوی؛ نو د دويمې نکاح په باطلېدو کې څه شک نشته.[۵] او که دا هلک او نجلۍ جنسي اړيکې سره ساتلې وي؛ نو دوی بې زنکاره

---

۱ [امانکاح منکوحة الغير (الى قوله) بجوازه فلم ينعقد اصلاً(ردالمحتارمطلب فى النكاح الفاسد۳/ ۱۳۲)

۲ [من اعتقد الحرام حلالاً (الى قوله) ان كان دليله قطعياً كفر. (ردالمحتار/ ٤/ ۲۲۳)_

۳ [ما يكون كفراً اتفاقاً يبطل العمل والنكاح. (شامی/ ٤/ ۲٤۷)_

٤ [اوګورئ رساله: الحيلة الناجزة،، للتهانوى، ص:۵۹)_

۵ [ايضاً پورتنۍ حواله)_

دي. باقي شرعي سزا خو د تمامو حالاتو د تحقيق وروسته او د جرم د نوعيت معلومولو سره به يې شرعي عدالت جاري کوي.

د کومې منکوحې سره نکاح ناجائز ده؟

سوال: زما زيد نکاح د زينب سره وشوه اوس تقريبا يو کال وشو. ددې ښځې څخه مې يو هلک هم پيدا شوی دی. مګر اوس راته معلومه شوه چې دا نجلۍ مخکې واده شوې وه. ددې خاوند په انډيا کې دی. هغه دې ته تر اوسه طلاق نه دی ورکړی. لهذا ماته چې کله معلومه شوه: نو ما هغې ته طلاق ورکړ. اوس دوباره زه د هغې سره نکاح کول غواړم. که هغه د لومړني خاوند نه طلاق واخلي آيا هغه زما لپاره جائز ده؟

جواب: که د لومړني خاوند نه طلاق ورکول شي او ددې عدت هم تېر شي؛ نو تا سره نکاح کولی شي[1] تا ته خو معلومه نه وه چې دا له وړاندې د بل په نکاح کې وه، ځکه خو تاسو ګناه ګار نه يئ، مګر دې نجلۍ ته معلومه وه چې ددې لومړنی خاوند ژوندی دی؛ نو ځکه دا ګناه ګاره شوه. دې ته پکار دي چې توبه وباسي.

د نجلۍ په بې خبرئ کې د نکاح حکم

سوال: يوه نجلۍ چې پلار يې د نن نه تقريبا لس کاله وړاندې مړ شوی دی، ددې پلار ددې نکاح د خپلو رشته دارانو سره کړې وه، کوزده يې ورته وکړه. لږ وخت وروسته يې مور د کوم حرص له وجې کوزده ماته کړه او دويم ځای کې ورته رشته کول غواړي. نجلۍ انکار وکړ چې زه خپل عزت نه نيلام کوم. هغه يې ډېره سخته وهلې؛ خو نجلۍ هم هغسې انکار کوي؛ خو اخر يوه ورځ يې په زوره په نکاح خط ددې د امضاء په ځای د ګوتې نښه ولګول چې هغه نجلۍ بيخي ترې خبره هم نه وه، نجلۍ تعليم يافته وه. واده نه ؤ شوی، کله چې يې د لوی اختر وروسته واده غوښتلو؛ نو نجلۍ خپلو رشته دارانو ته لاړه، په عدالت کې يې قسم وکړ او نکاح يې وکړه، ځکه چې نجلۍ د لومړنۍ نکاح نه خبره نه وه، نه هغې قبول کړی ؤ. په دې مسئلې باندې تفصيلي بحث وکړئ چې آيا لومړنۍ نکاح شته او که نه؟

جواب: که چېرته نجلۍ تعليم يافته وي؛ نو په نکاح خط يې ددې ګوته څنګه ولګوله. دا څنګه خبره نه شوه؟ دا خبره د تحقيق لپاره اړينه ده، که په تحقيق سره ثابته شوه چې نجلۍ ته واقعي د نکاح کولو خبر نه ؤ او نه هغې نکاح قبوله کړې: نو هغه نکاح نه ده شوې[2]

---

[1] ځکه چه په دې صورت کښې د حرمت هيڅ وجه نشته. قال تعالى: واحل لكم ما ورآء ذالكم. (النساء: ٢٤)

[2] لا يجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل من اب او سلطان بغير اذنها بكراً كانت او ثيباً فان فعل ذلك فالنكاح موقوف على اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

که چېرته یې په وهلو سره صرف امضاء اخیستلې وي یا یې ګوته لګولې وي. په داسې حال کې چې نجلۍ وربانديې خوښه نه وه بیا هم نکاح نه ده شوې[۱]. لهذا د نجلۍ هغه نکاح چې د لومړنۍ کوزدې پرمهال شوې وه هغه صحیح ده[۲].

په دروغه د طلاق فتوی اخیستونکې ښځه

دویم ځای کې واده نه شي کولی

سوال: زما د یو ملګري زید واده یو کال وړاندې د تره د لور خدیجې سره وشو چې ښه تعلیم لري. په ښه اداره کې ښه چوکۍ لري، دا واده د زید او خدیجې د دواړو او د کورنۍ په خوښه شوی. د واده نه وروسته د زید او خدیجې د کورنۍ ترمنځ په پیسو څه مسئله مخې ته راغله، د زید معلومه لږ ګټه وه؛ نو هغه ځکه د نجلۍ او د نجلۍ د کورنۍ د خوښې سره سم د کور شیان تیار نه کړل. په دې باندې خدیجه خپه شوه. د خپل مور- پلار کور ته لاړه، کله چې زید غوښتل خپله ښځه خدیجې راوغواړي؛ نو خدیجې وویل چې ته اوس خپل تعلیم پوره کړه او د خپل تعلیم سویه پورته کړه. بیا یې وویل چې ته کله د امتحان نه فارغ شې؛ نو بیا به زه تا ته درشم زید خپلو درسونو ته ادامه ورکړه. په دې ورځو کې خدیجې د دارالافتاء په نوم زید ته یو خط ولیږلو چې د هغې متن داسې دی چې زما خاوند زه په وهلو سره له کوره وویستم. د ویستلو پرمهال یې بار - بار دا الفاظ وویل، لاړه شه ما ته آزاده کړې یې، چې په هغې باندې مولانا صاحب فتوی راکړه که چېرته ستا خاوند دا الفاظ بار- بار ویلي وي؛ نو طلاق واقع شو. تاسو د یو بل لپاره حرام شوئ. ددې فتوی د ترلاسه کولو وروسته خدیجې د کلي د سپین ږیرو تولي ته درخواست ورکړ چې ما ته د فتوی سره سم طلاق راکول شوی دی. لهذا ما ته دې مهر (روپۍ) راکړل شي او ورسره زما د عدت تر ختمېدو پورې چې زما څومره خرچه شوې ده، د مشرانو تولي ته زید حاضر شو؛ نو مشر د زید څخه د حقیقت پوښتنه وکړه. زید قسم وکړ چې ما نه خدیجه له کوره ویستلې او نه مې داسې الفاظ ویلي دي. په دې باندې خبره ختمه شوه چې خدیجه د مشرانو مجلس ته حاضره کړئ او د دواړو بیان دې ولیکل شي. مګر خدیجه د مشرانو تولي ته حاضره نه شوه. زما ملګری ددې مسئلې په وجه ډېر خفه دی. ستاسو نه هیله ده چې تاسو قرآن او سنت سره دده لاره سمه کړئ!

(**الف**) ایا د نجلۍ په غلط بیان اخیستلو فتوی د اعتبار وړ ده؟

...بقیه د تیرمخ] كذا في السراج الوهاج. (عالمگیری/ ۱/ ۲۸۷)۔

۱ اولا تجبر البالغة البكر على النكاح لانقطاع الولاية بالبلوغ. (درمختار/ كتاب النكاح/ باب الولی/ ۳/ ۵۸/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی)۔

۲] ان المراة اذا زوجت نفسها من كفو لزم على الاولياء. (ردالمحتار/ باب الكفاء ة/ ۳/ ۸۴)۔

(ب) ایا په دې فتوی سره طلاق واقع کیږي؟

(ج) د قرآن او سنت په رڼا کې غلط بیان سره فتوی حاصلوونکي څه حکم دی؟

(د) ایا نجلۍ د دې فتوی نه پس دویم واده کولی شي؟

جواب: د مفتي ځواب د سوال مطابق وي، مفتي د دې سره کار نه وي چې په سوال کې ربښتیا لیکل شوي دي که غلط؟ دا تحقیق کول د عدالت کار دی، تا چې کومه کیسه لیکلې ده د دې خلاصه دا ده چې ښځه د طلاق ورکولو دعوه لري او خاوند د هغې انکار کوي، د ښځې او خاوند تر منځ چې کله داسې اختلاف پیدا شي؛ نو که ښځه دوه اعتباري شاهدان وړاندې کړي چې په قسم سره شهادت ورکوي او د دوی په مخامخ خاوند طلاق ورکړی وي؛ نو د ښځې دعوه به صحیح وي، که چېرته په طلاق باندې دوه شاهدان وړاندې نه کړي؛ نو د خاوند نه به په قسم سره پوښتنه وشي چې ایا تا طلاق ورکړی دی او که نه؟ که چېرته هغه په قسم سره ووایي چې ما طلاق نه دی ورکړی؛ نو د ښځې دعوه به دروغ وي او د خاوند دا خبره به صحیح وي چې ما طلاق نه دی ورکړی[1]، ستا په مسئله کې د ښځې سره شاهد نشته، لهذا د دې دعوه د اعتبار وړ نه ده، هغه د زوړ عادت له مخې د خپل خاوند په نکاح کې ده، دویم ځای یې نکاح نه کیږي.

نکاح د پاسه نکاح کول

سوال: زما د دوه دېرشو کالو ښځه یم، تعلیم لرم، زه په حکومتي مکتب کې د ښوونکي په حیث کار کوم چې زما په ژوند کې یوه لویه واقعه راغلې، ما تر ننه پورې د خپل ځان په اړه کله هم سوچ نه و کړی، زما درې ورونه دي او مونږ دوه خورګانې یو، د یوې خور واده مو تقریبا پنځلس کاله مخکې کړی دی، دویمه زه یم، زما مشره خور زما نه په عمر کې څوارلس کاله لویه ده او درې ورونه زما نه واړه دي؛ نو خبره مې دا کوله چې ما کله هم د ژوند په باره کې سوچ نه و کړی چې څه به کیږي، څنګه به تیریږي؟ په داسې حال کې چې د خپل ځان تعریف نه دی پکار، توبه کوم او وایم چې الله شکل او صورت داسې راکړی چې تر ننه پورې کتونکي راته ښکلې او سیرت مې هم داسې دی چې په دې ټول کلي کې خلک زما مثالونه ورکوي، مګر دلته مسئله زما نه ده د دې معاشرې ده چې زما د مور - پلار سره د کور ورکولو لپاره دومره څه نه و چې د څه سړیتوب رشته راغلې وي، داسې رشتې به راتلې چې زما په پیمانه به پوره نه وې یا د هغوی مطالبې پوره کیدی نه شوې.

---

[1]]ویسأل القاضی المدعی علیه عن الدعوی فیقول انه ادعی علیک کذا فما ذا تقول؟.......الخ. فان اقر فبها او انکرفبرهن المدعی قضی علیه بلاطلب المدعی والا یبرهن حلفه الحاکم بعد طلبه(ردالمحتار/ کتاب الدعوی/ ۵/ ۵٤۸)

ناڅاپي راته داسې خنډ مخې ته شو چې زما ورونه درې واړه ځوانان شو. زه د درې واړو په نظر کې يو ازغی شوم، داسې الفاظ مي واورېدل چې ددې منحوسې له وجې زمونږ ودونه نه کيږي د مور د خولې نه هم دغسې الفاظ وتلي چې زما دا لور زما د زامنو کور ابادول نه غواړي، ما هم په خپل زړه باندې ډېره کېښوده، له ځانه سره مي وعده وکړه چې د ورونو واده به زر او په خپل لاس کوم بيا به زه خپله ځان ته واده ګورم؛ خو په خپل ځان باندې به د خپلو ورونو يا د مور پلار پيسې نه مصرفوم، د نن نه تقريبا اته مياشتې مخکې ما د خپل ژوند ملګری وموند، د دواړو ورونو ودونه مي په ترتيب سره په ١٧فروري ١٩٨۴ء کې وکړه، بيا ما د مور- پلار د خوښې خلاف په ١٨فروري ١٩٨۴ء کې کوزده وکړه او بيا مي د مور- پلار د خوښې خلاف په ٢٧ فروري ١٩٨۴ء کې واده وکړو، د ټولو حالاتو او واقعاتو نه مي موراو پلار خبر کړه، د راضي کولو لپاره مي هر راز کوشش وکړ، ما خپل شرعي او قانوني حق پوره استعمال کړو، مور- پلار په يو صورت هم نه راضي کيږي او خپل بې انتها کوششونه مي وريسې وکړه، بيا د مجبوری له وجې په ٢٧فروري ١٩٨۴ء کې عدالت کې واده وکړو، په ٢٥ فروري مي د عدالت نه قانوني اختيار خط ترلاسه کړ، په ٢٧فروري ١٩٨۴ء کې مي د څلورو شاهدانو په موجودګۍ کې مولانا صاحب په شرعي طريقې سره نکاح وتړله، د پاکستان حکومت د نکاح خط چې کوم کاغذونه دي په هغې باندې ما، خاوند مي او څلورو شاهدانو امضاء وکړه، کاغذونه ټول رسمي شو، په څلورمه ورځ يعنې په اول مارچ ١٩٨۴ء کې زما کورنۍ خبره شوه، ما د خپل زوړ عادت سره سم د خپل مکتب معلمي کوله چې د پلار کور ته ورغلم؛ نو مور- پلار مي ووهلم، په ستوني يې راته چاړه کېښوده او ٣مارچ ١٩٨۴ء کې يې زما نه استعفی وليکل او امضاء يې رانه واخيسته، زما معلمي يې ختمه کړه بيا يې زما د خاوند نه په ۵ مارچ ١٩٨۴ء کې په طلاق خط باندې د هغه د کورنۍ نه په زوره د طلاق امضاء واخيسته، ما ته معلومه نه ده چې څنګه يې اخيستې ده، زه د هغې ورځې نه د پلار په کور کې يم، معلمي ختمه شوې ده، زمونږ نکاح صرف اته ورځې وه، زه د هغه ورځو نه د الله د حکم لاندې د عدت شپې او ورځې تېروم، زما د مور- پلار او ورونو وينا ده چې د عدالت نکاح له سره نکاح نه ده، حال دا چې ما دا نکاح په خپله خوښه کړې وه، په ما باندې هيڅ زور نه و شوی، د پلار وينا ده چې ما د يو مولانا صاحب نه پوښتنه کړې ده هغه وويل: چې د عدالت نکاح نه ده صحيح؛ نو څکه ددې نکاح بل ځای هم کيدی شي؛ خو ما په دې دليل ورکولو سره خپله کورنۍ قائل کړه چې آيا دا واده واده نه ؤ؛ نو تاسو خلکو ته د طلاق ضرورت ولې راغلو؟ ورور مي د طلاق نقل په عدالت کې د نکاح خط سره يو ځای کړی دی او يو نقل يې د مشر په دفتر کې جمع کړی دی.زه شپه او ورځ ژاړم او زما زړه يقين نه کوي چې ما ته طلاق راکول شوی دی. څه چې زما سره شوي دي الله دي دشمن سره هم ونه کړي (آمين) زما په ذهن کې لاندې ذکر شوي سوالات راپورته شوي دي، اميد دی چې تاسو په نمبر د هر سوال ځواب

راکړئ؛ تر څو زړه مي ورباندې مطمئن شي او د دې سوالونو ځوابونه راته زر وليکئ ځکه چې زه دوباره د خپلې معلمی په لټه کې شم

سوال: آيا د عدالتي نکاح په طريقې نکاح جائز ده چې په هغې کې ټولې شرعي تقاضې پوره شوي وي؟

جواب: که هلک او نجلۍ جوړه برابره وي؛ نو دا نکاح صحيح ده کنه نو نه ده صحيح [۱]

سوال: آيا په زور په طلاق خط باندې امضاء کولو سره طلاق واقع کيږي که د ژبې نه د طلاقو لفظ درې ځله ويستل ضروري دي؟

جواب: که چېرته طلاق خط کوم بل سړي ليکلی وي او په زوره په دې باندې امضاء وکړي؛ نو دې سره طلاق نه کيږي[۲] او که طلاق خط خپله خاوند ليکلی وي[۳] يا يې په ژبې د طلاقو الفاظ ادا کړي وي؛ نو طلاق واقع کيږي. [۴]

سوال: کېدی شي چې په ژبې يې دا الفاظ نه وي ويلي او طلاق خط باندې يې د بل چا په ويلو امضاء کړې وي، که داسې صورت مخې ته راغلی وي؛ نو ايا طلاق واقع کيږي که نه؟

جواب: که خپله يې په خوشحالی امضاء کړې وي؛ نو طلاق واقع کيږي[۵]،زور سره امضاء اخيستلو سره طلاق نه واقع کيږي. [۶]

سوال: زما کورنۍ د عدت په ورځو کې دننه زما دويم ځای نکاح کول غواړي آيا دا جائزدي؟

جواب: ستا د مسئلې درې صورتونه دي:

۱: کومه نکاح چې تا د مور- پلار بې اجازې کړې وه که هغه په غيرکفو کې وه؛ نو هغه نکاح

۱] ان المراة اذا زوجت نفسها من كفو لزم على الاولياء، وان زوجت من غير كفو لا يلزم او لايصح. (ردالمحتار/ كتاب النكاح/ باب الكفاء ة/ ۳/ ۸٤/ طبع ايچ ايم سعيد)_

۲]رجل اكره بالضرب والحبس على ان يكتب طلاق امراته وكتب فلانة بنت فلان طالق، لا تطلق امراته. (خلاصة الفتاوى/ كتاب الطلاق/ ۲/ ۹۱)_

۳]وان كانت مرسومة يقع الطلاق نوى او لم ينو ثم المرسومة لا تخلو اما ان ارسل الطلاق بان كتب: اما بعد فانت طالق، فكما كتب هٰذا يقع الطلاق، وتلزمها العدة من وقت الكتابة. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۷۸)_

٤] ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبداً او مكرهاً فان طلاقه صحيح. وفى البحر: ان المراد الاكراه على التلفظ بالطلاق. (شامى/ مطلب فى الاكراه...الخ. ج: ۳/ ۲۳۵)_

۵]لو استكتب من آخر كتاباً بطلاقها وقراه على الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به اليها فاتاها وقع ان اقر الزوج انه كتابه. (ردالمحتار، مطلب فى الطلاق بالكتابة/ ۳/ ۲٤٦، ۲٤۷/ طبع ايچ ايم سعيد)_

٦] فلو اكره على ان يكتب طلاق امراته فكتب لا تطلق. (شامى/ مطلب فى الاكراه...الخ. ج:۳ / ۲۳٦)_

نه ده شوې، مګر د نکاح په شپه کوروالی راغلی؛ نو ځکه عدت لازم دی[1] نو د عدت نه مخکې دويمه نکاح هيڅکله ناجائز ده [2]

۲ که چېرته لومړنی نکاح په کفو کې شوې وي او طلاق نامه باندې په زوره امضاء اخيستل شوې وي؛ نو طلاق نه دی شوی، ځکه لومړنی نکاح باقي ده، لهذا دويمه نکاح نه کيږي [3]

۳ که چېرته لومړنی نکاح په کفو کې شوې وي او طلاق هم په صحيح طريقه اخيستل شوی وي؛ نو د طلاق عدت تېرول لازم دي، د عدت پوره کېدو نه مخکې دويمه نکاح نه کيږي [4]

سوال: زما کوروالا چې زما نکاح په بل کوم ځای کې کول غواړي، دوی هغه خلک د لومړنی نکاح نه بيخي نه خبروي، ايا داسې جائز ده؟

جواب: په لومړني او درېيم صورت کې په ښځه باندې عدت لازم دی او د عدت نه مخکې دويمه نکاح هيڅکله ناجائز ده، بهر حال ستا مور- پلار کوم ځای چې ستا نوې نکاح کول غواړي هغوی ددې تولې کيسې نه خبرول ضروري دي چې هغوی په غلطئ سره په دې حرامو کې اخته نه شي، په دويم صورت کې لومړنی نکاح باقي ده؛ نو ځکه د عدت يا د دويمې نکاح سوال هم غلط دی.

سوال: د عدت موده څومره ده، اوريدلي مې دي درې مياشتې او لس ورځې ده، آيا دا صحيح ده؟

جواب: د طلاقو عدت درې حيضه دي[5]، درې ځله پاکېدلو سره عدت پوره کيږي، درې مياشتې او لس ورځې عدت نه دی.

[په جبر او زور سره نکاح]

نکاح کې دې په هلک او نجلۍ زور نه کيږي

سوال: د زيد نکاح په يو داسې ځای کې کيږي چې نه پرې زيد خوښ دی او نه د زيد پلار، يوازې د زيد مور ده چې په دې باندې اصرار کوي، په داسې صورت کې د شريعت څه حکم دی؟

۱]لو وطئها بشبهة وجب عليها العدة. (ردالمحتار، مطلب فيما لوزوج المولى امته/ ۳/ ٥٠)_

۲] لا يجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره وكذٰلک المعتدة كذا فى السراج الوهاج سواء كانت العدة عن طلاق (الى قوله) او شبهة نكاح كذا فى البدائع. (عالمگيرى/ المحرمات التى يتعلق بها حق الغير/ ۱/ ۲۸۰/ طبع رشيديه كوئته)_

۳] ايضاً)_

٤] ايضاً)_

٥]قال تعالى: "والمطلقٰت يتربصن بانفسهن ثلثة قروءٍ". (البقرة: ۲۲۸)_

جواب: هر کله چې زيد په رشته باندې خوښ نه دی؛ نو په ده باندې زور کول صحيح نه دي، کنه نو نن که هغه د نکاح ايجاب او قبول وکړي، سبا به بيا طلاق ورکوي.

د ماشوموالي د کوزدې په وجه په زوره نکاح ناجائز ده

سوال: د يوې نجلۍ کوزده په داسې حال کې وشوه چې دا د شپږو کالو په عمر کې وه، اوسمهال هغه ځوانه شوې ده، تر لسم صنف پورې يې مکتب هم ويلی دی. هغه د واده نه انکار کوي، مور او پلار يې د هلک کورنۍ د واده غوښتلو نه منع کړه چې د نجلۍ خوښه نه ده. د هلک کورنۍ زورواکي دي او زور کوي، عدالت ته نه ځي، بلکې په زوره واده کول غواړي، تاسوددې ځواب د قرآن او سنتو په رڼا کې راکړئ، مونږ به ستاسو مننددوی اوسو.

جواب: که چېرته نجلۍ هلته خوښه نه وي؛ نو ددې د رضا نه بغير نکاح نه کيږي، [1]دا رشته ختمول پکار دي او د هلک کورنۍ ته پکار دي چې زور نه کوي.

ايا مور- پلار د بالغې لور نکاح په زوره کولی شي؟

سوال: مور او پلار د لور واده د هغې د خوښې خلاف وکړو، هلک د نجلۍ د خوشحالولو ډېر کوشش وکړ: خو د نجلۍ په زړه کې د هلک لپاره هيڅ ځای نه جوړېده؛ نو په همدې لړۍ کې هلک ته څه کول پکار دي؟ مهرباني وکړئ ددې ځواب د شريعت په رڼا کې راته وليکئ!

جواب: د عاقلې بالغې نکاح د هغې د خوښې پرته ناجائز ده[2]، که چېرته نجلۍ د مور- پلار د وينا له وجې نکاح ومني؛ نو دا نکاح خو وشوه[3] ليکن که د دواړو ښځې او خاوند تر منځ مينه پيدا نه شي؛ نو هلک ته پکار دي که نجلۍ خوشحاله نه وي؛ نو هغې ته دي طلاق ورکړي او له ځانه دي لري کړي.

---

[1] قوله ولا تجبر بكر بالغة على النكاح اى ولا ينفذ عقد الولى عليها بغير رضاها عندنا. (البحرالرائق/ باب الاولياء والاكفاء/ ۳/ ۱۱۸/ طبع دار المعرفة/ بيروت)۔

[2] قالت (اى عائشة) سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الجارية ينكحها اهلها، اتستأمر ام لا؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: نعم، تستأمر. قالت عائشة: فقلت له: انها تستحى، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: فذالك اذنها اذا هى سكتت. (جامع الاصول/ ۱۱/ ٤٦٢/ الفرع الثانى فى الاستئذان والاجبار).
ولا تجبر البالغة البكر على النكاح لانقطاع الولاية بالبلوغ. (ردالمحتار على الدرالمختار/ كتاب النكاح، باب الولى/ ۳/ ۵۸)۔

[3] لا يجوز نكاح احد على بالغة (الى قوله) بغير اذنها.......فان فعل ذلک فالنكاح موقوف على اجازتها فان اجازته جاز. (عالمگيرى/ كتاب النكاح/ الباب الرابع فى الاولياء/ ۱/ ۲۸۷/ طبع رشيديه/ كوئته)۔

د قوم د رواج لاندې د زور نکاح

سوال: د کومې ښځې نکاح چې د قومي رواج سره سم په زوره شوې وي، ایا دا نکاح صحیح کیږي؟

جواب: که چېرته ښځې قبوله کړې وي؛ نو نکاح یې کیږي کنه نو نه کیږي [۱]

بې زړه یوازې په خوله اقرار کول

سوال: که چېرته نجلۍ د کوم سړي سره نکاح کول نه غواړي، د مور- پلار او خپل خان د عزت په خیال په ډک مجلس کې اقرار وکړي، حال دا چې زړه یې نه غواړي؛ نو دا نکاح صحیح ده؟

جواب: که چېرته دې په خوله اقرار کړی وي؛ نو نکاح یې صحیح ده. [۲]

د بې هوشۍ پر مهال د مجلۍ ګوته لګول

سوال: یوه نجلۍ چې عمر یې تقریباً نولس کاله دی، ددې واده د پنځه دېرش کلن سړي سره وشو، ددې سړي د لومړۍ ښځې نه هم اولاد ؤ چې ددې نجلۍ عمر هم زیاتېدو والا دی، د نکاح په وخت کې چې کله نجلۍ ته په اجازت نامه باندې د امضاء کولو وویل شول؛ نو هغې انکار وکړ ځکه چې نجلۍ په دې واده باندې خوښه نه وه، هغې په ژړا- ژړا انکار کولو او په ژړا ژړا کې همداسې بې هوشه شوه، د بې هوشۍ په حالت کې یې په اجازت نامه باندې ګوته ولګوله، تاسو د قرآن او سنت په رڼا کې ووایئ چې آیا دا نکاح جائزه شوه؟ که چېرته نه وي شوې؛ نو دوی ته څه کول پکار دي؟

جواب: د نکاح لپاره د نجلۍ اجازت ورکول شرط دی، تا چې کوم واقعات لیکلي دي که چېرته هغه صحیح وی نو ددې نجلۍ طرفنه دنکاح اجازت اډو شوې نه دی، ددې وجې نه نکاح ونه شوه. [۳]

۱] ایضاً.)_

۲] عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ثلاث جدّهنّ جدّ وهذلـهُنّ جد: النکاح، والطلاق والرجعة. (سنن ابی داؤد/ باب فی الطلاق علی الهزل/ ۱/ ۳۰۵/ طبع ایچ ایم سعید)_

۳] قوله ولا تجبر بکر بالغة علی النکاح ای ولا ینفذ عقد الولی علیها بغیر رضاها عندنا. (البحرالرائق/ باب الاولیاء والاکفاء/ ۳/ ۱۱۸/ طبع دار المعرفة/ بیروت) فی الشامیة: من اختل عقله لکبر او لمرض او لمصیبة فاجاته فما دام فی حال غلبة الخلل فی الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله. (ردالمحتار/ مطلب فی طلاق المدهوش/ ۳/۲٤٤)_

که بالغه نجلۍ نکاح قبوله نه کړي، نکاح يې نه ده شوې

سوال: زمونږ په مذهب (اسلام) کې هرې بالغې نجلۍ ته د خپلې خوښې د واده کولو اجازت دی، که چېرته مور او پلار د بالغې لور نکاح د کوم هلک سره په زوره د هغې د خوښې په خلاف وکړي؛ نو دا نکاح جائز ده او که نه؟

جواب: که چېرته بالغې نجلۍ نکاح قبوله نه کړه، بلکې نکاح اورېدلو سره يې انکار وکړ: نو نکاح يې نه ده شوې، که چېرته د مور- پلار د عزت خيال ساتلو لپاره خو يې سمدستي انکار ونه کړ، بلکې چوپه پاتې شوه، نکاح يې قبوله کړه؛ نو نکاح يې صحيح شوه.[۱]

د وهلو له وجې په بې هوشۍ کې د ګوتې لګول

سوال: يوه نجلۍ چې عمر يې پنځلس کاله دی، پلار يې ترې په يوازې کوټه کې بند کړ او نجلۍ يې په يوازې کوټه کې بنده کړه، د نجلۍ نه يې په زوره اجازت نامه باندې امضاء واخيسته، نجلۍ انکار وکړ، ځکه چې هغه په زړه کې خوښه نه وه، نجلۍ ووهل شوه چې د هغې له امله په هغې باندې بې هوشي راغله او د بې هوشۍ په حالت کې ګوته ولګول شوه، آيا دا نکاح صحيح شوه؟ که چېرته نه وي شوې؛ نو اوس زمونږ لپاره څه کول پکار دي؟

جواب: د بالغې نجلۍ نکاح د هغې د اجازت نه بغير نه کيږي[۲]، او د بې هوشۍ پرمهال ګوتې لګولو ته اجازت نه وايي[۳]؛ نو ځکه دا نکاح نه ده شوې.

د بالغ اولاد نکاح د هغوی د خوښې سره سم کول پکار دي

سوال: آيا د بالغ اولاد نکاح د هغوی د خوښې پرته مور- پلار کولی شي يا نه؟ ځکه چې ژوند خو اولاد تېروي مور- پلار نه.

جواب: د بالغ اولاد خوښه په نکاح کې شرط ده، ددې وجې د مور- پلار لپاره دا جائزه نه ده چې بالغ اولاد د هغه د مرضۍ په خلاف مجبور کړي؛ خو که چېرته بالغ هلک او نجلۍ د خپل

---

[۱] لا يجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل من اب او سلطان بغير اذنها بكراً كانت او ثيباً فان فعل ذٰلک فالنكاح موقوف على اجازتها فان اجازته جاز وان ردته بطل كذا فى السراج الوهاج. (عالمگیری/ کتاب النکاح/ الباب الرابع فى الاولياء/ ۱/ ۲۸۷ /طبع رشيديه)۔

[۲] لا يجوز نكاح احد على بالغة (الى قوله) بغير اذنها. (عالمگیری/ کتاب النکاح/ الباب الرابع فى الاولياء/ ۱/ ۲۸۷) ايضاً: ولاينعقد بالكتابة من الحاضرين فلو كتب تزوجتک فكتبت قبلت لم ينعقد هٰكذا في النهر الفائق. (عالمگیری/ ۱/ ۲۷۰/ کتاب النکاح/ طبع رشيديه)۔

[۳] من اختل عقله لكبر او لمرض او لمصيبة فاجاته فما دام فى حال غلبة الخلل فى الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله. (رد المحتار/ کتاب الطلاق/ مطلب فى طلاق المدهوش/ ۳/ ۲۴۴)۔

خواهش خلاف د مور- پلار خوښه قبوله کړي؛ نو نکاح يې کيږي او که چېرته هلک او نجلۍ نکاح قبوله نه کړه؛ نو نکاح يې نه کيږي[۱]

په چل نکاح نه ده صحيح

سوال: زما د يو ملګري د خپلې خورکۍ نکاح په زور د يو داسې سړي سره وکړه چې په يوه طريقه کې هم سره برابر نه وو، د نکاح په وخت د نجلۍ عمر يوولس کاله ؤ او هغې ته يې دا وويل چې دا ذ ځمکې کاغذونه دي، په نکاح خط يې ترې امضاء واخيستل. (په دې ورځو کې دنجلۍ پلار وفات شو او د ځمکې د بدلون مسئله وه) پوښتنه دا ده که چېرته دا نکاح شوې وي؛ نو اوس نجلۍ ته څه کول پکار دي؟ ځکه چې هغه ددې واده لپاره بالکل تياره نه ده.

جواب: دا نکاح نه ده شوې[۲]، نجلۍ چې خپل عقد چېرته غواړي کولی يې شي.

د کونډې نکاح د هغې په خوښه کول پکار ده

سوال: آيا شريعت کې د وفات په عدت کې دننه کونډې سره نکاح يا د نکاح پيغام ورکول جواز لري يا نه؟ آيا د عدت نه پس د کونډې د خوښې خلاف نکاح کول جواز لري؟ حال دا چې د ښځې هيڅ خوښه نه وي.

جواب: په عدت کې دننه نکاح نه کيږي، بلکې د عدت پرمهال د نکاح پيغام ورکول هم حرام دي[۳]، د عدت نه پس د ښځې نکاح دويم ځای کې جواز لري، په دې شرط چې ښځه هم پرې خوښه وي، ددې د خوښې خلاف ددې د خاوند کورنۍ يا بل څوک دا حق نه لري چې په زوره

۱] لا يجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل من اب او سلطان بغير اذنها بكراً كانت او ثيباً فان فعل ذلك فالنكاح موقوف علىٰ اجازتها،فان اجازته جاز، وان ردته بطل، كذا فى السراج الوهاج.(عالمگيرى/ ۱/ ۲۸۷)

۲]وفى رواية لابى داؤد والترمذى والنسائى: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: اليتيمة تستامر فى نفسها، فان صمتت فهو اذنها، وان ابت فلا جواز عليها، (فلا جواز عليها) اراد بقوله: فلا جواز عليها اى: لا ولاية عليها لغير ابيها، وحيث هى يتيمة قد مات ابوها، فلا يجبرها على النكاح احد اذا ابت (جامع الاصول/ ۱۱/ ٤٦۱/الفرع الثانى فى الاستئذان والاجبار). ايضاً: انكاح الاخ والعم من غير كفو فانه لا يجوز بالاجماع، لانه ضرر محض. (ردالمحتار/ كتاب النكاح/ مطلب مهم هل للعصبة تزويج الصغير؟....الخ /ج:۳/ ٦۸/ طبع ايچ ايم سعيد)_

۳]قال تعالى: "وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ منكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجاً يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْراً". وقال تعالى: "وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاء أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ عَلِمَ اللّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَـكِن لاَّ تُوَاعِدُوهُنَّ سِرّاً إِلاَّ أَن تَقُولُواْ قَوْلاً مَّعْرُوفاً وَلاَ تَعْزِمُواْ عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ". (البقرة: ۲۳۳، ۲۳٤)

يې نکاح کړي.[۱]

د نابالغې نکاح د بلوغ وروسته بيا کول

سوال: زما د خور ملګري نکاح د نن نه تقريباً څلور کاله وړاندې شوې وه. څلور کاله پس چې کله د واده تاريخ وټاکل شو؛ نو د نجلۍ کورنۍ دويم ځلي د نکاح غوښتنه کول. دلايل دا وړاندې کوي چې هغه وخت نجلۍ نابالغه وه، دويم دا چې هغې ته د امضاء لپاره دوه شاهدان نه وو ورغلي، بله دا چې اصل وجه په حق مهر کې زياتونه ده، د هلک کورنۍ د دوی تر تعصيب لاندې راغلل او دوباره نکاح يې وکړه، د مهر روپۍ يې د شپږو زرو روپو په ځای شل زره وليکلې، لومړني مولوی صاحب دوباره نکاح وتړله، په مجلس کې يو بل مشر مولوی صاحب ناست ؤ چې هغه هم هيڅ مخالفت څرګند نه کړ، مسئله دا ده چې لومړی ځل چې کله مولانا صاحب د مجلس په موجودګۍ کې د وليانو په ايجاب قبول سره نکاح تړلې وه؛ نو د نجلۍ د نابالغېدو پر اساس يا د شاهدانو په رواجي طريقې نه تللو او د نجلۍ څخه د امضاء نه اخيستلو له وجې نکاح وشوه او که نه؟ که چېرته لومړی نکاح نه وي شوې؛ نو دوباره نکاح تړلو سره لومړی نکاح صحيح ګڼل کيږي که دويمه؟

جواب: لومړی نکاح که چېرته د شاهدانو په موجودګۍ کې شوې وه؛ نو هغه صحيح ده[۲]، دويمه لغو او يو غير ضروري کړنه وه، لومړی نکاح شايد چې رسمي نه وه، ددې وجې يې دوباره نکاح وکړه؛ خو د زيات په مهر غوښتلو کې درسر ظلم کړی دی.

[بچوته شيدې ورکول]

د رضاعت ثبوت

سوال: زما د ماما د لور کوزده وشوه، زما مور وايي چې ما خپل ورور ته شيدې ورکړي دي او کله وايي چې نه، اوس تاسو ووايئ چې ايا زما د ماما د لور سره نکاح جائز ده او که نه؟

جواب: د رضاعت ثبوت د دوه عادلانو سړو يا د يو سړي او دوه ښځو په شهادت ثابتيږي[۳]،

۱] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: الايم احق بنفسها من وليها. (سنن ابی داؤد، کتاب النکاح، باب فی الثيب/ ۱/ ۲۹۳/ طبع ايچ ايم سعيد). ايضاً اوګورئ تيرې شوې څلور حاشيې.

۲]ويحصل انعقاده بالايجاب والقبول. (ردالمحتار/ ۳/ ۹/ کتاب النکاح). وشرط حضور شاهدين. (درمختار مع ردالمحتار/ ۳/ ۲۱/ کتاب النکاح/ طبع سعيد).

۳](و) الرضاع حجته (حجة المال) وهی شهادة عدلين او عدل وعدلتين (الی قوله) وهل يتوقف ثبوته علی دعوی المراة، الظاهر لاکما فی الشهادة بطلاقها.(درمختارمع ردالمحتار/کتاب النکاح/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۲٤)

هر کله چې ستا مور ته هم یقین نشته او د شیدو ورکولو شاهد هم نشته؛ نو رضاعت ثابت نه دی. ځکه یې نکاح کیږي: خو که ددې نکاح نه ځان وساتل شي: نو غوره ده

د ښځې دشیدو د حرمت حکم ترکومه دی؟

سوال: یوه ښځه او خاوند چې په خوشحالۍ سره خپل ژوند تېروي، هغوی ته الله تعالی درې بچي هم ورکړي وي، د ټولو نه وړوکې ماشومه چې د هغې عمر تقریبا یو نیم کال دی او د مور شیدې څښي. یوه ورځ یې د شپې له خوا شېدې ونه څښلې چې د هغې په وجه د ښځې شیدې ډېرې راغلې، د تکلیف له وجې یې ښځې خپلې شیدې خپله وویستلې، په کوم پاک لوښي کې یې ددې لپاره کېښودې چې وروسته به یې په کوم پاک ځای کې واړوي، ځکه ښځې له چا اوریدلي ؤ چې په عام ځای کې یا مردار ځای کې داسې شیدې غورځول ګناه ده، هغې به د خپل زوږ عادت له مخې د سهار د چای لپاره د شپې شیدې راغوښتلې او له ځانه سره به یې اېښودلې. سهار یې خاوند پاځېدو او د چای جوړولو پرمهال یې په غلطۍ د چای والا شیدو له خایه د خپلې ښځې شیدې ورواچولې، کومې شیدې چې یې د سینې نه ویستې وې، هغه ښځې او خاوند چای دواړو او بچو وڅښلې، د چای څښلو وروسته یې ښځه د خپل ویستل شوو شیدو په لټه کې شوه تر څو خاوند ته یې ورکړي او په کوم پاک ځای کې یې وغورځوي؛ نو وې کتل چې په دې لوښي کې شیدې نشته ، په دې اړه یې د خپل خاوند نه پوښتنه وکړه، هغه ورته وویل: چې ددې لوښي شیدې خو ما په چای کې واچولې، کله چې هغې وکتل؛ نو د چای والا شیدې همغسې په زوږ حال پرتې وې، ښځې چې کله دا وکتل؛ نو حیرانه شوه او خاوند یې ددې پریشانۍ له وجې پوښتنه وکړه؛ نو ښځې ورته وویل چې په دې لوښي کې خو ما خپلې شیدې د شپې په وخت ستا مخامخ وویستل او اېښي مې ؤ، تا چې په چای کې واچولې هغه خو مونږ ټولو وڅښلې، اوس دواړه ښځه خاوند ډېر پریشانه شو؛ نو دوی د یو عالم نه د مسئلې پوښتنه وکړه، ټوله کیسه یې ورته وکړه، دې عالم ورته وویل: چې ستاسو دواړو ښځې او خاوند نکاح ماته شوې ده، تاسو دواړه د ښځې او خاوند په حیث نه شئ اوسېدلی. ځکه چې ستا ښځه اوس ستا رضاعي مورشوه، اوس دا ښځه په تاباندې حرامه شوه.

اوس تاسو په دې مسئله باندې د قرآن او سنتو په رڼا کې مونږ ته ځواب راکړئ چې آیا واقعي ددې دواړو نکاح ماته شوې ده؟ آیا ددې دواړو په منځ کې طلاق واقع شو؟ آیا دا ښځه په خپل خاوند باندې حرامه ده؟ آیا رجوع کولو سره دوباره نکاح کېدی شي؟ آیا د حلالې نه پس دوباره نکاح کېدی شي؟

جواب: د ښځې د شیدو نه حرمت هغه وخت ثابتیږي چې کله بچی د دوه کالو په عمرکې دننه

شيدې وڅښي[۱]، د لوی عمر سړي لپاره په شيدو څښلو سره حرمت نه ثابتيږي او نه هم ښځه رضاعي مور جوړيږي، لهذا ددې دواړو نکاح په خپل زوړ حال باندې ده، دې عالم مسئله قطعاً غلطه ويلي ده، ددې دواړو نکاح نه ده ماته شوې[۲]؛ نوځکه نه د حلالې ضرورت شته، نه دوباره د نکاح کولو او نه هم د کومې کفارې ضرورت شته. پوره په اطمينان کې اوسئ.

د رضاعت په اړه د ښځې قول ته اعتبار نشته

سوال: زما د تره دوه اولادونو هلک او نجلۍ (چې په خپل منځ کې رضاعي ورور او خور دي) نکاح يې وکړه، کوم مولوي صاحب چې نکاح تړله، هغه وروسته خبر شو چې معامله خو داسې ده، مولوي صاحب وويل چې د درې کسانو شهادت ته ضرورت دی چې دوی د يوې مور شيدې څښلي دي، د هلک او نجلۍ د مور- پلار وينا ده چې دا خبره دروغ ده، هلک د نجلۍ د ميرنۍ مور شيدې نه دي څښلي، ما او د خاندان يو څو کسانو په دغه وخت په دې خبره د هلک او نجلۍ مورپلار ته فتوی راوړه او د دوی سره خپلوي پرې کړه، ځکه چې د دريو کسانو شهادت زمونږ سره نه ؤ، البته د کومې ښځې شيدې چې څښل شوي وې، مونږ درې واړه دې ښځې ته لاړو او ددې څخه مو حالات معلوم کړه؛ نو دې ښځې وويل: چې ما دې هلک ته شيدې ورکړي وې، ددې د خاوند وينا ده چې زما ددې ښځې سره د دويم واده په وجه اړيکې ښې نه دي، نو ځکه دا زما څخه د بدل اخيستلو لپاره درواغ وايي.

اوس دا خبره شکي ده چې ښځه رښتيا وايي که درواغ، درې شاهدان هم زمونږ سره نشته؛ نو ځکه ستاسو څخه هيله لرو چې مونږ ته ددې خبرې فتوی راکړئ چې آيا ما کومه خپلوي پرې ايښې ده دا جائز کار دی که نا جائز؟

جواب: د رضاعت د ثبوت لپاره دوه شاهدان چې د سترګو ليدلې شاهدي بيان کړي ضروري ده، صرف د شيدو ورکونکي ښځې دا وينا چې ما شيدې ورکړي دي کافي نه دي[۳]، نو ځکه په ياد صورت کې نکاح صحيح ده او ددې ښځې قول ته اعتبار نشته.

۱]باب الرضاع: هو مص ثدی آدمية (الی قوله) فی وقت مخصوص هو حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما وهو الاصح، فتح، وبه يفتٰی. (درالمختار مع ردالمحتار/ ۳/ ۲۰۹/ کتاب النکاح/ باب الرضاع)۔

۲]مص رجل ثدی زوجته لم تحرم. (درمختار مع ردالمحتار/ کتاب النکاح/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۲۵)۔

۳]والرضاع حجته حجة المال وهی شهادة عدلين او عدل وعدلتين (الی قوله) وهل يتوقف ثبوته علی دعوی المراة، الظاهر لا، کما فی الشهادة بطلاقها. (درمختار مع ردالمحتار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۲۴)۔

ماشوم ته تر څو کالو پورې شیدې ورکول شي؟

سوال: ماشوم ته د شیدو، ورکولو په اړه ځینې خلک وايي چې شریعت کې نجلۍ ته پاو کم دوه کاله او هلک ته پوره دوه کالو پورې شیدې ورکول شي، ایا دواړو ته تر دوه کالو پورې د شیدو ورکولو حکم نه دی؟ او که د دواړو د مودې تر منځ کوم توپیر وي هغه راته بیان کړئ؟

جواب: د دواړو لپاره دوه کاله د شیدو ورکولو حکم دی، د دواړو شیدې مخکې پرېښودل هم جائز دي. که ددې ضرورت او یا هم کوم مصلحت پکښې وي[1]، په هر حال د دواړو د رضاعت په موده کې هیڅ توپیر نشته.

د ماشوم په غوږ کې شیدې اچولو سره رضاعت نه ثابتیږي

سوال: د ماشوم په غوږ کې شیدې اچولو سره رضاعت ثابتیږي که نه؟

جواب: دې سره رضاعت نه ثابتیږي.[2]

که رضاعت شکي وي؛ نو احتیاط غوره دی

سوال: یوې ښځې خپل خورځې ته شیدې ورکړې وې، دې ښځې خپله اقرار کړی دی او تر دوه کالو پورې یې دا منل. د کورنیو نورو غړو هم دا منل؛ خو ناڅاپي ددې ماشومې د رشتې لپاره یې بیان په قسم سره بدل کړ، دې ښځې په دې ډول اقرار وکړ چې دا ماشومه ما ته خپله ډېره خوښه ده چې زه د خپل بچي رشته ددې سره وکړم، مګر دې زما شیدې څښلې دي، ځینې وخت ددې د خاوند د ورور لپاره ددې د رشتې خبره روانه وه؛ نو دې ښځې خپل بیان بدل کړ چې دې زما شیدې نه دي څښلې، زما هېر دي، اوس مسئله دا ده چې آیا ددې ښځې د رشتې لپاره بیان بدلول جائز دي؟

جواب: د نورو معاملاتو په څېر د شیدو ورکولو ثبوت هم د دوه شاهدانو په شهادت سره کیږي. یوازې د شیدو ورکونکي په وینا دعوه نه ثابتیږي او نه هم رد کیږي[3]، بیا هم تر کله پورې چې د شیدې ورکونکي په قول اعتماد وي چې فلانکي ماشوم د فلانکۍ ښځې شیدې څښلې دي، ددې نه پس ددې ښځې د خپل اقرار نه ګرځېدل شک پیدا کوي؛ نو ځکه ددې

۱]قال تعالى: "وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ......فَإِنْ أَرَادَا فِصَالاً عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا". (البقرة: ٢٣٣)۔

٢]ولايثبت بالاقطارفى الاذن (الى قوله) وان وصل الى الجوف والدماغ.(عالمگیری/كتاب الرضاع/١/ ٣٤٣)

٣]ولا تقبل فى الرضاع شهادة النساء منفردات لان شهادة النساء ضرورية فيما لا اطلاع للرجال عليه والرضاع ليس كذالك، وانما يثبت بما يثبت به المال. (اللباب/ ٢/ ١٦٧/ كتاب الرضاع/ طبع قديمى)۔

ماشومې نکاح ددې ښځې د لېور سره کول د احتیاط خلاف دي. لهذا نه دي کول پکار. لکه څنګه چې د حضور ﷺ ارشاد دی چې د کوم شي په اړه تاسو ته شک وي نو هغه پرېږدی.[۱]

د رضاعت د مودې وروسته حرمت نه ثابتیږي

سوال: سلمی او عقیله دوه سکه خورګانې دي، د سلمی زوی صغیر حسین چې کله د شپږو کالو ؤ؛ نو دغه وخت د عقیلې د زوی کبیر عمر نهه میاشتې ؤ چې عقیلې یوه کاشغه خپلې شیدې په دوا کې یو ځای صغیر حسین ته ورکړه، ددې وروسته د عقیلې څلور بچیان نور پیدا شوي، د عقیلې څلورم زوی کرارحسین ځوان شو. دلته د صغیرحسین لور جمیله ځوانه شوه او په انډیا کې د دواړو نکاح وتړل شوه، اوس تاسو راته فتوی راکړئ چې د صغیرحسین لور جمیله او د عقیله زوی کرارجسین په خپل منځ کې نکاح جائز ده که نه؟

جواب: د شپږو کالو ماشوم ته شیدې ورکولوسره حرمت نه ثابتیږي[۲]؛ نو ځکه د صغیر حسین د لور سره د عقیلې د زوی نکاح صحیح ده.

د ماشوموالي وروسته شیدې څښل ناجائز دي

سوال: که یو بالغ سړی د کومې ښځې شیدې وڅښي؛ نو دی به ددې ښځې زوی شمارل کیږي او که نه؟ یعنې د رضاعت اعتبار به دماشوموالي په زمانه کې کیږي که په شیدو باندې؟ زمونږ په کوڅه کې یو داسې کور دی چې هلته هغه خلک خپل کوم مزدور ته کور ته دننه د راتلو اجازه ورکړي: نو لومړی ورته د خپلې ښځې شیدې ورکړي چې څه ورانئ ونه کړي، بله دا چې که بالغ سړي ته شیدې ورکولو باندې د رضاعت مسئله نه پیدا کیږي؛ نو بیا د خپلې ښځې شیدې څښلو په اړه د قرآن او سنتو څه حکم دی؟

جواب: رضاعت صرف د ماشوموالي په زمانه کې ثابتیږي چې دهغې موده د صحیح قول مطابق دوه کاله ده، د یو قول مطابق دوه نیم کاله ده [۳]، د ماشوموالي د پورته ذکر شوي مودې وروسته شیدې ورکولو سره رضاعت نه ثابتیږي، نه په دې باندې د حرمت حکم جاري کیږي[۴]. د ماشوموالي د مودې نه پس خپل بچي ته هم شیدې ورکول حرام دي[۵]، هم دغه راز

---

[۱] عن الحسن بن علی قال: حفظت من رسول الله صلی الله علیه وسلم: دع ما یریبک الی مالا یریبک. (مشکوٰة/ باب الکسب وطلب الحلال/ ۲۴۲/ طبع قدیمی)۔

[۲] واذا مضت مدة الرضاع لم یتعلق بالرضاع تحریم کذا فی الهدایة. (عالمگیری/ کتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۳)۔

[۳] فی باب الرضاع: وهو مص من ثدی آدمیة (الی قوله) فی وقت مخصوص هو حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما وهو الاصح. فتح. وبه یفتٰی. (درمختار مع ردالمحتار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۵۹)۔

[۴] فاذا مضت مدة الرضاع علی الخلاف لم یتعلق بالرضاع تحریم ولم یفطم.(اللباب/ کتاب الرضاع/ ۲/ ۱۶۳)

[۵] ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمی والانتفاع به بغیر ضرورة...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د کومې ښځې شیدې د لوی عمر پردي هلک نه ورکول حرام دي[۱]: نو څکه تاسو چې د خپلې محلې د کوم کور ذکر کړی دی د دوی دا کار ناجائز دی، د ښځې شیدې څښل هم حرام دي؛ مګر دې سره نکاح نه ماتیږي [۲]

په اووه کلنۍ کې شیدې څښلو سره رضاعت نه ثابتیږي

سوال: زما مور زما د ترور هغه شیدې چې هغې به د غوړخولو لپاره دې ته ورکولې. تقریبا د اووه کالو په عمر کې یې څښلې وې، زما ترور ترې ناخبره وه، اوس تاسو دا ووایئ چې آیا زما د ترور زوی زما د مور د شیدو شریک ورور دی که نه؟ او دا چې زما د خور واده زما د ترور د زوی سره کېدی شي که نه؟

جواب: د رضاعت موده دوه کاله (او د یو قول مطابق دوه نیم کاله) ده[۳]، ددې مودې نه پس د رضاعت احکام نه جاري کیږي[۴]، لهذا د اووه کالو په عمر کې شیدې څښلو سره رضاعت نه ثابتیږي؛ نو څکه ستا د خور نکاح د ترور د زوی سره کېدی شي.

د ماشوم د کلارولو لپاره د بوډۍ ښځې تیان په خوله کې رول

سوال: زمونږ په وطن کې رواج دی چې کله د کور زنانه په کارکې اخته وي او وړوکي ماشومان یې ژاړي؛ نو د دوی د چوپ کولو لپاره د کور بوډۍ ښځه د خپل تي سرونه د ماشوم خوله کې ورکړي، په داسې حال کې چې ددې ښځې شیدې نه وي، آیا په دې سره دا ماشوم ددې ښځې اولاد ګرځي؟ دا صورت کله داسې هم وشي چې د ګاونډ کومه ښځه د کوم کار لپاره چېرته ځي؛ نو خپل وړوکی ماشوم بوډۍ ښځې ته وسپاري، په داسې صورت کې هم کله نا کله بوډۍ ښځه د ماشوم د ژړا پرمهال هغه ته تي په خوله کې ورکړي او د بوډۍ ښځې په تیانو کې شیدې نه وي؛ آیا دې طریقې سره ماشوم ددې ښځې بچی ګرځي؟

جواب: کومو ښځو ته چې د زیات عمر له وجې شیدې نه راځي صرف د ماشومانو د چوپ کولو لپاره ماشومان په غېږه کې اخلي؛ نو په دې سره دا ماشوم ددې اولاد نه جوړیږي، څکه

...بقیه د تیرمخ] حرام علی الصحیح، شرح الوهبانیة. (شامیة/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۱۱/ طبع ایچ ایم سعید)

۱] ایضاً.)_

۲] مصّ رجل ثدی زوجته لم تحرم. (شامیة/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۲۵)_

۳] ومدة الرضاع عند ابی حنیفة ثلاثون شهراً.......وقالا سنتان لان ادنی مدة الحمل ستة اشهر فبقی للفصال حولان قال فی الفتح: وهو الاصح، وفی التصحیح عن "العیون" وبقولهما ناخذ للفتویٰ....الخ. (اللباب فی شرح الکتاب/ ۲/ ۱۶۳/ کتاب الرضاع/ طبع قدیمی)_

۴] ویثبت التحریم فی المدة فقط. (درمختار علی هامش ردالمحتار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۱۱)_

چې د اولاد جوړېدلو لپاره شرط دا دی چې شیدې وځښي او ددې ښځو د شیدو راتلو امکان هم نشته [۱]

د لسو کالو وروسته د رضاعت ثابتولو مطلب

سوال: تاسو دا لیکلي وو چې کوم ماشوم د ماشوموالی په دوره کې د کومې ښځې شیدې ځښلي وي؛ نو هغه ددې ښځې رضاعي زوی ګرځي، ددې ښځې بچیان ددې شیدو شریکي رورو خور شو، که چېرته ددې مدت نه پس شیدې وځښي؛ نو هغه د رضاعت په حکم کې نه راځي. مګر یو مولوي صاحب ماته ووېل چې شیدې کله هم وځښل شي هغه شیدې ځښونکې(ماشومه) یا ځښونکې (مور) د هغې رضاعي نسب ثابتیږي. ماهغه ته د جنتي کالي د حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه د کتاب حواله ورکړه او ستاسو د پرېکړې نه مې خبر کړ: نو هغه راته ددې مسئلې نمبر۱۴ ځلورمه برخه ۲۱۱ مخ حواله راکړه. ددې مطابق یو هلک او یوه نجلی ده، دواړو د یوې ښځې شیدې وځښلې: نو د هغوی نکاح نه کیږي، برابره ده که په هره زمانه کې یې ځښلي وي یا یې یو مخکې او دویم څه موده پس وځښي، د دواړو یو حکم دی، تاسو ته ښه معلومه ده چې د شیدو ځښلو موده د امام اعظم د فتوی سره سم زیات نه زیات دوه نیم کاله ده، که چېرته ددې نه پس یې شیدې ځښلي وي؛ نو ددې ښځې د لور سره نکاح درسته ده، تاسو ته درخواست دی چې د جنتي کالي ددې مسئلې پوره وضاحت وکړئ!

جواب: د جنتي کالي ددې مسئلې مطلب دا دی چې هلک او نجلی دواړو د رضاعت په موده کې دننه شیدې ځښلي وي، برابره ده که هلک لس کاله مخکې ځښلي وي (چې کله هغه د ماشوموالي په حالت کې ؤ) او نجلی لس کاله وروسته ځښلي وي، خلاصه دا چې حرمت به هغه وخت ثابتیږي چې کله هلک او نجلی دواړه د ماشوموالی په موده کې ځښلي وي، البته دا شرط نه دی چې دواړو په یو وخت شیدې ځښلي وي[۲] او که چېرته دواړو یا په دوی کې یو د رضاعت د مودې نه پس ځښلي وي؛ نو دې سره حرمت نه ثابتیږي، [۳] بلکې د داړو نکاح به جائز وي.

---

[۱] امراة كانت تعطى ثديها صبية واشتهر ذٰلك بينهم ثم تقول لم يكن فى ثديي لبن حين القمتها ثديي ولم يعلم ذٰلك الا من جهتها جاز لابنها ان يتزوج بهٰذه الصبية. (ردالمحتار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۱۲) وفيه: المراد بالمص الوصول الى الجوف من المنفذين. (ردالمحتار/ ۳/ ۲۰۹/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۲] ولا فرق فى التحريم بين الرضاع الطارئ والمتقدم كذا فى المحيط. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۵)۔

[۳] اذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم كذا فى الهداية. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۳)۔

شيدې په دوايي کې اچولو حکم

سوال: يوې ښځې يو ماشوم ته په دوايي کې خپلې شيدې واچولې او په ماشوم يې وڅښلې. اوس دده رشته ددې ښځې د اولاد سره جائز ده که نه؟ په هغه صورت کې چې شيدې ډيرې وي.

جواب: ناجائز ده [۱]

سوال: په دې صورت کې چې دوايي ډېره او شيدې کمې وي ؟

جواب: جائز ده. [۲]

سوال: په دې صورت کې چې دوايي او شيدې دواړه برابر وي؟

جواب: جائزه نه ده. [۳]

د شيدې ورکونکې ښځې ټول اولاد په شيدې څښونکي ماشوم حرامېږي

سوال: زما وړوکي ورور په ماشومتوب کې زما د ترور شيدې څښلي دي، اوس د هغې دواړو لورګانو سره زمونږ د دواړو ورونو د واده خبره کيږي، ما د ورور په سلسله کې د هغوی سره اختلاف وکړ، تر کومه حده پورې چې زه خبر يم، هغه دا چې کومې ښځې چې يو هلک ته شيدې ورکړې؛ نو ددغې ښځې د لورګانو سره د شيدو څښونکي هلک نکاح ناجائز ده، ليکن زما مشران بيا وايي: چې شيدې څښلو سره د چا د برخې شيدې څښښ شوي وي، د هغه سره يې نکاح نه کيږي، ددې وروسته يا تر دې وړاندې اولاد سره يې نکاح کيږي، تاسو مهرباني وکړئ او مونږ ته سمه لار وښيئ؛ دا به ستاسو لويه مهرباني او غټ احسان وي.

جواب: کوم ماشوم چې په ماشوموالي کې د کومې ښځې شيدې څښلي وي هغه دده رضاعي مور جوړيږي، ددې ښځې اولاد برابره خبره ده چې دده نه مخکې وي که دده نه وروسته، ددې ماشوم ورور خور جوړيږي[۴]، نو ځکه دا رايه صحيح ده چې نکاح يې په خپل منځ کې نه کيږي، ستا د ورور نکاح ستا د ترور د لور سره جائزه نه ده، ستا د مشرانو فکر غلط دی.

۱]ولو خلط لبن المراة بالماء او بالدواء او بلبن البهيمة فالعبرة للغالب، كذا فى الظهيرية. (عالمگيريه/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۴/ طبع رشيديه)۔

۲]لو اختلط اللبن بما ذكر يعتبر الغالب فان كان الغالب الماء لا يثبت التحريم (الى قوله) وكذا اذا كان الغالب هو الدواء. (البحرالرائق/ كتاب الرضاع/ ۳/ ۲۲۸/ طبع دار المعرفة/ بيروت)۔

۳] ولو استويا وجب ثبوت الحرمة لانه غير مغلوب، كذا فى البحرالرائق. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۴/ طبع رشيديه، ايضاً: البحرالرائق/ كتاب الرضاع/ ۳/ ۲۲۸/ طبع دار المعرفة/ بيروت)۔

۴]يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع (الى ان قال) فالكل اخوة الرضيع واخواته. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۳/ طبع رشيديه)۔

د واده نه پس د خوابنې د شيدو ښبنلو دعوه

سوال: زما خاوند زما د مور شيدې ښبنلي وې او زما د واده تقريبا شپاړس کاله کيږي، د شپاړسو کالو راهيسې دا مسئله ماته يو عذاب جوړ شوی دی، زما مور وايي چې ستا خاوند زما شيدې ستا سره يو ځای نه وې ښبنلي، بلکې ستا د مشر ورور سره يې يو ځای ښبنلي وې او کله وايي چې شيدې يې نه وې ښبنلي، بلکې ما به دده د خوشحالولو لپاره خپل تيان دده په خوله کې ورکول چې شيدې به زما په تيانو کې نه وې، ياد ساته کله چې زما مور زما خاوند ته شيدې ورکړي وې، هغه وخت زما د مور په غېږ کې هم بچی ؤ چې هغه زما مشر ورور ؤ.

جواب: صرف ستا د مور دعوه خو هيڅ اعتبار نه لري، بلکې د رضاعت ثبوت د دوه ښه عادلانو سړو يا د يو سړي او دوه ښځو په شهادت سره کيږي[1]، که چېرته د شيدو ښبنلو شاهدان وي؛ نو تاسو دواړه ښځه خاوند نه بلکې خور او ورور يئ، که چېرته شاهدان نه وي؛ نو د شيدو ښبنلو دعوه غلطه ده او نکاح مو صحيح ده.

کوم هلک چې د خاله شيدې ښبنلي؛ نو دده لپاره د خاله اولاد حرام دی د نورو لپاره نه

سوال: يوې ښځې د خپلې خور مشر بچي ته شيدې ورکړي دي، اوس هغه خواهش لري چې د خپل وړوکي زوی نکاح د خپلې خور د وړوکي لور سره وکړي؛ خو ځينې علماء يې منع کوي، آيا ستا په نظر د دوی دا رشته کېدی شي؟

جواب: کوم هلک چې د ترور شيدې ښبنلي وي، دده نکاح ددې خاله د يوې لور سره هم نه کيږي، ددې نه پرته د دواړو خويندو د اولاد رشتې په خپل منځ کې جائز دي.[2]

د رضاعي ورور سکه خور او د رضاعي خورځې سره نکاح کول

سوال: د يوې ښځې شيدې زيد ښبنلي او د همدې ښځې شيدې زينب هم ښبنلي دي، د زيد عمر تقريبا اته دېرش کاله دی او د زينب عمر تقريبا پنځه څلوېښت کاله دی، مسئله دا ده چې د زيد د لور رشته د زيد لپاره غواړي، حال دا چې زينب او زيد دواړه رضاعي ورورخور دي،

---

[1] والرضاع حجته حجة المال وهي شهادة عدلين او عدل وعدلتين (الى قوله) وهل يتوقف ثبوته على دعوى المراة؟ الظاهر لا لتضمنها حرمة الفرج وهي من حقوقه تعالى، كما في الشهادة بطلاقها. (شامي/ باب الرضاع/ ٣/ ٢٢٤)۔

[2] يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع (الى قوله) فالكل اخوة الرضيع واخواته. وفيه ايضاً: وتحل اخت اخيه رضاعاً. (عالمگيری/ كتاب الرضاع/١/ ٣٤٣)۔

شيدو څښنلو سره دا رشته صحيح ده که غلطه؟

سوال: دويمه مسئله دا ده چې د يوې ښځې شيدې خالد څښلي دي او د همدې ښځې شيدې فاطمې هم څښلي دي، اوس چې د خالد لپاره د فاطمې د وړې خور رشته غواړي. د نجلۍ کورنۍ وايي چې دا رشته نه کيږي، ځکه چې د نجلۍ خور او هلک د يوې ښځې شيدې څښلي دي.

جواب: دښځې لور د زيد رضاعي خورخه ده، ددې دواړو عقد نه کيږي.[۱]

جواب: د رضاعي ورور د سکه خور سره نکاح جائز ده؛ نوځکه د خالد نکاح د ښځې د لور سره کيږي.[۲]

د ورور د رضاعي خور سره نکاح جائز ده

سوال: زما په موجودګۍ کې زما رضاعي خور په نکاح کې اخيستل د شريعت له نظره ناجائز ده، ليکن زما چې کوم ورور دی په دې باندې څنګه ده؟ وررخو زما نه يا مخکې پيدا شوی دی يا زما نه پس چې کوم ورور پيدا شي په هغه باندې په نکاح کې اخيستل څنګه دي؟

جواب: د رضاعي خور جوړېدو لپاره درې صورتونه دي:

۱ دې نجلۍ ستا د مور شيدې څښلي وي، په دې صورت کې هغه ستا د مور رضاعي لور، ستا او ستا د ټولو ورونو خويندو رضاعي خور شوه؛ نو ځکه ستا د يو ورور رشته هم ددې سره ناجائز ده.[۳]

۲ تا ددې نجلۍ د مور شيدې څښلي وې، په دې صورت کې ددې مور ستا رضاعي مور شوه او ددې اولاد ستا رضاعي خور ورور شوه؛ نو ځکه ستا نکاح ددې د کومې لورسره ناجائز ده[۴]،ليکن ستا دحقيقي ورونو سره ددې د لورګانو ستا د رضاعي خويندو) نکاح جائز ده.[۵]

۳ تا او دې نجلۍ د کومې دريمې ښځې شيدې څښلې وي، په دې صورت کې هغه ښځه ستاسو د دواړو رضاعي مور شوه، تاسو دواړه رضاعي خور او ورور شوئ، ستا د حقيقي ورونو نکاح ددې نجلۍ سره جائز ده.[۶]

۱]فالكل اخوة الرضيع واخواته واولادهم اولاد اخوته واخواته. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۳)_

۲] وتحل اخت اخيه رضاعا. (البحرالرائق/ كتاب الرضاع/ ۳/ ۲۴۴)

۳] يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع (الى قوله) فالكل اخوة الرضيع واخواته واولادهم اولاد اخوته واخواته. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/۱/ ۳۴۳)_

۴] ايضاً_

۵] وتحل اخت اخيه رضاعا. (البحرالرائق/ كتاب الرضاع/ ۳/ ۲۴۴)_

۶] وكل صبيين اجتمعا على ثدى امراة واحدة لم يجز لاحدهما ان يتزوج...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د رضاعي پلار د لور سره نکاح ناجائز ده

سوال: سعودي عرب کې داسې پېښه شوې چې د يو سړي سره تر يو ويشت کالو پورې خور ښځه اوسېده، د سعودي عالمانو دا واده ناجائز وګڼلو، ددې بيان مطابق زيد د خپلې تره ښځې شيدې وڅښلې او د تره دغه ښځه يې وفات شوه، تره يې دويم واده وکړ. د دويمې تره ښځې د لور سره يې واده وکړ، چونکې د سعودي عالمانو دا واده هم ناجائز وګڼلو. د حنفي فقهې سره سم ددې سړي په اړه شرعي حکم څه دی؟

جواب: دا دويمه لور هم دده د تره څخه وه، دده تره، رضاعي پلار شو او د پلار اولاد ورور-خور دي؛ نو ځکه دا نجلۍ دده رضاعي خور ده[۱]، د سعودي عالمانو چې کومه فتوی ورکړې ده هغه صحيح ده او د څلورو واړو مذهبونو عالمان په دې باندې اتفاق لري.

د رضاعي خور سره واده

سوال: زما د کوروالا د ورور په کور کې يوه ماشومه پيدا شوه، د ماشومې د زېږون نه يوه جمعه وروسته زما کور والا دې ماشومې ته شيدې ورکړې، ماشومې په سختۍ سره يو يا دوه څاڅکې به څښلي وي، صرف يو ځل داسې پېښه وشوه، اوس مسئله دا ده چې زه د خپل مشر زوی واده د خپل کوروالا د ورور د لور سره کول غواړم، تاسو راته د قرآن او حديث په رڼا کې ځواب راکړئ چې ايا دا نکاح جائز ده که نه؟

جواب: ستا کوروالا چې د خپل ورور کومې لور ته شيدې ورکړې دي، هغه ددې ماشومې رضاعي مور شوه، دا نجلۍ ستا د زوی رضاعي خور شوه او د رضاعي خور ورور نکاح نه کيږي، [۲]، لهذا تاسو د خپل زوی واده ددې نجلۍ سره نه شی کولی.

د رضاعي لور سره نکاح نه کيږي

سوال: که چېرته کومې ماشومې ته شيدې ورکول شي، بيا شيدې ورکونکې ښځه وفات شي؛ نو د مړې شوې ښځې خاوند شيدې څښلو والا نجلۍ سره نکاح کولی شی او که نه؟

جواب: دا نجلۍ ددې ښځې د خاوند رضاعي لور ده، دې سره نکاح ناجائز ده. [۳]

...بقيه د تيرمخ] بالاخريٰ هٰذا هو الاصل، لان امهما واحدة فهما اخ واخت. (هداية/ ۲/ ۳۵۱/ کتاب الرضاع/ طبع مکتبه شرکت علميه ملتان) وتحل اخت اخيه رضاعا. (البحرالرائق/ کتاب الرضاع/ ۳/ ۲۴۴)

[۱] يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع. (عالمگيری/ کتاب الرضاع/ ۱/ ۳٤۳/ طبع رشيديه کوئته)۔

[۲] ايضاً پورتنۍ حواله۔

[۳] ولبن الفحل اى الرجل من زوجته المرضعة اذا کان لبنها منه يتعلق...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د رضاعي خور د حقيقي خور سره نكاح جائز ده

سوال: زما مور او پلار غواړي زما كوزده زما د تره د لور سره وكړي. مګر كومه نجلۍ چې زما په نكاح كې رواستل غواړي ددې مشرې خور زما د وړوكي ورور سره زما د مور شيدې رودلي دي، ددې نجلۍ سره به زما واده جائز وي كه ناجائز؟

جواب: كومې نجلۍ چې ستا د مور شيدې څښلي دي؛ نو ددې نكاح ستا په ورونو كې له يو سره هم نه ده جائز [۱]، هغه ستاسو رضاعي خور ده، مګر د كومې نجلۍ سره چې يې ستا رشته غوره كړې ده هغه د رضاعي خور حقيقي خور ده، ددې سره ستا نكاح جائز ده. [۲]

د حقيقي ورور د رضاعي خورځې سره نكاح جائز ده

سوال: زيد د ثريا شيدې څښلي دي، د زيد يو ورور چې د هغه نوم ثاقب دی، د ثريا يوه لور چې د هغې نوم عندليب ده، د عندليب د لور د كوثرې سره د زيد ورور ثاقب نكاح كولی شي؟

جواب: ستا په سوال كې زيد د ثاقب حقيقي ورور دی او كوثر د زيد رضاعي خورځه ده او د حقيقي ورور د رضاعي خورځې سره نكاح جائز ده. [۳]

د رضاعي وريرې سره نكاح ناجائز ده

سوال: هنده او شاهده دوه سكه خورګانې دي، هنده مشره او شاهده يې وړه ده، هندې د شاهدې لور زينب ته د رضاعت په ورځو كې شيدې وركړې، اوس هنده د خپل خور شاهدې د لور زينب نكاح د خپل حقيقي لېور بكر سره كول غواړي، آيا دا شرعا جائز ده؟

جواب: د شاهدې د لور زينب نكاح د هندې د حقيقي لېور بكر سره ناجائز ده، ځكه چې زينب د هندې د خاوند رضاعي لور او د خاوند د ورور د بكر وريره شوه، نو د شرعي قانون له مخې چې څنګه د نسبي وريرې سره نكاح حرامه ده، هم دغه راز د رضاعي وريرې سره هم ناجائز ده. [۴]

...بقيه د تيرمخ] به التحريم، وهو ان ترضع المراة صبية فتحرم هٰذه الصبية على زوجها، اى زوج المرضعة. (اللباب/ ۲/ ۱٦٤/ كتاب الرضاع)_

۱]قال تعالى: حرمت عليكم امهاتكم......واخواتكم من الرضاعة. (النساء: ۲۳)_

۲] وتحل اخت اخيه رضاعاً. (البحرالرائق/ كتاب الرضاع/ ۳/ ۲۲۷)_

۳] "واحل لكم ما وراء ذلكم" (النساء: ۲٤)_

٤] عن عائشة زوج النبى صلى الله عليه وسلم: يحرم من الرضاع ما يحرم من الولادة. (سنن ابى داؤد/ باب ما يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب/ ۱/ ۲۸۷)_

په شيدو کې د شريکې خور د لور سره نکاح

سوال: آيا په شيدو کې د شريکې خور د لور سره نکاح جائز ده؟

جواب: ناجائز ده، هغه د حقيقي خورځې په ځير ده.[۱]

د رضاعي مور د خور سره نکاح ناجائز ده

سوال: يو ځوان د خپلې ورېنداري شيدې په ماشومتوب کې څښلي وي، اوس هغه ځوان شوى او غواړي د خپلې ورېندارې د ځوانې خور سره واده وکړي، آيا شرعي لحاظ سره د دده نکاح صحيح ده که نه؟

جواب: ورينداردده رضاعي مور او دده خور ددې رضاعي ترور ده، څنګه چې د نسبي ترور سره نکاح ناجائز ده هم دغه راز د رضاعي ترور سره هم نکاح ناجائز ده؛ نو ځکه ددې ځوان واده ددې ورېنداري د خور سره نه کيږي.[۲]

د رضاعي ماما د خورځې سره نکاح ناجائز ده

سوال: زما ښځې زما وړې خور ته شيدې ورکړي، اوس مسئله دا ده چې آيا زما د وړې خور واده زما د ښځې د ورور سره کېدى شي يا نه؟

جواب: ددې شيدو څښلو له وجې ستا ښځه ستا د وړې خور رضاعي مور شوه او ستا اوخى ستا د وړې خور رضاعي ماما شو، څنګه چې په نسبي رشته کې د ماما او خورځې تر منځ نکاح ناجائز ده. هم دغه راز رضاعي رشته کې د ماما او خورځې تر منځ نکاح هم ناجائزده.[۳]

په شيدو کې د شريکې خور د لور سره
په شيدو کې شريک ورور سره نکاح جائز ده

سوال: هندې سره زيد د هندې د مور شيدې د رضاعت په زمانه کې څښلي وي، اوس د هندې د لورسره د زيد د وړوکي ورور نکاح کېدى شي؟ د رضاعت له وجې خو به هنده حرامه نه وي.

جواب: هنده د زيد رضاعي خور او ددې لور د زيد رضاعي خورځه ده، د رضاعي خورځې سره د رضاعي ماما د حقيقي ورور نکاح جائز ده.[۴]

---

[۱] يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۴۳)۔

[۲] عن على رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان الله حرم من الرضاع ما حرم من النسب. (جامع الترمذى/ ۱/ ۲۱۷/ باب ماجاء ما يحرم من الرضاع/ مشكوٰة، باب المحرمات/ ۲۷۳)۔

[۳] فالكل اخوة الرضيع واخواته واولادهم اولاد اخوته واخواته. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۴۳)۔

[۴] وتحل اخت اخيه رضاعاً. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۲۴۳)۔

د شیدو ښځینه نکې نجلۍ نکاح د شیدو ښځینه نکي لېوراو ورور سره ناجائزده

سوال: د زید د ښځې شیدې په ماشومتوب کې یوې نجلۍ ښځبلي ۆ. آیا اوس ددې نجلۍ نکاح ددې سړي د وړوکي ورور یعني د شیدو ښځبونکي د لېور یا د زید د ښځې د ورور سره جائز ده او که نه؟ همدارنګه د دوی سره ددې ماشومې څه رشته جوړېږي؟

جواب: د شیدو ښځبونکي ورور ددې نجلۍ ماما شو او ددې لېور د نجلۍ تره شو: نو ځکه ددې دواړو سره ددې نکاح ناجائز ده.[۱]

په شیدو کې د شریکې خورشیدو کې شریکې خور سره نکاح جائزده

سوال: زما د تره یوه لور ده او هغه زما سره د شیدو شریکه خور هم ده، زمونږ په کوڅه کې یو دویمه نجلۍ هم ده، هغه زما د تره لور سره په شیدو کې شریکه ده، تاسو ووایئ چې آیا زما د تره لور سره په شیدو کې شریکې خور سره زما نکاح جائز ده؟

جواب: په شیدو کې د شریکې خور په شیدو کې د شریکې خور سره نکاح جائز ده. که چېرته هغه ستا سره په شیدو کې شریکه خور نه وي.[۲]

د نیا شیدې ښځبونکي نکاح د تره د لورسره ناجائزده

سوال: ما به د نیا شیدې کله - کله ښځبل او نیا مې راته اجازه راکړې وه، اوس زما کوزده زما د تره لور سره شوې ده: نو آیا ددې سره زما نکاح جائز کیږي او دا واده کېدی شي او که نه؟

جواب: دا نکاح ناجائز ده، تاسو ددې نجلۍ رضاعي تره راځئ.[۳]

د نیا شیدې ښځبلو سره د تره او تروردا ولاد سره نکاح نه کیږي

سوال: زما زوی ده چې عمر یې تقریبا درې کاله دی، زما د مور شیدې یې څلي دي، ځکه چې دده مور په دویم بچي شیدې پرې ایښې وې؛ نو ځکه به نیا صرف د زړه خوشحالولو لپاره خپلې سینې ته نژدې کولو، اوس هغه ماشوم د دریو کالو دی، دده دا عادت پوخ شوی دی او هغه همیشه د نیا سره ویده کیږي؛ نو تاسو مهرباني وکړئ او ماته ووایئ چې دده داسې کول

۱] عن علی رضی الله عنه......ان الله حرم من الرضاعة ما حرم من النسب. (مشکوٰة/ ۲۷۳)_

۲] وتحل اخت اخیه رضاعاً (الی قوله) وهو ظاهر. وفی الشامیه: (قوله وهو ظاهر) کان یکون له اخ رضاعی رضع مع بنت من امراة اخریٰ. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۱۷/ طبع سعید)_

۳] یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع (الی قوله) فالکل اخوة الرضیع واخواته والادهم اولاد اخوته واخواته. (عالمگیری/ کتاب الرضاع/ ۱/ ۳٤۳)_

تر کومه پورې جائز دي او ایا ددې ماشوم دا کار زما او دده د رشتو په منځ کې څو کوم حائل نه پیدا کوي؟ امید دی چې زر تر زره به زما پرېشاني لرې کړئ!

جواب: کوم بچي چې د دوه کالو (د یو قول مطابق دوه نیم کاله) کې دننه - دننه د کومې ښځې شیدې څښلي وي هغه ددې ښځې رضاعي زوی جوړ شو[۱]. دده نکاح د شیدې څښونکي اولاد یا د اولاد د اولاد سره نه شي کېدی[۲]. اوس که چېرته ستا ماشوم د خپلې نیا شیدې په یو نیم کال کې دننه څښلي وي؛ نو دده نکاح دده د ترونو او تروړکانو اولاد سره ناجائز ده، که چېرته په سینو کې یې شیدې نه وې، بلکې یوازې یې د ماشوم د خوشحالولو لپاره داسې کول؛ نو دې سره حرمت نه ثابتیږي.[۳]

ایا د نیا شیدې څښونکي نجلۍ نکاح د ترونو او تروړکانو د اولاد سره جائز ده؟

سوال: ما په ماشومتوب کې یو څل د خپلې نیا شیدې څښلي وې، زما د نیا د ټولو نه کشر اولاد یعنې زما د ټولو نه کشر تره زما نه تقریبا څلور پنځه کاله مشر دی، ددې نه پس زما د نیا نه کوم هلک یا کومه نجلۍ نه ده پیدا شوې، ما د ډېرو عالمانو څخه اوریدلي دي چې که د کومې ښځې اولاد کېدو نه وروسته که چېرته په دوه کالو کې دننه ددې ښځې شیدې وڅښل شي؛ نو ددې بچو سره د رضاعي ورور خور رشته جوړیږي، دوه کالو نه پس څښلو سره د رضاعي ورور خور رشته نه جوړیږي، ددې وجې نه زه پوښتنه کول غواړم څکه چې زما د نیا د ټولو نه وړوکی اولاد هم زما نه تقریبا څلور پنځه کاله مشر دی؛ نو تاسو ووایئ چې زه د خپلو ترونو او تروړکانو رضاعي خور یم یا نه؟ او زما ددې هلکانو سره رشته کېدی شي او که نه؟

جواب: که چېرته په هغه وخت کې ستا د نیا په سینو کې شیدې وې؛ نو ته د خپلې نیا رضاعي لور او د ترونو او تروړکانو رضاعي خور شوې[۴]، او که چېرته یې په سینو کې شیدې نه وې،

---

[۱]ویثبت التحریم فی المدة فقط. (ردالمحتار مع الدر المختار/ کتاب الرضاع/ ۳/ ۲۱۱) وفیه: هو حولان ونصف عنده وحولان فقط عندهما وهو الاصح. (ایضاً: ج:۳/ ۲۰۹)۔

[۲]عن عائشة رضی الله عنها زوج النبی صلی الله علیه وسلم ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: یحرم من الرضاعة ما یحرم من الولادة. (سنن ابی داؤد/۱/ ۲۸۰/ کتاب النکاح/ باب ما یحرم من الرضاعة)۔

[۳] امراة تعطی لدیها صبیة واشتهر ذٰلک بینهم ثم تقول لم یکن فی ثدیی لبن حین القمتها ثدیی ولم یعلم ذٰلک الا من جهتها جاز لابنها ان یتزوج هٰذه الصبیة. (ردالمحتار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۱۲)۔

[۴]یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع (الی قوله) فالکل اخوة الرضیع واخواته. (عالمگیری/ کتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۳)۔

هم داسې د ماشوم د زړه خوشحالولو لپاره يې داسې کول؛ نو بيا حرمت نه ثابتيږي.[۱]

لمسي ته د شيدې ورکونکې ښځې وريرې نکاح ددې لمسي سره ناجائز ده

سوال: زما کوروالا خپل لمسي ته په ماشومتوب کې شيدې ورکړي وې؛ خو اوس د هغه واده د خپلې وريرې سره کول غواړي؛ نو آيا دا نکاح به جائز وي يا نه؟

جواب: ستا کوروالا چې کوم لمسي ته شيدې ورکړي دي هغه ددې رضاعي زوی شو او ددې اولاد يې رضاعي وروڼه شول. ددې زامنو د اولاد رضاعي تره او د لورګانو د اولاد رضاعي ماما جوړ شو. څنګه چې حقيقي وريرې او خورځې سره نکاح نه کيږي؛ نو هم دغه راز د رضاعي وريرې يا رضاعي خورځې سره هم نه کيږي،[۲] ددې وجې نه ستا د کوروالا د خپلې وريرې سره ددې هلک نکاح کول صحيح نه دي.

وړې خور ته يې که شيدې ورکړه؛ نو د دوی د اولاد نکاح په خپل منځ کې نه کيږي

سوال: دوه سکه خورګانې دي يوه واده شوې او بله د شپږو مياشتو ده، د څه مجبورئ له وجې يې مشرې خور کشرې خور ته شيدې ورکړې، وړې خور يې اوسمهال واده شوې او خپل بچې يې شته، اوس هغه د خپلې مشرې خور د زوی سره د خپلې لور واده کول غواړي، آيا هغوی د شريعت په نظر کې داسې کولی شي؟ حال دا چې دواړه کورنۍ پرې خوښ دي.

جواب: هر کله چې مشرې خور کشرې خور ته شيدې ورکړي؛ نو کشره خور يې رضاعي لور جوړه شوه، د مشرې خور اولاد ددې رضاعي خور او ورور شو، څنګه چې د سکه خور او وروڼو سره د دوی د اولاد رشته نه کيږي هم دغه راز د رضاعي خور او وروڼو سره نه کيږي.[۳]

د نيا شيدې څښلو والا هلک نکاح د ماما د لور سره نه کيږي

سوال: زما مور زما خوريي ته شيدې ورکړي او زه د خپل لور نکاح د خپل خوريي سره کول

۱] المراد بالمص الوصول الى الجوف. (رد المحتار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۰۹). امراة كانت تعطى ثديها صبية واشتهر ذٰلک بينهم ثم تقول لم يكن فى ثديي لبن حين القمتها ثديي ولم يعلم ذٰلک الا من جهتها جاز لابنها ان يتزوج هٰذه الصبية. (شامى/ ۳/ ۲۱۲/ باب الرضاع)۔

۲]عن على.......ان الله حرم من الرضاعة ما حرم من النسب. الحديث. (مشكوٰة/ ۲۷۳/ باب المحرمات)۔

۳] يحرم على الرضيع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع (الى قوله) فالكل اخوة الرضيع واخواته. (عالمگيرى/ كتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۳) عن على انه قال: يا رسول الله! هل لک فى بنت عمک حمزة فانها اجمل فتاة فى قريش؟ فقال له: اما علمت ان حمزة اخى من الرضاعة، وان الله حرم من الرضاعة ماحرم من النسب.(مشكوٰة/ باب المحرمات/ ۲۷۳/ طبع قديمى، ايضاً:ترمذى/۱/ ۲۱۷/طبع قديمى)

غواړم، آیا دا رشته جائز ده؟

جواب: کوم هلک چې ستا د مور شیدې څښلي دي، هغه ستا رضاعي ورور دی، دده سره ستا د لور نکاح ناجائز ده.[۱]

د رضاعي ترور د دویم خاوند نه اولاد هم رضاعي ورونه او خویندې دي

سوال: زما ترور دوه وادونه کړي ؤ، هغه لاد لومړي خاوند په کور کې وه چې ما ته یې شیدې راکړې وې، بیا زما د ترور خاوند مړ شو، د حالاتو څخه تنګه شوه او دویم واده یې وکړ، ددې خاوند څخه یې لور پیدا شوې، اوس زما مور- پلار او زما ترور په خپل منځ کې رشته کول غواړي؛ نو آیا دا نکاح جائز ده؟

جواب: کومې ترور چې تا ته شیدې درکړي دي ددې د لور سره ستا نکاح ناجائز ده.[۲]

د داسې نجلۍ سره نکاح چې شیدې یې د خاوند ورور څښلي وي

سوال: ما تېر کال د خپلې لور نکاح د یو داسې هلک سره وکړه چې د هغه مشر ورور زما د لور شیدې څښلي دي، اوس زه خفه یم چې آیا دا نکاح صحیح شوه او که نه؟

جواب: دا نکاح صحیح ده[۳]، مه خفه کېږه!

د نیا شیدې څښلو والا ورور نکاح د ترور د لور سره جائز ده

سوال: زما کوزده زما د ترور د زوی سره وشوه، زما مشر لېور زما د نیا شیدې څښلي دي چې د هغې په وجه زما ماما هم شو، زما ستاسو نه پوښتنه دا ده چې آیا زما واده زما د ترور د زوی سره کېدی شي یا نه؟ د چا سره چې زما واده کېږي هغه زما د نیا شیدې نه دي څښلي، بلکې دده مشر ورور څښلي دي.

جواب: کوم هلک چې ستا د نیا شیدې نه دي څښلي، د هغه سره ستا نکاح جائز ده، دده مشر ورور ستا رضاعي ماما دی او د رضاعي ماما د حقیقي ورور سره نکاح درسته ده.[۴]

---

[۱] ایضاً پورتنۍ حواله۔

[۲] یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع. (عالمگیری/ کتاب الرضاع/ ۱/ ۳۴۳/ طبع رشیدیه کوئته)۔

[۳] فیحرم من الرضاع ما یحرم من النسب الا ام اخیه من الرضاع فانها لا تحرم. (ردالمحتار/ باب الرضاع/ ۳/ ۲۱۷/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی)۔

[۴] د حرمت هیڅ وجه نشته، "واحل لکم ما وراء ذٰلکم". (النساء: ۲۴)۔

د سرې او ښځې په بدکارئ سره د دوی اولاد ورور خور نه جوړیږي

سوال: زما د ماشومتوب ملګري خالد څه موده وړاندې دخپل خدای ښنلي پلار د ملګري د لور سره واده وکړ، څو ورځې مخکې راته یوه خبره معلومه شوه، هغه دا چې یو سړی چې د "خالد" د پلار سره یې د اوسېنې کار کولو، ما ته وویل: چې د "خالد" پلار په ځوانۍ کې د خپل دې ملګري د ښځې سره بدکاري کړې وه، د چا د لور سره چې اوس "خالد" واده کړی دی، ددې بدکارۍ خبر صرف دې دواړو ته وو، د هغه په وینا چې د خالد پلار ورته ویلي ؤ چې کېدی شي دده د ملګري لور په اصل کې دده څخه وي، بیا یې ده ته ویلي ؤ چې دا خبره چاته مه کوه، دا ښځه څه موده وروسته وفات شوه، د خالد د پلار د وفات نه پس ددې ملګري د دوی د کورنۍ سره څه اړیکه نشته او د خالد د واده هم ده ته څه درک نشته، هغه سړي خالد ته دا خبره وکړه، خو ما اوسمهال هغه منع کړی دی، اوس تاسو مهرباني وکړئ چې مونږ اوس باید څه وکړو؟

جواب: ددې دواړو نکاح شرعا صحیح ده، اول خو ددې سړي په دې کیسه اعتماد کول ګناه ده[۱]، دویم د سړي او ښځې په بدکارۍ سره د دوی اولاد ورور خور نه جوړیږي، د اولاد نکاح په خپل منځ کې جائز ده.[۲]

[وینې ورکولو سره د حرمت مسئلې]

د خپل زوی نکاح د داسې ښځې سره کول چې هغې ته یې وینه ورکړې وي

سوال: زید دخپل یو نزدې رشته دار لورته په داسې حال کې چې هغه وړه وه د ناروغۍ پرمهال خپله وینه ورکړې وه، اوس زید غواړي چې ددې هلک واده ددې نجلۍ سره وکړي، آیا دا جائز ده؟

جواب: وینې ورکولو سره حرمت نه ثابتیږي، ددې وجې نه ددې نجلۍ سره نکاح جائز ده.[۳]

کومې ښځې ته چې وینه ورکول شوې وي، د زوی سره یې نکاح کیږي

سوال: یوه نجلۍ یوې بوډۍ ښځې ته وینه ورکړې ده، اوس ددې ښځې زوی ددې نجلۍ سره واده کول غواړي، واده کولی شي او که نه؟

۱]قال تعالی: ''اذ تلقونه بالسنتکم وتقولون بافواهکم ما لیس لکم به علم وتحسبونه هینا وهو عندالله عظیم'' (سورة: ۲۴، النور: ۱۵)_

۲] ویحل لاصول الزانی وفروعه اصول المزنی بها وفروعها. (البحرالرائق/ ۳/ ۱۰۱/ فصل فی المحرمات)_

۳] (ونظیره) مص رجل ثدی زوجته لم تحرم. (شامی/ ۳/ ۲۲۵). چه دښځې پئ څکلو سره حرمت نه ثابتیږی نوپه وینه ورکولوسره خوپه طریقه اولی نه ثابتیږی. ایضاً: کفایة المفتی، کتاب الحظر والاباحة/ ۷/ ۱۵۶). انتقال الدم من شخص لآخر. (اللجنة الدائمة/ ۲۱/ ۱۴۶)_

جواب: کېدی شي، وینې ورکولو سره حرمت نه ثابتيږي. [۱]

د خور خاوند ته وینې ورکولو سره د خور په نکاح څه اثر نه کوي

سوال: زید د خپلې سکه خور خاوند ته د ناروغۍ پرمهال خپله وینه ورکړه، آیا په دې سره د بکر د خپلې ښځې سره نکاح باطليږي؟

جواب: په دې سره په نکاح کې هیڅ اثر نه پریوځي. [۲]

د خاوند خپلې ښځې ته وینه ورکول

سوال: زما د یو ملګري ښځه سخته ناروغه شوه، دې ته د وینې ضرورت پېښ شو. د کوم رشته دار خور ورور وینه ددې د وینې سره یې سمون نه خوړلو؛ خو د خاوند وینه یې ددې د ګروپ سره سمون وخوړ، اوس خلک وايي چې د ښځې خاوند رشته پاتې نه شوه.

جواب: خلک غلط وايي. هغه هم هغسې ښځه او خاوند دي. [۳]

[د کورتوکي (سامان)]

اوس وخت کې د کورد توکو (سامان) لعنت

سوال: د ټي وي پروګرام " دین پوهنه" کې د یو سوال په ځواب کې تقریر کونکي جهیز (د ناوې ته د کور توکي ورکول) غیر مشروط طریقې سره کافرانه رواج وګڼلو.

۱: آیا د قرآن او سنتو په رڼا کې جهیز ته کافرانه رواج ویل صحیح دي؟

۲: آیا حضور ﷺ خپلو لورګانو ته جهیز ورکړی ؤ؟

جواب: جهیز د هغه ډالۍ نوم دی چې مور- پلار یې خپلې لور ته د واده په وخت ورکوي[۴]، دا د رحمت او محبت علامه ده، په دې شرط چې د نوم او نشان نه پاک وي او د مور- پلار لپاره د تکلیف ذریعه جوړه نه شي؛ خو ځینو مسلمانانو دا مهرباني یو عذاب ګرځولی، اوس هلک والا په بې شرمۍ سره صرف ګوري هم نه، بلکې پوښتنه هم کوي چې جهیز څومره ملاویږي؟ کنه نو مونږ رشته نه غواړو، ددې معاشرې له وجې غریب مور- پلار لپاره د بچو واده کول یو عذاب ګرځېدلی دی؛ نو تاسو ووایئ چې آیا ددې جهیز لعنت ته، کافرانه رواج او یا هم ددې نه زیات سخت الفاظ ویل پکار دي او که نه؟

۱] ایضاً پورتنئ حواله۔

۲] ایضاً پورتنئ حواله۔

۳] ایضاً پورتنئ حواله۔

۴] الجهاز ما زفت المرأة بها الى زوجها من الامتعة....الخ. (قواعد الفقه/ ۲۵۵)۔

تاسو د رسول الله ﷺ په باره کې پوښتنه وکړه چې آیا رسول الله ﷺ خپلو لورګانو ته جهیز ورکړی وو؟ هو ورکړی یې وو، لیکن د کوم سیرت په کتاب کې دا وواییٔ چې رسول الله ﷺ خپلې نیازبینې لور حضرت فاطمة الزهره رضي الله عنها ته څه جهیز ورکړی وو؟ دوه پیالې، د اوبو لپاره دوه مشکیزې، دځرمنې بالښت چې په هغې کې د خورما پاڼې وې او یو څادر[1]. آیا ستاسو خواته هم لورګانو ته داسې جهیز ورکول کیږي؟ کاش چې مونږ د رسول الله ﷺ د سیرت په شیشه کې د خپل سیرت مخ د ښایسته کولو کوشش وکړو.

د جهیز کوم شیان چې خراب شي تاوان یې په خاوند نه دی

سوال: د جهیز (کورني توکي چې د خسر له خوا لور ته په واده کې ورکول شوي وي) د ښځې او خاوند په شریکي استعمال سره مات شي، خاوند به ټول تاوان ورکوي که صرف د خپلې برخې؟

جواب: د جهیز کوم شیان چې په کوم حالت وي هغه د ښځې حق دی[2]، لیکن په استعمال سره چې کوم تاوان وشي هغه د خاوند څخه نه اخیستل کیږي، ځکه چې د ښځې په اجازت سره هغه استعمال کړي دي.[3]

خلکو ته د کور شیان ښودل کم عقلي ده

سوال: زمونږ د قوم دا رواج دی چې مور او پلار لور ته کوم کور ورکوي هغه سر عام خلکو ته ښيي چې په هغې کې د ښځو جوړې هم وي، آیا د ښځو جوړې او کالي نامحرمو پردیو خلکو ته سرعام ښودل په اسلام کې جائز دي؟

جواب: نجلۍ ته ورکړل شوی جهیز سرعام ښودل د کم عقلۍ نښه ده، چې بنسټ په ځان ښودنې ولاړ دی، د ښځو کالي او جوړې وغیره پردیو سړیو ته ښکاره کول هم بد رواج دی، عزتمن خلک ددې رواج نه ځان ساتي او شرم کوي.

۱] حدثنا عبدالله حدثنی ابی ثنا عثمان ثنا حماد ثنا عطاء بن السائب عن ابيه عن علی رضی الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم لما زوجه فاطمة بعث معها بخميلة ووسادة من ادم حشوها ليف ورحيين وسقاء وجرتين. (مسند احمد/۱/ ۱۰٤/ طبع المكتب الاسلامی) تفصیل دپاره اوګورئ: سیرة المصطفٰی للكاندهلوی/ ۱/ ۶۰۹/ سيرة النبی صلى الله عليه وسلم لشبلی نعمانی/ ۱/ ۳۶۷/ ۲/ ٤۲۸)۔

۲] كل احديعلم ان الجهاز للمراة اذاطلقها تأخذه كله(ردالمحتار/مطلب فی دعوى الاب ان الجهازعازية/ ۳/۱۵۸)

۳] اما الذی بعث ابو المرأة ان كان هالكا لم يرجع على الزوج بشيء (الی قوله) وان بعث من مال البنت البالغة برضاها لايرجع لانه هبة احد الزوجين للآخر ولارجوع فيها(خلاصة الفتاوىٰ/ الفصل الثانی عشر فی المهر/ ۳/ ۳۲)

نجلۍ ته چې کومې ډالۍ ورکول شوي دي هغهددې حق دی که د خاوند؟

سوال: نجلۍ ته چې مور او پلار کومې ډالۍ ورکړې دي هغه د چا حق دی؟ ددې حق دار نجلۍ ده که خاوند؟

جواب: هر هغه شی چې نجلۍ ته مور- پلار او د خاوند کورنۍ له خوا ورکول شي هغه ددې حق دی[1]. د خاوند پکښې هیڅ حق نشته.

د ښځې د مړینې وروسته به د جهیز حقدار څوک وي؟

سوال: زما ملګري د خپلې ښځې د معذورۍ له وجې دویم واده وکړ چې اجازت ورته دې خپله ورکړی دی، د وخت په تېرېدو سره یې لومړنۍ ښځه مړه شوه، چې د هغې نه دده څلور بچي دوه هلکان او دوه جینکۍ دي. زما د ملګري د لومړنۍ ښځې مور- پلار د خپلې لور د جهیز اخیستلو غوښتنه کوي. حال دا چې په جهیز کې څه قیمتي شیان نه وو، د شریعت په رڼا کې ځواب راکړئ چې دا خلک په خپله غوښتنه کې تر کوم حده په حقه دي؟ زما ملګري ته په داسې صورت کې څه کول پکار دي؟

جواب: د مور- پلار د جهیز د واپسۍ غوښتنه غلطه ده، د مرحومې په ملکیت کې چې کوم شیان وو هغه به په شرعي وارثانو باندې وېشل کیږي؛ نو د مرحومې میراث به په دوه اویا برخو ووېشل شي، په هغې کې دولس، دولس برخې د مرحومې د مور- پلار دي، اتلس برخې د خاوند، لس لس برخې د دواړو هلکانو او پنځه پنځه د دوو جینکو، نقشه لاندې ده.

میت

لور	لور	زوی	زوی	خاوند	مور	پلار
۵	۵	۱۰	۱۰	۱۸	۱۲	۱۲

ټول میراث به یې په ۷۲ برخو ووېشل شي.

دواړه هلکان به د خپل پلار سره وي، جینکۍ به تر ځوانۍ پورې د خپلې نیا سره وي او که نیا نه وي؛ نو د ترور سره به اوسیږي، د ځوانۍ نه پس به پلار ته سپارل کیږي.

---

[1] قالت: ومن ذٰلک مایبعثه الیها قبل الزفاف فی الاعیاد والمواسم من نحو ثیاب وحلی، وکذا ما یعطیها من ذٰلک او من دراهم او دنانیر صبیحة لیلة العرس ویسمی فی العرف صبحة فان کان ذٰلک تعورف فی زماننا کونه هدیة. (ردالمحتار/ مطلب فیما یرسله الی الزوجة/ ۳/ ۱۵۳). وفیه ایضاً: المختار للفتویٰ ان یحکم بکون الجهاز ملکا لا عاریة. (ردالمحتار/ مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة/ ۳/ ۱۵۷)۔

ښځه د خاوند په وفات باندې د کوم سامان حقداره ده؟

سوال: زما يو زوى ؤ واده مي ورته کړى ؤ؛ خو اوس هغه مړ شوى دى. ښځه په خپله خوښه مور کره لاړه، کوم سامان چې يې له ځان سره راوړى وو هغه يې يوړو. اوس هغه د هغه سامان غوښتنه کوي چې کوم مونږ ورکړى وو، مونږ هغه سامان څکه اېښى دى چې زما يو لمسى هم ده چې زما سره اوسيږي، وروسته به د هغې په کار راشي، پرته له دې ما چې چېرته د خپل زوى واده کړى وو هلته مي په بدل کې خپله لور هم ورکړې ده، اوس تاسو ووايئ چې ددې سامان په باره کې د عالمانو څه فتوى ده؟ ددې نه علاوه زما ځمکه او کور هم دى دا څنګه تقسيم کړم؟ همداراز زما دلمسى عمر اوه کاله دى دا مونږ د خپل ځان سره ساتلى شو که يې مورته وسپارو؟

جواب: کوم سامان چې تا د واده په وخت انګور ته ورکړى وو که چېرته ددې مالکه کړې دي وي؛ نو هغه سامان ددې دى، تا ته ددې اېښودل ناجائز دي، که چېرته دا دي نه وي مالکه کړې، بلکې دې ته دي صرف د استعمال اجازه ورکړې وه؛ نو ددې بيا دوه صورتونه دي: يو دا چې هغه سامان ستا د مرحوم زوى ملکيت وو، په دې صورت کې ددې اتمه برخه رسيږي، نيمه برخه دده د لور او باقي ستا ده، که د مرحوم مور هم ژوندئ وي؛ نو شپږمه برخه د هغې ده، ګويا ټولې برخې به څليريشت جوړې شي، په هغې کې درې د ښځې، دولس د لور، څلور د مور او پنځه د پلار.

او که سامان ستا په ملکيت کې وي، ستا زوى هم ددې مالک نه وو؛ نو ښځه يې په ديکښې هيڅ حق نه لري، ته چې څه غواړې هغه پوره کړه، ستا ځمکه ستا د مرګ وروسته په دريو کې دوه برخې ستا درې واړو هلکانو ته رسيږي (که ستا کور والا ژوندئ وي؛ نو اتمه برخه به هغې ته رسيږي) که ته لمسى ته هم ورکول غواړې؛ نو ددې دوه صورتونه دي: يو دا چې ته په خپل ژوند کې د هغې مناسبه برخه د هغې په نوم کړه، دويم دا چې ته وصيت وکړه چې ستا لمسى ته دي دومره برخه ورکول شي، (د مال په دريمه برخه کې وصيت کولى شي) او په دې دي يو شاهد هم وټاکي، که چېرته تا داسې وصيت وکړ؛ نو د ځمکې دوېشلو نه مخکې ستا لمسى ته به هغه برخه ورکول کيږي، وارثانو ته به وروسته ورکول کيږي.

د بچو لپاره حکم دا دى چې تر بالغېدو پورې به د خپلې مور سره وي؛ خو که چېرته د مور غوښتنه نه وي يا هغې کوم بل پردي سړي سره نکاح کړې وي؛ نو ته يې له ځانه سره اوسولى شې.

[دويم واده]

کوښش کوئ چې دويم واده ونه کړئ، که مو وکړ: نو بيا انصاف کوئ !

سوال: آيا د لومړنۍ ښځې په موجودګۍ کې دويم واده کول جائز دي؟ آيا په دې کښې د ښځې خوښه ضروري ده او که نه؟ په دې اړه راته شرعي او تفصيلي ځواب راکړئ!

جواب: د دويم واده لپاره د لومړنۍ ښځې خوښه ضروري نه ده. [۱]ليکن د دواړو ښځو تر منځ انصاف او برابري ضروري ده[۲]، ځکه چې د ښځو طبيعت ډېر کمزوری وي او په کورني جنګونو د سړي ژوند تنګيږي، ددې وجې ښه خبره دا ده چې دويم واده تر خپل کوښښه پورې ونه کړي او که چېرته يې وکړ؛ نو دواړه ښځې به په جدا جدا ځای کې اوسيږي، د دواړو حقوق پوره - پوره ادا کوئ! يو طرف ته زياته توجه ورکول ګناه ده.

حديث شريف کې دي: چې د چا دوه ښځې وي او هغه د دوی تر منځ برابري ونه کړي: نو هغه به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راځي چې دده نيم بدن به فالج وهلی وي. (مشکوٰة شريف صفحه ۲۷۹)[۳]

دويم واده سره لومړۍ ښځه لرې ساتل ګناه ده

سوال: يو سړی چې يو واده يې کړی ؤ د هغه درې بچي هم دي، د دويم واده اراده لري، د لومړنۍ ښځې سره يې له مخکې کوم خفګان نشته چې د هغې په وجه بل واده کوي، د خلکو په خيال دواړه يو ځای اوسيږي، خو درې کاله وشو چې دواړه (ښځه او خاوند) جدا شوي دي، په وخت کې دي سړي ته يوې نجلۍ پيغام ورولېږلو چې د ښه کورنۍ او د ښځې ټول ښه صفات پکښې شتون لري، هغه ددې نجلۍ سره واده کول غواړي، ددې لپاره چې پاتې ژوند په ارام تېر کړي، دا سړی دومره دی چې دواړه ښځې په ښه ډول وساتي، ځکه چې وس يې لري، اوس تاسو مهرباني وکړئ آيا دويمه ښځه چې د عامو خلکو په نظر کې بده ګڼل کيږي) د الله تعالی په نزد به هم لومړنۍ ښځه د حق وهلو په وجه جرم ګڼل کيږي؟ آيا زمونږ مذهب په داسې صورت کې د دويم واده کولو اجازه ورکوي؟

---

[۱] "فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً" (النساء: ۳)۔

[۲] يجب ان يعدل فيه اى فى القسم بالتسوية فى البيتوتة وفى الملبوس والماكول.....الخ. (الدرالمختار مع رد المحتار/ ۳/ ۲۰۲/ باب القسم/ كتاب النكاح)۔

[۳] عن ابى هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: اذا كانت عند الرجل امراتان فلم يعدل بينهما، جاء يوم القيٰمة وشقه ساقط. رواه الترمذى وغيره. (مشكوٰة/ باب القسم/ ۲۷۹)۔

جواب: دويم واده په شريعت کې جائز دی، [١] ليکن د لومړنۍ ښځې د پوره حقوقو ادا کول په خاوند باندې فرض دي [٢]، که چېرته دويم واده سره د لومړنۍ ښځې سره رشته پرې کيږي؛ نو دا به په شريعت کې جرم ګڼل کيږي [٣]، خو دومره ده چې د لومړنۍ ښځې سره دې فيصله وکړي چې ستا د حقوقو ادا کولو څخه پاتې راغلی يم، که ستا خوښه وي: نو تا ته به طلاق درکړم، که طلاق غوښتل نه غواړې؛ نو خپل حقوق معاف کړه، که چېرته لومړنۍ ښځه دې ته تياره وي چې دې ته دې طلاق ورنه کړل شي او هغه د خپلې شپې تېرولو د حقوقو پرېښودلو ته تياره شي: نو دې ته دې خرچه ورکوي، شپه تېرول دې ورسره نه وي، په دې صورت کې به ګناه ګار نه وي [٤]، بيا هم تر ځو پورې چې ممکن وي د دواړو ښځو په منځ کې د انصاف او مساوات سلوک ساتل لازمي دي.

اسلام کې د څلورو ښځو نه زيات ودونه ناجائز دي

سوال: ما ته چا ويلي چې په شريعت کې د څلورو نه زيات ودونه جائز دي، ايا دا حکم صحيح دی؟

جواب: کوم سړي چې تا ته ويلي: په اسلام کې د څلورو نه زياتو ودونه کول جائز دي، بيخي دروغ يې ويلي دي، بې شکه حضور ﷺ د څلورو نه زيات ودونه کړي وو، مګر دا صرف د حضور ﷺ خصوصيت وو [٥]، د حضور ﷺ نه علاوه کوم صحابي، تابعي، امام، محدث او بزرګ ته د څلورو نه د زياتو ودونو اجازه نشته او نه هم چا کړی دی [٦]، دې سړي دا خبره بالکل غلطه کړې ده.

١] "فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً" (النساء: ٣)۔

٢] يجب وظاهرالآية انه فرض. نهر. وفى الشامى: فان قوله تعالى: فان خفتم الا تعدلوا فواحدة، امر بالاقتصار على الواحدة عند خوف الجور فيحتمل انه للوجوب: (شامى/ ٣/ ٢٠١/ كتاب النكاح/ باب القسم)۔

٣] عن ابى هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: من كان له امراتان يميل لاحداهما على الاخرىٰ جاء يوم القيامة احد شقيه مائل. (سنن نسائى/ كتاب عشرة النساء/ ٢/ ٩٤)۔

٤] كان عند رسول الله صلى الله عليه وسلم تسع نسوة كانى قسم منهن لثمان ولا يقسم لواحدة، قال غير عطا هى سودة وهو اصح وهبت يومها لعائشة حين اراد رسول الله صلى الله عليه وسلم طلاقها فقالت له: امسكنى قد وهبت يومى لعائشة.(مشكوٰة/ ٢٨٠) ايضاً: ولوتركت قسمها.....اى نوبتها لضرتها صح. (الدرالمختار مع الرد/ ٣/ ٢٠٦)

٥] واما ما ابيح من ذٰلک للنبى صلى الله عليه وسلم فذٰلک من خصوصياته. (تفسير القرطبى/ ٥/ ١٧)۔

٦] اذ لم يسمع عن احد من الصحابة ولا التابعين انه جمع فى عصمته اكثر من اربع.(تفسير القرطبى/ ٥/ ١٧)

ښځه څو ودونه کولی شي؟

سوال: په اسلام کې سړی څلور ودونه کولی شي؛ خو ښځه څو ودونه کولی شي؟

جواب: شرعا او عقلا ښځه د یو خاوند نه پرته دویم خاوند نه شي کولی [۱]

په څلورو ودونو باندې پابندي او د مساوات غوښتنه

سوال: تېرو ورځو کې د ښځو د نړیوالې ورځې پرمهال مختلفو ټولنیزو تنظیمونو له طرفه په کراچۍ کې پروګرامونه جوړ شول، په هغې کې د حکومت نه دا غوښتنه وشوه چې د یو نه دې په زیاتو ودونو بندیز ولګول شي او ښځوته دې د سړو برابر په میراث کې برخه ورکول شي، هم دغه شان په واده او طلاق کې ښځو ته د سړو په څېر مساوي حقوق حاصلېدل پکار دي.

۱: ایا په اسلام کې دا غوښتنې کوم اهمیت لري؟

۲: ایا د داسې غوښتنو غوښتونکې په اسلام کې داخل پاتې کېدای شي؟

۳: د رسول اللهﷺ په حکمونو پورې ټوکې کونکي، د حضورﷺ د حکمونو خلاف اواز پورته کوونکي په اسلام کې څه سزا ده؟

جواب: دې بې چاره ښځو چې کومې غوښتنې کړې دي او تاسو نقل کړې دي، دا دعوه یې کله کړې ده چې هغوی د اسلام ترجماني کوي؟ او تاسو پرې دا سوال وکړ چې هغوی دې د اسلام په دایره کې پاتې شي یا نه؟ پاتې شوه دا خبره چې په اسلام کې ددې غوښتنو څه اهمیت دی؟ دا یو داسې سوال دی چې د هغې ځواب هر مسلمان ته معلوم دی، چا ته دا نه ده معلومه چې الله تعالی په قرآن پاک کې سړي ته د عدل په شرط سره د څلورو ودونو اجازه ورکړې ده[۲]، ښځې ته د څلورو مړونو اجازه د الله تعالی له طرفه څه، چې یو کم عقل سړی هم نه ورکوي، دا هم ټولو ته معلومه ده چې قرآن کریم په وراثت[۳] او شهادت[۴] کې د ښځې برخه د سړي نه نیمه ښودلې، د طلاق اختیار یې سړي ته ورکړی دی او ښځې ته یې د طلاق

---

[۱] اما نکاح منکوحة الغير (الى قوله) لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلاً. (ردالمحتار/ مطلب فى النكاح الفاسد/ ۳/ ۱۳۲) ايضاً: لا يجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره......الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۲۸۰)۔

[۲] "فَانكِحُواْ مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاء مَثْنَى وَثُلاَثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ تَعْدِلُواْ فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ" (النساء: ۳)۔

[۳] "يُوصِيكُمُ اللّهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ" (النساء: ۱۱)۔

[۴] "وَاسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ من رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاء" (البقرة: ۲۸۲)۔

غوښتلو اختیار ورکړی دی، د طلاق ورکولو نه[۱]، اوس د الهي وینا وروسته د اسلام ښه تشریح څوک کولی شي؟ د الله تعالی شکر دی چې په مسلمانه معاشره کې ډیرې داسې عزتمنې ښځې شته چې د خپلو کورونو نه یې د جنت نمونه جوړه کړې ده، واقعي چې د جنت حورې هم د دوی کورني جنتونو ته پسخیږي، پاکې ښځې د خپلو کورونو (جنتونو) بادشاهانې دي، د خپل اولاد او خپلو خاوندانو په زړونو باندې حکومتونه کوي؛ لیکن ددې حقیقت نه هم انکار نه شي کېدی چې په ځینو کورونو کې سړي ډېر زیات ظالمان وي، د هغوی ښځې د هغوی نه زیاتې بې ادبه او د ژوند له خونده بې خبره دي، په داسې کورونو کې د ښځې خاوند تر همېشه جنګونه راځي، د هغوی دې شور او فساد سره د همسایه ګانو ژوند هم ورسره خراب وي، داسې معلومېږي چې د ښځو د نړیوالې ورځې پرمهال چې کومو ښځو د خپلو غوښتنو لستونه وړاندې کړي دي، د هغوی اړیکه د ښځو د هغه کورنۍ سره وي چې کورونه یې د دوزخ نمونه ګرځېدلې وي، کوم بیانونه چې تر اخبارونو پورې رسیږي هغوی غالباً د خپلو ظالموخاوندانو خلاف اواز پورته کوي، دا د انساني فطرت کمزوري ده چې هغوی نور هم د خپل ځان په څېر ګڼي، ددې وجې چې خپل کورونه د جهنم په اور کې ویني؛ نو دا ښځې داسې ګڼي چې څنګه هغوی په خپله مظلومانې دي او د خپلو ظالمو خاوندانو څخه تنګې دي هم دغه راز د مسلمانانو په نورو کورونو کې هم وي، ددې وجې هغوی خپله د ټوول مسلمانو ښځو له طرفه غږ پورته کوي، حال دا چې صرف دوی په دې غمونو کې اخته وي، نورې ښځې نه، دغه شان ښځې خو رښتیا هم د رحم وړ دي، هر نېک انسان ته پکار دي چې له دوی سره همدردي ښکاره کړي، د حکومت نه غوښتنه پکار ده چې دا مظلومې ښځې سمدستي د خپلو ظالمو خاوندانو له منګلو څخه خلاصې کړي، زه داسې ښځو ته مشوره ورکوم چې هغوی دي د خپلوانو ښځو په منځ کې دا تحریک وچلوي چې د کوم کس یوه ښځه وي د هغه د واده لپاره دی دویم پیغام په هیڅ صورت قبول نه کړي؛ نو ظاهره ده چې په دې صورت کې به د یو نه په زیاتو ودونو خپله پابندي ولګوي، دې محترمو ښځو ته به د حکومت نه د غوښتنو هیڅ اړتیا نه وي.

پاتې شو د طلاق اختیار: ددې مسئلې حل له مخکې نه موجود دی چې کله هم د ښځې خاوند ترمنځ څه جنګ یا خفګان راشي؛ نو سمدستي دې د خلع غوښتنه وکړي، که ظالم خاوندخلع نه کوي؛ نو عدالت به ورته خلع ورکړي، په هر حال ددې لپاره حکومت ته د غوښتنې هیڅ اړتیا نشته، پاتې د سړي او ښځې د برابرۍ مسئله: نن سبا امریکه د مساوات

۱] ''الطَّلاَقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئاً إِلاَّ أَن يَخَافَا أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ، فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ'' (البقرة: ۲۲۹)۔

د ټولو نه لويه دعوه لري. د ټولې دنيا مشري په يوازې کوي. د داسې غوښتنو والا ښځې دي د امريکې د صدارتي محل نه تاو شي او غوښتنه دي وکړي چې د کوم وخت نه امريکا د اوسنۍ نړۍ وررولي کوي؛ نو تر ننه پورې يوه ښځه هم د امريکې د ولسمشر په توګه نه ده پاتې شوې. دغه راز د امريکې حکومت وزيران او د پارلمان غړي دي د خپلو ځانونو په ځای خپلې ښځې کښېنوي او دوی دي په خپلو کورونو کې کښيني. دا ښځې دي سمدستي په دوی باندې دا قانون ومني چې د څومره وخت پورې په امريکا باندې سړو حکومت کړی دی: نو هم دغومره وخت به اوس ښځې حکومت کوي، تر دومره وخت پورې به يو سړی د امريکې په حکرمتي چوکيو نه کښيني، کله چې د سړو او ښځو برابري او مساوات مسئله له امريکې پيل شي او دې ښځو دا جنګ هلته وګټلو؛ نو په دنيا کې به د ښځو او سړو د برابرۍ داسې هوا وچليږي چې دې ښځو ته به د اخبارونو د پاڼو تورولو هيڅ اړتيا پاتې نه شي، الله تعالی دي ددې ښځو په حال ورحميږي.

[د ورک شوي خاوند حکم]

ايا د ورک شوي خاوند ښځه دويم واده کولی شي؟

سوال: زما خپلوان دي، ډيره موده وړاندې د هغه واده شوی دی، څلور بچي لري، لس کاله وړاندې يې خاوند له کوره تللی دی او دويم واده يې کړی دی، تر يو کال پورې به خپلې لومړنۍ ښځې ته هم هم تلو راتلو؛ خو بيا هغه ناڅاپه د خپلې دويمې ښځې سره چېرته ورک شو، په کوم دفتر کې چې به هغه وظيفه اجرا کوله هغه ځای يې هم پرې ايښی دی، د هغه د ورکېدو تقريبا د نهه کالو څخه زيات وخت وشو، دا چې هغه اوس چېرته دی؟ دا درک هم چاته نشته، دا هم نه ده معلومه چې هغه ژوندی دی او که مړ؟ مونږ غواړو چې دا ښځه په حيا او عزت کې دويم واده وکړي، آيا شرعا دا ښځه حق لري چې اوس بل واده وکړي؟

جواب: دې مسئله کې د مالکيانو په مذهب باندې فتوی ورکول شوې، هغه دا چې ښځه دي په عدالت کې دعوه وکړي، اول دي په شهادت سره ثابته کړي چې نکاح يې د فلانکي سړي سره شوې وه، بيا دي په شهادت سره دا ثابته کړي چې هغه د دومره وخت نه تر اوسه پورې ورک دی او هيڅ خبر يې موږ نه لرو، هغه ددې ښځې د نفقې هيڅ انتظام نه دی کړی، عدالت به ددې د شهادت اوريدلو وروسته دې ته تر څلورو کالو پورې د انتظار کولو حکم وکړي او خپله به دا کوشش کوي چې د هغه په لټه کې شي، که چېرته يې خاوند تر څلورو کالو پورې رانغلو؛ نو عدالت به ددې د نکاح د فسخ کولو پرېکړه وکړي، ددې پرېکړې وروسته به ښځه عدت تېر کړي، د عدت نه پس به هغه دويم ځای نکاح وکړي، که عدالت معلومه کړه چې نور دڅلورو کالو دانتظار کولو هيڅ ضرورت نشته؛ نو دښځې د شهادتونو نه پس سمدستي د نکاح د فسخ کولو پرېکړه هم کولی شي؛ خو د عدالت مخامخ شهادتونه وړاندې کول او د عدالت

د پرېکړې نه پس عدت تېرول لازم شرط دی، ددې نه بغیر دویم ځای نکاح نه کېږي. [۱]

که ورک شوی خاوند کور ته راشي؛ نو د نکاح حکم يې

سوال: زما خاوند زما نه تقريبا ديارلس کاله بيخي ورک ؤ. د ديارلسو کالو په موده کې هغه دويم واده هم کړی، اوس ديارلسو کالو نه وروسته يې راته ځان راورسولو. آيا ددې اوږدې جدايي په وجه زما نکاح ماته شوې او که نه؟ ما ته د دوباره نکاح کولو ضرورت شته او که هغه زړه نکاح پوره ده؟ واضحه دي وي چې خاوند ما ته طلاق وغيره نه دي راکړي.

جواب: هغه زړه نکاح همداسې پاتې ده، د نوي نکاح کولو هيڅ اړتيا نشته. [۲]

۱] د ورك شوي خاوند لپاره د مالکيانو په نزد د ښځې او خاوند د جدا کېدو لپاره په دارالاسلام کې دا صورت دی چې ښځه د قاضي په عدالت کې مرافعه وکړي او د شرعي شهادت په ذريعه دا ثابته کړي چې زما نکاح د فلاني سړي سره شوې وه. (که چيرې د نکاح عيني شاهدان نه وي؛ نو په دې معامله کې شهادت بالتسامع (اورېدل) هم کافي دی، يعنې د عام شهرت په بنياد هم شهادت ورکولی شي. (کما فی المنتقٰی للباجی المالکی ج۵، ص۲۰۳، کتاب الاقضية) (فرع) واما النکاح ففی العتبة عن سحنون، قال جل اصحابنا يقولون فی النکاح، اذا استنشر خبره فی الجيران فلاناً تزوج فلانة وسمع الزفاف فله ان يشهد ان فلانة زوجة فلانة......الخ. ددې نه پس به د شاهدانو سره د هغه ورکېدل ثابت کړي، ددې نه پس دې قاضي خپله هم د مفقود تلاش شروع کړي. کله چې د معلومولو څخه نا اميده شي؛ نو ښځې ته دې د نورو څلورو کالو د انتظار حکم وکړي، بيا که په دغه څلورو کالو کې هم د ورک شوي معلومات ونه شي؛ نو مفقود دې ددې څلورو کالو مودې نه پس مړ شمار کړي، ددې څلورو کالوختمېدو نه وروسته به د څلورو مياشتو او لسو ورځو د وفات عدت تېرولو نه پس ښځې ته د بل چا سره د نکاح کولو اختيار وي.(الحيلة الناجزة للتهانوی، ص:۶۲، حکم زوجه مفقود، طبع دارالاشاعت) وفی فتاویٰ العلامة سعيد بن صديق الفلانی مفتی المالکية بالمدينة المنورة زادها الله شرفاً: فالمفقود فی بلاد الاسلام فی غير مجاعة ولا وباء ان لم ترض زوجته بالصبر الی قدومه فلها ان ترفع امرها الی الخليفة او القاضی او من يقوم مقامهما فی عدمهما ليتفحصوا عن حال زوجها بعد ان تثبت الزوجية وغيبة الزوج والبقاء فی العصمة الی الآن واذا ثبت ذالک عندهم کتبوا کتاباً مشتملاً.....فاذا انتهی الکشف ورجع اليه الرسول واخبره بعدم وقوفه علی خبره، فالواجب ان يضرب له اجل اربع سنين للحر وسنتان للعبد وهٰذا التحديد محض تعبد بفعل عمر بن الخطاب واجمع عليه الصحابة.......والی جميع ماسبق اشار خليل بقوله.....الخ. (الحيلة الناجزة/ ۱۲۰، ۱۲۱/ الجواب من العلامة سعيد/ طبع دار الاشاعت کراچی) وفی فتویٰ العلامة الفاهاشم رحمه الله مفتی المالکية بالمدينة المنورة: اما السوال الرابع......فجوابه ما فی شرح الدر دير وعبد الباقی والخرشی وغيرها، ان المفقود انما يوجل لامراه ما دامت نفقتها والا طلقت بعدم النفقة.....اما السوال الخامس......فجوابه........ان ضرب الاجل لامراة المفقود انما هو اذا دامت نفقتها من ماله ولم تخش العنت والزنا والا فلها التطليق بعدم النفقة اوالخوف الزنا(الحيلة الناجزة ۱۲۳، ۱۲٤)

۲] د تفصيل لپاره وګورئ! الحيلة الناجزة ص: ۶۷، ۶۸، د مفقود د بيا راتلو حکمونه).

د کومې ښځې خاوند چې ورک شي هغه څه وکړي؟

سوال: زما واده دوه کاله وړاندې شوی، زما خاوند د ناروغۍ له امله یوه شپه هم زما سره نه ده تېره کړې، دوه میاشتې وروسته د ناروغۍ په حالت کې معلومه نه ده چې چېرته لاړ او تر ننه پورې ورک شوی دی، زه تر دوه کالو پورې د مور او پلار په کور کې اوسېږم. اوس هغوی غواړي چې زما واده کوم بل ځای وکړي؛ نو تاسو مهرباني وکړئ! زما د دویم واده په اړه ولیکئ چې زه اوس باید څه وکړم؟

جواب: دا خو ښکاره خبره ده چې تر څو پورې د لومړني خاوند نه طلاق نه وي اخیستل شوی یا عدالت د لومړنۍ نکاح د فسخ کولو پرېکړه نه وي کړې بل ځای ښځه نکاح نه شي کولی[1]، ستا د مسئلې حل دا دی چې تاسو عدالت ته لاړ شئ، خپله نکاح د شاهدانو په ذریعه ثابته کړئ او دا چې چې ستا خاوند ورک دی، عدالت به څلور کاله خپله دده تلاش کوي، د نه پیدا کېدو په صورت کې به د نکاح د فسخې پرېکړه کوي (او که عدالت حالاتو ته په کتو سره ددې نه کمه موده تعین کړه؛ نو هم اجازه لري) د فسخې د نکاح د پرېکړې وروسته تاسو د خاوند د وفات عدت (څلور میاشتې او لس ورځې) تیري کړئ! د عدت وروسته دویم ځای نکاح کول جواز لري.[2]

د خاوند د شهادت په خبر د ښځې دویمه نکاح صحیح ده

سوال: زمونږ په کلي کې دوه وروڼه اوسېدل، د ۱۹۶۵ء په جنګ کې یو ورور د جنګ لپاره لاړ، دده ښځه د دویم ورور سره پاتې شوه، د جنګ ختمېدو وروسته دده د ورور درک ونه شو، د پاکستان حکومت دده کور ته د هغه د شهادت خبر ورکړ، څه موده پس دویم ورور یې د خپلې ورینداري سره واده وکړ، دغه راز دواړو خپل ژوند ته ادامه ورکړه، د ۱۹۷۱ء جنګ نه پس یې ورور کور ته راغلو؛ خو په داسې حال کې چې د غریبۍ لباس یې اغوستلی ؤ، ځکه چې هغه خبر شوی ؤ چې ورور یې زما د ښځې سره واده کړی دی، وروسته له دې هغه بیا ورک شو، ورور یې ډېر ورپسې وکتل؛ خو پیدا نه شو، اوس دا معلومه شوې چې هغه د کراچۍ په ښار کې اوسیږي؛ نو په داسې صورت کې شرعي حکم څه دی چې هغه ښځه خو دده د دویم ورور په نکاح کې ده او ددې اولاد چې د دویم ورور څخه شوی آیا هغه اولاد یې حلالیان دي؟ ځکه چې دا په یقین سره ویل کېږي چې دویم ورور یې اوس هم ژوندی دی او په کراچۍ کې اوسیږي.

---

[1] اما نکاح منکوحة الغیر (الی قوله) لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلاً. (ردالمحتار/ مطلب فی النکاح الفاسد/ ۳/ ۱۳۲) ایضاً: لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذلک المعتدة. (عالمگیری/ ۱/ ۲۸۰)۔

[2] اوګورئ حلیة الناجزة للتهانوی، ص۶۲)۔

جواب: هر کله چې د دې ورور د شهادت خبر د حکومت له طرفه راغلو؛ نو د عدت وروسته د هغه ښځه د دوباره نکاح کولو اجازه لري، هغه نکاح يې صحيح ده او اولاد يې هم حلاليان دي، پاتې شوه دا خبره چې ورور يې د فقيرئ په جامه کې راغلی ؤ. دا هسې خبره ده چې د هغې يقين نه کيږي، تر څو پورې چې کومه قطعي خبره معلومه نه شي، تر هغه پورې دده د ښځې دويمه نکاح صحيح ده او که چېرته قطعي طريقې سره ثابته شي چې لومړی خاوند يې ژوندی دی بيا هم د دويمې نکاح نه چې کوم اولاد پيدا شوي هغوی حلاليان دي او لومړني خاوند ته حق شته چې خپله ښځه د ورور څخه واخلي يا دي هغې ته طلاق ورکړي، په دې صورت کې د عدت نه پس د دويم خاوند سره دوباره نکاح کولای شي.[۱]

د ورک شوي خاوند د ښځې دويمه نکاح ناجائزه ده

سوال: زما يو ملګري واده کړی او د واده نه پس هغه بهر هېواد ته لاړ، تقريبا د څلورو کالو راهيسې نه د هغه کوم خط راغلی دی او نه د هغه د څه حالاتو درک شته چې ژوندی دی او که مړ، دلته دده خوابنې او اوخيګانو دده د ښځې دويم واده وکړ او په دې وخت کې يې دوه بچي هم دي د لومړني خاوند مور او پلار هم خپل زوی په مړو حساب کړی، دده د ايصال ثواب لپاره يې ختمونه کړي؛ خو دا دي ياده وي چې هلک په بهر هېواد کې په فوځ کې وظيفه لري؛ خو تر ننه پورې نه ده هغه څه خط راغلی او نه د حکومت له طرفه څه داسې شی راغلی چې په هغې سره دده د مرګ درک وشي. د قرآن او حديث په رڼا کې دا واده کېدی شي؟

جواب: نه.[۲]

سوال: ۲: که د نجلۍ لومړنی خاوند راغلو؛ نو نجلۍ ته د کوم خاوند سره اوسېدل پکار دي؟

جواب: هغه د لومړني خاوند په نکاح کې ده، دويمه نکاح د هغې نه ده شوې.

سوال: ۳: آيا په دې طريقه لومړنۍ نکاح ماتيږي؟

جواب: لومړنۍ نکاح باقي ده، هغه نه ده ماته شوې.

۱] سئل عن امراة لها زوج غائب فجاء رجل اليها واخبرها بموت زوجها ففعلت هي واهل البيت ما تفعل اهل المصيبة من اقامة التعزية واعتدت وتزوجت بزوج آخر ودخل بها، ثم جاء رجل آخر واخبرها ان زوجها حي وقال: انا رايته فی بلد كذا. كيف حال نكاحها مع الثاني؟ وهل يحل لها ان تقوم معه؟ وما ذا تفعل هی وهٰذا الثانی فقال ان كانت صدقت المخبرالاول لم يمكنها ان تصدق المخبر الثانی ولا يبطل النكاح بينهما ولهما ان يقرا على هذا النكاح. (عالمگیری/ كتاب الشهادات/ الباب الثانی عشر/ ۳/ ۵۳۰/ طبع رشيديه كوئته) ايضاً: حيله ناجزه / ۶۷/ طبع دار الاشاعت كراچی)۔

۲] اما منكوحة الغير......لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلاً. (شامی/ ۳/ ۱۳۲) ايضاً: لا يجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره وكذٰلک المعتدة. (عالمگیری/ ۱/ ۲۸۰/ الباب الثالث فی المحرمات)۔

سوال: ۴ که چېرته ماتيږي؛ نو عدت ته څومره ورځې کښېناستل پکار دي؟

جواب: هر کله چې نکاح باقي ده؛ نو د عدت څه سوال دی؟

مسئله کوم سړی چې ورک شوی وي؛ نو د هغه د مرګ پرېکړه عدالت کولی شي. د ښځې یا د ښځې د کورنۍ دا فکر کول چې هغه مړ شوی دی په دې سره د هغه مرګ نه ثابتيږي: نو ځکه دا ښځه هم هغسې د خپل لومړني خاوند په نکاح کې ده، ددې دویمه نکاح غلطه او ناجائزه ده، دې دواړو ته پکار دي چې شمدستي جدا شي، ښځې ته لازم دي چې په عدالت کې لومړۍ د خاوند سره خپله نکاح ثابته کړي او بیا دي دا ثابته کړي چې د دومره وخت راپه دېخوا ددې خاوند ورک شوی دی، ددې نه پس دي عدالت د څلورو کالو انتظار کولو امر وکړي او عدالت به هم په سرکاري توګه ددې د خاوند لټون کوي، که چېرته په دې موده کې خاوند ملاؤ شو؛ نو صحیح ده کنه نو عدالت دي دده د مرګ پرېکړه وکړي او د خاوند د مرګ د پرېکړې له ورځې دي ښځه څلور میاشتې او لس ورځې د خاوند د مرګ عدت تېر کړي، عدت ختمېدو نه پس ښځه دویمه نکاح کولی شي.[1]

❖ شرعي مهر ❖

د مهر معجل او مؤجل تعریف

سوال: تر کومه پورې چې ما اوریدلي شرعي مهر په دوه قسمه دی، مهر معجل او مهر مؤجل، تاسو مهرباني وکړئ د دواړو تعریف او ددې فرق واضحه کړئ؟

جواب: مهرمعجل دې ته وایي چې ددې د اداکولوپاره کومه ټاکلې موده ونبیي، چې ادا کول يې سمدستي یا د ښځې په غوښتنه واجب دي، د مهر معجل غوښتنه کوم وخت چې ښځه کول غواړي کولی يې شي، لیکن د مهر مؤجل غوښتنه د ټاکلي وخت وړاندې کول ناجائز ده.[2]

۱] اوګورئ: الحیلة الناجزة للحلیلة العاجزة للشیخ التهانوی/ ٦٢ تا ٦٦ ، حکم زوجه مفقود، طبع دارالاشاعت)۔

۲] وللمراة ان تمنع نفسها حتی تاخذ المهر (الی قوله) حتی یوفیها المهر کله ای المعجل (الی ان قال) ولو کان المهر کله موجلاً لیس لها ان تمنع نفسها لاسقاط حقها بالتاجیل. (هدایة/ ٢/ ٣٣٤) ایضاً: وان یبینوا قدر المعجل یعجل ذٰلک.....لا خلاف لاحد ان تاجیل المهر الی غایة معلومة نحو شهراً وسنة. صحیح. (عالمگیری/ ١/ ٣١٨)۔

د فاطمي رضي الله عنها مهر او د مهر په ادا کولو کې کمی

سوال: که چېرته څوک درمیانه اندازه مهر ټاکل غواړي: نو ستاسو په فکر څو روپۍ ټاکل پکار دي؟ ځینې خلک، فاطمي مهر یا محمدي مهر ټاکي ددې تعریف څه دی؟ زیاتره کورونه داسې وي چې ښځه ژوندۍ وي که مړه وي، ددې د مهر ادا کولو هیڅ فکر نه کوي. ددې کمي ذمه وار خلک څوک دي؟

جواب: د مهر په اړه د نبي کریم ﷺ احادیث څرګند دي. **عن أبي سلمة قالت: سألت عائشة كم كان صداق النبي ﷺ؟ قالت: ((كان صداقه لازواجه ثنتي عشرة أوقية ونش: قالت: أتدري ما النش؟ قلت: لا. قالت: نصفاً أوقية فتلك خمسمائة درهم)) رواه مسلم (مشكوٰة ص ۲۷۷)**

ترجمه: حضرت ابوسلمه رضي الله عنها وايي، ما د ام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه چې د حضور ﷺ مهر د (خپلو بيبيانو لپاره) څومره وو؟ وې فرمايل، دولس نيمې اوقيې او دا پنځه سوه درهمه. (صحيح مسلم او مشكوٰة)

عن عمر بن الخطاب قال: ((الا لا تغالوا صدقة النساء فانها لو كانت مكرمة في الدنيا وتقوى عند الله لكان اولكم بها نبي الله ﷺ ما علمت رسول الله ﷺ نكح شيئا من نساءه ولا نكح شيئا من بناته على اكثر من اثنتي عشرة اوقية)) رواه احمد والترمذي وابو داؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي (مشكوٰة ص ۲۷۷)

ترجمه: د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روايت دی چې ده به ويل: ګورئ! د ښځو مهر مه زياتوئ، ځکه چې دا که چېرته په دنيا کې د عزت موجب او د الله تعالى په نزد د تقوى شی وې؛ نو حضور ﷺ ستاسو نه زيات ددې حقداری ؤ، ما ته علم نشته چې حضور ﷺ په خپلو بيبيانو کې د کومې ښځې سره د دولسو اوقيو نه زيات مهر باندې نکاح تړلې وه يا يې په خپلو لورګانو کې د کومې لور نکاح ددې نه په زياتو باندې تړلې وه. (مشكوٰة شريف)

د ښځو په حقوقو کې تر ټولو لوړی حق مهر دی چې د خاوند په ذمه لازم وي[۱]، زمونږ د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د مهر کم نه کم مقدار لس درهمه (تقريبا دوه تولې او نيمې ماشې سپين زر) دي[۲] او د زيات مهر څه ټاکلې اندازه نشته، د خپل وس سره سم چې څومره مقدار ټاکل

۱]والمهر يتأكد باحد معان ثلاثة: الدخول والخلوة الصحيحة وموت احد الزوجين سواء كان مسمى او مهرالمثل حتى لا يسقط منه شيء بعد ذلك الا بالابراء. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۰۳)۔

۲]قال: ولا صداق اقل منع عشرة دراهم، لقول الله تعالى: واحل لكم ما وراء ذالكم ان تبتغوا باموالكم، فا باح عقد النكاح بشرط ان يكون البدل وما دون العشرة لا يتناوله اسم الاموال........ومن جهة السنة حديث حرام بن عثمان عن ابنى جابر عن ابيهما عن النبى صلى الله عليه وسلم: [بقيه حاشيه په راروانه صفحه

شوی وي، هسې خو نکاح د مهر نه بغير نه کيږي ليکن په دې اړه ډيره بې احتياطي کيږي.
۱ يوه بې احتياطي د نجلۍ د مورپلار او د خپلوانو له طرفه کيږي چې د مهر ټاکلو پرمهال د هلک د حيثيت خيال نه ساتي، بلکې د زيات مهر ټاکلو کوشش کوي، ځينې وختونو کې جنګ نه هم خبره ورسيږي، بلکې ددې نه هم پورته شي، ځينې وخت ددې له امله واده هم پاتې شي، خلک زيات مهر ټاکل د فخر شی ګڼي، ليکن دا د جاهليت فخر دی، ددې چې ځومره بدي بيانه شي هغومره کمه ده، که چېرته زيات مهر د شرافت او عزت خبره وي؛ نو د رسول الله ﷺ د بيبيانو او د هغه د لورګانو زيات مهر به وو، حال دا چې رسول الله ﷺ د خپلې کومې ښځې يا کومې لور مهر د پنځوسو درهمو نه زيات نه دی ټاکلی[1]، د پنځوسو درهمو نه يو سل يو دېرش درې ماشې سپين زر جوړيږي، که چېرته د سپينو زرو قيمت روپۍ توله وي؛ نو پنځوس درهم يعنې د يو سل يو دېرش تولو سپين زرو شپږ زره پنځه سوه درې شپېته روپۍ جوړيږي، (د قيمت دکمي او زياتي مطابق په دې قيمت کې کمی او زياتی کېدی شي، په هر حال د يوسل يو دېرشو تولو سپين زرو حساب ساتل پکاردي) دې ته فاطمي مهر وايي، د ځينو مشرانو دا ترتيب ؤ که دوی ته به د نکاح تړلو حکم وشو؛
نو دوی به فرمايل که چېرته فاطمي مهرږدئ؛ نو نکاح تړو، کنه نو په بل چا باندې يې وتړئ! د مسلمانانو لپاره د حضور ﷺ اخلاق پکار دي او د مهر ټاکل هغومره پکار ده ځومره چې حضور ﷺ د خپلو بيبيانو او لورګانو لپاره اينبی وو، د حضور ﷺ نه لوی ذات والا څوک دی؟ حال دا چې ددې نه په زيات مهر اينبودلو سره هم ګناه نشته، ليکن زياتوالی د فخر شی ګڼل، په دې باندې جنګونه کول او په خپلو کې د غم بنياد اينبودل د جاهليت مردار رواجونه دي چې د هغې نه د مسلمانانو لپاره ځان ساتل پکار دي.
۲ يوه بې احتياطي په بعض کلو کې کيږي، پاؤ باندې دوه دېرش روپۍ محمدي مهر ګڼي حال دا چې دا مقدار نن سبا کم نه کم مقدار هم نه جوړيږي، مګر خلک دې مقدار ته محمدي مهر وايي، چې دا بيخي غلطه خبره ده، الله ښه پوهيږي چې دا غلطي د کوم ځای راروانه شوه، ليکن افسوس چې مشران هم خلک ددې مسئلو څخه نه خبروي، څنګه چې مو وړاندې بيان کړه چې د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد مهر کم نه کم لس درهمه يعنې دوه تولې او نيمه ماشه

...بقيه د تيرمخ] لاصداق اقل من عشرة دراهم وعن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا مهر دون عشرة دراهم. (شرح مختصر الطحاوی/ ٤/ ٣٩٨، ٣٩٩/ كتاب النكاح/ طبع دارالسراج). واقل المهر عشرة دراهم ولو سمى اقل من عشرة فلها العشرة عندنا. (هداية /٢ / ٣٢٤)۔

[1] عن عمر بن الخطاب قال: الا لا تغالوا صدقة النساء فانها لو كانت مكرمة فی الدنيا وتقوی عند الله لكان اولكم بها نبی الله صلى الله عليه وسلم ما علمت رسول الله صلى الله عليه وسلم نكح شيئاً من نسائه ولا انكح شيئاً من بناته على اكثر من اثنى عشرة او قية. (مشكوٰة/ ٢٧٧/ باب الصداق/ كتاب النكاح)۔

سپین زر دی چې د هغې په حساب نن سبا تقریبا یو سل یو دېرش روپۍ جوړېږي، ددې نه کم مهر ټاکل هم صحیح نه دي او که چا ددې نه کم مهر وټاکلو؛ نو د لسودرهمو په برابر مهر به پرې واجب وي.[۱]

۳ یوه بله لویه بې احتیاطي دا هم ده چې د مهر ادا کول هیڅ ضرورت نه ګڼي بلکې دا رواج، جوړ شوی چې ښځې حق مهر معاف کړي، دا مسئله په ښه طریقه بیانول پکار دي چې د ښځې مهر هم د خاوند په ذمه یو قرض دی لکه څنګه چې نور قرضونه ورکول واجب وي. هسې خو که چېرته ښځه ټول مهر یا د هغې څه برخه خاوند ته معاف کړي؛ نو صحیح ده لیکن د اول نه یې واجب الادا نه ګڼل لویه غلطي ده، په یو حدیث کې دي چې کوم سړی نکاح وکړي او د مهر د ادا کولو نیت یې نه وي کړی هغه زناکاره دی.[۲]

۴ زمونږ په معاشره کې چې نورې ډېرې خرابیانې دي په هغې کې یوه دا هم ده چې د ښځو لپاره د مهراخیستل هم عیب ګڼل کیږي او د میراث برخه اخیستل عیب ګڼل کیږي؛ نوځکه یې ښځه بې چاره معاف کول ضروري ګڼي، که چېرته یې معاف نه کړي؛ نو په معاشره کې د شرم او بېغور خبره ګڼل کیږي. دیندارو خلکو ته پکار دي چې دا معاشرتي مرداري ختمه کړي، ښځو ته دي مهر ورکړي او خپلې لورګانې دي په میراث کې شریکې کړي، که چېرته هغوی معاف کول غواړي: نو هغوی ته دي وویل شي چې خپل حق واخلئ! تر څه مودې پورې دې له ځانه سره وساتي، که غواړي بیا دې واپس کړي،په دې اړه دې بیخي په هغوی زور نه کوي.[۳]

۵ د مهر په اړه یوه بې احتیاطي دا هم ده که چېرته ښځه مړه شي او ددې مهر یې نه وي ورکړی؛ نو دی یې وخوري، حال دا چې شرعي مسئله دا ده: که چېرته د کور ابادولو او د ښځې خاوند د کوروالي وړاندې ښځه مړه شوه؛ نو نیم مهر ورکول واجب دي او که د ښځې خاوند د یواځې کېدو (خلوت صحیح) نه پس ښځه کړه شوه؛ نو پوره مهر به ورکوي، دا مهر به هم ددې په میراث کې راځي او وارثانو به وېشل کیږي[۴]،

۱] ولو سمی اقل من عشرة فلها العشرة عندنا. (هداية/ ۲/ ۳۲٤) ایضاً: ومن جهة السنة حديث حرام بن عثمان عن ابنی جابر عن ابيهما عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: لا صداق اقل من عشرة دراهم....وايضاً روی عن علی رضی الله عنه من قوله: لاصداق اقل من عشرة دراهم. (شرح مختصرالطحاوی للجصاص ٤/ ۳۳۹/ کتاب النكاح)

۲] حدثنا عبدالله.......قال: سمعت صهيب بن سنان رضی الله عنهما يحدث قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ايما رجل اصدق امراة صداقاً والله اعلم انه لا يريد اداء ها اليه فغرها بالله واستحل فرجها بالباطل لقی الله يوم يلقاه هو زان. (مسند احمد/ ٤/ ۳۳۲/ طبع بيروت)۔

۳] قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:الا لا تظلموا! الا لايحل مال امرء الابطيب نفس منه.(مشكوٰة/۲۵۵)

٤]ومن سمی مهر عشرة فما زاد ای فاكثر فعليه المسمی ان دخل او خلابها خلوة صحيحة اومات عنها او ماتت عنه......وان طلقها قبل الدخول والخلوة فلها نصف المسمی ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

ددې مسئلې پوښتنه د عالمانو نه کول پکار دي
زمونږ دا رواج دی که نجلۍ د خسر په کور کې مړه شي؛ نو د هغې ټول میراث د دوی د کورنۍ شي، هغوی د نجلۍ وارثانو ته هیڅ نه ورکوي او که د مور په کور کې مړه شي؛ نو هغوی بیا قلار کښیني او د خاوند حق بیا دوی ضروري نه ګڼي، حال دا چې د مړي په مال باندې په ناجائزه قبضه کول ډیره لویه ګناه ده او ناجائز مال د همېش لپاره د بې برکتۍ سبب وي، بلکې ځینې وخت دویم مال هم له ځانه سره وړي، الله تعالی مو عقل او ایمان نصیب کړه او د جاهلیت د غلطو رواجونو څخه وساتۍ!

د شرعي مهر تعین

سوال: یو سړی د خپلې لور نکاح د شرعي مهر په اعتبار کول غواړي؛ نو موجوده دور کې به د هغې څه مقدار وي؟

جواب: د حضرت فاطمې رضی الله عنها مهر او د حضور ﷺ د نورو لورګانو مهر دولس نیمې اوقیې وو او یوه اوقیه څلوېښت درهمه دي؛ نو پنځه سوه درهمه شو[۱]، د موجوده دور په حساب سره یوسل یوډېرش تولې درې ماشې سپین زر یا ددې قیمت فاطمي مهر دی، د حنفي فقه له مخې د مهر کم نه کم مقدار لس درهمه یعنې دوه تولې او نیمې ماشې سپین زر دي چې د هغې قیمت نن سبا تقریبا یوسل یوډېرش روپۍ جوړیږي.

دوه دېرش روپۍ شرعي مهر ګڼل غلط دي

سوال: هر کله چې د نکاح مجلس جوړ شي؛ نو مولیان چې کله نکاح تړي هغوی پوښتنه کوي چې شرعي مهر څومره وټاکو؟ په دغه وخت کې موجود وارثان عموما دا وایي چې شرعي مهر وټاکئ! نو شرعي محمدي مهر دوه دیرش روپۍ لس انې لس پیسې وټاکي، آیا شرعي مهر هم دومره وي؟

جواب: دوه دېرش روپۍ شرعي مهر ګڼل بالکل غلط دي، د مهر کم نه کم مقدار دوه تولې او نیمې ماشې سپین زر ده، ددې نه کم مهر ایښودل صحیح نه دي.[۲]

...بقیه د تیرمخ] ان كان المسمى عشرة فاكثر، والا كان لها خمسة كما مر. (اللباب فى شرح الكتاب/ كتاب النكاح/ ۲/ ۱۴۹، ۱۵۰)_

۱]عن ابى سلمة رضى الله عنها قال: سألت عائشة رضى الله عنها: كم كان صداق النبى صلى الله عليه وسلم؟ قالت: كان صداقه لازواجه ثنتى عشرة اوقية ونش، قالت: اتدرى ما النش؟ قلت: لا! قالت: نصف اوقية فتلك خمس مائة درهم. رواه مسلم.(مشكوٰة/الفصل الاول/ ۲۷۷) وفى شرحه: قال النووى رحمه الله: استدل اصحابنا بهٰذا الحديث على استحباب كون المهر خمس مائة درهم.....الخ. (مرقاة/ باب الصداق/ ۳/ ۴۴۷)_

۲] حدثنا القاسم بن محمد رحمه الله قال: سمعت جابراً رضى الله عنه...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

مهر د نکاح په وخت ټاکل کيږي

سوال: زمونږ په قوم کې د يو مهر په ځای دوه مهرونه اخيستل کيږي. يو مهر د واده نه مخکې او دويم د واده نه پس، د واده نه مخکې د څلويښتو زرو روپو نه واخله تر يو لک روپو پورې مهر اخيستل کيږي، دويم مهر وکيل چې څه ووايي: که هغه زر روپۍ ووايي؛ نو ورکول کيږي به، ايا دا په اسلام کې جائز دی؟

جواب: شرعي مهر خو هغه دی چې د نکاح په وخت ټاکل شوی وي، هغه د هلک او نجلۍ دواړو د وس مطابق پکار دی، او تا چې د خپل قوم کوم رواج ليکلی: چې هغوی د څلويښتو زرو روپو نه واخله تر يو لک روپو پورې روپۍ غواړي، دا مهر نه دی بلکې دا يو غلط رواج دی[۱]، او دا داسې ده چې پردی ازاده ښځه خرڅول دي، د ښکو خلکو ذمه واري ده چې دا رواج سم کړي.

د قوم مشران د ټولو لپاره يو مهر نه شي ټاکلی

سوال: د قوم مشرانو د مهر لپاره يوه ټاکلې اندازه ښودلې، ددې نه کم او زيات ورکولو اجازه نه ورکوي؛ نو آيا د مشرانو دا پرېکړه صحيح ده؟ ښځه که راضي وي او که نه وي، هغې ته په دې مقدار مهر باندې مجبورول صحيح دي که نه؟

جواب: د قوم د مشرانو دا پرېکړه غلطه ده، په مهر کې د ښځې او خاوند د حيثيت لحاظ ساتل پکار دي، د بالغې ښځې او ددې د مور پلار په خوښه مهر وټاکئ! مهر خو د ښځې حق دی؛ نو څکه د قوم د خلکو ددې مقدار ټاکلو هيڅ حق نشته، [۲] البته د قوم خلکو ته د مناسب مهر ټاکلو وړانديز کول پکار دي. [۳]

....بقيه د تيرمخ] يقول قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ولا مهر اقل من عشرة. (اعلاء السنن/ مبحث المهر/ ۱/ ۸۰، ايضاً: اللباب فى شرح الكتاب/ ۲/ ۱۴۹) تفصيل دپاره اوګورئ: شرح مختصر الطحاوى/ ۳۹۸ تا ۴۰۴/ طبع دار السراج/ بيروت)۔

۱]اخذ اهل المراة شيئاً عند التسليم فللزوج ان يسترده، لانه رشوة. (الدرالمختار/ ۳/ ۱۵۶)۔

۲]وأتوا النساء صدقٰتهن نحلة، اى مهورهن سمى صداقاً وصدقة، قال الكلبى وجماعة هٰذا خطاب للأولياء.....ولما كان الصداق عطية من الله تعالى على النساء صارت فريضةً وحقاً لهن على الازواج ونظراً الى هٰذا قال قتادة: فريضة.....الخ.(تفسيرالمظهرى/ ۲/ ۲۲۰، ۲۲۱/ سورة النساء: ۴/ طبع رشيديه، كوئټه)

۳] ايضاً وصح حطها كله او بعضه عنه، وفى الشامية: وقيد بحطها لان حط ابيها غير صحيح لو صغيرة، ولو كبيرة توقف على اجازتها. (درمختار مع ردالمحتار/ ۳/ ۱۱۳/ باب المهر)۔

آیا د نکاح لپاره مهر ټاکل ضروري دي؟

سوال: د نکاح لپاره د مهر ایښودلو په اړه شریعت څه وایي؟ ایا د نکاح لپاره مهر ټاکل لازمي دي؟ که د نکاح په وخت مهر مقرر نه شي؛ نو بیا به څه کیږي؟ که چېرته شریعت مهر لازم ګڼي؛ نوکم نه کم او زیات نه زیات څومره مهر ایښودل پکار دي؟

جواب: په نکاح کې مهر ټاکل ضروري دي، که د نکاح په وخت مهر ونه ټاکي؛ نو مهرمثل به لازم وي[1]، د مهر مثل نه مراد دا دی چې ددې خاندان د جینکو څومره مهر چې وي هغومره به لازم وي، د مهر کم نه کم مقدار لس درهمه (دوه تولې او نیمې ماشې سپین زر) دی، د نکاح په ورځ بازار کې چې ددې په اندازه د سپینو زرو څومره قیمت وي ددې نه کم مهر ټاکل ناجائز دي[2]، د زیات مهر لپاره څه حد نشته، د دواړو په خپله خوښه چې څومره اندازه مهر وټاکل شو جائز دی، لیکن مهر د هلک او نجلۍ د حیثیت سره سم ایښودل پکار دی، ددې لپاره چې هلک یې اسانه ادا کړي.

دومره مهر ورکول څومره چې ټاکل شوی وي

سوال: د کوم سړي واده وشو؛ خو د مهر روپۍ دده له وسه زیاتي دي او اوس انتظار کوي چې زه څنګه مهر ورکړم؟

جواب: په دې صورت کې یې نکاح کیږي او کوم مهر چې ټاکل شوی دی هم هغه به ورکوي[3]، د سړي نیت اعتبار نه لري.[4]

د مهر ادا کولو طریقه

سوال: د مهر ادا کولو طریقه څه ده؟

۱]وان تزوجها ولم يسم لها مهراً او تزوجها على ان لا مهر لها فلها مهر مثلها ان دخل بها. (عالمگيرى/ الفصل الثانى فيما يتاكد به المهر/ ۱/ ۳۰٤، ايضاً: الجوهرة النيرة/ ۲/ ۸۰)۔

۲]قوله ومهر مثلها يعتبر باخواتها وعماتها وبنات عمها......لان المراة تنسب الى قبيل ابيها وتشرف بهم. (الجوهرة النيرة/ ۲/ ۸۷/ كتاب النكاح، طبع حقانيه ملتان) اقل المهر عشرة دراهم. (عالمگيرى/ الفصل الاول فى بيان ادنى مقدار المهر....الخ/ ۱/ ۳۰۲)، ايضاً: واقل المهر عشرة دراهم او ما قيمة عشرة يوم العقد لا يوم القبض. (الجوهرة النيرة/ ۲/ ۷۹)۔

۳]ومن سمى مهراً عشرة فيما زادفعليه المسمى ان دخل بها او يموت عنها. (هداية/ ۲/۳۲٤)۔

٤] حدثنا عبدالله.........قال: سمعت صهيب بن سنان رضى الله عنه يحدث قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ايما رجل اصدق امراة صداقاً والله اعلم انه لا يريد اداء ها اليه فغرها بالله واستحل فرجها بالباطل لقى الله يوم يلقاه هو زان. (مسند احمد/ ٤/ ۳۳۲/ طبع بيروت)۔

جواب: صحیح طریقه یې دا ده چې: بغیر د څه کمي او زیاتي نه مهر ښځې ته ادا کړی شي او مهر د یو ځای کېدو وروسته لازمیږي یا دا چې په ښځه او خاوند کې یو مړ شي [۱]

مهر باید کله ادا شي؟

سوال: د ډېرو خلکو نه مې اوریدلي دي چې د نکاح په وخت کوم مهر تاکل کیږي. مثلاً: شل زره روپۍ، څلوېښت زره روپۍ؛ نو دا روپۍ د ښځې لپاره معاف کول ضروري دي، کنه سړی ښځې ته د ورتلو حق نه لري او نه هغې سره لاس لګولی شي؟ مهرباني وکړئ زما شک لرې کړئ!

جواب: مهر د معاف کولو لپاره نه بلکې د اداکولو لپاره مقرر وي؛ نو ځکه د مهر معاف کولو په ځای ادا کول پکار دي، مګر سمدستي یې ادا کول ضروري نه دي بلکې د ښځې په غوښتنې سره ضروري ګرځي [۲]، او د مهر ادا کولو نه پرته ښځې ته لاس لګول جائز دي.

د مهر ادا کول د نکاح په وخت ضروري نه دي

سوال: ایا د نکاح په وخت مهر ورکول ضروري دي که په نکاح خط باندې د معاهدې په صورت کې ددې لیکل کافي دي؟ داسې چې: په بدل د دومره روپو شرعي مهر کې د فلانکې ښځې نکاح د فلانکي سړي سره وکړه؟

جواب: د نکاح په وخت د مهر ادا کول ضروري نه دي، وروسته یې د ښځې په غوښتنې سره ادا کولی شي. [۳]

د وهم لرې کولو لپاره دویم ځلي مهر ادا کول

سوال: زما یو ملګری ډېر زیات وهمي دی، د واده یې تقریباً دوه کاله شوي دي، څو ورځې وروسته به یې اولاد هم پیدا شي، هغه وایي چې: د واده په لومړۍ شپه مې ښځې ته شرعي مهر ادا کړی ؤ، لیکن اوس شکي یم شاید شرعي مهر مې نه وي ادا کړی؟ دده ښځې ته هم صحیح یاد نه دي، ددې شک او وهم لرې کولو لپاره ایا هغه دوباره شرعي مهر ادا کولی شي؟

جواب: دوباره دې ادا کړي [۴]، لیکن دوه کاله پس که بیا ورته وهم وشو چې ما نه دی ادا

۱] والمهر یتأکد باحد معان ثلاثة: الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین سواء کان مسمی او مهرالمثل. (عالمگیری/ کتاب النکاح/ الفصل الثانی فیما یتاکد به المهر/ ۱/ ۳۰۳/ طبع رشیدیه کوئته)_

۲]وللمرأة ان تمنع نفسها حتی تاخذ المهر، وتمنعه ان یسافر بها.....الخ. (الجوهرة النیرة/ ۲/ ۸۷)_

۳] ایضاً)_

۴]عن الحسن بن علی رضی الله عنهما قال: حفظت من رسول الله صلی الله علیه وسلم: دع ما یریبک الی مالا یریبک. (مشکوٰة/ باب الکسب وطلب الحلال/ ۲۴۲)_

کړي؛ نو بیا به څه کیږي؟ ددې علاج دا دی چې د مهر ادا کولو په وخت دي لیکل وکړي او په دې باندې دي شاهد هم مقرر کړي، ددې لپاره چې د بیا لپاره ورته وهم ونشي.

سره او سپین زر په حق مهر کې لیکل جائز دي

سوال: ایا په شرع کې د مهرڅه معلومه اندازه شته او که نه؟ د هلک کورنی ښځې ته د جامو پرته سره او سپین زر هم ورکوي، آیا دا سره او سپین زر د هلک له طرفه په مهر کې لیکل کېدی شي؟ په داسې حال کې چې د سرو قیمت وخت په وخت زیاتیږي؟

جواب: د مهرکم نه کم مقدار د احنافو په نزد دوه تولې او نیمې ماشې د سپینو زرو مالیت دی[۱]، په زیات باندې څه پابندي نشته، د هلک له طرفه چې کوم زر ورکول کیږي هغه په مهر کې لیکل کېدی شي.[۲]

په قرض باندې مهر ادا کول

سوال: ایا که دِ شرعي مهر لپاره له چا نه قرض روپۍ واخیستل شي دا جواز لري؟

جواب: هو، ادا کېدی شي؛ خو غوره به دا وي چې د ښځې نه قرض واخلي او وروسته دي په وخت د ورکولو وعده وکړي.

د ښځې په خوښه مهر په قسطونو (کشتونو) ادا کول جائز دي

سوال: زه یو کاریګر یم. تقریباً اوه نیم سوه روپۍ میاشتینی تنخا لرم، زه غواړم چې د خپلې ښځې مهر پنځه ویشت زره روپۍ ادا کړم، تاسو راته د شریعت له مخې یوه داسې طریقه وښایئ چې مهر ادا شي، ایا زه د مهر رروپۍ په قسطونو ادا کولی شم؟

جواب: دښځې په رضامندئ سره جائز دی،[۳]

په سړي باندې مهر قرض وي

سوال: که چېرته حق مهر تاکل شوی وي او خاوند نه وي ادا کړی او نه ورته بخښل شوی وي؛ نو ددې په باره کې شریعت څه وایي؟ ځکه چې یو سړی وایي چې زما د واده شل کاله وشو او ما د مهر په باره کې کله هم خیال نه دی کړی؟

---

[۱] اقل المهر عشرة دراهم. (عالمگیری/ الفصل الاول فی بیان ادنی مقدار المهر،الخ/ ۲/ ۳۰۲)_

[۲] لو بعث الی امراته شیئاً ولم یذکر جهة عند الدفع غیر المهر فقالت: هو هدیة، وقال هو: من المهر، فالقول له بیمینه. (درمختار مع ردالمحتار/ باب المهر/ ۳/ ۱۵۱)_

[۳] لو اجلته بعد العقد مدة معلومة لیس لها ان تحبس نفسها. (عالمگیری/ کتاب النکاح/ الفصل الحادی عشر فی منع المراة نفسها....الخ/ ۱/ ۳۱۸/ طبع رشیدیه کولته)_

جواب: د ښځې مهر د خاوند په ذمه قرض دی، که د واده هر څومره کاله شوي وي. ادا کول يې واجب دي[۱] او که چېرته خاوند مړ شي او ده مهر نه وي ادا کړی: نو د هغه په ميراث کې به اول مهر اداکيږي بيا به يې ميراث په نورو وارثانو وېشل کيږي[۲]

د طلاق ورکولو وروسته مهر او د بچو خرچه به ورکوي

سوال: که چېرته زيد خپلې ښځې ته طلاق د کاغذ په واسطه ليکل شوی ولېږلو: نو آيا شرعي حيثيت سره به هغه د حق مهر او د بچو د خرچې ذمه دار وي؟ حال دا چې هغه بچې بيخي نه غواړي او دده مالي وسائل هم دومره نه دي چې هغه د مهر پرته د بچو خرچه هم يو ځلي ورکړي، په داسې حال کې چې د زيد خسرګنۍ د طلاق وروسته او سمهال د مهر د روپيو او د بچو د خرچې دعوه کوي، په داسې صورت کې شرعي حکم څه دی؟

جواب: خاوند به مهر خامخا ورکوي، که ښځه غواړي؛ نو په قسطونو کې يې هم اخيستلای شي[۳]، د بچو خرچې به دې ته مياشت په مياشت ورکوي[۴]، د خرچې مقدار په خپل منځ کې په سولې سره هم کېدی شي او د عدالت په ذريعه هم.

که خاوند مړ شو؛ نو د ښځې مهر يې په وارثانو نشته

سوال: زيد د خپلې ښځې مهر ادا کولو نه وړاندې مړ شو، اوس د زيد ښځه د خپل مشر زوی نه د مهر روپۍ غواړي او وايي چې: د خپل پلار قرض په تا باندې ادا کول واجب دي، ايا اوس

---

[۱] وفی الفتاویٰ الهندية (ج:۱/ ۳۰۳) کتاب النکاح: والمهر يتاکد باحد معان ثلاثة: الدخول والخلوة الصحيحة وموت احد الزوجين، سواء کان مسمی او مهر المثل حتی لا يسقط منه شيء بعد ذٰلک الا بالابراء من صاحب الحق. ايضاً: ولما کان الصداق عطية من الله تعالی علی النساء، صارت فريضة وحقاً لهن علی الازواج. (تفسير مظهری/ ۲/ ۲۲۱) وفی تفسير ابن کثير (ج: ۲/ ۱۹۱) وليس ينبغی لاحد بعد النبی صلی الله عليه وسلم ان ينکح امراة الا بصداق واجب، ولا ينبغی ان يکون تسمية الصداق کذباً بغير حق.)۔

[۲] اذا مات الزوجان وقد سمی لها مهراً فلو رثتها ان ياخذوا ذٰلک من ميراثه. (هداية/ باب المهر/ ۲/ ۳۳۷)۔

[۳] وفی الدرالمختار مع ردالمحتار (ج: ۳/ ۱۰۲) وتجب.......عند وطء او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما او تزوج ثانياً فی العدة. (وفی الشامية) واذا تأکد المهر بما ذکر لا يسقط بعد ذالک وان کانت الفرقة من قبلها، لان البدل بعد تاکده لا يحتمل السقوط الا بالابرای. وفی الفتاویٰ العالمگيرية: والمهر يتاکد باحد معان ثلاثة: الدخول، والخلوة الصحيحة، وموت احد الزوجين، سواء کان مسمی او مهر المثل حتی لا يسقط منه شيء بعد ذالک الا بالابراء من صاحب الحق. (فتاویٰ عالمگيری/ ۱/ ۳۰۳/ کتاب النکاح/ باب المهر)۔

[۴] ونفقة الاولاد الصغار علی الاب لا يشارکه فيها احد. (هداية، باب النفقة/ ۲/ ٤٤٤) وفی الفتاویٰ الهندية: ج:۱/ ۵۶۰) کتاب الطلاق، الباب السابع عشر فی النفقات: نفقة الاولاد الصغار علی الاب لا يشارکه فيها احد)۔

د زید په بچي د مور مهر ادا کول لازم دي که نه؟

جواب: د ښځې مهر د خاوند په ذمه قرض وي، که خاوند څه شی پرې ایښی وي او مړ شوی وي؛ (تر دې چې د کور شیان وي، جامې او کور ولې نه وي) ددې نه به دا قرضه ادا کولی شي[1]، او که هغه څه شی نه وي پرې ایښی او مړ شي: نو دده په وارثانو باندې یې ادا کول لازم نه دي[2] بلکې هغه خپله ګناه ګار شو او د قیامت په ورځ به یې خامخا ادا کوي.

د ښځې د مړینې وروسته ددې د مهر حقدار څوک دی؟

سوال: یو سړي واده وکړ، درې څلور کاله وروسته یې ښځه مړه شوه چې له هغې څخه یې یو بچی هم شته، اوس مسئله دا ده چې ددې ښځې مور- پلار په اسلامي فکر ددې د واده شیان (توکي) څه چې هغوی د واده په وخت خپلې لور ته ورکړي وو اوس یې بېرته غواړي، ایا هغوی ددې شیانو غوښتنه کولای شي او که نه؟ که دوی ټول شیان د الله په نوم جومات ته وقف کړي ایا دا وقف به صحیح وي؟ په داسې حال کې چې د مړې شوي ښځې یو زوی او سمهال ژوندی پاتې دی. یاده دې وي چې د ښځې مور- پلار په هره معامله کې خپل ځان د اسلامي اصولو پابند ګڼي، که چېرته یې دوی په خپل استعمال کې راولي؛ نو د قرآن او حدیث په رڼا کې د دوی لپاره څه حکم دی؟

جواب: مور- پلار چې خپلې لور ته څه ورکوي هغه ددې مالکه وي،[3] او ددې د مړینې وروسته په میراث کې شمارل کېږي، مور- پلار دغه شیان بېرته نه شي اخیستلی، بلکې هغه به د شرعي برخو مطابق په وارثانو وېشل کېږي، تا چې کوم صورت لیکلی دی ددې مطابق د مرحومې میراث په دولسو برخو به ووېشل شي، په دې کې درې برخې د مرحومې خاوند ته رسیږي، دوه دوه برخې به یې مور او پلار ته[4]، او پاتې پنځه برخې د مرحومې د زوی دي،[5]

۱]اذا مات الزوجان وقد سمى لها مهراً فلورثتها ان ياخذوا ذٰلک من ميراثه. (هداية/ باب المهر/ ۲/ ۳۳۷)۔

۲]ولا يطالب الاب بمهر ابنه الصغير الفقير اما الغنى فيطالب ابوه بالدفع من ماله ابنه لامن مال نفسه اذا زوجه امراة الا اذا ضمنه كما فى النفقة فانه لا يوخذ بها الا اذا ضمن. (الدرالمختار/ باب المهر/ ۳/ ۱۴۱)۔

۳]المختار للفتوىٰ ان يحكم بكون الجهاز ملكا لا عارية لانه الظاهر الغالب الا فى بلدة جرت العادة.......واما اذا جرت فى البعض يكون الجهاز تركة يتعلق بها حق الورثة وهو الصحيح. (ردالمحتار/ مطلب فى دعوى الاب ان الجهاز عارية/ ۳/ ۱۵۷/ طبع ایچ ایم سعید)۔

۴]والربع للزوج مع الولد مطلقاً او ولد الابن.......الخ. (اللباب فى شرح الكتاب/ ۲/ ۲۳۶/ كتاب الفرائض) والسدس فرض سبعة اصناف لكل واحد من الابوين مع الولد مطلقاً او ولد الابن مطلقاً. (اللباب/ ۲/ ۲۳۷/ كتاب الفرائض/طبع قدیمی)۔

۵]وفى السراجى (ص: ۴) فيبدا باصحاب الفروض.........ثم بالعصبات من جهة النسب، والعصبة كل من ياخذ ما ابقته اصحاب الفرائض. (وفى الفتاوىٰ الهندية/ ۲/ ۴۵۱)...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

هغه به د پلار په تربیه کې وي.[١]

سوال: د زید او زینب نکاح وشوه، د زینب مهر صرف د پرش زره روپۍ وټاکل شو. د شلوزرو یې ورته سره او سپین زر ورکړه او د لسو زرو یې یوه کوټه ورته جوړه کړه، د واده نه شپږ میاشتې وروسته زینب مړه شوه، زینب چې کوم میراث پرېښود، د نجلۍ حقیقي مور- پلار د نجلۍ ټول میراث (سره او سپین، جوړې او نور ټول شیان) د خپل ځان سره ایښي. حال دا چې د نجلۍ مور- پلار په خپله ځمکه کې نجلۍ ته څه نه دي ورکړي، د نجلۍ خاوند چې یوازې پاتې شوی دی دده زوی یا لور نشته، هغه غواړي چې د خپلې ښځې په میراث کې سره او سپین واخلي، د نجلۍ حقیقي مور- پلار د ورکولو نه انکار کوي او وایي چې مسئله معلومه کړئ! ایا په مهر کې ورکول شوي شیان د نجلۍ د مور- پلار برخه ده که د خاوند؟

جواب: د نجلۍ مهر، جوړې، د کور نور شیان چې د کومو هغه مالکه ده، د وفات وروسته د هغې میراث شمارل کیږي[٢]، په پوره میراث کې د خاوند نیمه برخه ده او نیمه د هغې د مور- پلار ده[٣]، او د مور پلار د نیمې په زیاته باندې قبضه اچول ناجائز دي.[۴]

زمونږ خواته چې کوم رواج دی چې د نجلۍ د وفات وروسته کوم شیان د خسرګنۍ په ولکه کې راشي هغوی پرې کښیني او کوم شیان چې د پلار والا لاس ته راشي هغې باندې هغوی ولکه وکړي دا ډېر غلط رواج دی، شریعت چې د چا څومره برخه ټاکلې وي د هغه لپاره هم دغه حلاله ده، ددې نه په زیات باندې قبضه اچول حرام دي، د زینب مرحومې د پرش زره روپۍ مهر ؤ، ددې نه پرته ددې د کور شیان هم وو، ددې ټولو شیانو قیمت باید د اوسنیو توکو سره ولګول شي، څو روپۍ چې جوړې شي هغه به شپږ برخې کړي، درې برخې (د ټول میراث نیمایي) د خاوند ده، یوه برخه (د ټول میراث شپږمه) د مرحومې د مور ده او دوه برخې (یعنې د ټول میراث دریمه) د مرحومې د پلار ده.[۵]

...بقیه د تیرمخ] العصبات: وهم كل من ليس له سهم مقدر وياخذ ما بقى من سهام ذوى الفروض، واذا انفرد اخذ جميع المال)_

١] ولا تؤتوا السفهآء اموالكم التى جعل الله لكم قياماً وارزقوهم فيها واكسوهم.....الخ. (النساء:٦)_

٢] المختار للفتوىٰ ان يحكم بكون الجهاز ملكا لا عارية لانه الظاهر الغالب الا فى بلدة جرت العادة بدفع الكل عارية فالقول للاب واما اذا جرت فى البعض يكون الجهاز تركة يتعلق بها حق الورثة وهو الصحيح. (ردالمحتار/ مطلب فى دعوى الاب ان الجهاز عارية/ ٣/ ١٥٧)_

٣] ولكم نصف ما ترك ازواجكم ان لم يكن لهن ولد. (النساء: ١٢)_

۴] الا لايحل مال امرء مسلم الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/ ٢٥٥/ باب الغصب والعارية)_

۵] ويفرض لها اى الام ففى مسئلتين فقط، وهما زواج وابوان وامراةاى زوجة وابوان، ثلث ما يبقٰى بعد رفع فرض الزوج فى الاولى وفرض الزوجة فى الثانية....الخ. (اللباب فى ... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د طلاق وروسته د ښځې کور د چا دی؟

سوال: زموږ د دوه خپلوانو هلک او نجلۍ ترمنځ واده وشو. مګر د هغوی په خپل منځ کې روغه ونه شوه، هر وخت به هلک تنګ نظري کوله. اخر هغه درې طلاقه په یو ځای خپلې ښځې ته ورکړه، اوس د نجلۍ کورنۍ وايي چې زموږ د لور شيان واپس راکړئ! مګر هلک والا وايي: موږ چې په واده باندې څه خرچه کړې دي تاسو هغه راکړئ! دغه راز د دواړو کورنيو ترمنځ د غټې شخړې خطر شته، تاسو شرعي طريقې سره ځواب راکړئ چې اوس بايد څه وکړل شي؟

جواب: نجلۍ والو چې خپلې لور ته کوم شيان ورکړي وو، د هلک په کورنۍ فرض دي چې هغه واپس نجلۍ ته ورکړي، له ځانه سره يې ايښودل د دوی لپاره حلال نه دي. ځکه چې دا د نجلۍ ملکيت دی[۱]، او د هلک والو دا وينا چې زموږ په واده باندې خرچ شوی دی دا عذر بې ځايه دی، اول خو ددې وجې چې آيا د هلک والو خرچ شوی دی؟ د نجلۍ والو څه خرچ نه دی شوی، او د نجلۍ والو چې څه خرچ شوی دی آيا هلک والو ددې نقصان ادا کړی دی؟ دويم دا چې که چېرته د هلک والو خرچ شوی وي؛ نو دوی ته کوم حکيم مشوره ورکړې وه چې دوی دې نجلۍ په ښه طريقې نه آبادوي، تر دې چې خبره د دواړو ترمنځ جدايئ ته ورسي؟ په دې جدايئ کې د نجلۍ ګناه هم کېدی شي؛ مګر غټه ګناه د خاوند او دده د خپلوانو وي، غرض دا چې د هلک والو دا خبرې بې ځايه دي، د نجلۍ شيان بېرته ورکول په دوی باندې فرض دي، دا شيان چې کوم خلک استعمالوي هغوی به غاصبين شمارلی کيږي او د قيامت په ورځ به ورته سزا ورکول کيږي، همدا راز که د نجلۍ مهر يې نه وي ادا کړی يا نجلۍ نه وي معاف کړی؛ نو د هغې ادا کول هم واجب دي.[۲]

آيا خلع والا ښځه د مهر حق لري؟

سوال: اسلام ښځې ته د خلع حق ورکړی دی، سوال دا دی چې د خلع اخيستلو په صورت کې ښځه د مقرره مهر حقداره وي که نه؟ يعنې د خاوند لپاره د ښځې مهر ادا کول ضروري دي او که نه؟

جواب: په خلع کې چې کوم شرطونه مقرر شي؛ نو په دواړو د هغې پوره کول لازم دي، که

...بقيه د تيرمخ] شرح الکتاب/ ۲/ ۲۳۷/ کتاب الفرائض/ طبع قديمی)

[۱] کل احد يعلم ان الجهاز للمراة اذاطلقها تاخذه کله (ردالمحتار/ مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عارية/ ۱۵۸/۳)

[۲] ثم المهر واجب شرعاً ابانة لشرف المحل. (البحرالرائق/ باب المهر/ ۳/ ۱٤۲) ايضاً: والمهر يتاکد باخذ معان ثلاثة: الدخول والخلوة الصحيحة وموت احد الزوجين سواء کان مسمی او مهر المثل حتی لا يسقط منه شيء بعد ذالک الا بالابراء من صاحب الحق.....الخ. (عالمگيری/ ۱/ ۳۰۳/ کتاب النکاح/ باب المهر)۔

چېرته د مهر پرېښودلو په شرط خلع شوې وي؛ نو ښځه د مهر حق نه لري[۱] او که د مهر څه یادونه نه وي شوې چې دا هم پرېږدي که نه، بیا هم مهر معاف شو[۲]، البته که د مهر ادا کولو شرط وي؛ نو مهر به خامخا ورکوي[۳]

ښځه به څنګه مهر معاف کوي؟

سوال: زه ستا نه د یو شرعي سوال پوښتنه کول غواړم، ما خپل خاوند ته مهر په خپله خوښه معاف کړی دی، ما په خپله ژبه او ساده کاغذ په لیکلي صورت ورته معاف کړی دی. آیا په دې وینا او لیکلو سره مهر معاف کیږي؟ آیا شرعي حیثیت سره دا معاف کېدل صحیح دي؟

جواب: د ښځې مهر د خاوند په ذمه قرض دی[۴]، که چېرته قرض ورکوونکی مقروض ته په ژبه یا د لیکلو په طریقه روپۍ معاف کړي؛ نو معاف کیږي، هم دغه راز مهر هم د ښځې په معاف کولو سره معاف کیږي[۵]

د مهر معاف کولو وروسته نجلۍ د مهر غوښتلو حق نه لري

سوال: څه موده وړاندې دلته د یوې نجلۍ واده وشو، د نکاح په وخت د نجلۍ مهر اتیازره روپۍ وتاکل شو او په دغه وخت کې د نجلۍ خسرګنۍ سمدستي نیم مهر څلوېښت زره روپۍ ادا کړې او نیم مهر نجلۍ د خپل طرفه خاوند ته معاف کړ، بیا څه وخت ورسته نجلۍ د خسرګنۍ د خوښې بغیر د خپل مور- پلار کور ته لاړه، د نجلۍ مور- پلار د نجلۍ د طلاق غوښتنه وکړه، په څه زور هلک نجلۍ ته طلاق ورکړ، اوس د نجلۍ مور او پلار د معاف شوي مهر غوښتنه هم کوي، د خاوند نه یې بیا څلوېښت زره روپۍ واخیستلې، پوښتنه دا ده چې نجلۍ والو دا څلوېښت زره روپۍ چې په زوره یې اخیستي، دا اخیستل د دوی لپاره صحیح دي او که نه؟

---

[۱] وان کان بکل المهر فان کان مقبوضاً رجع بجمیعه والا سقط عنه کله مطلقاً. (ردالمحتار/ مطلب حاصل مسائل الخلع،الخ/ ۳/ ٤٥۳)۔

[۲] فان کان البدل مسکوتا عنه ففیه روایتان اصحهما براء ۃ کل منهما عن المهر لا غیر فلا ترد ماقبضت ولا یطالب هو بما بقی. (ردالمحتار/ مطلب حاصل مسائل الخلع، الخ/ ۳/ ٤٥۳)۔

[۳] اختلعت مع زوجها علی مهرها ونفقة عدتها علی ان الزوج یردعلیها عشرین درهما صح ولزم الزوج عشرون. (ردالمحتار/ مطلب فی ایجاب بدل الخلع علی الزوج/ ۳/ ٤٦٤)۔

[٤] المهر واجب شرعاً ابانة لشرف المحل. (البحرالرائق/ ۳/ ١٤۳)۔

[٥] للمراة ان تهب مالها لزوجها من صداق دخل بها او لم یدخله. (عالمگیری/ ۱/ ۳۱٦/ کتاب النکاح، الفصل العاشر فی هبة المهر)۔

جواب: کوم مهر چې نجلۍ معاف کړی ؤ د هغې د اخیستلو حق نه لري[1]، لیکن خاوند ښه وکړه چې د هغې احسان یې په خپله ذمه وانه خیست.

که ښځه مهر وبخښي؛ نو د خاوند په ذمه یې ورکول ضروري نه دي

سوال: زما د نکاح مهر صرف یوولس زره او پنځه سوه روپۍ وټاکل شوې. نیم یې معجل او نیم یې مؤجل وو چې زه یې اوسمهال نه شم ادا کولی، د واده په شپه چې کله زه خپلې ښځې ته لاړم د سلام او خبرو وروسته چې ما خپل حال هغې ته بیان کړ؛ نو هغې هم په هغه وخت خپل ټول مهر ماته معاف کړ، ایا ددې وروسته په ما باندې ښځې ته مهر ورکول جائز دي او که نه؟

جواب: که ستا بیان او د ښځې اقرار صحیح وي؛ نو تا ته د ښځې له طرفه مهر معاف شو، اوس په تا باندې د مهر ادا کول ضروري نه دي.[2]

په مرض الموت کې فرضي مهر لیکل

سوال: یو سړی چې مرګي حاله دی او په ګټه - تاوان نه پوهیږي، دده ددې حالت نه په ګټې اخیستو سره یې ښځه او خوابنې دده د وفات نه لس ورځې مخکې د مرحوم تقریباً پنځه جریبه او دوه د اوسېدو کورونه د پنځوس زرو روپو فرضي مهر په بدل کې قوالیې (رجستر) کول غواړي، د ښځې خاوند د واده شپږ دېرش کاله تېر شو، هغه وخت مهر اووه ویشت روپۍ ټاکل شوی ؤ، نکاح ویونکی او شاهدان هم موجود دي، د مرحوم په پاتې شوو کسانوکې یو حقیقي ورور او دوه د مرحوم لورګانې دي، دا رجستري شرعا صحیح ده او که نه؟

جواب: په مرض الموت کې داسې تصرفات بې اعتباره دي[3]، لهذا د ښځې د خاوند ځمکې او کورونو په خپل نوم کول د فرضي مهر په بدل کې شرعا درست نه دي، په داسې حال کې چې د مهر د مقدار نه یې ځمکه او کورونه د زیات قیمت والا دي، ښځه د خپل مهر حق لري، که خاوند مړ شي او دومره میراث پاتې شي چې د ښځې مهر پرې ادا کیږي؛ نو لومړی به د ښځې مهر ترې ادا کړي او که پاتې شي هغه به په وارثانو وېشل کیږي[4]، لهذا د ښځې قبضه اچول

---

[1] وصح حطها كله او بعضه قبل اولاً. (درمختار مع ردالمحتار/ ٣/ ١١٣/ باب المهر) ايضاً: وفى القنية من كتاب الهبة وهبت مهرها من زوجها فى مرض موتها ومات زوجها قبلها فلا دعوى لها لصحة الابراء.....الخ. (البحر الرائق/ ٣/ ١٦٢/ باب المهر/ طبع دار المعرفة/ بيروت)۔

[2] وان حطت عنه من مهرها صح الحط، لأن المهر حقها والحط يلا قيه حالة البقاء. (الهداية/ ٢/ ٣٢٥)۔

[3] من اختل عقله لكبر او لمرض او لمصيبة فاجاته فما دام فى حال غلبة الخلل فى الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله. (ردالمحتار/ مطلب فى طلق المدهوش/ ٣/ ٢٤٤)۔

[4] (يبدأ من تركة الميت الخالية عن تعلق حق الغير بعينها كالرهن ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

او د مړي نور وارثان بې برخې پرېښودل شرعاً حرام دي.[۱]

که په جنګ کې ښځې وویل چې: تاته مهر معاف دی نو څه به کوي؟

سوال: زما ښځې درې یا څلور ځله د جنګ پر مهال داسې جملې ویلې چې تاته مهر معاف دی، ایا په دې جملو سره مهر معاف شو او که نه؟

جواب: په جنګ کې داسې ویل: چې تاته مهر معاف دی، د دې الفاظو استعمال دا معنی لري چې ته راته طلاق راکړه د دې په بدل کې مهر معاف دی[۲]؛ نو که تا چېرته دا وړاندیز قبول کړ؛ نو طلاق بائن واقع کیږي او مهر به معاف شي[۳]، او که قبول دې نه کړ؛ نو مهر معاف نه شو.

د قرآن تعلیم په مهر کې ټاکل صحیح نه دي

سوال: که اوس وخت د قرآن تعلیم د مهر په بدل کې مقرر شي؛ نو آیا نکاح به صحیح وي او که نه؟

جواب: نکاح صحیح ده؛ خو د قرآن تعلیم مهر جوړول صحیح نه دي. په دې صورت کې به مهر مثل لازم وي.[۴]

یو لک مهر مثل او بیا نه ورکول

سوال: ښځه کور ته راورسېده، نجلۍ والو وویل چې: د دې ښځې مهر به یو لک روپۍ وي،

...بقیه د تیرمخ] والعبد الجانی) بتجهیزه من غیر تقیز ولا تبذیر، ثم تقدم دیونه التی لها مطالب من جهة العباد........ثم یقسم الباقی بعد ذالک بین ورثته.....الخ. (رد المحتار مع الدر المختار/ کتاب الفرائض/ ۶/ ۷۶۰، ایضاً: سراجی/ ۲، ۳)۔

[۱] عن انس بن مالک قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من فرض (ای قطع) میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (سنن ابن ماجة/ ۱۹۴/ باب الحیف فی الوصیة/ مشکوٰة/ ۲۶۶)۔

[۲] امراة قالت لزوجها اشتریت نفسی منک بما اعطیت او قالت اشتری نفسی منک بما اعطیت وارادت الایجاب لا العدة فقال الزوج اعطیت یقع الطلاق لان مطلوب المراة من الزوج الطلاق فکان تقدیر کلامهما کانها قالت اشتریت نفسی فاطعنی الطلاق فاذا قال اعطیت کان ذالک جواباً لکلام المراة.....الخ. (فتاویٰ خانیة علی هامش فتاویٰ الهندیة/ ۱/ ۵۳۹)۔

[۳] الواقع به وبالطلاق علی مال طلاق بائن ای بالخلع الشرعی اما الخلع فلقوله علیه الصلوٰة والسلام الخلع تطلیقة بائنة....الخ. (البحرالرائق/ باب الخلع/ ۴/ ۱۷۷/ طبع دار المعرفة/ بیروت)۔

[۴] وان تزوج حرا امراة علی خدمته ایاها سنة او علی تعلیم القرآن فلها مهر مثلها (الی) ولنا ان المشروع انما هو الابتغاء بالمال والتعلیم لیس بمال وکذالک المنافع. (هدایة/ باب المهر/ ۲/ ۳۲۷) ایضاً: وتعلیم القرآن ای یجب المهر المثل اذا جعل الصداق تعلیم القرآن لان المشروع انما هو الابتغار بالمال والتعلیم لیس بمال.....الخ. (البحرالرائق/ ۳/ ۱۵۷/ طبع ایچ ایم سعید، کراچی)۔

اوس هلک والو سره دومره روپۍ نشته، مجبوري وه، اخر هغوی هم خرچې کړي؛ نو د مجبورۍ له امله يې يو لک وليکلې، حال دا چې د ادا کولو نيت يې نه ؤ. ځکه چې د مجبورۍ له وجې يې داسې وکړه؛ خو اوس لانجه ده نجلۍ يې نه مني او وايي چې لومړۍ يولک روپۍ راکړه بيا راشه! په دې صورت کې به څه کيږي؟ ځينې وخت کې تر وژلو هم خبره ورسيږي. آيا د مور- پلار داسې کړنه جائز ده؟

جواب: که چېرته د هلک کورنۍ يولک مهر نه شي ورکولی؛ نو هغوی ته انکار کول پکار وو؛ خو اوس که هغوی يو لک روپۍ د مهر په طريقه قبول کړي وي؛ نو هغه مهر لازم شو او ددې ادا کول واجب دي[۱]، کنه نو نجلۍ دې په خپله خوښه معاف کړي[۲]. او ستا دا خبره ډېره صحيح ده چې مور- پلار د ښه نيت له وجې داسې کوي؛ خو نتيجه يې د کور د آبادولو په ځای د کور بربادول دي، دا ټولې د دين نه د لرې والي نښې دي، الله تعالی دې مسلمانانو ورونو ته عقل او ايمان نصيب کړي.

[د واده بلنه]

په سنت واده کې د غريبانو شريکېدل ضروري دي

سوال: د واده د ډوډۍ شرعي حکم څه دی؟ اوس چې کوم رواجونه شروع دي آيا دا د سنت محمدي ﷺ سره سم دي؟

جواب: سنت واده دا دی چې په کومه شپه باندې د ښځې خاوند يو ځای والی وشي، ددې نه مخکې ورځ د خپل وس سره سم خوراک وخوړول شي، مګر په دې باندې ريا کول او قرض اخيستلو سره ريا کاري کول او د خپل وس نه زيات خرچ کول منع دي، همدا راز په دې وخت کې غريبانو مسکينانو باندې هم خوړل پکار دي، په حديث کې دي چې:

عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ((شر الطعام طعام الوليمة يدعى لها الاغنياء ويترک الفقراء...)) (مشکوٰة ص ۲۷۸)

ترجمه: بد خوراک د هغه واده دی چې په هغې کې شتمنو خلکو ته بلنه شوې وي او غريبان يې پريښودلي وي او چا چې د واده بلنه قبوله نه کړه؛ نو هغه د الله او د الله د رسول ﷺ نافرماني وکړه. (صحيح بخاري او مسلم)

---

۱ [ويجب الاکثر منها ان سمى الاکثر ويتاکد عند وطء او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما....الخ. (رد المحتار مع الدر المختار/ باب المهر/ ۳/ ۱۰۲)۔

۲ [وصح حطها بکله او ببعضه عنه قبل اولا. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ ۳/ ۱۱۳/ مطلب فى حط المهر....الخ)۔

نن سبا چې په کومه طریقه ودونه کیږي په دې کې د فخر او ریا اړخ غالب وي. د سنتو په حیث ډېر مغلوب په نظر راځي، حدیث کې دي چې:

عن عکرمة عن ابن عباس رضی الله عنهما: ((ان النبی ﷺ نهی عن طعام المتبارئین ان یؤکل)) رواه ابوداؤد (مشکوٰة ص ۲۷۹)

ترجمه حضور ﷺ د فخر او مباهاتو والاخوراک خوړلو نه منع کړې ده.

ددې وجې نه د داسې واده بلنه قبلول هم مکروه دي، علاوه ددې نه چې نن سبا د واده په دعوتونو کې د سړو او ښځو بې پروا ګډون کوي، خوراکونه په میز او چوکۍ یا په ولاړه خوړل کیږي او اوس خو د ویډیو فلمونو جوړولو رواج هم شروع شوی دی، ځینو ځایونو کې د غزلو او ناروا کارونو پیل هم شوی دی، دا راز نور هم ډېري بدی پیدا شوي دي چې ددې په موجودګۍ کې داسې دعوتونو ته تلل په یوه طریقه هم جائز نه دي.[۱]

د واده لپاره د ښځې او خاوند کوروالی شرط نه دی

سوال: آیا د ښځې سره د کوروالي پرته ولیمه کېدی شي؟ یعنې که چېرته لومړۍ شپه مونږ کوروالی ونه کړو او په دویمه ورځ د واده خوراک ورکړو نو آیا دا واده د سنت مطابق کیږي او که نه؟

جواب: واده صحیح دی، د ښځې خاوند د کوروالي وروسته ولیمه کېدی شي، کوروالی شرط نه دی.[۲]

په اسراف د حکومت له طرفه پابندي درسته ده

سوال: د واده ولیمه لازم ده؛ خو د حکومت له طرفه د پابندی په صورت کې مجبور یو، ددې څه علاج دی؟

۱] من دعی الی الولیمة فوجد ثمه لعباً اوغناً (الی) فان قدر علی المنع یمنعهم وان لم یقدر یصبر وهٰذا اذا لم یکن مقتدیٰ به، اما اذا کان ولم یقدر علی منعهم فانه یخرج ولا یقعد ولو کان ذٰلک علی المائدة لا ینبغی ان یقعد وان لم یکن مقتدیٰ به وهٰذا کله بعد الحضور، واما اذا علم قبل الحضور فلا یحضر لانه لا یلزمه حق الدعوة. (عالمگیری/ باب الثانی عشر فی الهدایا الضیافات/ ۵/ ۳۴۳)_

۲] والمنقول من فعل النبی صلی الله علیه وسلم انها بعد الدخول کانه یشیر الی قصة زینب بنت جحش، وقد ترجم علیه البیهقی بعد الدخول.......وحدیث انس فی هٰذا الباب صریح فی انها ای الولیمة بعد الدخول. (اعلاء السنن/ باب استحباب الولیمة/ ۱/ ۱۰، ۱۱/ طبع ادارة القرآن) ایضاً: قیل: انها تکون بعد الدخول. وقیل عند العقد، وقیل: عندهما.....والمختار انه علی قدر حال الزوج. (مرقاة المفاتیح/ کتاب النکاح/ باب الولیمة/ ۳/ ۴۵۰)_

جواب: ولیمه نبوي سنت دی[۱]، او په قدر د سنتو ادا کول اوس هم کېدی شي، البته د ولیمې په نوم باندې چې کومه ریا او فضول خرچي کیږي هغه حرامه ده[۲]، که حکومت دا بنده کړې وي څه بد یې نه دي کړي

[د نسب ثابتېدل]

د حمل وخت

سوال: د مور په نس (خېټه) کې د ماشوم وخت څومره وي، شپږ میاشتې، اوه میاشتې، اته میاشتې که صحیح نهته نهه میاشتې دي؟ زما په کور کې پنځه نیمې میاشتې وروسته ماشوم پیدا شو، زه د مسافرۍ وروسته کور ته راغلم؛ نو پنځه نیمې میاشتې وروسته راته معلومه شوه چې ماشوم پیدا شوی دی، د الله په رضا د قرآن او سنتو په رڼا کې جواب راکړئ چې آیا دا ماشوم صحیح دی که نا جائز؟

جواب: کوم ماشوم چې د عقد نه شپږ میاشتې وروسته پیدا شي هغه شرعاً جائز ګڼل کیږي، شپږو میاشتو نه مخکې پیدا شوی ماشوم شرعاً ناجائز دی[۳]، لهذا چې د کوم ماشوم پیدایش د نکاح نه شپږ میاشتې مخکې پیدا شوی وي؛ نو ددې ماشوم نسب ددې نکاح والا څخه ثابت نه دی[۴]، تاسو د ماشوم د پیدایش حساب د نکاح د تاریخ نه ولګوئ! د خپلې مسافرۍ د تاریخ نه یې مه معلوموه!

سوال: د حمل نهته کم نه کم شپږ میاشتې او زیات نه زیات دوه کاله وي، مطلب دا چې ماشوم د شپږو میاشتو نه مخکې نه پیدا کیږي او زیات نه زیات دوه کاله په خیټه کې پاتې کېدی شي، ددېنه زیات وخت نه، د واده نه دوه میاشتې بعد خاوند کوم بل هېواد ته مسافر شو، پنځلس میاشتې بعد هغه ته خط ورسېد چې ستا ماشوم پیدا شو، خوابنې او د کور نورو غړو پرې اعتراض وکړ چې دا زمونږ لمسی نه دی، حال دا چې د ماشوم پلار وايي: دا زما زوی دی، ځکه چې زه کله بل هېواد ته تلم؛ نو ښځې ماته ویلي ؤ چې حمل یې په نس دی، هغه

۱]عن انس ان النبی صلی الله علیه وسلم رای علی عبد الرحمٰن بن عوف اثر صفرة فقال: ما هٰذا؟ قال: انی تزوجت امراة علی وزن نواة من ذهب، قال: بارک الله لک، اولم ولو بشاة. (مشکوٰة/ باب الولیمة/ ۲/ ۲۷۸)۔

۲]"وَلاَ تُبَذِّرْ تَبْذِیْراً ٭ إِنَّ الْمُبَذِّرِیْنَ کَانُوٓاْ إِخْوَانَ الشَّیَاطِیْنِ وَکَانَ الشَّیْطَانُ لِرَبِّهٖ کَفُوراً" (بنی اسرائیل: ۲۷)۔

۳]اکثر مدة الحمل سنتان واقله ستة اشهر، لقوله تعالیٰ: وحمله وفصاله ثلٰثون شهراً.....الخ. (هدایة/ ۲/ ۴۳۳) ایضاً: فولدت ولداً لستة اشهر من یوم تزوجها فهو ابنه.....الخ. (هدایة/ ۲/ ۴۳۰)۔

۴]واذا تزوج الرجل امراة فجاء ت بولد لاقل من ستة اشهر منذ یوم تزوجها لم یثبت نسبه، لان العلوق سابق علی النکاح فلا یکون منه.....الخ. (هدایة/ ۲/ ۴۳۳، شامی/ ۳/ ۵۴۰/ فصل فی ثبوت النسب)۔

دا هم وايي: که چېرته دې نه وي ويلي؛ نو کېدی شي چې زه هم بدګمانه شوی وای، سوال بیا دا پيدا کیږي چې که هغې ښځې خپل خاوند ته نه وی ويلي؛ نو آيا دا ماشوم به حرامي وو؟ دغه راز نورې هم ډيرې مسئلې دي يعنې د خاوند د وفات نه پنځلس مياشتې بعد ماشوم پيدا شو چې هغه ته خلک حرامي وايي.

جواب: د حمل موده زيات نه زيات دوه کاله ده[۱]، د دوه کالو په دوران کې چې کوم ماشوم پيدا شو هغه به د خپل پلار نه ګڼل کيږي، ده ته ناجائز ويل غلط کار دی.[۲]

ناجائز اولاد به د مور وارث وي

سوال: اکثر وخت کتل کيږي چې که کومه نجلۍ د کوم هلک سره زنا وکړي؛ نو ددې ګناه پټولو لپاره د دواړو د واده اوازه پورته شي، د واده په څلورمه يا شپږمه مياشت د دوی چې لومړی ماشوم پيدا شي، دده به څه حکم وي؟ ياده دې وي چې د زنا وروسته د دوی واده هم شوی دی.

جواب: د زنا نه د اولاد نسب غيرقانوني پلار څخه نه ثابتيږي، برابره خبره ده که ښځې ددې سړي سره واده کړی وي[۳]، ددې سړي اولاد هم هغه دي چې د نکاح څخه پيدا شوی وي، هغه به د هغه وارث وي، ناجائز اولاد دده وارث نه ګرځي بلکې هغه به صرف د مور وارث وي.[۴]

د لعان تعريف

سوال: ديو سړي په پوښتنې سره تاسو وويل: چې که خاوند په ښځه باندې تور (تهمت) ولګوي؛ نو ښځه د لعان مطالبه کولی شي او که څوک په بل سړي باندې تور ولګوي؛ نو حد قذف پرې جاري کيږي ، مهرباني وکړئ، د لعان او د حدقذف تعريف وکړئ!

جواب: د قذف معنی ده په چا باندې د بدکاری تور لګول[۵]، د حد قذف نه مراد هغه سزا ده

۱]اكثر مدة الحمل سنتان....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۳۳/ باب ثبوت النسب)_

۲] وان جاء ت به لستة اشهر فصاعداً يثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سكت لان الفراش قائم والمدة تامة....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۳۲) ايضاً: اكثر مدة الحمل سنتان.......واقلها ستة اشهر اجماعاً فيثبت نسب ولد....الخ. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ ۳/ ۵۴۰/ فصل فى ثبوت النسب)_

۳]واذا تزوج الرجل امراة فجاء ت بولد لاقل من ستة اشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه، لان العلوق سابق على النكاح فلا يكون منه.....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۳۳، شامى/ ۳/ ۵۴۰/ فصل فى ثبوت النسب)_

۴] ثم ينفى القاضى نسب الولد ويلحقه بامه.....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۱۹/ باب اللعان)_

۵]القذف: لغةً الرمى عن بعيد ثم استعير للشتم. وشرعاً: رمى مخصوص هو الرمى بالزنا والنسبة الى. (قواعد الفقه/ ۴۲۵/ القاف، طبع صدف پبلشرز، كراچى)_

چې داسې تور والا ته ملاویږي، که کوم سړی په کوم بل پاک سړي د بدکارۍ تهمت ولګوي او په خپله دعوه باندې څلور شاهدان پېش نه کړي؛ نو په ده باندې به د اتیاؤ درو (کوړو) سزا جاري کیږي، دې ته حد قذف وایي[۱]. او که کوم سړي په خپله ښځه باندې د بدکارۍ تهمت ولګولو یا د هغې نه د پیدا شوي ماشوم په باره کې دا ووايي چې دا زما اولاد نه دی او دده سره څلور شاهدان نه وي؛ نو ښځه دده په خلاف عدالت کې استغاثه (دعوه) کولی شي. عدالت کې به خاوند څلور ځله قسم خوري چې ما په خپلې ښځې کومه دعوه کړې ده زه په دې کې رښتونی یم او په پنځم ځل به دا ووايي: چې په ما باندې دې د الله تعالی لعنت وي، که چېرته زه په دې الزام کې دروغژن یم ددې نه پس به ښځه څلور ځله قسم خوري چې ده په ما باندې کوم الزام لګولی دی، دی په هغې کې دروغژن دی، پنځم ځل به دا ووايي چې په ما باندې دې د الله تعالی غضب وي که چېرته دی په خپل الزام کې رښتینی وي، دغه راز د ښځې خاوند په عدالت کې قسمونه خوړل دې ته لعان وايي[۲] او دا لعان به د سړي په حق کې حد قذف یعنې د تهمت د سزا قائم مقام وي، د ښځې په حق کې به د حد زنا قائم مقام وي[۳]، کله چې هغوی دواړه لعان وکړي؛ نو عدالت دې د دوی دواړو تر منځ جدایي راولي، د لعان نه پس دواړه د یو بل لپاره حرام شو[۴]، اوس به د دوی دواړو نکاح تر هغه وخته پورې نه کیږي چې تر څو په دې دواړو کې یو خپل ځان دروغژن نه وي منلی، هو: که خاوند تسلیم کړي چې ده د دورغو الزام پورې کړی ؤ یا یې ښځه تسلیم کړي چې دده الزام صحیح ؤ؛ نو د دواړو تر منځ به د لعان حرمت نه پاتې کیږي، دواړه به دوباره نکاح کوي[۵]، که چېرته سړی د ماشوم نسب نه مني؛ نو د لعان نه پس به دا ماشوم د خاوند نه وي، بلکې دا ماشوم به بې پلاره ګڼل کیږي، دده نسب

---

[۱] واذا قذف الرجل رجلا محصنا او امراة محصنة بصريح الزنا وطالب المقذوف بالحد حده الحاكم ثمانين سوطاً ان كان حراً لقوله تعالى: والذين يرمون المحصنٰت الى ان قال فاجلدوهم ثمانين جلدة الآية.....الخ. (هداية/ باب حد القذف/ ۲/ ۵۲۹/ طبع ملتان)۔

[۲] اذا قذف الرجل امراته بالزنا وهما من اهل الشهادة والمراة ممن يحد قاذفها او نفى نسب ولدها وطالبته بموجب القذف فعليه اللعان.....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۱۶) ايضاً: والذين يرمون ازواجهم ولم يكن لهم شهدآء الا انفسهم فشهٰدة احدهم اربع شهٰدٰت بالله انه لمن الصٰدقين، والخمسة ان لعنت الله عليه ان كان من الكٰذبين، ويدروا عنها العذاب ان تشهد اربع شهٰدٰت بالله انه لمن الكٰذبين،والخمسة ان غضب الله عليها ان كان من الصٰدقين(سورة:۲۴، النور: ۶. ۹)

[۳] والاصل ان اللعان عندنا شهادات موكدات بالايمان مقرونة باللعن قائمة مقام حد القذف فى حقه ومقام حد الزنا فى حقها.....الخ. (هداية /۲/ ۴۱۶)۔

[۴] واذا التعنا لا تقع الفرقة حتى يفرق القاضى بينهما وتكون الفرقة تطليقة بائنة.....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۱۸)۔

[۵] وان عاد الزوج واكذب نفسه حده القاضى لاقراره بوجوب الحد عليه وحل له ان يتزوجها....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۱۹/ باب اللعان/ طبع شركت علميه ملتان)۔

به صرف د مور څخه ثابتیږي.[1]

د ناروا تورونو له وجې د لعان مطالبه

سوال: یو سړی چې د خپلې ښځې خفه شو او ښځه یې د خپل مور- پلار کور ته لاړه. ملګري یې ورته وایي چې خپله ښځه راوله؛ هغه په خوب کې وایي: چې زه هغه نه راولم. په داسې حال کې چې په خپلې ښځې ناروا تور پورې کوي. څه موده پس هغه د خپلې ښځې سره خوشحاله شو او اوس مهال د هغې سره اوسیږي. تاسو ووایئ چې دده د ښځې سره اوسېدل جائز دي او که نه؟

جواب: داسې بې ځایه تورونو سره نکاح نه ماتیږي، ددې وجې نه ښځه خاوند یو ځای ضرور اوسیدی شي؛ خو دده دا الفاظ په تور پورې کولو کې راځي، په داسې الفاظو سره ښځه د خپل خاوند خلاف د لعان دعوه کولی شي[2]، که چېرته سړی د خپلې ښځې نه پرته په بل چا باندې داسې ناروا تور ولګوي؛ نوحد قذف (د تور پورې کولو دسزا اتیا درې) به پرې جاري کیږي.[3]

که د واده نه شپږ میاشتې وروسته ماشوم پیدا شي هغه به د خاوند وي

سوال: زما د تره د زوی واده په اول د مارچ کې وشو او په دیارلسم ستمبر یې ماشوم پیدا شو. تاسو راته د قرآن او حدیثو په رڼا کې ووایئ چې دا ماشوم جائز دی او که نا جائز؟ ځکه چې ډیر خلک زما د تره زوی ته خبرې کوي؟

جواب: د ماشوم پیدایش کم نه کم په شپږو میاشتو کې کیږي، ددې وجې نه چې د واده نه پس شپږ میاشتو کې کوم ماشوم پیدا شي هغه به د خاوند وي او هیچا ته د ناجائز ویلو حق نشته[4]، او که چېرته خاوند دا ووایي چې دا زما زوی نه دی؛ نو د قرآن کریم د حکم مطابق د ښځې په مطالبې باندې په عدالت کې لعان کولی شي.[5]

۱] ولو كان القذف بنفى الولد نفى القاضى نسبه والحقه بامه. (هداية/ ۲/ ۴۱۹/ باب اللعان)_

۲]اذا قذف الرجل امراته بالزنا وهما من اهل الشهادة والمراة ممن يحد قاذفها او نفى نسب ولدها وطالبته بموجب القذف فعليه اللعان....الخ. (هداية/ ۲/۴۱۶/ طبع مكتبه شركت علميه ملتان)_

۳] واذا قذف الرجل رجلاً محصناً او امراة محصنةً بصريح الزنا وطالب المقذوف بالحد حده الحاكم ثمانين سوطاً ان كان حراً.....الخ. (هداية/ ۲/ ۵۲۹/ باب حد القذف)_

۴]اكثر مدة الحمل سنتان واقله ستة اشهر....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۳۳/ درمختار/ ۳/ ۵۴۰) ايضاً: وان جاء ت به ستة اشهر فصاعداً يثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سكت لان الفراش قائم. (هداية/ ۲/ ۴۳۲)_

۵] او نفى نسب ولدها وطالبته بموجب القذف فعليه اللعان....الخ. (هداية/ ۲/ ۴۱۶)_

ناجائز ماشوم به د چا وي؟

سوال: د پیدا شوي ماشوم په باره کې ددې ماشوم مور ښه پوهیږي چې ددې پیداشوی او د ماشوم حقیقي پلار څوک دی؟ که چېرته ماشوم حرامي وي: نو آیا ماشوم ته به د هغه د پلار په نوم آواز کولی شي چې د هغې په باره کې هغه ته هیڅ درک نه وي؟

جواب: کوم ماشوم چې د چا په نکاح کې پیدا شوی وي هغه به د هغه سړي ګڼل کیږي، تر څو چې هغه سړی ددې ماشوم نه په انکار کولو سره د خپلې ښځې سره لعان ونه کړي[۱]. د زنا کار څخه یې نسب نه ثابتیږي، ددې وجې که د ښځې ناجائز ماشوم پیدا شي؛ نو ددې ښځې خاوند ته به یې نسبت کیږي[۲] او د غیر منکوحې ماشوم هیڅ پلار ته نه منسوب کیږي. بلکې خپلې مور ته به یې نسبت کیږي[۳]

[د ښځې حقوق]

د واده نه پس په نجلۍ د چا حق اول دی؟

سوال: د واده نه پس په نجلۍ باندې د مور پلار حقوق مخکې دي او که د خاوند؟

جواب: د خاوند حق پرې وړاندې دی.[۴]

بې عذره ماشوم ته شیدې نه ورکول ناجائز دي

سوال: خدای تعالی ټولو بندګانو ته زرق ورکوي، الله جلّ جلاله د بچي رزق دده د مور په سینه کې ایښي، که دده مور بغیر د څه شرعي عذر نه چې ډاکټر هم نه وي منع کړې، بلکې صرف په دې بانه چې هغه وظیفې ته ځي، ماشوم ته په شیدې ورکولو کمزورې کیږي یا یې په ښایست کې کمی پیدا کیږي، بچي ته که خپل شیدې نه ورکوي؛ نو آیا د داسې مور شمار به

۱]واذا نفی الرجل ولد امراته عقیب الولادة......صح نفیه ولا عن به وان نفاه بعد ذٰلک لا عن ویثبت النسب....الخ. (هدایة/ ۲ /۴۲۰/ باب اللعان، طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان)۔

۲]وان جاء ت به لستة اشهر فصاعداً یثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سکت لان الفراش قائم.....الخ. (هدایة/ ۲/ ۴۳۲/ باب ثبوت النسب/ طبع شرکت علمیة ملتان)۔

۳] فالوطء فیه زنا لا یثبت به النسب.....الخ. (شامی/ ۳/ ۵۵۵/ قبیل باب الحضانة)۔

۴]عن قیس بن سعد قال: اتیت الحیرة فرایتهم یسجدون لمر زبان لهم فقلت رسول الله صلی الله علیه وسلم احق ان یسجد له.......قال: فلا تفعلوا! لو کنت آمر احداً ان یسجد لاحد لامرت النساء ان یسجدن لازواجهن لما جعل الله لهم علیهن من الحق. (سنن ابی داؤد/ ۱/ ۲۹۸/ مشکوٰة/ ۲۸۲) ایضاً: عن انس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: المراة اذا صلت خمسها.....واطاعت بعلها فلتدخل من ای ابواب الجنة شاء ت.....الخ (مشکوٰة: ۲۸۱)

په غاصبينو کې وي؟ تاسو ووايئ چې داسې ښځې ته به څه سزا ملاويږي؟

جواب: بچي ته شيدې ورکول د ديني لحاظه د مور وظيفه ده، بې عذره انکار جائز نه دی او دا چې دا کار کوي؛ نو ددې خرچه خو د خاوند په غاړه ده؛ نو ځکه د وظيفې کولو عذر هيڅ اعتبار نه لري، هم دغه راز د ښايست کمي عذر هم صحيح نه دی.[۱]

د ښځې او بچيو د حق ضايع کولو کفاره څه ده؟

سوال: زما مشر ورور پنځه ويشت کاله راهيسې په پاکستان کې دی، هندوستان ضلع سهارنپور کې يې ښځه او پنځه ماشومان پرې ايښي دي، دلته يې دويم واده کړی دی او پاکستان کې يې هم اولاد شته، د کوم وخت نه چې پاکستان ته راغلی دی د لومړۍ ښځې د تربيې لپاره يې هيڅ نه دي کړي، نه يې لومړۍ ښځې ته طلاق ورکړی دی او نه دوباره هندوستان ته تللی دی، په داسې صورت کې آيا هغه ښځه دده په نکاح کې موجوده ده؟ آيا پاکستان کې د مشر ورور په جائيداد کې د لومړۍ ښځې او بچيو حق شته؟ که چېرته وي؛ نو د هغې څه حساب دی؟ اوس په بوډا توب کې هغه پښېمانه دی او د خپلې ګناه کفاره ادا کول غواړي، د هغه لپاره شرعي حکم څه دی؟

جواب: هر کله چې لومړۍ ښځې ته طلاق نه دی ورکول شوی؛ نو ښکاره خبره ده چې هغه اوس هم د خپل خاوند په نکاح کې ده، د ښځې او بچيانو بې سرپرسته پرېښودلو سره به هغه ګناه ګار وي[۲]، اوس دده کفاره ددې نه سيوا څه کېدی شي چې هغه دې الله تعالی نه هم معافي وغواړي[۳] او د ښځې بچيانو کوم حقوق چې يې ضايع کړي دي، د هغوی نه دې هم معافي وغواړي، پاکستان کې چې د هغه کومه شتمني ده په هغې کې د لومړۍ ښځې او دده د بچيو هم پوره برخه ده.[۴]

۱] "وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعلَى الْمَوْلُود لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوف" (البقرة: ۲۳۳) ايضاً: قال يونس عن الزهرى: نهى الله ان تضآر والدة بولدها وذلك ان تقول الوالدة لست مرضعته.....الخ. (صحيح بخارى/۲/ ۸۰۷) ايضاً: وتومر به ديانة لانه من باب الاستخدام وهو واجب عليها ديانة. (بحر/ ٤/ ۲۰۲)۔

۲]"وَعلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوف" (البقرة: ۲۳۳) ايضاً: تجب على الرجل نفقة امراته المسلمة والذمية......الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ٥٤٤/ الباب السابع عشر فى النفقات، كتاب الطلاق)۔

۳]وعن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كانت له مظلمة لاخيه من عرضه او شيء فليتحلله منه اليوم قبل ان لا يكون دينار ولا درهم.....الخ. (مشكوة/ ٤۳٥/ باب الظلم)۔

٤] "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين....ولهن الربع مما تركتم ان لم يكن لكم ولد فان كان لكم" (النساء: ۱۱)۔

د خاوند بې ځایه عمل او د ښځې فکر

سوال: د جنګ په ورځپاڼه اقرأ عنوان لاندې چې کومه ښښه خپره شوې وه، هغه داسې وه چې: درې بچې چې عمر يې اتلس کاله او اتلسو نه زيات وو. په کوروسونو باندې خپلې خرچې پوره کوي، دوه بچې چې د هغوی عمر لس يوولس کاله دی، هغوی مکتب ته ځي. زه د زړه مريضه يم، زما لور ته پکار دي چې زما خدمت يې کړی وی؛ خو هغه د خپلو ضروورياتو دومره لرې ده چې په پښو کې يې څپلۍ نه وې، په سر يې ټکری نه وي؛ نو د مجبورۍ له امله يې وظيفه پيل کړه، د کومې حکومتي ادارې نه چې زما خاوند تقاعد شوی دی، دهغه ځای نه طبي اسانتياوي اوس هم په خپل زور حال دي، په داسې حال کې چې مونږ ناروغه يو او څوک د دوايي راوړلو لپاره نشته. هره مياشت زه په لابراتوار (ليبارټري) کې کتل کېږم؛ خو هغه هم په ډېرو جنګونو، مونږ ته ويل کيږي چې علاج بند کړئ! ډاکټر ليکل نه راکوي، حال دا چې ددې حکومتي دفتر ډاکټر خپله وايي: چې مونږ د اړتيا پرمهال د مياشتې په ځای جمعه وروسته هم ناروغ ګورو، د دوه وختو ډوډۍ راکوي؛ خو هغه هم په بې شرمۍ، دومره پيغور چې اوس يې مونږ له زغملو وتلي يو، که مظاهره کوم؛ نو خاوند مي په طلاق ډاروي، هر وخت په کور کې يو جنګ وي، مشر زوی صرف دومره ويلي وو چې زمونږ مور بغير د څه وجې ولې تنګوې! نو څپلۍ يې راوخيسته او په غوږ يې وويشتم چې هغې سره مي د غوږ پرده وشلېده، وايي چې که بچيان دي خبرې کوي؛ نو زه به سړک ته وځم او جامې به وشلوم او وايم به چې ما اولاد وهي، ځوانه لور مي په کور کې ناسته ده مونږ ددې د عزت په خاطر هر څه زغمو، څومره روپۍ چې لاس ته راغلي وې ټولې يې واخيستې او امريکې ته لاړو، يو کال وروسته راغلو؛ نو هر وخت يې د پرېخودو او طلاق ويناوي راکولې، زه خپله تعليم لرم ليکن د کور کارونو او ناروغۍ د وظيفې نه وويستم، بيا هر وخت ذهني تکليف راته پېښ وي، زه خپلو بچيانو ته د تعليم د خرچو لپاره هر وخت سرګردانه يم، ليکن څه حل مي په سوچ کې نه راځي، په خودکشۍ سره به مي د بچيو اينده خرابه شي، بيا مي چې کله دومره صبر کړی دی؛ نو دومره لويه ګناه په خپل سر ولې واخلم؟ د الله په رضا مونږ ته ووايه چې مونږ څه وکړو، د الله په نوم چې زر ترزره ددې ځواب ښه تفصيلي راکړه!

جواب: حديث شريف کې راغلي:

عن عبدالرحمن بن عوف قال: قال رسول الله ﷺ: ((خيركم خيركم لاهله وانا خيركم لاهلي)) (رواه البزار) (مجمع الزوائد ج ٤، ص ٣٠٣)

ترجمه: په تاسو کې تر ټولو ښه هغه څوک دی چې د خپل کور والالپاره ښه وي او زه د خپل کوروالو لپاره ستاسو ټولو نه غوره يم.

د ښځې خاوند په کور کې د ښځې وهل ښايسته کور دوزخ جوړوي چې په هغې کې بيا خاوند خپله هم سوځي او اولاد هم سوځوي، دا خو د دنيا سزا شوه، د آخرت سزا د دې په سر ده، د کور د سکون خرابولو قصور کله د سړي وي او کله دښځې او کله د دواړو، هر کله چې د دواړو په منځ کې جنګ وشي؛ نو هر يو خپل ځان مظلوم او دويم ظالم ګڼي، د کور د اصلاح صورت دا دی چې هر يو دې د بل حقوق پوره ادا کوي، ښه اخلاق دې کوي، نرمه او خوږه ژبه دې کاروي، که چېرته څه ناخوښه خبره مخې ته راشي؛ نو هغه بايد برداشت کړي، خاص طور په سړي فرض دي چې هغه صبر وکړي، ښځه خو فطري کمزورې او جذباتي وي، د هغې د کمزورۍ لحاظ وساتئ؛ نبی کريم ﷺ په خطبه د حجة الوداع کې د ښځوپه اړه خاص تاکيد او وصيت کړی وو[۱]، د هغې لحاظ وکړئ؛ زياتره کورونو کې ښځه خاوند دواړه د الله تعالی نافرماني کوي، د هغې په نتيجه کې الله تعالی د هغوی تر منځ نفرت او دشمني پيدا کړي[۲]،نو ځکه ټولو مسلمانانو کورنيو ته پکار دي چې د الله تعالی د نافرمانۍ نه ځان وساتي او د ګناهونو نه دي پرهيز وکړي، ډېر خلک دا هم نه پيژني چې فلانکی کار ګناه ده او ځينې پوهيږي مګر هغه يې په بې پرواهی سره کوي، بيا چې الله تعالی کله ورته ورسوي؛ نو چغې وهي، ليکن ګناهونه بيا هم نه پريږدي، د دين بزرګانو د قرآن او حديث څخه د ګناهونو شپږ دېرش قسمه بدی او نقصانونه ذکر کړي دي چې په هغې کې مونږ په عامه توګه اخته يو، په هغې کې يو په خپل منځ کې بې اتفاقی هم ده، الله تعالی دې په مونږ رحم وکړي.

په هر حال خودکشي يا د يو بل شکايت کول يا په خپل منځ کې پيغورونه ورکول خو ستا د مسئلې حل نه دی صحيح حل دا دی چې:

(۱): د نن نه شروع کړئ چې په کور کې به د الله تعالی نافرماني نه کوو.

(۲): د يو بل حقوق به ادا کوو، که يو بل د حقوقو په ادا کولو کې کمی کوي بيا به هم د صبر څخه کار اخلو او په کور کې به بې ځايه او بې مطلبه خبرو ته وخت نه ورکوو.

(۳)که چېرته په کورکې کومه خبره باندې خفګان پيداشي؛ نوپه خپل منځ کې به سوله سره کوو.

د خاوند سره د خبرو طريقه

سوال: که چېرته ښځه خاوند ته په ناحقه خبره غوسه کوي او د هغه خبره صحيح وي؛ ليکن خاوند يې بده وګڼي نو آيا دا ګناه ده؟

---

[۱]عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما.......فاتقوا الله فی النساء! فانکم اخذتموهن بامان الله واستحللتم فروجهن بکلمة الله ولکم عليهن ان لا يوطين فرشکم احداً تکرهونه، فان فعلن ذٰلک فاضربوهن ضرباً غير مبرح، ولهن عليکم ورزقهن وکسوتهن بالمعروف......الخ. (مشکوٰة/ باب قصة حجة الوداع/ ۲۲۵)_

[۲]''ظَهَرَ الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِی النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِی عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ'' (سورة: ۳۰، الروم: ۴۱)_

جواب: که خاوند غلط کار کوي؛ نو هغه ضرور منع کول پکار دي[۱]، مګر ښځه به د بې ادبۍ طرز نه غوره کوي، د حکم په صورت کې به ورته نه وايي، د پېغور او ملامتيا په صورت کې به هم ورته نه وايي، بلکې په مينه، محبت او هوښيارتيا سره يې پوهول پکار دي. بيا ممکنه نه ده چې د ده اصلاح ونه شي.[۲]

ښځه به د مور- پلار سره په اړيکو پرېښودلو نه مجبوره کوي

سوال: که کوم سړي خپله ښځه د مور او پلار سره ستړي مشي ته نه پرېښودله؛ نو ښځې ته څه کول پکار دي؟ حال دا چې د مور پلار هم په اولاد باندې بې شماره احسانات دي؛ نو د خاوند حکم منل ضروري دي که د مور پلار پرېښودل؟

جواب: خاوند دا حق نه لري او نه د خاوند په وينا د مور پلار سره تعلق پرېکول جائز دي[۳]، هو: که د خاوند د منع کولو څه خاص وجه وي؛ نوهغه وليکئ! هسې خو په ښځه باندې د موريلار په نسبت د خاوند حق وړاندې دی.[۴]

ښځه د خاوند د حکم خلاف چېرته تلی شي؟

سوال: آيا ښځه د خاوند د حکم خلاف چېرته تلی شي؟

جواب: نه شي تلی[۵]، البته په څو صورتونو کې تلی شي:

(۱): د خپل مور- پلار د کتو لپاره هره جمعه ورتلی شي.[۶]

۱] عن ابی سعید الخدری عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: من رأی منکم منکرا فلیغیره بیده، فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه، وذالک اضعف الایمان. (مشکوٰة/ ٤٣٦/ باب الأمر بالمعروف)۔

۲] "اُدْعُ إِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ" (سورة:١٦،النحل: ١٢٥)

۳] باب لا تطیع المراة زوجها فی معصیة......الخ. (صحیح البخاری/ ٢/ ٧٨٤) لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق. (مشکوٰة/ ٣٢١) ولا یمنعها من الخروج الی الوالدین فی کل جمعة.....وفی غیرهما من المحارم فی کل سنة....الخ(درمختار٣/ ٦٠٢/ بحرالرائق/ ٤/ ١٩٥/ عالمگیریة/ ١/ ٥٥٧)

٤] عن قیس ابن سعد قال: اتیت الحیرة فرایتهم یسجدون لمر زبان لهم.......قال: فلا تفعلوا! لو کنت آمر احداً ان یسجد لاحد لامرت النساء ان یسجدن لازواجهن لما جعل الله لهم علیهن من الحق. (ابوداؤد/ ٢/ ٢٩٨/ مشکوٰة/ ٢٨٢/ کتاب النکاح/ باب عشرة النساء)۔

٥] یعزر......الزوج زوجته ولو صغیرة......علی الخروج من المنزل لو بغیر حق.......الخ. فی شرحه: ای بغیر اذنه بعدا یفاء المهر......الخ. (شامی، مطلب فی تعزیر المتهم/ ٤/ ٧٧)۔

٦] ولا یمنعها من الخروج الی الوالدین فی کل جمعة. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ باب النفقة/ ٣/ ٦٠٣، ایضاً: وفی الهندیة/ ١/ ٥٥٧/ کتاب الطلاق، الباب السابع عشر، الفصل الثانی فی السکنی)۔

۲. نورو محرمو خپلوانو د ملاوېدو لپاره کال کې یو ځل تللی شي [۱]

۳. پلار که چېرته خدمت ته محتاج وي، مثلاً شل وي او د ده د خدمت څوک نه وي: نو د هغه د خدمت لپاره روزانه تللی شي، دا حکم د مور د محتاج خدمت کولو هم دی [۲]

د خاوند بې اجازې خرچه کول

سوال: آیا د خاوند د کور د خرچې لپاره ورکړل شوي روپو کې ښځه په هغو خلکو خرچې کولی شي چې د ښځې خدمت کوي، په داسې حال کې چې د خاوند اجازه هم نه وي؟

جواب: د داسې خرچ نه چې د خاوند اجازه نه وي ځان ساتنه پکار ده[۳]. البته دا کېدی شي چې د خاوند نه څه روپۍ د خپلې ذاتي خرچې لپاره واخلي او په دې کې یې خرچ کړي. [۴]

په ښځه د مور خدمت کول

سوال: د پلار د خدمت لپاره خو د هغه په کار کې مدد کول او د هغه حکم منل صحیح دي، که چېرته مور بوډۍ وي او د کور ټول کار نه شي کولی؛ نو آیا ښځې ته دا نه شي ویلی چې هغه د مور په کار کې مرسته وکړي؟ دغه راز د مور خدمت به هم وشي، لیکن تاسو مخکې ویلي که چېرته ښځه د خوابنې نه خوشحاله نه وي؛ نو دا جدا کور ته بوځئ! دغه راز د خدمت نسبت به ختم شي. آیا په دې صورت کې ښځې ته دا ونه ویل شي چې هغه دې د مور خدمت وکړي که په دې صورت کې دي هم هغې ته جدا کور ورکړي؟ که چېرته داسې وي نو بیا به د مور خدمت څنګه وي؟ ځکه چې صرف حکم منلو سره خو د مور خدمت نه کیږي.

جواب: ښځه که په خپلې خوښې د خاوند د مور- پلار خدمت کوي؛ نو دا ښه خبره ده او د ښځې لپاره هم ښه ده. لیکن دا اخلاقي خبره ده. قانوني کار نه دی[۵]، که ښځه د خاوند د

۱] وهل يمنع غير الابوين من الزيارة، قال بعضهم: لا يمنع المحرم عن الزيارة فى كل شهر، وقال مشائخ بلخ فى كل سنة وعليه الفتوىٰ، وكذا لو ارادت المراة ان تخرج لزيارة المحارم كالخالة والعمة ولاخت فهو على هٰذه الاقاويل، كذا فى فتاوىٰ قاضى خان. (الفتاوىٰ الهندية/ ۱/ ۵۵۷/ كتاب الطلاق/ الباب السابع عشر/ الفصل الثانى فى السكنىٰ)۔

۲] ولو ابوهازمنا مثلاً فاحتاجها فعليها تعاهده ولو كافراً وان ابى الزوج.......الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ۳/ ۶۰۳) ايضاً: امراة لها اب زمن ليس له من يقوم عليه وزوجها يمنعها عن الخروج اليه وتعاهده كان لها ان تعصى زوجها وتطيع الوالد مومناً كان الوالد او كافراً لان القيام بتعاهد الوالد فرض عليها فيقدم على حق الزوج. (قاضى خان على الهندية/ ۱/ ۴۴۳/ باب النفقة/ فصل فى حقوق الزوجة)۔

۳] وليس لها ان تعطى شيئاً من بيته بغير اذنه.....الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۵۵۷/ باب النفقات)۔

۴] وظاهر مافى غاية البيان ان النفقة المفروضة تصير ملكا للمراة اذا دفعها اليها فلها التصرف فيها من بيع وهبة وصدقة وادخار.....الخ. (بحر/ ۴/ ۱۷۴/ باب النفقة)۔

۵] عرفي خدمت کول غوره دي چې په هغې کې ښځې باندې څه تکلیف.. [بقيه حاشيه په راروانه صفحه

مور- پلار نه جدا اوسېدل غواړي؛ نو خاوند په شرعي قانون سره ښځه د خپل مور پلار په خدمت باندې نه شي مجبورولی [۱]

د ښځې خاوند په منځ کې جداوالی راوستل ګناه کبیره ده

سوال: خاوند د هغه د ښځې نه بدګمانه کول څنګه کار دی؟

سوال: حدیث کې دي هغه سړی زمونږ څخه نه دی چې ښځه د هغه د خاوند په خلاف راپورته کړي، (ابوداؤد ۲۲۹ ج ۱)[۲] ددې نه معلومه شوه چې د ښځې خاوند په منځ کې نفرت خپرول او په یو بل یې بدګمانه کول لویه ګناه ده، داسې کسان د مسلمانانو په ډله کې شامل نه دي، مطلب یې دا دی چې دده دا کار د مسلمانانو نه دی او په قرآن کریم کې د ښځې خاوند په منځ کې جدا والی پیدا کول د یهودو جادوګرو کار ښودل شوی دی. [۳]

د ښځې مهر نه ورکوونکی او په جهیز باندې د ولکې اچوونکي خاوند شرعي حکم

سوال: که چېرته سړی د ښځې د مهر ادا کولو نه انکار وکړي او جهیز هم په زوره په خپله ولکه کې راولي؛ نو اسلامي قانون په دې اړه څه وایي؟

جواب: هغه ظالم دی[۴]، حکومت دي دده نه ددې ښځې حقوق واخلي او هغه ته دي په دې کار زور نه هم ورکړي. [۵]

...بقیه د تېرمخ] نه وي. ددې نه زیات د ښځې په ذمه لازم نه دي. کفایة المفتی ج۵ ص۲۴۳، طبع جدید)

۱] وکذا تجب لها السکنٰی فی بیت خال عن اهله. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ۳/ ۶۰۰/ باب النفقة) وفی البحر الرائق (ج:٤/ ۱۹۳)ای الاسکان للزوجة علی زوجها فتجب لها کماتجب النفقة...لیس له ان یشترک غیرها لانها تتضرربه)

۲] عن ابی هریرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لیس منا من خبب امراة علی زوجها.....الخ. (ابوداؤد کتاب الطلاق، باب فی من خبب امراة علی زوجها/ ۱/ ۲۹۶) تفصیل دپاره اوګورئ: الزواجر ج۲ ص۲۸)_

۳] "فیتعلمون منهما ما یفرقون به بین المرء وزوجه" (البقرة: ۱۰۲) تفصیل دپاره اوګورئ: بیان القرآن، تالیف: حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمه الله، ج۱ ص۵۴ (طبع ایچ ایم سعید)_

۴]قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا یحل مال امریء الا بطیب نفس منه. (مشکوٰة/ ۲۵۵)

۵] واذا ثبت الحق عند القاضی وطلب صاحب الحق حبس غریمه لم یعجل بحبسه وامره بدفع ما علیه.......فان امتنع حبسه فی کل دین لزمه.........او التزمه بعقد کالمهر.......الخ. (هدایة/ باب ادب القاضی، فصل فی الحبس/ ۳/ ۱۳۶، طبع شرکت علمیة ملتان)_

د بې نمازې ښځې ګناه په چا ده؟

سوال: الله تعالی په قرآن کې فرمايي چې خپل کوروالو ته د لمونځ کولو امر کوئ او خپله يې هم پابندي کوئ، که چېرته کوم سړی خپله لمونځ کوي او ښځې ته هم د لمونځ تاکيد کوي او ددې باجود ښځه لمونځ نه کوي؛ نو ددې ګناه به په چا وي. په ښځې که په خاوند؟ مهرباني وکړئ زما د سوال تفصيلي ځواب راکړئ!

جواب: د خاوند د تاکيد باوجود که ښځه لمونځ نه کوي؛ نو هغه د خپل عمل خپله ذمه داره ده، خاوند ګناه ګار نه دی[1]، مګر داسې بې نمازه ښځه په کور کې ولې ساتئ؟[2]

آيا خاوند مجازي خدای کېږي؟

سوال: يو جمعه يې د مسئلو په يو مضمون کې يوې ښځې ليکلي ؤ چې: ددې خاوند د بد شکل له وجې ددې نه خوښېږي، لهذا ددې سړي سره اوسېدل ورته ګران ؤ، هغه خلع کول غواړي، حال دا چې ددې ښځې مور- پلار وايي: چې خاوند ته بدرنګ ويل ګناه ده؛ نو هغوی ته په ځواب کې وويل شو چې: خاوند د خدای ګڼلو تصور د هندوانو ښځو رواج دی، په اسلام کې نکاح د دواړو په خوشحالۍ سره کېږي، ځکه چې د نکاح مقصد د چاپېريال له بديو څخه ساتل دي. اوس سوال دا دی چې آيا واقعا خاوند مجازي خدای ګڼل د هندوانو طريقه ده؟ که چېرته داسې وي؛ نو ما تر اوسه پورې په خپله تابعداره ښځه باندې خپل ځان مجازي خدای ګڼلی دی، ما چې ځان حاکم ګڼلی او کوم ظلمونه مې کړي دي آيا زه ګناه ګار يم که د خپلې بې خبرۍ له وجې بې قصوره يم او که د خپلې ښځې نه معافي وغواړم؟ چې الله جلّ جلاله ما معاف کړي که زه په حقه يم او دا خبره غلطه ده چې خاوند مجازي خدای ګڼل د هندوانه طريقه ده؟

جواب: الله تعالی سړی په ښځه حاکم ګرځولی، [3]مګر نه هغه حقيقي خدای دی او نه هم مجازي خدای، د حاکم په حيث هغه ته په ښځه باندې د ظلم کولو اجازه نشته او نه د هغه سپکاوی روا دی، کوم خاوند چې په خپله ښځه زياتی کوي هغه لوی ظالم دی، تا ته پکار دي چې خپلې ښځې ته په ښه اخلاقو راتګ وکړې! کوم ظلم چې دې کړی د هغې معافي وغواړه![4]

---

[1] "وامر اهلک بالصلوٰة واصطبر عليها" (طٰهٰ: ۱۳۲) "ولا تزر وازرة وزر اخري" (الانعام: ۱٦٤)_

[2] رجل له امراة لا تصلی له ان يطلقها وان لم يقدر علی ايفاء مهرها.....الخ. (عالمگيری/ ۱/ ۳٤۱)_

[3] "الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض". (النساء: ۳٤)_

[4] عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما.........فاتقوالله فی النساء! فانکم اخذتموهن بامان الله....الخ. (مشکوٰة المصابيح/ باب قصة حجة الوداع/ ۲۲۵/ طبع قديمی)_

خاوند خدای ګڼل د هندوانو طریقه وي، دا د اسلام طریقه بیخي نه ده. البته ښځې ته د خپل خاوند د عزت او احترام دومره حکم شوی چې هغه ته په نوم هم اواز مه کوئ[1]. او د هغه کوم جائز حکم مه ردوئ[2] او که چېرته د ښځې خاوند سره زړه نه لګیږي خواه که د خاوند د بد صورت له وجې وي، خواه که د هغه د بې اخلاقی له وجې وي، خواه که د هغه د بې دینی له وجې وي، او که د بلې وجې وي؛ نو هغې ته د خلع اخیستلو اجازت شته.[3]

د نافرمانې ښځې شرعي حکم

سوال: زمونږ ګاونډیان دي، د ښځې او خاوند اړیکې ډېرې ښې وې، خاوند بې حده ښه انسان ؤ، یوه ورځ په کومه خبره ښځه په ضد شوه، خاوند ډېر صبر وکړ مګر د ښځې په دوباره ضد باندې خاوند ته غوسه راغله او هغه ښځه یې یوه څپېړه ووهله، ښځې په دې باندې خاوند او د هغه مور- پلار ته مردار الفاظ استعمال کړه او د خپلې مور کره لاړه، مور یې په داسې راتلو خفه شوه؛ نو هغه بیا راغله، مګر د دواړو په منځ کې خبرې تر اوسه نشته او نه ښځه د خاوند دخوشحالولو کوشش کوي، پورتنئ کیسه راته د قرآن او حدیث په رڼا کې روښانه کړئ؟

جواب: د مخ وهلو په اړه حدیث کې سخته منعه راغلې ده[4]، د دې وجې نه خاوند ډېر زیاتی کړی دی، د ښځې په بې ځایه ضد باندې خاوند ته داسې غوسه کېدل نه وه پکار او دې نیک بختي چې د څپېړې په ځواب کې کنځل کړي دي دا د هغې نه هم زیاته بده خبره وه. د ښځې لپاره د خاوند بې ادبي کول ناجائز دی، کنځل کول خو لویه ګناه ده[5]، حدیث کې دي: درې

۱]ويكره ان يدعو الرجل اباه وان تدعوا المراة زوجها باسمه........الخ. وفى شرحه: بل لا بد من لفظ يفيد التعظيم كيا سيدى ونحوه لمزيد حقهما على الولد والزوجة. (شامى/ ٦/ ٤١٨)۔

٢]عن عائشة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لو امرت احداً ان يسجد لاحد لامرت المراة ان تسجد لزوجها، ولو ان رجلاً امر امراة ان تنقل من جبل احمر الى جبل اسود ومن جبل اسوداً الى جبل احمر لكان حق لها ان تفعل. (سنن ابن ماجة/ ١٣٣/ طبع مير محمد)۔

٣] واذا تشاق الزوجان وخافا ان لا يقيما حدود الله فلا باس بان تفتدى منه بمالٍ يخلعها به لقوله فلا جناح عليهما فيما افتدت به....الخ. (هداية/ ٢/ ٤٠٤/ باب الخلع/ طبع رشيديه)۔

٤]عن حكيم بن معاوية عن ابيه ان رجلاً سال النبى صلى الله عليه وسلم: ما حق المراة على الزوج؟ قال......ولا يضرب الوجه ولا يقبح ولا يهجر الا فى البيت......الخ. (سنن ابن ماجة/ ١٣٣/ باب حق المراة على الزوج)۔

٥]الكبيرة التاسعة والثمانون والتسعون والحادية والتسعون بعد الماتين: سب المسلم والاستطالة فى عرضه......قال تعالى: والذين يوذون المومنين والمومنٰت بغير ما اكتسبوا فقد احتملوا بهتاناً واثماً مبيناً. واخرج الشيخان........عن ابن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسق وقتاله كفر.....الخ. (الزواجر عن اقتراف الكبائر/ ٢/ ٥٨/ طبع دار المعرفة)۔

سرې داسې دي چې د هغوی نه لمونځ قبليږي او نه يې كوم بل نيک عمل. په دوی کې يوه هغه ښځه ده چې د هغې خاوند د هغې نه خفه وي[۱]، يو بل حديث کې دي چې پرښتې په داسې ښځه باندې لعنت وايي[۲]، خاوند ته پكار دي چې ښځه خوشحاله کړي، ښځه که په جذبه کې نامناسبه الفاظ ووايي؛ نو هغې ته د خپل خاوند نه معافي غوښتل پكار دي او د الله تعالی په دربار کې توبه ويستل هم پكار ده.

نافرمانه ښځه

سوال: ښځه که نافرمانه وي او اوږده ژبه يې وي، د خاوند خبره نه مني: نو په دې صورت کې بايد څه وکړي؟ ما د قرآن شريف او حديث مطابق عمل کړی دی، آخري صورت تاسو راته وښيئ؟

جواب: هغه اول په نرمی او خوش اخلاقی باندې پوه کړئ! که نه پوهيږي نو لږه بيداري ورکړئ او که په دې هم نه پوهيږي؛ نو تا ته اختيار دی چې هغې ته طلاق ورکړه! [۳]

د خاوند په حق کې د کمي کوونکي ښځې سزا

سوال: که چېرته خاوند د نهو لسو کالو راهيسې د خپلې ښځې نان نفقه او ټولې خرچې په فراخ زړه ادا کوي او ښځې په دې ټوله موده کې خاوند د خپل حق نه همداسې بې برخې پرې ايښې وي؛ نو په شريعت کې د دې ښځې څه سزا ده؟

جواب: داسې ښځه چې بغير د کوم صحيح عذر نه د خاوند حق نه ادا کوي، د دې لپاره خو په دنيا کې دا سزا ده چې خاوند دې ته طلاق ورکولی شي او په آخرت کې به دا ښځه د رحمت نه بې برخې وي. [۴]

۱]قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ثلاثة لا تقبل لهم صلاة ولا تصعد لهم حسنة.......والمراة الساخط عليها زوجها.....الخ. (مشكوٰة/ ۲۸۳/ كتاب النكاح، باب عشرة النكاح، طبع قديمى كتب خانه)۔

۲]عن ابى هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم: اذا دعا الرجل امراته الى فراشه فابت ان تجيء لعنتها الملائكة حتى تصبح. (صحيح البخارى/ ۲/ ۷۸۲/ طبع مير محمد كتب خانه)۔

۳] "والتى تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فى المضاجع واضربوهن فان اطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلاً" (النساء: ۳۴) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:........استوصوا بالنساء خيراً.........واضربوهن غير مبرح......الخ. (ابن ماجة/ ۱۳۳) واما الطلاق فان الاصل فيه الحظر بمعنى انه محظور الا لعارض يبيحه......ولهٰذا قالوا: ان سببه الحاجة الى الخلا من عند تباين الاخلاق وعروض البغضاء الموجبة عدم اقامة حدود الله تعالى......الخ. (شامى/ ۳/ ۲۲۸) وفى الدرالمختار: بل يستحب لو موذية.....الخ. اطلقه فشمل الموذية له او لغيره بقولها او بفعلها. (شامى/ ۳/ ۲۲۹/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

۴] اوګورئ نزدې تيرې شوې دوه حاشيې۔

هغه ښځه چې مور ترې تنګه وي

سوال: ما څو کاله مخکې واده کړی او د واده د لومړۍ جمعې نه مې ښځې او خوابنې خپل اصلیت وښود، زما مور ډېره عاجزه ده، زما ښځې د هغې سره جنګ شروع کړ. ددې نه پس یې د کور نه کالي او نور ضروري توکي غلا کړل او تور یې زما په مور ولګولو چې وروسته بیا زما د ښځې او خوابنې څخه ترلاسه شو، ددې وجې زه هم غوسه شوم او هغې هم کور پرېښود او لاړه، د هغې نه دوه نیم کاله وروسته ما دویم واده وکړ چې د هغې نه اوس یو بچی لرم. ددې نه پس زما کوروالو د اولې ښځې او زما تر منځ سوله وکړه، کله چې هغه بیا کور ته راغله: نو بیا یې څه موده وروسته د خپل زوړ عادت له مخې جنګونه شروع کړه چې د هغې په وجه ما دویمه ښځه جدا کړه، اوس مې د اولې ښځې نه څه اولاد هم نشته، هغه زما مور ډېره تنګوي. تر دې چې کنځلې هم ورته کوي. اوس دې ته طلاق ورکول غواړم، پلار مې وایي چې: طلاق مه ورکوه، آیا شرعي طور باندې دې ته طلاق ورکړل پکار دي اوکه نه؟ او آیا په دې کې خو به د پلار نافرماني نه راځي؟ دا ځواب د قرآن او سنتو په رڼا کې راکړئ!

جواب: فقهاؤ دا قاعده لیکلې: چې د مور خدمت مقدم دی او د پلار حکم مقدم دی[۱]، که چېرته ستا پلار د طلاق ورکولو نه منع کوي؛ نو هغه په تا باندې شفقت کوي. تاسو د خپلې مور تکلیف د هغه په خدمت کې وړاندې کړئ او بیا د هغه نه د طلاق ورکولو اجازه واخلئ! یا د غور او فکر نه پس د مور د تکلیف لرې کولو په لټه کې شه! مثلاً د خپلې ښځې د کوټه د مور له کوټې لیرې کړه! په هر حال څنګه چې تا لیکلي: که چېرته ستا ښځه تابعداره نه وي؛ نو هغې ته په طلاق ورکولو انشاءالله ګناه ګاریږی نه.

د خاوند نه د جدا کور غوښتنه

سوال: زه ستاسو مضمون په ورځپاڼه جنګ کې ښه په شوق ګورم، ستاسو د ځواب نه بې حده متاثره یم، الله تعالی دې تاسو ته خیر درکړي، زما د واده دوه نیم کاله شوي، په دې وخت کې مې د خسرګنی سره په وړه- وړه خبره جنګ جوړیږي، دوی ماته کله په مینې نه دي کتلي، زما د لور سره هم ډېر تنګ مزاجه دي، په وړه خبره ورته پیغورونه ورکوي. د ډوډۍ لپاره جنګ کول، کاروبار مو شریکي دی او ټول محنت زما خاوند کوي، الحمدلله زمونږ رزق بې حده برکتي دی، د دوه نیمو کالو په موده کې ډېری ځلي زه د خپلې مور کره راغلې یم، د دوی په

۱] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله حرم علیکم عقوق الامهات......قال الخطابي: لم یخص الامهات بالعقوق فان عقوق الاباء محرم ایضاً ولکن نبه باحدهما عن الآخر فان بر الام مقدم علی بر الاب الا ان لعقوق الامهات مزیة فی القبح وحق الاب مقدم فی الطاعة وحسن المتابعة لرایه والنفوذ لامره وقبول الادب منه. (مرقاة شرح مشکوٰة/ ٤/ ٦٦٥/ باب البر والصلة، طبع بمبئی)_

وينا چې اوس به څه جنګ نه کيږي، د مشرانو په لحاظ او د خپل مور- پلار د خبرې منلو په وجه دوباره لاړم، تر لږ مودې پورې به صحيح وو بيا به هغه زوړ حال وو. دا ځل هم زما د خاوند او دده د پلار په وړه خبره جنګ وشو او زه سره له خاونده خپلې مور کره راغلو. زما خاوند او زه دواړه غواړو چې د مور پلار په دعاګانو او خوشحالۍ سره جدا کور واخلو، د کاروبار نه به جدا نه يو، ځکه چې د مورپلار خدمت کول هم دي، دوی دوباره غواړي او وايي چې اوس به مونږ څه نه وايو، لکه څنګه چې به يې مخکې ويل، تاسو ووايئ چې کله په کور کې روزانه جنګونه وي؛ نو برکت چېرته وي؟ تاسو مونږ ته مشوره راکړئ چې ايا مونږ جدا کور واخلو؟ ددې مسئلو حل راته وښايئ، الله تعالی دي تاسو ته اجر درکړي او زه به تر ژونده پورې دعا درته کوم، زه بې حده خفه يم.

جواب: ستاسو خط مي پوره په غور وکتلو، د خواښې او انګور جنګ خو همېشه وي، تر کومه پورې چې د تجربې خبره ده په دې کې ګناه د يو طرف څخه نه وي بلکې د دواړو له طرفه وي، خواښې د انګور په وړو- وړو خبرو اعتراض کوي او پوزه تاوهي، انګور چې د خپلې موريه کورکې ډېر په ناز پالل شوې وي د خواښې مشفقانه نصيحت هم د خپل ځان سپکاوی ګڼي، دا دواړه طرفه نازک مزاجي د مستقل جنګ ميدان جوړ شي.

ستا د مسئلې حل دا دی که چېرته تاسو دومره حوصله لرئ چې د خواښې هره خبره منئ، د هغې د هر نازک مزاج ښه استقبال کولی شې او د هغې په کومه خبره " څه؟" ويل هم ګناه ګڼې؛ نو تاسو ضرور هغوی ته دوباره لاړ شئ، دا به ستا د دنيا او آخرت نيک بختي وي، دې صبر سره د خپل خاوند د مشرانو مور- پلار خدمت کول ستا د اينده لاره روښانه کوي.

او که دومرهحوصله په خپل ځان کې نه وينې چې زه دي خپله رايه او خپل عزت د هغې مخې ته ختم کړم؛ نو بيا ستا لپاره غوره دا ده چې ته د خپل خاوندسره په جدا کور کې واوسيږې، ليکن د خاوند د مور- پلار سره د تعلق پرېکولو نيت نه دي کول پکار، بلکې نيت دا پکار دی چې زمونږ يو ځای اوسېدلو سره چې مور- پلار ته کوم تکليف رسيږي او زمونږ نه چې کومه بې ادبي کيږي د هغې نه ځان ساتل مقصد دي، غرض دا چې: خپل ځان ملامته ګڼلو سره جدا کېدل پکار دي، مور- پلار ملامته ګڼل نه دي پکار او د جدا کېدو وروسته هم د هغوی مالي او جاني خدمت پکار دی، د خپل خاوند سره د مور په کور کې استوګنه اختيارول مناسب نه دي، په دې کې د خاوند د مور- پلار سپکاوی دی، هو: جدا اوسېدلو او په خپل کاروبار کولو کې د مور د کوروالو مرسته حاصلولو کې څه خبره نشته.

ما ستا د پريشانۍ د حل ټول صورتونه ستا مخې ته ايښي، تاسو د خپلو حالاتو مطابق کوم چې غواړئ اختيارولی شئ، ستا له وجې ستا د خاوند د خپل مور- پلار سره خفګان..... د

هغه لپاره به هم د وبال سبب وي او ستا لپاره هم[۱]. ددې وجې نه ستا هر ممکن کوشش دا پکار دی چې ستا د خاوند تعلق د هغه مور- پلار سره زیات نه زیات ښه کول پکار دي او هغه د هغوی زیات نه زیات تابعدار وي، ځکه چې د مور پلار خدمت او تابعداري د دنیا او آخرت بنیادي کامیابي ده [۲]

د اولاد او ښځې تر منځ برابري

سوال: یو سړي واده وکړ، ددې ښځې نه یې درې ځلور بچي وشو، ددې نه پس هغه دویم واده وکړ، او د دویمې ښځې نه یې هم دومره بچي وشو، د خپلو لومړنیو بچیو په نسبت د دویمې ښځې بچیو ته په ښه نظر ګوري، ټول اسلامي حکمونه پوره کوي خو په بچیو کې برابري نه کوي او ښځوته هم برابرنه ګوري، دده لپاره څه حکم دی او دقیامت په ورځ به د.ده څه سزا وي؟

جواب: د دواړو ښځو او د هغوی د اولاد تر منځ انصاف او برابري فرض ده، حدیث کې راځي:

عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ((اذا كانت عند الرجل امرأتان فلم يعدل بينهما جاء يوم القيامة وشقه ساقط)) رواه الترمذى وابو داؤد والنسائي وابن ماجة والدارمى (مشكوٰة ص ۲۷۹)

ترجمه: دچا چې دوه ښځې وي او هغه د دوی تر منځ برابري ونه کړه؛ نو د قیامت په ورځ به په داسې حالت کې وړاندې کیږي چې د هغه یو طرف به فالج وهلی وي.

البته که د دواړو ښځو حقوق برابر ادا کوي او په دوی کې کومه یوه نه پرېږدي؛ مګر د زړه مینه یې د یوې سره زیاته وي؛ نو دا غیر اختیاري خبره ده[۳]، په دې باندې به دی نه نیول کیږي، هم دغه راز د اولاد سره هم ښه سلوک ضروري دی[۴]، لیکن مینه کمه او زیاته کېدی شي چې هغه

۱]عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من اصبح مطيعاً لله فى والديه اصبح له بابان مفتوحان من الجنة، وان كان واحداً فواحداً، ومن اصبح عاصياً لله فى والديه اصبح له بابان مفتوحان من النار، ان كان واحداً فواحداً. قال رجل: وان ظلماه؟ قال: وان ظلماه! وان ظلماه! وان ظلماه! وعن ابى بكرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كل الذنوب يغفرالله منها ماشآء الا عقوق الوالدين، فانه يعجل لصاحبه فى الحيٰوة قبل الممات. (مشكوٰة/ ۴۲۱)۔

۲] باب قوله ووصينا الانسان بوالديه حسنا (العنكبوت)......قال سالت النبى صلى الله عليه وسلم: اى العمل احب الى الله؟ قال: الصلوٰة على وقتها! قال: ثم اي؟ قال؟ ثم بر الوالدين.....الخ. (صحيح البخارى/ ۲/ ۸۸۲)۔

۳]عن عائشة رضى الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم كان يقسم بين نسائه فيعدل ويقول: اللهم هٰذه قسمتى فيما املك فلا تلمنى فيما تملك ولا املك. (ترمذى/ ۱/ ۲۱۶/ باب ماجاء فى التسوية بين الضرائر)۔

۴]ولى صحيح مسلم من حديث النعمان بن بشيررضى الله عنه: اتقوا الله واعدلوا فى اولادكم. فالعدل من حقوق الاولاد فى العطايا....الخ. (شامى/ ۴/ ۴۴۴/ كتاب الوقف مطلب مهم فى قول الواقف على الفرضية.....الخ)۔

یو غیر اختیاري شی دی. خلاصه دا چې د خپل اختیار تر حده پورې د دواړو ښځو او د هغوی د اولاد تر منځ توپیر کول حرام دي. لیکن د زړه په تعلق کې برابري لازمه نه ده

آیا خپله ښځه په زوره له ځانه سره اوسولی شي؟

سوال: کله چې ښځه اوسېدو ته تیاره نه وي، آیا خاوند خپله ښځه په زوره له خپل ځانه سره اوسولی شي؟ د داسې سړو لپاره په اسلام کې څه حکم دی؟

جواب: د نکاح مقصد هم دا وي چې ښځه خاوند به یو ځای اوسیږي، ددې وجې د خاوند ښځې لره خپل ځان سره اوسول د عقل او فطرت دواړو غوښتنه ده، که چېرته ښځه دده سره اوسېدل نه غواړي نو ددې نه دې جدا والی اختیار کړي.[1]

د دویمې نکاح له وجې د لومړۍ حق نه ادا کول

سوال: زما د تره ښځه ډېره غریبه ده او خاوند یې دویم واده کړی دی، هغه خپلې لومړۍ ښځې ته څه نه ورکوي، ایا دا طریقه صحیح ده که غلطه؟

جواب: ستا د تره ښځې د حق ادا کول فرض دي، د کوم سړي چې دوه ښځې وي د هغه په ذمه د دواړو ښځو تر منځ انصاف لازم دی.[2]

د دوه ښځو تر منځ د برابرۍ طریقه څه ده؟

سوال: د کوم سړي چې دوه ښځې وي، هغه د دواړو خرچې پوره کوي؛ نو آیا دواړو ته وخت هم برابر ورکول ضروري دي او د مسافرۍ پرمهال د دواړو ګرځول هم یو شان لازم دي؟

جواب: د کوم سړي چې دوه ښځې وي په هغه باندې په دریو شیانو کې دواړو لره برابرول واجب دي، یو دا چې: دواړو ته به برابره خرچه ورکوي، که چېرته یوې ته کم او بلې ته زیاته ورکوي؛ نو دی خیانت کوي، دویم دا چې: په شپې تېرولو کې به برابري کوي، که یوه شپه د یوې سره ځملي؛ نو دویمه شپه به د دویمې ښځې سره تېروي، البته دا جائز ده چې وار دې دوه- دوه درې - درې ورځې ولګوي، په هرحال څومره شپې چې د یوې سره تیرې کړي، هغومره به د دویمې سره هم تیروي، دریم دا چې په سلوک او معاملاتو کې به هم دواړو کې

۱] واذا تشاق الزوجان وخافا ان لا یقیما حدود الله فلا باس بان تفتدی نفسها منه بمال یخلعها به لقوله فلا جناح علیهما فیما افتدت به فاذا فعل ذلک وقع بالخلع تطلیقة بائنة.....الخ. (هدایة / ۲/ ٤٠٤/ باب الخلع)

۲] والاصل فیه ان الزوج مامور بالعدل فی القسمة بین النساء بالکتاب قال الله تعالی ولن تستطیعوا ان تعدلوا بین النساء ولو حرصتم فلا تمیلوا کل المیل معناه لن تستطیعوا العدل والتسویة فی المحبة فلا تمیلوا فی القسم.....الخ. (البحرالرائق/ ۳/ ۲۱۸)۔

برابري کوي[۱]، که د یوې سره یې ښه او د بلې سره یې بد سلوک وکړ: نو سرکاري مجرم به وي او په حدیث کې راځي عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: ((اذا كانت عند الرجل امرأتان فلم يعدل بينهما جاء يوم القيامة وشقه ساقط)) رواه الترمذي وابو داؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي (مشكوٰة ص ۲۷۹)

ترجمه کوم سړی چې د دوه ښځو په منځ کې برابري نه کوي هغه به د قیامت په ورځ د الله په دربار کې په داسې حالت کې وړاندې کیږي چې د هغه یو طرف به فالج وهلی وي

او که خاوند چېرته په سفر ځي؛ نو یوه له ځان سره بوتلی شي، مګر د دواړو په منځ کې قرعه (پچه) اچول غوره دي.[۲]

که یوه ښځه د خپل حق نه تېره شي؛ نو برابري لازمه نه ده

سوال: د مسلمان لپاره د یوې نه زیاتو ښځو کولو کې د ټولو سره یو شان رویه اختیارول فرض ده، لهذا یو سړی د یوې ښځې په شتون کې د دویمې سره نکاح کول غواړي او هغه په دې پوهیږي چې د دواړو سره برابري نه شي کولای؛ نو څکه یوې ښځې ته طلاق ورکوي. په دې صورت کې که لومړۍ ښځه د برابرۍ د حقوقو څخه بېزاره شي او د خاوند سره اوسېدل غواړي: نو بیا هم په سړي باندې د دواړو ښځو په منځ کې یو شان سلوک فرض دی؟

جواب: هر کله چې ښځې خپل حق معاف کړي: نو برابري هم واجبه پاتې نه شوه، ددې باوجود تر کومه پورې چې ممکنه وي د عدل او انصاف رعایت دې وساتي.[۳]

که د ښځې حقوق نه شي ادا کولی واده ناجائز دی

سوال: نن سبا زمونږ په معاشره کې د واده نه مخکې د جنسي اړیکو ساتلو رواج جوړ شوی دی، یو ځوان د واده نه مخکې جنسي اړیکې ساتي، هغه ځوان په دې جنسي اړیکو کې تر

---

[۱] يجب........ان يعدل اى ان لا يجوز.......فى القسم بالتسوية فى البيتوتة وفى الملبوس والماكول والصحبة.....الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ۳/ ۲۰۲/ باب القسم) ايضاً: يجب على الازواج للنساء العدل والتسوية بينهن فيما يملكه والبيتوتة عندها للصحبة والموانسة.....الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۳٤۰/ الباب الحادى عشر فى القسم)۔

[۲] .....ولا حق لهن فى القسم حالة السفر فيسافر الزوج بمن شاء منهن والاولى ان يقرع بينهن فيسافر بمن خرجت قرعتها. (هداية/ ۲/ ۳٤۹/ باب القسم)۔

[۳] باب المراة تهب يومها من زوجها لضرتها وكيف يقسم ذٰلك.....عن عائشة ان سودة بنت زمعة هبت يومها لعائشة وكان النبى صلى الله عليه وسلم يقسم لعائشة بيومها ويوم سودة. (صحيح بخارى/ ۲/ ۷۸٤/ باب المراة تهب يومها من زوجها...الخ.ولو تركت قسمها اى نوبتها لضرتها صح(درمختار/۳/۲۰۶/باب القسم)

دومره پورې وړاندې لاړ شي چې هغه بیا د واده کولو وړ هم پاتې نه شي او هم دغه راز د واده نه پس خپلې ښځې ته هیڅ حق نه شي ورکولی، ایا داسې سړی واده کولی شي؟

جواب: کوم سړی چې د ښځې حقوق نه شي ادا کولی د هغه لپاره خامخا یوه ښځه په زندان کې ساتل ناجائز دي، بلکې حرام او لویه ګناه ده[1]، هغه ته پکار ده چې دا پاک لمنه ښځه په طلاق ورکولو له ځانه فارغه کړي او که طلاق نه ورکوي؛ نو د کورنۍ درنو غړيو ته دي ووايي چې هغه دي طلاق ورکړي، که چېرته هغه په دې باندې هم ونه مني؛ نو نجلۍ په عدالت کې استغاثه کولی شي، عدالت دي خاوند ته د يو کال لپاره د علاج کولو مهلت ورکړي، که هغه په دې موده کې د ښځې د حق ادا کولو جوګه شي؛ نو صحيح ده، کنه نو عدالت دي په طلاق ورکولو مجبوره کړي، که چېرته هغه د عدالت په وینا هم طلاق نه ورکوي؛ نو عدالت دي خپله د نکاح د فسخې پرېکړه وکړي.[2]

[په کوموشيانو نکاح نه ماتيږي؟]

که خاوند د ښځې حق نه اداکوي؛ نو نکاح نه ماتيږي؛ خو پکار ده چې طلاق ورکړي

سوال: زمونږ خپلوان دي چې د شپږو کالو راهيسې د کومې ناروغۍ له وجې د خپلې ښځې حقوقو ته هيڅ توجه نه ورکوي، ځينې خپلوان وايي: چې د دوی نکاح ماته شوې ده، هغه ښځه د شرم او حيا له وجې څه نه وايي، لهذا ستاسو نه هيله ده چې ددې په باره کې د قرآن او سنتو په رڼا کې مونږ ته ليکل راکړئ چې آيا دوی اوس هم ښځه او خاوند دي؟

جواب: دې سره نکاح نه ماتيږي، ليکن کوم سړی چې د ښځې حق نه شي ادا کولی؛ نو د هغه لپاره پاکه ښځه خامخا په زندان کې ساتل ظلم دی[3]، ددې وجې نه که دا ښځه ددې سړي نه آزادي غواړي؛ نو د ښځې د خاندان خلکو ته پکار دي چې د شريفو په واسطه د هغې خاوند ته ووايي چې هغه د ښځې حق نه شي ادا کولی؛ نو هغې ته طلاق ورکړه![4]

---

[1] ويجب لوفات الامساک بالمعروف. وفى الشامية: كما لو كان خصياً او مجبوباً او عنيناً او شكازاً...الخ. (شامى/ ۳/ ۲۲۹/ كتاب الطلاق، ايضاً: هداية/ ۲/ ٤٢١/ باب العنين وغيره)۔

[2] واذا كان الزوج عنيناً اجله الحاكم سنة فان وصل اليها فبها والا فرق بينهما اذا طلبت المراة ذلك........وتلك الفرقة تطلقية بائنة. (هداية/ ۲/ ٤۲۰/ باب العنين وغيره)۔

[3] ويجب لوفات الامساک بالمعروف كما لو كان خصياً او مجبوباً او عنيناً او شكازاً. (شامى/ ۳/ ۲۲۹/ كتاب الطلاق، ايضاً: هداية/ ۲/ ٤۲۱/ باب العنين وغيره)۔

[4] واذا كان الزوج عنيناً اجله الحاكم سنة فان وصل اليها فبها والا...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

که خاوند لېونی وي نکاح پرې نه ختمیږي

سوال: ما د یوې داسې عاقلې بالغې ښځې سره د نن نه تقریباً دېرېش کاله مخکې په جائزه طریقه نکاح وکړه چې د هغې د لومړني خاوند هوش ختم شوی ؤ. هغه ښځه ثوک نه لري. ددې وجې کله چې هغه سړی د لېوانیانو زندان ته واچول شو؛ نو ما ددې ښځې سره د شاهدانو په شتون کې نکاح وکړه، لیکن اوس دېرش کاله وروسته راته خلک پیغور راکوي چې تا غلطه نکاح کړې ده او هغه سړی چې لېونی ؤ، اوس خپل کور ته راغلی دی. تاسو د حدیث او فقهې په رڼا کې جواب راکړئ چې زما نکاح جائز وه که نه؟ ستاسو به ډېره مننه وي او سائل ته به د زړه سکون حاصل شي.

جواب: د سړي په لېونتوب سره نکاح نه ماتیږي؛ خو که د ښځې په درخواست عدالت د نکاح د فسخه کولو پرېکړه وکړي؛ نو خاص شرائطو سره پرېکړه صحیح کېدی شي او ښځه عدت تېرولو سره دویم ځای نکاح کولی شي[۱]، تاسو چې د لېوني د ښځې سره خپله کومه نکاح کړې وه هغه نکاح نه وه شوې، تاسو ته پکار وه چې سمدستي ترې جدا شئ او په دې غلط کار باندې دواړو ته توبه ویستل پکار دي، دا ښځه د لومړي خاوند په نکاح کې ده، دده نه طلاق اخیستلو او عدت تېرولو وروسته دویم ځای نکاح جائز ده.

په ګناه سره نکاح نه ماتیږي

سوال: مونږ اوریدلي که یو سړی غزل واوري او خوند پرې واخلي؛ نو دده نکاح ماتیږي آیا دا خبره درسته ده؟

جواب: ګناه سره نکاح نه ماتیږي، البته که ثوک قطعي حرامو ته حلال ووایي؛ نو په دې سره هغه د اسلام نه خارجیږي[۲] او د هغه نکاح هم ماتیږي.[۳]

...بقیه د تیرمخ] فرق بینهما اذا طلبت المراة ذٰلک.......فاذا مضت المدة ولم یصل الیها تبین ان العجز بآفة اصلیة ففات الامساک بالمعروف ووجب علیه التسریح بالاحسان...الخ (هدایة/ ۲/ ۴۲۱/ باب العنین وغیره)

۱]واذا کان بالزوج جنون او برص او جذام فلا خیار لها کذا فی الکافی قال محمد رحمه الله تعالیٰ: ان کان الجنون حادثاً یوجله سنةً کالعنة ثم یخیرالمراة بعدالحول اذالم یبرأ وان کان مطبقاً فهوکالجب وبه ناخذ.کذا فی الحاوی القدسی. (الفتاویٰ عالمگیریة ۱/ ۵۲۶) تفصیل دپاره اوګورئ:الحیلة الناجزة ص۵۱ تا۵۹،طبع دارالاشاعت کراچی)

۲]من اعتقد الحرام حلالاً.......فان کان دلیله قطعیاً کفر. (شامی/ ۴/ ۲۲۳)۔

۳] ما یکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح واولاده اولاد الزنا وما فیه خلاف یومر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح....الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ۴/ ۲۴۷/ کتاب الجهاد/ باب المرتد)۔

آیا چاپ(اتڼ) کولو سره نکاح ماتیږي؟

سوال: زمونږ په علاقه کې دا خبره عامه ده که کومې واده شوې ښځې د چا په واده کې اتڼ وکړ؛ نو د هغې نکاح ماته شوه، حال دا چې واده د خپل خاندان د کوم هلک وي. که واقعي نکاح ماته شي؛ نو ښځې خاوند ته څه کول پکار دي؟

جواب: په واده کې اتڼ کولو سره نکاح نه ماتیږي مګر دا کار خپله حرام دی[۱] او د ګناه باعث هم دی. ددې نه توبه ویستل پکار ده.

ښځې ته خور ویلو سره نکاح نه ماتیږي

سوال: که په غلطی یا ټوکې په ډول ښځې ته خور وویل شي د نکاح شرعي حکم يې څه دی؟

جواب: ښځې ته خور ویلو سره نکاح نه ماتیږي، مګر داسې الفاظ ویل ناجائز دي.[۲]

که ښځه خاوند ته وروروایي؛ نو نکاح نه ماتیږي

سوال: یوه ورځ ما او ښځې مو خبرې کولې؛ نو زما ښځې په غلطی سره ماته ورور وویل. زمونږ نکاح خو به ماته شوې نه وي؟

جواب: دې سره نکاح نه ماتیږي.[۳]

اولاد سره خبرو کې ښځې ته مور ویل

سوال: د زیاتره خلکو دا عادت دی چې کله زوی د خپل پلار نه د کوم شي غوښتنه کوي؛ نو پلار زوی ته ووايي: لاړ شه مور نه واخله، یا دا هم ویل کیږي چې: بچیه! خپلې مور ته لاړ شه، زویه! مور دې چېرته ده؟ حال دا چې ښځې ته په مور ویلو سره نکاح ماتیږي؛ نو آیا داسې الفاظ ویل درست دي؟

جواب: په دې سره د بچي مور مراد وي، خپله مور نه وي مراد او ښځې ته مور ویل ناجائز دي، لیکن داسې ویلو سره نکاح نه ماتیږي.[۴]

---

[۱] (وکره کل لهو) ای کل لعب وعبث فالثلاثة بمعنٰی واحد کما فی شرح التاویلات والاطلاق شامل لنفس الفعل، واستماعه کالرقص والسخرية....فانها کلها مکروهة، لانها زی الکفار. (ردالمحتار/ ۶/ ۳۹۵/ کتاب الحظر والاباحة)

[۲] فقد صرحوا بان قوله لزوجته یا اخیة مکروه، وفیه حدیث رواه ابوداؤد: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم سمع رجلاً یقول لامراته یا اخیة فکره ذٰلک ونهی عنه. (شامی/ ۳/ ۴۷۰/ باب الظهار)۔

[۳] ایضاً)۔

[۴] پورتنی حوالې وګورئ)۔

خپل ځان د ښځې پلار څرګندولو سره نکاح نه ماتيږي

سوال: زيد د حکومتي ځمکې د ترلاسه کولو لپاره خپله ښځه د هغې د حقيقي ماما کونده ښوده، خپل ځان يې د ښځې پلار وښود، ځکه چې زيد دومره مشر دی چې د ښځې پلار برېښي، دغه راز زيد د حکومت نه د ځمکې د ترلاسه کولو وروسته ځمکه خرڅوي. اوس د دې پورتنيو خبرو وضاحت په لاندې ټکو کې غواړو

الف ايا په دې حالاتو کې د زيد او خپلې ښځې نکاح پاتې شوه؟

ب ايا د نکاح د تازه کولو ضرورت شته؟

ج په دې غلطې طريقې سره حاصلې شوې روپيو استعمال جائز دی که ناجائز؟

د شرعي او فقهي نکتې سره د زيد کړنه څرنګه ده؟

جواب: دا خو ښکاره خبره ده چې زيد درواغ ويلي او داسې غلطې طريقې سره ترلاسه شوې روپۍ ناجائز دي[۱]، ليکن دده په دې کړنې سره نکاح نه ده ماته شوې.

ښځې ته په لور سره نارې کول

سوال: کوم سړی چې خپلې ښځې ته په قصده يا په هېره بيا - بيا لور ويلو سره نارې کوي؛ نو آيا نکاح يې ماتيږي که پاتې کيږي؟

جواب: دې سره خو نکاح نه ماتيږي؛ مګر ډېر بې خونده الفاظ يې ويلي دي، بايد ځان د داسې بې ځايه الفاظو کارولو څخه وساتي.[۲]

د خينې سره په زنا باندې نکاح نه ماتيږي

سوال: که چېرته کوم سړي د خپلې خينې سره په قصده زنا کړې وي؛ نو په دې سره دده په نکاح باندې کوم اثر پرېوځي او که نه؟ که نکاح يې ماتيږي؛ نو تازه کول يې څه حکم لري؟

جواب: د خينې سره په زنا کولو باندې نکاح نه ماتيږي.[۳]

۱] "ولاتاكلوا اموالكم بينكم بالباطل" (البقرة: ۱۸۸) قال الامام البغوى تحت هٰذه الآية: (بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها. (تفسير معالم التنزيل/ ۲/ ۵۰/ طبع حقانيه)۔

۲] ويكره قوله انت امى ويا ابنتى ويا اختى ونحوه. (قوله ويكره الخ)........وينبغى ان يكون مكروهاً فقد صرحوا بان قوله لزوجته يا اخية مكروه، وفيه حديث رواه ابوداؤد ان رسول الله صلى الله عليه وسلم سمع رجلاًيقول لامراته يا اخية فكره ذالک، ونهٰى عنه(ردالمحتارمع الدرالمختار/ ۳/ ۴۷۰/ باب الظهار/ طبع سعيد)

۳] وفى الخلاصة: وطى اخت امراته لا تحرم عليه امراته. (درمختار / ۳/ ۳۴/ فصل فى المحرمات)۔

د نجلۍ د نکاح نه پس بل سړي سره زنا کول

سوال: که چېرته نجلۍ د نکاح وروسته د پردي سړي سره زنا وکړي: نو آيا ددې نکاح به پاتې وي؟

جواب: د ښځې د پردي سړي سره په زنا کولو خپله نکاح نه ماتيږي: نو ځکه يې نکاح پاتې ده.[۱]

د ښځې شيدې څښلو سره حرمت نه ثابتيږي

سوال: يو سړي واده کړی، دوه بچي هم لري، که کوم وخت په جوش کې د راتلو پرمهال د خپلې ښځې سينې په خوله کې وروي، شيدې يې نه څښي يا دا چې شيدې له سره نه وي؛ نو ددې په اړه شرعي حکم څه دی؟ ايا دده نکاح باقي پاتې کيږي که نه؟ دې سړي ته دا هم نه ده معلومه چې ايا په دې سره نکاح کې څه فرق راځي او که نه؟ که نکاح کې څه فرق نه راځي: نو ګناه ګار شو او که نه؟ مهرباني وکړئ تفصيلي ځواب راکړئ!

جواب: د ښځې شيدې څښل حرام دي[۲] مګر دې سره نکاح نه فسخه کيږي[۳]، ځکه چې د شيدو له وجې کوم حرمت پيدا کيږي، د هغې لپاره شرط دا دی چې بچې شيدې د دوه نيم کالو په عمر کې دننه وڅښي، وروسته په څښلو شيدو سره حرمت نه پيدا کيږي.[۴]

د زناکارې ښځې په نکاح کې د شريکېدلو حکم

سوال: يوې نجلۍ زنا وکړه چې په هغې سره هغه حامله شوه، ددې معاملې علم صرف د هغې مور ته وشو، ددې مور ددې واده وکړ، حال دا چې نه د نجلۍ پلار خبر ؤ او نه د هلک کورنۍ؛ مګر د واده نه پس هلک والا خبر شول، هغوی دا ښځه پرېښوده، د خلکو په وينا: په دې واده کې چې څوک شريک شوي دي، که هغه د هلک له طرفه وي او که د نجلۍ له طرفه، ددې ټولو

۱] قوله: والمزنى بها لا تحرم على زوجها فله وطؤها بلا استبراء عندهما. وقال محمد: لا احب له ان يطاها مالم يستبرئها كما مر فى فصل المحرمات. (شامى/ ۳/ ۵۲۷) قال فى البحر: لو تزوج بامراة الغير عالماً بذلك ودخل بها لا تجب العدة عليها حتى لا يحرم على الزوج وطؤها وبه يفتى لانه زنى والمزنى بها لا تحرم على زوجها. (شامى/ ۳/ ۵۰)

۲]ولم يبح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمى والانتفاع به لغير ضرورة حرام على الصحيح. (درمختار/ ۳/ ۲۱۱/ باب الرضاع، طبع ايچ ايم سعيد)۔

۳]مص رجل ثدى زوجته لم تحرم. (درمختار/ ۳/ ۲۲۵/ باب الرضاع)۔

٤] هو لغة وشرعاً مص من ثدى آدمية خرج بها الرجل والبهيمة فى وقت مخصوص وذلك انه بعد المدة لا يسمّٰى رضيعاً نص عليه فى العناية وهو حولان. (شامى/ ۳/ ۲۰۹/ باب الرضاع)۔

نکاح ماته شوه، هغوی دي خپله نکاح دوباره وکړي. آیا ددې تولو نکاح ماته شوه؟

جواب: د کومې نجلۍ حمل چې د زنا وي. د حمل په حالت کې هم ددې نکاح صحیح ده؛ نو ځکه ددې په نکاح کې شریک کېدو سره د چا نکاح هم نه ماتيږي. [۱]

آیا ږیرې پسې خندلو سره نکاح ماتيږي؟

سوال: آیا ږیرې پسې خندا کولو سره نکاح ماتيږي؟

جواب: هو ږیره د اسلام شعار او د نبي کریم ﷺ سنت دی[۲]، د نبي کریم ﷺ د سنتو او د اسلام د شعار پسې خندل کفر دی، ددې وجې که په ښځه خاوند کې چا هم ږیرې پسې خندلي وي هغه د ایمان نه خارج شو، د هغه نکاح ماته شوه[۳]، په ده باندې لازمه ده چې ددې نه توبه وباسي او ایمان دي تازه کړي او نکاح دي دوباره وکړي. [۴]

د ښځې او خاوند په جدا اوسېدلو نکاح نه ماتيږي

سوال: زما ملګری اوه کاله راهیسې په بل هېواد کې اوسيږي او ښځه یې په پاکستان کې ده، یو کال شوی چې پاکستان ته راغلی؛ خو د خفګان له وجې یې د ښځې سره یې ملاقات نه

---

[۱] وصح نكاح حبلى من زنى لا حبلى من غيره اى الزنى لثبوت نسبه.....وان حرم وطؤها حتى تضع. (درمختار/ ۳/ ۴۸/ فصل فى المحرمات) وعلى هذا يخرج ما اذا تزوج امراة حاملاً من الزنا انه يجوز فى قول ابى حنيفة ومحمد لكن لا يطوها حتى تضع. (البدائع الصنائع/ ۲/ ۲۶۹/ كتاب النكاح/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۲] عن ابى هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: الفطرة خمس، او خمس من الفطرة........وفى رواية: اعفوا اللحى......قال النووى: ذكر جماعة غير الخطابى قالوا: ومعناه انها من سنن الانبياء صلوات الله وسلامه عليهم، وقيل هى الدين. (شرح الكامل للنووى على مسلم/ ۱/ ۱۲۸) وفى المرقاة (ج:۴/ ۴۵۵) كتاب الترجل: الفطرة اى فطرة الاسلام خمس، قال القاضى وغيره فسرت الفطرة بالسنة القديمة التى اختارها الانبياء واتفقت الشرائع.....الخ.)۔

[۳] وفى الظهيرية من قال لفقيه اخذ شاربه ما اعجب قبحاً او اشد قبحاً قص الشارب ولف طرف العمامة تحت الذقن يكفر لانه استخفاف بالعلماء وهو مستلزم باستخفاف انبياء بان العلماء ورثة الانبياء وقص الشارب من سنن الانبياء فتقبيحه كفر بلا اختلاف بين العلماء. (شرح فقه اكبر/ ۲۱۳/ طبع دهلى) قال: ولاعتبار التعظيم المنافى للاستخفاف كفر الحنفية بالفاظ كثيرة، وافعال تصدر من المتهتكين لدلالتها على الاستخفاف بالدين كالصلاة بلا وضوء عمداً بل بالمواظبة على ترك سنة استخفافاً بها بسبب انه فعلها النبى صلى الله عليه وسلم زيادة او استقباحها كمن استقبح من آخر جعل بعض العمامة تحت حلقه او احفاء شاربه اه. (شامى/۴ / ۲۲۲/ طبع سعيد كراچى) هذا استهزائبحكم الشرعى والاستهزاء بحكم من احكام الشرع كفر. (شرح فقه اكبر/ ۲۷)۔

[۴] ما يكون كفراً اتفاقاً يبطل العمل والنكاح واولاده اولاد الزنا، وما فيه خلاف يومر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح. (شامى/ ۴/ ۲۴۷/ باب المرتد/ طبع سعيد)۔

دی کړی. تاسو د قرآن او سنتو په رڼا کې راته ځواب راکړئ چې د ښځې او خاوند نکاح فسخه ده او که نه؟

جواب: د ښځې او خاوند په جدا اوسېدو سره نکاح نه ماتيږي: نو ځکه که چېرته خاوند طلاق نه وي ورکړی؛ نو هغوی دواړه هم هغسې ښځه خاوند دي

زه کافریم ویلو سره په نکاح څه اثر وي؟

سوال: د ماسخوتن لمانځه نه واپس راغلم؛ نو څه ګورم چې ښځه مې په بستره پرته وه، ما په دې خيال چې ښځه مې د ماسخوتن لمانځه نه پرته ويده شوې، په غوسه مې ورته وويل: چې تا تر اوسه لمونځ نه دی کړی؟ حال دا چې هغه د مخکې نه په کومه خبره خفه پرته وه: نو ځکه هغې په غوسې ځواب راکړ چې زه کافره يم "ددې مطلب دا راوځي چې زه څه کافره خو نه يم" په هر حال هغه وخت هغې لمونځ ونه کړ، سهار پاڅېده هغې خپله د سهار لمونځ وکړ او وې ويل: چې په سختۍ کې د لمونځ دعوت ولې راکوې؟ سوال دا دی چې هغه په دې جملې سره کافره شوه او که نه؟ د نکاح تازه کولو ته ضرورت شته او که نه؟

جواب: زه کافره يم. که چېرته سوال وي، څنګه چې يې تا تشريح کړې ده، يعنې آيا زه کافره يم؟ مطلب دا چې هيڅکله نه: نو په دې صورت کې ايمان کې فرق نه راځي او نه د نکاح تازه کولو ضرورت شته او که په غوسه کې دا مطلب وي چې زه کافره يم او ته ماته د لمانځه وينا مه کوه؛ نو ايمان يې لاړ او نکاح به دوباره کوي.[1]

په دروغو ويلو دويم واده با ندې څه اثر نه پرېوځي

سوال: فضل احمد غواړي دويمه نکاح وکړي؛ مګر لومړۍ ښځه اجازت نه ورکوي، هندې د فضل احمد ښځه ځان ځرګنده کړه او په عدالت کې يې دا قرار وکړ چې: دا زما خاوند دی او زه ده ته د دويم واده اجازه ورکوم، اوس مطلبي پوښتنه دا ده چې هنده خو په عدالت کې د فضل احمد د دروغو ښځه جوړه شوه، ايا هنده د خپلې لور نکاح د فضل احمد سره کولی شي او که نه؟ د هندې خپله نکاح هم پاتې شوه او که نه؟

جواب: هنده او فضل احمد په دروغو لويه ګناه وکړه[2]، هغوی ته پکار دي چې ددې ګناه نه

۱] اذا اطلق الرجل كلمة الكفر عمداً لكنه لم يعتقد الكفر قال بعض اصحابنا لا يكفر، وقال بعضهم: يكفر، وهو الصحيح عندى، كذا فى البحرالرائق. (عالمگيرى/ ٢/ ٢٧٦) ما يكون كفراً اتفاقاً يبطل العمل والنكاح. (درمختار مع ردالمحتار/ ٤/ ٢٤٧/ كتاب الجهاد/ باب المرتد)_

۲]عن ابى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: آية المنافق ثلاث: اذا حدث كذب.......الخ. (مشكوٰة/ ١٧) لان عين الكذب حرام، قلت وهو الحق قال تعالى: ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

توبه وباسي. مګر هغوی د دروغو ویلو له وجې په رښتیا ښځه او خاوند نه جوړیږي: نو ځکه د هندې د لور سره د فضل احمد نکاح جائز ده

د ښځې په شیدو نکاح نه ماتیږي: خو څښل یې حرام دي

سوال: د ورځپاڼې جنګ د جمعې ورځې مضمون کې ستا نه یو سوال شوی ؤ چې یو خاوند په بې خبرۍ کې د خپلې ښځې د شیدو نه چای جوړې کړې او تولو وڅښلې: نو یو سړي فتوی ورکړه چې د ښځې خاوند نکاح ماته شوه، د هغې په ځواب کې تاسو وویل: چې د ښځې شیدو سره حرمت هغه وخت ثابتیږي چې ماشوم د دوه کالو په عمر کې دننه څښلې وي او ښځه رضاعي مور جوړیږي، لهذا ددې دواړو نکاح هم هغسې پاتې ده.

مونږ یوه بله لیکنه وکتل چې په هغې کې ستا د ځواب پورې یې ټوکې کړې وې، دا ذهنیت ورکړل شوی چې تا د ښځې د شیدو د حلالېدو فتوی ورکړې ده او ددې خرڅول اخیستل جائز دي او داسې نور...

جواب: دغه لیکنه کې چې کوم ذهنیت ورکول شوی دی هغه غلط دی، د ښځې د شیدو استعمال د چا لپاره هم حلال نه دی، تر دې چې د شیدو څښلو د مودې نه پس خپل ماشوم ته هم ددې د مور شیدې ورکول حرامي دی[۱]. ما چې کومه مسئله لیکلې وه هغه دا ده چې د ښځې شیدو څښلو سره ښځه ددې ماشوم مور جوړیږي او دې شیدو سره هم هغه رشته حرامیږي کومه چې په نسب سره حرامیږي، دا حرمت صرف د رضاعت په موده کې دننه ثابتیږي، که چېرته خدای مه کړه قصدا یا په غلطی سره د لوی عمر سړی د ښځې شیدې وڅښې؛ نو د رضاعت حکم نه ثابتیږي[۲]، ځکه که چېرته په غلطی سره خاوند د خپلې ښځې شیدې وڅښې (څنګه چې د غلطی سره د څښلو سوال شوی ؤ) نو دې سره نکاح نه ماتیږي، ددې دا مطلب نه دی چې د ښځې شیدې څښل حلال دي، دا زه نه ګڼم چې کوم هوښیار سړی زما د ځواب دا مطلب واخلې کوم چې ستا په لیکنه کې تېر شو، خلاصه دا چې د ښځې شیدې څښل حرام دي مګر دې سره نکاح نه ماتیږي.[۳]

...بقیه د تیرمخ] قتل الخراصون، وقال علیه الصلاة والسلام: الکذب مع الفجور وهما فی النار. (شامی/ ٤٢٧/٦/ باب الاستبراء وغیره/ فصل فی البیع)۔

[۱] ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمی والانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح، شرح الوهبانیة. (درمختار/ ۳/ ۲۱۱/ باب الرضاع/ طبع سعید)۔

[۲] (هو) لغة وشرعاً (مص من ثدی آدمیة) خرج بها الرجل والبهیمة فی وقت مخصوص وذٰلک انه بعد المدة لا یسمی رضیعاً نص علیه فی العنایة وهو حولان. (شامی/ ۳/ ۲۰۹/ باب الرضاع)۔

[۳] مص رجل ثدی زوجته لم تحرم. (درمختار/ ۳/ ۲۲۵) ایضاً: ولم یبح...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

په پس خوردې خوړلو سره نكاح نه ماتيږي

سوال: د يوې مور شيدې ښنبلونكي ته خو په شيدو كې شريک وايي، ليكن دلته ځينې خلكو نه دا هم اوريدل كيږي چې ښځه خاوند په يوه پياله كې د يو بل پس خورده شيدې وڅښي؛ نو نكاح يې ماتيږي، آيا هلک او نجلۍ شيدو كې شريک خور ورور جوړيږي؟

جواب: د كومو شيدو ښنبلو سره چې نكاح حراميږي هغه كه ماشوم د دوه كالو په عمر كې دننه وڅښي، د لوى عمر سړو په منځ كې حرمت نه ثابتيږي[۱]؛ نو ځكه د عوامو دا خيال بالكل غلط دى چې د ښځې خاوند د يو بل پس خورده خوړلو يا ښنبلو سره نكاح ماتيږي.

د ښځې او خاوند درې څلور مياشتې لرې والي له وجې نكاح نه فاسديږي

سوال: د يوې نجلۍ نكاح په اوه كلنۍ كې شوې وه، اوس ددې د نكاح شپاړس كاله تېر شوي دي، د نجلۍ د بالغېدو اته نهه كاله وشو، نجلۍ تر اوسه د خپل خاوند كور ته نه ده تللې، د ځينې كورني مشكلاتو له امله خفګان منځ ته راغلى چې د كلي مشرانو د نجلۍ مور او پلار سره خوشحاله كړه او وې ويل: چې نجلۍ د هلک سره د هغې خسرګنۍ ته ولېږئ؛ كله چې به يې نجلۍ تياره كړه؛ نو هلک او د هلک پلار به نجلۍ پرېښوده او لاړو به، دا كيسه درې ځله تكرار شوه تر دې چې اوس نجلۍ د تلو نه انكار كوي، د نجلۍ كور والو د دوه نورو مشرانو په ذريعه امر وكړ چې د هلک په كورنۍ يې هيڅ اغېزه ونه كړه، مونږ د ډېرو ملايانو نه معلومات وكړه چې په هغې باندې ځينو ويل: كه چېرته ښځه او خاوند درې يا څلور مياشتې ملاو نه شي نو نكاح يې فاسديږي.

جواب: د ښځې او خاوند درې څلور مياشتې جدا اوسېدو سره نكاح نه فسخه كيږي، تر څو پورې چې يې طلاق نه وي وركړى، ستا په مسئله كې چې كله هلک او نجلۍ دواړه د كور د ابادۍ لپاره تيار نه دي؛ نو په هلک باندې فرض دي چې هغه دا په طلاق وركولو سره جدا كړي، دا غريبه بې وجې په نكاح كې ساتل ناجائز او ګناه ده[۲]، او د كلي مشرانو ته هم پكار دي چې هلک په طلاق وركولو مجبور كړي.

...بقيه د تېرمخ] الارضاع بعد مدته لانه جزء آدمي والانتفاع به لغير ضرورة حرام على الصحيح، شرح الوهبانية. (درمختار/ ۳/ ۲۱۱/ باب الرضاع)۔

۱] ايضاً.)۔

۲]ويجب لوفات الامساک بالمعروف. الدرالمختار/ ۳/ ۲۲۹/ كتاب الطلاق) ايضاً: قال تعالى: ''فلا تميلوا كلّ الميل فتذروها كالمعلقة'' (النساء: ۱۲۹)۔

د ښځې خاوند په جدا اوسېدو سره نکاح نه ماتېږي
ترڅو پورې چې خاوند طلاق نه وي ورکړی

سوال: د نکاح ماتېدلو صورتونه کوم- کوم دي؟ آیا په هغه صورتونو کې دا هم شامل دي چې ښځه د خاوند نه تر اوږدې مودې پورې (څلور پنځه کاله) یا ددېنه هم زیات جدا والی اختیار کړي، د خاوند د راضي کولو باوجود د هغه کور ته رانه شي، خاوند ددې پالنه هم نه کوي او په دې دوران کې د خط رابطه هم نه وي؛ نو آیا نکاح به ختمیږي؟ که نکاح به اوس هم په خپل حال پاتې وي؟

جواب: که چېرته خاوند طلاق نه وي ورکړی؛ نو د ښځې خاوند په جدا اوسېدلو سره نکاح نه ختمیږي.

څلور کاله د خاوند لیرې اوسېدو له وجې نکاح نه ده ماته شوې

سوال: زما د مشر ورور د مسافرۍ تقریباً څلور کاله تېر شو چې د هغې په وجه مونږ پوره خفه یو. په داسې حال کې چې ورېندار مې د څلورو کالو راهیسې د مور په کور کې ده. آیا په دې څلورو کالو کې نکاح ماته شوه؟ او آیا زما ورېندار دویمه نکاح کولی شي؟

جواب: دې سره نکاح نه ماتیږي، نه ستا ورېندار دویم ځای نکاح کولی شي، ددې تدبیر دا دی چې ښځه دي مسلمان عدالت ته رجوع وکړي، د خپلې نکاح او خاوند د ورکېدو شاهدي دي ورکړي، عدالت دي دې ته تر څلورو کالو پورې د انتظار کولو وخت ورکړي، په دې موده کې دي عدالت ددې د خاوند تلاش وکړي، که چېرته په دې موده کې ددې د خاوند څه پته ونه لګیږي؛ نو عدالت دي ددې د خاوند د مرګ پرېکړه وکړي، ددې پرېکړې نه پس دي ښځه د خپل خاوند د مرګ عدت (۱۳۰ ورځې) تیري کړي، عدت ختمیدو نه پس ښځه دویم ځای نکاح کولی شي.

نوټ: که عدالت محسوس کړي چې څلور کاله نور د انتظار کولو ضرورت نشته؛ نو ددې نه کمه موده هم ټاکلی شي، په هر حال تر څو چې عدالت ددې د خاوند د مرګ پرېکړه نه وي کړې، ددې پرېکړې نه پس هم ښځه ۱۳۰ ورځې عدت تېرولو وروسته دویم ځای نکاح نه شي کولی. [۱]

---

[۱] ولا یفرق بینه وبینها ولو بعد مضی اربع سنین خلافاً لمالک فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنین.(شامی٤/۲۹٥)تفصیل دپاره اوګوری:الحیلة الناجزة للحلیلة العاجزة،ص٥۹، طبع دارالاشاعت کراچی)

خاوند ته ورور ویلو سره نکاح نه ماتیږي

سوال: کومه واده شوې نجلۍ چې د هغې دوه بچي هم وي، د خپل خاوند ټول خاندان پېژندلو سره هم که چېرته هغه ته ورور ووايي او دا ووايي چې زه طلاق غواړم، ده سره زما هيڅ رشته نشته؛ نو آيا نکاح باقي پاتې کيږي؟ حال دا چې نجلۍ په يو صورت هم د خپلې خسرګنۍ کره د تللو لپاره تياره نه ده.

جواب: د نجلۍ په دې الفاظو سره خو طلاق نه واقع کيږي[۱]، تر څو چې خاوند دې ته طلاق ورنه کړي او که چېرته هغه د خپل خاوند کره تلل نه غواړي؛ نو خلع کولی شي.[۲]

د بل ښځه يې خپله ښکاره کړه نو په نکاح يې څه اثر نه پرېوځي

سوال: منظور او سليم په خپل منځ کې ملګري دي، دواړه په سعودي عرب کې د ډېر وخت راهيسي اوسيږي، د منظور د ښځې اقامه (د اوسېدو اجازه) نشته، د سليم ښځه اقامه (اجازه) لري، سليم خپله ښځه مکې مکرمې ته د عمرې لپاره بوتلل غواړي، په لاره کې د پوليسو د پوستې (چوکۍ) له وجې منظور خپل ملګري سليم ته لاړ چې وروره! ستا د ښځې اقامه شته، لهذا تاسو زه او زما ښځه د عمرې لپاره له ځانه سره بوځئ! سليم، منظور او د هغه ښځې په خپل موټر کې مکې مکرمې ته بوځي، په لاره کې چې کله پوستې ته نژدې شو؛ نو منظور خپلې ښځې ته د احرام په حالت کې د پردې حکم کوي، پوليس د منظور د ښځې په اړه وايي چې: ددې اقامه څه شوه؟ سليم د پوستې تيرېدلو لپاره دا الفاظ وويل چې دا زما ښځه ده، اوس د مسئلې پوښتنه دا ده چې په اصل کې خو ښځه د منظور وه اوس د منظور د ښځې شرعي حکم څه دی او د احرام په حالت کې چې د پردې کوم حکم ورکړل شوی دی، په دې باندې به دم واجب وي او که نه؟

جواب: په دې سره خو په نکاح باندې څه اثر نه پرېوځي، البته د دروغو ګناه يې شته او هغه هم د احرام په حالت کې[۳]، د احرام په حالت کې ښځې ته په مخ باندې نقاب اچول ناجائز دي؛ مګر پرده ضروري ده، د نامحرمو سرو نه جامو سره يا په بل شي سره په داسې طريقه پرده کول

۱] لان الطلاق لا يكون من النساء. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ۳/ ۱۹۰/ باب نكاح الكافر)۔

۲] وفى القهستانى عن شرح الطحاوى: السنة اذا وقع بين الزوجين اختلاف ان يجتمع اهلهما ليصلحوا بينهما، فان لم يصلحا جاز الطلاق والخلع. (شامى/ ۳/ ٤٤١/ باب الخلع)۔

۳] لان عين الكذب حرام، قلت وهو الحق قال تعالى: قتل الخراصون، وقال عليه الصلاة والسلام: الكذب مع الفجور وهما فى النار. (شامى/ ٦/ ٤٢٧/ باب الاستبراء وغيره/ فصل فى البيع)۔

چې جامه مخ سره ونه لګېږي[۱] او که چېرته ښځې د احرام په حالت کې د لږ وخت لپاره مخ پټ کړ: نو په دې باندې صدقه لازمیږي.[۲]

د شلو کالو راهیسې د ښځې حقوق نه ادا کولو سره نکاح باندې څه اثر نه کیږي

سوال: زما یوه ښځه په هندوستان کې ده. حال دا چې زه په پاکستان کې اوسېږم او په تېر شوي شل کالو کې ما د ښځې حقوق نه دي ادا کړي. اوس زما ښځه پاکستان ته راځي. آیا مونږ اوس هم ښځه او خاوند یو؟

جواب: که تا هغې ته طلاق نه وي ورکړی؛ نونکاح پاتې ده،د دوباره نکاح کولو هیڅ اړتیا نشته.

خاوند ته د ښځې دا وینا: ته مې له سپي زیات بد راځې

سوال: که چېرته ښځه خاوند ته ووایي: چې ته په ما باندې د سپي نه هم زیات بد لګېږې؛ نو په نکاح کې څه فرق راځي او که نه؟.

جواب: د ښځې په داسې الفاظو نکاح نه ماتیږي: خو هغه ګناه ګاره شوه، داسې الفاظو نه توبه ویستل پکار ده.[۳]

په شلو ماشوما نو پیدا کېدو سره نکاح نه ماتیږي

سوال: زمونږ خواته د ځینو ښځو وینا ده: که چېرته د کومې ښځې شل ماشومان پیدا شي؛ نو ددې د خپل خاوند سره نکاح ماتیږي، ایا دا شرعي مسئله ده؟ زه زیاتره وخت داسې خبرې اورم؛ خو دا چې په شرعي مسئلو کې مهارت نه لرم؛ نو له چا سره پرې زیات بحث نه کوم.

جواب: دا د ښځو بې بنسټه خبرې دي، هیڅ اعتبار نه لري.[۴]

وړې لور ته لاس لګولو سره حرمت نه ثابتیږي

سوال: یو سړی د خپلې ښځې سره ویده ؤ چې هغه خپل لاس د ښځې د نامه لاندې ایښی ؤ،

۱]انما لا تغطي وجهها اجماعاً اه ای وانما تستتر وجهها عن الاجانب باسدال شيء متجاف لا يمس الوجه....الخ. (شامی/ ۲/ ۴۸۸/ کتاب الحج، مطلب فيما يحرم بالاحرام وما لا يحرم)۔

۲] لكن فی تغطية كل الوجه او الراس يوماً او ليلة دم والربع منهما كالكل وفی الاقل من يوم او من الربع صدقة.....الخ. (شامی/ ۲/ ۴۸۸/ کتاب الحج، مطلب فيما يحرم بالاحرام وما لا يحرم)۔

۳] عن عبدالله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسق....الخ. (بخاری/ ۲/ ۸۹۳)۔

۴] فتاويٰ دارالعلوم ديوبند مدلل، کتاب الطلاق/ ۱۰/ ۱۲۵)۔

په همدې حالت کې ورته خوب راغلو او د شپې په وخت کې ښځه پاځېده، په بل کټ باندې ویده شوه، په همدې مهال دده وړه لور چې عمر یې درې څلور کاله دی هغه راغله او د خپل پلار سره ویده شوه؛ نو هغه په لور د نامه لاندې لاس راغلو؛ خو دا چې زر پوه شو: نو خپل لاس یې نور لرې کړ؛ خو ډېر شرمنده شو په ده باندې ښځه حرامه ده او که حلاله؟

جواب: درې څلور کالو لور ته لاس لګولو سره حرمت نه ثابتیږي، ځکه چې په دې باندې خو اتفاق دی چې پنځو کالوپورې ماشومې ته په شهوت سره لاس لګولو حرمت نه ثابتیږي او په دې هم اتفاق دی چې نهه کاله یا ددېنه زیات عمر والا نجلۍ ته شهوت سره لاس لګولو سره حرمت ثابتیږي، د پنځو کالو نه تر نهو کالو پورې د ماشومې په باره کې اختلاف دی، مګر زیات صحیح قول دا دی چې حرمت نه ثابتیږي. (کذا فی البحر)[1]

د حرمت مصاهرت لپاره د خوند (شهوت) اندازه

سوال: د دین عالمان ددې مسئلې په اړه څه وایي چې کله یو سړی یوې ښځې ته په خوند لاس وروړي؛ خو هغه مخکې په خوند کې نه وي، بیا هغه د یو عالم نه پوښتنه وکړه، هغه ورته وویل: که چیرې مخکې خوند (شهوت) وي؛ نو د شهوت زیاتېدل شرط دي، هغه کس ورته وویل: چې زه به هغه مذهب غوره کړم چې په هغې کې حرمت مصاهرت د ګوتې وړو په وجه نه ثابتیږي. تقریباً یو کال تېر شو؛ نو هغه کس په هدایه ثاني اوشرح وقایه کې خپله په واضح ډول وکتل چې هغه شهوت معتبر دی د کوم په وجه چې د تشو متیازو آله (ذکر) په خوند کې راشي، که چیرې ذکر د مخکې نه په خوند کې وي؛ نو د ګوتې وړلو په وجه انتشار زیات شو، اوس هغه غور وکړ چې ګوتو وړلو په وجه انتشار زیات شوی او که نه؟ نو د هغه شک شو او مخکې یې کنزالدقائق کې صرف دومره وکتل چې شهوت سره ګوتې وړلو په وجه حرمت مصاهرت ثابتیږي، دا ورته نه وه معلومه چې شهوت سره د ګوتو وړلو تعریف څه دی؟

زما په ذهن کې صرف دا ؤ چې د شهوت ګوتې وړل صرف هغه دي، د کومې په وجه چې مذي وځي، بیا مې د یو عالم نه پوښتنه وکړه: که چیرې مخکې شهوت موجود وي؟ نو هغه وویل: که بیا شهوت زیات شي؛ نواوس د هدایه ثاني لوستلو وروسته معلومه شوه چې د شهوت په وجه د ګوتو وړلو تعریف دا دی او ددې تعریف معلومېدو نه پس چې اوس غور کوم؛ نو شک پیدا کیږي، اوس ددې شک اعتبار وکړم او که نه؟

---

[1] قال فی المعراج: بنت خمس لاتکون مشتهاة اتفاقاً، وبنت تسع فصاعداً مشتهاة اتفاقاً، وفیما بین الخمس والتسع اختلاف الروایة والمشائخ، والاصح انها لا تثبت الحرمة. (البحرالرائق/ کتاب النکاح/ ۳/ ۱۰۶/ طبع بیروت)

ایا په دې صورت کې واده کول جائز دي او که نه، عالمانو رانه دا پوښتنه هم ونه کړه چې تاته د شهوت په وجه د ګوتو وړو تعریف معلوم دی؟ او اوس چې غور کوم نو شک مې پیدا کیږي

سوال: ۲ که چیرې د شک اعتبار وکړی شي؛ نو هغه د ښځې نه څنګه پوښتنه وکړي چې د هغې شهوت پیدا شوی ؤ او که نه؟ د ښځې د شهوت اعتبار به وي او که نه؟

سوال: ۳ که په بل مذهب باندې عمل وکړي؛ نو ایا دا صحیح دي او که نه؟ حال دا چې ټول مذهبونه حق دي، باید کومه لار اختیار کړو؟

جواب: ۱ "دع ما یریبک الی مالا یریبک" [۱]

د نبي کریم ﷺ حدیث دی.

کله چې د شهوت په وجود باندې یقین دی او د شهوت زیاتولو کې شک وي؛ نو د حلال او حرام په منځ کې شک شو، شکي شی پرېښودل هم هغه شان واجب دی لکه څرنګه چې حرام دی. [۲]

ددې نه پرته غوره دا ده چې د آلې انتشار به هم د وړو ګوتو په وجه شوی وي او د وړو ګوتو په وجه زیاتی هم امکان لري، په دیکښې به د حرمت فتوی وي.

جواب: ۲ څلور واړه مذهبونه حق دي؛ خو د نفس د خواهش په وجه د یو مذهب لپاره بل مذهب پرېښودل حرام دي[۳]، دې باندې د مذهبونو امامان متفق دي، په دې صورت کې د مذهب بدلولو اجازه نشته. هذا ماظهر لي والله أعلم بالصواب!

۱] مشکوٰة/ ۲۴۲/ باب الکسب وطلب الحلال، طبع قدیمی)۔

۲] اذا اجتمع الحلال والحرام غلب الحرام. الاشباه والنظائر/ ۱/ ۱۴۴/ طبع ادارة القرآن)۔

۳] اما انتقال غیره من غیر دلیل بل لما یرغب من عرض الدنیا وشهوتها فهو المذموم الآثم المستوجب للتادیب والتعزیر لارتکابه المنکر فی الدین واستخفافه بدینه ومذهبه. (ردالمحتار/ ٤/ ۸۰/ باب التعزیر)۔

[د واده مسئلې]

د کورنه د لرې اوسېدلو موده

سوال: موږ دلته د یو کال راهیسې په پردي هېواد کې اوسېږو، اسلام راته د ښځې نه لرې اوسېدلو لپاره څومره موده اجازه راکوي؟

جواب: حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د مجاهدینو لپاره دا حکم کړی ؤ چې هغوی دي د څلورو میاشتو نه زیاته مسافري نه کوي، کوم خلک چې د ګټې لپاره بهر هېوادونو ته لاړ شي او ځوانانې ښځې شاته پرېږدي، هغوی ډېره بې انصافي کوي، بیا ځیني خلک خو د ظلم دپاسه ظلم دا کوي چې خپلو ښځو ته حکم کوي چې د دوی د مور- پلار او وروڼو خویندو خدمت به کوي، هغه بې چاره ګانې په عذاب کې اخته کړي، د خاوند جدایي او د هغه د کورنۍ بې عزته رویه او ځینې دا ظلم هم کوي چې بهر هېواد ته رسېدو سره سمدستي هلته بل واده وکړي، ددې نتیجه بیا دا وي چې ځینې وخت کور خراب شي، که چېرته دا بې ژبه ښځه هم داسې دلته پرېښودل ؤ؛ نو دې سره د نکاح کولو څه ضرورت ؤ؟ [1]

د نجلۍ د نکاح لپاره د پیسو غوښتونکو مورپلار شرعي حکم

سوال: د شریعت حکم څه دی چې مور- پلار د نجلۍ د نکاح لپاره د هلک نه پیسې غواړي؟ څنګه چې د پاکستان په ځینو برخو کې داسې رواج دی.

جواب: که چېرته د نجلۍ مور- پلار غریب وي او په نکاح کې د مرستې په لپاره د هلک له کورنۍ څه مرسته وغواړي؛ نو هیڅ خبره نشته، کنه نو نکاح کې صرف مهر اخیستل جائز دي، ددې نه علاوه هر ډول روپۍ اخیستل درست نه دي[2] او د مهر یا زېوراتو وغیره اخیستل نه اخیستل هم د ښځې خوښه وي[3] مور پلار یې د وصولۍ حق نه لري، تر څو پورې چې نجلۍ مور- پلار ته هبه کړې نه وي[4]، باقي د مور- پلار لپاره د نجلۍ په سر رشوت اخیستل د

۱] ان عمر رضی الله عنه لما سمع فی اللیل امراة تقول: فوالله لو لا الله تخشی عواقبه، تزحزح من هٰذا السریر جوانبه. فسال عنها، فاذا زوجها فی الجهاد، فسال بنته حفصة رضی الله عنها: کم تصبر المرأة عن الرجل؟ فقالت: اربعة اشهر! فامرامراء الاجناد ان لایتخلف المتزوج عن اهله اکثرمنها.(شامی/ ۳/ ۲۰۳/باب القسم)

۲]اخذ اهل المراة شیئاً عند التسلیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة ای بان الجا ان یسلمها اخوها او نحوه حق یاخذ شیئاً. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ کتاب النکاح، قبیل مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة/ ۳/۱۵۶)

۳]لان المهر حقها. (هدایة/ ۲/ ۳۲۵) ایضاً: المختار للفتویٰ ان یحکم بکون الجهاز ملکاً لا عاریة. (شامی/ ۳/ ۱۵۷/ باب المهر، مطلب فی دعوی الاب ان الجهاز عاریة)_

٤]عن ابی صالح قال: کان الرجل اذا زوج ابنته اخذ صداقها دونها ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

شریعت په رڼا کې ثابت نه دي.

د نجلۍ والو نه د زلمي د جامو په نوم پیسې اخیستل

سوال: د ځینو خلکو په واده کې یو رسم دی چې هلک والا به د نجلۍ کورنۍ نه د زلمي د جامو په نوم دوه - څلور زره یا لس - شل زره روپۍ نغدې اخلي، ددې شرعي حکم څه دی؟ ما اوریدلي دي چې حرام دي.

جواب: شریعت د نکاح ټوله خرچه د خاوند په ذمه لازمه کړې ده[۱]، نجلۍ یا نجلۍ والو باندې د خاوند لپاره هیڅ شی هم لازم نه دي، که چېرته څوک په خپله خوښه تحفه یو بل ته ورکوي؛ نو ددې نه یې منع نه ده کړې، تاسو چې د کومو روپو ذکر کړی هغه تحفه نه ده، بلکې په واده کې شرط دی؛ نو ځکه ددې په ناجائز کېدو کې هیڅ شک نشته[۲]، داسې غیر شرعي رواجونه په مختلفو معاشرو کې بېل- بېل دي، مسلمانانو ته پکار دي چې دا ټول غیر شرعي رواجونه ختم کړي.

یو ناوړه رواج

سوال: د واده په پروګرام کې چې کومه ډوډۍ خلکو ته ورکول کیږي هغې ته ولیمه ویل کیږي، ځینې خلک خو ډیرې ورځې پس ولیمه کوي او د هغې ډوډۍ نه پس هغوی د خوراک کونکو نه څه پیسې اخلي، پنځوس یا سل روپۍ د خپل وس مطابق، یا چې څومره یې ورکړي وي هغومره یا د هغې نه ډیري ترې اخلي، داسې ناوړه رواج په دې نیت اخیستل چې زما بیا دده په واده کې د سلو په ځای یو نیم سل دي او ورکونکي یې هم په دې نیت ورکوي چې ماته به بیا ددې نه ډیرې پیسې ملاویږي؛ نو آیا په دې نیت دغه روپۍ اخیستل او ورکول جائز دي او که چیرې د اخیستلو نیت نه وي، صرف ددې لپاره یې ورکړي چې خپلوانو سره تعلق ختم نه شي یا ګاونډیان یې بد ونه ګڼي او د نه اخیستلو په نیت څه پیسې ورکیس چې واده کې برخه واخلي؛ نو آیا دې طریقې سره خوراک کونکي باندې ګناه شته؟ حال دا چې د هغه د واپس اخیستلو هیڅ نیت نه وي.

...بقیه د تیرمخ] فنهاهم الله عن ذلک ونزل: وآتوا النساء صدقٰتهن نحلة، رواه ابن ابي حاتم وابن جریر. (تفسیر ابن کثیر/ ۲ /۱۹۱/ سورة النساء/ طبع رشیدیه کوئته)۔

[۱] ونفقة الغیر تجب علی الغیر باسباب ثلاثة: زوجیة.....فتجب للزوجة بنکاح صحیح.......علی زوجها لانها جزاء الاحتباس. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ۳/ ۵۷۲/ باب النفقة)۔

[۲] ولو اخذ اهل المرأة شیئاً عند التسلیم، فللزوج ان یسترده لانه رشوة. (فتاویٰ عالمګیری، الفصل السادس عشر فی جهاز البنت/ ۱/ ۳۷۱، ایضاً: ردالمحتار، باب المهر/ ۳/ ۵۱۶)۔

جواب: د ښځې او خاوند د کوروالي کولو وروسته په سبا سهار د خپل وس مطابق ولیمه سنت ده[1]. دغه یاد رواج بد ډېر بد رواج دی، په دیکښې ډېرې بدی دي، په دې وجه د واپس اخیستو په نیت بیخي نه دي ورکول پکار. څه چې ورکول غواړئ، د هدیې په نیت یې ورکړئ، د واپسئ نیت او طمع ساتل نه دي پکار.

واده کې د هندوانو رواجونه لمانځل ناجائز دي

سوال: د ډېرې زمانې راهیسې په واده کې یو نه، بلکې په سوونو د هندوانو رواجونه لمانځل کیږي، په دغه رواجونو کې یو رواج دا هم دی چې نجلۍ والو ته سره له معلوماتو چې سرې ته سره زر اچول حرام دی، واده کې ګوتمه هلک ته ورکړي او زلمي ته هغه ګوتمه اچول ضروري وي، ځکه چې د سړي د لاس په ګوتمه کې صرف د سپینو زرو ګوتمه ددې خبرې ننبه ګڼل کیږي چې ددې سړي کوزده شوې ده او د واده نه پس ددې ښودنې لپاره چې اوس یې واده هم شوی دی، زلمې د سرو ګوتمه اچوي، ددېنه علاوه د زلمي په لاسونو باندې نکریزې هم لګوي، مونږ ته ځینې خلک دا وایي: چې په خوشحالۍ کې هر څه جائز دي، آیا رښتیا هم په خوشحالۍ کې هر څه جائز وي؟

جواب: واده کې دا د هندوانو رواجونه لمانځل ناجائز دي، بلکې د ډېرو ګناهونو مجموعه ده[2]، او دا چې په خوشحالۍ کې هر څه جائز دي دا نظریه خو ډېره جاهلانه ده، قطعي حرام حلالول او جائز ویلو سره د کفر وېره ده[3]، ګویا شیطان صرف زمونږ په ګناه ګاره کېدو باندې راضي نه دی، بلکې د هغه خواهش دا دی چې مسلمان ګناه، ګناه ونه ګڼي، د دین حلال او حرام، حرام ونه ګڼي، ددې لپاره چې صرف ګناه ګار نه، بلکې کافر تر دنیا تېر شي، سړي ته سره زر اچول او نکریزې لګول نه په خوشحالۍ کې جائز دي او نه په غم کې[4]، مونږ خلک په

١]اتخذ ولیمة قال ابن الملک تمسک بظاهر من ذهب الی ایجابها والاکثر علی ان الامر للندب قیل انها تکون بعد الدخول وقیل عند العقد وقیل عندهما واستحب اصحاب مالک ان تکون سبعة ایام والمختار انه علی قدر حال الزوج. (مرقاة/ ٣/ ٤٥٠/ باب الولیمة)_

٢]قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم. (مشکوٰة/ ٣٧٥) وعن عمر بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لیس منا من تشبه بغیرنا.....الخ. (مشکوٰة/ ٣٤٠) تفصیل دپاره اوګورئ: بهشتی زیور_حصه ششم_ بیاه کی رسمون کا بیان، ص: ٢٠، ٤٢٩)_

٣]فی البحر ان من اعتقد الحرام حلالاً فان کان حراماً لغیره کمال الغیر لا یکفر وان کان لعینه فان کان دلیله قطعیاً کفر والا فلا وقیل التفصیل فی العالم، اما الجاهل فلا یفرق بین الحرام لعینه ولغیره وانما الفرق فی حقه ان ماکان قطعیًا کفر به والا فلا.....الخ. (ردالمحتار/ ٤/ ٢٢٣/ باب المرتد)_

٤]عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم انه نهی عن خاتم الذهب...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

واده کې د الله تعالی ډیر حکمونه په جرات ماتوو، د همدې نتیجه ده چې داسې واده اخر هم د کور د خرابېدو لامل وګرځي

په واده کې ښځې ته پګړۍ (سهرا) تړل

سوال: څو ورځې مخکې تاسو د یو سوال په ځواب کې لیکلي ؤ چې په واده کې ښځې ته پګړۍ تړل (سهرا چې د هندوانو یو رواج دی او په ودونو کې پلی کیږي) کیږي. د یو صاحب وینا ده چې دا له کوم ځایه شرک شو؟ شرک خو د الله تعالی په ذات او صفاتو کې څوک شریکولو ته وايي، هغه فتوی یې لیکلې راوړه چې په کومه کې دا ثابت شوي ؤ چې دا یو ملکي دود او کلتور دی. فتوی ستاسو په خدمت کې درولېږل شوه، همدا راز د هغوی وینا ده کوم کار چې هندوان کوي که هغه چېرته رواج وي؛ نو هغوی خو ځان ته مخې ته ډوډۍ ږدي او خوري یې: نو آیا ځان ته مخې ته ډوډۍ ایښودل هم د هندوانو رواج شو؟ نبي کریم ﷺ فرمایلي چې: مه درېږئ، لکه څنګه چې هندوان درېږي؛ نو آیا دریدل د هندوانو رواج شو؟ د ښځې پګړۍ تړل هغه وخت د هندوانو رواج دی چې هغه د هندوانو د تقلید په نیت پلی شي، نه دا چې دخپل هېواد دود او کلتور وګڼل شي، تاسو ته مو ددې په اړه د دویمې ډلې فتوی ایښې او ځواب یې مونږ ته راولېږئ!

جواب: تاسو چې د مولانا صاحب کومه فتوی رالیږلې، په هغې کې دا وینا ډېره لیکل شوې: چې په واده کې د ښځې پګړۍ تړل وغیره د مسلمانانو یوه دودیزه کړنه ده چې ترسره کیږي، دا له پخوا راهیسې مسلمانانو کوله؛ خو د یاد مولوي صاحب دا فتوی او د هغه استدلال صحیح نه دی.

اصل کیسه دا ده چې دا رواج د هندوانو ننبه ګڼل کیږي، کوم خلک چې د هندوانو څخه مسلمان شوي دي، هغوی د کم علمی له وجې په ډېرو هندي طریقو عمل کړی[۱]، هم دا وجه ده چې د عالمانو په کورونو کې دا رواجونه نشته؛ نو ځکه دې ته د مسلمانانو دودیز نوم ورکول صحیح نه دي، بلکې له پخوانه د هندوانو دود او د هغوی کلتور دی، نبي کریم ﷺ د پردو قومونو خاص تهذیب او ثقافت خپلولو څخه منع کړې یو پکښې دا دی:

من تشبه بقوم فهو منهم. (مسند احمد ج ۲ص ۵۰)

...بقیه د تیرمخ] (مسلم شریف/ ۲/ ۱۹۵) لان النص حرم الذهب والحریر علی ذکور الامة بلا قید البلوغ.......وفی البحزاخر: ویکره للانسان ان یخضب یدیه ورجلیه......الخ. (شامی/ ٦/ ۳٦۲/ کتاب الحظر والاباحة/ فصل فی اللبس).

[۱] تفصیل دپاره اوګورئ: بهشتی زیور_حصه ششم_ بیاه کی رسموں کا بیان، ص: ۲۰، ۴۲۹)_

ترجمه څوک چې د کوم قوم سره مشابهت کوي هغه هم له هغوی څخه دی.
ددې ځی نه د مولوي صاحب د دلیل خواب هم راوځي چې هندوان ډوډۍ مخې ته ږدي او خوري يې؛ نو آيا دا هم د هندوانو رواج دی؟ جواب دا دی چې خوراک خو ټول مخې ته ږدي او خوري يې؟ نو ځکه دا د هندوانو خاص رواج نه شو. هو که چېرته هندوان په کومه خاصه طريقه خوراک کوي: نو هغه طريقه ضرور د هندوانو رواج دی او د مسلمان ملت لپاره يې خپلول ناجائز دي، هم دغه راز د رېږي خو ټول خلک؛ نو د رېدل د هندوانو رواج نه شو. نبي کريم ﷺ ددې نه منع کړې. د فتاوی رشديه نه چې کومه مسئله نقل شوې د هغې تعلق زمونږ د مسئلې سره هيڅ نشته. هغه مسئله خو د فقه په ټولو کتابونو کې ليکل شوې، چې د سپينو زرو ګوتمه سړي ته د څلورو ګوتو پورې جائز ده، ددې نه زيات ناجائز ده[۱]، د ياد سړي دا وينا چې د ښځې خاص پګړۍ هم ددې شيانو له ډلې څخه ده، هر کله چې دا جائز شو؛ نو د ښځې دغه پګړۍ (سهرا) هم جائزه شوه، دا داسې دليل دی چې يو سړي وړاندې کړی ؤ چې د انګورو پاکې اوبه حلالې، شربت يې هم حلال، کله چې ددې په ملاوېدو سره شراب جوړ شي؛ نو هغه هم حلالېدل پکار دي، ددې نه دا څرنګه لازم شوه چې د هندوانو رواجونه لمانځل هم جائز دي.

په کوم واده کې چې ډول غږيږي په هغې کې شريکېدل

سوال: په يو واده کې ډول غږيږي او واده والا د خوراک انتظام هم کوي چې هغې ته د خيرات نوم ورکوي، آيا د ډول له وجې دا خوراک حرام شو او که جائز؟

جواب: په کوم واده کې چې د ګناه کار کيږي، که چېرته د تلو نه مخکې خبر شو؛ نو په داسې دعوت کې شرکت کول ناجائز دي، کوم خوراک چې حلال وي؛ نو ډول سره نه حراميږي، ليکن ددې خوراک لپاره تلل او خوړل يې ناجائز دي.[۲]

د ښځې د رخصتولو پر مهال د قرآن سيورۍ کول

سوال: نن سبا په دې اسلامي معاشره کې څو ډېرې غلطې او د هندوانو رواجونه پيل شوي دي، هغه وخت زيات افسوس وي چې کله کوم رواج د اجر او ثواب ګڼلو لپاره وشي، مثلاً د

---

[۱] وكذا المنسوج بذهب يحل اذا كان هٰذا المقدار اربع اصابع والا لا يحل للرجل......الخ. وفى الشامية: وفى القنية لا باس بالعلم المنسوج للذهب للنساء فاما للرجال فقدر اربع اصابع وما فوقه يكره.(شامى/ ٦/ ٣٥٢)

[۲] من دعى الى الوليمة فوجد ثمه لعبا او غناء فلا باس ان يقعد وياكل فان قدر على المنع يمنعهم وان لم يقدر يصبر وهٰذا اذا لم يكن مقتدى به اما اذا كان ولم يقدر على منعهم فانه يخرج ولا يقعد ولو كان ذٰلک على المائدة لا ينبغى ان يقعد وان لم يكن مقتدى به وهٰذا كله بعد الحضور واما اذا علم قبل الحضور فلا يحضر لانه لا يلزمه حق الدعوة......الخ. (عالمگيرى/ ٥/ ٣٤٣/ الباب الثانى عشر فى الهدايا والضيافات)۔

نجلۍ د رخصتۍ پر وخت د هغې په سر د قرآن سیوری کول. حال دا چې ددې قرآن لاندې نجلۍ (ناوې) چې په کوم حالت کې وي. ښکاره خبره ده چې د قرآن د آیتونه خلاف ورزي کیږي، یعنې ځان ډول او سنګار یې کړی وي، په نامحرم سړي یې نظر لګیږي. عکسونه اخیستل کیږي، که چېرته نجلۍ وایي چې داسې صحیح نه ده بلکې پرده لازمي ده چې په دې قرآن کې یې هم لیکلي دي چې د کوم سیوری په دې شوی دی: نوهغې ته خلک (قدامت پسنده) وایي او که چېرته ووایي چې بیا د قرآن سیوری مه کوه؛ نو هغې ته ګمراه وایي. تاسو د قرآن او سنتو په رڼا کې ولیکئ چې د ناوې داسې د قرآن تر سیوري لاندې رخصتول د نامحرمو وړاندې څه حکم لري؟ آیا قرآن صرف ددې لپاره نازل شوی چې د هغې سیوری کوو! اګر که په خپلو عملونو سره دا آیتونه تر خپلو قدمونو لاندې کوي

جواب: ناوې باندې د قرآن کریم سیوری کول محض یو رواج دی، ددې هیڅ شرعي ثبوت نشته. ناوې تیارول او نامحرمو ته ښودل حرام دي[۱]، او د نامحرمو په محفل کې په هغې باندې د قرآن سیوری کول د قرآن کریم د حکمونو پیمالول دي، لکه څنګه چې تاسو لیکلي.

د حاملې ښځې سره کوروالی کول

سوال: آیا یو سړی د خپلې حاملې ښځې سره کوروالی (صحبت) کولی شي؟

جواب: شرعاً جائز ده، لیکن په ځینو صورتونو کې طبي توګه ښځې ته زیان رسیږي. ددې لپاره حکیم او ډاکټرانو سره مشوره وکړئ![۲]

د دوه اخترونو تر منځ واده کول

سوال: ځینې بزرګان وایي چې د دوه اخترونو تر منځ نکاح کول صحیح نه دي؛ نو څکه د وړوکي اختر نه مخکې او د لوی اختر وروسته واده کول پکار دی، که چېرته د دواړو اخترونو په منځ کې نکاح وشي؛ نو واده به ناکامه وي؟

جواب: دا بزرګان غلط وایي، د حضرت عایشې رضي الله عنها واده په شوال کې شوی ؤ، ددېنه زیات کامیابه واده د چا کېدی شي؟[۳]

ایا د اړتیا پر مهال د حمل لرې کول جائز دي؟

سوال: د دین عالمان او مفتیان د لاندې مسئلې په اړه څه فرمایي چې کله د واده شوي ښځې

---

[۱] "یٰأیها النبی قُل لازواجک وبناتک ونساء المؤمنین یدنین علیهن من جلابیبهن" (سورة:۳۳، الاحزاب: ۵۹)

[۲] ولو تضررت من کثرة جماعه لم تجز الزیادة علی قدر طاقتها......الخ. (درمختار/ ۳/ ۲۰۳)۔

[۳] نکح النبی صلی الله علیه وسلم من عائشة رضی الله عنها فی شوال(اصح السیر ۶۱۵/ سیرة مصطفیٰ/ ۲/ ۳۹۰)

ماشومان زيات شي او د بچو تربيه سمه نه شي کولای، آيا داسې ښځه د اپريشن په ذريعه يا کومې دوايي په ذريعه حمل لرې کولی شي؟ که ښځه همېش ناروغه وي يا کمزورې وي آيا په دې صورتونو کې حمل لرې کول جائز؟ د قرآن او سنتو په رڼا کې خواب راکړئ.

جواب: حمل چې کله د څلورو مياشتو شي؛ نو په هغې کې روح واچول شي. ددې نه پس د حمل غورځول حرام دي، چې د هغې له وجې به د پوره قتل گناه وي[۱]. ددې نه مخکې که د کومې مجبورۍ له وجې وشي؛ نو اګر چې جائز دی[۲] خو بغير د کومې سختې مجبورۍ نه مکروه دی.[۳]

د واده په ذريعه د مسلمانو ځوانانو د مرتد کولو چل

سوال: څه فرمايي علماء کرام ددې مسئلې په اړه چې:

۱: يو بالغ ځوان په خپله خوښه د يوې ځوانې قادياني نجلۍ سره واده کول غواړي، نجلۍ په پټه د مسلمانېدو دعوه کوي، داسې چې د نجلۍ مورپلار او کورنۍ يې د مسلمانېدو خبر نه شي.

۲: د نجلۍ مور پلار د ځوان نه په احمدي طريقه نکاح کول غواړي او وروسته بيا په اسلامي طريقه هم نکاح کولو ته تيار دي.

۳ د مسلمان ځوان اصرار دی چې د نجلۍ مور پلار دي په احمدي طريقه نکاح وکړي مونږ به يې په اسلامي طريقه وکړو.

۴: په دې صورتونو کې کوم صورت شرعي حکم لري؟ آيا په دواړو طريقو نکاح جائز ده؟ آيا دا طريقه په شريعت کې جائز ده؟

د قاديانانو د نکاح خط د ليږل شوي فوتو کاپي نه ښکاره ده چې قادياني طريقه کې د هلک له طرفه د هغه د پلار شرکت لازمي دی او دوه شاهدان هم ضروري دي، آيا د هلک پلار او شاهدان همدا راز د هلک ورور خور مور او نور خپلوان د قادياني طريقې نکاح کې شرکت کولو سره د دوی دين، ايمان او اسلام په خپل زور حال باندې وي؟ همدا راز د راتلونکي ژوند طريقه به څنګه پوره کوي؟ د نکاح لپاره د تيارونکي ځوان او د مور- پلار د آئنده تعلقاتو شرعي طريقه څه ده؟ د باقي اولاد او خاندان د افرادو پاتې ژوند کې مذکوره خلکو سره هم د کاروباري ژوند تعلقات به په کوم بنياد ساتل کيږي؟ ټولو متعلقه امورو باندې په تفصيل سره

---

[۱] وان اسقطت ميتا ففي السقط غرة لوالده من عاقل الام تحضر.....الخ. وفي الشرح: اى بعلاج او شرب دواء تتعمدبه الاسقاط، اما اذا القته حيا ثم مات فعلى عاقلتها الدية فى ثلاث سنين...الخ. (شامى/ ٦/ ٤٢٩)

[۲] يباح اسقاط الولد قبل اربعة اشهر. (درمختار/ ٣/ ١٧٦). ويخاف هلاک الولد قالوا يباح لها.....وقدروا تلک المدة بماة وعشرين يوما.......الخ. (شامى/ ٦/ ٤٢٩/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۳] فاباحة الاسقاط محمولة على حالة العذر او انها لا تأثم اثم القتل. (شامى/ ٣/ ١٧٦)۔

د شرعي تفصيلاتو نه مو خبر کړئ!

جواب: د سوال په ۲ جزء کې ذکر شوي چې د نجلۍ مور او پلار د هلک نه په خپله احمدي طريقه نکاح کول غواړي او په ۳ نمبر کې يې ليکلي چې مسلمان خوان هم احمدي طريقې ته تيار دی، دا چې وروسته به په اسلامي طريقه نکاح وکړو، کتل پکار دي چې په احمدي طريقه نکاح څنګه ده؟ تاسو چې د قاديانانو د نکاح فارم راليږلی دی، د هغې په اتم نمبر باندې د امير د تصديق د عنوان لاندې دا عبارت دی: نوم .... (دلته د زلمي نوم ليکل کيږي) زېږدنه .... احمدي دی يا .... د فلانکي تاريخ او کال راپه دېخوا احمدي شوی.

ددې مطلب دا دی چې قادياني کله چا ته خپله لور ورکوي؛ نو مخکې د هلک نه د هغه د قادياني کېدو اقرار اخلي، او دهغوی امير ددې امر تصديق کوي چې هو! دا هلک پيدايشي قادياني دی او د فلاني وخت څخه قادياني راروان دی.

ګويا يو مسلمان هلک ته د قاديانانو نجلۍ په دې شرط ورکول کيږي چې هلک پيدايشي قادياني وي يا د فلانکي وخت څخه قادياني راروان دی، د قاديانانو ذمه دار افراد دده د قادياني کېدو پوره تصديق کوي، ددېنه واضحه شوه چې د قاديانانو کوم مسلمان ته نجلۍ ورکول په اصل کې د هغه د قادياني جوړولو يو چل دی، دا مسلمان ځوان چې کله د قاديانانو په فارم باندې د هغوی په طريقه نکاح وکړي؛ نو تاسو ووايئ چې ايا دده ايمان اوس هم پاتې شو؟[1]

پرته له دې چې د قاديانانو په دعوت او تبليغ پابندي ده؛ نو ځکه قاديانانو د يو پټ پروګرام چلولو اړوند د مسلمانو ځوانانو ته د قادياني جينکو په جال کې بندول مطلب دي؛ نو د همدې له امله کله چې د قاديانانو نجلۍ ښکاره د مسلمانېدو اعلان نه وي کړی او خپل زوړ قادياني مذهب او د خپل مور پلار او خپلوانو سره يې رشته نه وي پرې اينبې؛ نو د کوم ځوان مسلمان لپاره د هغې په جال کې بندېدل نه دي پکار، هلک او د هلک مور- پلار او نورو خپلوانو ته په داسې نکاح کې شرکت کول ناجائز دی چې د هغې له وجې د ايمان د ختمېدو وېره ده.

د قادياني نجلۍ دا وعده چې هغه به د نکاح نه پس يا د نکاح نه مخکې په پټه طريقه مسلمانه شي، ددې معنی دا ده چې هغه به په پټه طريقه د مسلمانېدو د وعدې باوجود ښکاره قادياني وي، دا هم د قاديانانو يوه جوړه دسيسه ده چې د هغې په وجه هغوی غواړي ساده ځوانان په خپل دام کې ګېر کړي، دا چې د نکاح نه پس هلک به هغوی د هلک د قادياني جوړولو په مزه - مزه کوششونه کوي، که چېرته هغه قادياني شو (څنګه چې زياتره وخت داسې

---

[1] اذا رای منکراً معلوماً من الدين بالضرورة فلم ينکره ولم يکرهه ورضی به واستحسنه کان کافراً. (مرقاة/ ۵/ ۳/ باب الامر بالمعروف/ طبع بمبئی)۔

شوي) نو د قادیانانو هدف پوره شو او که چېرته هلک قادیاني نه شي: نو د قادیانانو له طرفه دی د انتقام نښه وګرځېدله چې په هغې کې دا نجلۍ پوره - پوره مرسته کوي او هلک ته په داسې ناڅاپي مصیبت کې ننګېدل چې د هغې نه په ټول عمر کې بیا نه شي وتلی. زما مخې ته ددې ډېری بېلګې دي، ځکه د کوم مسلمان خوان لپاره د قادیاني نجلۍ په عشق کې اخته کېدو سره د خپل ایمان بربادول نه دي پکار او د نجلۍ په دې نا مناسبه وعده چې هغه به په پټه طریقه مسلمانه شي، قطعاً اعتماد نه دی کول پکار.[۱]

د دوه هلکانو یا دوه جینکو یوځای واده نه کول

سوال: د جنتي کالي ټولې مسئلې صحیح دي په یو ځای کې مې لیدلي چې د دوه هلکانو یا د دوه جینکو واده په یو ځای نه دي کول پکار، ددې څه وجه ده؟ آیا په اسلام کې د دوه هلکانو یا د دوه جینکو واده په یو ځای کې کول منع دي؟

جواب: دا شرعي حکم نه دی، یو حکیمانه مشوره ده او ددې وجه یې هم هلته لیکلې ده.

په غلطۍ سره د ښځو بدلېدو شرعي حکم

سوال: د دوه سکه خویندو په یوه ورځ واده وشو، یوه خور یې حیدرآباد ته تله او بله فیصل آباد ته؛ مګر په غلطۍ سره حیدرآباد والا ناوې فیصل آباد ته لاړه او فیصل آباد والا ناوې حیدرآباد ته روانه شوه، کور والا د لومړۍ شپې تېرېدلو نه پس خبر شول، دا خبره په ورځپاڼو کې خپره شوه؛ نو ځکه د ورځپاڼو والا هم دا غوښتنه وه چې په دې مسئله کې د دین د عالمانو نه یکښې فتوی واخلي چې ددې مسئلې حل به څه وي؟

آیا د دواړو خویندو نکاح د دوی د اصل خاوندانو سره منسوخه شوه که هغه نکاح به په خپل ځای برقراره وي؟ غیرمحرم سره په غلطۍ یوه بستره کې څه کفاره ادا کول پکار ده؟ د فقه حنفي مطابق ددې مسئلې حل راته وښیئ!

جواب: یاد صورت سره څو مسئلې تړاو لري:

۱ د دواړو خویندو نکاح د دوی د اصل خاوندانو سره همداسې پاتې ده، د غلطې رخصتۍ له وجې په دې کې څه فرق نه دی راغلی.[۲]

۲: دواړو د خپلې ښځې ګڼلو سره کوروالی کړی دی؛ نو ځکه به د دوی نیوکه نه کیږي، د فقه په اصطلاح کې دې ته وطی بالشبه ویل کیږي چې په هغې باندې د جائز کوروالي حکمونه پلې

۱] وحرم نكاح الوثنية بالاجماع.........وكل مذهب يكفر به معتقده. (شامی/ ۳/ ٤٥). ايضاً: ولا يصلح ان ينكح مرتداً او مرتدة احد من الناس مطلقا.........الخ. (درمختار/ ۳/ ۲۰۰/ باب نكاح الكافر)۔

۲] النكاح ينعقد بالايجاب والقبول.......الخ. (هداية/ كتاب النكاح / ۲/ ۳۰۵/ طبع ملتان)۔

کیږي، (چې د هغې تفصیل لاندې به نمبرو کې وړکړل شوی دی)
۳. هر هلک باندې ددې نجلۍ مهر واجب شو چا سره چې یې په غلطۍ سره کوروالۍ کړی دی.[۱]
(د اصل خاوندانو په ذمه مهر هم هغسې واجب دی)[۲]
۴. دواړو خویندو باندې ددې غلطې رخصتۍ له وجې عدت واجب شو[۳]. د عدت پوره کېدو وروسته به دوی اصل خاوندانو ته لاړې شي.
۵. که چېرته ددې خلوت په نتیجه کې بچی پیدا شو؛ نو هغه به د خلوت کونکي ګڼل کیږي او شرعاً به هم دده نسب صحیح او ثابت وي.[۴]

دا خو د مسئلې قانوني او فقهي حل ؤ، مګر د حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله نه یو ډېر ښائسته حل نقل دی، نو ځکه علامه شامي رحمه الله د درمختار په حاشیه رد المحتار کې د مبسوط نه نقل کړي چې: د حضرت امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په دور کې هم دا صورت مخې ته راغی؛ نو امام صاحب رحمه الله د دواړو هلکانو نه پوښتنه وکړه چې د کومې نجلۍ سره تا خلوت کړی دی هغه ستا خوښه ده؟ دواړو په هو: سره ځواب ورکړ، امام صاحب رحمه الله وفرمایل: دواړه خپلو - خپلو ښځو ته طلاق ورکړئ او د کومې سره چې خلوت شوی دی، دهغې سره د دوی نکاح وتړئ؛ د عدت ضرورت نشته، په همدې مسئلې عمل وشو او اهل علمو د امام صاحب رحمه الله مسئله ډېره خوښه کړه.[۵]

---

[۱] اذا دخل الرجل علی وجه شبهة او نکاح فاسد فعلیه المهر وعلیها العدة ثلاث حیض........الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۵۲۷/ کتاب الطلاق/ الباب الثالث عشر فی العدة، طبع رشیدیه)۔

[۲] لان النکاح عقد انضمام وازدواج لغةً فیتم بالزوجین ثم المهر واجب شرعاً ابانةً لشرف المحل.......الخ. (هدایة/ ۲/ ۳۲۳/ باب المهر/ مکتبة شرکت علمیه ملتان)۔

[۳] اوګورئ پورتنئ حاشیه(اذا دخل الرجل علی وجه شبهة او نکاح فاسد...الخ) ایضاً: وللموطوئة بشبه ان تقیم مع زوجها الاول وتخرج باذنه فی العدة لقیام النکاح بینهما. (درمختار/ ۳/ ۵۱۷/ باب العدة/ طبع ایچ ایم سعید)۔

[۴] علی انه صرح ابن ملک فی شرح المجمع بان من وطیء امراة زفت الیه وقیل له انها امراتک فهی شبهة فی الفعل وان النسب یثبت اذا ادعاه. (شامی/ ۳/ ۵۴۱/ مطلب فی ثبوت النسب من المطلقة)۔

[۵] حکی فی المبسوط ان رجلاً زوج ابنیه بنتین فادخل النساء زوجة کل اخ علی اخیه، فاجاب العلماء بان کل واحد یجتنب التی اصابها وتعتد لتعود الی زوجها، واجاب ابوحنیفة رحمه الله تعالی بانه اذا رضی کل واحد بموطوءته یطلق کل واحد زوجته ویعقد علی موطوءته ویدخل علیها للحال لانه صاحب العدة، ففعلا کذلک ورجع العلماء الی جوابه. (شامی/ ۳/ ۵۰۷/ مطلب حکایة ابی حنیفة فی الموطوءة بشبهة)۔

په غلطۍ سره د ښځو تبادله

سوال: د زيد او بکر واده په يو کور کې يو ځای وشو، هر کله چې نکاح وشوه او کور ته راغلې؛ نو په غلطۍ سره د زيد ښځه بکر ته او د بکر ښځه زيد ته واستول شوه. کوروالی هم وشو. اوس به څه کوي؟ دوی ته خپلې - خپلې ښځې ورکړي که هم داسې صحيح دي؟ په دې صورت کې به نکاح هم هغه وي که بله نکاح به کوي؟

جواب: د زيد او بکر ښځې هم هغه دي د کومو سره چې د دوی نکاح شوې ده. لهذا خپلو-خپلو خاوندانو ته دي وسپارل شي، دويم ځای کې د دوی آبادي ناجائز ده او په غلطۍ سره چې غلط ځای آبادي وشوه په دې باندې دري حکمونه پلی کيږي:

۱) زيد او بکر چې په بې خبری کې د کومو جينکو سره کوروالی کړی دی دوی دي هغوی ته مهر ادا کړي. [۱]

۲) هغه دوو جينکو باندې عدت لازم دی[۲]، عدت تيرېدلو سره هغوی د خپلو خاوندانو کور آبادولی شي. [۳]

۳) د دې غلط کوروالي په نتيجه کې که اولاد وشي؛ نو هغه به صحيح النسب وي. [۴]

او که چېرته يې موجوده ځای خوښ وي؛ نو زيد او بکر دواړه دي خپلو ښځو ته (چې د کومو سره د دوی نکاح شوې ده) طلاق ورکړي او هغوی ته دي نيم - نيم مهر هم ادا کړي[۵]، د طلاق نه پس د هر هلک نکاح د هغې نجلۍ سره دي وکړي چې د کومې سره يې خلوت شوی دی. [۶]

۱] لما فى الخلاصة بعد ذكر المواضع التى يجب فيها المهر بالوطء عن شبهة قال ولامراد من المهر العقر وتفسير العقر الواجب بالوطء فى بعض المواقع......الخ. (وفى منحة الخالق على البحرالرائق: روى عن ابى حنيفة رحمه الله قال تفسير العقر هو ما يتزوج به مثلها وعليه الفتوىٰ. (البحرالرائق/ ۳/ ۱۷۳)۔

۲]وكذا موطوئة بشبهة كمزفوفة لغير بعلها او نكاح فاسد.......الخ. وفى الشامية: اى عدة كل منها ثلاث حيض. (شامى/ ۳/ ۵۰۶/ مطلب حكاية شمس الائمة السرخسى)۔

۳] وللموطوء ة بشبهة ان تقيم مع زوجها الاول وتخرج باذنه فى العدة لقيام النكاح بينهما.....الخ. (درمختار/ ۳/ ۵۱۷/ باب العدة، طبع ايچ ايم سعيد)۔

٤] على انه صرح ابن ملك فى شرح المجمع بان من وطيء امراة زفت اليه وقيل له انها امراتک فهى شبهة فى الفعل وان النسب يثبت اذا ادعاه. (شامى/ ۳/ ۵٤۱/ مطلب فى ثبوت النسب من المطلقة)۔

٥]ويجب نصفه بطلاق قبل الوطء او خلوة.....الخ. (الدرالمختار مع الرد المحتار/ ۳/ ۱۰٤)۔

٦] ايضاً تيره شوی حاشيه (حكى فى المبسوط ان رجلاً زوج ابنيه بنتين فادخل النساء...الخ)۔

په بې خبرۍ کې د خور سره واده

سوال: یو سړي چې بې خبره ؤ د خپلې سکه خور نوشابې سره یې واده وکړ او ددې نه یې دوه بچي پیدا شو چې په هغې کې دوه هلکان او یوه نجلۍ ده. دا ځکه چې دده خور په ماشومتوب کې ورکه وه بیا داسې وخت راغله چې ددې واده ددې د سکه ورور سره شوی ؤ. تر ځلور کالو پورې خو یو بل ته علم نه وو چې مونږ دواړه سکه ورور او خور یو. لیکن کله چې په دې خبره ځپلوان خبر شول؛ نو معلومه شوه چې په خپل منځ کې دواړه ورور او خور دي. تاسو ددې مسئلې حل د قرآن او حدیث په رڼا کې ووایئ چې هغه هلک خپلې خور ته طلاق ورکولی شي که هم داسې دي پرېږدي، مثلاً که چېرته هلک طلاق ورکړي؛ نو بچي دده د رشتې په اعتبار سره څه دي؟ او د خپل پلار نوم به څه ښیي؟ آیا هغه خپله خور په کور کې له ځانه سره اوسولی شي او که نه؟

جواب: د بې علمۍ له وجې نه چې څه شوي دي د هغې ګناه نشته[۱]، د علم وروسته دې سمدستي جدا شي، د طلاق ضرورت نشته، البته د جدا والي نه پس عدت تېرول ضروري دي[۲]، د نجلۍ مهر هم د ورور په ذمه واجب دی[۳]، د بچیو نسب د خپل پلار نه صحیح دی[۴]، د خور په خپل کور کې اوسول ګناه نه لري؛ مګر دې ورور او خور په خپل منځ کې د ښځې خاوند کړنې ترسره کړي؛ نو ځکه د دوی یو ځای اوسېدلو سره خطره ده چې شیطان بیا دوی دواړه په ګناه کې اخته نه کړي؛ نو ځکه مناسبه بلکې ضروري ده چې ددې نجلۍ عقد (د عدت نه پس) دویم ځای وشي.

د غلط واده والا اولاد بې ګناه دی

سوال: کومه مسئله چې د ماما او خورځې په اړه راغلې وه، بدقسمتۍ سره دغه مور پلار زمونږ دي، ماته د ځینو خلکو له وینا معلومه شوه او څه خپلوانو هم راته وویل: چې کله دا نکاح نه ده شوې؛ نو مونږ خو حرامیان شو؛ خو زمونږ د خویندو او وروڼو په دیکښې څه ګناه ده؟ اوس خلک مونږ ته حرامیان وایي، مونږ دویم حرام نه شو کولی پرته له دې چې ځانمرګي

---

[۱] "لا يكلف الله نفساً الا وسعها" البقرة: ۲۸۶۔

[۲] وتجب العدة بعد الوطء الا الخلوة للطلاق لا للموت من وقت التفريق او متاركة الزوج وان لم تعلم المراة بالمتاركة فى الاصح......الخ. وفى الشرح: لان الطلاق لا يتحقق فى النكاح الفاسد بل هو متاركة كما فى البحر. (شامى/ ۳/ ۱۳۳/ مطلب فى النكاح الفاسد، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۳] ويجب مهرالمثل فى نكاح فاسد وهوالذى فقدشرطا من شرائط الصحة..الخ (الدرالمختار، باب المهر/ ۳/ ۱۳۱)

[۴] ويثبت النسب احتياطاً بلا دعوة......من الوطئ....الخ. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ ۳/ ۱۳۴)۔

، خودکشي، وکړو، مور او پلار نه شو ختمولی شو خکه دا هم یوه ګناه ده. اسلام زمونږ خویندو او ورونړو په اړه څه وایي؟ په دې دنیا کې مونږ د ژوند کولو حق لرو او که نه؟ زه په کور کې د ټولو نه مشر یم د الله لپاره ددې حل ووایئ یا د خودکشی اجازت راکړه!

جواب: ستاسو هیڅ ګناه نه ده، که چېرته تاسو پاک ژوند تیروئ: نو د الله تعالی په نزد ستاسو هغومره عزت دی څومره چې د نورو دی[۱]، ځانمرګي (خودکشي) حرامه ده. دا غلط کار به تاسو دنیا او آخرت دواړو کې ذلیله کړي[۲]، صحیح لاره دا ده چې تاسو نېکان شئ. انشاء الله د دنیا بدنامي به هم زر ختمه شي، د خلکو لپاره دا ناجائزه ده چې هغوی تاسو په بد نوم یادوي[۳]، کوم مسلمان ته د هغه د ګناه پېغور ورکول لویه ګناه ده.[۴]

ایا ناجائز اولاد ته به سزا ورکول کیږي

سوال: که چېرته ناجائز اولاد پیدا شي؛ نو آیا هغه ته به هم سزا ورکول کیږي؟ که نه ورکول کیږي: نو ولې او که ورکول کیږي: نو ولې؟ مسئله دا ده چې د یو سړي او ښځې په خپل منځ کې ناجائزه اړیکي وې او ددې سړي نه د ښځې حمل پیدا شي او وروسته هغه سړی ددې ښځې سره واده وکړي؛ نو دې ماشوم ته به سزا ورکول کیږي او که نه؟

جواب: د ناجائز ماشوم په پیدایش کې دده د مور- پلار ګناه ده؛ نو ځکه که چېرته هغه پرهېزګار وي؛ نو د مورپلار د ګناه په وجه به دوی ته سزا نه ورکول کیږي.[۵]

د ناوې په پړوني (ټکری) لمونځ کول او د یو بل پس خورده خوړل

سوال: زما د واده تقریباً درې کاله وشو، د واده په لومړۍ شپه رانه دوه داسې غلطیانې وشوې چې د هغې درد زه تر ننه احساسوم.

۱]"ان اکرمکم عند الله اتقکم" (الحجرات: ۱۳)_

۲]عن ابی هریرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تردی من الجبل فقتل نفسه، فهو فی نار جهنم یتردی فیها خالداً مخلداً فیها ابداً، ومن تحسی سما فقتل نفسه، فسمه فی یده یتحساه فی نار جهنم خالداً مخلداً فیها ابداً،ومن قتل نفسه بحدیدة فحدیدته فی یده یتوجا بها فی بطنه فی نار جهنم ابداً.متفق علیه.(مشکوٰة: ۲۹۹)

۳]"ولا تلمزوا انفسکم ولا تنابزوا بالالقاب، بئس الاسم الفسوق بعد الایمٰن، ومن لم یتب فاولئک هم الظالمون" (سورة ۴۹، الحجرات: ۱۱)_

٤] الکبیرة اربعة وتسعون بعد الماة: الطعن فی النسب الثابت فی ظاهر الشرع. (قال تعالی: والذین یوذون المومنین والمومنٰت بغیر ما اکتسبوا فقد احتملوا بهتاناً واثماً مبیناً_ سورة ۴۱، نساء) واخرج مسلم عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اثنتان فی الناس الهم بهما کفر: الطعن فی الانساب،والنیاحة علی المیت.(الزواجرعن اقتراف الکبائر/۲/۳۶/ قبیل کتاب العدد،طبع دارالمعرفة، بیروت)

٥] قال تعالی: "الا تزر وازرة وزر اخریٰ، وان لیس للانسان الا ما سعیٰ" (النجم: ۳۷، ۳۸)_

لومړۍ غلطي دا چې ما د خپلې ښځې سره دوه رکعته د شکرانې لمونځ چې د ښځې لوېټې غوړولو سره ادا کیږي هغه ونه کړو، دا زمونږ بې علمي وه. نه زما ملګرو او نه خپلوانو راته ښودلي وو. بهر حال د واده نه تقریباً دوه کاله وروسته زه خبر شوم: نو ما او ښځې مې دا لمونځ همغسې ادا کړ، د لمونځ نه پس مې د خپل رب العزت نه ډېره په عاجزی معافي وغوښته مګر د زړه درد مې لرې نه شو.

دویمه غلطي هم د بې علمی په وجه وشوه، زمونږ د یو لرې ماما ښځه ده چې هغې مونږ ته ددې مشوره راکړې وه، تاسو دواړه د یو بل پس خورده شیدې ضرور وڅښئ، مونږ د یو بل پس خورده شیدې هم وڅښل؛ مګر کله چې ما د خپل یو دوست نه ددې خبرې پوښتنه وکړه: نو هغه راته وویل چې کوم خلک د یوبل پس خورده وڅښي؛ نو ورور او خور ورته ویل کیږي.
کله چې راته دا خبره معلومه شوه نو په زړه کې مي ډول ډول خیالونه راغلل، د الله لپاره د قرآن او سنت په رڼا کې ووایه چې زمونږ ددې افعالو کفاره به څنګه ادا کېدی شي؟ ستاسو مهرباني به وي.

جواب: ستا نه غلطیانې نه دي شوي بلکې ستا نه دوه غلط فهمی شوي دي، په لومړۍ شپه د ښځې په پړوني (ټکري) باندې لمونځ کول نه فرض دي، نه واجب، نه سنت او نه مستحب، دا یوازې د خلکو خپله جوړه شوې خبره ده، لهذا ستا پریشاني بې وجې ده، ستا د ملګري دا وینا هم غلط فهمي بلکې جهالت دی چې ښځه خاوند د یو بل پس خورده وخوري؛ نو ورور خور جوړیږي[1]، دا څه شرعي مسئله نه ده، لهذا تا باندې څه کفاره نشته.

ناخوښه رشتې نه پس د نجلۍ سره تعلق پرېکول صحیح نه دي

سوال: دنجلۍ تعلق د سیدانو له کورنۍ سره دی، یوه ورځ ناڅاپه کور والو ته خبو وشو چې نجلۍ پردی سړي سره عدالتي نکاح کول غواړي، په دې باندې د نجلۍ کور والا ډېر خفه شو او نجلۍ ته یې وډار کړه چې نجلۍ په هغه وخت کې خاموشي اختیار کړه، مګر کور والا ددې د سلوك نه ډېر یرېدل چې ونه تېنتي، هغه خلکو د خپل عزت ساتلو لپاره ددغه سړي سره ددې واده وکړ، کوم چې دې خپله خوښولو، مور د خپلې لور سره تعلق پرې کړی دی او پلار تعلق نه پرېږدي، د خاندان مشران هم دا وايي که چېرته تاسو د خپلې لور سره تګ راتګ وساتلو؛ نو زمونږ کورنۍ به ستاسو سره تعلق ختم کړي، د نجلۍ مور او خاندان یې د یو څو وجو په بنسټ د نجلۍ سره تعلق ختم کړی، چې هغه لاندې دي:

[1] څکه چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها جهوټه څکل ثابت دی. عن عائشة قالت: كنت اشرب وانا حائض ثم اناوله النبي صلى الله عليه وسلم فيضع فاه موضع فى فيشرب.....الخ. (مشکوٰة: ۵۶)

۱ واده د مورپلار د خوښې خلاف شوی دی.
۲ نجلۍ په پردی کورنۍ کې واده کړې دی، د حسب او نسب خیال یې نه دی کړی

د قرآن او سنتو په رڼا کې ووایئ چې د واده په معاملاتو کې د حسب او نسب خیال ساتل او د نجلۍ د مور او خاندان والو د نجلۍ سره تعلق کټ کول صحیح دي؟

جواب: په کومه ناخوښه خبره طبعي غم کول خو انساني فطرت دی او ددې غم له وجې په خپل منځ کې مینه محبت نه کول هم یو فطري امر دی او په دې باندې شرعاً څه نیوکه نشته[۱]، لیکن ددې وجې نه ټول عمر تعلق پرېښودل چې نه سلام وي نه خبرې، چې نه په واده کې شریکېدل وي نه په غم کې او نه د ناروغ پوښتنه وي، دا شرعاً حرام دي[۲]. د نجلۍ خپله رشته غوره کول یو ناخوښه کار ؤ، لیکن هر کله چې دا واده خپله د مور- پلار په لاس شوی دی، ددې نه پس د تعلق پرېښودلو شرعاً هیڅ حق نشته. [۳]

د خاوند د مرګ وروسته په نجلۍ باندې د خسرګنۍ هیڅ حق نشته

سوال: زمونږ دا رواج دی چې عموماً د واده نه یو یا دوه کاله مخکې نکاح تړل کیږي، اوس مسئله دا ده که په دې دوران کې خاوند وفات شي؛ نو نجلۍ آزاده شوه او کوم ځای چې واده غواړي کولی یې شي، حال دا چې د هلک مور- پلار دا نه خوښوي بلکې د دوی بل زوی شته، د دوی مورپلار غواړي چې د نجلۍ واده د دویم زوی سره وشي، آیا د خاوند د مرګ وروسته په نجلۍ څه پابندي شته او که نه؟

جواب: د خاوند د مړینې وروسته د نجلۍ په ذمه د خاوند د مرګ عدت (یو سل دېرش ورځې) تېرول واجب دي[۴]، دعدت نه پس نجلۍ د خپل اختیار مالکه ده، د عدت نه پس چېرته چې غواړي خپله نکاح کولی شي، خسرګنۍ په دې باندې هیڅ حق نه لري، که چېرته هغه خپله د دویم ورور سره په واده راضي وي؛ نو ددې نکاح کیږي؛ مګر خسرګنۍ یې

۱]"لا يكلف الله نفساً الا وسعها" البقرة: ۲۸۶)۔

۲]ان جبير بن مطعم اخبره انه سمع النبي صلى الله عليه وسلم يقول: لا يدخل الجنة قاطع. (صحيح البخارى/ ۲/ ۸۸۵/ باب اثم القاطع)۔

۳] وصلة الرحم واجبة ولو كانت بسلام وتحية وهدية ومعاونة ومجانسة......الخ. (الدرالمختار/ ٦/ ٤١١/ فصل فى البيع/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

٤]"والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجا يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً" (البقرة: ۲۳٤) (واذا مات الرجل من امراته الحرة) دخل بها او لا صغيرة كانت او كبيرة، مسلمة او كتابية، حاضت فى المدة او لم تحض (كما فى خزانة المفتيين) (فعدتها اربعة اشهر وعشرة) ايام، لقوله تعالى (ويذرون ازواجاً يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشرة. (اللباب فى شرح الكتاب/ ۱/ ۲۰۱/ كتاب العدة، طبع قديمى كتب خانه)۔

مجبورولی نه شي[۱]

د نافرمان زوی سره د تعلق پرېکولو اعلان جائز دی؛ لیکن عاق کول یې جائز نه دي

سوال: د سوال کوونکي یو زوی چې عمر یې اوه دېرش کاله دی. هغه راته اوس یو غم جوړ شوی دی، د ماشومتوب نه د کور نه په تېښته عادت دی، د الله او د الله د رسول ﷺ او د دین د بزرګانو واسطه مي ورکړې؛ خو بېرته خپل عهد ماتوي، د خپلوانو او دده د مور په وینا مي واده ورته وکړ؛ لومړی یې د ښځې زېورات وتښتول او بیا راغلو. خپله ښځه اوس له خانه سره بوتله، اوس یې خسرګنی دده ښځه ایساره کړې، ټول سامان او زېورات ترې واخیستل او دی یې وویست، اوس دی بیا د خپلې مور او نورو خپلوانو سره سائل ته راغلو او بیا یې وعده وکړه چې له کوره به ځم، سائل اوس دده او دده د مور د خبرې منلو نه انکار کوي. که چېرته دده ښځه هم د داسې بدعهد زوی سره د یو ځای کېدلو نه په شا شي؛ نو هغه د ښځې سره او د هغې د زوی سره د تعلق کټ کولو اعلان کوی شي او که نه؟ د داسې بداخلاقه زوی حکم په شریعت کې څه دی؟ ددې لپاره چې سائل ګناه ګار نه شي.

جواب: د اولاد د ځوانېدو او هغه ته د واده کولو نه پس د مور- پلار غاړه خلاصیږي[۲]؛ نو ځکه تاته حق شته چې هلک له کوره وشړې او که چېرته دده د غلطو حرکتونو له وجې دا وېره وي چې تا باندې به څه تاوان راولي؛ نو د هغه سره د تعلق پرې کولو اعلان وکړه؛ خو عاق کول او د ځان نه پس د خپل میراث او ځمکې نه بې برخې پرېښودل ناجائز دي[۳]، د ښځې سره د تعلق پرې کولو مطلب دا دی چې هغې ته طلاق ورکړه او یاده دي وي چې د هلک د بد اخلاقۍ له امله یې مور ته طلاق ورکول صحیح نه دي.

د یو بل پس خوردې څښلو سره خور او ورور نه جوړیږي

سوال: زما ملګري یوه نجلۍ خور جوړه کړې ده او هغه قرآن اخیستی چې دا زما خور ده او دواړو د یو بل پس خورده هم څښلې ده، ما چې تر کومه پورې اوریدلي دي چې شیدې څښلو سره خور او ورور جوړیږي، اوس ددې دواړو واده شوی دی، تاسو ووایئ چې دا واده جائز دی؟

جواب: دروغو خبره باندې محض قرآن پورته کول او د یو بل پس خورده شیدې څښلوسره

۱] لا تجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ. (درمختار/ ۳/ ۵۹/ کتاب النکاح)۔

۲] اولا یجب علی الاب نفقة الذکور الکبار. (عالمگیری/ ۱/ ۵۶۳/ کتاب الطلاق، الفصل الرابع فی نفقة)۔

۳] عن انس قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (الدر المنثور للسیوطی/ ۲/ ۱۲۸/ طبع بیروت، وکذا فی مشکوٰة/ ۲۵۵)۔

خور او ورور نه جوړیږي؛ نو ځکه د دوی واده صحیح دی، دروغو خبره باندې قرآن پورته کول لویه ګناه ده[۱]، او دا داسې قسم دی چې د سړي دین او دنیا دواړه تباه کوي، مسلمانانو ته نه دي پکار چې داسې حرکت وکړي

نوټ د خور ورور مفهوم واضح دی، یعنې د چا پلار چې یو وي، یا یې مور یوه وي، یا مور پلار دواړه یو وي، دا نسبي خور ورور دي، کوم هلک او کومې نجلۍ چې د خپل ماشومتوب په زمانه کې د یوې ښځې شیدې څښلي وي هغوی رضاعي خور او ورور دي، دا دواړه ډول خور او ورور د یو بل لپاره حرام دي[۲]، ددې نه علاوه چې کوم خلک په پس خوردې خور ورور جوړیږي دا شرعاً درواغ دي او داسې په تش نوم، ورور خور، د یو بل لپاره حرام نه دي[۳]

ایا ښځه د خپل خاوند پس خورده خوړی شي؟

سوال: آیا د اسلام د قانون له مخې یوه ښځه د خپل خاوند پس خورده شیدې څښلی شي او دغه راز نور شیان خوړلی شي؟

جواب: ضرور یې خوړلی او څښلی شي[۴]

د حمل په ورځو کې د نکاح حکم

سوال: یو سړي خپلې ښځې ته طلاق ورکړ، د هغې د دوه میاشتو حمل په نس ؤ، آیا دې ته طلاق ورکول صحیح دي؟ که چېرته هغه د عدت ورځې پوره کړي؛ نو د حمل په دوران کې نکاح کولی شي، ځکه چې هغه څوک نزدې خپلوان نه لري چې ویې ساتي، ددې نکاح جائز ده او که نه؟

جواب: د حمل په دوران کې هم طلاق واقع کیږي[۵] او د داسې ښځې عدت د بچي پیدا کېدل دي، [۱]، د بچي تر پیدا کېدو پورې هغه په عدت کې ده، په دویم ځای کې یې نکاح نه

۱]الکبیرة التاسعة والعاشرة بعد الاربع ماة: الیمین الغموس والیمین الکاذبة وان لم تکن غموساً.......واخرج البخاری وغیره: الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین والیمین الغموس.....الخ. (الزواجر عن اقتراف الکبائر/ ۲/ ۱۸۱، ۱۸۲/ کتاب الایمان) ایضاً: فالغموس هو الحلف علی امر ماض یتعمد الکذب فیه فهٰذه الیمین یاثم فیها صاحبها لقوله علیه السلام:من حلف کاذبا ادخله الله النار. (هدایة/ ۲/ ۴۷۸/ کتاب الایمان)

۲]کل من تحرم بالقرابة والصهریة تحرم بالرضاع. (عالمگیری/ ۱/ ۲۷۷/ القسم الثالث، المحرمات بالرضاع)۔

۳] "وما جعل ادعیآء کم ابناء کم ذٰلکم قولکم بافواهکم" (سورة۳۳، الاحزاب: ۴)۔

۴] عن عائشة قالت: کنت اشرب وانا حائض ثم اناوله النبی صلی الله علیه وسلم فیضع فاه علی موضع فی فیشرب واتعرق العرق وانا حائض ثم اناوله النبی صلی الله علیه وسلم فیضع فاه علی موضع فی. رواه مسلم.(مشکوٰة: ۵۶)

۵]وحل طلاقهن ای الایسة والصغیرة والحامل عقب وطیٴ.....الخ. (درمختار/ ۳/ ۲۳۲)۔

کیږي[۲]، د ماشوم د پیدایش نه پس دویم ځای نکاح کولی شي. د عدت په دوران کې د ددې خرچه د طلاق ورکونکي سړي په ذمه ده[۳]

د طلاق ورکولو شرعي طریقه

سوال: په اسلام کې د طلاق ورکولو صحیح طریقه څه ده؟ یعنې طلاق څنګه ورکول پکار دي؟

جواب: د طلاق ورکولو درې طریقې دي:

۱ **لومړۍ طریقه** دا ده چې ښځه د میاشتینۍ ناروغۍ نه پاکه شي؛ نو هغې ته د کوروالي کولو پرته یو رجعي طلاق ورکړه او بیا هغې ته رجوع مه کوه تر دې چې د هغې عدت ختم شي، په دې صورت کې به په عدت کې دننه - دننه د رجوع کولو جواز وي او د عدت نه پس دوباره نکاح کولی شي، دا طریقه د ټولو نه غوره ده.

۲ **دویمه طریقه** دا ده چې په درې طهرونو کې درې طلاقه ورکړي، دا صورت ډېر بهتر نه دی او بغیر د شرعي حلالې نه بیا نکاح نه کیږي.

۳ **دریمه طریقه** د بدعي طلاق ده چې د هغې څو صورتونه دي ـ یو دا چې ښځې ته د میاشتینۍ ناروغۍ په حالت کې طلاق ورکړي یا په داسې طهر کې طلاق ورکړي چې په هغې کې کوروالی شوی وي، یا په یو لفظ سره یا په یو مجلس کې یا په یو طهر کې درې طلاقه ورکړي، دې ته طلاق بدعت ویل کیږي، حکم یې دا دی چې په دې طریقې طلاق ورکوونکی ګناه ګاریږي، مګر طلاق واقع کیږي، که چېرته یې یو ورکړ؛ نو یو واقع کیږي او که چېرته یې دوه ورکړه؛ نو دوه واقع شو او که چېرته په یو ځای درې ورکړي؛ نو درې واړه واقع شو، برابره خبره ده چې په یو لفظ سره یې ورکړی وي که په یو مجلس کې او که په یو طهر کې.[۴]

١]"واولت الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن" (الطلاق: ٤)ـ

٢]اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدة.....لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلاً. (شامی / ٣/ ١٣٢)ـ

٣] واذا طلق الرجل امراته فلها النفقة والسکنی فی عدتها رجعیاً کان او بائناً.....الخ. (هدایة / ٢/ ٤٢٣)ـ

٤]الطلاق علی ثلاثة اوجه: حسن واحسن وبدعی، فالاحسن ان یطلق الرجل امراته تطلیقة واحدة فی طهر لم یجامعها فیه، ویترکها حتی تنقضی عدتها لان الصحابة کانوا یستحبون ان لا یزیدوا فی الطلاق علی واحدة حتی تنقضی العدة وان هذا افضل عندهم من ان یطلق الرجل ثلاثا عند کل طهر واحدة ولانه ابعد من الندامة واقل ضرر بالمراة ولا خلاف لاحد فی الکراهة. واحسن هو طلاق السنة وهو ان یطلق المدخول بها ثلاثا فی ثلاثة اطهار، وقال مالک: انه بدعة ولا یباح الا واحدة لان الاصل فی الطلاق هو الحظر، والاباحة لحاجة الخلاص وقد اندفعت بالواحدة. ولنا قوله علیه السلام فی حدیث ابن عمر رضی الله عنهما: ان السنة ان یستقبل الطهر استقبالاً فیطلقها لکل قرء تطلیقة.....وطلاق البدعة ان یطلقها ثلاثا بکلمة واحدة او ثلاثا فی طهر واحد، فاذا فعل ذلک وقع الطلاق وکان عاصیاً اه. (هدایة، کتاب الطلاق....باب طلاق السنة/ ٢/ ٣٥٤، ٣٥٥/ طبع مکتبه شرکت علمیه لاهور پاکستان)ـ

طلاق څنګه ورکول پکار دي؟

سوال: زمونږ په هېواد کې چې د کوم وخت نه عايلي قانون نافذ شوی دی. د هغه وخت نه تر اوسه پورې هغه قانون چليږي چې تر څو خاوند خپلې ښځې ته درې ځله طلاق ورنه کړي تر هغه وخته پورې طلاق مؤثر نه ګڼي، يعنې د يو طلاق او دوه طلاقو هيڅ حيثيت نه پاتې کيږي. کله چې هم څوک طلاق ورکوي يا د قومي مشرانو له طرفه طلاق ورکول کيږي؛ نو درې طلاقه ورکول کيږي او ليکلو کې هم درې ليکل کيږي، آيا هم دا طريقه درسته ده؟ که چېرته ځواب په نفی سره وي؛ نو صحيح طريقه وښيئ!

جواب: په يو ځل درې طلاقه ورکول بد دي، [۱] په دې سره د ښځې خاوند رشته سمدستي ختميږي، د رجوع او سولې هيڅ حق نه پاتې کيږي، بغير د شرعي حلالې نه دوباره نکاح هم نه کيږي [۲]

د ټولو نه بهتره طريقه دا ده که چېرته يو طلاق ورکول غواړي؛ نو د ښځې مياشتينی ناروغی د فارغېدو وروسته هغې ته نزدې مه ورځه او هغې ته رجعي طلاق ورکړه [۳]، په دې صورت کې چې تر څو پورې ښځه د عدت نه فارغه شوې نه وي تر هغه پورې طلاق کار نه کوي، بلکې نکاح هم هغسې وي او په عدت کې دننه خاوند ته د رجوع کولو حق وي [۴]، که چېرته خاوند په عدت کې دننه رجوع ونه کړي؛ نو د عدت ختمېدو سره طلاق کار کوي او نکاح به ختمه شي [۵]، ليکن د دې نه پس هم که چېرته دواړه سوله کول غواړي؛ نو دوباره يې نکاح کيږي. [۶]

د طلاق ورکولو څه طريقه ده او ښځې ته د طلاق ورکولو په وخت څه کول پکار دي؟

سوال: که چېرته ښځې ته طلاق ورکول وي؛ نو بايد څنګه ورکول شي او که چېرته په ليکلو

۱]عن محمود بن لبيد قال: اخبر رسول الله صلى الله عليه وسلم عن رجل طلق امراته ثلاث تطليقات جميعاً فقام غضبان ثم قال: ايلعب بكتاب الله عزوجل وانا بين اظهركم؟ حتى قام رجل فقال: يا رسول الله! الا اقتله؟ رواه النسائی. (مشكوٰة/ ۲۸٤/ باب الخلع والطلاق/ طبع قديمی/ ايضاً: نسائی/ ۲/ ۸۲)۔

۲] وان كان الطلاق ثلاثا فی الحرة......لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. (عالمگيری/ ۱/ ٤۷۳/ الباب السادس فی الرجعة، كتاب الطلاق)۔

۳]فالاحسن ان يطلق الرجل امراته تطليقة واحدة فی طهر لم يجامعها فيه، ويتركها حتى تنقض عدتها لان الصحابة كانوايستحبون ان لايزيدوا فی الطلاق على واحدة حتى تنقض العدة.(هداية:۲/۳۵٤/كتاب الطلاق)

٤]اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها. (عالمگيری/ ۱/ ٤۷۰)۔

۵]الرجعة ابقاء النكاح على ما كان مادامت فی العدة. (عالمگيری/ ۱/ ٤٦۸)۔

٦] واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فی العدة وبعد انقضائها. (هداية/ ۲/ ۳۹۹)۔

سره وي؛ نو څنګه ورکول کيږي؟ پرته له دې د طلاق په وخت کې څو روپۍ ورکول پکار دي؟

جواب: طلاق که په ژبه ورکوي که د ليکلو په صورت کې، ددې مسنونه طريقه دا ده چې يو رجعي طلاق ورکړه او بيا ورته رجوع مه کوه تر دې چې د هغې عدت ختم شي[۱]. مطلقه ښځې سره که چېرته خلوت وشي؛ نو د هغې مهر ادا کول ضروري دي[۲]. ددې نه پرته هغې ته يوه جوړه د خپل وس سره سم ورکول مستحب دي[۳] او که چېرته خلوت نه وي شوی؛ نو نيم مهر ورکول لازم دي.[۴]

❖ د واده نه مخکې طلاق ❖

د واده نه مخکې د يو طلاق حکم

سوال: د کومې نجلۍ نکاح چې شوې وي او واده يې نه وي شوی، که چېرته هلک نجلۍ ته صرف يو ځل ووايي: طلاق مې درکړ، ددې خبرې د څلورو مياشتو نه زياته موده شوې وي؛ نو آيا طلاق واقع شو او که نه؟

جواب: په داسې حالت کې يو ځل طلاق ورکولو سره بائن طلاق واقع کيږي[۵]. د داسې ښځې لپاره د طلاق عدت هم نشته[۶]، هغه نجلۍ بې انتظاره دويم ځای نکاح کولی شي، د دواړو په خوښه طلاق ورکونکي سره هم دوباره نکاح کيږي.[۷]

د واده نه مخکې "درې طلاقه درکوم" ويلو حکم

سوال: زما يو ملګري د واده نه مخکې نکاح (ايجاب او قبول) تړلې وه، هغه د چا په وينا

۱]فالاحسن ان يطلق الرجل امراته تطليقة واحدة فى طهرٍ لم يجامعها فيه، ويتركها حتى تنقض عدتها لان الصحابة كانوايستحبون ان لايزيدوا فى الطلاق على واحدة حتى تنقض العدة.(هداية:۲/۳۵۴/كتاب الطلاق)

۲]والمهر يتأكد باحد معان ثلاثة: الدخول، والخلوة الصحيحة، وموت احد الزوجين سواء كان مسمى او مهر المثل. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۰۳/ كتاب النكاح/ الباب السابع فى المهر)۔

۳]وتستحب المتعة......للموطوء ة سمى لها مهر او لا. وفى الشامية: اى بل يستحب لها. (الدر المختار مع الرد/ ۳/ ۱۱۱/ كتاب النكاح/ باب المهر)۔

۴] ويجب نصفه بطلاق قبل وطء او خلوة. وفى الشامية: لما مر ان الوجوب بالعقد. (شامى/ ۳/ ۱۰۴)۔

۵]وان فرق بوصف او خبر او جمل بعطف او غيره بانت بالاولى لا الى عدة. (الدرالمختار مع رد المحتار/ ۳/ ۲۸۶/ كتاب الطلاق/ باب طلاق غير المدخول بها)۔

۶]اربع من النساء لا عدة عليهن (منها) المطلقة قبل الدخول....الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۵۳۶)۔

۷] واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى العدة وبعد انقضائها لان حل المحلية باق لان زواله معلق بالطلقة الثالثة فينعدم قبله.....الخ. (هداية /۲ / ۳۹۹/ كتاب الطلاق)۔

طلاق ورکړی دی او د هغې نجلۍ پلار ته یې طلاق خط ولېږی، که چېرته هغه د دې نجلۍ سره دوباره نکاح کول غواړي؛ نو نکاح یې کېدی شي او که نه؟ ځینې خلک وایي چې هغه به حلاله کوي او ځینې وایي چې نه؟

جواب: که چېرته هغه یو طلاق ورکړی وي؛ نو دوباره نکاح کولی شي[1] او که چېرته یې داسې لیکلي وي چې: "زه درې طلاقه درکوم" نو د شرعي حلالې نه بغیر نکاح نه کیږي.[2]

سوال: زما کوزده او نکاح وشوه چې د هغې نه پس مې واده ونه شو؛ نو په دغه دوران کې ما د یو کار نه کولو عهد وکړ او په هغې کې مې دا جمله بیا -بیا وویل: که چېرته ما دا کار وکړ، بیا مې د طلاقو لفظ درې ځله استعمال کړو چې د هغې نه پس دوه کاله پس مې واده وشو، لیکن ما په جنتي کالي کې د مولانا اشرف علي تهانوي صاحب مسئله د واده نه مخکې طلاق ولوستل، په هغې کې څه نا څه گنجائش موجود ؤ؛ نو ما نکاح تازه کړه، مگر بیا هم زما په زړه کې غم ؤ چې داسې نه دا درې طلاقه (طلاق ثلاثه) واقع شوي وي؟ مهرباني وکړئ د قرآن، حدیث او حنفي فقه په رڼا کې ځواب راکړئ؟

جواب: تاسو چې کوم صورت لیکلی دی په هغې کې یو طلاق واقع شو[3]، ځکه چې د طلاقو لفظ درې ځله جدا - جدا ویل شوی ؤ، لهذا د یو طلاق واقع کېدو سره ښځه جدا شوه، دوه طلاقه بې ځایه (لغو) شو، که تاسو دوباره نکاح تازه کړه نو ډیره به ښه وي.[4]

سوال: زما د یوې نجلۍ سره نکاح وشوه، تر اوسه پورې واده لانه ؤ شوی چې د څه اختلافاتو په سبب ما نجلۍ ته یو ځل ولیکل: زه تاته طلاق درکوم، نجلۍ سره کوروالې نه ؤ شوی، اوس د نجلۍ خپلوان وایي: د ښځې حق نه دی ادا شوی؛ نو ځکه طلاق واقع کیږي، مگر د طلاق ورکولو په وخت ماته د دې علم نه ؤ چې په داسې حالت کې یو ځل طلاق ویلو سره طلاق واقع کیږي؛ نو آیا طلاق واقع شو او که نه؟

۱] ایضاً۔

۲] قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق......ثلاثاً........وقعن لما تقرر انه متی ذکر العدد کان الوقوع به.....الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ۳/ ۲۸۵). ایضاً: وان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرة......لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره نکاحاً صحیحاً ثم یطلقها او یموت عنها. (عالمگیری/ ۱/ ۴۷۳/ کتاب الطلاق/ الباب السادس)۔

۳]وان فرق بوصف او خبر او جمل بعطف او غیره (بانت بالاولی) لا الی عدة ولم تقع الثانیة، بخلاف الموطوءة حیث یقع الکل وعم التفریق، قوله وکذا انت طالق ثلاثاً متفرقات (قوله بخلاف الموطؤة) ای ولو حکماً کالمختلی بها فانها کالموطؤة فی لزوم العدة، وکذا فی وقوع طلاق بائن آخر فی عدتها(الدرالمختار۳/ ۲۸۶/ باب طلاق غیر المدخول بها)

۴] واذا کان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها لان حل المحلیة باق لان زواله معلق بالطلقة الثالثة فینعدم قبله.....الخ. (هدایة /۲ / ۳۹۹/ کتاب الطلاق)۔

جواب: کله چې د ښځې خاوند خلوت نه وي شوی: نو په يو طلاق سره ښځه د نکاح نه وځي، [۱] دا طلاق بيا واپس کيږي نه. برابره خبره ده چې د مسئلې څخه خبر وي او که نه وي. اوس ستا ښځه ستا د نکاح نه وتلې ده، نيم مهر په تا باندې لازم دی[۲] هغه نجلۍ بغير د عدت نه دويم ځای نکاح کولی شي، که چېرته نجلۍ او د نجلۍ مور- پلار خوښ وي: نو تا سره هم دوباره نکاح کېدی شي[۳]، ددې نوي نکاح مهر به جدا تاکل کيږي.[۴]

سوال: د عام رواج مطابق مور- پلار د خپل اولاد د مجبورۍ له وجې په ماشومتوب کې نکاح کوي، چې په مور- پلار کې يې يو قبلوي؛ نو دغه راز د نجلۍ او هلک نکاح وشي. ليکن هلک او نجلۍ چې کله ځوانان شي؛ نو حالات يې داسې شي چې خبره تر طلاقو ورسي او هلک نجلۍ ته طلاق ورکړي، زمونږ دا پوښتنه ده چې د نکاح نه پس واده لا نه ده شوی او طلاق واقع شي، ايا دوباره ددې سره نکاح کيږي؟ آيا دې نجلۍ سره ددې هلک خبرې د شريعت له مخې جائز دي او که نه؟

جواب: که چېرته يې د واده نه مخکې طلاق ورکړی وي؛ نو دوباره نکاح کيږي؛ خو په دې شرط چې درې طلاقه يې په يو ځل نه وي ورکړي، د نکاح نه بغير دې نجلۍ سره خبرې نه دي صحيح، ځکه چې د طلاق نه پس دغه نجلۍ پردی ده.

❖ رجعي طلاق ❖

د رجعي طلاق تعريف

سوال: په اسلام کې د رجعي طلاق تعريف څه دی؟

جواب: رجعي طلاق دا دی چې خاوند ښځې ته يو ځل يا دوه ځلې په صفا الفاظو سره طلاق ورکړي او ددې سره بل کوم لفظ استعمال نه کړي چې د هغې تقاضا دا ده چې نکاح يې سمدستي ختميږي.[۵]

۱] ايضاً اوګورئ پورتنئ حواله(وان فرق بوصف او خبر او جمل بعطف...الخ)۔

۲]وان طلقها قبل الدخول والخلوة فلها نصف المسمى لقوله تعالى: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن الآية، والا قيسته متعارضة، ففيه تفويت الزوج الملک على نفسه باختياره، وفيه عود المعقود عليه اليها سالماً مكان المرجع فيه النص......الخ. (هداية/ ۲/ ۳۲٤/ كتاب النكاح/ باب المهر)۔

۳] واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى العدة وبعد انقضائها لان حل المحلية باق لان زواله معلق بالطلقة الثالثة فينعدم قبله.....الخ. (هداية /۲ / ۳۹۹/ كتاب الطلاق)۔

٤] المهر واجب شرعاً ابانة لشرف المحل. (هداية/ ۲/ ۳۲۳/ كتاب النكاح، باب المهر)۔

٥] الرجعى من الطلاق ما يكون بحروف الطلاق بعد الدخول حقيقة ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د رجعي طلاق حکم دا دی چې د عدت پوره کېدو پورې ښځه هم هغسې د خاوند په نکاح کې وي او خاوند ته دا حق پاتې وي چې هغه په عدت کې دننه کله چې غواړي د ښځې سره رجوع کولی شي[۱]، د رجوع مطلب دا دی چې یا خو په ژبه ووایي ما طلاق واپس واخیست یا دې ښځې ته لاس ولګوي، د دوباره نکاح ضرورت نشته[۲]، لیکن که عدت تېر شو او هغه په خپل قول یا فعل سره رجوع ونه کړي؛ نو اوس دواړه ښځه او خاوند نه شو[۳]، ښځه بل ځای خپله نکاح کولی شي او که د دوی دواړو تر منځ سوله وشي؛ نو دوباره نکاح کولی شي[۴] او د رجوع نه پس اګر چې د طلاق اثر ختمېږي لیکن کوم طلاقونه چې ده ته ورکول شوي هغه ده استعمال کړي هم دي، لهذا اوس به ده ته صرف د باقي طلاقونو اختیار وي، ځکه چې خاوند ته ټول د درې طلاقو اختیار ورکړل شوی دی، که چېرته هغه یو رجعي طلاق ورکړ: نو اوس دده سره دوه طلاقه پاتې شوه او که چېرته یې دوه رجعي طلاقه ورکړي وي؛ نو اوس دده سره صرف یو رجعي طلاق پاتې شو او که چېرته دا سړی خپلې ښځې ته هر وخت یو طلاق ورکړي؛ نو ښځه به حرامېږي او بغیر د شرعي حلالې نه به نکاح هم نه کېږي.[۵]

آیا د رجعي طلاق نه پس د رجوع کولو لپاره نکاح ضروري ده؟

سوال: آیا رجعي طلاق کې نکاح د دوه شاهدانو په موجودګی درسته ده؟

جواب: د رجعي طلاق په عدت کې دننه د دوباره نکاح کولو ضرورت نشته، صرف رجوع کول کافي دي[۶]، د عدت ختمېدو نه پس د دوه شاهدانو په موجودګی کې نکاح درسته ده.[۷]

...بقیه د تیرمخ]غیر مقرون بعوض ولا بعدد الثلاث لا نصاً ولا اشارة ولا موصوف بصفة تنبی عن البینونة......الخ. (قواعد الفقه/ ۳۰٤/ طبع صدف پبلشرز کراچی)۔

۱]واذا طلق الرجل تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فى العدة. (هداية / كتاب الطلاق/ ۲/ ۳۹٤، ایضاً: عالمگیری/ کتاب الطلاق/ الباب السادس فی الرجعة/ ۱/ ٤۷۰)۔

۲]والرجعة ان يقول راجعتک......أو يطاها او يقبلها او يلمسها بشهوة......الخ. (هداية / ۲/ ۳۹۵/ باب الرجعة، ایضاً تبیین الحقائق/ باب الرجعة/ ۳/ ۱٤۹/ طبع دار الکتب العلمیة بیروت)۔

۳]واما حكمه فوقوع الفرقة بانقضاء العدة فى الرجعى وبدونه فى البائن......الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۳٤۸)۔

٤]واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها.....الخ. (هداية/ ۲/ ۳۹۹)۔

۵] "الطلاق مرتان......فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجاً غيره" (البقرة: ۲۲۹) ایضاً: وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة وثنتين فى الامة لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. (هندية/ ۱/ ٤۷۳/ کتاب الطلاق/ الباب السادس فی الرجعة/ طبع رشیدیه)۔

٦]اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين.......فله ان يراجعها فى العدة رضيت بذالک او لم ترض، كذا فى الهداية.....الخ. (عالمگیری/ کتاب الطلاق/ الباب السادس فی الرجعة/ ۱/ ٤۷۰/ طبع رشیدیه)۔

۷] واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى العدة وبعد ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه۔

طلاق لیکلو سره طلاق واقع کیږي اګر که ښځې ته نه وي رسیدلی

سوال: زید په یوه کورنۍ کې واده وکړ، د واده دریې میاشتې پس د زید د ښځې ورور د زید په غیر موجودګۍ کې خپل کور ته راوسته، زید یو طلاق ولیکلو: خو د زید خپلوانو دا لیکل نسخ کړه او د زید کور ته یې د پوسټ بکس په ذریعه راواستوله چې تر اوسه پورې د زید سره دی، عرض دا دی چې په دې صورت کې آیا زید خپلې ښځې ته رجوع کولی شي؟ د دې طلاق علم د زید ښځې ته نشته ځکه چې خط هغې ته نه دی رسیدلی.

جواب: که یو طلاق یې لیکلی وي؛ نو یو طلاق رجعي واقع شو[1] ښځې ته خط رسېدل یا د هغې علم کېدل شرط نه دي، هغې ته د طلاق لېږلو خبر یا نه خبرېدل، په دې ټولو صورتونو کې طلاق واقع کیږي، مګر په یاد صورت کې یو رجعي طلاق واقع شو. لهذا عدت کې دننه رجوع کېدلی شي او عدت ختمیدو نه پس دوباره نکاح کولی شي.[2]

"هغه دي زما د کور نه لاړه شي" دې الفاظو سره طلاق واقع کیږي؟

سوال: د دوبۍ نه ما د خپلې ښځې مور پلار ته خط لیکلی دی چې زه ستاسو لور ته طلاق ورکول غواړم، د څه کورني خفګان له وجې، هغه دي زما له کوره لاړه شي، زه چې کله راشم چې د هغې مخ ونه وینم، تاسو ووایئ چې په داسې وینا سره طلاق واقع کیږي او که نه؟

جواب: دې الفاظو سره طلاق واقع کیږي،[3] عدت کې دننه دې ښځې سره نکاح کیږي.[4]

...بقیه د تیرمخ] انقضائها لان حل المحلیة باق لان زواله معلق بالطلقة الثالثة فینعدم قبله. (هدایة /۲ / ۳۹۹/ کتاب الطلاق/ کتاب الرجعة)۔

۱] الکتابة......ان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی او لم ینو........بان کتب اما بعد فانت طالق، فکما کتب هٰذا یقع الطلاق. (عالمگیری/ کتاب الطلاق/ ۱/ ۳۷۸/ طبع رشیدیه)۔

۲] اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیةً........فله ان یراجعها فی عدتها. (عالمگیری/ ۱/ ٤۷۰/ هدایة/ ۲/ ۳۹٤/ باب الرجعة)۔

۳] کنایة مالم یوضع له واحتمله وغیره لا تطلق بها الا بنیة او دلالة الحال......فنحو: اخرجی واذهبی وقومی: ای من هٰذا المکان لینقطع الشر، فیکون رداً، او لانها طلقها فیکون جواباً. (ردالمحتار مع الدر المختار/ کتاب الطلاق/ باب الکنایات/ ۳/ ۲۹٦، ۲۹۸/ طبع ایچ ایم سعید، ایضاً: فتاویٰ عالمگیری/ کتاب الطلاق الفصل الخامس/ ۱/ ۳۷٤، ۳۷۵/ طبع رشیدیه کوئته)۔

٤] واذا کان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها لان حل المحلیة باق لان زواله معلق بالطلقة الثالثة فینعدم قبله......الخ. (هدایة /۲ / ۳۹۹/ فتاویٰ عالمگیری/کتاب الطلاق/ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به / ۱/ ٤۷۲)۔

كه چېرته يې يو طلاق وركړى وي: نو په عدت كې د ننه پرته له نكاح كوروالى جائز دى

سوال: زما يو دوست خپلې ښځې ته داسې ليكل وركړه چې زه فلانى د فلاني زوى خپلې ښځې فلانۍ د فلاني لور د فلاني تحريري ليكلو باندې دا الفاظ چې "زه تاته يو طلاق دركوم" وليكل او وې ليږل، اوس هغه د ښځې سره دوباره كوروالى كول غواړي، شرعي طور باندې هغه څه كفاره ادا كړي كه دوباره نكاح وكړي؟ كله چې ده دا الفاظ وليكل دوه درې ورځې پس يې ښځه كور ته راغله، اوس دواړه راضي دي ليكن تر اوسه يې كوروالى نه دى شوى: نو څكه تاسو راته اوس زر تفصيلي ځواب وليكئ!

جواب: كه چېرته يې يو طلاق ليكلى وي: نو د هيڅ كفارې ضرورت نشته، د عدت تر ختمېدو پورې نكاح كافي ده، عدت كې دننه دې دواړه د ښځې او خاوند تعلق قائم كړي: نو طلاق به بې اثره پاتې شي.[۱]

رجعي طلاق كې تر كومه پورې رجوع كولى شي او د رجوع څه طريقه ده؟

سوال: رجعي طلاق كې د رجوع كولو وخت يوه مياشت ده او كه زياته؟ رجوع كولو نه مراد د كوروالى كول ضروري دي؟ كه چېرته په دواړو كې يو يا دواړه ددې قابل نه وي چې كوروالى وكړي: نو رجوع به څنګه كوي؟

جواب: رجعي طلاق كې "عدت" كې دننه رجوع كولى شي[۲] او د عدت په لحاظ سره د طلاق شوو ښځو درې قسمه دي:

۱: **لومړى قسم:** حامله: ددې عدت د بچي پيدا كېدل دي، د ماشوم پيدايش سره به ددې عدت ختم شي، خواه كه بچى زر پيدا شي او كه وروسته.[۳]

۱] اذا طلق الرجل امراته تطليقة......فله ان يراجعها فى عدتها.......الخ. (عالمگيرى/ باب الرجعة/ الباب السادس فى الرجعة/ ۱/ ۴۷۰، ايضاً: هداية/ ۲/ ۳۹۴)_

۲]اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعيةً.......فله ان يراجعها فى عدتها رضيت بذٰلك او لم ترض لقوله تعالىٰ: فامسكوهن بمعروف من غير فصل، ولا بد من قيام العدة، لان الرجعة استدامة الملك، الا ترىٰ انه سمى امساكاً وهو الابقاء، وانما يتحقق الاستدامة فى العدة، كذا فى الهداية. (عالمگيرية/ كتاب الطلاق/ الباب السادس فى الرجعة/ ۱/ ۴۷۰/ هداية / ۲/ ۳۹۴/ باب الرجعة، طبع ملتان)_

۳] وان كانت حاملاً فعدتها ان تضع حملها لقوله تعالى: واولت الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن......الخ. (الهداية/ كتاب الطلاق/ باب العدة/ ۲/ ۲۵۲/ طبع شركة علمية ملتان)_

۲ **دویم قسم** هغه ښځه ده چې د هغې میاشتینی ناروغي راځي. د هغې عدت درې حیضه دي. کله چې د طلاق نه پس هغه درې خله پاکه شي؛ نو د هغې عدت ختمیږي [۱]

۳ **دریم قسم** هغه ښځه چې نه حامله وي او نه هغې ته حیض راځي د هغوی عدت درې میاشتې دی [۲]

رجعي طلاق کې که چېرته سړی خپلې ښځې ته رجوع کول غواړي: نو په ژبه دي ووايي چې ما رجوع وکړه، دې سره به رجوع وشي او که چېرته یې په ژبه څه ونه ویل مګر د ښځې خاوند رشته یې په خپل حال پاتې کړه، یا یې د یو ځای کېدو اظهار وکړ او هغې سره یې لاس ولګولو بیا هم رجوع کیږي. [۳]

"ما تاته د یوې میاشتې لپاره یو طلاق درکړ" ددې حکم

سوال: زما ورور خپلې ښځې ته وویل: چې "ما تاته د یوې میاشتې لپاره یو طلاق درکړ" اوس ته یو میاشت پس زما په نکاح کې واپس کېدلې شې، دا معلومول غواړو چې ددې طلاق څه حکم دی؟ آیا د یوې میاشت نه پس به ښځه خپله زما د ورور په نکاح کې داخله شي؟ که چېرته داخله نه شي؛ نو هغه ته څه کول پکار دي؟

جواب: طلاق عارضي نه وي، په دې صورت کې یو طلاق رجعي واقع کیږي او یوه میاشت پس به د طلاق نه رجوع وکړي؛ نو ځکه ښځه به هم هغسې په نکاح کې وي، مګر یو طلاق ختم شو، اوس هغه صرف د دوه طلاقو مالک دی. [۴]

۱] "والمطلقٰت یتربصن بانفسهن ثلثة قروء" (البقرة: ۲۲۸) عدة الحرة للطلاق او الفسخ ثلاثة اقراء: ای الحیض: ای اذا طلقت الحرة، او وقعت الفرقة بینهما بغیر طلاق، فعدتها ثلاثة قروء........والمراد به اذا طلقها زوجها بعد الدخول....الخ. (تبیین الحقائق/ باب العدة/ ۳/ ۲۴۸/ طبع دار الکتب العلمیة بیروت، وکذا فی الدرالمختار/ باب العدة/ ۳/ ۵۰۴، ۵۰۵/ طبع سعید)۔

۲] "والئی یئسن من المحیض من نسآء کم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر والّئی لم یحضن" (الطلاق: ۴)۔

۳] والرجعة ان یقول راجعتک.....او یطاها او یقبلها او یلمسها بشهوة.....الخ. (هدیة/ ۲/ ۳۹۵) وایضاً: وکما تثبت الرجعة بالقول تثبت بالفعل وهو الوطء واللمس عن شهوة، کذا فی النهایة. وکذا التقبیل عن شهوة علی الفم بالاجماع.....الخ. (فتاویٰ عالمگیریة، کتاب الطلاق/ الباب السادس فی الرجعة/ ۱/ ۴۶۹/ طبع رشیدیه)۔

۴] ولو قال: انت طالق تطلیقةً تقع علیک غداً، تطلق حین یطلع الفجر، ولو قال تطلیقةً لا تقع الا غداً طلقت للحال، کذا فی محیط السرخسی. (عالمگیری/ ۱ / ۳۶۷) ایضاً: لو قال لها: انت طالق فی الغد، او قال: غداً، ولا نیة له یقع الطلاق حین یطلع الفجر من الغد......وعلی هٰذا اذا قال انت طالق رمضان او فی رمضان او قال انت طالق شهراً او فی شهر....الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۳۶۶)۔

غصه کې طلاق ليکلوسره طلاق واقع کيږي، ښځې ته کاغذ ورکول ضروري نه دي

سوال: زما يو دوست د غوسې په حالت کې د خپل خسرګنۍ په مخامخ خپلې ښځې ته په يو ساده کاغذ وليکل چې د يو څو وجو پر بنسټ زه تاته طلاق درکوم. ليکن زما د دوست د خپل خسر سره د جنګ له وجې داسې کيسه مخې ته راغله. لهذا هغه کاغذ چې په هغې کې پورته عبارت ليکل شوی ؤ هغه دده د ښځې ماما وشلولو او وروسته يې دواړه پوه کړه او دويمه ورځ يې ورته سوله وکړه، آيا په پورته ليکلو سره طلاق واقع شو؟

جواب: که چېرته د طلاق خط الفاظ هم هغه وي کوم چې په سوال کې ليکل شوي: نو په دې الفاظو سره يو طلاق رجعي واقع شو[1]، دا چې دوی په عدت کې دننه سوله وکړه: نو ځکه دواړه ښځه او خاوند دي.

آيا د طلاق نه پس ښځه خاوند پردي وي؟

سوال: زمونږ يو دوست دوه ويشت (۲۲) مياشتې مخکې خپلې ښځې ته يو طلاق ورکړی ؤ، دوه مياشتې پس يې ښځې دده نه پرده شروع کړه، بيا د هغه ښځې وويل چې طلاق واقع شوی دی. آيا دا خبره صحيح ده؟

جواب: يو طلاق ورکولوسره يو طلاق رجعي واقع کيږي، عدت کې دننه - دننه خاوند رجوع کولی شي، د نکاح تازه کولو نه پرته د ښځې خاوند تعلق په خپل حال کېدلی شي، عدت (چې درې حيضه دی) تېرولو نه پس نکاح ختميږي، دواړه به پردي شي[2]، ځکه چې په دوه مياشتو کې عدت پوره کيږي؛ نو ځکه که چېرته خاوند رجوع نه وه کړې او ښځه دا دعوه کوي چې په دوه مياشتو کې هغه درې ځله د حيض نه فارغه شوې ده، د ښځې دعوه د منلو وړ ده،[3] او

۱]والطلاق على ضربين صريح وكناية، فالصريح........قوله انت طالق، ومطلقة، وقد طلقتک، فهٰذا المذكور يقع به الطلاق الرجعى، لان هٰذه الفاظ تستعمل فى الطلاق ولا تستعمل فى غيره فكان صريحاً، وانه يعقب الرجعة بالنص.......ولا يقع به الا واحدة رجعية، وان نويٰ اكثر من ذٰلک....الخ. (اللباب فى شرح الكتاب/ كتاب الطلاق/ ۱۷۰)_

۲]واذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعيةً او تطليقتين فله ان يراجعها فى عدتها رضيت بذٰلک او لم ترض لقوله تعالى: فامسكوهن بمعروف من غير فصل، ولا بد من قيام العدة، لان الرجعة استدامة الملک، الا ترىٰ انه سمى امساكاً وهو الابقاء، وانما يتحقق الاستدامة فى العدة لانه لا ملک بعد انقضائها. (هداية/ كتاب الطلاق/ باب الرجعة/ ۲/ ۳۹٤، ايضاً: فتاوىٰ عالمگيرى/ كتاب الطلاق/ الباب السادس/ ۱/ ٤۷۰)_

۳]ولو بالحيض فاقلها لحرة ستون يوماً، وقال فى الرد: وعندهما اقل ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

دوه میاشتې وروسته د ښځې پرده کول بالکل صحیح دي، که چېرته دواړه خوښ وي؛ نو دوباره نکاح کولی شي.

حاملې ښځې ته څنګه رجوع وکړی شي؟

سوال: ما خپلې ته چې د پنځو میاشتو حمل لري د غوسې په حالت کې طلاق ورکړ. تر اوسه مې رجوع نه ده کړې، اوس یې زېږون نژدې دی؛ نو د رجوع به څه صورت وي؟

جواب: که چېرته رجعي طلاق دي ورکړی وي؛ نو د ماشوم د پیدا کېدو نه مخکې رجوع کېدی شي[1]، د ماشوم د پیدا کېدو وروسته به عدت ختم شي بیا د رجوع حق نه لري، البته د دواړو په خوښه دوباره نکاح کولی شي[2]، د عدت ختمېدو نه مخکې د رجوع کولو صورت دا دی، چې په ژبه دي ووایي: ما خپلې ښځې ته رجوع وکړه یا د ښځې خاوند تعلق دي قائم کړي یا د رجوع په نیت دي هغې ته لاس ولګوي.[3]

په یو یا دوه طلاقو سره سوله امکان لري

سوال: مونږ اوریدلي چې تر څو پورې درې طلاقه نه وي ورکول شي؛ نو طلاق نه واقع کیږي، مګر تاسو دوه ځله هم مکمل طلاق حساب کړی، دا ولې؟

جواب: طلاق خو یو هم واقع کیږي مګر یو یا دوه طلاقو نه پس د رجوع حق لري[4]، د درې طلاقو نه پس د رجوع حق نشته[5]؛ نو ځکه د عوامو دا ګمان چې طلاق نه واقع کیږي، تر څو

...بقیه د تیرمخ] مدة تصدیق فیها الحرة تسعة وثلاثون یوماً، ثلاث حیض بتسعة ایام وطهر ان بثلاثین. (شامی/ ۳/ ۵۲٤)۔

[1] وان کانت حاملاً فعدتها ان تضع حملها لاطلاق قوله تعالی: واولت الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن. (هدایة/ کتاب الطلاق/ باب الرجعة/ ۲/ ۴۲۳/ طبع شرکت علمیه ملتان)۔

[2] ایضاً اوګوری پورتنی حواله(واذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیةً او تطلیقتین فله ان یراجعها...الخ)۔

[3] والرجعة ان یقول راجعتک او راجعت امراتی وهٰذا صریح فی الرجعة لا خلاف بین الائمة، قال: او یطاها او یقبلها او یلمسها بشهوة....الخ. (هدایة / کتاب الطلاق/ باب الرجعة/ ۲/ ۳۹۵)۔

[4] واجمع العلماء علی ان الرجل اذا طلق دون الثلاث له الرجعة فی العدة، وبناء علیه: اذا طلق الرجل امراته المدخول بها تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها سواء رضیت بذٰلک او لم ترض لانها عند الحنفیة باقیة علی الزوجة. (الفقه الاسلامی وادلته/ کتاب الطلاق/ ۷/ ۶۹۸۷/ ایضاً: عالمګیری/ کتاب الطلاق/ الفصل السادس/ ۱/ ۴۷۰/ طبع رشیدیه)۔

[5] وان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرا وثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره نکاحاً صحیحاً ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها. (هدایة/ کتاب الطلاق/ باب الرجعة/ ۲/ ۳۹۹)۔

پورې چې درې ځله طلاق ورنه کړي بالکل غلط دی. درې طلاقه په یو ځل ورکول ناجائز دي[۱] او که چېرته یې ځوک ورکړي؛ نو د سولې حق یې هم ختمیږي.[۲]

نوټ د رجوع څو صورتونه دي: یا خو دي په ژبه ووایي چې ما د طلاق نه رجوع وکړه، یا دي د ښځې خاوند په ځېر تعلق وساتي، ددې نه علاوه په مچو کولو سره هم رجوع ثابتیږي[۳]، ځکه په رجعي طلاق کې د دوباره نکاح کولو ضرورت نه وي، تر څو پورې چې د ښځې عدت ختم نه شي

آیا دوه ځله طلاق ورکولو نه پس کفاره ورکولو سره ښځه په خپل کور کې پاتې کولی شي؟

سوال: یوسړي عاشق حسین خپلې ښځې ته دوه ځله طلاق ورکړ،اوس ځینې خلک وایي طلاق نه دی واقع شوی، آیا ددې څه خوراک د کفارې ورکولو سره ښځه خپل کور کې ساتلی شي؟

جواب: که چېرته یې دوه ځله د طلاقو لفظ ویلی وي؛ نو عدت کې دننه رجوع کولی شي او عدت تیرېدلو نه پس دوباره نکاح کولی شي[۴]، د خوراک ورکولو هیڅ ضرورت نشته. لیکن اوس که چېرته یې دریم ځل طلاق ورکړ؛ نو دواړه به د یو بل لپاره حرام شي او بغیر د شرعي حلالې نه دوباره نکاح هم نه کیږي.[۵]

زباني طلاق ورکولو سره طلاق واقع کیږي

سوال: زما اوخې چې زمونږ سره اوسیږي، هغه یوه ورځ په غوسه کې زما خور ته دوه ځله

۱]عن محمود بن لبید قال: اخبر رسول الله صلی الله علیه وسلم عن رجل طلق امراته ثلاث تطلیقات جمیعاً فقام غضبان ثم قال: ایلعب بکتاب الله عزوجل وانا بین اظهرکم! حتی قام رجل فقال: یا رسول الله! الا اقتله؟ رواه النسائی. (مشکوٰة/ ۲۸۴/ باب الخلع والطلاق)_

۲]وان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرة وثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره نکاحاً صحیحاً ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها. (هدایة/ کتاب الطلاق/ باب الرجعة/ ۲/ ۳۹۹)_

۳]والرجعة یقول راجعتک.......اویطاها او یقبلها او یلمسها بشهوة.....الخ. (هدایة/ ۲/ ۳۹۵)_

٤] واجمع العلماء علی ان الرجل اذا طلق دون الثلاث له الرجعة فی العدة، وبناء علیه: اذا طلق الرجل امراته المدخول بها تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها سواء رضیت بذٰلک او لم ترض لانها عند الحنفیة باقیة علی الزوجة. (الفقه الاسلامی وادلته/ کتاب الطلاق/ ۷/ ۶۹۸۷/ ایضاً: عالمگیری/ کتاب الطلاق/ الفصل السادس/ ۱/ ٤۷۰/ طبع رشیدیه)_

۵] وان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرة وثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره نکاحاً صحیحاً ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها. (هدایة/ کتاب الطلاق/ باب الرجعة/ ۲/ ۳۹۹)_

زباني طلاق ورکړه، تاسو ته درخواست دی چې د اسلام له مخې طلاق واقع شوی دی او که نه؟

جواب: زباني طلاق ورکولو سره هم طلاق واقع کيږي[۱]. لهذا ستا خور ته دوه طلاقه ورکول شوي دي، عدت کې دننه رجوع کولی شي. د عدت نه پس دوباره نکاح کولی شي[۲]. آينده که چېرته يو بل طلاق ورکړي؛ نو مغلظه طلاق به واقع شي او بغير د حلالې نه به نکاح صحيح نه وي[۳]

آيا دوه طلاقه ورکوونکی درې نيمي مياشتې پس ښځه دوباره خپل کورکې اوسولی شي؟

سوال: يوه اوه ورځنۍ مجله کې يو سړي مذهبي مضمون ليکلی چې په هغې کې د هغه خلکو د مسئلو ځواب ورکوي، د راولپنډۍ يوې ښځې ترې پوښتنه کړې چې ددې ښځې خاوند دې ته دوه ځله طلاق ورکړ چې د هغې نه پس هغه د خپلې مور کور ته لاړه، تقريباً درې نيمي مياشتې بعد د هغې خاوند راغلو او هغه يې کور ته بوتله، ليکن هغې خپل خاوند قبول نه کړ، هغه ددې وجې نه خفه وه چې هغې ته معلومات نه ؤ چې دوه ځله طلاق ورکولو سره طلاق واقع کيږي او که نه. هم دا ددې د سوال پوښتنې مقصد ؤ، ځواب کې هغه سړي وليکل چې کوم شی ذهن قبول نه کړي، په هغې کې د سولې ګنجايش وي، حال دا چې زما معلومات چې تر کومه پورې دی. هغه دا چې د هغې مطابق دوه ځله خو طلاق واقع کيږي ليکن په هغې کې د سولې ګنجايش موجود وي.

۱]واما تفسيره شرعاً فهو رفع قيد النكاح حالاً او مالاً بلفظ مخصوص، كذا فى البحرالرائق/ واما ركنه فقوله انت طالق ونحوه، كذا فى الكافى. (عالمگيرى/ ۱/ ۳٤۸/ كتاب الطلاق/ طبع رشيديه)۔

۲]تصح الرجعة ان لم يطلق بائناً.....ولا يخفى ان الشرط واحد، هو كون الطلاق رجعياً، وهٰذه شروط كونه رجعياً، متى فقد منها شرط كان بائناً. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ باب الرجعة/ ۳/ ۳۹۹، ٤۰۰) ايضاً: واذا طلق الرجل امراته تطليقةً رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فى عدتها رضيت به او لم ترضى. (فتاوىٰ عالمگيرى/ ۱/ ٤۷۰/ كتاب الطلاق/ الباب السادس فى الرجعة) ايضاً: واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى عدتها وبعد انقضاء عدتها. (اللباب فى شرح الكتاب، كتاب الرجعة/ ۲/ ۱۸۳/ طبع قديمى)۔

۳] الطلاق مرتان.......فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجاً غيره. (البقرة: ۲۳۰) وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة وثنتين فى الامة، لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً، ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها، كذا فى الهداية. (عالمگيرى/ ۱/ ٤۷۳/ كتاب الطلاق/ الباب السادس فى الرجعة/ هداية/ ۲/ ۳۹۹/ باب الرجعة)۔

جواب: د دې مسئلې صحیح ځواب دا دی چې یو ځل یا دوه ځله طلاق ورکولو سره خو طلاق واقع کیږي لیکن خاوند ته په عدت کې دننه د رجوع کولو حق وي[1] او د عدت ختمېدو نه پس د نکاح تازه کولو ضرورت وي[2]، د دې ښځې خاوند که چېرته په عدت کې دننه رجوع کړې وي: نو نکاح شته او که چېرته یې نه وي کړې؛ نو د نکاح تازه کولو نه بغیر دوباره د دې خاوند کور آبادول ناجائز دي.

❖ بائن طلاق ❖

د بائن طلاق تعریف

سوال: د طلاق بائن تعریف څه دی؟ که چېرته درې ځله یا د دې نه زیات ووایي چې: زما تاسره هیڅ تعلق نشته، یا ما ته آزاده کړې؛ نو آیا دوباره د دې ښځې سره نکاح کیږي؟

جواب: د طلاقو درې قسمونه دي: طلاق رجعي، طلاق بائن او طلاق مغلظه.

رجعي طلاق: دا دی چې په صریحو الفاظو سره وویل شي: یا دوه طلاقه ورکړي[3]، د دې حکم دا دی چې په داسې طلاق کې عدت پوره کېدو پورې نکاح باقي وي او خاوند ته اختیار وي چې عدت ختمېدو نه مخکې رجوع وکړي، که چېرته هغه په عدت کې دننه رجوع وکړي؛ نو نکاح په خپل حال ده او د دوباره نکاح کولو ضرورت نشته[4]، که چېرته هغه په عدت کې دننه رجوع ونه کړه؛ نو طلاق به واقع شي او نکاح به ختمه شي[5]، که چېرته دواړه وغواړي نو

۱]واذا طلق الرجل تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فى عدتها رضيت بذالک اولم ترضى، لقوله تعالىٰ: فامسکوهن بمعروف. (هداية / کتاب الطلاق/ ۲/ ۳۹۴/ باب الرجعة)_

۲]واذا کان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى عدتها وبعد انقضاء عدتها. (اللباب فى شرح الکتاب، کتاب الرجعة/ ۲/ ۱۸۲، ۱۸۳/ طبع قديمى)_

۳]اما الصريح الرجعى: فهو ان يکون الطلاق بعد الدخول حقيقة غير مقرون بعوض، ولا بعدد الثلاث لانصا، ولا اشارة، ولا موصوفاً بصفة تنبيء عن البينونة. (بدائع الصنائع/ کتاب الطلاق/ فصل فى بيان صفة الواقع/ ۳/ ۱۰۹) ايضاً: الطلاق على ضربين صريح وکناية فالصريح قوله: انت طالق، ومطلقة وطلقتک فهٰذا يقع به الطلاق الرجعى لان هٰذه الالفاظ تستعمل فى الطلاق ولا تستعمل فى غيره فکان صريحاً وانه يعقب الرجعة بالنص. (هداية/ کتاب الطلاق/ باب ايقاع الطلاق/ ۲/ ۳۵۹)_

۴]تصح الرجعة ان لم يطلق بائناً.....ولا يخفٰى ان الشرط واحد، هو کون الطلاق رجعياً، وهٰذه شروط کونه رجعياً، متى فقد منها شرط کان بائناً. (الدرالمختارمع ردالمحتار/ باب الرجعة/ ۳/ ۳۹۹، ۴۰۰/ ايضاً: عالمگيرية/ ۱/ ۴۷۰)

۵]واما حکمه فوقوع الفرقة بانقضاء العدة فى الرجعى وبدونه فى البائن......الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۴۸)_

دوباره نکاح کولی شي[۱]، (لیکن څومره طلاقونه چې هغه ورکړي دي هغه ختم شو. آینده هغه ته صرف په درې طلاقو کې به د باقي طلاقونو اختیار وي، مثلاً که چېرته یو طلاق یې ورکړی وي او د هغې نه یې رجوع کړې وي؛ نو اوس دده سره صرف دوه طلاقه پاتې شو او که دوه طلاقه یې ورکړي وي رجوع یې کړې وي؛ نو اوس صرف یو باقي پاتې شو او که چېرته یې یو طلاق ورکړ؛ نو ښځه به درې طلاقو سره طلاقه شي او بیا به پردۍ شي[۲]

بائن طلاق: دا دی چې په دوه معنا لرونکو الفاظو سره (یعنې کنایي الفاظو سره) یې طلاق ورکړی وي[۳]، یا طلاق سره څه داسې صفت ذکر کړي چې د هغې نه دده سختي مطلب وي[۴]، مثلاً داسې ووایي چې تاته سخت طلاق، یا اوږد، لنډ طلاق دی. د بائن طلاق حکم دا دی چې ښځه فوراً د نکاح نه وځي او خاوند ته د رجوع کولو حق نه وي، البته عدت کې دننه او د عدت نه پس هم دوباره نکاح کولی شي.[۵]

مغلظ طلاق دا دی چې درې طلاقه ورکړي، په دې صورت کې به ښځه د همېش لپاره حرامه شي. بغیر د شرعي حلالې نه دوباره نکاح نه کیږي.[۶]

د خاوند دا وینا چې زما ستا سره هیڅ تعلق نشته، دا کنایي طلاق دی[۷]، دې سره یو بائن طلاق واقع کیږي، دویم او دریم ځل ویل به یې لغو وي، ما ته آزاده کړې الفاظ په پښتو ژبه

۱]اذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى عدتها وبعد انقضاء عدتها لان حل المحلية باق لان زواله معلق بالطلقة الثالثة فينعدم قبله....الخ. (اللباب فى شرح الكتاب/ كتاب الرجعة/ ۲/ ۱۸۳/طبع قديمى)

۲] "الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ.......فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّى تَنكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰)_

۳]واما الصريح البائن فبخلافه وهو ان يكون بحروف الابانة او بحروف الطلاق، لكن قبل الدخول حقيقة او بعده لكن مقرونا بعدد الثلاث نصاً او اشارة. (بدائع/ كتاب الطلاق/ فصل فى بيان صفة الواقع/ ۳/ ۱۰۹) ايضاً: اما الضرب الثانى وهو الكنايات لا يقع بها الطلاق الا بالنية او بدلالة الحال لانها غير موضوعة للطلاق.....الخ. (هداية/ كتاب الطلاق/ باب ايقاع الطلاق/ ۲/ ۳۷۳/ طبع مكتبه شركت علميه ملتان)_

۴]واذا وصف الطلاق بضرب من الزيادة والشدة كان بائناً مثل ان يقول انت طالق بائن او البتة......وكذا اذا قال لها: انت طالق افحش الطلاق لانه انما يوصف بهذا الوصف باعتبار اثره وهو البينونة فى الحال فصار كقوله بائن.....ولو قال: انت طالق تطليقة شديدة او عريضة او طويلة فهى واحدة بائنة.........الخ. (هداية/ ۲/ ۳۶۹، ۳۷۱/ باب ايقاع الطلاق)_

۵] واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى عدتها وبعد انقضاء عدتها لان حل المحلية باق.....الخ. (اللباب فى شرح الكتاب/ كتاب الرجعة/ ۲/ ۱۸۳/ طبع قديمى)_

۶] وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة او ثنتين فى الامة لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. كذا فى الهداية. (عالمگيرى/ ۱/ ۴۷۳/ وكذا فى البحر/ كتاب الطلاق/ ۴/ ۹۴)_

۷]كناية عند الفقهاء مالم يوضع له واحتمله وغيره لا تطلق بها الا بالنية...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

کې صریح طلاق دي[۱]؛ نو ځکه که چېرته دا الفاظ یو ځل یا دوه ځله ووایي: نو رجعي طلاق واقع کیږي او که چېرته درې ځله ووایي نو طلاق مغلظ به واقع کیږي.

آیا "د نن نه ته په ما باندې حرامه یې" الفاظو سره طلاق واقع کیږي

سوال: ځو ورځې وشوې چې زما ښځه زما د مور سره جنګونه کوي اوس د مور کور ته لاړه، دا ددې عادت جوړ شوی دی، زه د راوستلو لپاره د هغې د مور کور ته لاړم، هغې زما مور ته زما مخامخ کنځلې وکړې؛ نو ما هلته د هغې د مور- پلار په وړاندې هغې ته وویل چې د نن نه ته په ما باندې حرامه یې؛ تاسو راته ووایئ چې آیا هغه طلاقه شوه او که نه؟ که چېرته طلاقه شوې وي: خو صحیح ده او که چېرته نه وي طلاقه شوې: نو زه هغې ته طلاق ورکول غواړم، ستا د خبرېدو لپاره بله خبره دا چې هغه د اوه میاشتو بچې هم په نس کې لري.

جواب: "د نن نه په ما باندې حرامه یې" دې الفاظو سره طلاق بائن واقع کیږي[۲]، د بچي د پیداکېدو سره به ددې عدت پوره شي[۳]، ددې نه پس هغه دویم ځای نکاح کولی شي، که چېرته ستا غوسه ختمه شي؛ نو ستا سره هم دوباره نکاح کولی شي، عدت کې دننه او د عدت نه وروسته هم.[۴]

"په ما باندې به حلاله د نیا حرامه وي" ددې حکم

سوال: زید د خپل کور نه تقریباً دوه کاله لرې مسافر ؤ، تېره میاشت په اکتوبر کې د زید خپلوانو د زید نه پوښتنه وکړه، د بحث نه پس هغه د شاهدانو په وړاندې دا خبرې ولیکلې.

۱: د ۱۹۸۸ء فروري پورې به زه خپلې ښځې او بچو ته د حاضرېدو نه بند یم.

۲: تر دغه وخت پورې به درې سوه روپۍ میاشت خپلې ښځې او بچو ته د خوراک څښاک لپاره لیږم.

...بقیه د تیرمخ] او دلالة الحال......الخ. المراد بها حالة الظاهرة المفیدة المقصودة. (شامی/ ۳/ ۲۹٦) ایضاً: ولو قال: لا نکاح بینی وبینک، او قال: لم یبق بینی وبینک نکاح، یقع الطلاق اذا نوی، ولو قالت المراة لزوجها: لست لی بزوج، فقال الزوج: صدقت، ونویٰ به الطلاق، یقع فی قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی.......وفی الفتاویٰ لم یبق بینی وبینک عمل ونوی یقع کذا فی العتابیة......الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۳۷۵، ۳۷٦/ کتاب الطلاق/ الباب الثانی فی ایقاع الطلاق)۔

۱]فان سرحتک کنایة لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصریح فاذا قال "رهاکردم" ای سرحتک یقع به الرجعی....الخ. (شامی/ ۳/ ۲۹۹/ کتاب الطلاق/ باب الکنایات/ ایضاً: البحرالرائق/ ۳/ ۳۲۳)۔

۲]ولو قال.....انا علیک حرام ینوی الطلاق فهی طالق. (هدایة/ ۲/ ۳٦٦/ باب ایقاع الطلاق)۔

۳]"واولت الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن" (الطلاق: ٤)۔

٤] واذا کان الطلاق بائناً دون الثلاث له ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها...الخ. (عالمگیری/ ۱/ ٤۷۲)۔

۳ که چیرې زه ددې خبرو څخه واوړم؛ نو په ما باندې به حلاله دنیا حرامه وي
دا یاد ساتل پکار دي چې پورته الفاظو نه اوړېدونکې کس باندې ښځه طلاقه شوې او که نه؟ اوس زید ددې خبرو نه واوړید. په قرآن او سنت کې د زید لپاره څه حکم دی؟

جواب: فی الخانیة: **رجل قال کل حلال علی حرام او قال کل حلال او قال حلال الله او قال حلال المسلمین وله امراة ولم ینوشیئاً اختلفوافیه قال الشیخ الامام ابوبکرمحمدبن الفضل والفقیه ابوجعفر و ابوبکر الاسعاف وابوبکربن سعیدرحمهم الله تعالی تبین منه امراته بتطلیقة واحدة وان نوی ثلاثاًفثلاث، وان قال لم انوبه الطلاق، لایصدق قضاءً لانه صار طلاقاً عرفاً، ولهذالایحلف به الاالرجال.(فتاوی قاضی خان بر حاشیه فتاوی هندیه ص۵۱۹ ج۱)**

ژباړه: خانیه کې دي که چیرې یو سړي وویل چې: ټول حلال په ما باندې حرام دي. یا هر یو حلال. یا دا چې د الله تعالی له طرفه ټول حلال. یا د مسلمانانو حلال په ما باندې حرام دي او د هغه ښځه هم وي یا هغه څه نیت نه وي کړی، دې کې د عالمانو اختلاف دی: شیخ امام ابوبکر محمد بن فضل رحمه الله، فقیه ابو جعفر رحمه الله ، ابوبکر اسعاف رحمه الله او ابوبکر بن سعید رحمه الله په نزد دې الفاظو ویلو سره یو طلاق واقع شو، که چیرې هغه د دریو طلاقونو نیت کړی وي؛ نو درې طلاقه به واقع شي او که چیرې هغه دا وایي چې ما دې الفاظو سره د طلاق نیت نه و کړی؛ نو بیا به د هغه دا خبره صحیح نه ګڼل کیږي، ځکه چې عام طورباندې دا د طلاق الفاظ دي.

ددې روایت نه معلومیږي چې ذکر شوي صورت کې د زید الفاظ د انحراف نتیجه ده. ما باندې به حلاله دنیا حرامه وي. په حقیقت کې د طلاقو الفاظ دي؛ نو کله چې هغه شرط پوره نه کړ. د هغه په ښځه باندې به د فروری ۱۹۸۸ء نه طلاق بائن واقع شي. د عدت پوره کېدو نه پس بل ځای نکاح کولی شي.

که چا وویل چې: "ته د خپلې مور کور ته لاړه شه "زه به تاته طلاق په خط سره درولیږم ، آیا دې سره ښځه طلاقیږي؟

سوال: آیا بیا- بیا د خاوند دې وینا سره چې ته د خپلې مورکور ته لاړه شه، زه به تاته طلاق په خط درولیږم، د طلاق لفظ د خولې نه ادا کولو سره وو ایي، آیا دې سره طلاق واقع شو؟

جواب: که چېرته خاوند د طلاقو په نیت دا ووایي چې ته د خپلې مور کور ته لاړه شه! نو دې سره طلاق بائن واقع کیږي، ددې نه پس بغیر د نکاح تازه کولو نه دوباره د ښځې خاوند تعلق ساتل ناجائز دي.

ستا خاوند چې کوم الفاظ ویلي دي هغې سره بائن طلاق واقع شو [۱]

"زه آزادوم" د طلاقو صریح الفاظ دي

سوال: د نن نه تقریباً دوه کاله مخکې زما او د ښځې په منځ کې څه اختلافات راغله او زه د خپلې مور کره پېښدې ته لاړم، هلته زما خاوند زما مور پلار ته یو خط ولیکلو چې په هغې کې د هغه الفاظ دا ؤ، ما سوچ کړی دی چې زه د نن نه ستا لور آزادوم، دا پرېکړه مي په ډېر سوچ سره کړې ده، د هغې نه پس چې کله ما د هغه سره ولیدل، هغه وویل: چې ته اوس زما لپاره حرامه یې او ملاوېدل نه دي غواړم، بیا د خاندان مشرانو هغه پوه کړ، هغه ورته وویل چې ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی لیکن بیا د ټولو خلکو په پوهولو سره لړ پوه شو او په دغه بزرګانو کې یو مولانا صاحب زما خاوند ته وویل چې: تا د طلاقو الفاظ نه دي استعمال کړي لهذا ته رجوع کولی شې؛ نو د هغه وخت نه تر اوسه پورې مونږ یو ځای اوسېږو او زمونږ د یو څو میاشتو لور هم ده.

جواب: په پښتو ژبه کې "زه آزادوم" الفاظ د صریح طلاق الفاظ دي[۲]؛ نو ځکه د مولانا صاحب دا ویل خو غلط دي چې د طلاقو الفاظ یې نه دي استعمال کړي، البته دا لفظ یې صرف یو ځل استعمال کړی دی؛ نو یو طلاق واقع شو او د خاوند دا وینا چې اوس ته ورته حرامه یې، ددې خبرې قرینه ده چې د هغه بائن طلاق مراد دی[۳]؛ نو ځکه نکاح دوباره کول پکار وو، په هرحال کومه غلطي چې شوې ده د هغې معافي خو د الله تعالی نه وغواړئ او سمدستي دوباره نکاح وکړئ! [۴]

"زه تا د ښځیتوب د حق نه خارجوم" ددې حکم

سوال: ما خپلې ښځې ته وویل چې "زه تا د ښځیتوب نه خارجوم" درې ځله وویل، په دې کې یې یو ځل د طلاقو لفظ استعمال کړو، آیا په دې صورت کې طلاق واقع شوی دی؟ ځکه چې ښځې خپله طلاق غوښتلو مګر ما ورکول نه غوښتل، اوس تاسو د شریعت په رڼا کې ووایئ چې طلاق واقع شوی دی او که نه؟

۱] وبقية الكنايات اذا نوىٰ بها الطلاق كانت واحدة بائنة......مثل قوله: انت بائن.........اغربي واخرجي واذهبي وقومي.......الخ. (هداية/ ۲/ ۳۷٤، عالمگیری/ ۱/ ۳۷٦) وان كان الطلاق بائناً دون الثلاث له ان يتزوجها فى العدة وبعد انقضائها.....الخ. (عالمگیری/ ۱/ ٤۷۲)۔

۲]فان سرحتک کناية لكنه فى عرف الفرس غلب استعماله فى الصريح فاذا قال "رهاکردم" اى سرحتک يقع به الرجعى....الخ. (شامى/ ۳/ ۲۹۹/ كتاب الطلاق/ باب الكنايات)۔

۳]واذاوصف الطلاق بضرب من الزيادة والشدة كان بائناً......الخ. (هداية/ ۲/ ۳٦۹/ باب ايقاع الطلاق)

٤]واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث له ان يتزوجها فى العدة وبعد القضاء عدها....الخ. (هداية / ۲/ ۳۹۹)

جواب: د ښځيتوب نه دي خارجوم، الفاظو سره طلاق بائن واقع کيږي[۱]. دوباره نكاح وكړئ![۲]

ته زما په نكاح كې نه يې، الفاظو سره د طلاق حكم

سوال: زما يو دوست د غوسې په حالت كې خپلې ښځې ته د دريو نه زيات ځل وويل چې: ته زما په نكاح كې نه يې! آيا طلاق واقع شو او كه نه؟

جواب: ته زما په نكاح كې نه يې، دا الفاظ د كنايي طلاقو دي، كه چېرته د طلاق په نيت يې دا الفاظ ويلي وي؛ نو په دې سره يو بائن طلاق واقع شو[۳]، دويم او دريم ځل ويل يې لغو شو[۴]، نو ځكه دوباره نكاح كېدى شي.[۵]

دا زما ښځه نه ده، دا الفاظ د كنايي طلاقو دي

سوال: يوځل ما د خپلې ښځې سره جنګ وكړ؛ نو ما په غوسه كې وويل: چې "دا زما ښځه نه ده، زه يې خپله ښځه نه ګڼم" ما د طلاق لفظ نه دى استعمال كړى، تاسو ووايئ چې آيا په دې سره يو طلاق واقع كيږي كه كفاره ادا كړم؟

جواب: دا كنايي الفاظ دي، دې سره يو بائن طلاق واقع شو، نكاح دي دوباره وكړي.[۶]

۱] وبقية الكنايات اذا نوى بها الطلاق كانت واحدة بائنة. (هداية/ ۲/ ۳۷۴) ايضاً: ولو قال انا بريء من نكاحک يقع الطلاق اذا نوى. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۷۶، كتاب الطلاق/ الباب الثانى/ الفصل الخامس)۔

۲] واذاكان الطلاق بائناً دون الثلاث له ان يتزوجها فى العدة وبعد انقضاء عدتها.....الخ.(هداية / ۲/ ۳۹۹)

۳] ومثله قوله.........لم يكن بيننا نكاح.......ونفى النكاح فى الحال يكون طلاقا اذا نوىٰ.......الخ. (شامى/ ۳/ ۲۸۳/ باب الكنايات/ كتاب الطلاق)۔

۴] والبائن يلحق الصريح لا البائن اى البائن لا يلحق البائن......الخ. (بحرالرائق/ ۳/ ۳۰۷)۔

۵] واذا كان الطلاق بائناً دون الثلاث فله ان يتزوجها فى عدتها وبعد انقضاء عدتها لان حل المحلية باق. (اللباب فى شرح الكتاب/ ۲/ ۱۸۳/ كتاب الرجعة/ هداية/ ۲/ ۳۹۹)۔

۶] ويقع باقيها.......البائن ان نواها وقال فى الرد: مثل الطلاق عليک.......(الى ان قال) لست لى بامراة وما انا لک بزوج. (شامى/ ۳/ ۳۰۳/ كتاب الطلاق/ باب الكنايات)۔

❖ طلاق مغلظه ❖

درې طلاقو والا باید څه وکړي؟

سوال: داسې مسئله راته وښیئ چې په هغې کې د نبي کریم ﷺ په خدمت کې پوښتنه شوې وي، ما خپلې ښځې ته درېم ځل طلاق ورکړی دی، اوس زما لپاره څه حکم دی؟ مهرباني وکړئ حدیث سره حواله ولیکئ؛ واضحه دې وي چې زما سوال یو ځل. په یو مجلس کې درې یا د دریو نه زیاتو طلاقو په باره کې نه دی.

جواب: امام بخاري رحمه الله په باب من اجاز طلاق الثلاث کې د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها د روایت نه د رفاعه قرظي د ښځې واقعه نقل کړې ده، چې رفاعه ورته درې طلاقه ورکړي ؤ. هغې د عبدالرحمن بن زبیر سره نکاح وکړه او نبي کریم ﷺ ته یې شکایت وکړو. چې هغه د ښځې سره په کوروالي قدرت نه لري؛ نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: چې تاسو رفاعه ته واپس تلل غواړئ؟ (هغې وویل چې هو: نبي کریم ﷺ وفرمایل) دا نه کیږي تر دې پورې چې د دویم خاوند سره کوروالي نه وي شوی.

حدثنا سعید ابن عفیر قال: حدثني اللیث، حدثني عقیل عن ابن شهاب قال: اخبرني عروة بن الزبیر ان عائشة اخبرته ان امراة رفاعة القرظي جاءت الی رسول الله ﷺ فقالت: یا رسول الله ان رفاعة طلقني فبت طلاقي واني نکحت بعده عبدالرحمن بن الزبیر القرظي وانما معه مثل الهدبة قال رسول الله ﷺ: ((لعلک تریدین ان ترجعي الی رفاعة، لا حتی یذوق عسیلتک وتذوق عسیلته))، (صحیح بخاری ۷۹۱، ج۲)

داسې یوه کیسه د فاطمه بنت قیس رضی الله عنها هم په صحیح مسلم وغیره کې روایت شوې ده چې دې خاوند درېم طلاق ورکړی وو.[1]

د دریو طلاقو حکم

سوال: دا چې ښځه او خاوند د هر کلونه یو ځای اوسېدلي وي، د هغوی خواره - خواره بچي وي. انسان چې کمزوری دی؛ نو خامخا به کله ناکله غوسه ورځي او د خولې نه یې

---

[1] عن ابن شهاب ان ابا سلمة بن عبد الرحمن بن عوف اخبره ان فاطمة بنت قیس رضی الله عنها اخبرته انها کانت تحت ابی عمرو بن حفص بن المغیرة فطلقها اخر ثلاث تطلیقات فزعمت انها جائت رسول الله صلی الله علیه وسلم تستفتیه في خروجها من بیتها فامرها ان تنتقل الی ابن ام مکتوم الاعمی........الخ. (صحیح مسلم/ باب المطلقة البائنة لا نفقة لها/ ۱/ ٤٨٤/ طبع قدیمی)۔

غلط الفاظ وځي: خو بیا وروسته په هغې باندې خفه وي: نو بې شکه الله تعالی ډېر غفور او رحیم دی. کنه داسې ډېر کورونه به تباه شي

د قانون مطابق درې طلاقه په دریو میاشتو کې پوره کیږي. که هم په یو ځای ورکول شي. درې میاشتې پس یې الله تعالی هم نه معاف کوي. ځکه چې د دریو میاشتو د مهلت نه فایده وانخستل شوه. که چیرې درې طلاقه ورکولو ته وروسته بل طلاق ورکوي: نو دا به یو اسلامي قانون نه. بلکې د یورپ او امریکې طلاق به شي.

انګریزي حکومت کې به اوس هم دا قانون وي چې یو سړی بغیر د اطلاع ورکولو نه د خپلې وظیفې څخه غیر حاضر وي، که چیرې شپږ میاشتې پس راشي: نو هغه دوظیفې څخه نه باسي. په دهلي کې زمونږ د یو ملګري سره هم داسې وشوه چې شپږ میاشتې پس ورغی؛ اوس هم هغه خپله وظیفه اجرا کوي.

دغه راز د طلاق لپاره د دریو میاشتو وخت دی، دې کې طلاق ورکونکي ته باید د طلاق واپس اخیستلو حق وي او که چیرې درې طلاقونه په یو وخت ورکول شي: نو سمدستي طلاق واقع شي؛ نو بیا خو دا هم د یورپ او امریکې طلاق شو، کوم چې اسلامي طلاق نه شي کېدی.

زما د کم فکر اړوند په یو وخت کې درې طلاقونه ورکولو په ځواب کې د دریو میاشتو وخت ورکول هم پکار دي، کنه نو کورونه به خراب شي او ماشومان به بې تربیې پاتې شي.

جواب: شرعي مسئله خو هم هغه ده کومه چې ما لیکلې، څلور امامان او د امت فقهاء په دې قائل دي، تاسو چې کومه وېره ښکاره کړې ده، د هغې ځواب درته لیکلی شم؛ خوضرورت یې نه ګڼم، که څه ضرورت ورته وای: نو د هغې په ویلو کې به مې بخل نه کولو؛ خو کله چې ضرورت نشته: نو خپل ځان ددې نه معذور ګڼم.

زهر خوړل په قانون کې منع او شرعي طور باندې حرام دي؛ خو که څوک یې وخوري او د هغې په نتیجه کې ډاکټر ولیکي چې ددې زهرو په وجه مړ شوی؛ نو ډاکټر به مجرم نه وي. د هغه ګناه به صرف دومره وي چې هغه د زهرو نتیجه ذکر کړې ده.

د دریو طلاقو نه پس د رجوع مسئله

سوال: په یو وخت کې دریو طلاقو سره درې طلاقه واقع کیږي او بیا سهوا د حلالې نه د رجوع کولو څه صورت نه پاتې کیږي، دا د حنفیه وو مسلک دی، لیکن اهلحدیث وایي چې د حضور ﷺ په زمانه کې ابو رکانه ام رکانه ته درې طلاقه ورکړه، کله چې د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شول؛ نو حضور ﷺ هغه ته د رجوع کولو اجازت ورکړ.

جواب: د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د أئمه اربعه وو رحمهم الله په دې باندې اتفاق دی چې درې طلاقه

که په یو لفظ سره وي او که په یو مجلس کې. هغه درې وي[۱]. د ابو رکانه رضي الله عنه واقعه چې تاسو نقل کړې ده، په دې کې لوی اختلاف دی. صحیح خبره دا ده چې هغه درې طلاقه نه وو، بلکې هغه طلاق بته ورکړی ؤ[۲]. بهر حال هر کله چې په نورو احادیثو کې وضاحت شتون لري او صحابه کرام رضي الله عنهم او د دین امامان رحمهم الله هم په دې باندې اتفاق لري: نو په دې کې د اختلاف ځای نه پاتې کیږي، د اهلحدیثو فتوی صحیح نه ده. هغوی غلط پوه شوي دي: نو څکه کوم سړی چې د شریعت د حلالو او حرامو پابند وي، هغوی ته د اهلحدیثو په دې فتوی باندې عمل کول نه دي روا

د شرعي حلالې تشریح

سوال: حلاله جائز ده که ناجائز؟ د قرآن او حدیث په رڼا کې مو د تفصیل نه خبر کړئ! زما مور ته مې پلار درې ځله د طلاق لفظ تکراري ویلی، بیا یې د حلالې وروسته عدت تېر کړ او وروسته یې بیا نکاح وکړه.

حلاله یې داسې وکړه چې: یو سړی وروسته له دې چې په کیسه یې پوه کړ، د نکاح نه پس یې په طلاق ورکولو اماده کړ. هغه سړي د نکاح په ورځ د کوروالي نه پرته چې مور مو مخامخ د دروازې سره ودرېده او هغه سړي ورته درې ځله طلاق ورکړ او بیا د عدت تېرېدلو نه پس زمونږ پلار زمونږ د مور سره دوباره نکاح وکړه، اوس بیا دوی یو ځای اوسیږي. دا حلاله صحیح شوې که غلطه؟

جواب: په قرآن کریم کې ارشاد دی که چېرته خاوند ښځې ته دریم طلاق ورکړي: نو هغه دده لپاره حلاله نه وي، تر دې چې هغه ښځه د عدت نه پس د دویم خاوند سره صحیح نکاح وکړي[۳] او د نکاح نه پس دویم خاوند د هغې سره کوروالی وکړي بیا مړ شي یا خپله طلاق ورکړي او ددې عدت تېر شي هله به دا ښځه د لومړي خاوند لپاره حلاله شي او هغه ددې سره

۱]وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من أئمة المسلمين الى انه يقع ثلاث......الخ. وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحاً بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف، فما ذا بعد الحق الا الضلال. (شامی/ کتاب الطلاق/ ۳/ ۲۳۳) ايضاً: وذهب جماهير من العلماء من التابعين ومن بعدهم، منهم الاوزاعی والنخعی والثوری وابو حنيفة واصحابه والشافعی واصحابه واحمد واصحابه واسحٰق وابو ثور وابو عبيدة وآخرون كثيرون رحمهم الله تعالى على من طلق امراته ثلاثاً وقعن، ولكنه ياثم. (عمدة القاری/ کتاب الطلاق/ باب من اجاز طلاق الثلاث/ ۲۰/ ۲۳۳/ طبع دارالفکر/ بیروت)۔

۲]واحتجوا ايضاً بحديث ركانة انه طلق امراته البتة فقال له النبی صلی الله عليه وسلم: آلله ما اردت الا واحدة؟ قال: آلله ما اردت الا واحدة! فهٰذا دليل على انه لو اراد الثلاث لوقعن والا فلم يكن لتحليفه معنى.......الخ. (صحيح مسلم مع شرحه الكامل للنووی/ ۱/ ٤۷۸/ طبع قديمی)۔

۳]''فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجاً غيره'' (البقرة: ۲۳۰)۔

دوباره نکاح کولی شي، دا شرعي حلاله شوه.[1]

درې طلاقو نه پس د ښځې له چا سره په دې شرط نکاح کول چې هغه به د کوروالي نه پس طلاق ورکوي، دا باطل شرط دی، په حدیث کې داسې حلاله کولو باندې او کونکي دواړو باندې لعنت ویل شوی دی: خو بیا هم د ملعون کېدو باوجود که چېرته دویم خاوند د کوروالي نه پس طلاق ورکړي: نو د عدت نه پس د لومړني خاوند لپاره حلالیږي. که چېرته هغه د کوروالي نه بغیر طلاق ورکړي (لکه څنګه چې تا د خپلې مور کیسه لیکلې ده) نو ښځه د لومړي خاوند لپاره نه حلالیږي.[2]

او که چېرته د دویم سړي سره د نکاح کولو په وخت کې دا نه وي ویل شوي چې هغه به د کوروالي نه پس طلاق ورکوي، لیکن د دې سړي خپل خیال دا وي چې هغه به د دې ښځې سره د کوروالي نه پس طلاق ورکوي؛ نو دا صورتې د لعنت وړ نه دی، هم دغه راز که چېرته د ښځې دا نیت وي چې هغه به د دویم خاوند طلاق حاصلولو سره د لومړي خاوند د کور آبادولو وړ شي؛ نو بیا هم ګناه نه ده.

درې طلاقو نه پس د همېش لپاره تعلق ختمیږي

سوال: د درې طلاقو نه پس آیا د همېش لپاره تعلق ختمیږي؟ د رجوع کولو څه شرعي طریقه شته او که نه؟

جواب: درې طلاقو نه پس نه د رجوع کولو هیڅ صورت نه پاتې کیږي، ښځه دې د دویم خاوند سره د صحیح نکاح کولو وروسته کوروالی هم وکړي، بیا که دویم خاوند مړ شي یا خپله طلاق ورکړي او د دې عدت تېر شي؛ نو هغه وخت به د لومړني خاوند سره نکاح کولی شي، د دېنه بغیر یې نکاح نه کیږي.[3]

---

[1] ان عائشة اخبرته ان امراة رفاعة القرظی جائت الیٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالت: یا رسول الله! ان رفاعة طلقنی فبت طلاقی، وانی نکحت بعده عبد الرحمٰن بن الزبیر القرظی وانما معه مثل الهدبة، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لعلک تریدین ان ترجعی الی رفاعة لا حتی یذوق عسیلتک وتذوقی عسیلته. (بخاری/ ۲/ ۷۹۱) ایضاً: وان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرة......لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره نکاحاً صحیحاً ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها. کذا فی الهندیة.(عالمگیری/۱/ ٤۷۳/کتاب الطلاق/الباب السادس فی الرجعة)

[2] ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: لعن المحلل والمحلل له. (ابوداؤد/ ۱/ ۲۹۱) فان تزوجها بشرط التحلیل کره.....الخ. (مجمع الانهر/ ۲/ ٤۳۹)۔

[3] (فان طلقها فلا تحل له من بعد) ای بعد ذٰلک التطلیق (حتی تنکح زوجاً غیره) ای تتزوج زوجاً غیره ویجامعها......(فان طلقها) لزوج الثانی (فلا جناح علیهما) ای علی الزوج الاول والمراة (ان یتراجعا) ان یرجع کل منهما الی صاحبه بالزواج بعدمضی العدة (ان ظنا ان یقیما حدود الله)(تفسیرروح المعانی/ ۲/۱٤۱، ۱٤۲/ طبع دار احیاء تراث العربی، ایضاً: فتاویٰ عالمگیریة/ ۱/ ٤۷۳/ کتاب الطلاق/ الباب السادس)

زه خپلې ښځې ته طلاق، طلاق، طلاق رجعي ورکوم، ددې حکم

سوال: زید د خپلې ښځې د راوستلو لپاره د خسر کور ته ځي، هلته د یو څو ناخوښو خبرو نه پس زید د خپل خسر په لاس تحریري طلاق ورکوي چې د هغې الفاظ دا دي: زه خپلې ښځې ته طلاق، طلاق، طلاق رجعي ورکوم، آیا دا درې طلاقه شو؟

جواب: هو واقع شو، درې ځله طلاق لیکلو نه پس د هغې سره د رجعي لفظ لیکل بې معنی او مهمل دي. [۱]

د درې طلاقو کفاره نشته

سوال: یو سړي د غوسې په حالت کې خپلې ښځې ته وویل: چې ته زما د مور او خور په ځای یې، ما تا ته طلاق درکړو، دا جمله هغه د دریو ځلو نه هم زیاته تکرار کړه، یقیناً چې طلاق به واقع کیږي، تاسو دا وفرمایئ چې آیا هغوی د ښځې خاوند په څبر بغیر د څه کفارې ادا کولو اوسېدی شي؟

جواب: درې ځله طلاق ورکولو سره طلاق مغلظه واقع کیږي، دواړه ښځه خاوند په یو بل باندې د همېش لپاره حرامیږي، ددې هیڅ کفاره نشته، بغیر د شرعي حلالې نه دوباره نکاح نه کیږي[۲]، تاسو چې د کوم سړي کیسه لیکلې ده، هغه ته پکار دي چې سمدستي جدا شي، کنه نو ټول عمر به په زنا کې اخته وي.

ایا مطلقه ښځه د بچو لپاره په دغه کورکې اوسېدلی شي؟

سوال: زما یو ملګرې ده، ددې خاوند یوه ورځ غوسه کې ولیکل: خو ښځې ته یې ورنه کړو، بلکې د هغه سره ؤ، ناڅاپي خپله د ښځې نظر په هغې باندې پرېوت، هغې هغه لیکل وویل، اوس تاسو ووایئ چې طلاق وشو او که نه؟ تحریر دا دی: ما درې طلاقه درکړه قبول یې کړه، که څېرته طلاق کیږي او ښځه خاوند په خپل منځ کې د یو ځای والي تعلق نه ساتي لیکن د دنیا او د بچو له وجې یو ځای اوسیږي؛ نو دا امکان لري او که نه؟ ځکه چې د بچو سره هسې هم د بلې رشته دارې ښځې ضرورت وي؛ نو په داسې حالت کې څه کول پکار دي؟

۱] وطلاق البدعة ان يطلقها ثلاثاً بكلمة واحد او ثلاثاً فى طهر واحد فاذا فعل ذلك وقع الطلاق وكان عاصياً.....الخ. (هداية/ ۲/ ۳۵۵/ كتاب الطلاق/ باب طلاق السنة)_

۲]وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة وثنتين فى الامة، لم تحل له من بعد حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً، ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها، والاصل فيه قوله: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجاً غيره والمراد الطلقة الثالثة. (هداية/ ۲/ ۳۹۹/ باب الرجعة/ طبع مكتبه شركت علميه)_

جواب: خاوند چې کله د خپلې ښځې په نوم لیکل وکړي؛ نو درې طلاقه واقع شو. برابره خبره ده که هغه پرچه یې ښځې ته ورکړي وي او که نه[1]. اوس ددې دواړو حیثیت د پردي سړي او ښځې دی، ښځه د خپلو بچو سره اوسېدلی شي مګر ددې ضمانت څوک کوي چې شیطان به دواړه په دوکه کې نه اخته کوي؟ نو پکار دي چې دواړه جدا واوسیږي[2]

آیا د درې طلاقو نه پس د بچو له خاطره په دغه کور کې ښځه اوسېدلی شي؟

سوال: ماته خاوند طلاق راکړی، یوه ورځ مو په کورنۍ معامله باندې جنګ وکړ. هغه زه ووهلم. بیا یې په اوچت اواز په چیغه وویل: چې ما تاته طلاق درکړ او زما له کوره وخه! خلک را جمع شو هغه یې پوه کړ مګر هغه نه منله. بیا یې وویل تا ته مي طلاق درکړو. د طلاقو الفاظ یې هم دغه راز دواړه ځل د درې ځلو نه هم زیات وویل. د کلیوالو په وینا ما ټول حالات دارالعلوم ته لیکلي درولېږل، زه ددې نه پس تر څو میاشتو پورې په جدا کمره کې هلته اوسېدم بیا مي چې کله د سړي خراب نیت ولید؛ نو د هغه ځای نه خپلوانو کره پنجاب ته لاړم او دوه میاشتې عدت تېرېدلو نه پس راغلم. هغه دا ووئیل چې زما سره به دي څه واسطه نه وي لیکن د بچو له خاطره دلته اوسېږه! زه د بچو په محبت کې مجبوره شوم او هلته لاړم. څو ورځو پورې خو هغه صحیح ؤ بیا د هغه اراده بدله شوه. هغه د کوم مولانا صاحب نه لیکل هم راوړي چې طلاق نه دی شوی، مګر ما ونه منل او هغه ته مي وویل چې: زه خپل اخرت نه خرابوم، ستا زما سره هیڅ تعلق نشته، هغه راته بهانې کوي، یوه ورځ چې ډېره تنګه شوم د ځان ختمولو پرېکړه مي وکړه، مګر بچ شوم، زه سخته خفه یم، محلې والو ته د طلاقو معلومات شته، د هغوی مخامخ هر څه شوي دي، ما هغه خلکو ته ویلي چې د بچو له خاطره دلته اوسېږم، د دوی د پلار سره زما هیڅ واسطه نشته، زما زامن لویان دي، لیکن د مذهب څخه بې خبره دي، د دوی پلار یې دوکه کوي، د الله جلّ جلاله نه یریږم، لهذا تاسو راته ووایئ چې درې ځل ویلو سره طلاق واقع کیږي او که نه؟ زما یو خپلوان وایي چې په غوسه کې طلاق ویلو سره طلاق نه واقع کیږي، سړی هم اوس داسې خبرې کوي چې د زړه نه مي ؤ ویلي او غواړي ما ګمراه کړي. یو رشته دار وایي چې شریفې ښځې په مرګ سره د کور نه وځي، زه ستا نه د الله او د الله د رسول ﷺ حکم معلوم ول غواړم تفصیل سره راکړئ! الله به تاته ددې جزا درکړي، زه د الله خوشحالېدل او د آخرت ښه والی غواړم، زه به مرګ خوښ کړم لیکن د ګناه او حرام کارئ ژوند به تېر نه کړم.

---

[1]]وان كانت مرسومة يقع الطلاق نويٰ او لم ينو ثم المرسومة لا تخلوا اما ان ارسل الطلاق بان كتب اما بعد فانت طالق فكما كتب هٰذا يقع الطلاق ويلزمها العدة من وقت الكتابة.......الخ. (عالمگيری/ ۱/ ۳۷۸)۔

[2]]عن عمرعن النبی صلی الله عليه وسلم قال:لايخلون رجل بامراة الا كان ثالثهما الشيطان.(مشكوٰة/۲۶۹)

جواب: ته پوره طلاقه شوې یې، ددې سړي ستا سره هیڅ تعلق نشته[۱]. که چېرته تاته د عزت خطره وي؛ نو د دغه ځای نه لاړه شه، د دارالعلوم فتوی بالکل صحیح ده.

ما ته آزاده کړې او زما سره ستا هیڅ رشته نشته درې ځله ویلو سره به څو طلاقه واقع کیږي

سوال: زما د واده څلور کاله شوي دي، زما خاوند ماته درې ځله وویل چې ما ته آزاده کړې او زما سره ستا هیڅ رشته نشته او دې ویلو سره یې د کور نه وویستم، اوس تاسو ماته ووایئ چې زه د خپل خاوند په نکاح کې یم که نه؟

جواب: ته مې آزاده کړې، لفظ درې ځله ویلو سره درې طلاقه واقع شو او د ښځې خاوند رشته ختمه شوه.[۲]

درې طلاقو والا د طلاق خط نه ښځه نه خبرولو سره هغه ځان سره ساتل زنا کاري ده

سوال: زما ښځه بد ژبې او نافرمانه ده، یو ځل چې کله هغې زما او زما د مور- پلار زیاته بې عزتي وکړه؛ نو ما په غوسه کې د وکیل په ذریعه په قانوني طلاق نامه باندې لیک تیار کړ چې په هغې باندې ما او وکیل او دوه شاهدانو امضاء هم وکړه، ما خپلې ښځې ته درې ځله طلاق ورکړ او د نن نه زما او د هغې هیڅ تعلق نشته.

ددې نه پس هغه طلاق نامه کې د یو څو ضروري حالاتو په بنا مې خپلې ښځې ته ور نه کړی شو او تر ننه پورې هغه طلاق نامه زما سره ده، حال دا چې زه د مجبورۍ له وجې د ښځې سره اوسېږم او د ښځیتوب حقوق یې هم ادا کوم، مهرباني وکړئ چې آیا طلاق واقع شوي دي یا نه؟ او آیا زه په لویه ګناه کې اخته یم او که نه؟ که څه کفاره ادا کول وغواړم؛ نو څه حکم لري؟

جواب: هر کله چې تا بد ژبې او نافرماني ښځې ته درې طلاقه ولیکل؛ نو هغه په تا باندې حرامه شوه، هغه که د طلاقو څخه خبره وي او که نه[۳]، د درې طلاقو نه پس چې ته د هغې سره کوروالی کوې دا زناکاري او لویه ګناه ده، کفاره یې دا ده چې ددې ګناه نه توبه وباسه او هغه

۱]"الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ.......فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰) تفصيل دپاره او ګورئ: تفسير روح المعانى ج۲، ص۱٤۱، ۱٤۲)_

۲] ايضاً پورتنى حواله)_

۳]وان كانت مرسومة يقع الطلاق نوى او لم ينو ثم المرسومة لا تخلو اما ان ارسل الطلاق بان كتب: اما بعد فانت طالق، فكما كتب هٰذا يقع الطلاق.....الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۷۸/ كتاب الطلاق/ الباب الثانى)_

سمدستي له ځانه جدا کړه، د شرعي حلالې نه پس هغه دوباره ستا په نکاح کې راتلی شي [۱]

درې طلاقونه پس که چېرته تعلق وساتي؛ نو دې دوران کې د پیدا کېدونکي اولاد حکم

سوال: زما مشر زوی خپلې بد ژبې او نافرمانۍ ښځې ته تقریباً اوه کاله مخکې درې طلاقه ورکړي چې د هغې ورور خط وکتلو، د طلاق نامې مضمون په انګلش کې لیکل شوی ؤ. په طلاق نامه کې زما زوی خپلې ښځې ته درې طلاقه لیکلي دي. دا طلاق زما زوی بغیر د څه زور او زیاتي په حالت کې ورکړي وو، هغه وخت دده ښځه تقریباً د شپږو میاشتو حامله وه. ښځه یې وایي چې دا طلاق د حمل په دوران کې نه دی شوی؛ مګر زما وینا ده چې د قرآن او سنتو په رڼا کې طلاق واقع شوی دی: خو د هغه خسرګنۍ دا خبره نه مني او انکار کوي. لهذا ستاسو نه سوال دی چې طلاق واقع شوی او که نه؟ او په دغه دوران کې چې تقریباً د اوه کالو راهیسې د ښځې او خاوند په حیث اوسیږي او دې منځ کې د دوی دوه بچیان پیدا شوي دي؛ نو دا بچیان په کومه ډله کې راځي؟

جواب: د حمل په حالت کې طلاق واقع کیږي [۲] او د حمل په پیدا کېدو سره عدت ختمیږي [۳]، ستا زوی چې خپلې ښځې ته کوم درې طلاقه ورکړي دي هغه واقع شوي دي او هغوی دواړه په یو بل حرام شوي دي [۴]، ددې نه پس که چېرته هغوی د ښځې خاوند په حیث اوسیدلي وي؛ نو هغوی ګناه وکړه او د دوی چې کوم اولاد په دغه دوران کې پیدا شوی دی هغه صحیح النسب نه دی، هغوی ناجائزه اولاد دي [۵]، دوی ته پکار دي چې سمدستي د یو بل نه جدا شي او د الله نه د خپلې ګناه په باره کې معافي وغواړي.

د رجوع نه پس دریم طلاق

سوال: زما واده نهه کاله مخکې شوی دی، د واده نه یو کال وروسته مې لور وشوه. یوه ورځ مې خپلې ښځې ته وویل چې تاته طلاق درکوم، دا الفاظ مې دوه ځله وویل، ددې نه وروسته

۱] الطلاق مرتان......فان طلقها فلا تحل له من بعد ای بعد ذلک التطلیق حتی تنکح زوجاً غیره........فان طلقها الزوج الثانی فلا جناح علیهما.......الخ. (تفسیر روح المعانی/ ۲/ ۱۴۱، ۱۴۲) ایضاً: وان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرة.......لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره.....الخ. (هدایة/ ۲/ ۳۹۹)۔

۲]وحل طلاقهن ای الآیسة والصغیرة والحامل عقب وطئ.....الخ. (درمختار/ ۳/ ۲۳۲)۔

۳]''واولت الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن'' (الطلاق: ۴)۔

۴]''الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ........فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ'' (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰)۔

۵]اذا وطئها الزوج بشبهة کانت شبهة فی الفعل ونصوا علی ان شبه الفعل لا یثبت فی النسب وان ادعاه.....الخ. (شامی/ ۳/ ۵۴۱/ مطلب فی ثبوت النسب من المطلقة)۔

مي سمدستي رجوع وکړه او د هغې نه پس زمونږ څلور لورګاني نوري شوي دي. يو خل بيا مي خپلې ښځې ته وويل چې: زه تا ته طلاق درکوم.

قدرمنه! ددې نه پس مونږ د يو حافظ صاحب څخه معلومات ترلاسه کړ چې دا سې دوول طلاق واقع شوی دی او که نه؟ هغوی مونږ ته هم وويل چې طلاق نه دی واقع شوی. څکه چې د دوه طلاقو نه پس مونږ رجوع کړې وه، دې باره کې د شريعت څه حکم دی؟

جواب: د دوه طلاقو نه پس چې تا کومه رجوع کړې وه هغه صحيح وه، مګر خاوند ته صرف د دريو طلاقو حق ورکول شوی دی؛ نو څکه ددې دوه طلاقو نه د رجوع کولو نه پس ستا سره صرف يو طلاق پاتې شو، هر کله چې تا دا دريم طلاق هم ورکړ؛ نو ښځه قطعي حرامه شوه. اوس د دوباره نکاح حق هم پاتې نه شو، څکه اوس د شرعي حلالې نه بغير دواړه د يو بل لپاره نه حلاليږي، ښځه دې د عدت نه پس دويم ځای کې نکاح وکړي او د دويم خاوند سره دې کوروالی وکړي. دويم خاوند د کوروالي نه پس که هغه مړ شي يا خپله طلاق ورکړي او د هغې عدت هم تېر شي؛ نو بيا که هغه غواړي نو ستا سره دوباره نکاح کولی شي.[1]

درې طلاقه ليکل او بيا شکولو سره هم طلاق واقع کيږي

سوال: ما د څو خلکو په وينا يوه پرچه کې وليکل چې: زما ښځه د پلاني لور په ماباندې په دريو طلاقه ده، د دريو طلاقو لفظ ما درې ځله وليکلو، بيا مي هغه پرچې وشکول، بيا مې دويمه پرچه هم دغه شان وليکل چې هغه مي واستول؛ ليکن هغې ته ونه رسېدل، ايا طلاق واقع شو او که نه؟ په کوم صورت کې رجوع کېدی شي؟

جواب: درې طلاقه واقع شو، اوس د رجوع حق نشته، نه دوباره نکاح کيږي، تر دې چې د هغې نکاح په دويم ځای کې وشي، هلته آباده شي بيا هغه طلاقه شي او عدت تېر کړي.[2]

---

[1] فان طلقها فلا تحل له من بعد ای بعد ذٰلک التطليق حتی تنکح زوجاً غيره ای تتزوج زوجاً غيره ويجامعها......فان طلقها الزوج الثانی فلا جناح عليهما ای علی الزوج الاول والمرأة ان يتراجعا، ان يرجع کل منهما الی صاحبه بالزواج بعد مضی العدة ان ظنا ان يقيما حدود الله. (تفسير روح المعانی/ ۲/ ۱٤۱، ۱٤۲)
ايضاً: وان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرة وثنتين فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجاً غيره نکاحاً صحيحاً، ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. کذا فی الهداية......الخ. (عالمگيری/ ۱/ ٤۷۳، ايضاً: اللباب/ ۲/ ۱۸۱)۔

[2] ''الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ.......فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ'' (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰)
ايضاً: عن ابن شهاب قال: اخبرنی عروة بن الزبير ان عائشة اخبرته ان امراة رفاعة القرظی جائت الی رسول الله صلی الله عليه وسلم فقالت: يا رسول الله! ان رفاعة القرظی طلقنی فبت طلاقی وانی نکحت بعده عبدالرحمٰن بن الزبير القرظی وانما معه مثل الهدبة، قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: لعلک تريدين ان ترجعی الی رفاعة، لا حتی يذوق عسيلتک وتذوقی عسيلته. (صحيح البخاری/ ۲/ ۷۹۱/ باب من اجاز طلاق الثلاث.......الخ.)۔

آیا د قرآني نص خلاف عمر فاروق رضي الله عنه په درې مجلسونو کې د طلاق قانون په یو مجلس کې درې طلاقو باندې کې بدل کړه؟

سوال: دا سوال د فقهي حنفي ماهر عالم ډاکټر مطلوب حسین څخه شوی دی. د هغه ځواب لاندې دی

سوال: آیا د قرآني نص خلاف څوک د قانون جوړولو حق لري؟

جواب: د حالاتو د تقاضو لاندې هیڅ ګناه نه لري، مثلاً قرآن کې ښکاره نص دی چې طلاق دې په درې مجلسونو کې ورکول شي، لیکن د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې د برق په څېر تیزو فتوحاتو په نتیجه کې مصري، شامي او ایراني ښځې د عرب معاشرې برخه جوړه شوه او عرب د هغوی د ښایست تر اغیزې لاندې راغلل، د هغوی سره یې نکاحونه وکړه: نو هغه مصري، شامي او ایراني ښځو دا شرط ولګولو چې زمونږ سره د نکاح کولو نه به مخکې خپلو لومړنیو ښځو ته طلاق ورکوئ، ډیرو عربو د هغوی د خوشحالولو لپاره خپلو ښځو ته په یو وخت کې درې طلاقه ورکړه، ځکه چې هغوی ته معلومات وو چې داسې کولو سره طلاق نه واقع کیږي او هغوی به د هغو ښځو سره د واده کولو نه پس دوباره خپلو لومړنیو ښځو ته رجوع وکړه، هم دا راز په هر کور کې جنګ شو، عمر فاروق رضي الله عنه چې کله خبر شو؛ نو هغه حکم وکړ: که چېرته کوم سړی خپلې ښځې ته په یو مجلس کې درې طلاقه ورکړي؛ نو دا به صحیح طلاقونه تصور کیږي، وروسته فقهاؤ د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د دغې پرېکړې په بنا داسې طلاق د بدعي طلاق په نوم په خپله فقه کې شامل کړ، لیکن د نن معاشره او دور هغه نه دی چې په هغې کې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه او امام ابوحنیفه رحمه الله اوسیدلو، لهذا نن په یو مجلس کې ورکول شوي درې طلاقونه کار نه کوي، ځکه چې نني دور د فتوحاتو نه دی، بلکې هغه دور دی چې په هغې کې دا قرآني نص نازل شوی وو.

د لاندې سوالونو ځوابات غواړم:

۱: آیا تاریخ دا حقیقت ثابتوي کوم ډاکټر صاحب بیان کړی دی، یعنې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه آیا واقعي په دغه حالاتو کې دا سخته پرېکړه وکړه؟

۲: که چېرته واقعي داسې وي؛ نو بیا ډاکټرصاحب چې کومه خبره کړې هغه درسته ده؟ آیا تاسو د هغه سره اتفاق لرئ؟

ددېنه علاوه یوه بله مسئله هم ده، ما په یو حدیث کې ویلي چې د هغې مفهوم داسې دی: حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه خپلې ښځې ته په حالت د حیض کې طلاق ورکړی ؤ او بیا د رسول صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او د خپلې کړنې څخه یې خبر کړ چې په هغې باندې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خفه شو او هغه یې ښځې ته واپس ولېږلو او تاکید یې ورته وکړ، که چېرته طلاق

ورکول وي؛ نو په پاکی کې یې ورکوه!

ددې مطلب دا شو چې په حالت د حیض کې طلاق نه واقع کیږي. هم دغه راز څه خلک وايي چې په حالت د حمل کې هم طلاق نه واقع کیږي.

جواب: ډاکټرصاحب چې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په باره کې څه لیکلي دي هغه هسې افسانه ده، طلاق که په یو مجلس کې وي یا په یو لفظ سره درې ځله ووايي: نو واقع کیږي[۱]،دا د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې وو او په دې باندې د ټولو فقهاوو اتفاق دی چې درې طلاقه که په یو مجلس کې وي یا په یو لفظ سره درې طلاقه ووايي هغه به درې وي.[۲]

د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د وینا صحیح حقیقت دا دی چې ځینو خلکو یو طلاق ورکول غوښتل مګر د تاکید لپاره یې درې ځله تکرارولو، ګویا درې ځله د طلاق الفاظو تکرارولو دوه صورتونه وو، یو دا چې اراده هم د درې طلاقو وي او دویم دا چې اراده خو د یو طلاق ورکولو وي؛ مګر د هغې د پخولو لپاره یې درې ځله لفظ مقرر کړی وي، (څنګه چې د نکاح ایجاب او قبول الفاظ ځیني خلک درې ځله تکراروي) د نبي علیه السلام او ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دورکې په خلکو کې امانت و؛ نو ځکه دا خیال به یې نه کولو چې څوک د طلاق ورکولو په وخت کې خو د دریو طلاقو په اراده درې ځله الفاظ ووايي، وروسته دا ویل کېدل چې ما خو د یوه اراده کړې وه، وروسته چې کله عمر فاروق رضی الله عنه وکتل چې د خلکو دیانت او امانت اوس هغه نه دی: نو حکم یې وکړ چې کوم سړی د طلاقو الفاظ درې ځله تکرار کړي مونږ به هغه درې ګڼو، آینده به د چا دا عذر نه قبلوو چې ما خو د یو طلاق ارادا کړې وه، د دریو نه وه.

ددې نه به معلومه شوې وي چې عمر فاروق رضی الله عنه کوم قرآني نص نه دی بدل کړی او دا به هم معلومه شوې وي چې د امانت کوم معیار د عمر فاروق رضی الله عنه په دور کې وو اوس د هغې تصور هم نه کیږي: نو ځکه که عمر فاروق. رضی الله عنه د دریو په دریو واقع کېدلو پرېکړه وکړه؛ نو مونږ ته ددې پابندي د هغوی نه ښه کول پکار دي.[۳]

د قرآن کریم کوم قطعي نص بدلول کفر دی او هیڅ مؤمن دا برداشت کولی نه شي، پاتې شوه د ډاکټر دا وینا چې په قرآن کې ښکاره نص دی چې طلاق دې درې مجلسونو کې ورکړي. اول خو دا خبره د واقعې خلاف ده، په قرآن کریم کې "الطلاق مرتان" راغلی، ورسره دا

۱] وطلاق البدعة ان یطلقها ثلاثا بکلمة واحدة او ثلاثا فی طهر واحد، فاذا فعل ذلک وقع الطلاق وکان عاصیاً.....الخ. (هدایة/ ۲/ ۳۵۵) تفسیر روح المعانی/ ۲/ سورة البقرة: ۲۲۹)۔

۲] وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع ثلاث. (شامی/ ۳/ ۲۳۳)۔

۳] لما فی مسلم ان ابن عباس رضی الله عنهما قال: کان الطلاق علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم وابی بکر وسنتین من خلافة عمر طلاق ثلاث واحدة، فقال عمر: ان الناس قد استعجلوا فی امر کان لهم فیه اناة، فلو امضیناه علیهم فامضاه علیهم.....الخ. (شامی/ ۳/ ۲۳۳/ مطلب طلاق الدور)۔

ښودل شوي چې د کوم طلاق نه رجوع کېدی شي هغه صرف دوه خله دي، که چېرته ددې نه وروستو څوک دریم طلاق ورکول غواړي؛ نو د رجوع حق به ئې نه لري، هغه مطلقه به دده لپاره حلاله نه وي، ترڅو پورې چې هغه د دویم خاوند سره نکاح وکړي، پاتې شوه دا چې دوه یا درې خلو طلاق به یو مجلس کې ورکول شوي یا په متعددو مجلسونو کې؟ د قرآن کریم الفاظ دواړه صورتونو ته شامل دي[۱]، نوځکه دا وینا چې په قرآن کریم کې ښکاره نص موجود دی چې طلاق به دریو مجلسونو کې ورکړل شي، بالکل غلطه او بې ځایه خبره ده، که چېرته ډاکټر صاحب دا وایي چې د قرآن کریم د سباق نه معلومیږي چې طلاق جدا جدا ورکول پکار دي؛ نو دا به یوه معقوله خبره وي؛ لیکن ددې نه دا نه لازمیږي چېدوه یا درې طلاقه یو ځای ورکول شي؛ نو قرآن کریم دا مؤثر نه ګڼي یا دا یو طلاق حسابیږي

ډاکټر صاحب د خپلې ډاکټرۍ په زور یو ظلم دا وکړ چې یو غلط مضمون یې د قرآن کریم ښکاره نص ته منسوب کړ او دویم ظلم یې دا وکړ چې د عمر فاروق رضی الله عنه پرېکړه یې د قرآن کریم د ښکاره نص څخه منحرفه وګرځوله، په دې دوه ظلمونو یې دریم ظلم دا واچولو چې ددې نه یې دا خبيثه عقيده راوویستل چې هر سړي ته به د قرآن کریم د ښکاره نص بدلولو اختیاروي، قرآن کریم د "یحرفون الکلم عن مواضعه" ویلو سره هم ددې قسم خلکو ماتم کړی دی

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په حالت د حيض کې چې کومې ښځې ته يو طلاق ورکړی ؤ؛ نو حضور صلی الله علیه وسلم هغې ته د رجوع کولو حکم کړی ؤ او هغه طلاق يې واقع ګرځولې وو[۲]. نو ځکه فقهاوو اتفاق کړی چې د حيض په حالت کې طلاق ورکول ګناه ده او که چېرته يې رجعي طلاق ورکړه؛ نو رجوع کول ضروري دي، ليکن په حيض کې ورکول شوي طلاق واقع کيږي[۳].

۱] "الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ........فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يَتَرَاجَعَا إِن ظَنَّا أَن يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰) فالکتاب والسنة واجماع السلف الصالحين توجب ايقاع الثلاث معا وان كان معصية. (احكام القرآن للجصاص/ ۱/ ۳۸۸/ طبع سهيل اکیدمی)۔

۲] عن يونس بن جبير قال: سالت ابن عمر رضی الله عنهما عن رجل طلق امراته وهی حائض. فقال: هل تعرف عبدالله بن عمررضی الله عنهما فانه طلق امراته وهی حائض فسال عمر النبی صلی الله عليه وسلم فامره ان يراجعها، قال: قلت: فيعتد بتلك التطليقة؟ قال: فمه ارأيت ان عجز واستحمق. (ترمذی/ ۱/ ۱۴۰/ ابواب الطلاق واللعان)

۳] واذا طلق الرجل امراته فی حالة الحيض وقع الطلاق........ويستحب له ان يراجعها........والاصح انه واجب عملا بحقيقة الامر........الخ. (هداية/ ۲/ ۳۵۷) ايضا: وفی الدرالمختار: او واحدة فی حيض موطوءة........وتجب رجعتها على الاصح فيه ای فی الحيض دفعا للمعصية........الخ. وفی الشرح وتجب رجعتها ای الموطوءة المطلقة فی الحيض قوله على الاصح مقابله قول القدوری انها مستحبة لان المعصية وقعت فتعذر ارتفاعها وجه الاصح قوله صلی الله عليه وسلم لعمر فی حديث ابن عمر فی الصحيحين: "مر ابنك فليراجعها"....الخ. (شامی/ ۳/ ۲۳۳).

دا ویل چې په حیض کې ورکول شوي طلاق کار نه کوي، د شرعي قانون څخه بې خبري ده. هم دغه راز دا ګڼل چې په حالت د حمل کې طلاق نه واقع کیږي عامیانه جهالت دی[۱]. په قرآن کریم کې چې کوم ځای د مطلقه ښځو عدت بیان شوی دی هلته یې د حاملې مطلقې عدت د ماشوم پیدا کېدل ښودلی دی.[۲]

لیکلو سره طلاق واقع کیږي

سوال: یو سړي د پنځلسو روپو والا ټاپې باندې د خپلې ښځې نوم درې ځله ولیکلو. اوس غواړي دویم واده وکړي، د دویم واده وارثانو ته د طلاق فوټوکاپي ورکوي. لیکن اصل طلاق خط چې په هغې یې ښځې ته طلاق ورکړی ؤ هغه نه ورکوي. په طلاق نامه باندې دده او د شاهد امضاء شته. سوال دا دی چې ددې لیکلو له مخې ښځې ته طلاق ورکول کیږي که نه؟

جواب: هر کله چې ده خپله طلاق نامه لیکلې؛ نو د طلاق په واقع کېدو کې شک نشته. درې طلاقه پس لومړی ښځه په ده باندې حرامه شوه. هغه د عدت نه پس چېرته چې غواړي نکاح کولی شي.[۳]

په طلاق کې د ښځې قبلول او نه قبلول شرط نه دی

سوال: زما او د خاوند تر منځ جنګ پېښ شو؛ تر دې چې زه یې ډېره ووهلم او په همدغه دوران کې خاوند وویل: په داسې ښځه دې لعنت وي او ما تاته طلاق درکړ. دا الفاظ هغه دوه ځله وویل، دریم ځل یې ویل خو یو ګاونډي ورته په خوله لاس کېښود؛ لیکن لاس اخوا کولو سره یې دریم ځل بیا هغه الفاظ وویل. زه په قسم سره دا الفاظ لیکم او ځواب مې ورته ورکړ چې ما طلاق قبول کړ. ددې نه پس چې کله غوسه سړه شوه؛ نو ځینو خلکو زما د خاوند نه پوښتنه وکړه چې تا ولې داسې وویل؟ نو هغه لومړی وویل: ماته هیڅ یاد نه دي چې ما څه ویلي دي. لیکن وروسته یې وویل: هو! ما دا ویلي وو که چېرته ته غواړې؛ نو زه تاته طلاق درکوم او ددې نه پس مې د عالمانو نه پوښتنه وکړه؛ نو هغوی وویل که چېرته ښځه درې ځله واوري او په ځواب کې هو وکړي؛ نو طلاق واقع کیږي. آیا دا صحیح ده؟

---

[۱] وطلاق الحامل يجوز عقيب الجماع........الخ. (هداية / ۲/ ۳۵۶/ باب طلاق السنة)_

[۲] "واولت الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن" (الطلاق: ٤)_

[۳] وان كانت مرسومة يقع الطلاق نوى او لم ينو ثم المرسومة لا تخلو اما ان ارسل الطلاق بان كتب: اما بعد فانت طالق، فكما كتب هٰذا يقع الطلاق، وتلزمها العدة من وقت الكتابة......الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۳۷۸) ايضاً: وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة.....الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ٤٧٣/ كتاب الطلاق/ الباب السادس)_

جواب: که چېرته خاوند درې ځله طلاق ورکړي؛ نو درې طلاقه واقع کېږي، خواه که ښځې قبول کړې وي او که نه، ګویا د ښځې قبلول او نه قبلول هیڅ شرط نه دي[۱]. ستا خاوند درې ځله طلاق درکړی څنګه چې تا په خپلو غوږو اوریدلی دی؛ نو څکه د ښځې خاوند تعلق د همېش لپاره ختم شو، نه د طلاق نه رجوع کېدی شي او نه د دوباره نکاح ګنجائش شته. د عدت نه پس چې ته چېرته غواړې نکاح کولی شې![۲]

ما ته طلاقه کړې، ویلوسره طلاق واقع شو اګر که د طلاق ورکولو اراده نه وي

سوال: زما خاوند ماته پنځلس یا شپاړس ځله وویل: چې ما ته طلاقه کړې، وایي چې تاته سل ځله هم ووایم؛ نو طلاق نه واقع کېږي تر څو پورې چې مې د زړه نه وي درکړی، لیکن زه ډېره وېرېږم، زه پوهېږم چې طلاق واقع شوی دی اګر که هغه د زړه نه ونه وایي، په داسې حال کې چې مونږ د ښځې او خاوند په څېر ژوند تېروو، مونږ ته څه کول پکار دي چې دوباره په صحیح معنو باندې ښځه خاوند وویل شو؟

جواب: ما تاته طلاق درکړو، دا لفظ که چېرته خاوند په ژبه ووایي، خواه په زړه کې د طلاق ورکولو اراده یې نه وي؛ نو بیا هم هغې ته طلاق واقع کېږي[۳] او که چېرته دا جمله درې ځله استعمال کړي؛ نو ښځه او خاوند د یو بل لپاره همېشه حرامیږي، خاوند پنځلس یا شپاړس ځله تاته دا الفاظ ویلي دي؛ نو څکه ستاسو د دواړو په منځ کې د ښځې خاوند تعلق پاتې نه شو، فوراً جدا والی اختیار کړئ![۴]

۱]ان الزوج قادر على تطليقها واذا طلقها فهو قادر على مراجعتها شائت المراة ام لم تشا. (تفسير كبير/ ۲/ ۲۴۷) ايضاً: له رفع العقد دونها.(تفسيرقرطبی/ ۳/ ۱۲۵) ايضاً: يطلقها وليس لها من الامر شيئ. (الدر المنثور/ ۱/ ۲۷۷)

۲] صريحه ما لم يستعمل الا فيه ولو بالفارسية كطلقتک وانت طالق ومطلقة.......يقع بها ای هٰذه الالفاظ وما بمعناها من الصريح.....وان نوى خلافها......او لم ينو شيئاً.....الخ. (ردالمحتار مع الدر المختار/ ۳/ ۲۳۷، ۲۵۰)۔

۳]عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد: النكاح والطلاق والرجعة. (جامع الترمذی/ ۱/ ۲۲۵) باب ماجاء فى الجد والهزل فى الطلاق) ايضاً: ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبداً او مكرهاً، او هازلاً لا يقصد حقيقة كلامه. وفى الدرمختار (۳/ ۲۳۵، ۲۳۶/ كتاب الطلاق) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبداً او مكرهاً او هازلاً، لا يقصد حقيقة كلامه.....الخ)۔

۴] وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة وثنتين فى الامة لم تحل له حتى تنكح...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

په حالت د حيض کې هم طلاق واقع کيږي

سوال: زما خاوند ما ته په سخته غوسه کې دا لفظ وويل "ما تاته طلاق درکړو، ماتاته طلاق درکړو" بيا يې دوه درې جملې بدې ردې هم وويل بيا يې وويل چې ځه لاړه شه اوس ما تاته طلاق درکړی دی، زما خاوند وروسته هم بيا - بيا وويل چې طلاق مي درکړی دی، کله يو ځل کله دوه ځله درې ځله ياد نه دی چې ويلي يې دي او که نه، ځکه چې هر ځل به يې دا ويل که دريم ځل مي وويل نو برباده به شې، دوه درې ځله چې کله وو ايي؛ نو زه په حالت د حيض کې وم.اوس زه په سخت تکليف کې اخته يم چې څه وکړم؟

جواب: ستا د بيان مطابق خاوند د طلاقو الفاظ د درې ځلو نه زيات استعمال کړی دی؛ نو ځکه اوس د سولې هيڅ گنجايش نشته، دواړه د يو بل لپاره حرام شوي يئ، ستا د خاوند دا غلط فهمي ده چې د طلاقو الفاظ په يو وخت کې درې ځله وويل شي؛ نو طلاق واقع کيږي کنه نو نه، دا وهم غلط دی، شريعت سړي ته صرف د درې طلاقو اختيار ورکړی دی، اوس که ثوک دا اختيار يو ځل استعمال کړي يا يې په بېل - بېل وخت کې استعمال کړي، کله چې دريم طلاق ورکړي؛ نو ښځه حرامه شي او ستا دا خيال چې د حيض په حالت کې ورکول شوی طلاق نه واقع کيږي دا هم غلط خيال دی، د حيض په حالت کې طلاق ورکول ناجائز دي[۱]، ليکن که ثوک يې په دې حالت کې ورکړي؛ نو هغه هم واقع کيږي.[۲]

طلاق په غصه کې نه ، نوولې په مينه کې ورکول کيږي؟

سوال: زما خاوند ثو کرته په غوسه کې د طلاق لفظ ويلی دی مگر هغه دا خبره نه مني، وايي چې په غوسه کې طلاق نه واقع کيږي او زه وايم چې طلاق په هر حال کې واقع کيږي، زما د واده صرف دوه کاله شوي دي، په دې دومره وخت کې به يې د شلو ځلو نه زيات د طلاق لفظ ويلی وي او بيا رجوع هم وکړي، غوسه کې وايي چې ما تاته طلاق درکړی دی مگر بيا هم بې غېرته زما په کور کې اوسيږي، بيا چې کله غوسه ختمه شي؛ نو وايي چې ته به هم په دې کور کې اوسيږې، ته خو زما ښځه يې او همېش به دلته اوسيږې!

...بقيه د تيرمخ] زوجاً غيره......الخ. (عالمگيری/ ۱/ ۴۷۳/ کتاب الطلاق/ الباب السادس)۔

۱]وطلاق الموطوءة حائضاً بدعی ای حرام للنهی عنه الثبات ضمن الامر فی قوله تعالی: فطلقوهن لعدتهن، وقوله عليه السلام لابن عمر رضی الله عنه.........حين طلقها فيه ما هٰكذا امرک الله، ولاجماع الفقهاء علی انه عاص......الخ. (البحرالرائق/ ۳/ ۲۵۹، ۲۶۰/ کتاب الطلاق/ طبع دار المعرفة بيروت)۔

۲] واذا طلق الرجل امراته فی حالة الحيض وقع الطلاق لا النهی عنه لمعنی فی غيره فلا ينعدم مشروعيته. (اللباب فی شرح الکتاب/ ۲/ ۱۶۹/ کتاب الطلاق/ طبع قديمی)۔

جواب: د جاهليت په دور کې دا رواج ؤ چې بدمزاجه خاوند به کله وغوښتل خپلې ښځې ته به يې طلاق ورکولو او بيا چې کله يې غوښتل: نو رجوع به يې کوله. سل خل طلاق ورکولو نه پس به هم هغه د رجوع حق ګڼلو[1]. اسلام دا جاهلي رواج ختم کړو. ددې په ځای يې دا قانون جوړ کړو چې خاوند ته د دوه ځله طلاق ورکولو نه پس به د رجوع حق وي: ليکن د دريم طلاق نه پس به ښځه د همېش لپاره حراميږي، خاوند ته به د رجوع کولو حق نه وي[2]. سېوا ددې صورت نه چې دې مطلقې ښځې د عدت نه پس کوم بل ځای نکاح کړې وي او د هغه خاوند سره يې کوروالی کړی وي بيا هغه دويم خاوند مړ شي يا طلاق ورکړي: نو ددې عدت ختمېدو نه پس ښځه د لومړني خاوند لپاره حلاله شي[3]. ستا خاوند بيا له سره د جاهلانو رواج ژوندی کړی دی، تاسو د هغه لپاره قطعي حرامه شوی، ددې زناکار نه سمدستي جدا والی اختيار کړه، دده دا وينا بالکل غلطه ده چې په غوسه کې طلاق نه واقع کيږي. طلاق خو څوک په مينه کې نه ورکو: خو غوسه يې راشي بيا ښځه طلاقه کړي.[4]

که د طلاق شاهدان موجود وي؛ نو د قسم اعتبار نشته

سوال: زما د لور خاوند زما لورته زما او زما د ښځې او د کور د ټولو کسانو په مخامخ څو ځله طلاق ورکړی دی. بلکې زمونږ کوڅې ته راغلو او په اوچت اواز يې کنځلې کولې او وې ويل چې زه په پوره هوش محله شاهدوم چې ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړی دی. طلاق ورکړی دی، طلاق ورکړی دی، هغه وخت د محلې ډېر کسان موجود وو، اوس هغه د دومره شاهدانو باوجود ددې نه منکر دی، لوی - لوی قسمونه خوري چې ما طلاق نه دی ورکړی، ايا د شريعت مطابق دا طلاق شوی دی او که نه؟

۱]الطلاق مرتان ثبت ان اهل الجاهلية لم يكن عندهم للطلاق عدد وكانت عندهم العدة معلومة مقدرة وكان هٰذا فی اول الاسلام برهة يطلق الرجل امراته ما شاء من الطلاق فاذا كادت تحل من طلاقه راجعها ما شاء....الخ. (تفسير القرطبی/ ۳/ ۱۲۶)۔

۲]"الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ........فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰)۔

۳]وان كان الطلاق ثلاثاً فی الحرة وثنتين فی الامة لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويدخل بها ای يطاها ثم يطلقها او يموت عنها لان حل المحلية باق. (اللباب فی شرح الكتاب/ ۲/ ۱۸۳) تفصيل دپاره اوګورئ: الجوهرة النيرة: ج۲ ص۱۲۸۔

۴] يقع طلاق كل زوج اذا كان بالغاً عاقلاً......الخ. (عالمگيری/ ۱/ ۳۵۳) ايضاً: طلاق الغضبان......فان ظل الشخص فی حالة وعی وادراک لما يقول فيقع طلاقه وهٰذا هو الغالب فی كل طلاق يصدر عنه الرجل لان الغضبان مكلف فی حال غضبه بما يصدر منه من كفر وقتل نفس واخذ مال بغير حق وطلاق وغيرها. (الفقه الاسلامی وادلته/ ۷/ ۳۶۵/ شامی/ ۳/ ۲۴۴)۔

جواب: د طلاق شاهدان موجود دي؛ نو دده قسمونو ته هیڅ اعتبار نشته. شرعاً طلاق شوی دی.[۱]

د زور طلاق

سوال: زما مور- پلار زه ډیر زیات تنګ کړی یم چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړه؛ لیکن زه په طلاق ورکولو خوښ نه وم. ځکه چې زه خپل کور ابادول غواړم. لیکن زما پلار او مشرانو زه ډیر مجبور کړم، ما بیا هم ورته وویل چې زه طلاق نه ورکوم؛ نو زما پلار هغه خلکو ته وویل که چېرته دا هلک طلاق نه ورکوي؛ نو دی جیل ته ورکړئ، زه مجبور شوم چې د هغې له وجې مې طلاق، طلاق، طلاق درې ځله وویل، حال دا چې ما نه د خپلې ښځې نوم اخیستی او نه مې اشاره کړې ده، صرف د خولې نه مې درې ځله د مجبورۍ طلاق وویل او کله چې ما طلاق ورکولو؛ نو هغه وخت کې زما ښځه حامله وه، تاسو ته درخواست دی چې ماته د قرآن او حدیثو په رڼا کې ځواب راکړئ چې ایا طلاق واقع شوی دی او که نه؟

جواب: دا چې ستا خبرې د ښځې د طلاق شروع وې؛ نو ځکه چې کله تا طلاق، طلاق، طلاق وویل اګر که د ښځې نوم دې نه وو اخستی، مګر طلاق به ښځې طرفته منسوب وي[۲] او ځکه چې تا په دوه صورتونو کې یو ته ترجیح ورکولو سره خپله طلاق ورکړو، اګر که د پلار په اصرار دې ورکړی دی؛ نو ځکه درې ځله طلاق واقع شو[۳]، تاسو دواړه د یو بل لپاره حرام شوئ، بغیر د شرعي حلالې نه دوباره نکاح هم نه کیږي[۴]، پلار ته ووایه چې د هغه مراد خو پوره شو اوس دې ستا واده په دویم ځای کې وکړي.

۱] وفی الظهیریة اذا شهد اثنان علی امراة ان زوجها طلقها ثلاثاً........وقالا کان ذٰلک فی العام الماضی جازت شهادتهما وتاخیرهما لا یوهن شهادتهما. (شامی/ ٥/ ٤٦٣/ باب التحالف)۔

۲]لو اراد طلاقها تکون الاضافة موجودة........ولا یلزم کون الاضافة صریحة فی کلامه لما فی البحر لو قال: طالق فقیل له من عنیت فقال: امراته طلقت امراته. (شامی/ ۳/ ۲٤۸/ مطلب "سن بوش" یقع به الرجعی)

۳]ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل......ولو عبدا او مکرها فان طلاقه صحیح. (الدرالمختار مع الرد/ ۳/ ۲۳٥) ایضاً: عن صفوان بن عمران الطائی ان رجلاً کان نائماً فقامت امراته، فاخذت سکیناً، فجلست علی صدره، فقالت: لتطلقنی ثلاثاً او لاذبحنک! فطلقها، ثم اتی النبی صلی الله علیه وسلم فذکره له ذالک، فقال: لا قیلولة فی الطلاق. (اعلاء السنن/ ۱۱/ ۱۸۳/ باب عدم صحة طلاق الصبی والمجنون والمعتوه.....الخ)۔

٤]"الطلاق مرتان فامساک بمعروف او تسریح باحسان.......فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجاً غیره" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰) ایضاً: اللباب فی شرح الکتاب/ ۲/ ۱۸۳/ طبع قدیمی)۔

مختلف الفاظ استعمالولو سره څو طلاقه واقع کیږي

سوال: زه تاته طلاق درکوم، د نن نه ته په ماباندې حرامه یې. زه تاته طلاق درکوم. اوس ته زما لپاره داسې یې لکه زما خور، پورتنی څلور جملې لیکلو سره خاوند د کوم ماشوم په لاس ښځې ته خط استوي، حال دا چې ښځه تعلیم یافته نه ده او دده ښځه د مخکې نه حامله ده او خط اخیستلو سره انکار کوي، ایا په داسې صورت کې طلاق واقع کیږي؟

جواب: په دې صورت کې لومړنۍ درې جملو سره درې طلاقه واقع شو او څلورمه جمله بې معنا شوه.[١]

د طلاق الفاظ بدلولو سره د طلاقو حکم

سوال: زمونږ په کلي کې یوه شریفه نجلۍ وه چې د هغې د واده یو کال نه ؤ پوره شوی، هغه حامله شوه، څو ورځې مخکې ددې خاوند په څه معمولي خبره دې ته په کاغذ ولیکل چې ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړو، طلاق ورکړو، طلاق ورکړو، کله چې نجلۍ او ددې مور دا وویل: نو په ژړا شول، هغه هلک کاغذ د دوی نه راواخیست او په هغې کې یې الف الف زیات کړو، الطلاق دی، الطلاق دی، الطلاق دی، د هغې نه پس هغه هلک وویل: ما توکې کولې طلاق مې نه دی درکړی، د نجلۍ پلار وایي چې حاملې ته طلاق نه واقع کیږي. که چېرته طلاق نه وي واقع شوی؛ نو که هغه دواړه یو ځای اوسیږي او که چېرته طلاق واقع شوی وي؛ نو هغوی د ګناه کولو نه منع کړئ!

جواب: طلاق په توکو هم واقع کیږي [٢] او په حالت د حمل کې هم[٣]، دې نجلۍ ته درې طلاقه واقع شو، اوس دواړه په یو بل باندې د همېش لپاره حرام شو، بغیر د شرعي حلالې نه دوباره نکاح هم نه کیږي.[٤]

١] وان كانت مرسومة يقع الطلاق نوى او لم ينو.......الخ. (شامى/ ٣/ ٢٤٦) الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة والبائن يلحق الصريح الصريح مالا يحتاج الى نية بائناً كان الواقع به او رجعياً. (الدرالمختارمع ردالمحتار/ كتاب الطلاق/ ٣/ ٣٠٦)۔

٢]عن ابى هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ثلاث جدهن جد وهز لهن جد: النكاح، والطلاق، والرجعة. (ابو داؤد/ ١/ ٣٠٥) عن فضالة بن عبيد الانصارى، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ثلاث لا يجوز اللعب فيهن: الطلاق والنكاح والعتق. (مجمع الزوائد/ ٤/ ٤٣٨/ طبع دار المعرفة/ بيروت)۔

٣]وطلاق الحامل يجوز عقيب الجماع......الخ. (هداية/ ٢/ ٣٥٦)۔

٤] ''الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ.......فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّى تَنكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ'' (البقرة: ٢٢٩، ٢٣٠)۔

"تاته طلاق" دا لفظ يې وويلو، درکوم، يې و نه ويلو د دې حکم

سوال: که چېرته يو سړي خپلې ښځې ته دوه طلاقه ورکړي، بيا دريم ځل زه تاته طلاق (وقفه کولو سره) درکوم ونه وايي، آيا طلاق واقع شو که نه؟

جواب: "تاته طلاق دی" الفاظو سره هم طلاق واقع کيږي؛ نو ځکه په ياد صورت کې درې طلاقه واقع شو.[1]

درې ځله طلاق ورکولو سره درې طلاقه واقع کيږي

سوال: يو مسلمان سړي خپلې مدخول بها (چې د هغې سره يې کوروالی کړی وي) مسلمانې ښځې ته د دوه نه زيات ځله وويل چې ما تاته طلاق درکړو، يا زه تاته طلاق درکوم. يا داسې ووايي چې ما تا ته درې طلاق درکړ، يا زه تاته درې طلاقه درکوم، يا داسې ليکل خپله وکړي يا اوربدلو سره خپل امضاء يا د ګوتې نښه ولګوي؛ نو څه صورتحال به وي؟ ايا په ښځه باندې به يو طلاق واقع وي؟ ايا سړی رجوع کولی شي؟ ايا سړی به دوباره نکاح کوي؟ ايا ښځه د رجعت نه انکار کولی شي؟ ايا ښځه مطلقاً حرامه شوه؟

جواب: هر کله چې هغه درې طلاقه ورکړي دي؛ نو هم درې طلاقه به وي، درې خو يو کيږي نه، د درې طلاقو نه پس د رجوع ګنجائش نه وي، نه د شرعي حلالې نه بغير دوباره نکاح کولی شي، ښځه په حرمت مغلظه سره حرامه شوه.[2]

څو طلاقونه چې وليکل شي هغه به واقع کيږي

سوال: زما واده زما د ترور زوی سره په لندن کې وشو، د خفګان نه پس خبره دومره لويه شوه چې ما ته د خپل کور له خوا وويل شو چې مونږ به بيا تا دوباره کور ته راوغواړو؛ نو ځکه زه پاکستان ته راغلم، ليکن تر اوسه پورې مې په پاکستان کې څلور ښځه مياشتې لا نه دي پوره شوي چې د لندن نه يې راته طلاق راروان کړو، اوس زه دا پوښتنه کول غواړم که چېرته سړی طلاق په حکومت کې رسمي نه کړي او سړی په هوش کې وي؛ نو هغه ښځه چې چا ته يې طلاق ورکړی دی، هغه يې ويلو نه بغير وشلوي يا يې بيخي ترلاسه نه کړي؛ نو آيا دا طلاق واقع کيږي؟ که چېرته ښځې ته معلومات نه وي چې طلاق راغلی دی او د کور نور خلک هغه وشلوي او ښځه خبره نه کړي چې تا ته يې طلاق رالېږلی دی؛ نو په دې سلسله کې هم دغه

---

[1] ايضاً۔

[2] "الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ.......فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّى تَنكِحَ زَوْجاً غَيْرَهُ" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰) ايضاً: وان کانت الطلاق ثلاثاً........لم تحل له من بعد حتى تنکح زوجاً غيره. (هداية/ ۲/ ۳۹۹) تفصيل دپاره اوګورئ: الجوهرة، ج۲ ص۱۲۸)۔

پوښتنه ده چې آیا دغه راز طلاق واقع کیږي؟ زما لپاره مسئله دا ده چې اوس هغه خلک په دې خبره زور کوي چې طلاق قانوني لحاظ سره مؤثر نه دی. نه خو په دې سلسله کې د لندن په قانون سره او نه یې دلته د کوم قانون په ذریعه طلاق راکړی دی: نو ځکه دا طلاق نه دی واقع شوی او هغه غواړي چې رجوع وکړي، حال دا چې زه ورته تیاره نه یم. هغه وایي چې مونږ د مولویانو نه په لندن کې هم پوښتنه کړې ده هغوی وایي چې طلاق نه دی واقع شوی. ځکه چې داپه یو دم سره لیکل شوي دي، حال دا چې طلاق په وقفه - وقفه سره ورکول شي: نو واقع کیږي، کنه نو په ورځ کې دې سل ځله سړی ووایي چې زه فلانکۍ ښځې ته طلاق ورکوم: نو هغه به یو ګټل کیږي، دا خبره زما ذهن نه مني.

ایا یو ځل یا په یوه ورځ درې ځله طلاق لیکلو سره یا ویلو سره طلاق واقع کیږي؟ هغه خلکو زه په دې شک کې اچولې یم چې تر څو پورې د علاقې مشر خبر نه شي طلاق نه واقع کیږي؛ نو ددې مطلب دا شو چې کله طلاق ورکول شي: نو د علاقې مشر خبرول ضروري دي، ددې نه علاوه ددې مطلب دا هم شو چې تر څو پورې په نکاح کې د علاقې مشر موجود نه وي؛ نو نکاح هم نه کیږي، که چېرته زما طلاق غیر مؤثر وي؛ نو دا څنګه مؤثر کېدی شي؟ ددې هم تفصیلي ذکر وکړئ!

جواب: د خاوند په طلاق ورکولو سره طلاق واقع کیږي، خواه که ښځې ته د هغې علم وي او یا نه او ښځه د طلاق نامې رسمي خط وصول کړي یا نه. طلاق په هر حال واقع کیږي: نو ځکه دا عام خیال چې که ښځه د طلاق نامې رسمي کاغذ وصول نه کړي یا یې وشلوي: نو طلاق نه واقع کیږي، بالکل غلط دی.[1]

د صدر ایوب خان نافذ شوی شریعت چې (د عائلي قوانینو په نوم ؤ) پاکستان کې نافذ دی، ددې مطابق د علاقې مشر ته د طلاقو خبر ورکول او د هغه له طرفه د سولې کوشش کول ضروري دي. لیکن د محمد رسول الله ﷺ په شریعت کې داسې څه شرط نشته. بلکې کله چې خاوند طلاق ورکړي؛ نو طلاق واقع شو، که مشر ته یې خبر ورکړی وي او یا نه.

د صحابه رضي الله عنهم وو تابعینو او د ائمه اربعه وو رحمهم الله په نزد په یو مجلس کې درې طلاقه په دریو باندې حسابیږي، ددې نه پس د سولې هیڅ ګنجائش نه پاتې کیږي[2]، لیکن د ایوب خان په

[1] الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة، الکتابة علی نوعین، وان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی او لم ینو، ثم المرسومة لا تخلوا اما ان ارسل الطلاق بان کتب: اما بعد فانت طالق، فکما کتب هٰذا یقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة. (عالمگیری/ ۱/ ۴۷۰) ایضاً: یقع طلاق کل زوج اذا کان بالغاً عاقلاً سواء کان حراً او عبداً طائعاً او مکرهاً، کذا فی الجوهرة النیرة. (عالمگیری/ ۱/ ۳۵۳)_

[2] ومذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع ثلاث. (شامی / ۳/ ۲۳۳) ومذهب جماهیر العلماء من التابعین ومن بعدهم، منهم الاوزاعی والنخعی...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

شریعت کې چې د عائلي قوانینو په نوم نافذ شوی. خاوند ته د درې طلاقو نه پس هم د مصالحت اختیار ورکول شوی. ستا خاوند چې تاته کوم طلاق راليږلی. په هغې کې د مغلظه طلاق لفظ لیکل شوی دی، ددې طلاق نامې نه پس د ښځې او خاوند رشته ختمه شوه. نه د مصالحت ګنجائش شته او نه هم د دوباره نکاح کولو[۱]. کومو مولویانو چې دا فتوی درکړې ده چې طلاق نه واقع کیږي د هغوی فتوی بالکل غلطه او د ټولو امامانو د مذهب خلاف ده، لهذا دغه فتوی باطله او رد ده. تاسودا فتوی مه قبلوئ کنه نو ټول عمر به په زنا کې اخته یئ.

آیا دریو طلاقو نه پس د دویم خاوند سره واده کول ظلم دی؟

سوال: یو سړی بدکاره، نشیي او د نورو عیوبو څخه ډک دی او خپلې ښځې ته چې پرهیزګاره، دینداره او نیکه ښځه ده طلاق ورکوي، طلاق یې د نشې په حالت کې نه دی ورکړی. وروسته دغه سړی انکارکوي او غواړي چې د خپلې ښځې سره واده وکړم، لیکن د طلاق نه پس چې تر څو پورې هغه ښځه د بل سړي په نکاح کې رانشي هغه د خپل خاوند سره نکاح نه شي کولی. مګر د ښځې عذر دا دی چې غلطي د خاوند وه او هغه د لومړني خاوند نه علاوه د کوم بل سړي سره د نکاح او د نکاح نه پس د کوروالي تصور هم نه کوي. هغه وایي چې په اسلام کې بې ګناه باندې چیرې هم ظلم نه پلی کیږي او د ښځې غلطي خو نه ده. لهذا دا ښځه به د کوم بل سړي په نکاح نه مجبوروي او هغه د خپل خاوند سره نکاح کول غواړي. د اسلام له مخې ددې مسئلې حل وښایئ، آیا ښځې باندې د لومړني ظلم نه پس ددې د مرضی خلاف دویمه نکاح لازم ده؟ اجماع څه ده او حالاتو ته په کتو سره د ښځې دا وینا چې په ما باندې ولې ظلم کوئ او د کوم قانون په بنا یې کوئ؟

جواب: دلته څو ضروري خبرې دي:

اول دا چې د درې طلاقو نه پس ښځه په طلاق ورکونکي باندې حرامیږي، تر څو پورې چې هغه دویم ځای شرعي نکاح او د خپل دویم خاوند سره کوروالی ونه کړي او په خپله خوشحالی طلاق ورنه کړي او ددې عدت تېرنه شي، دا ښځه د لومړي خاوند لپاره نه حلالیږي، نه ددې شرط نه بغیر ددې دواړو دوباره نکاح کېدی شي. دا د قرآن کریم قطعي او کوټلې پرېکړه ده چې په هغې کې نه د څه استثناء ګنجائش شته او نه د څه تبدیلی اجازه شته.[۲]

...بقیه د تیرمخ] والثوری وابو حنیفة واصحابه ومالک واصحابه والشافعی واصحابه.......وآخرون کثیرون علی ان من طلق امراته ثلاثاً وقعن......الخ. (عمدة القاری للعلامة عینی شرح بخاری/ ۲۰/ ۲۳۳) وقد اختلف العلماء فیمن قال لامراته انت طالق ثلاثاً فقال الشافعی ومالک وابو حنیفة واحمد وجماهیر العلماء من السلف والخلف یقع الثلاث. (شرح نووی علی مسلم/ ۱/ ۴۷۸/ طبع قدیمی)۔

۱] ''الطَّلَاقُ مرَّتَان........فَإن طَلَّقَهَا فَلاَ تحلُّ لَهُ من بَعْدُ حَتَّی تَنکحَ زَوْجاً غَیْرَهُ'' (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰)۔

۲] ''الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ........فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّی تَنکِحَ زَوْجاً...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

دویم د قرآن کریم پریکړه د ښځې لپاره سزا نه. بلکې د دې مظلومې په حمایت کې د طلاق ورکونکي ظالم خاوند سزا ده. ګویا د دې قانون په ذریعه خاوند ته د الله له طرفه ملامتیا ده چې اوس ته د دې شریفې په خپل کور کې آبادولو اهل پاتې نه شوې. بلکې اوس به مونږ د دې نکاح د قانون له مخې بل ځای کوو او تاسو د دې شریفې د دوباره په نکاح کې راوستلو نه محرومه شوئ، تر څو پورې چې په تاسو کې عقل را نه شي، چې شریفې ښځې ته د درې طلاقو ورکولو انجام څه وي.

دریم د الله تعالی دا قانون سراسر د مظلومې ښځې په حمایت کې ده، لیکن دا عجیبه ښځه ده چې دا خو د ظالم سره جوړښت غواړي مګر خالق کائنات چې خپله د دې د ښه والي لپاره یې قانون جوړ کړی دی. د ده قانون په خپل ځان باندې ظلم تصور کوي او بیا داسې سړی چې شرابي دی. ظالم دی او چا باندې چې د همېش لپاره حرامه شوې ده د هغه سره خو د الله تعالی حد ماتولو سره د نکاح کولو امید لري او دې ته چې د کوم ښک. پرهېزګار او شریف النفس مسلمان سره د نکاح کولو کومه مشوره ورکول کیږي؛ نو ده ته د دې سزا ملاوېدل پکار دي؛ نو دا ښځه چې د دې ظالم سره تعلق ساتي، د الله تعالی حکمونه هم ظلم تصور کوي. ایا د دې ظالم نه څه کم ظالم دی؟ دا سزا دې ښځه ته نه. بلکې دې ظالم سړي ته ورکول شوې ده، کومه ښځه چې په خپلې بې عقلی په خپل حق کې ظلم تصور کوي، دا ولې خامخا ضد کوي چې د هغه ظالم سره دوباره نکاح وکړي؟ دې ته پکار دي چې کوم بل ځای خپله نکاح وتړي او شریف ژوند تېر کړي او دې ظالم ته تول عمر مخ ونه ښیي.

څلورم : دا هم ضروري ده چې څنګه د زهر خوړلو اثر مرګ وي، زهر ورکوونکی ظالم وي؛ مګر کله چې مهلک زهر ورکړه نو مظلوم ته به خامخا مرګ راځي، هم دغه راز د درې طلاقو د زهر اثر حرمت مغلظه دی. یعنې دا ښځه چې چېرته غواړي؛ نو نکاح کولی شي. (دا دویم ځای کې په نکاح کولو څوک هم نه شي مجبورولی) لیکن د لومړي خاوند لپاره دا حلاله نه ده، که چېرته هغه لومړي خاوند ته ورتلل غواړي؛ نو دا تر هغه پورې ممکنه نه ده چې دویم ځای کې عقد ونه کړي او د هغه سره کوروالی ونه کړي، هغه طلاق ورنه کړي او بیا وروسته عدت تېر نه کړي. څنګه چې د زهر خوړلو نتیجه مرګ ده، هم دغه راز د درې طلاقو نتیجه حرمت مغلظه ده. که چېرته دا ظلم وي؛ نو دا ظلم هم د دریو طلاقو ورکونکي له طرفه شوی دی د بل چا له طرفه نه. که چېرته ښځه د دې ظالم په کور کې په خوشحالی سره اوسېدل غواړي؛ نو

...بقیه د تېر مخ] غَيْرَهُ فَإِن طَلَّقَهَا فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يَتَرَاجَعَا إِن ظَنَّا أَن يُقِيْمَا حُدُودَ اللّٰه" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰) ایضاً: وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة........لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره.(عالمگیری۱/ ۴۷۳/ بلوچستان) تفصیل دپاره اوګوری: روح المعانی، ج۲، ص۱۴۱، ۱۴۲)

هغې ته دده د ظلم نتیجه هم په خوشحالۍ سره تېرول وي. خلاصه دا چې په دې قانون کې د تبدیلۍ حق هیڅوک نه لري

ايا د اړتيا پرمهال حنفي په شافعي مسلك عمل کولی شي؟

سوال: اختر په غير کفو کې واده کړی دی، دده ښځه د خپل مور پلار په کور کې اوسېده. اختر به ددې طرفته ډېر رغبت کولو؛ ليکن يوه ورځ د ښځې د روپې څخه تنګ راغی هغه قسم وخوړ، که چېرته دا ځل بغير له کومې خاصې وجې زه د خپل خسر کور ته د ښځې د ملاوېدو لپاره لاړم؛ نو په ما باندې به ښځه درې ځله طلاقه وي. يوه مياشت خو مې په کور کې ډېر ځان ايسار کړ بيا مې زړه وغوښتل او کتابونه مې وکتل؛ نو معلومه شوه چې درې طلاقه په يو مجلس کې د امت په منځ کې اختلافي ده، د مولانا جعفر شاه ندوي د اجتهادي مسئلو کتاب دی په دې کې مې ليدلي چې درې طلاقه د حضور ﷺ او صديق اکبر رضي الله عنه په دور کې د يو حکم درلود او د عمر فاروق رضي الله عنه مسلک سياسي ؤ شرعي نه وو، داخبره مې په فتاوی رشيديه کې وليدله او د حضرت مولانا عبدالحئ فرنګي محلي رحمه الله په نزد د سخت ضرورت په وخت کې د حنفي مسلک والا د شافعي په مسلک عمل کولی شي چې د هغوی په نزد طلاق ثلاثه رجعي دي؟

دې وجوهاتو هغه ته تسلي ورکړه او د خسر کور ته لاړ، د خپلې ښځې سره يې کوروالی وکړ، اوس آيا دده ښځه طلاق شوه؟ په وخت د ضرورت کې د حنفي پورتنی عمل د فقه شافعي په مسئله کې د رجوع په صورت کې ده، هغه بايد څه وکړي؟

جواب: اجتهادي مسئلو کې جعفر ندوي چې څه ليکلي هغه غلط او مهمل دي، درې طلاقه چې په يو وخت کې ورکول شي هغه د جمهورو صحابه او تابعينو او د ځلورو امامانو په نزد درې حسابيږي[1]؛ نو ځکه دلته د امام شافعي رحمه الله يا بل امام څه اختلاف نشته چې د هغوی په قول فتوی ورکول شي. د اختر په زړه کې د خسر کور ته د تللو او ښځې سره د ملاوېدلو ډېره سخته تقاضا پيدا کيږي او هغه ته څه خاص وجه هلته د تللو په نظر نه راځي، هغه کتابونه کتل ددې لپاره شروع کړي چې هغه ته بغير د کومې خاصې وجې هلته د تللو حيله ملاو شي، هغه ته د جعفر ندوي صاحب په کتاب کې دا خبره ملاويږي چې درې طلاقه چې په يو وخت کې

١]وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلاث. (مرقاة شرح مشكوٰة/ ٣/ ٢٣٣/ كتاب الطلاق) ايضاً: ومذهب جماهير العلماء من التابعين ومن بعدهم، منهم الاوزاعى والنخعى والثورى وابو حنيفة واصحابه ومالك واصحابه والشافعى واصحابه واسحاق وابو ثور وابو عبيد وآخرون كثيرون على ان من طلق امراته ثلاثاً وقعن ولكنه يأثم وقالوا من خالف فيه فهو شاذ مخالف لاهل السنة انما تعلق به اهل البدعة ومن لا يلتفت اليه لشذوذه عن الجماعة.(عينى شرح بخارى/ ٢٠/ ٢٣٣/ طبع دارا لفكر)

ورکول شوي هغه هم يو وي، ددې نه هغه دا غلطه نتيجه اخيستنه. چې د امام شافعي رحمه الله به هم دا مسلک وي کوم چې جعفر شاه ليکلي دی او بيا هغه ددې سره يو اصل بل يو ځای کوي چې په وخت د ضرورت کې حنفي ته د امام شافعي رحمه الله په مذهب باندې عمل کول جائز دي. ددې ټولو امورو نه هغه دې نتيجې ته ورسيد که چېرته زه د کوم خاص وجې نه بغير هم ښځې ته د ملاوېدو لپاره خسرګنۍ کره لاړ شم؛ نو يو طلاق رجعي به وي. لهذا په دې بنياد هغه بغير د کوم خاص وجې هلته ځي؛ نو ځکه دده ښځه په درې طلاقو طلاقه شوه او بغير د شرعي حلالې نه اوس د دواړو نکاح هم نه کيږي.[1]

خاوند ته په شرعي حلالې سره نکاح کولو نه پس د دوباره درې طلاقو حق شته

سوال: يو سړي خپلې ښځې ته درې طلاق ورکړه، عدت تېرېدلو نه پس دې ښځې دويم ځای نکاح وکړه، څو ورځې پس دويم خاوند هم يادې ښځې ته طلاق ورکړ، اوس دا ښځه دوباره د لومړني خاوند سره نکاح کول غواړي، د نکاح نه پس به دې سړي ته زيات نه زيات د څو طلاقونو اختيارمن وي؟ حال دا چې ددې نه مخکې خو دې سړي خپل د درې طلاقونو حق استعمال کړی دی.

جواب: دويم خاوند سره د نکاح او کوروالي کولو نه پس چې کله دې ښځې ته د دويم خاوند نه طلاق ملاو شي او ددې عدت ختمېدو نه پس د لومړني خاوند سره دوباره نکاح وکړي؛ نو لومړني خاوند له سره د دريو طلاقو مالک شو، اګر که لومړي هغه يو يا دوه طلاقه ورکړي وي يا يې درې طلاقه ورکړي وي، په هر صورت د شرعي حلالې نه پس دوباره به د دريو طلاقو مالک وي.[2]

اولنۍ ښځه د خودکشۍ نه د بچ کولو لپاره د دريو طلاقو حکم

سوال: د دين عالمان ددې مسئلې په باره کې څه فرمايي چې: د زيد دوه ښځې دي. داولنۍ نوم زينب او د دويمې نوم نرګس ده، زيد ته زينب ويلي چې که هغه خپلې ښځې نرګس ته سمدستي طلاق ورنه کړي؛ نو هغه به ځان ووژني. زيد خپلې دويمې ښځې نرګس ته هيڅ

۱] قال تعالی: "الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ......فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ" (البقرة: ۲۲۹، ۲۳۰) ايضاً: عالمگيری/ ۱/ ۴۷۳، روح المعاني/ ۲/ ۱۴۱)۔

۲] واذا طلق امراته طلقة او طلقتين وانقضت عدتها وتزوجت بزوج آخر ودخل بها ثم طلقها وانقضت عدتها ثم تزوجها الاول عادت اليه بثلاث تطليقات ويهدم الزوج الثانی الطلقة والطلقتين كما يهدم الثلاث، كذا فی الاختيار شرح المختار. (عالمگيری/ ۱/ ۴۷۵)۔

کله طلاق ورکول نه غوښتل: لیکن د زینب په زور او د هغې د سر د خطرې نه د بچ کولو لپاره هغه د نرګس په غیاب کې او د زینب په وړاندې دوه ځله طلاق وویل. بیا د هغې د نور زور له وجې یې درې ځله طلاق. طلاق، طلاق، طلاق وویل. په داسې حال کې چې نرګس حامله هم ده. زینب درې ځلور ورځې پس دا خبره نرګس ته وویل. د قرآن او سنت په رڼا کې وفرمایئ چې طلاق وشو که نه؟ په دې سلسله کې د ډیر عالمانو نه فتوی ترلاسه شوې؟

جواب: ددې معلوماتو سره سره ماته پنځلس فتوی هم رالیږل شوې دي. د کومو چې په استفتاء کې حواله ورکول شوې ده. ددې فتوو فهرست داسې دی:

١ جناب مفتي عبدالمنان_تصدیق مفتي عبدالروف صاحب دارالعلوم کورنګی کراچی.

٢ جناب مفتي کمال الدین ، تصدیق جناب مفتي اصغر علی دارالعلوم کورنګی کراچی.

٣ جناب مفتي انعام الحق، تصدیق جناب مفتی عبدالسلام . جامعة العلوم الاسلامیه بنوري ټاون کراچی.

۴ جناب مفتي فضل غنی دارالعلوم جامعه بنوریه سائټ کراچي.

۵ جناب مفتي غلام رسول. تصدیق مفتي شریف احمد طاهر. جامعه رشیدیه ساهیوال (پنجاب)

٦ جناب مفتي عبدالله. دارالعلوم قمرالاسلام سلیمانیه پنجاب کالوني کراچی.

٧ جناب مفتي محمد اسلم نعیمي. مجلس علماء اهل سنت کراچي.

٨ جناب مفتي محمد فاروق، تصدیق مفتي محمداکمل. دارالافتاء مدرسه اشرفیه جیکب لائن کراچی.

٩ جناب مفتي محمدجان نعیمي. دارالعلوم مجددیه نعیمیه. ملیر کراچی.

١٠ جناب مفتي غلام دستګیر افغاني. جامعه ضیاء العلوم. اګره تاج کالوني کراچی.

١١ مفتي لطافت الرحمان جامعه حنفیه سعود آباد کراچی.

١٢ مفتي محمد عبدالعلیم قادري، دارالعلوم قادریه سبحانیه، فیصل کالوني کراچی.

١٣ جناب مفتي محمد رفیق دارالعلوم جامعه اسلامیه ګلزار حبیب سولجرز بازار کراچی.

١۴ جناب مفتي شعیب بن یوسف مدرسه بحرالعلوم سعودیه عامل سټریټ کراچی.

١۵ جناب مفتي محمدادریس سلفي جماعت غرباء اهل حدیث محمدي مسجد برنس روډ کراچی.

په دې کې اولنې دیارلس فتوی په دې باندې متفق دي چې په نرګس باندې درې طلاقونه واقع شوي دي اودا د حرمت مغلظه سره اوس په خاوندباندې حرامه شوې ده. نه پکې د رجوع ګنجائش شته او نه د شرعی حلالې نه بغیر د نکاح ګنجائش شته.

زما په نزد دا دیارلس فتوی صحیح دي او نرګس اوس په خپل خاوند باندې په حرمت مغلظه سره حرامه شوه. اوس د دوی دواړوپه منځ کې دښځې اوخاوند په حیث د اوسېدو حق نه لري.

ددې مسئلې دلائل دا لاندې دي

۱ د الله تعالی وینا ده "**الطلاق مرتان فامساک بمعروف أو تسریح باحسان.....الی قوله.....فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجاً غیره....(البقره ۲۲۰، ۲۳۰**

ژباړه هغه طلاق دوه کرته دي. بیا د قاعدې موافق یې ساتل یا یې پرېښودل په خوشحالۍ سره او ستاسو لپاره دا خبره حلاله نه ده. (د پرېښودو په وخت کې) چې څه واخلئ. اګر که ددې نه کوم څه چې تاسو هغوی ته مهر ورکړي وو. مګر دا چې ښځه او خاوند دواړه دا وېره لري چې د الله تعالی ضابطې به ونه ساتلی شي: نو په دواړو باندې به هیڅ ګناه نه وي (ددې مال په اخیستلو کې) چې د هغې په ورکولو سره ښځه خپل ځان خلاصه کړي. دا خدای ضابطې دي: نو تاسو ددې نه بهر مه وځئ؛ او کوم کس چې د خدایي ضابطو نه بهر وځي: نو داسې کسان خپل نقصان کونکي دي. بیا که څوک (دریم) طلاق ښځې ته ورکړي: نو بیا به هغه د هغه لپاره ددې نه پس حلال پاتې نه شي. تر دې چې هغه ددې نه علاوه د یو بل خاوند سره (د عدت نه پس) نکاح وکړي. بیا که هغه دې ته طلاق ورکړي؛ نو په دې دواړو باندې ددې څه ګناه نشته چې بیا د مخکې په څېر یو ځای شي. په شرط ددې چې د دواړو دا غالب ګمان وي چې د آینده لپاره به خدایي ضابطې ساتي. دا خدایي ضابطې دي. حق تعالی دا بیان کړي د داسې خلکو لپاره چې هوښیاران وي.

په دې آیت کې فرمایل شوي چې که یو کس د دوه ځلو نه پس دریم طلاق ورکړي: نو ښځه په حرمت مغلظه سره حرامه شوه او ټول مفسرین په دې باندې متفق دي چې دا دریم طلاق که په دغه مجلس کې ورکول شوی وي یا په بل مجلس کې د دواړو یو حکم دی. امام بخاري رحمه الله په "باب من جاز الطلاق الثلاث" کې ددې آیت حواله ورکړې وایي: چې درې طلاقه که په یو ځای ورکول شي: نو هم درې به نافذ کیږي. (صحیح بخاري ج: ۲ ص: ۷۹۱)

۲: امام بخاري رحمه الله د پورتني باب لاندې د عویمر عجلاني رضی الله عنه او د هغه د ښځې د لعان واقعه ذکر کړې چې د هغې په اخره کې دي، حضرت عویمر رضی الله عنه ووېل: **کذبت علیها یارسول الله ان امسکتها. فطلقها ثلاث قبل ان یامره رسول الله صلی الله علیه وسلم....(صحیح بخاري ج: ۲ ص: ۷۹۱)**[1]

---

[1] ان سهل بن سعد الساعدی اخبره ان عویمر العجلانی جاء الی عاصم بن عدی الانصاری فقال له: یا عاصم! ارایت رجلاً وجد مع امراته رجلاً ایقتله فتقتلونه ام کیف یفعل؟ سل لی یا عاصم عن ذالک رسول الله صلی الله علیه وسلم: فسال عاصم عن ذالک رسول الله صلی الله علیه وسلم فکره رسول الله صلی الله علیه وسلم المسائل وعابها حتی کبر علی عاصم ما سمع من رسول الله صلی الله علیه وسلم، فلما رجع عاصم الی اهله جاء عویمر قال: یا عاصم! ما ذا قال لک رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ فقال عاصم: لم تاتنی بخیر قد کره رسول الله صلی الله علیه وسلم المسالة التی سالته عنها، قال عویمر: والله!..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

ژباړه: يا رسول الله ﷺ كه ددې نه پس هم زه دا وساتم: نو ما په دې پورې دروغ پورې كړل. پس هغه مخكې ددې نه چې حضور ﷺ هغه ته حكم وركړى وي، خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړه.

امام بخاري رحمه الله ددې حديث نه دا ثابته كړې چې درې طلاقه كه يو ځاى وركول شي واقع كيږي. حافظ ابن حزم رحمه الله ليكي چې: د حضور ﷺ په وړاندې عويمر رضى الله عنه درې طلاقه وركړه او حضور ﷺ په دې باندې هيڅ نيوكه ونه كړه. ددې نه ثابته شوه چې درې طلاقه په يو ځاى وركول صحيح دي. (المحلي ج: ١٠ ص: ١٧٠)[١]

٣ امام بخاري رحمه الله هم په دې باب كې دا حديث ذكر كړى دى چې: رفاعه قرظي رضى الله عنه ښځه د حضور ﷺ په خدمت كې حاضره شوه او وې ويل چې: يا رسول الله! رفاعه ما ته طلاق راكړ او پوخ طلاق يې راكړو. (صحيح بخاري، ج: ٢ ص: ٧٩١)[٢]

په دې حديث كې پوخ طلاق يې راكړو "(بته طلاق) نه مراد درې طلاقه دي او حضور ﷺ ترې ددې تفصيل معلوم نه كړو چې دا درې طلاقه په يو مجلس كې دركول شوي كه جدا جدا. امام بخاري رحمه الله ددې نه دا ثابته كړې چې د دواړو يو حكم دى يعنې حرمت مغلظه.

۴ په همدې باب كې امام بخاري رحمه الله د حضرت عائشه رضى الله عنها حديث نقل كړى دى چې: يو كس خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړه، هغې د دويم خاوند سره (د عدت پوره كولو نه پس) نكاح وكړه او دويم خاوند هم ورته طلاق وركړو، د حضور ﷺ نه سوال وشو چې: ايا دا د خپل اولني خاوند لپاره حلاله شوه؟ وې فرمايل چې نه! تر دې پورې چې هغه د دويم خاوند سره كوروالى وكړي، څنګه چې يې د مخكيني سره كړى ؤ. (صحيح بخاري ج: ٢

...بقيه د تيرمخ] لا انتهى حتى اساله عنها، فاقبل عويمر حتى ا تى رسول الله صلى الله عليه وسلم وسط الناس، فقال: يا رسول الله! ارايت رجلاً وجد مع امراته رجلاً ايقتله فتقتلونه ام كيف يفعل؟ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: قد انزل فيک وفى صاحبتک فاذهب فات بها، قال سهل: فتلاعنا وانامع الناس عند رسول الله صلى الله عليه وسلم، فلما فرغا، قال عويمر: كذبت عليها يا رسول الله ان امسكتها، فطلقها ثلاثاً قبل ان يامره رسول الله صلى الله عليه وسلم. قال ابن شهاب: فكانت تلک سنة المتلاعنين. (صحيح البخارى/ ٢/ ٧٩١/ باب من اجاز طلاق الثلاث/ طبع نور محمد، كراچى)۔

١] قال ابو محمد: لو كانت طلاق الثلاث مجموعة معصية لله تعالى لما سكت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيان ذالک فصح يقينا انها سنة مباحة. (المحلى، لابن حزم/ ١٠/ ١٧٠/ دار الآفاق الجديدة/ بيروت)۔

٢] حدثنا سعيد بن عفير........قال: اخبرنى عروة بن الزبير ان عائشة اخبرته ان امراة رفاعة القرظى جآءت الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالت: يا رسول الله! ان رفاعة طلقنى فبت طلاقى، وانى نكحت بعده عبدالرحمن بن الزبير القرظى وانما معه مثل الهدبة، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لعلک تريدين ان ترجعى الى رفاعة، فقالت: نعم! فقال النبى صلى الله عليه وسلم: لا، حتى يذوق عسيلتک وتذوقى عسيلته. (بخارى/ ٢/ ٧٩١/ باب من اجاز طلاق الثلاث)۔

ص: ۷۹۱)[۱]

۵: په صحيح مسلم کې د فاطمه بنت قيس رضی الله عنها واقعه ذکر شوې ده چې: د هغې خاوند هغې ته درې طلاقه ورکړي وه. د هغې د نفقې او اوسېدو مسئله راغله: نو حضور ﷺ وفرمايل چې: ددې لپاره نفقه او اوسېده نشته. (صحيح مسلم ج: ۱ ص: ۴۸۳)[۲]

حافظ ابن حزم رحمه الله ليکي چې: دا خبر متواتر دی چې هغې حضور ﷺ ته وويل چې هغې ته خاوند درې طلاقه ورکړي دي، حضور ﷺ په دريو طلاقو باندې اعتراض ونه کړو. نه يې دا وفرمايل چې دا خلاف سنت دي. (المحلي ج: ۱۰ ص: ۱۷۱)[۳]

٦: امام نسائي رحمه الله د حضرت محمود بن لبيد رضی الله عنه نه حديث نقل کړی دی چې: حضور ﷺ ته وويل شو چې يو کس خپلې ښځې ته په يو ځل درې طلاقه ورکړي دي، حضور ﷺ په غوسه کې وفرمايل چې: ايا زما په موجودګۍ کې د الله د کتاب سره لوبې کيږي؟ (نسائي ج: ۲ ص: ۹۹)[۴]

۷: د امام ابوداود رحمه الله نه په مختلفو طريقو سره دا حديث نقل شوی دی چې رکانه رضی الله عنه خپلې ښځې سهيمه رضی الله عنها ته "البتة" طلاق ورکړو، د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وې فرمايل چې ما د يو طلاق اراده کړې و. وې فرمايل په قسم سره وايې چې د يو اراده دې کړې وه؟ وې ويل: په الله تعالى مې دې قسم وي چې ما د يو طلاق اراده کړې وه، حضور ﷺ هغه ته خپله ښځه واپس کړه. (ابوداؤد ج: ۱ ص: ۳۰۰)[۵]

---

[۱] عائشة ان رجلاً طلق امراته ثلاثا فتزوجت فطلق فسئل النبی صلی الله علیه وسلم اتحل للاول؟ قال: لا، حتی یذوق عسیلتها کما ذاق الاول. (بخاری/ ۲/ ۷۹۱/ باب من اجاز طلاق الثلاث لقول الله تعالی: الطلاق مرتان فامساک بمعروف او تسریح باحسان، طبع نور محمد کراچی)۔

[۲] عن فاطمة بنت قیس ان ابا عمرو بن حفص طلقها البتة وهو غائب فارسل الیها وکیله بشعیر فسخطته فقال: والله ما لک علینا من شیئ، فجاء ت رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکرت ذالک له فقال لیس لک علیه نفقة.......الحدیث. (صحیح مسلم/ ۱/ ۳۸۳/ باب المطلقة البائن لا نفقة لها/ طبع قدیمی/ کراچی)۔

[۳] فهٰذا نقل تواتر عن فاطمة بان رسول الله صلی الله علیه وسلم اخبرها هی ونفر سواها بان زوجها طلقها ثلاثاً ولم ینکر علیه الصلاة والسلام ذالک ولا اخبر بانه لیس بسنة، وفی هٰذا کفایة لمن نصح نفسه. (المحلی/ لابن حزم/ ۱۰/ ۱۷۱/ احکام الطلاق/ طبع دار الآفاق/ بیروت)۔

[۴] اخبرنا مخرمة عن ابیه قال: سمعت محمود بن لبید قال: اخبر رسول الله صلی الله علیه وسلم عن رجل طلق امراته ثلاث تطلیقات جمیعا فقام غضبانا ثم قال: ایلعب بکتاب الله وانا بین اظهرکم.......الحدیث. (نسائی/ ۲/ ۹۹/ طبع قدیمی کتب خانه)

[۵] عن نافع بن عجیر بن عبد یزید بن رکانة ان رکانة بن عبد یزید طلق امراته سهیمة البتة فاخبر النبی صلی الله علیه وسلم بذالک وقال: والله ما اردت الا واحدة، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: والله ما اردت الا واحدة؟ فقال رکانة: والله ما اردت الا واحدة، فردها الیه ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د حضور ﷺ حضرت رکانه رضی الله عنه ته دا فرمایل چې په قسم سره وایې چې تا د یو طلاق اراده کړې وه؟ په دې امر باندې دلیل دی چې "البتة" لفظ سره که د درېو طلاقو اراده وشي: نو هم درې واقع کیږي. په خاې ددې چې په صریحو الفاظو سره درې طلاقه ورکول شوي وي

د قرآن او حدیث ددې دلایلو په رڼا کې. د څلورو واړو امامانو. ابوحنیفه رحمه الله. امام مالک رحمه الله. امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله. امام بخاري رحمه الله او ټول محدثین په دې باندې متفق دي چې درې طلاقه که په یو لفظ سره وي که په یو مجلس کې وي هم درې به شمارل کیږي.

فتوی نمبر ۱۴

د یو اهل حدیث د قلم ده. په کوم کې چې دا موقف اختیار شوی دی چې درې طلاقه کله په یو مجلس کې ورکول شي: نو هم یو طلاق به شمارل کیږي. لهذا نرګس باندې یو طلاق واقع شوی. د عدت دننه خاوند دې ته رجوع کولی شي.

د اهل حدیثو دا فتوی صریحه غلطه. د پورته ذکر شوي آیت او حدیثونو نه علاوه د امت د اجماع هم خلاف ده. ځکه چې ټول مشران صحابه کرام رضی الله عنهم په دې باندې متفق دي چې یو لفظ یا په یو مجلس کې ورکول شوي درې طلاقه درې شمارل کیږي او ښځه په حرمت مغلظه سره حرامه شوه. د خلفاء راشدینو او نورو صحابه کرامو څو فتوی د نمونې په توګه لاندې لیکو

۱ حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې: د حضرت عمر رضی الله عنه په خدمت کې به چې کله داسې کس پېش شو چا چې به په یو مجلس کې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې ؤ: نو دوی به هغه ته سزا ورکول او د هغوی په منځ کې به یې جدایي راوستل. (مصنف ابن ابی شیبه ج: ۲ ص: ۱۱ مصنف عبدالرزاق: ۲ ص: ۳۹۲)[1]

۲: زید بن وهب رحمه الله لیکي: یو کس خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړل. د حضرت عمر رضی الله عنه په خدمت کې پیش شولو. نو هغه کس وویل چې: ماخو هسې لوبې کولی. حضرت عمر رضی الله عنه په هغه پسې دره راواخستله او په هغوی دواړو کې یې جدایي راوستله. (ابن ابی شیبه ج: ۵ ص: ۱۳ عبدالرزاق ج: ۲ ص: ۳۹۳)[2]

...بقیه د تیرمخ] رسول الله صلی الله علیه وسلم. (ابو داؤد/ ۱/ ۳۰۰/ باب فی البتة/ طبع ایچ ایم سعید)۔

۱] عن انس قال: کان عمر اذا اتی برجل قد طلق امراته ثلاثاً فی مجلس، او جعه ضرباً، وفرق بینهما. (المصنف لابن ابی شیبة/ ۹/ ۵۱۹/ باب من کره ان یطلق الرجل امراته ثلاثاً فی مقعد واحد/ طبع المجلس العلمی بیروت)۔

۲] عن زید بن وهب: ان رجل بطالاً کان بالمدینة، فطلق امراته الفاً، فرفع...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

۳ يو كس د حضرت عثمان رضى الله عنه په خدمت كې راغې او وې ويل چې ما خپلې ښځې ته سل طلاقه وركړل. وې فرمايل درې طلاقه هغه په تا باندې حرامه كوى. او وه نوى عدوان، ظلم زياتې او حدود الهى نه تجاوز دى. (ابن ابى شيبه ج ۵ ص ۱۳) [۱]

۴ يو كس د حضرت على رضى الله عنه په خدمت كې حاضر شو او وې ويل چې ما خپلې ښځې ته زر طلاقه وركړې دى . وې فرمايل ، درې طلاقه هغه په تا باندې حرام كوى. باقى په خپلو نورو ښځو باندې تقسيم كړه. (ابن ابى شيبه ج: ۵ ص: ۱۳) [۲]

۵ د حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله عنه په خدمت كې يو كس راغى او وې ويل: چې ما خپلې ښځې ته ۹۹ طلاقه وركړي دي، وې فرمايل: بيا خلكو تاته څه وويل؟ هغه ويل چې خلكو راته ويل: ستا ښځه په تا باندې حرامه شوه، وې فرمايل: خلكو تا سره شفقت كړى دى (چې صرف ښځې ته يې حرام ويلي دي) هغه په دريو طلاقو سره په تا باندې حرامه شوې ده، باقي طلاقونه دي ظلم كړى دى، (ابن ابى شيبه ج: ۵ ص: ۱۲ عبد الرزاق ج: ۲ ص: ۳۹۵) [۳]

۲ يو كس حضرت عبد الله بن مسعود رضى الله عنه ته راغى وې ويل چې: ما خپلې ښځې ته سل طلاقه وركړې، وې فرمايل: دريو طلاقو درباندې هغه حرامه كړه او باقي ۹۷ گناه ده. (ابن ابي شيبه ج: ۵ ص: ۱۲) [۴]

۷ حضرت عبد الله بن عمر رضى الله عنهما فرمايي چې: كوم كس خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړي؛ نو هغه د خپل رب نافرماني وكړه او د هغه ښځه په هغه باندې حرامه شوه. (ابن ابي شيبه ج: ۵ ص: ۱۱) [۵]

...بقيه د تيرمخ] الى عمر قال: انما كنت العب! فعلا عمر رأسه بالدرة، وفرق بينهما. (المصنف لابن ابى شيبة/ ۹/ ۵۲۱/ باب فى الرجل يطلق امراته مئة او الفاً فى قول واحد، طبع بيروت)۔

[۱] عن معاوية بن ابى تحيى قال: جاء رجل الى عثمان فقال: انى طلقت امرأتى مئة، قال: ثلاث يحر منها عليك، وسبعة وتسعون عدوان. (المصنف لابن ابى شيبة/ ۹/ ۵۲۲/ باب فى الرجل يطلق امرأته مئة او الفاً/ طبع المجلس العلمى بيروت)۔

[۲] عن حبيب قال: جاء رجل الى على فقال: انى طلقت امراتى الفاً، قال: بانت منک بثلاث، واقسم سائرهن بين نسائک. (المصنف لابن ابى شيبة/ ۹/ ۵۲۱/ طبع المجلس العلمى بيروت)۔

[۳] عن عبدالله قال: اتاه رجل فقال: انى طلقت امراته تسعة وتسعين مرة، قال: فما قالوا لک؟ قال: قالوا: قد حرمت عليک، قال: فقال عبدالله: لقد ارادوا ان يبقوا عليک، بانت منک بثلاث، وسائرهن عدوان. (المصنف لابن ابى شيبة/ ۹/ ۵۲۱/ طبع المجلس العلمى بيروت)۔

[۴] عن علقمة قال: جاء رجل الى عبدالله قال: انى طلقت امراتى مئة، فقال: بانت منک بثلاث، وسائرهن معصية. (المصنف لابن ابى شيبة/ ۹/ ۵۲۱/ طبع المجلس العلمى بيروت)۔

[۵] عن نافع قال: قال ابن عمر رضى الله عنهما: من طلق امراته ثلاثاً... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

۸. يو کس د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما په خدمت کې حاضر شو او وې ويل چې ما خپلې ښځې ته سل ځله طلاق ورکړی دی. وې فرمايل: درې ځلو سره هغه په تا باندې حرامه شوه او د ۹۷ به د قيامت په ورځ الله تعالى ستا نه حساب اخلي. (ابن ابي شيبه ج: ۵ ص: ۱۴)[1]

۹. يو کس حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ته ورغی او وې ويل چې: زما تره خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړه. وې فرمايل: ستا تره د الله تعالى نافرماني وکړه، پس الله تعالى هغه په پښېمانتيا کې واچولو او د هغه د راوتلو هيڅ صورت يې پرېښنود. (ابن ابي شيبه ج: ۵ ص: ۱۱)[2]

۱۰. هارون بن عنتره د خپل پلار نه نقل کوي چې: زه د ابن عباس رضي الله عنهما سره ناست وم، يو کس راغی او وې ويل چې: حضور! ما په يو ځل خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړې. اوس به هغه د دريو طلاقو سره په ما باندې باينه شي که يو طلاق رجعي به وي؟ وې فرمايل چې دريو طلاقو سره په تا باندې باينه شوه او ۹۷ ګناه ستا په څټ باندې بار ده. (ابن ابي شيبه ج: ۵ ص: ۱۳)[3]

۱۱. يو کس حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما ته وويل چې: ما خپلې ښځې ته يو زر طلاقه ورکړې. وې فرمايل: چې د دريو سره په تا باندې باينه شوه او د باقي پاتې ګناه په تا باندې بار ده. ځکه چې تا د الله تعالى ايتونو پورې ټوکې وکړې. (ابن ابي شيبه ج: ۵ ص: ۱۳)[4]

...بقيه د تيرمخ] فقد عصى ربه، وبانت منه امراته. (المصنف لابن ابی شيبة/ ۹/ ۵۲۰/ باب من كره ان يطلق الرجل امراته ثلاث فی مقعد واحد/ بيروت)۔

[1] حدثنا سعيد المقبری قال: جاء رجل الى عبدالله بن عمر وانا عنده فقال: يا ابا عبدالرحمٰن! انه طلق امراته مئة مرة، قال: بانت منک بثلاث، وسبعة وتسعون يحاسبک الله يوم القيامة. (المصنف لابن ابی شيبة/ ۹/ ۵۲۲/ باب فی الرجل يطلق امراته مئة او الفاً/ بيروت)۔

[2] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: اتاه رجل فقال: ان عمی طلق امراته ثلاثاً، فقال: ان عمک عصى الله فاندمه الله، فلم يجعل له مخرجاً. (المصنف لابن ابی شيبة/ ۹/ ۵۱۹/ باب من كره ان يطلق الرجل امرأته ثلاثاً فی مقعد واحد/ طبع بيروت)۔

[3] عن هارون بن عنترة عن ابيه قال: كنت جالساً عند ابن عباس، فاتاه رجل فقال: يا ابن عباس! انه طلق امراته مئة مرة، وانما قلتها مرة واحدة، فتبين منی بثلاث، هی واحدة؟ فقال: بانت منک بثلاث، وعليک وزر سبعة وتسعين. (المصنف لابن ابی شيبة/ ۹/ ۵۲۲/ باب فی الرجل يطلق امراته مئة او الفاً فی قول واحد/ طبع بيروت)۔

[4] عن سعيد بن جبير قال: جاء رجل الى ابن عباس فقال: انی طلقت امراتی الفاً اومئة، قال: بانت منک بثلاث، وسائرهن وزر اتخذت آيات الله هزوا. (المصنف لابن ابی شيبة/ ۹/ ۵۲۲/ باب فی الرجل يطلق امراته مئة او الفاً فی قول واحد/ طبع المجلس العلمی/ بيروت)۔

۱۲ حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه ته وویلې شو چې یو کس په یو مجلس کې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړه. وې فرمایل هغه د خپل رب نافرماني وکړه او ښځه یې پرې حرامه شوه. (ابن ابي شیبه ج ۵ ص ۱۰)[۱]

۱۳ د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه سوال وشو چې یو کس خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي. وې فرمایل درې طلاقو په هغه باندې ښځه حرامه کړله او باقي نور زیاتي دي. (ابن ابي شیبه ج ۵ ص ۱۳)[۲]

۱۴ محمد بن ایان بن بکیر وایي چې یو کس خپلې ښځې ته د کوروالي نه وړاندې درې طلاقه ورکړه. بیا یې د هغې سره دوباره نکاح کول غوښتل. هغه د مسئلې د معلومولو لپاره راغی. زه هم د مسئلې معلومولو لپاره د هغه سره لاړم. هغه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه د مسئلې پوښتنه وکړه. دواړو ورته ځواب ورکړ چې زمونږ په نزد دی د هغې سره دوباره نکاح نه شي کولی. تر دې چې هغه بل واده ونه کړي. هغه وویل چې زما یو طلاق ورکول مطلب ؤ: نو حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ورته وفرمایل: چې تا لپاره څه بچ پاتې کېدل؛ خو تا هغه د لاس نه پرېښوده. (موطأ امام مالک ص: ۵۲۱)[۳]

په بل روایت کې دي چې معاویه بن ابي عیاش انصاري رضی الله عنه وایي چې: هغه د عبدالله بن زبیر او عاصم بن عمر رضی الله عنهما سره ناست وو. په دې کې محمد بن ایاس بن بکیر راغی او وې ویل چې: یو کلیوال سړي خپلې ښځې ته د کوروالي نه وړاندې درې طلاقه ورکړي. په دې مسئله کې ستاسو نظر څه دی؟ ابن زبیر رضی الله عنهما ورته وفرمایل چې په دې باره کې مونږ هیڅ نه شو ویلی. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما او حضرت ابوهریره رضی الله عنه ته ورشه؛ ما دا دواړه د حضرت عایشې رضی الله عنها سره ناست پرېښېښودل. د هغوی نه یې د مسئلې پوښتنه وکړه. ابن عباس رضی الله عنهما حضرت ابوهریره رضی الله عنه ته وفرمایل ابوهریره!

---

[۱] سئل عمران بن حصین عن رجل طلق امراته ثلاثاً فی مجلس، قال: اثم ربه، وحرمت علیه امراته. (المصنف لابن ابی شیبة۹/ ۵۱۹باب من کره ان یطلق الرجل امراته ثلاثاً فی مقعد واحد واجاز ذالک علیه/طبع المجلس العلمی/بیروت)

[۲] عن المغیرة بن شعبة انه سئل عن رجل طلق امراته منة؟ قال : ثلاث یحر منها علیه، وسبعة وتسعون فضل. (المصنف لابن ابی شیبة/ ۹/ ۵۲۲/ باب فی الرجل یطلق امراته منة او الفاً فی قول واحد/ طبع المجلس العلمی/ بیروت)۔

[۳] عن محمد بن ایاس بن البکیر انه قال: طلق رجل امراته ثلاثاً قبل ان یدخل بها ثم بدا له ان ینکحها فجاء یستفتی فذهبت معه اسال له فسال عبدالله بن عباس وابا هریرة عن ذالک. فقالا لا نریٰ ان تنکحها حتی تنکح زوجا غیره، وقال: فانما کان طلاقی ایاها واحدة، قال ابن عباس: ارسلک من یدک ما کان لک من فضل. (مؤطا امام مالک/ ۵۲۰/ باب طلاق البکر/ طبع نور محمد کتب خانه)۔

دوی ته فتوی ورکړه؛ ځکه چې ستا په وړاندې ګرانه مسئله راغلې ده. حضرت ابوهریره رضی الله عنه وفرمایل یو طلاق ښځه باینه کوي او درې طلاقه یې حراموي. تر دې چې د دویم خاوند سره نکاح وکړي. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما هم دغه فتوی ورکړه. (موطأ امام مالک ص ۵۲۱ سنن کبری بیهقي ج ۷ ص ۳۳۵. شرح معاني طحاوي ج ۲ ص ۳۷)[۱]

۱۵ عطاء بن یسار رحمه الله فرمايي چې: یو کس د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه په خدمت کې د فتوی اخیستلو لپاره راغی چې یو کس د خپلې ښځې سره د یو ځای والي نه مخکې هغې ته درې طلاقه ورکړه. عطاء رحمه الله وايي چې: ما ورته وویل: د کومې ښځې سره چې خلوت نه وي شوی د هغې طلاق خو یو وي. حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه ماته وفرمایل: چې ته خو صرف کیسې وايې. (مفتي نه یې) یو طلاق هغه باینه کوي او درې طلاقه یې حراموي. تر دې چې د بل خاوند سره نکاح وکړي. (پورتنی حواله)[۲]

۱۶ حضرت انس رضی الله عنه فرمايي چې د درې طلاقو والا ښځه د خاوند لپاره حلاله نه ده. تر دې پورې چې د بل خاوند سره نکاح وکړي. (طحاوي شریف ج: ۲ ص: ۳۸)[۳]

۱۷ سوید بن غفله وايي چې عایشه خثعمیه د حضرت حسن بن علي رضی الله عنهما په نکاح کې وه. کله چې حضرت علي رضی الله عنه شهید شو. (او حضرت حسن رضی الله عنه د هغه په ځای خلیفه شو) نو دې ښځې حضرت حسن رضی الله عنه ته د خلافت مبارکي ورکړه. حضرت حسن رضی الله عنه ورته وفرمایل: ته د حضرت علي رضی الله عنه په قتل خوشحاله شوې؟ ځه تا ته درې طلاقه وي؛ هغې سمدستي خپل کالي په ځان تاو کړه او د عدت لپاره کښناسته. عدت چې پوره شو؛ نو حضرت حسن رضی الله عنه هغې ته باقي مهر هم ورولېږلو او لس زره درهمه یې د ډالۍ په ډول ورکړې. (دا هدیه چې کله هغه ښځې ته ملاو شوه؛ نو

---

[۱] عن معاوية ابن ابی عياش الانصاری انه كان جالساً مع عبدالله بن الزبير وعاصم بن عمر قال: فجاء هما محمد بن اياس بن البكير فقال: ان رجلاً من اهل البادية طلق امراته ثلاثاً قبل ان يدخل بها، فما ذا تريان؟ فقال عبدالله بن الزبير: ان هٰذا الامر مابلغ لنا فيه قول، فاذهب الیٰ عبدالله بن عباس وابی هريرة فانی تركتهما عند عائشة فاسئلهما ثم اتنا فاخبرنا، فذهب فسالهما فقال ابن عباس: لابی هريرة: افته يا اباهريرة! فقد جاء تک معضلة، فقال ابوهريرة: الواحدة تبينها والثلاث تحرمها حتی تنكح زوجاً غيره، وقال ابن عباس مثل ذالک. (مؤطا امام مالک/ ۵۲۱/ باب طلاق البكر/ طبع نور محمد كتب خانه)۔

[۲] عن عطاء بن يسار انه قال: جاء رجل الی عبدالله بن عمرو فساله عن رجل طلق امراته ثلاثاً قبل ان يمسها، قال عطاء: فقلت له: طلاق البكر واحدة، فقال عبدالله: انما انت قاص الواحدة تبينها والثلاث تحرمها حتی تنكح زوجاً غيره.(شرح معانی الآثار للطحاوی/۲/ ۳۵/باب الرجل يطلق امرته ثلاثاً معاً/طبع مكتبه حقانيه)

[۳] عن عبدالله بن مسعود قال فی الرجل.يطلق البكر ثلاثاً: انها لا تحل له حتی تنكح زوجاً غيره. حدثنا يونس قال اخبرنا سفيان قال ثنی شفيق عن انس بن مالک عن عمر مثله.(شرح معانی الآثار/ طحاوی/ ۲/ ۳۵/ باب الرجل يطلق امراته ثلاثاً معاً/ طبع مكتبه حقانية)۔

وي ويل) متاع قليل من حبيب مفارق (د جدايي اختيارولو والا محبوب له طرفه ډېر لږ سامان راغلی دی) حضرت حسن رضی الله عنه ته چې دا خبر ورسېد: نو په ژړا شو او بیا یې وفرمایل چې که ما د خپل نیکه ﷺ دا حدیث اوریدلی نه وی (یا یې دا سې وفرمایل چې زما پلار دا حدیث بیان کړی نه وی کوم چې هغوی زما د نیکه ﷺ نه اوریدلی وو) چې کوم کس خپلې ښځې ته درې طلاقه په دریو طهرونو کې ورکړي. یا درې مبهم ورکړي: نو ښځه یې د هغه لپاره حلاله نه ده. تر دې چې د بل خاوند سره نکاح وکړي: نو ما به دې ښځې ته رجوع کړې وه (سنن کبری ج ۷ ص ۳۳۶)[۱]

دا د صحابه کرامو څو فتوې دي کومې چې تاسو وینئ. په دې کې درې د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم هم دي. د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه. حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما او د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما په څېر لویان صحابه هم شامل دي. چې په خپل دور کې هم د دوی نه فتوې اخیستل کېدې. د دوی خلاف د هیڅ یو صحابي نه چېرته یو حرف هم نه دی نقل شوی. ددې وجې نه دا د صحابه کرامو اجماعي مسئله ده چې درې طلاقه په یو لفظ سره درې طلاقه شمارل کیږي. د څلورو وارو مذهبونو امامان: امام ابوحنیفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله هم د صحابه کرامو رضی الله عنهم په دې اجماعي فتوی متفق دي[۲]. هم دغه فتوی د امام بخاري ده. څنګه چې په صحیح بخاري (ج: ۲ ص: ۷۹۱) کې ذکرشوه[۳] او هم دغه فتوی د حافظ ابن حزم رحمه الله ده. څنګه چې هغوی په المحلي (ج: ۱۰ ص: ۱۷۰) کې ذکر کړي.[۴]

۱] عن سوید بن غفلة قال: کانت عائشة الخثعمیة عند الحسن بن علی رضی الله عنه، فلما قتل علی رضی الله عنه قالت: لتهنئک الخلافة! قال: بقتل علی تظهرین الشماتة، اذهبی فانت طالق یعنی ثلاثاً. قال: فتلفعت بثیابها وقعدت حتی قضت عدتها فبعث الیها ببقیة بقیت لها من صداقها وعشرة آلاف صدقة فلما جاء ها الرسول قالت: "متاع قلیل من حبیب مفارق" فلما بلغه قولها بکی ثم قال: لو لا انی سمعت جدی او حدثنی ابی انه سمع جدی یقول: ایما رجل طلق امراته ثلاثاً عندالاقراء او ثلاثاً مبهمة لم تحل له حتی تنکح زوجاً غیره. لراجعتها (سنن بیهقی/۷/ ۳۳۶/ باب ماجاء فی امضاء الطلاق الثلاث وان کن مجموعات/طبع دارالمعرفة/بیروت)

۲]وذهب جماهیر العلماء من التابعین ومن بعدهم، منهم الاوزاعی والنخعی والثوری وابو حنیفة واصحابه ومالک واصحابه والشافعی واصحابه، واحمد واصحابه، واسحاق وابو ثور. وابو عبیدة، وآخرون کثیرون علی ان من طلق امراته ثلاثاً، وقعن، ولکنه یاثم. (عمدة القاری شرح صحیح البخاری/ ۲۰/ ۲۳۳ / کتاب الطلاق/ باب من اجاز طلاق الثلاث لقوله تعالی.....الخ. طبع محمد امین دمج/ بیروت)_

۳]باب من اجاز طلاق الثلاث لقول الله تعالی: الطلاق مرتان فامساک بمعروف او تسریح باحسان. (صحیح البخاری/ ۲/ ۷۹۱/ طبع نور محمد کتب خانه)_

۴] قال ابو محمد: ثم وجدنا من حجة من قال ان الطلاق الثلاث مجموعة...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

غرض دا چې د دريو طلاقو درې کېدل يوه داسې قطعي پرېکړه ده چې ټول صحابه کرام بغير د څه اختلاف نه پرې متفق دي. اکابر تابعين متفق دي، څلور واړه فقهي مذهبونه پرې متفق دي. لهذا کوم کس چې په دې مسئله کې د صحابه کرامو رضی الله عنهم د لارې نه اوښتي هغه د روافضو په لار روان دي او د الله تعالی قول دی:

ومن يشاقق الرسول من بعد ما تبين له الهدىٰ ويتبع غير سبيل المؤمنين نوله ما تولى ونصله جهنم وسآءت مصيرا ,,(النساء: ۱۱۵)

ژباړه: او څوک چې مخالفت وکړي د رسول اللهﷺ ، هر کله چې ښکاره شوه هغه ته سيده لار او د ټولو مسلمانانو د لارې خلاف ځي؛ نو مونږ به دی حواله کړو هم هغه طرف ته کوم چې ده اختيار کړې او دی به په دوزخ کې واچوو او هغه ډېر بد ځای ته ورسېدلو

د اهل حديثو مفتي چې په خپله فتوی کې (چې د اجماع صحابه او څلور واړه امامانو د اجماع خلاف ده) د کومو دوه حديثونو څخه استدلال کړی په هغې باندې مکمل بحث زما په کتاب " ستاسو مسائل او دهغې حل " په پنځم ټوک کې راغلی دی، د چا زړه چې غواړي: نو هلته دې وګوري، ددې بحث خلاصه دا ده چې اولنی حديث چې د رکانه رضی الله عنه د طلاق په باره کې د مسند احمد نه نقل شوی دی، دا د اهل علمو په نزد مضطرب، ضعيف او منکر دی او ددې راوي محمد بن اسحاق دی، ده په باره کې شديده جرحه په کتب الرجال کې شتون لري، د محدثونو ده د روايت په اخيستلو کې اختلاف کړی دی، ځينې اکابر ده ته دجال او کذاب وايي او ځينې ده مطلقاً توثيق کوي او د ځينو دا معتدله رايه ده چې که د حلالو او حرامو په مسئله کې ابن اسحاق يوازې وي هغه حجت نه دی، هم دغه شان د هغه استاد حصين هم خارجي ؤ او د عکرمه نه منکر روايت نقل کولو کې بدنام دی او عکرمه هم خپله مجروح دی او په هغه باندې هم ډېرو اکابرو د دروغو ويلو جرح کړې.

يو داسې روايت چې مسلسل د مجروح راويانو نه نقل وي هغه د اجماع صحابه او اجماع امت په مقابله کې پېش کول د انصاف نه لرې ده او که د هغه دا روايت ومنل شي؛ نو دا به وويل شي چې رکانه رضی الله عنه خپلې ښځې ته طلاق بته ورکړی ؤ.

څنګه چې د ابوداود په حوالې سره پورته تېر شو، د (البتة) لفظ د دريو طلاقو لپاره زيات استعمال شوی. ددې وجې نه راوي (البتة) معنی درې ګڼلې دي او مفهوم يې نقل کړی دی،

...بقيه د تېرمخ] سنة لا بدعة قول الله تعالى: (فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجاً غيره) فهٰذا يقع على الثلاث مجموعة ومفرقة........لو كانت طلاق الثلاث مجموعة معصية لله تعالى لما سكت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيان ذالك فصح يقيناً انها سنة مباحة. (المحلى/ ۱۰/ ۱۷۰/ احكام الطلاق/ حجة من قال ان الطلاق الثلاث مجموعة سنة لا بدعة/ طبع دار الآفاق الجديدة/ بيروت)_

بهر حال صحیح روایت هغه دی چې امام ابوداود رحمه الله په ګڼو طریقو سره نقل کړی دی.
هم د غه شان دویم حدیث چې د صحیح مسلم شریف څخه یې نقل کړی دی. په دې باندې هم عالمانو ډیرې خبرې کړې دي او د دې ډیر ځوابونه یې کړي دي. د ټولو نه غوره ځواب دا دی چې د یو کس درې طلاقه په جدا جدا لفظونو کې ورکول. دا سې چې انت طالق. انت طالق. انت طالق. او بیا ویل چې ما د یو طلاق اراده کړې وه. دویم او دریم ځل لفظ مې صرف د تاکید لپاره ویلی ؤ؛ نو د اسلام په شروع کې د هغه قول معتبر ګڼل کېده. هغه ته به د یو طلاق حکم ورکول کېده. لیکن بیا وروسته دا حکم منسوخ شو. دا منل شوې چې د دریو طلاقو ورکولو نه پس به د هغه د نیت اعتبار نه وي. امام ابوداود رحمه الله د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه دا قول نقل کړی دی چې هغوی آیت کریمه: والمطلقت یتربصن بانفسهن ثلثة قروء. تلاوت کولو نه پس وفرمایل

وذالک ان الرجل کان اذا طلق امرأته فهو أحق برجعتها وان طلقها فنسخ ذالک. فقال: الطلاق مرتان...(ابوداودج:۱ص:۲۹۷)

ژباړه: دا داسې. کله چې یو کس خپلې ښځې ته طلاق ورکړي؛ نو هغې ته یې رجوع کولی شوه. که درې طلاقه یې ورکړي وي. پس دا حکم منسوخ شو. الله تعالی فرمایي چې: هغه طلاق (د کوم نه پس چې رجوع کېدی شي هغه صرف) دوه ځله دي.
واقعه دا ده که دا روایت صحیح شي: نو منسوخ دی. څنګه چې امام طحاوي رحمه الله په (باب الرجل یطلق امرأته ثلاثا معا) کې د دې وضاحت کړی دی. (طحاوي ج: ۲ ص: ۳۲)[۱]

نور دا چې ابوداود د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د دې حدیث "**باب بقیة نسخ المراجعة بعد التطلیقات الثلاث**" لاندې نقل کړي چې دا حدیث منسوخ دی. (ابوداودج: ۱ ص: ۲۹۹)
پرته له دې خبرو د اهل حدیثو د مفتي صاحب نظر یو څو خبرو ته ګرځول غواړم:
اول: د دې دواړو روایتونو نسبت حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته شوی دی. هر کله چې د متواتر روایت نه ثابته شوه چې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما به د درې طلاقو درې کېدو فتوی ورکول. که د دوی ذکر شوی وی دا دواړه روایتونه د کومو حواله چې مفتي صاحب ورکړې ده صحیح هم وی او په خپل ظاهر باندې حمل وی او منسوخ نه وی او حضرت ابن عباس

---

[۱] فلما کان زمان عمر رضی الله عنه قال: ایها الناس! قد کانت لکم فی الطلاق اناة وانه من تعجل اناة الله فی الطلاق الزمناه ایاه.......فخاطب عمر رضی الله عنه بذالک الناس جمیعاً فیهم اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ورضی الله عنهم الذین قد علموا ما تقدم من ذالک فی زمن رسول الله صلی الله علیه وسلم فلم ینکره علیه منهم ولم یدفعه دافع فکان ذالک اکبر الحجة فی نسخ ما تقدم من ذالک. (طحاوی/ ۲/ ۳۴/ باب الرجل یطلق امراته ثلاثاً معاً/ طبع مکتبه حقانیه)_

ﷺ هم ددې مطابق عقيده لرله؛ نو آيا دا ممکن ده چې هغوی ددې باوجود د خپل روايت شوي احاديثو خلاف فتوی ورکړي؟ ظاهره ده چې د کوم صحابي په اړه دا تصور هم ممکن نه دی. خامخا دا روايتونه منسوخ دي

دويم مفتي صاحب ليکلي چې

د نبي کريم ﷺ او ابوبکر صديق رضی الله عنه او د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په ابتدايي دوه کلن دور خلافت کې په يو مجلس کې درې طلاقه به يو شمارل کېدو. حضرت عمر رضی الله عنه مصلحتاً په يو مجلس کې درې طلاقه د درې شمارلو حکم ورکړ. چې خلک ددې کار نه منع کړي.

د خلفاء راشدينو رضی الله عنهم په اړه د اهل سنت او روافضو (شيعه ګانو) اختلاف ټولو ته معلوم دی. د اهل سنت عقيده دا ده چې دې حضراتو به د قرآن او سنت د پرېکړې وروسته وېښته برابر هم خلاف نه کولو. د لوی نه لوی مصلحت هم دوی ته په خلاف شرع فيصله باندې اماده کولی نه شو. ددې وجې نه (خليفه راشد) هم هغه ته ويل کيږي چې صحيح د نبوت په طريقو ولاړ وي. ددې حضراتو چې کومې فيصلې داسې په نظر راځي. په کومو کې چې د اختلاف شک پيدا کيږي. اهل سنت يې حق مني. ددې په ځای شيعه ګان دا فيصلې غلطې مني. د قرآن او سنت خلاف او د وقتي مصلحتونو نتيجه يې ګڼي. ددې وجې نه هغوی دوی ته خليفه راشد نه بلکې نعوذ بالله خليفه جائر وايي، د دريو طلاقونو او متعې په مسئلو کې د حضرت عمر رضی الله عنه فکر ته غلط وايي، د حيرانتيا خبره ده چې اهل حديث هم د طلاقو په مسئله کې په اصولي توګه د شيعه ګانو سره دي. حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ليکي:

و في الجملة فالذي وقع فى هذه المسألة نظير ما وقع فى مسألة المتعة سواء اعنى قول جابر رضي الله عنه: انها كانت تفعل فى عهد النبى ﷺ وابى بكر وصدرا من خلافة عمر، قال: ثم نهانا عمر عنها فانتهينا. فالراجع في الموضعين تحريم المتعة ايقاع الثلاث للاجماع الذى انعقد فى عهد عمر على ذلك، ولا يحفظ ان احدا فى عهد عمر خالفه فى واحدة منهما، وقد دل اجماعهم على وجود ناسخ، وان كان خفى عن بعضهم قبل ذلك حتى ظهر لجميعهم فى عهد عمر. فالمخالف بعد هذا الاجماع منابذ له والجمهور على عدم اعتبار من احدث الاختلاف بعد الاتفاق: .. (فتح البارى ج: ۹ ص: ۳۶۵)

ژباړه خلاصه دا ده چې ددې طلاق په مسئله کې کومه واقعه راپېښه شوې ده هغه صحيح هم د هغې واقعې په شان ده کومه چې د متعې په مسئله کې راپېښه شوه، زما مراد د حضرت جابر رضی الله عنه قول دی چې: متعه د حضور ﷺ، د حضرت ابوبکر رضی الله عنه او د

حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په اولنیو ورځو کې به کېده. بیا حضرت عمر رضی الله عنه مونږ منع کړو او مونږ منع شو

په دواړو ځایونو کې راجحه دا ده چې متعه حرامه ده او درې طلاقه هم درې طلاقه واقع کیږي، ځکه چې د حضرت عمر رضی الله عنه په دور کې په دې باندې اجماع شوې وه او هیڅ یو صحابي څخه دا نقل نه دي چې په دې دواړو مسئلو کې په یوه کې هم هغوی د حضرت عمر رضی الله عنه مخالفت کړی وي او د صحابه کرامو اجماع په دې باندې دلیل دی چې په دې دواړو مسئلو کې ناسخ موجود وو. مګر ځینو ته ددې نه مخکې د ناسخ معلومات نه ؤ. تر دې چې د حضرت عمر رضی الله عنه په دور کې ټولو ته ناسخ څرګند شو

کوم کس چې ددې اجماع مخالف وي هغوی د اصحابو اجماع شاته غورځوي، جمهور په دې باندې دي چې په یوه مسئله باندې د اتفاق نه پس کوم کس اختلاف پیدا کړي هغه د اعتبار وړ نه دی.

غرض دا چې په دې مسئله کې اهل حدیث د حضرت عمر رضی الله عنه د اجماعي فیصلې سره اختلاف کوي او د شیعه عقیدې ترجماني کوي او دا د اهل سنت عقیدې خلاف ده او د حضرت عمر رضی الله عنه فیصله د متعې په باره کې صحیح ده؛ نو یقیناً درې طلاقه په یو لفظ سره صحیح دي او په پوره امت باندې د فاروقي فیصلې چې ټول صحابه کرام ورسره موافقت لري پابندي لازمه ده.

د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کې دا ویل شوي چې د حضور صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه تر زماني پورې به درې طلاقه په یو باندې شمېرل کېده. ددې معنی به دا اخیستل کیږي چې د منسوخ کېدو باوجود ځینې خلک ناخبره وو. هغوی به دا ګڼله چې درې طلاقه په یو لفظ سره یو شمارل کیږي، دا هغه وخت چې د طلاق ورکونکي نیت درې نه وي، بلکې یو وي.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خلکو دا غلط فهمي لرې کړه او وضاحت یې وکړ چې دا حکم منسوخ دی او د نن نه پس دې څوک هم په دې غلط فهمۍ کې نه پاتې کیږي.

نعوذبالله که د درې طلاقو په باره کې حضرت عمر رضی الله عنه د مصلحت له وجې غلطه فیصله کړې وي او صحابه کرامو په جمع د هغې سره موافقت کړی وي او نن اهل حدیث د فاروق اعظم رضی الله عنه د غلطۍ اصلاح کوي؛ نو داسې ووایئ چې شیعه ګان رښتیا وايي چې حضرت عمر رضی الله عنه "متعه" باندې پابندي لګولو سره یو پاکیزه شی حرام کړی دی. صحابه کرامو د حضرت عمر رضی الله عنه ددې غلطۍ فیصلې مرسته وکړه، نعوذبالله. استغفرالله!!!

واضحه دې وي چې ددې مسئلو تعلق د حرامو او حلالو سره دی. د حضرت عمر رضی الله عنه فیصله ده چې متعه حرامه ده. کومې ښځې سره چې متعه وشي د هغې سره جنسي تعلق

ساتل حرام دي. هم دغه شان کومې ښځې ته چې درې طلاقه ورکول شي. هغه په حرمت مغلظه سره حرامه شوه. او س د هغې سره د ښځيتوب تعلق ساتل حرام دي. شيعه ګان د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ددې فيصلې سره اختلاف کوي او وايي چې درې کرته مطلقه حرامه نه ده. بلکې د اتباع سنت لپاره د هغې ساتل په ښځيتوب کې ثواب لري. انا لله وانا اليه راجعون

دريم اهل حديث عموماً دا هم وايي چې حضرت عمر رضی الله عنه د خپلې فيصلې نه رجوع کړې وه. په دې فتوی کې هم محترم مفتي صاحب دغه خبره دوباره کړې ده. هغه ليکي چې حضرت عمر رضی الله عنه ددې فيصلې نه رجوع کړې وه.

اهل حديثو خو اول په حضرت عمر رضی الله عنه باندې دا الزام پورې کړ چې هغوی: مصلحت لپاره دا سنت طريقه بدله کړه. کوم چې د حضور ﷺ د زماني نه واخله د دوی د خلافت تر دور پورې وه. ددې الزام د کلکولو لپاره يې ورسره دا الزام هم وتړلو چې هغوی خپله غلطي په خپله منلې وه، ددې غلطی نه يې رجوع کړې وه. مفتي صاحب دلته د دوه کتابونو حواله ورکړې ده. يو د صحيح مسلم ص: ۴۷۷ (د ټوک نمبر يې نه دی ورکړی) حال دا چې په صحيح مسلم کې د حضرت عمر رضی الله عنه د رجوع هيڅ ذکر نشته. دويمه حواله د حافظ ابن قيم رحمه الله د کتاب (اغاثة اللهفان) د کوم چې نه صفحه ذکر شوې او نه هم د ټوک نمبر يې. په داسې حال کې چې په (اغاثة اللهفان) کې دا ذکر چېرته هم نشته چې حضرت عمر رضی الله عنه ددې فيصلې نه رجوع کړې وه. مناسبه به دا وي چې ددې تهمت نه دې حضرت عمر رضی الله عنه بري کړی شي.

واضحه دې وي چې په ۱۳۹۱هجري کې د سعودي حکومت د يو شاهي فرمان په ذريعه "طلاق ثلاثه بلفظ واحد" په مسئله باندې د غور کولو لپاره د سعودي د لويو عالمانو يوه اوولس کسيزې ډلې تحقيق وکړ. کومې چې د طرفينو د دلايلو اورېدو نه پس خپله فيصله "حکم الطلاق الثلاث بلفظ واحد" په نام ترتيب کړه او دا يې "ادارة البحوث العلمية والافتاء والدعوة والارشاد" ترجمان "مجلة البحوث العلمية رياض" نه،، المجلد الاول العدد الثالث ۱۳۹۷هجري کې خپره کړه. زه د "اغاثة اللهفان" حواله هم ددې مجلې نه نقل کوم.

حافظ ابن قيم رحمه الله د حضرت عمر رضی الله عنه په فيصله باندې خبرو کولو کې ليکي:

فلما رأی امیرالمومنین ان الله سبحانه عاقب المطلق ثلاثا بان حال بينه وبين زوجته وحرمها عليه حتی تنکح زوجا غيره ان ذالک لکراهة الطلاق المحرم وبغضه له فوافقه اميرالمومنين فی عقوبته لمن طلق ثلاثا جميعا بان الزمه بها وامضاها عليه...(حکم الطلاق الثلاث، ص: ۷۱)

ژباړه: کله چې اميرالمومنين حضرت عمر رضی الله عنه وکتل چې الله سبحانه وتعالی طلاق ورکونکي ته دا سزا ورکړې ده چې د دريو طلاقو ورکولو نه پس د هغه او د مطلقه

ښځې تر منځ بې جدايي راو ستلې ده او ښځه يې په هغه باندې حرامه کړې. تر دې چې د بل خاوند سره نکاح وکړي: نو اميرالمومنين په دې پوه شو چې د الله تعالى دا فيصله ددې وجې نه ده چې هغه حرام طلاق نه خوښوي او دې سره بغض ساتي. لهذا اميرالمومنين د الله تعالى تاکل شوي سزا کې د الله تعالى سره موافقت وکړ. د هغه کس په حق کې چې په يو ځل درې طلاقه ورکړي. ددې موافقت په وجه حضرت عمر رضى الله عنه په دا سې کس باندې درې طلاقه لازم کړه او دا يې په هغه باندې ومنل

د مخکې تلو نه اول د حافظ ابن قيم رحمه الله په پورتني عبارت باندې که ښه غور وشي چې . حافظ ابن قيم رحمه الله د قول مطابق حضرت عمر رضى الله عنه درې طلاقه په يو ځل ومنل. په دې فيصله کې يې د الهي خوښې سره موافقت وکړ او الله تعالى چې درې طلاقه ورکونکي لپاره کومه سزا په خپل کتاب کې ليکلې ده. حضرت عمر رضى الله عنه په يو ځل درې طلاقه ورکونکي باندې دا قرآني سزا نافذه کړه او الهي رضا يې مکمل کړه. خلاصه دا چې د حضرت عمر رضى الله عنه دا فيصله چې په يو ځاى درې طلاقه وي د الهي رضا تکميل دى.

سبحان الله! څومره ښايسته خبره يې کړې ده. څلور واړه امامان او پوره امت د حضرت عمر رضى الله عنه فيصله حقه ګڼي او ددې سره موافقت د الهي رضا تکميل. خپل دين او ايمان ګڼي هر کله چې اهل حديث د حضرت عمر رضى الله عنه ددې فيصلې مخالفت کوي او د الهي رضا مخالفت کوي: نو دوى د شيعه ګانو د خوښې سره موافق دي

د حضور ﷺ وينا ده: **ان الله جعل الحق على لسان عمر وقلبه.** (مشكوة ص: ۵۵۷)

ژباړه: الله تعالى حق د عمر په ژبه او زړه کې ايښى دى.

کوم سړى چې رسول الله ﷺ د حق معيار ګرځولى وي. د هغه فيصله د حق خلاف نه شي کېدى. بلکې هغه به د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ د منشاء عين مطابق وي او ددې مخالفت د حق مخالفت او د الله تعالى او د هغه د رسول ﷺ د منشاء خلاف به وي.

د حضرت عمر رضى الله عنه د پورتني نظر د وضاحت وروسته حافظ ابن قيم رحمه الله دا سوال کوي چې:

فان قيل: فكان أسهل من ذلک ان يمنع الناس من ايقاع الثلاث ويحرمه عليهم ويعاقب بالضرب والتاديب من فعله لئلا يقع المحذور الذى يترتب عليه؟قيل لعمر الله ! قدكان يمكنه من ذلک ولذلک ندم عليه فى اخر ايامه وود انه كان فعله .قال الحافظ الاسماعيلى فى مسند عمر: اخبرنا ابو يعلى حدثنا صالح بن مالک حدثنا خالد بن يزيد بن ابى مالک عن ابيه قال: قال عمر رضى الله عنه: ماندمت على شئ ندامتى على ثلاثة ان لا اكون حرمت الطلاق ، على ان لا اكون

انكحت الموالى وعلى ان لا اكون قتلت النوائح،،،(حواله بالا)

ژباړه: كه وويل شي چې په دې كې خو اسانه دا وه چې هغه خلك د دريو طلاقو نه منع شي. پكار دا وه چې دا يې حرام ګرځولى وى. بايد په دې باندې يې سزا ټاكلې وى

ددې سوال وروسته حافظ ابن قيم رحمه الله په خپله ددې ځواب ليكي

هو ښه به دا وي چې هغوى منع ش؛ خو به دا وي چې هغوى لپاره دا ممكنه وي او هم دغه وجه ده چې هغوى په اخري دور كې په دې باندې پښېمانه شو او هغوى دا غوښتل چې دا كار وكړي

حافظ ابوبكر الاسماعيلي "مسند عمر" كې فرمايي چې: مونږ ته ابويعلى خبر راكړ او وې ويل چې ماته صالح بن مالك وويل هغه وايي چې ماته خالد بن يزيد بن ابي مالك وويل. هغه د خپل پلار نه روايت كوي چې عمر رضى الله عنه وفرمايل: په دريو شيانو باندې ډېر پښېمانه شوى يم. يو دا چې ما ولې طلاق حرام نه كړو؟ دويم دا چې ما د غلامانو نكاح ولې ونه كړه؟ دريم دا چې ما په غمونو كې د غم تازه كوونكي ښځې ولې ونه وژلې؟

دا هغه روايت دى چې اهل حديث د ابن قيم رحمه الله په تقليد كې دا دعوه كوي چې: حضرت عمر رضى الله عنه د خپلې فيصلې نه رجوع كړې وه، چې دريو طلاقه هم درې واقع كيږي، كه په يو مجلس كې وي او كه په يو لفظ سره.

د اهل حديثو د بې انصافي د كتلو لپاره ددې روايت په سند او متن ډېر غور ضروري دى.

ددې په سند كې خالد بن يزيد بن ابي مالك د خپل پلار نه ددې كيسې نقل كوي. د خالد په باره كې امام الجرح والتعديل يحيى بن معين رحمه الله فرمايي:

لم يرض ان يكذب على ابيه حتى كذب على اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم،،،(تهذيب التهذيب ج: ۳ ص: ۱۲۷)

ژباړه: دې كس به د خپل پلار پورې دروغ تړل؛ نو د رسول الله ﷺ صحابه وو پورې به يې څنګه دروغ نه ويل؟

دى د خپل پلار پورې دروغ تړي چې پلار مې د حضرت عمر رضى الله عنه پښېمانتيا بيان كړې. هر كله چې دده پلار د حضرت عمر رضى الله عنه په دور كې نه ؤ او هغه په تدليس كې هم مشهور وي: نو دده قول ته كله اعتبار وي؟ (حكم الطلاق الثلاث ص: ۱۰۷)

حافظ ابن قيم رحمه الله باندې تعجب دى چې هغه د يو كذاب، مجهول او دروغو روايت كوونكي نه د حضرت عمر رضى الله عنه پښېمانتيا ثابتوي او په اهل حديثو باندې هم تعجب دى چې هغوى دې ته د حضرت عمر رضى الله عنه د رجوع نوم وركوي.

د سند نه قطع نظر اوس ددې روايت په متن باندې غور وكړئ! په روايت كې حضرت عمر رضى الله عنه ته نسبت شوى چې: ماته په ژوند كې په هيڅ شي دومره پښېمانتيا نه ده شوې

ځومره چې په دې خبره باندې ده چې ما درې طلاقه ولې حرام نه کړه
د دين يو ابتدايي زده کوونکی هم په دې پوهيږي چې طلاق د الله تعالی په نظر کې که ځومره ناخوښ وي. په هر حال الله تعالی دا حلال ګرځولی دی او په قرآن کريم کې يې ددې حکمونه بيان کړي دي
دېخوا د حضور ﷺ دا وينا د هر وړوکي او لوی په خوله ده چې

ابغض الحلال الی الله الطلاق...(مشکوة ص: ۲۸۳ دابوداؤد روايت)

ژباړه په حلالو شيانوکې د الله تعالی د ټولو نه ناخوښه شی طلاق دی.
کوم شی چې الله تعالی او د هغه رسول ﷺ حلال ګرځولی دی او د اول نه واخله تر اوسه پورې پرې د ټولو مسلمانانو عمل هم دی. حضرت عمر رضی الله عنه په هغې باندې د پابندۍ لګولو او حرام ګرځولو سوچ هم نه شي کولی. په ځای ددې چې د يو غلط او باطل شي نه کولو باندې پښېمانتيا ښکاره کړي. دا په حضرت عمر رضی الله عنه باندې خالص بهتان دی.
که دا وويل شي چې د حضرت عمر رضی الله عنه مراد ترې مطلق طلاق نه دی بلکې درې طلاقه دي: نو اول خو ارزو دا ده چې په دې روايت کې کومه يوه قرينه ده چې په دريو طلاقو باندې دلالت کوي؟
دويم دا چې فرض کړئ چې هم دغه ترې مراد دی: نو سوال دا دی چې درې طلاقه حرام ګرځولو سره دا څنګه لازم شول چې څوک ددې حرام وکړي: نو طلاق به نه واقع کيږي؟
تاسو وګورئ چې ښځې ته داسې ويل چې "ته خو زما د مور په شان يې!" حرام دي. قرآن کريم دې ته "منکر من القول" او دروغ ويلي دي. ددې باوجود که يو کس دا حرام وکړي او خپلې ښځې سره ظهار وکړي: نو آيا ظهار نه واقع کيږي؟
هم دغه شان فرض کړه! که حضرت عمر رضی الله عنه درې طلاقه حرام ګرځول او په دې يې پابندي لګول غوښتل: نو ددې نه دا څنګه ثابته شوه چې هغه د خپلې فيصلې نه رجوع کړې وه؟
بلکې که ددې سره- سره روايت صحيح ومنل شي؛ نو دا دي هم ومنل شي چې حضرت عمر رضی الله عنه په دې باندې افسوس کولو چې هغوی په درې طلاقو باندې پابندي ولې ونه لګوله: نو دې سره د جمهورو د قول نور تائيد هم کيږي، ځکه چې په دې صورت کې به دا روايت صفا او واضحه مطلب دا وي چې ما صرف د درې طلاقو په نفاذ باندې ولې بسنه وکړه؟ ددې سره ما ته دا هم پکار ؤ چې ما د درې طلاقو په واقع کېدو باندې پابندي لګولې وه او د داسې کونکو ښځو په باره کې يې د حرمت مغلظه د حکم ورکولو پرته مې هغوی ته سزا هم ورکولی.

غرض دا چې اول خو دا روایت د سند په اعتبار د اعتبار وړ نه دی. فرض کړه که دا صحیح هم شي: نو د دې د یو لفظ نه هم دا نه ثابتیږي چې امیرالمؤمنین چې په رښتیا او صحیحو وینا وو یې شهرت درلود د خپلې فیصلې نه رجوع وکړي . د امیرالمؤمنین له طرفه خپلې فیصلې نه رجوع کول د هغوی په لوی شان پورې ظلم او بهتان دی. زه حیران یم چې اهل حدیثو د حضرت عمر رضی الله عنه د ذات سره څه ضد دی چې د هغوی پسې دروغ تړي او دوی ته ددې سوچ کولو وخت نه ملاویږي چې د حضرت عمر رضی الله عنه دا فیصله وقتي ده ـ د څه مصلحت له وجې به وي یا که هغوی ددې فیصلې نه په آخري عمر کې رجوع کړې وي: نو د ټولو صحابه کرامو نه واخله تر څلور واړو امامانو پورې او ټول جمهور امت په دې فیصلې باندې ولې دومره زور کوي؟

خلاصه دا ده چې درې طلاقو سره د درې واقع کېدل قطعي حق دي، هم دغه د راشد خلیفه امیرالمؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه فیصله ده او هم په دې باندې د خلفاء راشدینو او اکابرو صحابه وو اجماعي فتوی ده، په هم دې باندې د څلورو واړو امامانو اتفاق دی. که ددې خلاف څوک فیصله ورکوي. که هغه اهل حدیث وي یا منکر حدیث وي. هغه قطعاً مردود او باطل دی. "وما ذا بعد الحق الا الضلال"

د یو کس لپاره چې په الله تعالی او د هغه په رسول ﷺ باندې ایمان لري دا حلال نه دي چې د صحابه کرامو او ائمه اربعه وو د اجماعي فتوې خلاف درې طلاقه یو وګرځوي او دا په دې درې کانې طلاقه شوې مطلقه حلاله وګرځوي. حتی تنکح زوجا غیره فتوی نمبر ۱۵

د غرباء اهل حدیث د مفتي صاحب لیکل شوې فتوی:

دا چې نرګس ته خاوند د خپلې اولنی ښځې په زور طلاق ورکړی.دا طلاق واقع نه شو. نه درې دي او نه هم یو

مفتي صاحب داهم لیکلي چې: د جمهورو صحابه کرامو. امامانو هر یو لکه: امام مالک، شافعي، احمد او داود وغیره هم دغه مذهب دی چې د زور طلاق نه دی واقع شوی. هر کله چې د امام ابوحنیفه او د هغه د اصحابو مذهب ددې خلاف دی. دا بغیر د څه دلیل او د جمهورو صحابه کرامو د خلاف کېدو له وجې هیڅ د اعتبار وړ نه دی.

قطع نظر ددې نه چې د زور په حالت کې ورکول شوی طلاق واقع کیږي یا نه، دلته څو خبرې دي باید په غور وکتل شي.

اول دا چې په سوال کې کومه واقعه ذکر شوې ده. د زید اولنی ښځې زینب زور ورکړی ؤ چې که خپلې دویمې ښځې نرګس ته دې طلاق ورنه کړو: نو زه به ځان وژنم. د تحقیق نه پس معلومه شوه چې دا واقعه ددې خلاف وه.

داسې شوې وو چې د زینب خاوند د (نرګس) سره پټ واده کړی ؤ. هر کله چې هغه زینب ته قسمې باور ورکولو چې هغه به هیڅ کله واده ونه کړي، پنځه کاله پس خاوند ناڅاپه زینب ته

د واده خبر ورکړ او دا يې هم ورته وويل چې نرګس د دويم بچي سره ما شاءالله اميدواره ده دا خبره په زينب باندې لکه د برق د شاټ په څېر ولګېدل. هغې په ژړا ژړا خپل حال خراب کړو. خاوند ته يې هيڅ کله نه ؤ ويلي چې هغه به ځان وژني. ليکن خاوند د هغې پريشاني خوښه نه کړه. زينب ته يې وويل چې ته پريشانه کيږه مه. زه به نرګس ته طلاق ورکړم. په دې باندې زينب وويل چې که ته طلاق ورکوې نو اوس يې ولې نه ورکوې؟ په دې باندې خاوند د دويمې ښځې نوم واخيست او دوه ځله يې وويل چې ما هغې ته طلاق ورکړو. ما هغې ته طلاق ورکړو. په دې باندې زينب ورته وويل چې درې طلاقه ورکړه! خاوند د هغې په وينا دريم طلاق هم ورکړو.

که دې واقعې ته په اصلي شکل وکتل شي؛ نو د واقعې نوعيت به بدل شي. د مفتي صاحب فتوی ۱۵ نمبر به سراسر غلطه شي او واضحه دې وي چې د ځان مرګې خبره يوازې د مفتيانو د متاثره کولو لپاره جوړه شوې ده. افسوس چې نن سبا د امانت او ديانت معيار تر دې حده رسېدلی چې خلک ښکاره طلاق ورکولو نه پس د خپلې خبرې نه انکار کوي. د حلال او حرام مسئلې د پوښتلو لپاره د واقعې اصلي نوعيت نه څرګندوي. بلکې واقعه بدله کړي او له ځانه د دروغو کيسه جوړه کړي. فالی المشتکی.

دويم که هم دا واقعه صحيح فرض شي کومه چې په سوال کې ذکر ده؛ نو بيا به هم په دې باندې غور کول وي چې د ښځې داسې زورنې ته په شرع کې "جبر او اکراه" ويل کيږي او که نه؟ هر کله چې دا د ښځې د خولې يوه ډارنه خبره ده. نه د هغې په لاس کې د ځان وژنې کومه اله وه او نه په هغې باندې د ځان وژنې څه علامه څرګنده شوې؛ نو آيا داسې تشې د خولې په خبرو به د جبر شرعي حکمونه جاري کيږي؟ د بېلګې په ډول:

۱ ايا په داسې خالي خبرې د دې ښځې خلاف د ځان وژنې دوسيه په شرعي عدالت کې ثبت کيږي او که نه؟ او عدالت به په دې باندې د ځان وژنې سزا ورکړي؟

۲ که يوه ښځه خپل خاوند ته ووايي چې که تا زېره ونه خريله؛ نو زه به ځان وژنم: نو آيا د ښځې دې خبرې نه په رعب کې راتلو سره د خاوند لپاره د زېرې خريل حلال دي؟

۳ که د ښځې هم دغه شان خبرې سره د خاوند په شراب خوړی يا د کفر کلمې ويلو يا په څه بد کار باندې مجبوروي: نو آيا د خاوند لپاره به د داسې بدو کارونو د کولو اجازه وي؟ (واضحه دې وي چې خپله مفتي صاحب فتوی کې ليکلي چې د جبر په وخت د کفر کلمه ويل جائز دي)

۴ ايا د ښځې په داسې خبرو د خاوند لپاره د چا مسلمان مال غلا کول يا هغې ته زيان رسول به جائز وي؟

۵ که ښځه وو ایي چې د غیرالله په وړاندې سجده وکړه' یا فلاني مزار ته لاړ شه او د هغه نه زوی وغواړه' او ددې بزرګ په نوم نذر ومنه' یا دا ډول شرکیه کارونه وکړه: کنه نو زه به خودکشي وکړم نو آیا د ښځې په دې خبرو او زورنو به د خاوند لپاره داسې شرکیه کارونه جائز شي؟

یقیناً مفتي صاحب به زما سره اتفاق وکړي چې د خاوند لپاره د ښځې د زورنې نه متاثره کېدو سره داسې قسمه کارونه کول حلال نه دي او که وېې کړي: نو دا سړی به مجرم وي دې تحقیق سره :ې دا خبره واضحه وي چې خپله مفتي صاحب هم داسې خالي زورنو باندې د جبر حالت نه مني او ددې په وجه خاوند د خپلو اختیاراتو نه په شا کېدونکی نه تسلیموي. معلومه شوه چې داسې زورنو ته په شریعت کې "جبر او اکراه" ویل صحیح نه دي او څنګه چې داسې زورنو سره یو بنده د کفر په کلمه ویلو باندې مجبور نه دی. هم دغه شان ښځې ته په طلاق ورکولو باندې مجبور نه دی.

دریم: محترم مفتي صاحب خپله لیکي: د امام ابو حنیفه رحمه الله او د هغوی د اصحابو په نزد جبر او اکراه سره ورکول شوی طلاق واقع کیږي. پس هر کله چې ښځه او خاوند دواړه حنفي دي: نو دا دري طلاقه د حنفي عقیدې مطابق په حرمت مغلظه سره واقع شول او ښځه پرې حرامه شوه. د طلاق نه پس که بالفرض هغه بې مذهبه او غیر مقلدین شي؛ نو نکاح یې دوباره په خپل زور حال نه شي پاتې کېدی. ځکه چې "الساقط لایعود" عقل او شرع دواړو منلې چې کوم شی ساقط شي هغه په هیڅ چل نه واپس کیږي.

خلاصه دا شوه چې د زید لپاره حلال نه دي چې د دریو طلاقو نه پس نرګس د ښځې په حیث له ځانه سره وساتي. بلکې په دواړو باندې لازمه ده چې سمدستي له یو بل نه جدا شي. که د دریو طلاقو نه پس هم هغوی یو ځای اوسیږي: نو د زنا مرتکب کیږي به. الله تعالی دې مونږ د خپل قهر او عذاب نه وساتي. مونږ دواړو ته دا درخواست کوو چې هغوی دې د اهل حدیثو د غلطو فتوو په ډاډ د لویې ګناه کولو جرات نه کوي. کنه نو د دوی دواړو دنیا او آخرت به خراب شي. د اهل حدیثو غلطه فتوی دوی ته په دنیا کې د ذلت او رسوایي او د الله تعالی د قهر او عذاب نه شي ساتلی. که هغوی ددې غلطې فتوی په ډاډ د صحابه وو اجماع او د امت اجماع پروا ونه کړي او خپل خواهش تابعداري وکړي. د دریو طلاقو نه پس هم د ښځې او خاوند په حیث ژوند کوي؛ نو دا وېره ده چې د مرګ په وخت کې به یې ترې ایمان هم لاړ شي او د اسلام نه به خارج تر دنیا تېر شي.

❖ الاشفاق على أحكام الطلاق ❖

"شيخ محمد زاهد الكوثرى"

د طلاق په مسئله کې د اوسنی زمانې د متجددينو شکونه او د يو مصري علامه له طرفه د هغې ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى

د طلاق په مسئلو کې د ځينو خلکو له طرفه د بې ځايه خبرو نمونې مخې ته راځي. د داسې بحثونو غبر يو څه وخت وړاندې په مصر کې پورته شو چې د هغې شافي ځواب د هغه ځای محققو عالمانو له طرفه ورکول شو، د نظام الطلاق په نوم باندې د مصر قاضي احمد شاکر يوه رساله وليکله چې په هغې کې د غلطي طبقې نمايندګي شوې وه، ددې په ځواب کې د خلافت عثمانيه آخري نائب شيخ الاسلام مولانا الشيخ محمد زاهد الكوثري، **الاشفاق على احكام الطلاق** په نوم يوه رساله وليکله چې په هغې کې د داسې بدتميزه مجتهدينو د علمي سرمايې پرده پورته شوې ده، په کتاب او سنت سره د طلاق حکمونه ثابت شوي دي، د ځينو ملګرو په وينا باندې ددې ژباړه هره مياشت د بينات کراچۍ نه خپرېدل او اوس هغه په "ستاسو مسائل او د هغې حل" کې شامليږي.

والله الموفق

محمد يوسف لدهيانوي عفى الله عنه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والعاقبة للمتقين، ولا عدوان الا على الظالمين والصلوة والسلام على سيد الخلق محمد واله وصحبه اجمعين.

دا خبره له هيچا پټه نه ده چې د څلورو امامانو مذهبونه، په خاصو حالاتو کې په عدالتي مسئلو کې د يو بل نه مرسته ترلاسه کوي، کله چې داسې ضرورت پېښ شي؛ نو د بل مذهب په مسئلو باندې عمل کول د فقهاؤ امامانو کړنه وه، ليکن ددې دا معنى نه ده چې د نفس خواهش پوره کولو لپاره دي د خپل مذهب يا ټولو مذهبونو نه بغاوت وشي او د شرعي حکمونو په ځای دي خپل جوړ شوي قوانين جاري کړي، لکه څنګه چې په اوسني دور کې د اسلامي هېوادونو ځو مستشرقينو هم دغه طريقه خپله کړې، هغوی هر نوي شي ته د لالچ په نظر او هر زوړ ته په سپک نظر ګوري، حال دا چې هر هغه امت چې د خپل خانداني د فخر

شيانو لپاره د وينې توبولو كوشش نه كوي: نو هغوى دا اقرار كوي چې هغوى هيڅ لويې نه غواړي او د دوى لمن د خپلو مشرانو د قابل فخر شيانو څخه خالي ده

اسلامي فقهې د اسلام د ترقى په دور كې تر ډيرې مودې پورې د هر ځاى لپاره صلاحيت درلود. دا به د نه منلو خبره وي چې ددې زمانې لپاره صلاحيت نه لري چې په هغې كې په غړيدلو سترګو د مغرب په قوانينو كې د خلل مشاهده روانه ده. تر دې پورې چې د هغه قوانينو د فساد له وجې مغربي معاشره د زوال ښكار ده.

ټولو ته معلومه ده چې كله عوام په دغه حالاتو باندې پوهښودل شي: نو هغوى داسې حيلې كوي چې په عدالتي فيصلو كې د انصاف لاره بنده كړي. ليكن تجربه كار قاضيان د داسې نظام وضع كولو نه عاجز نه دي چې د انصاف د حفاظت كفيل وي. هغوى ته د حيله ګرو لاس ونه رسي. هغه كه په هره زمانه او هر ځاى كې وي.

اياس بن معاويه فرمايي: فيصله په داسې ناپ تول سره كوئ چې د خلكو د اصلاح ضامنه وي او كله چې هغه پرېوځي: نو د استحسان نه كار واخلئ او د حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ارشاد دى چې د خلكو لپاره (څومره جرمونه چې هغوى كوي) د هغوى په اندازه خپلې فيصلې ښكاره كيږي، پس كله چې كوم اجتماعي مرض ښكاره شي، لكه څنګه چې د طلاق نه د لوبو شى جوړ شوى، مثلاً يو سړي بې وجې د طلاقو قسم وكړ. بل سړي بې سببه درې طلاقه يو ځاى وركړه؛ نو ددې ناروغۍ دا علاج نه دى چې طلاق دې د لوبو جوړولو لاره اسانه كړي او ددغو ناروغو طرف دې وكړي او دا چې د هغوى په نكاحونو كې شك واچوي چې د طلاقو قسم كول هيڅ شى نه دى او درې طلاقونه يو حسابيږي. يا يو هم نه وي او په هغې باندې بغير د دليل نه د فلاني د قول او د فلاني د رايې حواله وركول شي.

دا طرفداري د هغه ناروغو خير غوښتل نه دي، بلكې دا ددې ناروغۍ نوره اضافه هم كوي او د هغه سوري ګنډل به ناممكن شي، الله تعالى د ښځو عصمت ته د كلمې په ذريعه حلالو كې چې كوم حكمت ايښى چې په نسل كې بركت حاصل شي، دا حكمت به باطل شي او خينې تش په نوم فقيه او له ځانه يې مجتهد جوړ كړى چې د هغوى خواهشات په هيڅ ځاى كې هم نه پوره كيږي، په ځاى ددې چې خلک د الله تعالى كلمه ووايي؛ نو په حلالوالي او حراموالي كې به د دوى كلمه ويل شروع كړي.

دا څه وړه خبره نه ده چې د داسې قطعي مسئلو په خلاف بغاوت وشي چې امامانو د كتاب او سنت نه راويستلي دي او ددې بغاوت لپاره به د داسې خلكو رايه دليل ونيسي چې د هغوى نه د غلط فكر په بنا وتلي وي يا د داسې خلكو په رايه به اعتماد وكړي چې د ديانت په لحاظ به د اعتماد هيڅ وړ نه وي او هغه څوک به وي چې په خمكه به فساد خپروي، ځكه چې شيطان د هغوى لپاره د هغوى د بدو عملونو لار ښودلې ده.

ددې طرفداري په وجه اسلامي قانون د خپلو نافرمانو خامنو د لاسه په خپلو ډیرو ابوابو کې د عدالتونو نه یو خواته شوي دي. ددې دا سبب نه دی چې اسلامي قانون د هرې زمانې لپاره او د هر ځای لپاره صلاحیت نه لري. ددې لپاره چې د هغې ببخ بنسټ ونه ویستل شي. یا د هغې لاس او پښې پرې نه شي

نن مونږ ګورو چې ددې زمانې په زامنو کې ځینې داسې خلک شته چې د هغوی زړه ته سکون نصیب نه وي تر څو پورې چې د شرع پاتې شوې برخه هم د عدالتونو نه صفا نه کړي او دا کار د خلکو د خطا کولو لپاره د شریعت په نوم باندې کیږي. چې په اصل کې د خواهش پرستو ناروغو طرفداري او د مستشرقینو شاګردانو (مستشرق هغه فرنګي ته وایي چې د مشرق د ژبو او علومو ماهر وي) او د مستغربینو د خواهشاتو پیروي کوي. حال دا چې مونږ د داسې دور د راتلو نه چې په هغې کې د ټولو حقوقو دعوې کوي. دا امید درلود چې په ټولو نوي قوانینو باندې به نظرثاني وشي او په کومو قوانینو کې چې د اصلاح ضرورت وي د فقه اسلامي په مرستې به د هغې اصلاح وکړي. ځکه چې د کوم حکومت په لاس کې اسلامي نړۍ ده. د هغه لپاره هم دا شان وي او د داسې حکومت نه هم دا امید درلودل پکار دي

پاتې شوه کتاب او سنت ته داسې معنی اغوستل چې د هغې هغه متحمل نه وي او په ظاهره د کتاب او سنت نه د استدلال مظاهره کولو سره د داسې قوانینو تائید کول چې په هغې باندې الله تعالی څه دلیل نه دي نازل کړی. دا دواړه خبرې سیوا د ښکاره تلبیس نه سیوا د داسې چل نه چې د هغې پټ مقصدونه هم صفا ښکاره شي او نور هیڅ شی نه ورکوي

ځینې خلک مسلمان د هغوی د دین په باره کې شکي کوي. هغوی په کمین کې دي، هغوی د فقهې د نوم او عملونو په حوالې فقه اسلامي بدنامولو کې هیڅ یوه ګړۍ نه بې وخته نه تېروي. حال دا چې فقه اسلامي د داسې خلکو او د دوی د اعمالو نه د بې زارۍ اعلان کوي. دلته د اسلام د معاندینو یو مثال وړاندې کوم. د ازهر یو مستشرق استاذ یو کال وړاندې. تاریخ فقه اسلامي. باندې درې رسالې ولیکلې چې په آخر کې هغه وایي

د اسلامي شریعت او اوسني قانون تر منځ یو بل تعلق دی چې د شریعت د تېر شوي تاریخ نه بالکل مخالف دی. دا تعلق د تاریخ شریعت په اخري دور کې موجودیږي او هغه د شریعت ځینې ځینې رنګ بدلولو موجوده دور، د حوالې په طور زمونږ لپاره په اسلامي قانون کې ددې ترمیماتو ذکر کول کافي دي چې په مصر کې د ١٩٢٠ء نه احوال شخصیه (پرسنل لا) یعنې ذاتي قانون کې وشو

کوم سړي چې ددې فقرې مدعا ګڼي د هغه لپاره په دې کې د لوی عبرت شیان دي. دا مستشرق دا ویل غواړي چې ګورئ! تاسو هم هغه یئ چا چې په شریعت کې د نوي حکمونو داخلول جائز کړي دي. دا نوي حکمونه چې د شریعت لپاره بیخي پردي دي، په اصل کې د

مغرب نه راروان شوی دی، اګر که ددې حکمونو د اصل ماخذ پټولو لپاره د خینو خلکو د اقوالو حواله ورکول کیږي، د نن نه د پرون اندازه کېدلی شي

" قیاس کن زګلستان من بهار مرا "

ددې سلسلې ډېره دردناکه یادونه زمونږ په ذهن کې ده، مګر ددې په تذکرې سره د نوي غم نه سېوا نوره څه فائده ده؟ څه موده وشوه چې ماته دا خبر راورسېد چې یو قاضي یوه رساله خپره کړې ده چې په هغې کې داسې رایه وړاندې شوې چې د هغې په نتیجه کې ددې هېواد په عدالتونوکې د میراثي فقهې څه برخه پاتې ده او کوم چې د کتاب او سنت نه ماخوذ او د ټولو فقهاء په منځ کې متفق علیه ده، هغه ورکه شي، ما هغوی ته د یو داسې سړي له طرفه چې خپل ځان د شریعت قاضي ګڼي لویه خبره وګڼله، بیا مي په دغه رسالو غور وکړ چې په ښار کې خپرېږي او هغه چې د الهي پیغام خلاف دي، په خپل زړه کې مي وویل چې دا رساله چې د موصوف د قلم، ژبې او فکر ترجمانه ده، دا د کوم مذهب د فقهې له طرفه ده، بلکې د کوم مستشرق د محفل غربي له جانبه ده چې د هغې بوټي د یهودیانو لاسونو لګولي دي او د هغې شاخونه وادي نیل کې د قبطیانو په مرسته میوې کوي.

دا رساله مي یو ملګري زما د مطالعې لپاره راولیږله، ما ددې پاڼې واړولې؛ نو معلومه شوه چې تجربه د خبر تصدیق کوي.

د ټولو نه مخکې زما نظر د رسالې په نوم (نظام الطلاق) پرېوت چې د رسالې عنوان په عجمي خط سره لیکل شوی ؤ، ددې بد عمل کړنې ددې لیکوال درک اسفل ته ورسولو، چې هغه د کلماتو سافله مقام دی، کتونکو ته ددې عنوان نه داسې خیال کیږي چې یو مغربي ګیدړ د مسلمانانو د آسمان حلقه جوړه کړې وي، هغه په بې انتها مکروه اواز سره وايي چې اې مسلمانانو! ستاسو په عدالتونو کې د شرعي حکمونو نفاذ دور ختم شوی او ګوري دا نوی وضعي قانون د شرعي حکمونو په ځای نافذ کیږي.

ټول پوهیږي چې نظام او قانون دده له ځانه جوړ شوي اصطلاحات دي چې د شرعي حکمونو په رڼا کې نه وضع کیږي، دا دواړه لفظونه نه په کتاب او سنت کې شته او نه د امت فقهاؤ استعمال کړي دي، داسې ښکاري چې لیکوال وضعي قوانین او شرعي احکام د یوه کلي ګڼي، کومو احکامو ته چې مونږ شرعي احکام وایو او د کومو په باره کې چې مونږ عقیده ساتو دا د کتاب او سنت نه ماخوذ دي، لیکوال دا هم د وضعي قوانینو په طرز ګڼي چې وخت په وخت بدلیږي.

د اسلام د پیل نه تراوسه پورې ټول مسلمانان د خپلو ټولو فقهي اختلافاتو باوجود، درې طلاقه یو لفظ سره د قرآن او سنتو مطابق بینونت مغلظه منلو سره راروان دي، ناڅاپه یو هوا پرست د قلم په یو حرکت سره بینونت مغلظه په یو طلاق رجعي سره بدلول غواړي، هر کله چې دا حالت دی؛ نو هیڅ تعجب نشته، سبا دا هوا پرست تر دې پورې به جرات وکړي چې ددې

حکم د بالکلیه لغو کولو مطالبه به وکړي، ځکه چې په دې دور کې د احکام شرعیه وو نه هرقسم مذهبي پابندیو نه آزاد د معاشرې په افرادو باندې خپله رسۍ راتاو کړې ده. هر هغه سړی چې د خپلې مور ژبه پیژني د هغه په زړه کې منصبي اجتهاد باندې کامیابېدو سره د خلکو مخامخ ناڅاپه د داسې رایو وړاندې کولو خواهش پیدا کیږي چې د امت مزاج په یو ځای درهم برهم کړي

د رسالې د نوم نه پس ما د رسالې لومړی برخه مطالعه کړه: نو ومې کتل چې لیکوال د خپلې رسالې په پیل کې په دې باندې فخر کوي چې دده والد صاحب د قضا د عهدې په خاطر خپل اصل مذهب پرېښود او د حنفي مذهب یې غوره کړ. لومړی سړې ؤ چې هغه د حنفي مذهب مطابق د فیصلو کولو پر ځای یې د نورو مذهبونو مطابق فیصلې کول پیل او د مذهب خلاف د بغاوت لاره یې غوره کړه، حال دا چې ده ته ددې باغیانه تبدیلۍ هیڅ ضرورت نه ؤ، ځکه چې د راتلونکي مشکل حل کولو لپاره هغه ډېر په اسانۍ سره دا مقدمه د کوم مالکي مذهب عالم ته سپارلې، (لیکوال چې د خپل پلار په کوم کار فخر کوي. حال دا چې دا هیڅ د فخر خبره نه ده، بلکې لائق د مصیبت ده چې یو سړی د مال او ځای د خواهش په خاطر په دروغه د یو مذهب چوغه واغوندي او مونږ ښه پوهیږو چې د فقهي لپاره د ټولو نه خطرناک آفت هغه سړی دی چې هغه ته د اهل فقهې په راز د فقه ذوق حاصل نه وي، مګر محض د ځای او مال په خاطر د کومې فقهي مکتب فکر سره یو ځای شي)

د لیکوال د پلار ددې کار د ذکر کولو نه پس چې هغه د ټولو نه مخکې د مذهب خلاف د بغاوت پیل کړی ؤ، دا خیال یې وکړ چې هغه د دریو طلاقو یو کولو فارموله وړاندې کړي او د خپل پلار په څېر په بغاوت کې مقتدا جوړ شي، لیکن د خپل پلار په راز صرف د مذهب خلاف بغاوت نه بلکې د ټولو فقهي مذهبونو او د ټولو مسلمانانو خلاف بغاوت دی. که چېرته محترم لیکوال په دې باندې لږ غور کړی وي چې شاید خلک تر اوسه په مغرب پرستۍ کې تر دې حده پورې نه وي رسیدلي چې هغوی د هر هوا پرست په ویلو باندې میراثي فقه بالکلیه ختمه کړي؛ نو شاید چې هغه ته ددې تمهید نه شرم ورغلی وي.

علاوه ددې نه د زمري د بچي شهادت د هغه د پلار په حق کې څه قیمت لري؟ دا خبره کم ازکم د هغه خلکو له نظره پټه نه شي پاتې کیدی چې د قضا د عهدې سره تړاو لري او ددې زمري عمر دې الله تعالی اوږد کړي، تر اوسه پورې د تاریخ په ناموړو سړو کې داخل شوی نه دی او دده حوالې صرف په ازهر کې دده کارګزاري ده، او د ازهر وکالت، قضایي سوډان، مجلس تشریعي او محافل ماسونیه او دده کارنامې صرف خپل ایجاد رسائل او مقالات عمورات پورې محدود دي او بس ځکه چې د شیر د بچو د پلار د کارنامو ښایسته والی د شیر د بچو نه دی بلکې هغه هم تاریخ ته حواله دی، د ډیرې مودې نه پس د عمر په دې دور کې هم دده انجام په خیر کېدی شي، په دې شرط چې هغه ددې جرمونو نه توبه وکړي، چې د هغې

ارتکاب په دې رساله کې د ده لاسونو کړی دی. خصوصاً د کتاب الله او سنت رسول ﷺ او د فقهاء امت د مخالفت جرم، د زائغینو د دروغو ابتدا باوجود. څنګه چې به تاسو نژدې د سپین سهار د ښکاره کېدو مشاهده وکړئ

یا الله! ددې څنګه تصور کېدی شي، چې جمهور صحابه رضی الله عنهم، تابعین، تبع تابعین او جمهور فقهاء دې تر ډېرې مودې پورې په غلطی کې پراته وي او دا غلطي تر هغه ورځې پورې وي چې لیکوال ورته د عربي لغت اسرار او رموز بیانولو لپاره دا رساله لیکي او بیا یې خپروي، د څوارلسو کالو په اوږد دور کې کوم د الله بنده ته دا هوس نه راځي چې طلاق ورکولو وخت کې د درې لفظ ذکر کول صرف لغوه نه دی، بلکې ناممکن او محال دي، لومړی خل دی چې یوازې دې لیکوال ته په دې مسئله کې حق څرګندیږي، دا څرګندونه د لیکوال د خالصې عربی په وجه کیږي چې د بدو سترګو دې په امان وي او د نیل د سیند د قبطیانو په منځ کې د اوسېدلو باوجود عجمیت یې مس کړی نه دی، د اسباط بني اسرائیل د ژبې نه په دې کې لږ خراب والی هم پیدا نه شو، همدا راز لیکوال ته دا څرګندونه دده په بې مثاله پوهه باندې کیږي چې د هغې مثل په علماء اهل سنت کې د کوم یو نه هم نقل صریح صحیح سره نقل نه دی او په یو مذهب کې هم نه دی قبول شوی، سېوا د روافضو او اسماعیلیانو نه، چې په هغې کې عبیدیون هم شامل دي چې امامان خدای ګڼي

پس حرام دې! زر ځله حرام دې!!! په هغه سړي باندې چې د کتاب الله په وجوه دلالت کې د داسې جرات مظاهره کوي او په حدیث و فقه او اصولو کې چې داسې قیاس کوي (چې د هغه لپاره حرام وي) د فقه او حدیث په نازکو مسئلو کې قلم پارته کوي، د مصر او هند داسې رسالې یو ځای کول چې د غلطیو څخه ډک وي، د د اجتهاد اوچتې پوړۍ پورې رسول دي، سره ددې که چیرې ده ته داسې وهبي صلاحیتونه حاصل وي چې په دې میدان کې دده د وړاندې تلو مرسته وکړي او سره ددې چې ده ددې دواړو علومو زده کړه د کوم تکړه استاذ څخه کړې وي، پخوا یو شاعر ویلي دي

ما العلم مخزون کتب لدیک منها الکثیر

لاتحسبنک بهذا یوماً فقیها تصیر

فللدجاجة ریش لکنها لاتطیر

ترجمه: (۱) علم ددې نوم نه دی چې په کتابونو کې لیکل شوي ستا سره په هغې کې ډېر کتابونه دي.

(۲) هیڅکله نه ګڼل چې ته به ددې په ذریعه یوه ورځ فقیه جوړ شې!

(۳) ګوره! د چرګې هم وزرې وي؛ خو هغه نه الوځي.

او په شرع کې د اهل علمو نه جدا رايه ساتل او داسې خبره کول چې څوک هم نه وي ويلې. دا دواړه د سړي په عقل کې زيان راولي. حافظ ابن ابي العوام رحمه الله په خپل کتاب فضائل ابي حنيفه واصحابه کې په خپل سند سره د امام زفر بن الهذيل رحمه الله قول نقل کوي چې

زه د کوم سړي سره تر هغه وخته پورې مناظره نه کوم چې هغه چوپ شي. بلکې تر هغه وخته پورې مناظره کوم چې هغه لېونی شي. عرض و شو چې هغه څنګه؟ وې فرمايل چې داسې خبره يې وويل چې چا نه ده ويلې.

زه خپل دين واجب ګڼم چې دې سړي ته وصيت کوم، په دې شرط چې سرګرداني په ده کې دومره عقل پرې ايښی وي چې هغه د پوهې صلاحيت لري، چې هغه دې په فقه او حديث باندې قلم نه پورته کوي. ځکه چې دده په ليکنو سره قطعي واضحه شوې ده چې دا دواړه دده فن نه دی، عقل مند سړی هغه کار پرېږدي چې هغه صحيح نه پېژني، عربي شاعر وايي چې:

"خلق الله للحرب رجالاً ورجالاً لقصْعة وثريد"، ژباړه: الله تعالی ځينې خلک د جنګ لپاره پيدا کړي دي او ځينې يې د پيالی او ثريد لپاره پيدا کړي دي.

په دې دواړو علومو کې غلطه رويه په خالص دين کې غلط رويه ده او په دې دواړو کې سرګرداني په دنيا او آخرت کې د هلاکت سبب دی، د ليکوال لپاره دا کافي ده چې د قضا کومه وظيفه دده لاس ته راغلې ده. هغه دې پوره ادا کړي، دده نه چې کومې غلطيانې شوي دي د هغې نه دې توبه وباسي

دا چې د ليکوال په رساله چا هم خبرې نه دي کړي؛ نو ځکه مونږ ددې رسالې په ځينو ځايونو کلام کوو، چې په هغې سره به انشاء الله واضحه شي چې حقيقت څه دی، په دې سره د جمهور خبرول مقصد دي چې هغوی د ليکوال په خبرو غلط نه شي، همداراز د ليکوال د رسالې د همېش لپاره د غلطی نه بچ شي چې هغه بې ځايه آيتونه ليکلي دي او د هغې غلط تايلات يې کړي دي، چې د هغې مخرج علم ده ته هم نشته، هم دغه راز يې ډېر بې ځايه حديثونه نقل کړي دي، مګر نه خو ليکوال ددې متونو په معنو پوهه لري او نه هغه ددې سندونو د رجالو څخه خبر دی، واقعه دا ده چې کوم سړی فقه او حديث او نور علوم محض د کتابونو پاڼې اړولو سره حاصل کړي، د کوم استاذ نه يې زده نه کړي چې د خطايي په ځايونو کې ده ته لاره وښيي، دده به هم دغه حال وي.

زه چې په کومو مسئلو کې له ځانه جوړ شوي نويو مجتهدينو سره مناقشه کوم په هغې به بحول الله وقوته د يوې لمحې لپاره هم دده قدم د اينبودلو ګنجائش نه پرېږدم، ځکه چې کوم تن د حق مقابله کوي د هغه سره اصلاً هيڅ دليل نه وي او ما چې په دې پاڼو کې څه ليکلي دي هغه مې د "الاشفاق على احكام الطلاق" په نوم يا کړي.

والله سبحانه ولی الهداية وعليه الاعتماد في البداية والنهاية وهو حسبي ونعم الوكيل

۱- آیا په رجعي طلاق سره نکاح ماتیږي؟

ددې رسالې لیکوال په ۱۴ - ۱۵ مخ باندې لیکي
په عقودو کې عامه قاعده دا ده چې په عقد سره هغه ټول حقوق په فریقینو باندې لازمیږي
کومې چې د عقد په ذریعه هر یو په ځان لازم کړي وي
مخکې لیکي
طلاق که رجعي وي او که غیر رجعي، هغه نکاح ختموي، ابن السمعاني وایي چې قیاس مقتضي وو چې طلاق کله واقع شي؛ نو نکاح دې ختمه شي، څنګه چې په عتق کې رقیت زائلیږي، مګر شرعیت په نکاح کې د رجوع حق ساتلی دی او په عتق کې یې نه دی ساتلی، په دې وجه دواړو کې فرق دی.
د رسالې لیکونکی ددې قاعدې نه دوه خبرې ثابتول غواړي:

لومړۍ خبره دا چې که د شارع له طرفه اذن نه وي؛ نو سړي ته یو طرفه طلاق ورکول صحیح نه وو، چونکې سړي ته د طلاق ورکولو اختیار د شارع په اجازه موقوف وي: نو لهذا دده د طلاق صحیح کېدل به هم د شارع د اذن سره مقید وي، اوس که چېرته څوک د شارع د اجازې نه خلاف طلاق ورکړي؛ نو دده طلاق به باطل وي، ځکه چې هغه د عقد د تقاضې په بنا د یو طرفه طلاقو اختیار نه لري.

دویمه خبره دا ثابتول غواړي چې هر کله طلاق رجعي سره نکاح ختمه شوه: نو ښځه د دویم او د دریم طلاق محل پاتې نه شوه، اګر که هغه تر اوسه پورې په عدت کې وي.
د لیکونکي له نظره بنیاد په دغه دوه خبرو دی، لیکن کوم سړی چې د کتاب او سنتو دعوه لري، د هغه د نصوصو په موجودګی کې محض په اټکل قیاسي خبرو باندې د خپلې نظریې بنیاد ایښودل څومره عجیبه ده او که چېرته د لیکونکي مقصد خالي فلسفه وي او هغه په خپل ګمان د لږ وخت لپاره د اهل رایې په صف کې د شاملېدلو خواهشمن وي؛ نو بیا هم دده نه دا خبره پټه نه ده چې مسلمان محض د طبعیت عقد په بنیاد خو د هیڅ شي مالک نه وي، بلکې ددې لپاره مالک وي چې الله تعالی ورته د تصرفاتو اختیار ورکړی دی، همدا راز ده ته دا معلوممول پکار دي چې ښځه د نکاح په وخت کې د سړي دا حق وپېژني چې سړی کله وغواړي؛ نو طلاق ورکولی شي او هغه په نکاح کې دا شرط هم نه دی لګولی چې ددې خاوند که چېرته فلانکی فلانکی کار وکړي؛ نو دې ته به د خپل نفس اختیار وي. بلکې دا ټول هر څه پېژندلو سره- سره هغې نکاح قبوله کړه؛ نو ګویا هغې د خاوند د طلاق حق هم په ځان لازم کړو، اوس که چېرته دې ته طلاق ورکول کیږي؛ نو ددې په التزام باندې ورکول کیږي، اوس غور وکړئ چې د رسالې د لیکونکي د نظر څه قیمت پاتې کیږي؟ او هر کله چې دا نظریه خپله

وغورځېدل: نو په دې باندې ليکونکي د کومو مسنلو هوايي قلعه جوړول غواړي او هغه بيا کله جوړېدی شي؟

هم دغه حال دده ددې دعوې هم دی چې رجعي طلاق سره نکاح زائله کيږي. دا قطعاً باطله رايه ده چې د کتاب الله او سنت رسول الله مخالف او د ائمه دين د علم او تفقه نه وتلې ده؛ نو ځکه الله تعالى فرمايي "وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ" (البقرة ۲۲۸).

ترجمه او د دوی خاوندان حق لري دوی ته د واپس ګرځېدلو په عدت کې دننه..

ګورئ! الله تعالى د عدت په دوران کې د دوی خاوندان ګرځولي دي، دوی ته يې خپلو ښځو ته د لومړني حالت طرفته د ګرځولو حق ورکړی دی، مګر ددې ځان نه جوړ شوي مجتهد وينا ده چې د دوی په منځ کې د زوجيت تعلق پاتې نه شو، که چېرته هغه د رد د لفظ نه د تمسک اراده کوي: نو ناځايه به ده ته داسې رد مخامخ شي چې د هغې نه به دی محسوسه کړي چې هغه د ډوب شوي لرګي نه مرسته اخلي،

همدا راز د الله تعالى ارشاد دی: "اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ" (البقرة: ۲۲۹)

ترجمه: ,,طلاق دوه ځله وي يا بيا ايسارول دي په ښه طريقې سره،،

پس د ايسارولو معنى هم دا ده چې کوم شی موجود دی هغه دي وساتل شي. دا نه ده چې کوم شی زائل شوی دی هغه دي دوباره حاصل شي، ددې دواړو ايتونو نه معلومه شوه چې د طلاق رجعي نه پس د عدت پوره کېدو پورې نکاح وي، هم دغه راز کوم احاديث چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د طلاق ورکولو په کيسه کې راغلي دي هغه هم زمونږ د دعوې دليل دی، خصوصاً د حضرت جابر رضي الله عنه حديث په مسند احمد کې چې د هغې الفاظ دا دي:

"**ليراجعها فانها امرأته**،،[1] **ترجمه**: هغه دي هغې ته رجوع وکړي ځکه چې هغه دده ښځه ده. که چېرته دا روايت صحيح وي څنګه چې د رسالې ليکونکی دعوه لري؛ نو دا حديث په دې مسئله کې صريح نص دی چې طلاق رجعي واقع کېدلو نه پس هغه ښځه دده خپله ښځه ده.

او مطلقه رجعيه ته د رجوع کولو معنى دا ده چې هغه د دواده د تعلق لومړني حالت طرفته واپس کړئ، حال دا چې د رجعي طلاق نه پس د ښځې حيثيت دا شوی ؤ که چېرته يې دې ته رجوع نه کول؛ نو د عدت پوره کېدو نه پس به هغه باينه کېده.

د روژې، لمونځ، حج او زکوٰة وغيره په شان مراجعت (د طلاق نه رجوع) لفظ خپل يو خاص شرعي معنى لري چې د حضور ﷺ د دور نه تر ننه پورې مراد اخيستل شوې ده، کوم سړی چې ددې لفظ لغوي معنى اخلي او بحث ګډوډ کول غواړي د هغه خبره سراسر غلطه ده،

[1] مسند احمد، مسند جابر عبدالله / ۳/ ۳۸۷/ طبع المكتب الاسلامي/ بيروت).

کله چې سړی د ښځې سره څه خبره وکړي: نو عربي لغت کې دې ته هم. راجعها. ويل کيږي.
ګويا د مراجعت اطلاق مطلق خبرو اترو باندې کيږي. ليکن مطلقه رجعيه سره ددې د خاوند
په رجوع کولو کې چې کوم احاديث راغلي. په هغې کې د واده تعلقاتو طرفته دوباره واپس
کېدلو نه سهوا څه بله معنی مراد نه ده. لهذا په دې کې د فضول بحث هيڅ ګنجايش نشته.
پرته له دې که چېرته د ليکونکي په قول د رجعي طلاقو نه پس عقد باقي نه پاتې کيږي: نو د
تجديد عقد نه بغير د دوباره واده تعلقاتو ساتلو معنی به دا وي چې دا تعلقات ناجائز او غير
شرعي دي. (حال دا چې قرآن او حديثو کې ددې حکم شوی دی) بيا چاته نه ده معلومه چې
عدت ختمېدو پورې خرچې او استوګنه د خاوند په ذمه واجب ده او که چېرته په دې دوران کې
دواړو کې يو مړ شي: نو دويم به دده وارث وي او دا چې ښځه غواړي او که يې نه غواړي.
عدت کې دننه سړي ته به د رجوع کولو حق وي، دا ټولې خبرې ددې خبرې دليل دی چې طلاق
رجعي نه پس هم د ښځې خاوند په منځ کې عقدنکاح پاتې وي.
پاتې شو د ابن سمعاني هغه قول چې د رسالې ليکوال نقل کړی دی، ددې مطلب دا دی چې که
کتاب، سنت او اجماع امت د قياس نه مانع نه وي: نو قياس وايي چې نکاح دې پاتې نه شي،
اخر داسې سړی څوک دی چې د قطعي نصوصو خلاف په قياس باندې د عمل کولو قائل وي
بيا چې کله هغه د مقيس او مقيس عليه په منځ کې د فرق اقرار هم کوي؟
ددې مختصر بيان نه پس د رسالې د ليکوال د ځان جوړ شوي د اصولو بنياد رنګيږي او په دې
باندې چې هغه د هوايي قلعې د تعميرکولو اراده کړې وه هغه هم په تيز غږ سره پر ځمکه
راغورځيږي، لږ غور وکړئ چې ددې قطعي دلايلوپه وړاندې دده د غلطې جګړوقيمت څه دی؟

(۲) د طلاق مسنون او غير مسنون بحث

ددې رسالې ليکوال په ۱۲ مخ باندې ليکي: ايتونه او حديثونه دا نه ښيي چې يو
طلاق سنت وي او بل غيرمسنونه، هغه خو دا ښيي چې د طلاقو اجازت شارع د مخصوصو
اوصافو او خاصو شرائطو لاندې کړی دی، پس کوم سړی چې ددې شرائطو او اوصافو لرې
کېدلو سره طلاق ورکړي: نو هغه د اجازت د حد نه تجاوز وکړ او يو داسې کار يې وکړ چې د
هغې مالک نه ؤ. ځکه چې د شارع له طرفه ددې اجازه نه وه: نو ځکه هغه لغو شو. پس مونږ
طلاق لره هم هغه وخت مؤثر ويلی شو کله چې ددې شرائطو او اوصافو مطابق ورکول شي.
کوم سړي ته چې د کتابونو د حديثونو د پاڼو اړولو وخت پيدا شوی وي د هغه داسې
دعوه کول عجيبه خبره ده. حال دا چې امام مالک رحمه الله په مؤطا کې ذکر کړي چې طلاق سنت
څه دی؟ هم دغه راز امام بخاري رحمه الله په (الصحيح) کې او نورو اصحاب صحاح او اصحاب
سنن او د هرې ډلې فقهاوو هم ددې ذکر کړی دی، حتی چې ابن حزم رحمه الله هم په (المحلي) کې
ذکر کړي او ددې دلايل ډېر زيات دي، په دې کې يو هغه روايت دی چې شعيب بن رزيق او
عطاء خراساني د حسن بصري رحمه الله نه نقل کړی دی، هغه فرمايي چې:

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما مونږ ته وویل چې هغوی خپلې ښځې د هغې د میاشتینې په ورځو کې طلاق ورکړی وو. وروستو ددې نه هغوی په دوه طهرونو کې د دوه نورو طلاقو ورکولو اراده وکړه، رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسیده: نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: ابن عمر! تاته الله تعالی داسې حکم نه دی کړی، تا د سنتو نه تجاوز کړی دی. سنت دا دی چې ته د طهر انتظار وکړې، بیا په هر طهر کې طلاق ورکړې. پس نبي کریم ﷺ ماته حکم راکړ چې زه دې ته رجوع وکړم؛ نو ځکه ما رجوع وکړه. همدا راز نبي کریم ﷺ وفرمایل چې کله هغه پاکه شي؛ نو که بیا دې زړه غواړي نو طلاق ورکړه او که غواړې نو مه یې ورکوه. ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! که چېرته ما دې ته درې طلاق ورکړي وی: نو زما لپاره دې ته رجوع کول به حلال وو؟ وې فرمایل: نه! بلکې هغه په تا باینه شوې وه او ګناه به هم وه. [۱]
دا د طبراني روایت دی او هغوی ددې سند لاندې نقل کړی:

حدثنا علي بن سعيد الرازي، حدثنا يحيى بن عثمان بن سعيد بن كثير الحمصي، حدثنا ابي، ثنا شعيب بن رزيق قال: حدثنا الحسن... الخ

او دارقطني رحمه الله په طریقې د معلی بن منصور رحمه الله نه روایت کړی دی، محدث عبدالحق رحمه الله د معلی له وجې معلول ګرځول غوښتل، مګر دا صحیح نه دي، ځکه چې یوې ډلې د محدثینو دده نه روایت اخیستی دی او ابن معین رحمه الله او یعقوب بن شیبه رحمه الله ده ته ثقه ویلي دي.
او بیهقي رحمه الله په طریقې د شعیب عن عطاء الخراساني رحمه الله ددې تخریج کړی دی او د خراساني نه سوا په دې کې بل څه علت نه دی ذکر کړی[۲]، حال دا چې دی د صحیح مسلم او سنن اربعه وو راوي دی او په ده باندې چې کومه جرح شوې ده ته په ځینو روایاتو کې وهم کیږي، دا جرح د متابع د موجود کېدو له وجې زائله کیږي، ځکه چې د طبراني په روایت کې شعیب ددې متابع موجود دی.

ابوبکر رازي رحمه الله دا حدیث د ابن قانع هغه د محمد بن شاذان هغه د معلی په سند سره روایت کړی دی[۳] او د ابن قانع نه د ابوبکر رازي سماع دده د اختلاط نه قطعاً مخکې وه.

---

[۱] عن شعيب بن رزيق أن عطاء الخر اسانى حدثهم عن الحسن قال نا عبدالله بن عمررضى الله عنهما، أنه طلق امر أته وهى حائض ثم أراد أن يتبعها تطلقتين أخرين عند القرأين الباقيين فبلغ ذالک رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: يا ابن عمر! ماهكذا أمرک الله انک قد أخطات السنة، وذكر الخبر وفيه، فقلتُ:يا رسول الله ! لَوكنتُ طلقتها ثلاثًا أكان لى أن أراجعها؟ قال: لا، كانت بين وتكون معصية.(المحلى لابن حزم، كتاب الطلاق رقم المسئلة:۱۹٤۹ ج۱۰ ص:۱٦۹ طبع دار الافاق الجديدة)۔

[۲] السنن الكبريٰ للبيهقي،كتاب الطلاق والخلع، باب الْاختيار للزوج أن لَا يطلق الا واحدة ج:۷ ۳۳۰ طبع دار المعرفة بيروت، لبنان.)۔

[۳] أحكام القرآن للجصّاص،البقرة،باب عدد الطلاق ج۱ ص:۳۸۱ طبع سهيل اكيدمى)۔

شعیب دا روایت کله د عطا خراساني په واسطې سره د حسن بصري رحمه الله نه روایت کوي او کله بغیر د واسطې نه. ځکه چې دده ملاقات ددې دواړو سره شوی دی او دده د دواړو نه د احادیثو سماع کړې ده، په ظاهره داسې معلومیږي چې لومړی ده د عطا خراساني په واسطې دا حدیث اوریدلی دی، وروسته یې بې واسطې د حسن نه روایت کوي: نو ځکه هغه کله د عطا نه روایت کوي او کله د حسن نه، په داسې صورت کې ډیرو راویانو ته مخې ته راځي څنګه چې حافظ ابوسعید العلائي په جامع التحصیل لاحکام المراسیل، کې ذکر کړی دی.

پاتې شوه د شوکاني د شعیب بن رزیق په تضعیف پسې کېدل؛ نو دا د ابن حزم د تقلیدپه بنا باندې دی[1] اوهغه زورور دی او د رجالو نه بې خبره دی، څنګه چې د حافظ قطب الدین حلبي کتاب، القدح المعلی فی الکلام علی بعض احادیث المحلی نه ښکاره ده او شعیب ته دارقطني او ابن حبان ثقه ویلی دی او رزیق دمشقي (څنګه چې په ځینو روایاتو کې راغلي) د صحیح مسلم په رجالو کې دي او علی بن سعیدرازي یو جماعت چې په هغې کې ذهبي هم شامل دی په ډېرو الفاظو سره ذکر کړی دی او ذهبي د حسن بصري رحمه الله د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه د سماع تصریح هم کړې ده، د حافظ ابوزرعه نه پوښتنه وشوه چې آیا د حسن ملاقات د ابن عمر رضي الله عنهما سره شوی دی؟ نو وې فرمایل چې هو.

حاصل دا دی چې دا حدیث د درجې د احتجاج نه ساقط نه دی، که ددې شاوخوا د شیطانانو خومره ځپه وي او ددې باب دلایل د باقي کتابونو د احادیثو قطع نظر په صحاح سته کې هم ډیر دي، ددې نه معلومه شوه چې کوم سړی د سنت نه خلاف طلاق ورکړي، دده طلاق د مخالفت باوجود واقع کیږي، ځکه چې نهی طاري دمشروعیت اصلیه منافي نه ده، څنګه چې په علم اصول کې ددې تفصیل ذکر شوی دی، مثلاً کوم سړی په مغصوبه ځمکه کې لمونځ وکړي یا د جمعه د اذان په وخت خرخول اخیستل وکړي (اګر که هغه به ګناه ګار وي؛ خو لمونځ او بیع به یې صحیح وي)[2]

طلاق د ملک نکاح د زائله کولو او د ښځې په آزادی باندې پابندي لګولو نوم دی، په ابتدا کې د ښځې آزادي د نکاح په ذریعه مقید کول په متعدد دیني او دنیوي مصلحتونو باندې ددې په رضا باندې وتړل شوه، لیکن سړي ته دا حق ورکول شو چې کله هغه وګوري چې دا مصالح په مفاسدو سره بدلیږي؛ نو د ښځې نه پابندي اوچته کړي، ددې لپاره چې ښځه خپل سابقه حالت ته لاړه شي، ددې نه معلومه شوه چې طلاق د کتاب او سنتو له مخې مشروع

---

[1] نيل الأوطار شرح منتقى الأ خبار للشو كاني،كتاب الطلاق، باب ما جاء فى طلاق ألبتة وجمع الثلاث ج:٦ ص:٢٥٧، طبع مصطفى الحلبي مصر)۔

[2] ردالمحتارعلى الدرالمختار،كتاب الصلوة،مطلب فى الصلوة فى الأرض المغصوبة ج:١ص:٣٨١ طبع ايچ ايم سعيد كراچي)

الاصل دی، البته شریعت سړي ته حکم ورکوي چې هغه دي د دریو طلاقو حق په دریو داسې طهرونو کې استعمال کړي چې په هغې کې د ښځې خاوند یو ځای والی نه وي شوی او مصلحت په دې کې دی چې دا یو داسې وخت وي چې په هغې کې د سړي ښځې ته رغبت وي. په دې وخت کې به طلاق ورکول ددې امر دلیل وي چې د ښځې خاوند په منځ کې ذهني رابطه واقعتاً ماته شوې ده، په داسې حالت کې د طلاقو واقعي ضرورت شته. دویمه دا چې سړی په دریو طهرونو کې جدا- جدا طلاق ورکوي؛ نو ده ته به د سوچ وخت هم په لاس ورشي او په طلاق سره به ده ته پښېمانتیا نه وي، علاوه ددېنه چې د حیض په حالت کې طلاق ورکولو کې ښځې عدت خامخا به اوږد وي (ځکه چې دا حیض په کوم کې چې طلاق ورکول شوی وي. په عدت کې به شمار نه وي، بلکې ددېنه پس چې کله د میاشتینی ناروغی ورځې راشي. د هغه وخت نه پس د عدت شمار شروع شي) لیکن دا ټول عارضي شیان دي چې د طلاق په اصل مشروعیت کې خلل نه راولي، لهذا که چېرته چا په حالت د حیض کې درې طلاقه ورکړه یا په داسې طهر کې طلاق ورکړي چې په هغې کې ښځه خاوند یو ځای شوی وي؛ نو بیا به هم طلاق په هر حالت کې واقع وي، اګر که بې طریقې طلاق ورکولو باندې هغه ګناه ګار وي، مګر ددې عارض له وجې چې کومه ګناه وشوه هغه د طلاق په مؤثر کېدلو کې مانع نه جوړېږي. ددې په مثال کې ظهار پېش کېدی شي، اګر که هغه نامعقوله خبره او دروغ ده، **(منکراً من القول وزوراً)** مګر ددې باوجود ددې دا صفت ددې د اثر مرتب کېدلو نه مانع نه دی او دې مسئله کې د کتاب او سنت نص موجود کېدلو نه پس مونږ ته د قیاس نه کار اخیستلو ضرورت نشته؛ نو ځکه مونږ ظهار لره د قیاس په طور باندې نه، بلکې د مثال په طور پیش کړی دی.

او د نبي کریم ﷺ دا ارشاد چې تا د سنتو نه تجاوز کړی دی، ددې نه مراد دا دی چې تا هغه طریقه اختیار نه کړه د کومې وجې مطابق چې الله تعالی د طلاق ورکولو حکم ورکړی دی، دلته د سنت نه هغه کار مراد نه دی چې په هغې باندې ثواب ورکول کیږي، ځکه چې طلاق څه د ثواب کار نه دی، هم دغه راز بدعي طلاق کې د بدعت نه مراد هغه شی مراد نه دی چې د صدر اول نه پس د سنت خلاف کار ایجاد شوی وي، بلکې ددې نه مراد هغه طلاق دی چې د مامور به طریقې خلاف وي، ځکه چې د حیض په دوران کې طلاق ورکول او درې طلاقه په یو وخت کې ورکولو واقعات د نبي کریم ﷺ په دور کې هم مخې ته راغلي وو، څنګه چې به مونږ آینده د دریو طلاقو په بحث کې په احادیثو سره د هغې دلایل ذکر کړو او کومو خلکو چې په دیکښې خلاف کړی دی، د هغوی جنګ صرف په ګناه کې دی، په وقوع طلاق کې نه دی او درې طلاقه په یو وخت کې واقع کېدل او د حیض په حالت کې طلاق واقع کېدل د دواړو یو حکم دی، کوم سړی چې په دې کې یا په هغې کې جنګ کوي، د هغوی په لاس کې دلیل څه شبه نشته، څنګه چې زمونږ ددې دلایلو نه به واضحه شي، آینده به دوه بحثونه ذکر کوو.

امام طحاوي رحمه الله چې د لمونځ نه د خروج کوم مثال پیش کړی دی د هغې نه د دغه مقصد دا دی چې په عقد کې د دخول او ددې نه د خروج په منځ کې چې کومه وجه د دغه د فقه طالب علم ذهن نشین کړې، کنه نو د هغه مقصد د طلاق په لمونځ باندې قیاس کول نه دي او نه د کتاب او سنتو د نصوصو په موجودګی کې هغه ته د قیاس حاجت شته؛ نو ځکه د رسالې د لیکونکي دا جمله بالکل بې معنې ده چې: اعتراض صحیح دی او جواب باطل دی. ځکه چې دا د عقودو قیاس په عباداتو باندې دی، حال دا چې په عقد کې د بل چا حق متعلق کیږي.

پرته له دې که چېرته بالفرض امام طحاوي رحمه الله قیاس کړی وي؛ نو اخر قیاس نه مانع څه شی دی؟ ځکه چې په دې کې د نکاح نه غیر مامور به طریقې باندې خروج ته د لمونځ نه غیر مامور به طریقې نه خروج باندې قیاس شوی دی او طلاق خالص د سړي حق دی، د ښځې حق صرف په مهر وغیره کې دی؛ نو ځکه د قیاس په صحت کې د لیکونکي مصنوعي خیال نه سیوا هیڅ کومه مؤثره وجه د فرق نشته.

د رسالې لیکوال آیت کریمه کې " الطلاق مرتان" په سبب نزول کې د حاکم او ترمذي حدیث نقل کولو نه پس لیکي، زما په نزد دواړه سنده صحیح دي، دا فقره ددې خبرې دلیل دی چې لیکوال صرف په فقه نه بلکې په حدیثو کې هم د اجتهاد مرتبې ته رسېدلی دی. حال دا چې په متاخرینو کې حافظ ابن حجر رحمه الله په شان خلک هم دې مرتبې ته په رسېدلو کې شک دی.

محترمه! ته څوک یې چې تاسو په دې الفاظو چې "زما په نزد" دعوه کوئ؟!!

د آیت د سبب نزول بحث زمونږ د موضوع سره غیر متعلق دی، کنه نو مونږ به ښودلې وه چې زمونږ په نزد صحیح دی او څنګه کیږي، نسأل الله السلامة.

(۳) د حیض په حالت کې ورکول شوی طلاق واقع کیږي

د رسالې لیکوال په ۲۴ مخ کې لیکي:

ددې حدیث (یعني د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما خپلې ښځې ته په حالت د حیض کې طلاق ورکول) روایات او ددې الفاظ د حدیثونو په کتابونو کې ډیر دي او په هغې کې په دې نکتې باندې سخت اختلاف دی چې ابن عمر رضي الله عنهما په حیض کې چې کوم طلاق ورکړی وو هغه یې شمار کړی دی یا نه؟ بلکې ددې حدیث الفاظ هم مضطرب دي، لهذا د ابوالزبیر دې روایت ته به ترجیح ورکولی شي چې په هغې کې د ابن عمر رضي الله عنهما دا الفاظ مروي دي چې نبي کریم ﷺ زما ښځه واپس راوګرځوله او هغه یې هیڅ ونه ګڼلو. **(فردها علي ولم یرها شیئا)**

دا روایت ځکه راجح دی چې دا په ظاهره کې د قرآن او قواعدو صحیح موافق دی او ددې روایت تائید د ابو الزبیر د دویم روایت نه هم کیږي، څنګه چې هغه د حضرت جابر نه سماعاً په دې الفاظو سره نقل شوی:

ابن عمر رضي الله عنهما ته ووايه هغه دي خپلې ښځې ته رجوع وکړي ځکه چې هغه دده ښځه ده.[۱]
دا سند صحيح دی، ابن لهيعه رحمه الله ثقه دی او خشنی رحمه الله روايت د محمد بن بشار رحمه الله نه دا دی، **لايعتد بذالک**، (ددې اعتبار مه کوئ) او دا سند ډير صحيح دی او د ابن وهب رحمه الله په روايت کې چې راځي وهی واحدة، (او دا به يو طلاق شمارل وي) ددې نه خلکو دا وګڼل چې دا ضمير د هغه طلاق طرفته راجع دی چې ابن عمر رضي الله عنهما د حيض په دوران کې ورکړی ؤ، تردې پورې چې ابن حزم رحمه الله او ابن قيم رحمه الله هم ددې دليل نه د غاړې خلاصولو هيڅ صورت ددې نه سهوا په نظر رانغلو، چې هغوی ددې د مدرج کولو دعوه وکړي، حال دا چې صحيح او واضحه خبره دا ده چې دا ضمير هغه طلاق ته راجع دی چې ابن عمر رضي الله عنهما ته وروسته ورکول وو. لهذا دا فقره د حيض په دوران کې د طلاق د باطل کېدلو باندې دليل دی او د ابوالزبير رحمه الله د روايت مؤيد هم دی.
او نبي کريم صلى الله عليه وسلم ابن عمر رضي الله عنهما ته د هغه مطلقې فی الحيض ته د رجوع کولو کوم حکم فرمايلی وو په هغې کې د مراجعت نه مراد د لفظ لغوي معنی ده او مطلقه رجعيه ته رجوع کولو کې د دې استعمال يوه نوې اصطلاح ده چې دنبوت دزمانې نه پس ايجاد شوه (مخ ۲۴تا ۳۰ متفرقاً)
ليکوال په ۲۷ مخ باندې ليکي چې په حيض کې ورکول شوی طلاق صحيح نه دی او ددې هيڅ اثر نه مرتب کيږي، د ليکوال دا قول د روافضو او د هغه د هم مسلکو خلکو پيروي ده او دا د هغه صحيح احاديثو سره لوبې دي چې په صحيحين وغيره کې موجود دي او د هغې صحت د ثقه حفاظو په شهادت سره ثابت دی، دا قول محض په نفس پرستی باندې مبني دی او د اهل نقد په نظر کې يو منکر (روايت) لره ددې نه بدترين منکر سره د تقويت ورکولو کوشش دی او بيا په داسې احاديثو کې د اضطراب دعوه کول چې هغه ټولو د صحاح ليکوالانو اخيستلی دی، د پرېوتې درجې بې حيايي ده او د داسې مدعي په عقل کې د فتور او اضطراب دليل دی، امام بخاري رحمه الله په "الصحيح" کې حائضې ته ورکول شوی طلاق په صحيح کېدلو باندې باب تړلی دی " **باب اذا طلقت الحائض يعتد بذالک الطلاق**"[۲] يعنې کله چې حايضې ته طلاق ورکول شي: نو دې طلاق ته به صحيح ويل کيږي، امام بخاري رحمه الله په دې مسئله کې د چا اختلاف ته اشاره هم نه کوي او ددې باب لاندې د ابن عمر رضي الله عنهما خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو حديث ليکل شوی دی چې په هغې کې دا الفاظ دي: "**مره فليراجعها**" يعنې ده ته ووايه چې خپلې ښځې ته رجوع وکړي، امام مسلم رحمه الله هم ددې طلاق د شمارلو تصريح کوي، دده الفاظ

---

[۱] مسند أحمد ج:۳ص:۳۸٦ طبع المكتب الأسلامي، بيروت۔
[۲] الصحيح للبخاری، كتاب الطلاق، باب اذا طلقت الحائض يعتد بذلک الطلاق ج:۲ص۷۹۰ طبع قديمی۔

دا دي **وحسبت لها التطليقة التى طلقها**.[۱] يعني ابن عمر رضي الله عنهما خپلې ښځې ته د هغې د حيض په حالت کې چې کوم طلاق ورکړی وو هغه يې شمار کړو. هم دغه راز په مسند احمد کې د حضرت حسن حديث چې خپله د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دی او د هغه د سند ذکر مخکې تير شوی دی، هغه هم ددې خبري دليل دی چې دا طلاق صحيح او مؤثر ګرځول معتبر دي.
صحيحين وغيره کې چې کوم احاديث په دې سلسله کې مروي دي په هغې کې د رجوع کولو لفظ راغلی دی کوم سړی چې په هغې سرسري نظر هم واچوي هغه ته به د يوې لمحې لپاره هم په دې خبره کې شک نه وي چې د لفظ طلاق وغيره په څېر په نبوي دوره کې يو خاص اصطلاحي مفهوم درلود او دا چې ددې اصطلاح د دور نبوت نه پس قطعاً ايجاد شوې نه ده. د طلاق په احاديثو کې "ارتجاع، رجعت، او مراجعت" څومره الفاظ وارد دي د هغې شرعي معنی مراد ده، يعني د طلاق رجعي ورکولو نه پس دوباره د ښځې خاوند تعلقات ساتل، بلکې د فقهاء امت په عبارتونو کې ددې قبيل څومره الفاظ وارد دي هغه لفظا او معنا هم ددې الفاظو مطابق دي کوم چې په احاديثو کې وارد شوي دي او دا خبره مخکې تيره شوې ده چې ددې باب د احاديثو نه د رجوع لغوي معنی اخيستل اکثر غلط دي، ابن قيم رحمه الله هم ددې دعوه جرات ونه کړی شو چې دلته د رجوع شرعي معنی مراد نه ده، ځکه چې د هغه په وړاندې هغه احاديث موجود وو چې په هغې کې د شرعي معنی نه سهوا بله څه معنی نه شي کېدی، هغوی خپل ذات ته ددې نه اوچت وګڼلو چې هغه يوه داسې مهمله خبره وکړي چې د محدثينو په نزد هم ساقط الاعتبار ده، پاتې شوه دا چې فقهاء دې ته توجه هم نه کوي.
شوکاني رحمه الله چونکې په رد کې تر ټولو وړاندې دی او دا خبره ډيره کمه په پوهه کې راځي چې د فلانی خبرې په وينا دده ذلت او رسوايي کيږي؛ نو ځکه هغه د خپل طلاق په رساله کې دا لاره غوره کړې چې دلته د رجوع شرعي معنی مراد نه ده او د رسالې ليکوال ته (د شوکاني رحمه الله په تقليد کې) دې دعوه کولو کې دا خيال نه وو چې دده نه ددې د دليل هم مطالبه کېدلی شي او دا پوښتنه هم کېدلی شي چې د زمانې د نبوت نه پس په کومه زمانه کې دا نوې اصطلاح ايجاد شوه چې د هغې مدعي هغه خپله دی؟ د رسالې ليکوال د ابن حزم په څېر د بې دليله دعوې پرمخ وړاندې بوتللو کې بهادر دی، هغه دې صحيح احاديثو ته ونه کتل چې په هغې کې طلاق په حالت د حيض کې واقع شوی شماري، دا احاديث ناقابل ترديد دي چې دلته د مراجعت نه قطعي معنی شرعي ده.
هغه احاديثو کې چې مطلقه په حالت د حيض کې دېته د رجوع کولو کوم حکم راغلی يوازې هم هغه ددې وينا لپاره کافي ده چې د حيض په حالت کې کوم طلاق ورکول شي، هغه بې شکه

---

[۱] صحيح مسلم، کتاب الطلاق، باب تحريم طلاق الحائض بغير رضاها ج: ۱ ص: ۴۷۶ طبع قديمی).

واقع کیږي، بیا چې کله په صحیح احادیثو کې دا هم وارد شوي. څنګه چې مخکې تیر شو چې په دې حالت کې ورکول شوی طلاق صحیح شمار شي؛ نو اوس ووایئ چې په دې مسئله کې د شک څه ګنجائش باقي پاتې کیږي؟ او په آیت کریمه کې چې د "تراجع" کوم لفظ راغلی دی هغه ددې صورت سره متعلق دی چې کله د لومړنی ښځې خاوند په منځ کې د نوي عقد ضرورت وي او دا صورت زمونږ د بحث نه خارج دی.

او کوم سړی چې هغه احادیثو لره، کوم چې د ابن عمر رضي الله عنهما په واقعه طلاق کې وارد شوی دي احاطه کړې وي، بلکې د احادیثو هغه لړ غونډې تعداد چې حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کې ذکرکړی دی[1]، بالخصوص د دارقطني حدیث شعبه او د سعید بن عبدالرحمن الجمحی حدیث چې د چا پیش نظر وي هغه ته به ددې یقین نه بغیر چاره نه وي چې په هغه احادیثو کې د مراجعت نه صرف معنی شرعي مراد ده، یعنې د طلاق رجعي نه پس زوجیت ته ګرځېدل او الفاظو نه ددې حقیقت شرعیه مراد کیږي، مګر دا چې هلته څه مانع موجود وي او دلته څه مانع موجود نه دی، ابن قیم رحمه الله ته دا احادیث مستحضر ؤ؛ نو ځکه هغه په دې باندې راضي نه شو چې محض بې انصافی سره د معنی شرعي مراد اخیستلو نه انکار وکړي، ځکه چې دلته د انکار کولو هیڅ موقع نشته، ددې په ځای هغوی وغوښتل چې په شریعت کې د مراجعت درې معنا ثابت کړي، (۱) نکاح (۲) جائز هبه واپس کول (۳) د طلاق نه پس د زوجیت معاشرې طرفته ګرځېدل، ددې لپاره چې هغوی دا وویل شي چې دا لفظ مشترک دی او په مشترک کې احتمال وي او د احتمال په صورت کې استدلال ساقطیږي، لیکن هغوی ته دا خیال ونه شو چې دلته د مراجعت نسبت د ښځې خاوند طرفته شوی دی، د سړي طرفته په حیثیت د رجوع کونکي او ښځې ته په حیثیت د رجوع شوی، ددېنه د مراجعت معنی خپله متعین کیږي، یعنې د طلاق نه پس د زوجیت معاشرې طرفته عود کول، لهذا دلته اشتراک ثابتولو سره استدلال باندې اعتراض کول صحیح نه دي.

علاوه ددېنه هغه دا هم هېره کړه چې زمونږ بحث په مراجعت کې دی چې په دې احادیثو کې وارد شوی دی، نه خو په لفظ تراجع کې دی چې په قرآن کریم کې بې معنی نکاح راغلی دی او نه په لفظ د ارجاع کې دی چې جائز هبه واپس کولو په حدیث کې راغلی دی.

دابن قیم رحمه الله نه پس شوکاني رحمه الله راغلو او موصوف په خپله رساله کې چې د طلاق بدعي په موضوع باندې ده دا مسلک اختیار کړو چې په دې احادیثو کې د مراجعت معنی شرعي مراد کېدل نه تسلیموو، په دې خیال چې معنی لغوي د معنی شرعي نه عامه ده، د شوکاني ددې موقف اختیارولو وجه دا ده چې دوی ته په بې ځایه حجت پیش کولو کې یوه خاصه ملکه

---

[1] فتح الباری، کتاب الطلاق، باب اذ طلقت الحائض تعتد بذٰلک الطلاق، ج:۹ ص:۳۵۳ طبع دار نشر الکتب الاسلامية، لاهور پاکستان۔

حاصله ده چې د هغې استفاده يې د عجميانو له کتابونو څخه کړې، ځکه چې شوکاني رحمه الله عجمي کتابونه ويلي وو، ابن قيم رحمه الله نه وو ويلي، مګر د شوکاني دا خبره پته وه چې د اهل علمو په اتفاق سره په کتاب او سنت کې د الفاظو حقيقت شرعيه مراد وي او د لفظ مراجعت حقيقت شرعيه لره تسليمولو نه پس ددې مراد لره د نه تسليمولو هيڅ ګنجائش نشته. ددېنه پس هغه په تحزيف اوتحريف (ردو بدل کولو) کې نور مخکې لاړو او محض د بې انصافۍ په بنا يې په نيل الاوطار کې د لفظ مراجعت د شرعي معنى نه انکار وکړو[۱]، دهغه خيال وو چې کوم احاديث په معنى شرعي کې نص دي او کوم چې شوکاني رحمه الله د ابن حجر رحمه الله د فتح الباري نه نقل کړي دي، که چېرته ددې په غلط نقلولو سره ددې معنى خرابه کړی شي: نو په علم کې د کمزورو خلکو د ګمراه کولو لپاره کافي ده او داسې به څوک راځي چې د دوی په نقل کې د خيانت پرده وشلوي، لږ د شوکاني نه پوښتنه وکړئ چې هغه د فتح الباري د ابن حجر رحمه الله دا قول ولې نقل نه کړو؟

او دار قطني کې په روايت د **شعبه عن انس بن سيرين عن ابن عمر رضی الله عنهما** په دې کيسه کې دا الفاظ دي، حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! آيا دا طلاق شمارل کيږي؟ حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل هو! ددې حديث ټول راويان تر شعبه پورې ثقه دي.
او دارقطنی کې په روايت د سعيد بن عبدالرحمن الجمحي (ابن معين وغيره ددې تصحيح کړې ده) **عن عبيدالله بن عمر عن نافع عن ابن عمر** دا واقعه منقول ده چې يو سړي د ابن عمر رضي الله عنهما نه پوښتنه وکړه چې ما خپلې ښځې ته (البتة) (قطعي طلاق، يعنې درې طلاقه) ورکړي، حال دا چې هغه د حيض په حالت کې ؤ، ابن عمر رضي الله عنهما وفرمايل چې تا د خپل رب نافرماني وکړه او ستا ښځه ستا نه جدا شوه، هغه سړي وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خو ابن عمر رضي الله عنهما ته خپلې ښځې ته د رجوع کولو حکم کړی وو، ابن عمر رضي الله عنهما وفرمايل رسول الله صلى الله عليه وسلم ابن عمر رضي الله عنهما د هغه طلاق نه رجوع کولو حکم کړی وو چې د هغه لپاره باقي وو او تا خو هيڅ نه دي پرې ايښي چې د هغې په ذريعه ته خپلې ښځې ته رجوع وکړې، (يعنې ابن عمر رضي الله عنهما خو يو طلاق رجعي ورکړی وو او دوه طلاقه پاتي وو؛ نو ځکه هغه رجوع وکړه، مګر تا خو درې طلاقه ورکړه ته څنګه رجوع کولی شې؟) او په دې سياق کې رد دی په دې سړی باندې چې د ابن عمر رضي الله عنهما په کيسه کې (رجعت) په معنى لغوي باندې حمل کوي.[۲]

۱] نيل الأ وطار، کتاب الطلاق،باب النهى عن الطلاق فى الحيض ج:۶ص:۲۵۳ طبع مصطفى البابى، بيروت)

۲] وعند الدار قطنى فى رواية شعبة عن أنس بن سيرين عن ابن عمر فى القصة، فقال عمر: يا رسول الله! أفتحتسب بتلک التطليقة؟ قال: نعم. ورجاله الى شعبة ثقات، وعنده من طريق سعيد بن عبدالرحمن الجمحى عن عبيدالله بن عمر عن نافع عن ابن عمر "أن رجلا قال: انى طلقت امرأتى البتة وهى حائض، فقال: عصيت ربک، وفارقت امرأتک، قال: فان رسول الله صلى الله عليه وسلم ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

او تول بحث خو هغه وخت دی چې کله دا تسلیم کړي چې د رجعت د لفظ یو داسې لغوي معنی هم شته چې د ابن عمر رضی الله عنهما په احادیثو کې مراد اخیستل کیږي. لیکن کوم سړي چې د لغت د کتابونو مطالعه کړې وي په هغه باندې به واضحه وي چې د مراجعت د لفظ لغوي معنی په هر هغه صورت کې متحقق ده چې کله سړی د ښځې سره په کومه معامله کې خبرې اترې وکړي او دا عامه معنی په احادیثو کې قطعا مراد نه شي اخیستلی. مګر دا چې شوکاني دې لفظ ته څه نوې معنی واچوي، چې د کتاب، سنت، اجماع فقهاء ملت او د لغت علی الرغم د شوکاني ددې بې دلیله رایې موافق وي

ددې تقریر نه واضحه شوه چې د ابن عمر رضی الله عنهما په کیسه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد چې ده ته وواېه چې خپلې ښځې ته رجوع وکړي، خپله په معنی شرعي باندې نص ده. ددې لپاره د دارقطني تخریج شوي روایاتو هم حاجت نشته.

پاتې شوه د ابن حزم په محلي کې دا وینا چې: ځینې خلکو وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابن عمر رضی الله عنهما ته خپلې ښځې ته د رجوع کولو کوم حکم کړی وو دا ددې خبرې دلیل دی چې دا طلاق شمار شوی دی، مونږ په ځواب کې وایو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد ستاسو د ګمان دلیل نه دی، ځکه ابن عمر رضی الله عنهما چې کله هغې ته د حیض په حالت کې طلاق ورکړ: نو بې شکه د هغې نه به یې اجتناب هم کړی وي، حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته صرف دا حکم کړی وو چې خپله جدایي پریږده؛ او ددې حالت نه لومړني حالت ته وګرځه؛ [۱]

ددې لومړني حالت نه د ابن حزم مراد که چېرته د طلاق نه مخکې حالت وي: نو بیا خو د ابن حزم له طرفه دا اقرار دی چې دا جمله د طلاق د واقع کېدلو دلیل دی او که چېرته د لومړني حالت نه مراد د اجتناب نه مخکې حالت وي؛ نو دا خو د لفظ نه لغوي معنی ده او نه شرعي. البته ممکنه ده چې دا معنی مجازي وي چې د اطلاق او تقیید په مناسبت سره د معنی شرعي نه اخیستل شوې ده. لیکن معنی مجازي مراد اخیستلو ضرورت هغه وخت وي چې کله څه داسې قرینه موجوده وي چې د معنی حقیقي مراد اخیستلو نه مانع وي، سوال دا دی دلته هغه

...بقیه د تیرمخ] أمر ابن عمر أن یراجع امرأته، قال: انه امرابن عمر أن یراجعها بطلاق بقی له، وأنت لم تبق ما تر تجع امرأتک، وفی هٰذا السیاق ردعلیٰ من حمل الرجعة فی قصة ابن عمر علی المعنی اللغوی. (فتح الباری، کتاب الطلاق، باب اذا طلقت الحائض تعتد بذٰلک الطلاق ج: ۹ص: ۳۵۳ طبع دار نشر الکتب الاسلامیة، لاهور پاکستان)_

[۱] قال أبو محمد: .....وقال بعضهم أمر رسول الله صلی الله علیه وسلم بمر اجعتها دلیل علی أنها طلقة یعتد بها، فقلنا: لیس ذالک دلیلا علی مازعمتم لان ابن عمر رضی الله عنهما بلاشک اذ طلقها حائضًا فقد اجتنبها فانما أمره علیه السلام برفض فراقة لها وان یراجعها کما کانت قبل بلاشک. (المحلی لا بن حزم، کتاب الطلاق، تفسیر فطلقوهن لعدتهن ج: ۱۰ ص: ۱۶۶رقم المسئلة: ۱۹۴۹. طبع دار الآفاق الجدیدة، بیروت)_

کومه قرینه ده چې د حقیقت شرعیه نه مانع وي؟ ددې بیان نه پس د رسالې د لیکوال خبرې چې په کومه کنده کې غوارې وې غور خوه!

په ابو داؤد کې د ابوالزبیر د روایت دا لفظ مجمل دی چې فردها علی ولم یرها شیئاً. رسول الله ﷺ هغه په ما باندې وګرځوله او هغې لره یې هیڅ ونه ګڼله. دا ددې خبرې دلیل نه دی چې دا طلاق واقع نه شو، بلکې د واپس ګرځولو د لفظ نه دا استفاده کیږي چې دا په طلاق بینونت کې قطعاً موثر کیږي نه، رد او د امساک الفاظ په هغه رجوع کې استعمالیږي چې د طلاق رجعي نه پس وي

او که چېرته فرض شي چې په دې لفظ سره د طلاق نه واقع کېدل په کومه درجه کې مفهوم کیږي؛ نو واورئ! امام ابوداؤد ددې حدیث نقل کولو نه پس فرمایي: ټول احادیث ددې خلاف دي[۱]. یعنې ټول احادیث ښیي چې ابن عمر رضی الله عنهما باندې یو طلاق شمار شوی، امام بخاري رحمه الله دا صراحتاً روایت کړی او داسې امام مسلم رحمه الله هم، څنګه چې مخکې تیر شوي[۲]. ډیرو محترمو ذکر کړی دی چې د امام احمد رحمه الله مخامخ ذکر کړی شو چې طلاق بدعي نه واقع کیږي، امام احمد رحمه الله په دې باندې رد وکړ او وې فرمایل چې دا د روافضو مذهب دی.

او ابوالزبیر رحمه الله محمدبن مسلم مکي رحمه الله ته هغه ټولو لیکوالانو چې کومو په مدلسینو باندې کتابونه لیکلي دي، د مدلس راویانو په فهرست کې ځای ورکړی دی، پس د چا په نزد د مدلسینو روایت مطلقاً مردود دی؛ نو د هغوی په نزد به دده روایت مردود وي او کوم خلک چې د مدلس روایت په څه شرایطو سره قبلوي هغوی دده روایت هم په شرایطو قبلولی شي، مګر هغه شرایط دلته نشته، لهذا دا روایت به بالاتفاق مردود وي.

ابن عبدالبر رحمه الله وایي چې دا خبره د ابوالزبیر رحمه الله نه سبوا بل چا نه ده ویلې، دا حدیث یو ډېر لویې ډلې روایت کړی دی، مګر دا خبره څوک هم نه نقل کوي[۳]، ځینو محدثینو ویلي چې ابوالزبیر رحمه الله ددېنه زیات څه بل منکر روایت نه دی نقل کړی، اوس که چېرته ابوالزبیر رحمه الله مدلس هم نه وي، صرف صحیحینو وغیره کې حدیث ابن عمر رضی الله عنهما د راویانو روایت دده خلاف وي؛ نو بیا به هم دده روایت منکر شمارل کېدو، زیاتي لا دا چې هغه مشهور مدلس دی.

پاتې شو هغه روایت چې هغه ابن حزم رحمه الله په طریقې د محمدبن عبدالسلام الخشنی رحمه الله (د شوکاني په رساله کې خپله د هغه په قلم ددې راوي نسبت "الخشني" په ځای الحبي لیکلی

۱]سنن أبی داؤد، کتاب الطلاق، باب فی طلاق السُّنَّة ج: ۱ص: ۲۹۷ طبع ایچ ایم سعید.)_

۲]صحیح البخاری، کتاب الطلاق، باب اذا طلق الحائض ج: ۲ص: ۲۹۰، صحیح مسلم ج:۱ص:۴۷۶)

۳]فتح المالک بتبویب التمهید لا بن عبدالبر علی مؤطا مالک، کتاب الطلاق، باب الاقراء.......وطلاق الحائض، رقم الحدیث: ۵۲۴، حدیث سابع وأربعون لنافع عن ابن عمر ج: ۷ ص: ۳۲۰ طبع دار الکتب العلمیة، بیروت)_

دی، دد ښه په علم رجال کې د شوکاني مبلغ علم معلوم کیدی شي، عن محمد بن بشار عن عبد الوهاب الثقفي عن عبید الله عن نافع عن ابن عمر رضي الله عنهما نقل کړی دی چې ابن عمر رضي الله عنهما د هغه سړي په باره کې چې هغه خپلې ښځې ته د هغې د حیض په حالت کې طلاق ورکړی وي فرمایلي چې دا به نه شمارل کیږي[1]، ابن حجر رحمه الله تخریج رافعي کې فرمایي چې، ددې مطلب دا دی چې هغه د سنتو خلاف وکړ، دا مطلب نه دی چې هغه به طلاق نه شمارل کیږي[2]. علاوه ددې نه چې دغه ټولګی اګرکه صحیح راویانو کې دی. لیکن دی په هغه خلکو کې دی چې د چا روایتونو چاڼ کیږي، مطلقاً نه قبلیږي: نو ځکه چې هغه د حدیثو په غلا او کذب وغیره سره متهم دی او ډیرو ناقدینو په دې کې کلام کړی دی، د ځینو اصحاب صحاح په نزد دده عدالت راجح ثابت شو؛ نو ځکه هغوی صرف دده هغه احادیث روایت کړي چې د نکارت نه سالم وو. امام بخاري رحمه الله دده نه په کثرت سره روایت کوي مګر هغوی هم دده دغه حدیث نه دی اخیستلی، الخشني رحمه الله اګر که ثقه دی، مګر د احادیثو په چاڼ کولو کې د امام بخاري رحمه الله په شان نه دی.

اودا دعوه بې حده د خندا خبره ده چې د مسند احمد روایت چې د ابن لهیعة عن ابی الزبیر عن جابر په سند سره مروي وي هغه د ابوالزبیر د روایت مؤید دی؛ نو ځکه مسند احمد متفرد راویانو باندې مشتمل کېدلو په بنا د اهل نقد په نزد په هغه کتابونو د حدیثو کې نه دی چې په هغې کې صرف د صحیح احادیثو درج کولو التزام شوی دی، ابن حجر رحمه الله ددې روایت دایره پراخولو نه مخکې چې د هغې دفاع کړې ده هغه صرف ددې مقصد لپاره چې دد ښه د موضوعي احادیثو نفي وشي، خواه ددې روایت د کوم بل راوي خلاف نه وي، څنګه چې حافظ ابو سعید العلائي په جامع التحصیل کې ذکر کړي دي او یاد روایت په طریقې د لیث نه دی او مسند احمد داسې غټ کتاب ددې خبرې څخه نه محفوظ کیږي دده د متفردو راویانو د ضبط کموالي په بنا د عنعنه په ځای سماع او تحدیث لره ذکرکړی دی، په داسې صورت کې ددې قسم روایت صحت د هغه خلکو په نزد څنګه ثابتېدی شي چې د روایت د چاڼ کولو د فن نه خبر وي.

او که چېرته د روایت صحت فرض کړی شي؛ نو بیا هم دې ته په حالت د حیض کې د ورکړل شوي طلاق عدم وقوع لپاره مؤید منل ممکن نه دي، څنګه زمونږ صرف په نوم مجتهد ګڼلی دی، ځکه چې ددې روایت الفاظ دا دي: **"لیراجعها فانها امراته،،**

۱`هغه دي دې ته رجوع وکړي ځکه چې هغه دده ښځه ده.

---

[1] المحلی لا بن حزم، کتاب الطلاق، رقم المسئلة: ۱۹۴۹ ج: ۱۰ ص: ۱۶۳ طبع دارا لآفاق الجدیدة۔

[2] تلخیص الحبیر فی تخریج احادیث الرافعی الکبیر لا بن حجر العسقلانی، کتاب الطلاق ج:۳ ص: ۲۰۶ حدیث نمبر: ۱۵۹۲ باب نمبر:۴۸ طبع المکتبة الأثریة پاکستان۔

دا لفظ په حالت د حیض کې د طلاق د وقوع او د عدت تر ختمېدلو پورې د زوجیت د باقي پاتې کېدلو دلیل دی، څنګه چې جمهور فقهاء ددې قائل دي. ځکه چې مراجعت صرف د طلاق رجعي نه پس وي او دا ارشاد نبوي چې: هغه دده ښځه ده، ددې دواړو په منځ کې د تعلق زوجیت د بقا تصریح ده، بلکې دا روایت، د دویم روایت د اجمال تفسیر کوي چې هیڅ شی نه دی، مراد دا دی چې طلاق په حالت د حیض کې داسې شی نه دی چې هغې سره بینونت (جداوالی) راشي، تر څو پورې چې عدت باقي وي، ددې تفسیر نه پس د ابوالزبیر روایت هم د نورو راویانو د روایت موافق کیږي.

او کوم روایت چې ابن حزم رحمه الله بطریق **همام بن یحیی عن قتادة عن خلاس عن عمرو** ذکر کړی دی چې هغه د داسې سړي په باره کې خپلې ښځې ته د هغې حیض په حالت کې طلاق ورکړي، فرمایلي دي چې هغه به په هیڅ نه ګڼل کیږي.[1]

په دې باندې خو لومړی اعتراض دا دی چې د همام په حافظه کې زیان ؤ.

علاوه ددېنه د هغه په مفهوم کې دوه احتماله دي، یو دا دی چې دا به داسې نه ګڼل کیږي چې هغه د سنتو موافق طلاق ورکړی دی، څنګه چې د بعضو په نزد د طلاق جمع کول خلاف سنت نه دي، دویم احتمال دا دی چې دا به طلاق نه ګڼل کیږي، مګر صحابه وو رضی الله عنهم کې چې کومه اجماع وه هغه د لومړني احتمال مؤید ده او اخلاص په هغه خلکو کې نه دی چې په مسئلو کې شذوذ سره شهرت لري او د ابن عبدالبر رایه دا ده چې داسې قسمه ضمیرونه هغه حیض طرفته راجع وي چې په کوم کې یې طلاق ورکړی دی، مطلب دا دی چې دا حیض به د ښځې په عدت کې نه شمارل کیږي.

د رسالې لیکوال د ابوالزبیر "منکر" روایت د تائید لپاره د جامع ابن وهب لاندې روایت چې د حضرت عمر رضی الله عنه نه مروي دی پېش کړ چې حضور صلی الله علیه وسلم د ابن عمر رضی الله عنهما په باره کې وفرمایل: ده ته ووایه چې هغه دې ته رجوع وکړي، بیا دې هغه ایساره کړي، تردې چې هغه پاکه شي، بیا هغې ته حیض راشي بیا پاکه شي، اوس ددې نه پس که چېرته غواړي؛ نو هغه دې ایساره کړي او که غواړي نو د کوروالي نه مخکې دې هغې ته طلاق ورکړي، دا هغه طریقه ده چې الله تعالی ښځې ته د طلاق ورکولو حکم فرمایلی دی او دا به یو طلاق وي.

دا د لیکوال فکري اختلال دی او د اور نه بچ کېدو سره په ګرمو ډېرو کې د پناه اخیستلو کوشش کوي، په دې حدیث کې د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: "وهي واحدة" (او دا یو طلاق شو) په دې بحث کې صریح نص دی چې په دې سره د جمهورو په دلایلو کې د زیاتي یو بل دلیل زیاتونه ده، ابن حزم رحمه الله او ابن قیم رحمه الله ددې نه ځان خلاصولو لپاره زیات نه زیات کوشش

---

[1] همام بن يحيى عن قتادة عن خلاس عن عمرو أنه قال في الرجل يطلق امرأته وهي حائض قال: لا يعتدها (المحلى لا بن حزم، كتاب الطلاق ج: ١٠ ص: ١٦٣ رقم المسئلة: ١٩٤٩، طبع دارالآفاق الجديدة، بيروت)

کړې دی هغه دا چې په دې کې " مدرج" کېدلو احتمال دی. حال دا چې دا دعوه بې دلیله ده.
لیکن زمونږ د ځان جوړ شوي مجتهدین ددې ارشاد نبوي نه ځان خلاصلولو لپاره یوه نوې
طریقه جوړوي چې ددېنه د هغوی په خیال کې د حدیث مفهوم سرچپه کولو سره د دوی دلیل
جوړیږي او هغه دا چې "و هي واحدة" ضمیر د نزدې والي په مناسبت هغه طلاق ته راجع کړی
شي چې د "وان شاء طلق" سره فهم کیږي. (مطلب دا چې په حیض کې چې کوم طلاق ورکول
شي د هغې نه دې رجوع وکړي، دا حیض تېر شي. بیا ددېنه پس دویم حیض تېر شي. اوس
چې کوم طلاق ورکول شي د هغې په باره کې یې فرمایلي دي چې هغه به یو وي)
فرض کړئ! ضمیر هم دېته راجع دی، ددې نه قطع نظر په دې صورت کې چې دا جمله د فایدې
نه به خالي وی او ددېنه هم قطع نظر چې د کوم طلاق په باره کې حضور ﷺ هدایت ورکولو
ددې نه د کلام اوږېدل لازم راځي، لیکن سوال دی چې ددې نه د ابوالزبیر د روایت څه ادنی
تائید دکوم ځای نه راوځي؟ زیات نه زیات ددې حدیث نه چې کومه خبره وځي هغه دا ده چې
ابن عمر رضی الله عنهما خپلې ښځې ته په حالت د حیض کې طلاق ورکړ، حضور ﷺ هغه ته د حضرت
عمر رضی الله عنه زباني حکم ورکړ چې دې ته رجوع وکړه، آینده به ده ته اختیار وي، خواه که دا
ایساروي یا طلاق ورکوي او دا طلاق چې د هغې وقوع او عدم وقوع لاتر اوسه معلوم نه ده یو
به شمار وي.
اوس دا طلاق چې د هغې وقوع په خارج کې لاتراوسه معلومه نه ده ددې په باره کې څوک وایي
چې هغه به درې وي چې کله هغه په خارج کې واقع شي او متحقق شي؛ نو قطعاً هم یو به وي.
لیکن ددې یو کېدل ددې منافي دي چې ددې نه مخکې هم په ښځه باندې حقیقتاً طلاق واقع
شوی دی، څنګه چې د حدیث لفظ "دې ته رجوع وکړه" نه دا چې خپله معلومیږي.
غالباً محترم لیکوال په وسعت علوم، خصوصاً په خالص عربي لغت کې دې مقام ته رسېدلی
دی چې نه خو هغه ته د اهل علمو نه د زده کړې ضرورت شته او نه د هغوی د مصادرو د تلاش
کولو حاجت شته، تردې پورې چې دده په نزد چې کومه واقعه شوې ده او کوم شی چې د هغې
وقوع محض فرض کړی شي، دا دواړه په یو صف کې ولاړ دي، دا صرف هم د موصوف پوښتنه
ده چې چاته عدد وایي هغه کله د ذات په اعتبار سره عدد وي، کله د مرتبې په اعتبار سره او
کله د هغې د آینده عدد جوړېدلو په اعتبار سره، حال دا چې دا صرف عجمي اعتبارات دي
چې په عربیت کې داخل شوي دي؛ نو ځکه ددې پرېښودل واجب دي.
اوس که چېرته "و هي واحدة" کې ضمیر د طلاق مفروض طرفته راجع وي؛ نو ددې جملې معنی
به دا وي چې دا لومړی طلاق دی، پس دې سره به د ابن حزم رحمه الله، ابن قیم رحمه الله د جمهورو
خلاف حجت ثابت شي؟ آیا ددې قسم له ځانه جوړ شوي مجتهدینو ته دا مشوره ورکول به
مناسبه نه وي چې تراوسه تاسو بچي یئ! او یو طرفته شئ داسې نه چې چېرته په رش کې د
خلکو تر پښو لاندې راشئ !!!

او ابن عمر رضي الله عنهما خپلې ښځې ته د حیض په حالت کې صرف یو طلاق ورکړی ؤ. څنګه چې د لیث په روایت کې دي، همداراز د ابن سیرین په روایت کې دي. چې په هغې باندې لیکوال خپله اعتماد کوي او دا خبره احمقانه ګرځوي چې د بعضې خلکو نه د شل کالو نه اورې او هغه یې صحیح ګڼله چې ابن عمر رضي الله عنهما په دې حالت کې درې طلاق ورکړي وو. امام مسلم رحمه الله د لیث او ابن سیرین د دواړو روایاتو نه په خپل صحیح کې تخریج کړی دی.[1]

علاوه ددېنه چې طلاق د حیض حالت کې باطل ګرځولو معنی به دا وي چې طلاق د ښځې په لاس کې ورکول شي، ځکه چې د حیض او د طهر علم هم د ښځې له طرفه کیدی شي، پس کله چې چا خپلې ښځې ته طلاق ورکړ او ښځې وویل چې هغه خو د حیض په حالت کې وه: نو سړی به باربار طلاق ورکوي تردې پورې چې هغه اعتراف وکړي چې طلاق په طهر کې شوی دی، یا سړی سترې کېدلو سره خپل ماته ومني او غیر شرعي طور باندې هغه په کور کې اوسي، حال دا چې هغې ته علم دی چې هغه درې طهرونو کې جدا جدا درې طلاقه راکړي دي او ددېنه چې کوم مفاسد لازمیږي هغه په کوم پوه سړی باندې پټ نه دي، په دې بحث کې د لیکوال له ځانه جوړ شوي نظریاتو د تردید لپاره غالباً هم دومره بیان کافي دی.

(٤) په یو لفظ سره د درې طلاقو حکم

لیکوال لیکي:

د عامو خلکو خیال دی او هم دغه خبره د هغو جمهورو د اقوالو نه فهمیږي چې کومو ددې بحث نه تعرض کړی دی چې د دریو طلاقو نه مراد دا دی چې څوک خپلې ښځې ته ووایي چې تاته، طلاق، هغوی ګڼي چې د متقدمینو په منځ کې د دریو طلاقو وقوع یا عدم وقوع کې کوم اختلاف وو هغه هم په دې لفظ کې یا ددې هم معنی الفاظو کې وو، بلکې دا خلک ټول احادیث او اخبار چې په هغې کې د دریو طلاقو ذکر راغلی دی، هم په دې باندې حمل کوي، حال دا چې دا محض غلط او عربي وضع بدلول او د لفظ صحیح او قابل فهم استعمال په ځای یو باطل او ناقابل فهم استعمال طرف ته ګرځول دي، بیا دا خلک یو قدم نور مخکې لاړل او هغوی د لفظ "البتة" سره درې طلاقه واقع کړي چې کله طلاق ورکونکی د دریو نیت کړی وي، حال دا چې "تاته درې طلاقه" لفظ محال دی، نه دا صرف د الفاظو لوبه ده، بلکې د عقولو او افکارو سره لوبې دي، دا خبره قطعاً غیر معقول ده چې په لفظ واحد درې طلاقه ورکولو مسئله د ائمه تابعینو او د دوی نه وروسته خلکو په منځ کې محل اختلاف وه، حال دا چې صحابه وو دا پیژندله هم نه او په هغوی کې یو هم دا مسئله په خلکو نافذه نه کړه، ځکه چې هغوی اهل لغت وو او د فطرت سلیمه په بنا په لغت کې محققین وو، هغوی صرف داسې درې

---

[1] الصحیح لمسلم، باب تحریم طلاق الحائض بغیر رضاها ج: ۱ص:٤٧٦، ٤٧٧، طبع قدیمی کراچی).

طلاقه نافذ وګرځول چې تکرار سره وو او دا خبره ماته شل کاله مخکې معلومه شوه او ما په دې کې تحقیق وکړ او اوس زه په دې کې خپل ټولو هغو خلکو سره چې اختلاف لري اختلاف کوم او دا ثابتوم چې د کوم سړي "تاته درې طلاقه، په شان الفاظو سره صرف یو طلاق واقع کیږي، د الفاظو په معنی باندې د دلالت په اعتبار سره هم او بداهت عقل په اعتبار سره هم او په دې فقره کې، درې، لفظ په انشاء او ایقاع کې عقلاً محال او د لغت په لحاظ سره باطل دې، نو ځکه دا محض لغو دې، په کومه جمله کې چې دا الفاظ وي په هغې کې په کوم شي باندې دلالت نه کوي او زه دا هم ثابتوم چې د تابعینو او د دوی نه وروسته خلکو د درې طلاقو په مسئله کې چې کوم اختلاف دی هغه صرف په دې صورت کې دی چې کله درې طلاقه پرلپسې ورکول شوي وي او عقود معنوي حقائق دي چې د هغې په خارج کې هیڅ وجود نشته، سېوا ددېنه چې دا د الفاظو په ذریعې سره وجود ته راولي، پس "تاته طلاق" لفظ سره حقیقت معنوي په وجود کې راځي او هغه دی طلاق، او کله چې دې لفظ سره طلاق واقع شي؛ نو د دې نه پس د درې لفظ ویل محض لغْو دي، څنګه چې ما خرڅ کړو، نه پس څوک د بیع د ایجاد او انشاء په قصد سره د دریو لفظ ووايي؛ نو دا به محض لغو وي او دا چې مونږ څه ویلي دي دا بالکل بدیهي دي، یو داسې سړي چې په معنی کې یې د غور، فکر، تحقیق او تدقیق نه کار اخیستلی وي په شرط د انصاف په دې کې ولې او څنګه نه شي ویلی. (از ص ۴۴ تا ۴۹ متفرقاً)

دا هغه نکته ده چې لیکوال د درې طلاقو په باره کې خپله رساله کې بعضې ځایونه لیکلي. که چېرته تاسو دا ټولې خبرې د دلیل او حجت د مطالبې نه بغیر قبول نه کړئ؛ نو د لیکوال په نظر کې به غیرمنصف وګوځول شئ! د فقه او اسلام د خوار حالئ ماتم وکړئ، چې د دین په معامله کې برخود غلط (خپل متعلق غلط رایه قائمولو والا) داسې بهادری سره خبره کوي اوهغه هم په داسې پاکیزه ملک کې چې د عالم اسلام قبله یې علم ده، ددې باوجود ددې تنبیه نه شي ورکولی.

لیکوال د درې طلاقو په مسئله کې د صحابه وو او تابعینو په منځ کې د اختلاف تخیل پیش کوي، حال دا چې دده دې ځانته خیال نه سېوا ددې اختلاف هیڅ وجود نشته اونه "تاته درې طلاقه" لفظ سره طلاق ورکول د صحابه او تابعینو لپاره څه غیر معروف شی وو، بلکې دا خو صحابه وو هم پیژندو او تابعینو هم او عربو هم او که چېرته جاهل وي؛ نو زمونږ دا ځان نه جوړ شوي مجتهدین او د دوی دا وینا چې دا نکته هغه ته شل کاله مخکې معلومه شوې وه، وايي چې عقلي اختلال د پیدایش نه ده سره وو، په دې سلسله کې خبر او انشاء او طلبي او غیر طلبي په منځ کې چا هم فرق نه دی کړی، بلکې فقهاء امت. تاته درې طلاقه، لفظ لره بینونت کبری کې نص شمارلی دی، په خلاف د لفظ "البتة" چې ددې په باره کې د عمربن عبدالعزیز رحمه الله قول مشهور دی (چې دې سره درې طلاقه واقع کیږي، څنګه چې مخکې راغي) او فقهاء "البته" دغسې الفاظو کې چې ویلي دي، که چېرته په دې سره د درې طلاقو نیت کړی وي؛ نو

درې طلاقه واقع کیږي، هغه هم ددې خبرې دلیل دی چې درې طلاقه په یو وخت کې واقع کېدی شي

زمونږ د قول په ظاهري دلایلو کې یو هغه حدیث دی چې هغه بیهقي په سنن کې او طبراني وغیره په روایت د ابراهیم بن عبدالاعلی سوید بن غفله نه تخریج کړی دی، هغه فرمایي چې عائشه بنت فضل د حضرت حسن بن علی رضی الله عنهما په نکاح کې وه، کله چې دده سره بیعت خلافت وشو؛ نو د هغه بي بي ده ته مبارکي ورکړه، حضرت حسن رضی الله عنه وفرمایل، ته د امیرالمومنین (علی بن ابی طالب رضی الله عنه) په قتل باندې خوشحاله شوې؟ تاته درې طلاقه، او هغې ته یې د لسو زرو عطیه (متعه) ورکولو سره فارغه کړه، ددې نه پس یې وفرمایل که چېرته ما د خپل نیکه (رسول الله ﷺ) نه دا خبره نه وی اوریدلی، یایې دا وفرمایل که چېرته ما د خپل والد صاحب نه د خپل نیکه دا حدیث نه وی اورېدلی چې رسول الله ﷺ وفرمایل کله چې سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي، خواه که په جدا جدا طهرونو کې یې ورکړی وي یا یې درې طلاقه مبهم ورکړي وي؛ نو هغه ښځه دده لپاره حلاله نه پاتې کیږي تر دې چې هغه دویم ځای نکاح وکړي؛ نو ما به دې ته رجوع کړې وه[۱]، حافظ ابن رجب حنبلي په خپل کتاب، **بیان مشکل الاحادیث الواردة فی ان الطلاق الثلاث واحدة**، کې وروسته له دې چې دا حدیث یې په سند سره نقل کړی دی چې ددې سند صحیح دی.

حضرت عمر رضی الله عنه چې ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته کوم خط لیکلی وو په هغې کې یې دا هم لیکلي وو چې کوم سړي خپلې ښځې ته وویل: "تاته درې طلاقه" نو دا به هم درې شمار وي، دا ابونعیم روایت کړی دی.

امام محمدبن حسن، کتاب الاثار، کې په خپل سند سره د حضرت ابراهیم بن یزید نخعي نه روایت کوي چې هغوی ددې سړي په باره کې چې یو طلاق ورکولو سره د درې او درې طلاقه ورکولو سره د یو طلاق نیت وکړي، فرمایلي یې دي که چېرته هغه یو طلاق ووایي؛ نو یو به وي او دده د نیت هیڅ اعتبار نشته او که چېرته یې درې طلاقه ویلي وي؛ نو درې به واقع

۱]عن ابراهیم بن عبدالأعلی عن سوید بن غفلة قال: کانت عائشة الخثعمیة عند الحسن ابن علی، فلما قتل علی رضی الله عنه قالت: لتهنئک الخلافة! قال: بقتل علی تظهر ین الشماتة، اذ هی فانت طالق یعنی ثلا ثًا، قال: فتلفعت بثیابها وقعدت حتّٰی قضت عدّتها فبعث الیها ببقیة بقیت لها من صداقها وعشرةَ آلاف صدقة فلما جاء ها الرسول قالت: "متاع قلیل من حبیب مفارقَ" فلما بلغه قولها بکی ثم قال: لو لا انی سمعت جدّی أو حدثنی أبی أنه سمع جدّی یقول: أیمار جل طلق امرأته ثلا ثًا عند الاقراء أوثلا ثا ،مبهمة لم تحل له حتّٰی تنکح زوجًا غیره، لراجعتها. (السنن الکبريٰ للبیهقی، کتاب الخلع والطلاق، باب ما جاء فی امضاء الطلاق الثلاث وان کن مجموعات ج: ۷ ص: ۳۳۶، طبع دارالمعرفة بیروت). أیضًا: اعلاء السُنن، کتاب الطلاق، تتمة الرسالة: ان الطلاق الثلاث....الخ ج: ۱۱ ص: ۷۰٤، طبع ادارة القرآن کراچی)۔

وي او دده د نيت اعتبار نشته، امام محمد رحمه الله فرمايي موږ دا قول اخلو او هم دا د ابوحنيفه قول دی.[1]

حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله وفرمايل څنګه چې په مؤطا کې دي. چې طلاق زر خله وي؛ نوبيا هم د "البته" لفظ په دې کې هيڅ نه پرېښوده. چا چې البته طلاق ورکړو هغه په آخري نشانه باندې غشی وغورځولو[2]، دا دده رايه د "البته" لفظ په باره کې ده. لاپاتې شو د درې طلاقو لفظ وي.

امام شافعي رحمه الله په کتاب الأم (ټوک: ۵ مخ: ۲۴۷) کې فرمايي چې که چا د بلې کومې ښځې ته راتلو سره وويل، تاته درې طلاقه. او بيا خپلو ښځو کې د کومې ښځې په باره کې يې وويل چې دا مراد وه؛ نو هم به په دې باندې طلاق واقع کيږي[3]

عربي شاعر وايي: وام عمرو طالق ثلاثا (ام عمرو ته درې طلاقه) دا شاعر د خپل حريف سره مقابله کوله، هغه ته د شعر بله قافيه ملاو نه شوه؛ نو هغه خپلې ښځې ته طلاق ورکولو وخت کې هم دا مصرعه وتړله:

يو بل عربي شاعر وايي:

و انت طلاق و الطلاق عزيمة ثلاث ومن يخرق اعق واظلم

فبيني بها ان كنت غير رفيقة وما لامرئ بعد الثلاث تندم

ژباړه: تاته درې طلاقه، او طلاق څه د خندا مذاق خبره نه ده او څوک چې موافقت نه کوي هغه د ډېرلو نه زيات ظالم او قطع تعلق کاټ کولو والا دی، لهذا که چېرته ته رفاقت نه غواړې؛ نو درې طلاقه اخيستلو سره جدا شه او د درې نه پس ته د سړي لپاره د اظهار ندامت موقع هم باقي نه پاتې کيږي.

امام محمد بن حسن رحمه الله نه امام کسائي ددې شعر مطلب او حکم پوښتنه وکړه، امام محمد بن حسن رحمه الله چې کوم جواب ورکړ امام کسائی هغه بې حده خوښ کړ، څنګه چې د شمس

---

[1] عن ابراهيم فى الذى يطلق واحدة وهع ينوى ثلاثًا وهوينوى واحدة قال: ان تكلم بواحدة، وليست نيته بشيئ، وان تكل بثلاث كانت ثلاثًا، وليست نيته بشيئ، قال محمد: وبهٰذا كله نأخذ وهو قول أبى حنيفة رحمه الله تعالى. (كتاب الآثار ص: ۲۷۷، رقم الحديث: ٤٨٧، كتاب الطلاق، باب من طلق ثلاثًا أوطلق واحدة)۔

[2] فقال عمر بن عبدالعزيز**سوال:** لو كان الطلاق ألفًا ما أبقت البتة منه شيئًا من قال البتة فقد رمى الغاية القصوى. (مؤطا امام مالک، كتاب الطلاق، باب ،ما جاء ألبتة ص: ۵۱۱ طبع مير محمد)۔

[3] (قال الشافعي) ولو أرى امراة من نسائه مطلعة، فقال: أنت طالق ثلا ثًا وقد اثبت أنها من نسائه ....فاذا قال لواحدة منهم هى هٰذه وقع عليها الطلاق. (كتاب الأُمّ للامام الشافعي، كتب الطلاق، باب الشک واليقين فى الطلاق ج :۵ ص: ۲۸۱ طبع دار الفكر، بيروت)۔

الائمه سرخسي رحمه الله په المبسوط کې دی[۱]، او نحویانو ددې شعر په وجوه اعراب کې اوږد کلام کړی دی،

د کوم لالچي (ماده پرست) دا مقدور نه ده چې هغه د ائمه نحوې عربیت کوم امام نه څه داسې خبره نقل کړي چې د درې طلاقو په لفظ واحد ورکولو سره منافي وي. د سیبویه، الکتاب، د ابوعلي فارسي، ایضاح، د ابن جني، خصائص، د ابن یعیش، شرح مفصل، او د ابوحیان، ارتشاف، وغیره امهات کتابونه واخلئ او څومره چې غواړې وې ګورئ. مګر تاسو ته به یو لفظ هم زمونږ د دعوې خلاف ملاو نه شي، اې د ځان نه جوړ شوو مجتهدینو! تاسو دا دعوه څنګه کوئ چې درې طلاقه په لفظ واحد سره نه صحابه پیژندلو او نه تابعینو. نه فقهاوو، نه عربو، د هغوی دلته د درې طلاقو ورکولو کوم صورت ددې نه سهوا نشته چې د طلاقو لفظ درې ځله تکرار کړی، دا ټول په صحابه وو، تابعینو، تبع تابعینو. فقهاء دین، عرب او علوم عربیه باندې دروغ دي، تاسو ګورئ چې هغه د حضور ﷺ لمسي حضرت حسن رضي الله عنه چې صحابي دی هغه هم پیژندلو، دده والد او نیکه هم پیژندلو.

حضرت عمر رضي الله عنه او ابوموسی رضي الله عنه پیژندلو، ابراهیم نخعي پېژندلو چې د هغه په باره کې امام شعبي رحمه الله فرمایي: ابراهیم د خپل ځان نه پس د خپل ځان نه لوی عالم پرې نښود، نه حسن بصري رحمه الله، نه ابن سیرین رحمه الله، نه اهل بصره کې، نه اهل کوفه کې او نه اهل حجاز او شام کې او د چا په باره کې چې ابن عبدالبر رحمه الله په التمهید کې د هغه د مرسل احادیثو د حجت کېدلو ذکر کولو وخت کې چې څه یې لیکلي دي هغه قابل د کتو دي.[۲]

او دا حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله، امام ابوحنیفه هم پېژندلو، هغه امام چې ځانته د علومو عربیه وو په غیره کې آباد وو، هغه امام محمد بن حسن رحمه الله پیژندلو چې د هغه په باره کې موافق و مخالف متفق اللفظ دي چې هغه په عربیت کې حجت وو، امام شافعي رحمه الله پیژندلو، هغه امام قرشي چې د ائمه په منځ کې ځانله وو، ددې دواړو نه مخکې عالم دار الهجرت امام مالک رحمه الله هم ده پیژندلو، ددې بیان نه پس به آیا د لیکوال تندی په پښېمانتیا سره خوله شي؟ او دده په یقین به څه تبدیلي واقع شي؟

۱]وذكر ابن سماعة رحمه الله تعالى أن الكسائى رحمه الله تعالى بعث الى محمد رحمه الله تعالى بفتويٰ فدفعها الى فقر أنها عليه ما قول القاضى الامام فيمن يقول لامرأته ....كم يقع عليها، فكتب فى جوابه: ان قال ثلاث مرفوعا تقع واحدة، وان قال ثلاث منصو با يقع ثلاث لأنه اذا ذكره مرفوعاكان ابتداء فيبقى قوله أنت طالق فتقع واحدة وان قال ثلاث منصوب على معنى البدل أو على التفسير يقع به ثلاث.(المبسوط للسرخسي، كتاب الطلاق، باب ما تقع به الفرقة مما يشبه الطلاق ج:۶ ص:۷۷ طبع دار المعرفة: بيروت)۔

۲] التمهيد لابن عبدالبر، كتاب الطلاق، باب الاقراء وعدة الطلاق وطلاق الحائض ج:۷ ص:۳۱۸ رقم الحديث:۵۲۴، حديث سابع واربعون لنافع عن ابن عمر، طبع دار الكتب العلمية، بيروت)۔

او په انشاء کې عدد لره لغو کول شاید یو خوب وي چې لیکوال وکتلو او هغه په دې باندې د احکامو بنیاد کېښود او د عدد د لغو ګرځولو خبره مؤلف ته د تجربه کار اصولیینو یوې ډلې ددې قول نه فهم کړې ده چې د عدد مفهوم نه وي او دد‌ېنه به لیکوال دا ګڼلي وي چې د کوم مفهوم نه وي هغه لغو وي؛ نو دا یو داسې انکشاف دی چې په هغې کې څوک د موصوف مقابله نه شي کولی، د داسې قسم فهم نه د الله تعالی پناه غوښتل پکار دي.

هبه کوونکی، عاریت ورکوونکی، طلاق ورکوونکی، بیع کوونکی او آزاد کوونکی دا ټول خلک په انشاء کې څومره عدد غواړي واقع کولی شي، مثلاً هبه والا وایي چې ما دا غلام فلانکي سړي ته هبه کړو؛ نو دا هبه به په ټولو غلامانو واقع کیږي، طلاق ورکولو والا خپلو څلورو ښځو وایي، تاته طلاق، نو په هغوی کې به په هر یوې باندې طلاق واقع کیږي. څنګه چې حضرت مغیره بن شعبه رضي الله عنه کړي وو، بائع یا عاریت ورکوونکی یا غلام لره آزادوونکی وایي چې ما دا کور خرڅ کړو "مادا کور په عاریت باندې ورکړو" ما دا غلامان آزاد کړه. په دې کې د هر یو لپاره لفظ واحد کافي دی، د تکرار د لفظ حاجت نشته، ښکاره خبره ده چې هغه مصدر چې هغې لره انشاء افعال متضمن دی که چېرته مونږ د مفعول مطلق په ذریعې سره ددې افاده کول غوښتل؛ نو داسې عدد به یې ذکر کولو چې د غلامانو د ښځو او د کورونو د تعداد مطابق وای، مګر دې مثالونو کې د مفعول ذکر کولو نه پس د مفعول مطلق عددي ذکر کولو حاجت پاتې نه شو او د سړي د خپلې ښځې د درې طلاقو مالک کېدل ده ته صرف د شرع نه حاصل شوی دی، د کوم خاص لغت سره ددې هیڅ علاقه نشته، بلکې ټول لغات په دې کې برابر دي، لهذا د رسالې د لیکوال دا ویل چې د انت طالق ثلاثا، لفظ سره طلاق ورکول د لغت له مخې باطل دي او کوم خلک چې دې لفظ سره وایي دا د هغوی په کلام کې محض د عجمیت له وجې داخل شوی دی، دا یو بې معنی او بې مقصده خبره ده، دا خبره په هغه صورت کې بامعنی کېدلی شوه، که چېرته د مسلمانانو د شرع خلاف د عجمیانو په شرع کې سړي خپلې ښځې ته د درې طلاقو ورکولو اجازه وای، حال دا چې د مسلمانانو شرع سړي ته د درې طلاقو اختیار ورکړی دی، خواه که په یو وخت کې یې ورکوي او که په جدا جدا وختونو کې، زمونږ بحث د شرع اسلام نه سېوا کوم په بل شریعت نه دی، نه د مسلمانانو ورونو د طلاق نه سېوا د کوم بل مذهب او ملت خلکو د طلاق په باره کې خبره ده، خواه که هغه د هر رکن نه وي.

مسلمان چې کله خپلې ښځې ته طلاق ورکول غواړي؛ نو یا خو خلاف سنت درې طلاقه په لفظ واحد په طهر کې یا حیض کې ورکړي، یا د سنتو مطابق درې طلاقه درې جدا جدا طهرونو کې ورکړي، طلاق خواه که کوم لغت کې وي، عربی کې وي، یا فارسی کې وي، یا حبشی وي، ددې لغاتو په منځ کې هیڅ فرق نشته، بهر حال کله چې سړی طلاق ورکول غواړي؛ نو لومړی به د یو یا د دوه طلاقو اراده کوي، بیا به داسې لفظ ذکر کوي چې دده مراد ادا کړي،

لهذا هم هغه طلاق به واقع شي چې د کوم ده اراده کړې وه، خواه که د يو، خواه که د دوه، خواه که د دريو، پس د انشاء لفظ دده د ارادې مطابق وشو.

او په انشاء کې د عدد د لغو کېدلو دعوه په هغه دعوو کې دي چې د هغې اولاد بې نسبه دی، ځکه چې مخکې واضحه شوې ده چې کله ضرورت راشي: نو مفعول مطلق عددي لره د فعل نه پس ذکر کېدی شي او په دې کې د خبر، انشاء او د طلبي او غيرطلبي هيڅ فرق نشته، نه د لغت په اعتبار سره، نه د نحو په لحاظ سره، ځکه چې په دې کې اختيار صرف شريعت ته سپارل شوی دی څنګه چې مخکې ذکر شو.

چېرته چې نص موجود وي هلته د قياس اسونه زغلول يو احمقانه حرکت دی، علاوه ددې نه چې تسبيح وتحميد، تهليل و تکبير او تلاوت و لمونځ وغيره عبادات دي چې په دې کې اجر په قدر د مشقت دی او په اقرار د زنا، حلف، لعان او قسامت کې عدد د تاکېد لپاره دی او دا منصوص د تعداد په ادا کولو سره حاصلېدی شي، په خلاف زمونږ په دې مسئله کې چې طلاق خو نه عبادت دی، نه په دې کې عدد د تاکېد لپاره دی چې په دې باندې يا په هغې باندې قياس کړی شي، ګورئ يو عدد هغه وي چې د هغې په اقل باندې اکتفا کېدلی شي (مثلاً طلاق) او يو هغه دی چې په هغې کې په اقل باندې اکتفا نه شي کېدلی (مثلاً اقرار زنا، حلف، لعان او قسامت) اخر اول الذکر لره په مؤخرالذکر باندې څنګه قياس کېدلی شي؟ او د وجې فرق نه باوجود قياس کول نور هم احمقانه خبره ده.

د محمود بن لبيد په حديث کې دي چې يو سړي خپلې ښځې ته په يو وخت کې درې طلاقه ورکړې ؤ، په دې باندې حضور ﷺ سخت غوسه شو[۱]، ددې په باره کې ليکوال ليکي:

"زما غالب ګمان دا دی چې دا هم رکانه ؤ" اې ځوانه! مونږ د غالب ګمان لرې ساته چې هر کله ستا يقين هم سراسر غلط دی نو د غالب ګمان به دې څه حال وي؟ او د محمود بن لبيد حديث هغه وخت چې صحيح ومنل شي، د اهل استنباط په نزد په يوه طريقه هم په عدم وقوع باندې دلالت نه کوي، البته ګناه باندې دلالت کوي او په دې کې هم د امام شافعي رحمه الله او د ابن حزم رحمه الله اختلاف ده، مګر مونږ د ګناه کېدلو او نه کېدلو په بحث کې پرهوتل نه غواړو، بلکې ابوبکر بن عربي روايت نقل کړی دی چې حضور ﷺ په هغه سړي باندې درې طلاقه نافذ کړي وو[۲]، او توسع في الروايات کې د ابن عربي ځخه موجود دی هغه اهل علمو ته معلوم دی او

۱]قال سمعت محمود بن لبيد قال أُخبِرَ رسول الله صلى الله عليه وسلم عن رجل طلق امر أته ثلاث تطليقات جميعًا فقام غضبانًا ثم قال: أيلعب بكتاب الله وانا بين أظهركم؟ حتّٰى قام رجل وقال: يا رسول الله! ألَا أقتله؟ (سنن نسائي ج:۲ ص:۹۹ ا الثلاث المجموعة وما فيه من التغليظ، طبع قديمى كتب خانه)_

۲]القبس فى شرح مؤطا ابن أنس للقاضى أبي بكر بن العربي، كتاب الطلاق، باب ما جاء فى ألبتة ج: ۳ ص:۹۵ طبع دار الكتب العلمية، ايضًا اوجز المسالك، الطلاق، ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

حافظ ابن حجر ته په هر شي کې هر قسم اقوالو نقل کولو عجيبه مينه ده، هغه په يو کتاب کې تحقيق کوي او په دويم کتاب کې کلام لره بې تحقيقه پريږدي او دا دده د کتابونو عيب شمار شوی دی، د محمود بن لبيد په باره کې د هغه د اقوالو اختلاف هم ددې قبيلې څخه دی، تحقيق دا دی چې محمود بن لبيد ته سماع حاصله نه ده، څنګه چې په فتح الباري کې دي[١] او دا کتاب د هغه د خوښې په کتابونو کې دی، په خلاف د اصابه، او اصابه کې يې چې څه ليکلي دي هغه د مسند د بعضې نسخو نقل دی او مسند په هر شي کې محل د اعتماد نه دی، اګر که ابن المذهب او قطعي په څېر حضرات دده په روايت کې منفرد وي.

او د رکانه په درې طلاقو ورکولو کې د ابن اسحاق کوم روايت په مسند کې دی، په دې باندې به بحث مخکې راځي او کله چې سند مخامخ موجود وي؛ نو د ضياء تصحيح څه کار ورکولی شي؟ ضياء خو حديث خنصر په راز هم تصحيح کوي، بعضې سخت خوښې خلک مسند احمد کې چې هر څه دي دا ټول صحيح ګرځوي او مونږ د خصائص مسند په تعليقاتو کې د حافظ ابن طولون نه ددې نظريې غلطي نقل کړې ده، لهذا دا خلک پريږدئ! او د رکانه په حديث باندې آينده بحث کې د خبرو انتظار وکړئ!

او درې طلاقه په لفظ واحد سره واقع کيږي، ددې يو دليل حديث د لعان دی چې د هغې تخريج په صحيح بخاري کې شوی دی، عويمرعجلاني رضی الله عنه په مجلس د لعان کې وويل چې يا رسول الله ﷺ ! که چېرته زه دا خپل ځان سره وساتم؛ نو ګويا ما په دې باندې د دروغو تهمت ولګولو، پس هغه د حضور ﷺ د حکم نه مخکې دې ته درې طلاقه ورکړه[٢]، اوپه کوم روايت کې دا نه دي راغلي چې حضور ﷺ په دې باندې نکير فرمايلی وي، پس دا د درې طلاقو په يو لفظ باندې د واقع کېدلو دليل دی، ځکه چې دا ممکنه نه وه چې خلک د درې طلاقو په لفظ واحد سره واقع کېدلو باندې پوهېدی، نو حضور ﷺ به ددې اصلاح ضرور فرمايله، ددې حديث نه ټول امت هم دا اخلي، (چې درې طلاقه په لفظ واحد سره واقع کيږي) حتی چې ابن حزم هم دا ګڼلي دي، هغه ليکي:

.....بقيه د تيرمخ] باب ما جاء فی البتة ج:١٠ ص:١٨ طبع دولة الامارات العربية المتحدة)_

١]الحديث أخرجه النسائی ورجاله ثقات، لكن محمود بن لبيد ولد فی عهد النبی صلی لله عليه وسلم ولم يثبت له منه سماع.(فتح الباری،كتاب الطلاق،باب من جواز الطلاق الثلاث ج:٩ ص: ٣٦٢ رقم الحديث: ٥٢٦١، طبع لاهور)

٢]كذبت عليها يا رسول الله ان امسكتها، فطلقها ثلاثًا قبل أن يامره رسول الله صلی عليه وسلم. (بخاری، كتاب الطلاق، باب من أجاز طلاق الثلاث ج:٢ص:٧٩١، طبع نور محمد كراچی)_

عویمر رضي الله عنه هغې ښځې ته طلاق ورکړ چې هغه دده ښځه ده، که چېرته درې طلاقه په یو وخت کې واقع کېدلی نه شوه؛ نو حضور ﷺ به ضرور نکیر فرمایلی وو[۱]
او امام بخاري هم ددې حدیث نه هم هغه ګڼلې دي چې ټول امت ګڼلي دي؛ نو ځکه هغه "باب من اجاز طلاق الثلاث" لاندې لومړی هم دا حدیث نقل کړی دی، ددې نه پس حدیث د عسیله او بیا د حضرت عایشې رضي الله عنها حدیث د هغه سړي په باره کې چې درې طلاقه یې ورکړي وو، جواز نه ددې مراد دا دی چې د درې طلاقو په جمع کولو کې ګناه نشته، څنګه چې د امام شافعي رحمه الله او ابن حزم رایه ده، مګر د جمهورو مذهب دا دی چې درې طلاقه په یو وخت کې ورکولو کې ګناه شته، څنګه چې ابن عبدالبر په (الاستذکار) کې په تفصیل سره لیکلي دي[۲]
او مونږ دلته ددې مسئلې د تحقیق په لټه کې نه یو، د امام بخاري مطلب دا نه دی چې درې طلاقه په لفظ واحد واقع کېدلو کې څه اختلاف دی؛ نو ځکه دا مفهوم د امام بخاري رحمه الله د الفاظو خلاف کېدلو نه علاوه د حق خلاف هم دی، ځکه چې درې طلاقه په یو وخت کې واقع کېدل ددې ټولو حضراتو متفق علیه مسئله ده چې د چا قول لائق الاعتبار وي، څنګه چې ابن التین ویلي دي، اختلاف که چېرته نقل شوی دی؛ نو صرف د کومې غلطی له مخې یا داسې سړي نه چې د هغه اختلاف په څه کې نه دی.
ابن حجر رحمه الله نه دلته هیره شوې ده؛ نو ځکه د امام بخاري رحمه الله الفاظو دې مفهوم لره شاملیدل هم تجویز کړي دي، ددې منشاء دا ده چې هغه ابن مغیث په راز خلکو باندې اعتماد کړی دی، حال دا چې د کوم محدث لپاره داسې سړي باندې اعتماد کول صحیح نه دي، تر څو پورې چې د قابل اعتماد راویانو د سند نه اختلاف نقل نه کړی شي، ددې بحث انتظار ددې په موقع باندې وکړئ!
د رسول الله ﷺ نه د فقهاوو صحابه رضي الله عنهم نه، تابعینو نه او وروسته مشرانو نه ډېر احادیث نقل دي، چې په هغې کې ذکر شوي چا چې خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي دي، چا سل طلاقه ورکړي دي، چا یو کم نوي، چا اته، چا د آسمان د ستورو په تعداد وغیره وغیره، دا

---

[۱] عن حدیث التعان عویمر العجلانی مع امرأته وفی آخره انه قال: کذبت علیها یا رسول الله ان أمسکتها، فطلقها ثلاثًا قبل أن یامره رسول الله صلی الله علیه وسلم ثم قال: وأنامع الناس عند رسول الله وسلم. قال أبو محمد:لو کانت الطلاق الثلاث مجموعة معصیة للّه تعالی لما سکت رسول الله صلی الله وسلم عن بیان ذالک فصح یقینا انها سُنَة مباحة. (المحلی، کتاب الطلاق، رقم المسئلة:)۱۹٤۹ ج: ۱۰ص:۱۷۰، طبع دار الآفاق الجدیدة، بیروت)_

[۲] الاستذ کار لا بن عبدالبر، کتاب الطلاق، باب ما جاء فی ألبتة ج:٦ص: ۱۱ رقم الحدیث:۱۱۱۵ طبع دار الکتب العلمیة، بیروت)_

روایات مؤطا امام مالک، مصنف ابن ابي شیبه او سنن بیهقي وغیره کې مروي دي[۱]، دا ټول احادیث ددې مسئلې دلیل دی چې درې طلاقه په لفظ واحد سره واقع کیږي. ځکه چې دا خبره ډیره لرې ده چې په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې یو داسې صحابي موجود وي چې دا نه پیژني: د طلاقو تعداد صرف تر درې پورې دی، تر دې پورې چې هغوی یو بل پسې زرو پورې. سلو پورې، یا یوکم نوي خله پورې طلاق ورکولو کې لاړ شي او په دې اوږده موده کې په فقهاء صحابه وو رضي الله عنهم کې څوک هم دا ونه وایي چې د الله بنده، د طلاقو آخري حد بس صرف درې دی، د صحابه کرامو رضي الله عنهم په باره کې ددې خطا تصور هم محال دی. لهذا دا به تسلیمول وي چې د طلاق ورکولو په وخت کې د طلاق ورکونکو الفاظ وو. یعنې سړی وایي: تاته زر طلاقه، دویم وایي تاته سل طلاقه، دریم وایي تاته یو کم نوي طلاقه، دې ټولو الفاظو سره د طلاق ورکولو مقصد داسې طلاق وي چې په هغې سره بینونت کبری حاصل شي او دا یو داسې ښکاره خبره ده چې په دې کې په یوه طریقه هم د دروغو ګنجائش نشته.

یحیی لیثي د امام مالک نه روایت کوي چې ده ته دا حدیث رسیدلی دی چې یو سړي عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته وویل: ما خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي یی، ددې څه حکم دی؟ وې فرمایل درې طلاقه په دې باندې واقع شوي او اوه نوي طلاقو سره تا د الله تعالی د آیتونو پسې خندا وکړه، التهمید، کې ابن عبدالبر ددې سند ذکر کړی دی.[۲]

ابن حزم هم عبدالرزاق په طریقې، عن سفیان الثوري، سلمه بن کهیل نه روایت کوي چې مونږ ته زید بن وهب دا حدیث بیان کړو چې د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه په خدمت کې یو سړي دا مقدمه پېش کړه چې هغه خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي ؤ، حضرت عمر رضي الله عنه د هغه نه پوښتنه وکړه چې آیا واقعي تا طلاق ورکړی دی؟ هغه وویل چې ما خو خندا کوله، عمر رضي الله عنه په ده باندې دره پورته کړه او وې فرمایل: تاته په دې کې درې کافي وو، سنن بیهقي کې هم د شعبه په طریقې ددې مثل روایت دی.[۳]

۱]مؤطا امام مالک، کتاب الطلاق، فی ألبتة ص:۵۱۰، أیضًا: مصنف ابن أبي شیبة، کتاب الطلاف ف الرجل یطلق امر أته مأة أو الفًاف قول واحد ج:۵ ص:۱۲. سنن الکبریٰ للبهیقی، کتاب الخلع والطلاق باب ما جاء فی امضاء الطلاق الثلاث وان کن مجموعات ج: ۷ ص: ۳۳۳، ۳۳٤ طبع دار المعرفة بیروت، لبنان).

۲] مالک انه بلغه أن رجلاً قال لابن عباس:انی طلقت امر أتی مائة تطلیقة فماذا تریٰ علي؟ فقال له ابن عباس: طلقت منک بثلاث وسبع وتسعون اتخذت بها آیات الله هزوًا. (مؤطا امام مالک، کتاب الطلاق، باب ما جاء فی ألبتة ص:۵۱۰، طبع میر محمد).

۳]ما رویناه من طریق عبدالرزاق عن سفیان الثوری عن سماعة بن کهیل نازید بن وهب انه رفع الی عمر بن الخطاب بر جل طلق امرأته ألفا فقال له عمر رضی الله عنه: اطلقت امرأتک؟ فقال: انما کنت ألعب، فعلاه عمر بالدرة وقال: انما یکفیک من ذالک ثلاث. (المحلی لا بن حزم ج: ۱۰ص:۱۷۲ رقم المسئلة:۱۹٤۹ وما الصحابة رضی الله عنهم).أیضا: سنن الکبریٰ للبیقی، کتاب الخلع...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

همداراز ابن حزم د وکیع په طریقې، عن جعفر بن برقان، معاویه بن ابی یحیی نه روایت کوي چې یو سړی حضرت عثمان رضی الله عنه ته راغلو او وې ویل چې ما خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي دي، وې فرمایل هغه په درې طلاقو ستا نه باینه شوه.[۱]

همداراز د عبدالرزاق په طریقې عن الثوري، عن عمروبن مرة عن سعید بن جبیر روایت کوي چې ابن عباس رضی الله عنهما یو سړي ته چې هغه خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي وو وفرمایل چې درې طلاقه هغه په تاباندې حراموي، باقي طلاقونه به په تا باندې دروغو کې حسابیږي چې په هغې سره تا د الله تعالی د آیتونو سره مذاق جوړ کړو، سنن بیهقي کې هم ددې مثل شته.[۲]

همداراز ابن حزم د وکیع په طریقې، عن الاعمش عن حبیب بن ابي ثابت حضرت علي کرم الله وجهه نه روایت کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم هغه سړي ته چې هغه خپلې ښځې ته زر طلاقه ورکړي وي وې فرمایل: درې طلاقه هغه په تا باندې حراموي، الخ،[۳] ددې مثل په سنن بیهقي کې هم دی.[۴]

طبراني د حضرت عباده رضی الله عنه نه روایت کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم د هغه سړي په باره کې چې هغه زر طلاقه ورکړي وي وې فرمایل: د دریو خو هغه ته حق حاصل دی باقی طلاقونه عدوان او ظلم دی، الله تعالی که غواړي؛ نو په دې باندې به دده نیوکه کوي او که غواړي؛ نو معاف به یې کړي.[۵]

...بقیه د تیرمخ] والطلاق، باب ماجاء فی امضاء الطلاق الثلاث وان کن مجموعات ج:۷ ص :۳۳٤ طبع دار المعرفة بیروت)۔

۱] ومن طریق وکیع عن جعفر بن بران عن معاویة بن أبي یحییٰ قال: جاء رجل الی عثمان بن عفان فقال: طلقت امرأتی ألفًا، فقال: بانت منک بثلاث، فلم ینکر الثلاث(المحلی، لابن حزم: ۱۰ ص:۱۷۲،طبع بیروت)

۲] ومن طریق عبدالرزاق عن سفیان الثوری عن عمرو بن مرة عن سعید بن جبیر قال رجل لابن عباس طلقت امرأتی الفًا، فقال له ابن عباس:ثلاث تحرمها علیک وبقیتها علیک وزرًا اتخذت آیات الله هزوًا فلم ینکر الثلاث. (المحلی لا بن حزم ج:۱۰ص:۱۷۲، طبع بیروت)۔

۳] عن حبیب بن أبي ثابت جاء رجل الی علی ابن أبي طالب رضی الله عنه فقال: انی طلقت امرأتی ألفًا، فقال له علی: بانت منک بثلاث. (المحلی لا بن حزم ج:۱۰ ص: ۱۷۲، طبع بیروت)۔

٤] سنن الکبریٰ للبیهقی، کتاب الخلع والطلاق، باب ما جاء فی امضاء الطلاق الثلاث وان کن مجموعات ج: ۷ ص: ۳۳٤ طبع دار المعرفة بیروت)۔

٥] عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه قال: طلق جدی امراته له الف تطلیقة، فانطلقت الی النبی صلی الله علیه وسلم فسالته، فقال: أما اتقی الله جدک! أما ثلاثة فله، وأما تسعمائة وسبعه وتسعون فعدوان وظلم، ان شاء الله عذبه، وان شاء غفر له. (مجمع الزوائد ج: ٤ ص: ٤٤١، باب فیمن طلق أکثر من ثلاث، طبع دار الکتب العلمیة، بیروت). أیضًا: المحلی ج: ۱۰ ص: ۱٦۹)۔

مسند عبدالرزاق کې جد عباده رضي الله عنه نه ددې مثل روایت دی مګر د عبدالرزاق په روایت کې علل دی

بیهقي د شعبه په طریقې، عن ابی نجیح، عن مجاهد روایت کوي چې یو سړي خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړه، ابن عباس رضي الله عنهما هغه ته وفرمایل "تا د خپل رب نافرماني وکړه او ستا ښځه ستا نه باینه شوه تا د الله نه خوف ونه کړ" ددې لپاره چې الله تعالی ستا لپاره د ویستلو څه صورت پیدا کړی وی، ددې نه پس ابن عباس رضي الله عنهما دا ایت ولوست

,,يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِن،،(الطلاق: ۱)[1]

همداراز بیهقي په طریقه د شعبه، عن الاعمش، عن مسروق عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت کوي چې ده هغه سړي ته چې هغه سل طلاقه ورکړي وو وفرمایل: هغه درې سره باینه شوه او باقي طلاقونه عدوان دي.[2]

ابن حزم رحمه الله په طریقه د **عبدالرزاق عن معمر، عن الاعمش، عن ابراهیم، عن علقمه، عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه** روایت کوي چې: یو سړي یو کم سل (۹۹) طلاقه ورکړي وو. نبي علیه السلام هغه ته وفرمایل چې: هغه درې سره باینه شوه، باقي طلاقونه عدوان دی.[3]

همداراز ابن حزم د وکیع په طریقې، عن اسماعیل ابن ابي خالد امام شعبي نه روایت کوي چې یو سړي قاضی شریح ته وویل چې ما خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړي دي. شریح وفرمایل چې هغه ستا نه په درېو سره باینه شوه او اوه نوي طلاقونه دي اسراف او ګناه دی.[4]

۱] حدثنا شعبة عن ابن أبي نجيح وحميد الأعرج عن مجاهد قال سئل ابن عباس عن رجل طلق امرأته مائة، قال: عصيت ربک وبانت منک امرأتک، لم تتق الله فيجعل لک مخرجًا. (من يتق الله يجعل له مخرجًا)، (يٰايها النبي اذا طلقتم النساء فطلقوهن فى قبل عدتهن). (السنن الكبريٰ للبيهقى، باب من جعل الثلاث واحدة وما ورد فى خلاف ذلک ج:۷ ص: ۳۳۷ طبع دار المعرفة، بيروت،لبنان، أيضًا:باب الْاختيارللزوج أن لايطلق الّا واحدة :ص:۳۳۱، ۳۳۲)

۲] عن شعبة الأعمش عن مسروق قال: سال رجل عبد الله رضى الله عنه فقال: رجل طلق امرأته، مائة، قال: بانت بثلاث وسائر ذالک عدوان. (السنن الكبريٰ للبيهقى، باب الا ختيار للزوج أن لا يطلق الا وحدة ج: ۷ ص: ۳۳۲ طبع دار العرفة بيروت، لبنان)۔

۳] ومن طريق عبدالرزاق عن معمر عن الا عمش عن ابراهيم عن علقمة قال: جاء رجل الى ابن مسعود فقال: انى طلقت امرأتى تسعًا وتسعين، فقال له ابن مسعود: ثلاث تبينها وسائر هن عدوان. (المحلّى لا بن حزم ج: ۱۰ ص: ۱۷۲ طبع دار الآفاق الجديدة، بيروت)۔

۴] وأما التابعون فروينا من طريق وكيع عن اسماعيل بن أبى خالد عن الشعبى قال: قال رجل لشريح القاضى: طلقت امرأتى مائة،فقال:بانت منک بثلاث وسبع وتسعون اسراف ومعصية،فلم ينكرشريح الثلاث وانما جعل الْاسراف والمعصية ما زاد على الثلاث.(المحلّى لابن حزم ج: ۱۰ ص:۱۷۳،طبع دار الآفاق الجديدة، بيروت)

د حضرت علي، حضرت زيد بن ثابت او حضرت ابن عمر رضي الله عنهم نه په صحيح سند سره ثابت دي چې هغوی د لفظ حرام، او البته په باره کې وفرمايل چې په دې سره درې طلاقه واقع کيږي[۱] ځنګه چې د ابن حزم په المحلي او باجي په المنقى او نورو کتابونو کې دي او دا درې طلاقو لره په لفظ واحد سره جمع کول دي.[۲]

بيهقي مسلمه بن جعفر نه روايت کوي چې هغه جعفر صادق رحمه الله ته وويل چې ځينې خلک وايي کوم سړي چې په جهالت کې درې طلاقه ورکړه هغه به سنتو ته ګرځول کيږي، هغوی درې طلاقه يو ګڼي، ستاسو خلک دا روايت نقل کوي، وې فرمايل: د الله پناه، دا زمونږ قول نه دی بلکې چا چې درې طلاقه ورکړه هغه به هم درې حسابيږي.[۳]

مجموع فقهي (مسند زيد) کې د زيد بن علي عن ابيه عن جده په سند سره د حضرت علي کرم الله وجهه نه روايت دی چې د قريشو يو سړي خپلې ښځې ته سل طلاقه ورکړه، حضور عليه السلام ته د دې خبر ورکول شو؛ نو حضور عليه السلام وفرمايل: درې طلاقو سره دده نه باينه شوه او اوه نوي طلاقه دده په غاړه ګناه ده.[۴]

امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، او امام بيهقي رحمه الله د عبدالله بن زبير رضی الله عنهما نه روايت کوي چې حضرت ابوهريره رضي الله عنه وفرمايل، يو طلاق ښځه باينه کوي، درې طلاقه هغه حراموي، تر دې چې هغه په دويم ځای کې نکاح وکړي او ابن عباس رضي الله عنهما دهغه بدوي (کوچي) سړي په باره کې چې هغه د دخول نه مخکې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي ؤ، داسې وفرمايل: او ددې مثل د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما څخه مروي دی.[۵]

۱]مالک انه بلغه ان على بن أبي طالب كان يقول فى الرجل يقول لا مرأته: أنت على حرام، أنها ثلاث تطليقات(مؤطا امام مالک، باب ما جاء فى الخلية والبزية وأشباه ذالک، ص: ۵۱۱ طبع نور محمد كتب خانه)

۲] قال أبو محمد: فلم يخص واحدة من ثلاث من اثنتين لا يعلم عن أحد من التابعين ان الثلاث معصية صرّح بذالک الا الحسن، ولقول بان الثلاث سنة هو قول الشافعى وأبى ذر وأصحابهما. (المحلى ج: ۱۰ ص: ۱۷۳ طبع دار الآفاق الجديدة بيروت)۔

۳] حدثنا مسلمة بن جعفر الأحمسى قال: قلت لجعفر بن محمد: ان قومًا يزعمون أنّ من طاق ثلاثا بجهالة ردّ الى سنة يجعلونها واحدة يروونها عنكم قال معاذ الله! ما هذا من قولنا من طلق ثلاثاً فهو كما قال. (السنن الكبرىٰ للبيهقى ج: ۷ ص: ۳۴۰، باب جعل الثلاث واحدة وما ورد فى خلاف ذالک، طبع بيروت)۔

۴]مسند الامام زيد بن على كتاب الطلاق، باب الطلاق البائن ص: ۲۸۹ طبع دار الكتب العلمية، بيروت)۔

۵] عن معاوية بن أبي عياش الا نصارى انه كان جالسًا مع عبدالله بن الزبير وعاصم بن عمر رضى الله عنهم قال: فجاء هما محمد بن اياس بن البكير فقال: ان رجلا من أهل البادية طلق امرأته ثلاثًا قبل أن يد خل بها فما ذا تريان؟ فقال ابن الزبير: ان هٰذا الأمر ما لنا فيه قول؛ اذ هب الى ابن عباس وأبى هريرة فانى تركتهما عند عائشة رضى الله عنها ثم ائتينا فاخبرنا، فذهب فسالهما قال ابن عباس لابى هريرة: أفته يا أبا هريرة: فقد جاء تک معضلة، فقال أبوهريرة؛ الواحدة تبينها والثلاث تحرمها حتّى تنكح زوجًا غيره، وقال ابن عباس مثل ذالک. (سنن الكبرىٰ للبيهقى ج: ۷ ص:۳۳۵، باب ما جاء ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

عبدالرزاق په خپل سند سره د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت کوي چې یو سړي نهه نوي طلاقه ورکړه، دوی وفرمایل درې طلاقه به ښځه بائنه کړي او باقي ظلم دی.[1]

امام محمد بن حسن په "کتاب الاثار" نومې کتاب کې فرمایي چې مونږ ته امام ابوحنیفه رحمه الله خبر راکړ په روایت د عبدالله بن عبدالرحمن ابن ابي حسین عن عمرو بن دینار عن عطاء چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته یو سړی راغلو او وې ویل چې ما خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړي دي، وې فرمایل: یو سړی په تلو کې ځان مردار کړي بیا مونږ ته راشي. لاړشه: تا د خپل رب نافرماني وکړه او ستا ښځه په تا باندې حرامه شوه، هغه اوس ستا لپاره حلاله نه ده تر څو پورې چې دویم خاوند سره نکاح ونه کړي، امام محمد رحمه الله فرمایي: مونږ دا اخلو او دا د امام ابوحنیفه رحمه الله او د عامو عالمانو قول دی، په دې کې هیڅ اختلاف نشته.[2]

همداراز امام محمد بن حسن په روایت د امام ابوحنیفه رحمه الله عن حماد، د حضرت ابراهیم نخعي رحمه الله نه نقل کوي چې کوم سړي یو طلاق ورکړ مګر دده نیت د درې ؤ، یا یې درې طلاقه ورکړه مګر نیت یې د یو وو، وې فرمایل چې که هغه د یو لفظ وویل نو یو طلاق به وي او دده نیت هیڅ شی نه دی او که د درې لفظ یې وویل نو درې شو، امام محمد رحمه الله فرمایي مونږ دا ټول اخلو او هم دا د ابوحنیفه رحمه الله قول دی.[3]

حسین بن علي کرابیسي "ادب القضاء" کې په طریقې د علي بن عبدالله (ابن المدیني) عن عبدالرزاق عن معمر ابن طاؤس نه د حضرت طاؤس (تابعي) په باره کې روایت کوي چې

...بقیه د تیرمخ] فی امضاء الطلاق الثلاث وان کن مجموعات).ترتیب مسند الامام أبي عبدالله الشافعي، کتاب الطلاق، الباب الأول فیما جاء فی أحکام الطلاق ج: ۲ ص: ۳۳، ۳٤ رقم الحدیث: ۱۱۲ طبع دار الکتب العلمیة بیروت. أیضًا : السنن الکبریٰ للبیهقی، باب الا ختیار للزوج أن لا یطلق الا واحدة ج: ۷ ص: ۳۳۰)۔

[1] ومن طریق عبدالرزاق عن معمر عن الأعمش، عن ابراهیم عن علقمة قال: جاء رجل الی ابن مسعود فقال: انی طلقت امرأتی تسعًا وتسعین، فقال له ابن مسعود: ثلاث تبینها وسائر هن عدوان. (المحلی ج: ۱۰ ص: ۱۷۲ طبع دار الآ فاق الجدیدة، بیروت)۔

[2] محمد قال: أخبرنا أبو حنیفة عن عبدالله بن عبدالرحمٰن ابن أبي حسین عن عمروبن دینار عن عطاء عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: أتاه رجل فقال: انی طلقت امرأتی ثلاثًا، قال: یذهب أحد کم فلیتلطخ بالنتن ثم یأتینا، اذهب فقد عصیت ربک، وقد حرمت علیک امرأتک، لا تحل لک حتّٰی تنکح زوجًا غیرک. (کتاب الآثار، کتاب الطلاق، باب من طلق ثلاثًا أوطلق واحدة ص: ۲۸٦ حدیث رقم: ٤۸٦ طبع الرحیم اکیدمی کراچی)

[3] محمد قال: أخبرنا ابو حنیفة عن حماد عن ابراهیم فی الذی یطلق واحدة وهو ینوی ثلاثًا، أویطلق ثلاثًا وهو ینوی واحدة قال: ان تکلم بواحدة فهی واحدة، ولیست نیته بشيءٍ، وان تکلم بثلاث کانت ثلاثًا، ولیست نیته بشيءٍ . قال محمد: وهٰذا کله ناخذ وهو قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی. (کتاب الطلاق، باب من طلق ثلاثًا او طلق واحدة ص: ۲۷۷، رقم الحدیث: ٤۸۷، طبع الرحیم اکیدمی، کراچی)۔

کوم سړی د طاؤس په باره کې دا ووایي چې هغه د درې طلاقو د یو کېدلو روایت کوي هغه دروغ ګڼه.[۱]

ابن جریج وایي چې ما عطاء رحمه الله (تابعي) ته وویل چې تاسو د ابن عباس رضي الله عنهما دا خبره اوریدلې ده چې بکر (یعنې هغه ښځه چې د هغې د واده نه پس هغې سره کوروالی نه وي شوی) درې طلاقه یو وي؟ وې فرمایل ماته د هغه دا خبره نه ده رارسیدلې او عطاء رحمه الله ابن عباس رضي الله عنهما یې تر ټولو زیات پېژندلو.

ابوبکر جصاص رازي په احکام القرآن کې آیتونه، حدیثونه او د سلفو ویناوو نه د دریو طلاقو د وقوع دلایل ذکر کولو نه پس لیکي: کتاب و سنت او اجماع سلف درې طلاقه په یو وخت کې واقع کېدو سره ثابتوي، هم دغه راز طلاق ورکول ګناه ده.[۲]

ابوالولیدالباجي "المنتقی" کې فرمایي: پس کوم سړی چې په یو لفظ درې طلاقه ورکړي د هغه به درې طلاقه واقع کیږي. د فقهاوو لویه ډله هم ددې قائله ده او زمونږ د قول دلیل اجماع د صحابه وو رضي الله عنهم ده، ځکه چې دا مسئله ابن عمر، عمران بن حصین، عبدالله بن مسعود. ابن عباس، ابوهریره او عائشه رضي الله عنهم ټولو څخه مروي ده او د دوی هیڅوک مخالف نه دي.

ابوبکر بن عربي د درې طلاقو د نافذولو په باره کې د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث نقل کولو نه پس لیکي: ددې حدیث صحت مختلف فیه دی، پس داه په اجماع باندې څنګه مقدم کیدی شي؟ او ددې معارض د محمد بن لبید حدیث موجود دی، چې په هغې کې دا تصریح شته چې یو سړي په یو وخت کې درې طلاقه ورکړه او حضور صلی الله علیه وسلم هغه رد نه کړه، بلکې نافذ یې کړه، غالباً د هغه مراد د نسائي د روایت نه علاوه کوم بل روایت وي او ابوبکر بن عربي حافظ دی او ډیر وسیع الروایت دی، یا دده مطلب دا دی چې که حضور صلی الله علیه وسلم دا رد کړی وای؛ نو په حدیث کې به د هغې ذکر وو، د حضور صلی الله علیه وسلم په دې باندې غوسه کېدل هم د درې طلاقو د وقوع دلیل دی، د ابن عربي د مراد لپاره کافي ده، حافظ ابن عبدالبر (التمهید) کې او (الاستذکار) کې ددې مسئلې دلایلو نقل کولو او په دې باندې د اجماع ثابتولو کې د ډېرې توسع څخه کار اخیستلی دی.[۳]

شیخ ابن همام فتح القدیر کې لیکي:

" د فقهاء صحابه تعداد د شلو نه زیات نه دی، خلفاء راشدین، عبادله، زید بن ثابت، معاذ بن جبل، انس او ابوهریره رضي الله عنهم د دوی نه سېوا نور فقهاء صحابه لږ دي او نورو صحابه کرامو به

۱] (لم أجده)۔

۲] فالکتاب والسنّة واجماع السلف تو جب ایقاع الثلاث معًاوان کانت معصیة. (أحکام القرآن للجصّاص، سورة البقرة، ذکر الحجاج لا یقاع الطلاق الثلاث معًا ج: ۱ص: ۳۸۸ طبع سهیل اکیدمی)۔

۳] الا ستذکار لابن عبدالبر، باب ماجاء فی البتة ج: ٦ ص: ۳، ۸ رقم الحدیث: ۱۱۱۵)۔

دوی ته رجوع کوله او د دوی نه به يې فتوی طلب کوله او مونږ د دوی نه د اکثرو نقل صريح ثابت کړی دی چې هغوی د درې طلاقو د وقوع قائل وو او د دوی مخالف هيڅوک ښکاره نه شو، اوس د حق نه پس د باطل نه سېوا څه پاتې شو؟ په دې بنا باندې مونږ ويلي دي چې که کوم حاکم دا پرېکړه وکړي چې درې طلاقه په يو لفظ سره دا به يو وي: نو د هغه پرېکړه به نافذه نه وي، ځکه چې په دې کې د اجتهاد گنجائش نشته. لهذا دا مخالفت دی اختلاف نه دی او د حضرت انس رضي الله عنه دا روايت چې درې طلاقه هم درې وي امام طحاوي وغيره ټولو ذکر کړي دي [۱]

چا چې په دې مسئله کې د کتاب و سنت، اقوال سلف او احوال صحابه رضي الله عنهم سره د جمهورو د دلايلو احاطه کړې وي، همداراز د فقهاء صحابه د تعداد په باره کې د ابن همام د کلام د قوت صحيح اندازه کولی شي، اگر که ابن حزم په (احکام) کې د هغوی د تعداد ډېرولو ډېر کوشش کړی دی: نو ځکه هغه د هر هغه صحابي چې د هغه نه د فقهې صرف دوه مسئلې هم نقل وې د فقهاء صحابه په ډله کې شامل کړې، ددېنه د ابن حزم مقصد د صحابه کرامو اجلال او تعظيم نه وو، بلکې دا مقصد يې وو چې په اجماعي مسئلو کې د جمهورو دا وينا ماته کړي چې د دوی ټولو نقل پيش کړئ؛ حال دا چې هر هغه سړی چې د هغه نه د فقهې يوه يا دوه مسئلې يا سنتو کې يو دوه حديثه مروي وي هغه به څنگه په مجتهدينو کې شمار شي؟ که هغه هر څوک وي، اگر که د صحابيت په اعتبار سره د صحابه کرامو مرتبه ډېره لويه ده اوددې څه تفصيل به آينده راځي.

او کوم سړی چې په کوم شي باندې د اجماع ثابتولو لپاره د هغه يو لک صحابه وو رضي الله عنهم د يو يو فرد نقل لره شرط گرځوي چې د وصال نبوي صلى الله عليه وسلم په وخت کې موجود وو، هغه د خيال په سمندر کې غرق دی او هغه د اجماع په حجيت کې د جمهورو ماتولو کې د ابن حزم نه هم لوبه گټلې ده، داسې خو که د حنبلي کېدلو مدعي وي مگر هغه د مسلمانانو د لارې په ځای په کومه بله لاره باندې روان دی.

حنابله وو کې حافظ ابن رجب حنبلي رحمه الله د اول څخه د ابن قيم رحمه الله او دده شيخ (ابن تيميه رحمه الله) د ټولو نه لوی متبع وو، ددې وروسته په دوی باندې په ډېرو مسئلو کې د دوی

---

[۱] والمائة الألف الذين توفى عنهم رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تبلغ عدة المجتهدين الفقهاء منهم أكثر من عشرين كالخلفاء والعبادلة وزيد بن ثابت ومعاذ بن جبل وانس وأبي هريرة رضى الله عنه وقليل والباقون يرجعون اليهم ويستفتون منهم وقد أثبتنا النقل عن أكثر هم صريحًا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال، وعن هذا قلنا لو حكم حاكم بان الثلاث بضم واحدة لم ينفذ حكمه الا انه لايسوغ الاجتهاد فيه فهو خلاف لااختلاف ورواية عن انس بانها ثلاث أسنده الطحاوى وغيره. (فتح القدير، كتاب الطلاق، تحت قوله (وطلاق البدعة) ج: ۳ ص: ۲۶ طبع دار صادر للطباعة والنشر، بيروت)۔

دواړو ګمراهي ښکاره شوه او موصوف په يو کتاب کې چې د هغې نوم "بيان مشكل الاحاديث الواردة في أن الطلاق الثلاث واحدة" کښنود. په دې مسئله کې ددې دواړو قول رد کړ او دا خبره د هغه خلکو لپاره د عبرت وه چې د احاديثو خپلو او پردو لره د پېژندلو نه بغير ددې دواړو فضول تکرار سره دوکه کيږي، حافظ ابن رجب رحمه الله په دې کتاب کې د نورو خبرو نه علاوه دا هم فرمايي.

معلومول پکار دي چې د صحابه وو رضي الله عنهم تابعينو او ائمه سلفو نه چې د چا قول د حرام او حلالو په فتوی کې د اعتبار وړ وي، څه صريح شی ثابت شوی نه دی چې د درې طلاقو د دخول نه پس يو شمار وي، کله چې په يو لفظ سره ورکول شوی وي او د امام اعمش نه مروي دي چې په کوفه کې يو بوډا سړی ؤ، هغه به ويل چې ما د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه نه اوريدلي کله چې سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه په يو مجلس کې ورکړي: نو هغه به يو ته رد کولی شي، خلکو به ده ته ددې حديث په اورولو کې قطار جوړولو او دده نه به يې دا حديث اورېدلو. زه هم ده ته لاړم او ورته مي وويل چې تاسو د علي بن ابي طالب رضي الله عنه نه اوريدلي دي؟ وې ويل ما د هغه څخه اوريدلي دي چې کله سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه په يو مجلس کې ورکړي؛ نو هغه به يو طلاق ته رد کولی شي، ما ورته وويل چې تاسو د حضرت علي رضي الله عنه نه دا خبره چېرته اوريدلې ده؟ وې ويل چې زه يې په خپل کتاب کې درته ښيم. سمدستي هغه خپل کتاب راوويست او په هغې کې يې ليکلي وو:

بسم الله الرحمن الرحيم: دا هغه ليکل دي چې ما د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه نه اوريدلي دي هغه فرمايي چې کله سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه په يو مجلس کې ورکړي؛ نو هغه به باينه کيږي او دده لپاره به حلاله نه وي، تر دې چې د دويم خاوند سره نکاح وکړي.

ما ورته وويل: په تا دې ښځه کونډه شي، ليکل بل څه دي او بيان بل شان کوې؟!! وې ويل چې صحيح خو هم دا ده، ليکن خلک زما نه هم دا غواړي.

ددې نه پس ابن رجب د حضرت حسن بن علي رضى الله عنهما هغه حديث په سند سره نقل کړ چې مخکې تېر شوی دی او وې ويل چې ددې سند صحيح دی.

حافظ جمال الدين بن عبدالهادي الحنبلي په خپل کتاب "السير الحاث الى علم الطلاق الثلاث" کې په دې مسئله باندې د ابن رجب رحمه الله مذکوره کتاب نه ډېر ښه نقول جمع کړي دي، ددې مخطوطه د دمشق په کتابتون ظاهريه کې موجود دی چې د "المجاميع" په شعبه کې ۹۹ د لاندې ليکلی دی.

جمال الدين عبدالهادي په دې کتاب کې يو ځای ليکي:

درې طلاقه هم درې واقع کيږي، هم دا صحيح مذهب دی او داسې مطلقه به د سړي لپاره حلاله نه وي تر څو پورې چې دويم ځای نکاح وکړي، د امام احمد رحمه الله د مذهب اکثر کتابونه مثلاً خرقي، المقنع، المحرر، الهدايه وغيره کې هم دا قول يقيني اخيستلی شوی

دی، اثرم وايي چې ما ابوعبدالله (امام احمد بن حنبل رحمه الله) ته وويل چې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث چې د حضور صلى الله عليه وسلم، ابوبكر او عمر رضي الله عنهما په زمانه کې درې طلاقه يو وو، تاسو دا په کوم شي رد کوئ؟ وې فرمايل خلکو د ابن عباس رضي الله عنهما هغه روايت چې هغه درې کيږي او "فروع" کې دا قول مقدم شوی دی. او (المغني) کې هم په دې باندې جزم شوی دی او اکثره حضراتو خو ددې قول نه علاوه څه قول ذکر کړی نه دی. [1]

او د ابن عبدالهادي په عبارت کې د اکثرو کتابونو اصحاب احمد. کوم لفظ دی هغه د احمد بن تيميه نه پس متاخرين مثلاً مفلح لفظ دی. هغو خلکو د ابن تيميه نه دوکه خوړلې ده؛ نو ځکه د هغوی قول د امام احمد په مذهب کې نه شمارل کيږي، د (الفروع) مصنف هم د بني مفلح هم د دغه خلکو نه دی چې کوموته ابن تيميه نه دوکه وخوړل.

د امام ترمذي رحمه الله استاذ اسحاق بن منصور هم په خپله رساله (مسائل عن احمد) کې چې ظاهريه دمشق کې د فقهه حنابله لاندې نمبر ۸۳ کې درج دی، ددې مثل ذکر کړی دی چې اثرم ذکر کړی دی، بلکې امام احمدبن حنبل رحمه الله ددې مسئلې مخالفت ته خروج د سنتو ويلی، هغه د سنتو په باره کې کوم خط مسدد بن مرهد ته ليکلی وو په دې کې ليکي:

د امام احمد رحمه الله دا ځواب قاضي ابوالحسين بن ابي يعلى الحنبلي په طبقات حنابله کې د مسدد بن مرهد په تذکره کې په سند سره ذکر کړی دی او ددې سند داسې دی چې په هغې باندې حنابله اعتماد کوي، امام احمد رحمه الله دا مسئله د سنتو نه ځکه شمارکړې چې روافضو د مسلمانانو د نکاحونو سره د لوبې لپاره ددې مسئلې مخالفت کولو. [2]

د امام کبير ابو الوفا بن عقيل الحنبلي په (تذکره) کې دی او کله چې چا خپلې ښځې ته وويل: تاته درې طلاقه مگر دوه؛ نو هم درې به واقع کيږي، ځکه چې دا اکثر استثناء ده، لهذا استثناء صحيح نه ده.

او ابوالبرکات مجدالدين عبدالسلام بن تيميه رحمه الله الحراني الحنبلي ليکوال د منتقى الاخبار (د حافظ بن تيميه دادا) په خپل کتاب کې (المحرر) کې ليکي:

---

[1] (فصل) وان طلق ثلاثًا بكلمة واحدة وقع الثلاث وحرمت عليه حتّى تنكح زوجًا غيره ....قال الأ ثرم سألت أبا عبدالله عن حديث ابن عباس بأى شيء تدفعه؟ قال: أدفعه برواية الناس عن ابن عباس من وجوه خلافه ثم ذكر من عدة عن ابن عباس من وجوه انها ثلاث. (المغنى على المقنع، كتاب الطلاق، تطليق الثلاث بكلمة واحدة ج: ۸ ص: ۲۴۳، ۲۴۴ رقم المسئلة: ۵۸۲۰ طبع دار الكتاب العربى، بيروت).

[2] ومن طلق ثلاثًا فى لفظ واحد فقد جهل، وحرمت عليه زوجته، ولاتحل له أبدًا حتّى تنكح زوجًا غيره. (طبقات الحنابلة للقاضى أبى الحسين محمدبن أبى يعلى ترجمة مسددبن مسرهدج:۱ ص:۳۴۵ رقم الترجمة: ۴۹۴ طبع بيروت)

که چېرته دې ته (يو طلاق ورکولو سره) بغير د مراجعت نه دوه طلاقه ورکړي يا درې، په يو لفظ کې يا جدا جدا لفظ کې. يو طهر کې يا په جداجدا طهرونو کې: نو دا طلاق به واقع کيږي او دا طريقه هم د سنتو موافق ده. د امام احمد رحمه الله يو روايت دى چې دا بدعت دى او په درې جداجدا طهرونو کې سنت دى [١]

احمد بن تيميه د خپل دې دادا نه روايت کوي چې هغه به په خفيه طور باندې فتوى ورکوله چې درې طلاقه به يو طرفته رد کولى شي، حال دا چې دده د خپل کتاب (المحرر) تصريح ستاسو مخامخ ده او مونږ د ابن تيميه دادا ددې خبرې نه بري ګڼو چې هغه په خپل کتاب کې کومه تصريح وکړې په پټه د هغې خلاف خبره وکړي. دا حالت خو به د منافقينو او زنادقه وو او مونږ ته د ابن تيميه په نقل کې ډيره د دروغو تجربه شوې ده، پس کله چې هغه د خپل دادا په باره کې دا سپين دروغ ويلى شي؛ نو د نورو په باره کې دروغ ويل څه مشکل نه دى. د الله تعالى نه مونږ د سلامتى درخواست کوو.

په دې مسئله کې د شافعيه وو مذهب د آفتاب نصف النهار نه زيات روښانه دى. ابوالحسن السبکي، کمال زملکاني، ابن جهبل، ابن فرکان، عزبن جماعه، او تقي حصني وغيره په دې مسئله کې او په نورو مسئلو کې د ابن تيميه په رد کې ليکلي دى چې تر ننه پورې د اهل علمو په لاسونو کې دي.

او ابن حزم ظاهري په مسئلو کې شذوذ باندې عاشق کېدلو باوجود دا ګنجائش ونه شو چې په دې مسئله کې د جمهورو په لاره باندې لاړ نه شي، بلکې هغه په لفظ واحد د دريو طلاقو په وقوع باندې دلايل قائمولو کې د لوى توسع نه کار اخيستلى دى. په دې باندې اطلاع واجب ده. ددې لپاره چې د هغه د خپل ځان متعلق غلطه رايه قايمولو والا مدعيانو د کوږوالي اندازه وشي چې ددې خلاف ګمان ساتي.

دې مفصل بيان سره په دې مسئله کې صحابه و تابعين وغيره د ټول امت قول ښکاره شو. د صحابه رضي الله عنهم وتابعينو هم او د نورو حضراتو هم او کوم احاديث چې مونږ ذکر کړي دي هغه درې طلاقه د لفظ واحد په وقوع کې د کوم قائل د قول ګنجائش باقي نه پريږدي.

او د کتاب الله دلالت په دې مسئلې باندې ښکاره دى چې فضول تکرار نه قبلوي؛ نو څکه ارشاد خداوندي دى. "فطلقوهن لعدتهن" (پس دوى ته طلاق ورکړه د دوى د عدت نه مخکې) الله تعالى د عدت نه مخکې د طلاق ورکولو حکم وکړ، مګر دا يې ونه فرمايل چې په غير عدت کې طلاق ورکړى شي؛ نو هغه به باطل وي، بلکې طرز خطاب د غير عدت د طلاق

---

[١] ولو طلقها ثنتين أو ثلاثًا بكلمة أو كلمات فى طهر فما فوقه من غير مراجعة وقع وكان للسُّنَّة، وعنه للبدعة،، وعنه الجمع فى الطهر بدعةوالتفريق فى الأ طهار سُنَّة. (المحرر فى الفقه على مذهب الامام أحمد بن حنبل ج: ٢ص: ٥١ طبع مكتبة المعارف الرياض)۔

په وقوع باندې دلالت کوي. چنانچې ارشاد دی ..وتلک حدود الله ومن يتعد حدود الله فقد ظلم نفسه.. (الطلاق ٢)، او دا د الله تعالى قائم شوي حدونه دي او کوم سړی چې د الله تعالى د حدودو نه تجاوز کوي هغه په خپل نفس باندې ظلم وکړ.

که چېرته غير عدت کې ورکول شوي طلاق واقع کېدو نه (بلکې لغو او کالعدم وای) نو په غير عدت کې به طلاق ورکولو سره ظالم نه وای. هم دارنګه په دې باندې د الله تعالى دا ارشاد دلالت کوي ..وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجاً.. (الطلاق: ٢)

ژباړه او څوک چې ووېرېده د الله تعالى نه: نو جوړه به کړي د هغه د راويستلو لاره

ددې مطلب (والله اعلم) دا دی چې کله طلاق د الله تعالى د حکم مطابق ورکړي او طلاق په جدا جدا طهرونو کې ورکړي، په دې صورت کې که چېرته طلاق واقع کېدلو نه پس ده ته پښېماتنيا وي؛ نو دده لپاره د خپل واقع شوي طلاق نه د وتلو صورت موجود دی او هغه رجعت دی. حضرت عمر رضي الله عنه، ابن مسعود رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنهما د آيت مطلب هم دا ګڼلی دی. د قرآن کريم په فهم او ادراک کې د دوی مثل څوک دی؟[١]

د حضرت علي کرم الله وجهه ارشاد دی چې که خلک د طلاق مقرر شوي حد لحاظ وساتي: نو هيڅوک به چې ښځې ته يې طلاق ورکړی وي پښېمانه کيږي نه، دا ارشاد هم دې طرفته اشاره ده او د اسرار تنزيل په پوهه کې د باب مدينة العلم مثل څوک دی؟[٢]

او حق تعالى دا ارشاد " الطلاق مرتان" هم دلالت کوي چې د دوو طلاقو جمع کول صحيح دي، کله چې د (مرتان) لفظ په دوه باندې حمل کړي، څنګه چې په ارشاد خداوندي کې "**نؤتها اجرها مرتين**" دی[٣] او د قرآن کريم آيتونه د يو بل تفسير کوي او امام بخاري رحمه الله د آيت معنى هم داسې ګڼلې ده؛ نو ځکه هغه دا آيت " **باب من اجاز طلاق الثلاث**" د لاندې ذکر کړې ده.[٤] هم

---

[١] (ومن يتق الله يجعل له مخرجًا) يعنى والله أعلم انه اذا أوقع الطلاق على ما أمره الله كان له مخرجا مما أوقع ان لحقه ندم وهو الرجعة وعلى هٰذا المعنى تاوله ابن عباس. (أحكام القرآن للجصّاص،ذكر الحجاج لايقاع الطلاق الثلاث معًا ج: ١ ص: ٣٨٧ طبع سهيل اكيدمى)۔

[٢] قال على بن أبي طالب كرّم الله وجهه: لو أن الناس أصابوا حد الطلاق ماندم رجل طلق امر أته. (أحكام القرآن للجصاص، ذكر الحجاج لا يقاع الطلاق الثلاث معًا، طبع سهيل اكيدمى)۔

[٣] (الطلاق مرتان) ان معناه مرة بعد مرة فخطأبل هٰذه الآية كقو له تعالى: (نؤتها أجرها مرتين). (المحلى ج: ١٠ص: ١٦٧، كتاب الطلاق، وأما قولهم البدعة، طبع دار الآفاق الجديدة، بيروت)۔

[٤] باب من أجاز طلاق الثلاث لقول الله تعالى: الطلاق مرتان فامساک بمعروف أو تسريح باحسان. (صحيح البخارى، كتاب الطلاق، ج: ٢ص: ٧٩١ طبع قديمى)۔

دغه راز ابن حزم هم دا اخذ کړی دی.[۱] او علامه کرماني ددې تائید کړی دی. ځکه چې داسې سړی نه پیدا کیږي چې د دوه او درې طلاقو د وقوع په صحت کې فرق وکړي او دې طرفته د شوافعو میلان دی او د ابن حجر رحمه الله فقه تکلف دی، هغه ته په لغت کې توسع حاصله نه ده او د لغت په باب کې دده قول د کرماني د قول وړاندې هیڅ شی نه دی او کله چې دې لفظ. مرتان. لره محمول کړي چې دا تثاني مکرره د قبیل نه دی، (یعنې د مرتان مفهوم دا دی چې طلاق دوه ځله په جدا جدا الفاظو کې ورکول پکار دي) نو دا لفظ به د درې طلاقو د وقوع په صحت باندې هم دلالت کوي، کله چې هغه په تکرار سره لفظ وي، خواه که په حیض کې وي یا طهر کې یا په څو طهرونو کې یا په یو مجلس کې یا څو مجلسونو کې، پس کله چې طلاق په طهر کې یا په حیض کې په تکرار د لفظ سره صحیح دی؛ نو په طهر یا په حیض کې په لفظ واحد سره به هم صحیح وي، ځکه چې داسې څوک نشته چې په دې کې او په هغې کې فرق وکړي، د نزاع کولو والا نزاع صرف په دې صورت کې ده چې کله طلاق متفرق طهرونو کې نه وي ورکول شوې او دا ښکاره ده.

شوکاني وغوښتل چې ددې تثاني د مکرره قبیل کېدلو سره تمسک وکړي ځنګه چې زمخشري وایي او هغه ته خیال وشو چې (زمخشري) دې قول سره په دې مسئله کې دخیل مذهب نه لرې تللی دی، مګر داسې چېرته کېدی شي؟ شوکاني ته داسې ځای چېرته ملاوېدی شي چې د هغې په ذریعه هغه ددې آیت نه تمسک وکړي؟ آیت خو داسې دی ځنګه چې مونږ شرح کړې ده، لیکن ډوب شوی سړی د ژګو څخه هم مرسته اخلي.

او دا خبرې خو په هغه صورت کې دي چې کله دا فرض کړی شي چې آیت په قصر باندې دلالت کوي او دا هم فرض کړی شي چې د طلاق نه مراد طلاق شرعي دی چې ددې خلاف ورکول شوی طلاق لغو کیږي، ځنګه چې د شوکاني خیال دی بیا چې هر کله دا دواړه خبرې هم ناقابل تسلیم وي؛ نو د شوکاني تمسک به ځنګه صحیح وي؟ ځکه چې دا خبره ښکاره ده چې یو طلاق رجعي طلاق شرعي شمارل کیږي او د انقضاء عدت نه پس دې سره بینونت واقع کیږي، باوجود د دېنه هغه طلاق وروسته د طلاق څخه نه وي او امام ابوبکر جصاص رازي رحمه الله د جمهورو په قول د کتاب الله دلالت ددې نه زیات په تفصیل سره لیکلي کوم سړی چې زیاتي بحث کتل غواړي هغه دې احکام القرآن ته رجوع وکړي.[۲]

او د آیت په طرز خطاب کې دې طرف ته اشاره ده چې په متفرقو طهرونو کې د طلاق ورکولو حکم د طلاق ورکونکو دنیوي مصلحت باندې مبني دی او هغه مصلحت دا دی چې

۱] ایضاً پورتنۍ حواله ((الطلاق مرتان) ان معناه مرة بعد مرة فخطابل هٰذه الآیة...الخ)۔

۲] احکام القرآن للجصّاص، سورة البقرة، ذکر الحجاج لا یقاع الطلاق الثلاث معًا ج: ۱ ص: ۳۸۶ تا ۳۹۱ طبع سهیل اکیدمی لا هور)۔

دوی په طلاق کې د بې صبری نه بچ شي چې د هغې نتیجه پښېمانتیا وي، لیکن ځینې وخت داسې کیږي چې د خاصو حالاتو په بنا طلاق ورکوونکي ته پښېمانتیا نه کیږي. پس غیر عدت کې ورکول شوي طلاق سره پښېمانتیا جدا کېدلی شي. ځکه چې کوم سړی په جدا جدا طهرونو کې طلاق ورکړي کله هغه ته هم پښېمانتیا کیږي او کله د خاصو حالاتو په بنا داسې سړي ته هم پښېمانتیا نه کیږي چې هغه په حیض کې طلاق ورکړی وي یا په داسې طهر کې چې په هغې کې کوروالی شوی وي، پس پښېمانتیا طلاق مذکوره سره خو موجودیږي: مگر ددې لپاره وصف لازمي نه دی، ددې لپاره چې دلته حکم ددې ضد د تحریم لپ‌ره مفید وي. څنګه چې ځینې خلک ددې قائل دي، دې تقریر سره د شوکاني ددې کلام قیمت معلومیږي چې هغه په دې موقع باندې کړی دی.
حاصل دا دی چې آیت شریف د نسق خطاب په لحاظ سره او د حق تعالی ارشاد. الطلاق مرتان، دواړه تفسیرونو باندې، همداراز هغه احادیث چې مخکې تیر شوي دي، دا ټول په دې خبره دلالت کوي چې په غیر عدت کې ورکول شوی طلاق واقع کیږي مگر سره له ګناه، پس دا خبره د قیاس نه مستغني کوي، ځکه چې په مورد د نص کې د قیاس حاجت نه وي.
او دا چې ذکر کیږي چې (ظهار) قول منکر او زور دی، ددې باوجود هم په دې باندې حکم مرتب کیږي، دا محض د نظیر په طور دی، د قیاس په طور باندې نه دی او چونکې شوکاني دا خیال کړی چې ددې ذکر د قیاس په طور باندې کیږي؛ نو ځکه موصوف سمدستي فضول تکرار شروع کړ چې دا قیاس غلط دی، ځکه چې د حرامو شیانو بیع او محرماتو سره نکاح کول هم قول منکر او زور دی، لیکن هغه باطل دی، په دې باندې دهغې اثر نه مرتب کیږي. لهذا قیاس صحیح نه دی مګر دا خبره د شوکاني د نظر نه پټه ده چې د بیع او نکاح په مثال کې وجه د فرق بالکل ښکاره ده. ځکه دا دواړه ابتدائي عقد دی، په کوم قائم عقد باندې نه جاري کیږي، په خلاف د ظهار او طلاق چې دا دواړه په یو داسې عقد باندې چې د مخکې نه قائم وي جاری کیږي؛ نو ځکه که چېرته بالفرض دلته د قیاس ضرورت وي؛ نو طلاق په ظهار باندې د شوکاني په ګمان صحیح دی، تعجب خو په دې دی چې شوکاني دداسې قسم بې مقصده فضول تکرار څخه نه اوړي.
دلته یوې بلې باریکې خبرې ته اشاره ضروري ده او هغه دا چې امام طحاوي رحمه الله اکثر ابوابو لاندې احادیثو باندې، چې اخبار احاد وي بحث کولو نه پس (وجه د نظر) هم ذکر کوي چې (نظر) دلته د فلانکی فلانکی خبرې تقاضا کوي، ځینې خلک چې د حقیقت حال نه بې خبره دي دا ګڼي چې موصوف دې مسئله کې قیاس پېش کوي، حال دا چې داسې نه ده، په اصل کې د اهل عراق قاعده دا ده چې کتاب او سنت سره د دوی دلته کوم اصول منقح کېدلو سره مخامخ راځي هغه په احادیثو احاد باندې پیش کوي، که چېرته کوم خبر واحد ددې اصولو شرعیه خلاف وي؛ نو هغه دوی (شاذ) او د نظائرو نه خارج ګرځوي او په هغې کې د توقف نه

کار اخلي او په دې کې مزید غور فکر کوي، ددې لپاره چې مزید دلایل د دوی وړاندې راشي، پس د امام طحاوي رحمه الله وجه د نظر پیښ کول په اصل کې ددې قاعدې د تطبیق لپاره وي او چونکه دا اصول د دوی په نزد ډیر باریک وي؛ نو خکه ددې تطبیق هم اسان نه دی، بلکې ددې لپاره د امام طحاوي رحمه الله په شان دقیق النظر او وسیع العلم مجتهد ته ضرورت دی. خکه د امام طحاوي رحمه الله کتابونه ددې قسم اصولو او قواعدو چې هغه ضعیفو متاخرینو پرېښودلي دي ډیر مفید دي او په دې کې شک نشته چې امام طحاوي رحمه الله د اجتهاد مطلق په مرتبه فائز دی، اګر که هغه امام ابوحنیفه په خپل انتساب کې پرېښود او د امام طحاوي دا قول چې په عقودو کې شروع کېدل خو صحیح نه دي مګر په هغه طریقې سره چې د هغې الله تعالی حکم فرمایلی دی، په خلاف د هغه امورو چې په عقودو قائمه باندې طاري وي دا منجمله هم د هغه اصولو څخه ده چې په کومو باندې خبر واحد پېش کولی شي او د خروج من الصلوة ذکر په طور د نظیر دی، څنګه چې مونږ مخکې ذکر کړی دی، حاصل دا دی امام طحاوي رحمه الله چې کوم (وجوه نظر) ذکر کوي هغه په مورد نص کې د قیاس په خاطر نه دي، بلکې د خپل اصولو مطابق د کوم حدیث تصحیح یا د یو حدیث په بل حدیث باندې ترجیح په خاطر ذکر کوي، اګر که د هغوی په ذکر شوي نظر کې قیاس هم صحیح وي.

په هر حال کتاب او سنت او فقهاء د درې طلاقو په مسئله کې پوره متفق دي، کوم سړی چې ددې ټولو نه وځي هغه لږ لږ د اسلام نه وتونکی وي، حال دا چې هغه په غلط فهمی کې مبتلا وي او په دې مسئله کې جهل بسیط ساتي؛ نو هغه خو بیدارول ممکن دي، په خلاف د هغه سړي چې د هغه جهل مرکب یا مکعب وي چې یا خو صرف د خپل جهل نه جاهل او بې خبره وي (دا خو جهل مرکب شو) یا خپل جهل مرکب سره دا اعتقاد هم ساتي چې هغه دا مسئله چې دده لپاره په جهل مرکب سره مجهوله ده، د الله په مخلوق کې د ټولو نه زیاته پېژني، (دا جهل مکعب شو، داسې سړی په سیده لاره راوستل ممکن نه دي) والله سبحانه هو الهادي.

(۵) د درې طلاقو په باره کې په حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما باندې بحث

ددې دعوې کولو نه پس چې حضرت عمر رضی الله عنه درې طلاقه په طلاق ورکونکو باندې نافذ کړل دا د سزا په طور ؤ، د حکم شرعي په طور نه وو، د رسالې لیکوال په ۸۰-۸۱ مخ باندې لیکي:

"د حضرت عمر رضی الله عنه له جانبه دا سزا خلک د طلاق نه د لوبو جوړولو نه منع کول وو، دا محض وقتي سزا وه، بیا معامله نوره زیاته هم تاو شوه، خلکو ډیر په زړورتیا سره د طلاق نه لوبې جوړې کړې او اکثره صحابه کرام رضی الله عنهم په دې موقع باندې موجود وو چې دا هغوی برقرار ساتلې وه او هغوی د اکثرو حضراتو د رایې مطابق د خروج نه د بچ کولو لپاره د حضرت عمر رضی الله عنه د مخالفت نه وېرېدل او په دوی کې ځینې حضراتو ته معلومه وه چې دا حکم محض د زجر او تعزیر په خاطر دی، پس کله به یې د دریو طلاقو د نفاذ فتوې ورکولې او کله

به یې د عدم نفاذ او په دې اعتبار سره چې آخري دوه طلاقه په عدت کې باطل دي واقع کیږي نه، څنګه چې د ابن عباس رضي الله عنهما نه دوه راز فتوې ثابت دي

ددېنه پس د تابعینو دور راغلو: نو هغوی هم اختلاف وکړو هغوی په دېرو حضراتو باندې د فتوې په باره کې د وارد شوي روایتونو حقیقت پټ کړی وو. په ژبو کې عجمیت داخل شوی وو او هغوی روایت په عربي باندې اوریدلی وو. چې فلانکي درې طلاقه ورکړه: نو خکه چې کومو خلکو د عربیت صحیح شوق نه درلود. د انشاء او خبر په منځ کې یې فرق کولو باندې غور نه شو کولی، هغوی دا خیال وکړ چې د دریو طلاقو ورکولو مطلب دا دی چې کوم سړی طلاق ورکولو په ارادې خپلې ښځې ته داسې ووایي چې تاته درې طلاقه.

" او د عمر رضي الله عنه حدیث تکرار في المجلس باندې حمل کول. حال دا چې ددېنه مخکې تکرار په تاکید باندې حمل کېدلو (څنګه چې د نووي رحمه الله او قرطبي رحمه الله رایه ده) ناقابل اعتبار تاویل دی. چې دا حدیث د ابن عباس رضي الله عنهما چې د رکانه په باره کې وارد دی ساقط ګرځوي. (دا حدیث په مسند احمد کې دی او اوس به تاسو وګورئ چې دا حدیث خپله ساقط دی؛ نو بل شی به څه ساقط کړي؟) او ابن حجر رحمه الله وایي چې دا حدیث په دې مسئله کې نص دی، دا هغه تاویل نه قبلوي چې په نورو احادیثو کې جاري کېدی شي، (دا حدیث د ابن حجر رحمه الله په نزد معلول دی. څنګه چې (التلخیص الحبیر) کې دي. پس ددې محتمل تاویل نه کېدل څه فایده ورکوي؟)

زه وایم چې ماته باربار تعجب کیږي چې ددې ځان نه جوړ شوي مجتهدینو په کلام کې اخر یوه خبره هم داسې ولې نه ملاویږي چې هغه په څه درجه کې هم صحیح او درسته وي؟ شاید چې الله تعالی ددې خلکو د رسوا کولو پرېکړه کړې وي چې د ټول امت خلاف بغاوت کوي، واقعي د الله تعالی فیصله ټال کول ناممکن دي او هغه حکیم او خبیر دی.

یا الله! د حضرت عمر رضي الله عنه په څېر شخصیت په باره کې تصور کېدلی شي چې هغه خلکو ته ما ثبت في الشرع خلاف شیانو باندې مجبور کړي وو؟ او آیا د صحابه وو رضي الله عنهم په باره کې دا خیال کېدلی شي چې هغوی د حضرت عمر رضي الله عنه نه وېرېدل؟ حال دا چې په دوی کې داسې حضرات هم موجود وو چې د کوږ تلونکي کوږوالی به یې په خپلو تورو سیده کولو، د رسالې لیکوال چې څه ویلي دي دا خالص رافضي وسوسې او د رافضیت جراثیم دي، فسادیان داسې جراثیم د صحیح الفاظو په پرده کې پټول غواړي.

کوم کوږ تلونکی د کوم صحابي رضي الله عنه یو هم صحیح روایت نه شي پیش کولی چې هغه فتوی ورکړې وي چې درې طلاقه یو دی، دوی ته زیات نه زیات کوم شی چې ملاوېدی شي؛ نو هغه به د هغه قبیلې څخه وي چې هغه ابن رجب د اعمش نه نقل کړی وي او ددې ذکر په تېرو شو کرښو کې راغلی دی.

یا د ابوالصهبا د روایت د قبیل نه به وي چې د هغې علل قادحه په اهل علمو کې مشهور دی او دا هم په هغه صورت کې دی چې کله دا روایت په هغه احتمال باندې حمل شي چې د هغې اهل زیغ قائل دي، ددې بحث نزدې راځي یا د ابوالزبیر د هغه منکر روایت د قبیل څخه به وي چې د هغې د منکر کېدلو دلایل پورته ذکر شوي دي یا د طلاق رکانه رضی الله عنه د بعضې روایاتو د قبیل نه به وي چې د هغې غلط کېدل نزدې راځي یا د هغه قبیل به وي چې هغه ابن سیرین تر شل کاله پورې د داسې خلکو نه اوریدلي چې هغوی هغه ریښتیني ګڼل. وروسته ددې خلاف راوتل. څنګه چې په صحیح مسلم کې دي یا به د بن مغیث په راز ساقط الاعتبار سړي د نقل د قبیل نه به وي.

پس آیا حضرت عمر رضی الله عنه نه پوهیدلو چې خلک، په خلاف شرع مجبور کول حرام دي؟ ځئ فرض کړئ چې هغه خلک یې مجبور کړي وو، لیکن سوال دا دی چې ترک رجعت یا منع تزوج باندې د مجبور کولو قیمت په نکاح او طلاق باندې د مجبور کولو نه به خو زیات نه وي؟ اکثر د اهل علمو په نزد جبراً د نکاح ایجاب او قبول کولوسره نکاح نه کیږي، هم دغه راز جبراً د طلاق الفاظ ویلو سره طلاق نه کیږي، په دې صورت کې آیا هغه طلاق ورکولونکي ته دا استطاعت نه وو چې هغوی د حضرت عمر رضی الله عنه د علم نه بغیر خپلو مطلقو ښځو ته رجوع وکړي. یا (د عدت نه وروسته) نکاح وکړي؟ اخر داسې څوک دي چې خلک د داسې شیانو نه بند کړي چې د هغې دوی مالک وي؟ تردې پورې چې په انساب کې ګډوډ والی وشي او د شر ټولې دروازې خلاصې شي.

او ابن قیم ته خیال وشو چې هغه په خپل کلام فاسده باندې پرده اچولی شي چې د حضرت عمر رضی الله عنه دا عمل دهغه تعزیر د قبیلې څخه وو چې د هغه لپاره مشروع وو، لیکن سوال دا دی چې دا څنګه تصور کېدی شي چې کوم سړی د تعزیر په طور د یو شرعي حکم د الغا اقدام وکړي؟ او د داسې شي نوم تعزیري حکم کیږدي، د هغه تعزیر سره څه جوړښت او مناسبت لري چې په شریعت کې معروف دی، او چې د هغې فقهاء قائل دي؟ ابن قیم رحمه الله په دې مسئله باندې د اوږد کلام کولو باوجود ددې یو نظیر هم پېش نه کړی شو، بلکې ددې دروازې خلاصېدل. په حقیقت کې ټول شریعت ددې قسم حیلو او بهانو سره ددې قسم دروازه خلاصېدل دي، څنګه چې طوفي حنبلي د مصالح مرسله په اړه د داسې قسم دروازې خلاصېدلو باندې اوږد کلام نه کار اخیستی دی، پس د داسې قسم توجیه په حقیقت کې یو ګنده تهمت دی. حضرت عمر رضی الله عنه باندې هم، په هغه جمهورو صحابه وو رضی الله عنهم باندې هم چې د حضرت عمر رضی الله عنه سره یې په دې مسئله کې موافقت کړی دی او خپله شریعت مطهره هم، دا خبره په هغه سړي باندې پټه نه ده چې هغه ددې مسئلې پوره تحقیق کړی وي او هغه ددې ټولو اطرافو پوره معلومات کړی وي، محض د شاذ اقوالو په تقلید باندې یې اکتفا نه وي کړې، یا د بحث محض یو برخه یې نه وي کتلې.

او حافظ ابن رجب حنبلي رحمه الله په خپل کتاب کې د حضرت عمر رضي الله عنه د فيصلو په باره کې يوه باريکه فايده ذکر کړې ده، زما لپاره ممکن نه ده چې د هغې طرفته اشاره کولو نه بغير يې پريږدم، هغه ليکي

حضرت عمر رضي الله عنه چې کومې فيصلې کړي دي هغه په دوه قسمه دي

يوقسم دا چې په دې مسئله کې د حضور صلى الله عليه وسلم د جانب نه څه فيصله بيخي صادره شوې نه وي او ددې بيا دوه صورتونه دي

لومړی صورت دا چې حضرت عمر رضي الله عنه په دې مسئله کې غور کولو لپاره صحابه رضي الله عنهم لره جمع کړل، د هغوی نه يې مشوره وفرمايل او صحابه وو رضي الله عنهم په دې مسئله باندې د هغه سره اجماع وکړه، دا صورت خو داسې دی چې د چا لپاره پکښې د شک ګنجائش نشته چې هم دا حق دی، څنګه عمرتين (دوه عمرو) په باره کې ستاسو فيصله او څنګه چې د هغه سړي په باره کې فيصله چې هغه د احرام په حالت کې ښځې سره کوروالي کولو سره حج فاسد کړی وي، چې هغه ددې احرام مناسک پوره کړي او دهغه په ذمه قضاء او دم لازم دی او داسې نوري ډېري مسئلې

دويم صورت دا دی چې صحابه رضي الله عنهم په دې مسئله کې د حضرت عمر رضي الله عنه په فيصله باندې اجماع نه وي کړې، بلکې د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې هم په دې مسئله کې د هغوی اقوال مختلف وي، په داسې مسئله کې د اختلاف ګنجائش شته، څنګه چې د نيکه سره د ورونړو د ميراث مسئله ده.

دويم قسم هغه دی چې په هغې کې د حضور صلى الله عليه وسلم فيصله د حضرت عمر رضي الله عنه د فيصلې خلاف مروي وي، ددې څلور صورتونه دي:

اول دا دی چې په هغې کې حضرت عمر رضي الله عنه د حضور صلى الله عليه وسلم فيصلې طرفته رجوع کړې وې، په داسې مسئله کې د حضرت عمر رضي الله عنه د لومړني قول هيڅ اعتبار نشته.

دويم دا چې د حضور صلى الله عليه وسلم نه په هغه مسئله کې دوه حکمونه مروي وي، په هغې کې يو د حضرت عمر رضي الله عنه د فيصلې موافق وي په دې صورت کې کومې فيصلې باندې چې حضرت عمر رضي الله عنه عمل وکړو هغه به د نورو لپاره ناسخ وي.

دريم دا چې حضور صلى الله عليه وسلم په جنس عباداتو کې د متعدد انواع رخصت ورکړی وي، پس حضرت عمر رضي الله عنه په هغه انواعو کې افضل او اصلح د خلکو لپاره اختيار کړی وي او په خلکو باندې ددې پابندي وکړي، پس کوم صورت چې حضرت عمر رضي الله عنه اختيار کړی وي هغه پرهېزنودلو سره په کوم بل صورت باندې عمل کول منع نه دي.

څلورم دا چې د حضور صلى الله عليه وسلم فيصله په کوم علت باندې مبني وه هغه علت باقي پاتې نه شي؛ نو حکم هم باقي پاتې نه شو، څنګه چې مؤلفة القلوب، يا څه داسې مانع پيدا شو چې هغې په دې

حکم باندې د عمل کولو نه بند کړو

او صاحب بصیرت باندې پته نه ده چې دا مسئله هغه انواعو او اقسامو کې کوم قسم طرفته راجع ده

اوس مونږ حدیث ابن عباس رضی الله عنهما باندې چې په هغې کې د حضرت عمر رضی الله عنه د درې طلاقو د نفذ کولو ذکر دی او حدیث رکانه باندې بحث کوو. ددې لپاره چې دا خبره د ورځې په څېر واضحه شي چې د کوم کوړ تلونکي سړي لپاره دي دواړو حدیثونه د تمسک گنجائش پاتې نه شي. بلکې ددې دواړو سره د جمهورو په دلایلو کې زیاتي اضافه کیږي

پاتې شو د ابن عباس رضی الله عنهما حدیث چې د هغې شاوخوا دا شذوذ پسند په سند ویلو سره په نظر راخي. په دې امید دوی په دې حدیث کې څه داسې شی ملاو شي چې هغه د امت خلاف بغاوت لپاره د څه سهارې کار ورکړي.ـ ددې حدیث متن دا دی:

"ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي چې د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې، د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کې او د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت نه مخکیني دوه کالو کې درې طلاقه یو وو. پس حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه وفرمایل چې خلکو په یوه داسې معامله کې د چالاکۍ نه کار واخیست چې په هغې کې د دوی لپاره د سوچ گنجایش وو، پس که چېرته مونږ درې طلاقه په دوی باندې نافذ کړو. (نو بهتره ده) چنانچې حضرت عمر رضی الله عنه په دوی باندې درې طلاقه نافذ وگرځول." [۱]

په یو بل روایت کې د حضرت طاؤس رضی الله عنه نه دا الفاظ مروي دي چې:

"ابوالصهبا ابن عباس رضی الله عنهما ته وویل چې په خپل عجیبه خبرو کې څه راوړې! آیا درې طلاقه د حضور صلی الله علیه وسلم او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کې یو نه وو؟ ابن عباس رضی الله عنهما وفرمایل هو! هم دغسې وو، بیا چې کله د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې خلکو پرلپسې طلاق ورکول شروع کړل: نو حضرت عمر رضی الله عنه درې طلاقه په هغوی باندې نافذ کړل." [۲]

او په یو روایت کې د طاؤس رحمه الله نه دا الفاظ مروي دي چې:

"ابوالصهباء ابن عباس رضی الله عنهما ته وویل چې آیا تاته علم دی چې د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې، د حضرت ابوبکر رضی الله عنه په زمانه کې او د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په درې کالو کې درې طلاقه صرف یو گرځېدلی ؤ؟ ابن عباس رضی الله عنهما وویل، هو!" [۳]

---

[۱] عن ابن عباس قال: كان الطلاق على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبي بكر وسنتين من خلافة عمر طلاق الثلاث واحدة فقال عمر بن الخطاب: ان الناس قد استعجلوا في أمر كانت لهم فيه اناة فلو أمضيناه عليهم، فامضاه عليهم. (صحيح مسلم ج: ١ ص: ٤٧٧ طبع قديمي)ـ

[۲] عن طاوس ان أبا الصهباء قال لابن عباس رضى الله عنهما: هات من هناتك الم يكن الطلاق الثلاث على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وأبي بكر واحدة فقال قد كان ذالك فلماكان في عهد عمر تتابع الناس في الطلاق فاجازه عليهم. (صحيح مسلم ج: ١ص:٤٧٨، طبع قديمي)ـ

[۳] أخبرني ابن طاوس عن أبيه أن أبا الصهباء قال لابن عباس رضى الله عنهما..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

ددې درې واړو احاديثو تخريج امام مسلم په خپل صحيح کې کړی دی

ليکن په مستدرک حاکم کې يردون کوم لفظ (يعنې درې طلاقه به يې يو طرفنه ګرځولو) نو دا د عبدالله بن مؤمل روايت نه دی، چې هغه ابن معين، ابوحاتم، او ابن عدي ضعيف ګرځولی دی، ابوداؤد دې ته منکر الحديث وايي او د ابن مليکه په الفاظ حديث کې د انقطاع الفاظ دي او که چېرته په حاکم کې تشيع نه وی؛ نو هغه به مستدرک کې ددې حديث د تخريج نه انکار کولی، شيعه ګانو کې څومره داسې کسان دي چې د روافضو د تلبيسونو او د هغوی د شيعه څادر اړولو سره دوکه خوري، بغير ددې نه چې معلومه شي د داسې قسم مسئلو نه د شيعه ګانو اصل مدعا څه ده؟

اوس مونږ ته د ټولو نه مخکې " طلاق الثلاث " باندې غور کول پکار دي چې آيا (الثلاث) باندې لام استغراق داخل دی، او (درې طلاقه) د هر قسم درې طلاقه مراد دي؟ يا د درې طلاقو څه خاص معهود قسم مراد دی؟ (لومړنی شق خو باطل دی، ځکه چې، دلته هر قسم درې طلاقه مراد اخيستل ممکن نه دي، ځکه چې د درې طلاقو يو صورت دا دی چې درې طلاقه په جدا جدا طهرونو کې ورکړی شي، د داسې درې طلاقو يو کېدل ممکن نه دي. خواه که دا د طلاقو تعداد تر درې پورې محدود کولو نه مخکې وي يا ددې نه پس، ځکه چې هر کله طلاق تر درې پورې محدود کړی شوی نه وو، خلکو به چې څومره غوښتل طلاق به يې ورکولو او د درې يو کېدلو هيڅ اعتبار نه وو، لهذا طلاق تر درې پورې محدود ګرځولو نه مخکې د درې يو کېدلو هيڅ معنی نه وه او ددېنه پس هم د درې يو کولو تصور نه شو کېدی ځکه چې د حق تعالی ارشاد (الطلاق مرتان) په دې امر کې نص دی چې د طلاق تعداد چې دهغې نه پس مراجعت صحيح دی، صرف دوه دي، د دريم طلاق نه پس ښځه د خاوند لپاره حلاله نه پاتې کيږي، تر دې پورې چې هغه د دويم خاوند سره نکاح وکړي، پس ددې آيت شريف د نزول نه پس درې يو ګرځول به څنګه ممکن شي؟

غرض دا چې په دې حديث کې د درې طلاقو نه مراد داسې درې نه شي مراد کېدی چې جدا جدا طهرونو کې ورکول شوي وي، لهذا صرف يو احتمال پاتې شو چې د درې طلاقو نه مراد داسې درې طلاقه دي چې په جدا جدا طهرونو کې نه وي ورکول شوي چې په هغې کې کوروالی نه وي شوی او ددې احتمال صرف دوه صورتونه دي، يا خو به دا درې طلاقه په يو لفظ ورکول شوي وي، يا به په جدا جدا الفاظو سره، که چېرته په جدا جدا الفاظو سره پرلپسې واقع کړي؛ نو دې مطلقې سره به د خاوند خلوت (يوازيوالی) راغلی وي يا نه، که چېرته خلوت نه وي شوی؛ نو هغه به په لومړني لفظ سره باينه شي. د دويم او د دريم طلاق محل پاتې نه شو

....بقيه د تيرمخ] أتعلم انما كانت الثلاث تجعل واحدة على عهد النبي صلى الله عليه وسلم وأبي بكر وثلاثا من امارة عمر فقال ابن عباس رضي الله عنه: نعم! (صحيح مسلم ج: ١ص ٤٧٨، طبع قديمى).

او په کوم صورت کې، چې د ښځې سره د خاوند خلوت شوی وي پس که چېرته د طلاق ورکونکي نیت د یو طلاق وي او هغه دویم او دریم لفظ محض د تاکید په طور استعمال کړی وي؛ نو دیانةً به د هغه قول قبلولی شي.

او په کوم صورت کې چې درې طلاقه په الفاظو غیر متعاقبه یا په لفظ واحد سره واقع شوی وي؛ نو ددې دوه مفهومه دي.

یو دا چې نن د درې طلاقو په لفظ واحد سره د ورکولو رواج دی، دور نبوي ﷺ. دور صدیقي او د حضرت عمر په ابتدایي دور کې ددې رواج نه وو، بلکې هغه مقدس ادوارو کې ددې په ځای د یو طلاق ورکولو رواج وو، خلکو په هغه زمانه کې د سنت طلاق رعایت کولو سره په جدا جدا طهرونو کې درې طلاقه ورکول، وروسته زمانه کې خلکو پرلپسې یو ځای درې طلاقه ورکول شروع کړه، کله د حیض په حالت کې، کله په یو طهر کې په لفظ واحد یا په الفاظ متعاقبه سره.

دویم مفهوم دا کېدی شي چې څنګه د درې طلاقو ورکولو نن رواج دی چې خلک په لفظ واحد یا په الفاظ متعاقبه په یو طهر کې یا د حیض په حالت کې طلاق ورکوي هم دا رواج په هغه درې مقدس زمانو کې هم وو، لیکن هغه زمانو کې داسې درې طلاقه هم یو شمارل کېدو؛ نو آیا مونږ په دې معامله کې د هغو حضراتو مخالفت وکړو؟ او مونږ هغه درې طلاقه شمار کړو حال دا چې هغه حضراتو هغه درې یو شمارلو؟

الغرض د تقسیم نه پس چې آخري دوه احتماله راوتلي دي په هغې کې د لومړني احتمال خلاف داسې شی نشته چې دا غلط وګرځوي، ددې برعکس د دویم احتمال د غلط کېدلو قوي دلایل موجود دي، مثلاً:

۱: ددې حدیث راوي حضرت عبدالله بن عباس **رضی الله عنهما** فتوی ددې خلاف ده، (چې ددې احتمال باطل او مردود کېدلو دلیل دی) نقاد چې څومره احادیث په دې بنا ناقابل عمل ګرځولي دي چې ددې روایت کوونکي صحابه رضي الله عنه فتوی د هغوی خلاف ده، څنګه چې ابن رجب په شرح علل ترمذي کې دا په اوږد تفصیل سره لیکلی دی، هم دغه مذهب د یحی بن معین، یحی بن سعید القطان، احمد بن حنبل، او ابن المدیني دی، اګر که د ځینو اهل علمو رایه دا ده چې د راوي د روایت اعتبار دی، د هغوی د رایې اعتبار نشته، لیکن دا هم په دې صورت کې چې حدیث په خپل مفهوم کې نص وي چې په هغې کې دویم احتمال نه وي، که چېرته مفهوم قطعي نه وي؛ نو کم از کم راجح احتمال به وي مرجوح به نه وي، لیکن کوم احتمال چې محض فرضي وي ددې رایې مطابق هم هغه څنګه شمارېدی شي؟ او کوم کس چې په علم د مصطلح الحدیث کې صرف د متاخرینو کتابونو پورې خپل نظر ساتلی وي هغه په خپل بصارت باندې د خپل نظر د بلندۍ پټې تړلي دي او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا فتوی په تواتر سره ثابته ده چې درې طلاقه په لفظ واحد سره هم درې واقع کېږي، څنګه چې په تېر

شوي بحث کې د ابن عباس رضي الله عنهما د هغه روایت، حضرت عطاء، حضرت عمرو ابن دینار، حضرت سعید بن جبیر، حضرت مجاهد او د نورو حضراتو په حوالې سره بلکې پخپله د طاؤس په حوالې سره هم تیر شوي دي.

۲ ددې روایت په نقل کولو کې طاؤس منفرد دی او دده دا روایت د نورو حضراتو د روایاتو نه خلاف دی او دا داسې شذوذ (شاذ کېدل) دی چې د هغې په وجه روایت مردود شي، څنګه چې د پورته وجې سره مردود کیږي.

۳ د کرابیسي په حوالې سره پورته ذکر شوي دي چې ابن طاؤس د خپل پلار څخه دا روایت نقل کوي، هغوی هغه سړی دروغژن ګرځولی دی چې د هغه پلار (طاؤس) طرفته دا خبره منسوبه کړې چې هغه د درې طلاقو د یو کېدلو قائل وو.

۴ ددې روایت دا الفاظ چې "ابوالصهباء، وویل" دا د انقطاع الفاظ دي. (یعنې معلومه نه ده چې طاؤس خپله د ابوالصهبانه دا خبره واوریده یانه؟) او صحیح مسلم کې بعضې احادیث منقطع دي.

۵ همدارازد ابوالصهباء نه که چېرته د ابن عباس رضي الله عنهما مولی مراد وي: نو هغه ضعیف دی. څنګه چې امام نسائي ذکر کړی دی او که چېرته دویم وي: نو هغه مجهول دی.

۶ همدا راز د حدیث په بعضې طرق کې دا الفاظ دي. هات من هناتک. یعنې ابوالصهباء ابن عباس رضي الله عنهما مخاطب کولو سره وویل چې راوړه! خپل قابل نفرت او بدو خبرو کې څه واوروه! د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما جلالت قدر لحاظ ساتلو سره د هغه د درجې هیڅ صحابی هم هغه ته داسې الفاظو سره مخاطبه نه شي کولای. زیاتي دا چې د هغه غلام داسې ګستاخانه خبرې وکړي او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د هغه دا ګستاخانه خطاب تردید هم نه کړي!!

۷ او په پورتني تقدیر چې ابن عباس رضي الله عنهما هغه ته بغیر د تردید جواب ورکړی: (نو ګویا ددې حدیث قابل نفرت او بدو خبرو کې کېدل تسلیم کړل) دا روایت خپله د هغه د اقرار او تسلیم مطابق قبیح او مردود شو، (بیا هغه په استدلال کې د پیش کولو څه معنی ده؟) او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د رخصتونو حکم د سلف او خلف په منځ کې مشهور دی او د امام مسلم عادت دا دی چې هغه ټول طرق حدیث په یو ځای کې جمع کوي، ددې لپاره چې په حدیث باندې حکم لګول اسان وي او دا د حدیث د مرتبې د تعریف او تشخیص یو عجیبه طریقه ده.

۸ ددې حدیث مفهوم که چېرته لاندې واخیستل شي: نو ددې معنی به دا شي چې نعوذبالله حضرت عمر رضي الله عنه محض په خپله رایه د شریعت نه خروج اختیار کړو او د حضرت عمر رضي الله عنه عزت او عظمت دده نه بالاتر دی چې داسې خبره هغه ته منسوب شي.

۹ همدارازدې سره په جمهورو صحابه رضي الله عنهم باندې دا تهمت لګیږي چې هغوی نعوذبالله په خپلو تنازعاتو کې حضور صلی الله علیه وسلم لره - حکم - جوړولو په ځای رایه - حکم - وګرځولو. او دا یو داسې قباحت دی چې دا د صحابه وو رضي الله عنهم په باره کې د روافضو نه سهوا هیڅوک نه شي

زغملی او د اهل تحقیق په نزد ددې شذوذ مصدر روافض دي

۱۰ دا ګڼل چې د حضرت عمر رضي الله عنه دا عمل سياسي و، چې دا د تعزير اختيارولو په طور حضرت عمر رضي الله عنه لپاره ګنجائش وو، دا فضول تهمت دی چې ددېنه د حضرت عمر رضي الله عنه لمنه پاکه ده، اخر داسې به څوک وي چې د سياست په طور د شريعت خلاف بغاوت جائز وګڼي؟

پس دا "عشره کامله" (پوره لس وجوه) آخري دوه احتمالونو کې د دويم احتمال د باطل کېدلو فيصله کوي، لهذا د صحت په تقدير د حديث لومړنی احتمال متعين دی. (۱)

او ما د "ذيول طبقات الحفاظ" په تعليقاتو کې هم ددې حديث علل ذکر کړی دي چې د دلته د بيان سره قريب قريب دي.

علاوه ددې نه درې ته يو ويل (د نصاری قول دی) د مسلمانانو د مذهب سره ددې هيڅ تعلق نشته.

جعلوا الثلاثة واحداً، لو انصفوا
لم يجعلوا العدد الكثير قليلاً

ترجمه: هغوی درې يو جوړ کړو، که چېرته هغوی انصاف کولی؛ نو عدد کثير به يې قليل نه جوړولو.

حافظ ابن رجب خپل مذکور الصدر کتاب کې د ابن عباس رضي الله عنهما په هغه حديث باندې خبرې کوي او ليکي:

"پس ددې حديث په باره کې د ائمه اسلام دوه مسلکه دي، يو مسلک د امام احمد رحمه الله او دهغه د موافقينو دی، چې د هغې خلاصه دا ده چې ددې حديث په اسناد کې کلام دی، ځکه چې دا روايت شاذ دی، طاؤس ددې په نقل کولو کې منفرد دی او د هغه هيڅ متابع موجود نه دی، څوک راوي د حديث خواه که بذات خود ثقه وي، ليکن د ثقه راويانو خلاف د هغه کوم حديث نقل کولو کې متفرد کېدل حديث کې يو داسې علت دی چې د هغې قبلولو کې توقف واجب کوي او د هغې په وجه روايت شاذ يا منکر جوړېږي، هر کله چې هغه کومې دويمې صحيح طريقې سره مروي نه وي او دا طريقه ده د متقدمينو ائمه حديثو، څنګه چې د امام احمد، يحيی بن معين، يحيی بن قطان، علی بن المديني وغيره، او دا حديث داسې دی چې دا د طاؤس نه سېوا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه څوک هم نه روايت کوي، د ابن منصور په روايت کې دي.

---

۱) او ما د احتمال نسخ نه تعرض اوکړو، ځکه چه دا احتمال ډېر کمزورې دی، امام شافعی رحمه الله او دهغه پيروي کولو والا ددې احتمال نه محض ارخائے عنان په خاطر تعرض کړې دی، دې دپاره چه کمزور نه کمزور احتمال لره هم باطل ثابت کولوسره ددې حديث نه استدلال کولووالا لاره د هر طرفنه بنده کړې شی، او په دې (احتمال نسخ) کښې کلام اوږد او شاخ درشاخ دې.

، مونږ دې روایت طرفته مخکې اشاره کړې ده، چې امام احمد رحمه الله وفرمایل: د ابن عباس رضي الله عنهما ټول شاګردان د طاؤس خلاف روایت کوي "

، مونږ ددې مثل اثرم، نه هم پورته نقل کړي دي او جوزجاني (صاحب الجرح)، وایي دا حدیث شاذ دی، ما په زمانه قدیم کې ددې ډیر تلاش وکړ. لیکن ماته ددې هیڅ اصل پیدا نه شو

ددېنه پس ابن رجب لیکي: " کله چې امت د کوم حدیث د عمل کولو خلاف اجماع وکړي؛ نو هغه پرېښودل واجب دي، امام عبدالرحمن بن مهدي رحمه الله فرمایي چې هغه سړی په علم کې امام نه شي جوړېدی چې شاذ علم بیانوي، امام ابراهیم نخعي رحمه الله فرمایي چې سلف صالحینو به د غریب حدیث څخه کرکه کوله، یزیدبن ابي حبیب وایي کله چې تاسو کوم حدیث واورئ نو هغه تلاش کړئ، څنګه چې ورک شوی شی تلاش کولی شي، که چېرته وپېژندل شي؛ نو صحیح دد. کنه نو لرې یې وغورځوئ!

د امام مالک رحمه الله نه مروي دي چې بد علم غریب دی او تر ټولو غوره بهتر علم ظاهر دی. چې هغه عام خلک روایت کوي او په دې باب کې د سلفو نه ډیر ارشادات مروي دي. (۱)

ددې نه پس ابن رجب لیکي:

" حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چې ددې حدیث راوي دی، د هغه نه په صحیح سند سره ثابت دي چې هغوی ددې حدیث خلاف یو ځای د درې طلاقو لازمېدلو فتوی ورکړه، امام احمد رحمه الله او امام شافعي رحمه الله هم ددې علت له وجې دا حدیث معلول ګرځولی دی، څنګه چې ابن قدامه رحمه الله په (المغني) کې ذکر کړی دی او که تنها هم دغه یو علت وی؛ نو ددې حدیث د ساقطېدلو لپاره کافي وو. لا دا چې ددې سره دا علت هم شامل وو چې دا حدیث شاذ او منکر دی او د اجماع امت نه خلاف دی، قاضي اسماعیل رحمه الله احکام القرآن کې لیکي چې طاؤس رحمه الله د خپل فضل او صلاح باوجود ډیر منکر شیان روایت کوي، چې یو له هغې دا حدیث دی او د ایوب نه مروي دی چې هغه د طاؤس رحمه الله په کثرت خطاء تعجب کوي او ابن عبدالبر رحمه الله وایي چې ددې حدیث په روایت کې طاؤس شذوذ اختیار کړی دی.

„ علماء اهل مکه ددې شاذ اقوالو له وجې به په طاؤس رحمه الله باندې نکیر کولو چې د هغې په نقل کولو کې هغه متفرد دی.

او کرابیسي رحمه الله (ادب القضاء' کې لیکي چې طاؤس رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما نه ډیر اخبار منکره نقل کوي او زمونږ رایه دا ده (والله اعلم) چې دا منکر خبرونه هغه د عکرمه رحمه الله نه اخیستلي دي او سعید بن مسیب رحمه الله، عطاء رحمه الله او د تابعینو یو جماعت د عکرمه رحمه الله نه پرهېز کړی او

(۱) ابراهیم بن ابی عبله فرمائی چه، چا، شاذ علم اوچت کړوهغه ډیر لوی شر اوچت کړو، او شعبه وائی چه ستاسو مخامخ شاذ حدیث لره صرف شاذ سړی (یعني ضعیف او غیر معروف سړی) به بیان کړی، دا اقوال ابن رجب په، شرح علل ترمذی کښې ذکر کړی دي

طاؤس رحمه الله ته تللي وو، طاؤس رحمه الله د عکرمه رحمه الله نه هغه څه اخیستلي وو چې هغه عموماً د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت شوي وي، ابوالحسن السبکي رحمه الله وايي، پس ددې روایاتو ذمه داري په عکرمه رحمه الله باندې ده، طاؤس رحمه الله باندې نه ده.

او د ابن طاؤس رحمه الله نه د کرابیسي رحمه الله روایت مونږ مخکې ذکر کړی دی چې د هغه پلار طاؤس طرفته دا څه منسوب کړي دي هغه ټول دروغ دي او دا خبرې خو د اول مسلک متعلق وې (۱)
او د دویم مسلک په باره کې هم ابن رجب رحمه الله لیکي:

,, دا مسلک د ابن راهویه او د هغه د پیروکارو دی، دا چې هغه حدیث غیر مدخول بها باندې حمل کوي، دا ابن منصور د اسحاق بن راهویه رحمه الله نه نقل کړی دی او الحوفي په الجامع کې دې ته اشاره کړې ده او ابوبکر الاثرم په خپل سنن کې په دې باندې باب تړلی دی او ابوبکرالخلال هم په دې باندې دلالت کړی او سنن ابوداؤد کې د حماد بن زید . عن ایوب عن غیر واحد عن طاؤس عن ابن عباس رضي الله عنهما دا روایت داسې نقل کړی دی چې:

" سړی چې کله خپلې ښځې ته درې طلاقه د دخول نه مخکې ورکړي: نو دا به یې یو ګرځولو د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کې او د حضرت عمر رضي الله عنه په ابتدايي دور کې. بیا چې کله حضرت عمر رضي الله عنه خلک وکتل چې پرلپسې طلاق ورکولو کې اخته دي؛ نو وې فرمایل : چې دا په دوی باندې نافذ کړه او ایوب لوی امام دی، پس که څېرته وویل شي چې هغه روایت خو مطلق وو نو مونږ به وواېو چې مونږ دواړو دلیلونه جمع کړي او وایو چې هغه روایت هم قبل الدخول باندې حمل دی.

په دویم مسلک کې د ابن رجب کلام دی.

شوکاني په خپله رساله "درې طلاقو" کې (د ابوداؤد پورته هغه روایت چې په هغې کې د طلاق قبل الدخول ذکر دی) د ځینې افرادو د تنصیص د قبیل نه د ګرځولو قصد کړی دی، حال دا چې مونږ ذکر کړي دي چې په " الثلاث " کې لام په استغراق باندې حمل کول صحیح نه دي، لهذا دا روایت به ددې قبیل څخه نه وي او د شوکاني دا کلام محض ددې لپاره دی چې

---

۱) او ابن قیم چې نقل کړي دي حضرت عمر رضي الله عنه د طلاق په باره کې خپل کار باندې پښېمانه شو، دا یو د ځان نه جوړه شوې د دروغو کیسه ده، ددې په سند کې خالد بن یزید بن ابي مالک واقع دی. چې د هغه په باره کې ابن معین فرمایي چې هغه صرف په خپل پلار باندې دروغو تړلو باندې راضي نه شو، تر دې پورې چې هغه په صحابه وو رضي الله عنهم باندې هم دروغ تړلي دي او دده،، کتاب الدیات، ،ددې لائق دی چې دې لره دفن کړی شي.

لطیفه : د خالد په خا باندې نقطه وه، نوک قلم باندې روښنایي زیاته پرېوته؛ نو دا نقطه حا طرفته وبهېده چې د هغې نه زاویه حاده جوړه شوه کتلو والا تصحیف کولو سره دې لره مجالد بن یزید وویلو، حال دا چې د هغه خالد مجالد نوم څوک ورور بیخي نه ؤ، د خالد پلار یزید د حضرت عمر رضي الله عنه زمانه بالکل قطعاً نه وه موندلې.

هغه ته بهرحال د خبرو عادت دی، خواه که د خبرې ګټه وي او یا نه. بالکل هم هغسې حالت چې د هغې ذکر امام زفر رحمه الله فرمایلی وو (چې زه مخالف سره مناظره کولو وخت کې صرف هغه خاموشه کېدلو باندې نه مجبوروم بلکې هغه سره مناظره کوم. تردې چې هغه لېونی شي او د لېوني کېدلو مطلب دا دی چې داسې لېونې خبرې پیل کړي چې کله هم چا نه وي کړي)، بیا شوکاني وايي چې طلاق قبل الدخول نادر دی. پس خلکو څنګه پرلپسې طلاق ورکول شروع کړل تردې پورې چې حضرت عمر رضي الله عنه غوسه شو؟ زه وایم چې کوم شی په یو ښار کې یا په یوه زمانه کې نادر شمارل کېږي هغه ځینې وخت په دویمه زمانه کې او په بل ښار کې نادر نه وي، بلکې کثیرالوقوع وي؛ نو ځکه د شوکاني دا اعتراض بې ځایه دی. علاوه ددېنه شوکاني دا غواړي چې سنن ابوداؤد کې روایت شوی صحیح حدیث حکم محض په رایه باطل کړي، (پس دا په حقیقت کې د انکار حدیث جراثیم دي) غالباً هم دومره وضاحت ددې خبرې د ښودنې لپاره پوره دی چې د هغه خلکو لپاره د حدیث ابن عباس رضي الله عنهما نه د استدلال هیڅ ګنجائش نشته.

اوس د رکانه حدیث واخلئ! چې په هغې سره دا خلک استدلال نیول غواړي، دا هغه حدیث دی چې هغه امام احمد په خپل مسند کې په دې الفاظو ذکر کړی دی:

حدیث بیان کړو مونږ ته سعد بن ابراهیم، وې ویل خبر راکړو مونږ ته زما پلار، محمدبن اسحاق ته یې وویل حدیث بیان کړو زما نه داؤد بن حصین د عکرمه نه، هغه د ابن عباس رضي الله عنهما نه چې هغه وفرمایل:

„ رکانه بن عبد یزید خپلې ښځې ته درې طلاقه په یو مجلس کې ورکړي وو بیا هغه په دې باندې سخت خفه شو، حضور صلی الله علیه وسلم د هغه نه پوښتنه وکړه چې تا څنګه طلاق ورکړی دی؟ هغه وویل چې ما درې طلاقه په یو مجلس کې ورکړي دي، حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا خو یو شو، لهذا ته که چېرته غواړې؛ نو هغې ته رجوع وکړه! نو ځکه رکانه هغې ته رجوع وکړه. [۱]

او ماته بې حده تعجب راځي چې کوم سړی دا دعوه کوي چې د صحابه وو رضي الله عنهم په زمانه کې درې طلاقه، انت طالق ثلاثا، په لفظ سره واقع کېدو نه، نو هغه ددې حدیث نه درې یو طرفته رد کولو باندې استدلال کول څنګه غواړي؟ پس چې درې طلاقه په مجلس واحد کې، انت طالق ثلاثا، په الفاظ سره نه وي؛ نو خامخا به په تکرار د لفظ سره وي او د تکرار په صورت کې دوه احتماله دي، یو دا چې هغه د تاکید اراده کړې وي، دویم دا چې هغه د درې

[۱] عن ابن عباس رضی اللّٰه عنهما قال: طلق رکانة ابن عبد یزید أخو المطلب امر أته ثلا ثاً، فحزن علیها حزنًا شدیدًا، قال: فسال رسول الله علیه وسلم: کیف طلقتها؟ قال: طلقتها ثلا ثاً، قال: فی مجلس واحد؟ قال: نعم! قال: انما تلک واحدة، فارجعها ان شئت. قال: فراجعها. (مسند أحمد بن حنبل، رقم الحدیث: ۲۳۸۷ طبع دار الحدیث قاهرة)

طلاقو واقع كېدلو قصد كړى وي. پس كله چې معلومه شوه چې هغه صرف د يو اراده كړې وه؛ نو ديانةً به د هغه قول قبلولى شي، او د هغه دا وينا چې ما درې طلاقه وركړې دي، ددې معنى به دا وي چې هغه د طلاقو لفظ درې خله تكرار كړى دى او كېدى شي چې راوي حديث مختصر كولو سره روايت بالمعنى كړى وي.

علاوه ددې نه دا حديث منكر دى، څنګه چې امام جصاص[١] او ابن همام فرمايي[٢]: ځكه چې دا پوخ كار د ثقه راويانو د روايت نه خلاف دى، همداراز دا حديث معلول هم دى، څنګه چې ابن حجر رحمه الله تخريج احاديث رافعي (التلخيص الحبير) كې ذكر كړى دى. تخريج كې د ابن حجر رحمه الله الفاظ دا دي:

حديث: ركانه بن عبديزيد د حضور ﷺ په خدمت كې حاضر شو. پس وې ويل چې ما خپلې ښځې ته سهميه ته (البته) طلاق وركړى دى او په الله قسم! چې ما د يو طلاق اراده كړې وه، نو ځكه حضور ﷺ زما ښځه ماته واپس كړه، دا حديث امام شافعي رحمه الله، ابو داؤد، ترمذي او ابن ماجه تخريج كړى دى او هغوى په دې كې اختلاف كړى دى چې آيا دا ركانه پورې مسند دى يا مرسل؟ ابوداؤد ابن حبان او حاكم ددې تصحيح كړې ده او امام بخاري رحمه الله دا د اضطراب له وجې معلول كړى دى، ابن عبدالبر په تمهيد كې ويلي چې محدثينو دا ضعيف ګرځولى دى او په دې باب كې يې د ابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت كړى دى (يعنې بلفظ ثلاث، څنګه چې مونږ پورته پوره روايت نقل كړى دى) هغه امام احمد او حاكم روايت كړى دى او دا معلول دى.[٣]

بلكې ابن حجر رحمه الله په فتح الباري كې د هغه حضراتو د رايې تصويب كړى دى چې (د ابن عباس رضي الله عنهما مذكوره حديث كې) د درې لفظ د ځينو راويانو بدل شوى لفظ دى، ځكه چې (البته) لفظ سره درې طلاقه واقع كېدل شائع وو، (نو ځكه راوي (البته) درې ګڼلو سره د طلاق لفظ نقل كړو) او د اهل علمو اقوال د (طلاق بته) په باره كې مشهور دي.[۴]

١]أحكام القرآن للجصّاص، ذكر الحجاج لِا يقاع الطلاق الثلاث معًا ج:١ ص: ٣٨٨ طبع سهيل اكيدمى)

٢]فتح القدير لا بن همام الحنفى ج: ٣ ص: ٢٦ وطلاق البدعة. طبع دار صادر بيروت)_

٣]حديث: أن ركانة بن عبد يزيد أتى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: انى طلقت امرأتى سهيمة ألبتة، وو الله ما أردت الاّ واحدة، فردها عليه، الشافعى وأبو داؤد والترمذى وابن ماجة، ركانة، أو مرسل عنه، وصححه أبوداؤد وابن حبان والحاكم، وأعله البخارى بالاضطراب، وقال ابن عبد البر فى التمهيد: ضعفوه، وفى الباب عن ابن عباس رواه أحمد والحاكم، وهو معلولَ أيضًا. (التلخيص الحبير فى تخريج أحاديث الرافعى الكبير ج: ٣ ص: ٢١٣ رقم الحديث: ١٦٠٣ طبع المكتبة الأ ثرية، بيروت)_

٤] الثالث أن أبا داؤد رجح أن ركانة انما طلق امرأته البتة كما أخر جه هو من طريق آل بيت ركانة، وهو تعليل قوى لجواز ان يكون بعض رواته حمل البته على الثلاث فقال طلقها ثلاثا، فبهٰذه النكتة يقف الاستدلال بحديث ابن عباس. (فتح البارى، كتاب الطلاق، باب من طلق وهل ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

اوس مونږ په مسند احمد کې (پورتنی) حدیث محمد ابن اسحاق باندې کلام کوي. ددې لپاره چې ددې د منکر او معلول کېدلو وجوه ښکاره شي

پاتې شو محمدبن اسحاق؛ نو امام مالک رحمه الله او هشام بن عروه وغیره په اوږدو الفاظو کې ده ته کذاب ویلی دی، ده د صاحب ضعفا نه تدلیس کړی او د بیان کولو نه بغیر یې د اهل کتابو د کتابونو نه نقل کړی دی او دا به یې نه ویل چې دا اهل کتابو روایت دی. په دې باندې د قدر تهمت هم پرې دی او د خلکو حدیث په خپل حدیث کې د داخلولو هم په ده باندې الزام دی، دا داسې سړی نه دی چې دده قول په صفاتو کې قبول کړی شي او نه په احادیثو د احکام کې دده روایت معتبر دی، خواه که هغه د سماع تصریح وکړي. کله چې د هغه د روایت خلاف روایات پرلپسې وارد وي او چا چې دده روایت ته قوي ویلی دی: نو صرف په مغازي کې یې ورته قوي ویلی دی.

په دې حدیث کې دویم راوي داؤد بن حصین دی، چې د خارجیانو د مذهب په داعیانو کې ؤ او که څېرته امام مالک رحمه الله دده نه روایت نه وي کړی؛ نو دده حدیث به ترک کېدو، څنګه چې ابو حاتم ویلي دي او ابن مدیني وایي چې داؤد بن حصین چې کوم روایت د عکرمه نه نقل کړي هغه منکر دي او د اهل جرح او تعدیل کلام دده په باره کې طویل الذیل دی. کومو حضراتو چې د هغه روایت قبول کړی دی؛ نو صرف په هغه صورت کې یې قبول کړی چې کله هغه د نکارت نه خالي وي. پس دده روایت ثقه راویانو خلاف څنګه قبلېدی شي.

او دریم راوي عکرمه دی چې په هغه باندې د ډېرو بدعاتو تهمت دی، سعید بن مسیب او عطاء په راز حضراتو دده نه ځان ساتلی دی، پس د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت کوونکي ثقه راویانو خلاف د هغه قول څنګه قبلېدی شي؟ پس چا چې هغه روایت ته منکر وویل؛ نو هغه ډېر صحیح ویلي دي او امام احمد نه ددې قسم متن تحسین د داسې سند سره صحیح نه دی، حال دا چې هغه خپله فرمایي چې د طاؤس روایت د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه د درې طلاقو په باره کې شاذ او مردود دی، څنګه چې مونږ د اسحاق بن منصور او ابوبکراثرم په حواله ددېنه مخکې نقل کړي، ابن همام لیکي چې صحیح روایت هغه دی چې هغه ابوداؤد، ترمذي او ابن ماجه نقل کړی دی چې رکانه خپلې ښځې ته (بته) طلاق ورکړی وو، حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته قسم ورکړ چې هغه صرف د یو اراده کړې وه؛ نو ځکه حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته ښځه واپس کړه، هغه دویم طلاق د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې او دریم د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کې ورکړی ؤ.[۱]

…بقیه د تیرمخ] یواجه الرجل امرأته بالطلاق ج: ۹ ص: ۳۶۲ حدیث رقم: ۵۲۶۱ طبع دار نشر الکتب الا سلامیه، لاهور)۔

[۱] والأصح ما رواه أبو داؤد والترمذی وابن ماجة ان رکانة طلق زوجته...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

ددې مثل په مسند شافعي کې دی؛ نو ځکه د ابوداؤد په سند کې نافع بن عجير بن عبديزيد دی[۱]، پس نافع ابن حبان په ثقات کې ذکر کړی دی، اګر که نافع ته ځينې داسې خلکو مجهول ويلی چې د هغوی د رجال نه ډير زيات بې خبره دي او د هغه د پلار لپاره دا کافي ده چې په کبارو تابعينو کې دی او د هغه په باره کې جرح نقل نه ده او د امام شافعي په سند کې عبدالله بن علي بن سائب بن عبيدبن عبد يزيد ابو رکانه واقع دی، چې هغه ته امام شافعي ثقه ويلی دی، پاتې شو عبدالله بن علي بن يزيد رکانه، چې ابن حزم ذکر کړی دی دده ابن حبان توثيق کړی دی، علاوه ددېنه په تابعينو کې دا کافي ده چې هغوی په جرح سره ذکر نه وي شوي، ددې لپاره چې هغه د جهالت وصفي نه ووځي، په صحيحين کې ددې نوعيت ډير رجال دي، ځنګه چې الذهبي په دې وينا سره اعتماد کړی دی چې د سړي اولاد او د هغه د کور خلک د هغه د حالاتو نه زيات خبردار وي.[۲]

حافظ ابن رجب د ابن جريج هغه حديث ذکر کړی چې په هغې کې وايي: ماته خبر راکړی دی ابورافع مولی د نبي ﷺ په اولاد کې بعضې د عکرمه نه هغوی د ابن عباس رضي الله عنهما (ددې سند نه د مسند روايت مونږ معنا روايت ذکر کړی دی) دې روايت سره حافظ ابن رجب ليکي چې:

" د هغه په سند کې مجهول راوي دی او د کوم سړي نوم چې يې نه دی اخيستلی هغه محمد بن عبدالله بن ابي رافع دی، چې ضعيف الحديث دی او د هغه احاديث منکر دي او ويل شوي چې هغه متروک دی، لهذا دا حديث ساقط دی او محمدبن ثور الصنعاني په روايت کې چې رکانه ويلي ما دې ته طلاق ورکړو، په دې کې د " ثلاثا " لفظ نه دی ذکر کړی او محمد بن ثور ثقه دی، د لوېې درجې سړی دی، همداراز د هغه معارض هغه روايت هم دی چې د رکانه د اولاد نه مروي دی چې هغه خپلې ښځې ته " بته " طلاق ورکړی ؤ.

ددېنه د ابن قيم د کلام فساد معلوميږي چې هغه په دې حديث باندې کړی دی، په کوم صورت کې چې حديث رکانه کې (البته) روايت صحيح وي دهغې نه د جمهورو دلايلو کې مزيد اضافه کيږي او په کوم صورت کې چې حديث رکانه کې اضطراب وي لکه ځنګه چې

...بقيه د تيرمخ] البتة فحلفه رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه ما أراد الاّ واحدة، فردها اليه، فطلقها الثانية فى زمن عمررضى الله عنه والثالثة فى زمن عثمان رضى الله عنه.(فتح القدير ج:۳ ص:۲۶ طبع دار صـ د بيروت)

۱]حدثنا ابن السرح وابراهيم ابن خلد الكلبى فى آخرين قالوا نا محمد بن ادر يس الشافعى حدثنى عمى محمد بن على بن شافع عن عبيدالله بن على بن السائب عن نافع بن عجير بن عبد يزيد بن ركانة أن ركانة بن عبديزيدطلق امرأته سهيمه...الحديث.(أبوداود،كتاب الطلاق، باب فى ألبتة ج:۱ ص:۳۰۰ طبع ايچ ايم سعيد)

۲] قال أبوداؤد هٰذا أصح من حديث ابن جريج ان ركانة طلق امرأته ثلا ثًا لأنهم أهل بيته وهم اعلم به. (سنن ابى داؤد، كتاب الطلاق، باب ألبتة ج:۱ ص:۳۳۰، طبع ايچ ايم سعيد، أيضًا: بذل المجهود، كتاب الطلاق، باب فى ألبتة ج: ٤ ص:۷۶ طبع مكتبة امدادية ملتان)۔

امام ترمذي د امام بخاري نه نقل کړي[1] او امام احمد د هغه ټولو طرق ضعيف ګرځولي دي او ابن عبدالبر هم د هغه په تضعيف کې د امام احمد پيروي کړې ده. په دې صورت کې د حديث رکانه په الفاظو کې د کوم لفظ نه هم استدلال ساقطيږي. ددې حديث په اضطراب کې يو دا دی چې کله روايت کوي چې طلاق ورکوونکی ابورکانه وو او کله دا چې د رکانه پلار نه وو بلکې خپله رکانه وو. دا اضطراب داسې دفع کېدی شي چې دا اضطراب د درې په روايت کې دی (البته) په روايت کې نشته، د (البته) روايت متن او سند په اعتبار سره د علت نه خالي دی او که چېرته فرض شي چې په دې کې هم علت دی؛ نو (دا روايت به ساقط الاعتبار وي او) باقي دلايل به بې معارضه پاتې شي.

« موږ په امت کې هيڅوک نه پيژنو، چا چې په دې مسئله کې مخالفت کړی وي. نه ظاهري مخالفت، نه د حکم په اعتبار سره، نه د فيصلې په لحاظ سره، نه د علم په طور باندې، نه د فتوی په طور باندې او دا مخالفت نه دی واقع شوی مګر د ډير کمو افرادو له جانبه، هغه خلکو باندې هم د هغوی هم عصر حضراتو د آخري درجې نکير کړی، په هغوی کې اکثره خلک هغه مسئله پټه ساتي، د هغې اظهار به يې نه کولو.

د الله تعالی د دين په اخفا باندې اجماع څنګه کېدی شي، کوم دين چې الله تعالی د خپل رسول ﷺ په ذريعه نازل کړی؟ او د هغه سړي د اجتهاد پيروي څنګه جائزه ګرځي چې په خپله رايه د هغه مخالفت کوي؟ د هغې اعتقاد هر وخت ناجائز دی.

اميد دی چې دې بيان سره به واضحه شوې وي چې د حضرت عمر رضي الله عنه درې طلاقه نافذ کول حکم شرعي وو، چې د هغې په مرسته کتاب او سنت موجود دی او کومه اجماع چې د فقهاء صحابه وو رضي الله عنهم ده، تابعين او د هغې نه پس حضراتو اجماع ده، دا د حکم شرعي په مقابله کې تعزيري سزا نه وه، پس کوم سړی چې د حضرت عمر رضي الله عنه د درې طلاقو د نافذولو نه خروج کوي، دی د هغه ټولو شيانو نه خروج کوي.

(٦) طلاق په شرط باندې معلق کول او د طلاق قسم خوړل

د رسالې ليکوال په ۱۱۴ مخ باندې ليکي:

د معلق طلاق ټول صورتونه غير صحيح دي او معلق طلاق نه واقع کيږي.

۸۳ مخ باندې ليکي:

" او په دې سلسله کې د هغه معاملې د بادشاهانو خواهشات خصوصاً د بيعت په معامله کې قوي کړه:

---

[1] جامع الترمذی، أبواب الطلاق واللعان، باب ماجاء فی الرجل طلق امرأته ألبتة ج: ۲۲۲، طبع دهلی)۔

د محترم ليکوال د معلق طلاق دواړه صورتونه باطل ګرځول او د اولنی دورې په فقهاوو باندې دا تهمت لګول چې هغوی د بيعت په حلف کې د ملوک او د اُمراء د خواهشاتو تکميل کولو، د هغه سړي په نزد لوی بې باکی دی چا چې په دې مسئله کې د فقهاوو د نصوصو مطالعه کړې وي او څوک چې د هغه فقهاوو د حالاتو نه خبر وي چې هغوی د حق په لاره کې څنګه ځان قربان کړی وو.

زما خيال وو چې د ابو الحسن السبکي رساله ,,الدرة المضية،، او دې سره څو نورې رسالې چې د څو کالو نه خپرېږي د هغې د مطالعې نه پس هغه خلکو ته هم په دې مسئله تعليق کې د شک ګنجايش نه وي چا ته چې د فقهي مذاهبو د مبسوط کتابونو د ورقې اړولو موقع نه ملاوېږي، محترم مصنف ته غالباً ددې مطالعې اتفاق نه دی شوی، يا به هغه به په قصده د بې ځايه حجت لاره خوښه کړې وي.

د فقهاوو صحابه، تابعينو او تبع تابعينو مذهب دا دی چې طلاق کله په کوم شرط باندې معلق شي؛ نو د شرط د موجودېدلو په صورت کې طلاق واقع کيږي، خواه که شرط د حلف د قبيلې نه وي چې د ترغيب يا د منعې يا د تصديق فايده ورکړي، يا ددې قبيلې څخه نه وي چې په هغې کې ديو شي فايده ورنکړي، ددې ټولو اکابرو خلاف د ابن تيميه قول دی چې کوم تعليق د قبيلې د حلف وي؛ نو په هغې کې طلاق نه واقع کيږي، بلکې د حلف ماتيدلو په صورت کې کفاره لازميږي او دا داسې خبره ده چې د ابن تيميه نه مخکې چا نه ده کړې، د تعليق په دې دواړو قسمونو کې روافض هم د صحابه او تابعينو او تبع تابعينو مخالف دي او بعضې ظاهريه چې په هغې کې ابن حزم هم شامل دی، په دې مسئله کې د روافضو پيروي کوي او ددې ټولو نه مخکې چې اجماع شوې ده هغه د دوی خلاف حجت دی او کومو حضراتو چې په دې مسئلې باندې اجماع نقل کړې هغه دا ده: امام شافعي، ابوعبيد، ابوثور، ابن جرير، ابن منذر محمد بن نصر مروزي، ابن عبدالبر (التمهيد او الاستذکار)[1] کې فقيه ابن رشد (المقدمات)[2] کې او ابوالوليد الباجی (المنتقي) کې، د حديثو او اثار وسعت کې ددې حضراتو هغه مرتبه ده که په دوی کې يو بزرګ څېرته اپرينجي وکړي؛ نو دده اپرينجي نه به شوکاني، محمدبن اسماعيل الامير او قنوجي په شان لس سړي ودورېږي، د محمد بن نصر مروزي په باره کې خپله ابن حزم وايي:

۱] الاستذکار لابن عبدالبر، کتاب الطلاق، باب يمين بطلاق مالم ينکح ج: ٦ ص: ١٨٩ رقم الحديث: ١١٩٤ طبع دار الکتاب العلمية، بيروت)۔

۲] المقدمات الممهدات، لبيان ما اقتضته رسوم المدونة من الأ حکام الشرعية والتحصيلات، لأبي الوليد محمد بن رشد القرطبي، کتاب الأيمان، باب الطلاق، ماجاء في الأيمان بالطلاق، ج: ١ص:٣٠٥ طبع دار الکتب العلمية، بيروت)۔

که چېرته څوک دا دعوه کوي چې د رسول الله ﷺ او د رسول الله ﷺ د صحابه وو رضي الله عنهم څخه داسې حدیث نشته چې محمد بن نصر سره نه وي؛ نو د داسې سړي دعوه به صحیح وي او دا حضرات د اجماع په نقل کولو کې امین دي او په صحیح بخاری کې د حضرت عمر رضي الله عنه فتوی هم دا ده چې طلاق معلق واقع کیږي؛ نو څکه نافع وایي چې یو سړي داسې طلاق ورکړو که چېرته هغه ووته؛ نو هغې ته قطعي طلاق، حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وفرمایل که چېرته ووته: نو دده نه به باینه شي او که نه ووته نو هیڅ ونه شو[1]. دا فتوی هم ښکاره ده. د ابن عمر رضي الله عنهما په علم او فتوی کې د هغه د محتاط کولو څوک شک کولی شي؟ او د کوم یو صحابي رضي الله عنه نوم هم نه شي اخیستل کېدی چې چا په دې فتوی کې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما مخالفت کړی وي. یا یې په دې باندې نکیر فرمایلی وي.

حضرت علي کرم الله وجهه د طلاق د قسم په باره کې یوه فیصله داسې وکړه چې د هغې نه معلومیږي طلاق معلق واقع کیږي، واقعه داسې وشوه چې د حضرت علي کرم الله وجهه په خدمت کې یو سړی پېش شو چې هغه د طلاق حلف خوړلی ؤ او دا حلف هغه پوره کړی نه ؤ، خلکو مطالبه وکړه چې دده او دده د ښځې په منځ کې تفریق وکړئ، حضرت علي رضي الله عنه د مقدمې ټول کیفیت واورېد او دې نتیجې ته ورسېد چې دده نه جبراً حلف اخیستل شوی دی، ده وفرمایل: تاسو خلکو دی مجبور کړی، پس د اکراه په بنا حضرت علي رضي الله عنه د هغه ښځه ده ته واپس ورکړه، ددې نه ښکاره کیږي چې د اکراه صورت نه وای؛ نو دده رایه هم دا وه چې طلاق واقع شو او په فیصله کې د حضرت علي رضي الله عنه په شان څوک دی؟ ابن حزم دا فیصله د صحیح صورت نه اخوا کولو لپاره تکلیف کړی دی او محض د خواهش نفس په بنا یې دا ددې د ظاهر نه ویستلو لپاره کوشش کړی دی، څنګه چې دده قول د حضرت شریح د فیصلې په باره کې هم ددې قبیل نه دی. ([2])

او سنن بیهقي کې په صحیح سند د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي چې یو سړي خپلې ښځې ته وویل که چېرته تا هغه فلانکی کار وکړو نو تا ته طلاق، ښځې هغه کار وکړو، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وفرمایل: دا یو طلاق شو[3]، دا هم هغه ابن مسعود رضي الله عنه دی چې هغه ته حضرت عمر رضي الله عنه د علم نه ډکه ټوکری ویله، صحیح فتوی ورکولو کې دده په څېر

---

[1] وقال نافع: طلق رجل امرأته البتة انْ خَرَجَتْ فَقد بُتَّتْ منه وان لم تخرج فليس بشيئ. (صحيح البخارى، باب الطلاق فى الْا غلاق والكره ج:۲ ص:۷۹۳ طبع قديمى)۔

[2] د راوي الفاظ ,,لم يره حدثا،، (حضرت علي رضي الله عنه د هغه د قسم په ماتولو باندې پوه نه شو) دا ددې خبرې ښکاره دلیل دی چې حلف خوړلو والاچې کوم عمل وکړ که چېرته هغه په قسم ماتولو پوهېدلی؛ نو د تعليق په موجب د طلاق د وقوع فیصله فرمایلې وی –لیکوال)

[3] عن ابن مسعود رضى الله عنه فى رجلٍ قال لامرأته: ان فعلت كذا وكذا فهى طالق، فتفعله قال هى واحدة وهو أحق بها .(سنن الكبريٰ للبيهقى، باب الطلاق بالوقت والفعل ج: ۷ ص: ۳۵۶ طبع دار المعرفة بيروت)۔

ثوک شته؟ د حضرت ابوذر رضي الله عنه نه هم دا قسم تعليق مروي دی او د حضرت زبير رضي الله عنه نه هم او اثار دي باره کې ډير دي او کتاب الله کې حلف ماتولو باندې لعنت شوی دی او د حضرت عايشې رضي الله عنها ارشاد دی **ژباړه**: هر يو قسم که هر څومره لوی وي، په دې شرط چې د طلاق يا د عتاق قسم نه وي؛ نو په دې کې د قسم کفاره ده.[1]

دې اثر ته ابن عبدالبر رحمه الله په (التمهيد) او (الاستذکار) کې په سند سره نقل کړی دی[2]. مګر احمد بن تيميه رحمه الله ددې نقل کولو سره استثناء (يعنې ليس فيها طلاق ولاعتاق الفاظ حذف کړي او بقول ابوالحسن السبکي رحمه الله دا د هغه خيانت فی النقل دی. دا وو د صحابه وو رضي الله عنهم دور چې په هغې کې د طلاق معلق د وقوع نه سهوا هيڅ فتوی نقل نه ده.
اوس تابعين واخلئ: په تابعينو کې علم معدود او معروف دی او هغوی ټولو د قسم نه پوره کېدلو په صورت کې د طلاق د وقوع فتوی ورکړې، ابوالحسن السبکي، ، الدرة المضية، ، کې فرمايي د جامع عبدالرزاق، مصنف ابن ابي شيبه، سنن سعيد بن منصور، او سنن بيهقي په شان صحيح کتابونو نه مونږ ائمه اجتهاد تابعينو فتاوی صحيح سندونو سره نقل کړي دي چې حلف بالطلاق نه پس د قسم ماتولو په صورت کې هغوی د طلاق د وقوع فتوی ورکړې ده. د کفارې فيصله يې نه ده کړې. د هغه تابعينو مجتهدينو نومونه دا دي: سعيد بن مسيب، حسن بصري، عطاء، شعبي، شريح، سعيد بن جبير، طاؤس، مجاهد، قتاده، زهري، ابومخلد، د مدينې اوه فقهاء يعنې عروه بن زبير، قاسم بن محمد، عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود، خارجه بن زيد، ابوبکربن عبدالرحمن، سالم بن عبدالله، سليمان بن يسار، او ددې اوه فقهاوو چې په کومه مسئله باندې اجماع وشي؛ نو د دوی قول په نورو باندې مقدم وي او د حضرت ابن مسعود اوچتې مرتبې والا شاګردان: علقمه بن قيس، اسود، مسروق، عبيده السلماني، ابووائل، شقيق بن سلمه، طارق بن شهاب، زربن حبيش، د دوی نه علاوه نور تابعين، مثلاً ابن شبرمه، ابوعمرو الشيباني، ابو الاحوص، زيدبن وهب، حکم بن عتيبه، عمربن عبدالعزيز، خلاس بن عمرو، دا ټول هغه کسان دي چې د کومو فتاوی د طلاق معلق په وقوع باندې نقل شوي دي او د هغوی په دې مسئله کې هيڅ اختلاف نشته، ووايئ! چې د دوی نه علاوه تابعين نور څوک شته؟ پس دا دی د صحابه رضي الله عنهم او تابعينو دور، هغوی ټول يې د وقوع قائل دي، په هغوی کې يو هم ددې قائل نه دی چې صرف کفاره کافي ده.

---

[1] کل يمين وان عظمت ليس فيها طلاق ولَا عتاق ففيها کفارة يمين)_

[2] وقد روی عن عائشة رضی الله عنها: کل يمين ليس فيها طلاق ولَاعتق، فکفارتها کفارة يمين. (الْاستذکار، لا بن عبدالبر، کتاب الأيمان والنذور، باب العمل فی المشی اِلی الْکعبة ج: ٥ ص: ١٨٢ رقم الحديث: ٩٨١ طبع دار الکتاب العلمية بيروت)_

اوس ددې دواړو زمانو نه پس چې کوم خلک دي هغوی دي دړواخلئ، د هغوی مشهور مذهب دی او هغوی ټول ددې قول د صحت شهادت ورکوي. مثلاً امام ابوحنیفه رحمه الله، مالک رحمه الله، شافعي رحمه الله، احمد رحمه الله، اسحاق بن راهویه رحمه الله، ابوعبید، ابوثور، ابن المنذر، ابن جریر، په دوی کې د هیڅا هم په دې مسئله کې اختلاف نشته او ابن تیمیه رحمه الله کوم تابعي ته د عدم وقوع فتوی نسبت کولو قدرت ونه شو، البته د ابن حزم رحمه الله په پیروي کې هغوی طاؤس ته ددې نسبت کړی دی، مګر ابن حزم رحمه الله پخپله د طاؤس نه دهغه روایت کولو کې په غلطی باندې دی او د هغه پیروي کوونکي د هغه په پورته غلطی باندې دي. د د طاؤس فتوی د (مکره) په باره کې ده، څنګه چې خپله په مصنف عبدالرزاق کې ده او هم ده طرفته ابن حزم رحمه الله دا روایت منسوب کړی او سنن سعید او مصنف عبدالرزاق وغیره کې د طاؤس دا فتوی په صحیح سند سره موجوده ده چې داسې طلاق واقع کیږي.

وروسته دور کې د بعضې ظاهریه په دې مسئله کې مخالفت د هغه اجماع له مخې باطل دی چې د هغوی نه مخکې د صحابه رضي الله عنهم، تابعینو، او تبع تابعینو په دور کې منعقده شوې وه، داسې نه چې د هغې اجماع تصویر اخیستل ابن حزم رحمه الله د اقوال صحابه رضي الله عنهم نه په ټوپ وهلو سره غواړي، حال دا چې هم دا صحابه رضي الله عنهم تر مونږ پورې د دین په نقلولو کې امین دي، علاوه ددېنه ظاهریه چې د قیاس نفی کوي، د اهل تحقیق په نزد د هغوی کلام په اجماع کې معتبر نه دی، اګر که هر پریوتي لپاره څوک نه څوک د پورته کولو لپاره پیدا کیږي.

ابوبکر جصاص رازي رحمه الله په خپل اصول کې لیکي:

د هغه خلکو د مخالفت هیڅ اعتبار نشته چې د شریعت اصول نه پیژني او د قیاس د طرق او د اجتهاد وجوه قائل نه دي، مثلاً داؤداصبهاني او کرابیسي او د دوی په مثل نور کم فهم او ناواقفه خلک، ځکه چې هغوی یو څو احادیث ضرور لیکلي دي مګر دوی ته وجوه نظر او فروع وحوادث اصولو طرفته د ګرځولو معرفت حاصل نه وو، د دوی حیثیت د یو عام سړي په شان دی چې د هغه د مخالفت هیڅ اعتبار نشته، ځکه چې هغه حوادث د هغوی په اصولو باندې د مبنيٰ کولو نه ناواقفه دي، او داؤد به د عقلي دلائلو اکثر نفي کوله، دده په باره کې مشهوره ده چې هغه به ویل چې په آسمانونو او ځمکه کې او خپله زمونږ په ذات کې د الله تعالی ذات او د هغه په توحید باندې دلایل نشته، د هغه خیال وو چې هغه الله تعالی صرف د خبر په ذریعه پیژندلی دی، هغه دي دا نه ګڼي چې د حضور صلی الله علیه وسلم د خبر صحیح کېدلو پیژندل همداراز د حضور صلی الله علیه وسلم په منځ او د مسیلمه کذاب وغیره دروغژن مدعیانې نبوت په منځ کې فرق او د هغه دروغژنو د دروغو علم په ذریعه هم عقل او هغه معجزات، نشانات او دلایلو کې غور کول دي چې په هغې باندې د الله تعالی نه سهوا څوک قادر نه دی، ځکه چې دا ممکنه نه ده چې کوم سړي ته د الله تعالی د معرفت نه مخکې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم معرفت حاصل شي، پس د کوم سړي د عقل او علم مقدار چې دا وي هغه په علماوو کې شمارل څنګه جائز دي؟ او د

هغه د مخالفت څه اعتبار دی؟ او هغه دا اعتراف هم کوي چې الله تعالی نه پیژني. څکه دا قول چې زه الله تعالی په دلایلو نه پیژنم. د دې خبرې اعتراف کوي چې هغه الله تعالی نه پیژني، پس هغه د عامي نه هم زیات ناواقف او د څناورو نه هم زیات ساقط دی. لهذا د داسې سړي قول د خپلې زمانې د خلکو خلاف هم لائق د اعتبار نه دی. لا دا چې د متقدمینو په خلاف به څنګه لائق د اعتبار وي. همداراز مونږ وایو. هر هغه سړی چې اصول سمع. طرق اجتهاد. او د فقهي قیاس طرق نه پیژني د هغه د مخالفت اعتبار نشته. خواه که هغه په علوم عقلیه کې د هر څومره لوړې مرتبې څښتن وي. د داسې سړي حیثیت هم د عامي په شان وي. چې د هغه مخالفت په هیڅ کې شمار نه دی. [1]

الله تعالی دې جصاص ته د علم لپاره ښه بدله ورکړي، هغه د دې کم فهمي ډلې پوره تشریح وکړه. اګر که دده په باره کې څه د سختی لهجه هم اختیار کړه. جصاص د دې خلکو حالت د نورو نه زیات پیژني، څکه چې د هغه امامانو زمانه جصاص ته قریبه وه او دده لویو لویو داعیانو هم عصر وو او د هغوی دا سختي په دې بنا باندې وه چې د الله تعالی دین د جاهلانو په لاس کې د لوبو د یو شي په څېر کتلو سره سړي ته غیرت راتلل پکار دي، دا هغه خلک دي چې د هغوی په باره کې الله تعالی د قول بلیغ حکم فرمایلی دی او کوم سړی چې د هغوی په حق کې د تساهل نه کار اخلي، هغوی ته هیڅ فایده نه رسیږي، هو! خودین ته نقصان ضرور رسوي. امام الحرمین هم په دې سختی کې د جصاص پیروي کوي او د کوم سړي چې دا خیال دی چې د امام الحرمین قول د ابن حزم رحمة الله علیه او دده د متبعینو په باره کې هغه د تاریخ نه بې خبري ښیي، څکه چې د امام الحرمین په زمانه کې ابن حزم رحمة الله علیه مذهب په مشرق کې نه وو خپور شوی.

---

[1] قال أبوبكر: ولا يعتد بخلاف من لا يعرف أصول الشريعة، ولم يرتض بطرق المقاييس ووجوه اجتهاد الرأى، كداؤد الأصبهانى والكرابيسى، وأضرابهما من السخفاء الجهال، لأن هؤلاء انما كتبوا شيئًا من الحديث، ولا معرفة لهم بوجوه النظر، وردّ الفروع والحوادث الى الأصول، فهم بمنزلة العامى الذى لا يعتد بخلافه لجهله بناء الحوادث على أصولها من النصوص، وقد كان داؤد ينفى حجج العقول، ومشهور عنه انه كان يقول: "بل على العقول" وكان يقول: ليس فى السماوات والأرض ولا فى أنفسنا دلائل على الله تعالى وعلى توحيده، وزعم انه انما عرّف الله عزّوجل بالخبر، ولم يدر الجاهل ان الطريق الى معرفة صحة خبر النبى عليه السلام والفرق بين خبره وخبر مسيلمة وسائر المتنبئين والعلم بكذبهم، انما هو العقل، والنظر فى المعجزات، والأعلام والدلائل، التى لا يقدر عليها الا الله تبارك وتعالى، فانه لا يمكن لأحد أن يعرف النبى صلى الله عليه وسلم قبل أن يعرف الله تعالى، فمن كان هذا مقدار عقله ومبلغ علمه، كيف يجوز أن يعدّ من أهل العلم؟ ومن يعتد بخلافه وهو معترف مع ذالک أنه لا يعرف الله تعالى، لأن قوله: "انى ما أعرف الله تعالى من جهة الدلائل" اعتراف منه بانه لا يعرفه، فهو أجهل من العامى، وأسقط من البهيمة، فمثله لا يعد خلافًا على أهل عصره اذا قالوا قولًا يخالفهم. فكيف يعتد بخلافه على من تقدمه. (الفصول فى الأصول، لأبى بكر أحمد الجصاص، باب القول فيمن ينعقد بهم الاجماع ج: ٢ ص: ١٣٤، ١٣٥، طبع دار الكتب العلمية، بيروت)۔

البته کوم سړی چې د ابن حزم رحمه الله په رد کې د اورږد تفصیل نه کار اخلي هغه ابوبکر ابن عربي دی، نو څکه هغه (القواصم والعواصم (ج ۲ ص ۲۷) کې د ظاهریه په باره کې فرمايي
دا یو ناپوهه ډله ده، چې په ټوپ وهلو داسې مرتبې ته ورسېدل چې د هغې مستحق نه وو او د خلک داسې خبرې کوي چې په هغې باندې خپله هم نه پوهیږي. دا خبره هغوی د خارجي ورونو نه حاصلوي، هر کله چې حضرت علي رضي الله عنه په جنګ صفین کې تحکیم قبول کړ: نو هغوی ویلي وو "لاحکم الا لله" خبره خو رښتیا وه مګر د هغوی دعوه باطله وه
ما چې د خپل سفر په دوران کې لومړی بدعت وکتلو هغه د باطنیت تحریک وو. چې واپس راغلم؛ نو ومې کتل چې (ظاهریت) مغرب ډک کړی وو. یو ناپوه سړي چې د اشبیلیه په کوم کلي کې اوسیدو. د ابن حزم په نوم مشهور ؤ. ده ترقي د امام شافعي د مذهب نه کړې وه. وروسته داؤد طرفته یې خپل نسبت شروع کړ. ددېنه پس یې ټول وغورځول او خپله یو مستقل شو ده خیال وکړ چې هغه د امت امام دی. هم هغه حکم کوي او قانون جوړوي او هغه د الله تعالی دین ته داسې خبرې منسوب کړې چې په دین کې نه وې او خلکو د علماوو نه متنفره کولو او هغوی باندې طعن وتشنیع په خاطر د علماوو داسې اقوال نقل کوي چې هغوی هیڅکله نه وي ویلي.

ددېنه پس ابن العربي د ابن حزم ډیره رسوایي وکړه چې په هغې کې د ارباب بصیرت لپاره عبرت دی او امانت في النقل کې د ابوبکر ابن العربي چې کومه مرتبه ده ددېنه به هم جاهل ناواقفه وي.

او حافظ ابوالعباس احمد بن ابي الحجاج یوسف اللبلي الاندلسي په خپل لړ لیک ي د ابن حزم په باره کې لیکي:
په دې کې شک نشته چې دا سړی حافظ دی، مګر کله چې د خپلو محفوظاتو په پوهېدلو کې مشغوله شو؛ نو د هغې د پوهېدلو توفیق ورته ملاو نه شو. څکه چې کوم شی هم د هغه په خیال کې راشي هغه د هغې قائل شي، زما ددې قول د صحت دلیل دا دی چې د معمولي عقل سړی هم د ابن حزم ددې قول قائل نه شي کېدلی چې قدرت قدیمه محال سره هم متعلق کیږي
ابن حزم مسکین (الفصل) کې (تعلق قدرت بالمحال) باره کې لیکي: هغه یو داسې شناعت دی چې ددېنه به پورته د کوم شناعت تصور هم نه شي کېدلی، حافظ اللبلي د هغه په خپل لړلیک کې ډیر واضح رد کړی، ددېنه پس هغه لیکي: ظن غالب دا دی چې د ابن حزم نه چې دا کفر عظیم صادر شو او په دې سلسله کې چې بې هوده اقوال. خیالي او بهتانونه تړي، دده د قلم نه ووتل. ددې ثبوت په سلامتی د عقل دده څخه نه دی شوی. کله کله به په ده باندې داسې اخلاطو غلبه کېدل چې د هغې د علاج نه سقراط وبقراط هم عاجز وو، په داسې حالت کې دده نه دا حماقتونه او دا بې هوده الفاظ صادرېدل.

جنونک مجنون ولست بواحد   طبیباً یداوی من جنون جنون

(ستا جنون هم جنون دی او تا ته داسې طبیب نه دی میسر چې جنون د جنون علاج وکړي)

ددې وروسته اللبلي په لوی تفصیل سره امام اشعري رحمه الله او د هغه د اصحابو په باره کې د ابن حزم د اقوالو رد کړی دی او ډیرو اهل علمو تصریح کړې ده چې د ابن حزم نسبي تعلق د اشبیلیه د غرونو سره وو چې د بنو امیه د تقرب حاصلولو لپاره د هغوی موالي طرفته منسوب شوي وو او کوم سړی چې د خپل نسب په باره کې هم رښتیا نه وايي د هغه نه په کومه بله خبره کې د رښتیا ویلو څه توقع کېدلی شي؟ ابن حزم چې کوم سړی په علم کې په دې باندې ودرولو هغه ابوالولیدالباجي دی، چې چا د ابن حزم سره معروفه مناظرې کړې وې، د ابن حزم په رد کې چې کوم کتابونه لیکل شوي دي په هغې کې د ابوبکربن العربي "النواهي عن الدواهي" ډیر اهم کتاب دی، دا په هغه کتابونو کې دی چې څو کاله مخکې مغرب طرفته منتقل شو، همداراز ددې سلسلې څو کتابونه دا دي:

د ابوبکرابن العربي " الغرة في الرد على الدرة" د ابوالحسین محمد بن زرقون الاشبیلي "المعلی فی الرد علی المحلي" او د حافظ قطب الدین حلبي " القدح المعلى في الكلام على بعض احاديث المحلي"

(۷) آیا د بدعي طلاق واقع کېدل د صحابه وو رضی الله عنهم او تابعینو په منځ کې اختلافي مسئله وه؟

د رسالې لیکوال لیکي:

بدعي طلاق او په یو وخت کې درې طلاقه واقع کېدلو یا نه واقع کېدلو کې د صحابه کرامو د دور نه واخله په هره زمانه کې اختلاف راروان دی، ائمه اهل بیت د داسې طلاق د نه واقع کېدلو فتوی ورکوله.

او مجتهدینو علماوو به په هره زمانه کې د صحیح او راجح قول مطابق فتوې ورکولې چې طلاق بدعي باطل دی او دا چې درې طلاقه په یو وخت کې ورکول شي؛ نو یو طلاق به واقع کیږي، ځکه بعضې حضراتو خو ښکاره د حق اظهار وکړ او علی الاعلان یې فتوا ورکړه او بعضې حضراتو به د عوامو او سیاستدانانو له ویرې د هغوی مطابق فتوا ورکولې، تردې چې عظیم الشان مجدد " احمد بن تیمیه " او دده جرات مند شاګردان ابن قیم ودریدو او د الله په لاره کې یې په ظلم باندې صبر وکړ او وې ویل:

,, زما پروا نشته، چې زه د اسلام په حالت کې قتل کړی شم، چې د الله خاطر په کوم اړخ باندې به زما قتل وي.،

او زمونږ تر دوره پورې ډیرو علماء په دې مسئله کې د هغه پیروي وکړه. (ص ۸۸،۸۹)

زه وایم چې په حیض کې د ورکول شوي طلاق صحیح شمار په هغه احادیثو کې دی چې مخکې تیر شوی دی او د ابوالزبیر د روایت هغه اضافه منکر ده چې د هغې په لمن کې د

خوارجو روافضو مريدان پناه اخيستل غواړي، امام ابوداؤد فرمايي چې د ټولو راويانو احاديث د ابوالزبير خلاف دي او ابن عبدالبر وايي چې دا روايات منكر دي. د ابو الزبير نه سېوا څوک هم ددې نقل نه کوي او د ابوالزبير په هغه رواياتو کې هم حجت نشته چې په هغې کې څوک هم مثل د هغې خلاف روايت وکړي، پس هر كله چې د هغه نه ثقه راوى د هغه خلاف روايت كوي؛ نو هغه وخت هغه څنګه حجت كېدلى شي؟ او "التمهيد" جانب چې كوم متابعت منسوب دى هغه په باطلو اسانيدو سره د ردي خلکو نه مروي دى او حافظ ابن عبدالبر داسې سړى نه دى چې متناقضه خبره وکړي، امام خطابي وايي چې اهل حديث ويلي دي چې ابوالزبير د دېنه پورته څه منكر روايت نه دى كړى، امام ابوبكر جصاص فرمايي چې دا روايت غلط دى، پس داسې روايت چې ددې ټولو حضراتو په نزد منكر دى. د دېنه تمسک كول د هغوى لپاره به څنګه ممكن وي.[۱]

علاوه د دېنه په دې روايت كې راغلې اضافه او حضور ﷺ دا هيڅ ونه ګڼله. كه چېرته صحيح هم فرض شي؛ نو بيا هم د هغوى په دعوه باندې دلالت نه كوي، ځكه چې ددې هغه صحيح توجيهات كېدى شي چې كوم امام شافعي رحمه الله، امام خطابي او حافظ ابن عبدالبر كړي دي، ځكه چې دا خو ښكاره ده چې كوم سړى د طلاق لفظ ادا كړي د هغه اواز په فضا كې محفوظ شي؛ نو ځكه ددې الفاظ خو يو موجود شى دى ددې نفى په لحاظ هم د صفت كېدى شي، څنګه چې تير شوى دى او د شوكاني دا وينا چې دا نص د هغه امر دليل دى چې هغه خبره ويلو لپاره د سوچ كولو ضرورت نه محسوسوي او كوم سړي چې زمونږ حق تقرير منلى وي هغه ته به د يوې لحظې لپاره هم تردد نه وي چې د رسالې د ليكوال اكثره ويناوې باطل دي، ليكن د يو څو حضراتو اختلاف چې چې ليكوال ورته اشاره كول غواړي، دويم ځلي به په هغو باندې خبره كول نامناسب وي.

طلاق كه په طهر كې وركول شوى وي يا په حيض كې او يو وركول شوى وي يا دوه درې، هغه په هر حال واقع كيږي، فرق كه چېرته وي؛ نو د ګناه كېدلو يا نه كېدلو دى، دا فتوى مونږ د لاندې عالمانو نه روايت كړې ده:

د حضرت عمر رضي الله عنه نه، سنن سعيد بن منصور كې، د حضرت عثمان رضي الله عنه نه محلي ابن حزم كې، د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه سنن بيهقي كې، د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما، حضرت ابوهريره رضي الله عنه، حضرت ابن زبير رضي الله عنهما، حضرت عائشه رضي الله عنها او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه په موطأ امام مالک وغيره كې، د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه. حضرت حسن بن علي رضي الله عنه نه سنن بيهقي كې، د حضرت عمران بن حصين نه په منتقي للباجي او فتح

[۱] د تفصيل لپاره وګورئ: اعلاء السُنن، تتمة الرسالة في الطلقات الثلاث بلفظ واحد ج: ۱۱ ص: ۷۱۲ طبع ادارة القرآن والعلوم الاسلامية.

القدير لابن الهمام کې او حضرت انس نه معانی الآثار لطحاوي کې. وغيره وغيره او د کوم صحابي نه ددې خلاف فتوی نقل نه ده [۱]

امام خطابي فرمايي: د بدعي طلاق د نه واقع کېدلو قول د خوارجو او روافضو دی، ابن عبدالبر وايي: په دې مسئله کې صرف اهل بدعت او اهل هوا خلاف کوي او ابن حجر په فتح الباري کې درې طلاقو باندې بحث کولو نه پس د هغې په اخر کې ليکي:

پس کوم سړی چې ددې اجماع نه مخالفت کوي؛ نو هغه اجماع شاته غورځوي او جمهور په دې باندې دي د اتفاق نه پس چې څوک اختلاف کوي د هغه هيڅ اعتبار نشته.[۲]

ګويا حافظ رحمه الله دې نتيجې ته رسيدلی دی چې مدخول بها باندې يو ځای درې طلاقه واقع کول د تحريم متعه په شان اجماعي مسئله ده او د حافظ دا کلام په دې خبره باندې دلالت کوي چې د هغه په رايه د اعتبار وړ اختلاف نشته. کنه نو هغه به د خپل تحقيق په خاتمه کې په دې مسئله باندې د اجماع دعوه نه کوله، ددېنه ثابته شوه چې هغه ددېنه مخکې د ابن التين په دې قول چې: په وقوع کې اختلاف نشته. که اختلاف دی؛ نو صرف په ګناه کې دی چې دا اعتراض يې کړی وو چې په وقوع کې اختلاف ابن مغيث په الوثائق کې د حضرت علي رضي الله عنه، ابن مسعود، عبدالرحمن بن عوف، او زبير رضي الله عنهم نه نقل کړی دی، د محمد بن وضاح طرفته يې منسوب کړی دی او د ابن عباس رضي الله عنهما د شاګردانو نه ابن منذر وايي چې: عطا، طاؤس او عمروبن دينار نقل کړي دي، د ابن حجر رحمه الله دا اعتراض صرف صوري دی، کنه نو هغه ښه پوهيږي چې ددې څلورو صحابه کرامو نه او د ابن عباس رضي الله عنهما دې درې شاګردانو نه څه داسې شی ثابت نه دی چې د جمهورو مسلک (يعني مدخول بها باندې يو ځای درې طلاق د واقع کېدلو) منافي وي او که چېرته حافظ رحمه الله ته په خپل کتاب کې د ټولو اقوالو د جمع کولو رغبت سخت نه وی؛ نو هغه به خپله ددې اجازه نه ورکوله چې ددې قسم ردي نقولو بازار يې جوړ کړی دی، کله چې يو عالم خپل ذات ته دومره اوچتوالی ورنه کړی شي چې هغه د ابن مغيث په شان سړي نه بغير د څه قيد نه هر لوند او وچ شی نقل کوي؛ نو مخکې ددې نه چې هغه په اهل علمو باندې د خپل کثرت اطلاع رعب واچوي هغه خپل مخ توروي، بلکې هغه خپل ځان ددې خبرې لپاره وړاندې کوي چې هغه (حاطب ليل) شمار شي، د ابن حجر رحمه الله نه مخکې د ابن مغيث دا قول ابي شرح مسلم کې نقل شوی دی، ليکن طرر بن عات په واسطې سره، او طرربن عات، د مالکيه په نزد په ضعف کې معروف دی، پس دا د هغه رواياتو په

---

[۱] پورتني حواله.

[۲] وقد دل اجماعهم على وجود ناسخ وان كان خفي عن بعضهم قبل ذالک حتى ظهر لجميعهم ف عهد عمر رضى الله عنه، فالمخالف بعد هٰذا الا جماع منابذله والجمهور على عدم اعتبار من احدث الاختلاف بعد الاتفاق والله أعلم. (فتح الباری ج: ۹ ص: ۳۶۵ رقم الحديث: ۵۲۵۹ طبع دار نشر الكتب الاسلامية لاهور).

کمزورولو باندې په منزله د نص دی[۱]، او ددې بحث سره متعلق ابی او ابن حجر رحمهم الله نه مخکې ابن فرح، جامع احکام القرآن، کې د وثائق ابن مغیث نه خپله یو مخ ته نزدې نقل کړې او ابن قیم او د هغه متبعینو هم ددې کتاب نه دا دروغژن روایات نقل کړي او د ابن فرح دا کتاب (جامع احکام القرآن) په دې امر کې خاص ممتاز دی چې په دې کې د داسې کتابونو نه زیات نقول اخیستل شوي چې نن سبا متداول نه دی، او په دې "جامع احکام القرآن" کې همداراز د ابي په شرح مسلم کې په دې بحث کې وارد شوي اعلام کې هم تصحیف شوی دی.

پاتې شو ابن مغیث: نو دده نوم ابوجعفر احمد ابن محمد بن مغیث طلیطلي دی، ۴۵۹ھ کې د ۵۳ کالو په عمر کې وفات شو، هغه خو نه په امانت فی النقل کې معروف وؤ او نه په خپلو تفقهاتو کې د فهم په عمدګۍ سره متصف ؤ، د شاذ رایې په تعلیل کې دده دا قول چې د درې ویلو هیڅ معنی نشته، ځکه چې هغه خبر ورکړی دی، ددې امر دلیل دی چې ده ته د فهم او فقه شمه هم نه ده نصیب شوې، هغه د هر بدکار مفتي کردار ادا کوي او هغه دا روایات بغیر د سند نه محمدبن وضاح طرفته منسوب کړي دي، حال دا چې ددې دواړو په مابین کې اوږده فاصله ده، اخیر په دې کې د ابن مغیث په شان خلکو باندې اعتماد څنګه کېدلی شي؟ د اندلس د اهل علمو ناقدینو په منځ کې ابن مغیث جهل او سقوط علمي کې ضرب المثل ؤ، بیا اخیر د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه بغیر سند نه د نقل کولو په سلسله کې دداسې سړي لائق ذکر څنګه کېدی شي؟[۲]

ابوبکر ابن العربي " القواصم والعواصم " کې ددې خبرې نقشه اخیستې ده چې په مغرب کې څنګه مبتدعه د فقهاء منصب اخیستی دی، تردې چې خلکو جاهلان خپل سرداران جوړ کړي، هغوی بغیر د علم نه فتوا ورکوي، خپله هم ګمرا شول او خلک یې هم ګمراه کړه او دا یې هم ذکر کړي چې تعلیم څنګه ختم شو، ددې امورو د تشریح نه پس لیکي:

بیا ویل کېږي چې فلانکي طلیطلي دا ویلي، د فلانکي مجریطي دا قول دی، ابن مغیث ویلي: الله تعالی د هغوی د اواز فریاد رسی ونه کړ او نه یې د هغوی امید پوره کړ، هغوی دې په شا وګرځي او همېش دې شاته واپس ګرځي او که چېرته الله تعالی ددې ډلې په ذریعه احسان نه وي فرمایلی چې تر دیار علم پورې ورسېد او د هلته نه د علم مغز او خلاصه راوړلو سره راغلو [څنګه چې " الاصیلي " او " الباجي " هغوی په دې مړو زړونو باندې د علم د ابدي اوبه کېدو چینې ورکړې او د ګنده ذهن قومونو نفسونه یې عطر ورین کړه؛ نو دین وران شوی وو.

او د بعضې مالکي اکابرو وړاندې هغه روایات ذکر شو چې کومو خلکو د ابن مغیث نه نقل کړي؛ نو وې فرمایل چې ما په ټول عمر کې چرګه هم نه ده ذبح کړې، لیکن کوم سړی چې په

[۱] اعلاء السنن، المرجع السابق)۔
[۲] أيضًا المرجع السابق)۔

دي مسئله کې د جمهورو مخالفت کوي مراد يې ابن مغيث وو زه دده د ذبح کولو رايه لرم.

د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه قابل اعتماد د نقل مواضع صرف صحاح سته او باقي سنن. جوامع. مسانيد. معاجم او مصنفات وغيره دي چې په هغې کې کوم قول د سند نه بغير نه نقل کيږي، په دې کتابونو کې دغه مسئله د جمهورو خلاف کوم روايت ددې صحابو رضی الله عنهم نه چېرته مروي دی؟ د حضرت علي بن ابي طالب کرم الله وجهه نه په صحيح سند نقل دي چې يو سړي زر طلاقه ورکړي وو ده هغه ته وفرمايل: درې طلاقو هغه په تاباندې حرامه کړه، دا روايت بيهقي په سنن کې[1]، او ابن حزم په محلي کې د وکيع عن الاعمش، عن حبيب بن ابی ثابت، عن علي رضی الله عنه په سند سره ذکر کړی دی[2]، څنګه دده دا فتوا دده بچي حضرت حسن رضی الله عنه د هغه سړي په باره کې نقل کړي چې هغه درې مبهم طلاقونه ورکړي وو، دا روايت په صحيح سند وارد دی، څنګه چې ابن رجب ويلي. د حرام او (البته) باره کې د هغه فتوا په متعدد طرق سره مروي ده چې دې الفاظو سره درې طلاقه واقع کيږي او کومو خلکو چې ددې خلاف حضرت علي رضی الله عنه ته نسبت کړی دی هغه صرف ددې مقصد لپاره چې ددې په ذريعه د طلاق په مسئله کې حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه باندې طعن وشي او کوم روايت چې ابن رجب د اعمش نه نقل کړی دی چې مخکې تېر شو. په دې کې عبرت دی. هم دغه راز د حضرت ابن مسعود نه هم په صحيح نقل سره ثابت دي چې هغوی هم دا فتوی ورکړې ده. څنګه چې عبدالرزاق او سنن بيهقي وغيره کې دي او دا ټول مخکې تېر شوي دي او د عراق او عترت فقهاوو چې د حضرت علي رضی الله عنه ملګري دی، هغوی په اهل علمو کې د ټولو نه زيات دهغه دواړو اکابرو (د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه) متبع دي، د هغه دواړو فريقو مذهب د دې دواړو بزرګانو مطابق دی څنګه چې مخکې تير شوي دي.

او عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په خپل مرض الوفات کې د خپلې کلبيه ښځې په باره کې چې څه کړي وو، ددې خلاف د هغه نه چېرته ثابت دي؟ ابن همام ذکر کوي چې هغه خپلې ښځې ته په مرض الوفات کې درې طلاقه ورکړي وو، ددې واقعې روايات دا دي:

(۱) بروايت حماد بن سلمه عن هشام بن عروة عن ابيه. (**المحلی ص ۲۲۰ ج ۱۰**)[3]

۱] السنن الكبرىٰ للبيهقي، كتاب الطلاق، باب ماجاء فى امضاء الطلاق الثلاث وان كن مجموعات ج: ٧ ص: ٣٣٥ طبع دار المعرفة بيروت)_

۲] المحلى لابن حزم ج: ١٠ ص: ١٧٢ مسئلة: ١٩٤٩ وأما الصحابة رضى الله عنهم طبع دارالآفاق الجديدة بيروت)

۳] ومن طريق حماد بن سلمة عن هشام بن عروة عن أبيه أن عبدالرحمٰن بن عوف طلق امرأته ثلاثًا فى مرضه فقال عثمان: لئن مت لا ورثهامنك، قال: قد علمت ذالک فمات فى عدتها فورثها عثمان فى عدتها. (المحلى ج: ١٠ ص: ٢٢٠). ومن طريق عبدالرزاق عن ابن جريج أخبرنى ابن أبى ابن أبى مليكة أنه سال عبدالله بن زبير فقال له ابن زبير: طلق عبدالرحمٰن بن عوف بنت الأصبح الكلبية فبتها...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

(۲) عبدالرزاق عن ابن جريج عن ابن ابي مليكه عن ابن الزبير.
(۳) ابو عبيد عن يحى بن سعيد القطان عن ا بن جريج عن ابن الزبير (المحلى ص۲۲۳ج ۱۰)[۱]
(۴) معلى بن منصور عن الحجاج بن ارطاة عن ابن ابي مليكه عن ابن الزبير (المحلى ص ۲۲۹ ج ۱۰)[۲]

او ابن ارطاة دلته نه شذوذ اختيار كړى دى نه يې د كوم راوي مخالفت كړى دى. بلكې لفظ "ثلاثا" كې ددې متابع موجود دى او امام مسلم دده نه په متابع سره روايت كوي او دا د آينده بحث د قبيلې څخه نه دى.

او مؤطا وغيره كې چې دا واقعه لفظ "البته" او ددې په مثل سره نقل ده. هغه هم ددې تصريحاتو په بنا درې طلاقو باندې حمل ده[۳] او كه چېرته طرق صحيحه سره د درې طلاقو تصريح نه وي راغلې؛ نو د لفظ (البته) په روايت كې احتمال وو چې ددېنه درې طلاقه مراد وي او دا هم احتمال وو چې په درې كې آخري طلاق مراد وي، څنګه چې امام ربيعه دا ذكر كړي او د هغې نه پس هغه ته دا خبره رسيدلې ده چې دا طلاق د ښځې په مطالبې وركول شوى وو، دغه رايه يې قائم كړې ده[۴]، خو چونكې د طلاق وركونكي په قصد د هغه دواړو احتمالونو جمع كول ممكن نه وو څكه چې دواړه په خپل منځ كې تكر لري؛ نو څكه هغه په اقل باندې حمل كول ضروري وو او هغه دي په درې كې د آخري طلاق كېدل، چنانچې امام نافع هم همداسې وكړه، ددې تاويل ضرورت دې دواړو بزرګانو ته په دې وجه پېښ شو چې دوى ته هغه تصريحات نه وو رسيدلي كوم چې مونږ ذكر كړي او هم ددېنه هغه خلل ښكاره كيږي چې د زرقاني او د مولانا عبدالحى لكنوي په كلام كې دى.

...بقيه د تيرمخ] ثم مات فورثها عثمان فى عدتها ثم ذكرابن الزبير قوله نفسه. (المحلى ج: ۱۰ ص: ۲۲۰)_

[۱] ومن طريق أبي عبيد نا يحيى بن سعيد القطان نا ابن جريج عن ابن أبي مليكة قال: سالت عبدالله بن الزبير عمن طلق امرأته ثلاثًا وهو مريض؟ فقال ابن الزبير: أما عثمان فورث ابنة الأصبع الكلبيه وأما أنا فلا أرى أن ترث مبتوتة. (المحلى ج: ۱۰ ص: ۲۲۳)_

[۲] نامعلى بن منصور نا هشيم عن الحجاج بن ارطاة عن ابن أبي مليكة عن ابن الزبير قال: طلق ابن عوف امرأته الكلبية وهو مريض ثلا ثًا فمات ابن عوف فورثها منه عثمان قال ابن الزبير: لو لا أن عثمان ورثها لم أر لمطلقة ميراثًا. (المحلى ج: ۱۰ ص: ۲۲۹)_

[۳] مؤطا امام مالک ص: ۵۱۰ كتاب الطلاق، ماجاء فى ألبتة، ماجاء فى الخلية والبرية واشباه ذالک طبع ميرمحمد كتب خانه)_

[۴] مؤطا امام مالک، كتاب الطلاق، طلاق المريض ص: ۵۲۱)_

او که مونږ فرض کړو چې د حضرت نافع قول بطور د روایت دی؛ نو نافع د عبدالرحمن زمانه نه ده موندلې، ځکه چې د نافع وفات ۱۲۰ هـ کې وشو حال دا چې د حضرت عبدالرحمن وفات ۳۲هـ کې شوی دی: نو د هغه دا مقطوع روایت څنګه صحیح کیدی شي؟ او دا روایت چې هغه درې طلاق ورکړي وو هغه د داسې رجالو نه ثابت دی چې د غره په شان دي، څنګه چې اوس تیر شو او څوک د عبدالرحمن بن عوف طرفته هغه خبره په سند سره منسوب کوي نه چې د جمهورو صحابه وو رضی الله عنهم د مسلک یعنې د درې طلاقو د وقوع خلاف وي، حتی چې کوم حضرات دا رایه لري چې درې طلاقه په یو وخت ورکولو کې ګناه نشته، هغه د ابن عوف رضی الله عنه ددې فعل نه استدلال کوي، څنګه چې د امام ابن همام رایه په فتح القدیر کې ده[۱]، ددې تحقیق نه دا واضحه شوه چې د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه صحیح مسلک هم هغه دی چې د جمهور صحابه وو رضی الله عنهم دی، چې د درې طلاقو په یو وخت کې واقع کېدل صحیح دي.

پاتې شو حضرت زبیر رضی الله عنه! نو دده مسلک د جمهور صحابه وو رضی الله عنهم نه څنګه خلاف کېدی شي، حال دا چې دده زوی عبدالله ټوله دنیا یې پیژني او د هغه نه چې ددې مسئلې پوښتنه وشوه چې آیا باکرې ته درې طلاقه ورکول صحیح دي؟ نو سائل ته یې وویل: زمونږ په دې کې هیڅ قول نشته، ابن عباس رضی الله عنهما او ابوهریره رضی الله عنه ته لاړ شه! د هغوی نه پوښتنه وکړه، بیا راشه مونږ ته هم ووایه، هغه دواړو ځواب ورکړ چې یوطلاق به یې باینه کړي او درې طلاقه ب یې حرامه کړي، تردې چې هغه د بل خاوند سره نکاح وکړي، دا واقعه موطا امام مالک کې د " طلاق البکر" عنوان لاندې ذکر ده[۲]، اوس که چېرته ابن زبیر رضی الله عنه ته د خپل پلار دا فتوی معلومه وای چې مدخول بها ته ورکول شوي درې طلاقه یو وي؛ نو په دې باندې به هغه انکار نه کولو، ځکه چې کله د مدخول بها حکم دا وي؛ نو د غیر مدخول بها حکم به په اوله درجه کې دا وي او د غیر مدخول بها طلاق کې د عالمانو معروف اختلاف دی.

او د محمد بن وضاح اندلسي طرفته چې په دې مسئله کې شذوذ منسوب دی اګر که دا نسبت صحیح هم شي؛ نو ددې څه قیمت دی؟ دا هغه صاحب دی چې د هغه په باره کې حافظ ابوالولید بن الفرضي وایي: په فقه او عربیت کې جاهل ؤ، د ډیرو صحیح احادیثو نفی یې کوله، داسې سړی په منزله د یو امي دی، خواه که د هغه روایت زیات وي او د هغه طلیطلي او هغه مجریطي په شان د مهمل خلکو په رایه کې مشغولیدل د هغه سړي کار دی چې د چا بل کار نه وي؛ نو ځکه مونږ د هر حکایت شوې رایې په تردید کې مشغولېدل نه غواړو او امام نخعي طرفته چې کوم روایت منسوب کیږي د هغې دروغژن کېدل مخکې تېر شوي او د محمد بن مقاتل رازي نه دا شذوذ ډېر لرې دی.

۱]فتح القدیر علی الهدایة، کتاب الطلاق،........ وطلاق البدعة ج:۳ ص:۲۵ طبع دار صادر بیروت)۔

۲]مؤطا امام مالک ص: ۵۲۱، طلاق البکر طبع میر محمد کتب خانه)۔

ابن حجر او ابن منذر ته چې کوم نسبت شوی دی چې هغوی دا مسئله د عطاء طاؤس او عمرو بن دینار نه نقل کړې ده؛ نو دا ښکاره سهوه ده، ځکه ددې درې واړو بزرګانو دا فتوی د غیر مدخول بها په باره کې ده، ځنګه چې په منتقي للباجي (مخ ۸۳ ټوک ۴) او محلي ابن حزم (مخ ۱۷۵ټوک ۱۰) کې ده او زمونږ بحث د غیر مدخول بها په باره کې نه دی او سنن سعید بن منصور کې په روایت د ابن عیینه عن عمروبن دینار، عطا، او جابر بن زید مروي دی چې کله غیر مدخول بها ته درې طلاقه ورکول شي؛ نو دا به یو وي، لیکن مدخول بها ته درې طلاقه په یو وخت کې ورکولو کې د هغوی صحیح قول د جمهورو مطابق دی او مخکې تیر شو چې درې طلاقه په یو وخت کې د واقع کېدلو فتوی مونږ د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه په روایت د عطاء او عمرو بن دینار، د امام محمدبن حسن الشیباني په کتاب الاثار کې[۱] او د اسحاق بن منصور په مسئلو کې روایت کړې دی، ځنګه چې مونږ د کرابیسي په حوالې سره دا هم نقل کړي چې د طاؤس صاحبزاده ددې تکذیب کړی دی چې د هغه پلار (طاؤس) د درې طلاقو د یو کېدلو قائل وو، بیا ابن منذر خپله دا مسئله په اجماع باندې مرتب کړه په خپل کتاب کې مسائل اجماع کې یې شمارلې، [۲] اوس دا ځنګه صحیح کېدی شي چې هغه په دې مسئله کې اختلاف هم نقل کړي؟ مونږ ویونکو ته د عقیلي او مسلمه بن القاسم اندلسي قول ابن المنذر په باره کې یادول نه خوښوو، ځکه چې مسئله بالکل واضحه او روښانه ده او دائره بحث د مزید خپرولو نه مستغني یو او ابن حجر رحمه الله د خپل بعضې شاګردانو په فرمایش په فتح الباري کې د درې طلاقو په مسئله کې تر څه حده پورې ډېر بحث کړی دی، مګر هغه ته د بحث حق ادا کولو کې خوشحالي ملاو نه شوه، بلکې د هغه په کلام کې څه حشو ښکاره کیږي او هغه په دې کې معذور دی، ځکه داسې بحث چې په هغې کې د یو مدت نه شور جاري وي، د یو خاص خوشحالی په وخت دې موضوع باندې د مستقل تالیف فرصت تقاضا کوي، د هغوی په کلام کې چې کوم خلل واقع شوی دی مونږ ورته اشاره کړې ده، لیکن اخر بحث کې د هغوی دا جمله پوره ده.

,, ددې اجماع نه پس چې کوم سړی ددې مخالفت کوي هغه اجماع شاته غورځوي او جمهور په دې باندې دي: د اتفاق نه پس چې څوک اختلاف کوي هغه د اعتبار وړ نه دی. [۳]

هغوی د تحریم متعې په خبر دا مسئله هم اجماعي ګرځولې ده؛ نو ځکه د هغې نتیجه د هغه د تېر شوي خلل اصلاح کړې ده، عجیبه خبره دا ده چې د رسالې لیکوال په ۹۱ مخ لیکي:

[۱] کتاب الآثار، باب من طلق ثلا ثًا وهویرید ثلا ثًا ص: ۱۲۹ طبع الرحیم اکیدمی، کراچی)۔

[۲] الاجماع لا بن المنذر، کتاب الطلاق، رقم الا نفراد: ۵۵ رقم الا جماع: ۴۱۰ ص: ۹۲ طبع دائرة المعارف الاسلامیة، مکران بلوچستان)۔

[۳] فتح الباری، کتاب الطلاق، باب من جوز الطلاق الثلاث ج: ۹ ص: ۳۶۵ رقم الحدیث: ۵۲۵۹)۔

,, ابن حجر رحمة الله ته حکم وشو چې ابن تیمیه او د هغه د انصارو په رد کې لیکل وکړه!
او دا اشاره د یو زبردست سیاسي سازش په بنا وه: نو ځکه هغه د حکم اطاعت وکړ. هغه ؤ
چې د خاتمې په بحث کې لیکي ما په دې موضوع باندې د بعضې حضراتو په فرمایش د اوږد
کلام نه کار اخیستلی دی (والله المستعان)

ګویا د رسالې لیکوال دا ویل غواړي چې حافظ رحمة الله په دې مسئله کې بل جانب ته
مائل وو، مګر هغه د خپل مسلک د اظهار نه وېرېدو او د لیکوال په رایه د حافظ رحمة الله قیمت
دا وو چې هغه به په خپلو فتوو کې د حکامو د احکامو تعمیل کولو (نعوذبالله) او دا په یو
وخت د حافظ رحمة الله په حق کې هم او د هغه دور د حکامو په حق کې بې ادبي ده. د تاریخ نه بې
خبره خلکو هم دا حال دی چې د ابن حجر رحمة الله نه یو موده مخکې دابن تیمیه د افکارو قبر د
علماء اهل حق په لاسونو باندې کنستلی وو او ابن حجر رحمة الله هم هغه دی چې چا د کتاب " الرد
الوافر" تقریظ بغیر د څه منعې نه په خپلې مرضی لیکلی ؤ او حکامو د قضاء او افتاء په
معاملاتو کې مداخلت نه کولو، پس کومه زمانه کې چې ابن حجر رحمة الله په لیکوالی کې مشغول
وو د هغه دور د حکامو د طریقې که چېرته لیکوال مطالعه کړې وای؛ نو هغه ته به د خپلې
کیسې د غلطی اندازه او د خپلې رایې درجه معلومه شوې وه، الله تعالی دې مونږ په خپل
عافیت کې وساتي او ابن حجر رحمة الله ته یو ځل نه بلکې ډېر ځله د خپلو شاګردانو په فرمایش
کتاب لیکلی ؤ، یا د کومې مسئلې په تشریح کې وسیع بحث وکړ او داسې وخت هغه لیکل
ما د بعضې ملګرو په خوښه تالیف کړو، یا شرح ولیکله، څنګه چې په هغه خلکو باندې دا
خبره مخفي نه ده چا چې د ابن حجر رحمة الله د کتابونو مطالعه کړې وي، که چېرته دا حکم د کوم
حاکم له طرفه وای؛ نو ددې دور د عامي طریقې مطابق دا لیکل کېدل، ما په دې مسئله کې
توسع وکړه د هغه سړي د حکم به مطابق، د چاطاعت چې غنیمت دی او د چا اشاره چې حکم
قطعي دی او د ابن اسحاق او ابن ارطاة رایه متعد به نه ده، ځکه چې ابن اسحاق فقیه نه دی،
هغه یو اخباري سړی دی چې د هغه قول په مغازي کې په شرایطو سره قبول دی او د هغه په باره
کې د اهل نقد اقوال مخکې تیر شوي دي، علاوه ددې نه چې کوم لفظ هغه ته منسوب شوی
دی دا په هغه رایه کې صریح نه دی چې د هغه طرفته منسوب کولو کوشش کیږي.

پاتې شو ابن ارطاة! نو دده په باره کې د عبدالله بن ادریس وینا ده چې ما به هغه ته کتل چې
هغه به ناستې جوتې وهلې، بیا هغه المهدي ته لاړ، واپس راغلو نو څلویښت انبار اوښان
ورسره وو، څنګه چې په کامل ابن عدي کې دي، ویل کیږي چې بصره کې په قاضیانو کې دا
لومړی قاضي دی چې هغه رشوت واخیست، د المهدي په دور کې د قضا په منصب باندې د
فائز کېدلو نه پس هغه ډېر مالدار شوی وو، حال دا چې ددې نه مخکې ډېر غریب وو او هغه
سره عجیبه کبر او سرګرداني وه، هغه د داؤد طائي په طرز سرګردان وو، ضعفاء سره به یې
تدلیس کولو، داهل جرح کلام د هغه په باره کې ډېر زیات دي، د داسې سړي روایت هغه وخت

قبلېدلی شي چې کله د ثقه راويانو خلاف نه وي او قبول هم مقارن او متابع سره کېدلی کېږي.
دا خو دده د روايت حال وو. اوس پاتې شو دده رايه: نو د رايې د وړ کېدلو لپاره چې کوم شرايط دي د هغې مطابق نه ده. علاوه ددېنه چې کوم قول ده ته منسوب شي هغه مجمل دی او کومه رايه چې ده ته د منسوب کولو اراده کېږي په هغې کې تصريح نه وي. ډېره ممکنه ده چې د هغه مراد دا وي چې درې طلاقه داسې شی نه دی چې د سنت مطابق وي. په هرحال د ابن اسحاق نه يا ابن ارطاة نه په دې مسئله کې څه صريح لفظ نقل نه دی.

علاوه ددېنه ابن حزم په "المحلي" کې د حجاج بن ارطاة په طريقې سره ډېر ... ته نه ذکر کوي او بيا وايي دا صحيح نه دي، ځکه چې ددې په سند کې حجاج ابن ارطاة دی، بلکې يو ځای ليکي: حجاج ابن ارطاة هالک ساقط دی، دده روايت اخيستلو سره هغه سړی اعتراض کولی شي چې د ښکته درجې جاهل وي، يا د اعلانيه باطل مريد وي. چې ددې په ذريعه جنګ کولو سره حق ختمول غواړي، حال دا چې دا دده لپاره بعيده ده. کوم سړی چې داسې کوي هغه خپل عيب، جهل او د قلت ورع د اظهار نه سهوا په کوم شي کې اضافه نه کوي. **نعوذ بالله من الضلال.** [1]

اوس ګورئ! يو طرفته خو زمونږ ليکوال صاحب په ابن حزم باندې عاشق دی او بل طرفته هغه هم ابن ارطاة د هغه مجتهدينو په صف کې شامل کوي چې د هغوی په قول اعتماد کولی شي، مونږ د الله تعالی نه د سلامتی سوال کوو او بعضې خلکو د هغه حضراتو نه علاوه هم د بعضې نورو خلکو نومونه ذکر کړي دي چې دهغوی طرفته هم داسې قول منسوب شوی دی، مګر دا نسبت بغير د سند نه دروغ دی او بعضې د هغو په نقل کې د تساهل نه کار اخلي، ليکن کومه خبره چې بې سنده نقل شوي مونږ د هغې د ترديد نه بې پروا يو.

او د اجماع مطلب دا نه دی چې په امت کې داسې سړی ونه موندل شي چې هغه غلطي نه وي کړې او داسې خبره يې نه وي کړې چې د جمهورو خلاف نه وي، بلکې د اجماع نه د هغه مجتهدينو اجماع مراد ده چې د هغوی امامت فی الفقه او امامت فی الدين منل شوی وي، پاتې شو منکرين قياس! نو هغوی په اهل استنباط کې نه دي شامل چې د هغوی مخالفت په څه کې شمار وي؛ نو ځکه مسائل اجماعيه کې د محققينو په نزد د ظاهريه هيڅ حيثيت نشته، څنګه چې مخکې تير شو. باقي روافض او اماميه کې هغه خلک چې روافضو دوکه کړي، د هغوی د مخالفت هم هيڅ اعتبار نشته، اجماع باندې بحث کولو سره مونږ ددې څه زياتي تفصيل به آينده کوو او څوک چې د شيعه جعفر بن محمدالصادق د پيروي دعوه لري، درې طلاقه د لفظ واحد په سلسله کې د هغه خلاف خپله دهغه امام قول حجت دی، چې هغه مونږ د سنن بيهقي په حواله مخکې ذکر کړی دی، کوم سړی چې جمهور اهل بيتو ته ددې

[1] المحلى لا بن حزم، كتاب الطلاق ج: ١٠ ص: ٢٢٩ قال: أبومحمد الحجاج بن أرطاة مسئلة رقم: ١٩٧٦،

خلاف نسبت کوي هغه دروغژن ګنهګار دی او کوم کتابونه چې د عترت طاهره په مذهب کې مدون شوي دي، که چېرته هم د هغوی نه نقل ضروري وي؛ نو واخلئ "الروض النضير في شرح المجموع الفقهي الكبير" موجود دی او هغه "النجم الحلي" په شان د خلکو د کتابونو نه زيات اعتمادي دی، په يوې وجې د هغه عظيم فرق نه چې د هغه او د هغه د کتابونو په منځ کې زمونږ سترګو وړاندې موجود دی او دکوم سړي سينه چې د هغه کلام د قبلولو لپاره فراخه وي چې "منهج المقال"، روضات الجنات" او "الاستقصا" کې د جمهورو په رجالو شوی دی چې ته څه غواړې د هغې نه يې نقل کوه، اهل سنتو ته د هغې د نقل څه پروا نشته او په منقول کې خو کلام فرع ده په رجالو کې د کلام. والله سبحانه هو الهادي.

الروض النضير، مخ: ۱۳۷ټوک: ۴ کې دي چې:

درې طلاقه په لفظ واحد سره واقع کېدل د جمهور اهل بيت مذهب دی څنګه چې محمدبن منصور په "الامالي" کې خپلو سندو سره د اهل بيت نه نقل کړي دي، او "الجامع الکافي" کې د حسن بن يحیٰ نه مروي دي چې هغه وفرمايل: مونږ د حضور ﷺ نه، علي عليه السلام نه، على بن حسين نه، زيد بن على نه محمد بن علي باقر نه، محمدبن عمر بن علي نه، جعفربن محمد نه، عبدالله بن حسن نه، محمدبن عبدالله نه، او د اهل بيت رسول الله ﷺ منتخب شوي حضراتو نه دا مسئله روايت کړې ده، حسن وويل: چې ال رسول الله ﷺ په دې باندې اجماع کړې چې کوم سړی په يو لفظ درې طلاقه ورکړي؛ نو ده باندې دده ښځه حرامېږي، که خاوند ددې سره کوروالی کړی وي او که نه، بحر کې هم دا مذهب د ابن عباس رضي الله عنهما، ابن عمر، عائشه، ابوهريره، رضي الله عنهم علي کرم الله وجهه، ناصر، مؤيد، يحی، مالک رحمه الله او بعضې اماميه نه نقل کړی دی.[۱]

لهذا ددې صريح بيان نه پس اهل بيت ته دا نسبت کول غلط دي چې هغوی د درې طلاقو د نه واقع کېدلو فتوی ورکوله او که چېرته د رسالې ليکوال دا غواړي چې اسماعيلي مذهب د هغوی د قبر نه يې راوباسي او په مصر کې يې دوباره خپور کړي؛ نو زمونږ د هغوی سره د جنګ کولو هيڅ ضرورت نشته او د هغوی جرات مند شاګرد د ابن قيم رحمه الله په باره کې د ليکوال دا وينا چې هغه ددې مسئلې په اعلانولو سره جهاد في سبيل الله وکړ، دا يوه داسې خبره ده چې مونږ هغه تنګول نه غوښتل، که چېرته د رسالې ليکوال د هغه شان اوچتولو سره پيش کړی نه وای، لهذا نا مناسب به نه وو، که چېرته د هغه دواړو صاحبانو بعضې هغو خبرو ته اشاره وشي چې هغوی په خپل بيان کې کړي دي (دلته ليکوال په حافظ ابن تيميه، ابن قيم،

---

[۱] د تفصيل لپاره وګورئ: اعلاء السنن، الرسالة فى الطلقات الثلاثة ج: ۱۱ ص: ۷۱۴، معارف السنن، بيان ان الطلقات الثلاث محل اجماع واتفاق ج: ۵ ص: ۴۷۶ طبع المكتبة البنورية)۔

شوکاني، محمدبن اسماعیل الوزیر او نواب صدیق حسن خان باندې سخت تنقید کړی دی، څنګه چې په ترجمه کې حذف شوی دی،

(۸) هغه اجماع چې د اصولو علماء یې قائل دي

د رسالې لیکوال په ۱۰۰ مخ باندې لیکي:

د کومې اجماع دعوه چې اصولیین کوي د هغې حقیقت د یو خیال نه سهوا نور هیڅ نه دی او په ۸۸ مخ باندې لیکي خپله د اجماع په کوم منل شوي تعریف علماء نه دي متفق شوي او دا چې د هغې نه څنګه استدلال وکړی شي او کله وکړی شي؟

دا خبره د کوم داسې سړي نه نشي کېدلی چې د خپلې ویل شوي خبرې د پوهېدو صلاحیت لري، د لیکوال دا خبره که په کوم شي باندې دلالت کوي نو صرف په دې خبره باندې چې هغه اصول فقه نه ده ویلې، تر دې چې "مراة الاصول" او "تحریر الاصول" په شان کتابونه هم د کوم ماهر څخه نه دي ویلي، د کتاب بزدوي او د هغې د شروحو به څه وایې؟ او نه هغه د بدر زرکشي "بحر" او د الاتقاني "الشامل" مطالعه کړې ده، دا لاچېرته چې هغه د دبوسي "تقویم" د سمرقندي "میزان" او د ابوبکر رازي "فصول" مطالعه کړی وي، هغه نه د الباجي په "فصول" خبر دی، نه د ابوبکربن العربي په "محصول" بلکې هغه نه د قرافي "تنقیح" کتلی دی، نه د امام شافعي "الرساله" نه د ابن جویني "برهان" نه د ابن سمعاني "قواطع" نه د غزالي "مستصفی" نه د ابوالخطاب "تمهید" نه د موفق "روضه" نه د طوفي "مختصرروضه" نه د قاضي عبدالجبار "عمد" او نه د ابوالحسین بصري "المعتمد" بلکې هغه په دې دومره لوی علم کې صرف د شوکاني او قنوجي د رسالو پایې اړولي، حال دا چې دا دواړه په اخري دور کې په مسئلو کې جنون د پاسه د جنون استاذان وو او خوند دا چې داسې سړي د اجماع په باره کې د خپلې رایې لپاره احکام ابن حزم باندې د خپلو تعلیقاتو حواله ورکوي، که چېرته دې بهادر لیکوال ددې علم کوم کتاب ویلی وای: نو هغه ته به معلومه شوې وه چې د کوم سړي خپلې ګوډې تر پښو لاندې دي کتابونه بیا ښه لاندې کوي، هغه ته دا حق حاصل نه دی چې د تیزې اوبو په شان چپه او سیده پښې وړدي.

ایا دې مدعي ته معلومه نه ده چې د اجماع په حجیت باندې د امت ټول فقهاء متفق دي او هغوی دا د کتاب او سنت نه پس دریم دلیل شرعي شمار کړی دی؟ تر دې پورې چې ظاهریه، د فقه نه د لرې والي باوجود، د اجماع صحابه رضي الله عنهم د حجیت معترف دي[1]، او هم په دې بنا ابن حزم ته یو ځای د درې طلاقو د وقوع نه د انکار مجال ونه شو، بلکې هغه په دې مسئله کې د جمهورو پیروي وکړه، بلکې ډېرو علماوو تردې پورې ویلي: چې د اجماع امت

[1] ارشاد الفحول للشوکاني ص: ۷۷، طبع بیروت).

مخالف کافر دی. تردې پورې چې د مفتي لپاره دا شرط ګرځول شوی چې هغه په کوم داسې قول باندې فتوی ورنه کړي چې د متقدمينو علماوو د اقوالو خلاف وي. په هم دې بنا اهل علمو ته د مصنف ابن ابی شیبه او اجماع ابن المنذر په شان کتابونو نه خاص نفرت وشو چې په هغې سره صحابه وتابعينو او تبع تابعينو په منځ کې د مسئلو د اتفاق او اختلاف حقيقت ځرګند شو رضی الله عنهم اجمعین.

او دا خبره د دليل نه ثابته ده چې دا امت د خطا نه محفوظ دی او په خلکو باندې شاهد او عادل دی، شاعر وايي چې:

دا خلک میانه روی دي، خلک د هغوی قول خوښوي کله چې ځوک په شپه کې ګرانه (سخته) مسئله راوړي.

او دا چې دا بهترين امت دی، ددې امت خلک د نيکو کارونو حکم کوي او د بدو کارونو نه منع کوي او دا چې کوم سړی د دوی پيروي کوي هغوی الله تعالی ته د رجوع کوونکو د لارې پيروکار دي او کوم سړی چې د دوی مخالفت کوي هغه د مومنانو له لارې په بل خوا روان وي او د دين د عالمانو سره مقابله کوي.

پته نشته چې له ځانه جوړ شوي مجتهدين د کوم ځای نه راغلي او ددې زمانې تش د نوم فقهاوو په ذهنونو کې دا مهلک زهر څنګه خپاره شو؟

دخپل دور شيخ الفقهاء شيخ محمد بخيت مطيعي رحمه الله چې د هغه وفات د ۸۳ کالو په عمر ۲۱ رجب ۱۳۵۴ هـ کې د مازيګر نه وروسته وشو، دده د وفات نه لږه موده وړاندې دده په ځای زما د يو عالم سره ملاقات وشو، استاذ کبير شيخ محمد بخيت رحمه الله لا تراوسه لاندې تشريف نه وو راوړی. ددې ملګري سره خبره د درې طلاقو په لفظ واحد والا پيل شوه، ما هغه ته صحيح احاديث وويل چې په دې مسئله کې د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ثابت دي او دا مي هم ورته وويل چې ددې خلاف د کوم صحابي رضی الله عنه قول ثابت نه دی، دې عالم د طاؤس حديث ذکر کړ، ما ددې علل معروفه ورته بيان کړه، هغه صاحب وويل: تاسو په دې مسئله کې د اجماع نه استدلال کوئ، حال دا چې د اجماع حجيت ددې په امکان ددې په وقوع کې، ددې د علم په امکان او ددې د نقل په امکان کې بحث دی، ما عرض وکړ چې زه پوهېږم، ليکن زه د اجماع په باره کې د خپل مخاطب رايه معلومول غواړم، ددې لپاره چې هغه سره پوره خبرې وکړم د هغه صاحب رنګ بدل شو، وې ويل چې زمونږ امام کتاب الله دی او هغه مونږ ددې نه ماسوا د ټولو شيانو نه منع کوي. حال دا چې امام بخاري رحمه الله هم ددې آيت نه د درې طلاقو په جمع کولو باندې استدلال کړی دی، ځکه چې د "مرتان" لفظ د دوه په معنی دلالت کوي، څنګه چې د حق تعالی ارشاد دی (نؤتها اجرها مرتين) کې دا لفظ اثنين د (دوه) هم معنی دی، هم دغه راز ابن حزم او د بخاري ډيرو شارحينو مثلاً کرماني رحمه الله وغيره چې هغه په عربيت کې تکړه ؤ هغه هم دا ويلي دي او کله چې د دوه طلاقو جمع کول صحيح وي؛ نو د درې جمع کول هم

صحیح دي، ځکه چې د دواړو په منځ کې فرق نشته. لیکن دلایل ددې حضراتو د دعوې په عکس دلالت کوي، دوی څه فکر کوي چې دا خلک د عربۍ په شوق کې د جناب نه هم کم وو؟

زما په تقریر سره هغه غوسه شو او وې ویل آیت دا ښیي چې طلاق معتبر عند الشرع هغه دی چې هغه د یو بل پسې واقع شي. ما عرض وکړ. غالباً تاسو د شوکاني په څېر د الطلاق لام په استغراق باندې حمل کوئ، او معتبر عندالشرع قید مقدر منئ، ددې لپاره چې تاسو د طلاق معتبر حصر په دې کې وکړی شئ. لیکن لږ خو دا ووایئ چې د کوم طلاق نه پس طلاق نه وي ورکول شوی د هغې په باره کې ستا رایه څه ده؟ آیا هغه به طلاق معتبر عندالشرع نه وي چې په هغې سره د اختتام عدت نه پس نکاح ختمه شي؟ او که چېرته دا طلاق هم عندالشرع معتبر وي؛ نو د طلاق معتبر په "مرتین" کې حصر څنګه وشو؟

په دې باندې هغه ډیر خفه شو، ما ورته وویل: چې کله مونږ دا فرض کړو چې د مرتین" لفظ بلې معنی (یعني دوه ځله) باندې حمل دی؛ نو د آیت مفهوم به دا وي چې د طلاق واقع کېدل یو په بل پسې کېدل پکار دي، مګر دلته داسې خبره نشته چې د طلاق لپاره د طهر قید ولګیږي، ګویا کوم سړی چې یو بل پسې درې ځله د لفظ طلاق اعاده وکړي؛ نو صرف په تکرار سره به درې طلاقه واقع شي، خواه که طلاق یې په طهر کې ورکړی وي او که په حیض کې او دا خو نه تاته مقصود دی او نه ستاسو په نزد خوښه خبره ده. که چېرته تاسو په دې مسئله کې د صحابه وو رضي الله عنهم د اثارو نه استدلال کوئ؛ نو بحث چې د کوم ځای نه شروع شوی ؤ هغه ځای ته به بېرته راشي او د کتاب الله نه سهوا به تاسو ته استغناء ونه کړی شي.

زمونږ ددې خبرو په دوران کې استاذ (شیخ محمد بخیت مطیعي) تشریف راوړ؛ نو مونږ خبره په همدې ځای ودروله، ځکه چې خطره وه چې هغه به په بحث کې برخه واخلي او هغه ته به بې ځایه سترپیا ملاو شي.

کوم خلک چې نن سبا خپل ځان ته فقیه وایي، هغه په مسئلو کې په ښکاره د جماعت مخالفت کوي، ما په دې مسئله باندې تر ډېرې مودې غور وکړ؛ نو معلومه شوه چې ددې بنیادي سبب دا دی چې دا خلک خپل شخصیت د فقیه په نوم مشهورول غواړي، هغوی په ازهر کې د تعلیمي نظام قائمولو وړاندې په کوم سبق کې چې یې غوښتل کیناستل او کوم کتاب به یې چې غوښتل پرېښودلو به یې او د ازهر د نظام نه پس چې د علومو کوم نصاب مقرر شوی وو د هغوی ځای به پکښې خالي وو چې د هغې په وجه د هغوی په عقل کې کمی راغلو، پس کله چې دا خلک د خپلې کم علمۍ باوجود داسې غلط کتابونه وایي چې هغه چاپونکي د یو خاص مصقد لپاره د علم په نوم خپروي او د هغې کوږوالی په اول ځل نه ښکاره کیږي؛ نو د هغه کتابونو په مطالعه کې که چېرته د هغوی ذهن د انتشار ښکار شي؛ نو هیڅ تعجب نه دی، ځکه چې دا حضرات ددې نوو - نوو تحریکونو د ټولو نه مخکې ښکار کیږي چې د مسلمانانو په منځ کې د تفرقې اچولو لپاره روان دي، ځکه چې په هغوی کې خو دومره

دیانت نشته چې ځان د فتنو نه وساتي او نه هغوی دومره علمي سلاح لري چې د جهل د ملګرتیا څخه وساتل شي. بلکې دا حضرات محض د عربي پیژندونکي په زور خپل ځان علماء ګڼي.

کوم سړی چې د اصولیینو د اجماع په باره کې ددې ویلو جرات کوي هغه د هر شي نه مخکې د تفقه محتاج دی چې په بحث کې د مشغولېدلو نه مخکې د اصولو څه کتابونه د محققینو علماوو نه ووایي، ددې لپاره چې په فصول ابوبکررازی وغیره کې د هغه علم چې کوم دقائق ذکر شوي د هغې د پوهېدلو صلاحیت پیدا شي او کومه خبره چې ویل غواړي سره له پوهې وویل شي.

تاسو ګورئ چې د رسالې لیکوال د اجماع په مسئله کې د ابن رشد د فلسفې او کلام تعریف کوي، لیکن د ابن رشد ددې قول موافقت نه کوي.

په خلاف د هغه اجماع چې په عملیاتو کې ښکاره شوه، ځکه چې ټول خلک د هغو مسئلو خبرول د نورو خلکو مخامخ یو شان ضروري ګڼي او عملیاتو کې د حصول اجماع لپاره بس دومره کافي ده چې هغه مسئله عام طور باندې خپره شوې وي مګر هغه مسئله کې د چا اختلاف مونږ ته نه دی رارسېدلی، ځکه عملیاتو کې د حصول اجماع لپاره دا خبره کافي ده البته د علمي مسئلو معامله بیا ددې نه بېله ده. [1]

بلکې د رسالې لیکوال د ابن رشد د کلام تردید کولو نه بغیر هغه شاته غورځوي او ابن رشد الحفید اګر چې علم بالاثار کې د هغه مرتبې نه دی چې د فقهې مسائل او د هغه د ادله وو معامله د هغه په عدالت کې پېش کړی شي، څنګه چې د رسالې لیکوال په ۸۴ مخ باندې لیکلي دي، چې هغه په " بدایة المجتهد " کې د خپل امام مذهب په نقل کولو کې هم کله نا کله غلطي کوي، پاتې لا نور مذهبونه!! لیکن د اجماع په مسئله کې د هغه کلام نهایت قوي دی چې د اهل شان د تحقیق موافق دی.

پاتې شو د محمد بن ابراهیم الوزیرالیماني قول! نوهغه د فقهاوو دفهم نه بعید دی، دا صاحب په خپلو کتابونو کې مقبلي، محمدبن اسماعیل الامیراو شوکاني وغیره د خپلو مریدانو په نسبت نرمه لهجه لري، لیکن ددې نرمی باوجود د هغه کتابونه زهرقاتل دي، دا لومړی سړی دی چې هغه فقه په یمن کې مشوش کړې، د هغه د کلام نه د اجماع نه حجیت ثابتیږي، اګر چې هغه څه داسې تصریح نه ده کړې څنګه چې شوکاني د درې طلاقو په رساله کې کړې ده.

هغه ویلي دي: " حق دا ده چې اجماع حجت نه ده، بلکې ددې وقوع نشته" بلکې ددې امکان نشته، بلکې ددې علم هم امکان نشته، او ددې د نقل هم امکان نشته"

---

[1] الاشفاق على أحكام الطلاق، قول ابن رشد فى الأحكام ص: ۷۹ طبع ايچ ايم سعد).

پس کوم سړي چې د کتاب و سنت د دې خبرې قائل نه وي چې شریعت کې سړي ته په د یو څو ښځو د نکاح اجازت ورکول شوی دی، څنګه چې هغه په خپل کتاب کې " وبل الغمام" کې د " نیل الاوطار" خلاف لیکلي دي او مولانا عبدالحی لکنوي رحمه الله په تذکرة الراشد ۴۷۹ مخ کې د هغه قرار واقعي غلطي بیانوي، هغه د مسلمانانو د اجماع په باره کې چې څه یې په زړه راشي وایي او کوم سړی چې ائمه متبوعین او د هغوی علوم شاته غورځوي. د داسې سړي پیروي وکړي د هغه حالت به د هغه نه هم بد وي.

د هغه خلکو دا افسوس ناک حالت ما د دې خبرې څخه نه شي منع کولی چې د اجماع متعلق یو څو فایدو ته اشاره وکړم، ممکنه ده چې دا خبره به د لوستونکو لپاره د چینو څخه زیاتي سېرابه کولو په معنا وي.

عالمان چې کله د اجماع ذکر کوي؛ نو د هغې نه د هغه اهل علمو حضراتو اجماع مراد وي چې د هغوی مرتبه اجتهاد ته رسېدلې وي، د اهل علمو په نزد مسلم وي، هم دې سره په هغوی کې یو داسې پرهېزګاري هم وي چې هغوی د محارمو څخه وساتي، ددې لپاره چې داسې سړی د شهداء علی الناس په ډله کې شمار شي، پس د کوم سړي رتبه چې اجتهاد ته نه وي رسېدلې، د اهل علمو په نزد مسلم نه وي هغه د دېنه خارج دی چې په اجماع کې د هغه د کلام اعتبار وکړی شي، خواه که هغه په نیک او پرهېزګارو خلکو کې وي، هم دغه راز د کوم سړي فسق یا چې عقائد یې د اهل سنتو نه خارج وي، د هغه کلام په اجماع کې شمار نه دی، ځکه چې هغه د (شهداء علی الناس) مرتبې نه ساقط دی، علاوه د دېنه مبتدعین، خوارج وغیره، ثقات د اهل سنت د ټولو طبقاتو د روایتونو اعتبار نه کوي، پس د دې تصور څنګه کېدلی شي چې هغه ته دومره قدر علم بالاثار حاصل وي چې هغه د درجې د اجتهاد اهل جوړ کړي؟ [۱]

بیا هغه مجتهد چې په اعتراف د علماوو د شروط اجتهاد جامع وي په ده باندې چې کم نه کم کوم شیان واجب دي هغه دا دي چې هغه دي خپل دلیل پیش کړي او کوم شی چې هغه حق ګڼي د تعلیم په ذریعه د جمهورو مخامخ روښانه خبره وکړي چې کله هغه په خپله رایه اهل علم په کومه مسئله کې غلطی باندې وګوري، دا نه چې هغه د اظهار حق نه ژبه بندولو سره په خپل کور کې پټ ناست وي، یا د مسلمانانو د آبادی نه لرې چېرته د غره په لمنه کې ځان ته والی اختیار کړي: نو ځکه چې څوک د حق ظاهرولو نه خاموش وي هغه د ګونګي شیطان په شان دی، هغه د الله تعالی عهد ماتونکی دی او کوم سړی چې عهد ماتوي هغه خپل ځان ته نقصان رسوي، پس هغه محض هم په دې خبره د هغه فاسقانو په صف کې شاملیږي چې د قبول شهادت د مرتبې نه ساقط دی، لرې دا چې هغوی د اجتهاد مرتبې ته ورسیږي.

---

[۱] کشف الأسرار للبزدوی ج: ۳ ص: ۹٦۰، تیسیر التجریر ج: ۳ ص: ۲۲٤)۔

که چېرته په ټولو طبقاتو کې د علماء اسلام په علمي نشاط باندې نظر وشي، چې هغوی په کومه طريقه د هغه ټولو خلکو حالات مدون کړي دي چې د هغوی څه علمي مرتبه وه؟ او په کتابت او تاليف کې د هغوی په منځ کې په کومه طريقه مسابقت جاري وو؟ او د مسلمانانو ديني او دنيوي ضرورياتو لپاره څومره د علم خپرول لازم وو هغه هغوی په څنګه تندی سره خپاره کړه؟ او تبليغ شاهد للغائب د حکم هغوی په کومه طريقه امتثال کړی دی؟ او د حق د اظهار چې عهد هغوی کړی وو هغه يې څنګه پوره کړ؟ په دې ټولو امورو باندې نظر کولو سره دا خبره ددې امت په حق کې عادتاً محال ده چې په هره زمانه کې د علماوو داسې جماعت موجود شوی نه دی چې دا نه پيژني چې د اوس زمانې مجتهد څوک دی چې په دې مرتبه باندې فائز دی او چې خپل فرضي منصب ادا کوي؟

پس کله چې په کومه زمانه کې يوه داسې رايه چې جمهور فقهاء د هغې قائل وي څلور طرفه شائع وي او د هغه رايې په مخالفت کې د کوم فقيه رايه د اهل علمو وړاندې رانشي؛ نو يو عاقل ته به په دې خبره کې شک نه شي کېدلی چې دا رايه اجماعي ده هم دا اجماع ده، چې په هغې باندې ائمه اهل اصول اعتماد کوي او دا يو داسې شی دی چې د هغې شاوخوا دا غوغا کول اثرانداز کيږي نه چې د اجماع په حجيت کې هم کلام دی او د هغې په امکان کې هم امکان او د هغه امکان په وقوع کې هم او د هغې د علم په امکان کې هم او د هغې د نقل په امکان کې هم څنګه چې پټ نه دی، د اجماع دا معنی نه ده چې په هره مسئله کې ډير ډير جلدونه (ټوکه) کتابونه وليکل شي چې د هغه لکونو صحابه وو ﷺ په نومونو مشتمل وي چې د حضور ﷺ د وصال په وخت کې موجود وو، بيا د هر صحابي نه په دې کې روايتونه درج شي، نه. بلکې په کومه مسئله باندې د اجماع منعقد کولو لپاره دومره کافي ده چې د مجتهدينو صحابه وو ﷺ نه د هغوی تعداد صرف شلو ته قريب دی په دې مسئله کې صحيح روايت موجود وي، په هغه فقهاوو کې د چا نه هم په دې مسئله کې د هغې خلاف حکم نقل نه وي، بلکې په بعضې مقاماتو کې يو دوه مخالفته هم مضر نه دي، څنګه چې ددې فن ائمه وو په خپله ددې تفصيل ذکر کړی، هم دغه راز د تابعينو او تبع تابعينو زمانه کې.

دا بحث چې چا د ټولو نه زيات په ښه انداز واضحه کړی دی چې د کوم متشکک لپاره يې د شک ګنجائش نه دی پرې ايښی هغه ستر امام ابوبکر رازي جصاص رحمه الله دی، هغوی په خپل کتاب "الفصول في الاصول" کې د اجماع د بحث لپاره تقريباً شل پاڼې خاص کړي دي او د هغه ددې کتاب نه څوک نه شي مستغني کېدلی چې د علم لپاره د علم رغبت لري، هم دغه راز علامه اتقاني "الشامل شرح اصول بزدوي" کې (او دا په لسو ټوکونو کې دی) د متقدمينو عبارتونه حرف په حرف نقل کوي، بيا چې چېرته د هغوی نه د مناقشې ضرورت وي هلته ماهرانه انداز کې مناقشه کوي، ددې کتاب آخري شپږ ټوکه "دارالکتب المصريه" کې موجود دي او اولني ټوکه "مکتبه جار الله ولی الدين استنبول" کې موجود دی، او ماته

معلومه نه ده چې په علم اصول کې کوم کتاب بسط مع الافاده کې د دې کتاب هم مقابل وي. د بدر زرکشي "البحر المحيط" د وروسته والي باوجود د "الشامل په مقابل کې ګوي صرف مجموعه د نقولو ده

د اجماع يو قسم هغه دی چې په هغې کې د عموم بلوی په وجه عام او خاص ټول شريک دي. مثلاً په دې باندې اجماع ده چې د سهار دوه، د ماسپښين څلور او د ماښام درې رکعته دي او يوه اجماع هغه ده چې مجتهدين پکښې منفرد وي مثلاً د غلو او ميوو مقدار او زکوة باندې اجماع او ترور او خورځې يو ځای په نکاح کې د جمع کولو په حرمت باندې اجماع. د دې اجماع مرتبه د لومړی اجماع نه کمه نه ده، ځکه چې که څه هم مجتهدينو سره عوام ملاو شي: نو دې سره د مجتهدينو په دليل کې اضافه نه کيږي، پس کوم سړی چې دا دعوه کوي چې کومه اجماع قطعي وي د کتاب او سنت په موجودګی کې د هغې ضرورت نشته او کومه اجماع چې د دې نه په کمه مرتبه کې وي هغه په درجه د ظن کې ده (نو ځکه د هغې اعتبار نشته) هغه د اجماع حجيت ردکول غواړي او سبيل المومنين پرېښودلو سره په کومه بله لار روان دی، د دې تشريح په اوږدو کتابونو کې شته او دا مقام د مزيد بحث متحمل نه دی او که څه هم د اجماع بعضې صورتونه ظني هم وي؛ نو بيا هم په دې سره د اجماع څه خرابتيا راځي؟ حال دا چې د يقيني اجماع منکر کافر دی او کومه اجماع چې د خبر مشهور قائم مقام وي د هغې انکار ضلالت او بدعت دی او کومه چې د د ښه په کمه مرتبه کې وي د هغې د منکر حکم د صحيح اخبار احاد نه د منکر په شان دی.

د جمهورو فقهاوو په نزد احکام عمليه کې دليل ظني هم لائق د احتجاج دی، د هغه دلايلو په وجه چې په دې مسئله کې دي، اګر که د بعضې ائمه وو دې قول چې: په خبر احاد سره کتاب الله باندې اضافه جائز ده، د ظاهريه وو يوې ډلې تر هغه حده پورې ورسولو چې اخبار احاد مطقاً مفيد د يقين دي او دا چې په ظن کې اصلاً هيڅ حجت نشته، څنګه د اجماع سکوتي په باره کې د بعضې ائمه وو دې قول چې: ساکت طرفته قول نه شي منسوب کولی. حال دا چې شريعت په ډېرو مواضعو کې ساکت ته قول منسوب کړی، مثلاً باکره او ماموم په موقع د بيان کې خاموشه پاتې کېدل وغيره، ظاهريه حجيت اجماع په نفی کې توسع پورې ورسېدل، هم دغه راز د بعضې ائمه اقوال د صحابه رضي الله عنهم او د حديث مرسل په باره کې چې کومه نظريه ده هغوی په ظاهره کې د اقوال صحابه رضي الله عنهم نه د اجماع او حديث مرسل نه بالکليه د اعراض حوصله پيدا کړه، د دې وجې نه د شريعت يوه حصه فوت شوه بيا هغه امام چې په استحسان باندې کوم اعتراضات کړي دي هغوی ظاهريه اعراض عن القياس باندې هم ډاډه کړه، په دې اعتبار چې کوم اعتراضات تاسو په استحسان باندې کړي دي که څه هم هغه په دې باندې وارد وي؛ نو قياس به هم يوشان وارديږي، څنګه چې ابن جابر په قديم شافعيه وو کې هم دا خبره کړې ده، کله چې د هغه نه سوال وشو چې هغه شافعي مسلک پرېښود ظاهري مذهب يې

ولې اختیار کړ؟ لیکن د امام شافعي رحمه الله مقصد د هغه خلکو د عقایدو سره څه واسطه؟ کله چې د شافعیه وو اکابرو وکتل چې هغه خلکو د شافعي مذهب د خپلې ګمراهی پل جوړ کړ: نو هغوی ته پرې ډیر افسوس وشو او هغوی ددغه خلکو په تردید کې د ټولو علماوو نه زیاته سخته رویه اختیار کړه، (ډیر حقائق اصول د مذاهبو د تقابل مطالعې سره ښکاره کیږي، کنه صرف د فروع په منځ کې مقابله تفقه او تفقیه کې قلیل النفع ده. ځکه چې دا ټول فروعي مسئلې د خپلو اصولو نه متفرع وي، پس ددې وزن د هغوی په پیمانې سره کول ترازو کې د ډنډې وهلو مرادف دی) او په دې باندې د ابراهیم بن یسار النظام اجماع او قیاس کې د تشکیک اضافه وکړئ، ځکه چې هغه لومړی سړی دی چې ددې دواړو د نفی لپاره ولاړ دی او ډیر زر حشوي راویانو، داؤدیانو، حزمیانو، او شیعه ګانو او د خوارجو طائفو د هغه دواړو په نفی کې د نظام پیروي شروع کړه، پس دا خلک او د دوی مریدان چې د اجماع او قیاس نفی کوي، تاسو به دوی وګورئ چې هغوی د ډیرې زمانې راهیسې د نظام خبره تکراروي، د متقدمینو په کتابونو کې چې څوک مدون دي هغوی د دوی د فیصلې لپاره کافي دي.

هغه خلکو ته افسوس! که چېرته د کوم معتزلي پیروي کول وو نو کم ازکم داسې سړی به یې تلاش کړی وی چې د خپل دین په باره کې خو متهم نه وی؛ لیکن افسوس چې

ع.. کند هم جنس باهم جنس پرواز!

او د علماوو یوه ډله دې طرفته تللې چې نظام د هندوانو د مذهب قائل وو هغه چې بیخي د نبوت منکر دي، مګر د تورې له ډاره یې د خپل داخلي عقایدو اظهار ونه کړ، ډېرو عالمانو ورته کافر ویلي دي، بلکې خپله د معتزله وو یو جماعت مثلاً ابوالهذیل، الاسکافي او جعفربن حرب هم د هغه تکفیر کړی دی او هغوی ټولو دده په تکفیر باندې کتابونه لیکلي دي، ددېنه علاوه هغه فاسق او سخت شرابي ؤ، ابن ابي الدم "الملل والنحل" کې لیکي چې: په خپل ماشومتوب کې د ثنویه ملګری ؤ او بوډاوالي کې د ملاحده فلاسفه ملګری شو، څنګه چې په عیون التواریخ کې دي، دا دی د اجماع او قیاس د منکرینو امام، د الله تعالی نه مونږ د سلامتیا هیله کوو، پس کوم سړي ته چې په اجماع او قیاس کې د هغه د شک څه اثر رسېدلی وي که چېرته هغه د غور او فکر څښتن وي؛ نو هغه دې "اصول جصاص" ته رجوع وکړي او که صرف روایت ته مائل وي؛ نو د الخطیب "الفقیه والمتفقه" دې مطالعه کړي، ددې دواړو سره به هغه پوره سیراب شي.

او د مجمع علیه قول په مقابله کې د شاذ قول حیثیت هم هغه دی چې د متواتر قرآن په مقابله کې د شاذ قراءت دی، بلکې هغه د قراءت شاذه نه هم کم حیثیت والا دی، ځکه چې کله د قراءت شاذه سره د کتاب الله صحیح تاویل لاس ته راځي، په خلاف د شاذ قول چې سهوا د هغه د ترک کولو نه بله هیڅ ګټه نه لري، غالباً هم دومره توجه کول ددې لپاره کافي ده چې

خپله غلطو مجتهدينو ته معلومه شي چې دا دعوه څومره خطرناکه ده چې اصوليين: په اجماع کې د کوم شي دعوه لري هغه يو خيال دی.

(۹) طلاق او رجوع بې شاهدانو صحيح ده

د رسالې ليکوال اصرار کوي چې طلاق او رجوع د دواړو د صحت لپاره شاهدي شرط ده ځکه چې د الله تعالی ارشاد دی

" فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنكُمْ" (الطلاق : ۲)

ژباړه. پس کله چې هغوی خپل مدت ته ورسي؛ نو هغوی معروفي طريقې سره ايسارې کړئ! يا يې په معروفي طريقې سره جدا کړئ! او په خپلو کې دوه عادل سړي شاهدان کړئ!

په دې سلسله کې ليکوال دا روايت د سند په توګه پيش کوي چې ددې آيت په تفسير کې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما او د حضرت عطاء او سدي نه مروي دي چې شاهد جوړولو نه مراد طلاق او رجوع باندې شاهد جوړول دي.

د رسالې د ليکوال دا قول بالکل يوه نوې خبره ده چې اهل سنت خو به ناراضه کړي، مګر اماميه به ټول ترې ښه راضي شي، دا خو ښکاره ده چې آيت د ايسارولو يا جداکولو اختيار ورکولو نه پس د شاهد جوړولو ذکر کړی دی؛ نو ځکه د شاهد جوړولو به هم هغه حکم وي چې کوم د ايسارولو يا د جدا کولو حکم دی، کله چې په دې دواړو کې يو شی علی التعين واجب نه دی؛ نو ددې لپاره شاهدي څنګه واجبيږي؟ که چېرته دا حکم د وجوب لپاره وي نو " وتلک حدود الله" نه مخکې به ذکر شوی ؤ، علاوه ددې نه که چېرته دا فرض شي چې په حالت د حيض کې ورکول شوی طلاق باطليږي (څنګه چې د ليکوال رايه ده) نو په دې صورت کې ددې نه زياته احمقانه رايه بله نه کيږي چې د صحت طلاق لپاره شاهدي شرط وګرځول شي، ځکه چې د شاهدانو لپاره دا شاهدي ورکول ممکن نه دي چې طلاق په طهر کې شوی وو، ځکه چې دا شی صرف هم د ښځو نه معلومېدی شي او که چېرته په شاهدی کې صرف د طلاق واقع کېدلو په شاهدی اکتفا وشي؛ نو د ښځې صرف دا وينا چې طلاق د حيض په حالت کې شوی وو، د طلاق ورکونکي قول او د شاهدانو شاهدي دواړه باطلوي، که چېرته ښځه دا اعتراف وکړي چې طلاق په طهر کې شوی دی، ګويا سړی د طلاق ورکولو کلکه اراده لري مګر په دې باندې د نان نفقه د بوج مودې اوږدولو ته خبره رسيږي، اخر دا څنګه ظلم او تياره ده؟ او که چېرته هغه دا په کور کې ساتي، حال دا چې هغه ښه پوهيږي چې هغه په درې طهرونو کې درې طلاقه ورکړي دي؛ نو ددې په کور کې اوسېدل غير شرعي کړنه ده، چې د هغې نه په نفس الامر کې نه نسب ثابتيږي، نه وراثت جاري کيږي او کوم امور چې صرف د ښځې نه معلوميږي په دې کې به د ښځې قول قبول وي او کوم امور چې د ښځې په ذريعه معلومېدی شي په هغې کې د سړي قول معتبر ګرځول ددې شناعت نه د بچ کېدلو لپاره يوه عجيبه پوهه ده، اخر د

کتاب او سنت د کوم ځای نه دا خبره مستنبط کیږي؟ کوم خلک ددې عجیبه اجتهاد لپاره په خپل ګمان د کتاب او سنت نه تمسک کوي. په حقیقت کې د کتاب او سنت نه د هغوی په لري والي کې اضافه کیږي.

پس د امساک معنی ده رجوع کول او د مفارقت نه مراد د طلاق ورکولو نه پس ښځه د هغې په حالت باندې پرېښودل تردې چې د هغې عدت ختم شي. ددېنه خپله طلاق ورکول مراد نه دي چې په هغې باندې د شاهد جوړولو لحاظ وشي، قرآن کریم د شاهد جوړولو ذکر صرف د امساک او د مفارقت په سیاق کې کړی دی، پس ښځې ته رجوع کول یا د عدت تر ختمېدو پورې هغه د هغې په حال باندې پرېښودل دا دواړه صرف د سړي حق دی؛ نو ځکه ددې دواړو د صحت لپاره شاهد جوړول شرط نه دي، څنګه چې د طلاق د صحیح کېدو لپاره شاهدي شرط نه ده، بلکې که چېرته نفس طلاق لپاره شاهدي شرط ګرځول مقصد وي؛ نو د هغې ذکر به "فطلقوهن" نه پس او طلاق باندې د مرتب کیدونکي شیانو (یعنې د عدت شمارل او مطلقه په کور کې ایسارول وغیره) نه مخکې وای، لهذا آیت د طلاق په شاهدی باندې حمل کول بې محله او د قرآن کریم د بلاغت خلاف دی.

او ددې آیت په تفسیر کې چې کوم روایات ذکر شوي دي اول خو د هغې په اسانیدو کې کلام دی، ددېنه قطع نظر په هغې کې څه داسې قرینه نشته چې د شاهدی په شرط کېدلو باندې دلالت وکړي، څنګه چې خپله په آیت کې دننه د شاهدی په شرط کېدلو باندې په هغه دلالتونو کې هیڅ دلالت نه موجودیږي چې د اهل استنباط په نزد معتبر دی او محض امساک او مفارقت نه پس، نه د طلاق نه پس د شهادت ذکر کول په هغې کې د کوم شي لپاره د شاهدی په شرط کېدلو باندې دلالت کولو نه لرې دی، بلکې په دې موقع باندې د اشهاد د ذکر کولو منشا هغه طریقې طرفته لارښوونه کول دي چې که په دې امورو کې د کوم شي نه انکار وکړي؛ نو د هغې ثبوت په کومه طریقه وشي؟ بلکې کوم سړی چې په ښه دقیق نظر په آیت کې غور وکړي او د هغې سیاق او سباق سم وګوري، په هغه باندې به دا حقیقت واضح شي چې د عدت د ختمېدلو په وخت کې د مطلقې ښځې په خپل خاوند باندې کوم حق وي، د هغه حق په ادایګۍ باندې شاهدي قائمولو طرفته آیت اشاره کوي، ځکه چې مفارقت بالمعروف هم دغه دی چې عدت ختمېدلو وخت کې د سړي په ذمه چې د ښځې کوم حق واجب دی هغه دې ادا شي او په دې امر باندې شاهد مقررول ګویا په طلاق باندې د شاهد مقررولو قائم مقام دی، ځکه چې دا شی هم په طلاق باندې مرتب شوی دی او دا خبره بالکل ښکاره ده او د شاهد جوړولو حکم محض ددې لپاره شوی چې سړی دا ثابته کړی شي چې د هغه په ذمه کوم حقوق وو هغه ده ادا کړي، کنه نو دې شاهدی ته په صحت د طلاق کې هیڅ دخل نشته.

ددې تقریر نه واضحه شوه چې طلاق شاهدی سره مشروط کول محض خپله یو ماته شوې رایه ده چې نه د کتاب نه ثابته ده، نه د سنت نه، نه د اجماع نه او نه د قیاس نه او څوک

هم ددې قائل نه دی چې که په سفر کې وصیت وکړی شي، یا په قرض د لین دین معامله وشي، یا څه اخیستل او خرڅول وشي، یا یتیمانو ته د هغوی مال حواله شي او په دې شیانو کې شاهد جوړ نه کړی شي؛ نو دا ټول شیان به باطل شي، بلکې بغیر شاهد جوړولو نه هم دا شیان په اتفاق د اهل علمو صحیح دي، حال دا چې د شاهد جوړولو حکم په دې ټولو امورو کې هم موجود دی، دد ېنه معلومه شوه چې دا حکم دې شیانو ته په شاهدی سره د مشروط کولو لپاره نه دی، بلکې دا حکم ارشادي دی چې د هغې نه مقصد دا دی چې که یوه ډله انکار کوي: نو د هغې خلاف ثبوت موجود وي.

ګورئ! د نکاح معامله لویه ده، ددې باوجود په قرآن کریم کې په نکاح باندې د شاهدی ذکر نه دی شوی؛ نو طلاق او رجعت دد ېنه څنګه اهم شمار کړی شي؟ او اکثر امامانو د نکاح لپاره د شاهدانو شتون چې ضروري ګرځولی دی هغه په دې بنسټ چې په سنت کې نکاح شاهدانو سره مشروط ښوې ده؛ لیکن د طلاق لپاره چا هم شاهدي نه ده شرط ګرځولې، اګر که د بعضې حضراتو نه د رجعت د شاهدی سره مشروط کېدل مروي دي، علاوه ددې نه چې په رجعت کې د انکار موقع کم زیات راځي، امام ابوبکر جصاص رازي رحمه الله فرمایي:

" مونږ ته د اهل علمو تر منځ په دې مسئله کې هیڅ اختلاف معلوم نه دی چې رجعت بغیر د شاهدانو نه صحیح دی، سېوا دد ېنه چې د عطا نه مروي دي، د سفیان، ابن جریج نه او هغه د عطاء رحمه الله نه روایت کوي چې هغوی وویل: طلاق، نکاح او رجعت شاهدی سره وي او دا په دې باندې حمل دي چې په رجعت کې احتیاطاً د شاهد مقرر کولو حکم ورکول شوی، ددې لپاره چې بیا د انکار څه ګنجائش باقي پاتې نه شي، ددې دا مطلب نه دی چې رجعت بغیر د شاهدی نه نه صحیح کیږي، تاسو نه ګورئ چې هغوی ددې سره د طلاقو ذکر هم کړی دی؟ حال دا چې د شاهدی نه بغیر د طلاق په واقع کېدلو کې هیڅوک هم شک نه کوي او شعبه د مطروق نه او هغوی د عطا نه او الحکم نه نقل کړي دي چې هغه دواړو وویل: کله چې سړی په عدت کې د ښځې سره کوروالی وکړي؛ نو د هغې دا فعل به رجعت شمار وي.

او د حق تعالی ارشاد: " فامساک بمعروف" دلالت کوي چې جماع رجعت دی او دا د امساک نه ښکاره ده، اوس که چېرته د عطاء د قول هغه مطلب نه وپ چې جصاص ښودلی دی؛ نو ووایئ چې سړی به په جماع باندې شاهد څنګه مقررولي؟ او هغه چې د بعضې حضراتو نه د مراجعت په اقرار باندې شاهد مقرر کول مروي دي دد ېنه نفس مراجعت باندې نه بلکې د مراجعت په اقرار باندې شاهد مقرر کول مراد دي، څنګه چې د تامل نه دا خبره واضحه کیږي، پس کله چې بغیر د دلیل نه دا اقرار ورکول شي چې تر څو پورې قاضي یا د هغه نائب یا د شاهدانو په مخامخ طلاق باندې شاهدي مقرر نه کړی شي تر هغه پورې به نه واقع کیږي، په دې سره به نه صرف په انسان کې خرابتیا کیږي بلکې د طلاق په ټولو قسمونو، سني، بدعي، مجموع، مفرق چې د هغې مخکې ذکر شوی دی زیاتره باطلېدلو سره باقي پاتې کیږي.

(۱۰) آیا که د نقصان رسولو په صورت کې رجعت باطل دی؟

د لیکوال د رسالې دا لیکنه چې که چېرته رجعت د نقصان رسولو په نیت وي؛ نو باطل دی، یو داسې قول دی چې د هغې په ائمه متبوعینو کې څوک هم قائل نه دي. بلکې کوم صحابي، تابعي یا تبع تابعي همددې قائل نه دی.

قطع نظر ددېنه سوال دا دی چې حاکم ته به څنګه معلومات کیږي چې خاوند په قصده د نقصان رسولو په نیت رجوع کړې ده، ددې لپاره چې هغه د باطلېدلو فیصله وکړي؟ ددې صورت بس هم دا کېدی شي چې یا خو د هغه زړه چیري کړي او په خپلو سترګو یې وګوري یا د خپلې فیصلې بنیاد په خیالاتو او وسوسو وساتي او کتاب الله ناطق دی چې د ضرر د قصد باوجود رجعت صحیح کیږي، ځکه چې ارشاد دی:

وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوا وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ (البقرة: ۲۳۱)

ترجمه: د نقصان رسولو په غرض هغوی مه ایساروئ، ددې لپاره چې تاسو ظلم وکړئ؛ او چا چې داسې وکړه هغه په خپل ځان ظلم وکړ.

که چېرته په قصد د ضرر رجعت نه صحیح کیږي؛ نو خاوند ددې عمل په ذریعه خپل ځان باندې څنګه ظلم کوونکی ګرځي؟

د رسالې لیکوال ډیر ځای کې دا فلسفه چاڼ کړې چې طلاق د سړي په لاس کې دی، حال دا چې ددې عقد ختمول هم مجموعي حیث سره دواړو ته حواله دی، لیکوال غواړي په دې بنیاد ډیري هوایي کلاګانې تعمیر کړي، مونږ د کتاب په پیل کې ددې بنیاد نړولی دی او په دې باندې مو هوایي کلاګانې د ابادولو مخ ډب کړی دی، د لیکوال د باقي لغویاتو د تردید کولو ضرورت نشته، اول خو هغه څه اهمیت نه لري بیا د هغې بطلان هم ښکاره دی.

د پای پرېکړه: ددې بحثونو په پای کې مو یوې مهمې خبرې ته توجه راګرځول غواړم او هغه دا چې طلاق او نکاح او په نورو شرعي احکامو کې وقتاً فوقتاً ترمیم او تجدید کول د هغه سړي لپاره څه مشکل کار نه دی چې په هغه کې درې شرطونه موجود وي:

(۱): د الله وېره د هغه له زړه وتلې وي.

(۲): د امامانو د اجتهاد او د هغوی د دلایلو نه بې خبره وي.

(۳): د تکبر په بنا یې ښکرونه وربځو ته رسېدلي وي.

لیکن په دې ترمیم او تجدید سره خو نه امت د ترقی په بلندیو کې راتلی شي، نه ددې په ذریعه امت ته طیارې، سیارې او بحري بیړیو اسانتیا برابریږي، نه د تجارت منډیانې او صنعتي کارخانې د دوی لاس ته راځي.

کوم څه چې امت ته د ترقی په لار کامیابي ورکولی شي هغه په الهي احکامو کې مانع نه وي، بلکې دا ده چې مونږ د ترقیافته قومونو اوږه په اوږه مخکې لاړ شو. د کائناتو د اسرارو درک ولګوئ! معادن، نباتاتو او حیواناتو وغیره کې چې کوم قوتونه الله تعالی ورکړي دي هغه معلوم کړو او هغه د اعلاء کلمة الله، مصالح امت او د اسلام د ترقی لپاره تیار کړو. هغه په کار کې راولو، د داسې تجدید مخالف څوک نشته، لیکن طلاق وغیره احکامو کې د اجتماع او اختلاف څخه هیڅ هم نه حاصلیږي؛ نو ځکه لازمه ده چې د الله تعالی د شریعت حدود محفوظ وساتو او هغه د خواهشاتو د تلبیس نه لري وساتل شي، د دنیا ټولو مسلمانانو ته زما وصیت دی چې کله د بادشاه له خوا د الله تعالی د مقرر شوي شریعت خلاف حکمونه جاري شي؛ نو د خپل ذات تر حده پورې دي هغه په خدايي شریعت باندې ودریږي او د طاغوت پر وړاندې خپلې فیصلې مه بدلوئ! برابره خبره ده مفتیان (کوم چې ګمراه شوي) څومره فتوې ورکوي، تاسو ته نقصان نه درکوي، کله چې تاسو په هدایت یئ، په دې ورقو کې چې د طلاق کومو حکمونو د تدوین قصد ؤ هغه ختمیږي، زه د الله تعالی نه سوال کوم چې هغه د خپل رضا لپاره وګرځوي، مسلمانانو ته دي ددې نه فایده ورسوي،

ربنا لا تزغ قلوبنا بعد اذ هديتنا وهب لنا من لدنک رحمة انک انت الوهاب وصلى الله على سيدنا ومنقذنا محمد سيد المرسلين وآله وصحبه اجمعين والتابعين لهم باحسان الى يوم الدين واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

الفقير الى الله سبحانه وتعالى: محمد زاهد بن الشيخ حسن بن علي الكوثري عفى عنهم وعن سائرالمسلمين [تحریر ۲۰ ربيع الثاني ۱۳۵۵هـ د پنجشنبې ورځ ، د لمر خاته پرمهال]

❖ معلق طلاق ❖

د معلق طلاق مسئله

سوال: زما خاوند زه د خپلې خور کور ته د تلو نه منع کړم او وې ویل: که ته هلته لاړې؛ نو ته به په ما باندې طلاقه شې او درې ځله یې دا الفاظ وویل چې زه به تاته طلاق درکړم، ددې په دویمه دریمه ورځ مونږ هلته لاړو، مخکې ماته معلومه نه وه چې د ژبې په وینا طلاق واقع کیږي، د خلکو نه مې واورېدل چې داسې طلاق هم واقع کیږي، حال دا چې خاوند یې نه مني او وایي چې د طلاق ورکولو وعده مې کړې او طلاق مې نه دی ورکړی، دا په داسې حال کې چې هم دغه الفاظ چې اوس مې ولیکل زما خاوند ماته ویلي وو، آیا په دې صورت کې طلاق واقع کیږي او که نه؟ که چېرته واقع شوي وي؛ نو حل به یې څه وي؟

جواب: ستا د تلو نه پس خاوند دوه الفاظه استعمال کړي، یو دا چې که ته هلته لاړې؛ نو په تا

باندې به طلاق واقع شي، دې سره يو طلاق واقع کيږي[۱]، مګر که چېرته خاوند په عدت کې دننه په ژبه ووايي چې ما طلاق واپس واخيست يا د ښځې خاوند رشته وساتي؛ نو رجوع کيږي[۲]، د دوباره نکاح ضرورت نشته، دويمه جمله ستا د خاوند څنګه چې هغه درې ځله تکرار کړې وه چې زه به تاته طلاق درکړم، دا د طلاقو وعده ده، دې الفاظو سره طلاق نه دي شوي.[۳]

طلاق او شرط په يو وخت کې يوه جملې سره معلق طلاق واقع شو

سوال: يو سړي خپلې ښځې ته په ليک کې داسې طلاق ورکړ، زه هغې ته درې بائن طلاقونه ورکوم، دا ټولې مسئلې ما په جنتي کالي کې په غور سره کتلي دي، دې سره هغه سړي دا شرط هم لګولی چې د طلاق اطلاق به هغه وخت وي چې کله کور د ښځې په ملکيت کې وي او هغه خرڅ کړي، واضحه دې وي چې خاوند د ښه ژوند تېرولو په وعده په ښځه د مهر روپۍ معاف کړې او په دې کې د خپلې ښځې حلفيه بيان يې د قاضي مخامخ کېښود، ددې وروسته يې سمدستي دوه درې ورځې وروسته يې ښځې ته په پورته طريقې طلاق ورکړ، آيا دا طلاق واقع شو؟ که د کور خرڅولو سره به مشروط وي؟ حال دا چې کور د ښځې په نوم ثبت دی.

جواب: که چېرته طلاق او شرط يې په يوه جمله کې ليکلي وي مثلاً: دا چې که چېرته يې کور خرڅ کړ؛ نو دې ته درې طلاقه، په دې صورت کې به د کور په خرڅولو طلاق واقع کيږي، تر څو پورې چې يې کور نه وي خرڅ شوی؛ نو طلاق به نه واقع کيږي[۴]، او که چېرته طلاق مخکې ورکړي وروسته د وضاحت په توګه شرط ولګوي؛ نو طلاق سمدستي واقع شو او د وروسته وضاحت هيڅ اعتبار نشته.[۵]

۱]اذا أضافه (الطلاق) الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا مثل أن يقول لا مرأته ان دخلت الدار فانت طالق..... الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۴۲۰، كتاب الطلاق، الباب الرابع فى الطلاق بالشرط)۔

۲]فاذا راجعها بالقول نحو أن يقول لها: راجعتک أو راجعت امرأتي ...... وان راجعها بالفعل مثل أن يطأها أو يقبلها بشهوة أو ينظر الى فرجها بشهوة فانه يصير مراجعًا عندنا .....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ص: ۴۶۸)۔

۳] هو رفع قيد النكاح فى الحال بالبائن أو المآل بالرجعى بلفظ مخصوص هو ما اشتمل على الطلاق. (الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۱٦، كتاب الطلاق، طبع سعيد)۔

۴]اذا أضافه (الطلاق) الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا مثل أن يقول لا مرأته ان دخلت الدار فانت طالق..... الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۴۲۰، كتاب الطلاق، الباب الرابع فى الطلاق بالشرط)۔

۵]اذا قال لها: ان دخلت الدار وأنت طالق، فانها تطلق للحال وان قال عنيت التعليق لا يدين أصلًا .... الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۴۲۰). أيضًا: ولو قال: انت طالق ثم ان دخلت الدار فانه يقع الطلاق ولو نوى التعليق لا تصح نيته أصلًا. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۴۲۱، كتاب الطلاق، الباب الرابع فى الطلاق بالشرط)۔

که چېرته زه فلانی کار وکړم ؛ نو ما باندې به ښځه طلاقه وي . ددې حکم

سوال: یو سړي په غوسه کې خپلې مور ته د راتلو پر مهال وویل که چېرته زه تاته راغلم: نو په ما باندې دې ښځه طلاقه وي او دا لفظ يې صرف یو ځل ویلی دی. اوس هغه سړی خپلې مور ته راتلل غواړي؛ نو د هغه لپاره به څه صورت وي؟

جواب: په دې صورت کې چې هغه په ژوند کې هرکله خپلې مور ته لاړ شي؛ نو په لومړنی ښځه به يې یو طلاق رجعي واقع کيږي[1]، د هغې شرعي حکم دا دی چې په عدت کې دننه بغیر د تجدید نکاح نه خاوند رجوع کولی شي[2]، البته د عدت نه پس به د ښځې په رضا دوباره نکاح کوي[3]، غوره دا ده چې دا سړی دې خپلې مور ته لاړ شي، دې سره به یو طلاق رجعي واقع شي او دد هنه پس دې دا سړی ښځې ته رجوع وکړي، د رجوع نه مراد دا دی چې یا خو ژبې سره ووایي چې ما طلاق واپس واخیست، یا دې ښځې سره لاس ولګوي، یا دې د هغې سره کوروالی وکړي، ژبې سره یا فعل سره رجوع کولو نه پس د طلاقو اثر ختميږي[4]. لیکن سړي په درې طلاقو کې د یو طلاق حق استعمال کړ، اوس د هغه سره صرف د دوه طلاقو حق پاتې شو، آینده که چېرته دوه طلاقه ورکړي؛ نو ښځه به حرامیږي، ددې لپاره به اینده پوره احتیاط کوي.[5]

"کومه ورځ چې زما ښځې د خپل مور او پلار کور ته یوه لقمه هم وخوړل ؛ نو دې ته درې طلاقه" ددې الفاظو حکم

سوال: څو ورځې مخکې زید د خپلې خسرګنۍ سره خفه شو، بعضې خلکو د دوی سوله کول غوښتل، د غوسې په حالت کې زید د دوه سړو په شتون کې دا الفاظ وویل: کومه ورځ دې (زما ښځې) چې د هغوی د کور (د نجلۍ مور او پلار) یوه لقمه هم وخوړله په هغه ورځ دې ته درې طلاقه، ددې نه پس اوس څو ورځې مخکې د زید د خسرګنۍ سره سوله وشوه، لیکن د زید ښځه يې د خپل مور او پلار په کور کې د ډوډۍ خوړولو نه منع کړې ده.

---

[1] وإذا أضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا.(عالمگيرى ج:١ ص:٤٢٠، كتاب الطلاق، الباب الرابع)

[2] إذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية أو تطليقتين فله أن يراجعها فى عدتها...الخ(عالمگيرى ج:١ ص:٤٧٠)

[3] وإذا كان الطلاق بائنًا .....فله أن يتزوجها ......وبعد انقضائها ....الخ. (هداية ج: ٢ ص: ٣٩٩)۔

[4] والرجعة أن يقول راجعتك أو راجعتُ امرأتى....أويطاها أويقبلها أويلمسها..الخ.(هداية ج:٢ ص:٣٩٥)

[5] قال فى البدائع: أما الطلاق الرجعى فالحكم الأ صلى له نقصان العدد فأما زوال الملك وحل الوطء فليس بحكم أصلى له لازم حتّٰى لا يثبت للحال بل بعد انقضاء العدة. (شامى ج: ٣ ص: ٢٢٧)۔

ايا د زيد ښځه د خپل مور او پلار د کور ډوډۍ په ټول عمر کې نه شي خوړلی؟ او که چېرته يې کله په هېره وخوري؛ نو آيا طلاق به واقع کيږي؟ آيا دا شرط په څه صورت باندې ختميدی شي، که چېرته ذاسې ممکن وي؛ نو هغه به کوم صورت وي؟

جواب: ددې شرط د ختمېدلو لپاره يو صورت کېدی شي چې زيد خپلې ښځې ته يو طلاق بائن ورکړي، د طلاق عدت ختمېدو نه پس ښځه د خپل مور او پلار په کور کې خوراک کولو سره دا شرط مات کړي، ددېنه پس دې زيد او دده ښځه دوباره نکاح وکړي.[۱]

که د مور او پلار کور ته لاړې؛ نو طلاق يې وګڼه

سوال: زما د خسر سره جنګ وشو، ما په غوسه کې په خپله ښځه شرط لګولی وو که ته زما نه بغير د خپل مور او پلار کور ته لاړې؛ نو زما له طرفه طلاق وګڼه، تر اوسه پورې هغه لانه ده تللې، که چېرته هغه لاړه شي؛ نو هغې باندې به طلاق وي، اوس که چېرته زه خپله اجازت ورکړم؛ نو هغه زما نه بغير تللی شي او که نه؟ دويمه خبره دا ده که چېرته هغه د خپل مور او پلار کور ته لاړه شي؛ نو زه څنګه دوباره رجوع کولی شم؟

جواب: تاسو طلاق واپس نه شی اخيستلی[۲]، که چېرته هغه بغير ستا د اجازت نه مور کره لاړه شي؛ نو طلاق خو به واقع شي[۳]، مګر دا به رجعي طلاق وي، تاته به په عدت کې دننه د رجوع حق حاصل وي[۴]، د رجوع مطلب دا دی چې په ژبه ورته وويل شي چې ما طلاق واپس واخيست يا د ښځې خاوند رشته وساتل شي.[۵]

۱] فحيلة من علق الثلاث بد خول الدار أن يطلقها واحدة ثم بعد العدة تد خلها فتنحل اليمين فينكحها ولى الشامية أى لا تكرار بين هٰذه ..... الخ. (ردالمحتار على الدر المختار، باب التعليق ج: ۳ ص: ۳۵۵). أيضًا: اذا حلف بثلاث تطليقات أن لا يكلم فلانًا فالسبيل أن يطلقها واحدة بائنة ويدعها حتّٰى تنقضى عدتها ثم يكلم فلانًا ثم يتزوّجها، كذا فى السراجية. (الفصل السابع فى الطلاق وحيلة أخرىٰ. (عالمگيرى ج: ٦ ص: ۳۹۷، طبع رشيدية)۔

۲]الا قرار بالرق والطلاق ....فانها لا ترد بالرد..... الخ. (فتاويٰ شامى ج: ۵ ص: ٦۲۳)۔

۳]اذا أضافه (الطلاق) الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤۲۰، كتاب الطلاق).اذا طلق الرجل امرأته، تطليقة رجعية أو تطليقتين فله أن يرا جعها فى عدتها ....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤۷۰)۔

٤]فاذا راجعها بالقول نحو راجعتک أو راجعت امرأتى .... وان راجعها بالفعل مثل أن يطائها أو يقبلها بشهوة او ينظر الى فرجها بشهوة فانه يصيرمراجعًا عندنا....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤٦۸، كتاب الطلاق، الباب السادس)

۵] فاذا أضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤۲۰)۔

د معلق طلاق واپس اخیستلو اختیار نشته

سوال: که چېرته څوک خپلې ښځې ته په غوسه کې ووايي: که تا زما د مرضی خلاف کار وکړ؛ نو ته به زما د نکاح نه بهر يې، که چېرته خاوند دا شرط ختمول غواړي؛ نو آيا ختمېدی شي او که څنګه؟ دويمه خبره دا ده چې فرض کړی که چېرته ښځه دا کار وکړي؛ نو آيا هغه به رښتيا د نکاح نه بهر کيږي؟

جواب: طلاق د کوم شرط پورې معلق کولو نه پس د هغې د واپس اخيستلو اختيار نه وي، [1] ځکه چې ددې سړي ښځه که چېرته دده دمرضی خلاف کار وکړي؛ نو طلاق بائن به واقع شي، مګر دوباره نکاح کېدی شي. [2]

آيا دوه طلاقه ورکولو نه پس طلاق معلق واقع کېدی شي؟

سوال: زيد خپلې ښځې ته وويل: که چېرته زما د اجازت نه بغير مور کره لاړې؛ نو تاته طلاق دی، مګر څو ورځې وروسته د څه بلې وجې دوه طلاقه ورکوي او د خپلې ښځه نه جدا کيږي او خپله مطلقه ښځه د مور کور ته استوي يا هغه ښځه د خپل مور پلار کور ته خپله ځي؛ نو آيا په دې ښځې به صرف دوه طلاقه واقع کيږي که هغه طلاق به هم واقع کيږي چې زيد په دې شرط ورکړی ؤ، که زما د اجازې نه بغير د خپل مور پلار کور ته لاړې؛ نو يو طلاق دی، آيا زيد خپله ښځه په دوباره نکاح کې راوستی شي؟

جواب: معلق طلاق په نکاح يا عدت کې شرط موجودېدلو سره واقع کيږي[3]، پس په ياد صورت کې د دوه طلاقو نه پس د ښځې مور کره تلل که چېرته د عدت د ختمېدو نه پس ؤ؛ نو معلق طلاق واقع نه شو او که چېرته په عدت کې دننه ؤ او خاوند دا خپله واستوله بيا هم دريم طلاق واقع نه شو، ځکه چې شرط بې اجازې د تلو ؤ او دا تلل بې اجازې نه ؤ، بلکې دده په حکم ؤ او که چېرته ښځه په عدت کې دننه د خاوند د اجازې نه بغير لاړه شي؛ نو دريم طلاق به هم واقع شي او د شرعي حلالې نه بغير به دوباره نکاح هم صحيح نه وي. [4]

که چېرته ته ميلمه ته مخامخ راغلې؛ نو درې طلاقه

سوال: زما خاوند په وړه خبره راسره جنګ کوي، يو ځل يې د جنګ پرمهال راته وويل: که

---

[1] اذا أضافه (الطلاق) الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۴۲۰)۔

[2] ايضاً.)۔

[3] ايضاً.

[4] وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرّة وثنتين فى الأمة لم تحل له حتّى تنكح زوجًا غيره نكاحًا صحيحًا ويد خل لها ثم يطلقها او يموت عنها. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۴۷۳)۔

چېرته ته زما یا د خپلوانو مخې ته راغلې؛ نو تا ته زما له طرفه درې طلاقه، دې ویلو سره لاړ، حال دا چې هغه ته معلومه وه چې میلمه راتلونکی دی چې د هغه او زما دواړو یو شان رشته دار دی، لږ وخت وروسته میلمه راغلو او زه له مجبورۍ هغه ته مخامخ ورغلم. تاسو ولیکئ چې آیا دده په داسې وینا سره طلاق واقع کیږي او که نه؟ زمونږ یو ځای اوسېدل صحیح دي او که نه؟ زما خاوند دې نه مخکې هم په زیاتو جنګونو کې راته د طلاقو لفظ ویلی دی، مهرباني وکړئ ځواب ضرور راکړئ!

جواب: دې الفاظو سره درې طلاقه واقع شو او که چېرته هغه دده نه مخکې هم په زیاتو جنګونو کې د طلاقو لفظ ویلی وي؛ نو لومړۍ طلاق واقع شوی دی، بهر حال اوس ستاسو د دواړو د ښځې خاوند رشته نشته، بلکې یو بل باندې قطعي حرام يئ، د شرعي حلالې نه بغیر د دوباره نکاح اجازه هم نشته.[۱]

که دویم واده مي وکړو؛ نو ښځې ته طلاق

سوال: د یو هلک اتلس کاله مخکې هغه وخت واده وشو چې هغه ماشوم ؤ، دده خسر دده نه داسې لیکل واخیستل چې: که دویم واده مي وکړ؛ نو زما لور به طلاقه وي، حال دا چې هغه هلک دی، پ خط باندې نه پوهېدو، په داسې صورت کې دده لپاره د دویم واده څه حکم دی؟

جواب: ستا په سوال کې دوه خبرې دي: یو دا چې تا د ماشوموالي کوم لفظ لیکلی دی، ددېنه څه مراد دی؟ که چېرته ددېنه مراد دا وي چې هغه هلک هغه وخت نابالغ ؤ؛ نو د نابالغ د لیک اعتبار نشته؛ نو ځکه په دویم واده طلاق نشته[۲]، او که چېرته ددې لفظ نه مراد دا وي چې هلک خو بالغ ؤ، مګر هوښیار نه ؤ؛ نو دا لیک معتبر دی او په دویم واده باندې لومړۍ ښځې ته طلاق واقع کیږي.[۳]

دویمه خبره دا ده: چې آیا په لیک کې هم دغه الفاظ ؤ کوم چې په سوال کې نقل شوي دي، یعنې که چېرته دویم واده دې وکړ؛ نو زما لور ته به طلاق وي، یا د درې طلاقو الفاظ ؤ، که چېرته هم دغه الفاظ یې لیکلي وي چې تا په سوال کې نقل کړي دي؛ نو دویم واده سره به

۱] وان كان الطلاق ثلاثًا فى الحرّة وثنتين فى الأمة لم تحل له حتّى تنكح زوجًا غيره نكاحًا صحيحًا ويد خل بها ثم يطلقها أو يموت عنها.(عالمگیری ج:۱ ص:٤٧٣،كتاب الطلاق،الباب السادس، فصل فيما تحل به المطلقة)

۲]ولا يقع طلاق الصبى وان كان يعقل ....الخ. (عالمگیری ج: ۱ص: ۳۵۳)۔

۳] يقع طلاق كل زوج اذا كان بالغًا عاقلاً سواء كان حرًّا أو عبدًا، طائعًا أو مكرها، كذا فى الجوهرة النيرة. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۳۵۳). ايضًا: رجل استكتب من رجل آخر الى امرأته كتابًا بطلاقها، وقرأه على الزوج، فأخذه وطواه وختم وكتب فى عنواله وبعث به الى امرأته، فأتاها الكتاب وأقرّا الزوج أنه كتابه، فان الطلاق يقع عليها. (عالمگیری ج: ۲ ص: ۳۹۸)۔

لومړی ښځې ته صرف یو طلاق ملاویږي، [۱] او هغه هم رجعي، د رجعي مطلب دا چې د عدت ختمېدو نه مخکې خاوند په ژبه دا ووايي چې ما طلاق واپس واخيست او ښځې ته مې رجوع وکړه، يا دې مطلقې ته لاس ولګوي يا دې د هغې سره د ښځې خاوند رشتنه وساتي. غرض دا چې په خپل قول يا فعل سره دې د طلاق ختمولو پرېکړه وکړي؛ نو طلاق به مؤثر نه وي او نکاح به هم هغسې وي[۲] او که چېرته عدت ختم شي؛ نو دوباره نکاح کېدی شي[۳]. او که چېرته د طلاقو الفاظ يې درې ځله استعمال کړي وي؛ نو په هغې کې د رجوع ګنجايش نه پاتې کيږي او بغير د شرعي حلالې نه دوباره نکاح هم نه کيږي. [۴]

ترڅو پورې چې ستا خور، ستا د خور د خاوند په کور کې وي؛ نو تا ته به طلاق وي

سوال: زما يوه ملګرې د خپلو دوه بچو سره د خپل خاوند په کور کې اوسېده، د څه مودې نه زما د ملګرې خور او د خور خاوند يې هم په يو کور کې ورسره اوسېدل چې د دې خاوند ته ناخوښه وه؛ ليکن زما ملګرې خور او د خور خاوند د خپل ځان سره اوسېدل غوښتل، چې کله جنګ زيات شو؛ نو د ملګرې خاوند مې ښځې ته ووېل چې ترڅو پورې ستا خور او د خور خاوند په دې کور کې اوسيږي، په تا باندې به طلاق وي او کله چې د دې کور نه لاړ شي؛ نو دا طلاق به ختم شي او ته به دوباره زما سره د ښځې په حيث اوسيږې، مهرباني وکړئ تاسو دا ووايئ چې زما د ملګرې خور او د خور خاوند د کور نه تللو پس آيا زما ملګرې د خاوند سره دوباره اوسېدلی شي او که نه؟ او هغه دويمه نکاح کولی شي او که نه؟

جواب: ستا ملګرې يو طلاق شوه[۵]، اوس که چېرته د دې خور او د خور خاوند په عدت کې دننه لاړل؛ نو ګويا خاوند د طلاق نه رجوع وکړه او نکاح پاتې شوه او که چېرته د عدت ختمېدو نه پس لاړل؛ نو نکاح ختمه شوه، دوباره به نکاح کوي. [۶]

---

[۱] واذا أضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا. (اللباب ج: ۲ ص: ۱۷۴، كتاب الطلاق)۔

[۲] فاذا راجعها بالقول نحو أن يقول لها: راجعتک أو راجعت امرأتي وان راجعها بالفعل مثل أن يطأها أو يقبّلها بشهوة أو ينظر الى فرجها بشهوة فانه يصير مراجعًا عندنا. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤٦٨)۔

[۳] اذا كان الطلاق بائنًا دون الثلاث فله أن يتزو جها فى العدّة وبعد انقضائها. (عالمگيرى ج: ۱ ص:٤٧٢)

[۴] وان كان الطلاق ثلاثًا فى الحرة وثنتين فى الأمة لم تحل له حتّى تنكح زوجًا غيره نكاحًا صحيحًا ويدخل بها ثم يطلقها أو يموت عنها. (هداية ج: ۲ ص: ۳۹۹، كتاب الطلاق، باب الرجعة)۔

[۵] واذا أضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا. (اللباب ج: ۲ ص: ۱۷٤، كتاب الطلاق)۔

[۶] اذا كان الطلاق بائنًا دون الثلاث، فله أن يتزو جها فى العدة وبعد انقضائها. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤٧٢، فصل فيما تحل به المطلقة وما يتصل به)۔

که چېرته يې د ورور کورته په راتلو سره طلاق معلق کړو؛ نو اوس به څه کوي؟

سوال: د نن نه پنځه کاله مخکې زمونږ د دواړو ورونو تر منځ خبرې کېدې؛ نو په خبرو- خبرو کې ستغې خبرې وشوې، په دې دوران کې مې ورور بهر ته ووت، پوره لرې لاړ او وې ويل: که چېرته زه د خپل ورور کور ته راغلم؛ نو زما په ښځې دې دې يارلس ځله طلاق وي، اوس مې هغه ورور پنځه کاله راهيسې کور ته نه دی راغلی، اوس هغه زما کور ته په کوم صورت باندې راتلی شي؟ او د دې خبرو څه حل دی؟

جواب: ستا ورور چې کله هم ستا کور ته راشي، د ده ښځه به په درې طلاقو طلاقه شي، که چېرته هغه خپل قسم ماتول غواړي؛ نو د دې صورت دا کېدی شي چې هغه دې خپلې ښځې ته يو بائن طلاق ورکړي، بيا چې کله د ښځې عدت ختم شي؛ نو ستا کور ته دې لاړ شي، د ده قسم به مات شي، دوباره دې خپلې ښځې سره نکاح وکړي.[۱]

که چېرته ناواده کړی د طلاق کل قسم وکړي؛ نو ايا د واده نه پس به طلاق واقع کيږي؟

سوال: که يو عاقل بالغ سړی دا ووايي چې که زه چېرته سګريټ وڅښم؛ نو مسلمان به نه يم، که چېرته آينده زه سګريټ وڅښم؛ نو ما باندې دې (طلاق کل) يعني د دنيا ټولې ښځې دې په ما باندې طلاق وي، ياده دې وي چې دا سړی ناواده کړی دی، بيا که چېرته دی سګريټ پرېږدي؛ نو ايا دی به کافر کيږي يا د ده نکاح د کومې ښځې سره کيږي او که نه؟

جواب: داسې قسمونه خوړل چې که فلانکی کار وکړم؛ نو مسلمان به نه يم، ډېر بې ځايه سوګند دی او ګناه ده، د دېنه توبه ويستل پکار ده، مګر دې قسم ماتولو سره دا سړی نه کافر کيږي[۲]، بلکې ده ته پکار ده چې د قسم کفاره ادا کړي او توبه وباسي[۳] او دا ويل که چېرته

۱] فحيلة من علق الثلاث بد خول الدار أن يطلقها واحدة ثم بعد العدة تد خلها فتنحل اليمين فينكحها رل الشامية اى لا تكرار بين هٰذه ..... الخ. (ردالمحتار على الدر المختار، باب التعليق ج: ۳ ص: ۳۵۵). ايضًا: اذا حلف بثلاث تطليقات أن لا يكلم فلانًا فالسبيل أن يطلقها واحدة بائنة ويدعها حتّٰى تنقضى عدتها ثم يكلم فلاناً ثم يتزوّجها، كذا فى السراجية. (الفصل السابع فى الطلاق وحيلة أُخريٰ.(عالمگيرى ج: ٦ ص: ۳۹۷، طبع رشيدية)۔

۲]وان قال: ان فعلت كذا فهو يهودى أو نصرانى أو كافر يكون يمينًا .... والصحيح أنه لاَ يكفر فيهما ان كان يعلم أنه يمين ....الخ. (هداية ج: ۲ ص: ٤٨١)۔

۳]لا يؤَاخذكم الله باللغو فى اَيمنكم ولكن يوا خذكم بما عقدتم الايمن"(المائدة: ۸۹)۔

زه فلانکی کار وکړم؛ نو په ما باندې ټولې ښځې طلاقې دي، حال دا چې هغه ناواده کړی دی، نو قسم لغو دی، دې سره هیڅ نه کیږي.[۱]

البته که چېرته يې داسې وويل چې زه د کومې ښځې سره نکاح کوم: نو هغې ته طلاق؛ نو د نکاح کولو سره به هغې ته طلاق ملاویږي، لیکن صرف یو ځل به طلاق وي. د دې ښځې سره به دوباره نکاح کولو سره طلاق نه واقع کیږي.[۲]

که چېرته د پلار کور ته لاړې؛ نو په ما درې طلاقه ویلو حکم

سوال: ما د خپل خسر سره جنګ وکړ، کورته راغلم ښځې ته مې وويل چې که د نن نه پس ته د پلار کور ته لاړې؛ نو په ما باندې دې درې طلاقه شرط وي، خیر ددې نه پس هغه خو د پلار کور ته نه ده تللې: مګر نن سبا مې خسر سخت ناروغ دی او ما دا سوال د لويو - لويو عالمانو نه کړی دی لیکن مطمئن کړی يې نه یم، تاسو ووايئ چې ښځه مې څنګه د پلار کورته لاړه شي؟

جواب: ستا ښځه د خپل پلار کور ته نه شي تلی، که چېرته لاړه شي؛ نو په درې طلاقو به طلاقه شي،[۳] ددې تدبیر دا کېدی شي چې يو بائن طلاق ورکړه او د خپلې نکاح نه يې وباسه؛ بيا يې د عدت ختمېدو نه پس د خپل پلار کور ته ولېږه؛ ځکه چې دغه وخت به هغه ستا په نکاح کې نه وي؛ نو درې طلاقه به واقع نه شي او شرط به پوره شي، اوس که چېرته د دواړو خوښه وي؛ نو دوباره نکاح وکړئ ددېنه پس که چېرته د پلار کور ته لاړه؛ نو طلاق به نه واقع کیږي.[۴]

---

[۱] ولا تصح اضافة الطلاق الا أن يكون الحلف مالكًا أو يضيفه الى ملك كا لتزوج كالا ضافة الى الملك فان قال لا جنبية ان دخلت الدار فأنت طالق، ثم نكحها فدخلت الدار لم تطلق، كذا في الكافي. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۴۲۰)۔

[۲] ولو قال كل امرأة أتزوجها فهي طالق فتزوّج نسوة طلقن ولو تزوج امرأة واحدة مرارًا لم تطلق الا مرة واحدة، كذا في المحيط. (عالمگیری ج: ۱ص: ۴۱۵)۔

[۳] اذا أضافه (الطلاق) الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقًا. (عالمگیری ج: ۱ ص: ۴۲۰)۔

[۴] فحيلة من علّق الثلاث بد خول الدّار أن يطلّقهاواحدة ثم بعد العدة تدخلها فتنحل اليمين فينكحها. (الدر المختار مع الرد ج: ۳ ص: ۳۵۵)۔

❖ د حاملې طلاق ❖

حاملې ښځې ته داسې وينا: زه تا ته طلاق درکوم

سوال: زيد خپلې ښځې ته د څلورو ښځو په مخامخ يو مجلس کې درې ځله وويل چې: زه تاته طلاق درکوم او ښځو ته يې وويل چې تاسو شاهدې اوسئ، يو ځل يې چې کله طلاق وويل؛ نو د زيد مور د زيد په خوله لاس کېښود، لږ وخت وروسته يې چې لاس لرې کړ: نو زيد بيا دوه ځله وويل چې زه تاته طلاق درکوم او د زيد ښځه د شپږو مياشتو اميدواره ده، په داسې صورت کې د زيد ښځې ته طلاق ملاو شو او که نه؟ آيا دوی دوباره ښځه خاوند جوړېدی شي؟

جواب: په زيد باندې يې ښځه حرامه شوه، اوس نه رجوع جائز ده او نه د شرعي حلالې نه بغير دويم عقد کولی شي[۱] د زيد دښځې عدت دبچي پيدا کېدل دي، کله چې بچی پيدا شي؛ نو عدت به پوره شي[۲]، د عدت نه پس که د زيد ښځه چېرته دويم ځای نکاح کول غواړي؛ نو کولی يې شي، واضحه دې وي که په حالت د حمل کې څوک هم طلاق ورکړي؛ نو واقع کيږي، ځکه د زيد ښځه اګر که حامله ده بيا هم د زيد په طلاق ورکولو سره مطلقه شوه.[۳]

❖په کومو الفاظو سره طلاق واقع کيږي او په کومو نه؟❖

....

که طلاق يې په حرف، ت، سره وليکلو؛ نو بيا هم طلاق واقع کيږي

سوال: که چېرته يې طلاق د "ط" په ځای "ت" سره وليکلو؛ نو آيا طلاق واقع کيږي؟

جواب: هو! واقع کيږي.[۴]

۱]وان كان الطلاق ثلاثًا فى الحرة وثنتين فى الأمة لم تحل له حتّى تنكح زوجًا غيره نكاحًا صحيحًا ويد خل بها ثم يطلقها أو يموت عنها. (هداية ج: ۲ ص: ۳۹۹، كتاب الطلاق، باب الرجعة)۔

۲]"وَاُولٰتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ"(الطلاق : ٤)۔

۳] وطلاق الحامل يجوز عقيب الجماع الخ. (هداية ج: ۲ ص: ۳۵۶)۔

٤] يقع بها أى بهٰذه الألفاظ وما بمعناها من الصريح ويد خل نحو طلاغ وتلاک ....الخ. (الدر المختار شامي ج: ۳ ص: ٢٤٨، باب الصريح). أيضًا: فى الهندية ج: ۱ص: ۳۵۷، الباب الثانى فى ايقاع الطلاق)۔

د طلاق لپاره شاهدان ضروري نه دي

سوال: که چېرته څوک خپلې ښځې ته درې ځله په خوله طلاق ورکړي او هغه سره څوک سړی نه وي؛ نو آيا طلاق به واقع کيږي که نه؟ او که شاهد خامخا ضروري دی؟

جواب: طلاق صرف په ژبې ويلو سره واقع کيږي، خواه که څوک يې واوري او که نه. شاهد وي او که نه وي او ښځې ته د دې علم وي او که نه وي. [۱]

د طلاق الفاظ ښځې ته اورول ضروري نه دي

سوال: زيد د خپلې ښځې په نافرمانی او د کورني جنګونو له امله په خپل زړه کې درې ځله د خپلې خولې نه دا الفاظ ادا کړه، ماتاته طلاق درکړ، حال دا چې د زيد ښځه د دې طلاقو نه خبره نه وه؛ نو تاسو وواييئ چې آيا شريعت کې طلاق واقع شو؟

جواب: دا الفاظ يې په ژبه ويلي ؤ لهذا طلاق واقع شو، ښځې ته يې اورول ضروري نه دي. [۲]

صحيح ده زه تاته درې ځله طلاق درکوم

سوال: د ،ع، او ،س، تر منځ جنګ وشو، ،ع، په غوسه کې ووېل: چې زه به تا پرېږدم؛ نو ،س، (ښځې) ووېل که چېرته ته ما پرېږدې؛ نو زه به تا او ستا بچی (چې د دوه کالو ده) وژنم، نو، ع، ووېل چې صحيح ده، زه تاته درې ځله طلاق درکوم، ته بچی ووهه او ماته يې وښيه! نو آيا په داسې صورت کې طلاق کيږي؟ يا کله چې بچی ووهي؛ نو هله به طلاق واقع کيږي؟ مهرباني وکړئ په دې مسئله کې زمونږ لارښوونه وکړئ!

جواب: طلاق سمدستي واقع شو، د بچي په وهلو موقوف نه دی. [۳]

---

[۱] هورفع قيد النكاح فى الحال بالبائن أو المآل بالرجعى بلفظ مخصوص هو ما اشتمل على الطلاق. (شامي ج: ۳ ص: ۲۲۶). أيضًا: وركنه لفظ مخصوص هو ما جعل دلالته على معنى الطلاق من صريح أو كناية ....الخ. (شامي ج: ۳ ص: ۲۳۹، كتاب الطلاق). أيضًا: قال الحاكم الشهيد اذا كتمها الطلاق ثم راجعها وكتمها الرجعة فهى امرأته غيرأنه قد أساء فيما صنع (عالمگيرى ج: ۱ ص: ٤٧٠،كتاب الطلاق، الباب السادس فى الرجعة)

[۲] يقع طلاق كل زوج اذا كان عاقلًا بالغًا ....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۳۵۳). يقع طلاق كل زوج اذا كان بالغًا عاقلًا سواء كان حرا أو عبدا، طائعا أو مكرها ....وطلاق اللاعب والهازل به واقع وكذلك لو أراد أن يتكلم فسبق لسانه بالطلاق فالطلاق واقع. (الفتاوى العالمگيرى ج:۱ ص: ۳۵۳، كتاب الطلاق)

[۳] كما لو قال أنت طالق ثم ان دخلت الدار فانه يقع الطلاق ولو نوى التعليق لا تصح نيته أصلاً....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ص: ۳٤۸). أيضًا: يقع طلاق كل زوج اذا كان عاقلاً بالغًا ....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۳۵۳)

طلاق په ژبه ويلو يا ليکلو سره کيږي په زړه کې سوچ سره نه واقع کيږي

سوال: زمونږ يو ملګري دی، هغه په خپل زړه کې د يو کار نه کولو عهد وکړ او خپل زړه کې يې وويل که چېرته ما دا کار وکړ؛ نو زما ښځې ته طلاق، د مجبوری له وجې هغه هغه کار وکړ، آيا دې ته طلاق واقع شو؟

جواب: طلاق په ژبې سره الفاظ ادا کولو سره يا ليکلو سره ادا کيږي، په زړه کې سوچ کولو سره نه واقع کيږي.[۱]

د نشې په حالت کې طلاق واقع کيږي

سوال: يو شپه زما خاوند د شرابو په نشه کې او په غوسه کې دا الفاظ وويل: چې خلک درې ځله طلاق ورکوي، ما تاته لس ځله طلاق درکړ، طلاق، طلاق، طلاق،،،،، د نن نه پس زما مور او لور يې! دا خيال مه کوه چې زه په نشه کې يم بلکې په هوش کې يم، ليکن هغه په نشه کې ؤ، اوس زه ډيره خفه يم، تاسو ووايئ چې ماته څه کول پکار دي؟

جواب: د نشې په حالت کې ورکول شوی طلاق واقع کيږي[۲]، ستا خاوند تاته لس طلاقه درکړي، درې طلاقه واقع شو او پاتي نور د هغه په غاړه وبال دی[۳] دواړه د همېش لپاره په يو بل باندې حرام شوئ، او اينده بغير د شرعي حلالې نه نکاح هم نه کيږي.

که چېرته بې اختياره د چا د خولې لفظ د طلاق ووتلو؛ نو طلاق نه واقع کيږي

سوال: زه يوازې په خپله کمره کې ناست وم، د نکاح او طلاق الفاظ مې سره تکرارول چې ناڅاپه زما د خولې ووتل چې طلاق مې ورکړ، ليکن دې الفاظ ويلو نه پس ما سمدستي کلمه وويل چې دا هيچرې نه کيږي، حال دا چې په کمره کې زما نه علاوه بل څوک هم نه وو، دا الفاظ خولې ته راغې مګر زړه او دماغ يې نه قبلوي.

۱] ومنها وعدم الشک من الزوج فى الطلاق وهو شرط الحكم بوقوع الطلاق حتّٰى لو شک فيه لا يحكم بو قوعه حتّٰى لا يجب عليه أن يعتزل امرأته لأن النكاح كان ثابتًا بيقين و وقع الشک فى زواله بالطلاق فلا يحكم بزواله بالشک(بدائع الصنائع ج:۳ ص: ۱۲٦ کتاب الطلاق،طبع ايچ ايم سعيد)

۲]وطلاق السكران واقع اذا سكر من الخمر أو النبيذ.....الخ. (عالمگيری ج: ۱ص: ۳۵۳، کتاب الطلاق)

۳]عن مالک بلغه ان رجلًا قال لعبد الله ابن عباس: انى طلقت امرأتى مائة تطليقة، فماذا ترىٰ علي؟ فقال ابن عباس: طلقت منک بثلاث وسبع وتسعون اتخذت بها آيات الله هزوًا. (مشکوة ص: ۲۸٤)_

جواب: کوم صورت چې تا لیکلی، دې سره طلاق نه واقع کیږي. [۱]

په غوسه کې د طلاق کېدلو یا نه کېدلو صورت

سوال: د یو خاوند د خولې نه د غوسې په حالت کې بغیر د قصد نه د خپلې ښځې لپاره د طلاق الفاظ ووځي؛ نو آیا هغه طلاقیږي؟

جواب: بغیر د قصد نه څه مطلب؟ آیا هغه څه بل لفظ ویل غوښتل چې په هېره د هغه د خولې نه د طلاقو لفظ ووتلو؟ یا هغه په غوسه کې بې خودی سره طلاق ورکړ؟ لومړنی صورت کې اګر چې دیانتاً طلاق نه دی شوی، مګر دا د خاوند محض دعوه ده؛ نو ځکه قضاءً به د طلاق حکم کولی شي [۲]، او دویم صورت کې هم طلاق واقع شو. [۳]

ایا د لېوني سړي له طرفه د هغه ورور طلاق ورکولی شي؟

سوال: زمونږ سره نزدې یو سړی چې ځوان او بالغ ؤ، د واده نه پس ددې سړی دماغي توازن خراب شو او بالکل لېونی شو، وروسته خلکو دا رایه ورکړه چې ښځې ته طلاق د خاوند ورور ورکولی شي؛ نو ځکه ددې سړي ورور هغې ښځې ته طلاق ورکړ اوهغه ښځې دویم واده وکړ، په دې مسئله کې دلېوني له طرفه طلاق څنګه کېدی شي؟آیا دده د ورور له طرفه طلاق واقع شو؟

جواب: د مجنون له طرفه دویم سړی طلاق نه شي ورکولی [۴] نو ځکه هغه ښځه تر اوسه پورې دده په نکاح کې ده او ددې دویمه نکاح باطله ده. [۵]

---

[۱] لو كرر مسائل الطلاق بحضرتها ....فانه لا يقع أصلًا ما لم يقصد زوجته. (شامي ج: ۳ ص: ۲۵۰)۔

[۲] وفي الجامع الصغير: سئل راشد عمن أراد أن يقول زينب طالق فجريٰ على لسانه عمرة في القضاء تطلق التي سمّي ....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۳۵۳، كتاب الطلاق، الباب لأول). أيضًا: لو سبق لسانه من قول أنت حائض مثلًا الى أنت طالق فانه يقع قضاء فقط (شامي ج:۳ ص: ۳۵۰كتاب الطلاق، باب الصريح)

[۳] ويقع طلاق من غضب خلافًا لابن القيم آه وهٰذا هو الموافق عندنا. (شامي ج: ۳ ص: ۲۴۴). أيضًا: فيقع طلاق المخطى وهو الذى يريد أن يتكلم بغير الطلاق فيسبق على السانه الطلاق. (البحر الرائق ج: ۳ ص: ۲۶۳)۔

[۴] لا يقع طلاق المولى على امرأة عبده الحديث ابن ماجة"الطلاق لمن أخذ بالساق". (الدر المختار مع الرد ج: ۳ ص: ۲۴۲). أيضًا: ان طلاق الفضولى موقوف على اجازة الزوج فان أجازه وقع والا فلا ....الخ. (البحر الرائق ج: ۳ ص: ۲۴۵)۔

[۵] اما نكاح منكوحة الغير........لم يقل بجوازه فلم ينعقد أصلًا. (شامي ج: ۳ ص: ۱۳۲)۔

زه عدالت ته ځم ، دې سره د طلاق حکم

سوال: زما خاوند يو ځل د جنګ په دوران کې وويل چې زه عدالت ته ځم او طلاق درکوم، دغه راز هغه څو ځله وويل ليکن کله يې هم طلاق عدالت ته په تللو سره نه دی راکړی. آيا دده په دې وينا چې زه عدالت ته ځم طلاق درکوم، طلاق واقع کيږي؟

جواب: د خاوند د الفاظو نه چې: زه عدالت ته ځم طلاق درکوم. يا دا چې، طلاق درکولو لپاره عدالت ته ځم، طلاق نه دی شوی.[1]

ايا د بې هوشه کېدلو په حالت کې طلاق واقع کيږي

سوال: آيا د بې هوشه کېدلو په حالت کې طلاق واقع کيږي؟ حال دا چې ورکوونکي ته خپل څه هوش نشته؟

جواب: د بې هوشه سړي طلاق نه واقع کيږي.[2]

په خوب کې ورکول شوی طلاق نه واقع کيږي

سوال: په شپه کې په ډوب خوب سره ويده وم، په خوب کې مي ياد نه دي چې په کومه خبره د ښځې سره جنګ راغی او د جنګ په وخت مې په کور کې ډېر خپلوان، زما مور او خسر هم موجود وو او ما خاص طور مور او خسر مخاطب کړ او ښځې ته مي په ګوته اشاره وکړه او ومي ويل چې: تاسوشاهد اوسئ، زه دې ښځې ته طلاق ورکوم، ځکه چې ددې نه ماته هيڅ سکون نه ملاويږي اودغه رازما درې ځله دا الفاظ تکرارکړه؛ نوآيا زما په دغسې وينا طلاق واقع کيږي؟

جواب: مطمئن اوسه! په خوب کې ورکول شوی طلاق نه واقع کيږي.[3]

کاغذ به درکړم، ويلو سره طلاق نه واقع کيږي

سوال: ما اکثر د خاوند نه دا الفاظ اوريدلي چې زه به کاغذ درکړم، واضحه دې وي چې دلته د کاغذ نه مراد طلاق دی، زه دا پوښتنه کول غواړم چې آيا دې الفاظو ويلو سره ښځې ته

---

[1] وفى الدر المختار، كتاب الطلاق (ج: ٣ ص: ٢٣٠) (وركنه لفظ مخصوص). وفى الشامية: قوله (وركنه لفظ مخصوص) هو ما جعل دلالته على معنى الطلاق من صريح أو كناية ....وأراد اللفظ ولو حكما ليدخل الكتابة المستبينة، واشارة الأخرس)۔

[2] ولا يقع طلاق الصبى وان كان يعقل والمجنون والنائم والمبرسم والمغمى عليه والمدهوش...الخ.(عالمگيرى ج:١ ص: ٣٥٣).أيضًا: لايقع طلاق....المعتوه والمبرسم والمغمى عليه(الدرالمختار مع الرد ج: ٣ ص: ٢٤٣)

[3] ولا يقع طلاق......المجنون والنائم........الخ. (عالمگيرى ج: ١ ص: ٣٥٣). أيضًا: طلق النائم فلما انتبه قال لها طلقت فى النوم لا يقع وكذا لو قال أجزت ذلک الطلاق........الخ.(البحر الرائق ج: ٣ ص: ٢٤٩)

طلاق واقع کیږي یا نه؟

جواب: کاغذ به درکړم، الفاظو سره طلاق نه واقع کیږي، ځکه چې دا د طلاق ورکولو ډار دی، طلاق یې نه دی ورکړی. [۱]

ځه لاړه شه تاته طلاق، طلاق، زه لاړه شه! الفاظو سره څو طلاقه واقع کیږي؟

سوال: د نن نه تقریباً اته کاله مخکې د ښځې خاوند تر منځ جګړه وشوه، خاوند ښځې ته وویل چې ته چوپ شه! کنه نو طلاق به درکړم، لیکن هغه په ژړا شوه، بیا خاوند دې ته وویل، ځه لاړه شه تاته طلاق، طلاق، ځه لاړه شه! مولوي صاحب! دا رانه واضحه کړئ چې آیا طلاق واقع شو؟ او دا طلاق د الفاظو په ادا کولو کې دوه ځله راغلی.

جواب: دوه طلاقه خو د طلاقو په لفظ سره واقع شو او دریم طلاق، ځه لاړه شه، په لفظ سره وشو[۲]، لهذا بغیر د شرعي حلالې نه دوباره نکاح نه کیږي. [۳]

ودرېږه اوس تاته طلاق درکوم، ویلو سره طلاق واقع کیږي او که نه؟

سوال: زه د خپلې ښځې نه خفه یم، بې انتهاء بدژبه ده، دوه څلور ورځې وشوې بیا جنګ وشو، زه په تنګ راغلم او ومې ویل: ودرېږه اوس تاته طلاق درکوم، اوس تاته طلاق درکوم. دې وینا سره مې قلم او کاغذ لټول پیل کړه، ځکه چې زما په ذهن کې دا ؤ چې طلاق لیکلو سره ورکول کیږي، الفاظ ما دوه ځله وویل، زما ښځې زما لاس ونیو او زه یې لیکلو ته پرې نښودم، مهرباني وکړئ ماته ووایئ چې طلاق خو واقع نه شو؟ که چېرته خدای مه کړه طلاق دوه ځله ویلو سره واقع شوی وي؛ نو مخکې څه طریقه پکار ده؟ زه د خپلو بچو له وجې ښځه پرېښودل نه غواړم.

جواب: د ژبې په محاوره کې، ودرېږه اوس زه دا کار کوم، الفاظ د مستقبل قریب لپاره استعمالیږي، ګویا طلاق یې نه دي ورکړي بلکې د طلاق ورکولو وعده یې کړې ده، چې اوس لږ وخت پس طلاق درکوم؛ نو ځکه زما په خیال خو طلاق نه دی شوی، لیکن د بعضې اهل علمو خیال دی چې دې الفاظوسره دوه طلاقه واقع شو؛ نو ځکه د احتیاط تقاضا دا ده که

---

[۱] هورفع قيد النكاح فى الحال بالبائن أو المآل بالرجعى بلفظ مخصوص هو ما اشتمل على الطلاق. (شامى ج: ۳ ص: ۲۲۶)۔

[۲] فالكنايات لا تطلق بها الا بنية أو دلالة الحال........الخ. (شامى ج: ۳ ص: ۲۹۶). أيضًا: الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة والبائن يلحق الصريح......الخ. (الدر المختار مع الرد ج: ۳ ص: ۳۰۶)

[۳] وان كان الطلاق ثلاثًا فى الحرة ....لم تحل له حتّى تنكح زوجًا غيره.....الخ. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۴۷۳)

چېرته عدت کې دننه رجوع نه وي کړې؛ نو نکاح دوباره وکړئ [۱]، آینده د طلاقو د لفظ نه پرهېز وکړه، کنه نو د دې اهل علمو دقول مطابق یوبل طلاق دې ورکړي؛ نوښځه به حرامه شي.

د کوم رشته دار سره چې ملاوېدل غواړې زما له طرفه ته آزاده يې ! د دې حکم

سوال: ما د نن نه څه موده مخکې خپلې ښځې ته دا ویلي وو: چې ته د خپل کوم رشته دار سره غواړې ملاو شه؛ زما له طرفه ته آزاده یې؛ د غوسې په حالت کې د دې الفاظو ادا کولو په وخت زما په زړه کې طلاق ورکوونکي څه خبره نه وه او نه ما داسې غوښتل او نه ما لفظ د طلاق استعمال کړی دی، مهرباني وکړئ په دې باندې غور وکړئ او زما تشویش ختم کړئ!

جواب: کوم سیاق او سباق کې چې تاسو دا الفاظ وویل، که چېرته د دېنه مراد دا وي چې د خپلوانو سره په ملاوېدو زما له طرفه آزاده یې؛ نو دې الفاظو سره طلاق نه دی شوی، لیکن که چېرته دا مطلب وي چې ما ته آزاده کړې یې؛ ځکه چې اوس ښه خپلوانو سره ملاو شه؛ نو په دې صورت کې یو رجعي طلاق واقع شو. [۲]

د واده نه مخکې دا ویل چې "ما باندې زما ښځه طلاقه ده" دې سره طلاق نه واقع کیږي

سوال: که چېرته څوک ناواده کړی سړی په هره خبره کې د طلاقو لفظ استعمال کړي چې ما باندې دې خپله ښځه طلاقه وي او د دېنه پس چې کله د ښځې خاوند شي؛ نو آیا د ده دا طلاق واقع شو او که نه؟

جواب: په دې الفاظو سره د نکاح نه مخکې طلاق نه واقع کیږي او که چېرته یې دا ویلي وي چې زه نکاح وکړم؛ نو زما ښځې ته طلاق نو دې سره طلاق واقع کیږي. [۳]

د طلاق سره انشاء الله ووایئ؛ نو طلاق نه واقع کیږي

سوال: که چېرته څوک ووایي چې ما انشاء الله یو طلاق دویم طلاق او دریم طلاق ورکړ؛ نو داسې طلاق سره چې انشاء الله استعمال شي طلاق نه واقع کیږي، دا ما د یو دوست نه

۱]اذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية أو تطليقتين فله أن يراجعها في عدتها. (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۴۷۰)۔

۲] فان سرحتک كناية لكنه في عرف الفرس غلب استعماله في الصريح فاذا قال"رهاكردم"أى سرحتک يقع به الرجعي ....الخ. (شامي ج: ۳ ص: ۲۹۹، کتاب الطلاق، باب الصريح)۔

۳] واذا أضاف الطلاق الى النكاح وقع عقيب النكاح مثل أن يقول لا مراة ان تزوجتک فأنت طالق أو كل امرأة اتزوجها فهي طالق. (هداية ج: ۲ ص: ۳۸۵)۔

اوريدلي دي، آيا دا صحيح ده؟

جواب: تاسو صحيح اوريدلي دي، انشاء الله سره طلاق نه واقع کيږي.[۱]

❖ خلع ❖

خلع څه ته وايي؟

سوال: خلع څه ده؟ دا اسلامي کړنه ده او که غير اسلامي؟ زيد د خپلې ښځې ګلشن نه د واده نه پس تنګ راغی، ښځې د خلعې لپاره عدالت ته رجوع وکړه، دوه کاله کېس وچلېد، د دې نه پس د خلع امر وشو او دواړه ښځه خاوند جدا شو. ليکن وروسته د دواړو ښځې خاوند په منځ کې بيا سوله وشوه او بغير د نکاح نه يا د حلالې نه ښځه خاوند بيا جوړ شو، آيا دا ټول جائز وو؟

جواب: د خلع مطلب دا دی چې څنګه د ضرورت په وخت کې سړي ته طلاق ورکول جائز دي هم دغه راز که چېرته ښځه وخت نه شي تېرولی؛ نو هغې ته اجازت دی چې خاوند کوم مهر وغيره ورکړی دی هغه واپس کولو سره دده نه خلاصې وکړي[۲]، او که خاوند رضا نه وي؛ نو د عدالت په ذريعه دي خلع وکړي او د عدالت په ذريعه چې کومه خلع اخيستل کيږي د هغې صورت دا دی: که عدالت چېرته محسوسه کړي چې د ښځې خاوند په منځ کې موافقت نه راځي؛ نو ښځې ته ووايئ چې هغه خپل مهر پرېږدي او خاوند ته دي ووايي چې هغه دي د مهر پرېښودلو په بدله کې هغې ته طلاق ورکړي او که چېرته خاوند ددې باوجود هم طلاق ورکولو باندې رضا نه وي؛ نو عدالت دي خاوند د اجازې نه بغير د خلعې پرېکړه نه شي کولی[۳]، په خلعې سره يو طلاق بائن واقع کيږي[۴]، که چېرته د ښځې خاوند په منځ کې سوله وشي؛ نو دوباره هم نکاح کيږي.[۵]

۱]اذا قال لا مرأته أنت طالق ان شاء الله متصلًا لم يقع الطلاق........الخ. (هداية ج: ۲ ص: ۳۸۹)۔

۲]فانْ خفتُمْ الاَّ يقيمَا حُدوَدَ الله فَلاَ جُنَاحَ عَلَيهِمَا فِيمَا فْتَدَتْ به ....الخ" (البقرة: ۲۲۹). ايضًا: الخلع ازالة ملک النكاح ببدل بلفظ الخلع كذا فى فتح القدير.(عالمگيرى ج: ۱ ص: ۴۸۸)۔

۳]والخلع جائزعند السلطان وغيره لأنه عقد يعتمد التراضى كسائر العقود وهو بمنز لة الطلاق بعوض وللزوج ولاية ايقاع الطلاق ولها ولاية التزام العوض(المبسوط للسرخسى ج:۶ ص: ۱۷۳). أيضًا: وأما ركنه فهو الايجاب والقبول لأنه عقد على الطلاق بعوض فلاتقع الفرقة ولا يستحق العوض بدون القبول. (بدائع الصنائع ج: ۳ ص: ۳۹۹)

۴]واذا اختلعت من زوجها فالخلع جائز والخلع تطليقة بائنة عندنا........الخ. (المبسوط ج: ۶ ص: ۱۷۱)۔

۵] وان كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله أن يتزو جها فى العدة وبعد انقضائها لأن حل المحلية باق لأن زواله معلقة بالطلقة الثالثة فينعدم قبله. (هداية، فصل فيما تحل به المطلقة ج: ۲ ص: ۳۹۹). أيضًا: وينكح مبانته بما دون الثلاث فى العدة وبعدها بالا جماع. (الدر المختار، كتاب الطلاق،...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

طلاق او خلع کې فرق

سوال: که چېرته ښځه خلع اخیستل غواړي؛ نو په دې صورت کې هم آیا د سړي لپاره طلاق ورکول ضروري دي که د ښځې په وینا سمدستي نکاح فسخه کیږي؟ که چېرته د سړي طلاق ورکول ضروري وي؛ نو بیا طلاق او خلع کې څه فرق دی؟

جواب: طلاق او خلع کې **یو فرق** دا دی چې د خلعې مطالبه عموماً د ښځې له جانبه وي او که چېرته د سړي له طرفه وړاندیز وشي؛ نو د ښځې په قبلولو باندې به موقوف وي، که ښځه یې قبول کړي؛ نو خلع به واقع شي کنه نو نه[۱]،حال دا چې طلاق د ښځې په قبلولو باندې موقوف نه وي، هغه یې قبول کړي یا نه طلاق واقع کیږي.[۲]

دویم فرق دا دی چې د ښځې خلع قبلولو سره د هغې مهر ساقطیږي، طلاق سره نه ساقطیږي[۳]، البته که چېرته خاوند دا ووایي چې تاته په دې شرط باندې طلاق درکوم چې ته مهر پرېږده او ښځه
یې قبول کړي؛ نو دا بې عوضه طلاق دی او ددې حکم د خلعې په شان دی.
په خلع کې د خاوند لفظ طلاق استعمالول ضروري نه دي، بلکې که چېرته ښځه ووایي چې زه خلع کول غواړم ددې په ځواب کې دې خاوند ووایي چې ما خلع درکړه؛ نو خلع وشوه[۴]، خلع کې طلاق بائن واقع کیږي[۵]، یعنې خاوند ته اوس ښځې ته د رجوع کولو یا د خلعې واپس اخیستلو اختیار نشته[۶]، او د دواړو په رضا دوباره نکاح کېدی شي.[۷]

...بقیه د تیرمخ] باب الرجعة ج:۳ ص:۴۰۹).أیضًا.وینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع. (الدر المختار، کتاب الطلاق، باب الرجعة ج: ۳ ص: ۴۰۹)۔

۱] هو...ازالة ملک النکاح....المتوقفة علی قبولها.وفی الشامیة: ای المرأة قال فی البحر:ولا بد من القبول منها حیث کان علی مال او کان بلفظ خالعتک أو اختلعی .....الخ. (ردالمحتار علی درمختار ج: ۳ ص: ۴۴۰، باب الخلع)۔

۲] انما الطلاق لمن أخذ بالساق. (ابن ماجة، باب طلاق العبد ص: ۱۵۲)۔

۳]والظاهر أن خالعتک بلفظ المفاعلة انما یتوقف علی القبول لسقوط المهر لاَ لو قوع الطلاق به ....الخ. (شامی ج: ۳ ص: ۴۴۰)۔

۴]والرابع: أن یقول بلا مال فخلعت یتم بقولها. (شامی ج: ۳ ص: ۴۴۰)۔

۵]وحکمه ان الواقع به ولو بلا مال وبالطلاق الصریح علی مال طلاق بائن. (شامی ج: ۳ ص: ۴۴۴)۔

۶]ولا یصح رجوعه عنه قبل قبولها، ای لو ابتد االزوج الخلع فقال: خالعتک علی ألف درهم لاَ یملک الرجوع عنه وکذا لا یملک فسخه ....الخ. (شامی ج: ۳ ص: ۴۴۲)۔

۷] وان کان الطلاق بائنًا ....فله أن یتزوجها ....الخ. (هدایة ج: ۲ ص: ۳۹۹)۔

د ظالم خاوند ښځه د هغه نه خلع اخیستلی شي

سوال: زما خپلوانې ته يې خاوند خرچ هم نه ورکوي او طلاق هم نه ورکوي. هغه ډېره خفه ده چې څه وکړم؟ هغه د بچيو له ويرې په عدالت کې دوسيه هم نه شي کولی چې بچي د د ښه لرې نه شي او تقريباً پنځه کاله کيږي چې دغه کيسه روانه ده؛ نو دا ووايئ چې په شريعت کې دا نکاح تر اوسه پورې موجوده ده او که نه؟ او هغه د دې سره اوسيږي هم نه.

جواب: نکاح خو قائمه ده، ښځې ته پکار دي چې د نيکانو په ذريعه هغه په خلع کولو راضي کړي، که چېرته خاوند خلع نه ورکوي؛ نو ښځه دي عدالت ته رجوع وکړي او خپله نکاح او د خاوند نفقه نه ورکول دي په شهادت سره ثابت کړي، که عدالت د تحقيق نه پس دې نتيجې ته ورسېد چې د ښځې دعوه صحيح ده؛ نو عدالت دي خاوند ته حکم ورکړي چې يا خو دي دا ښځه ښه طريقې سره آباده کړي او د دې نان نفقه دي ورکړي يا دي د ېته طلاق ورکړي، کنه نو مونږ به د نکاح فسخه کولو پرېکړه وکړو. که چېرته يې د عدالت په وينا هم نه آبادوي او نه طلاق ورکوي؛ نو عدالت دي خپله نکاح فسخه کړي.[۱]

که چېرته ښځې ووېل: چې ماته طلاق راکړه ! نو آيا د دې سره طلاق واقع کيږي؟

سوال: فرض کړه چې د کوم سړي ښځې هغه ته ووېل: چې ماته طلاق راکړه! او دا الفاظ يې درې ځله ووېل، ليکن خاوند يې څه نه وي ويلي، آيا د دې نکاح ماتيږي که نه؟ حال دا چې خاوند بالکل خاموشه وي.

جواب: که چېرته خاوند د ښځې په ځواب کې هيڅ نه وي ويلي؛ نو طلاق نه دی واقع شوی.

د ښځې طلاق غوښتلو سره د طلاق حکم

سوال: که چېرته يوه واده شوې ښځه ۴ - ۵ ځله خپل خاوند ته په ډک مجلس کې ووايي چې ماته طلاق راکړه يا طلاق وغواړي؛ نو د دې متعلق د شريعت څه حکم دی؟ حال دا چې د سړي او ښځې حقوق سره برابر دي، د دې مسئلې وضاحت وکړئ!

جواب: د ښځې په طلاق غوښتلو سره خو طلاق نه واقع کيږي البته که چېرته ښځه بغير د څه عقلي وجې طلاق غواړي؛ نو داسې ښځې ته په حديث کې منافق ويل شوی[۲]، او که د سړي د

---

[۱] وګورئ: الحيلة الناجزة ص: ۷۳ ، حکم زوجه متعنت طبع دار الا شاعت کراچی)۔

[۲] عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: المنتزعات والمختلعات هن المنافقات. رواه النسائى. وفى حاشية مشكوة: والمختلعات أى اللا تى يطلبن الخلع والطلاق عن...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

ظلم نه په تنګېدو سره طلاق غواړي؛ نو هغه نه ګناه ګاریږي [۱]، بلکې د سړي لپاره به لازمه وي که چېرته هغه شریفانه سلوک نه کوي؛ نو طلاق ورکړي [۲]. د سړي او ښځې حقوق خو بې شکه برابر دي، (اګر که د حقوقو د نوعیت او درجې فرق شته) لیکن طلاق د یو خاص مصلحت او حکمت په بنیاد د سړي په لاس کې ورکول شوی، ښځې ته یې دا ونه سپارلو [۳]؛ خو ښځې ته د خلعې حق ورکول شوی دی.

ښځه دي د ظالم خاوند نه د خلاصي لپاره دعدالت په ذریعه خلع واخلي

سوال: زما یوه ملګرې چې د خپل خاوند نه خلع اخیستل غواړي، ددې خاوند چې په بهر هېواد کې اوسیږي، ډېر بې انصافه دی، هغه یې د آزادولو پر ځای مسلسل د اوه میاشتو نه راپه دېخوا په ذهني تکلیف کې اخته کړې ده، آیا الله تعالی سړي ته ددې لپاره اختیار ورکړی دی چې هغه خپل اختیارات ناجائزه استعمال کړي او د کومې ښځې ژوند برباد کړي. الله تعالی خو په هر شي کې توازن ساتلی دی، آیا د الله تعالی په نزد د داسې انسانانو نیوکه نشته؟ د قرآن او حدیثو په رڼا کې بیان کړئ چې ډېرو کلمه ویونکو انسانانو ته احساس وشي چې دا عمل په اسلام کې څومره ناخوښه دی؟

جواب: کوم خاوند چې د خپلې ښځې سره زیاتی کوي هغه لوی ظالم دی، نبي کریم ﷺ په تاکید سره د ښځو سره د ښه سلوک تاکید فرمایلی دی [۴]، که چېرته په ښځه او خاوند کې موافقت نه وي؛ نو ښځې ته د خلعې اختیار ورکول شوی دی، هغه دي عدالت ته رجوع وکړي او عدالت دي ددې د خاوند نه خلع واخلي، دغه توازن دی چې شریعت په دې نازکه رشته کې ساتلی دی. [۵]

په خلعې سره طلاق بائن واقع کیږي

سوال: د یو سوال په ځواب کې تاسو د طلاق او خلعې د فرق په باره کې دا تشریح کړې وه چې

....بقیه د تیرمخ] ازواجهن من غیر باس .... الخ. (مشکوٰة ص: ۲۸۴، باب الخلع)۔

۱]فَاِنْ خِفْتُمْ اَلاَّ یقِیمَا حُدُوْدَ اللہِ فَلاَ جُنَاحَ علیهما فیما افْتَدَتْ بہٖ"(البقرة: ۲۲۹)۔

۲]ویجب لوفات الامساک بالمعروف. (الدر المختار مع الرد ج: ۳ ص: ۲۲۹)۔

۳]قال فی الفتح: ومنها ای من محاسنه جعله بید الرجال دون النساء لا ختصاصهن بنقصان العقل وغلبة الهویٰ ونقصان الدین. (شامی ج: ۳ ص: ۲۲۹)۔

۴]عن أبي هريرة قال رسول الله علیه وسلم: استوصوا بالنساء خيرًا ....الخ. (مشکوة ص: ۲۸۰)۔

۵] فان خفتم الا یقیما حدود الله فلا جناح علیهما فیما افتدت به .... الخ. (البقرة: ۲۲۹). ایضًا: تفصیل دپاره اوګورئ: حیله ناجزه ص:۷۳۔

خلع قبلولو باندې مهر ساقطیږي او په طلاق نه. خلع قبلول د ښځې په مرضی وي، معلومول غواړو چې د خلعې نه پس عدت هم ضروري دی او که نه؟ او که چېرته ښځه دوباره ددې مخکینی خاوند سره نکاح کول غواړي؛ نو بغیر د شرعي حلالې نه نکاح کېدی شي؟ ځکه چې خاوند طلاق نه دی ورکړی.

جواب: د خلعې حکم یو طلاق بائن دی[1]، که چېرته د ښځې خاوند تر منځ خلوت شوی وي؛ نو د خلعې نه پس به په ښځه باندې عدت لازم وي او لومړني خاوند سره دوباره نکاح کېدی شي، د حلالې ضرورت نشته[2]، البته که چېرته د ښځې د خلعې په مطالبه خاوند درې طلاقه ورکړي وي؛ نو د شرعي حلالې نه بغیر دوباره نکاح نه کیږي.[3]

د خلعې عدت لازم دی

سوال: زما (ښځې) واده د ورور په بدل شوی دی، زما د ورور ښځې طلاق واخیست. زما خاوند ددې طلاق بدله ماته په ذهني تکلیفونو رسوی، اته کاله وشو چې زه ددې سلوک او د بچو نه د بې رغبتی په وجه تنګه شوې یم، په دې صورت کې باید څه وشي؟ آیا داسې ممکنه ده چې خلع اخیستلو سره واده وکړم؛ نو د خلعې به څه صورت وي؟ آیا د خلعې عدت هم شته؟

جواب: د خلعې معنی ده د ښځې له جانبه د جدایی درخواست، ښځې دې خپل خاوند ته دا وړاندیز وکړي چې زه خپل مهر پرېږدم، ددې په بدله کې ماته خلع راکړه، که چېرته سړی ددې وړاندیز قبول کړي؛ نو طلاق بائن واقع کیږي[4]، څنګه چې د طلاق نه پس عدت وي هم دغه راز د خلع نه پس به هم عدت لازم وي، د عدت نه پس چې ستا چېرته زړه غواړي عقد کولی شې.

آیا د خلعې نه پس رجوع کېدی شي؟

سوال: د خلعې مبهم کېدلو په صورت کې که چېرته یو مفتي ووایي چې خلع وشوه او دویم ووایي چې نه ده شوې او نجلی پښېمانه ده او د جوړې اراده لري؛ نو آیا تجدید د نکاح کېدی شي؟ همدا راز تجدید نکاح څوک کوي او څنګه یې کوي؟

جواب: که چېرته په خلع کې خاوند درې طلاقه ورکړي وي؛ نو دوباره نکاح نه کیږي[5] او که

---

[1] تفصیل دپاره اوګورئ: حیله ناجزه ص: ۷۳، طبع دار الا شاعت کراچی۔

[2] واذا کان الطلاق بائنًا .... فله أن یتزوجها. (هدایة ج: ۲ ص: ۳۹۹)۔

[3] وان کان الطلاق ثلاثًا فی الحرّة ....فلا تحل له من بعد حتّٰی تنکح زوجًا غیره. (عالمگیری ج: ۱ص: ۴۷۳)

[4] فان خفتم الا یقیما حدود الله فلا جناح علیهما فیما افتدت به .... الخ. (البقرة: ۲۲۹). ایضًا: تفصیل دپاره اوګورئ: حیله ناجزه ص:۷۳، والخلع تطلیقة بائنة عندنا. (مبسوط ج: ۲ ص: ۱۷۱)۔

[5] وان کان الطلاق ثلا ثًا فی الحرّة ....فلا تحل له من بعد حتّٰی تنکح ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

چېرته د خلعې لفظ یا د یو طلاق لفظ استعمال شوی وي؛ نو دوباره نکاح کېدی شي[۱]، دوباره نکاح کولو ته تجدید د نکاح وایي. څنګه چې لومړی نکاح په ایجاب او قبول سره کیږي؛ نو هم دغه راز دوباره نکاح به هم همداسې کیږي، دا چې د خلعې نه ټول خلک خبر شوي دي؛ نو ځکه به دوباره نکاح به هم علی الاعلان کول پکار وي.

د خلعې لپاره د معاوضې ادا کول لازمي دي

سوال: د ښځې خاوند د خفګان له وجې که چېرته سړی خلع کولو وروسته ښځې ته طلاق ورکړي او ښځه د بدل خلعې ادا کولو بغیر واده وکړي؛ نو واده حلال دی او که حرام؟

جواب: که چېرته یې نقد طلاق ورکړی وي؛ نو د عدت نه پس دویم ځای نکاح کولی شي او کومه معاوضه چې ټاکل شوې وه؛ نو د هغې ادا کول واجب دي[۲]، او که چېرته د معاوضې د ادا کولو په شرط یې طلاق ورکړی وي؛ نو تر څو پورې چې معاوضه نه وي ادا کړې؛ نو طلاق نه واقع کیږي[۳]، لهذا دویم ځای واده هم نه کیږي.

نجلۍ که د ماشومتوب نکاح نه خوښوي؛ نو خلع دې وکړي

سوال: ما د خپلې لور شاهدې نکاح د منظوراحمد د زوی منیراحمد سره په ماشومتوب کې کړې وه، هغه وخت د نجلۍ عمر پنځه کاله او د هلک عمر اته کاله وو، اوس ماشاء الله دواړه ځوانان دی، د منیراحمد کورني اړیکې سمې نه دي، په دې وجه زما لور د واده نه انکار کوي، د هلک کورنۍ زور کوي چې نجلۍ راضي کړي لیکن نجلۍ په دې خبره بالکل نه ده خوښه، په دې صورت کې نکاح په خپل حال پاتې کیږي او که ماتیږي؟

جواب: د نجلۍ په نابالغتوب کې چې کومه نکاح د نجلۍ پلار کړې وي د بلوغ نه پس نجلۍ ته د هغې د ماتولو هیڅ اختیار نشته[۴] اوس که چېرته هلک بدکرداره دی؛ نو نجلۍ هلته مه رخصتوئ بلکې د هلک نه خلع واخلئ یعنې هغه ته د مهر د پرېښودلو په شرط د طلاق ورکولو وینا وکړئ!

...بقیه د تیرمخ] زوجًا غیره. (عالمگیری ج: ۱ص: ٤٧٣)۔

۱]واذاکان الطلاق بائنًا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی عدّتها وبعدانقضائها.... الخ.(هدایة ج:۲ ص: ۳۹۹)

۲]ان طلقها علی مال فقبلت وقع الطلاق ولزمها المال وکان الطلاق بائنًا کذا فی الهدایة(عالمگیری ج:۱ ص:٤٩٥)

۳]اذا أضافه (الطلاق) الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقًا. (عالمگیری ج: ۱ ص: ٤٢٠)۔

٤]وللولی انکاح الصغیر والصغیرة ولو ثیبًا ولزم النکاح ولو بغبن فاحش أو بغیر کفؤ ان کان الولی أبًا أو جدًّا. (شامی ج: ۳ ص: ٦٦، کتاب النکاح)۔

د ښځې په نوم کور

سوال: که چېرته يو سړی د واده نه پس د خپل محنت په ګټه يو کور جوړوي او هغه د خپلې ښځې په نوم کوي دد ېنه پس ښځه ددې سړي نه خلع غواړي، د فقهې په حواله ووايئ چې هغه کور به ښځه واپس کوي او که نه؟ سړی وايي چې زما د محنت کور دی هغه کور واپس کړه، کنه نو خلع نه درکوم.

جواب: هغه په خلع کې د کور د واپسی شرط ايښودلی شي، که چېرته په دې صورت کې ښځه خلع اخيستل غواړي؛ نو هغه ته به هغه کور واپس کول وي، غرض دا چې د خاوند له طرفه د کور د واپس کولو شرط صحيح دی، دد ېنه بغير خلع نه کيږي. [۱]

که چېرته خاوند بې نمانځه وي؛ نو ښځه څه وکړي؟

سوال: که چېرته د کوم سړي ښځه لمونځ نه کوي نو خاوند ته حق شته چې ښځه پوه کړي او وهلی يې هم شي او که دې سره هم منع نه شي؛ نو طلاق ورکولی شي، اوس پوښتنه دا ده که چېرته د کومې ښځې خاوند د پوهې باوجود لمونځ نه کوي؛ نو شريعت داسې ښځې ته څه حق ورکړی؟ آيا هغه د خپل خاوند نه لرې اوسېدلی شي؟ که په دې سره هم منع نه شي؛ نو ښځه طلاق اخيستلی شي؟

جواب: ښځې ته پکار دي چې په مينه او محبت د هغه په سمه لاره د راتلو پوره زيار وکړي، په ښايسته طريقه دي هغه د لمونځ او روژې عادي کړي[۲]، ليکن که هغه بدبخته يوه طريقه هم نه مني؛ نو ښځه د هغه نه خلع اخيستلی شي. [۳]

---

[۱] ومن نشزت لا اى لا يكره له الاخذ اذا كانت هى الكارهة اطلقه فشمل القليل والكثير وان كان اكثر مما اعطاها.....الخ. (البحرالرائق/ ۴/ ۸۳) ايضاً: اذا تشاق الزوجان وخافا ان لا يقيما حدود الله فلا باس بان تفتدى نفسها من بمال يخلعها به.......الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۴۸۸/ كتاب الطلاق/ الباب الثامن فى الخلع) سورة۱۶_

[۲] "إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ ذِى الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْى" (النحل: ۹۰) "فَقُولَا لَهُ قَوْلاً لَّيِّناً لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى" (سورة۲۰، طٰهٰ: ۴۴)_

[۳] اذا تشاق الزوجان وخافا ان لا يقيما حدود الله فلا باس بان تفتدى نفسها من بمال يخلعها به.......الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۴۸۸) ايضاً: لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجر الا اذا خافا ان لايقيما حدود الله فلا باس ان يتفرقا. (الدرالمختار مع الرد/ ۳/ ۵۰)_

❖ ظهار ❖

(ښځه د خپلې مور، خور يا بلې کومې محرمې ښځې سره مشابه کول)

....

د ظهار تعريف او حکمونه يې

سوال: د ظهار نه څه مراد دی؟ او په فقه کې ددې حکم څه دی؟

جواب: د ظهارمعنی ده: څوک چې خپلې ښځې ته ووايي: ته په ما باندې زما د مور يا خور په څېر يې[1]، ددې حکم دا دی چې دې لفظ سره طلاق نه واقع کيږي، ليکن کفاره ادا کولو نه بغير ښځې ته تلل حرام دي[2] او کفاره يې دا ده چې دوه مياشتې به پرلپسې روژې نيسي او که ددې طاقت نه لري؛ نو شپېتو مسکينانو ته به دوه وخته ډوډی ورکوي؛ نو بيا به دده لپاره ښځې ته تلل حلال وي.[3]

ښځې ته د زوی ويلو حکم

سوال: زيد خپلې ښځې ته په زوی سره اواز کوي، هغه که په هر کار کې بوخته وي، کله چې هم زيد خپلې ښځې ته اواز کوي دغه طريقه يې خپله کړې وي، حال دا چې دده کور ټول غړي په دې باندې ښه خبر دي او اکثره د زيد ښينې د زيد نه پوښتنه کوي چې ستا زوی چېرته دی، حال دا چې ښځه هم د هغه په مخاطب کولو سره ځان ورسوي، دلته په پردي هېواد کې هم چې کله ده ته د ښځې خط راشي؛ نو هغه دوستانو ته هم وايي چې زما د زوی خط نه دی راغلی، آيا د زيد او زيد د ښځې نکاح پاتې شوه او که نه؟ ددې کفاره څه ده؟

۱]الظهار: هو تشبيه زوجته او ما عبر به عنها او جزء شائع منها بعضو يحرم نظره اليه من اعضاء محارمه نسباً او رضاعاً کامه وبنته واخته. (التعريفات للجرجانی/ ۱۲۵، ۱۲۶/ باب الظاء، طبع المکتبة الحمادية، ايضاً: قواعد الفقه/ ۳۶۸)۔

۲]اذا قال الرجل لامراته انت علی کظهر امی فقد حرمت عليه لا يحل له وطيها ولا مسها ولا تقبيلها حتی يکفر عن ظهاره....الخ. لقوله تعالي: الذين يظهرون من نسائهم الی ان قال: فتحرير رقبة من قبل ان يتمآسا....الخ. (هداية/ باب الظهار/ ۲/ ۴۰۹)۔

۳] وکفارة الظهار عتق رقبة فان لم يجد فصيام شهرين متتابعين فان لم يستطع فاطعام ستين مسکيناً للنص الوارد فيه، فانه يفيد الکفارة علی هذا الترتيب. (هداية/ کتاب الظهار/ فصل فی الکفارة/ ۲/ ۴۱۱)۔

جواب: ښځې ته زوی ویل بې ځایه حرکت دی، مګر په دې سره نکاح نه ماتیږي، د توبې او استغفار نه پرته ددې هیڅ کفاره نشته.[1]

(زما او ستا رشته د مور خور په څېر ده) ددې حکم

سوال: د یوې ښځې خاوند د محلې درې کسانو ته اواز وکړ چې د هغوی مخامخ خپلې ښځې ته ووایي چې د آینده لپاره زما او ستا رشته د مور خور په څېر ده. دا الفاظ هغه سړي دوه یا درې ځله تکرار کړه، اوس هغه ښځه د خپلو بچو په خاطر په دغه کور کې جدا اوسیږي او ددې سړي سره یې د پنځو شپږو میاشتو راهیسې خبرې نه دي کړي، آیا په دې حالاتو کې ښځه طلاقه شوه یا نه؟

جواب: زما او ستا رشته د مور خور په څېر ده، دا د ظهار الفاظ دي[2]، دې الفاظو سره طلاق نه واقع کیږي، البته خاوند ته د ښځې سره د یو ځای والي نه وړاندې کفاره ادا کول ضروري وي او د کفارې ادا کولو نه بغیر ښځې ته نزدې تلل حرام دي او کفاره دا ده چې خاوند دې دوه میاشتې پرلپسې روژې ونیسي، که چېرته ددې طاقت نه لري؛ نو شپېتو مسکینانو ته دې ډوډۍ ورکړي.[3]

ښځه خاوند ته دده د مور مماثل رشته ووایي؛ نو نکاح نه ماتیږي

سوال: ښځې خپل خاوند ته وویل که چېرته ته ماته نزدې راغلې (کوروالی وکړې) نو ته خپلې مور خور ته نزدې شوې، نو په دې الفاظو سره ددې دواړو تر منځ نکاح پاتې ده یا نه؟

جواب: د ښځې دې بې معنا الفاظو سره هیڅ نه دي شوي، البته ښځه ددې مردارو الفاظو له وجې ګناه کاره شوه، دې ته ددې الفاظو نه توبه ویستل پکار ده.[4]

---

[1] ویکره قوله انت امی یا ابنتی ویا اُختی ونحوه. (شامی/ ۳/ ۴۷۰)۔

[2] (وان قال انت علی مثل امی) او کامی وکذا لو حذف "علی" خانیة (رجع الی نیته) لینکشف حکمه (فان قال اردت الکرامة فهو کما قال) لان التکریم فی التشبیه فاش فی الکلام (وان قال اردت الظهار فهو ظهار) لانه تشبیه بجمیعهاوفیه تشبیه بالعضولکنه لیس بصریح فیفتقرالی النیة.(اللباب فی شرح الکتاب للمیدانی،کتاب الظهار ۲/ ۱۹۲)

[3] هی تحریر رقبة فان لم یجد ما یعتق صام شهرین متتابعین قبل المسیس، فان عجز عن الصوم اطعم ستین مسکیناً. (الدرالمختار/ باب الکفارة/ ۳/ ۴۷۲، ۴۶۸/ طبع سعید)۔

[4] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا دعی الرجل امراته الی فراشه فابت فبات غضبان لعنتها الملائکة حتی تصبح. متفق علیه. وفی روایة لهما قال: والذی نفسی بیده! ما من رجل یدعوا امراته الی فراشه فتابی علیه الا کان الذی فی السماء ساخطاً علیها حتی یرضٰی عنها. (مشکوٰة/ ۲۸۱/ باب عشرة النساء/ الفصل الاول)۔

❖ د نکاح تنسیخ ❖

....

د نکاح د تنسیخ صحیح صورت

سوال: زما ښځې زما خلاف د عدالت نه سره د ۸۰۰۰ روپو مهره طلاق حاصل کړی دی، په عدالت کې زما خلاف د دې هیڅ شهادت موجود نه دی او نه عدالت شهادت طلب کړی دی. زما د ښځې خپل بیان زما په حق کې دی، د دې باوجود هم هغې د عدالت نه طلاق ترلاسه کړی دی، د طلاق وجه صرف دا وه چې د دې مور پلار ما نه خوښوي، ځکه زه یوه وړه وظیفه اجرا کوم، حال دا چې د هغې نه دوه ماشومان لرم چې یو یې د پنځو کالو او بل د درې کالو دی. آیا دې ته شرعاً طلاق ملاو شوی دی یا نه؟ آیا هغه شرعاً دویمه نکاح کولی شي یا نه؟

جواب: شرعاً د صحیح فیصلې صورت دا دی چې د ښځې په دعوه دې عدالت خاوند وغواړي، د هغه نه دې د ښځې د شکایت په باره کې پوښتنه وکړي، که چېرته هغه د ښځې دعوه غلطه ثابته کړي؛ نو عدالت دې د ښځې نه د هغې په دعوه شهادت وغواړي او خاوند ته دې د صفایی پوره وخت ورکړي، که چېرته د ټولې کار وروسته عدالت دې نتیجې ته ورسېد چې خاوند ظالم دی او د ښځې جدایي ترې ضروري ده؛ نو عدالت دې خاوند ته ووایي چې هغه دې ته طلاق ورکړي، که چېرته دې نه پس هم خاوند په خپله بې انصافی ولاړ وي او د مظلومې ښځې په غاړه آزادولو باندې خوښ نه وي؛ نو عدالت دې خپله د تنسیخ نکاح پرېکړه وکړي، که چېرته په دې طریقه پرېکړه شوې وي؛ نو ښځه د عدت نه پس دویم ځای نکاح کولی شي او د عدالت دا پرېکړه به صحیح ګڼل کیږي.[۱]

لیکن څنګه چې تا لیکلي چې محض د ښځې په درخواست فیصله شوې ده، نه د ښځې نه شاهد طلب شوی او نه خاوند غوښتل شوی او د هغې د خوښې پرېکړه شوې ده، داسې پرېکړې ته په شریعت کې هیڅ اعتبار نشته، ښځه هم هغسې د دې خاوند په نکاح کې ده، دې ته په دویم ځای کې د عقد کولو اجازه هم نشته.[۲]

---

[۱] اوګورئ: الحیلة الناجزه ص۲۹، ازحکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله، طبع دارالاشاعت کراچی)

[۲] قال فی غرر الاذکار: ثم اعلم ان مشایخنا استحسنوا ان ینصب القاضی الحنفی نائباً ممن مذهبه التفریق بینهما اذا کان الزوج حاضراً وابی عن الطلاق، لان رفع الحاجة الدائمة لایتیسر بالاستدانة، اذا الظاهر انها لا تجد من یقرضها وغنی الزوج مآلاً امر متوهم، فالتفریق ضروری اذا طلبته وان کان غائباً لا یفرق لان عجزه غیر معلوم حال غیبته وان قضی بالتفریق لا ینفذ قضاء ه لانه لیس فی مجتهد فیه لان العجز لم یثبت اه. (شامی/ ۳/ ۵۹۰) تفصیل دپاره اوګورئ: حیله ناجزه)_

د عدالت په غلطي فيصلې لومړی نکاح نه ماتيږي

سوال: د کوم سړي ښځه بل سړي سره وتښتېده، هغه سړي په عالي عدالت کې د دروغو نکاح خط وړاندې کړ، حال دا چې د خاوند خپلوانو اصلي نکاح خط وړاندې کړ. ليکن چا چې ښځه تښتولې وه هغه عدالت ته په دروغو ويلو او هغوی ته په چل ورکولو کې بريالی شو. عدالت د هغه په حق کې پرېکړه وکړه، خاوند په دې دوسيه کې دلچسپي وانخيسته او نه هغه طلاق ورکړ

آيا د عدالت د فيصلې نه پس لومړی نکاح فسخه شوه؟ او آيا دا ښځه د دغه سړي سره د ښځې په حيث اوسېدی شي؟

جواب: د عدالت په غلطي فيصلې چې عدالت ته دروغ ويل شوي وي، لومړی نکاح نه ماتيږي، [1] تر څو پورې چې اصلي خاوند هغې ته طلاق ورنه کړي، دا د بل چا سره نکاح نه شي کولی [2].

که چېرته دا دواړه په دغه حالت کې د ښځې خاوند په حيث اوسيږي؛ نو د هميش لپاره به په ګناه کې اخته وي او د دوی اولاد به شرعاً د بې نکاح اولاد وي. [3]

آيا عدالت تنسيخ نکاح کولی شي؟

سوال: که چېرته يوه ښځه په عدالت کې د کوم قاضي په لاس د خاوند نه جدا والی حاصل کړي او ددې ښځې اعتراضات ددې په خاوند باندې د شاهدانو په شهادت سره ثابت شي، مګر خاوند عدالت کې په شرعي حيث طلاق ورنه کړي بلکې قاضي د کومې ښځې درخواست قبول کړي او دغه ښځې ته خلاصی ملاو شي ددې شرعي حکم څه دی؟ آيا دې ښځې ته واقعي طلاق ملاو شو يا نه؟ آيا ددې ښځې سره دويمه نکاح حلاله ده؟

جواب: که چېرته عدالت د معاملې پوره معلومات او د شاهدانو د شهادت نه پس دې نتيجې ته رسېدلی وي چې ښځه واقعي مظلومه ده او خاوند ددې حقوق نه ادا کوي او د عدالت د حکم باوجود هغه طلاق نه ورکوئ؛ نو د عدالت د تنيسخ نکاح پرېکړه صحيح ده او ښځه د عدت نه پس دويم عقد کولی شي او که چېرته عدالت د معاملې صحيح تفتيش او د شاهدانو د شهادت نه بغير پرېکړه وکړي يا د خاوند په غير موجودګۍ کې يوازې د ښځې په بيان

---

[1] اوان فرق بوصف اوخبر اوجمل بعطف او غيره بانت بالاولى لا الى عدة. (الدرالمختار مع الرد/ ۳/ ۲۸۶)

[2] اما نكاح منكوحة الغير الى قوله لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلاً. (شامى/ ۳/ ۱۳۲)۔

[3] فالوطئ فيه زنا لا يثبت به النسب......الخ. (شامى/ ۳/ ۵۵۵)۔

اعتماد وکړي او د تنسيخ نکاح پرېکړه وکړي؛ نو دا پرېکړه به يې د طلاق قائم مقام نه وي[۱] او د دې پرېکړې باوجود به د ښځې لپاره دويم ځاى عقد کول ناجائز وي. [۲]

که خاوند تر يو نيم کاله پورې خرچه ورنکړي، ښځه دي په عدالت کې استغاثه وکړي

سوال: زما د واده څوارلس کاله وشو، زما يو زوى د نهو کالو دى او يوه لور مي د درې کالو او څلورو مياشتو ده، زما د خپل خاوند نه اوه کاله مخکې جدا والى شوى دى، ددې وجې چې هغه دويم واده وکړ؛ نو کور مو خراب شو، په دې اوه کالو کې يې ماته څلور انې هم نه دي راکړي، په اوه کالو کې صرف يو ځل څلور کاله پس راغلى ؤ او صرف پنځلس ورځې يې تيري کړې اوبيا لاړ، اوس ددرې کالو راهيسې دهغه هيڅ درک نشته چې هغه چېرته دى او څه کوي؟ اوس اصل مسئله دا ده چې: ما د ډېرو خلکونه اوريدلي که چېرته خاوند يونيم کاله پورې خرچه ورنکړي؛ نونکاح نه پاتې کيږي، اوس ووايئ چې دا خبره ترکومه بريده حقيقت لري؟

جواب: دا خو چا غلط ويلي چې خاوند تر يو نيم کاله پورې خرچه درنکړي؛ نو نکاح نه پاتې کيږي، تاسو د خپل خاوند مخالف په عدالت کې استغاثه وکړئ او د عدالت کار دا دى چې هغوى تاته ډوډۍ درکړي يا دي د داسې خاوند نه خلاصه کړي. [۳]

ايا د خانداني جرګې پرېکړې نه پس ښځه دويم ځاى نکاح کولى شي؟

سوال: که چېرته يوه ښځه د خفګان په صورت کې په خانداني جرګې کې د نکاح د فسخه کولو دعوه وکړي، د خانداني جرګې قاضي د مقدمې اورېدلو نه پس د ښځې په حق کې فيصله وکړي او ښځې ته د دويمې نکاح اجازه ورکړي؛ نو په شريعت کې ښځه دويمه نکاح کولى شي يا نه؟

جواب: که چېرته د خانداني جرګې پرېکړه د شرعي قاعدو سره سمه وي؛ نو هغه پرېکړه به شرعاً هم نافذه وي او که چېرته د مقدمې په اورېدلو يا په فيصله کې شرعي قواعد ملحوظ نه وي؛ نو شرعي نقطه نظر سره هغه فيصله کالعدم ده، شرعاً به نکاح فسخه نه وي او ښځې ته به د دويمې نکاح اجازه نه وي.

۱] وګورئ: الحيلة الناجزة ص:۲۹، طبع دارالاشاعت کراچی)۔

۲]اما نكاح منكوحة الغير الى قوله لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلاً. (شامی/ ۳/ ۱۳۲)۔

۳] حيله ناجزه، ص:۷۳، ازحضرت مولانا اشرف على تھانوى رحمه الله، طبع دارالاشاعت کراچی)۔

د شرعي قواعدو مطابق د فیصلې صورت دا دی چې د ښځې په شکایت باندې عدالت خاوند وغواړي او د هغه نه دي د ښځې د الزاماتو خواب وغواړي. که چېرته خاوند ددې الزاماتو نه انکار وکړي؛ نو د ښځې نه دي شاهد طلب کړي یا که چېرته ښځه شاهد وړاندې نه کړي؛ نو خاوند نه دي قسم واخلي او که چېرته خاوند په قسم سره دعوه غلطه ثابته کړي؛ نو د ښځې دعوه به خارجولی شي او که چېرته ښځه شاهد وړاندې نه کړي؛ نو عدالت دي خاوند ته د ښځې د حقوقو شرعیو ادا کولو تاکید وکړي او که چېرته عدالت دې نتیجې ته رسېدلي وي چې د دواړو یو ځای اوسېدل ممکن نه دي؛ نو خاوند ته د طلاق ورکولو حکم وکړي او که چېرته هغه په طلاق ورکولو باندې اماده نه وي (حال دا چې هغه د ښځې حقوق واجبه هم نه ادا کوي) نو عدالت خپله د فسخې نکاح فیصله کولی شي. دې سره دا شرط هم دی چې فیصلې کوونکی قاضي به مسلمان وي، که قاضي غیر مسلم وي (څنګه چې د پاکستان په عدالتونو کې غیر مسلم قاضیان هم شته) نو د هغه فیصله به نافذه نه وي.[1]

کوم سړی چې پنځه یا شپږ ودونه وکړي؛ نو د لومړیو ښځو نو حکم به یې څه وي؟

سوال: زما واده د نن نه لس کاله مخکې د یو داسې سړي سره وشو چې ځان یې ناواده کړی ښکاره کړ، حال دا چې د هغه درې بیبیانې نورې هم وې، هغه په نکاح خط کې هم ناواده کړی لیکلی دی، د نن نه دوه کاله مخکې یې پنځم واده د یوې عیسایي ښځې سره وکړ او بیا د درېیمې میاشتې وروسته شپږم واده یې په پېنډۍ کې په اسلامي طریقه د یوې مسلمانې ښځې سره وکړ، زه دا معلومول غواړم چې زمونږ مذهب خو په یو وخت کې د څلورو ښځو اجازه نه ورکوي؛ نو په داسې صورت کې آیا دده لومړۍ ښځه د نکاح نه خارجې شوې که وروستنی ودونه یې نه دي شوي، زه د هغه څلورمه ښځه یم، زما په اړه شرعي حکم څه دی؟ زه د هغه په نکاح کې یم که طلاقه شوې یم؟ که چېرته زه د هغه په نکاح کې یم؛ نو د طلاق اخیستلو لپاره راته شرعي لاره وښیئ؟

جواب: ستا واده صحیح دی، پنځم یا شپږم واده چې هغه کړی دی هغه صحیح نه دی[2] تاسو عدالت ته رجوع وکړئ او تاسو د هغه شیانو ثبوت وړاندې کولو سره سړي ته سزا ورکولی شئ!

[1] الحیلة الناجزة، ص: ۲۹ ، طبع دارالاشاعت کراچي)۔

[2] قال الملا علی القاری فی شرح المشکوٰة: لا یجوز اکثر من اربع نسوة........واما ابو حنیفة رحمه الله تعالی فقال: الاربع الاول جائز ونکاح من بقی منهن باطل وهو قول ابراهیم نخعی رحمه الله....وفی الهدایة: ولیس له ان یتزوج اکثر من ذٰلک، قال ابن الهمام رحمه الله: اتفق علیه الاربعة وجمهور المسلمین......الخ. (مرقاة/ باب المحرمات/ ۳/ ٤۳۵/ طبع بمبئي) ایضاً: لو کان له اربع نسوة ماتت احداهن فتزوج بالخامسة بعد یوم جاز ولا یصح للحر نکاح امراة اخریٰ خامسة فی عدة رابعة. (خلاصة الفتاویٰ/ ۲/ ۷/ طبع کوئته)۔

د عدالتي نکاح فسخ کولو وروسته ښځې سره تعلق ساتل

سوال: درې کاله مخکینی خبره ده چې زما ښځې د عدالت په ذريعه زمانه طلاق حاصل کړی دی، په ټولو مقدمو کې زه کله هم نه يم تللی او نه ما پسې د عدالت نه څه کاغذ راغلی دی او نه د يو طرفه پريکړې څه خبر راکول شوی دی، په هر حال زه هيڅ نه يم خبر شوی، پنځه مياشتې وروسته زه خپلې ښځې ته لاړم او هغه مې رضا کړه او ددې نه پس مونږ په خوشحالی ژوند تيرولو، د شريعت په له مخې زموږ څه حکم دی؟ ما کله هم خپلې ښځې ته څه طلاق وغيره نه دی ورکړی.

جواب: که چېرته ستا بيان صحيح وي؛ نو د عدالت پريکړه غلطه وه، لهذا ستا نکاح نه ده فسخه شوې، هغه هم هغسې ستا ښځه ده. [۱]

د مورپلار د ناحقه طلاق حکم منل ناجائز دي

سوال: مور پلار که زوی ته ووايي چې خپلې ښځې ته طلاق ورکړه او د زوی په نظر کې ښځه صحيح وي؛ نو په دې صورت کې زوی ته څه کول پکار دي؟ ځکه يو حديث دی چې د هغې مفهوم دا دی: د مورپلار نافرماني مه کوئ! ګورئ که هغوی تاسو ته د ښځې د طلاق کولو حکم کوي؛ نو هم يې عملي کړئ! په دې صورت کې د زوی لپاره په شريعت کې څه حکم دی؟

جواب: د حديث منشا ده چې زوی د مورپلار په تابعداری کې هر وخت امتحان ته تيارېدل پکار دي تر دې چې د ښځې او بچې جدا کولو او کور پرېښودلو لپاره هم، دې سره په مور پلار باندې هم دا ذمه واري ده چې هغوی دبې انصافی او بې ځايه ضدنه کارنه اخلي، که چېرته مور پلار دا ذمه واري محسوسه نه کړي او صريح ظلم کوي؛ نودهغوی اطاعت به واجب نه، بلکې جائز به نه وي[۲]، ستاسو د سوال هم دا صورت دی او حديث پاک ددې صورت متعلق نه دی.
خلاصه دا چې: که مورپلار په حق باندې وي؛ نو د مورپلار اطاعت واجب دی او که چېرته ښځه په حق باندې وي؛ نو د مور پلار اطاعت ظلم دی او اسلام چې څنګه د مورپلار نافرماني نه برداشت کوي، هم دغه راز د دوی په حکم چا باندې د ظلم کولو اجازه هم نه ورکوي. [۳]

سوال: د خواښې انګور د کور د جنګ له وجې که چېرته خواښې يا خسر خپل زوی ته حکم وکړي چې ته دا پرېږده مونږ به تا ته دويمه ښځه وکړو، آيا زوی دا حکم عملي کولی شي؟

۱] ولا يفرق بينهما بعجزه عنها......الخ. (شامی/ ۳/ ۵۹۰/ طبع ايچ ايم سعيد، کراچی)۔
۲] عن علی رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: لا طاعة فی معصية، انما الطاعة فی المعروف. متفق عليه. (مشکوٰة/ ۳۱۹/ کتاب الامارة/ الفصل الاول)۔
۳] "ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان واتقوالله ان الله شديد العقاب" (المائدة: ۲)۔

جواب: که چېرته ګناه د ښځې وي؛ نو د مورپلار د حکم تعميل وکړه او که چېرته بې ګناه وي؛ نو عملي کول يې نه دي پکار.[۱]

❖ د طلاق نه انکار کولو حکم ❖

که خاوند طلاق ورکولو سره واوړي؛ نو ښځه به څه کوي؟

سوال: زما خور ته يې خاوند درې ځله طلاق ورکړ چې هغې سره مې خور کور ته راغله او مور پلار يې د ټول حالت نه خبر کړل، زما مورپلار چې کله زما د خور خاوند نه معلومه کړه؛ نو هغه انکار وکړ او وې ويل چې ما طلاق نه دی ورکړی، حال دا چې زما خور په ضد ده چې ماته يې طلاق راکړی دی، اوس تاسو مشوره راکړئ چې طلاق څنګه شو؟

جواب: اصول خو دا دي چې که په طلاق کې د ښځې خاوند اختلاف پيدا شي. ښځه ووايي چې هغه طلاق راکړی دی او خاوند انکار کوي؛ نو د شاهد نه موجودېدلو په صورت کې عدالت به د خاوند د خبرې اعتبار کوي[۲]، ليکن نن سبا په خلکو کې ديانت کم شوی، هغه طلاق ورکولو نه پس اوړي؛ نو ځکه که چېرته خاوند ديندار سړی نه وي او ښځې ته يقين دی چې هغه درې ځله طلاق راکړی دی؛ نو ښځې لپاره د خاوند په کور کې آبادېدل ناجائز دي[۳]، د خاوند د قانوني کاروايی نه د بچ کېدلو لپاره د هغې حل دا دی چې عدالت ته رجوع وکړی شي او ښځې طرفنه د خلعې مطالبه وکړي او عدالت د دواړو په منځ کې جدا والی راولي.

د خاوند په انکار د ښځې لپاره د طلاق شاهد وړاندې کول ضروري دي

سوال: د يو سوال په ځواب کې تاسو ليکلي چې ښځه د طلاق ورکولو دعوه کوي او خاوند يې انکار کوي، د ښځې خاوند په منځ کې چې کله دا اختلافات وي؛ نو که چېرته ښځه اعتمادي شاهد وړاندې کړي چې په قسم سره شهادت وکړي چې دده په مخامخ خاوند طلاق ورکړی دی؛ نو د ښځې دعوه به صحيح تسليم شي، کنه نو ددې دا دعوه به دروغژنه وي او د خاوند دا

[۱] ايضاً پورتنئ حواله (عن علی قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: لا طاعة فی معصية...الخ)۔

[۲] لو ادعت ان زوجها ابانها بثلاث فانکر فحلفه القاضی فحلف والمراة تعلم ان الامر کما قالت لا يسعها المقام معه. (شامی/ ۵/ ۴۰۷) ايضاً: ونصابها لغيرها من الحقوق سواء کان الحق مالاً او غيره کنکاح وطلاق رجلان او رجل وامراتان. (شامی/ ۵/ ۴۶۵/ طبع ايچ ايم سعيد/ کراچی)۔

[۳] ولو قال لها انت طالق ونوی به الطلاق عن وثاق لم يصدق قضاءً ويدين فيما بينه وبين الله تعالی والمراة کالقاضی لا يحل لها ان تمکنه اذا سمعت منه ذٰلک او شهد به شاهد عدل عندها. (عالمگيری/ ۱/ ۳۵۴/ طبع رشيديه/ کوئټه)۔

خبره به صحیح وي چې هغه طلاق نه دی ورکړی.

نو محترمه فرض کړئ! چې د ښځې دعوه بالکل صحیح ده مګر هغه څه شاهد نه پیش کوي او سړی صرف ددې وجې نه د طلاق نه انکارکوي چې دې ته مهر ورکول رانه شي یا هغه صرف د تنګولو لپاره انکار کوي؛ نو په داسې صورت کې به ښځه دې خاوند ته واپس تللو کې ګنهګاره نه وي؟ حال دا چې هغې په خپلو غوږونو د طلاق الفاظ اوریدلي دي

جواب: ماشاء الله ډیر باریک سوال دی، جواب دا دی چې تاسو د کومې مسئلې حواله ورکړې ده ددې تعلق د عدالت د فیصلې سره دی، د ښځې د ذاتي کردار سره نه، په کوم صورت کې چې خاوند انکار کوي او ښځې سره شاهد نشته نو عدالت به په دې فیصلې مجبور شي چې د ښځې دعوه غلط او بې ثبوته ده.

تر کوم حده پورې چې د ښځې د ذاتي تعلق کردار دی؛ نو کله چې ښځې ته سل فیصده یقین وي چې خاوند دې ته طلاق ورکړی دی او اوس محض د بې دینی له وجې انکار کوي؛ نو د ښځې لپاره هغه ته تلل ناجائز دي، هغې ته پکار دي چې هغه ته د تللو نه صفا انکار وکړي، همداراز هغې ته پکار دي چې د هغه نه غاړه خلاصه کړي، مثلاً هغه دي په خلع کولو مجبور کړي، بهر حال ترڅو پورې چې د هغه سره قانوني کاروایي نه وي شوې هغه دي خپل ځان ته نژدې نه راولي او نه دي هغه په کور کې اوسیږي. (فتاوی عالمګیري مخ: ۳۴۴ ټوک: ۱) [1]

که چیرته خاوند د طلاق انکار وکړي؛ نو د ښځې او خسر انکار بې ځایه دی

سوال: زما دوست واده کړی، هغه د ښځې سره په کومه خبره جنګ وکړ او خبره تر طلاقه پورې ورسېده، زما دوست باقاعده د خپلو او د هغې د رشته دارانو په مخامخ خپلې ښځې ته درې ځله طلاق ورکړ او د هغه ښځه هم په دویمه کمره کې ناسته وه او زما دوست درې ځله طلاق ورکولو سره خپل کور ته لاړ، لیکن وروسته د هغه ښځې او خسر وویل چې مونږ درې ځله نه دي اوریدلي، لهذا طلاق نه دی شوی، اوس تاسو ووایئ چې طلاق وشو او که نه؟

جواب: که چیرته ستا دوست دا اقرار کوي چې درې ځله مي طلاق ورکړی دی؛ نو درې طلاقه شو، د ښځې او خسر انکار بې ځایه دی. [2]

---

[1] ولو قال لها انت طالق ونوى به الطلاق عن وثاق لم يصدق قضاءً ويدين فيما بينه وبين الله تعالى والمراة كالقاضي لا يحل لها ان تمكنه اذا سمعت منه ذلك او شهد به شاهد عدل عندها. (عالمگيری/ ١/ ٣٥٤/ طبع رشيديه/ كونته)_

[2] وان كان الطلاق ثلاثاً في الحرة وثنتين في الامة لم تحل له حتى تنكح... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د طلاق په تعداد کې د ښځې خاوند اختلاف

سوال: زما خاوند ماته درې ځله طلاق راکړ او لاړ، لږ وخت وروسته راغی او وې ویل چې ته ژاړې ما خو دوه ځله طلاق ویلی دي، د رجوع کولو ګنجایش شته مګر ما ونه منله. د بچیانو کور مې صرف د ګناه له ویرې پرېښود، مګر هغه په ضد کې دی چې ما دوه ځله طلاق ویلی دی، ما ورته وویل چې قسم وخوره؛ نو هغه وویل چې په ایمان دوه ځله مې ویلی دی او که چېرته نه منې؛ نو ټوله ګناه یې زما په سر. ما د الله نه دعا وکړه چې یا الله زه ګناه ګاره نه یم ټوله ګناه دده په سر. که چېرته دی دروغ وایي نو ووایئ چې ګناه به د چا په سر وي؟

جواب: که چېرته تاسو ته یقین وي چې درې ځله یې ویلي دي؛ نو د هغه د قسم هیڅ اعتبار مه کوه او هغه ته د ورتلو او د حقوق زوجیت اداکولو صفا انکار وکړه او په هر حال د هغه نه د خلاصولو څه تدبیر وکړه. که چېرته تاته یقین نه وي: نو ګناه او ثواب د هغه په ذمه دی. تاسو د هغه په خبره یقین کولی شئ![1]

❖ د نامرد سړي د ښځې حکم ❖

د نامرد سړي سره دواده کولو په صورت کې به ښځه څه کوي؟

سوال: یو نامرد سړي نکاح وکړه، تر څلورو میاشتو پورې یې ښځه ورسره اوسېده، د هغه په خاص کمره کې به ویده کېده، هغه خپله پېغله وه، ددې نه پس هغه ښځه د مور پلار کور ته راغله او د هلک نه یې مور او پلار د طلاق مطالبه وکړه مګرهغه هلک د روپو اخیستلو په فکر طلاق نه ورکولو، لهذا د طلاق صورت او د حق مهر په باره کې مسئله واضحه کړئ!

جواب: د واده په وخت کې ښځه پېغله وه؛ نو د عدالت په ذریعه نامرد خاوند ته د یو کال مهلت د علاج په غرض ورکول شي، یو کال وروسته که خاوند په کوروالي قدرت بیامومي؛ نو خپله ښځه دې وساتي او که په یو کال کې هم قدرت ونه مومي؛ نو په عدالت نکاح ختمولی شي، د عدالت جدایي به طلاق بائن ګڼلی شي او په ښځه به عدت لازم وي او سړي باندې به مهر پوره اداکول لازم وي.[2]

...بقیه د تېرمخ] زوجاً غیره......الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۴۷۳) ایضاً: لو اقر بالطلاق کاذباً او هازلاً وقع قضاء. (ایضاً: تتارخانیة، فصل فیما یرجع الی صریح الطلاق/ ۳/ ۲۶۲/ طبع رشیدیه کوئته)۔

[1] والمراة کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل لا یحل لها تمکینه. (شامی/ ۳/ ۲۵۱) ایضاً: واذا شهد عند المراة شاهدان عدلان ان زوجها طلقها ثلاثا وهو یجحد ذلک......لم یسعها ان تقوم معه وان تدعه یقربها فان حلف الزوج علی ذالک.....الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۴۷۵/ طبع رشیدیه کوئته)۔

[2] اذا رفعت المراة زوجها الی القاضی وادعت انه عنین وطلبت الفرقة.........[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

سوال: یو هلک پیدایشي نامرد دی چې تصدیق یې ډاکټر او هلک خپله هم کوي او درملنه یې کړې ده؛ طبیب ورته ځواب ورکړی دی چې دا هلک پیدایشي صحیح نه دی: نو ځکه دده علاج نه کیږي او ښځې عدالت کې په خپل خاوند باندې د تنسیخ نکاح دعوه وکړه او حاکم هم د ښځې په حق کې فیصله ورکړه چې دا ښځه بغیر د خپل خاوند طلاق اخیستلو کوم بل ځای نکاح کولی شي، حال دا چې د خاوند نه یې بار بار د طلاق اصرار کړی دی لیکن هغه په ضد کې دی او طلاق نه ورکوي، ددې ټولو صورتونو باوجود شریعت محمدي ﷺ څه حکم کوي؟

جواب: کله چې هلک پیدایشي نامرد دی او دده تصدیق شوی دی چې دده علاج نه کیږي؛ نو په هلک باندې لازم دي چې هغه ښځې ته طلاق ورکړي[1] او که چېرته هغه طلاق نه ورکوي؛ نو عدالت دي ددې دواړو په منځ کې د جدا والي پرېکړه وکړي، د عدالت دا فیصله به د طلاقو په حکم کې وي، لهذا نجلۍ دویم ځای کې (د عدت نه پس) نکاح کولی شي.[2]

❖ عدت ❖

عدت په چا واجبیږي؟

سوال: زمونږ د ښځو غلطه عقیده ده، که د چا لور مړه شي؛ نو ددې نجلۍ مور عدت تېروي، خوابنې او خسر وفات شي، که چېرته د هغوی انګوریانې زیاتې وي؛ نو هغوی ټول عدت او نقاب کوي، زما په ذهن کې دا خبره نه راځي چې عدت صرف په دې باندې فرض دی چې د چا خاوند وفات شوی وي که نه په لور باندې هم، د خوابنې او خسر او د کوم رشته دار په وفات عدت فرض دی، دا ټولې چارې تر کومه پورې صحیح دي؟

جواب: عدت د هغې ښځې په ذمه دی چې د کومې ښځې خاوند وفات شوی وي[3]، ددې سره نورې ښځې په عدت کې کېناستل فضول حرکت دی، البته د نامحرمو نه پرده او نقاب کول د عدت نه بغیر هم په هره ښځه باندې لازم دی.[4]

...بقیه د تیرمخ] یؤجل سنة، کذا فی الکافی. (عالمگیری/ ۱/ ۵۲۲) ایضاً: ان اختارت الفرقة امرالقاضی ان یطلقها طلقة بائنة فان ابی فرق بینهما، هکذا ذکر محمد رحمه الله تعالی فی الاصل، کذا فی التبیین، والفرقة تطلیقة بائنة، کذا فی الکافی، ولها المهر کاملاً وعلیها العدة بالاجماع ان کان الزوج قد خلا بها وان لم یخل بها فلا عدة علیها ولها نصف المهر ان کان مسمی، کذا فی البدائع. (عالمگیری/ ۱/ ۵۲۴) تفصیل دپاره اوګورئ: الحیلة الناجزة ص۴۳، طبع دارالاشاعت کراچی)۔

[1] ویجب لوفات الامساک بالمعروف کما لو کان خصیاً او مجبوباً او عنیناً......الخ. (شامی/ ۳/ ۲۲۹)۔

[2] تیره شوې حاشیه (اذا رفعت المراة زوجها الی القاضی وادعت انه عنین...الخ)۔

[3] لقوله تعالي: والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجاً یتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً. (البقرة: ۲۳۴)۔

[4] کما في القرآن: یٰایها النبي قل لازوٰجک وبنٰتک ونسآء المؤمنین یدنین علیهن من جلابیبهن.(الاحزاب: ۵۹)

د عدت ضروري حکمونه

سوال: په شریعت کې ښځه باندې عدت تېرول څنګه دي؟ ډېري بوډۍ ګانې وايي چې د کومې ښځې خاوند مړ شي هغه ښځه په عدت کې دننه په سر باندې تیل نه شي لګولی، که څومره یې په سر درد وي او درې واړه کپړې ښځې ته سپینې پکار دي، په لاسونو کې بنګړي اچول نه دي پکار وغیره، تاسو ته ګزارش دی په شریعت کې چې څنګه ښځې ته د عدت تېرولو حکم شوی دی ددې مطابق جواب راکولو سره د شکریې موقع راکړئ!

جواب: د عدت ضروري احکام دا دي:

۱: د خاوند د وفات عدت څلور میاشتې او لس ورځې دي[۱]، که چېرته د خاوند وفات د میاشت په لومړي تاریخ وي؛ نو څلور قمري میاشتې او دې باندې لس ورځې د پاسه عدت دې تېر کړي، خواه که میاشتې د یو کم دېرشو وي او که د دېرشو او که د لومړني تاریخ نه علاوه په بل تاریخ وفات وي؛ نو یو سل دېرش ورځې دې پوره کړي.[۲]

۲: د عدت تېرولو لپاره په کور کې په کوم خاص ځای کې کېناستل ضروري نه دي، په کور کې چې کوم ځای او سیېږي هغې ته اجازه ده.[۳]

۳: په عدت کې دې ته سنګار کول، بنګړي اچول، کالي اچول، عطر لګول، رانجه اچول، پان خوړلو باندې خوله سره کول، مستي کول (هغه شی چې ښځه یې د سنګار لپاره استعمالوي) په سر تېل لګول، نکریزې لګول، ریشمي رنګینې او ګلونو والا ښې کپړې اچول ناجائز دي، داسې معمولي کپړې اغوستل چې په هغې کې زینت نه وي.[۴]

۴: سر وینځل او لامبل په عدت کې جائز دي او که په سر درد وي؛ نو تېل لګول هم جائز دي، د ضرروت په وخت د غټو غاښونو ږمنزې باندې ږمنزول هم جائز دي، د علاج په طور رانجه لګول هم جائز دي، مګر د شپې به یې لګوي د ورځې به یې پاکوي.[۵]

---

[۱] والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجاً یتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً (البقرة: ۲۳٤) ایضاً: واذا مات الرجل عن امرأته الحرة فعدتها اربعة اشهر وعشرة وهٰذه العدة لاتجب الا في نکاح صحیح سواءً دخل بها و لم یدخل. (الجوهرة النیرة/ کتاب العدة/ ۲/ ۱۵٤/ طبع حقانیه)۔

[۲] والعدة للموت اربعة اشهر بالأهلة ولو في الغرة کما مر وعشر من الایام بشرط بقاء النکاح صحیحاً الي الموت مطلقاً. (الدرالمختار/ مطلب في عدة الموت/ ۳/ ۵۱۰/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی)۔

[۳] للمعتدة ان تخرج من بیتها الي صحن الدار تبیت في اي منزل شائت......الخ.(عالمګیری/ ۱/ ۵۳۵)۔

[۴] وعلي المبتوتة والمتوفي عنها زوجها اذا کانت بالغة مسلمة الحداد، والحداد ان تترک الطیب والزینة والکحل والدهن المطیب وغیرا لمطیب......الخ. (هدایة/ ۲/ ٤۲۷/ طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان، ایضاً: الجوهرة النیرة/ ۲/ ۱۵۸/ طبع حقانیه/ ایضاً: بدائع الصنائع: ۳/ ۲۰۸/ طبع ایچ ایم سعید کراچی)۔

[۵] وانما یلزمها الاجتناب فی حالة الاختیار، اما فی حالة الاضطرار فلا باس بها...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

۵ د عدت په دوران کې د کور نه بهر وتل ناجائز دي[۱]، البته که چېرته هغه دومره غریبه وي چې دې سره د ګزارې لپاره خرچې نشته: نو په پردې سره د مزدورۍ لپاره تلی شي. لیکن شپه په خپل کور کې تېروي او په ورځ کې چې څنګه د کار نه فارغه شي؛ نو سمدستي به راځي، بغیر د ضرروت نه بهر اوسېدل ناجائز دي.[۲]

۶ هم دغه راز که بیماره شي؛ نو د علاج د مجبورۍ نه حکیم، ډاکټر ته تلل هم جائز دي[۳]

د وفات عدت

سوال: زمونږ په محله کې د یوې ښځې خاوند مړ شو. کله چې د هغه جنازه لاړه: نو د محلې ښځو یې د کور د دروازې نه وویسته او دا یې وویل چې کومه ښځه په ژړا د کور نه وویستل شي هغه عدت نه تېروي، تاسو د قرآن او سنتو په رڼا کې ووایئ چې دا خبره تر کومه حده پورې صحیح ده؟

جواب: ددې ښځو دا خبره بالکل غلطه ده. په ښځو باندې د وفات عدت لازم دی.[۴]

د رخصتی نه مخکې د کونډې عدت

سوال: دیوې نجلۍ نکاح وشوه لیکن تر اوسه پورې رخصتي نه وه شوې چې د هغې خاوند په یوه پېښه کې مړ شو. آیا اوس به دا ښځه عدت تېروي او که نه؟ مهر به ورته ملاوېږي او که نه؟ که چېرته ملاوېږي نو څومره به ورته ملاوېږي؟

جواب: که چېرته د رخصتی نه مخکې خاوند وفات شي بیا هم د نجلۍ په ذمه عدت وفات څلور میاشتې او لس ورځې لازم دی[۵]، هغه د ټول مهر مستحقه ده چې د مرحوم په ترکه کې به

...بقیه د تیرمخ] ان اشتکت رأسها او عینها فصبت علیها الدهن او اکتحلت لاجل المعالجة فلا بأس به ولکن لا قصد الزینة ان امتشطت بالطرف الذی اسنانه متفرجة لا باس به......الخ. (عالمګیری/ ۱/ ۵۳۳/ طبع رشیدیه/ کوئته)۔

[۱] وتعتدان معتدة الطلاق وموت فی بیت وجبت فیه ولاتخرجان منه. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ٤/ ٥٣٦)۔

[۲] ومعتدة موت تخرج فی الجدیدین وتبیت اکثر اللیل فی منزلها لان نفقتها علیها تحتاج للخروج حتی لو کان عندها کفایتها صارت کالمطلقة فلا یحل لها الخروج. (شامی/ ۳/ ٥٣٦/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی)۔

[۳] واما الخروج للضرورة فلافرق فیه بینهما کما نصوعلیه فیما یأتی فالمرادبه هنا غیر الضرورة(شامی/۳/٥٣٦)

[٤] واذا مات الرجل عن امرأته الحرة فعدتها اربعة اشهر وعشرة وهٰذه العدة لاتجب الا فی نکاح صحیح سواء دخل بها و لم یدخل. (الجوهرة النیرة/ کتاب العدة/ ۲/ ١٥٤/ طبع حقانیه/ ملتان) ایضاً: والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجاً یتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً. (البقرة: ٢٣٤)۔

[٥] عدة الحرة فی الوفاة اربعة اشهر وعشرة ایام سواء کانت مدخولاً بها او لا......هٰذه العدة لا تجب الا فی نکاح صحیح. (عالمګیری/ ۱/ ٥٢٩/ طبع رشیدیه/ کوئته)۔

ادا کولی شي او هغه د خاوند په ترکه کې د کونډې د برخې برخه هم لري. [۱]

د حاملې عدت

سوال: زما لور ته زما ځوم په غوسه شو، زما په کور کې یې زما په شتون کې طلاق ورکړ، ځکه چې هغه زما د لور ساتلو لپاره تیار نه ؤ، یو مولوي صاحب نه مې پوښتنه وکړه؛ نو هغوی راته وویل چې په حامله باندې طلاق نه وي او کله چې طلاق نه کیږي؛ نو عدت هم لازم نه دی، حال دا چې زما ځوم اصرار کوي چې طلاق کیږي او عدت لازم دی دا په عدت کې وساتئ تر څو پورې چې وضع د حمل نه وي شوی، آیا طلاق واقع شو او عدت لازم دی او که نه؟

جواب: د حمل په حالت کې طلاق واقع کیږي[۲] او د حاملې عدت وضع حمل دی، کله چې بچی پیدا شي؛ نو عدت ختمیږي[۳]، که چېرته ستا ځوم یو یا دوه طلاق رجعي ورکړی وي؛ نو عدت کې دننه رجوع کولی شي.[۴]

د عدت نه پس د فریقینو په رضا دوباره نکاح کیږي، [۵]که چېرته یې درې طلاقه ورکړی وي؛ نو رجوع نه شي کولی ښځه د همېش لپاره حرامه شوه. [۶]

د پنځوس کالو ښځې عدت به څومره وخت وي؟

سوال: کونډه ښځه چې د هغې عمر د پنځوسو کالو نه کم وي او بغیر د حمل نه به ددې د عدت موده څومره وي او هغه په کور کې معمولي کار مثلاً جارو وهل یا ډوډۍ پخول وغیره کولی شي یا نه؟

جواب: د خاوند د وفات عدت د حاملې لپاره وضع حمل دی[۷]، او کومه ښځه چې حامله نه وي د هغې عدت څلور میاشتې او لس ورځې دي خواه که بوډۍ وي یا ځوانه یا نابالغه[۸]، د عدت په دوران کې د کور کار کولو هیڅ منع نشته.

---

[۱] واما احکامه....ووجوب المهر والنفقة.......والارث من الجانبین. (عالمگیری/ ۱/ ۲۷۰)۔

[۲] اوطلاق الحامل یجوز عقیب الجماع. (هدایة/ ۲/ ۳۵۶/ طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان). وحل طلاقهن ای الآیسة والصغیرة والحامل. (درمختار/ ۳/ ۲۳۲/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی)۔

[۳] اواولت الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن. (الطلاق: ٤)۔

[۴] اذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها. (عالمگیری/ ۱/ ٤۷۰)۔

[۵] او اذا کان الطلاق بائناً.......فله ان یتزوجها........الخ. (هدایة/ ۲/ ۳۹۹/ طبع شرکت علمیه ملتان)۔

[۶] ان کان الطلاق ثلاثاً فی الحرة فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجاً غیره نکاحاً صحیحاً ثم یطلقها او یموت عنها.....الخ. (عالمگیری/ ۱/ ٤۷۳/ طبع رشیدیه کولته)۔

[۷] اواولت الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن. (الطلاق: ٤)۔

[۸] اوالئی یئسن من المحیض من نسائکم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر والئی لم یحضن. (الطلاق: ٤)۔

آيا د شهيد د ښځې عدت هم وي؟

سوال: الله تعالى ته خوښ نه دي چې شهيد ته مړى وويل شي، ځکه چې هغه ژوندى دى، ليکن مونږ ته د هغه د ژوند درک نه کيږي، مقصد دا چې څنګه يوه ښځه د خپل خاوند د مرګ نه پس عدت تيروي آيا د شهيد ښځې ته هم عدت تېرول ضروري دي؟

جواب: د شهيد د ښځې په ذمه هم عدت لازم دى[1]، او د عدت نه پس دويم ځاى کې عقد هم کولى شي، د قرآن مجيد د آيت په صحيح مطلب تاسو نه يې پوه شوئ، ځکه چې کوم ځاى يې دا فرمايلي دي چې شهيدانو ته مړي مه وايئ هلته يې دا هم فرمايلي چې هغوى خو ژوندي دي مګر تاسو ته د هغوى د ژوند درک نه کيږي، [2] ددې نه معلومه شوه چې د هغوى د ژوند نه زمونږ د دنيا ژوند مراد نه دى، بلکې داسې ژوند مراد دى چې زمونږ د حواس او شعور نه پورته دى؛ نو ځکه د هغوى جنازه کيږي، د هغوى ميراث وېشل کيږي، د هغوى په بيبيانو باندې عدت لازم دى او د عدت نه پس د هغوى دويمه نکاح هم جائز ده.

د رخصتى نه مخکې د طلاق عدت نشته

سوال: زما موريلار زما نکاح په يو ځاى کې وکړه، تر اوسه پورې رخصتي نه وه شوې چې ما هغې ته طلاق ورکړ او طلاق ورکولو نه پس مې ورته وويل چې دا ښځه زما نه آزاده ده، زما په دې باندې هيڅ دعوه نشته، آيا هغه ښځه دويم ځاى نکاح کولى شي؟ ايا عدت تېرول پرې لازم دي؟

جواب: د رخصتي نه وړاندې يې چې هر کله طلاق ورکړى دى؛ نو ستا ښځې ته طلاق بائن واقع شو او په دې صورت کې په ښځه باندې عدت تېرول نشته، [3] **لهذا د طلاق نه وروسته** سمدستي د نجلۍ نکاح د کوم بل سړي سره وکړئ!

که چېرته د طلاق د عدت په دوران کې خاوند وفات شي؛ نو څومره عدت به تېروي؟

سوال: که چېرته خاوند ښځې ته طلاق ورکړي او د ښځې د عدت په دوران کې خاوند وفات شي؛ نو ښځه د طلاق د عدت ورځې تيرې کړي که د وفات د عدت ورځې تيرې کړي؟

جواب: که چېرته ښځې د طلاق عدت تيرولو چې خاوند وفات شو؛ نو ددې درې صورتونه دي او د دريو واړو حکم جدا جدا دى:

---

[1] ﴿والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجاً يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً﴾. (البقرة: ٢٣٤)_

[2] ﴿ولا تقولوا لمن يقتل فى سبيل الله اموات بل احياء ولكن لا تشعرون﴾. (البقرة: ١٥٤)_

[3] اربع من النسآء لا عدة عليهن: المطلقة قبل الدخول.....الخ. (عالمگيرى/ ١/ ٥٢٦)_

۱: یو صورت دا دی چې ښځه حامله وي، د هغې عدت هم هغه وضع د حمل دی. د ماشوم په پیدایش به ددې عدت ختم شي، خواه د طلاق ورکونکي د وفات څه لمحې وروسته ماشوم پیدا شي د ښځې عدت ختم شو [۱]

۲: دویم صورت دا دی چې ښځه حامله نه وي او خاوند رجعي طلاق ورکړي او د عدت ختمېدو نه مخکې هغه وفات شي؛ نو په دې صورت کې به د طلاق عدت کالعدم ګڼل کیږي او ښځه به له سره د وفات عدت تېروي، یعنې څلور میاشتې او لس ورځې. [۲]

۳: دریم صورت دا دی چې ښځه حامله نه وي او خاوند بائن طلاق ورکړی وي او بیا د عدت ختمېدو وړاندې وفات شو. په دې صورت کې به دا ګورو چې د طلاق عدت زیات اوږد دی که د مرګ؟ په دې دواړو کې چې کوم زیات وي هغه به د هغې په ذمه لازم وي، یا داسې ووایئ چې ښځه به په دې صورت کې د طلاق او د وفات دواړو عدت په یو وخت کې تېروي، په دې کې که چېرته یو پوره شي او د دویم څه ورځې باقي پاتې وي؛ نو ددې باقي ورځو عدت هم پوره کوي. [۳]

ایا بې اسرې ښځه د عدت تېرولو بغیر نکاح کولی شي؟

سوال: یوه ښځه چې د شپږو میاشتو راهیسې ناروغه وه او د شپږو میاشتو په موده کې هغه خپل خاوند ته نزدې نه ده تللې، ددې مودې نه پس د هغې خاوند وفات شو او ددې ښځې پنځه بچي دي، چې د هغوی د تربیه کونکي څوک نشته، بالکل بې اسرې دي؛ نو ایا په دې صورت کې هغه ښځه بغیر د عدت تېرولو دویمه نکاح کولی شي یا نه؟ حال دا چې بغیر د نکاح نه د هغوی د خرچو برداشتولو بل هیڅ صورت په نظر نه راځي.

جواب: څلور میاشتې او لس ورځې د وفات عدت شرعاً فرض دی[۴]، په دې کې صرف نه دا چې ښځه نکاح نه شي کولی بلکې د نکاح کولو خبره هم حرامه ده[۵]، او که هغه په رښتیا

---

[۱] ولیس للمعتدة بالحمل مدة سواء ولدت بعد الطلاق او الموت بیوم او اقل، کذا فی الجوهرة النیرة. (عالمگیری/ ۱/ ۵۲۸/ طبع رشیدیه کوئٹه)۔

[۲] واذا طلق امرأته ثم مات فان کان الطلاق رجعیاً انتقلت عدتها الی الوفاة سواء طلقها فی حالة المرض او الصحة وانهدمت عدة الطلاق.....الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۵۳۰/ طبع رشیدیه کوئٹه)۔

[۳] وان کان بائناً او ثلاثاً فان لم ترث بان طلقها في حالة الصحة لا تنتقل عدتها وان ورثت بان طلقها فی حالة المرض ثم مات قبل ان تنقضی العدة فورثت اعتدت باربعة اشهر وعشرة ایام فیها ثلاث حیض حتی انها لو لم توف المدة الاربعة الاشهر والعشر ثلاث حیض تکمل بعد ذلک وهذا قول ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی، کذا فی البدائع. (عالمگیری/ ۱/ ۵۳۰/ طبع رشیدیه کوئٹه/ شامی/ ۳/ ۵۱۳/ طبع ایچ ایم سعید/ کراچی)۔

[۴] والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجاً یتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً. (البقرة: ۲۳۴)۔

[۵] تحرم خطبتها......وصح التعریض وفی الشامیة هٰذا کله فی المبتوتة والمتوفی عنها زوجها، اما المطلقة الرجعیة فلا یجوز التصریح ولا التلویح لان نکاح الاول قائم. (شامی/ ۳/ ۵۳۴)۔

داسې غريبه وي؛ نو په حکومت او مسلمانو فرض دي چې د عدت د مودې پوره کولو پورې ددې کفالت وکړي، يا هغه ښځه خپله تر دومره وخته پورې مزدوري وکړي او خپل نس وساتي.

آيا څلورو پنځو کالو نه د خاوند نه جدا اوسېدلو والا ښځې باندې عدت واجب نشته؟

سوال: زيد يوې ښځې ته طلاق ورکولو کې امداد وکړ او دويمه ورځ يې د هغې سره نکاح وکړه، د زيد وينا ده چې ښځه تر څلورو- پنځو کالو راهيسې په دې ښارکې د خپل خاوند نه لرې اوسېده، عدت خو په هغه ښځه باندې فرض دی چې د خاوند سره اوسيږي.

جواب: د زيد دا دعوه غلطه ده چې په دې ښځه باندې عدت نشته، د طلاق نه پس عدت ضروري دی، خواه که ښځه د خاوند سره اوسيږي که د خاوند نه جدا اوسيږي[۱]، البته کومې نجلۍ ته چې د رخصتۍ نه مخکې طلاق ملاو شي په هغې عدت نشته[۲]، بهر حال زيد ته د خپل جهالت نه توبه ويستل پکار ده او په عدت کې دننه چې ده کومه نکاح کړې ده هغه کالعدم ده، د عدت نه پس به دوباره نکاح کوي.[۳]

په نابالغې نجلۍ هم عدت شته

سوال: زما وړه خور چې اوس نابالغه ده، مونږ ددې نکاح په يو ښه ځای کې وکړه چې د نجلۍ نکاح څومره زر وشي ښه ده، ليکن الله داسې وکړه چې تر اوسه پورې د نکاح يوه مياشت شوې وه چې هلک کوم دښمن ووژلو، مونږ د نجلۍ په بالغېدلو باندې رخصتي کړې وه اوس اصل مسئله دا ده: آيا د نابالغې نجلۍ چې د هغې رخصتي نه وي شوې عدت کول ضروري دي؟

جواب: د وفات عدت د نابالغې نجلۍ په ذمه هم لازم دی.[۴]

۱] والمطلقٰت يتربصن بانفسهن ثلاثة قروء. (البقرة: ۲۲۸)_

۲] اربع من النسآء لا عدة عليهن: المطلقة قبل الدخول.....الخ. (عالمگيری/ ۱/ ۵۲۶)_

۳] ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتٰب اجله. (البقرة: ۲۳۵) ايضاً: اما نكاح منكوحة الغير ومعتدة.....لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلاً. (شامی/ ۳/ ۱۳۱)_

۴] والعدة للموت اربعة اشهر بالأهلة ولو فی الغرة كما مر وعشر من الايام بشرط بقاء النكاح صحيحاً الى الموت مطلقاً وطئت اولا ولو صغيرة.....الخ. (شامی/ ۳/ ۵۱۰) ايضاً: عدة الحرة فی الوفاة اربعة اشهر وعشرة ايام سواء كانت مدخولاً بها اولا..... صغيرة او كبيرة.....الخ. (عالمگيری/ ۱/ ۵۲۹)_

كه چېرته ښځه د درې طلاقو نه پس هم خپل ځان سره ساتي؛ نو د عدت شرعي حكم

سوال: يو سړي خپلې ښځې ته درې طلاقه وركړې، د دېنه پس يې ښځه د خپل خان سره ايساره كړې او تر دوه كالو پورې يو ځاى اوسېدل، د خلكو په ملامتيا هغوى د پاك ژوند تېرولو ته تيار دي، ليكن پوښتنه دا ده چې د ښځې عدت په دې دوه كالو كې پوره شو او كه نه؟ يعنې اوس هغه د دويم سړي سره نكاح كولى شي؟

جواب: د ښځې عدت خو تېر شوى دى، ځكه چې هغوى دواړو د ښځې خاوند تعلق ختم كړى نه دى، د دواړو جدايي اختيارول لازم دى او د جدايى نه پس په ښځه باندې به له سره عدت تېرول ضروري وي[1]، او كله چې عدت پوره شي؛ نو بيا د كوم بل سړي سره نكاح كولى شي. د نكاح نه پس دې د دويم سړي سره كوروالى وكړي، د كوروالي نه پس دويم خاوند خپله طلاق وركړي. يا مړ شي او د دې عدت هم تېر شي؛ نو بيا د لومړي خاوند سره نكاح كولى شي. د دې نه پرته د لومړي خاوند سره د پاك ژوند تيرولو هيڅ طريقه نشته.[2]

كونډه به د مرحوم په كوركې عدت تېروي

سوال: نجلۍ د درې مياشتو حامله ده، په داسې حال كې چې عدت هم نجلۍ د مرحوم په كور كې نه دى تېر كړى بلكې په دريمه ورځ لاړه، د مهر روپۍ هم نجلۍ زما د ورور د مرګ نه پس معاف كړي وې او اوس كه چېرته هغه دا ووايي چې مونږ به دا هم اخلو؛ نو په دې صورت كې مونږ ته څه كول پكار دي؟ د قرآن او سنت په رڼا كې ځواب راكړه!

جواب: د مرحوم ښځې ته د مرحوم په كور كې عدت تيرول لازم دي او د عدت نه مخكې د كور نه وتل سخته ګناه ده، د حاملې عدت وضع حمل دى، مهر كه چېرته هغې په خوشحالى معاف كړى وي؛ نو د هغې دوباره غوښتنه كول ناجائز دي.[3]

---

[1] واذا وطئت المعتدة بشبهة ولو من المطلق وجبت عدة اخرىٰ لتجدد السبب......الخ. قوله بشبهة....... وذلك كالموطوءة للزوج فى العدة بعد الثلاث بنكاح......الخ. (شامى/ ٣/ ٥١٨/ مطلب فى المعتدة بشبهة)

[2] وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة وثنتين فى الامة لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. (عالمگيرى/ ١/ ٤٧٣)۔

[3] على المعتدة ان تعتد فى المنزل الذى يضاف اليها بالسكنى حال وقوع الفرقة والموت، كذا فى الكافى. (عالمگيرى/ ١/ ٥٣٥، ايضاً: اللباب فى شرح الكتاب/ ٢/ ٢٠٥)۔

د زناکارۍ عدت نه وي

سوال: یو سړی او ښځه د ډېرې مودې راهیسې په حرامو کې اخته وو، خلکو ته معلومه شوه؛ نو هغوی دواړو د دوو سړو په موجودګۍ کې نکاح وکړه، د عدت د وقفې هیڅ خیال یې ونه ساتلو، آیا دا درست دي او که نه؟

جواب: نکاح صحیح ده، د زناکارۍ عدت نه وي.[1]

د عدت په دوران کې د ښځې بنګړي وباسل

سوال: که کوم واده کړی سړی وفات شي؛ نو د هغه د ښځې د لاسونو نه بنګړي ویستل کیږي، یا ماتول کیږي، آیا د اسلامي اصولو مطابق دا ترکومه پورې صحیح دي؟ په حدیث کې ددې خبرې څه ذکر شته او که نه؟

جواب: د خاوند د وفات نه پس په ښځه باندې څلور میاشتې او لس ورځې عدت لازم دی[2] او د عدت په دوران کې په دې باندې زینت او ښایست منع دی[3]؛ نو ځکه کالي او بنګړي ویستل پکار دي، البته که چېرته د بنګړو ویستل ممکن وي؛ نو د هغې ماتول غلط دي.

د عدت په دوران کې د ظلم نه بچ کېدلو لپاره ښځه دویم ځای تلی شي

سوال: دیوې ځوانې ښځې خاوند وفات شو، تقریباً یوه جمعه تېره شوه، دغه ښځې د خپل مرحوم خاوند په کور کې د وفات عدت تیروي، لیکن د خاوند د خاندان ځینې خلک دا غوښتنه کوي چې ددې کونډې نکاح د فلاني سره وکړئ! په دې وجه ښځې ته زور ورکوي، په دې صورت کې هغه د خپل مور- پلار کور ته تلی شي؟

جواب: د عدت په ورځو کې د ښځې سره د نکاح هره خبره حرامه ده[4]، ښځې ته ددې خبرې ډیره سخته وېره او خطره وي؛ نو د مور- پلار کور ته تلی شي.[5]

---

[1] جاز نكاح من رآها تزنى وله وطؤها بلا استبراء......الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ٣/ ٥٠) ايضاً: هى تربص يلزم المرأة.......عند زوال النكاح فلا عدة لزنا. وفى الشامية: بل يجوز تزوج المزنى بها وان كانت حاملاً......الخ. (شامى/ ٣/ ٥٠٣/ باب العدة)_

[2] والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجاً يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً. (البقرة: ٢٣٤)_

[3] وعلى المبتوتة والمتوفى عنها زوجها اذا كانت بالغة مسلمة الحداد، والحداد ان تترك الطيب والزينة والكحل والدهن والمطيب وغير المطيب......الخ. (هداية/ ٢/ ٤٢٧)_

[4] والمعتدة تحرم خطبتها وصح التعريض لو معتدة الوفاة....الخ. وفى الشامية: وهٰذا كله فى المبتوتة والمتوفى عنها زوجها......الخ. (شامى/ ٣/ ٥٣٤)_

[5] وتعتدان اى معتدة طلاق وموت فى بيت وجبت فيه ولا يخرجان منه الا ان تخرج او ينهدم المنزل او تخاف او تلف مالها او لا تجد كراء البيت ونحو ذٰلک من الضرورات فتخرج لاقرب موضع اليه..الخ.(شامى/ ٣/٥٣٦)

آيا د عدت په دوران کې ښځه د ضروري کار لپاره عدالت ته تلی شي؟

سوال: يوه ښځه چې په عدت کې ده، عدالت کې غوښتل شوې. په ځينو ضروري سندونو باندې امضاء کول دي، همداراز عدالت کې ددې په حاضرۍ سره ددې او ددې د بچو مالي ګټه هم ده، په داسې صورت کې ددې لپاره شرعي حکم څه دی؟

جواب: ددې ضرورت لپاره عدالت ته تلی شي، ماښام دي کور ته واپس راشي. شپه په دغه کور تېرول ضروري دي.[1]

د عدت په دوران کې وظيفه کول

سوال: که چېرته ښځې ته د عدت په موده کې ښه وظيفه پيدا شي؛ نو هغه شرعي طريقې سره وظيفه کولی شي او که نه؟

جواب: که چېرته د خرچ انتظام نه وي؛ نو مزدوري او وظيفه اجرا کول جائز دي او که د خرچ انتظام وي؛ نو وظيفه کول هم ناجائز دي.[2]

آيا د عدت په دوران کې ښځه د نږدې رشته دار کور ته تلی شي؟

سوال: آيا کونډه د خپل رشته دار کور ته تلی شي، چې د هغې د کور او رشته دار د کور تر منځ يوازې يو ديوال وي او ښځه په عدت کې وي؟

جواب: کونډه د ضرورت په خاطر د ورځې د کوره بهر وتلی شي، مګر شپه به يې په خپل کور کې وي او د ورځې به هم د ډېر سخت ضرورت نه بغير نه ځي.[3]

د عدت نه تېرولو ګناه په چا ده؟

سوال: طلاق ورکولو نه پس يې ښځه د مور کور ته استولې وه، د طلاق نه پس هغې عدت تير نه کړ او نه يې چاته ويلي ؤ چې طلاق شوی دی، د عدت نه تېرولو ګناه به چا باندې وي؟

جواب: د طلاق عدت د خاوند په کور کې د تيرولو حکم دی[4]، ددې مودې ډوډۍ د خاوند په غاړه ده[5]؛ نو ځکه دا د مور کور ته استول ناجائز ؤ، طلاق که چېرته رجعي وي؛ نو ښځه هم

---

[1] المتوفى عنها زوجها تخرج نهاراً وبعض الليل ولا تبيت فى غير منزلها. (عالمگيرى/ ١/ ٥٣٤)_

[2] قال فى الفتح: والحق ان على المفتى ان ينظر فى خصوص الوقائع، فان علم فى واقعة عجز هٰذه المختلعة عن المعيشة ان لم تخرج افتاها بالحل، وان علم قدرتها افتاها بالحرمة....اه. واقره فى النهر والشرنبلالية. (ردالمحتار/ ٣/ ٥٣٥)_

[3] المتوفى عنها زوجها تخرج نهاراً وبعض الليل ولا تبيت فى غير منزلها، كذا فى الهداية. (عالمگيرى/ ١/ ٥٣٤)

[4] اوتعتدان اى معتدة طلاق وموت فى بيت وجبت فيه ولا يخرجان منه الا......الخ. (شامى / ٣/ ٥٣٦)_

[5] اوتجب لمطلقة الرجعى والبائن والفرقة بلا معصية.........النفقة...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

هغسې د خاوند په نکاح کې ده، ددې وجې نه دې ته پکار دي چې ښه زينت وکړي، ددې لپاره چې د خاوند زړه ورته مائل شي او هغه رجوع وکړي.[١]
بائن طلاق او د مرګ په عدت کې ښځې باندې غم کول واجب دي. نه به خوشبو لګوي، نه به ښې جامې اغونديي، نه به تېل لګوي، نه به رانجه اچوي. نه به بې مجبورۍ د خاوند له کوره وځي.[٢]
که چېرته ښځې ددې امورو پابندي ونه کړه: نو ګناه ګاره به وي او د عدت ورځې پوره کېدو سره عدت ختمېږي، تاسو د طلاق نه پس ښځه د مور کور ته استولې وه؛ نو ځکه تاسو هم ګناه ګاره يئ! او که چېرته ښځې د عدت شرائط پوره نه کړه؛ نو هغه هم ګناه ګاره شوه.

❖ د طلاق بېلابېلې مسئلې ❖

....

ترخوپورې چې مېرنۍ مور سره د زوی زنا ثابته نه وي هغه د خاوند لپاره نه ده حرامه

سوال: زيد د خپلې مېرنۍ مور سره زنا وکړه، د زيد د تره ښځې دده ټول حرکات وليدل؛ نو زيد د تره ښځې ته وويل چې ما معاف کړه، آينده به داسې نه کوم او ددې واقعې ذکر چاته ونه کړې، سهار شو د تره ښځې شور جوړ کړ او خبره مشهوره شوه، د محلې يو عالم ته لاړه او ټوله کيسه يې ورته بيان کړه، عالم د محلې د خلکو نه د حالاتو پوښتنه وکړه؛ نو معلومه شوه چې د دوی تعلقات د مور زوی په شان نه وو، عالم د محلې خلک جمع کړه او د زيد د د تره ښځې نه

...بقيه د تيرمخ] والسكنٰى ولكسرة ان طالت المدة. (الردالمحتار مع الدرالمختار/ ٣/ ٦٠٩/ باب النفقة، ايضاً: هداية/ ٢/ ٤٤٣/ طبع شركت علميه ملتان)۔

١]ولا يجب الحداد على الصغيرة والمجنونة الكبيرة.......والمطلقة طلاقاً رجعياً وهٰذا عندنا، كذا فى البدائع. (عالمگيرى/ ١/ ٥٣٤/ الباب الرابع عشر فى الحداد) ايضاً: ولم تؤمر المطلقة بذٰلک (اى الاحداد) لانها تحتاج الى ان تتزين فيرغب زوجها فيها ويكون ذٰلک معونة فى جمع ما افترق من شملها....الخ. (حجة الله البالغة، العدة/ ٢/ ١٤٢/ طبع ادارة الطباعة المنيرية/ بيروت)۔

٢]مسألة: (وجوب الاحداد على المتوفٰى عنها زوجها والمطلقة) قال: وعلى المعتدة المسلمة من الوفاة والطلاق اجتناب الزينة والطيب) وذالک لما روته ام حبيبة وام سلمة وغيرهما عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال: لا يحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر ان تحد على ميت فوق ثلاث الا على زوجها، فانها تحد عليه اربعة اشهر وعشراً، فاوجب عليها الاحداد، والاحداد، الامتناع من الزينة والطيب. (شرح مختصر الطحاوى، للجصاص/ ٥/ ٢٤٤/ طبع بيروت)

يې شهادت وغوښت؛ خو د زيد د تره ښځې د شهادت نه انکار وکړ چې ماته معلومه نه ده، مولانا صاحب د احتياط په خاطر د عمرو (يعني د زيد پلار) ته وويل چې ته خپله ښځه پرېږده، هغه پرېنښوده، آيا دا ښځه د عمرو لپاره جائزه ده يا نه؟ که چېرته جائزه وي: نو صحيح ده او که ناجائزه وي؛ نو د حلالېدو صورت يې څه دی؟

جواب: تر څو پورې چې شرعي شاهد موجود نه وي يا ددې ښځې خاوند يې ونه مني، تر هغه پورې د حرمت فتوی نه ورکول کيږي، د عمرو نکاح به هم هغسې باقي وي، په شکي خبرو سره شرعاً زنا نه ثابتيږي، هوا که چېرته دغه ياد سړي ته معلومه وي؛ نو دياتناً حرمت راځي او که په شرعي شاهدانو يا د خاوند په اقرار سره د زيد ميرنی مور سره زنا ثابته شي؛ نو بيا په عمرو باندې دده ښځه د همېش لپاره حراميږي، په دې صورت کې خاوند ته پکار دي چې ښځه پرېږدي او د پرېښودلو غوره صورت يې دا دی چې ښځې ته په ژبه ووايي چې ما تاته طلاق درکړ او بيا دواړه جدا والی اختيار کړي، يا مسلمان حاکم د ښځې خاوند په منځ کې جدا والی راولي. [١]

د مطلقې ښځې بدل د هغې د اولاد نه اخيستل ګناه ده

سوال: کوم سړي خپلې لومړنۍ ښځې ته طلاق ورکړی او دويم واده وکړي او د لومړنی ښځې نه يې چې کوم اولاد وي د هغوی نه د لومړۍ ښځې انتقام اخلي، يعنې د هغوی د عاق کولو کوشش کوي، آيا داسې کړنه صحيح ده؟

جواب: د مطلقې ښځې انتقام د هغې د اولاد نه اخيستل او اولاد عاق کول دواړه ګناه ده او عاق کولو سره هم د هغې اولاد د ميراث څخه نه محروميږي. [٢]

که چېرته انګور په خسر د زنا دعوه وکړي؛ نو ايا حرمت راځي؟

سوال: که چېرته يوه انګور په خپل خسر د زنا دعوه وکړي، په ده باندې حرمت مصاهرت لازميږي او که نه؟

جواب: که چېرته خاوند ددې تصديق نه کوي؛ نو حرمت مصاهره نه ثابتيږي. [٣]

---

[١] وبحرمة المصاهرة لا يرتفع النكاح حتى لا يحل لها الزوج بآخر الا بعد المتاركة وانقضاء العدة. وفى الشامية: وعبارة الحاوى الا بعد تفريق القاضى اوبعدالمتاركة...الخ. (شامى/ ٣/ ٣٧/ فصل فى المحرمات/طبع سعيدكراچى)

[٢] عن انس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (الدر المنثور للسيوطى/ ٢/ ١٢٨/ بيروت)۔

[٣] رجل قبل امرأة ابيه بشهوة او قبل الأب امرأة ابنه بشهوة وهى مكرهة وانكر الزوج ان يكون بشهوة فالقول قول الزوج وان صدقه الزوج وقعت الفرقة ويجب المهر على الزوج.الخ.[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

آیا زوی د پلار له طرفه مور ته طلاق ورکولی شي؟

سوال: که چېرته په کومه ښځه د زنا الزام وي او د هغې خاوند په دې هېواد کې نه وي او د زنا شاهد هم موجود وي؛ نو آیا دده زوی ته دا حق حاصل شته چې هغه خپلې مور ته د پلار له طرفه طلاق ورکړي؟

جواب: هیڅوک د بل له طرفه طلاق نه شي ورکولی.[۱]

ایا "ستا ږیره د شیطان ږیره ده" ویونکي با ندې ښځه طلاقیږي؟

سوال: دوه سړي په خپل منځ کې په یوه دیني مسئله جنګ کوي او په هغې کې یو سړی دویم سړي ته د غوسې په حالت کې ووایي چې ستا ږیره د شیطان ږیره ده او دا خبره دوه درې ځله تکراروي، دده ښځې ته به طلاق ملاویږي یا نه؟

جواب: ددې سړي دا وینا چې ستا ږیره د شیطان ږیره ده، شرعاً درسته نه ده او دا قول دده ناخوښ قول دی او د ږیرې اهانت دی؛ نو ځکه هغه سخت ګناه ګار شو، ده ته توبه او استغفار کول پکار دی او آینده لپاره د داسې الفاظو استعمالولو نه مکمل ځان ساتل پکار دي، البته دې لفظ سره کفر نه لازمیږي او نه دده په ښځه باندې طلاق واقع کیږي، ځکه چې ددې سړي مقصد د ږیرې توهین نه دی.

د چا په پوښتنه خاوند ووایي چې "ما طلاق ورکړی دی" نو آیا طلاق واقع کیږي؟

سوال: زما خاوند به په هره خبره زه وېرولم او دا به یې راته ویل: چې زه به تا ته طلاق درکړم او دویم واده به وکړم، دا جمله به هغه تقریباً یو لک ځل ویلې وي، هر وخت د هغه دغه تکیه کلام ؤ، ددې نه پس هغه زه د مور کورته واستولم او خلکو ته یې ویناوي کولې چې ما طلاق ورکړی دی، معامله مي ختمه کړې ده، یو دوه ځایونو کې داسې هم وشو چې چا پوښتنه وکړه چې ته څه غواړې؟ نو هغه وویل طلاق، هغه ما واپس نه غواړي او طلاق راکول غواړي، لیکن د هغه دا کوشش دی چې زه د طلاق مطالبه وکړم، ددې لپاره چې ما ته مهر معاف کړي او د مهر ادا کولو نه بغیر د هغه خواهش پوره شي.

...بقیه د تیرمخ] (عالمگیری/ ۱/۲۷۶/ طبع رشیدیه) ایضاً: وان ادعت الشهوة......وانکرها الرجل فهو مصدق لاهی. (الدرالمختار، فصل فی المحرمات/ ۳/ ۳۷/ طبع سعید)۔

[۱] کما فی شرح التنویر: واهله زوج عاقل بالغ مستیقظ. وفی الشامیة: احترز بالزوج عن سید العبد ووالد الصغیر. (شامی/ ۳/ ۲۳۰/ کتاب الطلاق/ طبع ایچ ایم سعید)۔

جواب: که چېرته د چا په پوښتنه خاوند ووايي چې ما طلاق درکړ، ته په دې سره طلاق کيږي[1]، تاسو د خپل خاوند خلاف په عدالت کې دعوه وکړئ او د شهادتونو په ذريعه ثابته کړئ چې د فلانکي فلانکي په مخ کې ده د طلاق الفاظ ويلي. عدالت به د شهادتونو اورېدلو نه پس د طلاق فيصله وکړي او ستا مهر به هم درکړي.

د نکاح او د طلاق شرعي حکمونو ته د جهالت روايت ويونکي څه حکم دی؟

سوال: د اختر نه پس د سختې غوسې په حالت کې خاوند ماته په صفا- صفا الفاظو کې داسې وويل: زما له طرفه تاته طلاق، طلاق، طلاق، ته د نن نه زما د مور برابر يې. کله چې غوسه ختمه شوه: نو د غوسې په حالت کې يې وويل: طلاق نه واقع کيږي، د دې لپاره باقاعده درخواست ورکول وي؛ نو بيا طلاق واقع کيږي، ما د خپل يوه همسايه نه پوښتنه وکړه نو هغه وويل اوس خو تاته طلاق شوی دی، ليکن خاوند يې نه مني، ما ورته قرآن شريف او جنتي کالی وښود؛ نو هغه نعوذبالله بدې ردې شروع کړې چې دا خو د جهالت د وخت روايتونه دي، اوس خو تعليم يافته معاشره ده په دې باندې څوک عمل نه کوي، هسې خو زما په قرآن شريف او حديث باندې پوره پوره ايمان دی، ليکن دا سړی ما په زوره د ګناه په ژوند تېرولو مجبوره کوي، ليکن زه به انشاء الله د انجام د پروا نه بغير داسې نه کوم اګر که زما حالت هر ډول وي.

جواب: طلاق په غوسه کې ورکول کيږي، په خندا او خوشحالۍ کې طلاق څوک ورکوي؟ د غوسې په حالت کې طلاق واقع کيږي[2] او ژبې طلاق ورکولو سره هم طلاق واقع کيږي[3]، د دې سړي دا وينا چې دا خو د جهالت د وخت روايتونه دي د کفر کلمه ده[4]، د دې سړي ته د خپل ايمان تازه کول پکار دي.[5]

---

[1] ولو قيل له طلقت امرأتک فقال: نعم او بلی بالهجاء طلقت، بحر. (الدرالمختار مع الرد المحتار/ ٣/ ٢٤٩، باب الصريح/ طبع ايچ ايم سعيد کمپنی)۔

[2] ويقع طلاق من غضب.......الخ. (شامی/٣ /٢٤٤/ طبع ايچ ايم سعيد) ايضاً: ورده ابن السيد فقال: لو کان کذٰلک لم يقع علی احد طلاق، لأن احداً لا يطلق حتی يغضب. (بذل المجهود، کتاب الطلاق، باب فی الطلاق علی الغيظ/ ٣/ ٢٧٦)۔

[3] ورکنه لفظ مخصوص هو ما جعل دلالة علی معنی الطلاق من صريح او کناية.....واوراد اللفظ ولو حکما ليدخل الکتابة المستبينة......الخ. (شامی/٣ / ٢٣٠/ کتاب الطلاق/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

[4] رجل عرض عليه خصمه فتوی الأئمة فردها وقال: چه يار نامه فتوی اورده، قيل يکفر لانه رد حکم الشرع، وکذا لولم يقل شيئاً لکن القی الفتویٰ علي الارض وقال:اين چه شرع است،کفر(عالمگيری ٢/ ٢٧٢/طبع رشيديه)

[5] ما يکون کفراً اتفاقاً يبطل العمل والنکاح. (شامی/ ٤/ ٢٤٧/ باب المرتد/ طبع ايچ ايم سعيد/کراچی)۔

تاسو دده لپاره بالکل حرام شوې يئ[1] دده نه جدا والی اختيار کړه!

❖ د بچو د تربيې حق ❖

د بچي سره د ملاوېدلو اجازت نه ورکول ظلم دی

سوال: زيد خپلې ښځې ته طلاق ورکړ، د دوی يو بچی هم ده چې د هغې عمر تقريباً دوه کاله دی چې د خپلې مور سره د نيا په کور کې ده، زيد خپلې مطلقې ته د عدت د ورځو خرچې هم ورکړي دي، همدا راز د بچي د تربيې او پالنې خرچې هم هغه ډير ځله ورلېږلي دي، چې د ماشوم مور يې نه وصول کوي، زيد د خپلې بچي سره ملاوېدل غواړي؛ خو د ماشوم مور او د ماشوم نيا ماشوم د خپل پلار سره ملاوېدو ته نه پرېږدي؛ نو په شريعت کې ددې لپاره څه حکم دی؟ آيا زيد د خپل ماشوم سره ملاوېدی شي يا نه؟

جواب: پلار د خپل زوی سره چې کله غواړي ملاوېدی شي، هغه سره يې ماشوم ملاوېدو ته نه پرېښودل ظلم دی[2]، غالباً هغوی ته به دا خطره وي چې پلار ماشوم بونه ځي او د مور نه يې جدا نکړي، که چېرته داسې خطره وي؛ نو ددې خطرې تدارک پکار دی.

د بچو د پالنې حق

سوال: ما خپلې ښځې ته د خلاف شريعت کارونو له وجې طلاق ورکړی، الفاظ مې داسې ادا کړه، ما خپلې ښځې ته طلاق ورکړ دا جمله مې درې ځله تکرار کړې وه، آيا دا طلاق شوی دی؟ ما ته د خپلې ښځې مهر په څو ورځو کې دننه ادا کول پکار دي؟ زما کم عمره زوی لور يو د يو نيم کال او يو د يو کال د هغې سره دی، هغه دا ماشومان تر څومره مودې پورې د خپل ځان سره اوسولی شي؟ آيا ما ته به د بچو خرچې ورکول وي؟

جواب: ستا ښځه د نکاح نه ووتله، نکاح ماته شوه، ښځه حرامه شوه، اوس د دوباره رجوع يا د تجديد نکاح هيڅ صورت نشته[3]، مهر واجب دی زرترزره يې ادا کول پکار دي[4] بچو لره

١]وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة وثنتين فى الأمة لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره...الخ (عالمگيرى/ ١/ ٤٧٣)

٢]واذا ارادت المطلقة ان تخرج بولدها من المصر فليس لها ذلک لما فيه من الاضرار بالاب......الخ. (هندية/ ٢/ ٤٣٦/ طبع شركت علميه ملتان، ايضاً: عالمگيرى/ ١/ ٥٤٣/ فصل مكان الحضانة مكان الزوجين)۔

٣]وان كان الطلاق ثلاثاً فى الحرة وثنتين فى الامة لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها. (عالمگيرى/ ١/ ٤٧٣)_

٤]ويتأكد عند وطء او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما......الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ٣/ ١٠٢)۔

مور د خپل ځان سره د هغوی تر ځوانی پورې (یعنې نهو کالو پورې) ایسارولی شي[1]، البته که چېرته د مور اخلاقي حالت خراب وي یا هغه بچی په غیرمحارمو کې نکاح کوي؛ نو د هغې حق د پالنې به ساقط شي[2]، د پالنې خرچه به په هر حال د پلار په ذمه وي.[3]

بچی به تر اووه کالو پورې د مور سره وي

سوال: د طلاق په صورت کې د بچو د پرورش ذمه داري په چا ده؟

جواب: د طلاق نه پس به بچی تر اووه کلنی پورې د خپلې مور سره اوسیږي، د دېنه پس یې د بچي پلار اخیستلی شي[4] او نجلۍ به تر پېغلتوب پورې د خپلې مور سره وي، د ځوانېدو نه پس یې پلار اخیستلی شي[5]، د نکاح کولو اختیار پلار ته دی او که چېرته د فساد خطره وي؛ نو پلار بچي د نهو کالو نه پس اخیستلی شي.[6]

❖ د ډوډۍ خرچه ❖

هغه ښځه چې بې وجې د مور پلار کره لاړه شي په خاوند یې خرچه نشته

سوال: زما ښځه د اوه میاشتو راهیسې د خپل مور پلار کور ته تللې او خفه ده، زه هره میاشت هغې او بچو ته خرچې استوم، زه دا سوچ کوم چې اخر تر څو پورې به زه هغې ته خرچې ته استوم، ځکه چې هغوی ته نه زما فکر شته او نه د نجلۍ مور او پلار دا فکر کوي چې خپله

---

[1] اوالام والجدة لام او لاب احق بها بالصغيرة حتى تحيض اى تبلغ فى ظاهر الرواية......وقدر بتسع وبه يفتى. وفى الشامية: قال فى البحر بعد نقل تصحيحه والحاصل ان الفتوىٰ على خلاف ظاهر الرواية. (ردالمحتار على الدرالمختار/ باب الحضانة/ ٣/ ٥٦٦، ٥٦٧)۔

[2] اوالحضانة يسقط حقها بنكاح غير محرمه اى الصغير......لما فى القنية: لو تزوجت الام بآخر فامسكته ام الام فى بيت الاب فللأب اخذه. (درمختار / ٣/ ٥٦٥). ايضاً: وانما يبطل حق الحضانة لهؤلاء النسوة بالتزوج اذا تزوجن باجنبى......الخ. (فتاوىٰ عالمگيرى، كتاب الطلاق، الباب السادس عشر فى الحضانة/ ١/ ٥٤١)۔

[3] ونفقة اولاد الصغار على الاب لا يشاركه فى نفقة الزوجة لقوله تعالى: وعلى المولود له رزقهن، والمولود له الاب. (الهداية/ ٢/ ٤٤٤/ طبع ملتان)۔

[4] اوالحاضنة اما او غيرها احق به اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء وقدر بسبع وبه يفتى لانه الغالب. (الدرالمختار مع الرد/ ٣/ ٥٦٦)۔

[5] اوالام والجدة لام او لاب احق بها بالصغيرة حتى تحيض اى تبلغ فى ظاهر الرواية......وغيرهما احق بها حتى تشتهى وقدر بتسع وبه يفتى......وعن محمد ان الحكم فى الام والجدة كذٰلك وبه يفتى لكثرة الفساد. (الدرالمختارمع الرد/ ٣/ ٥٦٧)۔

[6] ابلغت الجارية مبلغ النساء ان بكر ضمها الاب الى نفسه......الخ. (درمختار/ باب الحضانة/ ٣/ ٥٦٨)۔

لور خاوند ته راولیږي، پوښتنه دا ده چې آیا په ما باندې فرض دي چې هره میاشت به دوی ته خرچه استوم؟

جواب: ښځه د خاوند نه د خرچو او ډوډۍ خوړلو تر هغه پورې حقداره ده تر څو پورې چې هغه د خاوند په کور کې اباده وي، که چېرته هغه د خاوند د اجازې نه بغیر بې وجې د خپل مور په کور کې اوسېږي؛ نو هغه شرعاً نافرمانه (ناشزه) ګڼل کیږي او د ناشزې خرچې په خاوند نشته[۱]

د بچي خرچې

سوال: خاوند خپلې ښځې ته طلاق ورکړ، د ښځې په وینا زوی چې د طلاق په وخت کې د پنځو میاشتو ؤ. ښځې ته حواله شو، اوس چې کله ماشوم د شپږو کالو شو: نو خاوند وویل چې بچی ماته راکړه، په هغه باندې ښځې دوسیه وکړه یا خو به بچی زما سره وي یا دا چې ماته د شپږو کالو د ماشوم د پالنې خرچې راکړه، چې شل زره روپی دي، آیا د پلار په ذمه د تېرو شوو کلونو خرچې ورکول لازم دي؟ حال دا چې ښځې دویم واده هم کړی دی.

جواب: د بچي خرچې په پلار دي، دده فرض دي چې د بچي خرچې پوره ادا کړي او که چېرته ده نه وي ادا کړي؛ نو د ماشوم مور يې د اخیستلو اجازه لري.[۲]

د مطلقې ښځې لپاره په عدت کې خوراک او اوسېدنه د چا په ذمه ده؟

سوال: مطلقه ښځه د ډوډۍ، خوراک، جوړې، مکان او علاج لپاره څومره روپۍ حق لري؟ آیا د پلار کورنۍ ددې قضیې تصفیه کولی شي؟

جواب: مطلقې ښځې ته د طلاق ورکونکي په کور کې عدت تېرول لازم دي[۳] او د عدت تر پوره کېدو پورې طلاق ورکونکی ددې د اوسېدو او نان نفقې حقدار دی[۴] او ددې د مقدار

---

[۱] لا نفقة لاحد عشر: مرتدة، ومقبلة ابنه وخارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة حتى تعود. (الدرالمختار، باب النفقة/ ۳/ ۵۷۶/ طبع سعيد). وايضاً: وان نشزت فلا نفقة لها حتى تعود الى منزله.....الخ. (عالمگیری/ الباب السابع عشر فى النفقات/ ۱/ ۵۴۵، ایضاً: البحرالرائق/ ۴/ ۲۰۳/ باب النفقة/ طبع بيروت)۔

[۲] ونفقة اولاد الصغار على الاب.......لقوله تعالى: وعلى المولود له رزقهن، والمولود له الاب......الخ. (هداية/ ۲/ ۴۴۴/ طبع ملتان).خوکه د پلار په رضا یا د قاضی په حکم باندې ئې خرچ کړې دې نو دمطالبې حق شته ګنی نشته،اوګوریٔ: کفاية المفتى ج۲، ص۴۲۵،طبع دارالاشاعت کراچی)

[۳] وتعتد اى معتدة طلاق وموت فى بيت وجبت فيه ولا يخرجان منه.......الخ. وفى الشامية: هو ما يضاف اليها بالسكنى قبل الفرقة ولو غير بيت الزوج........الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ۳/ ۵۳۶/ مطلب الحق ان على المفتى ان ينظر فى خصوص الوقائع، فصل فى الحداد)۔

[۴] المعتدة عن الطلاق تستحق النفقة والسكنى كان الطلاق رجعياً او بائناً او ثلاثاً حاملاً كانت المرأة او لم تكن، كذا فى فتاوى قاضيخان. (عالمگیری/ ۱/ ۵۵۷/ طبع رشيديه كوئته)۔

تعین د سړي د برداشت پورې اړه لري

طلاق ورکوونکی به مطلقې ته څه ورکوي او بچي به چا سره وي؟

سوال: د ښځې خاوند تر منځ په طلاق سره جدايي راغله. د هغوی يو بچی دی چې تقريباً د يو کال دی، هغه به د چا سره اوسيږي؟ د دېنه علاوه خاوند به ښځې ته څه ورکوي؟

جواب: ياد صورت کې په خاوند باندې پوره مهر ادا کول لازم دي[1]. (که چېرته يې مخکې نه وي ادا کړی يا ورته ښځې نه وي معاف کړی) ددې نه علاوه مطلقې ته يوه جوړه جامې ورکول مستحب دي[2] او د عدت په دوران کې د ډوډۍ خرچه هم په خاوند ده[3]. ددې نه علاوه د خاوند په ذمه هيڅ شی نشته، بچی به تر اوه کالو پورې د خپلې مور سره اوسيږي. د اوه کالو نه پس پلار هغه اخيستی شي او نجلی به تر ځوانېدو پورې د خپلې مور سره وي ددېنه پس به د پلار سره وي[4]

د ښځې او خپلوانو خرچې

سوال: د ښځې او خاوند رشته د فقهې له مخې جدي ده که رحمي؟ په وضاحت سره مو يوه کړئ! د جدي او رحمي رشتې په طرفينو باندې څه حقوق دي؟ د سړي د مياشتې ګټه د هغه ټول مال دی، د اوسني دور ښځې د ټول مال حقداره او د ټولو اختياراتو ځان مالکه ګڼي، خاوند د هغه د جدي حقوقو په تکميل کې مختلفو طريقو سره موانع دروي، چې د هغې په وجه سړی سخت ګناه ګاريږي، د حنفي فقه په رڼا کې پوره وضاحت وکړئ چې د خاوند د مياشتې د ګټې وارثان د جدي رشتې نه عمر خوړلې مور- پلار - حقيقي خور - ورور ناواده کړي دي، يا ددې په ځای د رحمي رشتې د ښځې مور- پلار او د هغوی اولاد دي؟

جواب: د ښځې خاوند رشته نه جدي ده او نه رحمي، د دواړو نه جدا د ښځې خاوند رشته

---

[1] اولى الدرالمختار: وتجب (اى المهر)......عند وطى او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما، او تزوج فى العدة. وفى الشامية: واذا تأكد المهر بما ذكر لا يسقط بعد ذالک وان كانت الفرقة من قبلها، لان البدل بعد تاكده لا يحتمل السقوط الا بالابراء. (ردالمحتار على الدرالمختار/ ۳/ ۱۰۲/ كتاب النكاح/ باب المهر، ايضاً: عالمگيرى/ ۱/ ۳۰۳/ كتاب النكاح/ طبع رشيديه/ كوئته)۔

[2] ولتستحب المتعة لكل مطلقة....الخ. (هداية/ ۲/ ۳۲۶/ طبع شركت علميه ملتان)۔

[3] واذا طلق الرجل امرأته فلها النفقة والسكنى فى عدتها رجعياً كان او بائناً. (هداية، كتاب الطلاق، باب النفقة/ ۲/ ۴۴۳/ طبع مكتبه شركت علميه ملتان، ايضاً: البحرالرائق/ ۴/ ۱۶/ طبع بيروت)۔

[4] والحضانة اما او غيرها احق به اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء وقدر بسبع وبه يفتى لانه الغالب....... والام والجدة.......(احق بها) بالصغيرة حتى تحيض اى تبلغ فى ظاهرا لرواية.....الخ. (الدرالمختار/ ۳/ ۵۶۶)

ده، د خاوند په ذمه باندې د ښځې د ډوډۍ او اوسېدو حق دی[۱] او د نورو د اهل قرابت حقوق هم د سړي په ذمه دي[۲]، که څېرته ښځه ددې حقوقو د ادا کولو نه منع کوي؛ نو دا د هغې بې دیني ده، حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله دیو لویې درجې امام محدث فقیه او مجاهد دی، هغه به فرمایل چې د ښځو هغه فتنه چې د هغې نه نبي کریم ﷺ وېره کړې ده، دا ده چې هغه د خپل خاوند لپاره د قطع رحمی سبب جوړیږي او هغه رسوا کار ته اړ کوي؛ نو ځکه چې د کومې ښځې خاوند د هغې د ډوډۍ او اوسېدو حقوق ادا کوي د هغې لپاره قطعاً ناجائز دي چې هغه د خپل مور- پلار او خپلوانو د مالي خدمت نه ایسار کړي، پاتې شو د عزیزانو د حقوقو تعین؛ نو دا مسئله پوره تفصیل غواړي، ددې اصل او ضابطه زه بیانول غواړم، که څېرته مور- پلار یا نور رشته داران خپله مالداره وي؛ نو د هغوی مالي کفالت ستا په ذمه نه دی او که هغوی ناداره وي؛ نو د هغوی د کفالت حصه په هغه خلکو راځي چې د دوی د مرګ نه پس وارثان وي، مثلاً ستاسو څوک عزیز غریب وي؛ نو دا کتل پکار دي چې خدای مکړه دده وفات وشي؛ نو د هغه د میراث څومره برخه به تاته ملاوېږي؟ بس د هغه د مصارفو هم هغومره برخه ستا په ذمه واجب ده[۳] او ددېنه زیاته مرسته د هغوی سره کول احسان دی.

❖ د کورنیو شخړو قوانین ❖

....

د کورنیو شخړو قوانینو خلاف کولو ګناه په چا ده؟

سوال: د یو سوال په ځواب کې تاسو ویلي ؤ چې د ایوب خان (د پاکستان پخوانی ولسمشر) د کورنیو شخړو د قانون ادارې مشر ته د طلاق خبر ورکول ضروري دي او خاوند د درې طلاقو نه پس هم د خپلې ښځې سره د ادارې د مشر په ذریعه سوله کولی شي، حال دا چې د درې طلاقو نه پس د سولې کولو هیڅ ګنجایش نه پاتې کیږي، که څېرته د سولې کولو هیڅ ګنجایش نه پاتې وي؛ نو بیا زمونږ په هېواد کې دا غیر اسلامي قانون ولې نافذ شوی دی؟ موجوده دور کې اداري مشران هم شتون لري، یقیناً په دې قانون باندې به عمل هم کیږي او

---

[۱] النفقة واجبة للزوجة على زوجها مسلمة كانت او كافرة اذا سلمت نفسها الى منزله فعليه نفقتها وكسوتها وسكناها.....الخ. (هداية/ كتاب الطلاق/ باب النفقة/ ٢/ ٤٣٧/ طبع مكتبه شركت علميه ملتان).

[۲] وعلى الرجل ان ينفق على ابويه واجداده وجداته اذا كانوا فقراء وان خالفوه فى دينه.....الخ. (الهداية/ كتاب الطلاق/ باب النفقة/ ٢/ ٤٤٥، ايضاً: البحرالرائق/ ٤/ ٢٢٣/ طبع بيروت).

[۳] ويجب ذلک على مقدار الميراث ويجبر عليه لان التنصيص على الوارث تنبيه على اعتبار المقدار. (الهداية/ كتاب الطلاق، باب النفقة/ ٢/ ٤٤٧).

ډېرې خلک د قانون په سوري کې د ګناه ژوند تېرولو ته اماده دي، د دې ګناه ذمه دار به څوک وي؟ آیا په مونږ به یې ذمه داري نه عائد کیږي چې د دې قانون د نفاذ او د دې مقصد جائز کولو لپاره یا په اسلامي لباس کې دې قانون ته جائز وو وایو. یا یې ختم کړئ! تر کوم حده پورې چې زما د رایې اندازه ده نو د ایوب خان (د پاکستان پخواني ولسمشر) د کورنیو شخړو د قانون اداري صرف یو مقصد ذهن ته راځي او هغه دا چې د طلاق د زیاتوالي کچه راټیټه شي. ځکه چې یقیناً دا یو بد لعنت دی لیکن د بدو خاتمه په بدو سره کول څه د عقل کار نه دی!! که چېرته د کورنیو شخړو د قانون اداري د نفاذ مطلب د طلاق د زیاتوالي کچه ټیټول وي؛ نو آیا دا داسې نه شو نافذ کولی چې هر سړی د دې خبرې پابند شي چې هغه خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو نه مخکې د اداري مشر خبر کړي، د دې لپاره چې د طلاق ورکولو وجوهات معلومولو سره په دواړو ډلو کې د سولې زیار وشي، یقیناً دغه راز د طلاق د زیاتوالي کچه کمېدی شي.

جواب: ستاسو ډېره مناسبه رایه ده، په اصل کې د عالمانو له طرفه به ایوب خان (د پاکستان پخواني ولسمشر) ته به هم ښایسته - ښایسته رایې وړاندې کېدلې، اوسني حکومت ته به هم پېش شوي وي، لیکن دا زمونږ بدقسمتي ده چې د کورنیو شخړو قانون د اسلامي حکمونو د نسخ کولو لپاره جوړ شوی دی، تر اوسه پورې په پاکستان باندې مسلط دی، بلکې د شرعي عدالت د اختیار نه هم وتلی دی او دا ده چې د هندوستان کافر حکومت د مسلمانانو د کورنیو شخړو د لرې کولو قانوني اداري د نسخ کولو جرات ونه کړی شو، لیکن پاکستان کې د خپلو مسلمانانو د لاسه د اسلامي قوانینو خاوره مرداره شوې ده، اوس دا د پارلماني غړو وظیفه ده چې هغوی د الله د غضب نه وویرېږي او د دې خلاف قانون ته د پای ټکی کیږدي.

د خلع شرعي حیثیت او زمونږ عدالتي وظیفه

سوال: تاسو په ۱۲ اګست ۱۹۹۴ء کې په اسلامي پاڼې اقراء کې لیکلي وو چې د خلع لپاره د ښځې- خاوند د خوښې نه بغیر د خلعې سند ورکړي؛ نو خلعه نه کیږي او د ښځې لپاره به په دویم ځای کې نکاح کول هم صحیح نه وي.

د ۲ستمبر ۱۹۹۴ء جنګ ورځپاڼه کې یوې ښځې حلیمه اسحاق ستاسو د مسئلې په دلایلو رد کړی ؤ چې ښځه خپله خلع اخیستلی شي او عدالت هم د خاوند د خوښې بغیر خلع ورکولی شي، درې جمعې وروسته د ۲۳ ستمبر اسلامي پاڼه کې تاسو دوباره هم هغه مسئله ولیکله لیکن د دې مضمون هیڅ ځواب نه وو.

مولانا صاحب د دې مضمون نه ډېر خلک په شک کې دی او هغوی پوهیږي چې حلیمه اسحاق د قرآن او سنت په دلایلو مسئله لیکلې ده، مګر تاسو د دې دلایلو هیڅ ځواب ورنه کړ، مهرباني وکړئ د دلایلو په رڼا کې د مسئلې وضاحت وکړئ او د بې شماره خلکو د ذهن نه شک لرې کړئ!

جواب: د محترمه حليمه اسحاق صاحبه مضمون خپرېدو باندې ډېرو خلکو خطونه راولېږل او تيليفوني اړيکې يې ونيولې، ما هغوی ته ځواب ورکړی او د مسئلې وضاحت مې هم دوباره خپور کړی دی، ليکن د محترمې حليمې د مضمون سره مې تعرض کول مناسب ونه ګڼل، ځکه چې د نامحرمې ښځې نوم اخيستلو کې شرم او حيا يو طبعي شی دی. دا لاځه چې د يوې ښځې په رد کې قلم پورته کړم، که چېرته محترمې دا مضمون د خپل پلار يا خاوند يا د ورور په نوم خپور کړی وی؛ نو د هغې په رد کې به دا طبعي پرده بيا نه وه. بهر حال چونکې ددې مضمون نه ډېر خلک په غلطه پوه شوي دي؛ نو ځکه دا وضاحت کول ضروري دي چې محترمې هر څه چې ليکلي دي هغه شرعي مسئله نه ده، بلکې ددې ذاتي رايه او ددې خپل اجتهاد دی. ځکه ټول فقهاء په دې مسئله کې متفق دي چې خلع يو داسې معامله (عقد) ده چې د ښځې خاوند په خوښې پورې تړلې ده.

د حوالې لپاره وګورئ!

حنفي فقه: [١] السرخسي رحمه الله: مبسوط ص ١٧٣ ج ٦ –الكاساني: بدائع الصنائع ص ١٤٥ ج ٣. ابن عابدين شامي: حاشيه درمختار ص ٤٤١ ج ٣– عالمگيري ص ٤٨٨ ج ١)۔

شافعي فقه: [٢] امام شافعي رحمه الله: كتاب الام ص ٢١٤ ج ٥، ايضاً ص ٢١٣ ج ٥، ايضاً ص ٢١٢ ج ٥ ايضاً ص ٢٠٨ ج ٥ –نووى: شرح مهذب ص ٣ ج ١٧)۔

مالكي فقه: [٣] ابن رشد رحمه الله: بداية المجتهد ص ٥١ ج ٢، قرطبى: الجامع لاحكام القرآن ص ١٢٥ ج ٣)۔

---

[١] والخلع جائز عند السلطان وغيره لانه عقد يعتمد التراضى كسائر العقود وهو بمنزلة الطلاق بعوض وللزوج ولاية ايقاع الطلاق ولها ولاية التزام العوض. (السرخسي: المبسوط/ ٦/ ١٧٣ ضاً: بدائع الصنائع للكاسانى/ ٣/ ١٤٥/ طبع سعيد، فتاوي شامي/ ٣/ ٤٤١ طبع سعيد، عالمگيري/ ١/ ٤٨٨/ طبع بلوچستان)۔

[٢] وروى ان جميلة بنت سهل كانت تحت ثابت بن قيس بن الشماس وكان يضربها فاتت الى النبى صلى الله عليه وسلم وقالت: لا انا ولا ثابت وما اعطانى، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خذ منها، فاخذ منها فقعدت فى بيتها، وان لم تكره منها شيئاً وتراضيا على الخلع من غير سبب جاز.....ولأنه رفع عقد بالتراضى جعل لدفع الضرر فجاز من غير ضرر كاقالة فى البيع.....الخ. (المجموع شرح المهذب للنووى/ ١٧/ ٣/ كتاب الخلع/ طبع بيروت)۔

[٣] فان الجمهور على ان الخلع جائز مع التراضى اذا لم يكن سبب رضاها بما تعطيه اضراره لها. (بداية المجتهد/ ٢/ ٥١/ الباب الثالث فى الخلع، الفصل الثانى فى شروط وقوعه طبع المكتبة العلمية لاهور، الجامع لأحكام القرآن للقرطبى/ ٣/ ١٢٥/ طبع بيروت)۔

حنبلي فقه: [۱] ابن قیم: زاد المعاد ص ۱۹۶ ج ۵، ابن قدامه: المغنی ص ۱۷۴ ج ۸۳.
ظاهري فقه: [۲] ابن حزم: المحلی ج ۱۰ ص ۲۳۵، ص ۸۸.
لهذا شرعاً د خلعې لپاره د ښځې خاوند دواړو رضا لازمه ده. د ښځې د رضا نه بغیر یې خاوند مجبوره کولی هم نه شي او نه د خاوند د رضا بغیر ښځه خلع حاصلولی شي. هم د غسې عدالت هم د ښځې خاوند دواړو په رضا خو د خلع حکم کولی شي، لیکن که چېرته هغوی دواړه یا په هغوی کې یو راضي نه وي؛ نو یو عدالت هم د خلعې د فیصلې ورکولو اجازه نه لري.
ددې شرعي مسئلې خلاف د محترمه حلیمه اسحاق دا وینا بالکل غلطه او قطعاً بې ځایه ده چې د قرآن او سنتو په رڼا کې د خلعې لپاره د خاوند اجازه ضروري نه ده. د هوښیار سړي په نزد د محترمې ددې رایې غلطي ډېره واضحه ده. ځکه چې دا رایه د ټولو اکابرو مجتهدینو رحمهم الله خلاف ده. لهذا ددې رایې صحیح منلو نه وړاندې مونږ ته دا فرض کول دي چې د تیرو شوو سوونو کلونو ټول امامان، مجتهدین او اکابر اهل فتوی نه په قرآن پوه شوي او نه په سنتو، قرآن او سنت په لومړي ځل محترمه حلیمه اسحاق ته معلوم شو. د کوم سړي داسې ذاتي رایه چې د امت د اجماع خلاف وي د هغې د غلط او باطلېدلو لپاره د بل دلیل ضرورت نشته، ددې رایې خلاف اجماع کېدل هم ددې د باطلېدلو لپاره پوره دي.
مګر د دور حاضر اهل قلم شاید خپل ځان به د امام ابوحنیفه رحمه الله او د امام شافعي رحمه الله نه کم نه ګڼي، نو ځکه ضروري شوه چې د محترمې په دلایلو یو نظر واچول شي، محترمې د خپلې دعوې د ثبوت لپاره د سورة البقره آیت ۲۲۹ حواله ورکړې ده، مګر دا آیت د محترمې خلاف دی؛ نو ځکه هغې خو نه د آیت پوره متن ولیکلو او نه یې د ترجمې نقل کولو زیار وکړ او نه یې ددې خبرې وضاحت وکړ چې هغې ددې آیت نه دا خطرناکه دعوه څنګه راویستلې چې:

---

[۱] وفی تسمیته سبحانه الخلع فدیةً، دلیل علی ان فیه معنی المعاوضة ولهٰذا اعتبر فیه رضی الزوجین. (زاد المعاد: ۵/ ۱۹۶/ حکم رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الخلع طبع مکتبة الحضارة الاسلامیة) ایضاً: ولانه معاوضة فلم یفتقر الی السلطان کالبیع والنکاح ولانه قطع عقد بالتراضی اشبه الاقالة. (المغنی/ ۸/ ۱۷۴/ طبع بیروت)
[۲] الخلع وهو الافتداء اذا کرهت المرأة زوجها فخافت ان لا توفیه حقه او خافت ان یبغضها فلا یوفیها حقها فلها ان تفتدی منه ویطلقها ان رضی هو والا لم یجبر وهو ولا اجبرت هی، انما یجوز بتراضیهما ولا یحل الافتداء الا باحد الوجهین المذکورین او اجتماعهما فان وقع بغیرهما فهو باطل ویرید علیهما ما اخذ منها وهی امراته کما کانت ویبطل طلاقه ویمنع من ظلمها فقط. (المحلی لابن حزم/ ۱۰/ ۲۳۵/ الخلع طبع منشورات دار الآفاق الجدیدة بیروت). ایضاً ابو محمد: لیس فی الآیة ولا فی شیء من السنن للحکمین ان یفرقا ولا ان ذٰلک للحاکم. (ایضاً المحلی/ ۱۰/ ۸۸).

د خلعې لپاره د خاوند اجازه یا مرضي ضروري نه ده

مناسبه به وي چې د محترمې د غلط فهمی د اصلاح لپاره د آیت مستنده ترجمه نقل شي، د دې نه پس ویونکو ته د آیت په مضمون باندې د غور او فکر دعوت ورکول شي، د دې لپاره چې ویونکی معلوم کړي چې آیا دا آیت د محترمې حلیمې د دعوې تائید کوي که د هغې نفی کوي؟

د حضرت مولانا اشرف علي تهانوی رحمه الله تفسیر (بیان القرآن) کې د آیت شریف[1] تشریحي ترجمه لاندې لیکل شوې ده:

ستاسو لپاره دا خبره حلاله نه ده چې (د ښځو د پرېښودو په وخت کې د هغوی نه) څه هم واخلئ (ګویا هغه اخیستلی شوی) په هغه (مال) کې (ولې نه وي) چې هم تاسو (هغه) هغوی ته (په مهر کې) ورکړی وي، مګر (په یو صورت کې البته حلال دی چې هغه) دا دی (کوم یو) ښځه خاوند (چې داسې وي) دواړو ته احتمال وي چې د الله ضابطې به (چې د الله له طرفه د حقوق زوجیت دي) قائم نه کړی شي، سهوا که که چېرته تاسو خلکو ته (یعنې ښځې خاوند ته) دا احتمال وي چې هغوی دواړه د الله ضابطې به قائم نه کړی شي؛ نو په دواړو به هیڅ ګناه نه وي د هغه (مال په اخیستلو او ورکولو) کې چې د هغې په ورکولو ښځه خپل ځان خلاصه کړي.

حضرت تهانوي رحمه الله : بیان القرآن مخ: ۱۳۳ ټوک: ۱ - چاپ ایچ ایم سعید کمپني کراچی)

د دې آیت د مضمون خلاصه دا ده:

۱: که چېرته کوم خاوند خپلې ښځه پرېښودل غواړي؛ نو د ښځې نه څه مال اخیستل د ده لپاره حلال نه دي، خواه که هغه مال د خاوند له طرفه ولې نه وي ورکول شوی!!

۲: صرف یو صورت داسې دی چې په هغې کې د خاوند لپاره د ښځې نه معاوضه اخیستل حلال دي، هغه دا چې ښځه خاوند دواړه د الله تعالی مقرر شوې ضابطې نه شي پوره کولی.

۳: پس که چېرته داسې صورت پیدا شي چې ښځه خاوند دواړه دا محسوسوي چې اوس هغوی د ښځې خاوند په حیث د الله تعالی حدود نه شي ساتلی؛ نو هغوی دواړو ته د خلعې په کولو کې هیڅ ګناه نشته او په دې صورت کې د ښځې نه د خلعې په بدل کې وصولول د خاوند لپاره به حلال وي.

۴: د خلع صورت دا دی چې ښځه د خاوند د قید نه آزادي حاصلولو لپاره څه مال د فدیې په ډول ورکړي او خاوند د هغې وړاندیز قبلولو سره هغه د نکاح نه آزاده کړي.

---

[1] ولا یحل لکم ان تأخذوا مما آتیتموهن شیئاً الا ان یخافا الا یقیما حدود الله، فان خفتم الا یقیما حدود الله فلا جناح علیهما فیما افتدت به. (سورة ۲، البقرة: ۲۲۹)۔

د آیت شریف دا مضمون (چې ما په څلورو نمبرو کې ذکر کړ) دومره صفا او داسې واضحه دی چې کوم سړی په خبره پوهیږي، هغه د دېنه سهوا دویمه نتیجه نه شي لاس ته راوړلی هر سړی په خپلو سترګو ګوري چې د قرآن کریم دې آیت مقدسه (چې هغې ته آیت خلعه ویل کیږي) د خلعې په معامله کې د پیل نه تر پایه پورې ښځه خاوند دواړه برابر شریک دي. مثلاً

الاان یخافا - (مګر دا چې ښځه خاوند دواړو ته اندیشه وي)

ان لایقیما - (چې هغوی دواړه به د الله تعالی حدود قائم نه کړی شي)

فان خفتم الایقیما - (پس که چېرته تاسو ته اندېښه وي چې د الله تعالی حدود به قائم نه کړی شي)

فلاجناح علیهما - (نو بیا په دې دواړو باندې هیڅ ګناه نشته)

فیما افتدت به - (د هغه مال په اخیستلو او ورکولو چې د هغې په ورکولو سره ښځه د نکاح د قید نه خلاصه شي

تاسو ووایئ! آیا په ټول آیت کې یو لفظ هم داسې شته چې د هغې مطلب دا وي چې ښځه کله وغواړي د خاوند د خوښې بغیر خپل ځان ته خلعه اخیستلی شي، ددې لپاره د خاوند د رضامندی یا د مرضی هیڅ ضرورت نشته؟ آیت شریف کې د اول نه تر اخره پورې، هغوی دواړه، هغوی دواړه، الفاظ استعمال شوي دي، چې د هغې مطلب د ناپوه سړي په دې پوهېدلو باندې مجبوروي چې خلعه یو داسې معامله ده چې په هغې کې ښځه خاوند دواړه برابر شریک دي او ددې دواړو د رضا بغیر د خلعې تصور هم ناممکن دی.

یاده دي وي چې د ټول امت عالمانو، فقهاو او د دین امامانو د آیت شریف نه هم دا مطلب اخیستلی دی چې د خلعې لپاره د ښځې خاوند دواړو رضا شرط ده، څنګه چې پورته ذکر شو، مګر د حلیمه اسحاق صاحبه ذهانت د آیت شریف نه دا نکته چاڼ کوي چې څنګه طلاق د سړي انفرادي حق دی، هم دغه راز خلع د ښځې انفرادي حق دی، چې په هغې کې د خاوند د مرضی او نامرضی هیڅ مداخله نشته، د امت د اجماعي فیصلې خلاف او د قرآن کریم د صریح الفاظو علی الرغم د قرآن کریم په نوم سره داسې نکتې لټول یو داسې ناروا بهادري ده چې د هغې توقع د کوم مسلمان نه نه دي کېدل پکار.

....

د محترمې حلیمه اسحاق ذهانت دا فتوٰی هم صادره کړې که عدالت چېرته محسوسه کړي چې زوجین د الله تعالی قائم شوي حدود نه شي قائم کولی؛ نو هغوی خپله د زوجینو په منځ کې د جدااوالي پرېکړه کولی شي.

پورته بیان شو چې د ټول امت فقهاء په دې خبره متفق دي چې خلع د ښځې خاوند دواړو په رضا باندې موقوف ده. که چېرته دواړه په خلع باندې راضي نه وي یا په هغوی کې یو راضي نه وي؛ نو خلع نه کیږي.

لهذا د حلیمې صاحبې دا فتوی هم د اجماع امت خلاف او صریحاً غلطه ده. محترمې چې په خپلې غلطې دعوې د آیت شریف نه کوم استدلال کړی دی هغه هم ددې په الفاظو کې دا دی:

په دې آیت کې لفظ د (خفتم) استعمال شوی دی، چې د هغې مطلب دا دی که چېرته تاسو ته وېره وي، یعنې که خاوند او ښځه دواړه یې مخاطب کولی: نو لفظ د (خفتما) به استعمال شوی وی، نو مراد به دا وی چې تاسو دواړه، مګر لفظ د (خفتم) استعمال شوی. دا ددې خبرې علامه ده چې الله تعالی اجتماعي طور باندې د خاوند او ښځې سره - سره قاضی یا حاکم ته هم اختیار ورکړی دی چې که چېرته تاسو پوهیږئ چې دواړه د الله تعالی مقرر شوي حدود نه شي پوره کولی؛ نو تاسو ته اختیار دی چې دوی جدا کړئ!

د محترمې دا استدلال په یو څو وجوهاتو غلط دی:

اول : - د محترمې دا الفاظ چې: تاسو ته اختیار دی چې دوی جدا کړئ! د قرآن کریم د هیڅ لفظ څخه نه فهمیږي، نه قرآن کریم قاضي یا حاکم ته د ښځې خاوند په منځ کې د جدایي کوم ځای اختیار ورکړی دی، ددې مفهوم په تصنیف کولو سره محترمې لوی جرات کړی دی او دا یې قرآن کریم ته منسوب کړی دی.

دویم : - آیت شریف کې ,,فان خفتم،، نه چې کومه جمله شروع کیږي هغه جمله شرطیه ده چې په شرط او جزا باندې مشتمله ده، په دې جمله کې خو شرط هغه دی چې د هغې ترجمه محترمې داسې کړې ده:

که چېرته تاسو پوهیږئ چې دواړه یعنې خاوند او ښځه د الله تعالی مقرر شوي حدود نه شي پوره کولی؛ نو.....

ددې (نو) نه پس د شرط جزا ده، لیکن هغه جزا څه ده؟ په دې کې د محترمې حلیمه اسحاق د الله تعالی سره سخت اختلاف دی، الله تعالی ددې شرط جزا دا ذکر کړې ده:

" فلا جناح علیهما فیما افتدت به،،

ترجمه: ,, نو په دواړو باندې به هیڅ ګناه نه وي د هغه (مال په اخیستلو او ورکولو) کې چې د هغې په ورکولو ښځه خپل ځان خلاصه کړي، (ترجمه حضرت تهانوی رحمه الله)

لیکن محترمه فرمایي چې نه! ددې شرط دا جزا نه ده، کومه چې الله تعالی ذکر کړې ده بلکې ددې شرط جزا دا ده چې:

,, نو (اې امیرانو!) تاسو ته اختیار دی چې تاسو هغه ښځه او خاوند جدا کړئ! ،،

ګویا حلیمه اسحاق صاحبه (نعوذبالله) د الله تعالى غلطیانې نیسي چې ,,فان خفتم,,
کومه جزا الله تعالى ,,فلا جناح علیهما فیما افتدت به,, په بلیغو الفاظو سره ذکر کړې ده دا غلطه ده، ددې جزا دا پکار وه

,, **فلکم ان تفرقوا بینهما**.........؛ نو تاسو ته اختیار دی چې تاسو ددې دواړو تر منځ خپله جدایي وکړئ"

څنګه غضب دی چې پوره یوه فقره له ځانه جوړوي او بیا د قرآن کریم په نوم خلکو ته بیانوي.

هغه دعوه کوي چې هغه څه وایي؛ نو د قرآن او سنتو په رڼا کې یې وایي. **انا لله وانا الیه راجعون**

دریم : - محترمه فرمایي چې: الله تعالى اجماعي طور خاوند او ښځې سره - سره قاضي یا حاکم ته هم اختیار ورکړی دی.........

خاوند او ښځې سره - سره، د الفاظو نه واضحه ده چې د محترمې په نزد هم ,,فان خفتم,, اصل خطاب خو ښځې خاوند ته شوی دی؛ لیکن د (دوی سره - سره دا خطاب نورو ته هم شامل دی) اوس ګورئ چې د قرآن کریم له مخې د مسئلې صورت دا شو چې:

خلع د ښځې خاوند شخصي او کورنی معامله ده.

د خلع په ضمن کې قرآن کریم بیا - بیا د ښځې خاوند دواړو ذکر کوي (څنګه چې پورته معلومه شوې)

او "فان خفتم" کې هم اصل خطاب هم دغه دواړو ته دی، (اګر که دې دواړو سره - سره قاضي یا حاکم هم شریک دی)

ددې ټولو حقائقو باوجود چې کله د خلعې د فیصلې نوبت راځي؛ نو محترمه فرمایي چې ښځې خاوند نه دا پوښتنه ضروري نه ده چې آیا هغوی د خلعې لپاره تیار دي که نه؟ بلکې عدالت په خپل مصلحت د جدا والي یو طرفه فیصله کولی شي، خواه ښځه خاوند زرځله د خلعې نه انکار وکړي، مګر عدالت به هم دا وایي:

چې عدالت قطعي طور دې نتیجې ته رسیدلی دی چې دا دواړه د الله تعالى حدود نه شي پوره کولی، لهذا عدالت ددې دواړو د پوښتنې بغیر ددې دواړو د جداوالي پرېکړه وکړه، ځکه چې د حلیمې اسحاق په قول: قرآن مونږ ته ددې اختیار راکړی دی.

ایا د محترمې دا نکته عجیبه نه ده چې د کومو خلکو په باره کې د جدا والي فیصله کولی شي د هغوی نه د پوښتنې ضرورت هم نشته، بس د عدالتي سکانو فیصله، د ښځې د حلال او حرام لپاره کافي ده؟ آیا په قرآن کریم کې چېرته لرې - لرې هم دا مضمون په نظر راځي؟

څلورم : - "فان خفتم" خطاب کې د مفسرینو درې قوله دي: یو دا چې دا خطاب هم ښځې خاوند ته شوی دی، نه امیرانو ته، څنګه چې د حضرت تهانوي رحمه الله تشریح پورته ذکر شوه.[1]

---

[1] بیان القرآن/ ۱۳۳/۱/ طبع ایچ ایم سعید کراچی.

دويم قول دا دی چې دا خطاب د ښځې خاوند نه علاوه اميرانو ته هم شامل دی. اوس که چېرته هم دا فرض شي چې دا خطاب اميرانو ته شوی؛ نو ددې وجه دا کېدی شي چې د خلعې په قضيه کې بعضې وخت د حکامو نه د مرافعې ضرورت پېښ شي: نو ددې وجې نه حکام په دې خطاب کې شريک شول چې که د خلعې معامله حکامو ته ورسي: نو د هغوی لپاره لازم دي چې فريقين مناسب طرز عمل اختيارولو ته اماده کړي او که چېرته فريقين په خلع کولو باندې راضي وي؛ نو د خلعې معامله په ښې طريقې سره پوره کړي. څنګه چې صاحب کشاف، بيضاوي او نورو مفسرينو ددې تقرير کړی دی[1].

بهرحال که چېرته د "فان خفتم" خطاب حکامو ته ومنل شي؛ نو دې سره هيڅ راز دا نه لازميږي چې عدالتونو قاضيانو ته د يو طرفه سند جاري کولو ښکاره آزادي ورکول شوې او دا چې دوی ته د زوجينو د رضا معلومولو هم هيڅ ضرورت پاتې نه شو.

دريم قول دا دی چې د " فان خفتم" خطاب ښځې خاوند سره - سره د دواړو خاندانونو مشرانو، پوهانو خلکو او حکامو ټولوته عام دی، څنګه چې بعضې مفسرينو ددې تصريح کړې ده[2]، ددې قول مطابق ددې تعبير اختيارولو کې يوه بليغه نکته ده.

تشريح يې دا ده چې د ښځې خاوند د جدا والي معامله بې انتها سخته ده، شيطان چې څومره خوشحالي د ښځې خاوند په جدا والي سره کوي دومره خوشحالي ورته د خلکو په غلا او شراب څښلو کې نه ملاويږي، حديث شريف کې دي چې شيطان خپل تخت په اوبو ږدي، بيا خپلې لښکرې خلکو ته د دوکه کولو لپاره استوي، په دې شيطانی لښکرو کې د شيطان د ټولو نه نزدې دده هغه شاګردان وي چې خلک د ټولو نه زيات ګمراه کوي، په دوی کې يو راشي او شيطان ته ووايي چې نن مي فلانې فلانې ګناه په خلکو وکړه (مثلاً څوک په شراب څښلو کې او څوک د غلا په ګناه کې اخته کړي) نو شيطان وايي چې هيڅ دې نه دي کړي، بيا يو بل راشي او ووايي چې (د ښځې خاوند پسې وم، د يو بل خلاف مي راپورته کړل او زه سړي پسې وم تر دې چې نن دده او دده د ښځې په منځ کې جدايي راغله، دې وينا سره شيطان دی ځان ته رانزدې کړي. (مشکوٰة مخ: ١٨ د صحيح مسلم روايت)[3]

---

[1] فان قلت: لمن الخطاب فى قوله: (ولا يحل لكم ان تأخذوا)؟........قلت: يجوز الامران جميعاً ان يكون اول الخطاب للازواج، وآخرى للائمة والحكام، ونحو ذٰلک غير عزيز فى القرآن وغيره، وان يكون الخطاب كله للائمة والحكام لانهم الذين يامرون بالاخذ والايتاء عند الترافع اليهم، فكانهم الآخذون والمؤتون. (تفسير كشاف لزمخشرى/ ١/ ٢٧٤/ سورة البقرة آية: ٢٢٩، ايضاً: تفسير نسفى/ ١/ ١٩١/ طبع بيروت).

[2] الرابعة: قوله تعالىٰ: فان خفتم الا يقيما اى على ان لا يقيما حدود الله، اى فيما يجب عليهما من حسن الصحبة وجميل العشرة والمخاطبة للحكام والمتوسلين لمثل هٰذا الأمر وان لم يكن حاكماً. (الجامع لاحكام القرآن، للقرطبى/ ٣/ ١٣٨/ الطبعة الثالثة، دار الكتب المصرية).

[3] عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان ابليس يضع عرشه....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د شيطان د خوشحالی سبب دا دی چې د ښځې خاوند په جدا والي سره بې شماره فسادونه پيدا کيږي، لومړی خو دا چې کور وران شي، بيا د دوی د بچو اينده خرابه شي، بيا د دواړو کورنيو په منځ کې د بغض، دشمنی او نفرت اور بل شي او د يو بل خلاف د دروغو طوفان، طعنې او بدې ردي او غيبت چغل خوري کوي، ددېنه په زياته د يو بل د وژلو اداري وکړي، دا لړۍ نوره هم زياته شي.

هم دا وجه ده چې شيطان ته د زوجينو په جدايی دومره خوشحالي ملاويږي چې دومره ورته په بله ګناه نه ملاويږي او هم دا وجه ده چې د الله تعالی په نزد په ټولو مباحو شيانو کې طلاق تر ټولو زيات ناخوښ عمل دی، څنګه چې په حديث کې راځي:

"ابغض الحلال الی الله الطلاق" •

د الله تعالی په نزد په حلالو شيانو کې تر ټولو زيات ناخوښ شی طلاق دی. (مشکوٰة مخ: ۲۸۳ د ابوداؤد روايت)

او هم دا وجه ده چې بغير د سخت ضرورت نه د ښځې د طلاق غوښتنه د سخت نفرت سبب ګرځول شوي ده: نو ځکه نبوي وينا ده: "کومې ښځې چې د خاوند نه د سخت ضرورت پرته د طلاق غوښتنه کوي په هغې باندې د جنت خوشبو هم حرامه ده." (مشکوة مخ: ۲۸۳ مسنداحمد، ترمذي، ابوداؤد، دارمي او ابن ماجه روايت کړی دی)[1]

په يو بل حديث کې دي چې: ,, خپل ځان د نکاح نه ويستونکي او خلع اخيستونکي ښځې منافقانې دي،، (مشکوة مخ: ۲۸۴ د نسائي روايت)[2]

ښځې بې چارې جذباتيانې وي، په کور کې لږ نرمي ګرمي يا ترخې خبرې وشي، د اتو بچو مور کېدلو باوجود سمدستي به ووايي چې ماته طلاق راکړه، خاوند وايي چې ښه ده دربه يې کړم؛ نو وايي چې نه هم په دې وخت يې راکړه، بعضې وخت سړی هم (خپل صبر پرېښږدي) د ښځې دې جذباتي څپو په درياب کې ډوب شي او طلاق ورکړي، ددې نتيجه، معمولي خبره باندې د

...بقيه د تيرمخ] على الماء ثم يبعث سراياه يفتنون الناس فادناهم منه منزلة اعظمهم فتنة يجيء احدهم فيقول: كذا وكذا، فيقول: ما صنعت شيئاً؟ قال: ثم يجيء احدهم فيقول: ما تركته حتى فرقت بينه وبين امرأته. قال: فيدنيه منه ويقول: نعم انت! قال الاعمش: اراه قال فيلتزمه. رواه مسلم. (مشكوٰة/ ١٨/ باب الوسوسة/ الفصل الاول)۔

[1] عن ثوبان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ايما امرأة سالت زوجها طلاقاً فى غير ما باس فحرام عليها رائحة الجنة.رواه احمد والترمذى وابوداؤد وابن ماجة والدار قطنى.(مشكوٰة/٢٨٣/باب الخلع والطلاق)

[2] عن ابى هريرة رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: المنتزعات والمختلعات هن المنافقات. رواه النسائى. (مشكوٰة/ ٢٨٤/ باب الخلع والطلاق، الفصل الثالث)۔

کور بربادول دي. وروستو دواړه د کور په خرابولو ماتم کوي. ډېرې داسې خطونه ما عاجز بنده راغلي دي

,, فان خفتم،، په خطاب کې د ښځې خاوند نه علاوه د دواړو کورنیو عزتمنو خلکو سره حکام شریکولو سره، والله اعلم

مدعا دا ده چې که ښځه خاوند د څه غوسې په بنا خلعې ته اماده شي: نو د دواړو کورنیو نیکان او د خدای نه ډارېدونکي حکام د دوی کور د ورانولو نه ساتي او که چېرته معامله په یوه طریقه هم حل نه شوه: نو بیا ددېنه سېوا بله چاره ده چې د دواړو د خوښې مطابق دوی ته د خلعې مشوره ورکول شي، د داسې صورت په باره کې فرمایلي دي چې:

,, که چېرته تاسو ته وېره وي چې هغوی دواړه به د الله تعالی مقرر شوي حدود قائم ونه ساتي: نو په هغه دواړو باندې څه گناه نشته د هغه مال په اخیستلو او ورکولو کې چې هغې ته یې ورکړی ښځه دي خپل ځان خلاصه کړي. [1]

ددې تقریر نه معلومه شوه چې "فان خفتم" په خطاب کې د حکامو شریکولو مطلب هغه نه دی چې محترمې حلیمې صاحبې گڼلی دی، چې حکامو ته د خلعې یو طرفه سند ورکولو اختیار شته، بلکې ددېنه مدعا دا ده چې د خلعې تر هر ممکن حده پورې د نه ورکولو کوشش وشي او د دواړو (ښځې او خاوند) په منځ کې د سولې کولو او کور د ورانولو نه د بچ کولو هر ممکن تدبیر وکړی شي، څنگه چې دویم ځای کې ارشاد دی:

,, که چېرته تاسو ته په هغه دواړو ښځه خاوند کې د جنگ وېره وي؛ نو تاسو یو سړی چې د فیصلې کولو لیاقت لري د سړي د خاندان نه او یو سړی چې د فیصلې کولو لیاقت لري د ښځې د خاندان نه واستوئ، که چېرته دې دواړو سړو سوله ومنل؛ نو الله تعالی به ددې دواړو په منځ کې اتفاق پیدا کړي، بې شکه الله تعالی ډېر لوی علم والا او ډېر لوی خبروالا دی،، (النساء : ۳۵) (د تهانوي رحمه الله ترجمه) [2]

ددې خطاب د عامولو مدعا دا ده چې حتی الامکان د ښځې خاوند د جدا والي د لارې د بندولو کوشش وکړی شي، چې په کومه طریقه د دوی په منځ کې سوله وکړی شي او که چېرته دواړه په خلع باندې په ضد وي؛ نو د دواړو په منځ کې په خوشحالی سره خلع وکړی شي، بهرحال د محترمې حلیمې صاحبې د "فان خفتم" نه دا نکته پیدا کول چې عدالت ته د زوجینو د رضا نه بغیر هم د خلعې د فیصلې کولو اختیار شته، د الهي خوښې او د امت فقهاوو د اجماعي فیصلې خلاف ده.

---

۱ [فان خفتم الا یقیما حدود الله فلا جناح علیهما فیما افتدت به. (البقرة: ۲۲۹)]

۲ [وان خفتم شقاق بینهما فابعثوا حکماً من اهله وحکما من اهلها ان یریدا اصلاحاً یوفق الله بینهما، ان الله کان علیما خبیرا. (النساء: ۳۵)]

محترمه ليکي حضرت ابوعبيده رضي الله عنه هم ددې آيت تفسير داسې کړی چې د لفظ (خفتم) استعمال د زوجينو سره - سره حاکم او قاضي سره هم متعلق دی. بلکې هغه خو تردې پورې فرمايي چې که ښخه خاوند ته ووايي چې زما ستا نه نفرت دی. زه ستا سره نه شم اوسيدلی؛ نو خلع واقع کيږي

دلته يو څو خبرې د ليکلو وړ دي

اول دا چې حضرت ابوعبيده رضي الله عنه څوک دی؟ د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه لفظ اورېدلو سره ذهن د اسلام نوموړې هستي امين الامت حضرت ابوعبيده رضي الله عنه طرف ته منتقل کيږي. چې د هغه شمار په عشره مبشره کې راځي، ليکن د محترمې مراد غالباً هغه نه دی. ځکه چې د تفسير په کوم کتاب کې د حضرت ابوعبيده رضي الله عنه دا تفسير نقل شوی نه دی.

خيال وشو چې شايد د محترمې مراد مشهور امام لغت ابوعبيده معمربن مثنی (۲۱۰ هـ مړينه) وي، ليکن د هغه نه هم داسې قول په کتابونو کې په نظر نه راځي.

البته امام قرطبي رحمه الله په تفسير، حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې د امام ابوعبيده القاسم بن سلام (۲۲۴ مړينه) کې دا تفسيري قول نقل کړی دی، خيال وشو چې د محترمې مراد شايد هم دا بزرګ وي او د هغې ذهانت ابوعبيده، حضرت ابوعبيده رضي الله عنه جوړ کړی وي او د هغه په نوم يې د رضي الله عنه علامه هم ليکلې وي، کاش چې محترمې وضاحت کړی وی او ددې سره يې د کتاب د حوالې د ليکلو زحمت هم کړی وی؛ نو د هغې ويونکو ته به د سوچ کولو ضرورت نه ؤ پاتې.

دويم: امام قرطبي رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله د ابوعبيده دا تفسيري قول نقل کړی د هغه سخت رد يې کړی دی.

امام قرطبي رحمه الله ليکي چې: ابوعبيده رحمه الله **"الا ان لايخافا"** کې د همزې قراءت (په صيغې د مجهول) سره اختيار کړی ده او ددې د توجيه لپاره يې پورته تفسير اختيار کړی دی.[۱]

قرطبي رحمه الله د ابوعبيده قول نقل کولو سره په هغې باندې تبصره فرمايي:

,, د ابوعبيده دا اختيار شوی قول منکر او مردود ګرځول شوی دی او ماته معلومه نه ده چې د ابوعبيده په اختيار شوي حروفو کې څه حرف ددې نه زيات د عقل نه لرې وي؛ نو ځکه چې دا نه د اعراب په لحاظ سره صحيح دی، نه د لفظ په اعتبار سره او نه د معنی په لحاظ سره، (القرطبي: الجامع لاحکام القرآن مخ: ۱۳۸ټوک: ۳)[۲]

---

[۱] الا ان يخافا بضم الياء على ما لم يسم فاعله والفاعل محذوف وهو الولاة والحكام واختاره ابو عبيد. (تفسير قرطبي/ ۳/ ۱۳۷/ طبع بيروت)۔

[۲] وقد انكر اختيار ابي عبيد ورد وما علمت في اختياره شيئاً ابعد من هٰذا الحرف لانه لا يوجبه الاعراب ولا اللفظ ولا المعنى. (قرطبي/ ۳/ ۱۳۸/ طبع بيروت)۔

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکي: "ابوعبیده د "فان خفتم" ددې تفسیر د تایید لپاره د همزې قرأت،، ان لایخافا (په صیغې د مجهول) سره پېش کوي چې مراد ددېنه د حکامو وېرول دي او امام لغت نحاس د هغه دا قول مردود ګرځولی دی چې " دا داسې قول دی چې نه اعراب ددې موافقت کوي، نه لفظ او نه هم معنی او امام طحاوي رحمه الله دا قول رد کړی دی چې دا شاذ او منکر دی، ځکه چې دا قول د امت د جم غفیر د مذهب خلاف دی، همداراز دا د عقل او نظر له مخې هم غلط دی، ځکه چې طلاق "د عدالت نه بغیر کېدی شي؛ نو دغه راز خلع هم کېدی شي، (فتح الباری مخ: ۳۹۷ ټوک: ۹) [۱]

محترمې حلیمې صاحبې دا خو وکتل چې ابوعبیده هم د " فان خفتم " خطاب کې غیر زوجین شامل کړي، مګر نه خو یې دا سوچ وکړ چې د ابوعبیده موقف نقل کولو سره قرطبي رحمه الله او ابن حجر رحمه الله ددې منکر او رد هم نقل کړی دی، د محترمې نظریه خپله هم باطله او مردوده وه، ددې په تائید کې هم یو منکر او مردود قول هم پېش کېدلی شو،

د اقبال د پیر رومي رحمه الله په وینا:

ع: ،،،،،،،، زانکه باطل باطلا رامی کشد

دریم: امام ابوعبیده ددې تفسیري قول د اختیارولو اصل وجه دا ده چې په سلفو کې په دې مسئله کې اختلاف شو چې آیا خلع د زوجینو په خپل منځ کې په رضا هم کېدلی شي، یا ددې لپاره عدالت ته تلل ضروري دي؟ د جمهورو سلف او خلف قول دی چې ددې لپاره عدالت ته تلل څه ضروري نه دي، د دواړو په خپل منځ کې په خوښه ددې فیصله کولی شي، لیکن بعضې تابعین یعنې سعید بن جبیر رحمه الله امام حسن بصري رحمه الله او امام محمد بن سیرین رحمه الله قائل وو چې ددې لپاره عدالت ته تلل ضروري دي، امام ابوعبیده هم دا قول اختیار کړ، امام قتاده رحمه الله او نحاس رحمه الله به فرمایل چې دوی دا مسلک د زیاد بن ابیه نه اخیستلی دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکي:

،، امام قتاده رحمه الله په دې مسئله کې حسن بصري رحمه الله باندې نکیر کړی چې: حسن دا مسئله صرف د زیاد نه اخیستلې ده، یعنې کله چې زیاد د حضرت معاویه رضي الله عنه له طرفه د

---

[۱] واختاره ابو عبید واستدل بقوله تعالي: فان خفتم الا یقیما حدود الله، وبقوله تعالي: وان خفتم شقاق بینهما.....وقوی ذٰلک بقراء ة حمزة فی آیة الباب "الا ان یخافا" بضم اوله علی البناء المجهول، قال: والمراد الولاة، ورده النحاس بانه قول لا یساعده الاعراب ولا اللفظ ولا المعنی، ورده الطحاوی بانه شاذ مخالف لما علیه الجم الغفیر، ومن حیث النظر ان الطلاق جائز دون الحاکم فکذٰلک الخلع. (فتح الباری/ کتاب الطلاق/ باب الخلع/ ۹/ ٤٩٦/ طبع لاهور)۔

عراق امير ؤ، زه (حافظ ابن حجر رحمه الله) وايم چې زياد ددې اهل نه دی چې د هغه اقتدا وکړی شي، (فتح الباری تېره شوې حواله)[1]

او امام قرطبي رحمه الله دا قول رد کړی او ليکي چې:

,, دا قول بې معنی دی، ځکه چې سړی کله د خپلې ښځې سره خلع کوي: نو دا خلع په هغه مال وي چې په هغې باندې دواړه ښځه خاوند راضي شي، حاکم سړی په خلع باندې نه شي مجبورولی، لهذا کوم خلک چې د خلعې لپاره عدالت ته تلل ضروري ګڼي، د هغوی قول قطعاً مهمل او بې مطلبه دی. (قرطبی: الجامع لاحکام القرآن مخ: ۱۳۸ ټوک: ۳)[2]

خلورم: پورته چې کومه مسئله ذکر شوه چې آيا د خلعې معامله په عدالت کې پوره کول ضروري ده، که د عدالت نه بغير هم ددې فيصله کېدلی شي؟ په دې کې لږ اختلاف پيدا شو، چې جمهور امت ددې لپاره د عدالت د ضرورت قائل نه وو او څو بزرګانو دا خبره ضروري وګڼله (وروسته دا اختلاف هم ختم شو او وروسته ټول عالمان په دې باندې متفق شو چې عدالت ته د تللو شرط غلط او مهمل دی، څنګه چې تاسو اوس واورېدل).

ليکن محترمې حليمې صاحبې چې کومه فتوی ورکړې ده چې عدالت د زوجينو د رضا بغير هم د خلعې فيصله کولی شي، يقين وکړئ چې په عالمانو کې يو سړی هم ددې قائل نه دی، نه امام ابوعبيده رحمه الله نه حسن بصري رحمه الله نه بل څوک....... لهذا د زوجينو د رضا نه بغير د عدالت يو طرفه فيصله په اجماع د امت سره باطله ده او دا هم داسې ده چې څوک د بل سړي ښځه د هغه بې اجازې طلاقوي، هر معمولي عقل والا سړی هم په دې پوهيږي چې داسې تش په نوم طلاق يو وارې لغو او مهمل دی، چې د هغې د زوجينو په نکاح باندې هيڅ اثر نه کيږي، صحيح هم داسې د زوجينو د رضا بغير د خلعې عدالتي فيصله هم قطعي لغو او مهمله ده، چې په يوه طريقه هم موثره نه ده، د محترمې حليمې صاحبې ذهانت چونکې په دې دواړو مسئلو کې د فرق کولو څخه قاصر وو؛ نو ځکه هغوی د امام ابوعبيده د قول مطلب دا وګڼلو چې عدالت د خلعې يو طرفه سند ورکولی شي.

پنځم: محترمې د حضرت ابوعبيده رحمه الله نه چې دا نقل کړي چې: ,, که ښځه خاوند ته ووايي چې زما ستا نه نفرت دی، زه تا سره نه شم اوسېدلی؛ نو خلع واقع کيږي.

---

[1] اوقد انكر قتادة هٰذا على الحسن فاخرج سعيد بن ابي عروبة في كتاب النكاح عن قتادة عن الحسن فذكره، قال قتادة: ما اخذ الحسن هٰذا الا عن زياده، يعني حيث كان امير العراق لمعاوية، قلت: وزياد ليس اهلاً ان يقتدئ به. (فتح الباري/ ٩/ ٤٩٦/ باب الخلع/ طبع لاهور).

[2] اولا معنى لهٰذا القول لان الرجل اذا خالع امرأته فانما هو على ما يتراضيان به ولا يجبره السلطان على ذٰلک ولا معنى لقول من قال هٰذا الى السلطان. (الجامع لاحكام القرآن للقرطبي/ ٣/ ١٣٨/ طبع بيروت).

هغوی ددې حواله ورنکړه چې هغوی دا فتوی د کوم ځای نه ورکړې ده. ترکومه حده پورې چې ددې ناکاره د ناقص مطالعې تعلق دی. داسې فتوی د کوم بزرګ نه نقل نه ده. نه حضرت ابوعبیده رضی الله عنه او نه د بل کوم شخصیت نه. ممکنه ده څه داسې قول نقل وي او زما له نظره نه وي تېر شوی، لیکن د تېر شویو تجربو په رڼا کې غالبه دا ده چې دا فتوی هم د محترمې د عقل او ذهانت پیداوار دی، خدای پوهېږي چې اصل خبره به څه وي. چې هغه د محترمې ذهانت خپل مطلب باندې بدل کړې ده.

بهرحال د محترمې دا جمله څومره خطرناکه ده؟ هغې ددې اندازه نه ده کړې؟ دلته د هغې یو څو مفاسدو ته اشاره کول غواړم:

اولا مخکې مي هم عرض وکړ چې د خلعې لپاره په اجماع د امت، د فریقینو رضا شرط ده، د محترمې دا فتوی د اجماع امت خلاف کېدلو له وجې آیت شریف ,,**نُوَلِّهِ مَا تَوَلّٰى**،، مصداق دی، چې په هغې کې د الله تعالی ارشاد دی چې د اهل ایمان لاره پرېښودلو سره تلونکی به مونږ دوزخ کې داخل کړو.

ثانیا هر سړی پوهېږي چې د ښځې حیثیت د خلعې اخیستلو والا دی، د خلعې ورکولو والا نه دی، خپله محترمه هم د ښځې لپاره، د خلعې اخیستلو لفظ استعمالوي، لیکن د محترمې د پورته فتوی نه ثابتېږي چې ښځه کله غواړي د خاوند خلاف اظهار نفرت کولو سره هغه رخصتولی شي او هغه ته خلع ورکولی شي.

ثالثا محترمې دا مضمون د عدالتي خلعې د جواز لپاره لیکلی دی، حال دا چې که صرف د ښځې اظهار نفرت سره خلع واقع کېږي؛ نو عدالت ته د تکلیف ورکولو څه ضرورت پاتې شو؟

رابعا: الله تعالی «الذي بيده عقدة النكاح» فرمایلو سره د نکاح غوټه د سړي په لاس کې ورکړې، چې هم هغه دا غوټه خلاصولی شي، لیکن محترمه د خپلې فتوې په ذریعه د نکاح غوټه د ښځې په لاس ورکوي چې کله هم هغه غواړي د سړي خلاف اظهار نفرت کولو سره خلع واقع کړي او سړی له کوره بهر کړي، ددې لپاره چې د امریکې خبره «ورلډ آرډر» ومنل شي او د مغربي معاشرې په راز په مشرقي معاشره کې هم د طلاق اختیار د سړي په لاس کې نه وي، بلکې د ښځې په لاس کې وي، ګویا محترمې حلیمې صاحبې ته ارشاد خداوندي ,,الذی بیده عقدة النكاح،، سره اختلاف دی او د امریکې په نظام باندې یې ایمان دی.

خامسا: د محترمې ددې فتوی نه ثابتېږي چې زمونږ په معاشره کې ۹۹۹ زره ښځه او خاوند د نکاح نه بغیر د ګناه ژوند تېروي، ځکه چې د ښځو نفسیات حضور ﷺ داسې بیان کړي دي که چېرته په تاسو کې د یو سره ټول ژوند هم احسان وکړي، بیا لږ شان بده خبره تاسو ته د هغه

نه وشي: نو سمدستي به ووايي چې ما ستا نه کله هم خير ونه ليد. (صحيح البخاري مخ ۹ ټوک ۱) [1]

اوس هرې ښځې ته به د خاوند له طرفه څه نا څه بده خبره شوې وي. الاما شاء الله او هغې به د خپلې ناخوښۍ د اظهار لپاره د خاوند خلاف د نفرت اظهار کړی وي. د محترمې د فتوې له مخې د داسې ډېرو ښځو خلع واقع شوه. نکاح فسخه شوه او اوس هغوی بغير د تجديد نکاح نه د ښځې خاوند په حيث اوسيږي او د ګناه ژوند تېروي. د محترمې د فتوې مطابق - څو داسې ښځو ته سمدستي خپل کور پرېښودلو سره خپله لاره نيول پکار دي. يا کم از کم د دوباره عقد تجديد کول پکار دي. ددې لپاره چې د ګناه د وبال نه بچ شي. آيا محترمه حليمه د قرآن او سنتو په رڼا کې د ښځو د دغه رهنمايي لپاره راغلې ده؟

....

محترمې په خپلې دې دعوه باندې چې عدالت د خاوند د خوښې بغير د خلعې فيصله ورکولی شي، د حديث نه يې هم استدلال کړی دی چې د هغې الفاظ محترمې داسې نقل کړي:

„ کله چې يوه ښځه جميله (د ثابت بن قيس ښځه) جناب محمد ﷺ ته راغله او وې ويل، په الله مې دې قسم: زه دده په ايمان يا پاکوالي باندې شک نه کوم. مګر زه او دی يوځای نه شو اوسېدی چې زما دده نه نفرت پيدا شوی دی، رسول اکرم ﷺ وفرمايل : د خورما باغ چې تاته په مهر کې ملاو شوی دی هغه ورته واپس کړه!

محترمه ددېنه دا نتيجه اخلي چې:

„ ددې واقعې نه ثابته شوه چې د خلعې لپاره د خاوند رضا ضروري نه ده، که يوه ښځه قاضي يا حاکم په دې خبره مطمئن کړي چې هغه د خپل خاوند سره نه شي اوسېدی؛ نو حاکم يا عدالت ته اختيار دی چې د هغوی نکاح فسخه کړي.

دلته څو امور خبرې دي چې يادول يې اړين بولم:

اول: د محترمې دا جمله چې رسول ﷺ وفرمايل چې " د خورما کوم باغ چې يې تاته په مهر کې درکړی ؤ هغه ورته واپس کړه! قطعاً د واقعې خلاف دی، ځکه په حديث کې خو دا دي چې رسول ﷺ د هغه ښځې نه پوښتنه وکړه چې آيا ته هغه ته دده باغ واپس ورکوې؟ (اتردين عليه حديقته) (مشکوة مخ: ۲۸۳ د بخاري روايت) [2]

---

[1] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال النبی صلی الله عليه وسلم: اريت النار فاذا اکثر اهلها النساء يکفرن قيل ايکفرن بالله؟ قال: يکفرن العشير ويکفرن الاحسان، لو احسنت الی احدٰهن الدهر ثم رأت منک شيئاً، قالت: ما رايت منک خيراً قط (بخاری۱/ ۹کتاب الايمان/باب کفران العشيروکفردون کفرفيه طبع قديمی کتب خانه کراچی)

[2] عن ابن عباس رضی الله عنهما ان امرأة ثابت بن قيس اتت....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

په دواړو جملو کې د ځمکې او آسمان فرق او د مشرق او د مغرب فاصله ده. محترمې چې رسول ﷺ ته کومه جمله منسوب کړې هغه یو حکم دی او د حدیث کومه جمله چې ما د صحیح بخاري نه نقل کړه هغه یو سوالیه فقره ده، که څېرته محترمه، د حکم او سوال په منځ کې د امتیاز کولو ځخه عاجزه وي؛ نو ددې عقل او ذهانت لائق د تحسین دی او که هغې قصداً د سوالیه جملې حکم بدل کړی وي؛ نو دا په رسول ﷺ باندې تهمت دی او د رسول ﷺ ددې ارشاد مصداق ده چې:

,,کوم سړی قصداً په ما باندې غلطه خبره وتړي هغه خپل ځای په دوزخ کې جوړ کړ.

(من كذب على متعمدا فليتبوء مقعده من النار) (رواه البخاري، مشكوة مخ ٣٢).

دويم محترمې د حديث يوه جمله نقل کړې او د هغې مطلب يې خراب بيان کړی او ددې خراب شوي مفهوم نه يې سمدستي دا نتيجه واخيستل چې: د خلعې لپاره د خاوند رضا ضروري نه ده، عدالت ته اختيار دی چې خپله پرېکړه وکړي، ليکن د حديث مخکې جمله چې ددې د دعوې نفی کوي. هغه يې اخذ کړه چې آيا تاسو د خاوند ورکول شوی باغ هغه ته واپس کوئ؟ او هغې ورته په هو سره جواب ورکړ؛ نو رسول ﷺ د هغې خاوند ته وفرمايل: اقبل الحديقة وطلقها تطليقة.

ترجمه: خپل باغ واپس واخله او هغې ته يو طلاق ورکړه! (خاوند هم دغسې وکړه).

دا چې پوره حديث مخې ته کېښودل شي د محترمې اخذ شوې نتيجه له سره غلطه ده، چې د خلعې لپاره د خاوند رضا ضروري نه ده، بلکې عدالت ته خپله د نکاح فسخه کولو اختيارمن دی، محترمې د حديث يوه برخه نقل کړې او يوه برخه يې حذف کړې او هغه طرز عمل يې اختيار کړی چې د کوم په باره کې الله تعالی فرمايلي دي: افتؤمنون ببعض الكتاب وتكفرون ببعض؟ (آيا تاسو د کتاب په يوه برخه ايمان لرئ او د يوې برخې نه انکار کوئ؟)

دريم: محترمه خو د حديث نيمه ټوټه (د تحريف سره) نقل کوي او ددې نه دا نتيجه لاس ته راوړي، چې عدالت د خاوند د رضا بغير د فسخې د نکاح حکم کولی شي، ليکن کوم امامان چې الله تعالی په عقل-ايمان-علم او عرفان کامل کړي دي،هغوی ددې حديث نه......د محترمې بالکل برعکس دا نتيجه اخذ کوي چې د زوجينو په منځ کې د هغوی د رضا بغير جدا والی کول د عدالت کار نه دی،

....بقيه د تيرمخ] النبى صلى الله عليه وسلم فقالت: يا رسول الله! ثابت بن قيس ما اعتب عليه فى خلق ولا دين ولكنى اكره الكفر فى الاسلام، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اتردين عليه حديقته؟ فقالت: نعم! قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اقبل حديقتك وطلقها تطليقة. (صحيح البخارى/ ٢/ ٧٩٤/ طبع اصح المطابع كراچى)۔

امام ابوبکر جصاص رازي رحمه الله په احکام القرآن کې لیکي

,, که چېرته دا اختیار حاکم ته وی چې کله هغه وګوري چې زوجین حدود الله نه قائموي: نو د هغوی په منځ کې د خلعې فیصله وکړي، خواه که زوجین خلعه غواړي یا د خلعې نه انکار کوي؛ نو رسول ﷺ د دوی دواړو نه ددې سوال نه کولو او نه به یې خاوند ته دا فرمایل چې دې ته خلع ورکړه، بلکې رسول ﷺ خپله د خلعې فیصله ورکولو سره به یې ښځه د سړي نه خلاصوله او خاوند ته به یې د هغه باغ واپس ورکړ، خواه که دواړو ددېنه انکار کولی یا په دوی کې یو فریق انکار کولو. لعان کې د زوجینو په منځ کې د تفریق اختیار چونکې حاکم ته وي؛ نو ځکه لعان کوونکي خاوند ته نه وایي چې خپله ښځه پرېږده، بلکې خپله د دواړو په منځ کې تفریق کوي. (الجصاص احکام القرآن مخ:۳۹۵ ټوک:۱ چاپ: سهیل اکیډمي لاهور)[١]

او حافظ ابن حجر رحمه الله د رسول ﷺ ارشاد: "**اقبل الحديقة وطلقها تطليقة**"، (باغ واپس واخله او دې ته یو طلاق ورکړه)

لاندې لیکي: "**امر اصلاح وارشاد لا ایجاب**"[٢]

ترجمه: دا فرمان نبوي ﷺ د اصلاح لپاره دی واجب حکم نه دی.

معلومه شوه چې په دې واقعه کې دخاوند د مرضی نه بغیر د خلعې یو طرفه فیصله نه ده بیان شوې، بلکې حضور ﷺ خاوند ته مشوره ورکړه چې ددې نه باغ واپس واخله او دې ته طلاق ورکړه!

تیر شوو بحثونو سره به څه اندازه شوې وي چې محترمه حلیمه صاحبه د خپل غلط مؤقف ثابتولو لپاره د قرآن کریم او د حدیث نبوي ﷺ مطالبو د خرابولو څنګه زیات کوشش کوي، کاش! چې چا د همدردی او خیرخواهی په خاطر دې ته مشوره ورکړې وی چې دا میدان چې په هغې کې تاسو قدم ایښی دی ډېر ازغي لري چې د هغې نه د ایمان د لمنې تار تار کولو وېره ده، د قرآن و حدیث او د فقهې اسلامي فهم ددې د وس خبره نه ده، ددې د ایمان سلامتي په دې کې ده چې هغه په دې میدان کې د استازۍ نه احتراز وکړي.

....

١] لوكان الخلع الى السلطان شاء الزوجان او ابيا اذا علم انهما لا يقيمان حدود الله لم يسئلهما النبي صلى الله عليه وسلم عن ذلك ولا خاطب الزوج بقوله اخلعها بل كان يخلعها منه ويرد عليه حديقته وان ابيا او واحد منهما كما لما كانت فرقة المتلا عنين الى الحاكم لم يقل للملاعن خل سبيلها بل فرق بينهما. (احكام القرآن للجصاص/ ١/ ١٩٥/ طبع سهيل اكيدمي، لاهور).

٢] فتح الباري لابن حجر/ ٩/ ٣٢٩/ طبع لاهور).

محترمه: مونږ عدالتي طريقې د خبرولو سره ليکي

„دلته دا وضاحت هم ضروري دی چې زمونږ د عدالتونو يوه طريقه دا هم ده چې هغه د مقدمې په دوران کې خاوند او ښځه راغواړي، يوه بله موقع هم ورکوي، ليکن که چېرته عدالت دې نتيجې ته ورسي چې د زوجينو يوځای اوسېدل ناممکن دي: نو په دې صورت کې عدالت د خلعې سند ورکوي او د عدت نه پس که چېرته کومه ښځه عقد ثاني کوي: نو نه عقد ثاني حرام دی، نه قرآن او سنت ددې منع کوی "

په دې سلسله کې ګزارش دی چې که په عدالتونو ښځې خاوند ته د سولې موقع ورکوي: نو ډېر ښه کوي، نن سبا په زمونږ په موجوده عدالتي نظام کې (خصوصاً د کورنيو مسئلو سره چې کوم قانون تړاو لري) په ديکې ډېر عيبونه دي، ځکه چې د خلعې مسئله خالص شرعي مسئله ده. چې په هغې سره حرام او حلال وابسته دی، نو ځکه د عدالتي نظام ددې عيبونو اصلاح ډېره ضروري ده.

څو خبرو ته په لنډ ډول اشاره کوم

١ دلته خو دا ضروري ګڼې چې کوم سړی قاضي شي هغه به د وخت رواجي قانون کې تکړه وي او تر څه مودې پورې به هغه د وکيل په حيث قانوني تجربه هم لرلې وي، ليکن اسلامي شريعت د قضا لپاره چې کوم شرائط مقرر کړي دي، مثلاً اسلام، سړی کېدل، عادل کېدل، د شرعي قانون ماهر کېدل[١]، دوی دا شرائط نه مني، ځکه چې د کوم قاضي په عدالت کې د خلعې مقدمه ځي د هغې په باره کې مونږ ته دا هم نه وي معلومه چې هغه مسلمان هم دی او که نه او د شرعي قانون ماهر خو لرې خبره ده، هغه په ناظره قرآن هم ويلی شي او که نه؟ هر کله چې د کوم غيرمسلم فيصله د مسلمانانو د طلاق او نکاح په معاملاتو کې شرعاً نافذ او مؤثره نه ده: نو ځکه ضروري ده چې دا اصول مقرر شي چې د خلعې کوم مقدمات عدالتونو ته ځي د هغې اورېدنه به داسې قاضي کوي چې مسلمان وي، نيک او خدا ترسه وي او د شرعي مسئلو خوبيانو څخه ښه خبر وي، ځکه چې په خلعې سره حرام او حلال حکمونه تړلي دي؛ نو ددې وجې نه ضروري ده چې په دې کې د شرعي اصولو او قواعدو پابندي وکړي.

---

١ [(قوله لا تصح ولاية القاضى حتى يجتمع فى المولى شرائط الشهادة).......اما الاول فهو انه لا بد ان يكون من اهل الشهادة (فلان حكم القضاء يستقى من حكم الشهادة) يعنى كل من القضاء والشهادة يستمد من امر واحد هو شروط الشهادة من الاسلام والبلوغ والعقل والحرية وكونه غير اعمٰى ولا محدوداً فى قذف والكمال فيه ان يكون عدلاً عفيفاً عالماً بالسنة وبطريق من كان قبله من القضاة. (فتح القدير/ ٥/ ٤٥٣/ كتاب القاضى الى القاضى طبع دار صادر/ بيروت) تفصيل دپاره اوګورئ: شرح المجلة لسليم رستم باز ص:١١٦٣ تا ١١٦٧، طبع حبيب الله بسټی کوټه)_

۲ موجوده عدالتي نظام کې د ټولو نه زيات مؤثر کردار د قانون ماهرين (وکيلان) دي، چې هم هغوی د فريقينو له طرفه په عدالت کې وړاندې کيږي او د عدالت قانوني لارښوونه کوي. ليکن د وکيلانو عمل عموماً دا وي چې باوجود ددېنه چې هغوی ته معلوم وي چې د هغه د مؤکل موقف قطعاً غلط او باطل دی هغه ددې باطل د پيروي لپاره تياريږي او بيا دا باطل د حق کولو او د درواغو د رښتيا ثابتولو لپاره څمکه او آسمان يو ځای کوي. بلکې خپل مؤکل ته هم د دروغو بيان ښيي او دا د دروغو بيان هغه ته داسې يادوي څنګه چې قرآن يادوونکی يو ماشوم په مدرسه کې د قرآن کريم الفاظ يادوي. کومه ښځه چې د خلعې درخواست په عدالت کې پېش کول غواړي؛ نو د هغې لپاره هم د وکيلانو صاحبانو خدمات حاصلول تکليف وي او وکيلان صاحبان ددېنه هم د دروغو بيان اخلي، خيال وکړئ چې د ښځې کومه دعوه د داسې وکيلانو په دروغو مبني وي او عدالت ددې دروغ رښتيا کوي او ددې د خلعې يو طرفه سند ورکوي؛ نو آيا دا عدالتي فيصله د الله تعالى د حرامو او حلالو په بدلولو کې مؤثر کېدی شي؟

۳: د عدالت منصب د فريقينو سره انصاف کول دي او دا په هغه صورت کې ممکن ده چې د عدالت مخه د کومې يوې ډلې په لور نه وي، ليکن د مغربي پروپا ګند زير اثر زمونږ دلته ګويا دا اصول مقرر دي چې د خلعې په مقدمه کې سړی د همېش لپاره ظالم دی او ښځه همېشه معصومه او مظلومه وي. هم دغه وجه ده چې د خلعې سل فيصده فيصلې د ښځې په حق کې کيږي، کله چې عدالت ذهني طور باندې د شروع نه د ښځې د طرفداری اصول مقرر کړي وي؛ نو سوچ کېدی شي چې د دوی فيصله د انصاف په تله کې څومره وزن لري او هغه شرعاً څنګه نافذ او مؤثر کېدی شي او ددې په ذريعه د لومړني خاوند لپاره حرام او د دويم لپاره څنګه حلال کېدی شي؟

۴: د مفتي او قاضي په منصب کې فرق دا دی چې مفتي ته د مسئلې کوم صورت پيش شي هغه ددې شرعي حکم ليکي، دی دا بحث نه کوي چې په سوال کې کوم واقعات ليکل شوي وي هغه صحيح دي او که نه، نه دده په ذمه د اصل حقائقو تالاش لازمي دی، ددې برعکس د قاضي منصب دا دی چې مدعي په خپله دعوه کې چې کوم واقعات ذکر کړي د هغې د يو يو حرف تحقيق او تفتيش وکړي او وګوري چې څومره خبرې رښتيا دي او څومره دروغ؟ او کله چې د تحقيق او تفتيش نه پس شيدې او اوبه جدا- جدا شي؛ نو ددې په رڼا کې د عدل او انصاف تله د دوی په لاس کې وي او د خدای لپاره دي فيصله وکړي. [۱]

[۱] وحاصل ما ذكره الشيخ قاسم فى تصحيحه: انه لا فرق بين المفتى والقاضى الا ان المفتى مخبر عن الحكم والقاضى ملزم به.....الخ. (درمختار/ ۱/ ۷۴/ مقدمة/ طبع ايچ ايم سعيد/ كراچى)۔

لیکن دلته یې د خلعې په مقدمو کې د تفتیش ضرورت ډېر کم کړی، ګویا عدالتونه د قاضي په ځای د مفتي دنده ترسره کوي، د مدعیه له جانبه چې کوم واقعات پېش کیږي چې هغه وکیلان د خپل خاص مهارت په ذریعه خبره غټول غواړي او رنګ سازي او مبالغې کوي، عدالت هم دا آسماني وحي او اخري پرېکړه ګڼي، ددې مطابق یو طرفه سند جاري کوي، خاوند ته د عدالت حاضرېدلو تکلیف هم نه ورکوي، نه د صحیح صورت د معلومولو تکلیف کوي، عدالت زیات نه زیات دا کوي چې د خاوند په نوم یوه دوسیه (مقدمه) لیکي چې:

هغه دې په فلاني تاریخ عدالت ته حاضر شي او خپله رایه دې وړاندې کړي، کنه دده خلاف کاروایي به په یو طرفه عمل کې واورول شي. سړی داسې ګڼي چې دده عدالت ته تلل او نه تلل دواړه برابر دي، ځکه چې عدالتي فیصله خو بهرحال دده خلاف ده؛ نو ځکه هغه د عدالت یادونه نه اخلي، دلته عدالت دا ګڼي چې هغوی د خاوند په نوم یادونه لېږلې او اوس به د قانون او انصاف ټولې تقاضې پوره کوي، اوس که چېرته هغه عدالت ته را نه شي؛ نو خپل زیان به کوي، ځکه هغوی د خلعې یو طرفه پرېکړه کوي.

اصل کې د خلعې مقدمه هم په دیواني مقدمو قیاس شوې ده چې مالیاتي مقدمه کې که چېرته مدعاعلیه عدالت ته حاضر شي او خپله دفاع ونه کړي؛ نو فیصله به دده خلاف ورکول کیږي، ځکه هغه د دوی له ویرې خپله عدالت ته حاضریږي، حال دا چې د خلعې مقدمه د ښځې د ناموس د حلالو او حرامو سره تړلې ده، په دې کې داسې سستي په یوه طریقه هم نه روا کیږي او کله چې عدالت خپل منصبي فرض چې شرعاً دده په ذمه دی پوره نه کړي؛ نو دده د یوطرفه فیصلې په باره کې څنګه وویل شي چې هغه شرعاً نافذ او مؤثره ده؟

زموږ عدالتونه اخر داسې بې اختیاره ولې دي چې هغوی مدعاعلیه عدالت ته د راغوښتلو نه عاجزه دي او بغیر د تفتیش نه د حلالو او حرامو یوطرفه فیصلې کولو ضرورت هغوی ته پیدا شي؟

٥ د ښځې خاوند په منځ کې که د جنګ وېره وي؛ نو حق تعالی حکام او د دواړو کورنیو خلکو ته حکم کړی چې د دوی په منځ کې د سولې کوشش وکړي، د الله تعالی ارشاد دی:

,,او که چېرته تاسو ته ددې دواړو په منځ کې د جنګ وېره وي؛ نو تاسو یو سړی چې د فیصلې کولو لیاقت لري، د سړي له کورنۍ نه او بل سړی چې د فیصلې لیاقت لري د ښځې د کورنۍ نه هغوی ته لاړ شئ او تحقیق وکړئ او کوم څوک چې بې لارې وي یا د دواړو ګناه وي هغوی دې پوه کړي) که چېرته دې دواړو سړو ته (په رښتیني زړه سره) اصلاح منظور وي؛ نو الله تعالی به د ښځې خاوند په منځ کې اتفاق پیدا کړي، بې شکه الله تعالی لوی علم او لوی خبر والا دی (النساء: ۳۵- د تهانوي رحمه الله د ترجمې نه راخیستل شوی.)[1]

---

[1]]وان خفتم شقاق بینهما فابعثوا حکماً من اهله وحکماً من اهلها ان یریدا....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

لیکن دلته دا الهي حکم یو وار له نظره غورځول شوی دی او د خلعې یوطرفه سند د ټولو خانداني مسئلو واحد حل ګرځول شوی؛ نو ځکه د ښځې خاوند په منځ کې د سولې کولو دا قرآني حکم ګویا منسوخ شوی دی، د هلک او نجلۍ د خاندان خلک به د دوی لپاره څه قدم پورته کوي؟ زمونږ عدالتونه هم د قرآن کریم په دې حکم باندې د عمل کولو ضرورت نه محسوسوي، بلکې ددې نه زیات په خندا - خندا کې ظلم کوي چې بعضې وخت ښځه خاوند دواړه شریفانه ژوند تیرولو لپاره تیار وي، لیکن د نجلۍ مورپلار د خلعې د دروغو دعوې کولو سره د خلعې یوطرفه سند حاصل کړي او عدالت د ښځې خاوند نه پوښتنه هم نه کوي. ځکه چې په ۱۲ اګست چې د کوم سوال ځواب ما ورکړی وو (او د هغې رد حلیمې صاحبې کړی ؤ) په هغې کې هغې مظلومې نجلۍ چې هغې ته د خلعې یوطرفه سند عدالت ورکړی ؤ، دا یې لیکلي وو چې زه او زما خاوند دواړو کور آبادول غوښتل، لیکن زما مور- پلار زما له طرفه د خلعې دعوه کړې وه او زما د خاوند د اطلاع نه بغیر یې یوطرفه سند حاصل کړی ؤ، انصاف وکړئ چې په کومه فیصله د قرآن کریم پورته حکم شاته وغورځول شي چې په هغې کې د زوجینو د خواهش باوجود هغوی ته د ملاوېدلو موقع نه ده ورکول شوې او په هغې کې د زوجینو خواهش پیمال کوي او یوطرفه سند ورکولی شي، د داسې فیصلې په باره کې څنګه ووېل شي چې هغه شرعاً نافذ او مؤثر دی، په دې سره د ښځې خاوند نکاح ختمه شوه او اوس ښځه د عقد ثاني لپاره آزاده ده؟

دا ما د موجوده عدالتي نظام د یو څو اصلاحي امورو نشاندهي وکړه، کنه نو د داسې خبرو تفصیل ډېر زیات دی، ددې لپاره مستقل وخت پکار دی:

اند کے با تو گفتم درد دل و ترسیدم
که دل آزرده شوی ورنه سخن بسیار است

ترڅو پورې چې د اسلامي شریعت په رڼا کې ددې امورو اصلاح ونه شي؛ نو د عدالت یوطرفه فیصله به شرعاً کالعدم وي، ځکه چې نه خو به د ښځې خاوند نکاح ختمیږي او نه به ښځې ته د دویم عقد اجازه په شریعت کې وي.

....

محترمه په ډېر معصوم انداز دا سوال کوي چې:

بالفرض که چېرته مونږ دا ومنو چې د خلعې لپاره د خاوند اجازه او مرضي ضروري وي؛ نو بیا په خلعه او طلاق کې څه فرق پاتې شو؟

...بقیه د تیرمخ] اصلاحاً یوفق الله بینهما، ان الله کان علیماً خبیراً. (النساء: ۳۵)۔

پورته تفصیل کې تېر شو چې د قرآن، سنتو او اجماع امت په رڼا کې خلع د ښځې خاوند دواړو د اجازت او مرضی نه بغیر نه کیږي او محترمې چې د قرآن او سنتو خلاف ددې د ثابتولو کوشش وکړ چې د خلعې لپاره د خاوند اجازه ضروري نه ده. ددې غلط او باطل کېدل هم په پوره وضاحت سره بیان شو، پاتې شو د محترمې دا سوال چې بیا د خلعې او طلاق په منځ کې څه فرق پاتې شو؟ ددې په ځواب کې ګزارش دی چې ددې دواړو په منځ کې د ځمکې او سمان- مشرق او مغرب فاصله ده، چې د فقهې یو لومړۍ زده کوونکی طالب هم پوهیږي.
طلاق د سړي انفرادي حق دی چې په هغې کې د ښځې د خواهش او مرضی هیڅ دخل نشته، کله چې سړی د طلاق لفظ استعمال کړي؛ نو که هغه غواړي او که یې نه غواړي او دا طلاق قبلوي او که یې نه قبلوي په دواړو صورتونو کې طلاق واقع کیږي[1]، بلکې ددې نه زیات دا چې د طلاق لفظ استعمالولو سره د سړي رضا هم ضروري نه ده، که چېرته څوک خپلې ښځې ته طلاق ورکړي او بیا دعوه وکړي چې ما طلاق د زړه په خوښه نه وو ورکړی بلکې هسې مې د ښځې د وېرولو لپاره ورکړی وو او محض د مذاق په طور مې لفظ د طلاق کارولی ؤ؛ نو بیا هم طلاق واقع کیږي[2]، ددې په عکس خلع کې د دواړو رضا شرط ده، که چېرته سړی ښځې ته د خلعې وړاندې وکړي تر څو پورې چې ښځې قبول کړې نه وي خلع نه کیږي، هم دغه راز که چېرته ښځه خپل خاوند نه د خلعې مطالبه وکړي؛ نو د خاوند د قبلېدلو نه بغیر خلع نه کیږي، یو شی (خلع) د دواړو فریقینو په رضا پورې تړلې ده، دویم شی (طلاق) د دواړو د رضا نه بغیر هم واقع کیږي، څنګه عجیبه خبره ده چې تاته ددې دواړو تر منځ فرق نه محسوسیږي؟
او ستا دا تصور چې څنګه سړی ښځې ته د هغې د مرضی نه بغیر طلاق ورکول کیږي؛ نو هم دغه راز ښځه د سړي د رضام نه بغیر دده نه خلع اخیستلی شي، دا جدید دور هغه مغربي تصور دی، چې په هغې سره د شریعت پوره خانداني نظام چپه کیږي او په دې سره د الله تعالی هغه حکمت بالغه باطلیږي، چې د هغې لپاره الله تعالی د نکاح غوټه د سړي په لاس کې ورکړې ده، د ښځې په لاس کې نه.

---

١ [اما المرأة فلا تقدر على تطليق الزوج وبعد الطلاق لا تقدر على مراجعة الزوج ولا تقدر ايضاً على ان تمنع من المراجعة. (تفسير كبير/ ٢/ ٢٤٧/ طبع بيروت). ايضاً: عن ابن عباس رضى الله عنهما: جاء الى النبى صلى الله عليه وسلم رجل: فقال: يا رسول الله! سيدى زوجنى امته وهو يريد ان يفرق بينى وبينها، فصعد النبى صلى الله عليه وسلم المنبر، فقال: يٰا ايها الناس! ما بال احدكم يزوج عبده من امته ثم يريد ان يفرق بينهما انما الطلاق لمن اخذ بالساق. (فتح القدير٤/ ٢٩٤/طبع دارالمعرفة بيروت)، ايضاً: ابن ماجة ١/ ١٥٢/ باب طلاق العبد، طبع نور محمد كراچى)

٢ [ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبداً او مكرهاً او هازلاً او سفيهاً او سكران او اخرس او مخطأاً. (درمختار/ كتاب الطلاق/ ٣/ ٢٣٥ تا ٢٤١/ طبع سعيد، ايضاً: عالمگيرى/ ١/ ٣٥٣/ فصل فيمن يقع طلاقه طبع رشيديه)۔

محترمه ليکي ,, آيا مومنږ د رسول ﷺ خلاف فيصله کولی شو؟ يقيناً نه''!!
بې شکه د کوم امتي دا طاقت نشته چې د رسول ﷺ خلاف فيصله وکړي او که څوک يې وکړي:نودخلعې يوطرفه عدالتي سند په څېربه هغه فيصله کالعدم اوباطل وي، ليکن محترمې ته سوچ پکار دی چې د رسول ﷺ د فيصلې خلاف د فيصلې کولو بهادري څوک کوي؟

د حضور ﷺ جميلې ته درخواست خلع باندې د هغې خاوند ته فرمايلي وو چې خپل باغ (چې تا هغې ته په مهر کې ورکړی وو) واپس واخله او هغې ته طلاق ورکړه. ليکن محترمه حليمه اسحاق ليکي چې د خلعې لپاره د خاوند نه د پوښتنې ضرورت نشته. دا د ښځې انفرادي حق دی او عدالت د خاوند د پوښتنې بغير د دواړو په منځ کې جدا والی کولی شي او ليکي چې: دا د حضور ﷺ د فيصلې خلاف ده يانه؟

محترمه، د حضور ﷺ د ژوند مبارک يوه واقعه هم وړاندې نه کړه چې په هغې کې د ښځې په درخواست خلع باندې حضور ﷺ د خاوند نه پوښتنه نه وي کړې او صرف د ښځې په درخواست خلع باندې د هغې په لاس کې د خلعې يوطرفه سند ورکړی وي، اوس خپله انصاف وکړئ چې رسول الله ﷺ (زما ځان او زما مورپلار دې له هغه قربان وي) مخالفت څوک کوي؟ فقهاء که خپله محترمه حليمه اسحاق؟

ثالثي د خدای لپاره وکړئ!!!

محترمه ليکي چې: خلع د ښځې يو داسې حق دی چې هغې ته الله ورکړی دی. رسول اکرم ﷺ په دې باندې د عمل کولو تصديق کړی.

د الله او د رسول ﷺ خبره په سر سترګو، مګر محترمې دا خو ووايه چې د قرآن کريم کوم آيت دی چې په هغې کې الله تعالی فرمايلي چې خلع د ښځې انفرادي حق دی، کله چې د هغې زړه وغواړي سړی خلع ورکولو سره هغه رخصت کولی شي او د رسول الله ﷺ کوم حديث دی چې په هغې کې د ښځې دا انفرادي حق بيان کړی وي چې ښځه د خاوند د اجازت بغير هغې ته خلع ورکولی شي؟

بې شکه الله تعالی ښځې ته دا حق ورکړی چې هغه ضرورت محسوس کړي؛ نو د خاوند نه د خلعې درخواست کولی شي او د خلعې په بدله کې د مالي معاوضې وړانديز کولی شي، د خلعې حق او د خلعې د مطالبې حق، دا دوه جدا - جدا شيان دي، الله تعالی ښځې ته دا حق ورکړی چې هغه د خاوند نه د خلعې غوښتنه کولی شي، دا حق يې نه دی ورکړی چې هغه خپله سړي ته خلع ورکولی شي.

ددې مثال داسې دی چې الله تعالی هر سړي ته حق ورکړی چې د حدود شرعيه وو رعايت وکړي چېرته چې غواړي نکاح کولی شي، دا حق سړي ته هم دی او ښځې ته هم، ليکن د نکاح دا حق يوطرفه نه دی، ځکه چې نکاح يو داسې عقد دی چې د دواړو فريقينو په رضا موقوف دی، هم دغه راز خلع هم يو داسې عقد دی چې ددې په ذريعه دواړه فريقه د نکاح د

ازالې بالعوض معامله پوره کړي، څنګه چې د نکاح د پیغام استولو حق هر سړي ته حاصل دی لیکن عملاً نکاح به هغه وخت وي چې کله دواړه فریقه (اصالةً یا وکالةً) د نکاح ایجاب او قبول وکړي، هم دغه راز د خلعې پیشکش کول د ښځې حق دی، لیکن عملاً خلع به هغه وخت وي کله چې دواړه فریقه ددې عقد ایجاب او قبول وکړي. په خلاف د طلاق چې هغه عقد نه دی بلکې یمین دی، سړي ته ددې یمین اختیار ورکول شوی دی، خواه که دویم فریق یې قبول کړي او که نه، بلکې دویم فریق ته ددې علم وي او که نه وي.

غرض خلع اخیستل د ښځې حق دی، لیکن عملاً دې ته به هغه وخت خلع ملاویږي چې کله خاوند ورته خلع ورکړي، دا لفظ خپله ښیي چې هغه د خاوند نه خلع اخیستلی شي. هغې ته خپله نه شي ورکولی، خلع اخیستل ددې (ښځې) حق دی او خلع ورکول د هغه (سړي) حق دی.

....

دخپل مضمون په پای کې محترمه لیکي:

د پورته بیان نه امید دی چې د ډیرو داسې ښځو شک او شبهې لرې شوي وي چې یا خو صحیح رهنمایي ورته نه وي ملاوه شوې، یا د چا په دباو کې راتللو سره د خپلې خوښې باوجود خپل حق نه شي استعمالولی.

زه د محترمې ممنون یم چې ددې تحریر له وجې یې ماته د خلعې د مسئلې د وضاحت موقع راکړه! زما امید دی چې ددې وضاحت نه پس هغه ټولې ښځې (او د هغوی مورپلار) چې د عدالت نه د خلعې یوطرفه سند حاصلولو سره په دې غلط فهمۍ کې اخته کیږي چې د هغې لومړنۍ نکاح ختمه شوې ده؛ نو ځکه هغه بغیر د تکلف نه دویم عقد کولی شي، د دوی غلط فهمي لرې شي او هغوی به په ښه طریقه پوه شي چې:

د قرآن کریم او حدیثو له مخې خلع هغه وخت کیږي چې کله ښځه خاوند دواړه په دې باندې متفق شي.

په اجماع د امت سره د خاوند له طرفه دویم سړي یا اداره یا عدالت دده ښځې ته د طلاق ورکولو یا د خلعې ورکولو اجازه نه لري، که چېرته د کوم خاوند ښځې ته د هغه بې اجازې کوم سړي یا کومې ادارې یا کوم عدالت طلاق ورکړ یا یې خلع ورکړه؛ نو هغه شرعاً کالعدم ده، دا ښځه هم هغسې د خپل خاوند په نکاح کې ده، تر څو پورې چې د خاوند نه طلاق یا خلع وانخلي.

داسې ښځه چې هغې ته د خاوند د مرضۍ نه بغیر کومې ادارې طلاق یا خلع ورکړی وي هغه هم هغسې د خپل خاوند په نکاح کې ده؛ نو ځکه ددې دویم عقد باطل دی، که چېرته هغه دویم ځای عقد کوي؛ نو د همېش لپاره به د ګناه ژوند تېروي او د هغې وبال به په دنیا او آخرت کې په دوی باندې وي.

یادونه: ما دا مضمون د حلیمه اسحاق ددې آزاد فکرۍ په ځواب کې لیکلی چې ښځې ته د خلعې یوطرفه حق دی او دا چې عدالت ته د خلعې د یوطرفې سند جاري کولو اختیار دی، زه ددېنه ناخبره نه یم چې ځینو حالاتو کې ښځه بې انتها مشکل کې وي او د هغې لپاره ددې نه سېوا بله چاره نشته چې عدالت ددې په معامله کې مداخله وکړي. مثلاً خاوند د نامرد کېدلو باوجود ښځه نه خلاصوي، کله متعنت شي چې نه ښځه آبادوي او نه یې آزادوي. یا یې خاوند ورک وي یا لېونی وي چې د هغه له وجې ښځه په سختو مشکلاتو کې ګېره وي. په داسې صورتونو کې مسلمان حاکم ته په خاصو شرایطو د جدا کولو حق شته.

❖ د اخیستلو، خرڅولو او مزدورۍ اُصول ❖

....

تجارت کې دګټې شرعي حد څه دی؟

سوال: تجارت کې څومره ګټه جائزده؟ او شرعي حد یې معلوم دی او که نه؟

جواب: نه! دګټې کولوحد معلوم نه دی[1]، خودبازار دعام قیمت نه زیاته ګټه اودخلکو له مجبوري نه غلطه فائده اخیستل جائزنه دي.[2]

---

[1] عن ابی سعید رضی الله عنه قال: غلا السعر علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالوا له: لو قومت لنا سعرنا، قال: ان الله هوالمقوم اوالمسعر انی لارجوا ان افارقکم ولیس احدکم یطلبنی بمظلمة فی مال ولا نفس. (مسند احمد/ ۳ /۸۵). وعن انس بن مالک رضی الله قال: غلا السعر علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالوا: یارسول الله! قد غلا السعر فسعر لنا، فقال: ان الله هوالمسعر، القابض الباسط الرازق. (سنن ابن ماجة/ ۱۵۹، ابواب التجارات). ایضاً: ولایسعر حاکم لقوله علیه الصلاة والسلام: "لاتسعروا فان الله هوا لمسعر القابض الباسط الرازق" الا اذا تعدی الأرباب عن القیمة تعدیا فاحشا فیسعر بمشورة اهل الرأی (الدرالمختار مع ردالمحتار، کتاب الحظر والاباحة، فصل فی البیع/ ۶/ ۴۰۰). ومن اشتری شیئاً واغلی فی ثمنه فباعه مرابحة علی ذالک جاز. وقال ابویوسف رحمه الله تعالي: اذا زاد زیادة لایتغابن الناس فیها فانی لا احب ان یبیعه مرابحة حتی یبین.....والاصل ان عرف التجار معتبر فی بیع المرابحة. (فتاویٰ عالمگیري/ ۳/ ۱۶۱/ کتاب البیوع، الباب الرابع عشر فی المرابحة ولتولیة، طبع رشیدیه کوئته)۔

[2] عن علی ابن ابی طالب رضی الله عنه قال: سیأتی علی الناس زمان عضوض یعض الموسر علی مافی یدیه، ولم یؤمر بذلک، قال الله تعالي: "ولاتنسواالفضل بینکم" ویباع المضطرون، قد نهی النبی صلی الله علیه وسلم عن بیع المضطر. . . . الخ. (سنن ابی داؤد/ ۲/ ۱۲۴، باب بیع المضطر، طبع امدایه ملتان). ایضاً: وفی اعلاء السنن/ ۱۴/ ۲۰۵ /کتاب البیوع، باب النهی عن بیع المضطر، تحت هٰذا الحدیث). . . . قال الشامي: وهو ان یضطر الرجل الی طعام وشراب او غیرها، ولایبیعه البائع الا باکثر من ثمنها بکثیر، وکذٰلک فی الشراء منه. . . . . . مثال البیع المضطر ای بان اضطر الی بیع شيء من ماله ولم یرض....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

آیا اسلام کې د ګټې کولو څه معلومه اندازه ښودل شوې ده؟

سوال: جناب! زه ستاسو توجه ډیرې ډیرې اهمې مسئلې طرف ته غواړم چې په وجه یې نن سبا خلک ډیرزیات پریشانه دي، مسئله داده که چرې یودکان دار په څه شي باندې هرڅومره ګټه حاصله کړي، آیاهغه شرعي طورباندې صحیح ده؟مثلاً: دکپړې کاروباري یو ګز کپړه په لس روپۍ اخلي اوهغه په دیریش روپۍ ګز خرڅوي، نوایاداصل قیمت نه په دوچنده باندې زیاته ګټه اخیستل صحیح دي؟ همدغه مثال دمستریانوهم دی، مثلاً: که یو سړی خپل موټر مستري ته د جوړولوله پاره بوځي، نوهغه مستري دګاک (مشتري) دنه پوهیدوپه وجه باندې غلطه فائده اخلي اوهغه نه دیریش څلویښت روپۍ زیاتې اخلي، که څه هم اصل نقص ددوو روپیووي اوپه موټر جوړولودمستري دوه څلورمنټه لګیږي، نوایاداګټه جائزده؟ اسلام چونکې فطري دین دی او دداسې قسمه ناجائزه کارکولو اجازه هیڅکله نه ورکوي، په دې وجه باندې مهرباني وکړئ اووددې وضاحت وکړئ چې اسلام کې دګټې دشرح معلوموموڅه طریقه ده؟

جواب: شریعت دګټې کولوحدنه دی ښودلی، چې دومره جائزده او دومره ناجائز، خوشریعت د بالکل ظلم اجازه نه ورکوي(څه ته چې عام طورباندې جیب وهنه ویل کیږي)[1] کوم کس چې دداسې ګټې کولو عادت وي دهغه دګټې نه برکت ځي[2] اوحکومت ته اختیارورکړل شوی دی چې دمناسې ګټې معیارمقررکړي اودهغې نه زیاتې کونکو باندې پابندي ولګوي.[3]

...بقیه د تیرمخ] المشتری الا بشرائه بدون ثمن المثل بغبن فاحش، ومثاله لو الزمه القاضی یبیع ماله لایفاء دینه او الزم الذمی یبیع مصحف او عبد مسلم ونحو ذلک انتهٰی. (بذل المجهود/ ٤/٢٥٢). فیه ایضاً: ما قال الخطابي رحمه الله: ان عقدالبیع مع الضرورة علی هذا الوجه جائز فی الحکم ولایفسخ، الا ان سبیله فی حق الدین والمروء ة ان لا یباع علی هذا الوجه، وان لا یقتات علیه بماله ولکن یعاون ویقرض ویستمهل له الی المیسرة حتی یکون له فی ذلک بلاغ. . . اه. وایضاً: قال ابن عابدین: التسعیر حضر معنی، لانه منع عن البیع بزیادة فاحشة. (ردالمحتار/ ٦/ ٤٠١)

[1] قال ابن عابدین: التسعیر حج معنی، لانه منع عن البیع بزیادة فاحشة. (ردالمحتار/٦/ ٤٠١). ومن اشتری شیئاً واغلی فی ثمنه فباعه مرابحة علی ذالک جاز وقال ابویوسف رحمه الله تعالي: اذا زاد زیادة لا یتغابن الناس فیها فانی لا احب ان یبیعه مرابحة حتی یبین. (عالمګیري/٣/ ١٦١، کتاب البیوع، الرابع عشر فی الرابحة)۔

[2] عن حکیم ابن حزام رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: البیعان بالخیار مالم یفترقا، فان بینا وصدقا بورك لهما فی بیعهما وان کذبا وکتما محق برکة بیعهما، (رواه النسائی ج٢ ص٢١٢، کتاب البیوع)۔

[3] ولایسعر حاکم الا اذا تعدی الارباب عن القیمة تعدیاً فاحشاً فیسعر بمشورة اهل الرأی. (تنویر الابصار/ ٦/ ٤٠٠، کتاب الحظر والاباحة، فصل فی البیع). وایضاً: واعلم انه لارد بغبن فاحش هو ما لا یدخل تحت تقویم المقومین فی ظاهر الروایة وبه افتی بعضهم مطلقاً کما فی القنیة ثم رقم وقال ویفتی بالرد رفقاً بالناس وعلیه اکثر روایات المضاربة وبه یفتی ثم رقم وقال ان غره ای غرالمشتری البائع او بالعکس اوغره الدلال فله الرد والا لا وبه افتی صدر الاسلام وغیره. (درمختار/ ٥/ ١٤٢، کتاب البیوع،....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

حديث کې د کومو شپږو شيانو د بدلولو په وخت کې برابري و نغد کيدل ضروري دي

سوال: مايوحديث اوريدلى دى چې هغه کې ديوځو شيانو ذکر دى. دهغو داخيستلووخت کې ضروري دى چې برابردهغو بدل ورکړل شي اوهماغه وخت لاس په لاس ورکړل شي. پوښتنه داده چې هغه کوم شيان دي چې پکې ددې شرطونوخيال ساتل ضروري ښودل شوى دى؟ اوکه چيرته يوکس ددې شرطونوخيال ونه ساتي، نوهغه اخيستل اوخرڅول به دحرام په درجه کې داخل وي، مهرباني وکړئ داقسمه يوحديث هم بيان کړئ!

جواب: کوم شى چې ناپ اوتول سره خرڅيږي، کله چې هغه بدليږي، نوضروري ده چې دواړه شيان برابر، برابروي اودامعامله لاس په لاس وشي، دې کې قرض هم ناجائزدى اوکمى اوزيادت هم، مثلاً: که چېرته غنم په غنمو سره بدليږي، نودې کې به دواړه خبرې ناجائزوي، يعنې کمى او زيادت اوقرض دواړه به ناجائزوي اوکه چېرته غنم جوارو سره بدليږي. نوکمى او زيادت جائزدى[1]، خوقرض ناجائزدى.

هغه حديث دادى: **عن عبادة بن الصامت رضی اللہ عنہ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الذهب بالذهب، والفضة بالفضة، والبر بالبر، والشعير بالشعير، والتمر بالتمر، والملح بالملح، مثلاً بمثل سواءً بسواء يداً بيد... الخ.** (مشکوة ص ٢٤٤)

حضور ﷺ د شپږو شيانوذکر کړي دي: سره زر، سپين زر، ورژې، جوار، کجورې، مالګه اوفرمايلي دي چې کله سره زر دسرو زرو په بدله کې، سپين زردسپينوزروپه بدله کې، وريژې دوريژو په بدله کې، جواردجوارو په بدله کې، کجورې دکجوروپه بدله کې، مالګه دمالګې په بدله کې خرڅيږي، نو داضروري ده چې دواړه برابر او لاس په لاس وي، په نيته (پور) باندې اخيستل او خرڅول او کمى او زيادت سود دى. (مسنداحمدج٢ص٢٣٢)[2]

...بقيه د تيرمخ] باب المرابحة والتولية). ايضاً: وانْ كان ارباب الطعام يتحكمون على المسلمين، ويتعدون عن القيمة تعدياً فاحشاً، وعجز القاضى عن صيانة حقوق المسلمين الا بالتسعير فلا بأس بالتسعير بمشورة من اهل الرأى والبصر. (المحيط البرهاني/ ٨/ ٢٦٨، الفصل الخامس والعشرون)۔

[1] (وعلته) اى علة تحريم الزيادة (القدر) المعهود بكيل او وزن (مع الجنس فان وجدا حرم الفضل) اى الزيادة (والنساء) بالمد التأخير فلم يجز بيع قفيز بر بقفيز منه متساوياً واحدهما نسأ (وان عدما) بكسر الدال من باب علم (حلا) كهروى بمرويين لعدم العلة فبقى على اصل الاباحة (وان وجد احدهما) اى القدر وحده اوالجنس (حل الفضل وحرم النسأ). (درمختار مع ردالمحتار/٥/ ١٧٢، باب الربا، وايضاً: فى الهدايه/ ٣/ ٧٩/ باب الربا)

[2] عن عبادة بن الصامت رضی اللہ عنہ عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: الذهب.... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د يو شي د دوو جنسونو خپلو کې بدلون څنګه کيږي؟

سوال: د حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب مفتي اعظم پاکستان ليکنه «مسئله سود طبع مارچ ۱۹۸۲ء» مې ولوستله. ددې کتاب په (۸۸ او ۸۹) صفحو باندې ۳۳، ۳۲، ۳۱ حديثونه نقل شوي دي، ددې مضمون هم يو حديث په صفحه نمبر ۱۷ باندې ورکړل شوی دی، دې احاديثو کې د شپږو شيانو د کاروبار ذکر شوی دی، يعنې سره زر، سپين زر، غنم، جوار، چوارې (وچې خرما) او مالګه.

اګرچې دې سره ترجمه ليکل شوې ده، خو تشريح يې داسې نه ده چې په هغه باندې عام سړی پوه شي، چې ددې شيانو د کار وبار (لين دين) کومه طريقه جائزده او کومه ناجائز؟ زموږ په کليو کې دا رواج عام دی چې د کوم سړي غله د کور د ضرورت له پاره پوره نه وي، يا د هغه د کور تخم خالص نه وي (د کرلو قابل نه وي) نو هغه د خپلوانو نه د ضرورت مطابق غله په قرض واخلي او د نوي فصل راتلو باندې هغه هغومره ورته واپس کړي، ددې احاديثو په رڼا کې ايا دا طريقه صحيح ده؟

دويم مشکل دا دی چې اوس ملک د غنمو بې شماره قسمونه کرل کيږي او د هغه قيمت هم د يو بل نه جدا دی، دلته د مثال په ډول زه د خپلې علاقې د غنمو په مختلفو قسمونو کې يوازې دوه قسمونه ذکر کوم:

۱: ګندم پاک ۸۱، ددې قيمت په ځايي منډيي کې له اويا نه تر اتيا روپې پورې من دی.

۲: ګندم سي ۵۹۱، ددې قيمت په ځايي منډيي کې تقريباً يو سل شل روپيو پورې من دی.

د لومړي قسم پيداوار زيات کيږي او دويم په خوراک کې د لومړي په مقابله کې ښه وي هم د غه وجه ده چې ددې په قيمتونو کې څلويښت پنځوس روپې فرق دی، که چيرته ددې د بدلولو ضرورت راشي، نو هغه به څنګه کيږي؟ د قيمت په لحاظ يا د جنس په لحاظ باندې؟ ددې مشکلاتو جواب راکړئ او د شکريې اداکولو موقع راکړئ.

...بقيه د تيرمخ] بالذهب مثلاً بمثل، والتمر بالتمر مثلاً بمثلٍ، والبر بالبر مثلاً بمثلٍ، والملح بالملح مثلاً بمثلٍ، والشعير بالشعير مثلاً بمثلٍ، فمن زاد او ازداد فقد اربٰى، بيعوا الذهب بالفضة كيف شئتم يداً بيد وبيعوا البر بالتمر كيف شئتم يداً بيدٍ، وبيعوا الشعير بالتمر كيف شئتم يداً بيد. (رواه الترمذي/ ۱/۲۳۵/ابواب البيوع، طبع قديمي، وايضاً: مسند احمد/ ۲/۲۳۲، وايضاً: مشكوٰة/ ۲۴۴). عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الحنطة بالحنطة والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح كيلاً بكيلٍ وزناً بوزنٍ، فمن زاد او ازداد فقد اربٰى الا ما اختلف الوانه. (مسند احمد/ ۲/ ۲۳۲)۔

جواب: دغلې بدلون كه چيرته دغلې سره وي اودواړه ديوجنس وي، خو ددواړو په نوع(ډول) كې فرق وي، نو دواړه يو برابر اولاس په لاس معامله شرط ده. كمي او زياتي جائزنه دي[1] اوديوله طرف نه قرض هم جائزنه دی[2] تاسوچې دغنموكوم دوه قسمونه ليكلي دي هغو كې ديومن په بدله كې مثلا يونيم من وركول جائزنه دي، بلكې دواړه برابر ضروري دي. كه چيرته ددواړوقيمت كم يازيات وي، نودجنس بدلون به دجنس سره نه كيږي، بلكې ددواړه به جداجدا سودا كړل شي، دجداجدا قيمت سره.[3]

تجارت له پاره په ګټه باندې پيسې اخيستل

سوال: ما ديوكس نه دتجارت له پاره پيسې وغوښتې، هغه كس وايي چې تجارت كې چې كومه ګټه كيږي، هغې كې به زماڅومره برخه وي؟ زه داتكل له مخې هغه ته پيسې ښيم. چې هغه ماته پيسو راكولوباندې راضي شي، تاسوته مې عرض ده چې قرض اخيستوسره داسې تجارت كول، چې هغې كې ماته هم دمناسې ګټې اميددی، جائزدي؟

جواب: دچانه پيسې اخيستل اوپه هغو تجارت كول اوګټه كې هغه ته برخه وركول، ددې دوه حالتونه دي، يوحالت دادی چې داخبره مخكې وشي چې په تجارت كې څومره ګټه وشي دهغه دومره فيصد(مثلا ٢ : ١) به دپيسو خاوند(رب المال) ته وركول كيږي اودومره به كار كونكي

[1] (قوله وجيده كرديه) اى جيد ماجعل فيه الربا كرديه حتى لا يجوز بيع احدهما بالآخر متفاضلاً لقوله عليه السلام: جيدها ورديها سواء. (البحرالرائق/ ٦/ ١٣٠، باب المرابحة والتولية). وفى الهدايه: ولا يجوز بيع الجيد بالردى مما فيه الربا الا مثلاً بمثل لاهدار التفاوت فى الوصف. (هداية/ ٣/ ٨٠، باب الربا، ايضاً: فتاوي شامي/ ٥/ ١٧٩)۔

[2] (وان وجد احدهما) اى القدر وجده او الجنس (حل الفضل وحرم النسا) ولو مع التساوى، حتى لو باع عبداً بعبد الى اجل لم يجز لوجود الجنسية. (درمختار/ ١٧٢). ايضاً: قال ابوجعفر رحمه الله: ولا يجوز بيع شيء من المكيلات بجنسه نسيئة... والاصل فيه قول النبى صلى الله عليه وسلم فى حديث عبادة بن الصامت رضي الله عنه: واذا اختلف النوعان فبيعوا كيف شئتم يداً بيد، وفى بعض الالفاظ: واذا اختلف الصنفان.... الخ. (شرح مختصر الطحاوي/ ٣/ ٣٢/ كتاب البيوع)۔

[3] عن ابى سعيد وابى هريرة رضى الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم استعمل رجلاً على خيبر فجاءه بتمر جنيب فقال: اكل تمر خيبر هٰكذا؟ قال: لا والله يا رسول الله! انا لناخذ الصاع من هٰذا بالصاعين والصاعين بالثلاث، فقال: لا تفعل، بع الجميع بالدراهم ثم ابتع بالدراهم جنيباً. ايضاً: وعن ابى سعيد رضي الله عنه قال: جاء بلال الى النبى صلى الله عليه وسلم بتمر برنى فقال له النبى صلى الله عليه وسلم: من اين هٰذا؟ قال: كان عندنا تمر ردى فبعت منه صاعين بصاع، فقال: اوه عين الربوا، لا تفعل ولكن اذا اردت ان تشترى فبع التمر ببيع آخر ثم اشتريه. متفق عليه. (مشكوٰة/ ٢٤٥، كتاب البيوع، باب الربوا)۔

ته[1] او که چیرې خدای دې نه کړي په تجارت کې تاوان وشي، نو دا نقصان به هم د پیسو خاوند ګالي[2] دا حالت جائز دی. دویم حالت دا دی چې تجارت کې که ګټه وي او که تاوان او که زیاته ګټه وي او که کمه، په هر صورت کې به د پیسو خاوند ته یو مقرر شوي حد پورې پیسې ورکول کیږي (مثلاً کال یا شپږ میاشتې وروسته دوه سوه روپۍ، یا د ټولو پیسو لسمه برخه) دا حالت جائز نه دی.[3] نو که چیرته تاسو له چانه پیسې اخیستو سره تجارت کول غواړئ، نو لومړی صورت اختیار کړئ او که چیرته پیسې ترې قرض غواړئ، نو دې باندې ګټه ورکول جائز نه دي.[4]

کاروبار کې د حرام او حلال خیال

نه ساتونکي پلار نه کاروبار جدا کول

سوال: یو دین دار سړی د خپل پلار سره د پلار په دوکان کې کار کوي، پلار هغه لمونځ کونکي زوی ته (چې هغه واده کړی دی) هسې بې هیڅه خبرې کوي او ورته وایي چې ته دوکان ته وخت نه ورکوې، پلار نه حلال ګوري او نه حرام، اوس د هغه هلک خیال دی چې زه به د پلار نه جدا کاروبار یا نوکري او یا داسې نور..... وکړم، ایا شرعي طور باندې د هغه جدا کیدل صحیح دي او که نه؟

---

[1] اومن شرطها ان يكون الربح بينهما مشاعاً لايستحق احدهما منه دراهم مسماة لأن شرط ذلک يقطع الشركة لجواز ان لايحصل من الربح الا تلك الدراهم المسماة قال فى شرحه اذا دفع الى رجل مالاً مضاربة على ان مارزق الله فللمضارب مائة درهم فالمضاربة فاسدة. (الجوهرة النيرة/١/٣٥٠، كتاب المضاربة). ايضاً: وشرطها (اى المضاربة) امور سبعة..... وكون نصيب كل منهما معلوماً عند العقد. (درمختار/كتاب المضاربة/٥/ ٦٤٧، ٦٤٨/ طبع سعيد)۔

[2] اوما هلک من مال المضاربة فهو من الربح دون رأس المال، لان الربح اسم للزيادة على رأس المال، فلا بد من تعيين الكتاب/ ٢/ ٦٤، ٦٥). ايضاً: وفى الجوهرة: وما هلک من مال المضاربة فهو من الربح دون رأس المال لأن الربح اسم لزيادة على راس المال فلا بد من تعيين راس المال حتى يظهر الزيادة واذا زاد الهالك على الربح فلا ضمان على المضارب فيه لانه امين اللباب فى شرح الكتاب ج٢ ص٦٤، ٦٥_ ايضاً وفى الجوهرة وما هلك من مال المضاربة فهو من الربح دون راس المال لان الربح تبع لرأس المال وصرف الهلاک الى ماهو التبع اولى. . . . . وان زاد لهالک على الربح فلا ضمان على المضارب لأن مال المضاربة مقبوض على وجه الأمانة فصار كالوديعة. (الجوهرة النيرة/ ١/ ٢٩٨/ كتاب المضاربة/طبع بمبئي)۔

[3] اشرطها أى المضاربة . . . . . . (وكون الربح بينهما شائعاً فلو عين قدراً فسدت. (درمختار فى الشامي/ ٥/ ٦٤٨). ايضاً: ولا يجوز الشركة اذا شرط لأحدهما دراهم مسماة من الربح لأنه شرط يوجب انقطاع الشركة فعساه لايخرج الا قدر المسمّى لاحدهما. (هداية/٢/ ٦٣٢/كتاب الشركة/طبع مكتبه شركت علميه ملتان)

[4] ا قوله كل قرض جر نفعاً حرام أى اذا كان مشروطاً. . . الخ. (فتاوئ شامي/ ٥/ ١٦٦/ فصل فى القرض)

جواب: که د پلار رسره د هغه وخت نه تیریږي، نوبخپله پلار ورته هم دجدا کېدو وايي، نوشرعي طورباندې جداکارکولوکې هیڅ بده خبره نه شته، بلکې دهغه خدمت اونورجائزکارونوکې دهغه اطاعت کول دې په ځان باندې لازم وګڼي اود موږپلار د خدمت او اطاعت باره کې په قران اوحدیث کې ډیرزیات نصیحتونه راغلي دي.[۱]

مختلفو اخیستونکو باندې په مختلف قیمت شی خرڅول

سوال: موږسره یوقسم مال وي. هغه موږ دحالاتو، وخت اود ګاک مطابق په مختلف قیمت باندې خرڅو، ایا دغه شان په مختلفو اخیستونکوباندې مختلفو قیمتونوسره خرڅول صحیح دي اوکه یوقیمت مقررول پکاردي؟

جواب: هرچاته په یوقیمت باندې ورکول ضروري نه دي، چاسره رعایت هم کولی شئ.[۲] خو د ناجائزې ګټې اجازه نه شته اونه دچا دمجبوري له وجې چانه دزیات قیمت اخیستواجازه شته.[۳]

له چا کمه اوله چا زیاته ګټه اخیستل

سوال: زه د توکر(کپړې) کار کووم په دوکانداري کې کمي زیادت کول پکار دي ګاک په یو

---

[۱] قال الله تعالیٰ: "وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيماً"(الاسراء: ۲۳).وعن عبدالله بن عمررضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: رضى الرب فى رضى الوالد، وسخط الرب فى سخط الوالد. رواه الترمذی. (مشکوٰة/۲ /۴۱۹). وعن ابن عباس رضى الله عنهما من اصبح مطيعاً لله فى والديه اصبح له بابان مفتوحان من الجنة وان واحداً فواحد ومن اصبح عاصياً لله فى والديه اصبح له بابان مفتوحان من النار، ان كان واحداً فواحد، قال رجل: وان ظلماه؟ قال: وان ظلماه! وان ظلماه! وان ظلماه! (مشکوٰة/ ۲/ ۴۲۱/ باب البر والصلة، الفصل الثالث)۔

[۲] وصح الحط منه ولو بعد هلاک المبیع وقبض الثمن والزیادة والحط یلتحقان بأصل العقد. وفى الشرح: قوله وصحح الحط منه اى من الثمن وكذا من رأس مال السلم والمسلم فيه كما هو صريح كلامهم رملى على المنح. (ردالمحتار على الدرالمختار/ ۵/ ۱۵۴). ایضاً: واما اذا باع بكذا من الثمن وقبل المشترى ثم ابرأه من الثمن او وهبه او تصدق عليه صح. (عالمگیري/ ۳/ ۵/ كتاب البيوع/الباب الأول/ فى تعريف البيع)۔

[۳] وقد نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن بيع المضطر. . . . . . . قال الشامي: وهو ان يضطر الرجل الى طعام وشراب او غيرها ولا يبيعه البائع الا باكثر من ثمنها بكثير وكذلک فى الشراء منه. . . . . قال الخطابي: ان عقد البيع مع الضرورة على هٰذا الوجه جائز فى الحكم ولا يفسخ الا ان سبيله فى حق الدين والمروء ة ان لا يباح على هذا الوجه وان لا يقتات عليه بماله ولكن يعاون ويقرض ويستمهل له الى الميسرة. (اعلاء السنن/ ۱۴/ ۲۰۵/ كتاب البيوع/ باب النهى عن بيع المضطر/ طبع ادارة القرآن كراچى)۔

ځای باندې سودا نه اخلي، ځینې ګاک وايي چې ته یو ریټ (قیمت) ولې وایي؟ ګاک ته د جامې قیمت ویل کیږي، نود کمي اوبیشي نه وروسته یې ګاک اخلي. پوښتنه داده چې په ګټه کې کمي زیاتی صحیح دی؟ مثلاً ګاک ته دیو میټرټوکر شپېته روپۍ قیمت ویل کیږي، ځینې ګاک یې په شپېته روپۍ اخلي او څوک یې په پنځه پنځوس روپۍ باندې اخلي همدارنګه له چانه کمه او له چا زیاته ګټه اخیستل جائز دي اوکه نه؟

جواب: د ګاک سره دټوکر(کپړې) په ریټ کې کمي زیاتی کول جائز دي، که چیر ته یو ګاک ته شپېته روپۍ وايي او هغه یې په هغه قیمت اخیستو باندې راضي کیږي، نودانصاف تقاضا داده چې وورسته به دده پیسې واپس کړل شي. [١] والله اعلم!

ټوکر (کپړه) له عیب ښودلو پرته خرڅول

سوال: زه دټوکر کاروبارکوم، اخیستونکي چې کله دټوکر باره کې پوښتنه وکړي، نو زه ورته اکثر اخوادیخواشان جواب ورکړم اوماته دجامو باره کې ډیرمعلومات وي، مادیوصاحب نه اوریدلي دي چې: هغه مسلمان نه دی چې دمال خرڅولوپه وخت کې دهغو عیبونه ونه ښیي، ایا ماته دجامو خرڅولووخت کې داخیستونکي دپوښتنې کولونه پرته هم هغه عیبونه ښودل پکاردي یادهغه پوښتنه کولوباندې ورته ووایم؟ ستاسودجواب به راته ډیرزیات انتظاروي؟

جواب: بالکل![٢] دیومسلمان دتجارت طریقه هم داده چې اخیستونکي ته د شي عیب وښیي، یاکم نه کم دا ورته ووايي چې ورروره! داشی ستا مخې ته دی ویې ګوره! زه ددې دعیب ذمه دارنه یم[٣] حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله به دجامو تجارت کاو، یوځل یې خپل ملګري ته ویل چې دې جامه کې عیب دی، اخیستونکي ته ووایه پخپله یې چیرته تشریف یوړ، دهغه ملګري دحضرت امام صاحب رحمه الله په نه موجودیت کې هغه جامه خرڅه کړه، کله چې امام صاحب رحمه الله بیرته تشریف راوړ، نوپوښتنه یې ترې وکړه، چې تاهغه ته دجامې دعیب باره کې ویلي و؟ هغه

---

[١] وصح الحط منه ای من الثمن وكذا من رأس المال المسلم والمسلم فيه. (ردالمحتار/ ٥/ ١٥٤/كتاب البيوع باب المرابحة والتولية). وايضاً: واما اذا باع بكذا من الثمن وقبل المشترى ثم ابراه من الثمن او وهبه او تصدق عليه صح. (عالمگيري/ ٣/ ٥/كتاب البيوع).

[٢] (فروع) لا يحل كتمان العيب فى مبيع او ثمن لأن الغش حرام الا فى مسئلتين، قال ابن عابدين رحمه الله (قوله الغش حرام) ذكر فى الخير اذا باع سلعة معيبة عليه البيان وان لم يبين قال بعض مشائخنا يفسق وترد شهادته. . . . الخ. (ردالمحتار على الدرالمختار/٥/ ٥٧/وايضاً: بحرالرائق/٦/ ٢٥)۔

[٣] وفى الشامية: (قوله وصح البيع بشرط البراءة من كل عيب) بأن قال: بعتك هذا العبد على انى برىء من كل عيب. (ردالمحتار/٥/٤٢/مطلب فى البيع بشرط البراءة)۔

ورته وویل چې نه؛ امام صاحب رحمه الله ډیر زیات افسوس وکړ او د هغې ورځې ټوله ګټه یې صدقه کړه.[1]

یوازې د خولې خرڅولو سره یو شی د خپل قیمت نه په زیات قیمت خرڅول

سوال: عمر، زید او بکر په یو دوکان کې کار کوي، خپلو کې پلار او زامن دي. عمر (پلار) یو شی په څوارلس روپۍ باندې راوړ. هغه زید (زوی) باندې په شپاړس روپۍ باندې زیاتي خرڅ کړ. نو زید هم هغه په بکر (یعنې ورور) باندې زیاتي په شل روپۍ خرڅ کړ. بیا چې کله یو اخیستونکی راشي، نو بکر قسم خوري، چې ما دا شی په شل روپۍ باندې اخیستی دی. عمر یا زید د بکر نه پوښتنه کوي چې دا شی په څو باندې اخیستل شوی دی (د ټهوک قیمت)، نو هغه قسم خوري او اخیستونکي ته وایي چې په شل روپۍ. بیا هغه شی په څلیریشت یا پنځویشت روپۍ باندې خرڅ کړل شي، ایا اسلام کې داسې زیاتي اخیستل او خرڅول او قسمونه خوړلو سره تجارت کول جائز دي؟

جواب: دا یوازې دوکه ده او دا د دوکې تجارت دی.[2]

د دوکاندارانو له لوري قرآن په لاس کې اخیستل او د شي په کمو پیسو د نه خرڅولو قسم خوړل

سوال: موږ یو څو دوکانداران په لاس کې قرآن پاک اخلو او دا وعده کوو چې موږ ټول به د کمپنۍ له ټاکل شوي قیمت نه هیڅ سامان په کم قیمت باندې نه خرڅوو، ایا دا قسم خوړل د شریعت په اعتبار سره درست دي؟

---

[1] عن علی بن حفص البزاز قال: کان حفص بن عبدالرحمن شریک ابی حنیفة رحمه الله (وکان ابوحنیفة رحمه الله یجهز علیه) فبعث الیه ابو حنیفة رحمه الله بمتاع واعلمه ان فی ثوب کذا وکذا عیباً فاذا بعته فبین، فباع حفص المتاع ونسی ان یبین (العیب) ولم یعلم ممن باعه، فلما علم ابوحنیفة رحمه الله تصدق بثمن المتاع کله وکان ثلاثین الف درهم وفاصل شریکه. (عقود الجمان فی مناقب الامام الاعظم النعمان/ ۲۴۰، ۲۴۱)۔

[2] باب الحلف الواجب للخدیعة فی البیع. عن ابی هریرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: ثلاثة لا یکلمهم الله عزوجل ولا ینظر الیهم یوم القیامة ولا یزکیهم ولهم عذاب الیم. . . . . . ورجل ساوم رجلاً علی سلعة بعد العصر فحلف له بالله لقد اعطی بها کذا وکذا فصدقه الآخر. وفی روایة: والمنفق سلعته بالکذب. (رواه النسائی/ ۲/ ۲۱۲) ایضاً: عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: آیة المنافق ثلاث: اذا حدث کذب، واذا وعد اخلف. . . الخ. (نسائی شریف/ ۲/ ۲۳۲/ بخاری/ ۱/ ۳۸۴)

جواب: داسې قسم خوړل درست نه دي او د قسم خوړو نه وروسته که چیرې قسم مات کړل شي، نو د قسم کفاره یعنې لسو مسکینانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکول یا د دې قیمت ادا کول پکار دي [۱]

اخیستلو او خرڅولو کې په دروغو ویلو ګټه حرامیږي

سوال: نن سبا کاروباري دنیا کې د ګټې د حاصلولو له پاره زیاتر دروغ ویل کیږي. له یوې پارټۍ نه دا مقرر شو چې زه د دې کیمیکل **۴۵** روپۍ په حساب سره خرڅوم او حالانکې ما کیمیکل په **۵۰** روپۍ خرڅ کړل او پارټې ته مې دا وویل چې کیمیکل **۴۲** روپۍ په حساب سره خرڅ شول، هغوی په دې باندې راضي شول او ما د **۴۲** روپۍ په حساب سره دوی ته پیسې ورکړې.

پوښنه داده چې داسې دروغو ویلو سره ما **۸** روپۍ ګټه وکړه، هغه زما له پاره حلاله ده؟ که چیرته حلاله نه وي، نو د دې د پاکولو به څه طریقه وي؟

جواب: په دروغو ویلو سره ګټه کول حرام دي او د دې د حلالولو طریقه داده چې د دې پارټۍ ته صحیح حقیقت وویل شي او د دوی نه معافي وغوښتل شي. [۲]

خالص شیدې په زیات قیمت او هغه شیدې چې اوبه پکې ګډې وي په سرکاري قیمت باندې د خرڅولو حکم

سوال: د شیدو قیمت حکومت ۹ روپۍ کلو مقرر کړی دی، خویو صاحب وایي چې زه به شیدې په ۱۱ روپۍ کلو ورکوم، ځکه چې په دې کې اوبه نه ګډوم، دویم سړی وایي چې زه به په مقرر قیمت باندې شیدې ورکوم، خو د دې د خالصوالي ګرنټۍ نه ورکوم، سوال دادی چې په دې دواړو کې کوم یو ربښتونی دی؟ یو په پیو کې اوبه ګډوي او دویم د دوو روپیو په زیاتوالي سره یې خرڅوي زه دا ګڼم چې په دې دواړو کې هیڅ فرق نه شته، بلکې داوړه د خدای

---

[۱] فَكَفَّارَتُه إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ. . . . . . . الخ. (المائدة: ٨٩). وكفارة اليمين عتق رقبة. . . . . . وان شاء اطعم عشرة مساكين وتجزيء في الاطعام التمليك والتمكين فالتمليك ان يعطى كل مسكين نصف صاع من بر او دقيقه او سويقه. . . . . . . واما ما عدا هذه الحبوب. . . . . فلا يجزيه الا على طريق القيمة. (الجوهرة/٢/ ٢٩٢/ كتاب الأيمان).

[۲] عن ابي هريرةرضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: آية المنافق ثلاث: اذا حدث كذب، واذا وعد اخلف، واذا اوتمن خان. (نسائي/١/٢٣٢، بخاري/ ١/ ٣٨٤). عن ابي ذررضى الله عنه انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم: من ادعى ما ليس له فليس منا، وليتبوأ مقعده من النار. (مشكوٰة/ ٣٢٧/ باب القضية والشهادات/طبع قديمى)

پاک په نیزد مجرمان دي

جواب: په شیدو کې اوبه ګډوډونکی، خو په هر حال کې مجرم دی [۱]چې کله هغه وایې چې دا خالص شیدې دي او خرڅوي یې او کوم سړی چې په ۱۱ روپۍ باندې ورکوي که چیرې دده د خرڅې د لیرې کولو نه وروسته دده بچت په مناسب مقدار باندې بچ کیږي، نو هغه مجرم نه دی او که چیرته د ناجائزې ګټې د خوړلو مرتکب کیږي، نو مجرم دی [۲] تاسو چې څه لیکلي دي چې، ، د ستا په اند په دې کې هیڅ فرق نه شته، ، داد نظر کمزوري ده. ددواړو په مینځ کې هغه فرق دی کوم چې د اوبو او خره په مینځ کې دی. . . !

چای کې د چنې پوستکي ګډونکي دوکان کې کارکول؟

سوال: زموږ یوخپلوان داسې دوکان کې کارکوي، کوم ځای کې چې په چای کې دچنې پوستکي ګډولونه وروسته خرڅوي . د داسې کس ګټه څنګه ده اوکه چیرته هغه هدیه ورکوي، نو دهغې اخیستل څنګه دي؟

جواب: دهغه دومره ګټه حرام ده څومره چې هغه دوکه(ملاوټ) کړې دی[۳]، اودهغه نه هدیه اخیستل هم جائزنه دي، که چیرته دهغه زیاته امدني حرامه وي. [۴]

د څه مجبوري له وجې ډیرقیمت اخیستل بددیا نتي ده

سوال: ځینې وخت موږ ته داسې اخیستونکي راشي چې زموږیقین وي چې دوی به زموږ نه ضرور مال اخلي، کله مارکیټ کې دمال دکمي له وجې اوکله په څه بله وجه ، داسې صورت کې موږ دهغه اخیستونکي نه فایده اخلو او دمارکیټ نه ګران قیمت باندې پرې مال خرڅ کړو، ایا داسې قسمه زیادت کول جائزدي؟

جواب: شرعي طورباندې خوچې په هرڅومره قیمت باندې سودا وشي جائزده، خودچا د

---

[۱] لایحل کتمان العیب فی مبیع او ثمن لأن الغش حرام. . . . . . . اذا باع سلعة معیبة علیه البیان وان لم یبین قال بعض مشائخنا یفسق وترد شهادته. (ردالمحتار علی الدرالمختار/۵/ ۴۷/ باب خیار العیب).

[۲] قال ابن عابدین: التسعیر حجر معنی، لأنه منع عن البیع بزیادة فاحشة. (ردالمحتار/ ۶/ ۴۰۱)

[۳] لایحل کتمان العیب فی مبیع او ثمن لأن الغش حرام. . . . . . . اذا باع سلعة معیبة علیه البیان وان لم یبین قال بعض مشائخنا یفسق وترد شهادته. (ردالمحتار علی الدرالمختار/۵/ ۴۷/ باب خیار العیب)۔

[۴] اذا کان غالب مال المهدی حلالاً، فلا بأس بقبول هدیته واکل ماله مالم یتبین انه من حرام. (الاشباه والنظائر/۱۲۵، طبع ادارة القرآن کراچی). ایضاً: اهدی الی رجل شیأاً او اضافه ان کان غالب ماله من الحلال فلا بأس الا ان یعلم بأنه حرام فان کان الغالب هو الحرام ینبغی ان لایقبل الهدیة ولا یأکل الطعام. (عالمگیري/۵/ ۳۴۲/کتاب الکراهیة/الباب الثانی عشر فی الهدایا والضیافات/طبع رشیدیه/کوئته)۔

مجبوري يانه پوهيدوله وجې زيات قيمت اخيستل کاروبارکښې بدديانتي ده.[١]

دګاکونو خرڅول اخيستل ناجائزدي

سوال: اخبارخرڅونکي اوشېدې خرڅونکي چې کله اخبار او شيدې کورونوته رسولوسره خپل کاروباره مضبوط کړي، نوڅه وخت وروسته هغه ټوله علاقه په نوي سوداګربانديې خرڅه کړي. لکه دايوقسم پګړۍ وي، ايا دا ګټه شرعي طوربانديې جائزده؟

جواب: ددرياب کبان په ټيکه او دکب نيونې ډنډ په ټيکه ورکول، فقهاوو دواړه ناجائزليکلي دي[٢] دغه شان اخيستونکي(ګاک) خرڅول هم ناجائزدي[٣] اوله دې نه لاس ته راغلې پيسې حرامې دي

يوشی دقيمت زياتيدوله وجې په کوم قيمت خرڅول پکاردي؟

سوال: که چيرته ديوشي موجود قيمت داخيستلودقيمت نه ډيرزيات شوی وي، اوس به دهغه دخرڅولوقيمت څنګه ډول ټاکل کيږي؟

جواب: کوم شی څه چې دخرڅولوقابل وي، دادې وکتل شي چې هغه بازارکښې په څومره قيمت پيداکيږي، هماغه قيمت باندې يې خرڅول پکاردي.

ښځه دخاوندشی دهغه له اجازې پرته نه شي خرڅولی

سوال: يوکس چې کورکښې موجودنه و،دهغې ښځه يووکيل ونيو اوشی يې خرڅ کړ اوخاوندته چې پته ولګيده، نوهغه غوسه شو او سمدلاسه يې انکارخط وليږه، ايا دښځې داتصرف جائزدی؟

جواب: دښځې له پاره دخاوندشی دهغه له اجازې پرته خرڅول صحيح نه دي، خاوندته دا

---

[١] وقدنهى النبي صلى الله عليه وسلم عن بيع المضطر. . . . . . قال الخطابي: ان عقدالبيع مع الضرورة على هذا الوجه جائز في الحكم ولا يفسخ الا ان سبيله في حق الدين والمروءة ان لايباع على هذا الوجه. (اعلاء السنن/ ١٤/ ٢٠٥/ باب النهي عن بيع المضطر)۔

[٢] الاجارة اذا وقعت على العين لايجوز فلايصح استئجار الآجام والحياض لصيد السمك. (بزازية في عالمگيري/ ٥/ ٤٨). وايضاً: ولايجوز بيع السمك قبل ان يصطاد لانه باع مالا يملكه ولا حظيرة اذا كان لا يؤخذ الا بصيد لأنه غير مقدور التسليم. . . . الخ. (هداية/٣/٥٥/باب البيع الفاسد). بيع السمك في البحر والنهر لايجوز. (فتاوىٰ عالمگيري/٣/١١٣/ كتاب البيوع/الباب التاسع/ الفصل الرابع في بيع الحيوانات)۔

[٣] ولايجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة. (درمختار في الشامي/ ٤/ ٥١٨/ كتاب البيوع/ مطلب لايجوز الاعتياض. . . . الخ. ايضاً: الأشباه والنظائر/٢٤٩/ كتاب البيوع/الفن الثاني/ طبع ادارة القرآن)۔

اختیاردی چې معلومیدو نه وروسته هغه سودا جائز وساتي یایې ختمه کړي.[1]

چاته د یولک روپیو موټر په یو نیم لک ورکول

سوال: زما څه دوستان دزرعي دوایانو پرته دموټرو او ټرکونو کاروبار داسې کوي چې دچا له پاره هغوی ګاډی واخلي او دا خبره وکړي چې ددې خپل قیمت یولک نه پرته به پنځوس زره زیاتې اخلم، له دې وجې وخت کال یادوه کاله کیښودل کیږي او زما خیال دی چې کوم خلک دسود کاروبار کوي هغوی هم دپیسو اوسود واپسي مخکې نه مقررکوي.

جواب: که چیرته په یولک باندې موټر واخلي او په بل چا باندې یې دکال یونیم کال په قرض یونیم لک باندې خرڅ کړي، نودا جائز دي[2] خوکه چیرته دموټر اخیستونکي ته یولک روپۍ قرض ورکړي اوورته یې وویل چې: کال یا یونیم کال وروسته به درنه پنځوست زره زیاتې اخلم، نو دا سود دی اوبالکل حرام دی.[3]

ایا د موټر اخیستو دا صورت جائزدی؟

سوال: څو ورځې مخکې مایوموټرپه لاندې طریقې اخیستی و، تاسو دهیڅ شي لحاظ نه

---

[1] عن ابي امامة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول فى خطبته عام حجة الوداع: لاتنفق امرأة شيئاً من بيت زوجها الا باذن زوجها، قيل: يا رسول الله! ولا لطعام؟ قال: ذلك افضل اموالنا. (مشكوٰة/١/ ١٧٢/ باب صدقة المرأة من مال الزوج، ترمذي/١/ ١٤٥). ايضاً: ومن باع ملك غيره بغير امره، فالمالك بالخيار: ان شاء اجاز البيع وان شاء فسخ. (الهداية/٣/ ٨٨/كتاب البيوع/باب الاستحقاق/طبع شركت علميه ملتان). ومن باع ملك غيره فللمالك ان يفسخه ويجيزه ان بقى العاقدان والمعقود عليه وله وبه لو عرضا يعنى انه صحيح موقوف على الاجارة. (البحرالرائق/٦/ ١٦٠/ باب الاستحقاق، فصل فى بيع الفضولي/طبع دارالمعرفة/بيروت)۔

[2] لان للأجل شبهاً بالمبيع الا ترى انه يزاد فى الثمن لأجل الأجل. (هداية/٣/٧٦/باب المرابحة والتولية/طبع شركت علميه). وفى البحرالرائق/٦ /١٢٤، ١٢٥/باب المرابحة/طبع دارالمعرفة). لان للأجل شبهاً بالبيع الا ترى انه يزاد فى الثمن لاجل الأجل. . . . . . الأجل فى نفسه ليس بمال ولا يقابله شيء حقيقة اذا لم يشرط زيادة الثمن بمقابلته قصداً، ويزاد فى الثمن لأجله اذا ذكر الأجل بمقابلته زيادة الثمن قصداً، فاعتبر مالاً فى المرابحة احترازاً عن شبهة الخيانة ولم يعتبر ولا فى حق الرجوع عملاً بالحقيقة. وفى المبسوط للسرخسي/١٣/ ٩/باب البيوع الفاسدة: واذا عقدالعاقد على انه الى اجل كذا بكذا، وبالنقد بكذا، او قال: الى شهر بكذا، او الى شهرين بكذا، فهو فاسد، لانه لم يعاطه على ثمن معلوم، ونهى النبى صلى الله عليه وسلم من شرطين فى بيع. . . . . . وهٰذا اذا افترقا على هٰذا، فان كان يتراضيان بينهما ولم يفرقا حتى قاطعه على ثمن معلوم وانما العقد عليه فهو جائز)۔

[3] عن على اميرالمؤمنين رضي الله عنه مرفوعاً: كل قرض جرمنفعة فهورباً.وقال فى الشرح:وكل قرض شرطه فيه الزيادة فهوحرام بلاخلاف. (اعلاء السنن/١٤/ ٥١٢/طبع ادارة القرآن، ايضاً فيض القدير/٩/ ٤٤٨٧/طبع بيروت)

ساتلو سره جواب راکړئ چې د الله تعالی او د هغه د پیغمبر ﷺ طریقه پرینبودونکي جوړنه شو.

دموټر قیمت ۹۵۰۰۰ روپۍ

کومې پیسې مې چې نغدې ورکړې ۲۰۰۰۰ روپۍ

بقایا پیسې ۷۵۰۰۰ روپۍ

او موټر اخیستونکي نه موټر په دې صورت اخیستل شوی و، چې د موټر هرڅومره قیمت وي، مونږ به هغه خرڅونکي ته ۵۰۰۰۰ روپیو باندې ۱۱۰۰۰ روپۍ نورې هم ورکوو. نو دې صورت کې چې د هغوی کومې ۷۵۰۰۰ روپۍ وې، په هغو باندې به هغه زمونږ نه ۱۶۵۰۰ روپۍ د دې شرط مطابق اخلي، کومې پیسې چې هغوی په موټر اخیستوکې خرچ کړې هغه ۷۵۰۰۰ روپۍ او په مونږ باندې چې اوس د هغه څومره پیسې جوړیږي هغه ۹۱۵۰۰ روپۍ جوړیږي او دا پیسې به مونږ هغه ته په پنځلسو میاشتوکې برابروو.

جواب: د موټر اخیستو دا صورت خو صحیح نه دی، چې دومره پیسو باندې به دومره پیسې نورې اخلي، موټر اخیستونکی دې موټر واخلي، د هغه نه وروسته یې چې هغه په څو باندې خرڅول غواړي خرڅ دې کړي او خپله ګټه چې څومره غواړي هغه دې واخلي، نو دا صورت صحیح دی.[1]

روپۍ ورکړي او ټوکر بک کړي، خو قبضه یې نه کړي بلکې چې کله قیمت زیات شي، نو مخکې یې خرڅ کړي نو ایا دا جائز دی؟

سوال: تیرشوي کال کې ما یو د پاور لومز مالک ته څه روپۍ ورکړې، چې نن د ټوکر کوم ریټ دی په دې ریټ باندې زما دومره ټوکر بُک کړه ټوکر (کپړه) به تاسره پرت وي، کله چې قیمت زیات شي، نو زه به تاته وایم چې زما ټوکر خرڅ کړه، ته به زما ټوکر خرڅ کړې او ماته به پیسې راکړې، مالک وویل چې که چیرته کپړه اخیستل غواړې، نو وایې خله، که نه، پرچې واخله، ما پرچې اخیستو ته ترجیح ورکړه چې نه ټوکر سنبالول وي او نه کینبودل وي، هغه ټوکر (کپړه) خرڅ کړ او ماته یې روپۍ راکړې.

په دویم ځل باندې داسې وشو چې ما روپۍ ورکړې او پرچې مې واخیستله څه وخت وروسته ریټ (قیمت) راوغورځید چې د اخیستو د قیمت نه کم و، مالک وویل که چیرته زه تر څلورو یا پنځو میاشتو پورې پیسې وانه خلم او هغه روپۍ مالک په خپل کاروبار کې ولګوي، نو ما ته به دوه نیمې روپۍ فی میټر اخیستلو نه زیاتې راکړي، حالانکې په منډی کې د اخیستو

[1] طلب الزيادة بطريق التجارة غير محرم في الجملة قال الله تعالي: ليس عليكم جناح أن تبتغوا فضلاً من ربكم. (تفسير مظهري/ ١/ ٣٩٩/ طبع اشاعت العلوم دهلي)۔

ریټ (قیمت) کم وي. ما مالک ته وویل چې ته درې نیمې روپۍ باندې یو میټر وکړه. مګر هغه د دوه نیمو روپیو نه په زیاتو باندې راضي نه شو.
د دینه قطع نظرما په یوځای کې لوستلي دي چې تر څوپورې په سامان باندې د مشتري قبضه نه وي یا سامان متعین نه وي تر هغه وخته پورې یې مخکې نه شي خرڅولی. که چیرته دا درست وي. نو د کپړې د خرڅولو په وخت که چیرته مالک دا وایي، نو چې زما کپړا کومه ده؟ ماته یې وښایه؟ مالک کپړا وښايي چې دا کپړا ده او زه کپړه وګورم او ده ته ووایم چې دا خرڅه کړه او ماته ددې رقم راکړه، نو ایا دا سود دی؟ د دینه پرته بره ذکر شوې سودا د دواړو صورتونو په باره کې هم ووایئ چې هغه شرعا جائز دی او که نا جائز دي؟

جواب: لومړی او دویم صورت شرعا صحیح نه دي او داتا چې کومه مسئله لیکلې ده چې په اخیستل شوي شي باندې قبضه وشي دا مسئله صحیح ده، خو چې کله ته له چانه څه شی واخلې، نو هغه شی په متعین طور باندې د ستا په قبضه کې راغی، ته که دا اوچتول غواړې او که دده سره امانت کیښودل غواړې، نو دا صحیح ده. [1]

کوم مال چې په خپله قبضه کې نه وي د هغه خرڅول

سوال: زموږ کار تجارت دی، موږ ته د نورو ملکونو نه د تاجرانو ټیلفون راځي چې هغوی وایي چې موږ ته سل ټنه وریژې (چاول) پکار دي، موږ په وخت ریټ مقرر کړو او د نمونې مطابق د مال ورکولو تاریخ مقرر کړو، له دینه وروسته موږه د مارکیټ نه مال اخلو او هغوی ته یې ورکوو، مال خو په مارکیټ کې موجود وي، خوزموږ په قبضه اوملکیت کې نه راځي، ایا داسې طریقې سره سودا (راکړه ورکړه) کول صحیح دي؟

جواب: دادمال ورکولو وعده ده که چیرته هغه دا مال قبول کړي، ګویا چې دوعدې پوره والی وشو او سودا صحیح شوه او که چیرته قبول یې نه کړي، نودا سودا نه ده صحیح. والله اعلم!

فلیټ له قبضې مخکې خرڅول او د هغه روپۍ استعمالول

سوال: ما یو فلیټ بک کړی و چې راتلونکی کال به ملاو شي، ځان سره یې وساتم اوکه یې خرڅ کړم؟ ځکه چې اوس ماته ددې زیاتې پیسې ملاویږي، مطلب دا چې څومره ما جمع کړي دي ددې نه زیاتې، ځکه چې اوس قیمت د هغه په نسبت چې پرې بک کړی و، زیات دی.

جواب: که چیرته د پیسو د اداء کولو نه مخکې تا ته قبضه درکړل شوې وه، نو خرڅول یې

[1] قال أبوجعفر: ولایجوز بیع مالم یقبض من الأشیاء المبیعة الاالعقار. . . . . انما تعتبر التخلیة فی جواز البیع، وتقام مقام النقل فیما یتأتی فیه القبض الحقیقی. (شرح مختصر الطحاوي/٣/ ١١٠، ١١١/کتاب البیوع).

جائز دي که نه، نو نه دي جائز [١]

سوال: که چیرته دغه پیسې موږ چې موږ ته دفلیټ خرڅولو وجې په لاس راشي، یعنې د جمع کولو نه زیاتې چې هغو ته موږ پریمیم وایو ساتل روا دي؟

جواب: د پورتني شرط مطابق که چیرته خرڅ کړل شي، نو زیاتې رقم حلالې دي [٢]

سوال: هغه پیسې چې د فلیټ خرڅولو په ذیعه لاس ته راشي. د قرض په طور باندې ملګرو ته ورکولی شم؟

جواب: که چیرته روپۍ حلالې وي، نو چاته چې وغواړې ، ورېې کړه!

د یو شي د سودا کولو او قبضې نه مخکې

د هغه سیمپل (نمونه) ښودل او آرډر ورکول

سوال: زموږ په علاقه کې د کاروبار شکل په داسې طریقه دی چې زه د یو کس نه څه اخیستل غواړم دده نه د مال نمونه د څه وخت له پاره واخلم، بیا دا نمونه په بازار کې مختلفو خلکوته ښیم او د ګټې سره قیمت ورته وایم، که چیرته یو صاحب ددې مال د اخیستلو له پاره تیار شي، نو بیا زه هغه مال اخلم یعنې کله چې زه خلکو ته د مال نمونه وښیم او خرڅ یې کړم تر دې وخته پورې زه خپله ددې مال مالک نه وم، کله چې هغه خرڅ کړل شي، نو بیا یې اخلم ایا دا سې کول صحیح دي؟

جواب: سړی چې د یو شي مالک نه وي، نو مخکې یې خرڅولی هم نه شي، له دې وجې که چیرته ته له چانه مال اخلې، یعنې د نمونې په ډول باندې او ګاک ته هغه نمونه ښیې، نو نه تا هغه شي اخستی دی او نه دې داسې خرڅ کړی دی، خو دده سره دې د اخیستلو او خرڅولو وعده کړې ده، لهذا ترڅو پورې چې ته شی وانه خلې، نو تر دې وخته پورې د هغه سړي په ذمه باندې ورکول ضروري نه دي او تر څو پورې چې خرڅ نه کړل شي د ګاک په ذمه باندې ددې اخیستل ضروري نه دي [٣]

---

[١] قال الخجندي رحمه الله: اذا اشتريٰ منقولاً لا يجوز بيعه قبل القبض لا من بائعه ولا من غيره. . . . . وقال محمد: لايجوز بيع العقار قبل القبض اعتباراً كالمنقول. ايضاً: ''ان المرابحة انما تصح بعد القبض ولا تصح قبله''. (الجوهرة النيرة/ ١/٢١٢، ٢١٣/ كتاب البيوع/باب المرابحة والتولية/ طبع مجتبائى دهلى).

[٢] ايضاً.

[٣] وشرط المعقود عليه. . . كونه موجوداً مالاً متقوماً مملوكاً فى نفسه. (ردالمحتار/ ٤/ ٥٠٥/ كتاب البيوع/مطلب شرائط البيع انواع اربعة). ايضاً: واما شرطه . . . . منها فى المبيع وهو ان يكون موجوداً فلا ينعقد بيع المعدوم وماله خطر العدم كبيع نتاج النتاج والحمل كذا فى البدائع....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

موټر باندې قبضه کولو نه مخکې د هغه رسید خرڅول

سوال: که چیرته یو کس موټر په لس زره روپۍ باندې واخلي او هغه موټر دده په قبضه کې شپږ میاشتې وروسته راځي، نو کله چې د هغه موټر په شپږ میاشتو کې راووځي او هغه کې څه ګټه وي، نو هغه د موټر راوتو نه مخکې د هغه رسید خرڅولی شي؟ یاټولو پیسو ورکولو نه وروسته موټر خرڅ کړي؟ د غه شان د دوکان او د کورا و پلاټ مسئله هم بیان کړئ!

جواب: کوم شی چې واخیستل شي، ترڅوپورې چې هغه وصول نه کړل شي او په هغه باندې قبضه ونه شي، له هغه مخکې یې خرڅول جائزنه دي، د دوکان، کورا و پلاټ همدا مسئله ده. چې ترڅوپورې هغو باندې قبضه ونه شي د هغو خرڅول جائزنه دي، اصول او قانون دادی چې د قبضې نه مخکې شی خرڅول صحیح نه دي. [1]

د معاهدې په خلاف ورزي باندې د زر ضمانت (پیشکي) ضبط کولو حق

سوال: عبدالغفار د جومات یو دوکان په کرایه باندې واخیست او اقرارنامه او کرایه نامه یې په سرکاري استامپ باندې ولیکله، د هغه په دویم نمبر شرط کې ذکر شوي: یاد دکان ما د خپل کاروبار له پاره اخیستی دی او ترڅوپورې چې دا دوکان دار اباد وي یوازې خپل کاروبار به کوي او بل څوک په دې کې د ساتلو یا د کاروبار کولو حق نه لري او نه به دا دوکان په ناجائزه طریقه باندې بل کس ته په ټیکه یا پګړۍ ورکوي، داسې قسمه لیکل شوې اجازه به د ذکر شوې کمیټۍ نه اخیستل لازمي وي، خو څه وخت وروسته عبدالغفار له څه اطلاع پرته دوکان په پګړۍ ورکولو سره غائب شو او موجوده کس وايي، چې اوس د کرایي رسیدونه زما په نوم باندې جوړوئ، تاسو ووایئ چې کمیټۍ د هغه سره څه وکړي؟ او د عبدالغفار زر ضمانت (اډوانس) جمع دی، کوم به چې دوکان خالي کولو باندې هغه ته بیرته ورکول کیږي.

جواب: عبدالغفار کرایه دارته د معاهدې خلاف ورزي کول نه و پکار [2]، اوس که د جومات

...بقيه د تيرمخ] وان يكون مملوكاً في نفسه. . . . . . الخ. (عالمگيري/٣/ ٢)۔

[1] ومن اشترىٰ شيئاً مما ينقل ويحول لم له يجز بيعه حتى يقبضه. . . . . . . ولم يقل لم يجز ان يتصرف فيه لينفع المسئلة على الاتفاق. . . . . . وقال محمد رحمه الله: لا يجوز بيع العقار قبل القبض اعتبار بالمنقول وصار كالاجارة والاجارة لا تجوز قبل القبض اجماعاً على الصحيح. (الجوهرة النيرة/٢١٢/ باب المرابحة/ الترمذي/١/ ٢٣٣)۔

[2] قال الله تعالى: "واوفوا بالعهد ان العهد كان مسؤلاً". (الاسراء/٣٤). وعن انس رضى الله عنه قلما خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم الا قال:. . . . . . . ولا دين لمن لا عهد له. (مشكوٰة/ ١/ ١٥). ايضاً: قال النووي: اجمعوا على ان من وعد انساناً شيئاً ليس بمنهى عنه فينبغى ان يفى وعده. (مرقاة المفاتيح/٨/ ٦١٤/آخر باب الخراج، طبع رشيديه)۔

کميټۍ غواړي. نودبل کرايه دارسره معاهده جاري ساتلې شي.خو دجومات کميټۍ سره د زر ضمانت (پيشکي) ضبط کولو شرعي طورباندې حق نه شته[۱]

د کفالت اوضمانت يوڅومسئلې

سوال: زه په اصل کې دکفالت (ضمانت) باره کې ديوڅومسئلوباره کې پوښتنه کول غواړم، چې ايا دمدعي په مطالبه. ښودل شوي وخت باندې دمدعى عليه حاضريدل ضروري دي. که چيرته کفالت کې داشرط وي چې زه به په مقرروخت باندې مدعى عليه حاضر کړم. که چيرته هغه په مقرروخت باندې حاضرنه کړي، نوحاکم، ضامن سره دڅه سلوک کولواختيارلري؟

جواب: که چيرته دمدعى عليه په ذمه باندې دمال دعوا وي، نوپه مقرر وخت باندې به هغه مال دکفيل نه اخيستل کيږي،[۲] اوکه چيرته ضمانت يوازې دهغه کس دحاضرولو وي اوکفيل هغه حاضرنه کړي، نو د مدعي په مطالبه باندې کفيل نظربند کيداى شي.[۳]

سوال: ايا دضمانت نه خلاصيدل دڅه شرط سره تړل جائزدي اوکه نه؟

جواب: دې کې اختلاف دى، خوصحيح دادى چې جائزدي.[۴]

د کاروبارله پاره د مرزايي ضمانت ورکول شرعا څنګه دى؟

سوال: عرض دادى چې زه تاسو نه د يوې مسئلې پوښتنه کول غواړم، جناب الحمد لله زموږ په ښار کې اول مرزايان بلکل نه وو، خو اوس ددوى راتګ شروع شوى دى، هره مياشت يو مرزايي راځي، جناب! په اول کې چې کله دوى په راتلو شروع شو، نو په ښار کې هيڅوک هم دوى ته د دکان، مکان په کرايې ورکولو ته تيار نه وو، بيا دې خلکو به هغه سړي چې هغه به ددې ښار سره تعلق ساتلو او مسلمان به و ضامن به يى جوړ کړ پنځه شپږ دکانونه يى په کرايه

---

[۱] قال ابن عابدين رحمه الله: (قوله لا بأخذ مال فى المذهب) قال فى الفتح وعن ابى يوسف رحمه الله يجوز التعزير للسلطان بأخذ المال وعندهما وباقى الأئمة لايجوز ومثله فى المعراج وظاهره ان ذٰلک رواية ضعيفة عن ابى يوسف رحمه الله قال فى الشرنبلالى ولا يفتى بهذا لما فيه من تسليط الظلمة على اخذ مال الناس فيأكلونه. (ردالمحتار/ ٤/ ٦١/مطلب فى التعزير بأخذ المال)۔

[۲] والمكفول له بالخيار ان شاء طالب الذى عليه الأصل وان شاء طالب كفيله. (هداية/٣/١١٦)۔

[۳] فان شرط فى الكفالة بالنفس تسليم المكفول به فى وقت بعينه لزمه احضاره اذا طالبه فى ذٰلک الوقت وفاء بما التزمه فان احضره والا حبسه الحاكم لامتناعه عن ايفاء حق مستحق عليه.(هداية/٣/١١٣/كتاب الكفالة)

[۴] قال ابن نجيم رحمه الله: (قوله وبطل تعليق البراءة من الكفالة بالشرط). . . . . . فعلى هٰذا فكلام المؤلف محمول على شرط غير متعارف وأراد من الكفالة الكفالة بالمال احتراز عن كفالة النفس فانه يصح تعليق البراءة منها. . . . . . . الخ. (البحرالرائق/٦/ ٢٤٩/ كتاب الكفالة/طبع دارالمعرفة/ بيروت)۔

باندې حاصل کړل. جناب! زما تاسو ته درخواست دی چې کوم کس د مرزائیانو ضمانت واخیست او چاچې چې دوی ته دکان په کرایه باندې ورکړ. اسلام ددوی څه حیثیت متعین کوي؟مهرباني وکړئ د ټول امت د مسلمانانو د قرآن او حدیث په رڼا کې رهنمایي وکړئ؛

جواب: دې سړي ډیر زیات بد کړي دي، مرزایانو به د لږ زیاتې کرایې وړاندیز کړی وي او دا غریب به د یوڅو ټکوپه خاطر دخپل دین او ایمان نه بې پروا شوی وي. په هر حال دا کار د دین اوداایمان په لحاظ ډیرزیات غلط دی،ده ته دې وویل شي چې دی دې له دې کارنه توبه وکړي

په کاروبارکې ضمانت کونکي ته که څه پیسې پرېښودل شي، نو دا جائز دي

سوال: د امین په ضمانت باندې یوسف دیو دکاندار سره مالي معاملې کوي. هغه یوازې ذاتي پیژنګلوي باندې دده ذمداري قبلوي. د دکان څه روپۍ په یوسف باندې پاتې کیږي چې هغه ددې د ورکولونه انکار کوي. اوس امین خپله ذمداري محسوسوي د دکاندار سره د ادا کولو وعده کوي. دکاندار چې د امین ربښتینولي ته وګوري څه روپۍ په خپلې خوشالي سره معاف کوي، په دې صورت کې به امین د وعدې مطابق ټولې روپۍ اداء کوي اوکه د دکاندار دخوښې مطابق روپۍ به اداء کوي؟

جواب: کله چې دکاندار خپلې څه روپۍ معاف کړي، نو څومره روپۍ چې پاتې وي هغه دې ادا کړي.

هغه لاکیټونه (زنځیرونه) چې (الله) پرې لیکل شوي وي، خرڅول او داستعمالول

سوال: ښځې او ماشومان په غاړوکې لاکټونه اچوي اوهغو باندې لفظ,, الله.. لیکل شوی وي، حمام ته دداخلیدو په وخت کې یې ډیرکم خلک باسي، اکثرېې پرواه خلک یې ډیرکم احترام کوي، دغه شان دلفظ:الله: بې قدري کیږي، داسې لاکټونه خرڅولوسره دهغو نه فایده اخیستل جائزدي اوکه نه؟

جواب: داسې لاکټونه (زنځیرونه) خرڅول جائزدي، بې ادبي کونکي ددې بې ادبي پخپله باندې ذمه داردي.[1]

[1] ولوكتب على خاتمه اسمه او بسم الله تعالى او ما بدأله من اسماء الله تعالى نحو حسبي الله ونعم الوكيل، او ربي الله او نعم القادرالله، فانه لابأس به ويكره لمن لا يكون على الطهارة ان يأخذ فلوساً عليها اسم الله تعالى كذا في فتاوىٰ قاضيخان. . . . الخ. (عالمگيري/٥/ ٣٢٣/ كتاب الكراهية/الباب الخامس)۔

د محنت اجرت اخیستل جائز دي

سوال: موږ د فریج او ایئرکنډیشن کارکوو، که چیرته د یو صاحب په فریج یا ایئرکنډیشن کې ګیس چارج کول وي، نو موږ کاریګران د هغه نه درې نیم سوه روپۍ اخلو او په هغه باندې ډیره کمه خرچه راځي، کار میکینکل (تخنیک) دی، له دې وجې محنت او عقل سره کیږي . د غلطۍ په صورت کې د نقصان ویره وي او د هغه قیمت بدله په کاریګروي او وواییٔ چې ډیرې پیسې اخیستل جائز دي او که نه؟ که نه یې اخلو، کاروبار به فضول وي.

سوال: ۲ دې میکینکل کار کې کله ناکله د څه فني خرابۍ یا څه بلې خرابۍ لیرې کولو باندې پیسې نه خرچ کیږي، خو موږ د کار مطابق پنځوس یا سل روپۍ اخلو، ځکه چې د د ماغو کاروي دا وواییٔ چې داسې کول جائز دي او که نه؟

جواب: دا د محنت اجرت دی او د محنت اجرت اخیستل جائز دي.[1]

له میوې نیولو مخکې باغ خرڅول جائز نه دي، بلکې ځمکه په کرایه ورکړئ

سوال: یو کس د میوې نیولو نه مخکې خپل باغ خرڅ کړي، ایا هغه باندې عُشر شته؟ که هغه پیسې ټول کال وي، نو په هغو زکات شته؟

جواب: د میوې نیولو نه مخکې باغ خرڅول جائز نه دي[2] او که مراد دا وي چې د باغ ځمکه د باغ سره په کرایه ورکړي، نو صحیح ده[3]، دې صورت کې عُشر د هغه په ذمه نه شته، خو کال پوره کیدو سره د هغه په ذمه باندې زکات شته.[4]

---

[1] (وأما بيان انواعها) فنقول انها نوعان: نوع يرد على منافع الاعيان. . . . . . . يرد على العمل كاستئجار المتحرفين للأعمال. . . واما حكمها فوقوع الملک فى البدلين ساعة فساعة . الخ. (فتاويٰ عالمگيري/٤/ ٤١١)

[2] واما الذى يرجع الى المعقود عليه، فانواع، منها ان يكون موجوداً، فلا ينعقد بيع المعدوم وما له خطر العدم. . . . . . . وكذا بيع الثمر والزرع قبل ظهور لأنها معدومان. . . . . اه. (البدائع الصنائع/٥/ ١٣٨/كتاب البيوع)۔

[3] لو اشترى الرطبة باصلها ليقلعها ثم استأجر الأرض ليبقيها جاز ولو استأجر الأرض فى ذلک كله جاز. (عالمگيري/ ٤/ ٤٤٧)۔

[4] رجل آجر ارضه ثلاث سنين كل سنة ثلث مائة درهم فحين مضىٰ ثمانية اشهر ملک مائتى درهم فينعقد عليه الحول فاذامضىٰ حول بعدذلک يزكى ثمان مائة الاما وجب عليه من زكاة خمس مائة.(عالمگيري/١/ ١٨١)

د ګني ولاړ فصل په دې شرط اخیستل چې مالک به یې حفاظت کوي

سوال: زموږ په علاقه کې ډېره کرونده د ګني د فصل کیږي، کله چې د بورې(چیني) په کارخانو کې کار کیږي او سیزن یې وي، نو ګني د ۳۶ روپۍ د من په حساب سره اخیستل کیږي ۴ روپۍ من ټرک کرایه کټ کولو نه وروسته ۳۲ روپۍ من په حساب سره زمیندارانو ته د کارخانې ادائیګي کیږي، اوس په کارخانو کې دبورې(چیني) جوړیدلو کار او سیزن شروع کیدو ته ځلور میاشتې پاتې دي، نو زمیندار د خپل ضرورت مطابق دا ګني ۲۰ روپۍ په حساب سره واخلي ۲۴ روپۍ فی من په حساب سره د سودا ګرانو باندې خرڅوي، ګني اوس په پټیو کې دي او په شوګر مل کې د کار د اغازه پورې څوکیداري هم د زمیندار په ذمې باندې وي، کله چې په کار خانې کې کار شروع کیږي، نو زمیندار هغه ګني په کارخانې کې د سواداګرانو په نوم باندې خرڅوي او داسې په ځلور یا پنځه میاشتې وروسته سوداګرانو ته تقریبا لس یا دولس روپۍ في من په حساب سره ګټه کیږي.
له ستاسو پوښتنه داده چې داسې قسمه کاروبار جائز دی که ناجائز دی؟ او دا ګټه خو به په سود کې نه شاملیږي؟

جواب: د ګني خرڅول صحیح دي، خودخرڅولو نه وروسته ددې کټ کول ضروري دي او په دې شرط باندې چې ګني دې ولاړ وي دا صحیح نه دي.[1]

له بار نیولو مخکې د امونو باغ خرڅول

سوال: زما د امونو باغ دی چې هغه هر کال بار په میوه راتلو نه مخکې په ټیکې باندې ورکوم، ځینې زمیندارخلک د امونو د باغونو بار د میوه نیلو نه مخکې تر دوه دوه کاله پورې په ټیکه باندې اخلي، حالانکې په دې باغونو کې تر اوسه پورې بار نه دی راغلی، تاسو زموږ په قرآن او حدیث په رڼا کې رهنمایي وکړئ چې د بار یعنې د میوو په راتلو باندې په ټیکه باندې ورکول جائز دي او که نه؟ یا د وخت نه مخکې باغ په ټیکه باندې ورکول جائز دي او که نه؟

---

[1] ومن باع ثمرة . . . . . وجب علی المشتری قطعها فی الحال تفریعاً لملک البائع فهٰذا اذا اشترها مطلقاً او بشرط القطع اما اذا اشرط ترکها علی رؤس النخل فسد البیع لأنه شرط لا یقتضیه العقد. (الجوهرة النیرة/ ۱/۱۹۲/ کتاب البیوع). وایضاً: ویجب علی المشتری فی الحال قطعها ای قطع ثمرة. . . . . . وشرط ترکها علی الشجر والرضی به یفسد البیع عندهما وعلیه الفتویٰ کما فی النهایة. (جامع الرموز/۳/۱۱/ کتاب البیع/طبع اسلامیه ایران).

جواب: د بار نیولو نه مخکې ام دځرخولو هیڅ جواز نه شته.[۱] خو یو صورت یې دادی د دومره وخته پورې دې تولم ځمکه په ټیکه باندې ورکړي او ددې نیته مقرره کړي چې د فلانکي تاریخ نه تر فلانکي تاریخه پورې [۲]

د جمعې د لمانځه په وخت کاروبار کول او کارخانه چلول

سوال: زمونږ د متهایي دُکان دی، ددې له پاسه کارخانه ده د جمعې د اول اذان په وخت مونږ خپل دکان بنده وو او بیا یې له لمانځه وروسته خلاصوو، ایا په مونږ باندې د جمعې د لمانځه په وخت کې د کارخانې بندول لازم دي؟ یا کاریګران د هغوی په اختیار باندې پریږدو؟

جواب: د جمعې په دوران هرقسم کاروبار منع شوی دی تر دې پورې چې کارخانه هم روانه پریښودل نه دي جائز. [۳]

د لمونځونو په وختونو کې دکان خلاص پریښودل

سوال: زما والد صاحب د پرچون دُکان دی د سهار او د ماسخوتن په وخت کې بند وي. خود ماسپښین، مازدیګر او د مابنام د دریو وارو لمونځونو په وخت کې خلاص وي. مسئله داده چې اوس دا درې واړه لمونځونه زه او زما والد صاحب څنګه دجمعې سره اداء کړو؟ ځکه که چیرته دواړه د جمعې لمانځه له پاره ځو، نو وروسته بیا په دُکان کې څوک نه پاتي کیږي. چې په دې کې د غلا ویره هم وي، که یوازې والد صاحب جمعې ته ځي، نو بیا زما نه د جمعې لمونځ کیږي او که دکان بنده وو، نو بیا د سامان په بهر کولو او دننه کولو کې پوره وخت لګیږي او د دکان په بندې دلو باندې ګاک هم پوره متاثره کیږي. مهرباني وکړئ د شریعت مطابق طریقه بیان کړی. مهرباني به مو وي.

جواب: دُکان دې بند وي.

---

[۱] واما الذی یرجع الی المعقود علیه، فانواع، منها ان یکون موجوداً، فلا ینعقد بیع المعدوم وماله خطر العدم. . . . . وکذا بیع الثمر والزرع قبل ظهور لأنها معدومان. . . . الخ. (البدائع الصنائع/٥ / ١٣٨).

[۲] والحیلة ان یأخذ الشجر معاملة علی ان له جزء من الف ویستأجر الأرض مدة معلومة یعلم فیها الادراک باقی الثمن. . . . الخ. (ردالمحترا/مطلب فساد المتضمن یوجب فساد المتضمن/٤/ ٥٥٧/طبع ایچ ایم سعید).

[۳] یا أیها الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا نُودی للصَّلَاة من یوْمِ الْجُمُعَة فَاسْعَوْا إِلَی ذِکْرِ اللّه وَذَرُوا الْبَیع. . . . . . الخ. (الجمعة:۹). عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: حرمت التجارة یوم الجمعة مابین الأذان الاول الی الاقامة. (الفقه الحنفی وادلته/ ٢/٤٧/البیوع المنهی عنه). ایضاً: کان السعی للجمعة واجباً حکمه حکم الجمعة لأنه ذریعة الیها: فاسعوا الي ذکرالله، والتبکیر الیها فضیلة وکان ترک اعمال التجارة من بیع وشراء ومختلف شؤون الحیاة امراً لازماً لئلا یتشاغل عنها ویؤدی ذلک الی اهمالها اوتعطیلها. (الفقه الاسلامی وادلته/٢/٢٦٢/المطلب الثاني/ فضل السعی).

د جمعې له اذان نه وروسته اخیستل او خرڅول

سوال: اوریدلي مو دي چې د جمعې له اذان نه وروسته اخیستل او خرڅول کول بالکل حرام دي. ایا دا صحیح دي؟ او که دا خبره صحیح ده، نو د کوم اذان نه وروسته؟ یعنې د لومړي اذان نه وروسته او که د دویم اذان نه؟

جواب: قران کریم کې د جمعې د اذان نه وروسته د اخیستلو او خرڅولو نه منع فرمایل شوې ده. (سورة الجمعة) د جمعې د لومړي اذان نه وروسته اخیستل او خرڅول کول او نور کاروبار کول ناجائز دي [1]

(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَ. الخ)

د کرنسي (پیسو) د اخیستلو او خرڅولو طریقه

سوال: ایا د پیسو بدلون د پیسو سره جائز دی او که ناجائز؟ او که جائز دی، نو ایا اخستونکی د هغه په بدله کې پیسې یوه ورځ وروسته ورکولی شي، یا ضروري ده چې هماغه وخت کې به یې ورکوي؟ او که هماغه وخت کې یې ورکول ضروري دي، نو که له چا سره هغه وخت کې نه وي، نو ایا دا به حرام وي یا حلال؟ مهرباني وکړئ د قران او حدیث په رڼاکې جواب راکړئ.

جواب: د روپۍ بدلول د روپۍ سره جائز دي، خو پیسې د واړو طرفونو ته برابرې کار دي، کمي بیشي جائز نه دی او د دواړو طرفونه د نغد معامله وي، قرض هم جائز نه دی. [2]

سوال: که له چا سره هغه وخت کې پیسې نه وي، نو داسې څه صورت شته چې د هغه له وجې هغه پیسې اوس واخلي او د هغه په بدله کې پیسې وروسته ورکړي؟

جواب: پیسې دې قرض واخلي او بیا دې وروسته قرض ورکړي.

---

[1] وقال الحنفية فى الأصح: يجب السعي بعد الأذان الأول. . . . . . . ويكره تحريماً عند الحنفية ويحرم عند غيرهم التشاغل عن الجمعة بالبيع وغيره من العقود من اجارة ونكاح وصلح وسائر الصنائع والأعمال. (الفقه الاسلامى وادلته/٢/ ٢٦٤/البيع وقت النداء. . الخ). ايضاً: البيع عند اذان الجمعة، يعنى الأذان الاول بعد الزوال لقوله تعالي: وذرا البيع. . . . . وهٰذا البيوع المذكورة مكروهة تحريماً. . . . . . اخرج ابن مردوية عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: حرمت التجارة يوم الجمعة ما بين الأذان الأول الى الاقامة. (الفقه الحنفى وادلته/٢/٤٧)_

[2] (وعلته) اى علة تحريم الزيادة (القدر) المعهود بكيل او وزن (مع الجنس فان وجدا حرم الفضل) اى الزيادة (والنساء) بالمد التأخير فلم يجز بيع قفيز بر بقفيز منه متساوياً واحدهما نسأ (وان عدما) بكسر الدال من باب علم (حلا) كهروى بمرويين لعدم العلة فبقى على اصل الاباحة (وان وجد احدهما) اى القدر وحده او الجنس (حل الفضل وحرم النسأ).(درالدرالمختار/٥/١٧٢/باب الربا،طبع سعيد،وايضاً:فى الهداية/٣/ ٧٩/باب الربا)

سوال: کله ناکله موږ د یو ملک پیسې (ډالر، یا ریال) اخلو او د هغو په بدله کې د بل ملک پیسې (روپۍ) وغیره ورکوو، نو آیا د کې هم، هماغه وخت کې ورکول ضروري دي او که نه؟ که دي، نو د جائز به څه صورت وي؟

جواب: د کې هم د نغدو معامله ضروري ده.[1]

د سرو زرو او سپینو زرو اخیستل او خرڅول د دواړو طرفونه نغد پکار دي

سوال: که یو سړی سره زر یا سپین زر کوروال وته بنودلوله پاره راوړي، نو بیا په دویمه ورځ یا څه ورځې وروسته خرڅونکي ته د هغه پیسې ولیږي، نو دا اخیستل او خرڅول صحیح دي او که نه؟ که صحیح دي، نو کوم صورت یې صحیح دي؟ ځکه چې کوروال وته د بنودلونه پرته داشی نه شي اخیستل کیدای.

جواب: کوروال وته د بنودلوله پاره راوړل جائز دي[2]، خو کله چې اخیستل وي، نو د دواړوله طرفونه نغده معامله پکار ده، قرض نه دی پکار،[3] نو کوروالو ته بنودلوله پاره چې کوم شی راوړل شوی و هغه دې دوکان دارته د واپس راوړي او د هغه دې نغدې پیسې ورکړي او هغه شی دې یوسي.

د زرګري او د سرو زرو د ګیڼې د اخیستلو او خرڅولو شرعي حیثیت

سوال: د سرو زرو اخیستل او خرڅول د ګیڼې او سرو زرو نه نور د ښائست شیانو جوړول، ایا دا کاروبار جائز دی او که ناجائز؟ د دې شرعي حیثیت څه دی؟ او ایا دا کاروبار د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې و؟

جواب: د سرو زرو کار خو د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې هم و، خو شرط دا و چې د سرو زرو په بدله کې د سرو زرو سکه ورکړل شي یا د سپینو ذرو په بدله کې د سپینو ذرو سکه ورکړل شي، نو په دې کې قرض کول جائز نه دي، بلکې معامله په نغدو باندې کول پکار دي.[4]

---

[1] بخلاف ما اذا سلم فلوس فی فلوس فانه لا یجوز لأن الجنس بانفراده یحرم النسأ. (البحرالرائق/ ٦/ ١٤٠/ باب الربا، طبع دارالمعرفة/ بیروت).

[2] واما خیار الرویة فثابت فی العین دون الدین. (البحرالرائق/ ٦/ ١٩٢/ باب خیار الرویة/طبع بیروت).

[3] باب الصرف هو لغة: الزیادة، وشرعاً: بیع الثمن بالثمن ای ماخلق للثمنیة ومنه المصوغ جنساً بجنس او بغیر جنس کالذهب بفضة ویشترط عدم التأجیل والخیار والتماثل. . . . . والتقابض بالبراجم لا بالتخلیة قبل الافتراق. . . . . . الخ. (درمختار/ باب الصرف/٥/ ٢٥٧/ طبع ایچ ایم سعید، کراچی).

[4] فان باع فضة بفضة او ذهباً بذهب لم یجز الا مثلاً بمثل لأن المساواة فی....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

چینج (ماتې روپۍ) خرڅولو باندې ډیر قیمت اخیستل جائز نه دي

سوال: چینج خرڅول جائز دي او که نه؟

جواب: چینج خرڅول جائز دي، خو زیات قیمت یې اخیستل جائزنه دي. ځکه چې دا به سود وي [۱]

سبزي باندې اوبه اچولو سره خرڅول

سوال: موږ دسبزي کارکوو اوتاسوته معلومه ده چې سبزي باندې اوبه اچول کیږي. دې کې ځینې سبزیانې داسې دي چې هغه ډیرې اوبه جذب کوي، ایا داسې کار صحیح دی؟

جواب: ځینې سبزیانې داسې دي چې هغو باندې اوبه وانه چول شي، نوهغه خرابیږي. نودضرورت له وجې پرې اوبه اچول صحیح دي[۲]، خواوبه دسبزي په قیمت باندې خرڅول نه دي پکار، بلکې هغه قیمت خامخا ترې کموئ. [۳]

د حلال او حرام ګډ مال نه حاصله شوې ګټه حلاله ده که حرامه؟

سوال: که یوسړي سره حلالې پیسې دحرامو پیسوپه مقابله کې کمې، ډیرې یابرابر وي، که په ټولو پیسو باندې څه جائزکاروبار و شي، نودهغه نه حاصل شوې ګټه به داستعمال قابل وي اوکه نه؟

جواب: دګټې حکم هم هغه دی کوم چې داصل مال دی، که چیرته مال حلال وي، نوګټه هم حلاله ده اوکه چیرته اصل مال حرام وي، نوګټه هم حرامه ده، نوپه کوم نسبت سره چې مال

...بقیه د تیرمخ] ذلک. . . . . . . ولا بد من قبضل العوضین قبل الافتراق لقوله علیه السلام: یدا بید. (الجوهرة النیرة/باب الصرف/ ۲۲۴/۱/طبع دهلی).

[۱] قال: الصرف هو البیع اذا کان کل واحد من عوضیه من جنس الأثمان. . . . . . قال فان باع فضة بفضة او ذهباً بذهب لایجوز الا مثل بمثل وان اختلف فی الجودة والصیاغة (وفی البنایة) اما فی الجودة بأن یکون احدهما أجود من الآخر فی ذاته، واما فی الصیاغة بان یکون احدهما احسن صیاغة من الآخر. . . . . الخ. (البنایة شرح هدایة/ ۸۳/۱۱/باب الصرف/طبع مکتبه حقانیه ملتان/ درمختار/۲۵۷/۵)۔

[۲] الضرورات تبیح المحظورات. . . . . . . والثانیة ما ابیح للضرورة یقدر بقدرها. (الأشباه والنظائر/الفن الأول/۴۳/۱/ طبع ادارة القرآن کراچی)۔

[۳] عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مر علی صبرة من طعام فأدخل یده فیها فنالت اصابعه بللاً فقال: یا صاحب الطعام! ما هذا؟ قال: اصابته السماء یارسول الله! قال: افلا جعلته فوق الطعام حتی یراه الناس، ثم قال: من غش فلیس منا. وقال: والعمل علی هذا عند اهل العلم کرهو الغش وقالوا الغش حرام. (رواه الترمذي/۱/ ۲۴۵)۔

اصل وي هماغه نسبت سره به كټه هم پاكه وي. پاتې حرامه [١]

د ټي وي او وي سي ار (TV- VCR) خرڅول

سوال: ټيلي ويژن او وي سي ار خرڅول جائز دي او كه نه؟ د ريډيو او د ټيپ ركارډ څه حكم دى؟ او بل دا چې د سيګرټو كاروبار څنګه دى؟

جواب: د ټي وي اخيستل او خرڅول خو زه ناجائزه ګڼم [٢] د ريډيو او ټيپ ركارډ اخيستل او خرڅول جائز دي. همدارنګه د سګريټو هم [٣]

د نويو نوټونو كاروبار كول

سوال زيد د نويو نوټونو كاروبار كوي او د سلو نوى نوټ په يو سل پنځه باندې وركوي، ايا داسې كاروبار جائز دى؟

جواب: نه دى جائز [٤]

---

[١] عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم. . . . . ان الله اذا حرم على قوم اكل شيئ. حرم عليهم ثمنه. (اعلاء السنن/١٤/ ١٠٤). ايضاً: قال ابن عابدين رحمه الله (قوله اكتسب حراماً. . . الخ) قال رجل اكتسب مالاً حراماً ثم اشتريٰ فهٰذا على خمسة اوجه، اما ان دفع تلك الدراهم الى البائع اولاً ثم اشتريٰ منه بها او اشتريٰ قبل الدفع بها ودفعها او اشتريٰ قبل الدفع بها ودفع غيرها او اشتريٰ مطلقاً ودفع تلك الدراهم او اشترى بدراهم اخر ودفع تلك الدراهم قال ابو نصر يطيب له ولايجب ان يتصدق الا فى الوجه الأول لكن هٰذا خلاف ظاهر الرواية فان نص فى جامع الصغير وقال الكرخى رحمه الله فى الوجه الاول والثانى لا يطيب وفى الثلاث الأخير يطيب وقال ابوبكر رحمه الله لا يطيب فى الكل لكن الفتويٰ على قول الكرخى رحمه الله. . . . . . .الخ.(شامي/٥/ ٢٣٥/باب المتفرقات/مطلب اذا اكتسب حراماً ثم اشترى فهو على خمسة اوجه)

[٢] قال تعالي: "وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَان ". (المائدة: ٢). ايضاً: والثالث: بيع اشياء ليس لها مصرف الا فى المعصية، فيتمحص بيعها واجارتها وان لم يصرح بها ففى جميع هٰذه الصور قامت المعصية بعين هٰذا العقد، والعاقدان كلاهما آثمان بنفس العقد، سواء استعمل بعد ذلك ام لا. (جواهر الفقه/٢/ ٤٤٨/تفصيل الكلام فى مسئلة الاعانة على الحرام ايضا لكن الاعانة هى ماقامت المعصية بعين فعل المعين، ولايتحقق الا بنية الاعانة او التصريح بها او تعينها فى استعمال هٰذا الشيء بحيث لا يحتمل غير المعصية. (جواهر الفقه/٢/ ٤٥٢/اقسام السبب واحكامه القسم الثانى). وفى ردالمحتار/٦/٣٥٠/ كتاب الحظر والاباحة: وماكان سبباً لمحظور فهو محظور. ايضاً: ونظيره كراهة بيع المعازف لان المعصية تقام بها عينها. (ردالمحتار/٤/ ٢٦٨/باب البغاة).

[٣] قلت وافادكلامهم ان ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً اولا فتنزيهاً. قوله نهر: عبارته وعرف بهٰذا انه لايكره بيع مالم تقم المعصية به كبيع الجارية المغنية به والكبش النطوح والحمامة الطيارة والعصير والخشب الذى يتخذ منه المعازف. (ردالمحتار/٤/ ٢٦٨/باب البغاة. . . الخ).

[٤] الصرف هوالبيع. . . . . . اذا كان كل واحد من عوضيه من جنس....

[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د غیر شرعي کتابونو کاروبار کول څنګه دی؟

سوال: یو سړی د کتابونو کاروبار کوي، د دین په معاملاتو کې هم پوه دی. د دې باوجود غیر شرعي کتابونه، بلکې شرکیه کتابونه هم خرڅوي کله چې ده ته وویل شي چې دا کتابونه ته ولې خرڅوې؟ نو وایي زه کتابونه لولم نه، بلکې خرڅوم یې.

جواب: د داسې کتابونو کاروبار درست نه دی، دې صاحب ته دا کاروبار پرېښودل پکار دي.[۱]

د سندرو (ګانو) کیستې خرڅول شرعاً څنګه دي؟

سوال: موجوده دوراو حالاتو کې ورځ په ورځ د عیش عشرت په سامانونو کې اضافه والی، بلکې نوره اضافه والی هم جاري ده چې په هغو کې یو د میوزک ګانې بجانې وغیره دي او دویم د کیسو او ډائجسټ چې سراسر دروغ او فریب باندې بناء دي، د ستاسو حضراتو ته دا عرض دی چې د دوی کاروبار جائز دی او که نه؟ د دې خلکو سره دعا او سلام (راشه درشه) ساتل پکار دي او که نه؟ د دې خلکود خوراک څښاک شیان قبلول پکار دي او که نه؟ او داسې نور....
دا خلک دا دلیل ذکر کوي چې موسیقي د روح غذا ده او د سندرو (ګانو بجانو) د کیسټو سره سره موږ د دیني او علماء کرامو تقریرونه هم خرڅوو.
لائبریري والا خلک سکول، کالج او داسې نور.... د کاپیانو او د پین وغیره عذر کوي او وایي چې کیسې او ډائجسټ لوستلو نه زموږ په معلوماتو کې اضافه والی کیږي او موږه اردو ښه ویلی شو او داسې نور...
د دې خلکو د عذر دلیل د قرآن او حدیث په رڼا کې څه حیثیت لري؟ د قرآن او د سنت په رڼا کې وضاحت وکړئ!

جواب: کوم شی چې په خپله بذات ناجائزوي د هغه اخیستل او خرڅول هم ناجائز دي[۲] پاتې د دې خلکو دلیلونه غلط دي.

...بقیه د تیرمخ] الأثمان. . . . . فان باع فضة بفضة او ذهباً بذهب لم يجز الا مثلاً بمثل لأن المساواة شرط فى ذلک. . . . . . . الخ. (الجوهرة النيرة/ باب الصرف/ ١/ ٢٢٣). ايضاً: وحرم الفضل والنساء بما أى بالقدر والجنس لوجود العلة بتمامها. (البحر الرائق/٦/ ١٣٩/باب الربوا).

[۱] "وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ". (المائدة: ٢). ولا يجوز الاستئجار على المعاصى كاستئجار الانسان للعب واللهو المحرم. . . . . . وانتساب كتب البدع المحرمة. . . . . . لانه استئجار على معصية، والمعصية لا تستحق بالعقد. (الفقه الاسلامى وادلته/٤/ ٧٤٤/ الفصل الثالث/عقد الايجار).

[۲] قلت وافاد كلامهم ان ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً والا فتنزيهاً. قوله نهر: عبارته وعرف هذا انه لايكره بيع مالم تقم المعصية به. (ردالمحتار/٤/ ٢٦٨/ باب البغاة). ايضاً: ونظيره كراهة بيع المعازف لأن المعصية تقام بها عينها. (ردالمحتار/٤/ ٢٦٨/باب البغاة).

د خرڅولو په وخت کې قیمت نه ښودل غلط دي

سوال: ډیر خلک خپل مال د خرڅولو وخت کې دوکاندار یا دلال ته ووایي چې زه خپل قیمت اوس نه وایم، کوم وخت کې چې زمازړه وغوښتل هغه وخت کې به وایم اومال وتلی اوقیمت به يې بیا وروسته کوئ، دې باره کې څه حکم دی؟

جواب: داجائزنه دي د خرڅولو وخت کې قیمت کول ضروري دي.[1]

د حرام کار اجرت حرام دی

سوال: خیاط (درزي) غیرشرعي جامې ګنډي، مثلا د سړیو له پاره خالص د وریښمو جامې ګنډي، اوټائپ کونکي غلط بیان والاکاغذونه ټائپ کوي اوپه هغو باندې پیسې ګټي، د دواړو ګټه به د ګناه په کارکې د مدد کولو له وجې حرامه وي، یامکروه تنزیهي؟

جواب: د حرام کار اجرت حرام دی.[2]

قیمت زیات ویل اوبیا کم قیمت اخیستل

سوال: کوم شی چې موږ تیارکړو د هغه د خرڅولو له پاره یوخاص قیمت ټاکل کیږي چې داشی په دومره پیسو باندې دوکاندارته ورکول دي، که چیرته موږ هغومره قیمت دوکان دارته ووایو، نو هغه يې په هغه قیمت باندې نه اخلي، څه نه څه راباندې ضرورکموي، که موږ ددې له وجې څه پیسې زیاتې یادې کړو، چې څومره هغه کموي، نو د هغه له وجې اوسط برابرشي، نوایاداسې کول مناسب دي یاداخبره به دروغوکې راځي؟دشریعت مطابق جواب راکړئ!

جواب: قیمت ویلونه وروسته هغه کې کمي کول دروغ نه دي، له دې وجې جائزدي[3]، خود تجارت داصولومطابق دارواج غلط دی، یوقیمت ښودل پکاردي، شروع کې به خلک پریشانه کول کوي، خوکله چې ټولوته پته ولګیږي چې دابازارنه هم کم نرخ دی اوداچې د دوی هم یو

---

[1] شروط صحة البيع، شروط الصحة قسمان: عامة وخاصة، فالشروط العامة. . . . جهالة الثمن كذلك فلايصح بيع الشيء بثمن مثله، او بما سيستقر عليه السعر. (الفقه الاسلامی وادلته/ ٤/ ٣٧٩/ صحة البيع)۔

[2] ما حرم فعله حرم طلبه، فكما ان فعل السرقة والقتل والظلم ممنوع فاجراء ذلک بواسطة اخریٰ ممنوع ايضاً. (شرح المجلة لسليم رستم باز/٣٤/المادة: ٣٥). ايضاً: لايجوز الاستئجار على المعاصی كاستئجار الانسان للعب واللهو المحرم وتعليم السحر والشعر المحرم وانتساخ كتب البدع المحرمة وكاستئجار المغنية والنائحة للغناء والنوح، لانه استئجار على معصية والمعصية لاتستحق بالعقد. (الفقه الاسلامی وادلته/ ٤/ ٧٤٤)۔

[3] وصح الحط منه (درمختار). (قوله وصح الحط منه) ای من الثمن وكذا من رأس المال السلم. . . . الخ. (ردالمحتار على الدرالمختار/ ٥/ ١٥٤/باب المرابحة والتولية/ مطلب فی تعريف الكر)۔

اصول دی، نو بيا به پريشانه کول پريږدي، بلکې هم دې کې به خوشالي محسوسوي.

د شي وزن کولو وخت کې د اخيستونکي موجوديت ضروري دی

سوال: کوم شی چې په وزن کولوسره، يعنې په تول باندې خرڅيږي د هغه د اخيستلوپه وخت کې داخيستونکي، موجوديت ضروري دی؟ ځکه چې دې صورت کې داخيستونکي وخت خرابيږي، ايا هغه دوکان دار باندې اعتبار کولی شي؟ که کولی يې شي، نوخپل ملکيت کې راتلونه وروسته هغه تلو سره خپل اطمينان کولی شي يادوزن کولونه پرته يې استعمال کې راوستلی شي، يا يې مخکې خرڅولی شي؟

جواب: کوم شی چې په تول باندې خرڅيږي د هغه درې صورتونه دي:

لومړی صورت: دادی چې کله ورکونکي وزن نه وروسته ورکړ، هغه وخت کې اخيستونکي يا دهغه څوک سړی موجود و، دې صورت کې مخکې خرڅولوکې دبيا وزن ضرورت نه شته، پرته له وزن کولو يې مخکې خرڅولی شي اوپخپله يې هم خوړلی څښلی شي.[1]

دويم صورت: دادی چې هغه وخت کې اخيستونکی يادهغه څوک سړی موجودنه و، بلکې دهغه په غيرموجودګي کې شی ووزن شو، دې صورت کې هغه شی استعمالول اومخکې خرڅول جائزنه دي[2]، خو که چيرته ورکونکي دوکان دارته دا وويل شي چې مثلا دې خلته(تيلی) کې چې هرڅومره شی دی که کم وي اوکه ډيرپه دې قيمت باندې يې اخلم، نوبيادوزن کولوضرورت نه شته.[3]

---

[1] (وكفى كيله من البائع بحضرته) اى المشترى بعد البيع. (قوله وكفى كيله . . الخ) قال فى الخانية لو اشتريٰ كيليا مكايلة او موزون موازنة فكال البائع بحضرة المشترى قال الامام ابن الفضل يكفيه كيل البائع ويجوز له ان يتصرف فيه قبل ان يكيله.(ردالمحتار على الدرالمختار/٥/ ١٥١/ مطلب فى تصرف البائع فى المبيع قبل القبض/ كتاب البيوع)

[2] (اشتريٰ مكيلا بشرط الكيل حرم) اى حرم تحريماً بيعه واكله حتى يكيله) وقد صرحوا بفساده. قال الشامى رحمه الله (قوله وقد صرحوا) صرح محمد رحمه الله فى الجامع الصغير بما نصه محمد عن يعقوب عن ابى حنيفة رحمه الله قال: اذا اشتريت شيئاً مما يكال او يوزن او يعد فاشتريت ما يكال كيلاً ويوزن وزناً ويعد عداً فلا تبعه حتى تكليه وتزنه وتعده فان بعته قبل ان تفعل وقد قبضته فالبيع فاسد فى الكيل والوزن. (ردالمحتار مع الدر المختار/٥/ ١٤٩، وفى البحرالرائق/٦/ ١١٧/ كتاب البيوع)۔

[3] كبيع التعاطى فانه لا يحتاج فى الموزونات الى وزن المشترى ثانياً لأنه صار بيعاً بالقبض بعدالوزن فيه وعليه الفتويٰ خلاصة (قوله كبيع التعاطى. . . . الخ) عبارة البحر وهٰذا كله غير بيع التعاطى وهٰذا كله انه لا يتقيد بالموزونات بل التعاطى فى المكيلان والمعدودات كذٰلک. . . . الخ. (ردالمحتار على الدرالمختار/٥/ ١٥٠/ ومجموعة الفتاويٰ/ ٢٣٠)۔

دریم صورت: دادی چې دبوریو، خلتو او د بوجونو په حساب باندې اخیستل اوخرڅول وي، نوکه دهغو وزن کم وي اوکه زیات، په دویم ځل باندې یې دوزن کولوضرورت نه شته.[1]

د ټرانسپورټ دموټروپه اخیستلواو خرڅولوکې بدعنواني

سوال: علماءکرام اومفتیان صاحبان ددې مسئلې باره کې څه فرمایي چې کراچۍ کې اکثر د ټرانسپورټ کاروباردا سې وي مثلاً: یوسړي یو موټر په پنځوس زره نغدو واخیست، بیایې په بل سړي په قرض شپېته زره خرڅ کړ اواخستونکی هره میاشت کې درې زره روپۍ قسط ورکوي، خودې خرڅولو او اخیستلوکې یوشرط داکیښودل کیږي، چې داپیسې به په ګاډي وي په سړي به نه وي، خدای دې نه کړي که چیرته دغه موټر چیرته ورک شي یا وسوځي، نوخرڅونکی سړی داخیستونکي نه دپیسومطالبه نه شي کولی اوداشرط عام دی،نوکه د اخیستلو او خرڅولو وخت کې څوک ددې اعلان وکړي اوکه یې ونه کړي، په هرصورت کې دې باندې عمل کیږي او اخیستونکي چې څومره پیسې ورکړي وي هغه هم دموټر ضائع کیدوسره ختمیږي. ۱: ایا دا اخیستل اوخرڅول دشریعت په نزد جائزدي ؟

۲: که چیرته جائز نه وي، نودې نه حاصله شوې ګټه به سود کې شمار وي اوکه نه؟

۳: داپیسې به اخیستونکي باندې وي اوکه په موټر باندې؟

اوددې موټر کاغذونه هم دخرڅونکي سره وي ترڅوچې قرضه ختمه شوې نه وي، ایا دې سره په اخیستلواوخرڅولوباندې څه فرق پریوځي؟

جواب: په دې صورت کې په اخیستلواوخرڅولوکې دفاسدشرط له وجې دا اخیستل او خرڅول شرعي طورباندې جائزنه دي[2] د شریعت دقانون مطابق چې ایجاب اوقبول مکمل شي، نو اخیستل او خرڅول مکمل شي[3] اوخرڅونکي باندې دا واجب دي چې هغه اخستونکي ته سودا حواله کړي، اواخیستونکي باندې داواجب دي چې هغه دسودا قیمت

---

[1] (قوله بخلافه مجازفة) محترز قوله بشرط الکیل وقوله شرط الوزن والعدای لو اشتريٰ مجازفة له ان یتصرف فیه قبل الکیل والوزن لأن کل المشار الیه له ای الأصل والزیادة.(ردالمحتار/٥/١٥٠فصل فی التصرف فی المبیع)

[2] کل شرط لایقتضیه العقد وفیه منفعة لأحد المتعاقدین او للمعقود علیه وهو اهل الاستحقاق یفسده. (هدایة/٣/٥٩/باب البیع الفاسد). ایضاً: کل شيء یشرطه المشتري علی البائع یفسد به البیع. (درمختار/٥/٨٥/باب البیع الفاسد). والبیع الفاسد غیر جائز. (درمختار/٥/٤٩/ باب البیع الفاسد)۔

[3] البیع ینعقد بالایجاب والقبول اذا کانا بلفظی الماضی مثل ان یقول احدهما: بعت، والآخر: اشتریت.....الخ. (هدایة/٣/١٨/کتاب البیوع).واذا حصل الایجاب والقبول لزم البیع ولا خیار لواحد منهما. (هدایة/٣/ ٢٠)

اداکړي[1] اودې کې هیڅ فرق نه شته چې دقیمت اداکولونه مخکې مبیعه هلاکه شي یاضائعه شي اوداسې نور . په هرحال اخیستونکي باندې واجب دي چې هغه قیمت اداکړي. ځکه چې دقیمت تعلق اخیستونکي سره دی دسوداسره نه دی. یعنې قیمت په اخیستونکي باندې واجبیږي نه په سوداباندې اوپه اخیستلواوخرڅولو کې داسې شرط لګول چې که چیرته سودا(مبیعه) دقیمت اداکولونه مخکې ضائعه شوه. نوپاتې قیمت به ختم شي. شرعی طورباندې فاسددی اوداسې شرطونو سره اخیستل اوخرڅول کول ناجائزدي[2] که چیرته یو کس ذکرشوي فاسدشرط سره اخیستل اوخرڅول وکړي، نوهغه باندې واجب دي چې هغه داخیستل یا خرڅول منسوخ کړي اوفاسد شرط ترې ختم کړي اوپه دویم ځل دې اخیستل یا خرڅول وکړي[3] خوکه چیرته دې قسمه فاسدشرط سره داخیستلواوخرڅولونه وروسته سودا ضائعه شوه او دهغه قیمت اداکول پاتې و، نواخیستل اوخرڅول دنه منسوخ کیدو له وجې داخیستونکي په ذمه باندې قیمت ورکول نورهم مستحکم شو. نو په اخیستونکی باندې دهغه قیمت ورکول د شریعت په نزدباندې واجب دي[4] اوکه چیرته خرڅونکي دمال دضائعه کیدوله وجې اخستونکي ته پخپله باندې معاف کړي، نوهیڅ بده خبره نه ده اوذکرشوي صورت کې فاسده بیعې له وجې داخیستونکي په ملکیت کې موټر راغلی و، له دې وجې داخیستونکی له پاره ددې موټر نه ګټه حاصلول جائزدي [5] اوکه خرڅونکي دقیمت

---

[1]]ومن باع سلعة بثمن قيل للمشتري: ادفع الثمن اولاً لأن حق المشترى تعين فى المبيع فيقدم دفع الثمن لتعين حق البائع بالقبض لما انه لا يتعين بالتعين تحقيقاً للمساواة. (هداية/٣/ ٣٣، ٣٤/كتاب البيوع)۔

[2]]ولو كان البيع بشرط لا يقتضيه العقد، وفيه نفع لأحد المتعاقدين اى البائع والمشترى او لمبيع يستحق النفع بان يكون آدمياً فهو اى هٰذا البيع فاسد. (مجمع الأنهر/٣/ ٩٦/ كتاب البيوع/ باب البيع الفاسد). ايضا: وكل شرط لايقتضيه العقد، وفيه منفعة لاحدالمتعاقدين او للمعقود عليه، وهو من اهل الاستحقاق يفسده. (الهداية/٣/٦٢/كتاب البيوع/باب البيع الفاسد). ولو كان فى الشرط منفعة لأحد المتعاقدين بان شرط البائع ان يقرض المشترى اوعلى القلب،يفسد العقد(خلاصة الفتاوي/٣/٥٠/ كتاب البيوع/ الفصل الخامس/طبع رشيديه)

[3]]ويجب على كل واحد منهما فسخ قبل القبض اى فسخ البيع الفاسد او بعده ما دام المبيع بحال فى يد المشترى اعداماً للفساد لأنه معصية، فيجب رفعها. (الدرالمختار مع ردالمحتار/باب بيع الفاسد/ ٥/ ٩٠، ٩١). ايضاً: ولكل منهما فسخ يعنى كل واحد منهما فسخه، لأن رفع الفساد واجب عليهما. (تبيين الحقائق/كتاب البيوع/٤/٤٠٢)۔

[4]]واذا قبض المشترى المبيع برضاء بائعه صريحاً او دلالة بان قبضه فى مجلس العقد بحضرته فى البيع الفاسد. . . . ملكه. . . . . بمثله ان مثليا والا فبقيمته يعنى ان بعد هلاكه او تعذر رده. . . . . الخ. (درمختار مع تنويرالابصار/ ٥/ ٨٨. ٩٠/كتاب البيوع/ باب البيع الفاسد/طبع ايچ ايم سعيد)۔

[5]] بخلاف البيع الفاسد فانه لايطيب له لفساد عقده ويطيب للمشترى فيه لصحة عقده. وفى الشامية: (قوله بخلاف البيع الفاسد) فان رده واجب على البائع قبل البيع لا على المشترى لعدم بقاء المعنى الموجب للرد كما قدمنا فلم يتمكن الخبيث فيه فلذا طاب للمشترى، وهٰذا لا ينافى ان ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

حاصلولو پورې کاغذونه له ځان سره د ضمانت په طور باندې کېښنودل غواړي، نودې کې څه بده خبره نه شته، خو اخیستونکي ته د ملکیت حق ورکول ضروري دي.

مزدوري د حلالې ګټې نه اخلې

سوال: مولاناصاحب! څنګه چې تاسو ته پته ده چې اسلام په موږ باندې ناجائزه ګټه حرامه کړې ده، که چیرته یو مسلمان ټوله ورځ محنت وکړي یاڅه کاروبار یا تجارت وغیره وکړي، په محنت باندې خپله مزدوري ګټي، خو هغه ته چې کومې پیسې ملاوشي، فرض کړئ هغه د حرامو وي، نو ایا هغه کس ته هم هغه پیسې حرامې دي او که هغه کس هغه پیسې په محنت باندې ګټلې وي او د خپل محنت مطابق یې حاصلې کړې وي؟ مهرباني وکړئ د دې سوال ښه جواب راکړئ.

جواب: که چیرته ستاسو محنت جائز و، نو تاسو له پاره مزدوري حلاله ده، د وو شرطونو سره:

(۱): داچې تاسو کار صحیح کړی وي، په هغه کې مووخت پاسي نه وي کړي.

(۲): داچې کوم کار تاسو کړی وي شرعي طور باندې د هغه کول هم جائز وي، دې نه وروسته که چیرته مالک له حرامو پیسو نه تاسو ته اجرت درکوي، نو هغه مه قبلوئ، بلکې هغه مجبور کړئ چې له چانه حلالې پیسې قرض واخلي او تاسو ته خپله مزدوري درکړي[۱] د هغه د حرامو پیسو نه به ستاسو مزدوري اخیستل جائز نه وي، که تاسو ته معلومه وه چې فلانکي کس یا اداره تاسو ته د حرامو پیسو نه مزدوري درکوی، د هغه مزدوري کول نه دي پکار.

ایا د بلډنګ وغیره ټیکه اخیستل جائز دي؟

سوال: د څه بلډنګ وغیره جوړولو یا د هر یو شي چې هغه کې د ګټې او نقصان دواړو ویره وي، ټیکه کول جائز دي او که نه؟ دې کې کله ډیره زیاته ګټه وشي او کله ډیر زیات تاوان.

جواب: داسې ټیکه کول جائز دي.[۲]

...بقیه د تیرمخ] نفس الشراء مکروه لحصوله للبائع سبب حرام ولأن فیه اعراضاً عن الفسخ الواجب هٰذاظهرلی.(ردالمحتارمع الدرالمختار/۵/۹۸/مطلب البیع الفاسدلایطیب له/باب بیع الفاسد)

[۱] ما حرم اخذه حرم اعطاء ه. وفی الحاشیة: کاالرباء ومهر الغی والرشوة وحلوان الکاهن وأجرة النائحة والزامر. (قواعد الفقه/۱۱۵/طبع صدف پبلشرز کراچی). ایضاً: الحرام ینتقل ای تنتقل حرمته وان تداولته الأیدی وتبدلت الأملاک. (ردالمحتار/۵/ ۹۸/باب بیع الفاسد). ایضاً: لو رأی المکاس مثلاً یأخذ من أحد شیئاً من المکس ثم یعطیه آخر ثم یأخذ من ذالک الآخر آخر فهو حرام اه. (ردالمحتار/۵/۹۸/باب البیع الفاسد/مطلب الحرمة تتعد، ایضاً: امدادالفتاوي/۳/ ۳۷۷/ کتاب الاجارة)۔

[۲] کل ماینتفع به مع بقاء عینه تجوز اجارته ومالا فلا. (الفقه الاسلامی وادلته/۴/ ۷۳۳/الفصل الثالث/عقد الایجار). ایضاً: والاجارة لا تخلوا اما ان تقع علی وقت معلوم او علی....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

د ټيکدارۍ کميشن اخيستل او ورکول

سوال: د حکومت په مختلفو محکمو کې د ټيکدارۍ په سلسله کې د يو څو مسئلو پوښتنې کوم، د ټيکې د بولۍ په وخت کې ټيکداران په خپلو کې دا فيصله وکړي چې اسلم، زيد يا فلانکی کس به دا ټيکه واخلي او د ټيکې په بدله کې به نورو ټيکدارانو ته رينګ ورکړي، يعنې څه پيسې چې هغه نور ټيکداران په خپلو کې تقسيم کړي، رينګ اخيستونکي ټيکداران دا جواز وړاندې کوي: ١: موږ حکومت ته فيس ورکړی دی.

٢: د دې ټيکې له پاره کال د پارټ (دوه فيصده) د ضمانت په طور باندې همدې ټيکې له پاره مخکې جمعه کړي دي.

٣: ټيکې له پاره د بولۍ د فارم پيسې چې هغه نه واپس کيږي پنځه سوه يا دوه نيم سوه جمعه کړي دي، نو که موږ ټيکه اخلو او که نه يې اخلو دا رينګ زموږ، سرمايه او دفيس له وجې حق جوړيږي.

يادونه: د کال د پارټ پيسې واپس ملاويدونکي وي.

د رينګ په شکل کې هغه ټيکدار کوم چې ټيکه اخلي، پوره پوره ريټ ورکړي او د مقابلې په شکل کې هريو ټيکدار کم ريټ ورکوي، د دې صورت کې محکمې ته نقصان، خپل هم نقصان او د کار هم نقصان وي او د رينګ په شکل کې يو حد پورې کار صحيح وشي، يعنې شرعي طور باندې د دې څه حکم دی، رينګ اخيستل ورکول څنګه دي؟

جواب: دا رينګ د رشوت په حکم کې دی او جائز نه دی[1]، اخيستونکي يې حرام خوري[1] د مقابلې نه د بچ کيدو له پاره هغوی دا سې هم کولی شي چې خپلو کې دا مقرر کړي چې فلانکې ټيکه به فلانکی اخلي، د غه شان دې خپلو کې ټيکې تقسيم کړي.

...بقيه د تيرمخ] عمل معلوم، فان وقعت على عمل معلوم، فلا تجب الاجرة الا باتمام العمل اذا كان العمل مما لا يصلح اوله الا بآخره، وان كان يصلح اوله دون آخره فتجب الأجرة بمقدار العمل. (النتف فى الفتاوىٰ/٣٣٨/كتاب الاجارة/طبع سعيد). ايضا: استأجره ليبنى له حائطاً بالآجر والجص وعلم طوله وعرضه جاز. . . . ولا استأجره لحفر البئر ان لم يبين الطول والعرض والعمق، جاز استحساناً. . . . الخ. (فتاوىٰ عالمگيري/ ٤/ ٤٥١/ كتاب الاجارة/الباب الخامس/طبع رشيديه كوئته)۔

[1] الرشوة: مثلثة مايعطى لابطال حق، او لا حقاق باطل، قاله السيد، وفى كشاف المصطلحات: الرشوة لغة مايتوصل به الى الحاجة بالمضايقة بأن تصنع له شيئاً ليصنع لک شيئاً آخر، قال ابن الأثير: وشرعاً: ما يأخذه الآخذ ظلماً بجهة يدفعه الدافع اليه من هٰذه الجهة وتمامه فى صلح الكرمانى، فالمرتشى الآخذ والراشى هو الدافع كذا فى جامع الرموز فى كتاب القضاء وفى البرجندي رحمه الله: الرشوة مال يعطيه بشرط ان يعينه والذى يعطيه بلا شرط فهو هدية كذا فى فتاوىٰ قاضيخان. (قواعد الفقه/ ٣٠٧/طبع صدف پبلشرز كراچى)۔

سوال: سرکاري محکموکې يو ډول رواج دی چې هرڅومره صحيح کارکوي. خوافسران په کې خپل کميشن اخلي. د کميشن نه پرته که هرڅومره صحيح کاروي، د حکومت يامحکمې د شيډول مطابق وي، بياهم کميشن نه پرېږدي اوکارمنظورنه شي اوکه چيرته کميشن نه ورکوي. نوټيکداري به پرېښودل وي اوټيکداري زما مجبوري ده. نوکميشن ورکول څنګه دي؟ اوزماد ټيکداري پاتې پيسې جائزدي اوکه ناجائز؟

جواب: داهم رشوت دی. خوکه د ظلم ختمولوله پاره رشوت ورکړل شي. نو اميددی چې په هغه باندې به دالله تعالی له طرف نه نيول نه وي، خو په هرحال اخيستونکي يې حرام خوري.[٢]

سوال: ټيکې کې ځينې يارباش افسران، ټيکدارته دمددپه طور باندې بل زيات وښيي. مثلا کار لس کم سل فټه وي اوافسر هغه ته دسل فټو پيسې ورکړي. دادزياتي لس فټوپيسې څنګه دي؟

جواب: خالص حرامې دي.[٣]

سوال: اوافسران دا جواز وړاندې کوي چې دکوم کارله پاره حکومت يا محکمې څومره پيسې مقررکړي دي،موږ ته يې داستعمال اجازه ده، هغه کارمکمل کولونه وروسته پاتې پيسې دټيکدارحق دی، له دې وجې موږ زيات بل جوړوو اواکثردازياتي پيسې ټيکدار او افسرخپلوکې تقسيم کړي.

جواب: ټيکدارسره دامقررکول پکاردي چې دومره کار، به په دومره پيسوباندې کوي[٤]، کار کم کول اوپيسې ډيرې ورکول جائزنه دي او حرام مال همدغه شان دوکه باندې کيږي.

---

[١] عبدالله بن عمر رضى الله عنهما قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشى والمرتشى. (رواه الترمذي/١/ ٢٢٨/وابوداؤد/٢/ ١٤٨). ايضاً فى الدرالمختار: الرشوة لاتملک بالقبض. (الدرالمختار مع الرد المحتار/ ٤٢٣/٦/ فصل فى البيع)۔

[٢] ثم الرشوة اربعة اقسام. . . . . . الرابع: ما يدفع لدفع الخوف من المدفوع اليه على نفسه، او ماله، حلال للدافع، حرام على الآخذ، لان دفع الضرر عن المسلم واجب. (فتاوى شامي/٥/ ٣٦٢). ايضاً: لو اضطر الى دفع مرشوة لاحياء حقه جازله الدفع وحرم على القابض.(ردالمحتار/٧٢/٥/مطلب فى التداوى بلبن البنت للرمد)

[٣] يٰايهاالذين آمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل. بما لم تبحه الشريعة من نحو السرقة، والخيانة، والغصب، والقمار، وعقود الربا. (التفسير النسفي/١/ ٣٥١/ طبع دار ابن كثير/ بيروت)۔

[٤] قال ابن همام رحمه الله: (قوله ولا تصح حتى تكون المنافع معلومة والأجرة معلومة لما روينا وهو قول عليه السلام من استأجر اجيراً فليعلمه اجره، وهٰذا الحديث بعبارته دل على اشتراط اعلام الأجرة وبدلالته على اشتراط اعلام المنافع. . . . . الخ. (فتح القدير/ ٨/ ٦/كتاب الاجارة). ايضاً: وفى البزازية: وكذا لو قال اصلح هٰذا الجدار بهٰذا الدرهم يجوز وان لم يذكر الوقت لانه يمكن له الشروع فى العمل حالاً. . . الخ. (البزازية بهامشه عالمگيري/٥/٤٠/ طبع رشيديه كوئته)۔

په اسلام کې د شفعه د حق شرطونه

سوال: ایا اسلام کې شفعه کول جائزدي؟ لکه چې موروپلار دخپل جایداد څه برخه یاټول جایدادپه بل چاباندې خرڅ کړي، نودهغه کس اولادیا دهغه خپلوان شفعه حق لري؟ اوهغه خلک داسلامي قانون په نزدباندې دواپس اخیستلوحق داردي اوکه نه؟ مادیوسړي نه اوریدلي دي چې دشفعه حق اسلام کې جائزنه دی

جواب: اسلام کې د شفعه حق جائزدی[1]، خوددې مسائل دومره نازک دي چې ننن سبا نه خلکوته دهغه علم شته اونه یې رعایت ساتي، مختصرداچې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې دشفعه حق یوازې درې قسمه خلکوته حاصل دی:

لومړی هغه کس کوم چې په خرڅ شوي جایداد (کور یا ځمکه) کې شریک وي.

دویم هغه کس چې هغه په جایدادکې شریک نه دی، خود جایداد په متعلقاتوکې شریک دی مثلاً ددووکورونو لار شریک ده، یاځمکې ته اوبه ورکونکې نالی ددواړو په شریکه ده.

دریم هغه کس دچاکوریاجایدادچې خرڅ شوي کوریاجایداد سره نژدې وي.

دې دریوواړو خلکوته دشفعه حق حاصل دی، یعنې لومړی دجایداد شریک ته. بیا دهغه په متعلقاتوکې شریک ته اوبیا ګاونډي ته دشفعه حق حاصل دی، که چیرته لومړي کس شفعه کول نه غواړي، نوبیادویم کس شفعه کولی شي اوکه دویم کس شفعه کول نه غواړي، نو بیا یې دریم کس کولی شي.[2]

---

[1] عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الشفعة فى كل شرك ربعة او حائط لايصح ان يبيع حتى يؤذن شريكه فان باع فهو أحق به حتى يؤذنه. وعن سمر عن النبى صلى الله عليه وسلم: جار الدار احق بدار لجار والأرض. وعن جابر بن عبدالله رضى الله عنهماقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الجار احق بشفعة جاره ينتظر بها وان كان غائباً اذا كان طريقهما واحد. (رواه ابوداؤد/٢/١٤٠/باب فى الشفعة)۔

[2] قال فى الهداية: الشفعة واجبة للخليط فى نفس المبيع ثم للخليط فى حق المبيع كالشرب والطريق ثم للجار. افاد بهٰذا اللفظ ثبوت حق الشفعة لكل واحد من هٰؤلآء وافاد الترتيب، اما الثبوت فلقوله عليه السلام: الشفعة لشريك لم يقاسم، ولقوله عليه السلام: جار الدار احق بالدار. . . . . . الخ. (هداية/٤/ ٣٩٠/كتاب الشفعة). ايضاً: قال ابن همام: واما الترتيب فلقوله عليه السلام: الشريک احق من الخليط والخليط احق من الشفيع فالشريک فى نفس المبيع والخليط فى حقوق المبيع والشفيع هوالجار. . . . . الخ. (هٰكذا فى فتح القدير/٨/ ٣٠٠/ كتاب الشفعة). ايضاً: قال فى الهداية: وليس للشريک فى الطريق والشرب والجار شفعة مع الخليط فى الرقبة لما ذكرنا انه مقدم. قال فان سلم فالشفعة للشريک فى الطريق فان سلم اخذها الجار. لما بينا من الترتيب. . . . الخ. (هداية/ ٤/ ٣٩٠)۔

له دې نه معلومه شوه چې د خرڅونکي اولاد يا د هغه خپلوان په د ريو واړو فريقو کې شامل نه دي، نو هغوی نه يو ازې د اولاد يا خپلوان کېدو له وجې د شفعه حق حاصل نه دی.

او کوم کس ته چې د شفعه حق حاصل دی، د هغه له پاره لازم دي چې کله هغه ته د کور يا جايداد د خرڅولو خبر ورسيږي، نو سمدستي دې دا اعلان وکړي چې فلانکی کور خرڅ شوی دی او ما ته هغه باندې د شفعه حق حاصل دی، زه به دا حق غواړم او د خپل اعلان ګواهان دې هم جوړ کړي [١]

له دې نه وروسته دې هغه خرڅونکي ته يا اخيستونکي ته (د چا په قبضه کې چې جايداد وي) يا هغه خرڅ شوي جايداد ته دې په خپله لاړشي او هلته دې هم دا اعلان وکړي، بيا به د هغه د شفعه حق وي[٢] او که چيرته هغه د بيع اوريدو نه وروسته چپ شو او د شفعه کولو اعلان يې سمدستي ونه کړ، نو د هغه د شفعه حق ختم شو[٣] او دوه ځله د ګواهانو نه وروسته دې هغه عدالت ته لاړشي او هلته دې د خپل حق ثبوت وړاندې کړي [٤]

او س تاسو ګورئ چې نن سبا کومه شفعه کيږي، هغه کې د دې حکمونو رعايت کوم حد پورې کيږي، نو که چيرته تاسو د چانه اوريدلي دي چې: اسلام کې د داسې قسمه شفعه اجازه نه شته، نو يو حد پورې دا خبره هم صحيح ده، خلک رائج الوقت قانون ته ګوري، شريعت کې کومه خبره صحيح ده او کومه نه؟ د دې رعايت ډير کم خلک کوي.

ايا حکومت د شيانو قيمت ټاکلی شي؟

سوال: حکومت د ځينې شيانو قيمت ټاکلی. نو ايا داسې قيمت مقررول صحيح دي؟ او د دې نه په پته په ګرانه باندې خرڅول جائز دي او که نه؟

---

[١] واذا علم الشفيع بالبيع اشهد فی مجلسه ذٰلک علی المطالبة وقال فی الكفاية وكذٰلک ان كان بمحضر من الشهود ينبغی له ان يشهد علی طلبه. (فتح القدير/٨/ ٣٠٧/ كتاب الشفعة)۔

[٢] (ثم ينهض منه) يعنی من المجلس ويشهد علی البائع ان كان المبيع فی يده) معناه لم يسلم الی المشتری او علی المبتاع او عند العقار فاذا فعل ذٰلک استقرت شفعته.۔وصورة هٰذا الطلب ان يقول ان فلانا اشتری هٰذه الدار وانا شفيعها وقد كنت طلبت الشفعة واطلبها الآن فاشهدوا علی ذٰلک. . . . الخ. (هداية/٤/ ٣٩١/ باب طلب الشفعة)۔

[٣] اعلم ان الطلب علی ثلاثة اوجه، طلب المواثبة وهو ان يطلبها كما علم حتی لو بلغ الشفيع ولم يطلب شفعته بطلت الشفعة لما ذكرنا ولقول عليه السلام الشفعة لمن واثبها. . . . . الخ. (هداية/ ٤/٣٩٠/ باب طلب الشفعة)۔

[٤] واذا تقدم الشفيع الی القاضی فادعی الشراء وطلب الشفعة سأل القاضی المدعٰی عليه فان اعترف بملكه الذی يشفع به والا كلفه باقامة البينة. . . . . الخ. (هداية/٤/ ٣٩٢/ باب طلب الشفعة والخصومة فيها)۔

جواب: دضرورت په وخت کې قیمت مقررول جائزدي. کله چې د مال مالکان تعدي (زیاتی) کوي دغه شان دضرورت په وخت کې د حنفیه په نزدباندې دهریوشي مقررکېدای شي، په زیات قیمت باندې خرڅول ښه خبره نه ده. خوکه چیرته یې خرڅ کړي. نوبیعه (یعنې مکمل خرڅول) به وشي.[1]

د مالکانو له ویل شوي قیمت نه په زیات قیمت خرڅول او نیمې پیسې له ځان سره کیښودل

سوال: زماکشر ورور په موجوده وخت کې په یو دکان کې نوکري لګیدلی دی. د کار نوعیت دادی چې کوم سامان دی خرڅوي مالکان یې قیمت هم ورښیي چې فلانکی په دې قیمت باندې خرڅول پکار دي که چیرته ددې نه زیاتو پیسو باندې یی خرڅ کړي او مالکانو ته یې پته ولګیږي، نو هغوی یې له نوکري باسي، خو زما وروړته چې موقع ملاویږي، نو په دوچند قیمت باندې یې خرڅوي او بیا اصل قیمت مالکانو ته ورکوي پاتې دخپل ځان له پاره ږدي په دې کار کې له ده سره څه نور هلکان هم شریک دي، زما په نظر کې دا سراسر حرام دي، ځکه چې په کوم شي باندې چې دوچنده قیمت اخلي هغه ددوی نه وي او د چا چې دی د هغوی له طرف نه اجازه هم نه شته او بیا ددې د خرڅولو له پاره دروغ هم وایي، محترمه! که چیرته دا امدني جائز نه وي، نو زما د کور والو له پاره څه حکم دی کوم چې دده حمایت کوي؟

جواب: ستا ورور چې په کوم دکان کې ملازم دی د شیانو په خرڅولو کې دی وکیل دی او د وکیل له پاره دا جائز نه وي چې په زیات قیمت باندې شی خرڅ کړي او لږ پیسې مالک ته ورکړي [2] له دې وجې د ستا د ورور دا زیاته امدني سراسر حرامه ده او د خنزیر په شان پلیته

---

[1] فان كان ارباب الطعام يتحكموا ويتعدون عن القيمة تعديا فاحشا وعجز القاضي عن صيانة حقوق المسلمين الا بالتسعير فحينئذ لا بأس به بمشورة من اهل الرأى والبصيرة فاذا فعل ذلك وتعدى رجل عن ذلك وباع باكثر منه اجازه القاضي وهذا ظاهر عند ابي حنيفة رحمه الله لانه لايرى الحجر على الحر وكذا عندهما الا ان يكون الحجر على قوم بأعيانهم، ومن باع فهم بما قدروه الامام صح لأنه غير مكره على البيع. (هداية/٤/٤٧٠ كتاب الكراهية، فصل فى البيع).ايضاً: ولايسعر الحاكم الا اذا تعدى الارباب تعدياً فاحشا، فيسعر بمشورة اهل الرأى. (الدرالمختار /٦/٤٠٠/ كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع، ايضاً: المحيط البرهاني/٨/ ٢٦٨/ الفصل الخامس والعشرون طبع غفاريه)۔

[2] الوكيل اذا باع ان يكون اميناً فيما يقبضه من الثمن. (الفقه الحنفي وادلته/٢/١٣٤/ كتاب الوكالة). ايضاً: فان الوكيل ممن لايثبت له حكم تصرفه وهو الملك فان الوكيل بالشرى لايملك المشترى والوكيل بالبيع لايملك الثمن. . . . . لان الوكيل يملك التصرف من جهة الموكل. (الجوهرة النيرة/ ٣٠٠/ كتاب الوكالة/طبع حقانيه).

ده، ده ته ددې نه توبه کول پکار دي او کور والو ته هم، که نه، په قبر او په حشر کې به د ده سره حساب کول وي او نيکي به برباده ، گناه لازم والا معامله به وي، لمونځ او عبادت به يې هم نه قبليږي [۱] والله اعلم.

زرگر له نامعلومه گينې سره څه وکړي؟

سوال: زموږ يودوست زرگردی، هغه سره دهغه دپلارمرحوم په زمانه کې مختلفو خلکو دگينې جوړولو له پاره سره زرايښي وو، دهغه پلاروفات شو اودهغه تقريبا شل کاله وشول، دهغه نه وروسته ډيرخلک راغلل اوخپل سره زريې گينې په شکل کې يوړل، خواوس هم څه خلک داسې شته چې هغوی خپلو شيانوپسې نه دي راغلي، اوس هغه ملگري پوښتنه کوي چې په هغو سروزروباندې څه وکړي؟ مهرباني وکړئ ددې جواب ورکړئ.

جواب: عام طورباندې زرگرانوسره دخپلو اخيستونکونوم اوپته ليکل شوي وي (دمرگ اوژوند هيڅ پته نه لگيږي، له دې وجې يې ليکل ضروري هم دي)، نو دکوموخلکو امانتونه چې دپلارله وخت نه پراته دي، که دهغوی نومونه اوپتې محفوظې وي، نودهغوی کورته اطلاع کول ضروري دي اوکه چيرته محفوظ نه وي، نوپه څه طريقه باندې دهغوی خبر خوروَل پکاردي اوکه دخبرخورولونه وروسته يوکال پورې څوک رانغلل، نودهغه حکم به دورک شوي شي وي، [۲] خوکه دصدقه کولونه وروسته دمالک ياوارث پته ولگيږي، نوهغه ته خبرورکول ضروري دي بيابه هغه ته اختياروي که هغه غواړي، نودصدقې اجازه دې وکړي يا دې خپل شی وصول کړي.

که چيرته هغوی دخپل شي مطالبه وکړي، نوکومې پيسې چې هغه صدقه کړي وي هغه به هم دهغه له طرف نه وي اومالک ته به هغه هومره پيسې ورکول ضروري وي [۳] داضروري ده چې دصدقه کولوپه وخت کې دغه پيسې وليکي، چې دفلانکي کس دومره گينه دمالک دپتې نه

---

[۱] عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: من اشترى ثوباً بعشرة دراهم وفيه درهم حرام لم يقبل الله تعالى له صلوة ما دام عليه، ثم اصبعيه فى اذنيه وقال: صمتا ان لم يكن النبى صلى الله عليه وسلم سمعته يقوله. رواه احمد والبيهقى. (مشكوٰة/ ۲٤۳/كتاب البيوع/ باب الكسب وطلب الحلال/طبع قديمى).

[۲] قال: فان كانت اقل من عشرة دراهم عرفها آياماً وان كانت عشرة فصاعداً عرفها حولاً، قال العبد الضعيف: وهٰذا رواية عن ابى حنيفة رحمه الله وقوله آياماً معناه على حسب مايراه الامام وقدره محمد فى الأصل بالحول من غير تفصيل بين القليل والكثير. (هدايه/۲/ ۵۹٤/ كتاب اللقطة/طبع محمد على كارخانه)۔

[۳] فان جاء صاحبها والاتصدق بها ايصالاً للحق الى المستحق وهو واجب بقدر الامكان وذٰلك بايصال عينها عند الظفر بصاحبها. . . . فان جاء صاحبها يعنى بعد ما تصدق بها فهو بالخيار ان شاء امضى الصدقة وله ثوابها لأن التصدق وان حصل باذن الشرع لم يحصل باذنه فيتوقف على اجازته. . . . . وان شاء ضمن الملتقط لأنه سلم ماله الى غيره بغيراذنه...الخ.(هداية/ ۲/ ۵۹۵/كتاب اللقطة/طبع محمد على كارخانه اسلامى كتب)

لګيدو له وجې د هغه طرف نه صدقه کړي، که چيرته ددې کس یا د هغه دوارثانو پته ولګيږي او هغوی د خپل سامان مطالبه وکړي، نو هغوی ته دې د هغه پيسې ورکړل شي. ددې ليکلو د وصيت په شکل کې محفوظ ساتل ضروري دي

خياط (درزي) سره پاتې شوې جامه دچا ده؟

سوال: زما د کشر ورور يو څو مياشتې مخکې د خياطي دوکان کړی و او سږکال دا د هغه لومړی رمضان و، د رمضان په مياشت کې خياطانو سره کار ډيرزيات وي. نو هغه ته هم ډير زيات کار راغی او ډيرو جامو ټکرې پاتې شوې، زما ورور وايي چې جوړونکی خود خپل طرف نه پنځه یا شپږ ميټره جامه د جوړې په حساب باندې راوړي، اوس که زه د خپل خان نه د هغه کټنګ وکړم او په هغه کې څه جامه بچت کړم، نو دې کې هيڅ بده خبره نه شته او کله ناکله ديوکور جامې په يورنګ وي، نو د کټ کولو نه وروسته ډيره جامه پاتې شي او هغه په کار راتلی شي، داکومه جامه چې پاتې شوه هغه مونږ کورکې استعمالولی شو او که نه؟ او که مونږ دا جامه چيرته غريب ته ورکړو، نو دا عمل به صحيح وي؟ یا د غه جامه ګاک ته واپس کول ضروري دي؟

جواب: کومه جامه چې پاتې شي هغه د مالک ده، د هغې واپس کول لازم دي، هغه پخپله باندې استعمالول یا غريب ته ور کول جائزنه دي، که نه، دغلا او خيانت ګناه به وي. [1]

د ونډی (حوالې) کاروبار څنګه دی؟

سوال: عرض دا دی چې زمونږ په ځای کې څه خلک په دوبۍ او ابوظبۍ کې د ونډۍ کاروبار کوي او خلک هغوی ته هلته درهم ورکړي او د پاکستاني بينکونونه لرډيرريټ ورکولو سره پيسې پاکستاني روپوکې دليږونکي کورته د مني ارډر یا بينک ډرافټ په ذريعه باندې وليږل شي، یا لاس په لاس نقدې پيسې يې کورکې ورکړي، ددې باجودچې په متحده عرب امارات کې د مسلمانانو حکومت دی او ځينې مسلمانانو او غير مسلمانانو ته حکومت لائسنس ورکړی دی، او باقاعده نظم وضبط سره دونډۍ (حوالې) کاروبارکوي، په لکونو کروړونو هرقسمه پيسې د هغوی په ميزونوکې هروخت موجودوي د هغوی خلاف خواوسه پورې چا هم اوازنه دی

---

[1] څکه چه دا امانت دې. او امانت په وخت باندې اداکول ضروري دی، ان الله يأمركم ان تؤدوا الأمانات الى اهلها. (النساء: ٥٨). عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اد الأمانة الى من ائتمنك ولا تخن ماخانک. (سنن ابى داؤد/٢/١٤٢/كتاب البيوع). ايضاً: عن ابى هريرةرضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: آية المنافق ثلاث: اذا حدث كذب، واذا وعد اخلف، وذا اؤتمن خان. (صحيح البخاري/١/ ١٠/كتاب الايمان). ايضاً: لايجوز لأحد أن يتصرف فى ملک غيره بلا اذنه او وكالة منه. (شرح المجلة لسليم رستم باز/٦١/رقم المادة:٩٦/طبع حبيبيه/كوئته، ايضاً: الأشباه والنظائر/٢٧٦/الفن الثاني/ طبع ادارة القرآن كراچى)۔

اوچت کړي، خودنوروخلکودچاچې رجسټریشن نه وي، هره هفته (جنګ روزنامه) کې دهغوی خلاف کالمونه چاپ کیږي، چې داکاروبارحرام دی او ملک سره دمحبت خلاف او ناجائزدی.

جواب: دونړۍ کاروبارته د (هدایه) لیکونکي مکروه[1] اووروستنیو فقهاوو جائز ویلي دي[2] نوکه چیرته دحکومت قانون اجازه ورکوي، نو ګنجائش په کې شته او دحکومت ځینې خلکوته اجازه ورکول ددې خبرې دلیل دی چې دقانون په نزدباندې همداجائزدی. خودې له پاره لائسنس ضروري دی

د حکومت په ځمکه باندې ناجائزه قبضه

سوال: کراچۍ کې داوسیدوپلاټ ,, کے ڈی اے، ، په قیمت باندې خرڅیږي، دهرکورمخې ته سرک سره خواکې څه ځمکه خالي پریږدي، چې دهغه قیمت پلاټ اخیستونکی نه ورکوي، له دې وجې دهغه ملکیت نه وي، خوعام طورباندې لیدل شوي دي چې زیاترخلک هغه په خپل استعمال کې راولي، خپل ذاتي باغ په کې جوړکړي چې هغه ته عام خلک نه شي ورتلای، یادکورڅه برخه په هغه باندې جوړه کړي. ایا داخلک په دې وعیدکې نه راځي کوم کې چې ویل شوي دي چې که څوک دچاپولیشت ځمکه باندې قبضه وکړي، نودقیامت په ورځ به دهغه په مرۍ کې واچول شي؟

جواب: داخلک په دې وعیدکې داخل دي.[3]

سوال: دویم هغه خلک چې هغوی سره داوسیدوله پاره کور نه وي اونه ورسره دومره مال وي چې په قیمت باندې واخلي، هغوی په خالي ځمکوباندې قبضه کړې وي اوکورونه یې پرې جوړکړي وي اوهغه کې اوسیږي اوبیادهغه کورونواوځمکواخیستل اوخرڅول هم شروع کړي،

---

[1]]ویکره السفاتج وهی قرض استفاد به المقروض سقوط خطر الطریق وهٰذا نوع استفید به وقد نهی الرسول علیه السلام عن قرض جرنفعاً. (هدایة/ ۳/ ۱۳۱/کتاب الحوالة، ایضاً ردالمحتار/٤/ ٥١٧/ مطلب فی بیع الجامکیة/٥/ ٣٥٠/کتاب الحوالة/طبع ایچ ایم سعید)۔

[2]]قال ابن نجیم رحمه الله: (قوله وکره السفاتج) حاصله عندنا قرض استفاد به المقرض امن خطر الطریق للنهی عن قرض جر نفعه وقیل اذا لم تکن المنفعة مشروطة فلا بأس به وفی البزازیة من کتاب الصرف ما یقتضی ترجیح الثانی فلا بأس بقبول هدیة الغریم واجابة دعوته بلاشر. . . . الخ. (هٰکذا فی البحرالرائق/ ٦/ ٢٥٤/کتاب الحوالة)۔

[3]] ان سعید ابن زید قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم من ظلم من الأرض شیئاً طوقه من سبع ارضین. (صحیح بخاري/ ١/ ٣٣٢/ باب اثم من ظلم شیئاً من الارض). وعن یعلی بن مرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم ایما رجل ظلم شبراً من الأرض کلفه الله عزوجل ان یحفره حتی یبلغ آخر سبع ارضین ثم یطوقه الی یوم القیامة حتی یقضی بین الناس. رواه احمد. (مشکوٰة/٢٥٦/باب الغصب والعاریة)۔

لکه په اورنګي ټاون کې او سیدونکو ډیرو خلکو د حکومت د اجازه او قیمت اداکولو نه پرته په ځمکه باندې قبضه کړې ده، اوسه پورې حکومت هغه ځمکه چاته نه ده ورکړې، خو خلک یې په اخیستلو او خرڅولو کې مصروف دي، د داسې خلکو له پاره شرعي څه حکم دی؟

جواب: انسان ته د خپل ملکیت والاشي خرڅولو حق حاصل دی، کوم شی چې د هغه ملکیت نه وي د هغه د خرڅولو حق هغه سره نه شته، نو د سرکاري اجازې نه پرته کومو خلکو چې ځمکه باندې قبضه کړې ده هغوی یې د خرڅولو حق نه لري. [۱]

په کومه اداره کې چې د امدني ذرائع واضح نه وي، په هغې کې کار کول

سوال: زه خو په خپله هم د ددین د پوهې په کوشش کې مصروف یم ټول اهم حدیثونه او صحاح سته هم موجود دي، خو بیاهم ظاهره ده چې د دین شعور علماء کرام لري، نورو خلکو کې کم وي، زه د صحافت سره تعلق لرم او په دې کې د خورو مکروهاتو او خرافاتو باندې کله هم نه پوهیږم، د وخت سره سره زه د خپل دین په معاملاتو کې مضبوطیږم، د دینه په ظاهره یوڅو مسئلې في الحال پیدا کیږي، زما سره سوال دادی چې که چیرته موږ سره په ښې طریقې سره شعور وي خبرداري وي چې په کومه اداره کې کار کیږي حقیقتا د مالکانو کردار ښائسته نه وي عام طور باندې د لمونځ پریښودنکي وي قولا او عملا دوی دروغو ته او دروغو دوی ته اچولي وي، انتهایي درجه تعصب د ژبې او د قومیت وغیره په حوالې سره د دوی په وینه کې پروت وي او د دوی د امدني ذرائع هم واضح نه وي، هلته چې سړی کار کوي، نو هیڅ کله د دین او د ملک هیڅ خدمت نه شي کولی، په ذهن او په زړه باندې پریشاني وي چې تاسو خویوازې د رزق له پاره دلته کار کوئ او بله څه جزبه مو نه شته، سوال دادی چې که چیرته په رښتیا او په پوره خلاصو سترګو سره حالات داسې وي، نو ایا یو صحافي په داسې ادارې کې کار کولی شي؟ حالانکې د لمونځ پریښودنکي د کفر په درجه کې وي، دروغ د انسان په بدیو کې تر ټولو بد دي او د دې نه ظاهره یوازې شر پیدا کیږي، روند تعصب چې هغه ایمان له زړه څخه باسي، ایا یو مومن هلته کار کولی شي؟ نو موږ ته کول پکار دي او که نه؟

---

[۱] وبطل. . . . . بیع مالیس فی ملکه لبطلان بیع المعدوم وماله خطر العدم (قوله لبطلان بیع المعدوم) اذ من شرط المعقود علیه ان یکون موجوداً مالاً متقوماً مملوکاً فی نفسه، وان یکون ملک البائع فیما یبیعه لنفسه، وان یکون مقدور التسلیم.(ردالمحتار مع الدرالمختار/۵۸/باب البیع الفاسد). ایضاً: وعن حکیم بن حزام رضی الله عنه قال: نهانی رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان ابیع مالیس عندی.(سنن ترمذي/۱/ ۲۳۳ باب ماجاء فی کراهیة بیع مالیس عنده)

جواب: په څه صحیح طریقې سره د معاش تلاش کوه او الله تعالی ته دعا هم کوه او کله چې یوه معقوله ذریعه د معاش ملاو شي، نو هغه ځای مه پرېږده [1]

د بجلي غلا شرعي طور با ندې جائز نه ده

سوال: موږ چې کوم ځای کې اوسېږو هغه ځای ته بجلي نه ده رارسیدلې، خو د بجلي د ستنې د نږدې والي له وجې خلک هغه ته کونډه واچوي او د هر کور نه سل روپۍ بل اخلي او بجلي ورکوي دا یوه غلا او د قانون خلاف خبره ده او د از موږ کور کې هم شته. د هغه په رڼا کې موږ لمونځ کوو. هغه جائز دی او که نه؟ او دې باره کې ما ته څه کول پکار دي؟ ځکه چې زما په منع کولو باندې هیڅ نه کېږي، خلک وایي چې موږ، خو پیسې ورکړي دي، مفته بجلی خو نه ده.

جواب: غل که چیرته غلا کولو نه وروسته سامان خرڅ کړي او تاسو ته پته وي چې دا سامان د غلا دی. نو د هغه اخیستل جائز نه دي، بلکې حرام دي، هم دا حکم د دې بجلي هم دی [2]

د وقف شوې جنازګاه اخیستل او خرڅول

سوال: زموږ په کلی کې یو ځای د جنازګاه له پاره وقف و، خو د حفاظت نه کولو له وجې هلته ګندګي جمعه شوه او جنازې کول په کې بندې شوې، او س هلته د کلي خلکو له پاره کوهی جوړ شوی دی، خو څه ځای په کې پاتې دی او هغه زموږ کور سره خواه کې دی او زموږ کور تنګ دی، زموږ خیال دی چې هغه واخلو او کور کې یې شامل کړو چې کور موغټ شي، که دا ځای زموږ له پاره جائز وي، نو اخیستلو نه وروسته یې خپل استعمال کې را وستی شو؟

جواب: د وقف شوي شي اخیستل او خرڅول جائز نه دي [3]، که هغه ځای چا وقف کړی نه وي،

---

[1] وعن حسن ابن علی قال: حفظت من رسول الله صلی الله علیه وسلم: دع ما یریبک الی مالا یریبک، فان الصدق طمانیة وان الکذب ریبة. (مشکوٰة/۲۴۲/ کتاب البیوع/ باب الکسب وطلب الحلال).

[2] وفی حظر الأشباه: الحرمة تتعدد مع العلم بها الا فی حق الوارث، (وفی الشامیة). . . . وما نقل عن بعض الحنفیة من ان الحرام لا یتعدی ذمتین. . . . . هو محمول علی ما اذا لم یعلم بذٰلک، اما لو رأی المکاس مثلاً یأخذ من احد شیئاً من المکس ثم یعطیه آخر ثم یأخذ من ذٰلک الآخر آخر فهو حرام. (ردالمحتار علی الدرالمختار/۹۸/۵/ مطلب الحرمة تتعدد). ایضاً: قال علیه الصلاة والسلام: من اشتریٰ سرقة وهو یعلم انها سرقة فقد شرک فی عارها واثمها. (فیض القدیر/۱/۵۶۵۴ رقم الحدیث: ۸۴۴۳، طبع مکتبه نزار مصطفی الباز/ریاض). ایضاً: لم یحل للمسلم ان یشتری شیئاً یعلم انه مغصوب، او مسروق، او مأخوذ من صاحبه بغیر حق لأنه اذا فعل یعین الغاصب او السارق او المعتد علی غصبه وسرقته وعداوته قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من اشتری سرقة (ای مسروقاً) وهو یعلم انها سرقة، فقد اشترک فی اثمها وعارها، البیهقی. (الحلال والحرام فی الاسلام، لشیخ یوسف القرضاوي/۲۱۶/طبع المکتب الاسلامی للطباعة والنشر)۔

[3] قال فی الشرنبلالیة: صرح رحمه الله ببطلان بیع الوقف، واحسن بذٰلک،....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه]

بلکې خالي لیدوسره خلکودحکومت دمنظوري نه پرته هلته جنازګاه جوړه کړې وي اودمستقل وقف کولونیت یې چانه وي کړی اونه دهغه دحکومت نه منظوري اخیستل شوي وي، نو دهغه خرڅول او اخیستل جائز دي.

د جومات زوړ سامان خرڅول

سوال: نیوکراچی کې په لږ فاصله باندې دوه جوماتونه دي، دواړه جوماتونه دعامو خښتو او چتونه یې دسیمټو دڅادرونونه جوړدي، یو جومات یومالدارسړي په خپله خرچه باندې بنائسته اوپوخ جوړول شروع کړل، نوزوړسامان چې هغه کې څادرونه، اونورسامان و، دجومات انتظامې خرڅ کړ، دغه سامان عامو خلکو واخیستلو او خپل کورونو کې یې استعمال کړو، ایا ددې جومات سامان دبل جومات په پیسو باندې اخیستلوسره استعمال کې راوستل کیدای شي؟

جواب: دجومات کوم سامان چې دجومات په پکارنه وي، هغه خرڅول او پیسې یې جومات کې استعمالول صحیح دي[١] اوکوموخلکوچې د جومات هغه سامان واخیست، هغوی هغه استعمالولی شي، دهغه په استعمالولوکې هیڅ ګناه نه شته، دغه شان هغه سامان اخیستلوسره بل جومات کې لګول کیدای شي اوکوم سامان چې دجومات ضرورت نه زیات وي هغه بل جومات ته ورکول هم صحیح دي.[٢]

تنخوا سره کمیشن اخیستل شرعي طورباندې څنګه دي؟

سوال: زه چې اوس په کوم ځای کې کارکوم هغه یوه غیرسرکاري اداره ده، زه هلته سهار او مابنام کارکوم، په مینځ کې دخوراک وقفه وي، مسئله داده چې زه دلته یوازې نوکري کوم،

...بقیه د تیرمخ] اذ جعله فی قسم البیع الباطل، اذ لا خلاف فی بطلان بیع الوقف لأنه لایقبل التمنیک والتملک. . . . . . والحاصل ان هٰهنا مسألتین: الاولي: ان بیع الوقف باطل ولو غیر مسجد. (الفتاوی الشامیة /٥/ ٥٧/مطلب فی بطلان بیع الوقف). وفی الهدایة/٢/٦١٦/کتاب الوقف: واذا صح الوقف لم یجز بیعه ولاتملیکه. وایضاً فی البدائع/٦/ ٢٢١/ کتاب الوقف والصدقة/طبع سعید)۔

[١] وذکر ابواللیث فی نوازله حصیرالمسجد اذا صارخلقا واستغنی اهل المسجد عنه وقد طرحه انسان ان کان الطارح حیا فهو له وان کان میتا لم یدع له وارثا ارجوا ان لا بأس بأن یدفع اهل المسجد الی فقیر وینتفعوا به فی شراء حصیر آخر للمسجد والمختار انه لایجوز لهم ان یفعلوا ذٰلک بغیر امرالقاضی. (عالمگیري/٢/ ٤٥٨/ الباب الحادی عشر)۔

[٢] قال وفی فتاوی النسفی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة سیتولون علی خشب المسجد وینقلونه الی دورهم هل لواحد من اهل المحلة ان یبیع الخشب بأمر القاضي ویمسک الثمن لیصرفه الی بعض المساجد او الی هٰذا المسجد؟ قال: نعم وحکی انه وقع. (منحة الخالق علی البحرالرائق/٥/ ٢٧٤/کتاب الوقف/شامي/٢/٣٦٠/مطلب فی نقل انقضاء المسجد)۔

زمادشراکت وغیره څه مسئله نه شته، خوکله چې نن نه یونیم کال مخکې مادلته نوکري شروع کړه، نودوی سره مې تنخوا هم مقررکړه چې هغه دویشت سوه روپی ده، ماهینګارکاو چې شپږویشت سوه یاددې نه ډیرې باید راکړل شي، خو هغوی ونه منل اوماته یې وویل چې زه به تاته داداري په ګټه کې پنځه فیصده کمیشن درکوم، چې هغه هره میاشت تقریبا پنځه نیم سوه روپی یاکله ددې نه کمې اویاډیرې جوړیږي، تاسوددې دجائز کیدویاناجائزکیدوباره کې بیان وکړئ اوزماپریشاني ختمه کړئ!

جواب: ستاسوتنخوا خوهماغه ده کومه چې تاکل شوې ده اوډپنځه فیصده کمیشن کومه وعده چې هغوی کړې ده که هغه په خوشالي باندې درکوي، نوهغه اخیستل هم جائزدي.[1]

د ملازم خپل پنشن(تقاعدي) په حکومت باندې خرڅول جائزدي

سوال: نن سباعام طورباندې رواج شوي دي، چې کوم خلک په پنشن باندې ځي، خپل پنشن خرڅ کړي، چې هغه عام طورباندې حکومت پخپله باندې واخلي اودعمرپه لحاظ باندې دهغه شرح کمه یاډیره مقررکړي اوپنشن اخیستونکي ته په یوځای باندې پیسې ورکړي دهغه نه وروسته که پنشن اخیستونکې په دویمه ورځ مړشي اوکه سل کاله ژوندی پاتې شي، ایا دا طریقه شرعي طورباندې صحیح ده؟ اوایا داسې طریقې سره پنشن خرڅولو کې ګناه خونه شته؟

جواب: دامعامله دحکومت سره جائزده او وجه یې داده چې کوم کس په پنشن باندې ځي، د حکومت په ذمه باندې دهغه سړي چې کومې پیسې دپنشن په شکل کې موجوددي، هغه یې ترهغه وخته پورې مالک نه وي، ترڅوپورې چې دهغه پیسې حاصلې نه کړي، اوس ددې پنشن په حکومت باندې خرڅولومطلب داوي چې حکومت هغه سره معاهده کوي چې هغه دې خپل داحق پریږدي اودهغه په ځای دې نغدې پیسې واخلي اوملازم خپل حق پریښودو له پاره تیار شي، نودلته په حقیقت کې دپیسوپیسوسره بدلون نه دی، بلکې دپاتې ژوندله پاره چې دهغه کوم حق دی دهغه پیسې اخلي، له دې وجې شرعي طورباندې په دې کې څه ګناه نه شته.[2]

د ښځو نوکري شرعي طورباندې څنګه دي؟

سوال: زه تاسونه داپوښتنه کول غواړم چې ایا شریعت کې داجائز دي، چې ښځې دفترونو، میل، یاکارخانو کې کار وکړي، ایا داسې څه قانون په قران کې راغلی دی چې دهغه حکم الله تعالی او دهغه رسول ﷺ کړی وي؟

---

[1] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:الا لاتظلموا الالایحل مال امریءِ الا بطیب نفس منه.(مشکوٰة/ ۲۵۵)

[2] وبیع الدین لایجوز، ولو باعه من المدیون اووهبه جاز. (الاشباه والنظائر/۴/ ۱۴/القول فی الدین، ایضاً فتاوی حقانیة/۶/ ۳۹، ۴۰)۔

مهرباني وکړئ د دې جواب تفصيل سره ورکړئ، ستاسو به ډيره مهرباني وي.

جواب: د ښځې خوراک څښاک اوجامې وغيره د هغې د خاوند په ذمه دي[1]. خوکه ديوې ښځې له پاره څوک کتنه کونکی نه وي، نو د مجبوري له وجې هغې ته د رزق ګټلو اجازه شته[2]. خو شرط دا دی چې د هغې له پاره د پردې او عزت انتظام وي[3]. نامحرمه سړي سره يوځای کيدل جائز نه دي.[4]

د حرام شي خرڅول جائز نه دي

سوال: زه استريليا کې اوسيږم او د هغه ځای خلک زياترغيرمسلم دي، د دې ملک د خوراک څښاک په زياترو شيانو کې د حرامو څناوروڅه برخې ګډې شوې وي، ايا داسې شيان خرڅول جائز دي؟ او د دې ګټه حلاله ده؟ که چيرته د ګټې څه برخه وويستل شي، نو حلاله کيدای شي؟

جواب: جيلتمن، چې هغه کې د څناورو وازده شامل وي او هغه څناور شرعي طورباندې حلال شوي نه وي، شرعي طورباندې د هغه استعمالول جائز نه دي[5] او د کوموشيانو استعمالول چې

[1] قال تعالي: الرجال قوامون على النساء بما فضل الله بعضهم على بعض وبما انفقوا. . . . . الخ. (النساء). وقال تعالي: وعلى المولودله رزقهن وكسوتهن بالمعروف لا تكلف نفساً الا وسعها. (البقرة: ٢٣٣). ايضاً: ونفقة الغير تجب على الغير بأسباب ثلاثة: زوجية، وقرابة، وملك (فتجب للزوجة) بنكاح صحيح (على زوجها) لانها جزاء الاحتباس. . . . الخ. (درمختار فى الشامي/ ٣/ ٥٧٢/باب النفقة)_

[2] عن عائشة رضى الله عنهما قالت: خرجت سودة رضى الله عنهما. . . . . الى ان قالت فرجعت الى النبى صلى الله عليه وسلم فذكرت ذلك له وهو فى حجرتى يتغشى وان فى يده لعرقا فانزل عليه فرفع عنه وهو يقول قد اذن الله لكن ان تخرجن لحوائجكن. (صحيح بخاري/٢/٧٨٨). وقال فى فتح القدير: وهو قوله لأن نفقتها وعسٰى لاتجد من يكفيها مؤنتها فتحتاج الى الخروج لنفقتها غير ان امر المعاش يكون بالنهار عادة دون الليالى فابيح الخروج لها بالنهار دون الليالى ويعرف من التعليل ايضاً انها اذا كان لها قدر كفايتها صارت.....والحاصل ان مدار الحل كون غيبتها سبب قيام شغل المعيشة فيقدر بقدره فمتى انقضت حاجتها لايحل لها بعد ذلك صرف الزمان خارج بيتها. (فتح القدير/٤/ ١٦٦/باب العدة)

[3] قال الله تعالي: ياايهاالنبى قل لأزواجك وبناتك ونساء المؤمنين يدنين عليهن من جلابيبهن. (الاحزاب: ٦٩)_

[4] عن ابى سعيد الانصارى عن ابيه انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو خارج من المسجد فاختلط الرجال مع النساء فى الطريق، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم للنساء: استأخرن فانه ليس لكن ان تحققن الطريق عليكن بحافات الطريق. فكانت المرأة تلصق بالجدار حتى ان ثوبها يتعلق بالجدار من لصوقها به. وعن ابن عمررضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى ان يمشى يعنى الرجل بين المرأتين.(ابوداؤد/٢/٣٦٨)

[5] قال الله تعالي: حرمت عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما اهل لغيرالله به والمنخنقة والموقوذة والمتردية والنطيحة وما اكل السبع الا ماذكيتم. (المائدة: ٣). وعن جابر رضي الله عنه انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:ان الله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والاصنام، فقيل:يارسول الله! ارأيت.[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

جائزنه وي، د هغو خرخول هم جائزنه دي او د هغو ګټه هم حلاله نه ده[۱]

د څوکیداري حق او د کمپنۍ کارډ خرڅول

سوال: یوه مسئله چې نن سبا په خلکو کې عامه ده چې اکثر د بازار څوکیداري په یو بل باندې په قیمت خرڅیږي، هغه باندې مخکې څوکیدار قیمت نه وي اداکړی او نه یې پرې څه محنت کړی وي، نو په دې نوکري باندې پیسې اخیستل حرامې دي که حلالې؟ یا دیوې داسې کمپنۍ کارډ چې هغې کې عام سړی نه شي داخېدلای، لکه نن سبا چې د کیماړي په پورټ کې یا د پورټ قاسم کې مزدورانو ته حکومت پاخه کارډونه ورکړي دي او عام خلک په پاخو مزدورانو کې نه شي تاکل کیدای او هغه مزدوران خپل کارډ په یولاکه روپۍ باندې خرڅوي او خلک یې په خوشالي باندې اخلي، نو دغه کارډ خرڅول حرام دي او که حلال؟

جواب: د ذکرشوي حقونو اخیستل او خرڅول صحیح نه دي، له دې وجې حاصل شوی مال هم حرام دی.[۲]

سودا خرڅولو له پاره د دروغو قسم خوړل

سوال: نن سبا چې زموږ په کورونو کې هر یوه خبره باندې، قسم مې دې په خدای وي، په قران مې دې قسم وي، که خبره رښتیا وي او که دروغ، خو عادت نه مجبور وي، دې باره کې څه وفرمایئ، نو ډیره مهرباني به وي، چې د دې دروغو او د رښتیاو قسمونو څه سزاده؟ زموږ اکثر سوداګران خلک چې هغوی سره زموږ روزانه واسطه راځي، مثلاً د جامو سوداګر هم د خپلو جامو خرڅولو له پاره په پنځه منټه کې څومره قسمونه خوري او وایئ چې: دا قیمت د ایمانداري قیمت دی: که هغه قیمت رښتیا وي او که دروغ او اکثر په هغه قیمت کې کمي کوي او وایئ چې ستا د خاطر له وجې به موږ لږشان تاوان وکړو په خدای مو دې قسم وي موږ خپل تاوان کوو او په قران مو دې قسم وي چې موږ تاسو نه یو پیسه هم و نه ګټله، حالانکې داسې

...بقیه د تیرمخ] شحوم الميتة فانه يطلى بها السفن ويدهن بها الجلود ويستصبح بها الناس؟ فقال: لا،هوحرام.ثم قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: قاتل الله اليهود! ان الله لما حرم شحومها جملوه ثم باعوه فاكلوا ثمنه. (رواه الجماعة. (اعلاء السنن/١٤/١١١/باب حرمة بيع الخمر والميتة والخنزير)

[۱] وعن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لعن الله اليهود! وحرمت عليهم الشحوم فباعوا واكلوا اثمانها وان الله اذا حرم على قوم اكل شيء حرم عليهم ثمنه. (اعلاء السنن/باب حرمة بيع الخمر والميتة والخنزير/١٤/ ١١١/طبع ادارة القرآن كراچي)۔

[۲] وقال فى الدرالمختار: وفى الأشباه لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة، وقال الشامي: (قوله لايجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة عن الملك) قال فى البدائع الحقوق المجردة لا تحمل التمليك ولا يجوز الصلح عنها. (شامي/٤/٥١٨/مطلب لايجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة/طبع ايچ ايم سعيد)۔

نه شي کېدای چې سوداګر خلک زموږ له پاره تاوان وکړي اوموږ وکې وکړخي. جواب ضرور راکړئ

جواب: د دروغو قسم خوړل ډېره غټه ګناه ده[۱]. که دچا داعادت شوی وي. نو هغه ته توبه کول پکار دي او خپله اصلاح کول پکار دي سودا خرڅولو له پاره قسم خوړل نوره هم بده خبره ده[۲]

حدیث کې دي چې د قیامت په ورځ به سوداګر خلک دبدکارو په صف کې پورته شي. پرته له هغه سوداګرنه چې دالله تعالی نه ویریږي اودروغونه ځان بچ ساتي. [۳]

په دروغ ویلو سره د خرڅ شوي مال پیسې څنګه صفا کړل شي

سوال: ۱: دوکانداري کې دروغ ویلو سره رزق حرامیږي او که نه؟

سوال: ۲: که په دوکانداري کې دروغ ویلو سره رزق حرامیږي، نو صدقه اوخیرات ورکولو سره پاکیږي او که نه؟

سوال: ۳: څنګه چې د مال حرام کېدو باره کې حدیث کې ډېرسخت وعید راغلی دی، زما عمر اوولس کاله دی اوزه بالغ یم، اوس زموږ کورکې مال اودولت حرام دی، اوس دې کې زماڅه قصوردی؟داخو زموږدمشرانوغلطي ده،ماته کورکې اوسیدل پکاردي اوکه کورپرېښودل پکاردي؟

جواب: ۱: دروغ ویلوسره که چاته دوکه ورکړل شوه اومال وګټل شو، نومال حرام دی. [۴]

---

[۱] عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس والیمین الغموس. (صحیح بخاري/۲/۹۸۷/باب یمین الغموس). وعن عمران بن حصین ﷺ قال: قال النبی صلی الله علیه وسلم: من حلف علی یمین مصبورة کاذباً فلیتبوأ بوجهه مقعده من النار. (ابوداؤد/ ۲/ ۱۰۶/کتاب الأیمان والنذور)۔

[۲] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من حلف علی یمین صبر وهو فیها فاجر یقطع بها مال امرىء مسلم لقی الله یوم القیامة وهو علیه غضبان. (صحیح بخاري/۲/ ۹۸۷، وابوداؤد/۲/ ۱۰۶). وعن ابی ذر عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: ثلاثة لا یکلمهم الله یوم القیامة ولاینظر الیهم ولایزکیهم ولهم عذاب الیم، قال ابوذر: من هم یا رسول الله؟ قال: المسبل والمنان والمنفق سلعته بالحلف الکاذب. رواه مسلم. (مشکوٰة/۲۴۳/باب المساهلة فی المعاملة)۔

[۳] عن اسماعیل ابن عبید بن رفاعة عن ابیه عن جده انه خرج مع النبی صلی الله علیه وسلم الی المصلی فرأی الناس یتبایعون فقال: یا معشر التجار! فاستجابوا الرسول صلی الله علیه وسلم ورفعوا اعناقهم وابصارهم الیه، فقال: ان التجار یبعثون فجاراً الا من اتقی وبر وصدق. (رواه الترمذي/۱ /۲۳۰/ابواب البیوع/وابن ماجة/۱۵۵)۔

[۴] قال الله تعالي:یایها الذین أمنوا لاتأکلوا اموالکم بینکم بالباطل(البقرة:۸۷)...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

جواب: ۲ په غلطۍ کې دروغ ویلوسره چې کوم کراهت راځي هغه پاکیږي[۱]، خوقصد سره دوکه ورکولوسره چې کوم مال وګټل شي، هغه نه پاکیږي[۲]

جواب: ۳ که دحرامونه بچ کیدل ناممکن وي، نوالله تعالی نه استغفار وغواړئ[۳]

دروغ ویلوسره مال خرڅول

سوال: زه یودوکانداریم. زموږګیرچاپیره ډیردوکانونه نورهم دي. اکثردوکانوکې پاکستانی مال وي، خودوکاندارهغه دجاپاني مال په نوم باندې خرڅوي اواخیستونکي خوشالي سره پیسې ورکړي او لاړشي، موږسره هم هغه شی موجوددی، ټوله میاشت کې مې یو شی هم خرڅ نه شو، ځکه چې موږ ته کله اخیستونکی راشي، نو موږ نه جاپانی شی غواړي، موږسره خوپاکستانی دي، زموږ ګیر چاپیره دوکاندارانوسره هم پاکستاني شیان دي، موږ اخیستونکي ته په ښکاره وایو چې داشی پاکستانی دی، خوګاک هغه بیا نه اخلي، ایا موږهم دروغ ویلو یا اخوا دیخوا جواب ورکولو سره مال خرڅولی شو؟

جواب: دروغ ویلوسره سودا خرڅول حرام دي[۴] دې کې یوخو د دروغو ویلوګناه ده، دویم مسلمانانوسره دوکه کول دي دحضورﷺ ارشاددی، سوداګرخلک به دقیامت په ورځ

...بقیه د تیرمخ] قال المظهري: كالدعوى الزور والشهادة بالزور او الحلف بعد انكار الحق والغصب والنهب والسرقة والخيانة. (تفسير مظهري/۱/۲۰۹). عن واثلة بن الأسقع ﷺ قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من باع عيباً، مالم ينبه، لم يزل فى مقت الله اولم تزل الملائكة تلعنه. (مشكوٰة/۲۴۹/كتاب البيوع/باب المنهى عنها من البيوع). ايضاً: (فروع) لا يحل كتمان العيب فى مبيع او ثمن لأن الغش حرام. (درمختار/۵/ ۴۷/ باب خيار العيب/البحرالرائق/۶/ ۳۵)_

[۱] عن قيس ابن ابى غرزة ﷺ قال: كنا فى عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم نسمى السماسرة فمر بنا النبى صلى الله عليه وسلم فسمانا باسم هواحسن منه فقال:يامعشر التجار! ان البيع يحضره اللغو والحلف فشوبوه بالصدقة. (ابوداؤد/۲/۱۱۶/ كتاب البيوع/ باب فى التجارة يخالطها الحلف واللغو/ابن ماجة/۱۵۵/باب التوقى فى التجارة)

[۲] قال الله تعالي: يايها الذين أمنوا لاتأكلوا اموالكم بينكم بالباطل. . . . . الخ. (النساء: ۲۹). قال المظهري: كالدعوى الزور. . . والسرقة والخيانة. (تفسير مظهري/۱/۲۰۹). قال تعالي: "وقد نهوا عنه واكلهم اموال الناس بالباطل" قال المظهري: اى بالرشوة والخداع والغصب وغير ذٰلك من الوجوه المحرمة. (تفسير مظهري/ ۶/۲۷۴)_

[۳] قال الله تعالي: "فمن اضطر فى مخمصة غير متجانف لاثم فان الله غفور رحيم" (المائده/۳). قال الله تعالي: "ومن يعمل سوء او يظلم نفسه ثم يستغفرالله يجدالله غفوراً رحيماً"(النساء: ۱۱۰)_

[۴] عن عبدالله بن ابى اوفى ان رجلا اقام سلعة وهو فى السوق فحلف بالله لقد اعطى بها مالم يعط ليوقع فيها رجلا من المسلمين فنزلت: ان الذين يشترون بعهدالله وايمانهم ثمناً قليلاً....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

دبدکارو خلکو په حالت کې راپورته کیږي، پرته له هغه کس نه چې دنیکۍ کارکوي، (مثلا صدقه او خیرات ورکوي) اوربنتیا وایي [۱]

رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې کوم کس موږ نه (یعني مسلمانانو نه) دوکه راکوي هغه زموږ نه نه دی [۲]

اورسول الله ﷺ فرمایلي دي چې ډیره دخیانت خبره ده چې ته خپل ورور(مسلمان) ته داسې خبره وکړې چې هغه تا په هغې کې ربنتوني گڼي اوته هغه ته دروغ وایې [۳]

که څه خلک دروغواو دوکې سره تجارت کوي، نوخپله دنیا او اخرت دواړه خرابوي. دداسې خلکوپه رزق کې برکت نه وي[۴]، هغوی دارام اوسکون ددولت نه محروم وي اودهغوی دولت چې څنگه په حرامه طریقه باندې راغلی وي دغه شان په حرامه لارباندې لاړشي تاسوهغوی سره ځان مه په دوکه مه برابروئ، بلکې اخیستونکي ته وایئ چې همدا جامې کوموته چې نور دوکانداران جاپانی وايي ستاسوربنتیا ویلو سره به ان شاء الله ستاسومال کې برکت وي اود قیامت په ورځ به هم ددې ډیر زیات اجراوثواب ملاویږي دحضور ﷺ ارشاددی چې ربنتونی اوامانت دارسوداگربه دقیامت په ورځ دنبیانو، صدیقانو، شهیدانو او ولیانو سره وي [۵]

...بقیه د تیرمخ] اولٰئک لا خلاق لهم فی الأخرة ولایکلمهم الله یوم القیٰمة ولایزکیهم ولهم عذاب الیم.سورة ۳ آل عمران ۷۷ (بخاري/۱/۲۸۰/باب ما یکره من الحلف فی ا لبیع)۔

[۱] عن اسماعیل ابن عبید بن رفاعة عن ابیه عن جده انه خرج مع النبی صلی الله علیه وسلم الی المصلی فرأی الناس یتبایعون فقال: یا معشر التجار! فاستجابوا الرسول صلی الله علیه وسلم ورفعوا اعناقهم وابصارهم الیه، فقال: ان التجار یبعثون فجار الا من اتقٰی وبر وصدق. (راه الترمذي/۱/ ۱٤٥/ باب ماجاء فی التجار/وابن ماجة/۱٦۱)۔

[۲] عن ابی الحمراء قال: رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم مر بجنبات رجل عنده طعام فی وعاء فأدخل یده فیه فقال: لعلک غششت من غشنا فلیس منا. (ابن ماجة/۱٦۱/باب النهی عن الغش، ایضاً: سنن ابی داؤد/۱/ ۱۳۳/ باب فی النهی عن الغش/طبع امدادیه)۔

[۳] وعن سفیان بن اسد الحضرمی قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: کبرت خیانة ان تحدث اخاک هو لک به مصدق وانت به کاذب. رواه ابوداؤد. (مشکوٰة/ ٤۱۳/باب حفظ اللسان والغیبة والشتم)

[٤] عن حکیم ابن حزام رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: البیعان....فان بینا وصدقا بورک لهما فی بیعهما وان کذبا وکتما محق برکة بیعهما. (رواه النسائی/۲/۲۱۲/وجوب الخیار للمتبایعین قبل افتراقهم)

[٥] وعن ابی سعید عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: التاجر الصدوق الأمین مع النبیین والصدیقین والشهداء. . . . الخ. (رواه الترمذي/۱/۲۳۰)۔

په داسې ځای کې نوکري کول چې هلته دروغ ویل وي

سوال: عرض دادی چې زه د جامو جوړونې (تهنګ فیکټري) کې ملازمت کوم د فیکټري په مشینانو باندې د کاکونو مال هم جوړیږي. مختلفې پارټۍ د مال د جوړولو له پاره ورکول کیږي اکثر پارټۍ جامو او دوا تارونه ګډوډ کړي. یعنی د ربړ تار او د کاټن تار د جوړولو له پاره ورکوي د ربړ تار قیمت فی کلو دولس سوه روپۍ دی او د کاټن تار قیمت فی کلو په ۷۰ روپۍ دی که چیرته د جامو په جوړولو کې ربړ تار د کاټن د تارسره دوه نیم فیصده استعمالیږي نو زموږه منیجر صاحب درې نیم فیصده حسابه وي او پارټۍ ته دروغ وایي چې درې نیم فیصده ربړ تار استعمال شوی دی او یو فیصد ددوی حق پریږدي چې دا بلکل ناجائزه دی. ما منیجر صاحب ته وویل چې دا ناجائز دي. داسې دې ونه کړل شي. خوزما خبره نه مني. بس په ملازمانو باندې حکم کوي چې دا کوئ او دا مه کوئ. ددوی په وینا باندې زه هم دروغ وایم. حالانکې زه دا نه غواړم. که نه، د نوکري د ختمیدو ویره ده.

ماته یې وویل چې موږه څه کوو که چیرته ناجائز وي. نو موږه به نیول کیږو. تاسو ترې خلاص یئ د دروغو تسلي راکوي ایا زما له پاره دا نوکري جائز ده یا ناجائزه ده؟ حلانکې ما ته خو په نن زمانه کې دا محسوسیږي چې شاید چې چیرته (۱۰۰) فیصد حلاله کټه کولی شي څه نا څه حرام فعل به په کاروبار کې ضرور وي، که چیرې زه نوکري پریږدم، نو کور والا ماته نور هیڅ نه وایي، ډیر په مشکل سره ښائسته نوکري ملاوشوه او پریدې ښوده، حالانکې زموږ د کور حالات هم خراب دي.

زه الحمد لله د لمونځ پابند یم، په شریعت باندې د پابند اوسیدلو کوشش کوم، تعلیم درس او تدریس وغیره کې تقریبا روزانه ځم، خوزما د کور والو دا حال نه دی، دا که زه د ایمان په قوت سره دا نوکري پریږدم او په الله باندې توکل وکړم، نو خپل کوروالا به څنګه پوه کړم؟ که خاص دیندار وي خو فورا به یې محسوسه کړي وي دا خو به التها نور نور څه وایي، بل څه ملازمت هم فورا نه ملاویږي څه وکړو؟

جواب: خپل مشر تهووایه چې هغه په تا باندې دروغ نه وایي، غوره خودا ده چې هغه په خپله هم پرهیز وکړي الله تعالی به دده به رزق کې برکت واچوي، حرامه کټه که زیاته وي، خوپه دې کې برکت نه وي، په هر حال که چیرته د مشرپه ذهن کې دا خبره نه راځي، نو کم نه کم دومره وکړه چې ته په خپله دروغ مه وایه ددوی د دروغو ویلو وبال په دوی باندې دی.

پاکستاني مال باندې د بهر ليبل لګول او خرڅولو باندې ګناه د چا ده؟

سوال: موږ هم سوداګر خلک يو، بنيادي طور باندې زموږ سوداګري د پرچون دوکانداري ده، خوشه شيان موږ سره په توک هم موجود دي، د پرچون سامان موږ دوکان کې دالله تعالى د مهرباني او دهغه راکړل شوي توفيق له وجې بالکل ربښتونولي او اسلامي طريقې مطابق عيبونه او خوبۍ ښودلو سره خرڅوو، خو د توک شيان چې هغه د کټلري شعبې سره تعلق ساتي او وزيراباد ښار کې تياريږي او زموږ په ذريعه باندې د پرچون دوکاندار ته ملاويږي (او زموږ له خوښې خلاف په دې شيانو باندې غيرملکي ليبل لګول شوی وي) موږ نه مال اخيستونکي پنځوس فيصده دوکاندارن په پرچون باندې هغه مال خرڅوي او هغه ته غيرملکي مال وايي او پنځوس فيصده اخيستونکي ته ربښتياوايي او خرڅوي يې، ايا پرچون باندې خرڅونکي کوم چې حقيقت پټوي د هغوی د دروغو ګناه په چا ده، مال تيارونکو باندې چې هغوی په ملکي مال باندې غيرملکي ليبل لګولی وي؟ يا په موږ باندې چې مال زموږ په ذريعه باندې په پرچون والو باندې خرڅيږي (او موږ مال خرڅولو وخت کې پرچون باندې خرڅونکي ته د دې ترغيب بالکل نه ورکوو چې هغوی دې مال ته غيرملکي ووايي) او څنګه چې پورته ذکر شوي دي چې ليبل لګولو له پاره موږ مال تيارونکو ته څه ترغيب ورکوو، موږ ته چې د وزيراباد نه څنګه مال ملاويږي، نو هماغه شان يې مخکې خرڅوو.

جواب: داجعل سازي او دوکه ورکول دي، غيرملکي ليبل لګونکي هم ګناهګار دي او کومو خلکو ته چې حقيقت معلوم وي او دهغه باوجود ورته غيرملکي مال وايي او خرڅوي يې، هغوی هم ګناهګار دي، د حضور ﷺ ارشاد دی چې: څوک موږ ته (يعنې مسلمانانو ته) دوکه راکوي، هغه زموږ نه نه دی.[1]

---

[1] قال الله تعالى: يايها الذين أمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل الا ان تكون تجارة عن تراض منكم. (النساء: ٢٩). وعن ابي هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم مر على صبرة طعام فادخل يده فيها فنالت اصابعه بللا فقال: يا صاحب الطعام! ما هٰذا؟ قال: اصابته السماء يا رسول الله! قال: افلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس، ثم قال: من غش فليس منا. (رواه الترمذي/١/١٥٧/ابواب البيوع/ باب ماجاء فى كراهية الغش فى البيوع). قال فى الدر المختار (مرفوع) لا يحل كتمان العيب فى مبيع او ثمن لأن الغش حرام الا فى مسئلتين. قال الشامي: (قوله لان الغش حرام) ذكر فى الخير اذا باع سلعته عليه البيان وان لم يبن قال بعض مشائخنا يفسق وترد شهادته. قال الصدر لا نأخذ قال فى النهر اى لا نأخذ بكونه يفسق بمجرد هٰذا لانه صغيرة اه. قلت وفيه نظر لأن الغش من اكل اموال الناس بالباطل فكيف يكون صغيرة بل الظاهر فى تعليل الكلام الصدر ان فعل ذٰلک مرة بلا اعلان لايصير به ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

سوال: ایا هغه پرچون خرڅونکي باندې څه ګناه شته کوم چې په حقیقي اخیستونکي (کوم کس چې شی استعمال له پاره اخلي) باندې اخرکې مال خرڅوي؟

جواب: دکوم ځای پورې چې د اخیستلو او خرڅولو داسلسله شروع وي او خلکوته د دې پته وي اوبیا هم ورته اصلي وایي او خرڅوي یې. ټول به ګناهګار وي [۱]

په کاغذونو کې تنخوا کم لیکلونکی امام او کمیټۍ دواړه ګناهګار دي

سوال: که چیرته یو امام صاحب تنخوا زیاته اخلي او د مسجد کمیټۍ ته وایي چې زما تنخوا په کاغذونو کې کم ولیکل شي د دې له پاره چې د حکومت نه مزید رقم حاصل کړم. نو په دې صورت کې به امام صاحب ګناهګار وي او که یوازې د کمیټۍ والا؟

جواب: امام صاحب او کمیټۍ والا دواړه به ګناهګار وي، ځکه چې دواړو د غلط بیانۍ نه کار اخیستی دی [۲]

د کاروبار له پاره اخیستل شوې پوره روپۍ او د هغو ګټه نه اداء کول زیاتی دی

سوال: یو سړی چې زما د ښلو کلونو دوست و، هغه ته ما د کاروبار له پاره یولک روپۍ ورکړې. ماسره یې وعده کړې وه چې په دې رقم سره به کاروبار کوم او نفع به درکوم. هغه کاروبار وکړ، کاروبار یې ښه روان وي، مکان نه و، پلاټ یې واخیست ښائسته مکان یې جوړ کړ، د اوسیدولو سامان یې واخیست او کاروباریې هم روان دی ما ته به یې یو کال بعد کله ۳۰۰، کله ۵۰۰ او کله ۱۰۰۰ او کله ۲۰۰۰ روپۍ راکولې، خو زما د بار بار اصرار باوجود

...بقیه د تیرمخ] مردود الشهادة وان کان کبیرة کما فی شرب المسکر. . . الخ. (ردالمحتار علی الدرالمختار /۵/ ۴۷/ باب خیار العیب/والبحرالرائق/۶/۳۵)۔

[۱] عن ابی الحمراء قال: رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم مربجنبات رجل عنده طعام فی وعاء فادخل یده فیه فقال: لعلک غششت، من غشنا فلیس منا. (ابن ماجة/۱۶۱/ باب النهی عن الغش)۔

[۲] آیة المنافق ثلاث: اذا حدث کذب، واذا وعد اخلف. . . . الخ. (سنن النسائي/ ۲/ ۲۳۲). وماکان سبباً لمحظور فهو محظور. (ردالمحتار/۶/ ۳۵۰/کتاب الحظر والاباحة). "وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان". (المائدة: ۲). وفی التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: یعنی لا تعاونوا علی ارتکاب المنهیات وعلی الظلم. (تفسیر مظهري/۳/۱۹). قال النووي: فیه تصریح بتحریم کتابة المترابیین والشهادة علیهما، وبتحریم الاعانة علی الباطل. (مرقاة المفاتیح/۶/ ۵۱/ کتاب البیوع/باب الربا/ الفصل الاول/ طبع رشیدیه).

ماته يې نه ګټه ښودله او نه يې اصل رقم واپس کولو، زه شک من شوم، نو ما د لږو روپيو اخيستو نه انکار وکړ. ما هغه ته وويل چې ماته اصل رقم راواپس کړه او کومه ګټه چې جوړيږي هغه ماته راکړه، هغه په مختلفو طريقوباندې وورسته کيدو. بيا ما لږ په سختې سره د رقم د واپس کولو مطالبه وکړه، نو ما ته يې (٦٠) زره روپۍ راکړې او يوه پرچه يې راکړه په هغه کې ليکلي و چې د ستا ټول رقم تاته واپس کړل شو اوګټه به هم درکړم او د حضور صلی الله عليه وسلم د فرمان حواله يې راکړه چې د سود درې درجې دي اوکمه درجه داده چې څوک د خپلې مور سره (٣٦) ځله بدکاري وکړي، دې سري ډيره هم پريښې ده، حج يې هم کړی دی او څو ځله يې په خوب کې د حضور صلی الله عليه وسلم د زيارت تذکره هم کړې ده. ايا زمانه يې د روپيو د اخيست په وخت د وعدې مطابق (تحرير هم موجود دی) د ګټې حق داريم يا د سود؟ دګټيو د ورکولو په ځای باندې يې سود ظاهره کړ او زما حق تلفي کول غواړي. د څلورو کلنو راهيسې ما ته دګټې د راکولو وايي او کله چې د ګټې د ورکولو وخت راغی، نو ديته يې سود وويل او زما اصلي رقم يې هم برباد کړ.

جواب: ده ږيره پريښې ده، حج يې کړی دی، دا خويې ډير ښه کړي دي، خو چې ده وعده ماته کړې ده دا يې ډير بد کړي دي، مسلمان ته د وعدې خلاف ورزي نه دي کول پکار. په دې سري فرض دي چې په يو لک روپۍ چې ده کوم کاروبار کړی دی، ددې د يوې يوې روپۍ حساب دې وکړي او په دې کاروبار کې چې يې کومه ګټه کړې ده د هغې نيمه دې تا ته درکړي او سرمايه(راس المال) دې هم واپس کړي، تا دا رقم د سود د خوړلو له پاره نه و ورکړی، بلکې د کاروبار کولو له پاره دې ورکړی و، اوس دده تا ته د سود حديث بيانول صريح زياتی دی، په هر حال د کارو بار نه چې کومه ګټه حاصله شوې ده ددې نيمه برخه تاته درکول پکار دي. [1]

ايا د معاون په ذمې باندې يوازې د خپل افسر کار دی؟

سوال: لکه څنګه چې عام طورباندې ګورنمنټ افس کې وي چې ملازم ناوخته راځي او په بيړه ځي، په دې باندې تاسو ليکلي دي ،خويو سړی چې په وخت باندې ځي او په وخت باندې افس ته راځي، ځينې وخت د چوټي نه وروسته هم ګنټه نيمه کيني، حالانکې هيڅ کار هم نه کوي، ځکه چې دا د افس معاون (کلرک) دی او که چيرته د بلې شعبې سړی ده ته د کار وايي، نو هغه جواب ورکوي چې خپلې شعبې په ټائپسټ باندې يې وکړه، حالانکې هغه فارغ وي،خوکه چيرته دده افسر (چې دچا دی ماتحت دی) کار ورکوي، نو په نهايت محنت او جلدي

[1] "ياايها الذين امنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل الا ان تكون تجارة عن تراض منكم". (النساء/٢٩). وفي معالم التنزيل للبغوي: (بالباطل) بالحرام يعني بالربا، والقمار، والغصب، والسرقة والخيانة ونحوها. (٢/ ٥٠/ طبع قديمي کراچي).

سره يې کوي. يوازې په خالي وختونو کې هغه د بل ځا کار نه کوي حالانکې دا حقيقت دی چې د هرې شعبې يو خپل جدا ځانپسته وي، په دې سلسله کې ماته دا ووايئ چې دا خبره په کومه زمره کې راځي؟ که چيرته هغه د بل برانچ (شعبې) کار نه کوي او ټوله ورځ فارغ ناست وي. نو دا تنخوا چې هغه وړې ده دده له پاره جائز ده يا ناجائز؟

جواب: دده په ذمه باندې قانوني يوازې دخپل افسر کار پوره کول دي د نورو شعبو کارونه دده په ذمه باندې نه شته، که چيرته دی ټوله ورځ ناست وي، نو دده تنخوا حلاله ده.خو دده افسر ته پکار دي چې که ګنجائش وي، نود نورو شعبو کارونه دې ده ته حواله کړي.[1]

❖ غيرمسلمو سره کاروبار ❖

....

غيرمسلموسره اخيستل اوخرڅول او د هغوی نه قرض اخيستل

سوال: ايادغيرمسلمونه دخوراک څښاک شيان اخيستل يانورشيان په قرض وغيره اخيستل شرعي طورباندې جائزدي اوکه نه؟

جواب: غيرمسلموسره معاملات کول جائزدي[2]، خوپه دې شرط سره چې هغه غيرمسلم مرتدنه وي[3]

کافرانوسره معاملات کول جائزدي، خومرتد سره نه

سوال: دتجارانو له هرمذهب خلکوسره تعلق راځي. ايا دغيرمذهب خلکو باندې دعاګانې

---

[1] والأجير الخاص هوالذى يستحق الأجرة بتسليم نفسه فى المدة وان لم يعمل كمن استأجر رجلا شهراً للخدمة او لرعى الغنم وانما سمى خاصا لأنه يختص بعمله دون غيره لأنه لايصح ان يعمل لغيره فى المدة. (الجوهرة النيرة/١/٢٦٩/كتاب الاجارة/طبع دهلى،ايضاً:جامع الرموز/ ٣/١٤٣/ كتاب الاجارة/طبع ايران).

[2] عن عبدالرحمن بن ابى بكر قال: كنامع النبى صلى الله عليه وسلم ثم جاء رجل مشرک مشعان (طويل شعث الرأس) طويل بغنم يسوقها قال له النبى صلى الله عليه وسلم: بيعاً او عطية او قال ام هبة؟ قال: لا، بل بيع، فاشترىٰ منه شاة. (صحيح البخاري/باب الشراء والبيع مع المشركين واهل الحرب/١/٢٩٥/طبع نور محمد). ولا بأس بأن يكون بين المسلمين والذمى معاملة اذا كان مما لا بدمنه. (فتاوىٰ عالمگيري/كتاب الكراهية/٥/٣٥٩). وكذا اسلام البائع ليس بشرط لانعقاد البيع ولالنفاذه ولا لصحته بالاجماع. (بدائع الصنائع/ كتاب البيوع/٥/١٣٥/طبع سعيد)۔

[3] المرتد اذا باع او اشترى يتوقف ذلک ان قتل على ردته او مات او لحق بدار الحرب بطل تصرفه وان اسلم نفذ بيعه.(عالمگيري/٣/ ١٥٤/كتاب البيوع/الفصل العاشر فى بيع شيئين/الباب الثانى عشرفى احكام البيع الموقوف)

کول، سلام کول یا جواب ورکول جائز دي او که نه؟

جواب: د مرتد سره شرعي طورباندې د کار وبار کولو اجازه بالکل نه شته. پاتې نور غیر مذاهبو سره کاروبار او معامله ساتل جائز دي[1]، خو په هغوی باندې د دعا کولو سوال هم نه پیدا کیږي[2] او نه یو مسلمان د دې سوچ کولی شي، چې هغوی ته سلام کول نه دي پکار[3]، خو د هغوی د سلام جواب ورکولو کې یوازې «وعلیکم» ویل پکار دي[4]

د مسلمان کافر او مرتد سره نوکري کول

سوال: ایا مسلمان د غیرمسلم یا مرتد سره نوکري کولی شي. کله چې هغه جائز او د نوي کاروبار کوي او ایمانداري سره یې کوي؟

جواب: مرتد سره نوکري کول جائزنه دي. د نورو غیرمسلمو سره نوکري کول جائز دي

❖ تجارت او د پیسو په معاملاتو کې دوکې ❖

....

کشر ورور سره د دوکه کونکي انجام

سوال: یو سړی چې هغه د لمونځ، روژې او د قران کریم د تلاوت پابند دی، تعلیم یافته د دنیاوي او دیني علمونو نه خبر حاجي دی، هغه چې څومره مال ګټلی دی د خپل کشر ورور په مدد یې ګټلی دی، هغه ورور یې هغه ته د سعودي عرب ازاده ویزه او هلته د نوکري حاصلولو کې ډیر مدد وکړ. کشر ورور یې د ډیر وخت نه په یوې کمپنۍ کې د مارکیټنګ منیجر په پوست باندې دی، مشر ورور یې شپږ اووه کاله نوکري وکړه او ډیرې پیسې یې جمعه کړې او بیرته

---

[1] وأما الكافر فتجوز معاملته لكن لايباع منه المصحف ولا العبد المسلم ولايباع منه السلاح ان كان من اهل الحرب. (احياء العلوم/٦٥/٢/البيع واركانه وشروطه/طبع دار المعرفة/بيروت)۔

[2] قال الله تعالي: "وما دعاء الكفرين الا فى ضلل". (المؤمن: ٥٠)

[3] عن سهل ابن ابى صالح قال: خرجت مع ابى الشام فجلعوا يمرون بصوامع فيها نصاريٰ فيسلمون عليهم فقال ابي: لا تبدوهم بالسلام واذا لقيتموهم فى الطريق فاضطروهم الى اضيق الطريق. (رواه ابوداؤد/٣٦٠/٢). فلا يسلم ابتداءً على كافر لحديث لا تبدوا اليهود والنصاريٰ اى بالسلام. . . الخ. (درمختار/٤١٣/٦/كتاب الحظر والاباحة)

[4] حدثنا انس بن مالك رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا سلم عليكم اهل الكتاب فقولوا: وعليكم. (صحيح بخاري/٩٢٥/٢ و مسلم/٢١٣/٢). ايضاً: وفى الدر المختار ولو سلم يهودى او نصرانى او مجوسى على مسلم فلا بأس بالرد ولكن لايزيد على قوله وعليك. (درمختار/٤١٣/٦/كتاب الحظر والاباحة)۔

خپل وطن ته راستون شو او دلته د راتګ سره د هغه کس د دولت حرص او طمعه زیاتیده او هغه خپل محسن یعنې د کشرورور اعتماد نه یې نقصان ورساو. کشرورور په مشر ورور باندې اعتماد وکړ او خپل څه ذاتي کارېې د هغه په ذمه کړ او د کار له پاره یې تقریباً درې نیم لکه روپۍ د مشرورور په نوم راولیږلې، له دې نه پرته سعودي ته د راغوښتلو نه مخکې دېوسل شل ګزو پلاټ یې د هغه په نوم باندې د خپال ساتونکي په حیثیت اخیستی و. عرض دا کوم چې تقریباً څلور کاله وشول، چې د غه بد دیانته سړی د خپل کشرورور په درې لکه نغدو روپیو او تقریباً د یو لاکه روپیو په پلاټ باندې قابض شوی دی او د هغه څه تحریري ثبوت نه شته. له دې نه پرته هغه سړی د خپل کشرورور په کورکې هم په زور سره اوسیږي او د خوند خبره خو داده چې خپل ځان ته صوفي وايي او خلکو ته خپل ځان پرهیزګار او دین دار ښيي کشرورور یې هرقسمه کوشش وکړ چې د هغه پیسې هغه واپس کړي او دې له پاره یې هرقسمه عزت داره طریقه خپله کړه، خو هرځل هغه بچ شي اصل مالک یې په پردي ملک کې اوسیږي له دې وجې مستقل مزاجي سره د هغه مقابله نه شي کولی.

مولاناصاحب! قرآن مجید کې الله تعالی او حجة الوداع کې حضوراکرم ﷺ دا خبره ډېره تفصیل سره بیان کړې ده چې هیڅ چاته دا جائزنه دي چې د خپل ورور مال په غلطه طریقه باندې اوخوري، پرته له دې نه که د هغه په په کې رضاشامله وي.

مولاناصاحب! اصل مالک ته ددې بددیانته سړي نه په څه طریقه باندې خپلې پیسې حاصلول پکاردي؟ یا هغه سره عدالتي کاروايي کول پکاردي، یا دالله تعالی په عدالت کې دامقدمه وړاندې کول پکاردي؟ ایا الله تعالی به ددې خیانت کونکي کس نیکۍ او عبادتونه د هغه د کشرورور په برخه کې اچوي، د کوم سره چې ظلم کیږي؟ دالله تعالی په حضورکې به ددې سړي څه انجام وي؟

جواب: تاسو چې څه لیکلي دي، که دا صحیح وي، نو ښکاره خبره ده چې پردي مال خوړونکي کس نیک، پرهیزګار، متقي او صوفي نشي جوړیدای، خیانت کونکي، بددیانته د غاصب ویلو مستحق دی، پاتې شوه دا چې داسې کس سره څه وکړل شي؟ نو دنیا کې ددې دوه طریقې دي یوه چې دوه څلور شریفان دې راجمعه شي او دهغوی مخکې دې ټولې خبرې بیان شي او هغوی دې د غه سړی پوه کړي دویمه طریقه داده چې عدالت طرف ته دې رجوع وکړي.

او ترڅو چې داخرت تعلق دی، نو هلته دچاله پاره دوکه، فریب او دغلط کارکولو ګنجائش نه شته، دهرانسان دکارکردګۍ پوره رجسټر، دعمل نامې په شکل کې به موجودوي او دهرظالم نه به دمظلوم بدله اخیستل کیږي او هلته به بدله اخیستوله پاره دظالم نیکۍ به مظلوم ته ورکول کیږي او که چیرته د هغه نیکۍ ختمې شي، نو دمظلوم ګناهونه به هغه ته ورکول کیږي.

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من کانت له مظلمة لاخیه من عرضه اوشئ فلیتحلله منه الیوم قبل ان لایکون دینار ولا درهم، ان کان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمته وان لم یکن حسنات اخذ من سیئات صاحبه فحمل علیه. (رواه البخاری)

دصحیح مسلم په حدیث کې دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: تاسو ته پته شته چې مفلس څوک دی؟ عرض وشو، موږ خو مفلس هغه کس ته وایو چاسره چې پیسې او مال دولت ورسره نه وي حضور ﷺ وفرمایل: زما دامت مفلس کس هغه دی چې دقیامت په ورځ دلمونځ، روژه اوزکات راوړي، خو(خود هغه په ذمه دخلکو حقوق وي، مثلاً) یوکس ته یې کنځل کړي وي، په چایې تهمت لګولی وي، له چایې مال خوړلی وي، څوک یې قتل کړي وي، څوک یې وهلي وي، دهغه ټولې نیکۍ به دغوکسانوته ورکړل شي اوکه چېرته حقوق پاتې وي اونیکۍ ختمې شي، نو دهغو خلکو ګناهونه به هغه باندې واچول شي اوبیابه هغه دوزخ ته وغورځول شي.

عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: اتدرون ماالمفلس؟ قالو: المفلس فینامن لادرهم ولامتاع، فقال: ان المفلس من امتی من یاتی یوم القیامة بصلاة وصیام وزکوة ویاتی قدشتم هذا، وقذف هذا، واکل مال هذا، وسفک دم هذا، وضرب هذا، فیعطی هذامن حسناته وهذامن حسناته، فان فنیت حسناته قبل ان یقضی ماعلیه اخذمن خطایاهم فطرحت علیه ثم طرح فی النار. (رواه مسلم، مشکوة ص ۴۳۵)

اودصحیح بخاري حدیث دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: که چېرته دچاپه ذمه باندې دهغه دورورڅه حق وي، که دهغه دساه باره کې وي، یاعزت یادمال په باره کې، نوهغه ته پکاردي چې هم دلته معامله صفاکړي، له دې نه مخکې چې اخرت ته ورسیږي او هلته به بیاهغه سره روپۍ پیسې نه وي، که دهغه سره نیکۍ وي، نو دخلکو دحقونومطابق به هغوی ته ورکړل شي اوکه هغه سره نیکۍ نه وي، نو دهغوی ګناهونه به هغه باندې واچول شي. (مشکوة)

الله تعالی دې موږ باندې رحم وکړي، داخرت معامله ډېره سخته ده، کوم کس چې اخرت باندې ایمان لري، هغه له پاره په چا باندې دظلم کولوګنجائش نه شته اوکوم کس چې چاته تکلیف ورکوي، دچاغیبت کوي، چاته ذهني اوبدني تکلیف رسوي، دچامال خوري، دقیامت په ورځ باندې به داهرڅه ښکاره کول وي، ذلت او رسوایي به دې نه پرته وي، دالله تعالی قهر اوغضب به جداوي اوددوزخ سزابه هم وي، الله تعالی دې هرمسلمان په خپله پناه کې وساتي.

د ندې (ډيوټي) کولو نه پرته د حکومت نه اخيستل شويو پيسو با ندې څه وکړو؟

سوال: زما د واده دوه کاله وشول، د واده په وخت کې زه ټهټهه ښار کې ووم. چې د کراچۍ نه تقريباً اتيا ميله ليرې دی. زما خاوند سرکاري نوکر دی، خو هغه اوتهل کې ډيوټي کوي او دې سرد سره په کراچۍ کې، کوم ځای کې چې مونږ اوسيږو، هسپتال کې کورس کوي او هغه ځای نه هم ورته د سکالرشپ پيسې ملاويږي. تقريباً اته نهه مياشتې هغه په دې هسپتال کې هاوس جاب کولو او يوه ورځ يې هم په اوتهل کې ډيوټي نه ده کړې او د هغه ځای د ډيوټي پوره تنخوا تقريباً څلور زره روپۍ يې اخيسته او د هرې مياشت اخره پورې به هغه پيسې ختمې شوې او نه به پاتې کيدې. هغه وايي چې په حکومت فرض دي چې کوم ځای ته هغوی کسان ډيوټي له پاره ليږي. نو هلته ورته ښه کور او نور سهولتونه ورکړي. هغه وايي چې سهولتونه نه و او د هغه مشر افسر ته پته وه او يو ځل چې کله هغه اوتهل ته لاړو بل ښار ته بدلون له پاره نو بل افسر راغلی و هغه ډيرزيات خفه شو. اوس ديوکال راهيسې د هغه تبديلي کويټې ته شوې ده او هلته کار کوي، خويونښتنه دا کول غواړم چې شپيته زره روپۍ د اوتهل د ډيوټي د مياشتو تنخوا جوړيږي، نو د اسلام په نزد باندې دا پيسې ناجائز دي، مونږ سره هغې کې هيڅ هم نه شته، زما خاوند په هغه کې اته زره د ثواب له نيت پرته په غريبانانو کې تقسيم کړي دي او نورې پيسې هغه وايي چې په قلار قلار به ورکړو، کله چې به پيسې راځي، نو ايا دې طريقې سره به زمونږ لمونځ او روژې نه قبليږي؟ ياچې کله مونږ ټولې ناجائز پيسې ونه باسو لمونځ او روژه به نه قبليږي؟ که زه د خپلې برخې پيسې ترې نه وباسم، يعنې کله نه چې زما واده شوی دی او د هغه تنخوا مې خوړلې ده، په هغه حساب باندې څليريشت زره روپۍ جوړيږي، نو زما لمونځ او روژې قبليدل به شروع شي؟ د غه شان به د هغه هم مدد وشي، که زه د خپل ملکيت نه دا ناجائزه پيسې وباسم، ايا دې ټولو پيسو باندې به زکات ورکول هم وي؟ او تنخوا خو به نه بچت کيده او په مياشت کې به د دننه دننه استعماليده.

جواب: دا ناجائزه پيسې وې[1]، په قلار قلار هغه وباسئ.[2]

---

[1]]وليس للخاص ان يعمل لغيره ولو عمل نقص من اجرته بقدر ماعمل، قال ابن عابدين: (قوله وليس للخاص) وفى الفتاوى الفضلى واذا استأجررجلاً يوماً يعمل كذا فعليه ان يعمل ذلک الى تمام المدة ولا يشغل بشيء آخر سوى المكتوبة.ثم قال:واتفقوا انه لايؤدى نفلاً وعليه الفتوى.ثم قال لجاراً استوجر الى الليل فعمل الآخردواة بدرهم وهو يعلم فهوآثم وان لم يعمل فلاشيء عليه وينقص من أجرالنجاربقدرماعمل فى الدواة.(شامي/٦/ ٧٠/باب ضمان الأجير)

[2]] قال ابن عابدين: والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

په ناحقه د نورو خلکو په ځمکه باندې قبضه کول

سوال: یوکس دخپلې ځمکې دحد او دنقشې نه دباندې دخپل ګاونډي په ځمکه کې (چې دهغه دحد اونقشې مطابق وي) کورجوړکړي اوخپله ځمکه زیاته کړي او دخپل ګاونډي ځمکه کمه کړي. دشریعت مطابق داسې سړی څنګه دی؟

جواب: حدیث شریف کې دي ,,**من اخذ شبرًا من الارض ظلماً فانه یطوقه یوم القیامة من سبع ارضین**.،،(متفق علیه. مشکوة ص ۲٥٤)

ترجمه: کوم کس چې دچا په یوه لویشت ځمکه باندې هم ناحقه قبضه وکړه. دقیامت په ورځ به د اووه طبقو ځمکه طوق (تیزندی) دهغه په مری واچول شي. (مشکوة ص ۲٥٤ بروایت بخاری ومسلم)

دمیراث مکان باندې د ورور او د خور جګړه

سوال: عرض دادی چې موږ ورور او خور یو (یو ورور او یوه خور) والدین مړه شول. په ترکه کې یو مکان دی چې په هغه کې موږ اوسیږو. زما خور یو مکان واخیست زه یې هغه ته منتقل کړم تقریبا څلورنیم کاله وروسته زما خور هغه مکان خرڅ کړ. بیا یې زه دې کور ته (کوم چې زموږ د والدینو و) نه پرېښودمه. تقریبا اتلس کاله وشول چې زه دکرایې په مکان کې اوسیږم، ما دکرایې په مده کې تقریبا ۴۲۲۰۰ روپۍ ادا کړي دي، ما په برادري کې درخواست جمعه کړی دی، نو هغوی، زما خور راوبلله او زما درخواست یې ورته بیان کړ، چې د هغه له وجې زما خور د څلور نیم کاله کرایې ۲۰۰ روپۍ د میاشتې په حساب سره (۱۰۸۰۰) روپۍ په ذمه واخستې. ددې نه پرته زما خور زما له طرف نه ۲۱۰۰۰ روپۍ قرضه ذکر کړه. کلمه یې ویله چې دا زما دي. ددې نه پرته (د والدینو مکان چې په ترکه کې دی) بجلۍ لګولې وه (۴۰۰) روپۍ د اوبو نلکه یې لګولې وه په (۳۰۰) روپۍ. ګیس لګولی و په (۵۰۰) روپۍ، دمکان مرمت ۵۰۰۰روپۍ. دا رنګه ټولې ۱۷۰۰۰ روپۍ شوې. بیادریمانو زما حساب وکړ چې د ترکې په مکان کې (۱۹۵۹ع) نه اوسیږي او دا کور زما د خور نه(چې په کوم کې څلورنیم کاله اوسیدم) لوی دی لهذا ددې کرایه کم ازکم (۲۰۰) روپۍ ولګوه `تقریباً (۲۸) کاله اوشو چې د هغه کرایه(۶۷۲۰۰) روپۍ شوه، او (۱۶۰۰) روپۍ نغدې دي، ټولې روپۍ (۶۸۸۰۰) روپۍ شوې، لهذا د شریعت په حساب سره ووایئ چې د ورور او د خور په مینځ کې څنګه تقسیم وکړل شي او مکان څنګه تقسیم کړل شي؟ مهروباني وکړئ د خور جدا او د ورور جدا برخه ذکر کړئ په دې وجه چې دا معامله ختمه شي.

...بقیه د تیرمخ] و الا فان علم عین الحرام لایحل له ویتصدق به بنیة صاحبه. (شامي/٥/۹۹/باب البیع الفاسد/مطلب فیمن ورث مالاً حراماً)۔

جواب: والدينو چې کوم مکان پرېښی دی، په هغه کې دوه برخې د ورور دي او يوه برخه د خور ده لهذا دا دې درې برخې کړل شي، دوه دې ورور ته ورکړل شي او يوه دې خور ته ورکړل شي [1]

۲: خور چې کومه قرضه د ورور په نوم باندې وايي که چرې ددې ګواهان موجود وي، اويا ورور ددې قرضې اقرار کوي، نو د ورور نه دې هغه قرضه واخيستل شي، که نه، د خور دعوی غلطه ده که هغه هرڅومره خله کلمه ووايي او يقين پيدا کړي [2]

۳ خور چې خپل ورور په کوم مکان کې اچولی و که چرې ددې کرايه يې مقرره کړې وه، نو سهي ده، که نه هغه شرعاً د کرايې په ورکولو باندې مجبور نه دی [3]

۴ د ورور په مکان کې چې هغه(۲۸) کاله اوسيدلې ده، نو دا زور(غصب) قبضه ده، په دې وجه ددې کرايه په دې باندې لازمي ده [4]

۵ خور چې په کوم مکان کې بجلي، اوبه او ګيس باندې پيسې خرچ کړې دي يا يې د مکان په مرمت باندې خرچې کړې دي، چونکې دې د ورور له اجازه نه پرته په خپله خوښه باندې کړې دي په دې وجه هغې ته له ورور نه وصولول شرعاً جائز نه دي [5]

---

[1] قال الله تعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). واما الأخوات لاب وام فاحوال خمس. . . ومع الاخ لاب وام للذكر مثل حظ الانثيين يصرن به عصبة لاستوائهم فى القرابة الى الميت. (سراجي/۱۰).

[2] ان النبى صلى الله عليه وسلم قال فى خطبته: البينة على المدعى واليمين على المدعٰى عليه. (ترمذي/۱/ ۲۴۹). وفى الهداية: واذا صحت الدعوى سال القاضى المدعى عليه عنها ليكشف وجه الحكم فان اعترف قضى عليه بها لان الاقرار موجب بنفسه فيأمره بالكروج عنه وان انكر سال القاضى المدعي البينة لقوله عليه السلام الک بينة فقال لا فقال لک يمينه، سال ورتب اليمين على فقد البينة فلا بد من السؤال ليمكنه الاستخلاف. (هداية/۳/ ۲۰۲).

[3] واعلم ان صحة الاجارة متعلقة بشيئين، اعلام الاجر واعلام العمل، فاذا كان احدهما مجهولاً فالاجارة فاسدة لماروى عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال: من استأجر اجيراً فليعلمه اجره. (كما فى النتف الفتاوي/ ۲۳۸). فيجب الأجر لدار قبضت ولم تسكن لوجود تمكنه من الانتفاع وهٰذا اذا كانت الاجارة صحيحة، اما فى الفاسدة فلا يجب الأجر، (الا بحقيقة الانتفاع). (قوله بحقيقة الخ) اى اذا وجد التسليم الى المستاجر من جهة الآجر، اما اذا لم يوجد من جهته فلا اجر وان استو فى المنفعة. (فتاوى شامي/۶/ ۱۱/كتاب الاجارة).

[4] وان حدثت هٰذه الاشياء بفعل الغاصب وسكناه فالضمان عليه بالاجماع فى الزاد. . . . . . . وما نقص من سكناه وزراعته ضمن النقصان كما فى النقلى وهٰذا بالاجماع. (هندية/۵/۱۲۰/ كتاب الغصب/الباب الاول/فى تفسير الغصب). غصب من خر سفينة فلما ركبها وبلغ وسط البحر فلحقه صاحبها ليس له ان يستردها من الغاصب ولكن يؤاجر من ذٰلک الموضع الى الشط مراعاة للجانبين. (هندية/۵/۱۳۶/كتاب الغصب/ الباب السادس فى استرداد. . . . الخ).

[5] ومن بنٰى او غرس فى ارض غيره بغير اذنه امر بالقلع والرد. (فتاويٰ شامي/۶/۱۹۴/ كتاب الغصب).

خلاصه دا چې د خور په ذمه باندې د ورور (۶۷۲۰۰) روپۍ جوړېږي او د شریعت د مسئلې مطابق د ورور په ذمه د خور یوه پیسه هم نه شته. بیاهم که چرې دریمان د صلحې کولو له پاره د ورور په ذمه باندې څه اچول غواړي نو د هغوی خوښه ده

دقرض له پاره ګانړه کې کېښودل شوې ګېڼه خرڅول

سوال: نن سباپه غریبو علاقو کې ښځې خپلو پېژندګلوسره خپلې ګېڼې دپیسو په عوض کې ږدي او هغه سره داهم وایي که چیرې په دومره وخت کې موږ داپیسې واپس نه کړې. نو پور ورکونکی به دکېښودل شوې ګېڼې مالک شي، دې باره کې شریعت څه وایي. چې داکاروبار جائزدی او که نه؟

جواب: دې ته رهن (ګانړه) کېښودل وایي[1]، شرعي طورباندې ددې اجازه شته[2]، خوچاسره چې هغه شی ګانړه کېښودل شوی وي، هغه دهغې مالک نه وي اونه ورته دهغې داستعمال اجازه شته[3]، بلکې دقرض وخت پوره کېدوسره دې دمالک نه دقرض مطالبه وکړي[4]. که قرض وصول نه شي. نودمالک په اجازه باندې دې هغه شی خرڅ کړي اوخپل قرض دې واخلي

---

[1] الرهن فى اللغة: هو الحبس اى حبس الشيء بأى سبب كان مالاً او غير مال. . . . وفى الشرع: عبارة عن عقد وثيقة بمال. . . ويقال هو فى الشرع جعل الشيء محبوساً بحق يمكن استيفاؤه من الرهن كالديون. . . . الخ. (الجوهرة النيرة/۱/۲۲۷/كتاب الرهن/طبع حقانيه ملتان/ فتاوىٰ شامي/۶/۴۷۷/ كتاب الرهن/طبع سعيد كراچى)۔

[2] قال الله تعالىٰ: "وان كنتم على سفر ولم تجدوا كاتباً فرهٰن مقبوضة". (البقرة/۲۸۳). وفى التفسير المظهري: والأمر ليس للايجاب اجماعاً بل للارشاد والشرط خرج مخرج العادة على الأعم والأغلب فليس مفهوم معتبر عند القائلين بالمفهوم ايضاً حيث يجوز الرهن فى الحضر ومع وجود الكاتب اجماعاً. (تفسير مظهري/۲/۴۳۲). وعن عائشة رضى الله عنها قالت: اشترىٰ رسول الله صلى الله عليه وسلم طعاماً من يهودى الى اجل ورهنه درعا له من حديد. متفق عليه. (بخاري/۱/ ۳۴۱. مشكوٰة/۲۵۰). قال وما جاز بيعه جاز ارهانه. (النتف الفتاوي/۲/۳۶۹، عالمگيري/۵/۴۳۵). والأصل فى شرعية جواز الرهن قوله تعالىٰ: فرهٰن مقبوضة، وروى ان النبى صلى الله عليه وسلم اشترىٰ من يهودى طعاماً ورهنه به درعه. . . . ثم ان المشائخ استخرجوا من هٰذا الحديث احكاماً فقالوا فيه دليل جواز الرهن. . . . الخ. (الجوهرة النيرة/ ۱/ ۲۲۸/كتاب الرهن فتاوىٰ شامي/۶/۴۷۷/ كتاب الرهن)۔

[3] ولاينتفع المرتهن بالرهن استخداماً وسكنىٰ ولبساً واجارة واعارة لان الرهن يقتضى الحبس الى ان يستوفى دينه دون الانتفاع فلايجوز الانتفاع. (البحرالرائق/ ۸/ ۲۷۱/كتاب الرهن، فتاوىٰ شامي/۶/ ۴۸۲، كتاب الرهن، هداية/۴/ ۵۲۲/ كتاب الرهن)۔

[4] اى للمرتهن ان يطالب الراهن بدينه ويحبسه به وان كان بعد الرهن فى يده لأن حقه باق. . . . الخ. (البحرالرائق /۸/۲۷۰/كتاب الرهن/طبع بيروت)۔

او اضافي پیسې دې هغه ته واپس کړي [۱]

اخیستلو او خرڅولو کې دوکه کول

سوال: زه یودوکانداریم. کله چې یواخیستونکی دیوشي باره کې معلومات غواړي. نوزه ورته اخوا دیخوا جواب ورکړم. مثلا پته نه شته. پخپله یې وګوره او داسې نور. حالانکې ماته دهغه شي ټول عیبونه پخپله معلوم وي. دداسې کاروبارکتهه شرعي طورباندې جائزده او که نه؟

جواب: ښه خبره داده چې اخیستونکي ته ټول عیبونه وښودل شي [۲]. خو که چیرته داسې ورته وویل شي چې داهرڅنګه دی ستامخکې پروت دی. که دې خوښ وي. نووایخله. که نه. نو مه یې اخله. داسې ویلوسره ستاسوذمه داري ختمه شوه. [۳]

د ټیکدار په خوښه بل سړی ټاکل

او لږ تنخوا هغه ته ورکول او پاتې پخپله اخیستل

سوال: زید د ټیکدار سره د یو څوکیدار په حیثیت کارکوي، زید د ټیکدار په خوښه بل کس د خپل ځان په ځای باندې ساتلی دی، چې هغه ته زید د خپلې تنخوانه څه برخه ورکوي، زید ته دټیکدار نه په ملاویدونکې تنخوانه ددې بل کس ته د ادا کولو نه وروسته چې کومې روپۍ پاتې کیږي ایا هغه د زید له پاره جائز دي؟

جواب: جائز دي. [۴]

---

[۱] قال فی الکفایة: (قوله والمراد بالشراء فیما رویٰ حالة البیع) یعنی اذا باع المرتهن الرهن باذن الراهن یرد المرتهن ما زاد علی الدین من ثمنه. (الکفایة علی هامش فتح القدیر/۹/ ۷۶/کتاب الرهن)۔

[۲] عن حکیم ابن حزام رضی اللہ عنہ ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: البیعان بالخیار مالم یتفرقا، فان بینا وصدقا، بورک لهما فی بیعهما، وان کذبا وکتما، محق برکة بیعهما. (صحیح بخاري/۱/۲۷۹، نسائي/۲/۲۱۲). وقال فی الدر المختار: (فروع) لا یحل کتمان العیب فی مبیع او ثمن لأن الغش حرام الا فی المسئلتین، قال الشامی (قوله لأن الغش حرام) ذکره فی الخیر اذا باع سلعته علیه البیان وان لم یبین قال بعض مشائخنا یفسق وترد شهادته. (شامي/۵/ ۴۷، باب خیار العیب، ایضاً: بحرالرائق/۶/ ۳۵/باب خیارالعیب)۔

[۳] قال الشامي: قوله وصح البیع بشرط البراء ة من کل عیب بأن قال: بعتک هٰذا العبد علی انی بريء من کل عیب. (شامي/۵/۴۲، باب خیار العیب/مطلب فی البیع بشرط البراء ة)۔

[۴] قوله (فان اطلق له العمل فله ان یستأجر من یعمله) لان المستحق علیه عمل فی ذمته ویمکنه ایفاؤه بنفسه وبالاستعانة بغیره بمنزلة ایفاء الدین. . . الخ. (الجوهرة النیرة/۱/ ۲۷۵/کتاب الاجارة).

د داسې سټ (سيټ) سره ملازمت جائز نه دی چې دهغه په ځای کې د اودس او غسل اوبه نه پيداکيږي

سوال: زه چې په کوم دکان کې ملازم يم ددې د مالک کور د ښار نه دباندې دی. زه مابنام د مالک کور ته ځم هغه مانه يوه کمره راکړې ده په هغې کې اوبه بالکل نه شته . خلک د څښلو له پاره اوبه د بل ځای نه راوړي، نه غسل خانه او نه استنجاخانه شته، ډير لمونځونه خو ما د څښلو په اوبو باندې کړي دي او کله کله د اوبو د نه راوړلو له وجې مې لمونځ نه دی کړی. کله چې غسل فرض شي. نو ماسپښين يې کوم، که دروژې په حالت کې دمابنام په وخت غسل فرض شي. نو ترسبا ماسپښينه پورې (درې بجې) په دويمه ورځ موږ روژه ددې ناپاکې په حالت کې ساتلی شو؟

جواب: د ستا له پاره ددې سک سره ملازمت کول هم جائز نه دي. يا خپله مجبوري دده ته ووايه او د اوبو انتظام دې وکړي. والله اعلم!

د کمپنۍ نه کرايه زياته اخيستل او بيا د ورکولو په ځای باندې څه روپۍ په خپله استعمالول

سوال: زه دبحري جازونو په اداره کې ملازم يم، زموږ د ادارې جاز د کراچۍ نه راځي اوله دې ځای نه مال ټولې دنيا ته په لويو لويو کنټينرو کې وړي، زموږ کار دغه کنټينرې بک کول دي، موږ ددې مال کرايه وصولوو، د کمپنۍ يو ايکسپورټ منيجر چې کوم موږ ته مال راکوي، دکمپنۍ د ناخبرۍ له وجې کرايه راکړي، هغه زموږ نه دی واپس اخلي چې هغه دده جيب ته ځي، زموږ د کمپنۍ هم په باندې اعتراض نه وي، ځکه چې دا روپۍ زموږ د مقرر شوې کرايې نه زياتې راغلې وي له دې وجې موږ دا واپس کوو.
په اکثر وختونو کې داسې کيږي چې ملازم هلکان چې کله په دې پوه شي چې د فلانکۍ کمپنۍ نه موږ ته ډيره کرايه ملاويږي، نو موږ هغه زياته کرايه اخلو او خپلې کمپنۍ ته دا وايو چې واپس کوو به يې. د کمپنۍ نه پيسې واخلو او په خپل جيب کې يې کيږدو. په دې کې فلسفه داده چې کمپنۍ والا يې هم په خوشالۍ سره راکوي ځکه چې ددې نه ښه کرايه څه بله شپنګ کمپنۍ نه وي ورکړي، نور خلک دا کرايه بلکې ددې نه هم زيات مال خرڅ کړی وي د خپل قيمت فروخت شامله وي او بل دا چې زموږ کمپنۍ ته هم يوه مقرره کرايه ملاويږي چې په دې کې د هغه فائده وي، له دې وجې زموږ د هلکانو د وينا مطابق چې دې دواړو فريقينو ته هيڅ نقصان نه وي له دې وجې هغه په خپل جيب کې ږدي، خوکه چيرته ددې خبرې زموږ

کمپنۍ ته پته ولګیږي. نو زموږ نوکري هم ختمیدلی شي. سوالونه چې کوم پیدا کیږي هغه دادي چې دا پیسې چې موږه یې وړدو دا حلالې دي او که حرامې؟

جواب: حرامې دي [1]

سوال: که چیرته غلطي وي. نو مخکې پیسې یا مال چې کوم جوړ کړی دی یا خرچ شوی دی ددې به څه ازاله وي؟

جواب: دومره روپۍ دې کمپنۍ ته حواله شي. [2]

سوال: که چیرته ایکسپورټ منیجر یا څه دریم کس چې زموږ نه پیسې اخلي د خپلې برخې نه څه راکوي صحیح دي او که نه؟

جواب: هغه یې تاته ولې درکوي؟ ایا ده ته د پیسو ضرورت نه وي؟

سوال: ما دا کار د ډیرې مجبوري نه شروع کړی و، ځکه چې په موږ باندې قرضه وه.

جواب: مسئله پاس لیکل شوې ده په مجبوري ته پوه شه.

❖ د غصب شوي شي معامله ❖

....

د غصب شوي شی کټه استعمالول هم حرام دي

سوال: دوه ورونه زید او بکر یو کور جوړولو باندې پیسې لګوي، کور د هغوی د پلار په نوم دی، زید مشر او بکر کشر دی، زید پاکستان کې په یو سرکاري محکمه کې ملازم دی او بکر د ملک نه دباندې کارکوي او د زید په مقابله کې د کور په جوړولو کې زیاته خرچه کوي، بکر د ملک نه دباندې دی، له دې وجې زید د هغه د غیر موجودګي نه فایده واخیسته او کور یې په خپل نوم کړ. کله چې بکر ملک ته راستون شو، نو هغه ته پته ولګیده چې کور باندې زید قبضه کړې ده. هغې باندې د معمولي جګړې نه وروسته بکر له کور نه وویستل شو، بکر ته

---

[1] قال تعالي: "ولا تاكلوا اموالكم بينكم بالباطل". (البقرة/۱۸۸). قال الامام القرطبي: من اخذ مال غيره لا على وجه اذن الشرع فقد اكله الباطل. (تفسير قرطبي/۲/ ۳۲۳/طبع دار احياء التراث العربي بيروت). وفى معالم التنزيل للبغوى /۲/۵۰/طبع قديمي: "بالباطل" بالحرام يعني بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها.

[2] والحاصل ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم. (فتاوىٰ شامي/ ۵/۹۹/ باب البيع الفاسد، مطلب فيمن ورث مالاً حراماً).

دقانون باره کې هیڅ معلومات نه شته اونرخو چې هغه په قانون باندې پوهیږي. نوترهغه وخت پورې دامعامله له وخته تېره شوې وي. نوعدالت کې دمقدمې کولوسوال هم پاتې نه شو. هغه کورچې اوس دوه چنته دی. هغه کې زیدپخپله هم اوسیږي اوپه دویم چت یې په کرایه باندې ورکړی دی. کورښه غټ دی له دې وجې کرایه هم ښه ملاویږي اوپه هغو پیسوباندې زیددریم چت جوړکړ اوهغه یې هم په کرایه ورکړ

دزیدیوزوی هم دی چې هغه به دزیدنه وروسته دکور یواځې مالک شي. دشریعت په رڼاکې تاسو ووایئ چې هغه کرایه کومه چې زیدپه دې کورباندې اخلي شرعي طورباندې څنګه ده؟اودهغه نه وروسته چې دهغه زوی به داکرایه اخلي دهغه له پاره شریعت کې څه حکم دی؟څکه چې هغه هلک ته پته ده چې زیددملازم په حیثیت باندې داسې کورنه شي جوړولی اوداچې دکورپه سلسله کې دتره حق وهل شوی دی اودهغه پلاردا کورپه ناجائزه طریقه په زوراخیستی دی.

جواب: دزیدداکور په خپل نوم کول اوخپل وروردهغه نه محروموّل غصب دی[۱] حدیث شریف کې دي چاچې یولویشت ځمکه هم له چانه غصب کړه، دقیامت په ورځ به داووه ځمکوپورې هغه ټکړه دهغه په مرۍ کې تیزندۍ کړل شي اوهغه به هغه کې خښیږي. [۲]

(مسنداحمدج۱ص۱۸۸)

زیدچې ددې غصب شوي کورکرایه اخلي هغه هم دهغه له پاره حرامه ده اوکه دهغه زوی ته ددې پته وي، نودهغه له پاره به هم دغه ګټه حرامه وي[۱] کوم خلک چې دنوروخلکوحقونه غصب کوي، هغوی له پاره اخرت کې ډیره سخته سزاده. [۲]

---

[۱] الغصب هو الاستيلاء على مال الغير بغير حق لغة، وفى الشريعة: هو اخذ مال متقوم محترم بغير اذن المالك على وجه يزيل يده او يقصرها مجاهرة. (اعلاء السنن/۱٦/۳۲٤). ايضاً: وفى الدرالمختار كتاب الغصب: (هو) لغة اخذ الشيء مالاً او غيره كالحر على وجه التغليب، وشرعاً (ازالة يد محقة) ولو حكماً بجحوده لما اخذه قبل ان يحوله باثبات يد مبطلة فى مال متقوم محترم قابل للنقل بغير اذن مالكه. (درمختار/٦/ ۱۷۷. طبع ايچ ايم سعيد)_

[۲] عن يعلى بن مرة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ايما رجل ظلم شبراً من الأرض كلفه الله عزوجل ان يحفره حتى يبلغ آخر سبع ارضين ثم يطوقه الى يوم القيامة حتى يقضى بين الناس. رواه احمد. (مشكوٰة/ ۲٥٦/باب الغصب والعارية). ايضاً: فان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ظلم قيد شبر من الأرض طوقه من سبع ارضين. وقال النبى صلى الله عليه وسلم: من اخذ من الأرض شيئاً بغير حقه خسف به يوم القيامة الى سبع ارضين. (صحيح البخاري/۱/ ۳۳۲/باب اثم من ظلم شيئاً من الأرض، مسند احمد/۱/۱۸۸) _

د غصب شوي کور باره کې حوالې

سوال: تاسو د مسئلې حل وښود. په غصب شوي کور کې لمونځ کول. مهرباني وکړئ چې داحواله د فقه ده یا د حدیث شریف ده؟
کتاب؟ نوم او د صفحه نمبر ولیکئ چې شرعي عدالت ته رجوع وکړو

جواب: جنګ اخبار کې په لومړۍ مۍ (۱۹۸۱ء) باندې چې کومه مسئله (غصب شوي کور کې لمونځ) عنوان سره چاپ شوې وه. د هغه بنیاد په دې خبرو و
۱: داجارې کیدو له پاره د اجرا و مُستاجر دواړو رضا ضروري ده. (فتاوی هندیه ج ٤ ص ٤١١)[۳]
۲ که اجاره د مقرر وخت له پاره وي. نو د ترهغه وخت پابندي کول د دواړو فریقانو له پاره لازم دي[۴]
او که وخت نه وي مقرر شوی، بلکې د ومره کرایه د میاشتې حاصله شوي وي. نو دا اجاره به د یوې میاشتې له پاره صحیح وي او د میاشت پوره کیدو نه وروسته دواړو فریقو ته د اجارې ختمولو حق شته. (فتاوی هندیه ج ٤ ص ٤١٦)[۵]
۳: دیوسړي له اجازې نه پرته د هغه په ملکیت (مال) باندې داسې مسلط کیدل چې د مالک قبضه ختمه شي، یا هغه پرې قبضه نه شي کولی، دې ته غصب ویل کیږي. (فتاوی هندیه ج۵ص ۱۱۹)[۶] ۴: او غصب شوې ځمکه باندې لمونځ کول مکروه دي.[۷]

۱]وما دام الغصب حراماً فانه لا يحل الانتفاع بالمغصوب باى وجه من وجوه الانتفاع ويجب رده ان كان قائماً بنمائه...الخ.(فقه السنة/٣/٢٢٦/لسيد سابق).وكذا لا يحل اذا علم عين الغصب مثلاً....والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم والا فان علم عين الحرام لا يحل له.(فتاويٰ شامي/٥/٩٩/باب البيع الفاسد)

۲] وعن ابي هريرة رضی اللہ عنہ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كانت له مظلمة لأخيه من عرضه او شيء فليتحلله منه اليوم قبل ان لا يكون ديناراً ولا درهم، ان كان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمته وان لم يكن حسنات اخذ من سيأات صاحبه فحمل عليه. (بخاري/١/٣٣١ باب من كانت له مظلمة عندالرجل/مشكوٰة/ ٤٣٥/ باب الظلم/الفصل الاول)_

۳] واما شرائط الصحة فمنها رضاء المتعاقدين. (عالمگيري/٤/٤١١، كتاب الاجارة/الباب الاول)_

٤]ولو قال آجرتک هٰذه الدار سنة كل شهر بدرهم جاز بالاجماع لأن المدة معلومة والأجرة معلومة فتجوز فلايملک احدهما الفسخ قبل تمام السنة من غيرعذر(عالمگيري/٤/٤١٦كتاب الاجارة/الباب الثالث فى الاوقات)

٥]وان آجرداراًكل شهربدرهم صح العقدفى شهرواحد وفسدفى بقية الشهوروااذا تم الشهر الاول فلكل واحد منهما ان يقض الاجارة لانتهاء العقد الصحيح(عالمگيري/٤/٤١٦/كتاب الاجارة/الباب الثالث فى الاوقات)

٦] الباب الاول فى تفسير الغصب اما تفسيره شرعاً فهو اخذ مال متقوم محترم بغير اذن المالک على وجه يزيل يدالمالک ان كان فى يده اويقصرفى يده ان لم يكن فى يده كذا فى المحيط. (عالمگيري/ ٥/١١٩/كتاب الغصب)

٧] قال وكذا تكره فى اما كن كفوق الكعبة.....وارض مغصوبة او للغير. (شامي/١/ ٣٧٩، كتاب الصلاة)_

د غصب کونکي د لمونځ او روژې شرعي حیثیت څه دی؟

سوال: که یو سړی دچامال یا جایداد په ناجائزه طریقه غصب کوي، نودغصب کونکي دلمونځ، روژې، زکات، حج اونورو عباداتو اونیکیوشرعي حیثت څه دی؟ اودچاحق یې چې غصب کړی وي هغه وفات وي اودهغه اولادموجودوي، نودې صورت کې دغصب کونکي له پاره څه حکم دی؟

جواب: که هغه غصب شوی شی مالک ته واپس نه کړي، نو ددې غصب په بدله کې به دهغه لمونځ اوروژه اوداسې نور..... هغه مظلوم ته ورکړل شي.[1]

دچا ځمکه په ناحقه غصب کول ډیرسخت جرم دی

سوال: دیوسړي په منظورشوې نقشه کې دځمکې نه مخکې درې نیم فټه پلنه او وروسته طرف ته نور لس نیم فټه پلنه اودهغه دګاونډي په نقشه کې مخکې طرف ته لس فټه اویوولس انچې او وروسته طرف ته دیارلس فټه ده، خوهغه ګاونډي دکوم طرف په نقشه کې چې وروسته طرف ته نورلس نیمه فټه پلن والی دی هغه خپل ګاونډي ته وایي چې هغه ددیوال وغورځوي چې ستاسو دکور دیوال ډیرزوړ شوی دی اوهغه زمادکوردجوړولوپه وخت کې به په مزدورانو راپریوځي، خوکله چې دجوړولوله پاره بنیادونه وکنستل، نودخپل نورلس نیم فټوپه ځاي باندې دیرش فټه یادهغه نه هم زیاته ځمکه یې خپل حدکې داخله کړه اودخپل ګاونډي ځمکه یې کمه کړه چې دهغه په منظور شوې نقشه کې دیارلس فټه پلن والی دی، نوجناب مولانا صاحب! تاسو ووایئ چې دچا ځمکې باندې قبضه کول دهغه له پاره حلال دي اوکه حرام؟اودنیااواخرت کې به داسې سړي ته کوم کوم عذابونه ملاویږي؟ دې باره کې کم نه کم دوه ځلورحدیثونه دحوالو سره بیان کړئ اودشکریه اداکولو موقع راکړئ، دهغه ګاونډي دناروغي نه پرته مالي حالت هم کمزوری دی اودرشوت په زمانه کې انصاف ملاویدل هم ګران دي، له دې وجې هغه چپ شو اوهرڅه یې الله تعالی ته پریښي دي.

---

[1] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من کانت مظلمة لأخیه من عرضه او شيء فلیتحلله منه الیوم، قبل ان لا یکون دیناراً ولا درهم، ان کان له عمل صالح أخذ منه بقدر مظلمته، وان لم یکن له حسنات اخذ من سیأات صاحبه فحمل علیه. (صحیح البخاري/۱/۳۳۱/ باب من کانت له مظلمة عند الرجل/مشکوٰة/۴۳۵/باب الظلم). وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: اتدرون ما المفلس؟ قالوا: المفلس منا من لا درهم له ولا متاع، فقال:ان المفلس من امتی من یأتی یوم القیامة بصلوٰة وصیام وزکوٰة، ویأتی قد شتم هٰذا، وقذف هٰذا، وأکل مال هٰذا، وسفک دم هٰذا، وضرب هٰذا، فیعطی من حسناته وهٰذا من حسناته، فان فنیت حسناته قبل ان یقضی ما علیه، اخذ من خطایاهم فطرحت علیه ثم طرح فی النار. . . . . الخ. (مسلم/۲/۳۲۰، مشکوٰة/۴۳۵/باب الظلم/طبع قدیمی)۔

جواب: د چا ځمکه په زور باندې غصب کول ډېر سخت جرم دی. یو حدیث کې دي چې کوم کس د چا یو لویشت ځمکه هم ناحقه واخیسته. هغه به د قیامت په ورځ باندې اوومې ځمکه پورې ځنې کړل شي[1] یو بل حدیث کې دي، چاچې یو لویشت ځمکه هم په زور باندې واخیسته. د قیامت په ورځ باندې به داوو ځمکو پورې د هغه په مرۍ کې واچول شي[2] (مسند احمد ج۱ص۱۸۸) ناروغ ګاونډي ډېر ښه وکړل چې خپله معامله یې الله تعالی ته پرېښوده. دې ظالم ته به د خپل ظلم سزا په دنیا او اخرت دواړو کې ملاویږي.[3]

❖ د نغدو او قرض فرق ❖

....

د نغدو او قرض د خریدارۍ اصول

سوال: نن سبا کاروبار کې یوه طریقه اختیار شوې ده. چې هغې ته « ډپو » ویل کیږي، یعنې یو بیوپاري سره مال وي، هغه یې خرڅ کړي، د هغې طریقه داده چې بازار نرخ شل روپۍ من دی. یو خاص وخت پورې پیسو ور کولو سره نرخ پنځویشت روپۍ من ولګول شي، د وخت د کمي اوزیاتي له وجې په پیسو کې هم کمی اوزیاتی کیږي، سوداکید وسره اخیستونکي ته مال حواله شي. ایا دا صورت په سود کې داخل دی او که نه؟ او یو مفتي صاحب دې ته جائز ویلي دي.

بنده یو تحریر لوستلی دی چې د هغه له وجې په کې نور هم مشکل پیدا کیږي، هغه دلته نقل کوم:

حضرت سفیان رحمه الله وایي چې ما حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه پوښتنه وکړه، چې یو کس به ماته په یو مقرر شوي وخت باندې زما قرض واپس کوي، زه هغه ته وایم چې ماته زما د مقرر شوی وخت په ځای باندې نن یې راکړه زه به په ټولو پیسو کې څه پیسې تا ته پرېږدم، ابن عمر رضي الله عنهما وفرمایل دا سود دی، د زید بن ثابت رضي الله عنه هم د دې نفی روایت شوی ده، سعید بن جبیر رضي الله عنه شعبي رحمه الله، حکم رحمه الله او زموږ احناف او د ټولو فقهاء هم دا قول دی، خو

---

[1] اعن سالم عن ابیه قال: قال النبی صلی الله علیه وسلم: من اخذ من الأرض شیئاً بغیر حقه خسف به یوم القیامة الی سبع ارضین. (صحیح البخاري/۱/ ۳۳۲/باب اثم من ظلم شیئاً من الارض)_

[2] عن محمد بن ابراهیم ان ابا سلمة حدثه انه کانت بینه وبین الناس خصومه فذکر لعائشة رضی الله عنها فقالت: یا ابا سلمة! اجتنب الارض فان النبی صلی الله علیه وسلم قال: من ظلم قید شبر من الأرض طوقه من سبع ارضین. . . . الخ. (صحیح البخاري/۱/۳۳۲/ باب اثم من ظلم شیئاً من الأرض)_

[3] اوګورئ تیره شوی حاشیه (عن ابی هریرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من کانت مظلمة لأخیه من عرضه او شيء فلیتحلله منه الیوم. . . . الخ)

ابن عباس رضي الله عنهما اوابراهيم نخعي رحمه الله ويلي دي چې دې کې هيڅ ګناه نه شته.
جواب: که قيمت نغد ادا شي، اوشي د يوې يا دوو مياشتوپه نيته باندې ورکړل شي، نو دې ته (بيع سلم) وايي[1] اودا له يو څوشرطونه سره جائزده.[2]

۱ جنس به معلوم وي

۲ قسم (نوع) به يې معلوم وي، مثلاً دفلانکي قسم غنم دي

۳ صفت به يې معلوم وي، مثلا دښې درجې دي يادګذاره حال درجې دي يادکمزورې درجې دي ۴ مقداربه يې معلوم وي

۵ دوصولولو تاريخ به يې مقرروي

۶ کومې روپۍ چې اداشوې دهغو مقدار به معلوم وي

۷ او دا مقرر شي چې داشی به دفلانکي ځای نه اخيستونکی اخلي.

نغد ارزان اخيستل اوپه قرض ګران خرڅول

سوال: زيدسره مال دی، بکردهغه اخيستونکی دی، زيدته دپيسو ضرورت دی، عمروسره پيسې نه شته، بکرسره فالتوپيسې پرتې دي، بکر دزيدنه مال دبازاردنرخ نه په کمو پيسو باندې واخيست او زيدته ضرورت دی، له دې وجې هغه هم ورته ورکړي، له دې نه وروسته بکر، عمروباندې هغه مال دبازاردنرخ په ګرانه باندې خرڅوي، عمرو دا مال په قرض باندې اخلي، دبکردامعامله شرعي طورباندې څه حيثيت لري؟ دې کې داخبره يادساتل پکاردي چې بکر، زيدنه دامال يوازې دې له پاره اخلي چې هغه سره ددې مال اخيستونکی عمرو دمخکې نه موجود دی، که عمرو نه وي، نوبکر به زيدسره دامعامله نه کوله، ځکه چې دکوم مال سوداشوې ده، هغه دبکرکاروبارنه دی.

---

[1] السلم اوالسلف: بيع آجل بعاجل او بيع شيء موصوف فى الذمة. . . . . الخ. (الفقه الاسلامى وادلته /۵۹۸/۴، عقدالسلم، تعريف السلم). باب السلم (هو) لغة كالسلف وزناً ومعنى، وشرعاً (بيع اجل) وهو المسلم فيه بعاجل وهو رأس المال. . . . . الخ. (درمختار/۵/ ۲۰۹/باب السلم/طبع سعيد)۔

[2] وعن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة وهم يسلفون فى الثمر، فقال: من اسلف فليسلف فى كيل معلوم و وزن معلوم الى اجل معلوم. (صحيح البخاري/۱/ ۲۹۸، ترمذي/۱/۲۴۵). قال ولا يصح السلم عند ابى حنيفة رحمه الله الا بسبع شرائط: جنس معلوم كقولنا حنطة او لشعيرة، ونوع معلوم كقولنا سقية او بخيسة، وصفة معلومة كقولنا جيد وردى، ومقدار معلوم كقولنا كذا كيلاً بمكيال معروف او كذا وزناً واجل معلوم، والأصل فيه ما روينا، ومعرفة مقدار رأس المال اذا كان يتعلق العقد على مقداره كالمكيل والموزون والمعدود، وتسمية المكان الذى يوفيه اذا كان له حمل حمل ولا يصح السلم حتى يقبض رأس المال قبل أن يفارقه فيه. (هداية/۳/ ۹۵، كتاب البيوع/باب السلم/عالمگيري/ ۱۷۸/۳، الباب الثامن عشر فى السلم/كتاب البيوع)۔

جواب: دلته دوه مسئلې دي

(۱) يو د چا د غريبي او مجبوري نه فايده اخيستل او مال ترې نه په کم قيمت باندې اخيستل اګرچې قانونا جائز دی، خو د اخلاقو او مروت خلاف کېدو له وجې مکروه دی [۱]

(۲) د قرض له وجې ګران خرڅول دي، دا جائز دي، خو په نغد او قرض کې د قيمت فرق مناسب پکار دی [۲]

يوشی په نغدو په کم قيمت او قرضو باندې په زيات قيمت خرڅول جائز دي

سوال: زمونږ په علاقه کې خلک د قسطونو کاروبار کوي، لکه سايکل، ټي وي، فريج، ټيپ ريکارډ او داسې نور... په قسطونو باندې يې داسې ورکوي، که چيرې د ټيپ ريکارډ قيمت په نغدو باندې دوه زره وي، نو په قسطونو باندې هغه په دوه نيم زره باندې ورکول کيږي. صحيح خبره داده چې هغوی به مونږ ته دوه زره راکوي او مونږ نه به دوه نيم زره اخلي او چې تاسو په قسطونو باندې اخيستي وي، مهرباني وکړئ چې مونږ ته ووايئ چې داشی په سود کې خو به نه وي داخل؟ که راځي. نو داراته ووايئ چې دا به څنګه کړل شي؟

---

[۱] قال الخطابي رحمه الله: بيع المضطر يكون من وجهين. . . . . . . والوجه الآخر ان يضطر الى البيع لدين يركبه او مونة ترهقه فيبيع ما فى يده بالوكس من أجل الضرورة فهٰذا سبيله فى حق الدين والمروءة ان لايباع على هٰذا الوجه، وان لا يقتات عليه بماله ولكن يعان ويقرض ويستهمل له الى الميسرة حتى يكون فى ذٰلك بلاغ فان عقد البيع مع الضرورة على هٰذا الوجه جاز فى الحكم ولا تفسخ......الا ان عامة اهل العلم قد كرهوا هٰذا البيع لهٰذا الوجه...... الخ. (بذل المجهود شرح سنن ابوداؤد/٤/٢٥٢/كتاب البيوع/باب فى بيع المضطر/ طبع مكتبه يحيويه/هند). ايضاً: (قوله بيع المضطر وشراء ه فاسد) هو ان يضطر الرجل الى طعام او شراب او لباس او غيرها ولا يبيعها البائع الا باكثر من ثمنها بكثير، وكذٰلك فى الشراء منه كذا فى المنح. . . . . . الخ. (فتاوىٰ شامي/٥/٥٩/ باب البيع الفاسد). تفصيل دپاره اوګورئ: (اعلاء السنن/١٤/ ٢٠٥/كتاب البيوع/ باب النهى عن بيع المضطر/طبع ادارة القرآن)_

[۲] عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم: عن بيعتين فى بيعة. قال الامام الترمذي رحمه الله:وقدفسربعض اهل العلم:قالوا بيعتين فى بيعة ان يقول:ابيعک هٰذا الثوب بنقد بعشر وبنسيئة بعشرين، ولا يفارقه على احدالبيعين، فاذا فارقه على احدهما فلا بأس اذا كانت العقدة على واحد منهما. (جامع الترمذي/١ / ٢٣٣/ باب النهى عن بيعتين). وفى الهداية: لان للأجل شبهاً بالمبيع، الا ترى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل، والشبهة فى هٰذا ملحقة بالحقيقة. (هداية/٣/٧٦، كتاب البيوع/ باب المرابحة والتولية).ايضاً: لان الاجل فى نفسه ليس بمال، فلا يقابله شيء حقيقة اذا لم يشترط زيادة الثمن بمقابلته قصداً، ويزاد فى الثمن لأجله، اذا ذكر الأجل بمقابلة الأجل قصداً. (الدرالمختارمع ردالمحتار/٥/١٤٢/كتاب البيوع/ باب المرابحة والتولية/ايضاً فى المبسوط/١٣/ ٩/باب البيوع الفاسدة)

جواب: یوشی په نغدقیمت په کمواوپه قرض په زیات قیمت باندې ورکول جائزدي. دا شی په سودکې داخل نه دی،خو دخرڅولوپه وخت کې په نغدو او قرضوباندې دخرڅولواوقیمت مقررول ضروري دي [۱]

یوشی په نغدو په کم او په قرض په زیات قیمت خرڅول

سوال: ماهنامه اقرا ډائجسټ کې یوه مسئله لیکل شوې ده چې یوکس ریډیوخرڅوي او وایي که چیرته داریډیوپه نغدو اخلې. نوپه پنځه سوه روپۍ ده اوکه په قرض یې اخلې. نو دشپږسوو روپیودی. اګرچې دلته سل روپۍ زیاتې شوې. خودا سودنه دی. ځکه چې ددې وروسته شی دی، دپورته ذکرشوې مسئلې نه معلومه شوه چې خرڅونکي د اخیستونکي سره دنغداوقرض په شرط باندې قیمت کې کمي اوزیادت کولی شي، دکوم حدپورې چې مورته پته ده اواوسه پورې چې موږ څه ګڼل هغه دادی چې دابیع جائزنه دی اودبهشتي زیورنه هم ددې تایدکیږي دبهشتي زیورمسئله داده چې داحکم هغه وخت له پاره دی چې دخریدارنه اول پوښتنه وشي چې په نغدو یې اخلې اوکه په قرض، که هغه نغد وویل نوشل سیره یې ورکړل اوکه قرض یې وویل، نوپنځلس سیره یې ورکړل اوکه چیرته معامله یې داسې وکړه چې اخیستونکي ته یې داسې وویل که چیرته په نغدواخلې، نوپه یوه روپۍ باندې به پنځلس سیره اوپه قرضوباندې به شل سیره وي، داجائزنه دي.

جواب: دبهشتي زیوردامسئله صححیح ده، خوداپه هغه حالت کې ده چې دعقدپه ځای کې دا مقرر نه شي چې داشی چې په نغدواخلې. نوپه دومره به وي اوکه په قرض یې اخلې، نوپه دومره به وي[۲] او که بیا دعقد په ځای کې یوصورت مقررشي، نوجائزده[۳] مفتي صاحب چې کومه مسئله لیکلې ده هغه هم دې صورت باره کې ده.

---

[۱] والاثمان المطلقة لا تصح الا ان تكون معروفة القدر والصفة. . . . . ويجوز البيع بثمن حال ومؤجل اذا كان الأجل معلوماً. . . . . لان الجهالة فيه مانعة عن التسليم الواجب بالعقد. (هداية/ كتاب البيوع/۳/ ۲۶، طبع ملتان). ايضاً: واذا عقد العقد على انه الى اجل كذا بكذا وبالنقد بكذا او الى شهرين بكذا فهو فاسد لأنه لم يعاطه بثمن معلوم. . . . . . . فان كان يتراضيان بينهما ولم يتفرقا حتى قاطعه على ثمن معلوم وانما العقد عليه فهو جائز. (المبسوط للسرخسي/۱۳/ ۹/باب البيوع الفاسد/طبع دارالفكر/بيروت). ايضاً: البيع مع تأجيل الثمن وتقسيطه صحيح يلزمه ان تكون المدة معلومة فى البيع بالتأجيل والتقسيط. (شرح المجلة/۱۲۵/رقم المادة: ۲۴۵، ۲۴۶/طبع حبيبيه كوئته)۔

[۲] رجل باع على انه بالنقد بكذا وبالنسيئة بكذا او الى شهر بكذا والى شهرين بكذا، لم يجز. (خلاصة الفتاوىٰ /۳/ ۶۰/كتاب البيوع/الفصل الخامس فى البيع جنس آخر، طبع رشيديه، ايضاً: فتاوىٰ هندية/۳/ ۱۵۴)۔

[۳] عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيعتين فى بيعة. ثم قال: والعمل على هٰذا عند اهل العلم وقد فسر بعض اهل العلم قالوا: بيعتين فى بيعة ان يقول ابيعک..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

قرض خرڅولو سره زياتې پيسې اخيستل او سود کې فرق

سوال: تاسو ديو پوښتنه کونکي په جواب کې ليکلي و، چې يوشي نغد په لس روپۍ او قرض په پنځلس روپۍ جائزدی. داځنګه جائزشو؟ دا خوښکاره سود دی، سودکې خوهم دغه شان وي چې تاسوله چانه لس روپۍ اخلئ او ورته وايئ چې يوه مياشت وروسته به درته پنځلس درکوم دغه شان خوداهم سودشوچې نغد په لس روپۍ اوقرض په پنځلس روپۍ باندې ورکوي. که دوخت له وجې دوکان دارپنځه روپۍ زياتې ګټي، نو د سودخورو هم دادليل دی چې موږ خپلې پيسې بندوو.

جواب: دچادضرورت نه ناجائزه فايده اخيستل بيله خبره ده او سود بيل شی دی. دروپۍ په بدله کې چې کله روپۍ زياتې واخيستل شي، نو هغه ته سود ويل کيږي[۱] خو دشي په بدله کې روپۍ زياتې هم اخيستل کيږي او کمې هم. ډيرې پيسو اخيستلو ته ګراني ويل کيږي سود نه[۲] دغه شان که دنغدو او قرض په قيمت کې فرق وي، نو دا هم سود نه دی.[۳]

...بقيه د تيرمخ] هٰذا الثواب بنقد بعشرة وبنسيئة بعشرين ولا يفارقه على احد البيعين فاذا فارقه على احدهما فلا بأس به اذا كانت العقدة على واحد منهما. (هٰكذا فى الترمذي/۱/۲۳۳/باب النهى عن بيعتين/والمغنى لابن قدامة/۴/ ۱۷۷/والمبسوط للسرخسي/۱۳/ ۸)۔

[۱] باب الربا هو فضل خالٍ عن عوض بمعيار شرعى مشروط لأحد المتعاقدين فى المعاوضة. (تنوير الأبصار/۵/۱۶۸). ايضاً: قال الربا محرم فى مكيل او موزون اذا بيع بجنسه متفاضلاً فالعلة عندنا الكيل مع الجنس او الوزن مع. . . . . . . والاصل فيه الحديث المشهور وهو قوله عليه السلام: الحنطة بالحنطة مثلاً بمثل يداً بيد والفضل ربا. وعد الاشياء الستة: الحنطة والشعير والتمر والملح والذهب والفضة على هٰذا المثال. (هداية/۳/۷۹/ باب الربا)۔

[۲] وطلب الزيادة بطريق التجارة غير محرم فى الجملة قال الله تعالىٰ: ليس عليكم جناح ان تبتغوا فضلاً من ربكم. (تفسير مظهري/۱/ ۳۹۹/طبع مكتبة اشاعت العلوم/دهلى)۔

[۳] عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيعتين فى بيعة. ثم قال: والعمل على هٰذا عند اهل العلم وقد فسر بعض اهل العلم قالوا: بيعتين فى بيعة ان يقول ابيعك هٰذا الثوب بنقد بعشرة وبنسيئة بعشرين ولا يفارقه على احد البيعين، فاذا فارقه على احدهما فلا بأس به اذا كانت العقدة على واحد منهما. (ترمذي/۱/۲۳۳/ باب النهى عن بيعتين). ايضاً: واذا عقدَ العقد على انه الى اجل كذا بكذا وبالنقد بكذا، او قال: الى شهر بكذا، او الى شهرين بكذا فهو فاسد لانه لم يعاطه على ثمن معلوم، ولنهى النبى صلى الله عليه وسلم من شرطين فى بيع. . . . . وهٰذا اذا افترقا على هذا، فان كان يتراضيان بينهما ولم يتفرقا حتى قاطعه على ثمن معلوم، واتما العقد عليه فهو جائز. (المبسوط لسرخسي/۱۳/۹/باب البيوع الفاسد/طبع كوئته). لان للاجل شبها بالمبيع الا ترى انه يزاد فى الثمن لأجل الأجل، والشبهة فى هٰذا ملحقة بالحقيقة. (الهداية/۳/۷۶/باب المرابحة والتولية/طبع شركت علميه ملتان)۔

د قرض شي قيمت وخت په وخت زياتول جائز نه دي

سوال: زموږ علاقه کې دجامو په مارکيټ کې دتار کار کيږي. موږ داسې کوچې تار د پونډ په حساب باندې خرڅيږي. اوس فرض کړئ چې دتار قيمت پنځه ديريش پونډه دی. زموږ مارکيټ کې داطريقه ده که چيرته تار نغد اخلې. نو پنځه ديريش روپۍ پونډ به وي او که چيرته همدغه تار ديوې مياشت له پاره قرض اخلې، نو په شپږ ديريش روپۍ پونډ به وي او که چيرته ددوو مياشتو له پاره قرض يې اخلې. نو بيا به اووه ديريش روپۍ پونډ وي. لکه په يو پونډ باندې يوه روپۍ مياشت زياته اخلي. اوس که چيرته يو سړی ددوو مياشتو له پاره قرض واخست او دوه روپۍ پونډ يې ګران واخيست. نو که چيرته هغه سړي سره يوه نيمه مياشت وروسته پيسې راغلې او هغه، هغه ته دچانه چې هغه په ددوو مياشتو له پاره قرض اخيستي و. دا ووايي چې ماسره پيسې پيدا شوي. ته داسې وکړه چې پونډ باندې يوه نيمه روپۍ واخله. يعنې که پنځه ديريش باندې دی. نو ته شپږ ديريش روپۍ او پنځوس پيسې واخله. نو ايا دا طريقه صحيح ده او که غلطه؟ او دوو مياشتو له پاره دوه روپۍ پونډ مقرر شوی و او چې هغه پيسې پنځلس ورځې مخکې پنځوس پيسې کم حساب سره ورکوي. دويم صورت دا دی چې يو سړي ديو مياشت له پاره په دروپۍ پونډ حساب سره اخيستی و، اوس يوه مياشت پوره شوه او هغه کس سره پيسې پيدا نه شوې او که هغه داسې ووايي چې ته داسې وکړه چې د دوو مياشتو قرض وکړه او يوه روپۍ پونډ زيات واخله. نو دا طريقه په سود کې خونه ده داخله؟ او دا طريقه جائز ده که ناجائز؟ مهرباني وکړئ ددواړو حالتونو جواب دشريعت دقانون مطابق راکړئ.

جواب: د نغد او قرض قيمت کې فرق خو جائز دی[1]، خو وخت مقرر کول پکار دي، مثلاً دوه مياشتې وروسته ورکول دي او د هغه قيمت به داوي مياشت وروسته يوه روپۍ زياتول صحيح نه دي.[2]

قرض خرڅولو باندې قيمت زيات اخيستل

سوال: ديوې غلې قيمت دبازار مطابق شل روپۍ من دی او دوکان دار يې نغدو باندې

---

[1]]والأثمان المطلقة لاتصح الا ان تكون معروفة القدر والصفة. . . . . . . ويجوز البيع بثمن حال ومؤجل اذا كان الاجل معلوماً. . . . . الخ. (هداية/كتاب البيوع/۳/۲۶). ايضاً: لان للاجل شبها بالمبيع الا ترى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل والشبهة هذا ملحقة بالحقيقة. (هداية/۳/ ۷۶/باب المرابحة والتولية)۔

[2]] واذا عقد العقد على انه الى اجل كذا بكذا وبالنقد بكذا او الى شهر بكذا او الى شهرين بكذا فهو فاسد لانه لم يعاطه على ثمن معلوم. . . . . . وهٰذا اذا افترقا على هٰذا فان كان يتراضيان بينهما ولم يتفرقا حتى قاطعه على ثمن معلوم واتما العقد عليه فهو جائز. (المبسوط للسرخسي/۱۳/۹/باب البيوع الفاسد، ايضا: عالمگيري/۳ / ۱۵٤/ خلاصة الفتاوي/۳/۶۰/كتاب البيوع/الفصل الخامس فى البيع جنس آخر)۔

اخیستونکي ته په شل روپۍ من ورکوي او هماغه دوکاندار قرض اخیستونکي ته په پنځویش روپۍ من ورکوي. قرض اخیستونکی دمجبوري له وجې په اخیستومجبوردی اواخلي یې، دې مسئلې باره کې داسلامي قانون څه حکم دی؟ ایاداسې کول جائزدي اوکه ناجائز؟

جواب: داسې خرڅول جائزدي[۱]، خودچا له مجبوري نه غلطه فایده اخیستل نه دي پکار.[۲]

د میل نه تارپه نغدو اخیستل او ګاکته په قرض ورکول

سوال: زموږد تارکارو باردی، ګاک ته نغد یا قرض ورکوو او موږ ته په دې باندې کمیشن ملاویږي، د تار دام في پونډ (د وزن په لحاظ سره) وي مثلاً نغد ۵۰ روپۍ في پونډ او قرض د یوی میاشتې ۵۱ او د دواو میاشتو ۵۲ روپۍ في پونډ، مقرره قرض نه د اداء کولو په تاخیر کې هیڅ اضافي رقم نه ملاویږي.

ځینې وخت داسې کیږي چې خپله په نغدو تار واخلو او په ګران نرخ باندې یې ګاک ته په قرض ورکوو. ددې صورت داوي چې موږ نغد رقم اداء کړو د میل یا ددې د مقرره ریټ نه د مال، ډلیوري اړډر، په خپل نوم کړو او هغه ډلیوري اړډر زموږ ګاک ته ورکوي چې په کوم باندې قرض مال خرڅول کیږي، ځوک چې د میل د ګودام نه مال پورته کوي، په دې سلسله کې دا معلومول دي چې ایا داسې نغد مال په خپل نوم اخیستل او ددی ډلیوري اړډر ګاک ته ورکول چې هغه قرض خرڅول کیږي اوهغه خپله مال اوچت کړي شرعي طور باندې جائزدي؟

ځینې وخت ډلیوري اړډر ګاک له دې وجې غواړي چې دده اطمینان وشي چې د کوم میل ده ته پکار و هغه اصلي مال په خپله ده ته د ګودام نه ملاوشو، که نه. ځینې ګاک والاته دا شک وي چې مال بدل شوی ملاو نه شي، له دې وجې چې په تار باندې خو څه لیکلي نه وي یوازې په بندونو باندې د جوړنکي میل نوم لیکل کیږي چې بدلیږي، ډلیوري اړډر ګاک له دې وجې هم ورکول کیږي هغه د مال رسک هم ددوی وي که چیرته پاسنی طریقه کار شرعا مناسب نه وي، نو پاس بیان شوي حالاتو کې شرعي طریقه کار څه کول پکار دي؟

---

[۱] ایضاً پورتنئ حواله۔

[۲] عن علی رضی اللہ عنہ قال: سیأتی علی الناس زمان عضوض یعض الموسر علی ما فی یده ولم یؤمر بذلک، قال الله تعالي: ولا تنسوا الفضل بینکم، ویباع المضطرون وقد نهی النبی صلی الله علیه وسلم عن بیع المضطر، قال الشامي: وهو ان یضطر الرجل الی طعام وشراب او غیرهما، ولا یبعه البائع الا باکثر من ثمنها بکثیر وکذلک الشراء منه. . . . . قال الخطابي رحمه الله: ان عقد البیع مع الضرورة علی هذا الوجه جائز فی الحکم ولا یفسخ الا ان سبیله فی حق الدین والمروئة ان لایباع علی هذا الوجه وان لا یفتات علیه بماله، ولکن یعاون ویقرض ویستمهل له الی المیسرة حتی یکون له فی ذلک بلاغ. (اعلاء السنن/۱۴/ ۲۰۵/کتاب البیوع/باب النهی عن بیع المضطر، ایضاً: بذل المجهود/۵/ ۲۵۲/ کتاب البیوع/باب فی بیع المضطر/طبع امدادیة)۔

جواب: کوم مال چې د تاسو د تار اخیستونکې ته میل ورکوي. ظاهره ده چې د دې د نغدو په قیمت او د قرض په قیمت کې به فرق وي. په هر حال یوه خبره مقرره کړې چې په دومره میاشتو کې به رقم ادا کیږي او دا به د دې قیمت وي[1] فرض کړئ! ګاک که تردومره ورځو پورې بل ادا نه کړي، نو اوس د قیمت د زیاتولو به تاته اختیار نه وي او نه میل والو ته، بلکې که چیرته د مهلت په بدله کې قیمت زیات کړل شي، نو دا به سود وي. [2]

ته د خپل طرف نه د میل والو نه تار اخیستلی شې او خریدارو ته یې ورکولی شې او د دې پرچې وغیره چې کومه جوړیږي هغه هم جوړولی شې، خو په دې کې به د دې شرط لحاظ ساتل کیږي چې هغه یو ځل چې کوم قیمت مقرر کړي په دې کې اضافه نه شي کولی.

مینبه په نغدو په پنځه زره او په قرض په شپږ زره خرڅول

سوال: ایا زید په نغدو باندې یوه مینبه په پنځه زره او په قرض هغه مینبه په شپږ زره باندې خرڅولی شي؟ ایا په قرض کې زر روپۍ خو به سود نه جوړیږي؟

جواب: په قرض کې زیاتې روپۍ اخیستل جائز دي سود نه دی. [3] والله اعلم!

د نغد او قرض په قیمت کې فرق

سوال: موږ مال په نغدو او قرض باندې خرڅوو. کوم خلک چې مال په نغدو اخلي، نو هغه مثلا یو شی په څلور زره اخلي او قرض والا یې څلور زره اودوه سوه روپۍ باندې اخلي او دا قرض والا په هره جمعه ددوو زرو په حساب سره روپۍ اداء کوي، ایا دا طریقه صحیح ده؟

---

[1] الا ترى انه يزاد فى الثمن لأجل الأجل. . . . . . الخ. (هداية/۳/ ۷٤، وايضاً: بحر/۶/۱۶۵، شامي/ ۶/ ۷۵۷/فى مسائل شتى). عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيعتين فى بيعة. ثم قال: والعمل على هٰذا عند اهل لعلم وقد فسر بعض اهل العلم قالوا: بيعتين فى بيعة ان يقول ابيعك هٰذا الثوب بنقد بعشرة وبنسئة بعشرين ولا يفارقه على احد البيعين، فاذا فارقه على احدهما فلا بأس به اذا كانت العقدة على واحد منهما. (ترمذي/۱/۲۳۳/باب النهى عن بيعتين). ايضاً: وذا عقد العقد على انه الى اجل كذا بكذا وبالنقد بكذا، او قال: الى شهر بكذا، او الى شهرين بكذا فهو فاسد لأنه لم يعاطه على ثمن معلوم، ولنهى النبى صلى الله عليه وسلم من شرطين فى بيع. . . . . . . وهذا اذا افترقا على هٰذا، فان كان يتراضيان بينهما ولم يتفرقا حتى قاطعه على ثمن معلوم، وانما العقد على فهو جائز. (المبسوط للسرخسي/۱۳/ ۹/باب البيوع الفاسد/ طبع كوئته). لان للاجل شبها بالمبيع الا ترى انه يزاد فى الثمن لاجل الاجل، والشبهة فى هٰذا ملحقة بالحقيقة. (الهداية/۳/ ۷۶/باب المرابحة والتولية/طبع شركت علميه ملتان).

[2] الربا هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعى مشروط لأحد المتعاقدين......الخ. (تنوير الابصار/۵/۱۶۸).

[3] لأن للأجل شبهتا بالمبيع الا ترى اله يزاد فى الثمن لأجل الأجل. . . . . الخ. (هداية/۳/۷٤، ايضاً: البحر/۶/ ۱۶۵، شامي/۶/۷۵۶/مبسوط سرخسي/۱۳/۹). ايضاً تيره شوى حاشيه_

جواب: د نغدو او د قرض کوم صورتونه چې لیکلي دي، هغه صحیح دي [١] والله اعلم!

ښوره (سره) استیاک کول او بل دا چې په قرض یې پنځه ویشت روپۍ په زیاتو باندې خرڅول

سوال: یو سړی د ښورې بورۍ استیاک کوي چې د هغې قیمت في بورۍ (٢٠٠) روپۍ دی، خو چې کله زمیندار دده نه قرض ښوره اخلي، نو (٢٢٥) روپۍ في بورۍ لیکي او ده زمیندار ته ویلي دي چې د قرض په صورت کې به في بورۍ ٢٥ روپۍ زیاتې اخلم، ایا داسې کول جائزدي؟

جواب: جائزدي [٢]

❖ مال له قبضې نه مخکې خرڅول ❖

....

د ډیلر کمپنۍ نه مال وصول کولو نه مخکې خرڅول

سوال: مختلفې کمپنۍ مال جوړولونه وروسته په څه خلکو باندې خپل مال خرڅوي، نور خلک بیا د هغوی نه مال اخلي، کله ناکله دغو خلکو سره مال ذخیره نه وي او هغه خلک خپله ګټه زیاته کړي او مال ګران خرڅوي او دا خرڅ شوی مال بیا د کمپنۍ نه هماغه قیمت کې واخلي او مال پوره کړي، ایا شرعي طورباندې صحیح دی؟ او که نه دی، نو ددې شرعي صورت څه دی؟

جواب: کوم مال چې موجود نه وي د هغه خرڅول جائزنه دي، خو یو صورت جائزدی، چې هغه ته بیع سلم ویل کیږي [٣] او هغه دا دی چې پیسې نغدې واخیستل شي او شی یو میاشت یا له دې

---

[١] ایضاً_

[٢] ایضاً_

[٣] عن ابن عباس رضى الله عنهما يقول: اما الى نهى عنه النبى صلى الله عليه وسلم فهو الطعام ان يباع حق يقبض، قال ابن عباس رضى الله عنهما: ولا احسب كل شيء الا مثله. وعن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ابتاع طعاما فلا يبيعه حق يستو فيه. وزاد اسماعيل رحمه الله: من ابتاع طعاماً فلا يبيعه حق يقبضه........الخ. (صحيح بخاري/١/٢٨٦). عن حكيم ابن حزام رضي الله عنه قال: يا رسول الله! ياتى الرجل فيريد منى البيع ما ليس عندى فابتاعه له من السوق، فقال: لا تبع ماليس عندك. وعن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايحل سلف......ولا بيع..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

نه په زیات مهلت باندې ورکول مقرر شي[۱]. داسې سودا په یو څو شرطونو باندې جائز ده:

۱ جنس به معلوم وي. مثلا د غنمو سودا وي.
۲ قسم به یې معلوم وي. مثلا دیسي او داسې نور
۳ صفت به یې معلوم وي. مثلا اعلی، درمیانه یا کمزوري.
۴ د هغه مقدار به معلوم وي. مثلا دومره ټن.

د دې څلورو شرطونو تعلق د مال تعین سره دی. یعنې د کوم شي سودا چې کیږي. د دې کې هیڅ شک نه دی پکار.

۵ د وصولولو تاریخ به مقرر شوی وي. چې هغه د یوې میاشتې نه کم نه دی پکار.
۶ د دا شویو پیسو مقدار به معلوم وي.
۷ په کومو شیانو باندې چې د موټر خرچې راځي. هغو کې دا هم مقرروول چې دا مال به فلانکي ځای کې ملاویږي.
۸ د دواړو جدا کیدو نه مخکې په مجلس کې د اخیستلو او خرڅولو ټولې پیسې اداکیدل پکاردي. که د دې اتو شرطونو کې یو شرط هم کم و، نو بیع سلم فاسد ده[۲]

مال قبضه کولو نه مخکې خرڅول او ذخیره کول

سوال: زید د بکر نه چې هغه د بهر ملک کې دی، مال واخیست او بکر د جاز په ذریعه باندې زید ته راولیږه، جاز په سمندر کې و، زید د هغه سامان د یوې برخې سودا حارث سره وکړه

...بقیه د تیرمخ] ما لیس عندک. (ابوداؤد/۲/ ۱۳۹) وبطل بیع قن ضم الی حر. . . . . . . وبیع ما لیس فی ملکه لبطلان بیع المعدوم وماله خطر العدم لا بطریق السلم فانه صحیح لانه علیه الصلاة والسلام نهی عن بیع ما لیس عند انسان، ورخص فی السلم. وفی الشامیة (قوله لبطلان بیع المعدوم) اذ من شرط المعقود علیه. ان یکون موجوداً مالاً متقوماً مملوکاً فی نفسه. . . . وان یکون ملک البائع فیما یبیعه لنفسه وان یکون مقدور التسلیم منح. (درمختار مع ردالمحتار/ ۵/۵٦، ۵۹). ومن اشتری شیئا مما ینقل ویحول لم یجز بیعه حتی یقبضه. . . . . . الخ. (الجوهرة النیرة/۲۱۲/ باب المرابحة)۔

[۱] باب السلم هو لغة کالسلف وزنا ومعنی وشرعاً بیع اجل وهو المسلم فیه بعاجل وهو رأس المال. (درمختار/۵/۲۰۹/ کتاب البیوع/باب السلم/طبع ایچ ایم سعید کراچی)

[۲] ولا یصح السلم عند ابی حنیفة رحمه الله الا بسبع شرائط: جنس معلوم کقولنا حنطة او شعیرة. ونوع معلوم کقولنا سقیة او بخسة، وصفة معلومة کقولنا جید وردی. ومقدار معلوم کقولنا کذا کیلا بمکیال معروف او کذا وزنا، واجل معلوم، والأصل فیه ما روینا والفقه فیه ما روینا. ومقدار رأس المال اذا کان یتعلق العقد علی مقداره کالمکیل والموزون والمعدود، وتسمیة المکان الذی یوفیه فیه اذا کان له حمل ومؤنة. ولا یصح السلم حتی یقبض رأس المال قبل ان یفارقه فیه. (هدایة/۳/ ۹۵/کتاب البیوع/باب السلم/عالمگیری/ ۱۷۸/۳/درمختار/۵/۲۱۴). وقال فی النتف وشرائط السلم ثمانیة اشیاء فی قول ابی حنیفة رحمه الله اولها ان یعین الجنس......الخ. (النتف فی الفتاوی/۲۸۷)۔

او د پیسو څه برخه یې زیدته دا یې وانس په طور باندې ورکړې او حارث د مال د هغه برخې پیسې زیدته هغه وخت کې ورکوي، کله چې زید هغه ته مال حواله کړي

١ کوم وخت کې چې جاز د زید ملک ته راورسید، هغه وخت کې حارث سره مقرر شوي قیمت د اخیستو د قیمت نه زیات و، نو حارث به کوم یو قیمت اداکوي، او سنی یا مقرر شوی ؟

٢ کله چې جاز د زید ملک ته راغی، نو هغه وخت مارکیټ کې قیمت د حارث د مقرر شوي قیمت نه کم و، نو څه حکم دی؟

٣ جاز د زید ملک ته راتلو نه مخکې حارث، نعمان، وارث او نورو شپږو کسانو سره سودا وشوه، په نمبر نمبر باندې مال نعیم ته راورسید، نو قیمت یې ډیر زیات شوی و اوټولو خپله خپله برخه د غائب مال نه حاصل کړه، په لسوکې چې نهه کسانو کومه ګټه حاصل کړه هغه به د کوم حد پورې جائز وي؟ او داسې سوداکول جائز او حلال دي؟ کاروبار کې چې کله مالدار کس یو مال ډیر مقدار باندې واخلي، نو وړوکي کاروباریانو ته پته ولګیږي چې د دې قیمت زیاتیدونکی دی. هغوی هم د ګټې له پاره د خپل حیثیت مطابق سودا واخلي او بیا یې خرڅ کړي، دا ګټه د هغوی له پاره صحیح ده؟ ایا د ذخیره کولو کې راځي؟ د یو حدیث پاک مفهوم داسې دی چې څلویښت ورځوله پاره غله یوازې دې له پاره کیښنودل چې قیمت یې زیات شي، دا د الله تعالی له پاره دومره غټه خبره ده که چیرته هغه سوداګر ټول مال د الله تعالی په لارکې صدقه کړي، نو بیا به هم د غه ګناه معاف نه شي.

۴ صحیح حدیث څه دی؟ ایا دا هدایت د عامو ورځوله پاره هم دی یا یوازې د قحط دورځوله پاره ؟

جواب: د تجارت اصول دا دي چې کوم مال قبضه کې نه وي د هغه خرڅول صحیح نه دي، نو کوم مال چې او سه پورې د زید ملک ته نه دی راغلی هغه نه شي خرڅولی، زید او د هغه نه وروسته څومره خلک و چې مال قبضه کې اخیستو نه مخکې خرڅوي د ټولو بیع ناجائز ده[1] خو

---

[1]]عن عمرو ابن دينار سمع طاؤساً يقول: سمعت ابن عباس رضى الله عنهما يقول: اما الذى نهى عنه النبى صلى الله عليه وسلم فهو الطعام ان يباع حتى يقبض قال ابن عباس رضى الله عنهما: ولا احسب كل شيء الا مثله وعن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ابتاع طعاماً فلا يبيعه حتى يستوفيه. وزاد اسماعيل: من ابتاع طعاماً فلا يبيعه حتى يقبضه. . . . . الخ. (صحيح بخاري/١/٢٨٦). (عن حكيم ابن حزام رضي الله عنه قال: يارسول الله! يأتى الرجل فيريد منى البيع ماليس عندى فابتاع له من السوق، فقال: لا تبع ماليس عندک. . . . . . الخ. (ترمذي/١/٢٣٣). وعن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول ا لله صلى الله عليه وسلم: لايحل سلف. . . . ولا يبيع ماليس عندک. (ابوداؤد/٢/١٣٩). (بطل بيع ماليس بمال. . . . . . وبيع ماليس فى ملكه لبطلان بيع المعدوم وماله خطر العدم) قال الشامي: (قوله لبطلان) اذا من شرط المعقود عليه ان يكون موجوداً مالاً متقوماً مملوكا فى نفسه وان يكون ملک البائع فيما يبيعه لنفسه وان يكون مقدور التسليم.(الشامي/٥/ ٥٨، النتف فى الفتاوي/٢٩٠). (ومن اشترى شيئاً مما ينقل ويحول لم يجز بيعه حتى يقبضه) لأنه نهى عن بيع ما لم يقبض، ولأن فيه غرر انفساخ العقد على اعتبار الهلاک. (هداية/٣/٧٧/ كتاب البيوع/باب المرابحة والتولية/طبع مكتبه شركت علميه ملتان/الجوهرة النيرة....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

زيد د نورو خلکو سره دبيع وعده کولی شي چې کله مال قبضې ته راشي. نودهغه وخت دقيمت مطابق دې په هغوی باندې خرڅ کړي

۲: لومړی سودا فاسدده، له دې وجې په دويم ځل مال قبضه کې راتلونه وروسته سوداکول پکاردی[۱]، که چيرته غلطي سره مخکې سودا جاري وساتله. نوګناه به وي.خو قيمت به هماغه وي کوم چې مخکې مقرر شوی دی.[۲]

۳ ټول کاروبارونه ناجائزدي. سوداګانې منسوخې کول پکاردي[۳]. مال د زيدقبضې ته راتلونه وروسته بياقيمت مقررکولونه وروسته خرڅول پکاردي

۴: ذخيره کول په اسلام کې ناجائزدي، غيرانساني کاردی، حديث کې دي. کوم کس چې غله د دې له پاره ساتي چې قيمت يې زيات شي. چې خرڅ به يې کړم. نوهغه ګناهګاردی. ملعون دی. دالله تعالی دذمه داري نه هغه کس بهردی، که ټول مال د الله په لار کې خرچه کړي. نو دهغه ګناه نه ختميږي، حديث شريف دقحط اوغيرقحط دواړوله پاره دی،خو دقحط په زمانه کې ذخيره کول نورهم بدترکاردی، ځکه چې ذخيره کولوسره غريبانانوته تکليف رسيږي.[۴]

...بقيه د تيرمخ] /۱/ ۲۱۲/كتاب البيوع/ باب المرابحة/طبع متجبائى دهلى)۔

[۱]]ويجب على كل واحد منها فسخه قبل القبض اى فسخ البيع الفاسد او بعد ما دام المبيع بحال فى يد المشترى اعداماً للفساد لانه معصية فيجب رفعها. (ردالمحتار/۵/ ۹۰، ۹۱، باب البيع الفاسد). ايضاً: ولكل منهما فسخه يعنى على كل واحد منهما فسخه، لان رفع الفساد واجب عليهما. (تبيين الحقائق/ ۴/۲۰۲ ،/باب البيع الفاسد)۔

[۲]] واذا قبض المشترى المبيع فى البيع الفاسد باذن البائع وفى العقد عوضان كل واحد منهما مال ملك المبيع ولزمته قيمته يعنى اذا كان العوض مما له قيمة. (الجوهرة النيرة ج۱ ص۲۰۷، باب البيع الفاسد، طبع دهلى)۔

[۳]] قال الحنفية: لايجوز التصرف فى المبيع المنقول قبل القبض، لان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن بيع مالم يقبض والنهى يوجب الفساد المنهى عنه ولان بيع فيه غرر الانفساخ بهلاك المعقود عليه اى انه يحتمل الهلاك فلا يدرى المشترى هل يبقى المبيع او يهلك قبل القبض، فيبطل البيع الاول وينفسخ الثانى، وقد نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيع فيه غرر، (الفقه الاسلامى وادلته ج۴ ص۴۷۴، بيع الشئ المملوك قبل قبضه من مالك آخر). ايضاً ولكل منهما فسخه يعنى على كل واحد منهما فسخه، لانه رفع الفساد واجب عليهما. (تبيين الحقائق ج۴ ص۴۰۲، باب البيع الفاسد)۔

[۴]] عن عمر رضي الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: الجالب مرزوق والمحتكر ملعون. (مشكوٰة/۲۵۱/ باب الاحتكار). وعن ان ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من احتكر طعاماً اربعين يوماً يريد الغلاء فقد برئ من الله وبرئ الله منه. (مشكوٰة/ ۲۵۱). وقال ابن نجيم رحمه الله: (واحتكار قوت الأدمين) يعنى يكره الاحتكار فى بلد يضر بأهلها لقوله عليه السلام الجالب مرزوق والمحتكر ملعون. ولأنه تعلق به حق العامة وفى الامتناع عن البيع ابطال حقهم وتضيق الامر عليهم فيكره. (البحرالرائق /۸/ ۲۲۹/فصل فى البيع، طبع دارالمعرفة بيروت)۔

د جاز رارسیدو نه مخکې مال خرڅول څنګه دي؟

سوال: یوې ډلې له بهرنه مال راوغوښت. دهغه دبهرنه راتلوکې وخت لګیږي. صورت د دې داوي چې دهغه ځای نه کوم مال په جازکې راځي، دهغه اطلاع دلته ډلې ته وشي، چې فلانکی میاشت کې. په فلانکي جازکې ستاسومال درروان دی د مختلفو وجوهاتوله وجې هغه کله وختي اوکله ناوخته راورسیږي، خودلته راغوښتونکې ډلې دجازیه نوم باندې مال له مخکې نه خرڅ کړي چې فلانکي جازکې فلانکی مال راروان دی. دهغه سودا کیږي. نوشرعي طورباندې دا سوداکیږي اوکه نه؟ او ددې اخیستل اوخرڅول جائزدي اوکه نه؟

جواب: دامسئله دبینک په حیثیت باندې ده، که بینک داخیستونکي په حیثیت باندې وکیل دی اود بینک یونماینده بهرملک کې مال خپله قبضه کې واخلي اوبیا یې راولیږي، نو د وکیل قبضه پخپله دمؤکل قبضه ده. له دې وجې دمال رارسیدونه مخکې دهغه خرڅول جائزدي[1] اوکه چیرته بینک دا اخیستونکي وکیل نه دی. نودهغه مال دقبضې نه مخکې خرڅول جائزنه دي.[2]

قبضې نه مخکې مال خرڅول جائزنه دي

سوال: زما کار وبار دسوت دی مادکارخانې یا بیوپاري نه څه مال واخیست. مال موجود دی، خو ماداخیستو قیمت اوسه پورې نه دی اداکړی اونه مې مال وصول کړی دی، اوس هغه مال زه په چا باندې خرڅ کړم اوبیاوروسته داخیستلواوخرڅولوقیمت په خپلوکې لین دین وشي. اکثرداسې چې زه په چاباندې مال خرڅ کړم اودهغه نه قیمت واخلم اوبیاکارخانې یابیوپاري ته یې ورکړم، له چانه چې ما اخیستي وي. دې کاروبارکې ماته ګټه اوتاوان دواړه وي. ایا زما دا کاروبارصحیح دی اوکه نه؟

---

[1] وقال فى الهداية: لان يده كيد المؤكل فاذا لم يحبسه يصير المؤكل قابضاً بيده. (هداية/۳/ ۱۸۳/ كتاب الوكالة). ايضاً: فيسلم المبيع ويقبض الثمن ويطالب بالثمن اذا اشترى ويقبض المبيع ويخاصم فى العيب لأن كل ذالک من الحقوق والملک يثبت للمؤكل خلافة عنه اعتباراً للتوكيل السابق كالعبد ينهب ويصطاد ومعنى قولهم خلافة عنه أى يثبت الملک اولاً للوكيل ولا يسقر بل ينتقل الى المؤكل ساعته. (الجوهرة النيرة/ ۱/۳۰۱/كتاب الوكالة)۔

[2] عن ابن عباس رضى الله عنهما يقول: اما الذى نهى عنه النبى صلى الله عليه وسلم: فهو الطعام ان يباع حتى يقبض، قال ابن عباس رضى الله عنهما: ولا احسب كل شيء الا مثله. وعن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ابتاع طعاماً فلا يبيعه حتى يستوفيه وزاد اسماعيل: من ابتاع طعاماً فلا يبيعه حتى يقبضه. . . . . . الخ. (صحيح البخاري/ ۱/ ۲۸۶). (وعن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يحل سلف. . . . . ولا بيع ما ليس عندک. (ابوداؤد/۲/۱۳۹)۔

جواب: چونکې تر اوسه مال باندې قبضه نه ده شوې، له دې وجې دهغه خرڅول صحيح نه دي.[1]

دچا په وينا په نغدو په سل روپۍ اخيستل او په قرض په يوسل لس باندې خرڅول

سوال: ځينې خلک دا وايي چې ماته فلانکی شی په نغدو باندې واخله او په قرض باندې يې راکړه يعنې هغه د اول نه په اخيستلو باندې پابند دی اوس زه هغه مال په نغدو پيسو باندې اخلم مثلاً: د (۱۰۰) روپيو او بيايې هغه سړي ته په (۱۱۰) روپۍ باندې ورکوم، همدارنګه د اخيستلو نه مخکې مال خرڅول دا صحيح دي؟

جواب: مال د اخيستلو نه مخکې نه شی خرڅولئ، بلکې ددې سړي سره د خرڅولو وعده کولی شئ، لهذا ته دا مال اخلې او د نوې وعدې سره يې خرڅوې او هغه سړی پابند نه دی چې لازما دې هغه د ستا نه دا مال واخلي.

له ليدو پرته مال اخيستل او له قبضې نه مخکې خرڅول

سوال: زموږ په زمانه کې به مال داخيستلواوخرڅولوپه وخت کې موجودنه و، بلکې په نوم يا مارکه باندې به خرڅيده، ايا داجائزدي اوکه نه؟ يادمال موجودکيدل ضروري دي؟ اخيستونکی مال واخلي اوله هغه نه وروسته قبضه ته راتلونه يې مخکې دهغه خرڅول شروع کړي، شرعي طور باندې ددې څه جوازدی.

جواب: ليدونه پرته مال اخيستل جائزدي، که دکتلونه وروسته دمعيارمطابق نه وي، نواخيستونکي ته د سودا ختمولواختيارحاصل دی، خوچې کوم شي باندې يې قبضه نه وي شوي، دهغه خرڅول جائزنه دي، قبضې کې راتلونه وروسته دخرڅولواجازه شته.[2]

---

[1] (عن عمرو ابن دينار رحمه الله سمع طاؤساً رحمه الله يقول: سمعت ابن عباس رضى الله عنهما يقول: اما الذى نهى عنه النبى صلى الله عليه وسلم فهو الطعام ان يباع حتى يقبض، قال ابن عباس رضى الله عنهما: ولا احسب كل شيء الا مثلهٔ، وعن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ابتاع طعاماً فلا يبعه حتى يستوفيه. وزاد اسماعيل: من ابتاع طعاماً فلايبيعه حتى يقبضه. . . . . . الخ. (صحيح بخاري/۱/۲۸۶).
ايضاً: (ومن اشتريٰ شيئاً مما ينقل و يحول لم يجز بيعه حتى يقبضه). (الجوهرة النيرة/۱/۲۱۲/ كتاب البيوع/باب المرابحة والتولية/طبع بمبئى)۔

[2] وقال فى الهداية: ومن اشترى شيئاً لم يراه فالبيع جائز وله الخيار اذا رآه ان شاء اخذه بجميع الثمن وان شاء ردہ. (هداية آخرين/۳/ ۳۵)۔

دیوشی اخیستلو نه مخکې بل چا سره د هغه سودا کول

سوال: زید له بکرنه مال وغوښت، خو هغه مال بکرسره نه شته، عمرو سره دی. د بکر عمرو سره تعلقات ښه دي، ځکه چې دبکرعمروسره تقریبا هروخت کاروباروي، له دې وجې عمرو، بکر سره خاص رعایت کوي، بازارکې قیمت زیات وي، خودعمروله پاره رعایت وي. بکر دعمرونه په کم قیمت باندې مال واخلي اودبازار په نرخ یې زیدباندې خرڅولی شي اوکه نه؟ دې کې داخبره دیاد ساتلو ده چې بکرته هغه وخت کې دهغه مال ضرورت نه وي اوهغه سره مال هم نه شته، چې زید یې دهغه نه غواړي اوبکر، عمروسره بیاوروسته معامله کوي، ددې نه مخکې هغه زیدسره سودا کړې وي، دې امیدباندې چې عمروسره مال شته اودهغه نه به په کم قیمت راته ملاوشي، نودامعامله دشریعت په نزدباندې څنګه ده؟

جواب: کوم شی چې له بکرسره موجودنه دی، دهغه بیع څنګه کولی شي؟ له دې وجې بیع صحیح نه ده[۱]، خو دبیع وعده کولی شي چې داشی به درته زه په دومره قیمت درکړم.

❖ ذخیره کول ❖

....

ذخیره کول شرعي طورباندې څنګه دي؟

سوال: کله ناکله داسې کیږي چې یوه کمپنۍ خپل مال مارکیټ کې ډیر زیات خپورکړي اوکاروباري خلکوته په کې ډیره فایدې ورکولو سره خپل مال خرڅوي، داسې موقعې نه فایدې اخیستوسره کاروباري خلک هغه مال جمع کړي اوکله چې څه وخت وروسته دغه مال مارکیټ کې کم شي، نوکاروباري خلک هغه مال په زیات قیمت باندې خرڅوي اوډیره ګټه پرې حاصلوي، ایا داسې ګټه کول جائزدي اوکه نه؟

جواب: داسې ذخیره کول چې هغې کې خلکوته تکلیف اوپریشاني وي، حرام دي[۲] حدیث

---

[۱] (عن ابن عباس رضی الله عنهما يقول: اما الذى نهى عنه النبى صلى الله عليه وسلم فهو الطعام ان يباع حتى يقبض، قال ابن عباس رضى الله عنهما: ولا احسب كل شيء الا مثله، . وعن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من ابتاع طعاماً فلا يبيعه حتى يستو فيه وزاد اسماعيل رحمه الله من ابتاع طعاماً فلا يبيعه حتى يقبضه. . . . الخ. (صحيح بخاري/۱/ ۲۸۶)۔

[۲] وفى المحيط: الاحتكار على وجوه احدها حرام وهو ان يشترى في المصر طعاماً ويمنع عن بيعه عند الحاجة اليه. (بحر الرائق/۸/ ۲۲۹/كتاب الكراهية/فصل فى البيع)۔

کې داسې ذخیره کونکي ته ملعون ویل شوي دي[۱] او که چیرې خلکو ته تکلیف او تنګي نه وي، نو ذخیره کول جائز دي[۲]، خو دغه کس د ګرانۍ انتظار کوي. له دې وجې دهغه دا کار د کراهت نه خالي نه دی.[۳]

د کومې ذخیرې کولو له وجې چې خلکو ته تکلیف وي هغه بد کار دی

سوال: د ذخیره کولو څه حکم دی؟

جواب: د ذخیره کولو دیر صورتونه دي او د هر یو څانته حکم دی:

یو صورت: دا دی چې یو کس د خپلې ځمکې غله ذخیره کړي او هغه نه خرڅوي، دا جائز ده[۴] خو دې صورت کې د قحط او ګرانۍ انتظار کول ګناه ده[۵] او که خلک تکلیف کې مبتلا شي، نو هغه به د خپل ضرورت نه زیاته غله خرڅولو باندې مجبوره کول وي.[۶]

دویم صورت: دا دی چې یو کس غله واخیسته او ذخیره یې کړه او کله چې خلکو باندې قحط او د غلې کمی راشي، نو هغه یې بازار ته راوړي دا صورت حرام دی[۷].

---

[۱] عن عمر عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الجالب مرزوق والمحتکر ملعون. (مشکوٰة/۲۵۱). ایضاً: عن معمر قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من احتکر فهو خاطئ. رواه مسلم. وفی حاشیة المشکوٰة: قوله من احتکر الاحتکار المحرم هو فی الأقوات الخاصة بأن یشتری الطعام فی وقت الغلاء ولا یبیعه فی الحال بل یدخره لیغلوا فاما اذا جاء من قریة او اشتراه فی وقت الرخص وادخره وباعه فی وقت الغلاء فلیس باحتکار ولا تحریم فیه. (مشکوٰة/۲۵۰/ باب الاحتکار)۔

[۲] وکره احتکار قوت البشر والبهائم فی بلد یضر باهله لحدیث الجالب مرزوق والمحتکر ملعون، فان لم یضر لم یکره. (بحرالرائق/ ۸/۲۲۹، الدرالمختار/۶/۳۹۸/ کتاب الحظر والاباحة)۔

[۳] ایضاً۔

[۴] (لا غلة ضیعته وجلبه من بلد آخر) یعنی لا یکره احتکار غلة ارضه وما جلبه من بلد آخر لانه خالص حقه فلم یتعلق به حق العامة فلایکون احتکار الاتریٰ ان له ان لایزرع ولایجلب فکذا له ان لایبیع. . . . . . . الخ. (البحرالرائق/ ۲۲۹/فصل فی البیع/ کتاب الکراهیة/ طبع دارا لمعرفة/ بیروت)۔

[۵] ویقع التفاوت فی الماثم بین ان یتربص العسرة وبین ان یتربص القحط والعیاذ بالله. (البحرالرائق/۸/۲۲۹/ فصل فی البیع/کتاب الکراهیة، طبع دارالمعرفة/ بیروت)۔

[۶] ویجب ان یأمر القاضی ببیع ما فضل عن قوت اهله فان لم یبع عزره وباع القاضی علیه طعامه وفاقاً. (درمختار/۶/۳۹۹)۔

[۷] وفی المحیط: الاحتکار علی وجوه احدهما حرام وهو ان یشتری فی المصر طعاماً ویمتنع عن بیعه عند الحاجة الیه. (البحرالرائق/۸/ ۲۲۹). ایضاً: الاحتکار مکروه، وانه علی وجوه: احدها: ان یشتری طعاماً فی مصر او ما اشبه ویحبسه ویمتنع من بیعه، وذٰلک یضر بالناس فهو مکروه. .....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

حضور ﷺ داسې کس ملعون ګڼلی دی [۱]

دریم صورت دادی چې بازارکې هغه جنس ډیرزیات دی او خلکوته تکلیف اوپریشاني نه شته، داسې صورت کې ذخیره کول جائزدي، خودګراني په انتظارکې غله ذخیره کول دکراهت نه خالي نه دي [۲]

څلورم صورت دادی چې دانسانانویادځارویو دخوراک ذخیره نه کوي، بلکې دنورو شیانو ذخیره کوي چې دهغې له وجې خلکو ته تکلیف رسیږي، داهم ناجائزدي [۳]

کمپنۍ نه په کم قیمت شربتونه اخیستلو سره جمع کول او بیا اصل قیمت باندې خرڅول

سوال: کال کې یوځل دشربتونوکمپنۍ ددوکاندارانوله پاره دا اسکیم(پروګرام) وړاندې کوي که چیرې هغوی په مقررشویو ورځوکې شربتونه اخلي، نوهغوی ته به رعایت باندې ورکول کیږي دوکاندار ډیر مقدارکې شربتونه واخلي اوجمع یې کړي، داسکیم ختمیدونه وروسته هم هغه زاړه قیمتونه شي، دغه شان دوکاندارته ډیره ګټه ملاویږي، خواخستونکي پرې اضافي قیمت نه ورکوي، دغه شان دوکاندارانوته جمع کول جائزدي اوکه نه؟ او ددې ګټه جائزده اوکه نه؟اوددې اسکیم له وجې اخیستونکوته څه تکلیف نه وي.

جواب: که دشي کمی نه پیداکیږي اواخیستونکوته څه تکلیف نه وي، نوکم قیمت باندې زیات مال اخیستل څه جرم نه دی. [۴]

...بقيه د تيرمخ] (المحيط البرهاني في الفقه النعماني/٨/ ٢٦٦/ كتاب البيوع/فصل في الاحتكار/طبع مكتبه غفاريه كونته)۔

[۱] عن عمر رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: الجالب مرزوق والمحتكر ملعون. (مشكوٰة/ ٢٥١)۔

[۲] قال: ويكره الاحتكار والتلقي في الموضع الذي يضر ذلك باهله، ولا نرىٰ بأساً في موضع لا يضر ذلك باهله، وذالك لما روى عن النبي صلى الله عليه وسلم في النهي عن الحكرة وعن تلقي الركبان، و هٰذا محمول على حال يضر فيها ذالك باهله، واذا لم يضر باهله فلا حق لاحد فيه ولا يكره لما روى عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال: دعوا الناس يرزق الله بعضهم من بعض، فاباح الربح في ذالك، والبيع بما يريد من الثمن اذا لم يضر باهل البلد. (شرح مختصر الطحاوي/٨/ ٥٤٦/ كتاب الكراهية)۔

[۳] وقال ابو يوسف رحمه الله: كل ما يضر العامة فهو احتكار بالاقوات كان او ثياباً او دراهم او دنانير اعتبار الحقيقة الضرر لانه هو المؤثر في الكراهة. (البحرالرائق/٨/٢٢٩/ فصل في البيع/ طبع دارالمعرفة بيروت)۔

[۴] (وكره احتكار قوت البشر والبهائم في بلد يضرّ باهله لحديث الجالب مرزوق والمحتكر ملعون، فان لم يضر لم يكره. (بحرالرائق/٨/ ٢٢٩، كتاب الكراهية، فصل في البيع طبع دارالمعرفة، بيروت). قال: ويكره الاحتكار والتلقي في الموضع الذي يضر ذالك باهله، ولا نرىٰ بأساً في موضع....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

غله ذخیره کول شرعاً څنګه دي؟

سوال: ددې له پاره غله ذخیره کول چې کله ددې قیمت زیات شي، نو خرڅوم به يې او په داسې وخت کې ذخیره کول چې کله هغه جنس په بازار کې په اساني سره پیداکیږي، یعنې په بازار کې کم نه وي، یوازې ددې د قیمت د زیاتوالي له پاره دا سې وشي؟

جواب: که چیرته بازار کې دشي کموالی نه وي، نو جائز دي.

د خوراک څښاک شیان او کیمیکل ذخیره کول

سوال: دخوراک څښاک ددوایانواوپه ټیکسټائل کې استعمالیدونکي کیمیکل د اول نه راوغوښتل شي او د سیزن د شروع کیدو په وخت يې قیمت زیاتیږي، دغه وخت دا په مارکیټ کې خرڅیږي، واضحه دې وي چې دا رنګه د کیمیکلو په سټاک کولو او منع کولوسره په مارکیټ کې کمښت پیدا کیږي او د سیزن د نه کیدو له وجې يې قیمت راغورځیږي او غوښتل يې هم کمیږي، له دې وجې دکاربار خلک په دې ورځوکې دا کیمیکل په کم قیمت باندې راوغواړي او سټاک کوي يې او د قیمت د زیاتیدو سره يې په سیزن کې غوښتلوپه زیاتیدو باندې خرڅوي، د منافع په خاطر دا رنګه د کیمیکل ذخیره کول اود سیزن په وخت خرڅول او منافع حاصلول حلال دي اوکه نه؟

جواب: جائزدي په دې شرط چې په بازارکې ددې شیانو کمښت نه وي، که چرې په بازار کې کمښت وي او خلک ددې له وجې پریشان وي، نو بیا دې ذخیره په منظر عام باندې راویستل ضروري دي.

...بقیه د تیرمخ] لا يضر ذلک باهله، وذالک لما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم فی النهی عن الحکرة وعن تلقی الرکبان، وهٰذا محمول علی حال یضر فیها ذالک بأهله، و اذا لم یضر باهله فلا حق فیه ولا یکره، لما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال: دعو الناس یرزق الله بعضهم من بعض، فأباح الربح فی ذالک. (شرح مختصر الطحاوي/۸/۵٤٦/کتاب الکراهیة)۔

❖ بیعانه ❖

....

د بیعانه پیسې واپس کول ضروري دي

سوال: مادخپل خوږ دوست حاجي عبدالصمدصاحب دوکان کې یو مشین دخرڅولوله پاره کیښود، څلورسوه روپۍ قیمت یې مقررکړ، حاجي صاحب ته مې دخرڅولو له وجې دمناسبو پیسو ورکولو وعده هم ورکړه، هغه نه لس ورځې وروسته یواخیستونکي په مقررشوي قیمت باندې واخیست، خو داسې چې شل روپۍ یې دبیعانې په طورباندې کیښودې او څلور ورځو کې دقیمت اداکولو او مال وړلووعده یې وکړه، لس ورځې وروسته راغی، دغه دوران کې دوعدې څلورورځې تیریدوله وجې مشین بل کس اخیستی و.

تاسومهرباني وکړئ چې دقران اوسنت په رڼاکې موږ ته دا ووایئ چې دبیعانې شل روپۍ واپس کول دي اوکه نه؟ اوحاجي صاحب دمشین خرڅولوقیمت (چې هغه ته عام طورباندې دلالي یاکمیشن ویل کیږي) دشریعت په نزدباندې څوفیصده جوړیږي ؟

جواب: دبیعانې پیسې ورکول ضروري دي[1] اوحاجي صاحب ته پیسې ورکول مخکې مقرر کول پکار و، په هرحال اوس هم په خوشالي باندې څه مقررکړئ.[2]

---

[1] عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن بيع العربان. (اعلاء السنن/١٤/ ١٦٦/كتاب البيوع/باب النهى عن بيع العربان، طبع ادارة القرآن). نهى عن العربان، ان يقدم اليه شيء من الثمن فان اشتري حسب من الثمن والا فهو له مجانا وفيه معنى الميسر. (حجة الله البالغة، مبحث البيوع المنهى عنها/٢/٣٢٢/ طبع آرام باغ كراچى). ايضاً: ومن هٰذا الباب بيع العربان فجمهور علماء الأمصار على انه غير جائز. . . . . . وصورته ان يشترى الرجل شيئًا فيدفع المبتاع من ثمن ذٰلك المبيع شيئًا على انه ان نفذ البيع بينهما كان ذٰلک المدفوع من ثمن السلعة، وان لم ينفذ ترک المشترى بذٰلک الجزء من الثمن عند البائع، ولم يطالبه به وانما صار الجمهور الى منعه، لانه من باب الغرر والمخاطرة وأكل مال بغير عوض. (بداية المجتهد لابن رُشد/٢/١٢٢/ الباب الرابع فى بيوع الشروط والثنيا/طبع المكتبة العلمية لاهور/ پاکستان)۔

[2] وقال فى الدر المختار: تفسد الاجارة بالشروط المخالفة لمقتضى العقد فكل ما أفسد البيع مما مر (يفسدها) كجهالة مأجور او اجرة أو مدة او عمل. قال الشامي: (قوله او مدة) قال فى البزازية اجارة السمسار والمنادى والحمامي والصكاك وما لا يقدرفيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة ويطيب الأجر المأخوذ لو قدر اجر المثل. (شامي/٦/ ٤٧/ باب اجارة الفاسدة/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

د دوکان بیعانه ځان سره ساتل جائز نه دي

سوال: ما یو دوکان په کرایه باندې ورکولو له پاره یو کس عبدالجبار سره معاهده وکړه او د بیعانې په ډول مې ترې زر روپۍ واخیستلې، اوس د عبدالجبار سره معاهده ختمه شوې ده او ما دوکان بل چاته ورکړی دی، ما چې د عبدالجبار نه کومې زر روپۍ د بیعانې په ډول اخیستې وې، هغه واپس کړم که له ځان سره یې وساتم؟

جواب: هغه زر روپۍ به تاسو په څه حیثیت باندې ځان سره ږدئ؟ او تاسو له پاره به هغه څنګه حلالې وي؟ یعنې د هغو پیسو واپس کول ضروري دي. [1]

د کور ایډوانس (پیشګي) واپس اخیستل

سوال: عبدالستار د یو کور سودا عبدالمجیب سره وکړه، سودا وشوه، عبدالستار ایډوانس پنځویش زره روپۍ کور والاته ورکړې او په میاشت کې د ننه د ننه قبضه اخیستل مقرر ل شو.
له هغه نه وروسته د عبدالستار مالي حالت خرابیدو له وجې مقرر شوي وخت کې د کور قبضه وانه خیستل شوه، اوس عبدالستار دا غواړي چې دا ایډوانس پیسې یعنې پنځویش زره روپۍ هغه ته واپس شي، عبدالمجیب دا ایډوانس پیسې واپس کولو کې اخوا دیخوا کوي، د شریعت مطابق راته ووایئ چې عبدالمجیب د ایډوانس پیسې خوړلی شي او که نه؟ نن سبا داسې معاملې ډیرو خلکو سره کیږي.

جواب: کومې پیسې چې ایډوانس اخیستل شوي دي، د عبدالمجیب له پاره حلالې نه دي، هغه ورته واپس کول پکار دي. [2]

د بیعانې پیسو باندې څه وکړو کله چې مالک واپس را نه شي؟

سوال: زید سره د اوسپنې یوه کارخانه ده، چې هغه کې د خلکو په فرمائش باندې مختلف شیان تیاریږي او فرمائش کونکي خلک څه پیسې هم ایډوانس (پیشګی) ورکوي او مال تیاریدو باندې مکمل قیمت اداکوي او مال یوسي، خو هغې کې ځینې خلک داسې هم دي چې د مال له پاره ارډر او ایډوانس ورکړي، خو بیا واپس رانه شي، نه د مال اخیستو او نه د پیسو

---

[1] بیع العربان (وصورته ان یشتری الرجل شیئًا فیدفع الی المبتاع من ثمن ذالک المبیع شیئًا علی انه ان نفذ البیع بینهما کان ذالک المدفوع من ثمن السلعة وان لم ینفذ ترک المشتری بذالک الجزء من الثمن عند البائع ولم یطالبه به وانما صار الجمهور الی منعه لأنه من باب الغرر والمخاطرة واکل مالٍ بغیر عوض. (بدایة المجتهد/۲/ ۱۲۲/ الباب الرابع/ فی بیوع الشروط والثنیا/طبع المکتبة العلمیة لاهور)۔

[2] ایضاً پورتنۍ حواله۔

له پاره اونه دکارخانې مالک ته دهغوی پته معلومه وي، له دې وجې دهغوی کورته دتلوصورت هم نه شته، نودکارخانې مالک غواړي چې کومې پیسې هغه سره دې طریقه باندې جمع شوي دي، دشریعت په نزدباندې دهغې استعمال څنګه پکاردی؟ نوددې پیسوداستعمال راته شرعي طریقه بیان کړئ چې موصوف دخپلې ذمه داري نه خلاص شي.

جواب: که دمالک دراتلوامیدنه وي اودهغه پته هم معلومه نه وي، نو دهغه له طرف نه داپیسې صدقه کړئ، بیاکه چرته مالک راشي او دخپلو پیسومطالبه وکړي، نوهغه ته به ورکول واجب وي اودغه صدقه به دکارخانه دارله طرف نه ګڼل کیږي. [۱]

که چرته مالک معلوم نه وي، نو د بیعانې له روپیو سره څه وکړو؟

سوال: زموږ یوه کارخانه ده چې په هغه کې مختلف شیان تیاریږي، د لرې او نژدې تاجران د خپل ضرورت شیانو اړډر ورکوي څه روپۍ دبیعانې په ډول ورکوي، کله چې مال تیار شي، نو پوره ادایګي وکړي او خپل مال یوسي، کله کله داسې هم کیږي اړډر ورکونکی موږ ذاتي ډول باندې نه پیژنو هغه سړی بیعانه راکړي او لاړشي، دده مال تیار شي، مګر هغه د مال د راوړلوله پاره نه راځي، نه دبیعانې دپیسوله پاره واپس راځي، زموږ سره دده پته هم نه وي موږ انتظار کوو، څه وخت بعدډده سامان خو موږ خرڅ کړو، خودبیعانې له روپیو سره څه وکړو؟ ایا په څه فلاحي اداري یامسجدیامدرسې کې یې جمع کړو؟ ایاپه دې طریقې سره به زموږ غاړه خلاصه شي؟

جواب: که چیرته د مالک د راتلو توقع نه وي او نه دده پته معلومه وي، نو دده له طرف نه دې دا رقم یو مستحق ته صدقه کړل شي بیا که چیرته مالک راشي او د خپلو روپیو مطالبه وکړي، نو ده ته به ورکول واجب وي او دا صدقه به د ستاسو له طرف نه شمیرل کیږي. [۲]

---

[۱] قال فی الدر: ان علم ان صاحبها لا یطلبها او انها تفسد ان بقیت کالأطعمة والثمار کانت امانة. . . . . . فینتفع الرافع بها لو فقیراً والا تصدق بها علی فقیر.....فان جاء مالکها بعد التصدق خیر بین اجازة فعله ولو بعد هلاکها وله ثوابها او تضمینه. (درمختار/باب اللقطة/٤/٢٧٨ تا ٢٨٠، هدایة/٢/٦١٥/ کتاب اللقطة)۔

[۲] فان جاء صاحبها والا تصدق بها ایصالاً للحق الی المستحق وهو واجب بقدر الامکان. . . . . فان جاء صاحبها یعنی بعد ما تصدق بها فهو بالخیار، ان شاء امضی الصدقة وله ثوابها. . . . . وان شاء ضمن الملتقط. (هدایة/٢/٨٦١٥/ کتاب اللقطة).

که څوک د مکان بیعانه ورکړي او سودا پرېږدي نو څه حکم يې دی؟

سوال: زما يو نږدې دوست يو مکان د خرڅولو له پاره بيعانه واخيسته. خو ددې نه وروسته خريدار د سودا نه وورسته شو، په دې صورت کې د دې معاهدې او خريد او فروخت په حوالې سره کيښودل شوي بيعانې په باره کې څه حکم دی؟

جواب: مسئله داده چې که چيرې د معاهدې نه وروسته مشتري (اخيستونکی) دا شی نه ورې، نو د خرڅونکي له پاره بيعانه حلاله نه ده، ده ته دې واپس کړي او زموږ په علاقه کې بيعانه (ايډوانس) د نيولو چې کوم رواج دی دا غلط دی او که چرې قانون هم د داسې رواج تايد کوي، نو د شريعت په نظر کې دا قانون هم غلط دی.[1]

سودا فسخه کول او د بيعانې دوچند جرمانه وصولول

سوال: تاسو يو ځل ليکلي و چې په سودا کې د بيعانې د روپۍ دسودا په ختميدو باندې دوچند اخيستل جائز نه دي، کوم سړی چې معاهده ما ته کړي او وعده خلافي کوي، د سودا منظور کولو نه وروسته ختمول، مخالف فريق سخت ذهني تکليف او مالي پريشاني کې مبتلا کوي، له ده څخه د جرمانې په ډول دوچند رقم اخيستل ولې جائز نه دي؟ وعده خلافي (معاهده ماتول) مسلمان ورور په تکليف کې مبتلا کونکي کس ته زورنه او نصيحت څنګه وي؟ هغه به دا رنګه د هر چاسره زياتی کوي؟

جواب: مسئله داده چې که چيرته سودا وشي، نو د طرفينو په روپيو او شي باندې د قبضې کولو نه وروسته په دويم ځل سودا کول صحيح دي، خو که سودا يې فسخه کړه، نو په ده باندې جرمانه لګول جائز نه دي، کوم فريق ته چې پريشاني وي هغه دې سودا نه فسخه کوي.[2]

....

---

[1] (نهى عن العربان ان يقدم اليه بشيء من الثمن فان اشترىٰ هسب من الثمن والا فهو مجاناً وفيه معنى الميسر. (حجة الله البالغة/ ٢/ ٣٢٢/ مبحث البيوع المنهى عنها/ طبع بيروت).

[2] لا يجوز لأحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعى. (فتاوىٰ شامي/٤/٦١). ايضاً: بيع العربان. . . . . . و انما صارالجمهور الى منعه لانه من باب الغرر والمخاطرة وأكل مال بغير عوض. (بداية المجتهد/ ٢/ ١٢٢/ الباب الرابع فى بيوع الشرط والثنيا/ طبع دار الكتب العلمية/لاهور).

❖ د حصو (ونډو) كاروبار ❖

....

د حصو (ونډو) د كاروبار شرعي حيثيت

سوال: د حصصو (ونډو) د كاروبار لاندې صورتونه دي:

الف يوكس د كمپنۍ څه حصې (ونډې) واخيستلې او څه وخت وروسته يې هغه په خپل نوم كړې او بيا يې خرڅې كړې، هغه باندې چې كومه ګټه يا تاوان وي هغه حلال دى او كه حرام؟

ب يوكس د كمپنۍ څه حصې (ونډې) واخلي او ځان سره يې وساتي، دې باندې چې هغه كمپنۍ كومه ګټه يا بونس وركوي هغه حلال دى او كه حرام؟

ج حصې (ونډې) مستقل ډول باندې ځان سره ساتلو له وجې چې د هغو قيمت كې كومه اضافه والى راځي هغه حلال دى او كه حرام؟

جواب: د حصو (ونډو) حقيقت دا دى چې ديوې كمپنۍ قيمت مثلاً: لس لكه روپۍ ده، د هغې څه حصې خومالكان ځان سره وساتي او څه حصو كې ځان سره نور خلك شريك كړي مثلاً: لس لكو كې ديولك حصې (ونډې) هغوى خپل ځان سره وساتي او د نهولكو حصې (ونډې) يې عام كړي، كوم خلك چې هغه حصې (ونډې) واخلي هغوى د خپلو حصو مطابق د هغې كمپنۍ په ملكيت كې شريك شي او كوم خلك چې خپلې حصې خرڅې كړي هغوى خپل ملكيت نورو خلكو ته وركړي، له دې وجې د حصو اخيستل او خرڅول جائز دي[1]، خو په دې شرط باندې چې د كمپنۍ كاروبار صحيح وي[2] او د غو حصو ملاويدونكې ګټه جائز ده، په دې شرط چې

---

[1] اما شركة العنان فتنعقد على الوكالة دون الكفالة، وهى ان تشترك اثنان فى نوع بر أو طعام، او يشتر كان فى عموم التجارات. (هداية/۲/۶۲۹/ كتاب الشركة). وفى الفتاوىٰ الهندية/۲/۳۱۹/الباب الثالث فى شركة العنان: اما شركة العنان، فهى ان يشترك اثنان فى نوع من التجارات بر او طعام او يشتر كان فى عموم التجارات، ولا يذكر ان الكفالة خاصة، وصورتها ان يشترک اثنان فى نوع خاص من التجارات او يشتر كان فى عموم التجارات. تفصيل دپاره اوګورئ : امداد الفتاوي/ كتاب الشركة/ القصص السنى فى حكم حصص كمپني/ ۴۸۶ تا ۵۱۲/ طبع مكتبه دارالعلوم/كراچى، امداد الاحكام/۳/۴۶۲)۔

[2] يعنى حرام كار كونكې كمپنى نه وى، مثلاً سود، جوارئ باندې قائمه انشورنس كمپنى نه وى، د شراب وغيره تجارت نه كوى. ان يكون التصرف مباحاً شرعاً فلا يجوز التوكيل فى فعل محرم شرعاً كالغصب او الاعتداء على الغير.(الفقه الاسلامى وادلته/۴/ ۱۵۴/ باب الوكالة). لان ما ثبت للوكيل ينتقل الى الموكل، فصار كانه باشر بنفسه فلا يجوز(هداية/۳/۵۹/ باب البيع الفاسد/ طبع مكتبه شركت علميه لاهور)

هغوی ټولو ګټه په حصو باندې تقسیموي [۱] والله اعلم

دحصو(ونډو) د اخیستلو او خرڅولو شرعي حکم

سوال: زه د کمپنۍ حصې(ونډې) اخلم او خرڅوم. چې هغه کې د ګټې اوتاوان دواړو ویره وي او د کال په ختمیدو باندې کمپنۍ هغو کسانو ته څه ګټه هم ورکوي چاچې د هغوی حصې(ونډې) اخیستې وي، هغوی ته ډیویډنډ ویل کیږي، ایا دا کاروبار او ګټه جائز ده؟

جواب: د کمپنۍ مثال داسې دی چې یو څو کسان په شریکه باندې دوکان خلاص کړي. یا کارخانه ولګوي، هغه کې به هر یو کس هغه دوکان یا کارخانه کې د خپلې حصې(ونډې) مطابق شریک وي او د خپلې حصې د ګټې حقداربه وي او هغوی کې به هر یو کس ته د خپلې حصې بل چا باندې د خرڅولو اختیار هم وي هم دغه حیثیت د کمپنۍ د حصې هم وګڼئ. له دې وجې د حصو (ونډو) اخیستل او خرڅول جائز دي [۲]، خو دې له پاره شرط دادی چې د کمپنۍ کاروبار جائز او حلال وي، ناجائز او حرام نه وي، د کومې کمپنۍ کاروبار چې ناجائز وي، د هغې حصې (ونډې) اخیستل به هم ناجائز وي، مثلا د بینکونو کار په سود باندې وي، نو د بینک حصې (ونډې) اخیستل حرام دي. [۳]

د کومو کمپنو حصې(ونډې) اخیستل جائز دي؟

سوال: نن سبا کاروباري ادارې د ډیرې سرمایه کارې کولو له پاره یا نوې ادارې د خپل کاروبار شروع کولو له پاره خلکو باندې حصې(ونډې) خرڅوي، د دغې حصې عام طور باندې قیمت تقریبا لس روپۍ فی حصه وي، دې له پاره د بینکونو په ذریعه باندې باقاعده درخواستونه غوښتل کیږي او ډیر درخواستونه ملاویدو باندې د قرعه اندازۍ په ذریعه باندې حصې ورکول کیږي، قرعه اندازۍ کې د ملاویدو په وخت کې د هغې قیمت لس روپۍ فی حصه وي، خو ستاک مارکیټ کې د هغې کمپنۍ مشهورتیا زیاتیږي او کله کمیږي، یعنې کله حصه

---

[۱] وان یکون الربح معلوم القدر، فان کان مجهولاً تفسد الشرکة، وان یکون الربح جزء اً شائعاً فی الجملة لا معینًا فان عینا عشرة او مائة او نحو ذٰلک کانت الشرکة فاسدة. (فتاویٰ عالمگیري/۲/۳۰۲/ کتاب الشرکة/ طبع رشیدیه). قال: ولا یجوز الشرکة اذا شرط لاحدهما دراهم مسماة من الربح لأنه شرط یوجب انقطاع الشرکة فعساه لا یخرج الا قدر المسمی لاحدهما ونظیره فی المزارعة. (هدایة/۲/ ۶۳۲/ کتاب الشرکة)۔

[۲] اما شرکة العنان فتنعقد علی الوکالة دون الکفالة، وهی ان تشترک اثنان فی نوع بر اوطعام، او یشتر کان فی عموم التجارة. (هدایة/۲/۶۲۹/ کتاب الشرکة، ایضاً: الهندیة/ ۲/ ۳۱۹/ الباب الثالث فی شرکة العنان)۔

[۳] ان یکون التصرف مباحًا شرعًا فلا یجوز التوکیل فی فعل محرم شرعاً کالغصب او الاعتیاد علی الغیر. (الفقه الاسلامی وادلته/ ۴/ ۱۵۴/باب الوکالة/طبع دارالفکر/ بیروت). ایضاً: لان مایثبت للوکیل ینتقل الی المؤکل فصار کانه باشره بنفسه فلا یجوز.(هدایة/ ۳/ ۵۹/ باب البیع الفاسد/ طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان)

(ونډه) نهه روپۍ او کله اته روپۍ باندې خرڅيږي او که هغه يو د خاص وخت يعنې شپږ مياشتو له پاره ځان سره وساتل شي، نو کمپنۍ دګټې اعلان کوي، چې هغه يو خاص فيصد باندې هرچاته، دچا سره چې سل حصې (ونډې) وي او که څاسره زرحصې وي هغه حساب سره ورکوي، مسئله داده چې داسې طريقه باندې حصه اخيستل جائزدي او که نه؟

۲ که چرې واخيستل شي، نو ايا دګټې يا تاوان په بنياد باندې دهغو خرڅول صحيح دي او که نه؟

۳ دغه حصې (ونډې) دې نيت سره ساتل چې دې باندې به ګټه ملاويږي صحيح دي او که نه؟

۴ ګټه اخيستل صحيح دي او که نه؟

جواب: دحصو (ونډو) حقيقت په کمپنۍ کې شراکت حاصلول دي چاچې څومره حصې واخيستې، دهغوټولوپيسوپه نسبت باندې دهغومره حصو (ونډو) مالک او کمپنۍ کې شريک شو اوس که کمپنۍ ميل، کارخانه، فيکټري او داسې نور... لګول، نودا کس په هغه کې هغومره حصه وشوه او هغه کس ته دخپلې حصې خرڅولو اختيار حاصل دی، نودحصو (ونډو) اخيستل او خرڅول جائزدي[1]، خو دلته درې شيان بايدپه پام کې ونيول شي:

۱ ترڅوچې کمپنۍ څه ميل يا کارخانه نه وي لګولې، هغه وخت پورې دحصې (ونډې) حيثيت دنغدو پيسو دی، او لس روپۍ په نهه يا يوولس روپۍ باندې خرڅول جائزنه دي، داخالص سوددی.[2]

۲ عام طورباندې داسې کمپنۍ سودي کاروبارکوي او هغه ګناه ده اودې ګناه کې به تاسوهم برابر شريک يئ.[3]

۳ دکمپنۍ شراکت هغه وخت کې جائزدی کله چې دهغه معاملات صحيح وي، که دکمپنۍ څه معامله دشريعت خلاف وي او ونډه لرونکو ته دهغه پته وي، نوحصه لرونکي به ګناهګاروي اودغه کمپنۍ کې به شرکت کول هم جائزنه وي.[4]

---

[1] اما شركة العنان فتنعقد على الوكالة دون الكفالة، وهي ان تشرك اثنان في نوع بر او طعام، او يشتركان في عموم التجارة. (هداية/٢/ ٦٢٩/ كتاب الشركة، فتاوىٰ هندية/٢/٣١٩/ الباب الثالث شركة العنان)۔

[2] قال الله تعالى: "احل الله البيع وحرم الربوا" والمعنىٰ ان الله تعالى حرم الزيادة في القرض على القدر المدفوع والزيادة في البيع لاحد البدلين على الآخر. (تفسير مظهري/٢/٣٩٩/ طبع مكتبه اشاعت العلوم/دهلى)۔

[3] عن عبدالله بن حنظلة غسيل الملائكة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: درهم ربا يأكله الرجل وهو يعلم اشد من ستة وثلاثين زنية. (مشكوٰة/١/ ٢٤٥/باب الربا). عن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال: وهم سواء. رواه مسلم. (مشكوٰة/١/ ٢٤٤/باب الربا)

[4] ايضاً پورتنئ حاشيه۔

د این آئي ټي حصې(ونډې) اخیستل جائز نه دي

سوال: نیشنل انوسټمنټ ټرسټ (این آئي ټي) دپاکستان دحکومت اداره ده. دا اداره دمیلونو نه حصې اخلي اومیلونه دبینک، نه په سود باندې قرضې اخلي. دحصونه چې کومه ګټه حاصلیږي هغو اخیستونکوکې دهغوی دحصو (ونډو) مطابق ددې ادارې له طرف نه تقسیمیږي، ایا داین آئي ټي نه حصې(ونډې) اخیستل جائزدي اوکه نه؟

جواب: چې میلونه دبینک نه قرضه اخلي اوسودورکوي، نوداګټه جائزنه ده[1] له دې وجې داین آئي ټي حصې(ونډې) جائزنه دي.

داین آئي ټي یونټ دګټې شرعي حیثیت

سوال: زما سره داین آئي ټي (N. I. T) څه یونټي دي، په دې باندې چې کومه ګټه لاس ته راځي، هغه څه سودي او څه د غیر سودي ذرائعو نه حاصلیږي، زه غیر سودي والاذرائع منافع په استعمال کې راولم او سودي ذرائع والا منافع ځانته کوم، تاسو نه پوښتنه داده چې ایا زما دا عمل صحیح دی؟

جواب: دستا دا عمل صحیح دی.

سوال: د سودي ذرائعو ګټه په کومو کومو کارونو کې خرچ کولی شم؟

جواب: داین آئي ټي چې کومه امدني صحیح نه وي، هغه یومحتاج ته د ثواب له نیت پرته ورکولی شئ. [۲]

د حصه لرونکو کمپنیوګټه شرعي ډول با ندې څنګه ده

سوال: نن سباچې کومې کمپنۍ دي، خلک هغوکې پیسې جمع کوي، هره کمپنۍ درې میاشتې وروسته کمه یازیاته ګټه ورکوي اوڅه کمپنۍ هره میاشت تاګل شوې ګټه ورکوي، اوس پوښتنه داده چې دځینې یتیمانواوعامو خلکودامدني هم دایوه ذریعه وي او موږ چې کوم ځای کې هم لوستلي دي چې مقررشوې ګټه سود دی او دویم حلال دی، تاسوموږ ته ددې

---

[1] قال الله تعالي: ''احل الله البيع وحرم الربوا'' والمعنٰى ان الله تعالى حرم الزيادة فى القرض على القدر المدفوع والزيادة فى البيع لاحد البدلين على الآخر. (تفسير مظهري/٣٩٩/٢/ طبع مكتبه اشاعت العلوم/دهلی)۔

[2] لان سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (درمختار، باب الربا/٣٨٦/٥/طبع سعيد). ايضاً: ويتصدق بلا نية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/١١٥/ طبع صدف پبلشرز كراچى).

حالاتو مطابق داسې اسلامي طريقه وښيئ چې ټول خلک ډېره ګټه حاصله کړي او هغه سود هم نه وي، دا موهم اوريدلي دي چې موږ پخپله متعين ته د ضرورت مطابق پيسې ورکوو او هغوی په خوشالي باندې ټاکل شوې ګټه راکوي، نو ايا دا سود نه دی؟

جواب: کمپنی چې خپلو حصه لرونکو ته کومه ګټه ورکوي، د هغې د حلال کيدو دوه شرطونه دي: يو دا چې د کمپنی کاروبار د شرعي اصولو مطابق وي جائز او حلال وي[1] که د کمپنی کاروبار شرعي ډول باندې جائز نه وي، نو د هغه ګټه به هم حلال نه وي[2]، دويم شرط دا دی چې هغه کمپنی د حساب کولو نه وروسته ګټه تقسيموي، که د اصل پيسو د فيصدي په حساب باندې ګټه مقرره وي، نو دا جائز نه ده، بلکې سود دی.[3]

د کمپنی حصې (ونډې) د وصولولو نه مخکې خرڅول

سوال: موږ خلک د حصو (ونډو) د وصولولو نه مخکې خرڅوو، ايا دا جائز دي؟

جواب: که چيرته کمپنی حصې (ونډې) د ستا په نوم کړي وي، نو خرڅولی يې شئ، که نه، نه.[4] او د شيئرز ډليوري د مفهوم نه موږ خبر نه يو. والله اعلم!

---

[1] قال الله تعالى: "كلوا مما فى الارض حلالاً طيباً". (البقرة: ١٢٨). وعن عبدالله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: طلب كسب الحلال فريضة بعد الفريضة. (مشكوٰة/١/٢٤٢/باب الكسب وطلب الحلال)۔

[2] اذا بطل الشيء بطل ما فى ضمنه. المادة: ٥٢ (شرح المجلة لسليم رستم باز/٤١). ايضاً: ما حرم فعله حرم طلبه. (قواعد الفقه/١١٠). ايضاً: ان يكون التصرف مباحاً شرعاً فلا يجوز التوكيل فى فعل محرم شرعاً كالغصب او الاعتياد على الغير. (الفقه الاسلامى وادلته/٤/١٥٤/ باب الوكالة)۔

[3] وان يكون الربح معلوم القدر فان كان مجهولاً تفسد الشركة، وان يكون الربح جزء شائعاً فى الجملة لامعيناً، فان عينا عشرة او مأة او نحو ذلك كانت الشركة فاسدة. (فتاوىٰ عالمگيري/٢/ ٣٠٢/ كتاب الشركة، الباب الاول)۔

[4] اومن اشتريٰ شيئًا مما ينقل ويحول لم يجز له بيعه حتى يقبضه. . . . . الخ. (الجوهرة النيرة/باب المرابحة والتولية/١/ ٢١٢). ايضاً: وان يكون مملوكاً فى نفسه وان يكون ملك البائع فيما يبيعه لنفسه. (عالمگيري/٣/٢/كتاب البيوع/الباب الاول فى تعريف سلبيع/طبع رشيديه).

❖ د مضاربت يعنې شراکت مسئلې ❖

....

د شراکتي کمپنيو شرعي حيثيت

سوال: نن سباچې کوم کاروبارشروع دی، يعنې کمپنۍ ته د شراکت له پاره پيسې ورکړې اوهره مياشت ګټه اخلي، دې باره کې څه ارشاد دی؟يوخوپه ګټه اوتاوان کې شرکت وي اودويم مقرروي، مثلاً پنځه فيصده.

جواب: دې باره کې يوڅوخاص اصول ذکرکول غواړم، چې داپه جزئياتو باندې پخپله برابرکړه

١ په يوې کمپنۍ کې سرمايه جمع کول اودهغې نه ګټه اخيستل دوه شرطونوسره حلال دي يوداچې هغه کمپنۍ دشريعت د اصولو مطابق جائزکاروبارکوي، نودکومې کمپنۍ کاروبارچې دشريعت مطابق جائزنه وي دهغې نه حاصليدونکې ګټه به هم جائزنه وي.[١]

٢ دويم داچې هغه کمپنۍ دشراکت داصولومطابق دحاصلې شوې ګټې پوره پوره حساب وکړي اوحصه لرونکو باندې يې تقسيم کړي، نوکومه کمپنۍ چې دحساب کولونه پرته يوازې اندازې باندې ګټه تقسيموي، هغې کې شرکت کول جائزنه دي، دغه شان کومه کمپنۍ چې اصل پيسوپه حساب باندې مقرروي مثلا داصل پيسوپنځه فيصده، داسې کمپنۍ کې هم پيسې لګول جائزنه دي، ځکه چې دا سوددی[٢]، اوس تاسوتحقيق وکړئ چې کومه کمپنۍ جائزکاروبارکوي اودشراکت داصولومطابق ګټه تقسيموي.

---

[١] ''يا ايها الناس کلوا مما فی الارض حلالاً طيبا'' (البقرة: ١٢٨). ايضاً: ان يکون التصرف مباحاً شرعاً فلا يجوز التوکيل فی فعل محرم شرعاً کالغصب او الاعتياد علی الغير. (الفقه الاسلامی وادلته/١٥٤/٤/باب الوکالة). ايضاً: لان مايثبت للوکيل ينتقل الی المؤکل فصار کأنه باشره بنفسه فلا يجوز. (هداية/٥٩/٣/ باب البيع الفاسد)۔

[٢] اومن شرطها (ای المضاربة) ان يکون الربح بينهما مشاعاً بحيث لا يستحق احدهما من دراهم مسماة. . . . . . الخ. (الجوهرة النيرة/٢٧٥/١، ٣٧٦/طبع حقانيه ملتان، هداية/٢٥٦/٣/ باب المضاربة، طبع ملتان). ولا تجوز المضاربة علی ان لأحدهما دراهم معلومة، وذلک لان هذا يخرجها عن باب الشرکة بجواز لايربح الا هٰذا القدر، ولا يشارکه الآخر فيه، ومتی خرجت عن باب الشرکة، صارت اجارة، والاجارة لا تجوز الا باجر معلوم. . . . . الخ. (شرح مختصر الطحاوي/٣٦٧/٣، ٣٦٨/ کتاب المضاربة/طبع دارالسراج/بيروت)۔

د سودي کاروبار کمپنۍ کې شرکت کول جائز نه دي

سوال: موږ تیرکال په چراټ سیمنټ کمپنۍ کې څه پیسې لګولې وې او د نورو لګولو اراده مو شته، خود کمپنۍ سالانه رپوټ له وجې څه شکونه پیداشول. هسې نه چې زموږګټه سودشي. له دې وجې د دې سوالونوجوابونه راکړئ!

الف کمپنۍ د مشترکه پیسونه څه پیسې دبیمې له پاره ورکوي، نوکمپنۍ بیمه شوې ده

ب کمپنۍ څه پیسې دسودپه طورباندې هغه بینکونوته ورکوي دکومونه یې چې قرضه اخیستې ده.

ج کمپنۍ ته څه پیسې دسودپه ذریعه باندې حاصلیږي.

د حصه لورنکی چې کله خپله حصه(ونډه) په نوروخلکوباندې دګټې په صورت کې خرڅوي، مثلاً دلس روپیو حصه وه، اوس یې پنځلس باندې خرڅه کړه، دې باره کې څه حکم دی؟ خدای دې نه کړي که چیرته ذکرشوې خبرې دشریعت خلاف وي، نوحصې(ونډې) به کمپنۍ ته واپس کول ښه وي اوکه عامو خلکوباندې به یې خرڅول ښه وي؟

جواب: کومه کمپنۍ چې دسود کاروبارکوي، هغې کې شرکت کول صحیح نه دي[۱]، ځکه چې دې سودي کاروبارکې دشرکت له وجې به حصه لرونکي هم ګناه کې شریک وي،[۲] دکمپنۍ حصه په زیات قیمت باندې خرڅول جائزدي[۳]ستاسوخوښه ده که کمپنۍ ته یې واپس کوئ اوکه یې خرڅوئ.

د مضاربت د مال ګټه څنګه مقررول پکاردي

سوال: نن سباچې څنګه کاروباردی یعنې چې څومره پیسې په کاروبار کې لګیږي، هغومره به درته ګټه ملاویږي، حالانکې دشراکت بیع کې دادي چې تاوان اوګټه نیم نیم وي اودوکان

---

[۱] قال الله تعالي: وتعانو على البر والتقوى ولاتعانوا على الاثم والعدوان. (المائدة: ۲). وقال تعالي: "واحل الله البيع وحرم الربوا" (البقرة: ۲۷۵). وقال الله تعالي: يايها الذين آمنوا اتقوالله وذروا ما بقى من الربوا ان كنتم مؤمنين. فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله". (البقرة/۲۷۸، ۲۷۹)۔

[۲] وعن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء. رواه مسلم. (مشكوٰة/۱/ ۲۴۴/باب الربا). لان مايثبت للوكيل ينتقل الى المؤكل فصار كانه باشره بنفسه فلا يجوز. (هداية/۳/۵۹/باب البيع الفاسد/ طبع شركت علميه، ملتان)۔

[۳] المرابحة نقل ما ملكه بالعقد الاول بالثمن الاول مع زيادة ربح والتولية ما ملكه بالعقد الاول. . . . . . . والبيعان جائز ان لاستجماع شرائط الجواز، والحاجة ماسة الى هٰذا النوع من البيع . . . . الخ. (هداية/۳/۷۳/ باب المرابحة والتولية)۔

کې په زرګونو شیان وي اودهریوشی ځانته ځانته ګټه معلومول ډیرګران کاردی. ایا موږ دشریعت په نزد داویلی شو چې هره میاشت دخپلې امدنې په لحاظ باندې دخپلې ګټې اندازه وکړواوبیادهغې نه دنورو میاشتوله پاره ګټه مقررکړو.

جواب: مضاربت کې دهریوشي دګټې ځانته ځانته اندازه لګول ضروري نه دي. بلکې دټول مال، شپږ میاشتې، کال (یا څنګه چې مقررشي) حساب لږولو نه وروسته ګټه تقسیمول پکاردي، (کله چې ګټه کوي).[1]

که کاردیو کس وي اوروپۍ دبل ، نوایا دا مضاربت دی؟

سوال: زما د وچې میوې کاروبار دی، ماته یو څو کسانو د کاروبار له پاره روپۍ راکړې دي چې په هغو سره زه کاروبار کوم او ددې ګټه او نقصان نیم زما وي او نیم د نورو خلکو وي چې د چا روپۍ دي، کاروبار ټول زه کوم، یعنې محنت زه کوم او سرمایه د هغوی ده. اوس یو صاحب ماته وویل چې دا د مضاربت صورت کیدل پکار دي یا د شراکت؟ او دا صورت نه مضاربت دی او نه شراکت د ستاسو حضراتو نه د رهنمایي طلب ګار یم چې زه څنګه کاروبار کوم، ایا دا د شرعي قوانینو په طور باندې داسې کاروبار او تجارت جائز اوصحیح دی؟

جواب: کوم صورت چې تاسو لیکلی دی، یعنې روپۍ د یو یا د یوڅو کسانو او ته په دې کاروبار کوې دې صورت ته د مضاربت صورت وایي او دا جائزدی.[2] والله اعلم!

د هوټل د اخراجاتو او تنخاګانو د ادائیګي نه وروسته ګټه په نیمایي تقیسمول

سوال: ما د یو هوټل د جوړولو ارادا کړې ده په دې کار کې به یو کس شریکوم، ټول اخراجات به زما وي، د اخراجاتو او د تنخاګانو د اداء کولو نه وروسته به ګټه زموږ دواړو په مینځ کې په نیم په نیمه تقسیمیږي، ایا دا طریقه شرعا جائز ده؟

---

[1] فاذا ظهر الربح فهو شريكه بحصته من الربح. (خلاصة الفتاوي/٤/ ١٨٨/ كتاب المضاربة/الفصل الاول).
ايضاً: لو لم يظهر ربح لا شيء على المضارب. (البحرالرائق/٧/ ٢٧٠/ كتاب المضاربة)۔

[2] المضاربة. . . . . في الشرع عبارة عن عقد بين اثنين يكون من احدهما المال ومن الآخر التجارة فيه ويكون الربح بينهما. (الجوهرة النيرة/٢٩٢/كتاب المضاربة). ايضاً: هي شركة في الربح بمال من جانب وعمل من جانب فلو شرط كل الربح لاحدهما لا يكون مضاربة ويجوز التفاوت في الربح. . . . . . . الرابع ان يكون الربح بينهما شائعًا كالنصف والثلث لا سهمًا معينا يقطع الشركة كمائة درهم او مع النصف عشرة. (البحرالرائق /٧/٢٦٣، ٢٦٤/كتاب المضاربة/طبع دارالمعرفة/ بيروت).

جواب: کوم طریقه کار چې تاسو تجویز کړی دی هغه بلکل صحیح دی[1] په دې شرط چې هغه بل سړی چې کوم تاسو ددې کار له پاره تجویز کړی دی، هغه امانتدار وي او څه قسم خیانت نه کوي، زه دعا کوم چې الله تعالی په کې برکت واچوي

گټه اندازة بیانول او په تجارت کې شریک جوړول

سوال: زما سره په تجارت کې که یوسړی روپی لګول غواړي، نو زه ده ته په ګټه کې د برخې په باره کې اندازةً دومره روپی وایم چې په اوریدو سره یې هغه سړی فوري طور باندې اماده کیږي او زه داروپی واخلم او په کاروبار کې یې لګوم، تاسو ته درخواست دی چې د قرآن او د سنت په رڼا کې وضاحت وکړئ چې داسې روپی اخیستل او د ګټې تخمیني اندازه بیانول صحیح دي؟

جواب: له چانه روپی اخیستل او تجارت کول او په ګټه کې هغه شریک جوړول، ددې دوه صورته دي:

یو دا چې خبره وشي چې په تجارت کې چې څومره ګټه وي ددې دومره فیصده به دمال خاوند (رب المال) ته ملاویږي او دومره فیصده به کار والا ته، که چیرته خدای دې نه کړي نقصان وشي، نو دا به هم رب المال برداشت کوي، دا صورت خوجائز او صحیح دی [2] دویم صورت دادی چې په تجارت کې ګټه یا نقصان اوکه ګټه کمه وي یا زیاته، په هر صورت کې رب المال ته یوه مقرره اندازه ګټه ملاویږي، دا صورت جائز نه دی، له دې وجې چې که چیرته په تجارت کې د بل چا مال شامل کړي، نو د اول صورت مطابق معامله دې وکړي.[3]

---

[1] المضاربة. . . . . فى الشرع عبارة عن عقد بين اثنين يكون من احدهما المال ومن الآخر التجارة فيه ويكون الربح بينهما. . . . ومن شرطها ان يكون الربح بينهما مشاعاً. (الجوهرة النيرة/٢٩٢). هى عقد شركة فى الربح بمال من رجل وعمل من آخر وهى ايداع اولاً وتوكيل عنده عمله وشركة ان ربح وغصب ان خالف. (شرح الوقاية/٣/٢٥٨/كتاب المضاربة).

[2] ومن شرطها (اى المضاربة) ان يكون الربح بينهما مشاعاً بحيث لا يستحق احدهما منه دراهم مسماة. . . . . . الخ. (الجوهرة النيرة/ ١/٢٧٥، ٣٦٦/كتاب المضاربة). وماهلک من مال المضاربة فهو من الربح دون رأس المال. . . . فان زاد الهالک علي الربح فلا ضمان على المضارب لانه امين. (هداية/٣/٢٦٧). ايضاً: وفى الجلالية كل شرط يوجب جهالة فى الربح او يقطع الشركة فيه يفسد والا بطله الشرط كشرط الخسران علي المضارب. (الدرالمختار مع ردالمحتار/٥/٦٤٨/كتاب المضاربة).

[3] الربا هوالفضل المستحق لأحد المتعاقدين فى المعاوضة الخالى عن عوض شرط فيه. (هداية/٣/٨٠/ باب الربا، طبع شركت علميه/ملتان). وهو فى الشرع عبارة عن فضل مال لا يقابله عوض فى معاوضة مال بمال. (فتاوي عالمگيري/٣/١١٧/ كتاب البيوع/الباب التاسع/ وهٰكذا فى الدرالمختار/ ٥/١٦٨/ باب الربا).

شراکت کې مقررې پیسې د گټې یا تاوان له پاره مقررول سود دی

سوال: یوکس دلکونوپورې کاروبارکوي، زیدهغه ته لس زره روپۍ کاروبارکې دشرکت له پاره ورکوي اودهغه سره داخبره کوي چې دګټې په طورباندې به هغه زیدته زیات نه زیات پنځه سوه روپۍ میاشت کې ورکوي، نوره ټوله ګټه به ددوکاندار وي، دغه شان به نقصان کې هم دزیدبرخه زیات نه زیات پنځه سوه روپۍ میاشت وي، پاتې نقصان به دوکان داربرداشت کوي، ایا داسې معامله شرعي لحاظ سره جائزده؟ که جائزنه وي، نوبیاداکوم شکل ته اړول پکاردي چې داشرعي شي.

جواب: دامعامله خالص سوددی، پکاردادی چې دې لس زرورپیوکې څومره ګټه راځي دهغې یوه برخه مثلا نیمه یادریمه برخه زیدته ورکړل شي.[۱]

د شراکت کاروبارکې د ګټې یا تاوان د قرعه اندازې په ذریعه تعینول جوارې (قمار) ده

سوال: څه خلک په شراکت باندې کاروبارکوي اوټول یوشان پیسې لګوي اودامقررشي چې ګټه اوتاوان به هره میاشت په قرعه اندازي باندې کیږي، قرعه اندازي کې چې دچانوم راووت هغه به ګټې یاتاوان ذمه داروي، که هره میاشت دیوکس نوم نه راوځي، هغه ته به هیڅ اعتراض نه وي، ایا شریعت دداسې کاروباراجازه ورکوي. ؟

جواب: دا جواري (قمار) ده.[۲]

---

[۱] ومن شرطها ان یکون الربح بینهما مشاعاً لایستحق احدهما منه دراهم مسماة من الربح لان شرط ذلک یقطع الشرکة بینهما. (هدایة/۳/ ۲۵۶/ کتاب المضاربة). ویشترط ایضًا فی المضاربة ان یکون نصیب کل منهما من الربح معلوماً عند العقد. . . . . . ویشترط ایضاً ان یکون جزأ شائعاً کالنصف او الثلث. . . . . . . فلو شرط لاحدهما قدر معین کمأة مثلاً فسدت المضاربة. . . . الخ. (شرح المجلة/۷٤۷/ المادة: ۱٤۱۱/ طبع حبیبه کوئته)۔

[۲] انما الخمر والمیسر. . . . . الخ. وقال قوم من اهل العلم القمار کله من المیسر. . . . . وهو السهام التی یجیلونها فمن خرج سهمه استحق منه ما توجه علامة السهم فربما اخفق بعضهم حتی لا یحظی بشیء وینجح البعض فیحظی بالسهم الوافر، وحقیقته تملیک المال علی المخاطرة، وهو اصل فی بطلان عقود التملیکات الواقعة علی الاخطار کالهبات والصدقات وعقود البیاعات. . . . الخ. (احکام القرآن للجصاص/۲/۲٦۵/ سورة المائدة/طبع سهیل اکیدمی)۔

د شراکت په کاروبارکې شوی نقصان څنګه پوره کړو؟

سوال: دوه سړیو په خپلو کې د شراکت په بنیاد باندې تجارت کاوو او دهغه صورت دادی چې دیوسړي پیسې او دبل محنت و او خپلو کې د ګټې شرح مقرر کړې ده. کاروبارکې د نقصان په صورت کې نقصان څه ډول تقسیم شي؟

جواب: دې صورت ته مضاربت وایي[۱] مضاربت کې که چیرته نقصان وشي، نو راس المال (سرمایه) به شمیرل کیږي، دنقصان په صورت کې که دواړه فریقان دبیاله پاره دمعاملې ختمولو فیصله وکړي، نو د پیسو والا هغومره پیسې او دبل محنت لاړ[۲] او که چیرته دبیاله پاره معامله جاري ساتل غواړي، نوبیاراتلونکې ګټې نه به مخکې دراس المال نقصان پوره کیږي، دهغې نه وروسته چې کومه ګټه وي هغه به دواړه، دټاکل شوې شرحې مطابق تقسیم کړي

د چیلۍ ساتلو شراکت

سوال: محمداقبال عبدالرحیم ته یوه چیلۍ په نیم قیمت ورکړه. عبدالرحیم ته یې وویل چې زه به ددې نیم قیمت نه اخلم، ته یوازې دا وساته، داچیلۍ چې کوم بچې راوړي، هغې کې چې کوم بچی ښځه وي هغې کې به زه شریک یم اوپه نرانوکې به یې زما شرکت نه وي، د محمد ﷺ د شریعت مطابق دمحمداقبال او عبدالرحیم دا شراکت په کوم کې چې نرانوکې دبرخې نه اخیستو شرکت اینبی دی، صحیح دی؟

جواب: داشراکت بالکل غلط دی، لومړی خوداچې په شریکو کسانو کې یوباندې دچیلۍ د ساتلو ذمه داري ولې ده؟ بیا دا شرط چې دچیلۍ په ښځې بچوکې برخه اونرانوکې برخه به ولې نه وي؟[۳]

---

[۱] کتاب المضاربة.....هی شرعاً (عقد شرکة فی الربح بمال من جانب) رب المال (وعمل من جانب) المضارب (درمختار ج۵ ص۶۴۵ کتاب المضاربت طبع سعید وفی الهدایة، المضاربة عقد یقع علی الشرکة بمال من احد الجانبین، ومراده الشرکة فی الربح وهو یستحق بالمال من احد الجانبین والعمل من الجانب الآخر، ولا مضاربة بدونها. (هدایة/کتاب المضاربة/ ۲۵۵/۳/ طبع ملتان/وایضاً فی الفتاویٰ الهندیة/۲۸۵/٤/ کتاب المضاربة)۔

[۲] وما هلک من مال المضاربة یصرف الی الربح لانه تبع فان زاد الهالک علی الربح لم یضمن ولو فاسدة من عمله لانه امین وان قسم الربح وبقیت المضاربة ثم هلک المال او بعضه تراد الربح لیأخذ المالک رأس المال وما فضل بینهما وان نقص لم یضمن لما مر. (درمختار/۶۵۶/۵، هدایة/۲۶۶/۳). ایضاً: الضرر والخسار یعود فی کل حال علی رب المال واذا شرط کونه مشترکاً بینه وبین المضارب فلا یعتبر ذالک الشرط. (شرح المجلة/۷۵۷/ المادة: ۱۴۲۸، الفصل الثالث فی بیان احکام المضاربة)۔

[۳] الشرکة نوعان. . . . . . . وشرکة عقد، وهی ان یقول احدهما: شارکتک فی کذا ویقول الآخر: قبلت. . . . . وشرط جواز هٰذه الشرکات، کون المعقود علیه عقد الشرکة قابلاً....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

شراکتي کاروبار کې به نقصان څوک برداشت کوي؟

سوال: دوه کسان دشراکت په بنیاد دحصو (ونډو) کاروبار کوي، د یو د روپیو برخه (۲۲) فیصد ده، ددویم (۳۳) فیصد ده، د (۳۳) فیصد والا کار کوي او هغه وایي چې دنقصان په صورت کې به یوازې (۲۲) فیصد والا نقصان برداشت کوي (۳۳) فیصد والا به نقصان نه برداشت کوي، ایا دهغه دا شرط لګول شرعي طور باندې جائز دي؟

جواب: دکوم شریک په ذمه چې کار دی، په ګټه کې دهغه برخه زیاته ټاکل جائز دي. مثلاً د (۲۲) فیصد او (۳۳) فیصدوالا ګټه دې برابر وټاکل شي، خوکه چیرې نقصان وشي. نو د پیسو په لحاظ باندې دواړه به نقصان برداشت کوي، یوکس ته دنقصان نه دخلاصي ورکولو شرط صحیح نه دی.[1]

د مضاربت د پیسو کاروبار کې داستعمال نه پرته ګټه اخیستل

سوال: زماد دوست یو وړوکی کاروبار دی، ماهغه ته دشراکت له پاره څه پیسې ورکړې، څه وخت وروسته راته پته ولګیده چې هغه هغه پیسې په کاروبار کې نه دي لګولې، بلکې خپل ذاتي کارونو کې یې استعمال کړي دي، خوزه هغه دکاروباره په ګټه تاوان کې شریک ساتلی یم، ماته چې کومه ګټه ملاوشوه هغه حلال ده اوکه نه؟

جواب: چې هغه کاروبار کې پیسې لګولې نه دي، نوکاروبار کې ګټه او تاوان کې له کوم ځای نه راغلی چې هغې کې یې ته شریک کړی یې؟ که هغه ستاسو دپیسو په بدله کې همغومره پیسې کاروبار کې ولګولې اوتاسو یې ځان سره شریک کړئ اوبیا دهغه کاروبار نه چې کومه ګټه وشوه هغې کې دمقررشوې شرحې مطابق تاسو ته برخه درکوله، نوبیا دا ګټه حلاله ده[2]

...بقیه د تیرمخ] للوكالة كذا فى المحيط، وان يكون الربح معلوم القدر فان كان مجهولاً تفسد الشركة، وان يكون الربح جزأ شائعاً فى الجملة لا معيناً فان عينا عشرة او مأة او نحو ذٰلک كانت الشركة فاسدة. (فتاويٰ عالمگيري/كتاب الشركة/۲/۳۰۱، ۳۰۲/طبع رشيديه كوئته)۔

[1] كتاب المضاربة. . . . . . . وحكمها انواع لانها ايداع ابتداءً) وفى الشامية. . . . . وكذا فى شركة البزازية حيث قال: وان لأحدهما الف ولآخر الفان واشتركا واشترطا العمل على صاحب الالف والربح انصافاً جاز وكذا لو شرط الربح والوضيعة على قدر المال والعمل من احدهما بعينه جاز. . . . . والحاصل: ان المفهوم من كلامهم ان الأصل فى الربح ان يكون على قدر المال الا اذا كان لأحدهما عمل فيصح ان يكون ربحاً بمقابلة عمله. (الفتاويٰ الشامية/ ٥/٦٤٦/ كتاب المضارب). ايضاً: وان شرط الربح للعامل اكثر من رأس ماله جاز على الشرط ويكون المال الدافع عند العامل مضاربة. (فتاويٰ عالمگيري/۲/۳۲۰). والضيعة ابداً على قدر رؤس اموالها. (ايضاً الفصل الثانى فى شرط الربح والضيعة)۔

[2]]ولو قال على ان لرب المال نصفه او ثلثه ولم يبين للمضارب شيئاً ففى....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

اوکه چیرې هغه کاروبارکې هغومره پیسې نه دي لګولي، یاپیسې یې لګولې دي، خودګټې حساب سره یې تاسوته هغومره برخه نه درکوله، بلکې پیسوباندې یوخاص حدپورې ګټه تاسوته درکوله نوداسوددی [۱]

د مال په قیمت کې ګټه مخکې شاملول پکاردي

سوال: مسئله داده چې زه یودوکان دارته د دووزرو(۲۰۰۰) مال ورکوم، دغه دوکان دار ماته هره میاشت یاپنځلس ورځې وروسته (کله چې مال ختم شي) دمال دپیسونه پرته یونیم سل(۱۵۰)، دوه نیم سوه(۲۵۰) یادرې سوه(۳۰۰) روپۍ ګټه راکوي، یوه ورځ هغه ماته وویل چې ته مانه هره میاشت دوه سوه روپۍ ګټه اوخپلې پیسې اخله، ځکه چې هغه ته یونیم سل یادوه نیم سوه یادرې سوه روپۍ ورکولوکې فایده نه وه. زماشک دی چې دغه شان یومقررشوې ګټه اخیستل خو به سود نه وي اوداسې ګټه اخیستل زماله پاره جائزدي اوکه نه؟

جواب: ته چې مال باندې کومه ګټه اخلې هغه قیمت کې شاملوئ، مثلاً: ددوه زرو (۲۰۰۰)مال مو ورکړ، اوس چې هغه باندې تاسوڅومره ګټه غواړئ، هغومره ګټه په هغه دوه زرو روپیوکې شامله کړئ! اوورته وایئ چې ددومره پیسومال درکوم. [۲]

تجارت کې به ګټه اوتاوان دواړه وي

سوال: دشراکت په تجارت کې که چیرته یوکس دپیسوپه حیثیت باندې اوبل دکار په حیثت باندې شریکان وي،نوداسې شراکت جائزدی اوکه نه؟ که جائزوي، نوایا دواړه یوازې دشراکت

...بقیه د تیرمخ] الاستحسان تجوز ویکون للمضارب الباقی بعد نصیب رب المال هکذا فی المحیط. (عالمگیري/۴/ ۲۸۸). ایضاً: هی عقد شرکة فی الربح بمال من وجه وعمل من آخروهی ایداع اولاً وتوکیل عند عمله وشرکة ان ربح وغصب ان خالف(شرح الوقایة/۳/۲۵۸/ کتاب المضاربة)

[۱] قال فی المضاربة وشرطها امور سبعة. . . . . . . وکون الربح بینهما شائعاً فلو عین قدراً فسدت. (درمختار/۵/۶۴۵). الرابع: ان یکون الربح بینهما شائعاً کالنصف والثلث لا سهما معینا یقطع الشرکة کمائة درهم او مع النصف عشرة. الخامس: ان یکون نصیب کل منهما معلوماً فکل شرط یؤدی الی جهالة الربح فهی فاسدة وما لا فلا مثل ان یشترط ان تکون الوضیعة علی المضارب او علیهما فهی صحیحة وهو باطل. السادس: ان المشروط للمضارب مشروطاً من الربح حتی لو شرطا له شیئاً من رأس المال او منه ومن الربح فسدت. (البحرالرائق/۷ /۲۶۴/کتاب المضاربة)۔

[۲] قال المظهری تحت قوله تعالی: وحرم الربوا، طلب الزیادة بطریق التجارة غیر محرم فی الجملة قال الله تعالی: لیس علیکم جناح ان تبتغوا فضلاً من ربکم. (تفسیر مظهري/۱/۳۹۹). ایضاً: المرابحة نقل ما ملکه بالعقد الاول بالثمن الاول مع زیادة ربح والتولیة نقل ما ملکه بالعقد الاول بالثمن الاول من غیر زیادة والبیعان جائزان لاستجماع شرائط الجواز والحاجة ماسة الی هذا النوع من البیع.(هدایة/ ۳/۷۱/باب المرابحة والتولیة)

په ګټه کې په ټاکل شوې برخه کې شریکان دي او که نقصان کې به هم دواړه شریک وي؟

جواب: لومړی په دې باندې ځان پوه کړئ چې تاسو کومې معاملې ته د شراکت تجارت ویلی دی، فقه کې دې ته مضاربت ویل کیږي[1] او دامعامله جائزده[2] او د ګټې او تاوان تفصیل دادی، چې کارکونکي ته به تجارت کې یا ګټه وي او یا تاوان او یا به نه ګټه وي او نه تاوان. که ګټه وي، نو دغه ګټه به د ټاکل شویو برخو مطابق تقسیم کړي[3]، که نقصان وشو. نو دا نقصان به د اصلي پیسو (راس المال) نقصان ګڼل کیږي، کارکونکی به د دغه نقصان برخه نه اداکوي، مثلاً پنځوس زره روپۍ وې او تجارت کې نقصان وشو، نو دا به ګڼل کیږي، چې اوس پیسې څلویښت زره پاتې شوې، اوس که چیرته دواړه معامله ختمول غواړي، نو د پیسو مالک (رب المال) د کارکونکي (مضارب) نه پیسو کې د هیڅ شي مطالبه نه شي کولی، خو که وړاندې هم معامله جاري ساتل غواړي، نو بیا به چې کوم ګټه کیږي دهغې نه به اصل پیسې پوره کول وي او کله چې پیسې پوره پنځوس زره شي، نو اوس به چې کومې زیاتې پیسې وي، هغه به د ټاکل شوې برخې مطابق دواړه کسان خپلو کې تقسیم کړي.

او که چیرته د کارکونکي ته نه نقصان وشو، او نه ګټه، نو د کار کونکي محنت لاړ او د مال د مالک د مال ګټه لاړه. [4]

---

[1] کتاب المضاربة اما تفسيرها شرعاً فهى عبارة عن عقد على الشركة فى الربح بمال من احد الجانبين والعمل من جانب الآخر. (عالمگيري/٤/٢٨٥، كتاب المضاربة/درمختار/٥/٦٤٥، هداية/٣/ ٢٥٧)۔

[2] فالقياس انه لا يجوز لانه استئجار بأجر مجهول بل بأجر معدوم وبعمل مجهول لكنا تركنا القياس بالكتاب والسنة والاجماع، اما الكتاب الكريم فقوله عز شأنه: "وآخرون يضربون فى الأرض يبتغون من فضل الله" (المزمل) والمضارب يضرب فى الارض يبتغى من فضل الله عزوجل. وقوله سبحانه وتعالىٰ: "فاذا قضيت الصلوٰة فانتشروا فى الارض وابتغوا من فضل الله" (الجمعة) وقوله تعالي: "ليس علكم جناح ان تبتغوا فضلاً من ربكم" (البقرة). واما السنة فما رويٰ عن ابن عباس رضى الله عنهما انه قال: كان سيدنا العباس بن عبدالمطلب اذا دفع المال مضاربة اشترط على صاحبه ان لايسلک به بحرا ولا ينزل به وادياً ولا يشترى به دابة ذات كبد رطبة فان فعل ذلک ضمن فبلغ شرطه رسول الله صلى الله عليه وسلم فأجاز شرطه. واما الاجماع فانه رويٰ عن جماعة من الصحابة رضى الله عنهم انهم دفعوا مال اليتيم مضاربة منهم سيدنا عمر وسيدناعثمان وسيدنا على. . . . . . وسيدتنا عائشة رضى الله عنها وغيرهم ولم ينقل انه انكر عليهم من اقرانهم احد. (بدائع صنائع/٦/٧٩/ كتاب المضاربة)۔

[3] المضاربة. . . . . . . وفى الشرع عبارة عن عقد بين اثنين يكون من احدهما المال ومن الآخر التجارة فيه ويكون الربح بينهما. . . . . . . قال رحمه الله المضاربة عقد على الشركة من احد الشريكين وعمل من الآخر، مراده الشركة فى الربح. . . . ومن شرطها ان يكون الربح بينهما مشاعاً لا يستحق احدهما منه دراهم مسماة لان شرط ذلک يقطع الشركة. . . . . الخ. (الجوهرة النيرة/١/٣٥٠، ٣٥١/كتاب المضاربة). الربا هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعى مشروط لاحد المتعاقدين فى المعاوضة. (درمختار/٥/١٦٨/ باب الربا)۔

[4] وما هلک من مال المضاربة فهو من الربح دون رأس المال لأن الربح ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

دتجارت له پاره پیسې ورکول او تاکل شوې ګټه اخیستل

سوال: زیدته دتجارت له پاره دپیسوضرورت دی، هغه له بکرنه په دې شرط باندې پیسې اخلي چې زید به هره میاشت تاکل شوې پیسې بکرته ورکوي او هغو ته دګټې نوم ورکوي اوزید داکاریوازې ددې له پاره کوي چې هغه حساب کتاب ساتلوکې محفوظ پاتې شي، بس بکرته تاکل شوې پیسې ورکوي، دشریعت په نزدباندې داصورت څنګه دی؟

جواب: داکوم صورت چې تاسولیکلی دی داخوښکاره سود دی، جائز او صحیح صورت دادی چې زید، دبکرپه پیسوباندې کاروباروکړي، په هغه کې چې کومه ګټه وشوه هغه ګټه دې دتاکل شوې برخې مطابق تقسیم کړي، مثلاً: ددواړو برخې په ګټه کې برابرې وي، یا د یو برخه څلوېښت فیصده اودبل شپیته فیصده. [۱]

یو کاروبار له پاره روپۍ ورکول او ګټه اخیستل

سوال: زما مسئله داده چې د کورنیو اخراجاتو د زیاتیدو له وجې زموږ والد صاحب چې د کور یواځې کفیل دی دا فیصله یې کړې ده چې موږ خپل جمع شده روپۍ یو کاروباري سړي ته ورکړو چې دا هغه په کاروبار کې ولګوي او موږ ته هر کال ګټه راکوي، ما ددې خبرې مخالفت وکړ، څکه چې زما د ناچیز د معلوماتو مطابق دا سود دی، حالانکې زموږ د والد صاحب دا وینا ده چې دا روپۍ خو د واده له پاره نه شم ورکولی چې بیا یې ددې دوچنده کړي یا ددې نه زیات واخلم، بلکې کله چې یې وګټي، نو بیا به راکړي، دده وینا داده چې په نن دورکې چې کله څوک بل چاته روپۍ ورکولو ته هم تیار نه دي، نو چا ته څه ضرورت دی چې موږ ته ګټه راکړي؟ په خپله چې ده ته ګټه وشي، نو را به یې کړي، خو زه خپله خبره باندې اصرار کونکی یم، تاسو ته درخواست دی چې مهرباني وکړئ د دلائیلو سره ددې مسئلې حل راکړئ څکه چې زما والد صاحب پیسې کیښنودل غواړي.

...بقیه د تیرمخ] تابع وصرف الهلاک الی ماهو التابع اولی کما یصرف الهلاک الی العفو فی الزکاة فان زاد الهالک علی الربح فلا ضمان علی المضارب لانه امین وان کان یقتسمان الربح والمضاربة بحالها ثم هلک المال بعضه او کله ترادا الربح حتی یستوفی رب المال رأس المال واذا استوفی رأس المال فان فضل شیء کان بینهما لأنه ربح وان نقص فلا ضمان علی المضارب. (هدایة/ ۳/۲٦۷/ کتاب المضاربة، ایضاً: شامي/۵/۲٦٤، مطلب فی بیع المفضض والمزرکش وحکم علم الثوب)۔

[۱] الرابع: ان یکون الربح بینهما شائعاً کالنصف والثلث لا سهما معینا یقطع الشرکة کمائة درهم او مع النصف عشرة. (البحرالرائق/۷/۲٦٤/ کتاب المضاربة)۔

جواب: د ستا د والد صاحب دا تدبير عاقلانه دی چې روپۍ د يو سړي سره په کاروبار کې ولګوي خو د دې خبرې لحاظ ساتل پکار دي چې يو سړي ته د کاروبار له پاره د روپيو ورکولو دوه صورتونه دي

يو دا چې دده سره دا خبره پاکه شي چې هره مياشت، ياهر درې مياشتې. يا هر شپږمياشتې يا هر کال بعد دومره روپۍ به دګټې په ډول موږ ته راکوې، مثلاً يو لاک روپۍ دې ورکړې، نو دده سره دې دا خبره وکړه چې هغه به زر روپۍ هره مياشت ددې ګټه درکوي. دا صورت ناجائز دی، ځکه چې ددې مطلب دادی چې تا دولس فيصده سالانه سود باندې ده ته روپۍ ورکړې او سود حرام دی. [۱]

دويم صورت دادی چې چاته روپۍ په دې شرط باندې ورکړئ چې هغه به دا روپۍ په کاروبار کې لګوي او په دې سره به الله تعالى کومه ګټه چې درکړي دا به نيم په نيمه تقسيم کړل شي. که هغه زياته ګټه وي يا کمه، دا صورت صحيح دی، الغرض په روپيو باندې معلومه ګټه (فکسډ پرافټ) مقرر کول سود دی او له روپيو نه حاصليدونکې ګټې له پاره اندازه ټاکل صحيح دي، خپل والد صاحب ته ووايه چې هغه دويم صورت اختيار کړي،لومړی نه. [۲]

د پيسو لګونکي ته په ګټه کې برخه ټاکل جائزدي

سوال: زما يو دوست يو سړي ته کاروبارله پاره پيسې ورکړي دي، دهغو پيسونه چې هغه ته څومره ګټه ملاويږي، هغې کې څلورمه برخه هغه هره مياشت زما دوست ته راليږي، زه تاسونه داپوښتنه کول غواړم چې دا ګټه زما دوست له پاره جائزده او که نه؟اوهغه يوازې پيسې لګولې دي او دی دغه کارو بار کې هيڅ محنت نه کوي.

جواب: که هغه کس په دغو پيسو باندې څه جائزکاروبارکوي، نو ستاسو دوست له پاره هغه ګټه جائزده. [۳]

---

[۱] ومن شرطها ان يكون الربح بينهما مشاعاً لا يستحق احدهما منه دراهم مسماة لان شرط ذلک يقطع الشركة. . . . . قال فی شرحه اذا دفع الى رجل مالاً مضاربة على ان ما رزق الله فللمضارب مأة درهم فالمضاربة فاسدة. (الجوهرة/۲۹۲/کتاب المضاربة).

[۲] اذا دفع الرجل الى غيره الف درهم مضاربة على ان للمضارب نصف الربح او ثلثه ولم يتعرض لجانب رب المال، فالمضاربة جائزة، وللمضارب ما شرط له والباقی لرب المال. . . . . . . وهكذا لو قال رب المال للمضارب على رزق الله تعالى من الربح بيننا جاز ويكون الربح بينهما على السواء. (عالمگيري/ ۲۸۸/۴/ کتاب المضاربة).

[۳] اذا دفع الرجل الى غيره الف درهم مضاربة على ان للمضارب نصف الربح او ثلثه ولم يتعرض لجانب رب المال، فالمضاربة جائزة، وللمضارب ما شرط له والباقی لرب المال...الخ. (عالمگيري/۲۸۸/۴/ کتاب المضاربة)

د شراکت له پاره اخیستل شوې پیسې که ضائع شي، نو څه کول پکار دي؟

سوال: عرض دادی چې ماد کاروبارله پاره چانه څه پیسې اخیستې وې، چې هغه سړي ته به ځلورمه برخه ګټه ورکوم اودرې برخې به پخپله اخلم، یوه ورځ هغه اصل پیسې (سرمایه) زماله بنځې نه وسوځیدې، اوس تاسوته خواست دی چې ماته دا ووایئ چې هغه سړي ته خپلې اصل پیسې یادهغه ګټه یعنې ځلورمه برخه هم واپس کړم؟ کومه به چې ماهغه ته هره میاشت ورکوله، مهرباني وکړئ چې ددې سوال جواب راته راکړئ.

جواب: لومړی تاسواصل پیسې وګټئ اوهغه پوره کړئ، له هغه نه وروسته چې کومه ګټه راځي هغه دتاکل شوې اندازې مطابق تقسیم کړئ.[1]

❖کور، ځمکه، دوکان او نور شیان په کرایه ورکول❖

....

ځمکه په کرونده باندې ورکول

سوال: دځمکې په کروندې ورکولو خلاف چې کوم شرعي دلیلونه راغلي دي، هغوکې یودلیل داهم دی چې دامعامله دسود په شان ده، ځنګه چې دسودپه کاروبارکې پیسې ورکونکی کس پرته له څه محنت نه یوه خاصه برخه اخلي اونقصان کې شریک نه وي، همدغه دول کروندې له پاره ځمکه ورکونکی هم پرته له څه بدني محنت نه یوه تاکل شوې برخه (نیمه یادریمه برخه) اخلي اونقصان سره دهغه هیڅ اړیکه نه وي، له دې وجې دامعامله په سودکې داخله ده، په کرونده کې دمالک ځمکه بالکل محفوظه وي اوچې کله غواړي دکروندګر نه ځمکه اخیستی شي، ځمکې باندې د کروندې له وجې دهغې په قیمت، اوصلاحیت کې هیڅ کمی نه راځي، دکوم قباحت له وجې سودناجائزدی، همدغه قباحت په کرونده باندې ځمکه ورکولو کې هم دی، پورته بیان شوي دلیلونه زماپه خیال کورپه کرایه باندې ورکولوکې هم

---

[1] وما هلک من مال المضاربة فهو من الربح دون رأس المال لان الربح تابع وصرف الهلاک الی ما هو التابع اولی فان زاد الهالک علی الربح فلا ضمان علی المضارب لأنه امین وان کان یقتسمان الربح والمضاربة بحالها ثم هلک المال بعضه اوکله تراد الربح حتی یستوفی رب المال رأس المال واذا استوفی راس المال فان فضل شیء کان بینهما لانه ربح وان نقص فلا ضمان علی المضارب. (هدایة/ ۳/ ۲٦٦/کتاب المضاربة، ودر مختار/ ٥/٦٥٦/ کتاب المضاربة)۔

صحيح دي، ځکه چې د کور مالک پرته له څه محنت نه تا کل شوې کرايه اخلي او ملکيت يې هم محفوظ وي

جواب: ځمکه تيکه باندې ورکول او کور په کرايه باندې ورکول د ټولو امامانو په نزد باندې جائزدي[1]، ځمکه په کرونده باندې ورکولو کې اختلاف دی، خوفتوا دې باندې ده چې ځمکه په کرونده باندې ورکول جائزدي داسودباندې قياس کول غلط دي، خو مضاربت باندې يې قياس کول صحيح دي[2]، او مضاربت جائزدی. [3]

مزارعت جائزدی

سوال: اسلام کې مزارعت جائزدی او که نه؟ د ترمذي، ابن ماجه، نسايي، ابوداود، مسلم او بخاري د مختلف احاديثو نه معلومېږي چې حضور ﷺ مزارعت ته د سود کاروبار ويلی دی، مثلاً د رافع ابن خديج ﷺ زوی د خپل پلار نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ موږ د داسې کار نه منع کړي يوچې هغه زموږ له پاره ګټور و. خو دالله تعالی او د هغه د رسول ﷺ اطاعت زموږ له پاره زيات فايده مند دی (ابوداود)

يو ځل حضور ﷺ ديو پټي خواکې تيرېده، حضور ﷺ پوښتنه وکړه دا د چا پټی دی؟ عرض وشو، زما پټی دی، تخم او عمل زما دی او ځمکه د بل چا ده، نو حضور ﷺ وفرمايل چې تا د سود معامله کړې ده. (ابوداؤد)

---

[1] تصح اجارة حانوت ای دکان ودار. . . . . . . وتصح اجارة ارض للزراعة مع بيان ما يزرع فيها. . . . . الخ. (درمختار/٦/٢٧ تا ٢٩/ باب ما يجوز من الاجارة وما يكون خلافاً فيها. (ايضاً هداية/٣/ ٢٩٧/باب ما يجوز من الاجارة وما يكون خلافا فيها، عالمگيري/٤/٤٣٩/كتاب الاجارة/الباب الخامس عشر)۔

[2] هی عقد على الزرع ببعض الخارج. . . . . ولا تصح عند الامام لانها كقفيز الطحان وعندهما تصح وبه يفتى للحاجة، وقياساً على المضاربة. . . . . . الخ. (درمختار/٦/٢٧٤، ٢٧٥/كتاب المزارعة/ عالمگيري/٥/٢٣٥)۔

[3] فالقياس انه لا يجوز لانه استئجار بأجر مجهول بل باجر معدوم وبعمل مجهول لكنا تركنا القياس بالكتاب والسنة والاجماع، اما الكتاب الكريم فقوله عز شانه وآخرون يضربون فى الارض يبتغون من فضل الله والمضارب يضرب فى الأرض يبتغى من فضل الله عزوجل. واما السنة فما روى عن ابن عباس رضى الله عنهما انه قال: كان سيدنا عباس بن عبدالمطلب اذا دفع المال مضاربة اشترط على صاحبه ان لا يسلك به بحراً ولا ينزل به وادياً ولا يشترى به دابة ذات كبد رطبة، فان فعل ذلک ضمن، فبلغ شرط رسول الله صلى الله عليه وسلم فاجاز شرطه. واما الاجماع فانه روىٔ عن جماعة من الصحابة رضى الله عنهم انهم دفعوا مال اليتيم مضاربة منهم سيدنا عمر وسيدنا عثمان وسيدنا على. . . . . وسيدتنا عائشة رضى الله عنها وغيرهم رضى الله عنهم اجمعين. (بدائع صنائع/٦/٧٩/ كتاب المضاربة/طبع ايچ ايم سعيد/كراچی)۔

جواب: شریعت کې مزارعت جائزدی. داحادیثواوصحابه کراموﷺ دعمل نه ددې جواز ثابتیږي[1] دکوموحدیثونوحواله چې تاسوورکړې ده. هغه دداسې مزارعت باره کې دي په کومو کې چې غلط شرطونه لګول شوي وي

یادونه ځمکه په کرونده ورکول یادمزارعت باره کې دټولو مشهور احادیثوتفسیرپه راروان سوال کې ولولئ.

دکروندې باره کې دحدیث مخابره تحقیق

سوال: ایاحدیث مخابره کې دځمکې په کروندې ورکولونه منع راغلې ده؟ څنګه چې دبینات دیومضمون نه ښکاره کیږي

جواب: ,,بینات،، ذي الحجې ۱۳۸۹هـ (فروري ۱۹۷۰ء) کې محترم مولانا محمدطاسین صحب زیدمجدهم د (ربا) په دوه اویا بابونو باندې ذکرکولوکې لیکلي دي:

همدغه شان مزارعت هم یوحدیث کې (ربا) ښودل شوی دی اوبل حدیث کې دنه پریښوونکوته هم هغه شان وعیدبیان شوی دی، کوم چې قران کې دسودنه پریښودونکوته ورکړل شوی دی.

عن رافع بن خدیج ﷺ انه زرع ارضاً فمر به النبی صلی الله علیه وسلم وهویسقیها فساله: لمن الزرع؟ولمن الارض؟فقال: زرعی وبذری وعملی لی الشطر ولبنی فلان الشطر، فقال: اربیتما، فردالارض علی اهلها وخذ نفقتک. (ابوداؤدج۲ص۱۲۷ طبع ایچ ایم سعید)

ترجمه: دحضرت رافع بن خدیج ﷺ نه روایت دی چې هغه یوپټې وکاره، هلته حضور ﷺ پرې تیریدو، کله چې هغه ورته اوبه ورکولې، حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې دادچا پټې اودچا ځمکه ده؟ ماجواب ورکړ، چې فصل زمادتخم اوعمل نتیجه ده اونیم پیداواربه زما اونیم به د فلانکي وي، نوحضور ﷺ وفرمایل چې تاسو د سودمعامله کړې ده، ځمکه خپل مالک ته

---

[1] قال ابو جعفر ﷺ: وما جاز ان تستأجر به الدور وغیرها من دراهم او دنانیر او مکیل او غیره، جاز استجار الأرض به للزرع وذٰلک لقول النبی صلی الله علیه وسلم: ''من استأجر اجیراً فلیعلمه اجره'' یقتضی عمومه جواز الاجارة باجر معلوم فی الأرضین وغیرها، ویدل علیه ایضاً: قوله علیه الصلاة والسلام: اعط الأجیر اجره قبل ان یجف عرقه. وقال سعد ابن ابی وقاص ﷺ: کنا نکری الأرض علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم بما علی السواقی من الزرع، وبما صعد بالماء عنها، فنهٰی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن ذالک، ورخص لنا ان نکریها بالذهب والورق، واذا جازت اجارتها بالذهب والورق، جازت بسائر الاشیاء المعلومة، لان احداً لم یفرق بینهما، وخص الذهب والورق بالذکر من بین سائر ما تستأجر به الأرضون، لانهما اثمان المبیعات، وما یجری علیه التعامل من الاموال. (شرح مختصر الطحاوي/ ۳/ ۴۱۳، ۴۱۴/کتاب المزارعة /طبع دارالبشائر الاسلامیة، ایضاً: درمختار/۶/ ۲۷۵/کتاب المزاعة/ طبع سعید).

واپس کړه او خپل لګښت له هغه نه واخله.

عن جابربن عبدالله رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من لم يذر المخابرة فليؤذن بحرب من الله ورسوله. (ابوداؤد ج۲ ص۱۲۷ طبع ایچ ایم سعید)

ترجمه دحضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې کوم کس مخابره نه پریږدي، هغه ته دالله تعالى او دالله تعالى د رسول ﷺ له طرف نه دجنګ اعلان دی دواړه روایتونه د مولانامحترم په مضمون کې یوازې دذکرحدپورې راغلي دي. له دې وجې ددې دماله او ماعليه نه بحث نه دی کړی. ددې له وجې عامو سړیو ته داغلط فهمي کیدای شي چې اسلام کې مزارعت[1] مطلقا دسود حکم لري او کوم خلک چې دامعامله کوي دهغوی خلاف دالله تعالى او دهغه د رسول ﷺ دجنګ اعلان دی، خوعالمانو ته پته ده چې مزارعت په اسلام کې بالکل منع نه دی.

د مولانا د تحریر د وضاحت له پاره دومره اجمال هم کافي دی چې دمزارعت ځینې صورتونه ناجائز دي او دې احادیثو کې هم له هغو نه منع فرمایل شوې ده او هغه باندې دربا (سود) حکم دی، موصوف مولاناهم ددې حکم توجیه کول غواړي چې دسود مختلف قسمونه دي. چې هغوکې دقباحت اوبدي له وجې فرق دی، احادیثو کې ځینې داسې معاشي معاملات هم چې هغوکې د سود سره څه یوشان والی وي، سود سره تعبیرشوي دي، دغه شان د مزارعت ناجائز صورتونه هم سود سره تعبیر شوي دي، خو ځینې ملحدینو داپه غلط محمل باندې محمول کړي دي، له دې وجې ضروري ده چې ددې اجمال څه تفصیل بیان کړل شي او ددې روایتونو صحیح محمل بیان کړل شي.

یوسړی چې هغه خپله ځمکه پخپله نه شي کرلی، یایې نه کري، هغه، هغه ځمکه دکروندې له پاره بل چاته حواله کړي، ددې مختلف صورتونه دي:

لومړی: چې هغه دغه ځمکه په ټیکه باندې ورکړي او دهغې معاوضه د نغدو په پیسو په شکل کې اخلي، دې ته عربي کې (کراء الارض) ویل کیږي، فقهاء ددې اجازه ورکوي او داصورت بالاتفاق جائز دی.[2]

---

[1] عربئ کنبی مزارعت او مخابره یوه معنی لری، بعضې حضراتو پکنبی دافرق خودلې دي که تخم دزمکې دمالک دطرف نه وی نو دامزارعت دي او که چرې تخم دزمیندار دطرفه وی نو دامخابره ده. شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله لیکلی. والمزارعة ان تكون الارض البذر لواحد، والعمل والبقرمن الاخر، والمخابرة ان تكون الارض لواحد، والبذروالبقروالعمل من الاخر، ونوع اخران يكون العمل من احدهما والباقي من الاخر. (حجة الله البالغه ج۲ ص۱۱۷)

[2] قال محمد رحمه الله تعالى في الجامع الصغير من استأجر ارضاً بدراهم ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

دویم چې مالک، نغدې پیسې نه اخلي، بلکې دپیداوارڅه برخه مقرره کړي. ددې بیادوه صورتونه کیدای شي:

۱: داچې دځمکې څه خاصه برخه پیداوار د ځان له پاره خاص کړي، داصورت بالاتفاق ناجائز دی[۱] او په مخابره احادیث کې هم ددې صورت نه منع شوې ده، څنګه به چې مخکې معلومیږي.

۲ داچې دځمکې څه خاصه برخه دځان له پاره مقرره نه کړي، بلکې داخبره وکړي چې دټول پیداواردومره برخه به مالک ته ملاویږي اودومره برخه زمیندارته (مثلاً نیمه نیمه) داصورت له یوڅوشرطونه سره دډیروصحابه کراموا و تابعینو په نزد باندې جائزاودرسول الله ﷺ اوخلفاء راشدین دعمل نه ثابت دی. **عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: عامل النبی صلی الله علیه وسلم خیبر بشطر مایخرج منها من ثمر اوزرع.** (صحیح بخاری ج۱ ص۳۱۳، صحیح مسلم ج۲ ص ۱۴، جامع ترمذی ص۱۶۶، ابوداؤدص ۴۸۴، ابن ماجه ص۱۷۷ طحاوی ج ۲ ص ۲۸۸)

الف: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې حضور ﷺ دخیبراوسیدونکوسره دامعامله وکړه چې ځمکه به هغوی کري اودهغې نه چې کومه میوه یاغله حاصلیږي، دهغې نه به موږنیمه برخه اخلو.

عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: اعطی رسول الله صلی الله علیه وسلم خیبر بالشطر ثم ارسل ابن رواحة رضی الله عنه فقاسمهم. (طحاوی ج۲ ص۲۸۸ ابوداؤدص ۴۸۴)

ب: دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې حضور ﷺ دخیبرځمکه په نیم پیداوار باندې ورکړې وه اوبیابه یې حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه دتقسیم له پاره ولیږه.

ج: دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چې دخیبرځمکه الله تعالی د(فئ) په ډول باندې ورکړې وه حضور ﷺ دخیبریهود دمخکې په شان وساتل اوپیداوار یې دهغوی اودخپل ځان له پاره نیم کړ او عبدالله بن رواحه رضی الله عنه یې دهغو په تقسیم باندې مشرکړ.[۲]

...بقیه د تیرمخ] علی ان یکریها او یزرعها او یسقیها او یزرعها فهو جائز. (عالمگیري/ ۴۴۳/۴/کتاب الاجارة/۱۱ جب الخامس عشر). وهکذا قال فان اجارة الاراضی جائز. (عالمگیري/۴۴۳/۴ درمختار/۶/ ۹ کتاب الاجارة/ایضاً: هدایة/۳/ ۲۹۵).

[۱] اوقال لو شرطا ان ما یخرج فی هذه الناحیة لاحدهما والباقی للآخر لا یجوز کذا فی فتاوی قاضیخان.(عالمگیري/۲۴۲/۵/کتاب المزاعة/الباب الثالث فی شروط المزارعة)

[۲] عن جابررضی الله عنه قال: افاء الله خیبر فاقرهم رسول الله صلی الله علیه وسلم کما کانوا وجعلها بینه وبینهم فبعث ابن رواحة رضی الله عنه فخرصها علیهم. (شرح معانی الآثار/۲/ ۲۳۸/ کتاب المزارعة والمساقاة).

صحابه کرامو رضی الله عنهم کې حضرت ابوبکر، حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي، عبدالله بن مسعود، معاذبن جبل، حذیفه بن یمان، سعدبن ابي وقاص، ابن عمر اوابن عباس رضی الله عنهم په شان دلوړو درجو خاوندانو نه دمزارعت معامله ثابته ده، دخینې روایتونونه معلومیږي چې دحضرت معاویه رضی الله عنه اخري دوربورې چاپه مزارعت باندې اعتراض نه وکړی

صحیح مسلم کې دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ارشادنقل شوی دی كنا لانری بالخبر باساً حتی کان عام اول فزعم رافع ان نبی الله صلی الله علیه وسلم نهی عنه.(صحیح مسلم ج۲ص۱۲)

ترجمه: موږ مزارعت کې هیڅ بدنه گڼو، اوس دالومړی کال دی چې رافع وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې نه منع فرمایلې ده.

یوبل روایت کې دي: **کان ابن عمر رضی الله عنه یکرمزارعه علی عهدالنبی صلی الله علیه وسلم، وابی بکر، وعمر، وعثمان، وصدراً من امارة معاویة رضی الله عنهم ثم حدث عن رافع بن خدیج رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن کراء المزارع.** (صحیح بخاری ج۱ ص۳۱۵)

ترجمه: حضرت ابن عمر رضی الله عنه به خپله ځمکه په کرایه ورکوله، حضور صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر، حضرت عمراوحضرت عثمان رضی الله عنهم په زمانه کې اودحضرت معاویه رضی الله عنه په ابتدایي دور کې بیا، نوهغه ته درافع بن خدیج رضی الله عنه دروایت په ذریعه باندې وویل شوچې: حضور صلی الله علیه وسلم ځمکه په کرایه باندې ورکولونه منع فرمایلې ده.

یوبل روایت کې دي:

عن طاؤس عن معاذبن جبل: اکری الارض علی عهدرسول الله صلی الله علیه وسلم وابی بکروعمروعثمان علی الثلث والربع فهویعمل به الی یومک هذا. (ابن ماجه ص۱۷۷)

ترجمه: دحضرت طاؤس رحمه الله نه روایت دی چې معاذبن جبل رضی الله عنه به دحضور صلی الله علیه وسلم، دحضرت ابوبکر، دحضرت عمراوحضرت عثمان رضی الله عنهم له زمانې ځمکه پرکرونده باندې ورکوله، تر ننه پورې دې باندې عمل کیږي.

دحضرت معاذبن جبل رضی الله عنه دا واقعه دیمن باره کې ده، حضور صلی الله علیه وسلم هغه دقاضي په حیثیت باندې یمن ته لیږلی و، دهغه ځای خلکوبه دمزارعت معامله کوله، حضرت معاذ رضی الله عنه چې حضور صلی الله علیه وسلم دحلالو اوحرامو له ټولونه لوړ عالم گڼلی و[1]، له دې نه منع نه وه کړې، بلکې پخپله یې هم دمزارعت معامله کړې ده.

---

[1] عن انس عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: ارحم امتی بامتی ابوبکر، واشدهم فی امر الله عمر، واصدقهم حیاءً عثمان. . . . واعلم بالحلال والحرام معاذ بن جبل. . . . . الخ. (مشکوٰة/۵۶۶/ باب مناقب العشرةرضی الله عنه، الفصل الثانی/ طبع قدیمی کتب خانه کراچی)۔

حضرت طاؤس رحمة الله عليه دا ويل غوارې چې د حضور ﷺ قاصد (معاذ بن جبل رضی الله عنه) چې ديمن په ځمکې باندې کومه طريقه شروع کړې وه، د نن پورې هغې باندې عمل کيږي.
د دې باب د ټول روايتونو او اثارو ذکر کول مقصد نه دي، نه دا ممکن ده، بلکې يوازې دا ګنل دي چې نبوت په دور کې او د خلفاء راشدين دور کې د لوړو درجو والاصحابه کرامو دا عمل وو او د مزارعت د منع کېدو جواز په هغه دور کې نه وو پيدا شوی، نو له دې نه دا خبره ثابتيږي چې اسلام کې د مزارعت اجازه شته او د مخابره په کومو احاديثو کې چې د مزارعت نه منع فرمايل شوې ده، د هغې نه د مزارعت هغه صورتونه مراد دي، کوم چې د جاهليت له وخت نه راروان وو
کله نا کله يو خبره په څه خاص موقع باندې په يو څه اندازکې وشي، کوم خلک چې هغه وخت کې موجود وي او د چا مخکې چې ټوله واقعه وي، په کومه کې چې هغه خبره شوي وي، هغوی ته د هغې په مطلب باندې پوهيدو کې هيڅ تکليف نه وي، خو که هماغه خبره يو داسې کس ته بيان کړل شي چې د هغه نه مخکې هغه کار نه وي شوی، په کومې کې چې دا خبره شوي وي او نه هغه ته د خبرې کونکي د انداز پته وي او نه د هغه د لهجې نه خبر وي او نه د خبرې د حالاتونه خبروي، نو که هغه د هغې خبرې په مطلب پوه نه شي، نو دې کې د حيرانتيا څه خبره نه شته.
''شنيده کے بود مانند ديده،، هم د غه وجه ده چې د ايتونو د نازليدو اسباب د تفسير د علم يو اهمه شعبه ګرځول شوې ده، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به فرمايل:

والذی لااله غيره! ما نزلت من آية من كتاب الله الا وانا اعلم فيمن نزل واين نزلت، ولو اعلم مكان احد اعلم بكتاب الله منی تناله المطايا لاتيته. (الاتقان، النوع الثمانون)

ترجمه: په هغه ذات مې دې قسم وي چې له هغه نه پرته بل څوک د عبادت لائق نه شته! د الله تعالی د کتاب داسې يو ايت نه شته چې د هغه باره کې ماته دا معلومات نه وي چې هغه د چا باره کې نازل شوی دی او کوم ځای کې نازل شوی دی او که چيرې ماته د يو داسې کس علم وي چې هغه ته زمانه زيات د الله تعالی د کتاب علم وي او هلته سورلی تلای شي، نو زه به د هغه خدمت کې ضرور حاضر شوی وم.
همد غه شان يو ارشاد د حضرت علي کرم الله وجهه نه هم نقل شوی دی، هغه به فرمايل:

والله ما نزلت اية الا وقد علمت فيم انزلت واين انزلت ان ربی وهب لی قلباً عقولاً ولساناً سؤلاً. (الاتقان، النوع الثمانون)

ترجمه: په خدای مې دې قسم وي، چې کوم يو ايت نازل شوی دی، ماته پته ده چې دا د کومې واقعې باره کې نازل شوی دی او کوم ځای کې نازل شوی دی، زما رب ماته ډير پوهيدونکی زړه او ډيره پوښتنه کونکې ژبه راکړې ده.

او همدغه وجه ده چې الله تعالی د ... انّانحن نزّلنا الذّکر وانّاله لحفظون. . . وعده پوره کولوله پاره دقران مجید یوبوشي محفوظ ساتلی دی او هلته یې د حضور ﷺ د ژوند یو یو عمل محفوظ ساتلی دی، که نه، الله تعالی ته پته ده چې موږ به قران کریم لوستلو سره کومې کومې نظریې وړاندې کولې او همدغه وجه ده چې ټول امامان دا اصول مني چې د الله تعالی د کتاب او د رسول الله ﷺ سنت باندې پوهیدو له پاره دا ضروري ده چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم په دې باندې څنګه عمل کړی دی او د خلفاء راشدین په دورکې د دې څه معنا اخیستل شوې ده.

کومو صحابه کرام رضي الله عنهم به چې د مزارعت معامله کوله. د مزارعت منع کول د هغوی له پاره یوازې اوریدل نه، بلکې د لیدلو و، هغوی ته دا پته وه چې د مزارعت کوم قسمونه د جاهلیت د زمانې نه راروان دي، حضور ﷺ له هغو نه منع وکړه او د مزارعت کوم قسمونه خپلوکې د خفګان او جګړې ذریعه جوړیدای شي، حضور ﷺ د هغې اصلاح وکړه، د مزارعت جائز او ناجائز قسمونه هغوی داسې پیژندل څنګه چې هغوی د اود س فرائض او سنت پیژندل هغوی کې یو کس هم داسې نه وو چې د مزارعت ناجائزه معامله یې کوله، ښکاره خبره ده چې د غه صورت کې د منع کولو سوال نه پیداکیده، دا صورتحال د حضرت معاویه رضي الله عنه ابتدایي دور پورې و، د مزارعت د جواز او عدم جواز مسئله بالکل ښکاره وه او هغه څه غیرمعمولي حیثیت نه و اختیار کړی، د روایتونو نه معلومیږي چې خلفاء راشدینو نه وروسته داسې حالات راغلي وو چې د هغو له وجې دا مسئله د بدیهي په ځای نظري جوړه شوه او د بحث یو صورت پیداشو، کیدای شي چې ځینې خلکو د مزارعت د نازکو مسئلو پوره خیال نه وي ساتلی او د مزارعت څه داسې صورتونه پیدا شوي وي له کومونه چې حضور ﷺ منع فرمایلې وه، دې باندې صحابه کرامو رضي الله عنهم منع وفرمایله او د مزارعت د منع کولو احادیث یې بیان کړل.

نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن المزارعة.

نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن المخابرة

نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن کراء الارض.

ترجمه: حضور ﷺ د مزارعت نه منع فرمایلې ده، حضور ﷺ د مخابرت نه منع فرمایلې ده، حضور ﷺ ځمکه په کرایې ورکولو نه منع فرمایلې ده.

او ځینې خلکو ته د دې حدیثو په مطلب پوهیدو کې تکلیف پیداشو، هغوی دا وګڼل چې د دې حدیثونو مقصد د هر قسمه مزارعت نه منع فرمایل دي، له دې وجې دا مسئله د بحث او نظر موضوع جوړه شوه.

اوس موږ ته دا کتل پکار دي چې د لوړو درجو لرونکي صحابه کرام هغه وخت کې موجود وو، هغوی د دې مسئلې فیصله څنګه وکړه؟

د حدیثو په کتابونو کې د منع کولو روایتونه د دریو صحابه کرامو نه روایت دي. د رافع بن خدیج. جابر بن عبد الله او ثابت بن ضحاک رضي الله عنهم

د حضرت ثابت بن ضحاک رضي الله عنه روایت اګرچې ډیر مختصر او مجمل دی. خو د دې نه صفا پته لګیږي چې ځمکه په نغدو پیسو باندې د ورکولو نه منع نه ده شوې

ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن المزارعة وامر بالمواجرة، وقال: لا بأس بها. (صحیح مسلم ج۲ ص ۱٤، طحاوی ج۲ص۲۱۳، کې یوازې لومړی جمله ده.)

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مزارعت نه منع فرمایلې ده او په نغدو پیسو باندې ځمکې ورکولو حکم یې کړی دی او فرمایلي یې دي چې دې کې څه بده خبره نه شته.

د حضرت جابر او حضرت رافع رضي الله عنهما په احادیثو کې ډیر زیات تنوع (فرق) دی. چې د هغه نه صحیح مطلب اخیستو کې مشکل پیدا کیږي، نو که مجموعي طور باندې وګورئ، نو د دې مختلف قسمونه جوړیږي او د هر قسم مختلف ځای دی.

د حضرت رافع رضي الله عنه د روایتونو باره کې چې دلته د ,,خاص تنوع،، کوم لفظ استعمال شوی دی، محدثین حضرات دې ته اضطراب وایي.

امام ترمذي رحمه الله فرمایي: **حدیث رافع حدیث فیه اضطراب، یروی هذا الحدیث عن رافع بن خدیج عن عمومته، ویروی عنه عن ظهیر بن رافع، وهو احد عمومته، وقد روی هذا الحدیث عنه علی روایات مختلفة.** (جامع ترمذی ج۱ ص۱۶۶)

امام طحاوي رحمه الله فرمایي: **واما حدیث رافع بن خدیج رضي الله عنه جاء بألفاظ مختلفة اضطرب من اجلها.** (شرح معانی الاثار ج۲ ص ۲۸۵ کتاب المزارعة والمساقاة)

شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمایي: **وقد اختلف الرواة فی حدیث رافع بن خدیج رضي الله عنه اختلافاً فاحشاً.** (حجة الله البالغه ج۲ ص ۱۱۷)

لومړی: ځینې روایتو کې د منع کولو وجه د مزارعت هغه د جاهلیت تصور و، چې هغه کې به دا مقرر شو، چې د ځمکې د فلانکی ښې برخې پیداوار به د مالک وي او د فلانکی برخې پیداوار به د زمیندار وي دې کې ډیر زیات قباحتونه جمع شوي وو:

۱: معاشي معاملات دیوبل مددسره تاکل پکار دي، د دې په مقابله کې دا معامله په خالص ظلم او دیو فریق حق وهلو باندې مشتمله وه.

۲: دا شرط فاسد او د عقد خلاف و، ځکه چې کله د زمیندار محنت ټول پیداوار کې یو شان و، نو لازمه خبره ده چې هغه ته د ټول پیداوار نه برخه ورکړل شي.

۳: دا د جوارۍ یو شکل و، اخر د دې څه ضمانت و چې د مالک یا زمیندار له پاره چې کومه برخه خاص شوې وه هغه به ښه فصل وکړي؟

۴ دداسې غلطو شرطونو نتیجه به همیشه جنګ جګړې وې. داسې جاهله معامله برداشت کولو مطلب داوو چې اسلامي معاشره دهمیشه له پاره دجنګ اوقتل ځای جوړکړل شوی و. حضور ﷺ چې مدینې طیبې ته تشریف راوړ. نوهلته اکثرهم دداسې غلط مزارعت رواج و. حضور ﷺ دهغې اصلاح وکړه او د غلطو معاملونه یې منع اوفرمایله اودمزارعت په صحیح اصولوباندې یې عمل وکړ داروایتونه په هغې باندې رڼا اچوي

عن رافع بن خدیج رضی الله عنه حدثنی عمای انهم کانویکرون الارض علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم بماینبت علی الاربعاء اوبشئ یستثنیه صاحب الارض فنهانا النبی صلی الله علیه وسلم عن ذلک. فقلت لرافع: فکیف هی بالدینار والدراهم؟ فقال رافع: لیس بها باس بالدینار والدراهم، وکان الذی نهی عن ذلک مالونظر فیه ذوالفهم بالحلال والحرام لم یجیزوه لمافیه من المخاطرة. (صحیح بخاری ج۱ص۳۱۵)

الف: رافع بن خدیج رضی الله عنه وایي زماتره بیانوي چې دحضور ﷺ په زمانه کې به خلکوپه مزارعت باندې ځمکه ورکوله، نوشرط به یې دا ایښی و، چې سید(نهر)سره خواکې پیداوار به زموږوي اویابه یې بل څه استثنایي شرط ایښی و(مثلاً دومره غله به موږمخکې اخلو. بیابه په کرونده ځمکه درکوو) حضور ﷺ ددې نه منع وفرمایله (روایت کونکی وایي) ماحضرت رافع رضی الله عنه ته وویل، که چیرته دنغدوپیسوپه بدله کې ځمکه ورکړل شي، نوددې څه حکم دی؟ رافع رضی الله عنه وویل چې دې کې هیڅ بده خبره نه شته، لیث رحمه الله وایي: دمزارعت دکوم صورت چې منع فرمایلې شوې وه، که چیرته دحلال او حرام خیال ساتونکي غور وکړي، نوکله به هم هغوی ته جائز ونه وایي، ځکه چې هغوی کې د معاوضې ملاویدویانه ملاویدوویره وه.

حدثني حنظلة بن قيس الانصاری قال: سالت رافع بن خدیج رضی الله عنه عن کراء الارض بالذهب والورق. فقال: لاباس به. انماکان الناس یؤاجرون علی عهدرسول الله صلی الله علیه وسلم علی الماذیانات واقبال الجداول واشیاء من الزرع فیهلک هذا ویسلم هذا ویسلم هذاویهلک هذا فلم یکن للناس کراء الاهذا فلذالک زجرعنه. واماشئ معلوم مضمون فلاباس به.

(صحیح مسلم ج۲ ص۱۳)

ب: حنظله بن قیس وایي: مادحضرت رافع بن خدیج رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چې: د سرو زرو او سپینو زرو (نغدوپیسو) په بدله کې ځمکه په ټیکه ورکولوڅه حکم دی؟ ویې فرمایل چې څه بده خبره نه ده د حضور ﷺ په زمانه کې به چې خلکوکوم مزارعت کاوواوله کوم نه چې حضور ﷺ منع فرمایله وه) دهغې صورت به داو چې دځمکې مالک به دځمکې دهغې برخې

کومې چې نهرته نژدې وې دخپل ځان له پاره خاص کړل اودپيداوارځه برخه به يې هم مقرره کړه، اکثربه دهغې برخې پيداوارضائع شو او دهغه به محفوظ پاتې و، کله به ددې خلاف وشو هغه زمانه کې دخلکو دمزارعت بس هم يو رواج و، له دې وجې حضور ﷺ ددې نه په سختې سره منع وکړه، خوکه چيرته ديومعلوم او د ضمانت قابل شي په بدله کې ځمکه ورکړل شي، نودې کې هيڅ بده خبره نه شته.

دې روايت کې دحضرت رافع رضي الله عنه داجمله دخاص توجه قابل ده:

فلم يكن للناس كراء الاهذا. **ترجمه**: دخلکو د کروندې بس هم دايوه طريقه وه،،

او ددوی په ځينې رواياتوکې داهم راغلي دي:

ترجمه: ,,هغو ورځوکې سره زراوسپين زر نه وو،،

ددې مطلب ... والله اعلم ... همداکيدای شي چې حضور ﷺ کله مدينې منورې ته تشريف راوړ، نوهغه ورځوکې دځمکې په ټيکه ورکولورواج تقريبا ختم و، دمزارعت عام صورت ځمکه په کرونده باندې ورکول و، خوهغې کې دجهالت شرطونه موجود و، حضور ﷺ خاص مزارعت نه، بلکې دمزارعت دغه د جهالت شکل نه منع فرمايلې ده اودمزارعت صحيح صورت يې وښود، دا صورت هماغه و په کوم باندې چې حضور ﷺ دخيبر اوسيدونکوسره معامله وکړه اوپه کوم باندې چې دحضور ﷺ په زمانه کې اودحضور ﷺ نه وروسته صحابه کرامو رضي الله عنهم عمل وکړ.

جابر بن عبدالله رضى الله عنهما يقول: كنافى زمن رسول الله صلى الله عليه وسلم نأخذالارض بالثلث اوالربع بالماذيانات فنهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ذلک. (شرح معانى الاثارللطحاوى ج٢ ص٢٨٩)

ج: حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې موږ به دحضور ﷺ په زمانه کې په نيم پيداوارباندې ځمکې اخيستې، دريم برخې باندې اود نهر د غاړو په پيداوارباندې، له دې نه حضور ﷺ منع فرمايلې وه.

ه: سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي: خلکوبه خپلې ځمکې په مزارعت ورکولې، شرط به داو چې کوم پيداواربه ګول (الساقيه) باندې و اوکوم به چې کوهي ته نژدې و، هغه به موږاخيست، حضور ﷺ ددې نه منع وفرمايله اوويې فرمايل چې په سروزرو او سپينوزروباندې يې ورکوئ. [1]

---

[1] عن سعد رضي الله عنه قال: كنا نكرى الارض بما على السواقى من الزرع، وما سعد بالماء منها فنهانا رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ذالک وامرنا ان نكوها بذهب او فضة. (ابوداؤد/٢/١٢٥/ باب فى المزارعة)۔

عن نافع ان ابن عمر رضي الله عنهما كان يكرى مزارعه على عهدالنبى صلى الله عليه وسلم وابى بكر وعمر وعثمان وصدراً من امارة معاوية رضى الله عنهم ثم حدث عن رافع بن خديج رضي الله عنه: ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن كراء المزارع. فذهب ابن عمر رضي الله عنهما الى رافع رضي الله عنه وذهبت معه فساله. فقال: نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن كراء المزارع. فقال ابن عمر رضي الله عنهما: قدعلمت اناكنا نكرى مزارعنا على عهدرسول الله صلى الله عليه وسلم بما على الاربعاء شئ من التبن. (صحيح بخارى ج١ص٣١٥)

٥: حضرت نافع وايي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به خپله ځمکه په مزارعت ورکوله، دحضور ﷺ دحضرت ابوبکر، دحضرت عمر او د حضرت عثمان رضي الله عنه په دورکې اودحضرت معاويه رضي الله عنه په ابتدايي دورکې. بياهغه ته بيان شوچې رافع بن خديج رضي الله عنه وايي چې حضور ﷺ ځمکه په کرايه ورکولونه منع فرمايلې ده، حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حضرت رافع رضي الله عنه ته لاړ، زه هم ورسره وم، له هغه نه يې پوښتنه وکړه، هغه ورته وفرمايل: حضور ﷺ په کرايې باندې ځمکه ورکولونه منع فرمايلې ده، ابن عمر رضي الله عنه وفرمايل: تاسوته خوپته ده چې زموږ مزارعت دحضور ﷺ دزمانې نه دهغې پيداوار په بدله کې و کوم به چې نهرونوسره خواکې و اودځه وښو په بدله کې(حضور ﷺ ددې نه منع فرمايلې وه).

دحضرت رافع بن خديج رضي الله عنه، جابربن عبدالله، سعدبن ابي وقاص اوعبدالله بن عمر رضي الله عنه ددې روايتونونه ښکاره پته لګيږي چې دمزارعت دجهالت هغه شکل څه و، دکومې نه چې حضور ﷺ منع فرمايلې وه.

دويم: دمنع فرمايلوځيني روايتونه دې باندې محمول و چې اکثربه دډيروشرطونوله وجې په دواړوفريقوکې دجګړې صورت پيداشو، حضور ﷺ دې موقع باندې فرمايلې و، چې ددې نه خوبهترداوه چې تاسودداسې قسمه مزارعت په ځاى باندې په نغدو پيسو باندې ځمکه ورکوله، نو کله چې حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه ته داخبر راورسيد چې رافع بن خديج رضي الله عنه دمزارعت نه منع فرمايي، نوحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه ډيرافسوس سره وويل:

يغفرالله لرافع بن خديج. اناوالله اعلم بالحديث منه. انمارجلان، قال مسدد: من الانصارثم اقتتلا. قداقتتلا. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان كان هذاشانكم فلاتكروا المزارع. (ابوداؤدص٤٨١ واللفظ له، ابن ماجه ص١٧٧)

ترجمه: الله تعالى دې درافع رضي الله عنه مغفرت وکړي، په خداى مې دې قسم وي! زه دې حديث باندې له هغه نه ښه پوهيږم.

قصه داوه چې دحضور ﷺ خدمت کې دانصارو دوه سړي حاضرشول. دهغوی په مینځ کې په مزارعت باندې جګړه وه اوخبره قتل اوقتال ته رسیدلې وه (قداقتتلا) حضور ﷺ وفرمایل:

،،ان کان هذاشانکم فلاتکروا المزارع.،،

ترجمه کله چې ستاسوحالت دادی، نودمزارعت معامله مه کوئ!

رافع رضی الله عنه بس همدومره خبره واوریده چې تاسودمزارعت معامله مه کوئ!

عن سعدبن ابي وقاص رضی الله عنه قال: کان اصحاب المزارع یکرون فی زمان رسول الله صلی الله علیه وسلم مزارعهم بمایکون علی الساق من الزرع فجاءوا رسول الله صلی الله علیه وسلم فاختصموافی بعض ذلک، فنهاهم رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یکروا بذلک وقال: اکروا بالذهب والفضة. (نسائی ج۲ ص۱۵۳)

ترجمه دسعدبن ابي وقاص رضی الله عنه نه روایت دی چې دځمکې مالکانوبه خپلې ځمکې دهغه پیداوار په بدله کې کوم به چې نهرونوته نژدې و، ورکولې، هغوی حضور ﷺ ته راغلل اودمزارعت په سلسله کې یې جګړه وکړه، حضور ﷺ وفرمایل، دې باندې مزارعت مه کوئ، بلکې په سروزرو اوسپینوزروباندې یې کوئ.

ددې دواړوروایتونونه معلومیږي چې دیوې خاصې مقدمې فیصله کولوخت کې حضور ﷺ دواړوفریقانوته حکم کړی و چې هغوی دې بیاله پاره د(مزارعت)په ځای باندې په نغدو پیسو ځمکې ورکوي.

دریم: دمنع کولواحادیثودریم محمل داو، چې ځینې خلکوسره د ضرورت نه زیاتې ځمکې وې او ځینې داسې ضرورت منداومحتاج وو چې هغوی به دنوروخلکوځمکې په مزارعت اخیستې او دهغې باوجودبه دهغوی ضرورت نه پوره کیده حضور ﷺ هغو خلکو ته کوموسره چې دضرورت نه زیاتې ځمکې وې، هدایت وکړ چې هغوی دحسن معاشرت، مواسات، اسلامي اخوت اود لوړو اخلاقو نمونه وړاندې کړي اوخپله زیاتي ځمکه دخپلوورونوله پاره وقف کړي، دې باندې هغوی ته چې دالله تعالی له طرف نه کوم اجراوثواب ورکول کیږي، هغه به دهغه معاوضې نه یقینا ښه وي کومه چې هغوی دخپلو ځمکونه حاصلوي.

عن رافع ابن خدیج رضی الله عنه قال: مرالنبی صلی الله علیه وسلم علی ارض رجل من الانصارقدعرف انه محتاج، فقال: لمن هذه الارض؟ قال: لفلان اعطانیها بالاجر، فقال: لومنحها اخاه. فاتی رافع الانصار فقال: ان رسول الله نهاکم عن امرکان لکم نافعاً وطاعة رسول الله انفع لکم. (نسائی ج۲ ص۱۵۱)

ترجمه درافع بن خدیج رضی الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ د یو انصاري په خمکه تیرشو. دغه سړی په محتاجي کې مشهور و. حضور ﷺ نه تړې وپوښتل. داخمکه دچا ده؟ هغه وویل چې دفلانکي کس ده اوهغه ماته په اجرت راکړې ده. حضور ﷺ وفرمایل کاش! هغه خپل وروړته پرته د اجرت نه ورکړې وای، حضرت رافع رضی الله عنه هغه انصاري ته لاړ اوهغه ته یې وویل چې رسول الله ﷺ ته دداسې شي نه منع کړی یې کوم چې تاله پاره فایده مندو اودرسول الله ﷺ حکم منل تاته ډیر گټور دي.

عن جابر رضی الله عنه سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول: من کانت له ارض فلیهبها اولیعرها. (مسلم: ٢ | ١٢)

ترجمه: حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي: مادرسول الله ﷺ نه اوریدلي دي، چې چاسره ځمکه وي، هغه ته پکارده چې چاته یې هبه کړي یایې عاریت سره ورکړي.

عن ابن عباس رضی الله عنهما: ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: لان یمنح احدکم اخاه ارضه خیرله من ان یاخذ علیها کذاوکذا. (مسلم: ٢ | ١٤)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي، چې تاسوکې که یوکس ځمکه خپل وروړته پرته د اجرت نه ورکړي، هغه دې نه بهترده چې هغې باندې دومره دومره اجرت واخلي.

یعنې موږ منوچې ځمکه ستاسوملکیت دی، داهم صحیح ده چې دقانون یوطاقت هم تاسو د مزارعت نه نه شي منع کولی، خو ایا د اسلامي اخوت هم داتقاضاده چې ستاسووروردې د لوږې مړشي، دهغه بچي دې ژاړي، هغه ته دې دضرورت بنیادي شیان نه ملاویږي، خوته دې دخپل ضرورت نه زیاته ځمکه چې هغه ته پخپله نه شي کرلی، هغه هم هغه ته پرته دمعاوضې نه ورکولوته تیارنه یې؟ ایا تاسوته پته نه شته چې دمسلمان ورورضرورت پوره کولوباندې دالله تعالی له طرف نه څومره اجراوثواب دی؟ دایوڅوټکي کوم مې چې تاسو د ځمکې په بدله کې قبلوئ، ایا د اخرت داجراوثواب مقابله کولی شي؟

دحضور ﷺ اودمهاجرینو مدینې ته راتلونه وروسته انصارخلکو چې داسلامي میلمنو دمعاشي کفالت کومه ذمه داري چې خوشالي سره قبوله کړه، هغه دقرباني اومروت، همدردي اوغم خواري اواخوت اومساوات یوه اعلی نمونه وړاندې کوي,, **نهی عن کراء الارض.**

,, هم ددغه بنایسته معاشي کفالت یوباب دی.

امام بخاري رحمة الله همدغه احاديثو باندې باب قائمولوسره هم دې طرف ته اشاره کړې ده:

باب ماكان اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم يواسى بعضهم بعضاً في الزراعة والثمرة.

(صحيح بخاری ج١ص ٣١٥)

لږ سوچ وکړئ يووړوکې شان قصبه (المدينه) دې کې به دانصاروټوله ابادي څومره وه؟ دهغوی دمعاش ذريعه څه وه؟ نوهمدغه ځمکې وې چې هغه به داسلام نه مخکې دهغوی ضرورتونو پوره کولوله پاره هم کمې وې، دهغوی جانثاري اولوړ همت د حضور ﷺ سره داوعده وکړه چې موږ دبه دخپلوبچيو نه، بلکې داسلام اومسلمانانوکفالت کوو، هغوی چې دغه وعده کومې طريقې سره پوره کړه هغه ټولوته معلومه ده. (**رضي الله عنهم وارضاهم وجزاهم عن الاسلام والمسلمين خير الجزاء**)

د شا وخوا نه قافلې هم دې طرف ته راروانې وې اوانصاروبه ورته **اهلاً وسهلاً مرحباً** ويلوسره دهغوی استقبال کاوو، څوک يې اندازه کولی شي چې دغه وړوکې شان قصبه (کلي) اوپه هغه يولږشان مسلمانان انصاروبه څومره معاشي بوج راغلی وي، خوافرين دې وي وفادارو قرباني کونکوباندې! چې يودساعت له پاره هم هغوی ددغې بوج له وجې باندې ځان کمزوری ونه ښوده، بلکې درسول الله ﷺ اود حضور ﷺ دميلمنوپه خدمت کې يې خپل هرڅه وړاندې کړل، لکه چې دهغوی خپل وجودنه و، څومره څه چې و درسول الله ﷺ و او دهغوی حيثيت يوازې درسول الله ﷺ دخدمت ګارو وو، سوچ کول پکاردي چې دغه حالت کې که (انصاراسلام) ته رسول الله ﷺ دا فرمايلي و چې ,,چاسره چې ځمکه وي هغه دې خپل وزورته هبه کړي يا دې عاريتا ورکړي،، نوددې معنا به داوي چې اسلام کې د مزارعت باب بالکل نه شته؟ که دا احاديث دمدينې طيبې دمعاشي دباب اوانصاروداسلامي کفالت په پس منظر(شاليد)کې ولوستل شي، نو پته به ولګيږي چې ددې مطلب دانه دی چې اسلام کې مزارعت ناجائزدی (که چيرته داسې وي، نوحضور ﷺ به پخپله اوصحابه کراموبه داسې ولې کول؟) بلکې ددې مقصددادی، چې دسعدي رحمة الله دقول مطابق:

هرچې درويشان را است وقف محتاجان است

خپل ضرورت پوره کړئ اودضرورت نه زيات دالله تعالی په نوم باندې دضرورت مندوله پاره وقف کړئ، داو دمنع داحاديثودرې محملونه، چې دهغه وضاحت صحابه کرامو رضي الله عنهم کړی دی اوچې دهغه خلاصه دحضرت شاه ولي الله رحمة الله په الفاظوکې ده:

وکان وجوه التابعين يتعاملون بالمزارعة. ويدل على الجواز حديث معاملة اهل خيبر واحاديث النهي عنها محمولة على الاجارة بما على الماذيانات قطعة معينة. وهوقول رافع رضي الله عنه. اوعلى التنزيه والارشاد. وهوقول ابن عباس رضي الله عنهما. اوعلى مصلحة خاصة بذالک الوقت من جهة کثرة مناقشتهم في هذه المعاملة حينئذ. وهو قول زيد رضي الله عنه. والله اعلم. (حجة الله البالغه. ج۲ ص ۱۱۷)

ترجمه: دصحابه کرامو رضي الله عنهم نه وروسته به تابعينو دمزارعت معامله کوله. د مزارعت دجواز دليل دخيبرداوسيدونکودمعاملې دحديث نه دی اود مزارعت نه دمنع احاديث ياخوداسې مزارعت باندې محمول و، چې هغه کې دنهردخوا دپيداوارديوخاصې مقرر شوې برخې پيداوار مقرر شي، څنګه چې حضرت رافع رضي الله عنه فرمايلي دي تنزيه او ارشاد باندې، څنګه چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايلي دي، دې باندې محمول دي چې دمزارعت له وجې ډيرې جګړې پيداشوې، دهمدغه مصلحت له وجې ددې منع وشوه، څنګه چې حضرت زيد رضي الله عنه بيان کړي دي. والله اعلم!

تقريباً همدغه شان تحقيق حافظ ابن جوزي رحمه الله په ,,التحقيق،، کې اوامام خطابي رحمه الله په معالم السنن کې کړی دی، خودې مقام باندې دحافظ تورپشتي مصابيح رحمه الله کلام ډير ښائسته دی، هغه فرمايي:

دمزارعت احاديث کوم چې ليکونکي (صاحب مصابيح) ذکر کړي دي اوکوم چې داحاديثوپه نورکتابونوکې موجوددي، په ظاهره باندې هغه کې اعتراض اواختلاف دی، دهغو په جمع اوتطبيق کې مختصرطورباندې دا ويل کېدای شي چې حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه د مزارعت دنفي باره کې ډيراحاديث اوريدلي و، چې دهغه محمل ځانته ځانته و، هغه دغه ټول احاديث يوځای کړل اوروايت يې کړل، همدغه وجه ده چې هغه کله فرمايي: مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي دي کله وايي چې زماترونوماته بيان کړي دي، کله وايي چې زمادوه ترونوماته خبراکړی دی، ځينې احاديثوکې د منع کولو وجه داده چې هغو خلکوبه غلط شرطونه لګول اوپه نامعلومه اجرت باندې به يې معامله کوله، نودهغې نه منع وشوه، ځينې وجوهات دادي چې دځمکې په اجرت به دهغوی جګړه وشوه او معامله به جنګ ته ورسيده، دغه موقع باندې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل: اې خلکو! که چيرته ستاسوهمداحالت وي، نود مزارعت معامله مه کوئ، داخبره حضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه بيان کړې ده، ځينې احاديثوکې د منع کولووجه داده چې حضور صلی الله علیه وسلم به داخبره نه خوښوله چې مسلمان دې خپل ورورنه دځمکې اجرت واخلي، کله به داسې وي چې داسمان نه به باران نه کيږي، کله به دځمکې په زرخيزي

کې فرق راځي اودغه حالاتوکې به ددغه غریب مال ناحق ضائع شي اوددې له وجې به مسلمانانوکې نفرت اوبغض پیداشي.
دامضمون دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما دحديث نه ګنډل کیږي چې: دچاځمکه وي، هغه دې پخپله کري يادې يوورورته دکرلوله پاره ورکړي، خودا دقانون مطابق نه دی، بلکې دمروت او مواسات په طور باندې دی، څينې احاديثوکې دمنع کولووجه داده چې حضور صلى الله عليه وسلم د کروندې هوس اوهغې سره عشق کول نه خوښول، ځکه چې داسې صورت کې به هغوی دجهادفي سبيل الله نه منع شول اودهغه له وجې دهغوی نه غنيمت اوفیئ برخه فوت شوه (اود اخرت نقصان دې نه پرته و) ددې دليل دحضرت ابوامامه رضي الله عنه حديث دی:

اشارة الى ماروره البخاری من حديث ابی امامة رضي الله عنه. لايدخل هذا بيت قوم الاادخله الذل)[1]

ددې ټول بحث خلاصه داده چې اسلام کې مزارعت نه بالکل جائز اونه بالکل منع دی، بلکې ددې خبرو ټول احاديث مجموعي مطلب د: کج دارومريز: تلقين دی، دامت فقهاوو ته ددې باب ټول نزاکتونه معلوم دي، نوټول فقهي مسلکونوکې به د دوه متضادو مسئلو باريک رعايت ښکاري اودابحث اوتحقيق يوه بله موضوع ده. والله ولى البداية والنهاية!

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العٰلمين

....

......

---

[1] عن ابی امامة الباهلی رضي الله عنه قال: ورای سكة وشيئاً من آلة الحرث فقال سمعت النبی صلی الله عليه وسلم يقول: لا يدخل هذا بيت قوم الا ادخله الله الذل. (صحيح بخاري/ ١/ ٣١٢/باب ما يحذر من عواقب الاشتغال بآلة الزرع او جاوز الحد الذی امربه، طبع نور محمد كراچی)۔